تفسیر

حکمۃ القرآن


تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب: ابو زہیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ
مینگل مارکیٹ گنج - پشاور
Mob: 0301-8828402



تالیف
فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری
حفظہ اللہ تعالیٰ

المکتبۃ المحمدیۃ
مہمنگل مارکیٹ گنج۔ پشاور Mob: 0301-8828402

دکتاب نوم .... تفسیر حکمة القرآن

مؤلف........................ شیخ القرآن و الحدیث

ابو محمد امین الله الپشاوری

جمع و ترتیب .... ابو زهیر سیف الله

جلد نمبر........................ دویم

تاریخ طبع........................ ۱۰ شعبان ۱۴۳۲ هجری

الموافق : ۱۱جولائی ۲۰۱۱ء

ناشر

مکتبہ محمدیہ

منگل مارکیٹ گنج پشاور Mob: 0301-8828402

ملنے کا پتہ

دارالکتاب والسنه نیو حاجی کیمپ کراچی 0300-2615407

ایوب اسلامی کیسٹ مرکز پشت قصه خوانی بازار پشاور

نوروز کتب خانه صوابی اڈه 0300-5682868

معراج کتب خانه قصه خوانی بازار پشاور

الٓمّٓ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَقُوۡلُوۡا رَاعِنَا وَقُوۡلُوا انۡظُرۡنَا
اے ایمان والو! مهٔ وایئ لفظ د رَاعِنَا او وایئ لفظ د اُنْظُرْنَا (مونږ ته اُوګوره)
وَاسۡمَعُوۡا ؕ وَلِلۡكٰفِرِيۡنَ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۱۰۴﴾
او واورئ (یعنی خبره قبوله کړئ) او د کافرانو دپاره عذاب دے دردناک۔

دلته یو څو مُهم بحثونه دی : اجمالی مضمون، ربط، شان نزول، د آیت عنوانات، دآیت فوائد، حکمتونه او احکام۔

تفسیر : د یهودیانو قبائح او بد صفات د مخکښ نه بیانیدل، پدے آیت کښ الله تعالیٰ د دوی بل بد صفت دا بیانوی چه دوی د رسول الله ﷺ بے ادبی هم کوی۔

نو د آیت عنوان دے : [اِسَاءَةُ الْاَدَبِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ]

(دا یهودیان د رسول الله ﷺ په مجلس کښ د هغه بے ادبی کوی) هغه ته بد رد او بد نسبتونه کوی، د کم عقلتیا نسبت ورته کوی نو الله تعالیٰ پدے آیت کښ ددے نه منع اُوکړه۔

مضمون : اجمالی مضمون داسے دے چه پدے آیت کښ د یو بے شبهے جواب ذکر کوی چه د هغے تفصیل روستو ذکر کیږی، بیا روستو آیت کښ الله تعالیٰ د اهل کتابو حسد ذکر کوی چه دوی ستاسو دپاره خیر نهٔ غواړی ځکه د داسے آیتونو په نازلیدو خفګان کوی۔ بیا روستو ﴿مَا نَنۡسَخۡ﴾ آیت کښ د نسخ مسئله بیانوی چه دا هم د هغوی د شبهے جواب دے چه دا څنګه پیغمبر دے چه نن یوه خبره کوی او سبا له ترے منع کوی، لهذا دا د الله تعالیٰ رسول نشی کیدے ځکه چه په خپله خبره کښ متردد او شکی دے۔ دا خبره دوی ددے دپاره کوله چه زمونږ دین منسوخ نهٔ شی، نو الله تعالیٰ به د هغے جواب هم ورکړی او د نسخ فائدے به بیان کړی۔ نو جواب د سوال به هم اُوشی چه په نسخ کښ ډیرے فائدے دی ځکه چه الله تعالیٰ حکیم دے، هیڅ یو کارئے د حکمت نه خالی نهٔ دے۔ او د نسخ مسئله پدے مقام کښ پدے وجه هم بیانوی چه دا د روستو بلے مسئلے دپاره مقدمه ده چه هغه تحویل قبله (د قبلے بدلول) وو۔ دا ډیره مشکله مسئله وه، پدے وجه الله تعالیٰ مخکښ نه د هغے دپاره مقدمات بیانوی۔ یوه مقدمه دا چه نسخ په ادیانو کښ شته۔ دویم دا چه په رسول به اعتراض نهٔ کوئ او په ﴿فَاَيۡنَمَا تُوَلُّوۡا فَثَمَّ

وَجْهُ اللهِ﴾ کښې هم بیانیږی چه ټول طرفونه د الله تعالیٰ دی، کوم طرف ته چه هغه حکم کوی، مؤمنان به هغه طرف ته مخونه اړوی. بیا روستو د ابراهیم علیه السلام واقعات راوړی، پدے کښې اشاره ده چه بیت الله د ابراهیم علیه السلام قبله وه نو که الله تعالیٰ خپل نبی دے غوره قبلے ته راواړوی، نو پدے کښې هیڅ اشکال نشته، بلکه د خپل پلار نیکهٔ غوره قبلے ته راواوړیدو، نو دا خو د اعتراض خبره نهٔ ده. دا مقدمات د تحویل القبله دپاره هم دی او د نورو مقاصدو دپاره هم دی چه روستو ئے تفصیل راځی ان شاء الله تعالیٰ.

ددے **رکوع حاصل** دا دے چه اول کښې د رَاعِنَا لفظ وئیلو نه منع ده، چه دا د یوے شبهے جواب هم دے. چه پدے کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د دوی بے ادبی ذکر ده. بیا د نسخ مسئله، بیا د نسخ حکمت بیانوی په اَلَمْ تَعْلَمْ سره، بیا یو څو زجرونه او رټنے ذکر کوی. اول (اَمْ تُرِیْدُوْنَ) په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے په اعتراض کولو زجر دے. بیا یهودیانو ته په حسد کولو زجر بیانوی، او ایمان والو دپاره د هغوی په مقابله کښې په (فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا) او په (اَقِیْمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّکٰوةَ) (بَلٰی مَنْ اَسْلَمَ) سره. چه جنت په دعوه نهٔ دے، بلکه په ایمان او عمل ملاویږی. یعنی په دوه صفتونو ملاویږی (اَلْاِسْلَامُ وَالْاِحْسَانُ).

ربط او مناسبت

۱- مخکښې آیت کښې د یهودیانو جادو او سحر ذکر شو چه دوی د الله د کتاب په ځائے جادو اخلی، اُوس وائی چه دوی په رسول الله صلی الله علیه وسلم پورے استهزاء هم کوی.

۲- دارنګه مخکښې شبهه او اعتراض وو په باره د جادو کښې، اُوس شبهه ده په باره د لفظ د رَاعِنَا کښې. چه تاسو مونږ ولے د رَاعِنَا لفظ نه منع کوئ او خپله ئے استعمالوئ.

۳- اصل ربط : د یهودیانو خباثت او د هغوی د اسلام او مسلمانانو سره دشمنی بیانیږی.

شان نزول : رسول الله صلی الله علیه وسلم به چه کله په یو مجلس کښې بیان کولو، او د دین تعلیم به ئے ورکولو او مخ به ئے بعض ملګرو ته واړولو، نو بعض ملګری به د هغه په خبره پوره پوهه نشو، نو د دوباره تپوس کولو دپاره به ئے هغه ته د (رَاعِنَا) لفظ استعمالولو چه ددے معنیٰ ده (لږ زمونږ خیال هم اُوساتئ او دوباره دا خبره اُوکړئ)، پدے مجلسونو کښې به یهودیان هم ناست وو. نو کله چه دوی دا لفظ واوریدو، د دوی باطنی خباثت په حرکت کښې راغلو او د موقعے نه ئے فائده واخسته، نو دوی به پدے لفظ سره خپله ژبه کږه کړه او ددے لفظ نه به ئے (رَاعِیْنَا) جوړ کړو یعنی اے زمونږ شپونکیه!. لکه بل آیت کښې دی :

﴿وَرَاعِنَا لَيًّا بِاَلْسِنَتِهِمْ﴾ [النساء : ٤٦] (دوی رَاعِنَا وائی چه ژبے پرے کږوی).

(رَاعِيْ) په عربي ژبه كښې شپونكي ته وئيلے شي، مقصد ئې دا وو چه ستا كار د گډو بيزو د تربيت سره دے، نۀ د انسانانو سره۔ دارنګه شپونكي كښې غالباً كم عقلتيا وي۔ او خپله په عبراني ژبه كښې (رَاعِيْ) به ئې اَحْمَق (كم عقل) يا غټ جاهل ته وئيلو۔ نو پدے سره به دوى د رسول الله ﷺ پورے مسخرے كولے، يو بل سره به ئې خندل۔

او په روايت د ابن عباس رضي الله عنه كښې دي : چه دوى به وئيل : اُوسه پورے مونږ دے نبي ته په پټه كنځل كول، اُوس به ئې ورته په ښكاره كوو۔ (قرطبيؒ) او صحابه كرامؓ او نبي كريم ﷺ خو عَالِمِ الْغيب نۀ وو۔ پدے كښې يو صحابي (سعد بن معاذ رضي الله عنه) چه هغه د دوى په ژبه پوهيدلو په دے خبره پوهه شو چه دا خلق خو ورانے كوي، دا لفظ د ورانئ په نيت باندے وائي۔ دوى ته ئې اُووئيل :كه آينده كښې ما ستاسو نه دا كلمه واوريدۀ څټونه به درله اُووهم۔ دوى ورته اُووئيل : تاسو ئې چه وايئ ؟۔ نو الله تعالىٰ دا آيتونه نازل كړل او مؤمنان ئې منع كړل چه تاسو دا لفظ مۀ استعمالوئ بلكه د (رَاعِنَا) په ځائے (اُنْظُرْنَا) لفظ استعمال كړئ چه د دواړو معنىٰ يو ده، دے دپاره چه يهوديانو ته د رسول الله ﷺ د بے ادبئ موقعه ملاؤ نشي او يهود ترے غلطه فائده وانخلي او نۀ د يهوديانو سره مشابهت راشي۔ نو پدے كښې د رسول الله ﷺ ډير احترام ذكر شو۔

او د يهوديانو هميشه دپاره د نبي ﷺ بے ادبي او د ايمان والو سره بد نيتي د دوى عادت راروان دے۔

په حديث كښې راغلي دي چه كله به دوى د مسلمانانو سره ملاويدل نو د (اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ) په ځائے به ئې (اَلسَّامُ عَلَيْكُمْ) وئيلو يعني په تاسو دِے مرګ وي۔ (بخاري ومسلم)۔

د راعنا مطلبونه

(رَاعِنَا) ١- يا د رِعَايَة نه دے په معنىٰ د لحاظ ساتلو سره۔ يعني زمونږ لحاظ هم اُوساته۔ او دا د صحابه كرامؓ مقصد وو۔ او د يهودو مقصد په كښې دا وو چه تۀ زمونږ لحاظ اُوساته او زمونږ د مصيبتونو او تكاليفو نه نګهبان او ساتنه كونكے شه، او دا صفت د الله تعالىٰ پورے خاص دے او نبي ﷺ له ئې ثابتول شرك دے، نو دوى د شرك دا كلمه په صحابه كرامؓ كښې خورول غوختل، دے دپاره چه په دوى كښې په پټه سره شرك راشي۔

٢- يا رَاعِنَا د رُعُوْنَة نه دے په معنىٰ د حُمُق او كم عقلتيا سره، نو رَاعِنْ به ئې كم عقل ته وئيلو، او الف به ئې پكښې د آواز پورته كولو دپاره زياتولو۔ يعني اے كم عقله !۔ يا د هغوى په ژبه كښې هم بعينه دا لفظ د كم عقل دپاره استعماليدو۔

٣- يا د دوى په لغت كښې د رَاعِنَا معنىٰ دا وه : (اِسْمَعْ لَا سَمِعْتَ) ته غوږ كيده ته دِے خبره وانۀ ورے) نو دا نبي كريم عليه السلام ته ښيرے وے۔ پدے وجه منع شو۔ (اللباب)۔

٤- يا رَاعِنَا د رِعَايَة او مُرَاعَاة نـه دے، او دا بـاب مفاعله ده چه د دواړو طرفينو نه صدور غواړی، او مـقـصـد دا وو چه مونږ ستا رعايت او لحاظ ساتو، نو ته زمونږ رعايت او لحاظ ساته۔ نو پدے لـفظ سره دوی په نبی ﷺ باندے خپل احسانات زبادول او د هغه سره ئے خپل ځانونه برابرول او دا لويه بے ادبی وه۔ (اللباب لابن عادل)۔

د آيت عنوانات

دا آيت پـه يـوه جـزئـی واقـعـه کښ نازل دے ليکن د الفاظو د عموم د وجه نه پدے کښ يو څو عنوانات دی :

(١) اَلنَّهْىُ عَنْ لَفْظِ رَاعِنَا۔ پدے آيت کښ د راعنا لفظ د وينا نه منع بيان شويده۔

(٢) اَلـنَّهْىُ عَنْ اِسَاءَةِ الْاَدَبِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ۔ (د رسـول الله ﷺ د بے ادبی کولو نه پکښ منع بيان شويده)۔ (٣) اَلنَّهْىُ عَنِ الْاَلْفَاظِ الْمُوْهِمَةِ وَالْمُشْتَبِهَةِ.

(د موهم او مشتبه الفاظو نه منع ذکر ده يعنی د هر هغه لفظ نه منع ذکر ده چه هغه اشتباه پيدا کوی او د غلطے معنے وهم او گمان پکښ وی۔

(٤) اَلـنَّهْـىُ عَـنِ التَّشَبُّـهِ بِـالْكُفَّارِ فِىْ اَقْوَالِهِمْ وَاَفْعَالِهِمْ) ۔ د کـافـرانـو سره پـه اقوالو او افعالو کښ د مشابهت کولو نه منع ذکر ده لکه دا خبره ابن کثيرؒ ذکر کړيده۔

حافظ ابن کثيرؒ فرمائی :

[وَالْغَرَضُ اَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى نَهَى الْمُؤْمِنِيْنَ عَنْ مُشَابَهَةِ الْكَافِرِيْنَ قَوْلاً وَفِعْلاً] ...... [ابن کثير ١/٣٧٣]

(مقصد د آيت دا دے چه الله تعالىٰ ايمان والا په خبرو او کارونو کښ د کافرانو د مشابهت نه منع کـوی) چـه مسـلـمـان به ديته وائی چه د هغهٔ خبرے او د هغهٔ اعمال د کافرانو سره مشابه نهٔ وی، عـمـل بـه ئے هـم پـه کـنټـرول وی او خبـرے بـه ئے هم د شريعت په حدودو کښ دننه وی۔ (د تشبه بالکفار مثالونه او اضرار او قواعد به په سورة آلعمران (٩٨) آيت کښ راشی ان شاء الله)۔

دارنـګـه پـه آيت کـښ غـرض دا دے چـه هـر هـغـه کلمه او خبره چه په هغے سره د يو شر دروازه کـولاويـږی او د کـافـرانـو سـره پکښ مشابهت راځی او خلق ترے غلطه فائده اخلی اګرکه د هغه لـفظ صحيح معنیٰ هم وی نو د هغے استعمال به منع وی۔ او دے ته د شريعت په اصطلاح کښ د الفاظو اصلاح وائی۔

او هـر هـغـه لـفـظ چـه په هغے کښ د الله تعالیٰ او د هغه د رسول، يا د هغه د کتاب بے احترامی راځی هغه به پريږدی نو بيا په دے آيت کښ الله تعالیٰ يو قانون بيان کړيدے چه هر هغه لفظ چه هغـه ښـهٔ او بـده مـعـنـیٰ دواړه لری، نو هغه لفظ به پريدی او داسے لفظ به استعمالوی چه هغه

سو چه پاك وي، او د غلطے معنے احتمال پكښې د سَرهٔ نهٔ وي، دا په هره ژبه كښې كيږي، په پښتو، فارسئ، اردو كښې. يعنې غلط الفاظ مهٔ استعمالوئ او صحيح الفاظ استعمال كړئ او شريعت لكه څنګه چه د عقيدے اصلاح كوي، نو دغه شان د اخلاقو، اعمالو، اقوالو اوالفاظو د تولو څيزونو اصلاح كوي، قرآن كريم او احاديثو كښې ډير داسے الفاظ شته چه په هغے كښې اصلاح شوے ده چه دا لفظ مهٔ استعمالوئ پدے كښې نقصان دے.

○ لكه قرآن كريم كښې دي : ﴿وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلَالٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ﴾ [يونس] يعنې د ځان نه داسے مهٔ وايئ چه دا حلال دي او دا حرام دي. ځكه چه پدے كښې د الله تعالىٰ بے ادبي ده او په هغه دروغ تړل دي.

○ دغه شان حديث كښې دي : داسے مهٔ وايئ [يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ] يعنې زمانے ته به كنځل نهٔ كوئ ځكه چه دا په اصل كښې الله تعالىٰ ته كنځل كول دي. ○ ځان ته به داسے نهٔ وائي : [خَبُثَتْ نَفْسِيْ] (زما نفس خبيث شو) ځكه چه خبيث خو مشرك وي. بلكه (لَقِسَتْ نَفْسِيْ) به وائي. (يعنې نفس مے بے سوره اوككړ شو). ○ حديث كښې دي : انګورو ته (كَرْم) مهٔ وايئ ځكه چه كرامت والا خو مؤمن وي. ○ او دغه شان (عَبْدِيْ) (زما بنده او غلام) به نهٔ وائي بلكه (فَتَايَ) به وائي. (يعنې زما هلك او خادم). ○ دغه شان حديث كښې دي [مَا شَاءَ اللهُ وَشَاءَ فُلَانٌ] مهٔ وايئ (يعنې چه الله او فلانے اوغواړي) ○ [هٰذَا مِنْ بَرَكَةِ اللهِ وَبَرَكَةِ فُلَانٍ] دا د الله بركت دے او د فلاني بركت دے) ددے نه منع راغلے ده. ○ او ددے په حكم كښې دا الفاظ هم دي [اَنَا فِيْ حِفْظِ اللهِ وَحِفْظِ فُلَانٍ] (زهٔ د الله او د فلاني په حفاظت كښې يم).

○ اَنَا مُتَوَكِّلٌ عَلَى اللهِ وَعَلٰى فُلَانٍ. (زما په الله او په فلاني توكل دے).

○ دارنګه داسے وئيل : خپله زمكه خپل اختيار.

○ په درود تاج كښې د نبي ﷺ په صفت كښې داسے وائي : [دَافِعُ الْبَلَاءِ وَالْقَحْطِ وَالْاَلَمِ] (مصيبتونه او قحطونه او دردونه دفع كونكے) دے. ○ عبد الرسول او عبد النبي او داتا، او ګنج بخش او پير بخش او حسين بخش او رامداد نومونه كيخودل.

دے ټولو الفاظو نه د شرك بوئي پيدا كيږي پدے وجه ددے وئيل ددے آيت او د احاديثو په رڼا كښې جائز نهٔ دي.

لهذا داسے به نهٔ شي وئيلے چه [اَسْئَلُكَ بِحَقِّ فُلَانٍ] (اے الله! زهٔ تا نه سوال كوم په حق د فلان) دارنګه په وسيله د فلان او جاه د فلان او طفيل د فلان او حرمت د فلان. دا مشتبه الفاظ دي.

○ دغه شان لفظ د حضرت او حضور د رسول الله ﷺ دپاره غائبانه استعمالول هم پدے كښې

داخل دی. ځکه چه ددے دا مطلب هم جوړیږی چه د رسول الله ﷺ حاضریدل. نو دے نه غلطو عقیدو والا دا مطلب اخلی چه نبی ﷺ هر ځائے حاضر ناظر دے. او صحیح معنیٰ ئے هم شته، هغه دا چه دا په بعض ژبو کښې د ادب لفظ دے. دغه شان (یارسول الله) لفظ غائبانه استعمالول هم پکښې داخل دی. وجه دا ده چه ددے یوه معنیٰ دا جوړیږی چه (اے د الله رسوله زهٔ ستا نه مدد غواړم) نو دا خو ښکاره شرك دے او که دا معنیٰ نهٔ اخلی نو هسے ے مطلبه چغه ده او د رسول الله ﷺ بے ادبی ده چه هسے ورته آوازونه کوی. او دغسے مشتبه الفاظ چه دوه مطلبونه ترے اخستے کیږی په هره ژبه او هر لغت کښې استعمالیږی نو مسلمان له پکار دی چه هغے ته فکر کوی او د هغے په ځائے صفا لفظ استعمالوی.

حدیث د مسند احمد کښې راغلی دی : [مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ]

(چا چه د هر قوم سره مشابهت اُوکړو نو دا به د هغوی نه حساب وی).

﴿ وَقُوْلُوْا انْظُرْنَا ﴾ یعنی د رَاعِنَا په ځائے (اُنْظُرْنَا) لفظ استعمال کرئ چه ددے نه کافران غلط مطلب نشی اخستے. بیا دا ضروری نهٔ ده چه بنده به د متوجه کولو په صورت کښې صرف (اُنْظُرْنَا) استعمالوی بلکه بل صحیح لفظ هم استعمالولے شی خو (اُنْظُرْنَا) ئے په طریقه د مثال راوړو.

(وَقُوْلُوْا) یعنی کله چه مو ضرورت راشی نو بیا اُنْظُرْنَا لفظ استعمالوئ.

(اُنْظُرْنَا) نظر یا په معنیٰ د تاخیر او مهلت سره دے یعنی مونږ ته په خبرو کښې دمه او انتظار اُوکړه چه په خبره پوهه شو. یا نظر په معنیٰ د فکر او توجه سره دے. یعنی مونږ له هم لږه توجه راکړه. [ای اَقْبِلْ عَلَیْنَا وَانْظُرْ اِلَیْنَا] (مونږ ته مخ راواړوه او مونږ طرف ته اُوګوره)

(النکت والعیون د ماوردیؒ).

﴿ وَاسْمَعُوْا ﴾ : دا ئے د (اُنْظُرْنَا) نه روستو راوړو پدے کښې مقصد ادب ورکول دی چه تاسو اول نه خبرے ته ښهٔ غوږ کیدئ او غوږونه د نورو مشغلونه اُوزګار کرئ نو (اُنْظُرْنَا) لفظ استعمالولوته او تپوس ته به مو ضرورت نهٔ راځی. (نیشاپوریؒ).

○ یا د سمع نه مراد قبولیت او اطاعت دے یعنی خبره باندے عمل اُوکرئ یعنی صرف اُنْظُرْنَا وئیل مقصد نهٔ دے بلکه ددے پسے په خبره باندے عمل کول ضروری دی، په خلاف د یهودیانو چه هغوی به صرف رَاعِنَا وئیلو او بیا به ئے د خبرو اطاعت نهٔ کولو. او دا مطلب هم جوړیږی چه ((هغه خبره کوئ کوم باندے چه زهٔ درته امر کوم او زما ټول اوامرو باندے عمل کوئ او د یهودیانو په شان مهٔ کیږئ چه هغوی وئیلی وو (سَمِعْنَا وَعَصَیْنَا) هسے په خولے ئے د آوریدو او

قبليدو دعوه كړے وه ليكن عمل ئې د هغې خلاف وو)۔ (قاسميؒ)۔

○ يا مطلب دا دے چه دا خطاب ما تاسوته اُوكړو نو دا قبول كړئ او دغه شان آينده كښې د الله تعالىٰ د احكامو قبوليت كوئ۔

﴿ وَلِلْكَافِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴾ : پدے كښې په يهوديانو رد دے چه دا خلق د رَاعِنَا لفظ په استعمالولو سره كافران دی، د الله تعالىٰ نبی له پدے باندے درد وركوی او د هغه بے ادبی كوی۔ او پدے كښې يو قسم يره پرته ده چه هر هغه څوك چه د الله تعالىٰ د نبی ﷺ او د هر داعی بے ادبی كوی الله تعالىٰ به ورله دردناك عذاب وركوی۔

عذابِ اليم د منافقانو دپاره دے، دلته ئې دكافرو دپاره ذكر كړو ځكه چه دوی هم د منافقانو كار كولو، ظاهر كښې ئې لفظ صحيح استعمالولو او دننه پكښې غلط مطلب وو۔

علامه بقاعيؒ ليكي : دے آيت كښې داسے تقدير دے : [اِسْمَعُوْا فَاِنَّ السَّمَاعَ اِيْمَانٌ وَلِلسَّامِعِيْنَ نَعِيْمٌ كَرِيْمٌ وَالْاِعْرَاضُ كُفْرٌ وَلِلْكَافِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ] [نظم الدرر للبقاعی ١/١٥٥]

(خبره واورئ ځكه چه خبره اَوريدل او قبلول ايمان دے او د خبره منونكو دپاره عزتمند نعمتونه دی او اعراض او مخ اړول كفر دے او د كافرانو دپاره دردناك عذاب دے)۔

فوائد الآية : ١- يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا) دا اولنے خطاب دے او په قرآن كښې (٨٩) كرته راغلے دے او ديته نِدَاءَاتُ الرَّحْمٰنِ لِاَهْلِ الْاِيْمَانِ وئيلے شی (يعنی د رحمان آوازونه چه ايمان والو ته ئې كړيدی)۔ او ددے نه روستو مقتضيات الايمان ذكر كيږی يعنی يا به روستو امر وی يا به د كوم كار نه نهي او منع وی او هغه د ايمان تقاضاګانے دی۔ لكه عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي :

[اِذَا سَمِعْتَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ : يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا فَارْعَهُ سَمْعَكَ فَاِنَّهُ اِمَّا خَيْرٌ تُؤْمَرُ بِهٖ وَاِمَّا شَرٌّ تُنْهٰى عَنْهُ]

[تفسير ابن عثيمين، وشذرات الذهب]

(كله چه تهٔ د الله تعالىٰ نه په قرآن كښې يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا واورے نو غوږ ورته متوجه كړه ځكه چه دا به يا خير وی چه تا ته به پرے حكم كيدے شی يا به شر وی چه ته به ترے منع كيدے شے)۔

٢- په آيت كښې د رسول الله ﷺ ډير احترام ذكر شو، او دا اُوخودلے شو چه د رسول الله ﷺ احترام او ادب كول فرض دی۔

٣- د يهوديانو لويه بدی او بے ادبی ذكر شوه او باطنی خباثت ئې رابنكاره كړے شو۔

٤- د مؤمنانو د كلماتو اصلاح اُوشوه۔

٥- د آيت نه ثابته شوه چه اسلام كله د سد الذرائع د وجه نه منع كوی يعنی يو شے كله خپله منع نهٔ وی، په هغې كښې څه فساد نهٔ وی ليكن هغه سبب او ذريعه د فساد ګرځی نو شريعت د

هغې نه هم منع کوی۔ لکه رَاعِنَا لفظ کښې د صحابه کرامو په نیز هیڅ فساد نهٔ وو لیکن یهودیانو ترې غلط مطلب اخستې شو، پدې وجه هغوی پرې فساد کولو نو مسلمانان ترې منع شو۔ دغه شان د مهیانو ښکار د خالي په ورځ په یهودیانو بند وو لیکن دوی ورته بندونه واچول او د اتوار په ورځ به ئې رانیول نو پدې کار سره د دوی نه خنزیران او شادوګان جوړ شو ځکه چه ذریعه د فساد هم فساد وی۔ دا داسې شو لکه د خالي په ورځ مهیان رانیول۔ دغه شان (وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ) کښې ئې ونې ته د نزدیکت نه منع اُوکړه ځکه چه دا د ونې د خوراك ذریعه وه۔

او ددې خبرې ډیر تفصیل په تفسیر قرطبی کښې سره د مثالونو نه اُوګوره۔ او بعض مثالونه د احادیثو نه دا دی (۱) لکه د رسول الله ﷺ په مرض الوفات کښې ام حبیبهؓ او ام سَلَمهؓ دواړو د حبشو ګیرجو صفت اُوکړو او دا ئې هم اُووئیل چه په هغې کښې تصاویر وو نو نبی ﷺ سر راپورته کړو او وې فرمایل : دا خلق (یهود او نصاریٰ) د الله په نیز ډیر شریان خلق دی ځکه چه په دوی کښې به چه کله نیك سړې مړ شو نو د هغه په قبر به ئې مسجد جوړ کړو او په هغې کښې به ئې هغوی تصاویر اُولګول۔ د نبی ﷺ مقصد خپل امت منع کول وو چه دوی ما سره داسې کار چرته اُونکړی۔ (بخاری ومسلم)

(۲) په حدیث کښې دی [مَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ] (صحیح مسلم)

(څوك چه په مشتبه څیزونو کښې واقع شو نو هغه په حرامو کښې واقع شو)

یعنی د ګناهونو خوا ته مهٔ نزدې کیږئ هسې نه چه په کښې واقع نشئ لکه یو شپونکې چه خپل څاروی د چراګاه په خوا کښې څروی، نو ډیره نزدې ده چه د هغه څاروی به پردئ چراګاه ته ننوزی۔

(۳) حدیث کښې دی : د بل مور او پلار ته کنځل کول داسې دی لکه خپل مور او پلار ته کنځل کول۔ (مسلم) نو د بل د مور او پلار د کنځلو نه ئې منع پدې وجه اُوکړه چه دا ذریعه ګرځی ددې چه ددهٔ مور او پلار ته به کنځل کولې شی۔

(٤) عمر بن الخطاب ؓ فرمائی : دَعُوا الرِّبَا وَالرِّيبَةَ۔ سود او شکی کارونه پریدئ۔

(جامع العلوم والحكم ص (۱۱۰) لابن رجب۔

(٥) احادیثو کښې د بیع العِینة نه منع شوې ده۔ ځکه دا ذریعه د سود ده۔

٦- حسن بصریؒ پدې کښې (رَاعِنًا) په تنوین سره لوستلې دې۔ نو بیا به دا صیغه د اسم فاعل وی او صفت به وی د موصوف محذوف دپاره یعنی [قَوْلاً ذَا رُعُونَةٍ] (یعنی داسې وینا مهٔ کوئ چه د کم عقلتیا والا وی)۔ دا به د تامر او لابن په شان وی۔ اَیْ ذُوْ تَمَرٍ او ذُوْ لَبَنٍ۔

(اللباب، قاسمیؒ، قرطبیؒ)

۷- وَانْظُرْنَا : د مفتي كمال داوي چه كله د يو شي نه منع اُوكړي نو د هغې صحيح عوض او متبادل شے بيانوي چه خلق په هغې عمل اُوكړي۔

الله تعالىٰ اُوس د دوي حسد بيانوي :

مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ خَيْرٍ
نهٔ خوښوي كافران د كتاب والونه او نهٔ د مشركانونه دا خبره چه نازل كړے شي په تاسو، څهٔ خير
مِّنْ رَّبِّكُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاللّٰهُ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۰۵﴾
د طرفه د رب ستاسو نه، او الله خاص كوي په خپل رحمت سره چا له چه اُوغواړي او الله خاوند د لوئي مهربانئ دے۔

تفسير : پدے آيت كښې الله رب العالمين مسلمانانو سره د يهوديانو سخت حسد او سخته دشمني بيان كړيده، چه هغوي دا نهٔ غواړي چه په تاسو باندے خير او قرآن او وحي نازله شي۔ او دا ددے دپاره بيانوي چه مسلمانان د كافرو سره تعلق قطع كړي او د الله تعالىٰ شكر ادا كړي چه دوي ته ئے د نبي كريم ﷺ په ذريعه د اسلام په شان عظيم نعمت وركړو چه هغه د كافرانو او مشركانو په زړونو كښې ازغے ګرځيدلے دے۔

ربط ۱ -: دا آيت اصل كښې د مخكښې حكم دپاره دوه علتونه ذكر كوي چه تاسو د كافرانو تقليد مهٔ كوئ او د هغوي سره مشابهت مهٔ كوئ ځكه ۱- يوخو دوي تاسو سره سخت بغض او حسد كوي۔ ۲- دويم : الله تعالىٰ په تاسو باندے خاص انعامات كړيدي ددے شكر ادا كړئ او د كافرانو مشابهت مهٔ كوئ۔ ستاسو د هغوي د مشابهت سره څهٔ كار ؟ !۔

ربط ۲ : مخكښې بيان شو چه دوي پيغمبر ته بد رد وائي او ضرر وركوي ددے سبب څهٔ دے؟ نو هغهٔ حسد دے چه پدے آيت كښې ذكر دے۔

﴿ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ ﴾ عام مشركان د عربو او د عجمو ستاسو په وحي او كتاب خوشحاله نهٔ دي۔ المشركين ئے عطف كړو په اهل كتاب باندے او (لا) د نفي د تاكيد دپاره دے او مطلب دا دے چه كافران دوه قسمه دي، يو د اهل كتابو نه دي او بل د مشركانو نه۔ يعني عام مشركان، د بتانو عبادت كونكي۔ يا دا چه دا عطف د صفت دے په صفت باندے يعني كوم اهل كتاب چه كافران او مشركان دي۔ ځكه چه نبي ﷺ داسے فرمائيلي دي : [اَخْرِجُوا الْمُشْرِكِيْنَ مِنْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ] [متفق عليه]۔ (مشركان يعني يهوديان د جزيرة العرب نه اُوباسئ)

نو يهوديانو ته ئے مشركان اُووئيل۔ اوله وجه ظاهره ده ځكه چه يهود او مشركان دواړه حسد

کونکي وو. او ددې آيت مطلب دا نهٔ دے لکه بعض وائي چه يهود اهل کتاب مشرکان نهٔ دي بلکه د اهل کتابو د شرك سره خاص نوم هم شته او د عربو مشرکانو بل خاص نوم نهٔ وو نو ځکه ئې په مشهورو نومونو سره ذکر کړل.

شان نزول : بعض مسلمانانو به خپلو حلفاؤ يهوديانو ته د ايمان دعوت ورکولو چه په محمد (ﷺ) باندې ايمان راوړئ، نو دوی به وئيل : تاسو چه مونږ ته د کوم شي دعوت راکوئ دا غوره نهٔ دے د هغه دين نه کوم باندې چه مونږ روان يو، او اَرمان چه دا غوره وے (نو مونږ به ئې تابعداري کړې وے) او دا خبره به دوی د بغض او د حسد د وجه نه کوله چه ايمان والو باندې ئې دا وحي او ددې نبي (ﷺ) نبوت نهٔ پيرزو کيدو نو الله تعالیٰ د دوی د دروغجن کولو دپاره دا آيت نازل کړو. (تفسير خازن، وبحر العلوم).

او ايمان والو ته ئې اُوفرمايل چه دې يهوديانو او مشرکانو ته بيدار شئ دوی تاسو سره حسد کوي.

﴿ مِنْ خَيْرٍ مِنْ رَّبِّكُمْ ﴾ په تاسو باندې چه کوم خير نازليږي که دنيوي وي او که اُخروي وي، وحي وي او که د دين کومه مسئله وي، نو دوی پرې خفه کيږي نو ځکه دا اعتراضونه کوي. کله به وائي، دين ئې خراب دے او کله به د رسول الله ﷺ او کله به د سليمان عليه السلام بے عزتي کوي.

د خير مصداق

د خير نه مراد د نبي ﷺ نبوت او وحي او قرآن دے. او ټولو دنياوي او اُخروي فائدو ته شامل دے. ځکه چه د مؤمنانو په هر حالت باندې کافرانو له حسد ورځي لکه سورة آل عمران (۱۲۰) آيت کښې راغلي دي. ﴿ وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ﴾ دوی خوښوي چه تاسو په مشقت کښې واقع شئ.

سورة النساء (۸۹) آيت کښې دي : ﴿ وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَاءً ﴾

دوی خپله کافران دي نو دا خوښوي چه تاسو د دوی په شان کافران شئ.

﴿ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَاءُ ﴾ کښې جبرئيل عليه السلام، ميکائيل عليه السلام، محمد رسول الله ﷺ، سليمان عليه السلام او دارنګه دا امت داخل شو چه دوی له الله تعالیٰ رحمتونه ورکړي دي او دا يهود پرې اعتراض لري.

او دا د مخکښې حکم دپاره علت دے، او مطلب دا دے چه هر کله الله تعالیٰ تاسو په رحمت سره خاص کړې يئ نو بيا د کافرانو سره مشابهت ولے کوئ ؟!.

دارنګه دا جواب د يو وهم دے چه هرکله کافران د ايمان والو سره حسد کوي نو آيا پدې حسد سره به د ايمان والو نه خير او رحمت زائله کړي ؟ نو دا ګمان ئې دفع کړو چه الله تعالیٰ چه په چا رحم کوي نو څوك منع کونکے او زائله کونکے ئې نشته، دا کافران دِې دا طمع نهٔ لري چه ګنې

مونږ به په خپل حسد او دشمنۍ سره دا خیر او رحمت د ایمان والو نه زائله کړو۔ (قاسمیؒ)۔
دارنګه پدې جمله کښې د هغوی په حسد باندې رد دې چه الله تعالیٰ دوی ته رحمت ورکړو نواې کافرانو! تاسو ولې حسد کوئ ؟!۔

د رحمت مصداقات

۱- د رحمت نه مراد د رسول الله ﷺ نبوت دې۔ (علی رضی الله عنه)۔
۲- بعض وائی : د رحمت نه مراد اسلام او هدایت دې۔(ابن عباس رضی الله عنهما)۔
۳- ځینی وائی : د آیت معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ به انبیاء د اسحاق علیه السلام په اولادو کښې رالیږل، نو هرکله ئې چه نبی ﷺ د اسماعیل علیه السلام په اولادو کښې راولیږلو، یهودیانو ته دا خبره خوښه ښکاره نشوه نو ضد ئې شروع کړو، نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ او مشرکانو ته پدې وجه خوښ ښکاره نشوه چه رسول الله ﷺ هغوی ته د ګمراهۍ نسبتونه اُوکړل او د هغوی د آلهو عیبونه ئې بیان کړل چه دا هیڅ نشی کولې۔ (معالم التنزیل د بغویؒ)
٤- او رحمت کښې دنیاوی فوائد، غنیمتونه او فتح او نصرت او د ملګرو ډیریدل هم داخل دی۔
مَنْ يَّشَاءُ : پدې کښې اشاره ده چه په الله تعالیٰ باندې هیڅ شے واجب نۀ دې او په هغه باندې د هیچا حق نشته بلکه هغه چه په چا کوم رحمت کوی نو هغه خالص د هغه احسان وی او په حکمت بناء وی۔
﴿ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْم ﴾ یعنی د الله تعالیٰ مهربانی لویه ده او علم هم ورسره زیات دې، څوك ئې چه مستحق وی هغه له ئې ورکوی۔ او دا هم ضروری نۀ ده چه په چا ئې مخکښې احسان اُوکړو نو د هغۀ نه علاوه به په بل چا احسان نۀ کوی۔
نکته : قرآن کریم د رحمت ذکر کولو نه روستو په داسې مقام کښې دا لفظ (وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْم) غالباً ذکر کوی، دا دفع د یو وَهم وی او هغه دا چه الله تعالیٰ چه چا له خپل رحمت ورکوی او چا پورې ئې خاص کوی نو ددې وجه به دا وی چه د الله تعالیٰ رحمت به کم وی؟ نو الله رب العالمین فرمائی: چه زما رحمت زیات دې لیکن مستحقینو له ئې ورکوم، او الله تعالیٰ د خپل رحمت دپاره ځائے ګوری او خپل رحمت بې محله نۀ نازلوی۔
دارنګه دا جمله د مخکښې دپاره تذییل دې۔ او پدې کښې اشاره ده چه څوك د خیر او د رحمت اراده لری، نو هغه له پکار دی چه د الله تعالیٰ فضل ته ځان پیش کړی او هغه سره مینه اُوکړی، دې دپاره چه هغۀ ورته فضل او رحمت ورکړی نو پدې سره به د ګناهونو او خباثتونو نه صفا شی او په فضائلو اوطاعاتو به ښائسته شی نو الله تعالیٰ به ورسره مینه شروع کړی۔ (ابن عاشورؒ)۔

فائده : يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ كښې دوه تفسيرونه دي (۱) اول دا چه باء په مقصور داخله ده يعنى الله تعالىٰ خاص كوي د خپل رحمت پورې چا له چه اُوغواړي۔ نو يختص به فعل متعدي وي۔

(۲) دويمه دا هم جائز ده چه باء په مقصور عليه داخله وي (او يختص فعل لازم شي) او فاعل ئې روستو (مَنْ) شي۔ او معنىٰ به دا شي چه د الله تعالىٰ د رحمت پورې خاص كيږي هغه څوك چه الله تعالىٰ ئې اُوغواړي۔ (مَنْ يَّشَاءُ) كښې به ضمير د مفعول حذف وي۔ (روح المعاني، اللباب لابن عادل)۔

اول تفسير غوره دے ځكه بلا تكلفه دے او لفظ د يختص متعدي دے۔

مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَاؕ
كچرته مونږ منسوخ كړو يو آيت يا هير كړو هغے لره (ستا نه) (نو) راوړو مونږ غوره د هغے نه يا په شان د هغے،
اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۶﴾
آيا تهٔ نهٔ پو هيږے چه يقيناً الله تعالىٰ په هر څه قادر دے۔

ربط : ۱- يهودو ته چه كله اُوويئيل شو چه په دے قرآن او په دے نبي محمد ﷺ باندے ايمان راوړئ، نو هغوي خپل عذر دا پيش كړو چه زمونږ شريعت نهٔ منسوخ كيږي، او وے وئيل چه محمد (ﷺ) خپله دا بيانوي چه تورات حق كتاب دے او دا كتاب (قرآن) د هغے تصديق كونكے دے نو څنګه به ددهٔ شريعت تورات لره باطل اُوګرزوي ؟۔ نو الله تعالىٰ دلته د نسخ او د هغے د حكمتونو په ذكر كولو سره جواب وركوي۔

۲- : د يهوديانو د خباثتونو نه يو دا هم دے چه دوي په شريعتونو كښې د نسخ نه انكار كوي۔

بې دلته خصوصاً د نسخ ذكر د قبلے د تحويل دپاره د مقدمے په طور اُوشو۔ كما تقدم۔

دارنګه ايمان والو ته رحمتونه وركړے شو، نو يهودو په خپل دين باندے فخر اُوكړو نو په هغوي باندے د رد كولو دپاره د نسخ مسئله ذكر شوه چه د هغوي دين منسوخ دے۔

۳- ربط : لفظ رَاعِنَا په بل لفظ (اُنْظُرْنَا) سره منسوخ شو۔

تفسير : په دے آيت كښې د نسخ مسئله بيانوي چه دے كښې هم د يهودو ورانے ذكر دے، دوي دا اعتراض كولو چه شريعت نهٔ منسوخ كيږي، او نسخ د الله تعالىٰ په دينونو كښې نهٔ راځي، نو مقصد ئې دا وو چه تورات نهٔ منسوخ كيږي، زمونږ دين همغه شان روغ جوړ دے۔

او په دے اُمت كښې ډيرو معتزلو د نسخ د واقع كيدو نه انكار كړيدے۔

نو الله رب العزت دا آيت راوليږلو۔ د اعتراض حاصل ئې دا وو چه الله تعالىٰ ولے يوه خبره

راولیږی او بیرته ئے لرې کړی، دا خو په ناپوهئ باندے دلیل وی چه مخکښ ئے یوه خبره کړے او بیا ئے بدله کوی، نو معلومه شوه چه دده علم نه وو، او الله رب العزت خو پوهه ذات دے، په هغه باندے جهالت راتلل نا ممکن دی؟۔ نو الله تعالیٰ دلته د نسخ فائدے بیان کړے۔

دارنګه یهودیانو او مشرکانو په نبی ﷺ دا اعتراض کولو چه کله یوه خبره اُوکړی بیرته ئے منسوخه کړی، بیا بدله اُوکړی هغه هم ماته کړی لکه د هغهٔ په ژوند کښ قبله، شراب، جواری، د عاشوریے روژه ډیر احکام منسوخ شول، نو دوی اُووئیل که ته چرته دا د الله نبی وے نو یوه خبره به ئے کولے، لهذا دا په خپل دین کښ شکی او ګډوډ دے ؟ او دا د الله تعالیٰ کلام نهٔ دے۔ نو مونږ دا نشو منلے؟۔

ددے **جواب** دا دے چه نسخ د الله تعالیٰ په دینونو کښ واقع ده، او دارنګه قرآن کریم او حدیث دواړو کښ واقع ده۔ او دا د الله تعالیٰ په حکمت باندے دلیل دے، دا په بے علمیٔ باندے دلیل نهٔ دے۔ بلکه دا عین حکمت دے لکه یو ډاکټر چا له یو دوائی ورکړی بیائے ورته بدله کړی ځکه چه هغه موقع او محل ته ګوری، کله یو مریض له یو شان دوائی ورکوی او بل مریض ته بل شان، ځکه چه د هر یو طبیعت او مزاج جدا جدا وی، نو په ډاکټر او طبیب باندے عقلمند انسان دا اعتراض نهٔ کوی چه دا دوائی ولے مختلفه ورکړے شوه؟ نو دغه شان الله تعالیٰ د خپل مخلوق په مزاجونو او طبیعتونو او حالاتو باندے خبردار دے، د هرے زمانے د امت دپاره جدا جدا احکام نازلوی، او د حالاتو په بدلیدو سره ورته احکامو کښ تغییر او بدلون راولی او پدے کښ د هغوی خیرخواهی او هغوی ته فائده رَسول مقصد وی۔

نو الله رب العالمین خو احکم الحاکمین دے، په یو وخت کښ خلقو ته یو حکم سخت وی، د خلقو حالت یو شان وی، نو الله تعالیٰ ورته بل آسان حکم راولیږی ځکه چه د خلقو حالت جدا شوے وی۔ لکه مخکښ خلقو ته دا حکم وو چه یو مجاهد به د لسو کافرو مقابله کوی، بیا الله تعالیٰ دا حکم آسان کړو چه څه یو به د دوو مقابله کوی۔ ځکه چه اُوس تاسو کمزوری یئ هغه وخت کښ مسلمانان قوی وو۔ دارنګه مخکښ (رَاعِنَا) لفظ وئیل جائز وو لیکن د یو مصلحت په بناء ئے منسوخ کړو۔

په پخوانو کتابونو کښ د نسخ ثبوت

نسخ د الله تعالیٰ په دین کښ واقع کیږی، انجیل کښ هم نسخ شته او تورات کښ هم۔ خو دا جاهلان هسے اعتراض کوی۔ اُوسنی انجیلونو کښ هم نسخ واقع ده، ډیر مسائل پکښ منسوخ شویدی۔

(۱) لکه د موسیٰ علیه السلام په دین کښ طلاق وو، او عیسیٰ علیه السلام به د زنانه د جرم نه بغیر طلاق

ورکول بد گنړل لکه انجیل متی (۵۳/۱) کښې اُوګوره۔ نو نسخ پکښې راغلهـ
(۲) سفر تکوین یعني کتاب پیدائش باب (۲۹) آیت۲۳ نه تر (۳۰) پورې صریح طور سره ثابتیږي چه د لابَن دوه لونړه لیَا او رَاحِیل چه دواړه خپلې خویندې وې په یو وخت کښې د یعقوب علیه السلام په نکاح کښې وې۔

(کتاب مقدس طبع بائیبل سوسائټی انار کلي لاهور (۱۹۸۷) ص: ۳۰)

لیکن احبار باب (۱۸) آیت نمبر (۱۸) کښې وئیل شویدي چه ((تهٔ خپلې ښینې سره د وادهٔ کولو په وجه هغه د خپلې بی بی بنه مه جوړوه الخ)) معلومه شوه چه د یعقوب علیه السلام په شریعت کښې جمع بین الاختین یعني دوه خویندې په یو وخت کښې په نکاح کښې ساتل جائز وو، لیکن د موسیٰ علیه السلام په شریعت کښې ئې جواز منسوخ شو، او دا کار حرام شو لکه په شریعت محمدی کښې چه څنګه حرام دې۔
(۲) کتاب پیدائش باب (۹) آیت (۳) نه ثابتیږي چه د نوح علیه السلام په شریعت کښې هر ژوندی سر حیوان حلال وو۔ لیکن په احبار باب (۱۱) آیت (٤) نه تر (۸) پورې تصریح موجوده ده چه د موسیٰ علیه السلام په شریعت کښې اُوښ، خرګوش او خنزیر ناپاك وو او د هغې خوړل او د هغې بدن له ګوتې وروړل منع وو۔ (کتاب مقدس)
(۳) کتاب الاستثناء باب (۲٤) : آیت (۱،۲) نه ثابتیږي چه د موسیٰ علیه السلام په شریعت کښې د طلاق ورکولو اجازت وو لیکن د انجیل متی باب (۱۹) : آیت (٦) نه تر (۹) پورې ثابتیږي چه د حرام کارئ او د زناکارئ د صورت نه علاوه طلاق ورکول ممنوع دی۔ (انجیل مقدس ص: ۲۳)
(٤) کتاب پیدائش باب (۲۱) آیت (٤) او کتاب یشوع باب (۵) آیت: (۲) نه تر (۹) پورې ثابتیږي چه د موسیٰ علیه السلام په شریعت کښې د ختنې کولو حکم شویدې او ختنه کول ضروري وو۔ لیکن نصاریٰ ختنه نهٔ کوي، معلومه شوه چه د هغوی په نزد د ختنې حکم منسوخ شویدې۔
(۵) په تورات کښې راغلي دي چه الله تعالیٰ آدم علیه السلام ته حکم اُوکړو چه خپلې لونړهٔ خپلو ځامنو ته په نکاح کړي ردو بدل، یعني یوه خیټه کښې به هلك او جینئ پیدا کیدل نو چه په بله خیټه کښې به کوم هلك پیدا شو هغه به د اولې خیټې جینئ په نکاح اخسته او د دویمې خیټې جینئ به اول هالك په نکاح اخسته۔ بیا دا حکم د ټولو انسانانو په نبز منسوخ شو که مسلمانان دي او که یهود او نصاریٰ دي۔
(٦) الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام ته حکم اُوکړو چه خپل ځوی (اسماعیل) ذبح کړي بیا ورته الله تعالیٰ اُوفرمایل: مهٔ ئې ذبح کوه نو اول حکم ئې منسوخ کړو او دا خو د نسخ منکرین هم مني۔

(۷) د خالي په ورځ د دنيا كار مباح وو ترديے چه بنكار هم جائز وو ليكن بيا الله تعالىٰ په يهوديانو باندے حرام كړو۔
(۸) الله تعالىٰ بني اسرائيلو ته حكم كړے وو چه چا د سخي عبادت كړے وي نو هغه به قتلوئ بيا ئے ورته حكم اُوكړو چه باقي معاف شو۔

[مناهل العرفان في علوم القرآن (۲/۱۷۱) للعلامة الزرقاني۔

زمونږ كتاب «اصول التفسير وعلوم القرآن» ته رجوع اُوكړئ۔

(۹) حافظ ابن كثيرؒ ليكي: د يهوديانو د نسخ نه انكار صرف د كفر او د عناد په وجه وو، ورنه په عقلي طور باندے نسخ ممنوع نۀ ده ځكه چه الله تعالىٰ څۀ غواړي، كوي او په مخكنو آسماني كتابونو كښې نسخ واقع شويده لكه د آدم عليه السلام دپاره د خپل لور او ځوي يو بل سره وادۀ كول حلال وو بيا روستو حرام كړے شو۔ نوح عليه السلام چه كله كشتئ نه بهر راغلو نو د ټولو حيواناتو خوراك ورله جائز وو ددے نه روستو د بعض حيواناتو حلال والے منسوخ شو۔ د يعقوب عليه السلام او د هغۀ ځامنو دپاره په يو وخت كښې د دوه خويندو سره نكاح جائز وه ددے نه روستو په تورات كښې هغۀ حرام كړے شو۔ (ابن كثير ۱/۳۷۹)

يهوديانو د قرآن كريم په ذريعه د تورات د احكاماتو د منسوخ كيدو نه انكار اُوكړو او د عيسىٰ عليه السلام او د رسول الله ﷺ د نبوت نه ئے انكار اُوكړو پدے وجه چه دے دواړو رسولانو د تورات بعض احكام د وحي الٰهي په ذريعه منسوخ اُوګرځول۔ او قرآن كريم د تورات بعض احكام منسوخ اُوګرځول او بعض ئے باقي پريخودل، او داسے هم شويدي چه په قرآن كريم كښې الله تعالىٰ يو حكم نازل كړو او څه ورځے پس ئے منسوخ كړو، يا د هغه په بدل كښې ئے بل حكم نازل كړو، نو يهوديانو دغه اعتراض اُوكړو چه نن يو حكم كوي او سبا له بل حكم، پدے وجه دا د الله نبي نشي كيدے، او دا قرآن د الله تعالىٰ كلام نشي كيدے؟۔ نو په دے آيت كښې ددے يهوديانو د خبرے ترديد اُوشو چه الله تعالىٰ كه يو آيت منسوخ كوي نو د هغه په ځائے د هغے نه بهتر يا د هغے په شان راوړي او دا پدے وجه نۀ چه الله تعالىٰ په ابتداء كښې د حكم راوړو نه عاجز وو بلكه د بندګانو مصلحت او فائده په همدے كښې وه او ځوك چه د الله په قدرت څه علم لري نو هغۀ داسے خبره هيڅكله نۀ كوي۔ .... (تيسير الرحمن للشيخ لقمان)

د نسخ بيان

نسخ په عربي ژبه كښې د (نَسَخَ الْكِتَابَ) نه ماخوذ دے چه ددے معنىٰ ده د يو كتاب نه بله نسخه تيارول او ليكل۔ ۲– نسخ په معنىٰ د ابطال او ازاله (زائل كولو) هم استعماليږي۔

امام راغبؒ وائی : [إِزَالَةُ الشَّيْئِ بِشَيْءٍ آخَرَ] (یو شے په بل شی سره زائله کولو) ته وئیلے شی۔
او د قرآن کریم په اصطلاح کښ «نسخ» د یو حکم په بدله کښ بل حکم راوړل یا هغه لرے کولو ته وئیلے شی۔
او په شریعتِ اسلامیه کښ نسخ صرف په تحریم او تحلیل او منع او اباحت کښ شویده، په قِصَص او اخباراتو وغیره کښ نسخ نهٔ ده شوے۔ [ابن کثیر ۱/۳۳۵]
د جمهور علماءِ اسلام رایه دا ده چه په قرآن او احادیثو کښ نسخ واقع شویده لکه د الله تعالیٰ دا قول ﴿ اَلشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ اِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوْهُمَا اَلْبَتَّةَ ﴾ (کهٔ بوډا او بوډئ زنا اُوکړی نو دواړه ضرور په کاڼړو ویشتو سره مړهٔ کړئ) یا لکه دا قول ﴿ لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ ذَهَبٍ لَابْتَغٰى لَهُمَا ثَالِثًا ﴾
(که د بنیادم سره د سرو زرو دوه کندے شی نو ددے سره د دریمے کندے خواهش به لری)
د ابو مسلم اصفهانی معتزلی په شان بعض باطله عقیده لرونکو د نسخ نه انکار کړیدے چه هغے له په اسلام کښ هیڅ اعتبار نشته۔
نسخ بیا په درے قسمه ده یو دا چه تلاوت او حکم دواړه منسوخ وی، دویم دا چه صرف تلاوت منسوخ وی او حکم باقی وی لکه مخکښ (الشیخ والشیخة) والا آیت۔ او دریم دا چه صرف حکم منسوخ وی او تلاوت باقی وی۔ د نسخ د تفصیل او حکمتونو او صورتونو د دلیلونو دپاره زمونږ کتاب «اصول التفسیر وعلومه» ته رجوع اُوکړه۔
﴿ مَا نَنْسَخْ ﴾ (مَا) شرطیه ده، ځکه پرے (نَنْسَخْ) لفظ مجزوم شویدے۔ په اصل کښ موصوله ده، خو معنیٰ د شرط سره یو ځائے شویده۔ یعنی پدے شرط که مونږ یو آیت منسوخ کړو نو ددے نه غوره راوړو۔ الخ۔ یا داسے اووایه : که څرته مونږ منسوخ کړو۔
(اَوْ نُنْسِهَا) یعنی مونږه ئے ستا نه اے نبی او اے مؤمنانو ! هیر کړو۔
پدے کښ دوه قراءته دی (۱) یو نَنْسَأْهَا دے۔ د نَسْأٌ نه دے په معنیٰ د تاخیر او روستو والی سره۔
(۲) یا نُنْسِهَا دے د د اِنْسَاء نه جوړ دے، او هغه د نِسْیَان نه ماخوذ دے هیرولو ته وئیلے شی۔ دغه شان کله په معنیٰ د ترك او پریخودلو سره هم استعمالیږی۔ نو پدے کښ هره معنیٰ د خپل خپل احتمال سره لګوه نو ډیر صورتونه به جوړیږی لکه روستو راځی۔
﴿ نَاْتِ ﴾ : دا مجزوم دے جواب د شرط دے۔ اصل کښ نَاْتِیْ دے۔
﴿ بِخَيْرٍ مِنْهَا ﴾ : د خیر نه مراد اَنْفَع دے۔ یعنی چه ډیر فائده مند وی د مخکنی حکم نه۔
﴿ اَوْ مِثْلِهَا ﴾ : **سوال** دا دے چه هرکله دویم حکم د اول حکم په مثل وی، نو بیا د دویم حکم په راوړو کښ او د اول په منسوخ کولو کښ فائده څه شوه ؟

جواب دا دے چه دا مثلیت په ثواب کښې مراد دے یعنې دویم حکم د اول حکم په شان وی په ثواب کښې او دویم حکم کښې به آسانی وی او د وخت به مناسب وی او په اول حکم کښې به گرانی وی او ددے وخت مناسب به نهٔ وی. نو ځکه منسوخ کړے شی.

د نسخ او نسیان یا انساء فرق

دلته دوه لفظونه ذکر شو یو نسخ او بل انساء یا نسیان د دواړو فرقونه دا دی :

(۱) نسخ په لفظ او قراءت کښې وی او نِسْیَان د زړهٔ سره تعلق لری چه د زړهٔ نه ئے بالکل اُوباسی، هیرئے کړی. یعنی که مونږ د یو آیت الفاظ منسوخ کړو (لرے کړو). یا هغه د زړونو نه بالکلیه اُوباسو. ددے معنیٰ دا ده چه کله د یو آیت منسوخ کیدل پدے صورت کښې وی چه دغه آیت د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامؓ د ذهنونو او زړونو نه بیخی هیر کړے شی لکه ددے په باره کښې مفسرینو د صحابه کرامؓ کنړ واقعات نقل کړیدی چه د هغوی نه به آیت هیر شوے وو او رسول الله ﷺ نه به ئے د هغے تپوس اُوکړو نو نبی ﷺ به ورته اُوفرمایل چه دا آیت الله تعالیٰ د زړونو نه هیر کړیدے. دغه شان ابو موسیٰ اشعری ؓ وائی : مونږ به د سورة براء ة په مقدار اُوږد او سخت سورت لوستلو خو هغه ما نه هیر شو سِویٰ ددے آیت نه چه دا ما ته یاد دے (لَوْكَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ...... الخ). (صحیح مسلم).

دارنګه فرمائی : او مونږ به د مُسَبِّحاتو په شان یو سورت لوستلو خو هغه ما نه هیر شو صرف دا آیت مے پکښې یاد دے : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ فَتُكْتَبُ شَهَادَةً فِي أَعْنَاقِكُمْ فَتُسْأَلُونَ عَنْهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ (مسلم: ٢٤٦٦) (روح المعانی)

او ددے هیرولو مقصد به دا وی چه په آینده کښې به پدے باندے د چا عمل کول مطلوب نهٔ وی.

(۲)- یا مَا نَنْسَخْ : هغه حکم چه مونږه ئے زائل کړو برابره ده قراء ت ئے باقی وی یا نهٔ وی.

اَوْ نُنْسِهَا : یا هغه آیت چه مونږ لرے کړو (یعنی تلاوت ئے منسوخ کړو) برابره ده چه حکم ئے پاتے وی او که نهٔ وی. (روح المعانی).

(۳)- یا د نسخ نه مراد نسخ د حکم ده نهٔ د تلاوت یعنی مونږ د یو آیت حکم زائل کړو نهٔ تلاوت، بلکه په قرآن کښې هغه لوستلے کیږی اَوْ نُنْسِهَا کښې نسخ د حکم او تلاوت دواړو ده. (دا قول د حسنؒ، اصمؒ او اکثرو مفسرینو دے – تفسیر کبیر).

د اول صورت ډیر مثالونه دی چه حکم منسوخ وی او تلاوت باقی وی لکه : ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ﴾ دا منسوخ شویدے. او الفاظ ئے باقی دی. یا د نبی ﷺ سره د مشورے کولو نه مخکښې دصدقے ورکولو حکم منسوخ دے او الفاظ

ئے په سورة المجادله کښې باقی دی۔
﴿ أَ اَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَىْ نَجْوٰكُمْ صَدَقٰتٍ...... ﴾.
او دغسے نور مثالونه په کتاب ((اصول التفسير وعلوم القرآن)) کښې اُوګوره۔
او د دویم صورت مثالونه هم ډیر دی۔
دے ته اشاره شویده پدے آیت کښې : ﴿ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰى اِلَّا مَا شَآءَ اللهُ ﴾
(زر دے چه مونږ به ئے تا ته لولو نو ته به ئے نهٔ هیروے مګر هغه چه الله ئے غواړی)۔
د الا ما شاء الله استثناء نه معلومه شوه چه د کومو آیتونو منسوخ کیدل الله تعالیٰ غواړی نو هغه د حافظے نه اُویاسی۔ د هغے الفاظ هم باقی پاتے نشی او حکم هم باقی پاتے نشی۔ لکه ابی بن کعب ﷜ د خپل ملګری ابوذر ﷜ نه تپوس اُوکړو چه تاسو د سورة الاحزاب څومره آیتونه شمار کوئ ؟ هغه اُوئیل : ددے د آیتونو شمار (۷۳) دے نو ابی بن کعب ﷜ اُوئیل چه دا سورة د سورة البقرے برابر وو۔ [السنن الکبری للبیهقی ٤/۲۷۱]
(٤)- **نسخ ما الی بدل:** یعنی حکم لرې کړی او د هغے بدل راوړی۔ او اِنْسَاء لَا اِلٰى بَدَلٍ دے۔ یعنی چه حکم منسوخ شی او د هغے بدل رانهٔ وړی۔
(٥)- پنځم فرق دا دے : [ای نَرْفَعُهَا بَعْدَ اِنْزَالِهَا] یو آیت مونږ پورته کړو روستو د نازلولو د هغے نه اَوْ نُنْسَأْهَا (لکه په یو قراءت کښې په همزه سره دے)
[اَیْ نُؤَخِّرُ اِنْزَالَهَا مِنَ اللَّوْحِ الْمَحْفُوْظِ اَوْ يَكُوْنُ الْمُرَادُ نُؤَخِّرُ نَسْخَهَا فِي الْحَالِ فَاِنَّا نُنْزِلُ بَدَلَهَا مَا يَقُوْمُ مَقَامَهَا فِي الْمَصْلَحَةِ] (کبیر)
(یا مونږ روستو کړو نازلول د هغے د لوح محفوظ نه۔ یا مراد دا دے چه فی الحال منسوخ کول ئے روستو کړو۔ نو د هغے په بدل کښې مونږ هغه راوړو چه په فائده کښې د هغے قائم مقام وی)۔
(٦) د نسخ نه مراد نسخ د حکم او د تلاوت دواړو ده۔ او نسیان په معنیٰ د پریخودو سره ددے نه مراد حکم منسوخ کیدل دی نهٔ تلاوت۔ یعنی که مونږ د یو آیت حکم او تلاوت دواړه منسوخ کړو یا د هغے الفاظ پریدو او حکم ئے منسوخ کړو۔ نو د هغے نه غوره راوړو یا د هغے په شان وی په عمل او ثواب کښې۔
(۷) علامه بِقاعیؒ معنیٰ کوی : که یو آیت مونږ منسوخ کړو پدے طریقه چه د هغے حکم زائل کړو یا د هغے لفظ فی الحال زائل کړو لکه په رَاعِنَا کښې چه مونږ اُوکړل [اَوْ نُنْسَأْهَا] یا مونږ د هغے منسوخ کول روستو کړو یا ئے څه زمانه پریدو بیا ئے منسوخ کړو لکه مسئله د قِبلے شوه۔ نو مونږ د هغے د منسوخ کولو په وخت د هغے نه غوره یا د هغے په مثل راوړو۔

[نظم الدرر للبقاعی ۱/۱۵۸]

(۸) علامه قاسمیؒ پدے کښې بله معنیٰ دا هم ذکر کړیده چه که مونږ یو آیت د بل آیت په بدله کښې راوړو لکه د تورات د آیتونو په بدل کښې مو د قرآن آیتونه راوړل (اَوْ نُنْسِهَا) یا ئې د زړونو نه ختم کړو لکه الله خبر ورکړیدے : ﴿ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ﴾ [مائدة :۱۳]

(دے یهودیانو ډیره هغه حصه هیره کړه چه دوی ته په هغې نصیحت ورکیدے شو)

او که (نَنْسَأْهَا) شی نو معنیٰ دا ده چه مونږه ئې روستو کوو او بغیر د منسوخ کولو نه ئې پریدو لکه د تورات ډیر احکام ئې په قرآن کښې پریخی دی۔ نهٔ ئې دی منسوخ کړی۔

نو روستو (نَأْتِ) به لف نشر مرتب وی یعنی که کوم آیتونه د تورات منسوخ کړو او د هغې په بدل کښې نور آیتونه په قرآن کښې راوړو نو هغه به غوره وی د هغه آیتونو نه چه منسوخ شویدی لکه دا کار په هغه آیتونو کښې شویدے چه د پخوانو امتونو ګران حکمونه (آصار او اغلال) لرے کړے شو او پدے دین کښې د هغې په بدل کښې آسانی اُوکړے شوه۔او حرج او تکلیف پکښې ختم شو۔ (اَوْمِثْلِهَا) یا راوړو به شان د هغه آیتونو چه هغه نهٔ دی منسوخ شوی۔ یعنی په قرآن کښې ډیر داسے آیتونه شته چه هغه د تورات او انجیل سره موافق دی او د هغې په باقی پریخودلو کښې د الله حکمة دے۔ [قاسمی ۱/۳٤۳]

پدے کښې نور احتمالات هم شته۔ تفصیل دپاره تفاسیرو ته رجوع اُوکړه۔

نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا : لکه په رَاعِنَا کښې ئې غوره لفظ راوړو چه اُنْظُرْنَا دے۔

خَيْرٍ مِّنْهَا : دا غوره والے کله په دے طریقه وی چه روستو حکم باندے د مخکنی حکم په نسبت عمل کول آسان وی، او د مصلحت سره ښهٔ برابر وی، او په ثواب کښې د مخکنی نه زیات وی۔ (اَوْ مِثْلِهَا) یعنی د مخکنی حکم په شان وی په ثواب کښې یا په عمل کښې لیکن په دویم حکم کښې ورسره زیاتی فائده هم وی لکه قبله د بیت المقدس ئې بدله کړه کعبے ته، دواړه په عمل کښې یو شان دی لیکن کعبے ته اَوړیدو کښې فائده زیاته وه چه هغه مخالفت د یهودو وغیره وو او بل په بیت المقدس باندے د کعبے فضیلت وو۔

په دے کښې **آسان** او غوره تفسیر دا دے : که چرته منسوخ کړو مونږ یو آیت، لفظ د هغې یا حکم د هغې۔ او یا ئې هیر کړو د بندګانو نه نو راوړو غوره او فائده مند د هغې نه۔

﴿ اَلَمْ تَعْلَمْ ﴾ پدے سره د نسخ حکمت ذکر کوی۔

پدے (اَلَمْ تَعْلَمْ) او (اَلَمْ تَرَ) سره اول مخاطب نبی ﷺ وو او بیا هر مخاطب مراد دے او مقصد پدے لفظ کښې په ښکاره خبره باندے تنبیه (خبردارے ورکول) وی۔ یعنی اے مخاطبه ! تهٔ نهٔ

پـو هیږي یـعـنـي ځان پو هه کړه۔ او دلته مطلب دا دے چه دا د الله تعالیٰ د عِلم سره مناسبه ده چه هغـه نسـخ راولـي۔او څـوك چـه د الله تعالیٰ په قدرت باندے څهٔ عِلم لري نو هغـه هیڅ کله داسے خبره نهٔ کوي، نو په ځائے د اعتراض، د الله تعالیٰ علم ته تسلیمیدل پکار دي۔

فائده : پـه دے آیت کښ الله تعالیٰ خپـل قدرت ذکر کړو او روستو آیت کښ ملك ذکر دے او د الله تـعالیٰ د تصرف، او نصرت بیان دے، دا ټول د نسخ حکمة او د نسخ واقع کیدو ته اشارات دي۔ کـوم ذات چـه کـامـل قـدرت لـري او بادشاه وي او په عالَم کښ متصرف وي نو په دین کښ نسخ راوستـل د هغـه د قدرت او د بادشاهت او د تصرف تقاضیٰ ده او لکه څنگه چه په الله تعالیٰ باندے په تقریر الکائنات (یعني د کائناتو په موجودولو) کښ اعتراض نشي کیدے نو دغه شان په نسخ کښ هم نشي کیدے ځکه یو حکم قدري دے او بل حکم شرعي دے۔

بـلـه دا ده چـه اختیار د هغه دے، نظام د هغه دے، کائنات د هغه دي، نو د هغه اختیار او تصرف او د هغـه قـانون به پکښ چلیږي، کـه هغهٔ غواړي چه قانون بدلوي بدلولے ئے شي۔ پدے باندے هیچا له د اعتـراض هیڅ حق نشتـه۔

اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ
آیا تهٔ نهٔ پو هیږے چه یقیناً الله تعالیٰ د هغه دپاره بادشاهي د آسمانونو او د زمکے ده
وَمَا لَكُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۱۰۷﴾
او نشته تاسو له سِوئ د الله تعالیٰ نه څوك دوست او نهٔ مددگار۔

تفسیر : پـدے آیت کـښ هم د نسخ حکمة ذکر دے او زیات تاکید دے، او په دے کښ تنبیه ده چـه د الله تـعـالیٰ دپاره عامه بادشاهي ده په زمکه او آسمانونو کښ، هغه پدے کښ تصرف کوي او ټول مخلوق د هغه د اطاعت لاندے دي، د هغه امر به نافذ وي او هغوي له د الله اوامر او نواهي پـه ځـائے راوړل پکار دي، او الله تعالیٰ د خپلو بندگانو په مصلحتونو ښهٔ خبردار دے، الله چه دوي تـه څـه حـکـم کول غواړي د هغے حکم به ورته کوي او د څه کار نه چه غواړي منع کوي به ئے، او کـوم حـکـم چه غواړي منسوخ کوي به ئے او کوم چه غواړي نو هغه به باقي پریدي۔ نو د نسخ سره ئے مـنـاسبت دا دے چه د کائناتو د نظام اختیار د هغهٔ په لاس کښ دے، نو د قانون اختیار به هم د هغـه پـه لاس کـښ وي۔ کـه هغه انسانانو ته هر قسم حکم نازلوي او کوم منسوخ کوي د هیـچـا پـدے کښ واك نشتـه۔بلکه انسانانو له ئے منل پکار دي۔ او د نسخ نه انکار کول په اصل

کښې د الله تعالیٰ د بادشاهت او د هغه د حکمت او د قدرت نه انکار دے۔
﴿وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ﴾ د الله نه بغیر نهٔ څوك مدد كولے شی او نهٔ څوك دوست وی، لهذا پدے نبی باندے اعتراضونه مهٔ کوئ او د الله تعالیٰ سره د هغه د احکامو په منلو سره تعلق جوړ کړئ چه هغه مو مدد اُوکړی او د هغه د دوستانے مستحق شئ۔
او داعی ته تسلی ده چه تهٔ د هیچا پرواه مهٔ لره، الله تعالیٰ ستا مددگار او دوست دے۔
دارنګه پدے کښې د الله تعالیٰ د اطاعت او د الله د حکم انقیاد او منلو ته ترغیب دے چه په منسوخ او غیر منسوخ احکامو کښې د الله خبره اُومنئ او هغے ته تسلیم شئ، ورنه د الله به څهٔ نقصان اُوکړئ، ټول نقصان د خپل ځان دے۔
دارنګه ربط ئے د مخکښې سره دا دے چه هرکله بنده پدے پوهه شی چه الله تعالیٰ زمونږ دوست او مددګار دے او د هغه نه سِویٰ هیڅوك دوست او مددګار نشته نو هغه به ضرور پدے پوهیږی چه الله تعالیٰ په ما څه کوی هغه به خیر وی، نو ټول کارونه به هغه ته سپاری او په زړهٔ کښې به ئے د نسخ او غیر نسخ په باره کښې هیڅ قسم شك او بدګمانی نهٔ تیریږی۔

(روح المعانی، الوسیط، الحقی)

د ولی او نصیر فرق

(۱) [اَلْوَلِيُّ : اَلَّذِیْ یَدْفَعُ الْعَذَابَ وَالْمَشَقَّةَ قَبْلَ نُزُوْلِهِمَا وَالنَّصِیْرُ : مَنْ یَّدْفَعُ الْعَذَابَ وَالْمَشَقَّةَ بَعْدَ نُزُوْلِهِمَا] (ولی) دیته وائی چه د ابتداء نه یعنی د مصیبت او د عذاب د راتلو نه مخکښې د بنده نه مصیبت لری کړی او (نصیر) دیته وائی چه مصیبت راشی او بیا ئے لری کړی) نو د الله تعالیٰ نه سِویٰ هیڅوك نشته چه ستاسو مدد اُوکړی اے خلقو ! الله ته متوجه شئ هغه خپل رب او مالك اُوګنړئ۔
(۲) دارنګه (ولی) انتظام چلونکی، مالك د نفع او د ضرر ته وائی او نصیر هغه دے چه د نقصانونو او فسادونو نه انسان لره بچ کونکے وی۔ او دواړه ئے راجمع کړل ځکه چه دوست کله مددګار وی او کله د مدد نه عاجز وی، او مددګار کله دوست وی او کله نهٔ۔
ولی په اصل کښې د «وَلِّیْتُ اَمْرَ فُلَانٍ» نه دے په معنیٰ د قَیِّمْ او تدبیر کونکی او پروګرام او انتظام چلونکی سره۔
(۳) ولی هغه دے چه جلب المنفعة کوی یعنی مالك د نفع وی، ټول کارونه په ښائسته طریقه چلوی۔ او نصیر هغه دے چه مالك د دفع المضرة وی یعنی بندګان د تکلیفونو، مفاسدو او

نقصانونو نه بچ ساتي او مدد ورسره کوي۔ او پدے کښې اشاره ده چه بنده له پکار دي چه هغه سره دا احساس هر وخت پیدا شي چه مونږ په هر وخت کښې الله تعالیٰ ته په فائدو حاصلولو او ضررونو دفع کولو کښې حاجت او ضرورت لرو، او پدے کښې رد د شرك ته هم اشاره ده۔

فائده : د الله تعالیٰ په شرع او امر باندے هغه انسان اعتراض کوي چه خپل ځان د الله تعالیٰ نه مستغني ګنړي او خپل رب ته خپل حاجت او فقر نهٔ محسوس کوي، کله چه د انسان دا شعور او احساس پیدا شي چه زهٔ خپل رب ته په جلب المنافع (فائدو حاصلولو) او دفع المضار (د تکلیفونو په دفع کولو) کښې سو فیصد محتاج یم، نو په هغه انسان کښې د الله تعالیٰ اوامر او د هغه شرع ته خود بخود تسلیمیدل او غاړه کیخودل پیدا کیږي نو ځکه دلته حواله د ولي او نصیر ورکړے شوه۔

اَمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَسْـَٔلُوْا رَسُوْلَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ؕ
آیا تاسو اراده لرئ چه تپوسونه اُوکړئ (په طریقه د اعتراض) د رسول ستاسو نه لکه څنګه چه تپوسونه شوي وو
وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۱۰۸﴾
د موسیٰ (علیه السلام) نه مخکښې ددے نه اوخوك چه کفر واخلي په بدل د ایمان کښې نو یقیناً دا ګمراه شو د نیغې لارے نه

تفسیر : الله د یهودیانو د شبهاتو جوابونه اُوکړل، ددے ځائے نه روستو الله تعالیٰ یهودیانو او اهل کتابو ته په ناکاره اعمالو او ناکاره خبرو باندے زجرونه او رټنے ورکوي چه ګوره دا کار مو وران دے او دا خبره مو غلطه ده۔ اوله رټنه او زورنه پدے خبره ورکوي چه تاسو پدے آخري رسول اعتراضونه ولے شروع کړي دي، آیا د خپلو مشرانو په شان انبیاء علیهم السلام ته تکلیفونه ورکوئ۔ نو پدے کښې [اَلزَّجْرُ لِلْمُعْتَرِضِيْنَ عَلَى الرَّسُوْلِ]

(په رسول الله ﷺ باندے اعتراض کونکو ته رټنه) ده۔

﴿اَمْ تُرِيْدُوْنَ﴾ (اَمْ) دلته منقطعه دے په معنیٰ د بَلْ سره دے۔ یا په معنیٰ د همزه د استفهام انکاري سره۔ یعني آیا تاسو تپوسونه کوئ، تاسوله تپوسونه نهٔ دي پکار۔

پدے خطاب کښې اختلاف دے :

۱ - یو قول دا دے چه دا خطاب صحابه کرامؓ ته دے او د سوال نه مراد د هغه څیزونو په باره کښې تپوس کول دي چه فائده پکښې نهٔ وي او لا واقع شوي نهٔ وي چه د هغې بیان په سورة المائده (۱۰۱) آیت کښې هم شویدے چه ډیر تپوسونه به نهٔ کوئ۔ نو هغه آیت به ددے آیت

تفسیر وی۔ لکه ابن کثیرؒ دلته ډیر احادیث راجمع کړی چه په هغے کښې د صحابه کرامؓ د ډیرو تپوسونو منع ذکر ده۔ او دا منع پدے وجه اُوشوه چه په بے ځایه تپوسونو سره د الله نبی (ﷺ) تنګیږی او هغه ته تکلیف رسیږی۔ دارنګه کیدے شی چه بعض ملګری داسے تپوس اُوکړی چه هغه به لائق نۀ وی۔ یا به د یو حلال کار په باره کښې تپوس اُوکړی نو ددهٔ د تپوس په وجه به حرام شی۔ لکه حدیث کښې دی : [اِنَّ اَعْظَمَ الْمُسْلِمِیْنَ جُرْمًا فِی الْمُسْلِمِیْنَ مَنْ سَأَلَ عَنْ شَیْءٍ لَمْ یُحَرَّمْ فَحُرِّمَ مِنْ اَجْلِ مَسْئَلَتِهٖ] ...... [بخاری: ۶۸۵۹ومسلم :۲۳۵۸]

(په مسلمانانو کښې لوئی جرم والا هغه انسان دے چه د داسے شی په باره کښې تپوس اُوکړی چه هغه حلال وی او ددهٔ د تپوس د وجه نه حرام شی)۔

اونبی ﷺ فرمائی : [ذَرُوْنِیْ مَا تَرَكْتُكُمْ] (صحیح مسلم)

(ما چه تر څو پورے تاسو ته بیان نۀ وی کړے نو ما په خپل حال پریدئ) او تپوسونه مۀ کوئ۔ ددے وجه نه صحابه کرامؓ پدے حکم عمل کړے وو۔

عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی : «صحابه کرامؓ ډیر غوره خلق وو، صرف دولس تپوسونه ئے کړی وو او هغه ټول په قرآن کریم کښې ذکر دی» (مسند البزار، ابن کثیرؒ)۔

براء بن عازبؓ به فرمایل : مونږ باندے به کله یو کال راغلو او مونږ به اراده لرله چه د یو شی په باره کښې د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو لیکن مونږ به یره کوله د هغه نه او مونږ به دا خوښول چه باندهٔچیان راشی او تپوسونه اُوکړی۔

(ابی یعلی، ابن کثیر، جامع العلوم والحکم ص (۹۱)

انسؓ به فرمائیل : مونږ په قرآن کریم کښې ددے نه منع شوی یو چه د رسول الله ﷺ نه د یو شی په باره کښې تپوس اُوکړو (او په یو روایت کښې دی چه مونږ به یریدو چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو) او مونږ به دا خوښول چه یو عقلمند سړے د باندے نه راشی او تپوس اُوکړی او مونږه ئے واورو۔

[صحیح مسلم (۱۲) مسند احمد ۱۲٤۷۹ومسند ابی یعلی۳۳۳۳ وصحیح ابن حبان]

لهذا پدے کښې مسلمانانو ته دا تعلیم او تربیت ورکول دی چه رسول (ﷺ) به داسے نۀ تنګوئ لکه څنګه چه یهودیانو موسیٰ (علیه السلام) په ډیرو تپوسونو تنګ کړے وو۔ کله به ئے ورته وئیل چه الله مونږ ته ښکاره راوښایه۔ او صحابه کرامؓ نبی ﷺ نۀ وو تنګ کړے بلکه کیدے شی چه د بعضو په زړونو کښې صرف اراده د تپوس راغلی وی یا یهودو د بعض مسلمانانو په زړونو کښې د نسخ په باره کښې شبهات اچولی وی ځکه ئے تعبیر په (تُرِیْدُوْنَ) سره اُوکړو۔ یعنی صیغه د

مستقبل ئے استعمال کړه۔ (ابن عاشور)۔
ليکن دا قول مرجوح دے چه دا خطاب ﺩِ صحابه کرامو ته وی ځکه چه د سياق او د الفاظو د سختوالی نه معلوميږی چه دلته دا قسم تپوسونه نهٔ دی مراد۔
۲- دويم قول : دا خطاب يهوديانو ته دے۔ او همدا خبره غوره ښکاره کيږی ځکه چه مخکښې روستو بحث د هغوی په باره کښې شروع دے۔ او دا قول اکثرو مفسرينو غوره کړيدے نو دلته به د سوال نه تعنتی او ضدی اعتراضونه او غلطے مطالبے مراد وی لکه څنګه چه د موسیٰ علیه السلام نه شوی وے چه هغه په سورة النساء (۱۵۳) آيت کښې ذکر دی۔
فائده : دلته محققينو علماؤ ليکلی دی : سوال دوه قسمه دے (۱) يو د ځان د پوهه کولو او عِلم حاصلولو دپاره وی، دا ښهٔ کار دے۔ او پدے باندے امر راغلے دے ﴿فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ (کله چه خپله نهٔ پوهيږئ نو د عِلم والو نه تپوس اُوکړئ) (الانبياء/٧) والنحل (/٤٣)
٢- دويم : سوال په معنیٰ د اعتراض يعنی مقصد په تپوس کښې صرف اعتراض کول او په هغے کښې سختی پيدا کول او مسلمان غلے کول وی۔ چه دا کار ولے داسے دے ؟ نو دا ناروا دے او دا د عنادگرو او غلطو خلقو کار دے۔
په صحيحينو کښې د مغيره بن شعبه رضی الله عنه روايت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د قِيلَ اوقَالَ (يعنی دے تحقيقه خبرو)، د مال ضائع کولو او دډيرو تپوسونو نه منع فرمائيلے ده۔ په صحيح مسلم کښې دی :[ذَرُوْنِیْ مَا تَرَكْتُكُمْ] تاسو ما پريدئ ترڅو چه ما تاسو پريخی يئ، ستاسو نه مخکښې خلق د ډيرو تپوسونو او د انبياؤ د مخالفت په وجه هلاك شويدی)۔
۳- دريم قول : بعض علماء وائی : دا آيت د عربو مشرکانو ته خطاب دے چه هغوی د ضد او عناد په وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه معجزات طلب کول لکه هغه په سورة الاسراء (۹۰-۹۳) آيتونو کښې ذکر دی چه ملائك مخامخ راوله، په مکه کښې غرونه هموار کړه، نهرونه جاری کړه، زمونږ د مرضئ مطابق کتاب نازل کړه، آسمان راګوزار کړه، الله او مخامخ راوله او دغسے نور تعنتی تپوسونه ئے کول۔ ليکن دا قول هم ظاهر نهٔ دے، اګرکه دا آيت په هغوی هم اشارةً رد کيدے شی۔
﴿اَنْ تَسْئَلُوْا رَسُوْلَكُمْ﴾ رسول ئے ذکر کړو او نسبت ئے مخاطبينو ته اُوکړو، پدے کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ تاسو ته څومره ښائسته رسول راليږلے دے او تاسو په هغه اعتراضونه کوئ او هغهٔ په تپوسونو تنګوئ، رسول خو ددے دپاره وی چه د هغه نه هدايت واخستے شی، نهٔ دا چه په هغه اعتراض اُوکړے شی۔ او اشاره ده چه دا خپل رسول اُوګنړئ، ددهٔ په باره کښې به تاسو نه تپوس کيږی۔

﴿ كَمَا سُئِلَ مُوْسٰى ﴾ لكه اعتراضونه شوى وو په موسىٰ علیه السلام او غلط تپوسونه ترے شوى وو۔
﴿ مِنْ قَبْلُ ﴾ (مخكښې ددے رسول نه) اشاره دے ته كوى چه ستاسو نيكونو كښې هم دا مرضونه وو۔ چه هغوى به په پيغمبرانو اعتراضونه كول۔ چه دا ولے ؟ او دا ولے ؟۔ نو اُوس الله رب العالمين فرمائى: چه ځوك داسے اعتراضونه كوى دا كافر وى۔
﴿ وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ ﴾ پدے كښې اشاره ده چه دغه شان د ضد او عناد تپوسونه او غلطے مطالبے كول كله انسان كفر ته رَسوى نو يره اُوكړئ۔ [تفسير السعدى ١/٦١]
او كه خطاب مؤمنانو ته شى نو معنىٰ به دا وى چه د يهودو په شان مۀ جوړيږئ چه هغوى به خپل رسول په ډيرو او بے ځايه تپوسونو تنگولو۔ كيدے شى چه پدے سره د ايمان نه محروم شئ لكه څنگه چه يهوديانو به د موسىٰ علیه السلام نه مطالبے كولے او بيا به ئے پرے عمل نۀ كولو۔
نو د آيت تفسير دا شو : چا چه واخستو كفر لره په بدل د ايمان كښې۔ يعنى ايمان نۀ راوړى او كفر اختياروى۔
﴿ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴾ نو دۀ سمه لاره خطاء كړه ځكه نيغه او سمه لار خو د ايمان ده چه بنده الله تعالىٰ او رسول ﷺ اُومنى، او هغوى پسے روان شى او تابعدار ئے شى۔ او چه كفر ئے اُوكړو، نو صحيح لاره ئے پريخوده او تباه شو۔ سَوَآءَ السَّبِيْل نه مراد د الله د طاعت لاره ده۔ (سَوَاء) يا په معنىٰ د وسط (مينځ) سره دے يا په معنىٰ (مُسْتَوِىٰ) برابرے او نيغے سره دے۔ او دلته همدا ظاهر دے۔
او پدے كښې اشاره ده چه د نبى د معجزاتو نه مخ اړول او په هغه باندے اعتراضونه او طعنونه كول كفر دے۔ (احسن الكلام)۔
بيا دلته **سوال** دے چه كه دا خطاب يهودو ته شى نو هغوى سره خو ايمان نۀ وو چه په هغے سره كفر بدل كړى؟ ١- ددے **جواب** دا دے چه دوى قادر وو په ايمان راوړلو ددے وجه نه ئے د رسول اضافت هم هغوى ته اُوكړو چه دوى امت الدعوة دى۔ يعنى تاسو ته د ايمان اسباب حاصل دى ليكن كه بيا هم تاسو په اعتراضونو او اعراضونو سره دغه خرابوئ او كفر غوره كوئ نو نيغے لارے ته به واوړئ۔ ٢- يا دا چه دوى سره فطرى ايمان خو شته ليكن كه دوى اعتراضونه كوى نو دغه فطرى ايمان به ترے زائله شى۔
٣- دريم دا چه د رسول الله ﷺ د راتگ نه مخكښې دوى ايمان والا حسابيدل لكه د سورة آل عمران (٨٦)آيت كښې دى : ﴿ كَيْفَ يَهْدِى اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ ﴾ دا د يهودو په باره كښې نازل وو۔ چه دوى دا آخرى رسول حق گنړلو ليكن ايمان ئے پرے نۀ راوړو او كفر ئے پرے اُوكړو۔

وَدَّ كَثِيْرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا

خوښوي ډير د اهل کتابونه (دا خبره) ارمان دے چه تاسو واپس کړي روستو د ایمان ستاسو نه کفر کونکی

حَسَدًا مِّنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ

د وجه د کینے نه چه د دوی د نفسونو نه (راوتلے) ده پس د هغے نه چه ښکاره شویدے دوی ته حق

فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾

نو معافی کوئ او مخ اړوئ (د دوی د سزا نه) تردے چه الله به راولی خپل حکم، یقیناً الله په هر شی باندے قادر دے۔

تفسیر : اُوس رتړنه په حسد ورکوی چه دے خلقو کښې حسد دے۔ دا لنډ عنوان دے۔

ورنه دا آیت متضمن دے ډیرو خبرو لره : ۱- بیان د حسد د اهل کتابو چه دوی ستاسو ایمان نهٔ خوښوی۔ ۲- دویم : تنبیه مؤمنانو ته په دشمنانو چه دا ستاسو دشمنان دی، وے پیژنئ او د دوی د طریقے نه ځان اُوساتئ او خبره ورله مهٔ منئ۔

۳- دریم : بیان د اخلاقو ایمان والوته چه ددے دشمنانو مقابله پدے اخلاقو اُوکړئ کوم چه په (فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا) سره ذکر دی۔

٤- مَعَ التَّهْدِيْدِ لِلْكَافِرِيْنَ. کافرانو ته زورنه ورکوی چه الله به درسره ګوری، ایمان والو ته به ستاسو په خلاف څهٔ حکم راولی یعنی جهاد به درسره شروع شی۔

اول زجر په حسد د یهودیانو چه دوی ارمان لری چه تاسو د ایمان نه مرتد کړی، د هغوی همیشه دا کوشش دے چه مسلمان به په څهٔ طریقه د محمد ﷺ نه واړوی پس د هغے نه چه دا ئے اُوپیژندلو چه محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے، نو الله تعالیٰ مؤمنان منع کوی ددے نه چه د یهودیانو لاره خپله کړی او دا خبرئے ورکړو چه اهل کتاب تاسو سره زبردسته دشمنی لری، د هغوی داسے کینه ده چه دا غواړی چه مسلمان د خپل دین اسلام نه مرتد شی، نو تاسو د هغوی په دهوکه کښې مهٔ راځئ، د هغوی نه بدله مهٔ اخلئ ځکه په دے سره د دعوت لاره بندیږی، لهذا معافی او درګذر به کوئ او د خپل رب په احکامو به پابندی کوئ، دے دپاره چه تاسو سره د الله تعالیٰ مدد شاملِ حال شی۔ ځکه دا قانون دے چه د الله تعالیٰ دشمن به د الله تعالیٰ په تعلق وهے، په ظاهری اسبابو خپل دشمن وهل مشکل دی، کله چه انسان کښې پخپله دین پوره طریقے سره راشی او خپله نیك عملونه ډیر کوی نو د هغه سره الله تعالیٰ دهغه د دشمن په خلاف نقد مدد رالیږی۔ او چه تهٔ هم ورسره خراب شوے، بد اخلاقه شوے، نو هغه هم د الله دشمن دے او ته ئے هم

شوے نو بیا که د الله تعالیٰ مدد رانشی نو خفګان نهٔ دے پکار۔

نو حسد د یهودو بیماری وه، چه بیا دے اُمت ته رانقل شوے ده او مُلیانو کښې ډیره وی۔ مګر تول نهٔ! په بعضو بعضو کښې وی۔ رسول الله ﷺ فرمائی :

[دَبَّ اِلَيْكُمْ دَاءُ الْاُمَمِ الْحَسَدُ وَالْبَغْضَاءُ] .... [سنن الترمذی : ۲۵۱۰ بسند حسن (البانی و البزار)]

(تاسو کښې د پخوانو امتونو بیماری په پټه سره راغله چه هغهٔ حسد او دشمنی ده)

حسد ګر په اصل کښې په الله سبحانه اعتراض کوی، چه الله دا نعمت دے فلانکی له ولے ورکولو۔ ما ته ئې ولے نهٔ راکولو۔ ددے معنیٰ دا ده چه اے الله! دا نعمت دے سړی نه واخله او ماله ئې راکړه۔ دے ته حسد وائی یعنی (تَمَنّى زَوَالِ النِّعْمَةِ عَنِ الْغَيْرِ) (د بل چا د نعمت د زائله کیدو ارمان کول) دا ډیر عظیم جرم دے۔یوه غبطه ده، هغه جائز ده۔ او هغه دیته وائی (تَمَنِّيْ حُصُوْلِ مِثْلِ نِعْمَةِ الْغَيْرِ) چه الله! دے سړی له دے دا نعمت ورکړے دے ما له ئې هم راکړه۔ د هغه د نعمت په شان نعمت غواړی، دا جائز ده، او په دینی کارونو کښې دا غبطه کول بهتر عمل دے لکه حدیث کښې راغلی دی، علم والا ته او مالدار ته پسخیدل چه زهٔ هم دغه شان کارونه اُوکړم، دا قسم غبطه پکار ده او اَولیٰ ده۔

ابن عثیمین رحمه الله د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نه نقل کړی چه حسد دیته هم وائی : (كَرَاهَةُ الْاِنْسَانِ نِعْمَةَ اللهِ عَلَى الْغَيْرِ). دا بد ګنړل چه الله تعالیٰ په فلانی شخص باندے دا نعمت ولے اُوکړو۔ نو په بل چا باندے نعمت نهٔ پیرزو کیدل او د هغه په نعمت نهٔ خوشحالیدو ته حسد اُووئیل شو۔برابره ده چه د هغے د زائله کیدو تمنی لری یا د هغه سره باقی پاتے وی لیکن دا ئې بد ګنړی، بناء پدے تفسیر سره د حسد نه ډیر کم نفسونه پاك دی۔ (تفسیر ابن عثیمین ۳/۲٦۸ و کتاب العلم له)

امام رازیؒ د امام غزالیؒ نه د حسد اُووه (۷) اسباب نقل کړیدی :

(۱) د یو نعمت والا مسلمان سره دشمنی او بغض کول۔ ځکه د بغض او عداوت سره حسد لازم دے۔(۲) خپل ځان عزتمند ګنړل ځکه کله چه په دهٔ باندے یو انسان په یوه مرتبه کښې اُوچتیږی چه دا ورته نشی رسیدلے، نو بیا اراده لری چه دا منصب د هغه نه زائل شی۔

(۳) د یو انسان په طبیعت کښې دا وی چه د چا نه خدمت اخلی نو اراده لری چه دغه نعمت د هغه نه واخستے شی چه دا قادر نهٔ شی د هغه نه په خدمت اخستلو۔

(٤) عُجب (خود پسندی) او تکبر کول۔ چه ځان ورته ښهٔ ښکاری نو د بل خبرے منلو ته تیار نهٔ وی لکه مشرکانو خپلو رسولانو ته وئیلی وو (اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا)۔

(۵) د مقصد د فوت کیدو نه یره، لکه په یو مقصد کښې ډیر خلق مُزاحِم واقع شی، نو هر یو

حسد کوی چه دغه مقصد ما ته حاصل شی لکه د بنُو (ضراتو) د یو بل سره حسد وی- یا د وروڼو د یو بل سره مور او پلار ته په نزدې کیدو کښې حسد وی، دې دپاره چه د هغوی نه مال او عزت حاصل کړی-

(٦) د مشرئ سره مینه کول او مرتبه ځانله یواځې کول، لکه یو تن غواړی چه زۀ په هر فن کښې ما هر شم لکه شجاعت، عِلم، مالداری، تقویٰ وغیره نو کله چه د عالَم په آخر سر کښې د یو تن په باره کښې خبر شی چه هغه ددۀ مثل دې نو دا خفه شی او د هغه مرګ خوښوی-

(۷) د الله تعالیٰ په بندګانو باندې د خیر نه شح او بخل کول لکه یو تن خپله مشر هم نۀ وی او مال هم نۀ طلب کوی خو کله چه د هغه په مجلس کښې د یو بنده د ښائسته حالت تذکره اُوشی نو دۀ باندې ګرانه تمامه شی ګویا کښې هغه ددۀ ملکیت او ددۀ خزانه لوټ کړیده- او کله چه د هغه په مجلس کښې د خلقو دکارونو ګډوډی او خکته والې او تنګی ذکر شی، نو دا خوشحاله شی- نو د الله په نعمت باندې هسې خفه وی، نوغټ بخیل هغه ځوك دې چه په پردی مال باندې بخل کوی، حال دا چه ددۀ او د مذکوره خلقو ترمینځ به هیڅ رابطه او دشمنی نۀ وی- نو دا ددۀ د نفس خباثت او رذالت دې او دا نفسونه نن صبا ډیر زیات دی (اعاذنا الله منها) (تفسیر کبیر ۲/۲۷۹)

حسد کله اضطراری غیر اختیاری زړۀ ته رازی- پدې به ګناهګار نۀ وی خو شرط ورله دا دې چه د حسد نه روستو به د هغه د ضرر پسې نۀ لګیا کیږی نۀ په قول سره او نۀ په عمل سره-

د حسد کولو ضررونه

(۱) ځوك چه حسد کوی هغه د الله تعالیٰ تقدیر بد ګنړی او د هغه د تقدیر او فیصلې انکار کوی- (۲) حسد نیکیانې داسې خوری لکه څنګه چه اُور لرګی خوری- ځکه چه اکثر اوقاتو کښې حسد کونکې د حسد کړې شوی عیبونه بیانوی چه خلق ترې نفرت اُوکړی، او د هغه مرتبه راخکته کوی او دا هغه کبیره ګناهونه دی چه نیکیانې بربادوی-

(۳) حسد د حسد کونکی په زړۀ کښې افسوس او لمبې او اُور راپیدا کوی ځکه کله چه د الله تعالیٰ نعمت په دغه بنده باندې ګوری، نو غمجن شی او سینه ئې تنګه شی، او ددغه شخص پسې جاسوسی کوی کله چه په هغه د الله نعمت وینی، نو خفه کیږی- او دنیا پرې تنګیږی-

(٤) حسد د یهودیانو بیماری ده او ځوك چه د کافرانو خوئی په ځان کښې راولی نو هغه به د کافرانو سره په دغه صفت کښې مشابه وی ځکه چه حدیث کښې دی: «ځوك چه د کومو خلقو مشابهت کوی هغه به د هغوی نه حساب وی» .... (احمد، ابوداود بسند صحیح)-

(۵) حسد ګر که هر څومره زیات حسد کوی او حسد ئې په زړۀ کښې قوی کیږی نو د الله تعالیٰ

نعمت د دغه بنده نه نشي پورته کولے، نو هرکله چه دهٔ له د الله د نعمت زائل کول ممکن نهٔ دي نو بيا حسد ولے کوي.

(٦) حسد د کامل ايمان منافي او ضد دے. ځکه حديث کښې دي : «يو تن په تاسو کښې مؤمن کيدے نشي ترڅو چه د خپل ورور مسلمان دپاره هغه شے خوښ نکړي کوم چه ځان له خوښوي» (بخاري ومسلم).

نو هرکله چه تهٔ د خپل ځان نعمت زائل کول نهٔ غواړے نو د بل نه ئے زائل کول د ايمان منافي دي.

(٧) حسد انسان لره د الله تعالىٰ نه د سوال کولو نه اړوي، ځکه چه حسد گر هميشه په هغه نعمت غمجن وي چه الله تعالىٰ په بنده کړے وي او د الله تعالىٰ نه د هغه فضل نهٔ غواړي. او الله فرمائي ﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ النساء (۳۲).

(٨) حسد بنده ته د الله تعالىٰ هغه نعمتونه چه په دهٔ باندے ئے کړيدي سپك ښکاره کوي يعني حاسد دا گمان کوي چه زهٔ د الله تعالىٰ په نعمت کښې نهٔ يم، او دا شخص زما نه په لوئى نعمت کښې دے، نو ايسته د الله تعالىٰ نعمت په خپل ځان وروکے اُوگنړي، نو د هغے شکر نهٔ کوي.

(٩) حسد ډير بد خوئى دے ځکه چه حاسد په معاشره کښې په خلقو باندے د الله تعالىٰ نعمتونه تالاش کوي، او د خلقو ددے شخص په مينځ کښې څومره چه ممکن وي، مانع واقع کوي، د هغه عيبونه ذکر کوي او ډير کرت د هغه خير ته هم سپك اُوگوري.

(١٠) حسد گر چه کله حسد کوي، نو غالباً په هغه باندے زياتے او ظلم کوي، نو ددے په نتيجه کښې به دا هغه ته خپلے نيکيانے ورکړي او که نورے نيکيانے ئے نهٔ وي، نو د هغه گناهونه به په دهٔ بار شي او بيا به اُور ته گوزار شي.

د حسد په لسو طريقو سره علاج کيږي چه د هغے بيان به ان شاء الله تعالىٰ د سورالفلق په تفسير کښې راشي.

﴿وَدَّ كَثِيْرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتَابِ﴾ يعني ډير پکښې داسے وران کاري دي. دا د الله تعالىٰ د عدل الفاظ دي چه ډير ذکر کوي او داسے نهٔ وائي (وَدَّ اَهْلُ الْكِتَابِ) چه ټول اهل کتاب حسد گر دي. په دے کښې به بعض ښهٔ خلق هم وي. لکه عبد الله بن سلام، اسد بن عبيد، زيد بن سعيد او ثعلبه بن سعيد شو چه دوي ايمان راوړے وو. (رضى الله عنهم)

شان نزول : د ابن عباس ﷺ نه نقل دي چه حُيَيّ بن اَخْطَب او د هغه ورور ابوياسر بن اخطب د عربو سره سخته دشمني پدے وجه شروع کړے وه چه الله تعالىٰ خپل آخرى نبى (ﷺ) په عربو کښې ولے راوليږلو، نو دے دواړو يهوديانو به خلق د اسلام قبلولو نه په ډيره سختئ سره منع

کړل۔ نو دا آيت د هغوی په باره کښې نازل شوے وو۔ [ابن كثير ۱/۳۸۳]
حُيَـى بـن اخـطب خپـل ورور ابوياسر ته وئيلي وو چه ښهٔ راته معلومه ده چه دا د الله تعالىٰ حق رسول دے ليکن تول عمر به ئے دشمنی کوم، حسد او ضد همدے ته وائی!!۔
﴿ لَوۡ يَرُدُّوۡنَكُمۡ ﴾ لَوۡ تمنائيه دے چه جزاء نهٔ غواړی۔ په معنیٰ د ارمان سره۔
﴿ مِنۡ بَعۡدِ اِيۡمَانِكُمۡ كُفَّارًا ﴾ يـعـنـی کـافـران پـدے خوشحاله دی چه دا مؤمنان ښهٔ شوی دی چه بيرته خراب شی۔ يو سړے به په کفر او شرك کښې وی د دوی دا خوښه ده، خو که يو سړے ايمان او توحيد او حق ته راځی نو په دے باندے خفه کيږی۔
دا د ډيرو مُليـانـو مـرض هم دے چه عوام الله تعالیٰ په حق پو هه کوی نو دوی پرے خفه وی۔ او چـه پـه جهـالـت کـښې پـراتـه وی نـو دوی پـرے خوشحاله وی۔ مونځ نهٔ کوی نو څه ورته نهٔ وائی خـو چـه مـونځ ئے شروع کړو او په مانځه کښې ئے رفع اليدين شروع کړل۔ بس وائی : دا شری دے۔ بے نمازه ته شری نهٔ وائی۔ شيطان ورته دا خبره ښائسته کړے چه اهل حق دا دينی عمل د رياء او د شر دپاره کوی۔
﴿ مِنۡ عِنۡدِ اَنۡفُسِهِمۡ ﴾ دا صفت د حَسَداً دے، مطلب دا دے چه دا حسد د دوی د ديندارئ او د دليل د وجه نه نهٔ دے پيدا شوے بلکه دا د نفسانی خواهش په وجه دے، نفس کښې ئے خباثت دے ځکه حسد کوی۔ بيا سوال پيدا شو چه کينه به ځکه کوی چه کار به ورته غلط ښکاری نو وائی :
﴿ مِنۡ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الۡحَقُّ ﴾ يـعـنـی ښهٔ ورتـه پتـه ده چه دا کار حق دے، محمد رسول الله ﷺ بـانـدے چـه څـوك ايـمـان راوړی او د هـغـه تابعدار شی، دا صحيح لاره ده ليکن بيا هم بغير د څه بهانے نه حسد کوی۔
(الۡحَقُّ) د حق نه مراد محمد رسول الله ﷺ، او دين اسلام او قرآن دے۔
نو مؤمنان به د داسے خلقو په مقابله کښې څهٔ کوی ؟ هغهٔ بيانوی :
﴿ فَاعۡفُوۡا وَاصۡفَحُوۡا ﴾ يعنی اعراض ترے اُوکړئ۔
﴿ حَتّٰى يَاۡتِىَ اللّٰهُ بِاَمۡرِهٖ ﴾ تردے چه الله تعالیٰ به خپل حکم راولی (۱) چه دوی به هلاك کړی۔
(۲) ...... يـا بـه تاسو ته په جهاد امر اُوکړی چه دوی سره جنگ اُوکړئ۔ يا ئے جلاوطن کړئ يا پرے جزيه کيدئ۔ (۳) ...... يا دا چه الله تعالیٰ به د اسلام توفيق ورکړی۔
نـو هـمـدغـه شان اُوشـو چه ډير يهوديان قتل شو او ډير غلامان کړے شو او ډير جلاوطن کړے شو۔ او ډيرو باندے ټکسونه او جزيئے مقرر شوے۔
(فَاعۡفُوۡا) : ددے نه روستو دا خبره ذکر کوی چه د حاسدانو د حسد د پيدا کيدو په وخت کښې به

کوم کارونه کولے شی نو هغه پنځه اخلاق ذکر کوی : (۱) اول عفو کول او ددے مطلب دا وی چه په گناه ئے مۀ رانیسئ اگرکه کنځل بد رد کوی، په رَاعِنَا وئیلو سره ژبه کږوی۔ (۲) دویم صفح کول۔ او صفح دیته وائی چه عملًا ورته د معافئ اظهار اُوکړه او په زړۀ کښ د هغے اثر باقی مۀ ساته۔ (قرطبیؒ)۔

○ یا عفو دا معنیٰ چه د هغوی د سوالانو او د شبهاتو کولو نه تجاوز اُوکړه او صفح دا معنیٰ چه د هغوی د جواب کولو نه اعراض اُوکړه ځکه چه دا جگړے راپورته کوی۔ (اللباب)۔

○ یا د عفو معنیٰ ده : د خپلو زړونو نه د هغوی محبت محوه او لرے کړئ، او صفح معنیٰ دا چه د هغوی د دوستانے او تعلقاتو نه مخ واړوئ۔ اول مطلب ډیر ظاهر دے۔

فائده : د ابن عباس رضی الله عنهما قول دے چه د عفو او درگذر کولو حکم د قتال په آیتونو سره منسوخ شویدے چه د هغے نه یو دا آیت دے ﴿قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ......﴾ (مسلمانانو ! د هغه خلقو سره قتال اُوکړئ چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان نۀ لری)(التوبه/۲۹)

او دا خبره ډیرو مفسرینو لیکلی ده چه دا آیت په آیة السیف سره منسوخ دے۔

لیکن محققین مفسرین لیکی چه دا قسم آیتونه د اخلاقیاتو د باب نه دی او دا قسم آیتونه په قرآن کښ (۱۱٤) دی، او قانون دا دے چه د اخلاقو آیتونه نۀ منسوخ کیږی۔

۲- دویم پدے کښ غایه ذکر ده په (حَتّٰى يَأْتِيَ اللهُ بِأَمْرِهٖ) سره او په اصطلاحی منسوخ کښ غایه نۀ وی ذکر بلکه مطلق حکم وی۔ لهذا پدے آیتونو اُوس هم عمل باقی دے۔

نو دا عفو او صفح به چا سره کولے شی ؟

۱- نو عفو او صفح به د هغه کافرانو سره وی چه جهاد ورسره فرض نۀ وی لکه مثلًا ذمی کافر به نشی وژلے، که د هغۀ د طرف نه څۀ تکلیف اُورسی، نوعفو او صفح به کولے شی۔

۲- د هغه کافرانو سره به کولے شی چه صلح ورسره شوی وی، یا جزیه ورکوی۔ لکه په مدینه کښ د یهودیانو سره صلح شوے وه اگرکه د نورو کافرانو سره جهاد شروع وو۔ لیکن که دوی مسلمانانو له داسے ضررونه ورکړی چه هغه مُوجب د قتال نۀ وی نو په هغے کښ به دوی ته معافی کولے شی۔

۳- دارنگه د عفو او صفح حکم د هغه فاسقانو مسلمانانو په باره کښ هم دے چه هغوی بدعتیان وی یا فاسقان وی او د دین داعیانو ته ضرر ورکوی، حق بندوی، او لاؤډ سپیکر دریاندے بندوی، ستا مسجد، مدرسه بندوی، حسد ذرسره کوی، نو دا خلق به وژلے نۀ شی او جهاد (قتال) ورسره جائز نۀ دے۔ مثلًا په یو ځائے کښ داسے خلق دی چه خرابه عقیده لری، نو هغوی سره به

جهاد نشی کولے او دعوت به ورته ورکولے شی، هغوی به ضررونه ورکوی، بد اخلاقیانے به کوی، لیکن داعی به د معافیٔ او صفح نه کار اخلی، الله رب العالمین علیم او حکیم دے، هغهٔ ته خپل دین ښهٔ معلوم دے۔ څکه چه که داعی هم د خلقو سره جګړے شروع کړی مثلًا یو مُخالف قتل کړی نو ددهٔ د دعوت ټوله دروازه به بنده شی، نو د کومو مفسرینو ذهن چه دے ته نهٔ دے رسیدلے نو هغوی وئیلی دی چه دا منسوخ شوی دی، حال دا چه دا منسوخ نهٔ دی بلکه پدے باندے اُوس هم عمل کیږی لهذا نسخ ته ضرورت نشته۔

﴿ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴾ دا څکه وائی چه سوال پیدا کیدو چه دا یهود به څنګه ختمیږی، دا خو په سختو قلعه ګانو کښی دی، او ډیر طاقت ورسره دے او مونږ کمزوری یو، نو الله تعالیٰ فرمائی : الله پدے کامل قدرت لری چه دوی ختم کړی او اسلام غالب کړی او لږه زمانه روستو هم دغسے اُوشوه۔

وَاَقِیۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ ؕ وَمَا تُقَدِّمُوۡا لِاَنۡفُسِکُمۡ
او پابندی د مانځه کویٔ او زکوٰة ورکویٔ، او هغه څهٔ چه تاسو ئے مخکښې لیږیٔ د خپل ځانونو (د فائدے) دپاره
مِّنۡ خَیۡرٍ تَجِدُوۡهُ عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِیۡرٌ ﴿۱۱۰﴾
د نیك عمل نه، مومندهٔ به کړیٔ هغه لره د الله سره، یقیناً الله په هغهٔ عملونو چه تاسو ئے کویٔ ډیر لیدونکے دے۔

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ نور درے آداب بیانوی، د مانځه پابندی کول او زکوٰة ورکول او هر نیك عمل د ځان نه مخکښې (آخرت ته) لیږل۔ چه پدے کارونو سره مصیبتونه آسانیږی او د الله تعالیٰ مدد حاصلیږی۔

پدے اعمالو سره ۱- صبر پیدا کیږی۔ ۲- د الله سره تعلق پیدا کیږی۔ ۳- په بنده کښې استقامت پیدا کیږی۔ ٤- جنت پرے حاصلیږی۔ څکه مؤمن چه دشمن ته شکست ورکوی نو په اعمالو سره۔ وجه دا ده چه دشمن چه د مؤمن سره دشمنی کوی، نو د اعمالو د وجه نه نوکله چه مؤمن په اعمالو ټینګ شی، نو د دشمن مقابله به د الله سره راشی، او د الله تعالیٰ مقابلے ته څوك ټینګیدے شی؟! او کله چه مؤمن صحیح اخلاق او اعمال اختیار نکړی او دا هم د هغه په شان بد رد وائی او د اعمالو پابند نهٔ وی، نو دواړه د الله تعالیٰ مخلوق دے او د دوو مخلوقو مقابله شوه نو باطل خو زیات دے، واقعی خبره ده چه هغه به غالبه کیږی، الله تعالیٰ د مینځ نه مدد راکاږی۔ همیشه دپاره دشمن په عمل وهلے شویدے۔ ددے وجه نه اُوس هم کافران دا کوشش

كوي چه د مؤمن د الله تعالىٰ سره تعلق ختم كړي، فحاشي، بد ګماني پكښې پيدا كړي چه د الله تعالىٰ مدد ترې كټ شي۔ نو اعمال صالحه صرف د دشمن د وهلو دپاره نهٔ دي، بلكه دا يو فائده د عمل صالح ده۔ او د عمل نور بيشماره فوائد دي۔

﴿وَمَا تُقَدِّمُوْا﴾ : يعني دا مهٔ ګنړئ چه د جهاد حكم راتلو پورې به صرف مونځ روژې ادا كولو سره ثواب ملاويږي بلكه هر يو نيك كار چه د خپلې بښيګړې دپاره مخكښې ليږئ نو د هغې اجر به درته ملاويږي۔

پدې كښې په يهوديانو تعريض دے چه دوي خو ستاسو د عفو او صفح قدر نهٔ كوي ليكن د الله تعالىٰ په نيز دا ضائع نهٔ دي۔ (ابن عاشورؒ)۔

(خَيْرٍ) هر نيك عمل ته وائي چه د نبي كريم ﷺ په تابعدارئ كښې اُوشي او اخلاص پكښې وي۔ كه صدقه وي او كه د علم څهٔ كار وي او كه نيك بچے وي۔ مِنْ زائده دے او د تاكيد دپاره استعماليږي۔

﴿لِاَنْفُسِكُمْ﴾ دے نه بعض علماؤ معلومه كړيده چه نيك عمل كه بل ته اُوبخلے شي نو دا جائز ده ځكه د لِاَنْفُسِكُمْ قيد نه معلوميږي چه بل ته هم عمل بخښل جائز دي، ليكن دا مطلب اخستل واضح نهٔ دي۔ صحيح دا ده چه عمل به ځان دپاره كولے شي او بل ته عمل بخښل صحيح نهٔ دي سِوىٰ د صدقې نه چه د هغې تفصيل به ان شاء الله سورة النجم كښې راځي۔

ظاهر دا ده چه دا قيد ددے دپاره لګوي چه نيكي سره الله تعالىٰ ته څهٔ فائده نهٔ ملاويږي بلكه دا ګمان اُوكړئ چه دا زمونږ فائده ده، ليكن الله تعالىٰ پرے رضا كيږي۔ او پدے كښې ترغيب دے چه د ځان د نجات او فائدے دپاره عمل او كار خو هر انسان خوښوي نو بس په نيك عمل كښې جلتي كوه۔

﴿تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللهِ﴾ ۱- يعني د هغې اجر به موندهٔ كوئ۔

۲- يا بعينه دغه عمل به د الله تعالىٰ سره موندهٔ كوئ۔ الله تعالىٰ به تاسو ته د قيامت په ورځ ستاسو عمل دربنائي چه دا ستاسو عمل وو۔ نو پدے كښې په يو عمل باندے د اجر حاصليدو دپاره ئے دوه شرطونه اُوخودل: ۱- يو دا چه (لِاَنْفُسِكُمْ) نيت به ئے د خپل ځان دپاره كړے وي، بل چا ته به ئے ثواب نهٔ وي بخښلے او د بل چا د نيابت په نيت به نهٔ وي۔

۲- دويم دا چه (مِنْ خَيْرٍ) نيك عمل به وي، يعني هر هغه عمل چه د قرآن او سنت سره برابر وي، په باطل عمل او د سنت مخالف عمل باندے اجر نشته۔

فائده : (وَمَا تُقَدِّمُوْا) ځكه وائي چه مخكښې به عمل ليږے، پس د مرګه انسان عمل نهٔ شي كولے ځكه وائي چه مخكښې نه ئے راوليږه ، پس د مرګه كله صدقه جاريه كيږي، ليكن هغه به

هم ژوند کښې کوے خو اجر به ئے پس د مرګ نه هم در رسیږی۔ ژوند کښې به ئے وقف کړی، نو د مرګ نه روستو به ورته ثوابونه رسی۔

﴿ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴾ ټول الله ته معلوم دی، د هیڅا عمل ترے نهٔ ورك کیږی، هر چا ته به د هغه د عمل مطابق جزا او سزا ورکوی۔ نو پدے کښې وعده هم ده او دهمکی هم۔ ایمان والو ته وائی: ستاسو عملونه زهٔ وینم نیکه بدله به درکوم، کافرانو ته وائی چه ستاسو بد اعمال ما ته معلوم دی سزا به درکوم، سم شئ۔

وَقَالُوۡا لَنۡ يَّدۡخُلَ الۡجَنَّةَ اِلَّا مَنۡ كَانَ هُوۡدًا اَوۡ نَصٰرٰى ؕ تِلۡكَ

او وائی دوی چه هیڅوک به داخل نهٔ شی جنت ته مګر هغه څوك چه یهودیان وی، یا نصاریٰ، دا

اَمَانِيُّهُمۡ ؕ قُلۡ هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۱۱۱﴾

د دوی آرزوګانے (بے دلیله خبرے) دی۔ اُووایه راوړئ دلیل ستاسو، که چرته یئ تاسو رشتینی۔

تفسیر : اُوس یهود او نصاراؤ ته الله تعالیٰ یوه بله رټنه ورکوی او د هغوی غرور او تکبر ذکر کوی چه په دوی کښې هره ډله دا دعوه کوی چه جنت ته به هغه څوك داخلیږی چه د دوی په دین روان وی، نو جنت ځان پورے خاص کوی، چه الله تعالیٰ به جنت صرف او صرف مونږ له راکوی۔ او مخکښې ئے وئیلی وو چه مونږ د الله تعالیٰ غوره ډله یو۔ بیا ئے رسول الله ﷺ باندے اعتراضونه اُوکړل بیا ئے اُووئیل لنډه دا ده چه جنت ته مونږه هسے هم ځو، ددے خبرے څه حاجت دے چه تاسو مونږ ته دعوت راکوئ چه په رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړئ۔ نو الله تعالیٰ په دوی باندے رد کوی چه یهود او نصاریٰ جنت ته نهٔ شی تلے، بلکه دا د دوی دروغجنے آرزوګانے دی چه ددے په رشتینوالی باندے هیڅ قسم یقینی دلیل د دوی سره نشته، که دلیل ورسره وی نو پیش دِ ئے کړی۔

مضمون او خلاصه تر (۱۲۲) آیت پورے دا ده : دلته دوی ته بله زورنه او رټنه بیانوی چه اعمال ئے خراب دی او دعویٰ د جنت لری او دلیل ورسره نشته۔ بیا الله تعالیٰ فرمائی چه الله تعالیٰ جنت په اعمالو او عقیده ورکوی چه هغه دوه څیزونه دی، یو اسلام او بل احسان دے۔ که دا په هر چا کښې راغلل کامیاب دے۔ بیا د یهودیانو او نصاراؤ نور عیبونه نقل کوی، چه هغه زجر بِتَكۡذِيۡبِ الۡحَقِّ فِيۡمَا بَيۡنَهُمۡ ۔ یعنی دواړو سره حق دے خو د یو بل تکذیب کوی، دومره ضدیان دی۔ او دویم د عربو د مشرکانو سره ځان مشابه کوی، نو دوی ځان ته څنګه په حقه وائی۔ (دے آیتونو کښې ددے دریو ډلو اشتراك به هم بیانوی)۔ مشرکانو هم دغه شان حق نهٔ منلو او دوی

هم یو بل ته بد گوری حال دا چه تورات او انجیل حق وو۔ مینځ کښې د همکی ذکر ده چه د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ د دوی ترمینځ فیصله کوی۔

بیا په (۱۱٤) کښې یهودو، نصاراؤ او مشرکانو ټولو ته زجر دے چه دوی خلق د الله تعالیٰ د مساجدو نه منع کوی نو (زَجْر بِمَنْعِ التَّوْحِيْد يا زَجْر بِمَنْعِهِمْ ذِكْرَ اللهِ عَنْ مَسَاجِدِ الله) چه دوی په مساجدو کښې د الله ذکر او توحید بندوی۔ او د هغې په جواب کښې وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ وائی یعنی که چا د مسجد نه منع کړے نو بل ځائے ته لاړ شه او د الله عبادت کوه۔ بیا په وَقَالُوا اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا کښې د اُلوهیت په باره کښې د یهودیانو د غلطې عقیدے بیان دے چه دوی ټول الله تعالیٰ له ولد ثابتوی، د دوی خبرے هم غلطې او عقیده ئے هم د الله په باره کښې غلطه ده۔نو تصورئے هم خطاء او عمل ئے هم خطاء دے۔او حال دا چه ځان جنتیان ګڼړی۔ دا ډیره عجیبه ده ؟!!۔ بیا ددے لنډ لنډ پنځه جوابونه۔ بیا په وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ کښې د مشرکانو تشبیه ورکوی د دوی سره۔ چه دا ټول یو شان بے علمه دی او دوی هم د هغوی په شان اعتراضونه کوی۔ نو الله تعالیٰ فرمائی چه د دوی زړونه د یو بل مشابه دی۔ بیا د هغې نه روستو د رسول الله ﷺ رشتین والے بیانوی او هغه ته کار ور په غاړه کوی چه بشارت او انذار کوه۔ او د خلقو پرواه مهٔ ساته۔ بیا د اتباع د یهود او نصاراؤ نه منع کوی چه دوی پسے مهٔ روانیږئ، دوی بنده کفر ته راکاږی۔ او د دوی رضا مهٔ لټوئ بیا په (۱۲۱) کښې ئے د نیکانو اهل کتابو صفت راوړے چه دوی په پخوانو کتابونو او پدے قرآن ایمان لری۔ بیا په آخره کښې ئے دریم ځل بنی اسرائیلو ته خطاب کړیدے زِيَادَةٌ فِي النَّصِيْحَةِ (دے دپاره چه زیاته خیر خواهی ئے اُوشی) چه دا فسادونه پریدئ او د الله تعالیٰ نعمتونه راياد کړئ او پدے آخری رسول (ﷺ) ایمان راوړئ۔ او د آخرت یره ئے ورته بیان کړیده۔ او پدے به د بنی اسرائیلو سره اکثرے خبرے ختمیږی۔ او اشاره وه چه دوی نه الله تعالیٰ خلافت ځکه واخستو چه په دوی کښې دغه بد صفات وو۔

ربط : دوی به د خلقو د مرتد کولو دپاره دا دعویٰ کوله چه جنت یهودیانو پورے خاص دے، نو راشئ زمونږ دین کښې داخل شئ او د محمد رسول الله ﷺ تابعداری پریدئ۔

(اَوْ نَصٰرٰى) دا په هُوْدًا باندے عطف دے نو (قَالُوْا) ددے سره هم مراد دے۔ یعنی نصاریٰ د جنت جدا دعویٰ کوی او یهودیان جدا۔

لیکن دا د دروغو دعویٰ وه۔ الله رب العالمین پرے ځکه رد کوی :

﴿ تِلْكَ اَمَانِيُّهُمْ ﴾ (تِلْكَ) دغه مقالے (وینا) ته اشاره ده۔

امانی جمع د اُمْنِيَّةٌ ده په معنیٰ د تمنا او آرزو سره۔ (آرزو) دے ته وائی چه د بنده عمل نهٔ وی او

لګیا وی تمنا لری، دا د کافرو صفت دے. بنده کار نهٔ کوی او د جنت امید لری، علم نهٔ کوی او ارمان کوی چه عِلم به راته حاصل شی. د مؤمن صفت رجاء دے او رجاء دیته وائی چه کار به کوی او امید به لری. کیدے شی چه دا کار مے الله تعالیٰ اُوکړی. او اُمنِیَّة په اصل کښ هر هغه شی ته وئیلے شی چه نفس د هغے خواهش کوی او دلیل شرعی ئے نهٔ وی یعنی بے دلیله خبرے.

لغوی فرق د امنیة او رجاء دا دے چه اول د ممکناتو او ممتنعاتو دواړو سره تعلق لری په خلاف د رجاء نه، چه هغه صرف د ممکناتو سره تعلق لری. داسے نشی وئیلے : لَعَلَّ الشَّبَابَ يَعُوْدُ، او لَيْتَ الشَّبَابَ يَعُوْدُ وئیل صحیح دی.

نو دا ئے آرزوګانے دی، هسے دعویٰ ده، او دعویٰ بانـدے دلیل پکار دے. نو ځکه تربے د دلیل مطالبه کوی.

او دا خبره الله تعالیٰ ددے امت مؤمنانو ته په سورة النساء (۱۲۳) آیت کښ کړیده : ﴿لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَا اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتَابِ﴾ (ستاسو او د اهل کتابو ارمانونه پکار نهٔ راځی) نو دلته هم د یهودو او نصاراؤ سره د جنت د داخلیدو شرط نهٔ وو خو صرف دعویٰ او ارمان ئے کولو.

برهانکم : [اَلْبُرْهَانُ : اَوْكَدُ الْاَدِلَّةِ الَّذِیْ يَقْتَضِي الصِّدْقَ اَبَدًا] (مفرداتِ راغب) (برهان : هغه مضبوط دلیل ته وئیلے شی چه همیشه د رشتینوالی تقاضا کوی یعنی یقینی دلیل).

﴿اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ﴾ دا دلیل دے چه رشتینی دیته وائی چه دلیل ورسره وی، که دلیل نهٔ وی نو بیا دروغ دی، یا خطاء ده. نو فرمائی چه په دے څهٔ دلیل دے، الله تاسو کښ چا ته وئیلی دی؟ چه جنت تاسو پورے خاص دے.

فائده : امام رازیؒ وائی : [دَلَّتِ الْآيَةُ عَلٰى اَنَّ الْمُدَّعِيَ سَوَاءٌ اِدَّعٰى نَفْيًا اَوْ اِثْبَاتًا، فَلَا بُدَّ لَهٗ مِنَ الدَّلِيْلِ وَالْبُرْهَانِ وَذٰلِكَ مِنْ اَصْدَقِ الدَّلَائِلِ عَلٰى بُطْلَانِ الْقَوْلِ بِالتَّقْلِيْدِ قَالَ الشَّاعِرُ : مَنِ ادَّعٰى شَيْئًا بِلَا شَاهِدٍ — لَابُدَّ اَنْ تُبْطَلَ دَعْوَاهُ وَقَالَ الزِّمَخْشَرِيُّ : وَهٰذَا اَهْدَمُ شَيْءٍ لِمَذْهَبِ الْمُقَلِّدِيْنَ وَاَنَّ كُلَّ قَوْلٍ لَا دَلِيْلَ عَلَيْهِ فَهُوَ بَاطِلٌ غَيْرُ ثَابِتٍ انتهیٰ) [القاسمی ۱/۳۴۷].

(دا آیت دلیل دے چه یو مُدعی که د یو شی د نفی یا د اثبات دعویٰ کوی نو هغه دپاره به دلیل او برهان راوړل ضروری وی، او دا د تقلید په باطل والی باندے ډیر رشتینی دلیل دے، یو شاعر هم وئیلی دی چه څوك د یو شی دعویٰ کوی او دلیل او ګواه پرے نهٔ راوړی، نو ددهٔ دعویٰ به ضرور باطله وی. او زمخشری وئیلی دی : د آیت دا حصه د مقلدینو مذهب د بیخ نه ختموی او دلالت کوی چه هر هغه وینا چه په هغے دلیل نهٔ وی، هغه به باطله او بے ثبوته وی). نو بے دلیله خبره پسے چه څوك روان وی هغه به دروغجن وی.

بَلٰى ۚ مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۪
بلكه هر هغه چا چه تابع كړو مخ خپل الله ته، او وى دا نيك عمله نو وى به دده دپاره اجردده په نزد د رب دده،
وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿١١٢﴾
او نۀ به وى هيڅ يره په دوى او نۀ به دوى غمجن شى۔

تفسير : پدے آيت كښ په يهودو بل رد كوى چه جنت په تشو دعوو نۀ حاصليږى بلكه جنت ته به هر هغه څوك داخليږى چه دوه بنائسته صفتونه پكښ راغلل، ځكه جنت په صفاتو حاصليږى، په دعوو او نومونو سره نۀ حاصليږى۔

يو دا چه موحد وى او بل په خپل عمل كښ مُخلص وى او د سنت مُتَّبِع وى۔ او يهود او نصاراؤ كښ دا دواړه صفات نشته، نۀ موحدين دى ځكه دوى د الله تعالىٰ سره شريكان جوړ كړيدى او نۀ په خپل عمل كښ اخلاص كونكى دى او نۀ د سنت متبع دى۔

فائده-- د عمل د قبليدو شرطونه:

حافظ ابن كثيرؒ ليكى : د الله تعالىٰ په نيز د عمل د قبليدو دپاره دوه شرطونه دى۔ اول دا چه هغه خالص د الله تعالىٰ دپاره وى۔ دويم دا چه د رسول الله ﷺ د سنت او د شريعت اسلامى مطابق وى، كه نيت كښ اخلاص وى، ليكن د سنت مطابق نۀ وى، نو هغه عمل به مردود وى لكه رسول الله ﷺ فرمايلى دى : ((چا چه يو داسے عمل اُوكړو چه په هغے باندے زمونږ حكم نۀ وى نو هغۀ به رد كولے شى)) (صحيح مسلم)۔

پدے وجه د راهبانو (پيرانو)، د ساداتو او صوفياؤ عمل د الله تعالىٰ په نيز قابلِ قبول نۀ دے ځكه چه د هغوى په عمل كښ د رسول الله ﷺ اتباع نشته، دغه شان كه عمل د شريعت د ظاهر مطابق وى ليكن د الله تعالىٰ د رضا نيت نۀ وى، نو داسے عمل هم مردود دے او دا حال د رياكارو منافقانو دے، لكه چه الله تعالىٰ فرمايلى دى : ﴿ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ﴾ چه بے شك منافقان الله تعالىٰ ته دهوكه وركول غواړى او الله تعالىٰ دوى ته دهوكه وركوى۔ (النساء/١٤٢) ﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَاءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا﴾ (الكهف/١١٠)
﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَاۗءُوْنَ ﴾ [ابن كثير ١/٣٨٥]

بَلٰى : د يهودو او نصاراؤ د دعوے د ترديد او تكذيب دپاره راوړے شويدے۔ معنىٰ ئے ده : (آؤ۔ يا: داسے نۀ ده)۔ كه مخكښ اثبات وى نو پدے سره به نفى كيږى او كه مخكښ نفى وى نو پدے

سره به اثبات کیږی۔

﴿ مَنۡ اَسۡلَمَ ﴾ اسلام په لغت کښ انقیاد (یعنی تابعداری) او استسلام (یعنی غاړهٔ کیخودو) ته وائی۔ دویم : اخلاص ته وائی۔

﴿ وَجۡهَهٗ ﴾ ذکر د مخ مراد ترے ټول بدن دے۔ یعنی الله تعالیٰ ته ئے بس خپل مخ (ټول بدن) منقاد او تابع کړو چه د الله ځه امر راځی نو زهٔ به ئے منم۔ انکار به نهٔ کوم۔ او عاجزی او تواضع پکښ پیدا شوه۔ د الله سره ئے شریکان جوړ نکړل۔ (روح المعانی)

دا دلیل دے پدے چه په یهودو او نصاراؤ کښ دا صفت نشته۔ هغوی مسلمین نهٔ دی، منقاد نهٔ دی، هغوی خو د الله تعالیٰ حکمونه ماتوی او انکار ترے کوی۔ تکبر پکښ دے۔او اخلاص پکښ نشته، مشرکان دی۔

۲- حافظ ابن کثیرؒ د سعید بن جبیرؒ نه نقل کوی فرمائی : وَجۡهَ په معنی د دین سره دے [اَیۡ اَخۡلَصَ دِیۡنَهٗ وَعِبَادَتَهٗ] یعنی خپل دین او عبادت ئے د الله دپاره خالص کړو۔ چه هر عمل کښ ئے اخلاص وی شرك پکښ نهٔ وی۔

۳- قرطبیؒ او آلوسیؒ او قاسمیؒ وئیلی دی چه وجه په معنی د قصد (مقصد) سره دے [مَنۡ اَخۡلَصَ تَوَجُّهَهٗ وَقَصۡدَهٗ بِحَیۡثُ لَا یَلۡوِیۡ عَزِیۡمَتَهٗ اِلٰی شَیۡءٍ غَیۡرِهٖ] یعنی خپله توجه او قصد ئے د الله دپاره خالص کړو پداسے طریقه چه خپل عزم او اراده د الله نه سِویٰ بل طرف ته نهٔ اړوی۔نو مراد ددے ټولو دا دے چه عقیدةً او عملًا ئے توحید قبول کړو۔

﴿ وَهُوَ مُحۡسِنٌ ﴾ یعنی پدے عمل کښ الله تعالیٰ ته متوجه وی۔ (قاسمیؒ)

ظاهر تفسیر پدے آیت کښ دا دے چه ځان منقاد کړی الله ته، او بیا په دے حکم کښ الله ته متوجه وی۔ نو دوه کاره په هر مسلمان لازم دی اَلۡاِنۡقِیَادُ لِلّٰهِ تَعَالٰی فِیۡ کُلِّ شَیۡءٍ ۔ (الله تعالیٰ ته په هر کار کښ تابع او تسلیمیدل)۔ دویم : اَدَاءُ الۡعَمَلِ بِالتَّوَجُّهِ وَالۡاِحۡسَانِ ۔ (عمل په توجه او په طریقه د احسان سره کول)۔ نو بیا به دا انسان کامیاب وی۔ غالباً دا دوه صفتونه یو ځائے نهٔ ملاویږی۔

(مُحۡسِن) هغه چا ته وائی چه د الله تعالیٰ عبادت کوی په داسے طریقه لکه چه الله ته ګوری، یا دا چه عمل کوی، او دا ګمان کوی چه ما ته الله تعالیٰ ګوری۔ یعنی ډیر په توجه سره عمل کوی۔نو یو بنده دے چه عمل د الله تعالیٰ دپاره کوی خو الله تعالیٰ ته ئے پکښ بالکل توجه نشته، نو دا عمل نهٔ قبلیږی۔ دارنګه یو بنده الله تعالیٰ ته ښهٔ متوجه دے خو د الله تعالیٰ حکم ته برابر نهٔ دے۔ د نبی ﷺ په طریقه نهٔ دے۔نو دا هم نهٔ قبلیږی ځکه د هر عمل دپاره دا ضروری ده چه د نبی ﷺ په طریقه به وی، اخلاص او توجه به پکښ وی۔

فائده : د آیت نه معلومه شوه چه د اسلام د اَهمو خصوصیاتو او نخو نه دا خبره ده چه د انسان شعور او د هغه عقیده او عمل، د هغه د قلبي ایمان او د هغه د عملي طریقې ترمینځ به مکمل یو والے وی، د هغه ظاهر او باطن دواړه به یو برابر وی، عقیده به ئے هم صحیح وی او عملاً به هم مطیع او فرمانبردار وی نو څوك چه دا درجه حاصله کړی، دغه انسان خپل شخصیت او کمال حاصل کړو۔ (فی ظلال القرآن)۔

﴿وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾ دا لفظ دریم کرت دے چه په دے سورت کښ راځي۔

خوف به په آخرت کښ پرے نۀ وی او حزن (غم) به په وخت د مرګ کښ نۀ وی، او د دنیا پسے به غمونه نۀ کوی، او پدے به هم غمجن نۀ وی چه دوی نه به ګنے د الله تعالیٰ نعمتونه منع شی۔

فائده : مخکښ ئے فَلَهٗ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ کښ ضمیر مفرد راوړو او لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ کښ ئے د جمع ضمیر راوړو ځکه چه (مَنْ اَسْلَمَ) کښ مَنْ لفظاً مفرد دے او معنیً جمع ده نو اول ځائے کښ لحاظ د لفظ او دویم ځائے کښ لحاظ د معنیٰ شویدے۔

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۪ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ وَّهُمْ

او وائی یهودیان چه نۀ دی نصاریٰ په هیڅ دین او وائی نصاریٰ چه نۀ دی یهودیان په هیڅ دین، حال دا چه دوی

يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ

لولی کتاب، دغسے وئیل به هغه کسانو چه نۀ پوهیدل په شان د وینا د دوی، نو الله به فیصله اُوکړی

بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

په مینځ د دوی کښ په ورځ د قیامت په هغه څۀ کښ چه دوی په هغے کښ اختلاف کولو۔

تفسیر : په دے ځائے کښ اُوس یهود او نصاراؤ ته څلورم زجر او زورنه ورکوی چه دوی هسے وائی چه مونږ جنتیان یو او مینځ کښ د یو بل سره سخت وران دی، خپل مینځ کښ ئے داسے اختلاف دے چه یو بل ته کافر اویے دینه وائی او هر یو سره چه کوم حق دے د هغے تکذیب کوی، قطع نظر د آخری نبی د نبوت نه، دومره ضدیان او عنادګر دی چه د نصاراؤ سره کوم حق دے، یهود وائی مونږ هغه نۀ منو او نصاریٰ وائی چه یهودو سره کوم حق دے مونږ هغه نۀ منو۔ او حال دا چه په تورات کښ ئے لیکلی دی چه عیسیٰ علیه السلام په حق نبی وی، او یهود د هغے انکار کوی او په انجیل کښ ئے لیکلی دی چه موسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ حق نبی وو، نو نصاریٰ د هغے انکار کوی نو هغه څوك به جنت ته څنګه لاړ شی چه د حق نه انکار کوی!!۔

نو عنوان د آيت دے[اَلزَّجْرُ بِتَكْذِيبِ الْحَقِّ فِيمَا بَيْنَهُمْ] يعنى الله تعالىٰ زجر وركوى په تكذيب د حق په خپل مينځ كښ چه الله تعالىٰ ورته دا حق نصيب كړے دے او بيا ئے هم نهٔ منى، پكار خو دا ده چه ټول اُومنئ نو پدے كښ نبى ﷺ ته يو قسم تسلى ده چه دا دومره ضديان دى چه خپل مينځ كښ حق نهٔ منى نو كه تا نه انكار اُوكړى، خفګان مهٔ كوه ځكه چه دوى خپل بنى اسرائيلى انبياء عليهم السلام نهٔ دى منلى۔

او زمونږ د اُمت د جامدو مقلدينو طريقه هم دا ده چه دوى هم د حق ډيرے خبرے نهٔ منى، د مذهب خلاف چه كوم حديث راشى هغه نهٔ منى، د امام شافعیؒ حديث نهٔ منى، او نهٔ د امام مالكؒ، او نهٔ د امام احمدؒ او د هغے نه شپاړس جوابونه كوى، لكه روستنى متأخرين دا كار كوى۔ نو داسے نهٔ ده پكار، بلكه پكار دا ده چه هر چا سره حق وى، هغه دِ اُومنلے شى، او د يهودو سره مشابهت دِ اُونكړے شى۔ او ددے خبرے پته په مسائلو كښ لګى۔

شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په ((اِقْتِضَاءُ الصِّرَاطِ الْمُسْتَقِيمِ)) كښ ليكى چه ددے مثال په دے اُمت كښ هغه مسلمانان دى چه په اصول او عقائدو كښ متفق دى ليكن د فروعو د اختلاف د وجه نه د يو بل تكفير كوى او سبب ئے تعصب او ضد او عناد وى، نو دا مرض د يهودو او نصاراؤ دے چه دے اُمت ته رانقل شويدے۔

او دغه شان خبره فخر الدين الرازیؒ هم كړيده چه خلاصه ئے دا ده چه د نبى كريم ﷺ امت هم پدے بيمارئ كښ مبتلا شو چه هره ډله بلے ډلے ته د كفر نسبت كوى حال دا چه ټول قرآن لولى يعنى ټولو دا دعوىٰ كړيده چه مونږ د قرآن او سنت اتباع كوو ليكن عملاً ئے د قرآن اتباع پريخوده او د سنت نه ئے اعراض اُوكړو، او د قسماقسم باطلو تاويلاتو په ذريعه ئے سنت لره د خپلے عملى زندګئ نه بهر كړو او د رسول الله ﷺ د لارے نه واوړيدل او مختلفے ډلے پيدا شولے۔

حال دا چه الله تعالىٰ د قرآن او د سنت د لارے په باره كښ داسے فرمائى : ﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِى مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ﴾ (او دا زما نيغه لاره ده، ددے تابعدارى اُوكړئ او د نورو لارو تابعدارى مهٔ كوئ ورنه د الله تعالىٰ د لارے نه به مو واړوى) (الانعام /١٥٣)

او نبى كريم ﷺ فرمائى : ((ما تاسو كښ دوه څيزونه پريخودل، كه تاسو هغه مضبوط اُونيول نو ما نه روستو به هيچرے ګمراه نهٔ شئ، د الله كتاب او زما سنت))۔

(صحيح الجامع الصغير: ٢٩٣٧)۔

نن صبا چه په مسلمانانو كښ څومره ګمراهيانے، څومره اختلافات او څومره جماعتونه دى، د هغے ټولو سبب صرف ، د نبى كريم ﷺ د سنت نه وړاندے والے دے، د كوم وخت نه چه نبى كريم

ﷺ دنیا ته نبی رالیږلے شویدے، نو د قیامته پورے به صرف یو جماعت په صحیح اسلام مضبوط ولاړ وی او دا هغه جماعت دے چه په دواړو لاسونو کښې ئے د قرآن او سنتؔ مشعل نیولے وی او دنیا والو ته دعوت ورکوی چه د صحیح اسلام لاره همدا ده، راشئ پدے باندے روان شئ، دا د یو تنظیم او پارټئ نوم نهٔ دے۔

﴿عَلٰى شَىْءٍ﴾ [اَىْ عَلٰى شَىْءٍ مِنَ الدِّيْنِ الْحَقِّ] یعنی په صحیح او حق دین باندے نهٔ دی روان۔ ورنه په غلط دین خو روان دی۔ نو یو بل ته کافر وائی۔

﴿وَهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتَابَ﴾ یعنی دا دواړه په حق دی، په خپله زمانه کښې دواړه په حق وو، لیکن د یو بل د حق نه ئے انکار کولو۔ دوی د تورات او هغوی د انجیل لوستل کول او حال دا چه د الله په کتاب کښې خو منع راغلې دهددے خبرے نه چه د یو بل تکذیب اُوکړی۔

او پدے کښې د دوی زیات قباحت او بدئ ته اشاره ده چه دوی ته حق ښهٔ واضحه شویے وو خو بیا ئے هم د هغے نه انکار کولو۔ علم والا وو، کتابونه به ئے لوستل۔

تنبیه: د مسلمانانو خپل مینځ کښې په راجح او مرجوح (غوره او نا غوره) مسائلو کښې اختلاف کول او بیا یو بل ته د کفر نسبتونه کول او ددے په وجه یو بل سره بُغض او حسد کول پدے آیت کښې داخل دی چه دا ممنوع کار دے، او که داسے مسائل وی چه یو طرف ته حق وی او بل طرف ته باطل وی، هیڅ دلیل نهٔ وی او د حدیث خلاف مسئله وی، یو طرف ته حدیث وی او بل طرفته د یو عالِم رائے وی نو هغے کښې به سختی کولے شی، او هغه اختلاف کول پدے آیت کښې داخل نهٔ دی۔ کوم کسان چه حق بیانوی هغه د حق تکذیب نهٔ کوی بلکه حق ته خلق رابلی۔

نو اُوس الله تعالیٰ دیے علمه خلقو سره د دوی مشابهت ورکوی چه هغوی سره څهٔ کتاب نهٔ وو او حق به ئے نهٔ منلو۔ ﴿كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾

د لَا يَعْلَمُوْنَ مصداق دا دے چه د مکے مشرکانو به وئیل چه همدا مونږ په حق یو او رسول الله ﷺ ته به ئے وئیل چه دا په حق نهٔ دے، بلکه صابی یعنی بے دینه شویدے۔ نو الله تعالیٰ فرمائی چه دوی ځان مشابه کړو د هغه امیانو جاهلانو مشرکانو سره، دارنګه هغه پخوانو کافرو سره چه د پیغمبرانو د خبرو نه به ئے انکار کولو۔ نو الله تعالیٰ دوی ته زورنه ورکوی چه ستاسو ترمینځ به زهٔ په حق سره فیصله کوم او په حق نهٔ منلو به درسره حساب کوم۔ او دیته عملی فیصله وائی۔ چه په دوی کښې به نیکان جنت ته داخل کړی او منکرین به جهنم ته نو الله تعالیٰ د دوی دا عیب بیان کړو چه دا داسے خلق دی چه د حق منکر دی او وائی چه مونږ جنتیان یو۔

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ

او څوك دے لوئی ظالم د هغهٔ چا نه چه منع کړی جماتونه د الله ددے نه چه یاد کړے شی په دیکښ نوم د الله،

وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا خَآئِفِيْنَ ؕ

او کوشش کوی د هغے په خرابوالی کښ۔ دغه کسان نهٔ دی مناسب دوی له چه داخل شی هغے ته مگر ویریدونکی۔

لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۱٤﴾

د دوی دپاره په دنیا کښ شرمندگی ده او دوی لره په آخرت کښ عذاب لوئی دے۔

تفسیر : یهودو کښ بل مرض دا دے چه د الله تعالیٰ د عبادت خانو نه هم خلق منع کوی لکه بیت المقدس نه دوی خلق منع کړی وو۔ لکه عیسایانو د بخت نصر بابِلی مجوسی بادشاه په ملګرتیا کښ هغهٔ وران کړے وو او یهودیان ئے ترینه بند کړی وو۔ (ابن جریرؒ)۔

دارنګه د مکے مشرکانو د مسجد حرام نه صحابه کرام رضی الله عنهم منع کړی وو۔او د صلح حُدَیْبیه په موقع دوی همدغه خبره ذکر کړه چه مونږ د خپل پلار نیکه قاتلان د مکے داخلیدو ته نهٔ پریدو۔ او یهودیان ورسره په دے کار کښ ملګری وو۔ او الله تعالیٰ ته معلومه ده چه نورو ځایونو کښ هم دوی کښ دا مرض دے نو ځکه عام لفظ راوړی۔ نو پدے آیت کښ هغه کسانو ته الله تعالیٰ رټنه ورکوی چه څوك اهل حق د الله د جماتونو نه منع کوی چه حق پکښ بیان کړی او د الله ذکر پکښ اُوکړی او عمره او حج ته لاړ شی۔دوی ئے منع کوی، مونځونو ته ئے نهٔ پریدی۔ دا پنځم زجر شو۔

عنوان الآیة : [اَلزَّجْرُ وَالتَّخْوِیْفُ لِمَنْ یَمْنَعُ التَّوْحِیْدَ وَذِکْرَهٗ سُبْحَانَهٗ عَنِ الْمَسَاجِدِ]

(رټنه او یره ورکول هغه چا ته چه د مساجدو نه توحید او د الله بندګی او د هغه یادول منع کوی)۔

ربط : دغه اهل کتابو لکه څنګه چه د الله تعالیٰ د کتاب بے عزتی او د حق نه انکار اُوکړو نو دغسے دوی د الله د مکانانو (مساجدو) بے عزتی هم کوی، او دغه دواړه د هدایت لارے دی۔ کتاب الله او مساجد۔ او ددے تعلق د تحویل القبله مسئلے سره هم دے لکه د روستو وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ نه هم معلومیږی، دا ټول د تحویل القبله دپاره مقدمات دی۔ چه قبله به بدلیږی او دا خلق به په مسلمانانو اعتراضونه کوی نو دوی ظالمان دی۔ بیا اعتبارٌ عام الفاظو لره وی نهٔ خاص سبب لره۔

شان نزول

۱- یو قول دا دے چه دا په باره د نصاراؤ کښ نازل شوے چه بیت المقدس کښ به ئے گندونه اچول او د بختنصر په مدد سره ئے هغه وران کړے وو، دا قول ابن جریر طبرتی غوره کړے۔
۲- دویم قول : دا د مکے مشرکانو په باره کښ دے چه نبی ﷺ او د هغه ملګری ئے د مسجد حرام نه منع کړی وو چه عمره اُوکړی، دارنګه نبی ﷺ به ئے په مسجد حرام کښ د مانځه کولو نه منع کولو۔ دا قول حافظ ابن کثیرؒ غوره کړے او وئیلے ئے دی چه قریشو اګرکه ظاهری د کعبے عزت کولو لیکن ددے نه لویه تخریب کاری بله کومه ده چه دوی رسول الله ﷺ او د هغه ملګری ددے نه ویستلی وو، او بتان ئے پکښ ایخودی وو او شرك او عبادت د غیر الله به ئے پکښ کولو۔او ابن کثیرؒ ددے په تائید کښ آیتونه ذکر کړیدی : ﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسَاجِدَ اللهِ شَاهِدِيْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ﴾ [التوبة:۱۷] . ﴿هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ [الفتح:۲۵] نو د مسجد آبادول دا نهٔ دی چه هغهٔ بنائسته کړے شی او ظاهری شکل ئے برابر کړے شی، بلکه د مسجد آبادول د الله په ذکر، او په هغے کښ د الله په شریعت قائمولو سره دے او د شرك او د خیرو د شرك نه هغه پاك ساتل دی۔ (ابن کثیرؒ) لیکن د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د کور مخے ته ځائے وو چه هلته به ئے مونځ او تلاوت کولو او قریشو هغه وران کړے وو۔ ظاهر دا ده چه آیت کښ عموم دے، ټولو ته شامل دے۔ ددے وجه نه ئے ''مساجد الله'' جمع راوړے ده۔
﴿مَسَاجِدَ اللهِ﴾ : مسجد د ټولو مسلمانانو مشترك ځائے وی، هر سړے ورته داخلیدے شی، د عبادت دپاره جوړ وی، د مسجد تاله کول مناسب نهٔ وی مګر د ضرورت د وجه نه جائز دی۔ امام بخاریؒ باب ایخودے (بَابُ الْاَبْوَابِ وَالْغَلَقِ لِلْكَعْبَةِ وَالْمَسَاجِدِ)او احادیث ئے راوړی چه د ضرورت په وجه د مساجدو او د کعبے دروازه بندول جائز دی، د سلفو په دور کښ په مساجدو کښ دنیا نهٔ وه، نو مساجد به هر وخت کولاؤ وو، خلقو به د سفر نه په واپس راتلو کښ په هغے کښ مونځونه کول او اُوس مساجدو ته دنیا راغلے ده، د غلا خطره وی نو ځکه د مونځونو نه سِویٰ اوقاتو کښ بند وی۔ مسجد نه خلق منع کول ځکه لوئی ظلم حساب شو چه مسجد د ایمان کارخانه وی، دلته په عبادت، ذکر، تلاوت، ترجمه او تفسیر سره د انسان ایمان جوړیږی۔
﴿اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ﴾ یعنی د دوی د الله د توحید او د الله د کتاب سره دشمنی ده چه د الله نوم په توحید یادولے شی یا د الله د کتاب درس کولے شی نو دوی خفه وی۔
اَنْ يُّذْكَرَ : ۱- دا یا مفعول ثانی د مَنَعَ دے۔ یعنی خلق د ذکر نه منع کوی۔
۲- یا مفعول لهٔ دے۔ یعنی خلق پدے وجه منع کوی چه په مساجدو کښ چرته د الله ذکر اُونکړے شی نو د الله د ذکر دشمنان دی۔ (روح المعانی)۔

د اَنْ یُذْکَرَ مصداق

۱- چه د الله نوم په کښې په یو والې سره یاد شي- یعني د توحید دشمنان دي-
۲- [اَنْ یُتْلٰی فِیْهَا کِتَابُهٗ] (د الله کتاب پکښې اُولوستلې شي)- (تفسیر خازن)-
۳- دارنګه د ذکر نه مراد مونځ دے چه خلق د مانځه نه منع کوي، لکه ډیرو خلقو په مسجد لیکلي وي چه دلته به صحیح عقیدے والا بند وي-
٤- خاص مصداق ئے حج او عمرے نه خلق منع کول هم دي- دے کښې دا هم داخلیږي چه د حرم په خوا کښې خلق نیول او حج او عمرے ته نۀ پریخودل پدے بهانه چه دا بے قانونه راغلي دي او جواز (پاسپورټ) ورسره نشته-
٥- ظاهر دا ده چه دا د الله تعالیٰ هر عبادت او قربت ته شامل دے ځکه چه هیڅ عبادت نشته مګر په هغے کښې د الله ذکر موجود دے- [الوسیط للسید طنطاوی۱/۱۹۰]

﴿ وَسَعٰی فِیْ خَرَابِهَا ﴾ د جمات یو خراب والے دا دے چه د الله تعالیٰ عبادت پکښې نۀ کیږي، او څوک چه د الله تعالیٰ صحیح عبادت کوي، په هغے کښې د الله تعالیٰ کتاب بیانوي، تقریر کوي نو شعه ترے منع کوي- او دارنګه خرابوالے دا هم دے چه بدعت او ګمراهي پکښې رابنکاره شي-
۲- دویم ظاهري خرابوالے چه وینړوي یا په هغے کښې ګندونه ګوزار کړي-
د جمات ظاهري او باطني دواړه قسمه خرابوالے ناروا دے-

﴿ اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ یَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا خَآئِفِیْنَ ﴾ دا جمله خبریه ده په معنیٰ د انشاء ده په معنیٰ کښې ئے طلب دے- ۱- مطلب دا دے چه اے مسلمانانو! تاسو باندے فرض دي چه دوي سره جهاد اُوکړئ او دوي ویروئ او دا علاقے ترے اُونیسئ چه په یره یره دلته راځي- لکه همدغسے اُوشو چه نبي کریم ﷺ او صحابه کرامؓ مسجد حرام اُونیولو او کافران او د هغوي بتان ئے ترے ختم کړل- او اعلان ئے اُوکړو چه آینده کال به مشرك حج له نۀ راځي-
۲- یا په دے کښې الله دا خبر او پیشین ګوئي ورکړے ده چه داسے وخت به راشي چه الله تعالیٰ به مؤمنانو ته غلبه او قدرت ورکړي او دغه مسجد به قبضه کړي او توحید او سنت به پکښې په بنکاره طریقے بیانوي او په مشرکانو او منافقانو به ردونه کوي نو که هغوي مسجد ته راځي په یره به وي، څۀ به وئیلے نۀ شي، هسے به زړۀ خوري-
لکه داسے کار الله تعالیٰ منافقانو سره اُوکړو په هغه زمانه کښې او مشرکانو سره ئے هم اُوکړو په مسجد حرام کښې لکه چه کله مکه فتح کیدله نو د رسول الله ﷺ آواز کونکي آواز اُوکړو چه څوك مسجد حرام کښې پناه واخلي نو هغۀ ته پناه ملاویږي- نو د قریشو ټولو سرکشانو په

مسجد حرام کښې پناه واخسته حال دا چه دا هغهٔ خلق وو چه یو وخت کښې به ئې په همدې مسجد حرام کښې رسول الله ﷺ او د هغه ملګری د عبادت کولو نه منع کول او د نورو جماتونو نه چه خلق منع کوی نو په دوی باندې هم الله تعالیٰ دغه شان یره راولی او په دنیا کښې به ئې هم شرموی۔ (تفسیر فی ظلال القرآن)۔

او مفسرینو د ابن عباسؓ نه نقل کړیدی چه د بیت المقدس د آبادیدو نه روستو هر رومی او نصرانی نهٔ دې داخل شوې مګر په حالت د یره کښې۔ (بغوی، خازن، ابن کثیر)

د عمر فاروق ؓ په زمانه کښې چه بیت المقدس فتح شو نو دغه نصاریٰ به په یره راتلل۔

۳- چا وئیلی دی چه دلته معنیٰ دا ده : دې خلقو له مناسب او حق دا نهٔ وه چه مسجد ته بغیر د یرې نه راشی بلکه د دوی سره خو یره مناسب وه که ظلم د کافرانو نهٔ وې، خو دا اُوس چه زړهٔ ور راځی او مسلمانان د مساجدو نه منع کوی نو دا پدې وجه چه د کافرانو غلبه ده او ظلم ئې دې۔ (ابن کثیر) نو دا یوه شکوئ ده او تیزی ده ایمان والو ته چه د کافرانو ظلم ختم کړئ چه د دوی دغسې حال جوړ شی۔

٤- بعض مفسرینو دا معنیٰ هم ذکر کړیده چه داسې خلقو له پکار وو چه د مسجد د آدابو لحاظ اُوکړی او مساجدو ته په یره یره او خضوع او خشوع سره داخل شی ځکه د الله د مساجدو احترام د الله ذوالجلال د هیبت او دبدبې تقاضا ده چه د هغه د کورونو احترام اُوکړې شی۔ د خائفین نه مراد خائفین مِنَ الله دی۔ (یعنی د الله نه یریدونکی)۔ دا تفسیر هم اګرچه احتمال لری لیکن ددې مقام د تحویل قبله سره مناسب نهٔ دې۔ (فی ظلال)۔

فوائد : (۱) علماء کرامو ددې آیت نه دلیل نیولې دې چه کافرانو ته به مساجدو ته د داخلیدو اجازت نهٔ ورکړې کیږی۔ لیکن صحیح دا ده چه دا حکم د مسجد حرام پورې خاص دې۔

(۲) او دا آیت دلیل دې چه هرکله د مساجدو تخریب کاری لوئی فسق دې نو د مساجدو تعمیر او هغه په ظاهری او معنوی طور سره آبادول د ایمان لویه کارنامه او درجه ده لکه الله تعالیٰ بل ځائې فرمائی :﴿ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ﴾ [التوبة :۱۸]۔

(د الله تعالیٰ مساجد صرف ایمان والا آبادوی) (رازیؒ)۔

۳- ماشومان به هم د مساجدو نه نشی منع کولې، دې دپاره چه په مانځه اموخته شی اګرکه څه ناڅه ورانې هم کوی۔ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به ماشومان هم مسجد ته راوستې شو۔ نبی ﷺ فرمائی : زهٔ د اُوږد مونځ اراده کوم لیکن چه د ماشوم ژړا واورم نو مختصر ئې کړم پدې یره چه مور به ئې په فتنه کښې واقع شی (نو چه به ئې خرابه شی)۔ (بخاری ومسلم)۔

او کوم روایت کښې چه منع راغلې ده چه ((خپل ماشومان او لیونی د مساجدو نه اُوساتئ.....)) نو هغه نۀ دے ثابت. ضعیف جداً روایت دے. په روایت د ابن ماجه (۲۵۳/۱) کښې حارث بن نبهان متفق علیه ضعیف دے. او په روایت د طبرانی کښې علاء بن کثیر اللیثی منکر الحدیث ضعیف دے. اُوګوره : الثمر المستطاب للشیخ الالبانی ص(۵۸۰)

(٤) جزاء من جنس العمل وی، دے خلقو مؤمنان یره ولی دی نو دوی به ویره ولے شی.

(۵) مسئله : امر بالمعروف په مسجد کښې بلا اجازته کولے شی لیکن وعظ او نصیحت به د امام په اجازت سره کولے شی لکه په بعض احادیثو کښې دی : [لَا يَقُصُّ اِلَّا اَمِيْرٌ اَوْ مَاْمُوْرٌ اَوْ مُخْتَالٌ] (ابوداود). یعنی بیان به صرف امیر کوی یا هغه څوك چه امیر ورته اجازه کړی وی او ددے نه بغیر که څوك بیان کوی هغه به متکبر وی.

﴿ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ﴾: دنیاوی شرمندګی ئے مخکښې ذکر شوه چه دوی مغلوبه او ذلیله شو او مسجد حرام ترے اُونیولے شو. او دغسے خلق به الله تعالیٰ هر وخت شرموی.

﴿ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴾ الله تعالیٰ به غټ عذاب ورکوی هغه چا ته چه څوك د الله تعالیٰ د عبادت خانو نه خلق منع کوی. او مشرکانو د خانه کعبے احترام پائیمال کړے وو، په هغے کښې ئے بتان نصب کړی وو، غیر الله ته به ئے آوازونه کول او په بربنډه به ئے طوافونه کول. نو د غټ عذاب مستحق دی.

سوال : اَظْلَم اسم تفضیل دے او ددے مصداق یو فرد وی او په قرآن کښې خو د اَظْلَم شپږ افراد ذکر دی، لکه شهادت پټونکے، د آیتونو تکذیب کونکے، د آیتونو نه اعراض کونکے، په الله افتراء کونکے وغیره نو کوم یو اَظْلَم (ډیر ظالم) شو ؟

جواب : په هره نوع کښې جدا جدا اَظْلَم مراد دے نو په مانعینو کښې لوئی ظالم د مسجد نه منع کونکے دے. (احسن الکلام).

وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ

او خاص الله تعالی لره مشرق او مغرب دے نو کوم طرف ته چه (مخونه) اړوئ نو هم هغلته

وَجْهُ اللّٰهِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾

مخ د الله دے، یقیناً الله فراخه فضل والا، په هر څه پوهه دے.

تفسیر : دا د مخکښې آیت سره تعلق لری، او په دے کښې تسلی ده چه که چا ددے جمات نه منع

کړے نو د الله زمکه فراخه ده، عبادت او دعوت به نۀ پرېدے، بل ځائے ته لاړ شه هلته د الله عبادت او دعوت جاري ساته. نو پدے کښ تسلي شوه هغه شخص ته چه د مسجد نه منع کړے شوے وي.

مخکښنے آیت او دا آیت دا ټول د راتلونکی تحویل القبله (د قبلې بدلیدو) دپاره مقدمے دی چه روسته الله تعالیٰ قبله بدلوی نو دا ئے ورله مخکښ نه مقدمے کیخودے چه اے خلقو! الله په دین کښ نسخ هم راولی او جماتونو نه خلق نۀ دی منع کول پکار، ټول جماتونه د الله دی نو کوم طرفته چه الله حکم کوی هغه طرف ته متوجه کیدل پکار دی. او دا د قرآن کریم کمال دے چه مخکښ او روسته وړاندے اشارے کوی ددے وجه نه قرآن کریم کښ چه څوك ډیر مهارت نۀ لری نو هغه وائی چه دا مُفَكَّكٌ (یو بل نه جدا) دے، یو آیت ئے د بل سره تعلق نۀ لری، او حال دا دے چه دا ډیرے ژورے اشارے دی.

شان نزول : ...... دا آیت د قبلے د بدلیدو په باره کښ نازل شوے وو چه کله رسول الله ﷺ مدینے ته هجرت اُوکړو او شپاړس یا اُولس (۱۷) میاشتے ئے بیت المقدس ته مونځ اُوکړو او بیا ئے کعبے ته مخ واړولو نو یهودو اعتراض اُوکړو چه مخکښنی مونځونه ستاسو باطل شو. نو دا جمله نازله شوه او دوی ته جواب ورکړے شو چه دا ټول طرفونه د الله تعالیٰ دی، د هغۀ خوښه ده چه خپل بندګان کوم طرفته متوجه کوی د چا پکښ د اعتراض حق نشته.

(احسن الکلام، احسن البیان، فی ظلال القرآن).

⊙ بعض وائی: کله چه رسول الله ﷺ شپاړس میاشتے د کعبے د لیدلو نه محروم شو، نو د هغه دا خواهش وو چه کاش مسجد حرام د مسلمانانو قبله جوړه شي، نو الله رب العالمین د خپل رسول او د صحابه کرامو د تسلي دپاره دا آیت نازل کړو چه د مشرق او مغرب او د ټولو جهاتو مالك صرف الله دے، نو تۀ چه کوم طرف ته مخ کولو سره مونځ کوے نو هغه طرف ته به الله مونده کوے. ددے نه روستو بیا دا حکم منسوخ شو او کعبے ته د مخ کولو حکم راغلو. لیکن ددے آیت عام حکم باقي پاتے شو چه کله د قبلے جهت معلوم نۀ وی یا نفل مونځ وی، یا د خوف (یرے) او د سفر په حالت کښ هر طرف ته مونځ اُوکړے شي نو مونځ به صحیح وی.

(تیسیر الرحمن).

⊙ بعض وائی چه په سفر کښ مسلمانانو په تیارۀ کښ مونځ کړے وو چا یو خوا چا بل خوا کړے وو. بیا نبی ﷺ ته اُووئیل شو چه مونږ خو یو خوا بل خوا مونځ اُوکړو نو الله تعالیٰ دا آیت راولیږلو چه خیر دے کله چه تاسو په دے اراده باندے کړے وی چه دے خوا قبله ده او خطاء شوے نو مونځ جائز دے. دا روایت ترمذیؒ راوړیدے او ابن کثیرؒ وئیلی دی چه پدے روایاتو کښ

ضعف دے لیکن د یو بل تائید کوی۔
○ دارنګه دا آیت په سورلئ باندے مونځ کولو په باره کښں نازل شوے دے چه که د سورلئ دپاسه مونځ کوی، تهجد عام نوافل یا سنت یا وتر او یا د ضرورت په وخت فرض کوے (هغه هم کیږی) لکه چقړے یا باران وی نو په هغه وخت کښں که هر خوا مخ شو، مونځ کیږی۔ په دے باره کښں هم دا آیت نازل دے۔

لیکن غوره دا ده چه دا د مخکښں آیت سره لګی چه پدے کښں تسلی ده هغه چا ته چه د مسجد نه منع کړے شوے وی۔ اګرکه دغه اقوالو ته هم شاملیږی او د یو آیت دپاره ډیر اسباب د نزول هم کیدے شی۔

په تدبر القرآن کښں دی : ((پدے آیت کښں د اختلاف او نزاع سبب ته اشاره ده چه د یهود او نصاراؤ خپل مینځ کښں د یو بل د عبادت خانو او د مساجدو د سپکاوی او خرابوالی سبب جوړ شوے وو۔ د یهودو او نصاراؤ دواړو قبله بیت المقدس وه لیکن نصاریٰ په خاص طور سره د هغے مشرقی سمت خپله قبله منتخب کړه ځکه دغه مشرقی طرف ته مریم اعتکاف کړے وو۔ د دوی په ضد یهودیانو د هغے مغربی سمت اختیار کړو بیا د بیت المقدس دا اندرونی تقسیم ددے نه بهر اُووتلو او مستقلًا د مشرق او مغرب تقسیم جوړ شو۔ یعنی نصاراؤ مشرقی سمت خپله قبله جوړه کړه او یهودو مغربی سمت۔ بیا د مشرق او مغرب دے اختلاف دوی لره ښه اُوجنګول۔ په بیت المقدس کښں دننه هم او د هغے نه بهر هم۔ او ددے په نتیجه کښں دواړو ډلو د یو بل د عبادت خانو په پوره بے دردئ سره بے حرمتی اُوکړه۔ قرآن مجید دلته د اختلاف او نزاع سبب ته اشاره کولو سره ددے لغویت ته هم اشاره اُوکړه چه مشرق وی او که مغرب دواړه سمتونه صرف د الله تعالیٰ دی، پدے کښں که هر طرف ته انسان مخ واړوی نو که هغه الله ته متوجه وی نو د هغه مخ به الله طرف ته وی۔ مطلب دا دے چه که دا شیے یهود او نصاریٰ د عبادت خانو او مساجدو د نړولو سبب جوړ کړے دے نو دا د دوی جهالت او کم عقلی ده۔ د سمتونو او جهتونونه د هیڅ یو سمت او جهت هم د الله پورے اختصاص او خصوصیت نشته ۔ دوی که بیت المقدس قبله جوړه کړی او د هغے هر طرف ته مخ اړوی نو دوی الله ته مخ اړوی۔ د الله قدرت او د هغه د علم فراخی هر شی لره راګیرونکے دے))۔ آه۔ تدبر قرآن ۱/۳۰۳)

﴿ وَلِلهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ﴾ یعنی هغه ئے مالك دے د هغه په لاس کښں دی۔[اَیْ خَلْقًا وَمِلْكًا وَعَبِیْدًا] (یعنی الله ئے خالق او مالك دے او دا ئے غلامان او تابع دی)۔

مشرق او مغرب ئے خاص کړل مراد ترے توله دنیا او ټول طرفونه دی۔ ځکه دا اصلی جهات

(طرفونه) دی او شمال او جنوب عارضی جهات دی۔ هغه ددے دواړو نه پیدا کیږی۔ دارنګه نیمه دنیا مشرق ده او نیمه مغرب ده۔

د وجه الله معنی

د (وجه الله) دوه معنے دی : **۱ - یوه معنیٰ** دا چه دا د متشابهاتو نه نهٔ دے ○ او مراد (قِبْلَةُ اللهِ) ده یعنی دلته د الله تعالیٰ قبله او مخه ده، یعنی که ته دغه طرفته الله ته متوجه شوے نو هم ستا مونځ اُوشو۔ دا تفسیر امام مجاهدؒ، حسنؒ، قتادهؒ او مقاتل بن حیانؒ کړیدے۔ وَجُه په معنی د قبلے سره۔○کلبیؒ معنیٰ کوی : [فَثَمَّ اللّٰهُ يَعْلَمُ وَيَرٰى] هلته الله دے چه پو هیږی او وینی) (بغویؒ) نو وجه په معنیٰ د توجه شوه۔ ○ بعض معنیٰ کوی : [فَثَمَّ رِضَا اللّٰهِ] هلته د الله رضا ده۔ نو وجه په معنیٰ د رضا ده۔ (بغویؒ)۔

او پدے باره کښ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په فتاوی (۱۹۳/۳) کښ وٍئیلی دی :

[وَلَيْسَتْ هٰذِهِ الآيَةُ مِنْ آيَاتِ الصِّفَاتِ وَمَنْ عَدَّهَا فِي الصِّفَاتِ فَقَدْ غَلَطَ كَمَا فَعَلَ طَائِفَةٌ لِاَنَّ السِّيَاقَ يَدُلُّ عَلٰى اَنَّ الْمُرَادَ الْجِهَةُ فَإِنَّ الْوَجْهَ هُوَالْجِهَةُ يُقَالُ اَىَّ وَجْهٍ تُرِيْدُهٗ ......الخ]

(او دا آیت د صفاتو د آیتونو نه نهٔ دے، چا چه په صفاتو کښ شمارلے دے نو هغه خطاء شویدے، لکه بعض کسانو دا کار کړیدے ځکه چه د آیت مخکښ روستو دلالت کوی چه دلته مراد د وَجُه نه جهت (طرف) دے ځکه په عربی ژبه کښ وَجُه په معنیٰ د جهت سره استعمالیږی، وٍئیلے شی اَیَّ وَجْهٍ تُرِيْدُهٗ یعنی ستا کوم طرفته اراده ده ؟)۔

بیائے خپله مناظره ذکر کړیده چه ددهٔ د جهمیه او د الله د صفاتو نه منکرینو سره مناظره وه چه دهٔ چیلنج ورکړو چه په قرآن او حدیث کښ د الله په صفاتو کښ هیڅ قسم تاویل د سلفو نه نهٔ دے ثابت، او درے میاشتے مهلت ئے ورکړو، درے میاشتے پس یو مجلس دائر شو چه په هغوی کښ یو تن اُووئیل: ما دلیل پیدا کړے۔ نو دهٔ ورته اُووئیل تا به دا آیت پیدا کړے وے (فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ) چه مجاهدؒ ددے تفسیر په قبلة الله سره کړیدے او دا تاویل بیهقیؒ په کتاب الاسماء والصفات کښ د مجاهدؒ نه نقل کړیدے۔ هغه اُووئیل آؤ، بیائے ورته اُووئیل چه دلته (وَجُه) د متشابهاتو نه نهٔ دے۔بلکه د وَجُه په عربی لغت کښ دوه معانی دی، کله مخ ته وائی او کله جهت ته۔ او دلته د سیاق نه معلومیږی چه جهت وغیره مراد دے آه۔

(د وجه معنیٰ په قبله سره کول هم جائز دی خو پدے شرط چه د الله مخ منی)۔

۲ - دویمه معنی :که دا د متشابهاتو نه شی هم څه نقصان نشته ځکه مطلب به دا وی : په دغه طرف مخ د الله دے۔ تهٔ چه کوم خوا مخ کړے الله تا ته مخامخ دے۔ دا مهٔ وایه چه الله تعالیٰ

تـه بـه ستا شا شی څکه هغه نور دے۔ مثال ئے په دنیا کښ ظاهراً داسے وی لکه ډیوه، رنړا۔ رنړا که هر طرفته لاړه شی نو تا ته ئے مخ وی۔
د آیت نـه معلومه شوه چه الله مخ لری۔ څنګه چه د هغه د شان سره لائق وی، ددے په حقیقت باندے هغه خپله ښه پو هیږی۔ خو قرآن او حدیث کښ دا راغلی دی چه د الله ښائسته مخ شته، خپے ئے شته، لاسونه ئے شته، اصابع (ګوتے) ئے شته، څنګه چه د هغه شان سره لائق وی او ډیر عظیم او ښکلے ذات دے۔
د الله تعالیٰ د اسماء او صفاتو پیژندل ډیر ضروری توحید او مُهم علم دے لیکن ډیر ادب او احترام بـه ساتلے شی۔ لکه صحابه کرامؓ چه به د الله تعالیٰ کوم صفت واوریدو نو د الله په باره کښ بـه ئے غلط تصورات او اعتراضات نهٔ پیدا کول۔ هغوی به واوریدل چه الله تعالیٰ آسمان د دنیا ته راکوزیږی نو دا اشکال به ئے نهٔ کولو چه په عرش باقی پاتے کیږی او که نهٔ۔ دارنګه یَدُ الله (د الله لاس) څـنګـه دے؟۔ دا خبرے په هغوی کښ نهٔ وے۔او پدے کښ تاویل کول د هغے نه انکار دے او د الله تـعالیٰ د صـفاتو نه به په خپل ګمان سره انکار نشی کیدے لکه جهمیه او معطله ؤ چه د الله د اسماء او صفاتو نه انکار کریدے، سلفو صالحینو نورو مبتدعینو ته کافران نهٔ دی وئیلی او جهمیه ؤ ته ئے وئیلی دی څکه چه د دوی عقیده د الله د صفاتو په باره کښ ډیره خرابه وه۔ امام بخاریؒ او ابو داودؒ په خپلو کتابونو کښ، دغه شان پنځه سوه علماؤ په هغه دور کښ د جهمیه ؤ په کفر فتوے ورکړے۔
دے نـه هم معلومیږی چه د اسماء او صفاتو عقیده پیژندل ډیر ضروری دی۔ د اسماء او صفاتو نـه د انـکار عـقیـده جَهُم بن صفوان راپیدا کړے وه چه دهٔ دا عقیده د جعد بن درهم نه اخستے وه چه دا یو بدعتی وو، د الله د صفاتو منکر وو، خالد بن عبد الله القسری ګورنر دا د لوئی اختر په ورځ ددے غلطے عقیدے په وجه ذبح کړے وو چه پدے سره د اهل سنتو زړونه یخ او ډیر خوشحاله شو۔ جعد بن درهم دا عقیده د ابن السمعان نه او هغه د ابن طالوت نه اخستے وه او ابن طالوت د لبید بن الاعصم یهودی نه اخستے وه چه دا د هغه خوریے وو۔ او لبید هغه ناولے انسان وو چه په نبی ﷺ ئے جادو کړے وو۔څوك چه د الله په اسماء او صفاتو کښ تاویلات کوی نو هغوی کښ ډیرے غلطے عقیدے پیدا شویدی چا کښ د وحدة الوجود عقیده راغله لکه ابن عربی، ابن السبعین، تلمسانی، بایزید بسطامی او حسین بن منصور الحلاج او بعض مشران د دیوبندیانو او د بعض نورو ډلو مشران چه الله تعالیٰ او مخلوق به ئے یو ګنړل۔ او ددے دپاره ئے دا طریقے خودلی دی چه (العیاذ بالله) الله تعالیٰ به یو دریاب فرض کړے او څان به یو څاڅکے د

دریاب اوگنړے۔

دارنګه ددے تاویلاتو په وجه د الله د وجود نه انکار راځی۔ بعض متکلمین وائی : الله نهٔ بره دے او نهٔ خکته او نهٔ بنی او نهٔ ګس طرفته دے۔بلکه د معدوم تصورئے کړیدے۔جهمیه وائی : (العیاذ بالله) د الله نهٔ علم شته او نهٔ حیاة او نهٔ قدرت۔ او نهٔ ئے کلام شته او نهٔ الله په آخرت کښ لیدلے شی۔

جامع الرسائل لابن تیمیه ص (۲۱۷) واجتماع الجیوش الاسلامیة ۱/۶۳) لابن القیمؒ۔

﴿ إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ واسع : ۱- ددے یو معنیٰ د فعل متعدی ده، په معنیٰ د مُوسِع سره یعنی په دینی احکامو او نورو څیزونو کښ په بندګانو فراخی راوستونکے۔

۲- فراخه علم والا دے۔ نو دا صفت په اعتبار د علم سره دے۔

۳- فراخه رحمت او ورکړے والا دے۔ ٤- فراخه فضل والا دے۔

۵- واسع المغفرة (فراخه بخنے والا) دے۔ (قرطبی)۔

فائده : د واسع او علیم حواله ئے ورکړه، دے ته اشاره ده چه انسان هر ځائے وی او مونځ او عبادت کوی نو الله تعالیٰ ورسره په علم او قدرت دے ځکه چه هغه واسع دے او علیم دے۔

وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَانَهُ ۖ بَل
او وائی دوی چه نیولے دے الله بچے (نازولے)، پاك دے الله تعالیٰ (د بچی نیولو نه) بلکه
لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ ﴿۱۱٦﴾
د هغهٔ په اختیار کښ دی هغه څهٔ چه په آسمانونو او زمکه کښ دی، ټول د هغهٔ تابعدار دی۔

تفسیر : اُوس الله د دوی بله بدی بیانوی چه دا یهود او نصاریٰ ځان جنتیان هم ګنړی او مینځ کښ الله له اولاد وائی، یهود وائی عزیر علیه السلام د الله ځوی دے، او نصاریٰ وائی عیسیٰ علیه السلام د الله ځوی دے او مشرکانو کښ هم دا مرض دے۔ هغوی وائی (اَلْمَلَائِكَةُ بَنَاتُ اللهِ) ملائك د الله لونړهٔ دی۔ نو د دوی نه هم د اِلٰه په تصور کښ فتور او نقصان راغلے دے او دوی د دین د اساس یعنی د عقیدهٔ توحید نه اَوړیدلی دی کوم چه د ټولو رسالتونو او نبوتونو بنیادی او صحیح تصور وو، هغه دوی خراب کړو او د الله تعالیٰ د ذات او صفاتو په باره کښ د نورو جاهلی تصوراتو سره ملاؤ شو۔ نو الله تعالیٰ د دوی دا تصور غلط ثابتوی او د دوی تکذیب کوی چه دوی دروغ وائی، الله تعالیٰ د دوی د باطلو دعوو نه پاك دے۔ د آسمان او زمکے ترمینځ چه څهٔ دی، هغه ټول د الله تعالیٰ مملوك او بندګان دی او الله تعالیٰ ته عاجزی او انکساری کوی، نو د بندګانو نه یو څوك د الله بچے څنګه کیدے شی؟!، اولاد خو د دوو

متناسب ذاتو د ارتباط نه پیدا کیږي او د الله هیڅوك شریك او نظیر (مشابه) او مثل نشته، او نهٔ د هغه بي بي شته نو څنګه د الله ځوی پیدا کیدے شي ؟!۔

د صحیحینو په روایت کښې دي چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((د الله نه زیات څوك صبر کونکے نشته چه د اذیت (ضرر) خبرے اَوري، خلق وائي، الله ځوی نیولے دے بیا هم الله هغوی ته رزق ورکوي او عافیت سره ئے ساتي)) ۔

په صحیح بخاري کښې د ابن عباسؓ په حدیث کښې دي، الله تعالیٰ فرمائي : ((بنده زما تکذیب کوي او دهٔ لـه دا نهٔ دي پکار اوما ته کنځل کوي او دهٔ له دا نهٔ دي پکار، هرچه ددهٔ تکذیب دے ما لره نو دا عقیده لري چه زهٔ قادر نهٔ یم پدے چه دے دوباره راژوندے کړم لکه څنګه چه مخکښې پیدا شوے وو۔ او هرچه کنځل ددهٔ دي ما ته نو ددهٔ دا وینا ده چه ما اولاد نیولی دی، حال دا چه زهٔ پاك یم ددے نه چه زهٔ ښځه او اولاد ځان له اُونیسم)) ۔

زمونږ بعض مشائخ وائي : پدے آیت کښې هم یهود او نصاریٰ او مشرکینو ته په عقیده د اتخاذ الولد باندے زجر دے چه دوی د الله تعالیٰ دپاره د اولادو قائل دي۔ او د شپږمے شبهے جواب دے چه هرکله قرآن کریم کښې ځائے په ځائے د عامو انبیاء علیهم السلام او خصوصاً د عیسیٰ علیه السلام او د ملائکو عبدیت او عجز بیان شونو دوی اعتراض اُوکړو چه تاسو د الله د انبیاؤ او ملائکو بے ادبي کوئ، تاسو ورته بندګان وایئ او حال دا چه دا خو د الله تعالیٰ اولاد (یعنی نازولي) دي۔ نو جواب اُوشو چه ستاسو دا خبره غلطه ده او الله تعالیٰ ددے نه پاك دے او دا په اصل کښې الله تعالیٰ ته کنځل کول دي۔ لکه حدیث قدسي کښې دي۔ الله تعالیٰ فرمائي: ((بنیادم ما ته کنځل کوي دا وائي چه ما ولد نیولے دے او حال دا چه زهٔ صمد (بے حاجته) ذات یم، زما اولاد او پلار، او مثل هیڅوك نشته (صحیح بخاري)

او الله ددے بدو نسبتونو نه پاك دے۔

ربط : دوی ځان ته جنتیان وائي او حال دا چه عقیده ئے غلطه ده، الله تعالیٰ ته د اولادو نسبت کوي۔

﴿اِتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا﴾ ولد په دوه قسمه دے (۱) یو ولد حقیقي چه د هغه نه پیدا وي، نو یهود او نصاریٰ او مشرکانو د الله په باره کښې داسے نهٔ وئیل، د ډیرو کمو جاهلانو به دا عقیده وه۔

(۲) دویم ولد حکمي دے چه د الله تعالیٰ دپاره بعض بندګان د بچو په شان اُوګڼړي او دا د عامو مشرکانو عقیده وه ځکه عامو مشرکانو او یهود او نصاراؤ الله تعالیٰ لره حقیقي اولاد نهٔ ګڼړل بلکه حکمي اولاد ئے ګڼړل چه دیته وَلَدُ حَنُوٍ وَشَفَقَةٍ وائي، یعنی د مینے او شفقت بچے ئے نیولے دے۔ چه دیته نازولے وائي یعنی لکه څنګه چه یو بچے نازولے وي، پلار ته ډیر ګران وي، پلار د

هغه خبره نهٔ غوررزوی نو هغه په پلار باندے مجبوراً بعض کارونه کوی نو د دوی هم دا عقیده وه چه عیسٰی او عزیر او ملائك علیهم السلام او زمونږ معبودان (باباگان) د الله نازولی دی، او دوی به زمونږ دپاره سفارش کوی او په الله تعالیٰ به مونږ په زوره بخښی۔ زمونږ ددے زمانے مسلمانان مشرکان وائی دا اولیاء د الله تعالیٰ نازولی دی نو دا هم په اِتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا کښې داخلیږی۔
علامه آلوسیؒ وغیره لیکی : [وَالْاِتِّخَاذُ صَرِيْحٌ فِي التَّبَنِّيْ] د اتخاذ لفظ پدے باندے صراحةً دلالت کوی چه مراد د ولد نه د بچی په شان نیول دی یعنی نازولے مراد دے او حقیقی بچے نهٔ دے مراد۔
دارنگه په بچی کښې خصوصیت دا وی چه د پلار نه په بعض کارونو کښې نائب وی، بعض اختیارات ئے هغه ته سپارلی وی، نو دغه شان الله تعالیٰ دے کسانو ته څه اختیارات سپارلی دی۔
دغه شان په بچی کښې د پلار بعض آثار او صفات ښکاره کیږی نو په عزیر علیه السلام او عیسٰی علیه السلام او ملائکو کښې هم (د دوی په نیز) د اُلوهیت څه صفات ښکاره شوی دی۔
نیشاپوریؒ لیکلی دی : چه یهودیانو عزیر علیه السلام د الله د عِلمونو مَظْهَر (ځائے د ښکاره کیدو) گنړلو چه الله تعالیٰ دهٔ ته خپل تول عِلمونه خودلی دی، ددے وجه نه ئے ورته ابن الله (د الله ځوی) وئیلو او نصاراؤ عیسٰی علیه السلام د اُلوهیت د تصرفاتو مَظهر گنړلو چه الله تعالیٰ دهٔ کښې د اُلوهیت او قدرت او تصرف صفات راښکاره کړیدی نو ځکه ئے ورته ابن الله وئیلو۔ [النیسابوری ٤/١٣٤]
بعض مفسرینو لیکلی دی چه دوی دا عقیده د کوم ځائے نه پیدا کړے وه چه د الله تعالیٰ دپاره اولاد وائی ؟ نو ددے منشأ دا وه چه په پخوانو کتابونو کښې لکه انجیل وغیره کښې به د الله دپاره لفظ د اب (پلار) استعمالیدو، عیسٰی علیه السلام اُووئیل : [اَنَا ذَاهِبٌ اِلٰى اَبِيْ] زهٔ پلار خوا ته تلونکے یم)۔ نو روستو جاهلان راغلل او د هغوی غلط تصور جوړ شو او ددے نه ئے حقیقی او طبیعی ولادت مراد کړو، نو پدے وجه زمونږ په شریعت کښې د د اسے الفاظو د استعمالولو نه منع اُوشوه کما قال الراغبؒ۔

[تفسیر القاسمی ١/٣٥٢] والنیسابوری، والماوردی فی النکت]

نو الله تعالیٰ په دوی باندے په درے طریقو سره رد کوی یو دا چه (سُبْحَانَهٗ) الله تعالیٰ د هر قسم نقصان او عیب نه پاك دے، او الله تعالیٰ دپاره حقیقی ولد کیدل یا نازولے نیول د هغه د الوهیت نقصان او عیب دے۔ او ددے وجه دا ده چه ولدیت تقاضا د جنسیت کوی او جنسیت مستلزم دے حدوث لره او حدوث د الوهیت سره منافی دے۔ دویم دا چه ولدیت مستلزم دے احتیاج لره او الله تعالیٰ د احتیاج نه پاك دے۔
د علی رضی الله عنه نه نقل دی چه دهٔ بعض نصاراؤ ته اُووئیل : [لَوْلَا تَمَرُّدُ عِيْسٰى عَنْ عِبَادَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ

لَصِرْتُ عَلٰى دِيْنِهٖ] كه عيسىٰ عليه السلام د الله د عبادت نه انكار نهٔ كولے نو زهٔ به د هغه په دين شوے وے) نو نصراني اُووئيل : عيسىٰ ته ددے نسبت څنګه صحيح كيدے شي حال دا چه هغه خو به د الله په طاعت كښ ډير كوشش كولو ؟- نو علىؓ ورته اُوفرمايل : [فَاِنْ كَانَ عِيْسٰى اِلٰهًا فَكَيْفَ يَعْبُدُ غَيْرَهٗ] هركله چه عيسىٰ اِلٰه شو نو بيا د بل چا عبادت څنګه كوى؟)، عبادت خو صرف د بنده سره لائق وى او تاسو خو ورته اله وايئ نو نصراني غلے پاتے شو- (نيشاپورى)

○ دارنګه ولديت تجزى (جزء جوړيدل) غواړى او دا د الوهيت منافى دى-

○ دارنګه ولديت په بعض صفاتو كښ تشبه غواړى ځكه ولد په بعض صفاتو كښ ضرور د والد سره مشابه وى او الله تعالىٰ د تشبيه نه پاك دے- ٥- دارنګه پلار والے او ځوى والے زوال او فنا غواړى ځكه چه څوك بچى نيسى نو د هغهٔ مقصد دا وى چه زهٔ به نهٔ يم دا به زما په ځائے كار وركوى او الله تعالىٰ د زوال نه پاك دے- (روح المعانى، احسن الكلام)

عمر فاروق رضى الله عنه به فرمائيل : [اِسْتَذِلُّوْهُمْ وَلَا تَظْلِمُوْهُمْ فَاِنَّهُمْ سَبُّوا اللهَ سُبَّةً مَا سَبَّهٗ اَحَدٌ مِثْلَهُمْ]-(تاسو نصارىٰ ذليله كړئ او ظلم پرے مه كوئ ځكه دوى زمونږ الله ته ډيرے بدے كنځلے كړى دى چه هيچا دومره نهٔ دى كړى)، الله ته ئے د اولادو نسبت كړے دے-

(اغاثة اللهفان ٢/٢٨٣ وبدائع التفسير)-

﴿ بَلْ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ﴾ دا دويم رد دے يعنى آسمانونو او زمكه كښ ټول مخلوق د هغه په تصرف او بادشاهئ كښ داخل دى، او د هغه مخلوق او غلامان دى، او دا صفات د ولديت سره منافى دى ځكه چه ولد ته مملوك او رعيت او مرئيے نشى وئيلے- او ما فى السموات والارض كښ عيسىٰ، عزير او ملائك عليهم السلام ټول داخل دى-

﴿ كُلٌّ لَهٗ قٰنِتُوْنَ ﴾ دا دريم رد دے يعنى دا ټول د الله تعالىٰ د حكم تابع او منقاد دى، او قيامت كښ به د هغه مخے ته اُودريږى- بچے خو خلق دے له غواړى چه څهٔ توره پرے اُوكړى، دشمن پرے اُووهى- او الله ته ټول مخلوق عاجز دے نو د هغه بچى ته څهٔ ضرورت ؟!-

د قنوت معنىٰ تابعدارى او اطاعت ده، د ملائك، انبياء او نيكانو خلقو قنوت شرعى دے چه الله ته سجده كوى او د هغه عبادات كوى- او د عامو څيزونو قنوت (تابعدارى) تكوينى ده- د الله د امر تابع دى، الله چه پرے څهٔ كوى نو كولے شى-

قرطبىؒ او ابن كثيرؒ وغيره د قنوت ډيرے معانى ذكر كړيدى : طاعت، په عبادت كښ اُودريدل- سكوت (غلے كيدل)، خضوع، انقياد، اخلاص، استكانة (عاجزى) صلاة (مونځ) او د بندګئ اقرار كول- كله اُوږد قيام، كله قراء ة او كله دعاء او كله هغه دعاء ته هم وائى چه د وترو پورے خاص ده-

دلته ئې معانی دا دی : (۱) حسنؒ وائی : کُلٌّ لَهٗ قَائِمٌ بِالشَّهَادَةِ عَلٰی اَنَّهٗ عَبْدٌ لَّهٗ). دا ټول الله تعالیٰ ته پدې ګواهئ ولاړ دی چه دوی د الله بندګان دی.

(۲) کُلٌّ لَهٗ قَائِمٌ یَوْمَ الْقِیَامَةِ. (ربیع بن انسؒ).

دا ټول به الله تعالیٰ ته د قیامت په ورځ اُودریدونکی وی. لکه الله فرمائی : ﴿یَوْمَ یَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِیْنَ﴾ (المطففین) ټول خلق به رب العالمین ته د حساب دپاره اُودریږی.

(۳) کُلٌّ لَهٗ مُقِرُّوْنَ بِالْعُبُوْدِیَّةِ اِمَّا قَالَةً وَاِمَّا دَلَالَةً) (عکرمة والسدیؒ).

دا ټول الله دپاره د خپلے بندګئ اقرار کوی یا په وینا سره یا د هغوی په حالت سره).

(٤) بعض وائی: مُذَلَّلُوْنَ مُسَخَّرُوْنَ لِمَا خُلِقُوْا لَهٗ. (کوم مقصد له چه پیدا دی نو هغے ته تابعدار دی). (قرطبی ۱٤/۱٦۱ والبغوی ۱/۱٤۱)

فائده : په اول کښ ئې (مَا) کلمه راوړه چه اکثر د غیر ذوی العقولو دپاره استعمال ده پدے کښ مقام د اُلوهیت ته اشاره ده او پدے کښ عقلاء په منزله د جماداتو دی. او په دویم کښ ئې (قَانِتُوْنَ) د ذوی العقولو جمع راوړه پدے کښ مقام د عبودیت ته اشاره ده او پدے کښ جمادات په منزله د عقلاؤ دی. (روح المعانی)

بَدِیْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِذَا قَضٰٓی اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ کُنْ فَیَکُوْنُ ﴿۱۱۷﴾
ناشنا پیدا کونکے د آسمانونو او د زمکے دے، او کله چه فیصله کوی د یو کار نو وائی هغے ته چه شهٔ نو هغهٔ اُوشی.

تفسیر : دا څلورمه طریقه د رد ده چه الله تعالیٰ د بغیر د مثال نه د آسمانونو او زمکو موجودونکے دے نو د هغه اولادو ته څهٔ ضرورت دے!!. عیسیٰ او عزیر او ملائك علیهم السلام ټول هم ددے ګواهی کوی چه آسمانونه او زمکه الله تعالیٰ پیدا کړیدی.

ابن جریرؒ او ابن کثیرؒ وائی چه پدے کښ یو قسم اشاره ده چه کوم ذات آسمانونه او زمکے بغیر د مثال نه نوی پیدا کړیدی همدغه ذات عیسیٰ علیه السلام لره بغیر د والد نه په خپل قدرت پیدا کړیدے. نو هغه د الله مخلوق دے، والد نهٔ لری. نو هغه څنګه د الله ځوی کیدے شی ؟!.

آلوسیؒ وائی : الله فاعل دے علی الاطلاق، په ځیزونو کښ اثر کوی، هغه منفعل نهٔ وی یعنی اثر نهٔ قبلوی او والد خو منفعل وی ځکه چه د هغه نه ماده ولد ته نقل شوی وی، نو د الله څنګه ولد راشی ؟!.

(بَدِیْعُ) الله ته بدیع ځکه وائی چه مخکښ د آسمانونو او زمکو مثال نهٔ وو او بے مثاله ئې پیدا کړل. [اَیْ خَالِقُهُمَا مِنْ غَیْرِ مِثَالٍ سَبَقَ] (مجاهد والسدی) (ابن کثیر)

(آسمان او زمکے لره بغیر د مخکنی نمونے او مثال او نقشے نه ابتداءً پیدا کونکے دے)۔
علامه آلوسیؒ د امام راغبؒ نه نقل کوی : [مُوْجِدُهُمَا بِغَيْرِ آلَةٍ وَّلَا مَادَّةٍ وَّلَازَمَانٍ وَّلَامَكَانٍ] (یعنی آسمان او زمکه ئے بغیر د آلے، مادے، زمانے او مکان نه پیدا کړیدی)۔

د بدعت پیژندنه

بدیع لفظ په قرآن کریم کښ دوه کرته استعمال دے۔ یو ځل دلته او بل سورة انعام (۱۰۱) آیت کښ۔ بدیع د بدعت نه ماخوذ دے، په لغت د عربو کښ بِدْعَةٌ، اِبْدَاعٌ، بَدْعٌ یو شے بغیر د نمونے او مثال نه ابتداءً (نوی) پیدا کولو ته وائی، او مبدع او بدیع هغه چا ته وائی [اَلْمُنْشِئُ وَالْمُحْدِثُ مَا لَمْ يَسْبِقْهُ اِلٰى اِنْشَاءِ مِثْلِهٖ وَاِحْدَاثِهٖ أَحَدٌ] (ابن کثیر) (هغه شے راپیدا کونکے چه د هغے په شان مخکښ چا پیدائش نهٔ وی کړے)۔ او دیته فاطر هم وائی۔
او بدعت په دین کښ یو نوے شے پیدا کول چه د هغے تائید په قرآن او سنت کښ نهٔ وی او انسان ئے ثواب او دین گڼړی لکه په حدیث د سُننو کښ دی (كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ) (په دین کښ هر نوے کاز پیدا کول گمراهی ده) او حدیث کښ دی : «چا چه زمونږ په دین کښ یو نوے کار پیدا کړو چه د دین نه ئے اصل (دلیل) نهٔ وی نو هغه مردود دے»۔(صحیح مسلم)۔
بدعت په دوه قسمه دے : لغوی او شرعی۔ لغوی بدعت مخکښ تیر شو چه یو نوے شے پیدا کولو ته وائی۔ پدے کښ حسنه او سیئه (ښه او بد) دواړه شته، مثلاً که ناروا کارونه پیدا کړی، د گمراهی سامان جوړ کړی نو دا سیئه شو او که ښه شے ایجاد کړی لکه لاوډ سپیکر، جهاز موټر وغیره۔ او دین ئے نهٔ گڼړی نو دا حسنه شو۔ یا د دین د ترقئ ذرائع لکه تصنیف او تالیف او مدارس جوړول نو دا که بعینهٖ دین نهٔ گڼړی صرف د دین د ترقی ذریعه ئے گڼړی نو دا بدعت حسنه شو۔او دیته بدعتِ لغوی او بدعت للدین وائی۔ لکه سیدنا عمر فاروقؓ چه کله ملگری په تراویحو کښ په جماعة سره راجمع کړل او بیا ئے اُووئیل :(نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهٖ) (ډیره ښه او ناشنا کارنامه مے اُوکړه)۔نو دا بدعت لغوی دے ځکه چه تراویح او په هغے کښ جماعت کول د نبی ﷺ نه ثابت وو لیکن په یو امام راجمع کول ناشنا کارنامه وه ځکه چه د نبی ﷺ د زمانے نه روستو به خلقو تراویح یواځے یواځے کولے خو عمر رضی الله عنه راجمع کړل۔ نو دا یوه نوے کارنامه وه۔او ددے دپاره په دین کښ اصل شته۔
(۱) دویم بدعت شرعی دے [اِحْدَاثُ فِعْلٍ اَوْمَقَالٍ عَلٰى غَيْرِ مِثَالٍ سَابِقٍ فِى الدِّيْنِ] په دین کښ یو نوے کار یا خبره راپیدا کول چه د هغے مثال مخکښ په دین کښ نهٔ وی) یا [مَا لَا اَصْلَ لَهٗ فِى الشَّرْعِ] (هغه شے راپیدا کول چه د هغے په دین کښ هیڅ اصل او دلیل نهٔ وی موجود)

علامه شاطبیؒ ئے داسے تعریف کوی : [اَلْبِدْعَةُ: طَرِيقَةٌ فِي الدِّيْنِ مُخْتَرَعَةٌ تُضَاهِي الشَّرِيْعَةَ يُقْصَدُ بِالسُّلُوْكِ عَلَيْهَا الْمُبَالَغَةُ فِي التَّعَبُّدِ لِلّٰهِ سُبْحَانَهُ]. بدعت په دین کښې یوه نوې طریقه پیدا کولو ته وائی چه هغه د شریعت سره مشابه وی او په هغه طریقه باندې عمل کولو کښې مقصد دا وی چه د الله تعالیٰ په بندګئ کښې مبالغه او زیادت اُوکړے شی)۔

او دیته بدعت حقیقی هم وائی۔لکه د خوارجو بدعت شو چه په دین کښې ئے غلطې عقیدې پیدا کړیدی، مسلمانانو ته کافر وائی۔ او جهمیه شو چه د الله تعالیٰ د اسماء او صفاتو منکرین دی، او شیعه ګان شو چه علی رضی الله عنه ته اِلٰه وائی۔

دارنګه د قبرونو نه طوافونه کول، جنډې، او غلافونه پرې اچول، ګنبدونه پرې جوړول او هغې کښې عرسونه او میلادونه کول او هلته چهلې ویستل، دا ټول د شریعت خلاف دی۔ او پدې قسم بدعت کښې حسنه او سیئه نهٔ وی بلکه دا ټوله ګمراهي ده۔ او په (كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ) کښې داخل دی۔ دا به کله مُکَفِّره بدعت وی (چه انسان به کفر ته رسوی) او کله به غیر مُکفره وی چه انسان به کفر ته نهٔ رسوی لیکن ګناهِ کبیره به وی۔

بعض خلق دا قسم بدعت حسنه او سیئه ته تقسیموی او دا چالاکی کوی وائی چه (كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ) موجبه کلیه ده چه عکس ئے (بَعْضُ الْبِدْعَةِ لَيْسَ بِضَلَالَةٍ) راځی۔ لیکن مونږ وایو چه دا تقسیم هم بدعت دے، علماؤ دا په بدعاتو کښې شمارلے دے۔ اُوګوره السنن والمبتدعات۔

او پاتے شوه دغه عکس راتلل نو مونږ وایو چه د تحقق د عکس او نقیض دپاره خو شرط دا دے چه یوه قضیه به صادقه وی او بله به کاذبه وی، دواړه صادقې کیدې هم نشي او دواړه کاذبې کیدې هم نهٔ شی، نو آیا د رسول الله ﷺ (كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ) صادقه اُوګنړو او که د ځان نه جوړه شوې (بَعْضُ الْبِدْعَةِ لَيْسَ بِضَلَالَةٍ) صادقه اُوګنړو ؟! ښکاره خبره ده چه كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ صادقه ده نو بل طرف کاذب شو۔ لهٰذا پدې کښې بعینهٖ رد دے پدې خبره چه په بدعت کښې تقسیم نشته۔

(۲) یو بل قسم د بدعت، بدعت اضافي دے چه د یو عبادت او د عمل اصل په دین کښې ثابت وی لیکن د هغې مقدار یا هیئت یا د وخت تخصیص د ځان نه بے دلیله مقرر کړی او بیا دیته ثواب وائی۔ لکه احتیاطی مونځونه کول، قضاء عمری کول، خاص د جُمعې په شپه صدقات کول، سنت او فرضواو جنازو نه روستو په اجتماعی شکل سره دعاګانې کول او بیا پدې باندې التزام او دوام کول او د فدیئې دپاره حیله اسقاط کول، ذکرونه په چغو سره کول او د اذان نه مخکښې په جهر سره درودونه ویل دا ټول هلاکونکی بدعات دی۔ دارنګه د سنت طریقو شکلونه بدلول۔ بدعت د شرك یو جال دے چه اکثر انسان شرك ته راکاږی ددے وجه نه اکثر

مبتدعين مشركان وي. او ابليس ته بدعت په تولو ګناهونو کښې ډير خوښ وي ځکه چه خلق ترې توبه نهٔ اُوباسي هغه ثواب ګڼړي.

﴿ وَاِذَا قَضٰی اَمۡرًا ﴾ دا پنځم رد دے چه هرکله الله تعالیٰ په خپلو ارادو پوره کولو کښې اسبابو ته حاجت نهٔ لري او هيڅ مراد د هغه د ارادے نه نشي روستو کيدے او نهٔ مخالف کيدے شي نو د هغه ولد حقيقي يا نازولي ته هيڅ حاجت نشته. د هغهٔ چه کله يو کار ته اراده اُوشي نو سمدست شوے وي. او پدے کښې رد دے چه عيسیٰ عليه السلام هم بغير د پلار نه په کلمه د کُنۡ پيدا دے. او دغه ملائك په کلمه د کُنۡ پيدا دي، او عزير عليه السلام هم د الله مخلوق او پيدا شوے بنده دے نو هغه کله د الله تعالیٰ نازولے کيدے شي؟!.

قَضٰی : کله په معنیٰ د (۱) د دوه کسانو ترمينځ فيصله کولو سره وي.

(۲) کله په معنیٰ د حکم سره وي [وَقَضَيۡنَا اِلٰی بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ﴾ (الاسراء: ۳).

(۳) کله په معنیٰ د ارادے سره وي لکه دلته ئے دا معنیٰ ده.

(٤) کله په معنیٰ د بيان سره وي. لکه قرطبیؒ ددے اته معاني ذکر کړيدي. او بيا ئے وئيلي دي چه ددے تولو رجوع دے ته کيږي چه يو شے سرته اُورسيږي او منقطع شي. دا اصل معنیٰ د قَضٰی ده.

اَمۡرًا : امر کله چه معنیٰ د دين سره وي لکه : [مَنۡ اَحۡدَثَ فِیۡ اَمۡرِنَا] (مسلم) ﴿ وَاِسۡرَافَنَا فِیۡۤ اَمۡرِنَا ﴾ (آلعمران ۱٤٧) (۲) کله په معنیٰ د حکم سره وي. (۳) کله په معنیٰ د شان سره وي. قرطبیؒ ددے څوارلس معاني ذکر کړيدي. دلته د امر نه مراد هر کار او فعل دے.

﴿ فَاِنَّمَا يَقُوۡلُ لَهٗ کُنۡ فَيَکُوۡنُ ﴾ بعض متکلمين وائي : د الله قول او وينا او خبرے نشته نو د يو شي د موجودولو په وخت هغے ته څنګه کُنۡ اُووائي؟. نو ددے وجه نه هغوي پدے کښې دا تاويل کوي چه کُنۡ لفظ د ارادے متوجه کولو نه کنايه ده يعني اراده ورته متوجه کړي. دا تاويل غلط دے، وجه دا ده چه اراده متوجه کول د الله تعالیٰ جدا صفت دے. او کُنۡ لفظ استعمالول جدا صفت دے الله تعالیٰ د (کُنۡ) کلمه استعمالوي.

سوال: يو شے به يا موجود وي يا به معدوم (نشت) وي که موجود وي او خطاب ورته کوي چه کُن (شه) دلته تحصيل د حاصل دے چه بے فائدے کار دے. او که شے معدوم (نشت) وي نو نشت ته څنګه خطاب اُوشي چه شهٔ؟

جواب دا دے چه معدوم دوه قسمه دے (۱) يو معدوم حقيقي دے چه الله ئے بالکل نهٔ موجودَوي او د هغه د وجود اراده ئے نهٔ وي کړي نو دے ته کُنۡ لفظ نهٔ استعمالوي. او دويم معدوم په درجه د امکان کښې وي چه الله تعالیٰ ئے اراده کړے وي چه موجود شي نو هغے ته خطاب

کیږی، دا مَاحَضَرَ فِيْ عِلْمِ الله ته خطاب دے۔ یعنی کوم شے چه د الله تعالیٰ په علم کښ وی او د هغے د موجودولو اراده ئے کړی وی چه زۀ ئے موجودوم نو هغے ته خطاب اُوکړی چه ایے شیه ! موجود شۀ نو هغه سمدست موجود شی، او د الله د ارادے نه د هغے تخلف نۀ کیږی۔او دا معدوم محض نۀ دے۔بلکه معلوم ته خطاب شو۔ او ددے مثال داسے وی لکه یو مصنف چه کله کتاب لیکی نو په خطبه کښ اُووائی (فَهٰذَا کِتَابٌ) (دا کتاب دے) او حال دا چه کتاب ئے لا نۀ وی لیکلے مخکښ وائی دا یو کتاب دے یعنی دا زما ذهن کښ چه کوم علوم او معارف موجود دی دا یو کتاب دے۔

ددے نه داسے تعبیر هم کیدے چه شے په دوه قسمه دے یو موجود خارجی وی او بل موجود علمی او ذهنی وی، دلته هغه شے اگرکه موجود خارجی نۀ دے بلکه موجود عِلمی دے نو خطاب ورته صحیح دے۔

دویم جواب: قرطبیؒ او ماوردیؒ وغیره وائی چه ددے مقصد دا وی چه هر شے د الله په امر سره موجودیږی او د هغه امر نه نۀ مخکښ موجودیدے شی او نۀ روستو کیدے شی۔

فَیَکُوْنُ: نو کوم شے چه د الله تعالیٰ په علم کښ حاضر دے هغه خارج ته رابهر شی او موجود شی۔ (فَیَکُوْنُ) دا خبر د مبتداء دے ای فَهُوَ یَکُوْنُ۔(یعنی هغه شے موجود شی) او دا جواب د امر نۀ دے۔

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَايَعْلَمُوْنَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللهُ اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ
او وائی هغه کسان چه نۀ پو هیږی، ولے خبرے نۀ کوی مونږ سره الله تعالیٰ، یا ولے نۀ راځی مونږ ته یوه معجزه
كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ تَشَابَهَتْ
(نبیه په رسالت ددۀ) دغسے وئیلی دی هغه کسانو چه د دوی نه مخکښ وو، د دوی د خبرو په شان۔ مشابه شویدی
قُلُوْبُهُمْ قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۱۱۸﴾
زړونه د دوی (د یوبل سره)، یقیناً مونږ بیان کړی دی (ډیر) آیتونه (نښے) د هغه خلقو دپاره چه یقین لری۔

تفسیر : عنوان د آیت دے : [اَلزَّجْرُ لِمَنْ یُّطْلُبُ خَوَارِقَ الْعَادَاتِ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ]۔
(پدے آیت کښ زجر دے هغه چا ته چه د نبی ﷺ نه د ناشنا څیزونو راوړلو مطالبه کوی)

ربط : هرکله چه الله د یهودو او د نصاراؤ او ورسره د مشرکانو د باطلو عقیدو تصحیح اُوکړه، نو اُوس (بنا په یو قول) د مشرکانو اقوال راځلی کوم چه د مقام د اُلوهیت خلاف دی او د اهل کتابو د عقائدو او اقوالو سره مشابه دی۔

هرکله چه د یهودیانو او مشرکانو نورې خبرې ختمې شوې، الله تعالیٰ بنهٔ راګیر کړل نو په آخره کښې ئې دا اُووئیل چه ستا نبوت به مونږه هله منو چه ستا رب مونږ سره مخامخ خبرې اُوکړي، یا داسې معجزه راوړه چه مونږه ئې غواړو نو مونږ به هله اُومنو. نو الله تعالیٰ ورله پدې خبره رد کوی او زجر ورکوی چه یهود او نصاراؤ هم داسې مطالبه کړې وه نو دا مشرکین د قریشو په غلطو مطالبو کښې د یهودو او نصاراؤ سره مشابه دی. ایمان نهٔ راوړي، معجزات او نخې صرف د تعنت او ضد په طریقه غواړي، ولې که دوی ایمان راوړې نو د ایمان د راوړو او د رسول الله ﷺ او د قرآن په صدق او رشتین والي مونږ ډیر واضحه دلائل او معجزات بیان کړیدی هغه د دوی د ایمان دپاره کافي دي.

نو الله دا یهود او مشرکان ټول ځان ته مخاطب کړي دي. او دا ټول ئې راګیر کړي دي خو اول مقصود پکښې یهود دي او نصاریٰ پکښې ضمناً داخل دي او بیا پکښې مشرکان هم داخل دي. ځکه دا ټول یو شان دشمنان دي.

د مفسرینو درې اقوال دي چه د دوی نه څوك مراد دي؟

۱- د ابو العالیهؒ، ربیع بن انسؒ، قتادهؒ او سدیؒ وغیره علماؤ رائې دا ده چه دا آیت د عربو مشرکانو په باره کښې نازل دې چه دوی د رسول الله ﷺ نه دا سوال کړې وو چه که تهٔ د الله رسول ئې نو الله مونږ سره ولې خبرې نهٔ کوی او ولې مونږ ته دا نهٔ وائی چه دا زما رسول دې، ددهٔ خبره اُومنئ. او دا آیت به د سورة الفرقان د آیت (۲۰) په شان وی چه هغې کښې فرمائي:

﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَاءَ نَا لَوْلَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ﴾

(وائی هغه کسان چه زمونږ د ملاقات امید نهٔ لري چه ولې مونږ باندې ملائك نهٔ نازلیږي یا ولې مونږ رب نهٔ وینو).

ددې رائې مطابق د (اَلَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ) نه مراد به یهود او نصاریٰ وي.

(۲) د امام مجاهدؒ رایه دا ده چه دا آیت د نصاراؤ په باره کښې نازل دې. او د(اَلَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ) نه مراد به یهودیان وي. او دا قول ابن جریرؒ غوره کړیدې لیکن پدې کښې نظر شته، دا د سیاق سره ډیر موافق نهٔ دې.

(۳) او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رافع بن حُریمله یهودی اعتراض کړې وو. نو دا آیت نازل شو. حافظ ابن کثیرؒ او شوکانیؒ اول قول ته ترجیح ورکړیده. او مطلب به دا وی چه الله پدې آیت کښې مشرکین عرب مشابه کړل د یهودیانو او نصاراؤ سره په طلب د هغه څیزونو کښې چه د هغې طلب صحیح نهٔ دې.

لیکن غوره دا ده چه آیت عام دے هر چا ته شامل دے، یهودی وی که نصرانی او که مشرك وی او غلطے مطالبے کوی نو الله تعالیٰ د هغے جواب ورکوی۔ او د (اَلَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ) نه مراد مخکنی کفار دی چه د انبیاؤ نه به ئے د خپلے مرضیٔ مطابق معجزات غوختل، یعنی دا روستنی کفار د مخکنو کافرانو په شان دی، زړونه ئے په کفر کښں او په غلطو مطالباتو کښں یو شان شویدی۔ مخکنو کافرانو چه کوم اعتراضونه او ضدونه کړیدی نو دا روستنی ئے هم هغسے کوی۔

﴿لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ دا اولنے رد دے او مطلب ئے دا دے چه څوك داسے مطالبات کوی نو هغه جاهل دے۔ یعنی بے علمه دے، مخکښں ئے هم ورته جاهلان اُووئیل۔ وجه دا ده چه الله تعالیٰ درسره خبرے اُوکړی او تا ته داسے اُووائی چه دا زما رسول دے، یا درته اُووائی چه داسے داسے اُوکړه نو بیا خو تهٔ د هغه پیغمبر شوے، تهٔ خو بیا ډیر لوئی سړے شوے، او دارنګه تهٔ خو بیا مکلف نهٔ شوے، تا خو د پیغمبر په وینا د هغه رسالت او نبوت اُونهٔ منلو بلکه خپله مشاهده سره ډے اُومنلو۔ نو دا ایمان بالغیب نهٔ شو۔ او الله خو دا نظام ددے دپاره پیدا کړے دے چه په بندګانو امتحان اُوکړی۔ بله دا چه الله تعالیٰ ډیر لوئی ذات دے، عام بندګانو کښں دا طاقت نشته چه الله تعالیٰ ورسره په دنیا کښں خبرے اُوکړی، دا خو د الله د لوئی والی او عظمت نخه ده چه بندګان ئے دنیا کښں نشی لیدلے۔

﴿اَوْ تَأْتِيْنَا آيَةٌ﴾ د «آيَةٌ» نه مراد هغه معجزه او نخه ده چه د مشرکانو د مرضیٔ مطابق وی، معجزے خو ډیرے راغلے وے، د قرآن هر آیت معجزه ده نودوی وائی مونږ مطلوبه معجزه غواړو۔ لکه د مکے مشرکانو به همیشه دا مطالبے کولے، وئیل به ئے: «مونږ الله لیدل غواړو۔ که تهٔ د الله رسول ئے نو یو ملائك تاسره ولے نهٔ راځی چه خلقو ته دعوت ورکړی چه دا د الله رسول دے۔ که تهٔ د الله رسول ئے نو تا سره خزانه ولے نشته، یا دا چه پکار ده چه تاسره د کجورو او انګورو باغونه وے» ـ د دوی مقصد د هدایت طلب کول نهٔ وو بلکه شرارت او فتنه راپورته کول وو، ورنه الله تعالیٰ خو د خپلو انبیاء او رسولانو سره د انسانانو د هدایت دپاره همیشه نخے او معجزات رالیږلی دی۔ آیا دا قرآن ګنے معجزه نهٔ ده؟ او رسول الله ﷺ دوی ته څهٔ کم معجزات خودلی وو؟! خو دا خلق ضدیان دی۔

نو دویم رد پرے کوی: ﴿كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ یعنی دغه شان مطالبے ستاسو نه مخکنو مشرکانو او کافرانو هم کړے وے۔ یهودیانو موسیٰ عليه السلام ته وئیلی وو چه مونږ ته الله ښکاره راوخایه۔ ﴿مِثْلَ قَوْلِهِمْ﴾ او دوی د مطالبے په طریقه کښں هم د پخوانو کافرانو په شان دی چهٔ په ضد او تعنت سره به ئے معجزات طلب کول۔ او بیا به ئے نهٔ منل۔ لکه ثمودیانو د صالح عليه السلام نه طلب کړے وو ﴿فَأْتِ بِآيَةٍ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِيْنَ﴾ (الشعراء: ١٥٤) د شعیب عليه السلام قوم د هغه نه مطالبه کړے

وه۔ ﴿ فَاَسۡقِطۡ عَلَيۡنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ اِنۡ كُنۡتَ مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴾ [الشعراء:۱۸۷]

او د مکے مشرکانو مطالبه کړے وه لکه د سورة الاسراء په آيتونو (۹۰،۹۱،۹۲،۹۳) کښې دی چه د مکے نه دِے غرونه لرې شي، وغيره وغيره لکه مخکښې تير شو۔ دارنګه د څيزونو د ګرانيدو او ارزانيدو وخت راته ښايه؟ چه مونږه ئے په موقعه اخلو۔

﴿ تَشَابَهَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ ﴾ يو بل سره ئے زړونه مشابه (يو شان) شويدی۔ په څۀ کښې ؟ په کفر، شرك، حسد، عناد، جهل او سرکشئ کښې۔ دوی د يو فکر او يو مزاج مالکان دی او په يو شان ګجروی کښې مبتلا دی۔ لکه آيت کښې دی : ﴿ كَذٰلِكَ مَا اَتَى الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ مِّنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا قَالُوۡا سَاحِرٌ اَوۡ مَجۡنُوۡنٌ ۝ ﴾ ...... [الذاريات:۵۲،۵۳]

(يعنی د رسولانو په باره کښې د ټولو امتونو دا اعتراض وو چه دا جادوګر يا ليونے دے)۔

۲- قرطبیؒ وائی : [تَشَابَهَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ فِي التَّعَنُّتِ وَالۡاِقۡتِرَاحِ وَتَرۡكِ الۡاِيۡمَانِ]

(زړونه ئے د يو بل مشابه دی په ضد کولو کښې او په غلطو مطالبو کښې او په ايمان نۀ راوړلو کښې) او دارنګه په قسوت او سختئ کښې۔

۳- او (فِيۡ طَلَبِ مَا لَا يَصِحُّ طَلَبُهٗ) يا د هغه شي مطالبے کوی چه د هغے طلب صحيح نۀ وی)۔

نو د اُوسنو کافرانو بعينه هغه اعتراضونه دی کوم چه پخوانو کافرانو په انبياء عليهم السلام کړی وو۔

﴿ قَدۡ بَيَّنَّا ﴾ دا دريم رد دے چه که دوی اراده د يقين لری، نو په قرآن کښې چه د آفاق او اطرافو نه، د نفس نه، د آسمان نه، د زمکے نه، د تاريخ نه او د آثارو نه کومے نخے بيان شويدی نو هغه ورله د هدايت او د ايمان دپاره کافی دی۔ او هغه دومره ښکاره نخے دی چه ددے نه روستو د کومے نخے يا معجزے ضرورت پاتے نۀ دے، ليکن دوی ضديان دی۔

﴿ لِقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ﴾ ۱- [يُرِيۡدُوۡنَ الۡيَقِيۡنَ] (اراده د يقين لری) يعنی چه د يقين اراده ئے وی بس دغه نخے او آيتونه او معجزات کوم چه نازل شويدی هغه ورله کافی دی او څوك چه د يقين اراده نۀ لری نو که دا آسمان ورله راخکته کړے او مخامخ ورله راشی نو هم خبره نۀ منی۔ لکه الله فرمائی :

﴿ اِنَّ الَّذِيۡنَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الۡعَذَابَ الۡاَلِيۡمَ ۝ ﴾ [يونس:۹۶،۹۷] (کومو خلقو باندے چه ستا د رب وعده او فيصله ثابته شوه اګرکه دوی ته هر قسم دليل او معجزه راشی نو دوی ايمان نۀ راوړی تردے چه دردناك عذاب اُووينی)۔

۲- صاحب د تفسير فتح البيان وائی : د يوقنون معنیٰ ده :[يَعۡتَرِفُوۡنَ بِالۡحَقِّ وَيُنۡصِفُوۡنَ فِي الۡقَوۡلِ]۔ يعنی هغه خلق چه د حق اقرار کوی او په خبرو کښې انصاف کوی نو دا ورله کافی ده۔دا حاصل معنیٰ ده۔

اِنَّآ اَرۡسَلۡنٰكَ بِالۡحَقِّ بَشِيۡرًا وَّنَذِيۡرًا ۙ وَّلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ اَصۡحٰبِ الۡجَحِيۡمِ ﴿۱۱۹﴾

یقیناً تهٔ مونږ رالیږلے ئے په حق، زیرے ورکونکے او یره ورکونکے، او تپوس به اُونکړے شی ستا نه په باره د جهنمیانو کښې۔

تفسیر : د مشرکانو، د یهود او نصاراؤ د اقوالو او د هغوی د باطلو فکرونو د تردید او د هغوی د ګمراه کُن پروپیګنډو ښکاره کولو نه پس الله تعالیٰ اُوس خبره نبی کریم ﷺ طرف ته راتاووی، د هغهٔ فرائض او ذمه واریانے بیانوی او هغه دپاره مقاصد متعین کوی او هغه ته دا خبره بیانوی چه د یهودو او نصاراؤ او ستا ترمینځ چه کومه معرکه روانه ده ددے نوعیت څهٔ دے ؟ او ددے خلقو ترمینځ څومره ژور اختلاف دے؟۔

نو پدے اول آیت کښې الله رب العزت اُوس خپل نبی ته تسلی ورکوی چه تهٔ دومره ځان مهٔ په عذابوه، بلکه حق بیانوه که چا درسره منلو، نو ښهٔ ده او که نهٔ ئے منلو نو خپل کار به کوی، تهٔ خو الله تعالیٰ صرف بشیر او نذیر رالیږلے ئے، داسے نهٔ چه تهٔ به خلق د جهنم نه په زوره باندے رامنع کوے۔ او تا نه به دا تپوس نهٔ کیږی چه دا یهود او نصاریٰ او مشرکان ولے جهنم ته لاړل، تهٔ حق بیانوه، مسلمانانو ته د جنت زیرے ورکوه او کفارو او مجرمینو ته د جهنم او عذابونو یره ورکوه۔ ځکه که د داعی نه دا تپوس اُوکړے شی نو بیا دا تکلیف بِمَا لا یُطَاق راځی (یعنی په هغه شی زور ورکول راځی چه د هغے وس نهٔ وی)۔ بعض خلق ځان د هدایت ټیکدار ګرځوی، دا ټیکداری صحیح نهٔ ده، بلکه الله تعالیٰ د هدایت ذمه وار دے، تهٔ به صرف حق بیانوے او د خلقو دپاره به په اخلاص سره خیر خواهی کوے۔ رسول الله ﷺ به ډیر ځان کړولو، د یهودو رضا به ئے لټوله چه دا په څه رضا کړو چه حق ته مائله شی، د هغوی فائده ئے غرض وه۔ ځکه هغه ته جنت، جهنم معلوم وو، او دا خلق اُور ته روان دی، د دوی غټ تاوان کیږی۔ نو هغه ئے خیر خواه وو۔

نو پدے آیت کښې درے خبرے ذکر کوی : ۱- د رسول الله ﷺ حقانیت چه تهٔ په حق او رشتیا سره رسول ئے۔ ۲- دویم د هغه دعوت او کار بیانوی۔ یعنی مقصد د رسالت۔

۳- د ایمان نهٔ راوړونکو په باره کښې د هغه عدم مسئولیة۔ چه پیغمبر نه به د هغوی متعلق تپوس نهٔ کیږی۔

ربط : پدے آیت کښې اشاره ده چه تهٔ خو د الله رسول ئے، د وحی تابع ئے او په دے مکلف نهٔ ئے چه د اهل کتابو او د مشرکانو د غلطو مطالبو جوابونه به ورکوے۔ ستا کار د دوی د مرضیٔ مطابق معجزات راوړل نهٔ دی بلکه د دین دعوت دے۔ نو دا آیت د دوی د مخکنو اعتراضونو او غلطو مطالبو تفصیلی جواب دے۔ چه زهٔ په رسالت مکلف یم او ستاسو د مرضیٔ مطابق

معجزات راوړو باندې مکلف نهٔ يم.

﴿ بِالْحَقِّ ﴾: ١- د حق نه مراد دين اسلام دے چه د قرآن او سنت نوم دے.

٢- يا مطلب دا دے چه تهٔ ئې د حق بيانولو او ښکاره کولو دپاره راليږلے ئې. لهذا داعي به حق راښکاره کوي. ٣- يا د حق نه مراد صدق او رشتيا دے. يعني ته رشتيني نبي ئې. نو باء د ملابسة ده. ٤- يا د حق نه مراد هغه معجزات دي چه نبي ﷺ پرے راليږلے شويدے. يعني تا له مونږ ډير معجزات درکړيدي. نو باء د مصاحبت ده. نو دا به د مخکښې دپاره جواب شي چه ددے نبي خو ډير معجزات دي، په هغې ډے دا خلق ايمان راوړي او نورے مطالبے ډے پريدي.

او حق په اصل کښې ثابت شوي خبرے او څيز ته وائي. او حق په خبرو کښې رشتيا ته وئيلے شي او په احکامو کښې عدل ته وئيلے شي. [تفسير العثيمين٤/ ١٨]

فائده: په سورة احزاب (٤٥/ ٤٦) کښې ئې د نبي ﷺ تفصيلي صفات بيان کړيدي. په سورة سبا آيت (٢٨) کښې ئې فرمايلي دي چه دا نبي (ﷺ) د ټول جهان دپاره راليږلے شويدے. په سورة الاعراف آيت (١٥٨) کښې فرمائي چه اے نبي ! تهٔ خلقو ته اعلان اُوکړه چه زهٔ تاسو ټول جهان ته راليږلے شوے يم. په سورة الانبياء آيت (١٠٧) کښې دي چه دا نبي د ټول عالَم دپاره رحمت راليږلے شويدے.

﴿ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ﴾ دا د نبوت او رسالت مقصد دے. د نبي ﷺ د دعوت طريقې دغه دوه وے چه ايمان والو ته په جنت سره بشارت (زيرے) ورکول او کافرنو ته په اُور سره انذار يعني يره ورکول دي. دارنګه په شريعت باندے امر کونکے او د هر قبيح او بد عمل نه منع کونکے مراد دے. دا دوه صفتونه ئې خاص کړل پدے کښې حکمة دا دے چه کله په انسان باندے اوامر عملي کول آسان وي ليکن د منهياتو نه ځان ساتل ورته مشکل وي، او کله برعکس وي نو که صرف بشارت وے يا صرف انذار وے نو بيا په بنده باندے امتحان نهٔ راتلو نو ددے وجه نه امتحان په امر او نهي دواړو سره انتهائي دحکمة تقاضا ده.

﴿ وَلَا تُسْئَلُ ﴾ يعني کله چه تا رسالت اُورسولو نو تا خپله ذمه واري ادا کړه لهذا اُوس ددے بيان نه روستو که څوك ايمان نهٔ راوړي نو دا د هغه خپل کار دے، په تا ئې څه ذمه واري نشته. ستا مسئوليت صرف تبليغ او د حق دعوت دے لکه په سورة بقره آيت (٢٧٢) او انعام آيت (٥٢) او فاطر آيت (٨) کښې همدا مطلب بيان شويدے.

دا آيت دليل دے چه کله يو نبي يا د حق داعي دعوت اُوکړي نو د هغه ذمه واري فارغه شوه، که ددے نه روستو څوك گناه او جرم کَوي، داعي ته به هيڅ نقصان نهٔ وي. او هغه به پرے نشي بدنامولے.

ولا تسئل: پدے کښې د مشرکانو دپاره سخت وعيد دے او دا چه د دوي نه د ايمان توقع نشي

کیدے، د اخلق د الله په علم کښې جهنمیان دی۔ (لَا تُسْئَلُ) کښې دوه قراء تونه دی:
۱- یو دا چه صیغه د مجهول ده لکه دا مشهور قراءت دے۔
۲- دویم لَا تَسْئَلْ د معلوم صیغه ده یعنی ته د جهنمیانو په باره کښې تپوس مهٔ کوه یعنی چه د دوی به څومره سخت عذاب وی، دا تپوس مهٔ کوه، الله تعالیٰ به ډیره غټه سزا ورکوی۔
﴿ اَصْحَابِ الْجَحِيْمِ ﴾ جحیم بل کړے شوی او لمبه شوی اُور ته وائی او اصحاب هغه چا ته وائی چه د هغے سره لازم وی۔ د دوی دپاره ئے اصحاب الجحیم صفت راوړو، پدے کښې یو قسم تنبیه ده چه ددے خلقو په زړونو مهر وهلے شویدے، د دوی نه دا طمع نشی کیدے چه د کفر نه به راواپس شي۔
فائده : اصحاب الجحیم کوم خلق دی؟ نو قرآن کریم کښې د هغوی د صفاتو بیان په مختلفو آیتونو کښې راغلے دے یعنی هغه کسان چه کفر کوی، د الله د آیتونو تکذیب کوی، طغیان او غوایت (گمراهئ) والا او د دنیا غوره کونکی او فجور او بدکاری کونکی او مکذبین او ضالین دی۔ لکه دا په سورة المائده (۱۰) سورة الحج (۵۱) سورة الشعراء (۹۱) سورة الواقعه (۹٤) سورة النازعات (۳۹) سورة الانفطار (۱٤) کښې ذکر دی۔

وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ اِنَّ هُدَى
او هیچرے نهٔ رضا کیږی تا نه یهودیان او نهٔ نصاریٰ تردے پورے چه ته روان شے د دوی د دین پسے، اُووایه چه هدایت
اللهِ هُوَ الْهُدٰى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَ هُمْ بَعْدَ الَّذِيْ جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ
د الله دغه اصل هدایت دے، او که چرته ته روان شے د دوی د خواهشاتو پسے، پس د هغے نه چه راغله تا ته پوهه،
مَالَكَ مِنَ اللهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۲۰﴾
نو نه به وی ستا دپاره د الله د طرف نه څوك بچ کونکے او نهٔ مددگار۔

تفسیر : په دے آیت کښې د یهودو او نصاراؤ د ایمان راوړو نه انتهائی درجه د نا اُمیدئ خبر ورکړے شویدے او د هغوی د تابعداری کولو نه منع شوے ده۔ او وائی چه ستا او د دوی ترمینځ د جنګ یوه عظیمه نظریاتی معرکه روانه ده، دوی هیچرے ستا نه نهٔ خوشحالیږی اګرکه ته د هغوی د رضا کولو دپاره ځان سترے کړے مګر صرف دا چه ته د هغوی دین خپل کړے۔ لهذا د دوی د مرضئ حاصلولو کوشش بنه خبره نهٔ ده بلکه ته صرف د الله رضا طلب کړه اوتا سره چه کوم هدایت دے بس همدا حق دین دے، ددے دین دعوت کوه او د دوی د دین چه هغه په حقیقت

کښې خواهشات دي، تابعداري اُونکړے۔ ورنه الله به درله سخته سزا درکړي۔ دا په ظاهر کښې نبی کریم ﷺ ته خطاب دے لیکن مراد ترینه اُمت دے او پدے کښې د یهودیانو ضد او عناد ته اشاره ده چه دوی داسے ضدیان دي چه د خپل دین نه علاوه بل هیڅ دین نهٔ مني۔ او خپله هم په خواهشاتو پسے روان دي، نو اهل حقو له د دوی تابعداري کول ناروا دي۔

رسول الله ﷺ به د اهل کتابو (د یهودو او نصاراؤ) د ایمان طمع لرله پدے اَساس چه دوی مسلمانانو ته نزدے دي ځکه چه د دوی په دین کښې هم په اصل کښې شرك نشته بلکه په توحید بناء دے۔ او دارنګه دوی سره هم آسماني کتاب دے نو کیدے شي چه ایمان راوړي نو الله تعالیٰ پدے آیت کښې د دوی دا طمع قطع کړله۔ چه د دوی نه د ایمان طمع مهٔ کوه ځکه چه دوی خپل دین په خواهشاتو بدل کړے او په خپل کتاب کښې ئے تحریف کړے، په تا باندے ایمان راوړو ته تیار نهٔ دي۔ او کوشش دا کوي چه تا خپل دین ته راواړوي۔

﴿حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ﴾ ددے نه معلومه شوه چه هر کله چه دا کتابیان د رسول الله ﷺ نه نهٔ رضا کیدل چه هغه لا اوچتو اخلاقو والا وو۔ نو زمونږ او باقي مسلمانانو نه خو په طریقه اولیٰ نهٔ رضا کیږي۔

نکته : دا آیت دلیل دے چه کوم حُکام، کوم بادشاهان چه یهود او نصاریٰ ترے رضا شو، او دکوم سیاسي لیډرانو نه چه امریکي (کفار) حکومتونه رضا شو نو د هغوی په ایمان باندے لویه خطره ده۔ وجه دا ده چه دلته الله وئیلي دي چه یهود او نصاریٰ د مسلمان نه تر هغه وخت پورے نهٔ رضا کیږي ترڅو چه د هغوی په دین روان نشي۔ نو چه هغوی چا ته ښهٔ سړے اُووئیلو، پوهه شه چه ددهٔ ایمان پاتے نهٔ دے۔ یهود او نصاریٰ چه د چا نه خوشحاله شو دا به مسلمان نهٔ وي، او د چا نه چه ډیر نارضا وي نو دا به اُوچت مسلمان وي۔

﴿مِلَّتَهُمْ﴾ : ملت ئے مفرد راوړو او اضافت ئے یهود او نصاراؤ ته اُوکړو، دے نه معلومه شوه چه کفر ټول یو ملت دے، او دا باطل ملت دے، او ددے نه مفسرینو احکام مستنبط کړیدي چه هرکله کفر یو ملت دے نو کافران اګرکه دینونه ئے جدا جدا وي (مثلاً یهوذیت، نصرانیت او بدهـ مت) لیکن د یو بل نه میراث وړے شي ځکه چه ټول په کفر کښې شریك دي۔ خو مسلمان او کافر د یو بل نه میراث نشي وړے۔ او دا مذهب د امام شافعیؒ، ابوحنیفهؒ او یو روایت د امام احمدؒ دے۔

○ او د امام مالكؒ مذهب او یو قول د احمدؒ دا دے چه دوه ملتونو والا د یو بل نه میراث نشي وړے لکه څنګه چه په حدیث کښې راغلي دي (ابوداود۲/۵۹)۔ (ابن کثیرؒ)۔ او سند ئے حسن صحیح دے۔ شیخ البانیؒ ورته صحیح وئیلے دے۔

ملت : [إِسْمٌ لِمَا شَرَعَهُ اللّٰهُ لِعِبَادِهٖ فِيْ كُتُبِهٖ وَعَلٰى اَلْسِنَةِ رُسُلِهٖ] (ملت نوم دے د هغه شریعت چه الله تعالیٰ په خپلو کتابونو کښې او د خپلو رسولانو په ژبه باندے مقرر کړے وی) نو دین او شریعت یو شے دے، او فرق د ملت او شریعت او د دین دا دے چه شریعت او ملت هغه دے چه الله تعالیٰ په هغے باندے عمل کولو ته دعوت ورکړے وی او دین هغه دے چه بندګان په حکم او امر د الله سره په هغے عمل کوی۔ (القرطبیؒ)

نور تفصیل روستو (ملة ابراهيم) کښې رازی۔

﴿ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ﴾ اُوس الله تعالیٰ خپل رسول ته یو دین ورکوی دے دپاره چه په یهود او نصاراؤ رد اُوشی چه راشئ ددے دین اسلام تابعداری اُوکړئ، همدا د الله تعالیٰ هدایت دے۔ او پدے کښې جواب د هغوی د دعوت دے چه هغوی رسول الله ﷺ ته وئیلی وو چه ته زمونږ سره متحد شه او زمونږ ملت قبول کړه۔ (ابن جریرؒ، بیضاویؒ)۔

د ((هُدَى اللّٰهِ)) نه مراد د الله تعالیٰ دین دے او هغه قرآن او حدیث دے۔

(هُوَالْهُدٰى) یعنی هُوَ الحَقُّ ۔ (همدا حق دے) پدے کښې معنیٰ د حصر پرته ده یعنی کتاب او سنت صرف همدغه حق دین دے۔او هدایت او حق صرف په دین اسلام کښې منحصر (راګیر او بند) دے۔ او هر چه یهودیت او نصرانیت دی، تورات او انجیل دی نو هغے کښې زیات تحریفات شویدی، د قرآن او سنت د راتلو نه روستو په هغے باندے عمل پاتے نهٔ دے۔

دا دلیل دے چه د اسلام راتلو نه روستو هیڅ دین، یهودیت، نصرانیت، مجوسیت، بدھ مت حق نشی کیدے۔نو د وحدة الادیان کوشش ناممکن دے۔ او لوئی جزم دے چه څوك دا کار کوی، دا د حق او د باطل یو ځائے کول دی۔

او دا صریح دلیل دے چه د مشرکانو سره اتحاد جائز نهٔ دے۔

اُوس سوال پیدا کیږی که یو سړے د هغوی ملت او دین طرف ته روان شی نو څهٔ به اُوشی؟ نو الله تعالیٰ ددے رد ذکر کوی :

﴿ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَاءَ هُمْ ﴾ دا دلیل دے چه یهود او نصاراؤ سره حق دین نشته سِویٰ د نفس د خواهشاتو نه، هغوی خلق دے طرف ته رادعوت کوی۔ او پدے کښې اُمتِ اسلامیه ته سخت وعید دے چه د قرآن او سنت عِلم راتلو نه روستو که څوك د یهودو او نصاراؤ لاره اختیاره کړی نو د الله د عذاب نه ئے هیڅوك نشی بچ کولے۔ په ظاهر کښې خطاب نبی ﷺ ته دے او په حقیقت کښې د اهل کتابو د تابعدارئ نه امت یرول دی۔ دے ته تعریض وئیلے شي۔

فائده : ددے آیت په ضمن کښې هغه خلق هم داخلیږی چه محض د مداهنت په بنیاد یوے

رائے لره په قرآن او سنت باندے ترجیح ورکوی، یا سنت پدے وجه شا ته ارتوی چه د یو اِمام یا یو عالِم قول د هغے خلاف دے او په قرآن او سنت کښ تاویل کوی، د هغے معانی او مفاهیم بدلوی، دے دپاره چه کوم منافق حاکمِ وقت ناراضه نۀ شی۔ گویا کښ هرڅوك چه د یو انسان د مرضی یا رائے مقدم کولو دپاره قرآن او سنت شا ته کړی هغه په دے آیت کښ داخلیږی او دا تهدید او وعید به هغه ته شاملیږی۔ (تفسیر فتح البیان، وتیسیر الرحمن)

﴿ اَهْوَائَهُمْ ﴾ : اهواء جمع د هَوٰی ده خواهش ته وئیلے شی جمع ئے راوړه اشاره ده چه دوی په خپل دین کښ وخت په وخت د ځان نه ایجادات کړیدی او د خپلو ډیرو خواهشاتو پسے روان شویدی۔

امام رازیؒ فرمائی : [فِی الآیَةِ دَلَالَةٌ عَلٰی اَنَّ اتِّبَاعَ الْهَوٰی لَایَکُوْنُ اِلَّا بَاطِلًا فَمِنْ هٰذَا الْوَجْهِ تَدُلُّ عَلٰی بُطْلَانِ التَّقْلِیْدِ] ...... [تفسیر کبیر للرازی ۲/۳۱۹، والقاسمی ۱/۳۵٦]

(دا آیت دلیل دے چه د خواهش پسے روانیدل باطل دی نو ددے وجه نه دا آیت دلالت کوی چه تقلید باطل شے دے) ځکه چه په تقلید کښ هم په ړندو سترگو دیو شخص د رائے پسے روانیدل وی۔

﴿ مِنَ الْعِلْمِ ﴾ د عِلم نه مراد قرآن او وحی ده۔ یعنی الله پوهه کړے چه یهود او نصاریٰ په غلطه دی او بیا هم وړپسے ورغلے۔

د امام احمد رحمه الله نه تپوس اُوشو چه څوك قرآن ته مخلوق وائی ددۀ څه حکم دے ؟ هغه اُوفرمایل : کافر دے، او ددے آیت نه ئے دلیل اُونیولو چه (مِنَ الْعِلْمِ) ځکه چه قرآن د الله تعالیٰ عِلم دے۔ نو څوك چه دے ته مخلوق وائی، دا کافر دے۔ (القرطبیؒ)

﴿ مَا لَكَ مِنَ اللهِ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا نَصِیْرٍ ﴾ یعنی که تا د یهودو او نصاراؤ تابعداری اُوکړه او د هغوی دوستانه او حمایت او حفاظت دِے اختیار کړو هغوی له دِے ځائے ورکړو نو په دنیا او په آخرت کښ د الله د عذاب نه ستا بچکونکے نشته، د هغوی سره دوستانه کول او د هغوی مدد او تعاون کول خو هلاکت ته دعوت دے۔ د ولی او نصیر فرق په مخکښ آیت (۱۰۸) کښ تیر شو۔

د نیکانو اهل کتابو صفت

الله تعالیٰ اُوس د نیکانو اهل کتابو صفت بیانوی۔ قرآن انصافی کتاب دے، د د شمنانو بحث هم کوی لیکن نیکی ئے هم ذکر کوی چه په دوی کښ ښۀ خلق هم شته۔ او دا د ټولو اهل حقو طریقه ده۔ او په دے کښ دے نورو اهل کتابو ته دعوت دے چه ستاسو بعض علماء دا کتاب منی نو تاسو ولے ایمان نۀ راوړئ ؟! :

اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ

هغه کسان چه مونږ ورکړے هغوی ته کتاب، لولی هغهٔ په لائق لوستو د هغے سره،

أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿۱۲۱﴾

دغه کسان ایمان لری په دے باندے، او چا چه کفر اُوکړو په دے نو دغه کسان خاص دوی تاوانیان دی۔

تفسیر: پدے آیت کښ ددے رسول ﷺ او د قرآن د تصدیق دپاره د اهل کتابو د علماؤ نه دلیل راوړے شویدے۔

شان نزول : عامو مفسرینو لیکلی دی چه دا آیت د اهل کتابو د هغه مؤمنانو په باره کښ نازل شویدے چه د حبشو نه ئے د جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه سره هجرت کړے وو او دا ټول (۴۰) کسان وو۔ دوه دیرش د حبشو نه وو او اته (۸) د شام د راهبانو نه وو، یو په کښ بَحِیرًا وو۔ (بغویؒ) او دیته به ئے اصحاب السفینه (کشتئ والا) وئیل۔

﴿آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ﴾: یعنی مونږ کتاب (تورات) ورکړے او هغوی قبول کړے دے۔

۱- د کتاب نه مراد تورات او انجیل دی او دا غوره او د مقام مناسب تفسیر دے چه پدے صورت کښ به دا صفت وی د مؤمنانو اهل کتابو کوم چه په قرآن کریم ایمان راوړی لکه په سورة القصص آیت (۵۲) کښ فرمائی :﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِهِ هُمْ بِهِ يُؤْمِنُونَ﴾

(هغه کسان چه ما هغوی ته ددے قرآن نه مخکښ کتاب ورکړے هغوی په قرآن ایمان لری)۔

۲- قتادةؒ وائی : د «اَلْكِتَابَ» نه مراد قرآن دے۔ نو پدے صورت کښ به دا ددے امت صفت وی چه په قرآن ایمان راوړی۔ امام خازنؒ او قرطبیؒ وئیلی دی چه آیت عام دے۔نو پدے صورت کښ به دا صفت د مؤمنانو اهل کتابو او اهل اسلام وی۔ (ازهر البیان فارسی)

﴿ حَقَّ تِلَاوَتِهِ ﴾ د تلاوة دوه معنے دی (۱) ظاهری لوستل۔ یعنی ظاهر کښ د الله کتاب ښائسته طریقے سره لولی، الفاظ ئے غلط نهٔ وائی۔

(۲) کله تلاوت په معنیٰ د تابعداری سره وی یعنی [يَتَّبِعُونَهُ حَقَّ اتِّبَاعِهِ] تابعداری کوی د الله تعالیٰ د کتاب په لائقه تابعدارئ سره۔(ابن عباسؓ وابن مسعودؓ)

تورات ښائسته لولی او تابعداری ئے هم کوی، عمل پرے کوی۔

۳- ابن مسعود رضی الله عنه (د حق تلاوت په باره کښ) فرمائی: [وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ، اِنَّ حَقَّ تِلَاوَتِهِ : اَنْ يُحِلَّ حَلَالَهُ وَيُحَرِّمَ حَرَامَهُ وَيَقْرَأَهُ كَمَا اَنْزَلَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَايُحَرِّفُ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ وَلَايَتَأَوَّلُ مِنْهُ شَيْئًا عَلٰى غَيْرِ تَاوِيْلِهِ] [رواه عبد الرزاق] چه حلال ئے حلال او حرام ئے حرام ګڼړی او څنګه چه الله نازل کړیدے همغه شان ئے لولی، کلمات ئے د خپل ځائے نه نهٔ بدلوی او ددے نه په یو شی کښ غلط

تاويل نهٔ كوي)۔

٤- او حسن بصريؒ فرمائي : [يَعْمَلُوْنَ بِمُحْكَمِهٖ وَيُؤْمِنُوْنَ بِمُتَشَابِهِهٖ، وَيَكِلُوْنَ مَا اَشْكَلَ عَلَيْهِمْ اِلٰى عَالِمِهٖ] چه په محكماتو ئے عمل كوي او په متشابهاتو ئے ايمان لري او كوم چه ورته مشكل شي نو د هغے عِلم خپل عالِم (الله) ته اُوسپاري۔ (يعني د ځان نه پكښې تاويلات نهٔ كوي)۔

٥- د عمر ﷺ نه روايت دے [هُمُ الَّذِيْنَ اِذَا مَرُّوْا بِذِكْرِ الْجَنَّةِ سَئَلُوا اللهَ الْجَنَّةَ وَاِذَا مَرُّوْا بِذِكْرِ النَّارِ اِسْتَعَاذُوْا مِنْهَا] چه لائق لوستونكي هغه خلق دي چه كله د جنت تذكره راشي نو جنت غواړي او چه د جهنم تذكره راشي نو په الله سره د هغے نه پناهي غواړي۔ (ابن كثير ١/٤٠٣، وابن جرير)

٦- قاسميؒ ليكي چه د حق تلاوتهٖ تفسير په دوه نورو آيتونو كښې راغلے دے يو دا چه :

﴿ اَلَّذِيْنَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْا آمَنَّا بِهٖ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَا اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ، اُولٰئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَؤُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُوْنَ﴾ (القصص:٥٢/٥٤) او ﴿ قُلْ آمِنُوْا بِهٖ اَوْلَا تُؤْمِنُوْا اِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ﴾[الاسراء:١٠٧]

نو حق تلاوة دا شو چه ايمان راوړي پدے چه دا د دوي د رب د طرف نه حق كتاب دے، صبر كوي، او بدي په نيكئ سره دفع كوي، او انفاق كوي او الله ته سجدے لګوي)۔

كه تلاوة په معنىٰ د قراء ة شي نو پدے كښې پنځه مقاصد بيان شويدي :

○ دوي د الله په كتاب كښې تدبر او سوچ كوي نو په احكامو د حلالو او حرامو عمل كوي۔ ○ د تلاوت په وخت كښې عاجزي او خضوع كوي۔ په مانځه كښې وي او كه په خلوت كښې وي۔ ○ په محكم ئے عمل كوي او په متشابه ئے ايمان لري او په كوم چه نهٔ پوهيږي د هغے علم الله ته سپاري۔ ○ داسے ئے لولي لكه څنګه چه الله نازل كړے او تحريفات پكښې نهٔ كوي او غلط مقاصد پكښې نهٔ بيانوي۔ ○ پنځم دا چه آيت مشتمل دے پدے تولو مخكښنيو معانيو څكه چه پدے كښې مقصد د قرآن تعظيم او هغه ته لفظاً او معنىً انقياد كول او تابع كيدل دي۔

[تفسير روح المعاني د آلوسي واللباب د ابن عادل]

٧- علامه قرطبيؒ وائي : حق تلاوتهٖ دا دے :[اَلتَّرْتِيْلُ ظَاهِرًا وَفَهْمُ مَعَانِيْهِ بَاطِنًا]

(ظاهري الفاظ ئے هم صحيح ادا كوي او ددے په معانيو باندے هم ځان پوهه كوي)۔

﴿ اُولٰئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ﴾ دا خبر دے د ﴿ اَلَّذِيْنَ آتَيْنَا ﴾ دپاره، او معنىٰ دا ده چه څوك د اهل كتابو نه خپل كتاب صحيح لولي او عمل پرے كوي نو همدغه كسان پدے قرآن هم ايمان راوړي۔ مطلب دا چه چا تورات صحيح لوستو، هغوي له الله پدے رسول او قرآن باندے هم د ايمان توفيق وركړو، او په

تورات چه چا عمل نهٔ کولو نو الله تعالیٰ ورله د ايمان توفيق هم ورنکړو ځکه يو نيکی انسان بلې ته راکاړی۔ د ځوانئ نيکی په بو داوالی کښې انسان له فائده ورکوی۔ دوی به په جاهليت کښې په دين عمل کولو نو الله ورله د اسلام توفيق ورکړو۔

فائده ۱: – د حق التلاوة جامعه معنیٰ دا ده چه په تلاوت سره ژبه، عقل، زړهٔ او اندامونه د تلاوت کونکی برخه واخلی۔ د ژبې برخه دا ده چه حروف د خپلو صحيح مخارجونه ادا کړی۔ د عقل برخه دا ده چه ددې په معانيو کښې تدبر اُوکړی او تفسير د قرآن اُوکړی۔ او د زړهٔ برخه عبرت اخستل او قبلول دی، او د باقی اندامونو برخه عمل دے۔ ژبه تلاوت اُوکړی، عقل ترجمه او تفسير اُوکړی، او زړهٔ عبرت حاصل کړی او باقی اندامونه په احکامو ددې عمل اُوکړی۔

فائده ۲: د قرآن او د الله د آيتونو په باره کښې انسانان په يو څو ډلو تقسيم دی :

اوله ډله : صرف د الفاظو تصحيح، او حروف د خپلو مخارجو نه ادا کوی، او هميشه په وقف او وصل او الحان او ترنم (خوش آوازی) کښې فکر کوی او د قرآن کريم په معانيو او ددې په حکمتونو او باريکاتو کښې تأمل او سوچ او ددې مطابق عمل کولو ته هيڅ قسم التفات او توجه نهٔ کوی۔

۲– دويمه ډله : د قرآن کريم د معانيو په تدقيقاتو او نکاتو کښې فکر کوی او ددې د علومونه ځان خبروی ليکن د عمل په باب کښې سُست او بے همته وی۔

۳– دريمه ډله : هغه صحيح مؤمنان دی چه قرآن ئې په يو ځل په عِلمی او عملی طور سره او د ژوند د قانونِ په صفت سره قبول کړو، د الفاظو لوستل او ددې کتاب په معانيو کښې فکر کول د عمل دپارهٔ مقدمه ګنړی، لهذا دوی چه هر وخت قرآن وائی نو په روح کښې ئې تازګی او په زړهٔ کښې ئې تصميم او نوے اراده او په عقل کښې ئې د پوهے تازهٔ رنړا پيدا شی چه دا د (حق تلاوتهٖ) ثمره ده۔ (از هر البيان)

دے آيت کښې عام مفسرين، خصوصاً قاسمیؒ ليکی : څوك چه اهل کتاب وی يعنی څوك چه ځان اهل ددے کتاب ګنړی هغه له پکار دی چه د الله قرآن اولولی درساً، تدريساً، تلاوةً، تعليماً او تعلماً۔

﴿وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ﴾ پدے کښې د قرآن مخالفينو ته زورنه ورکوی۔

(بِهٖ) ضمير قرآن ته راجع دے او کتاب ته هم راجع کيدے شی، حاصل ئې يو دے۔

چا چه کفر اُوکړو د اهل کتابو نه په خپل کتاب (تورات يا انجيل) باندے او بيا په قرآن باندے، نو دوی غټ تاوان والا شو ځکه د ايمان نه محروم شو او په تمامو کائناتو کښې د ايمان نه لوئی نعمت بل کوم يو شے کيدے شی؟!۔

فائده ۳ : په آیت کښې د قرآن د تلاوت فائده او فضیلت ذکر دے۔ او اشاره ده چه څوك اهلِ قرآن وی نو دوی به د قرآن لوستونکی هم وی۔ (قاسمیؒ)

فائده : په قرآن کریم کښې آتَیْنَا، اُوتُوا نَصِیبًا مِنَ الْکِتَابِ، اُوتُوا الْکِتَابَ، اُوتُوا الْعِلْمِ کلمات راځی۔ فرق دا دے چه اول د نیکانو اهل کتابو دپاره استعمال دے او دویم او دریم د بدانو اهل کتابو دپاره دے۔ او څلورم لفظ ددے امت علماء صالحین او دارنګه د پخوانو نیکانو علماؤ دپاره دے۔

یٰبَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ اذۡکُرُوۡا نِعۡمَتِیَ الَّتِیۡۤ اَنۡعَمۡتُ عَلَیۡکُمۡ
اے اولاد د یعقوب (علیه السلام) رایاد کړئ نعمتونه زما هغه چه ما په تاسو کړی دی،
وَاَنِّیۡ فَضَّلۡتُکُمۡ عَلَی الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۱۲۲﴾
او یقیناً ما تاسو غوره کړی وئ په مخلوقاتو۔ (په خپله زمانه کښې)

تفسیر : د اُوږد تقریر نه روستو بنی اسرائیلو ته خطاب راواپس کوی ګویا کښې ددے اُوږدے مقابلے او مجادلے نه روستو او د الله تعالیٰ او د هغه د انبیاؤ سره د دوی د طرزِ عمل اُوږد تاریخ بیانولو نه روستو آخری ځل دوی متوجه کولے شی، او آخری ځل بیا دعوت ورکولے شی پداسے حال کښې چه دوی د امانت الٰهی یعنی د اسلامی نظریهٔ حیات د شرافت د حفاظت نه بے حد درجه غافل او بے پرواه شویدی حال دا چه دوی ته دا شرافت او ذمه واری د پخوا زمانے نه حاصل راروانه وه نو په آخره کښې هم ورته دعوت ورکوی لکه څنګه چه ورته په اوله کښې دعوت ورکړے شوے وو۔ (فی ظلال)

نو پدے آخرنی خطاب کښې بنی اسرائیلو ته دعوت ورکوی چه انعامات د الله یاد کړئ او په نبی کریم ﷺ باندے د ایمان راوړلو ترغیب ورکوی چه د حسد په وجه ددے نبی نه انکار مهٔ کوئ او په تورات کښې چه ددے نبی کوم صفات ذکر شویدی هغه پټ نهٔ کړئ او د قیامت د عذابونو نه اُویریږئ، په جلتئ سره ایمان راوړئ۔ او دوی ته ئے په هغه نوم سره آواز اُوکړو چه دوی ته زیات محبوب وو۔ پدے کښې د دوی خیرخواهی کول مقصد دے۔

دارنګه دا ئے پدے وجه راوړو چه ددے د روستو سره مناسبت دے پدے طریقه چه روستو ملت ابراهیمی ذکر کوی نو د هغے دپاره بنی اسرائیلو ته دعوت ورکوی ځکه چه بنی اسرائیلو د ملتِ ابراهیمی نه اعراض کړے وو، خصوصاً د کعبے د عظمت نه ئے انکار کړے وو، یعنی د قبلے د منلو او د هغے نه د حج کولو نه منکر وو، او دغه شان د آخری رسول او د توحید نه ئے انکار کړے وو، نو ددے وجه نه هغوی ته ترغیب ورکوی چه راشئ ملتِ ابراهیمی قبول کړئ او د هغے د مخالفت

کولونه یره ورکوی۔او پدے خطاب باندے د دوی عام واقعات تقریباً ختمیږی۔

د آیت د تکرار حکمت :

داسے آیت مخکښ هم دوه ځل تیر شویدے ولے ئے مکرر کړو :

۱- : [لَانَّهُ فَذْلَكَةُ الْقِصَّةِ وَزِيَادَةٌ فِي النَّصِيحَةِ] [روح المعانی ۱/۴۹۱] پدے کښ د دوی زیاتے خیرخواهئ ته اشاره ده چه ابتداء کښ ورته د ایمان بالله او آخری رسول باندے د ایمان دعوت ورکړے شوے وو هغه ئے ورته په آخر کښ هم ورکړو، او پدے کښ ئے خلاصه او مقصد راښکاره کړو چه د دوی د بدو صفات ذکر کولو او د دوی د اعتراضاتو جواباتو کولو مقصد دا دے چه دوی ایمان راوړی او خپل ځان ته متوجه شی۔ او مقصدی خبره خلق په اول او آخر کښ ذکر کوی۔

۲- دویم دا چه مخکښ آیت کښ مقصد دا وو چه دوی ته حکم شوے وو ددے دپاره چه د مخکنو نعمتونو حقوق ادا کړی او دلته مقصد دا دے چه دوی هغه نعمت رایاد کړی چه د هغے په سبب دوی د خپلے زمانے په خلقو غوره شوی وو هغه دا چه دوی په خپل نبی (موسیٰ علیه السلام) باندے ایمان راوړے وو، نو اُوس هم د الله د حکم تابع شی او په آخری رسول ایمان راوړی دے دپاره چه غوره خلقو کښ شمار شی او د آخرت د یرو نه بچ شی (روح المعانی)۔

(اذکروا) مقصد د ((ذکر)) نه د دغه نعمت شکر دے او شکر ددے نعمت په هغه وخت کښ ادا کیږی چه په تولو تقاضو د هغے ایمان راوړی چه یو د هغے نه د نبی ﷺ صفات دی چه په تورات کښ ذکر شویدی او ددهٔ زیرے ورکړے شویدے۔

وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِىْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْئًا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا
او اُویریږئ د هغهٔ ورځے نه چه پکار به را نشی یو نفس د بل نفس نه هیڅ شے، او نهٔ به قبلیدے شی ددے (مجرم) نفس
عَدْلٌ وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾
نه فدیه (جرمانه) او فائده به نهٔ ورکوی دے (مجرم نفس) ته سفارش د چا، او نهٔ به د دوی سره مدد اُوکړے شی۔

تفسیر : پدے کښ ورته د آخرت یره بیانوی دے دپاره چه په آخری نبی او په دین اسلام ایمان راوړی۔ داسے آیت مخکښ هم تیر شویدے او ددے او د هغے فرق دا دے چه دلته د (لَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ او لَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ) ضمیرونه دویم نفس ته راجع دی چه هغه مجرم نفس دے ځکه چه مجرم د خپل نجات دپاره اول فدیه ورکولو سره کوشش کوی، بیا شفاعت ګوری۔او غواړی چه زما فدیه دِے قبوله شی او شفاعت دِ زما دپاره فائده مند شی۔ دا وجه ده چه دلته ئے عدل د شفاعت

نـه مـخـکښ راوړے او د عدل سره قبولیت او د شفاعت سره ئے نفع ذکر کړه۔او په آیت (٤٨) کښ ضمیرونه اول نفس ته راجع وو چه هغه غیر مجرم دے۔

﴿ وَلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ ﴾ فائده به نۀ کړی شفاعت کافر او مشرك دے۔ یا بغیر د اجازے د الله نه به سفارش فائده نۀ ورکوی او الله تعالیٰ کافر ته د شفاعت اجازه نۀ ورکوی۔

﴿وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴾ او د مدد تولے لارے بندے دی۔

﴿ وَاِذِ ابْتَلٰى اِبْرٰهِيْمَ ﴾

مضمون : تردے ځائے پورے د بنی اسرائیلو سره مکالمات وو چه د هغوی قبائح ئے ذکر کړل عـقیدةً وقولًا وعـمَلًا، اصل کښ خبره د یهودیانو سره وه او ضمناً او تبعاً پکښ نصاریٰ ذکر کیدل او مشـرکـان بـه ئے پکښ هم راتاوول چه دوی کښ هم دغه مرضونه موجود دی۔ اُوس ددے ځائے نه تر راتلونکے رکوع پورے د ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام مختصره واقعه راوړی، د کعبے د جوړولو واقعه ذکر کوی، په بل طرز باندے دا واقعه راغلے ده۔ اُوسه پورے الله تعالیٰ نزدے تاریخ بیانولو د بنی اسرائیلو، نو اُوس د هغوی د وړاندے نیکونو تاریخ بیانوی چه ابرهیم ﷺ دے۔ او پدے کښ اول مشرکان بیا یهودیان مخاطب دی۔

نو پدے آیتونو کښ اول د ابرهیم ﷺ عـظمتِ شان بیانوی دپاره د ترغیب بنی اسرائیلو ته چه راشی او ملتِ ابراهیمی قبول کړی، خصوصاً دکعبه او د آخری رسول په باره کښ او د هغه چا کـم عـقـلتیا بیانوی چه د ابراهیم ﷺ د دیـن خـلاف کـوی او پـدے کښ به درے غټے خبرے بیان کـړی چـه یـو کعبه جوړول د توحید دپاره، او بل د آخری رسول دپاره دعا غوختل، دریم د ابراهیم ﷺ په توحید باندے وصیت۔

د ابراهیم ﷺ ددے واقعے په ذکر کولو کښ ډیر رازونه دی :

د ابراهیم علیه الصلاة والسلام د واقعے بیانولو مقاصد :

۱- یـو د هـغـے نـه دا دے چـه د ابراهیم ﷺ دوه قـسـمـه اولاد وو یـو بـنـی اسرائـیـل۔ دویم بنی اسـمـاعـیـل۔ بنی اسرائیلو به د اسحاق ﷺ پـه واسطه خپـل نسبت ابراهیم ﷺ ته کولو او پدے نسبـت او د الله د طرف نه د ابراهیم ﷺ او د هـغـه د اولادو سره د ترقی او برکت وعده پوره کولو بـانـدے بـه ئے فـخر کولو پدے وجه هغوی به دا دعوه کوله چه په صحیح دین باندے همدا مونږ روان یو او ځان ئے د جنت ټیکیداران ګڼړل اګرکه عمل ئے هرڅنګه وو۔

دغـه شان قریشو د اسماعیل ﷺ په واسطه د ابراهیم ﷺ اولاد وو او په خپل نسبت به ئے فخر کـولـو او د بیت الله نـګرانی او د مسجد حرام د آباد ساتلو منصب به ئے د ابراهیم ﷺ پاتے شوے

ميراث ګنړلو، او په ټولو عربو به يې ديني سرداري كوله، نو الله تعالىٰ پدې آيتونو كښې دا خبره بيانوي چه دې ټولو انبياؤ اسلام او توحيد ته دعوت وركړيدې او په دې باندې يې وصيت كړيدې نو څوك چه د توحيد عقيده خپله كړي، هغه د ابراهيم عليه السلام حقيقي وارث شو او څوك چه د توحيد عقيدې ته خيرباد اُووائي نو هغه د ابراهيمي وراثت نه محروم شو نو د يهودو غلطې دعوې- چه مونږ جنتيان او غوره مخلوق يو- صحيح نشوې. دغه شان د قريشو دا دعوه- چه مونږ د بيت الله د نګراني او پروګرام او تعمير حقدار يو- غلطه ثابته شوه ځكه چه دوى ددې مقدس مقام د اول باني د روحاني ميراث نه ډډه اُوكړه او د هغې نه واوړيدل. دغه شان د يهوديانو دا دعوه هم ختميږي چه دوى د بيت المقدس اصحاب دي او مسلمانانو له هم پكار دي چه بيت المقدس خپله قبله جوړه كړي - دا ځكه غلطه ده چه د ابراهيم عليه السلام او د هغه د اولادو اصل قبله خانه كعبه وه نو دا دعوه هم خطاء شوه. نو دا درې واړه ډلې ابراهيم عليه السلام ته په نسبت كولو كښې دروغجن دي. سوىٰ د مسلمانانو نه.

٢- دويمه مسئله پدې كښې د قبلې د تحويل ده چه ابراهيم عليه السلام كعبه جوړه كړې ده او دا ډير بهترين كور دې ځكه چه روسته الله تعالىٰ قبله بدلوى نو دا ورله مقدمه ده.

٣- بله دا ده چه ابراهيم عليه السلام د محمد رسول الله ﷺ دپاره دعا كړې ده او تاسو ددۀ نه انكار كوئ او وايئ چه مونږه د ابراهيم عليه السلام په دين روان يو او هغه زمونږ مشر دې. كه ابراهيم عليه السلام خپل مشر ګنړئ نو هغه خو د محمد رسول الله ﷺ دپاره دعا كړې ده په (وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا) سره نو هغه ورله دعا كوي او تاسو يې انكار كوئ، اعتراضونه پرې كوئ، هغه يې مني او تاسو يې نۀ منئ، څنګه د هغه تابعدار شوئ ؟!، نو دا په بله طريقه باندې د يهودو او نصاراؤ او مشركانو راګيرول دي.

٤- ابراهيم عليه السلام ته الله تعالىٰ بعض احكام اُوسپارل او هغه پرې وفاداري اُوكړه نو پدې وجه ورته په دين كښې امامت او مشري ملاؤ شوه نو پدې كښې يهود، نصارىٰ او مشركانو ته خبردارې وركول دي چه په دنيا او آخرت كښې چه انسان ته خير حاصليږي نو دا په سركشي او عناد پريخودلو سره او د الله تعالىٰ احكامو ته په غاړۀ كيخودو سره.

٥- ابراهيم عليه السلام د اولادو دپاره امامت طلب كړې وو ليكن الله ورته اُوفرمايل : ظالمانو ته يې نۀ وركوم نو دا دليل دې چه كله يهود او نصارىٰ او مشركين غواړي چه اُوچت منصب ته اُورسيږي نو په دوى لازم دي چه د باطل دپاره به تعصب او عناد پريدى او حق ته به تسليميږي. او اې عربو! تاسو خو د ځان نسبت ابراهيم عليه السلام ته كوئ او ځان د هغه دحرم اهل او محافظين

ګنړئ،حال دا چه هغه خوضد نهٔ کولو۔
٦- مفسرينو د کلمات ډير مصداقات ذکر کړيدي چه په هغه تولو کښ په يهود او نصارىٰ او مشرکانو رد دے چه دوی دغه کارونه نکوی او دعوىٰ د ملت ابراهيمی کوی۔ کوم چه روستو راځی۔
٧- کـه تاسو د ابراهيم ﷺ تعظيم او اکرام کوئ نو هغه خو اسلام او توحيد ته دعوت ورکړيدے نو هغه قبول کړئ، تاسو به د ابراهيم ﷺ صحيح تابعدار شئ۔
تبصره : په مدينه طيبه کښ د اسلامی جماعت او د يهوديانو ترمينځ چه کوم مختلف قسم اختلافات موندے شو په هغے باندے د روښنائی اچولو دپاره دا قصه بے حده اَهمه وه نو ځکه ئے الله بيانوی۔ بيا پدے راتلونکو آيتونو کښ عنوانات دی :

وَاِذِابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ،
او کله چه امتحان اُوکړو په ابراهيم (ﷺ) باندے رب د هغهٔ په يو څو خبرو (کارونو) سره نو هغه دا پوره پوره ادا کړل،
قَالَ اِنِّىۡ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا، قَالَ
الله ورته اُوفرمايل : يقيناً زهٔ ګرځونکے يم تا لره د خلقو دپاره پيشوا، هغهٔ اُووئيل :
وَمِنۡ ذُرِّيَّتِىۡ قَالَ لَايَنَالُ عَهۡدِى الظّٰلِمِيۡنَ ﴿١٢٤﴾
او ځما د اولادو نه هم (امامان جوړ کړه)۔ الله اُوفرمايل : نهٔ رسيږی وعده زما (د امامت ورکولو) ظالمانو ته۔

تفسير : (عنوان) په دے آيت کښ د ابراهيم ﷺ لوئی شان ذکر کوی په درے صفاتو سره (۱) اول پوره کول د امتحان۔ (د الله د وعدو وفاداری کول)۔ (۲) دويم هغه ته ددين مشری ورکول۔
(۳) دريم د هغه د اولادو په باره کښ د امامت دعا قبليدل۔سوىٰ د ظالمانو نه۔

ارتباطونه او مناسبتونه

(۱) مخکښ (حَقَّ تِلَاوَتِهٖ) سره هغه خلق ذکر شو چه د الله تعالىٰ کتاب په صحيح طريقے سره لولی او د هغے تابعداری کوی، نو اُوس وائی چه ابراهيم ﷺ له هم کلمات ورکړے شوی وو، نو هغه پوره ادا کړل نو اے مشرکانو او بنی اسرائيلو! تاسو له هم د دوی اقتداء پکار ده۔ (قاسمیؒ)۔
۲- اُذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِىَ الَّتِىۡ سره ئے تعلق دے چه بنی اسرائيلو ته امر شوے وو چه شکر اُوکړئ او ابراهيم ﷺ ته حکم شوے وو چه تهٔ هم شکر اُوکړه نو هغه پوره کړو او پدے حکم ئے عمل اُوکړو، نو تاسو له د ابراهيم ﷺ اقتداء پکار ده۔او د هغه شکر دا وو چه توحيد ئے قبول کړے وو او تاسو د توحيد نه مخ اړوئ۔

٣- مضموني مناسبت دا دے چه يهود او نصارئ او مشركين د ابراهيم عليه السلام د تابعدارئ دعوه كوى او حقيقت كښ تابعدار نۀ دى ځكه چه دوى شرك كوى، ابراهيم عليه السلام بيت الله جوړ كړے، يهود او نصارئ ئے نۀ منى، ددے نبى محمد رسول الله عليه السلام دپاره ابراهيم عليه السلام دعاء كړے او دا دريواړه ډلے ئے نۀ منى نو دوى د ابراهيم عليه السلام د ملت د اتباع په دعوه كښ دروغجن دى۔

٤- مخكښ ئے اُووئيل چه په قيامت كښ نجات په دغه مخكنو خلورو طريقو سره نۀ حاصليږى نو اُوس د نجات طريقه ذكر كوى چه هغه د ابراهيم عليه السلام ملت قبلول دى۔

د ابتلاء معنىٰ او فوائد

(اِبْتَلٰى) : ابتلاء د بَلَاء نه اخستے شويدے په معنىٰ د امتحان او از ميښت او حقيقت راښكاره كولو دے۔ لكه ﴿هُنَالِكَ تَبْلُوْا﴾ (يونس/٣٠)

او په امتحان سره هم د شى حقيقت معلوم شى۔دا معنىٰ په سورة يونس (٣٠) آيت او سورة كهف (٧) آيت او سورة ملك (٢) آيت كښ ذكر ده۔

دا امتحان كله په نعمتونو وركولو سره وى دے دپاره چه شكر اُوكړى لكه په سورة انفال (١٧) آيت او سورة فجر (١٥) آيت كښ ده۔ ○ او كله په مصيبتونو سره وى چه صبر معلوم شى دا په سورة بقره (١٥٥) آيت كښ ده۔ ○ او كله په معنىٰ د مطلق امتحان سره وى كه خير وى او كه شر لكه په سورة اعراف (١٦٨) آيت او سورة قلم (١٧) آيت كښ۔

○ او كله امتحان په احكام شرعيه ؤ سره وى لكه په سورة مائده (٤٨) آيت او دے (١٢٤) آيت كښ همدا معنىٰ ده۔

بيا امتحان په دوه قسمه دے : ١- د مخلوق امتحان [عِلْمُ مَا لَمْ يَعْلَمْ] ته وائى۔

يعنى د هغه شى علم حاصلول چه مخكښ پرے پو هه نۀ وى او د امتحان په ذريعه معلومات كوى) ...... ٢- او د الله امتحان [اِظْهَارُ مَا قَدْ عَلِمَ لِلنَّاسِ وَلِلْعَبْدِ] ته وائى۔ (يعنى د الله د امتحان مقصد دا وى چه خلقو ته ددے بنده مرتبه راښكاره كړى او دارنگه خپله دے بنده ته دا ښائى چه ستا مرتبه دا ده،هسے غتے دعوے اُونكړے)۔

نو د الله تعالىٰ د امتحان مقصد دا نۀ وى چه هغه ته اُوسه پورے د يو انسان حقيقت نۀ دے معلوم او په امتحان سره ئے معلوموى، بلكه دلته مقصد دا دے چه خلقو ته ددهٔ مرتبه راښكاره كوى۔ نورے فائدے روستو اُوگوره۔

د ابتلاء او امتحان مقصد اوفوائد څه دى ؟

ابتلاء او امتحان په دنيا كښې په كافر هم راځي او په مؤمن هم. د كافر د ابتلاء مقصد دا دے: [اَلرُّجُوْعُ اِلَى الْحَقِّ اَوِ الْعُقُوْبَةِ] (دے دپاره چه كافر حق ته راواپس شي او كه په امتحان كښې پاس شي نو د عذاب نه بچ شي). او كه پاس نشي نو دا يو قسم سزا شوه.

او د مؤمن د ابتلاء مقصد: (۱) تَصْفِيَةُ الْعِبَادِ (يعني د بندګانو صفا كول مقصد وي) ځكه چه بنده كله په خپلو خواهشاتو او عاداتو كښې ډوب وي، نو دا ډير بدرنګ وي نو الله پرے ابتلاء ات راولي، ددهٔ عادتونه ګډوډ شي نو ددهٔ توجه الله ته پيدا شي، ګناهونه ترے اُورژيږي، نو كمال پكښې پيدا شي. لكه څنګه چه سرهٔ زر په خاورو او ګندونو كښې پراته وي نو زرګر هغه په اُور كښې واچوي دے دپاره چه ددے نه ګندونه زائل شي او صفا سرهٔ پاتے شي چه كالي او ګانړهٔ ترے جوړه شي.

دے نه بل تعبير كيږي په [تَكْفِيْرُ السَّيِّئَاتِ] سره (يعني د بنده ګناهونه رژول).

۲- [اَلرُّجُوْعُ اِلَى اللهِ بِالتَّوْبَةِ] دے دپاره چه بنده الله ته رجوع اُوكړي په توبه ويستلو سره او آينده كښې د ګناهونو نه په ځان ساتلو سره). ۳- [رَفْعُ الدَّرَجَاتِ] (كه ګناهونه ئے نهٔ وي يا كم وي نو امتحان سره ئے په دنيا او آخرت كښې درجات پورته كيږي) كله الله تعالىٰ يو بنده له اُوچته درجه ليكلې وي ليكن هغه ئے په اعمالو نشي حاصلولے ځكه چه اعمال ئے كمزوري وي نو الله تعالىٰ پرے امتحانات راولي چه خپلو اُوچتو مرتبو ته ئے اُورسوي.

٤- كله امتحاناتو كښې مقصد د داعي او نبي زړهٔ قوي كول وي او هغه د اُوچتو كارونو دپاره تيارول وي.

٥- كله پدے كښې عمومي فائده وي چه الله تعالىٰ خپل ربوبيت ښكاره كوي، چه هغه په خپلو بندګانو كښې څنګه غواړي تصرف كولے شي. نورے فائدے به (ولنبلونكم) آيت (۱۵۵) كښې راځي ان شاء الله تعالىٰ.

د ابتلاء اتو او امتحاناتو اقسام

امتحانات الله تعالىٰ په انبياء عليهم السلام هم راولي او په عامو انسانانو هم. د انبياؤ ابتلاء ډيره سخته وي لكه حديث كښې دي: [اَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْاَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلٰى حَسَبِ دِيْنِهٖ فَاِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهٖ صُلْبًا اِشْتَدَّ بَلَاؤُهٗ وَاِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهٖ رِقَّةٌ اُبْتُلِيَ عَلٰى قَدْرِ دِيْنِهٖ فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتّٰى يَتْرُكَهٗ يَمْشِيْ عَلَى الْاَرْضِ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ] [الطيالسي: ۲۹رقم ۲۱۵، واحمد (۱٤۸۱)، والترمذي رقم: (۲۳۹۸) بسند صحيح) (د ټولو نه سخت امتحان والا انبياء دي، بيا هغه څوك چه د هغوي نه روستو غوره وي بيا هغه څوك چه د هغوي نه روستو غوره وي. هر سړي باندے د هغه د دين مطابق امتحان راځي، كه په دين كښې سخت وي نو امتحان ئے هم سخت وي، او كه دين كښې نرم

وی نو امتحان ئې هم د هغې مطابق وی، په بنده باندې امتحان همیشه وی تردې چه دا په زمکه روان وی او هیڅ گناه پرې نهٔ وی)۔

په انبیاء علیهم السلام کښې که چا باندې دینی ابتلاء ات زیات وی نو دنیاوی او بدنی امتحانات پرې کم وی لکه ابراهیم علیه السلام وغیره۔ او که په چا باندې دینی امتحان کم وی نو دنیاوی ابتلاء ات پرې زیات راغلی دی لکه ایوب علیه السلام باندې اتلس کاله بیماری وه۔ او اهل، اولاد او مالونه ترې اخستې شوی وو۔ او په یعقوب علیه السلام باندې د ځوی (یوسف علیه السلام) د ورك کیدو امتحان وو۔ بعض انبیاؤ باندې د مال ابتلاء راغلې وه چه د لوږې نه مړهٔ شویدی۔ لکه دا په صحیح حدیث کښې ثابت دی۔ وَمِنْهُمْ مَنْ قَتَلَهُ الْجُوْعُ (الصحیحة)۔

بیا دینی امتحانات کله داسې وی چه انسان ته به حرام او ممنوع څیزونه او خواهشات زیات او فراخه شی لکه یوسف علیه السلام باندې د زلیخا امتحان راپیښ شو، کله دکاندار باندې د مانځه په وخت گاهك رازیات شی او مونځ او جماعت ترې قضاء کړی دا هم امتحان دې۔

کله دینی امتحانات داسې وی چه داعی ته کله لارې نیولې کیږی، وژلې کیږی، کورنه ویستلې کیږی، شړلې کیږی، بحثونه او مناظرې ورسره کیږی، پرې او رعبونه پرې اچولې کیږی، جیلونو ته لیږلې شی۔ او پدې دواړو حالتونو کښې د بنده حقیقت راښکاره کیږی۔

فائده : -- د ابراهیم علیه السلام تعارف :

(ابراهیم) : خازنؒ وغیره لیکی : ابراهیم عجمی نوم دې معنیٰ ئې ده (اَبٌ رَحِیْمٌ) (مهربانه پلار) ددهٔ د نسب سلسله داسې ده : ابراهیم بن تارخ چه دهٔ ته آزر هم وائی۔ ابن ناخور بن شاروع بن ارغو بن فالغ بن عابر بن شالخ بن ارفخشد بن سام بن نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام د اَهواز علاقې په سوس کلی کښې پیدا شوې وو۔ بعض وائی په بابل کښې۔ بعض وائی په کوثی علاقه کښې پیدا شوې وو چه دا د کوفې د باندو نه یو کلې دې، بعض وائی په حران کښې پیدا وو بیا پلار منتقل کړو بابل (عراق) ته چه دا د نمرود جبار زمکه وه۔

ابراهیم علیه السلام هغه منلې شوې پیغمبر دې چه هره طائفه خپل ځان هغه ته منسوب کوی، پدې وجه الله تعالیٰ دلته د ابراهیم علیه السلام واقعه ذکر کړه، او داسې کارونه ئې د هغه نه نقل کړل چه مشرکان او یهود او نصاریٰ ئې د رسول الله ﷺ د خبرې قبلولو ته او د هغه د شریعت تابعداریٔ ته او د هغه په دین باندې اقرار کولو ته مجبوره کړل ځکه کوم کارونه چه الله تعالیٰ په ابراهیم علیه السلام لازم کړیدی بعینه دا د محمد ﷺ د دین خصوصیات دی نو دا په مشرکان او یهود او نصاراؤ باندې پوره حجت او دلیل دې چه دوی به ضرور په محمد ﷺ ایمان راوړی او د هغه د شریعت

تابعداري به كوي۔ (تفسير خازن ۱/۹۰)

﴿ رَبُّهٗ ﴾ دا فاعل دے او روستو شو، او ابراهيم مفعول مقدم شو ځکه چه د مفعول په مقدم كولو كښې كله مقصد اهتمام وي، او ابتلاء كونكے فاعل خو معلوم وو چه الله دے۔ دويم: ددے دپاره چه د (رَبُّهٗ) ضمير هغه ته راجع شي ځکه چه بيا اضمار قبل الذكر لازميدو۔ دريم: پدے جمله كښې په نسبت د (وَاِذِ ابْتَلٰى اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ رَبُّهٗ) اختصار هم دے۔

فائده : رَبُّهٗ : د ابتلاء نسبت ئې رب ته اُوكړو، او فاعل ئې رب راوړو پدے كښې اشاره ده چه پدے ابتلاء كښې حكمت ددهٔ تربيت كول وو، او ددهٔ عزم مضبوطول وو، دے دپاره چه د درنو او غټو كارونو د پورته كولو دپاره تيار شي۔ (الوسيط) او اُوچتو مقاماتو او درجاتو ته اُورسولے شي ځکه چه رب هغه ذات ته وائي چه يو شے په آرام آرام د كمال درجے ته رسوي۔ او دا مقصد د امتحان وو۔ نهٔ دا چه الله خپله ددهٔ معلومات حاصلول وو۔

﴿ بِكَلِمٰتٍ ﴾ دا كلمات څهٔ شے وو؟۔ دا امتحان د مدرسو او د يونيورسټو اونورو تعليمي ادارو د امتحان په شان نهٔ وو چه فني مسائل او د هغے تحقيقات معلوم كړے شي بلكه پدے سره د ابراهيم عليه السلام اخلاقي درجات او عملي صبر ازمائيل وو۔

د كلماتو مصداق

ددے كلماتو په مصداق كښې علماؤ ډير اقوال ذكر كړيدي، ماوردیؒ، ابن الجوزیؒ وغيره پدے كښې اته او اُوه اقوال ذكر كړيدي، بعض قوي او بعض ضعيف دي۔

۱- ځوك وائي: دا شعب الايمان (د ايمان څانگے) او كارونه وو، هغه ئې وراُوخودل چه دا دا به كوے۔ ۲- او بعض وائي: د كلماتو نه مراد هغه لس كارونه دي چه هغے ته سنن الفطرة وائي چه پنځه په سر كښې دي او پنځه په بدن كښې دي لكه مضمضه، استنشاق كول، (يعني پوزے ته اُوبه اچول) مسواك وهل، بريت وهل، د سر د ويښتو په مينځ كښې لاره جوړول۔ پنځه په بدن كښې دا دي: نوكونه پريكول، د نامه نه لاندے ويخته خرئيل، ختنه (سنت) كول، د ترخونو ويختهَ ويستل، په اوبو سره استنجاء كول۔ دا څيزونه هم الله تعالیٰ ابراهيم عليه السلام ته وركړي وو ليكن دلته د كلماتو دا تفسير كول بعيد دي۔

وجه دا ده چه ابتلاء په هغه شي سره كيږي چه د مزاج خلاف وي او دا خو د فطرت او مزاج موافق څيزونه دي۔

۳- دارنگه بعض مفسرين ليكي: ددے نه مراد د شريعت احكام او د حج احكام دي۔

٤- بعض وائي: ددے نه هغه ديرش احكام (اوامر او نواهي) دي چه هغه د مؤمنانو صفات

دی۔ ابن عباسؓ فرمائی: لس په سورة التوبة (۱۱۲) آیت کښې دی:
﴿اَلتَّائِبُوْنَ الْعَابِدُوْنَ الْحَامِدُوْنَ السَّائِحُوْنَ الرَّاكِعُوْنَ السَّاجِدُوْنَ الآمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾

او لس په سورة المؤمنون (۱/۱۱) آیت کښې دی: ﴿قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ○ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ ○ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ○ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُوْنَ ○ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حَافِظُوْنَ ○ اِلَّا عَلٰى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ○ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَاءَ ذٰلِكَ فَاُولٰئِكَ هُمُ الْعَادُوْنَ ○ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُوْنَ ○ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ○ اُولٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُوْنَ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ ○﴾

او لس په سورة الاحزاب (۳۵) آیت کښې دی: ﴿اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِيْنَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِيْنَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِيْنَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِيْنَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِيْنَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَالذَّاكِرَاتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ○﴾. (ابن کثیرؒ، قرطبیؒ)

د قرآن د ترجمان مفسر ابن عباسؓ ددے وینا نه معلومه شوه چه د یو مسلمان دپاره تول ضروری هغه صفات چه عملی، علمی او اخلاقی دی، ددے درے وارو سورتونو په یوځو آیتونو کښې راجمع کړے شویدی او دا هغه صفات دی چه د ابراهیم علیه السلام از مینبت پرے شوے وو او په ((وَاِذِ ابْتَلٰى اِبْرَاهِيْمَ رَبُّهٗ بِكَلِمَاتٍ)) کښې هم دغه صفاتو ته اشاره ده۔

نو څوك چه دا دیرش اخلاقی او عملی صفات په کامل مکمله طریقه سره خپل کړی او پدے باندے عمل اُوکړی نو الله تعالیٰ به دهٔ ته دغه شان په دین کښې امامت ورکړی۔ او ددے دیرشو صفاتو خلاصه الله تعالیٰ په بل آیت کښې په دوه لفظونو کښې ذکر کړیده چه هغه صبر او یقین دے۔ فرمائی: ﴿وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا وَكَانُوْا بِآيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ﴾ [الم السجدة/۲٤]

(مونږ د هغوی نه پیشوایان او امامان جوړ کړل چه زمونږ په امر سره به ئے خلقو ته هدایت کولو، هرکله چه دوی خپل نفس د خلاف شریعت خبرو نه ایسار کړو او زمونږ په آیتونو ئے یقین اُوکړو)۔ مطلب دا چه یقین عِلمی او اعتقادی کمال دے او صبر اخلاقی او عَملی کمال دے۔ دا دواړه د امامت فی الدین شرط او معیار دے۔ لیکن اول قول او دا قول تقریباً یو شے شو۔ شعب الایمان دا هم دی۔

۵- سعید بن جبیرؒ فرمائی: دا هغه کلمات دی چه کله ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام بیت الله پورته کولو نو الله تعالیٰ ورته خودلی وو چه دا کلمات وایئ [سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَاۤ اِلٰهَ

اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ] نو دوی به دا وئیل۔ (بغویؒ فی معالم التنزیل)۔

٦- ظاهره دا ده چه د کلمات نه مراد امتحانات دی۔ چه هغه څهٔ دنیوی قدری وو او څه شرعی امتحانات وو۔

١- یو دا چه هغه په اسلام مکلف شو نو اسلام ئے قبول کړو او الله تعالیٰ ته تابعدار شو لکه روستو (۱۳۱) آیت کښې راځی۔

٢- په هجرت باندے پرے امتحان اُوشو نو وطن ئے پریخودو او شام ته لاړو لکه په سورة صافات (۹۹) او عنکبوت (٦٦) آیت کښې دی۔

٣- مُحَاجّه (مناظره) ئے د پلار سره اُوکړه لکه په سورة مریم (٤٦) آیت کښې دی۔

٤- د قوم مقابله ئے اُوکړه لکه په سورة انعام (۸۰) آیت کښې دی۔

٥- د نمرود سره ئے مقابله راغله او هغه ئے پر کړو لکه په سورة بقره (۲٥۸) آیت کښې دی۔

٦- د بچی (اسماعیل علیه السلام) په ذبح کولو ورته حکم اُوشو نو هغے ته تیار شو۔ لکه سورة صافات (۱۰٦) آیت کښې دی۔

٧- ښځه (هاجره) ئے د مکے په صحراء کښې پریخودله سره د بچی (اسماعیل علیه السلام) نه چه دا ډیر گران کار وو۔ لکه په سورة ابراهیم (۳۷) آیت کښې دی۔

٨- د الله تعالیٰ د دین د خاطره اُور ته گوزار شو، په هغے ئے صبر اُوکړو۔ لکه په سورة الانبیاء (٦۸) آیت کښې دی۔

٩- د کعبے په جوړولو ورته حکم اُوشو هغه ئے پوره کړو۔ دارنگه روستو چه کوم حکمونه راغلی دی چه هغه تطهیر البیت (د بیت الله پاك ساتل) وغیره وغیره۔

١٠- ابن الجوزیؒ په تفسیر زاد المسیر کښې لیکی : د ابراهیم علیه السلام هر سوال او هره دعاء چه په قرآن کریم کښې ذکر ده هغه په کلماتو کښې داخل ده۔

راجح دا ده چه دے ټولو ته کلمات لفظ شامل دے۔

شیخ ابن عثیمینؒ په خپل تفسیر کښې فرمائی : [وَاَصَحُّ الْاَقْوَالِ فِيْهَا اَنَّ كُلَّ مَا اَمَرَهٗ بِهٖ شَرْعًا اَوْ قَضَاهُ عَلَيْهِ قَدْرًا فَهِيَ كَلِمَاتٌ، فَمِنْ ذٰلِكَ اَنَّهُ ابْتُلِيَ بِالْاَمْرِ بِذَبْحِ ابْنِهٖ الخ]

(پدے ټولو اقوالو کښې ډیر صحیح قول دا دے چه هرهغه شے چه الله تعالیٰ پرے ابراهیم علیه السلام ته شرعاً حکم کړیدے یا ئے په هغه باندے په تقدیر کښې لیکلے (یعنی مصیبت وغیره) نو دا ټول کلمات دی لکه د بچی په ذبح کولو ورته امر اُوشو دا هم شرعی امتحان دے) او داسے نور ئے ذکر کړی کوم چه مخکښې مونږ ذکر کړل۔

نو غټ غټ امتحانات پرېے الله راوستل چه په هغې کښې ابراهيم ﷺ کامياب شو او د هغې په بدله کښې د امامت په منصب باندې کامياب کړې شو۔

د ابراهيم - ﷺ - صفات

سعيد بن المسيبؒ وائي : ابراهيم ﷺ اول څان سنت (ختنه) کړيدې، اول ئې ميلمستيا ورکړيده، اول ئې زيرناف ويښته خرئيلي دي، اول ئې نوکونه پرې کړيدي، اول ئې بريت واړهٔ کړيدي، او اول سپين ګيرې شويدې، کله ئې چه د ويښتو سپينوالي اُوليدو وې فرمايل : اې الله ! دا څهٔ دي ؟ الله اُوفرمايل : دا وقار (عزت) دې، دهٔ اووئيل اې الله ! زما وقار زيات کړه۔ (الموطأ لمالك)

ابوبکر بن ابي شيبهؒ د سعيد بن ابراهيمؒ نه هغه د خپل پلار نه نقل کوي :[اَوَّلُ مَنْ خَطَبَ عَلَى الْمَنَابِرِ اِبْرَاهِيْمُ خَلِيْلُ اللهِ] (په منبر باندې اول تقرير ابراهيم خليل الله ﷺ کړيدې)۔

څينو وئيلي دي : [اَوَّلُ مَنْ ثَرَدَ الثَّرِيْدَ، وَاَوَّلُ مَنْ ضَرَبَ بِالسَّيْفِ وَاَوَّلُ مَنِ اسْتَاكَ وَاَوَّلُ مَنِ اسْتَنْجٰى بِالْمَاءِ وَاَوَّلُ مَنْ لَبِسَ السَّرَاوِيْلَ]

(اول ئې په کاسه کښې روټئ ماته کړيده، اول ئې په توره وهل کړيدي، اول ئې مسواك وهلې دې، اول ئې په اُوبو استنجاء کړيده، اول ئې پرتوګ اغوستې دې) ...... [ذكرها القرطبي:٢/٩٨وغيره]

په حديث د بخاري وغيره کښې دي : ابراهيم ﷺ اول څان سنت کړيدې او دا د اتيا کالو په عمر وو او په تيشه او تخزه ئې څان سنت کړو۔

نو پدې ټولو فطري کارونو کښې ابراهيم ﷺ د سابقينو نه دې۔

﴿ فَاَتَمَّهُنَّ ﴾ يعني (اَدَّاهُنَّ تَامَّاتٍ) [النيسابوري١/٤٦٥] (دا امتحانات ئې پوره پوره ادا کړل) او الله چه ورسره کومې وعدې کړې وې او کوم اوامر او نواهي ئې کړي وو، هغې باندې ئې مکمل طريقې سره عمل اُوکړو، څکه ورله الله تعالىٰ په سورة النجم (٤٨) آيت کښې داسې صفت کړيدې

﴿ وَاِبْرَاهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰى ﴾ ...... (ابراهيم هغه شخص دې چه د الله په وعدو ئې وفاداري کړيده)۔

سُبْحَانَ الله ! بحيثيت انسان يو ضعيف او فقير مخلوق، او د هغه په حق کښې د آسمانونو او زمکې خالق داسې ګواهي ورکوي چه دا زما وفادار بنده دې، دا هغه بلند مقام دې چه ديته صرف د ابراهيم ﷺ په شان شخصيت رسيدې شي، د عظيم سعادت او لوئي اعتماد مستحق شو۔

(دا وو د امتحان نه سند فراغت)۔

فَاَتَمَّهُنَّ کښې ئې فاء راوړه اشاره ده چه دا ئې سمدست پوره کړي وو۔ نو پدې کښې رد دې په بني اسرائيلو چه دوي ته د الله تعالىٰ حکمونه شوي وو او کيږي، او دوي هغې ته سبقت نهٔ کوي لکه د غوا په باره کښې ئې څومره چون وچرا کړې وه، د تويې ويستلو او څان قتلولو په باره کښې، د کتاب

(تورات) د قبلولو په باره کښې ئې څو مره چیر چاړ کړې وو۔ دارنګه موجوده یهودیان ددې نبي ﷺ په باره کښې څو مره افتراء ات او دروغ بیانوي او ددهٔ د نبوت نه د انکار دپاره څو مره بهانې تلاش کوي، نو دوی د ابراهیم علیه السلام متبعین نشي کیدې۔

فائده : آیا دا امتحان د هغه د نبوت نه مخکښې وو او که روستو ؟ : ۱- بعض وائي دا قبل النبوة وو ځکه چه انسان اول امتحان کښې پاس شي بیا ورته انعام ورکولې شي، نو دلته هم ابراهیم علیه السلام ته د امتحان د کامیابۍ نه روستو امامت او نبوت ملاؤ شو، دلیل پرې روستو ﴿ قَالَ اِنِّیْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا﴾ دې، ځکه سبب په مسبب باندې مقدم وي۔

۲- بعض وائي دا امتحان د نبوت نه روستو وو ځکه چه د الله تعالیٰ د وحی نه روستو نبي وغیره مکلف کولې شي او تکلیف په وحي سره معلومیږي۔ مفسر خازن د دواړو قولونو تطبیق داسې کوي : چه حقه دا ده چه بعض امتحانات د نبوت نه مخکښې وو لکه مثلًا د قوم سره د نمرود سپوږمۍ او د ستورو د اُلوهیت او ربوبیت په باره کښې مناظره کول د نبوت نه مخکښې وو۔ او که د دغه امتحاناتو نه مراد دیني او شرعي احکام واخلو نو بیا به دا امتحان د نبوت نه روستو وي۔ (تفسیرخازن ۱/ ۹۲)

هرکله چه ابراهیم علیه السلام په امتحاناتو کښې کامیاب شو نو الله تعالیٰ ورته اُوس یوه تمغه او جائزه او انعام ورکوي۔ چه هغه د ټولو انعاماتو نه په دنیا کښې لوئی انعام دې چه هغه په دین کښې امامت او مشري ده۔

﴿ قَالَ اِنِّیْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ﴾ یعني زهٔ دې د خلقو دپاره پیشوا ګرځوم داسې پیشوا چه د خلقو دپاره قبله او کعبه وي هغوی لره الله تعالیٰ ته رسونکې وي، او په نیك کارونو کښې د ټولو نه مخکښې کیدونکې وي او خلق د هغه پسې وي او د خلقو محبوب قائد وي۔ (فی ظلال)

امام قرطبيؒ معنیٰ کوي :[يَأْتَمُّوْنَ بِكَ فِيْ هٰذِهِ الْخِصَالِ وَيَقْتَدِيْ بِكَ الصَّالِحُوْنَ] (د دین پدې خصلتونو او کارونو کښې به خلق ستا پسې روان وي او نیکان خلق به ستا اقتداء کوي)۔

خازنؒ وائي : [يُقْتَدٰى بِكَ فِي الْخَيْرِ وَيَأْتَمُّوْنَ بِسُنَّتِكَ وَهَدْيِكَ، وَالْإِمَامُ هُوَ الَّذِيْ يُؤْتَمُّ بِهٖ]

(یعني په خیر او نیکو کارونو کښې به ستا اقتداء کولې شي او خلق به ستا د سنت او طریقو تابعداري کوي، ځکه امام هغه چا ته وائي چه د هغه اقتداء کولې شي)۔

یعني د دین مشري درله درکوم۔ الله رب العزت هغه له د دین مشري ورکړې وه، دا مطلب نهٔ دې چه دا اُوسه پورې امام نهٔ وو، اُوس امام شو، نهٔ د مخکښې نه امام وو، ځکه پیغمبر وو خو مطلب دا دې چه د عامو خلقو مشري درله درکوم، د ټولو پیغمبرانو مُقتَدیٰ به جوړ شې او

همدغه شان اُوشوه چه ټول پيغمبران د هغه په اولاد کښې راغلي دي. ﴿ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ ﴾ (العنكبوت/۲۷) مونږ د هغهٔ په اولادو کښې نبوت او کتاب راوليږلو) ځکه چه ډيرے اُوچتے کارنامے ئے اُوکړے او کراؤنه ئے تير کړل.

او الله فرمايلي دي : ﴿ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرَاهِيْمَ ﴾ ...... [الحج: ۷۸]

(دا دين اسلام ستاسو د پلار ابراهيم ملت دے، ددے تابعداری اُوکړئ)

او ټول خلق د دين په اصولو او مکارم الاخلاق (ښائسته اخلاقو او صفاتو) کښې د ابراهيم عليه السلام اقتداء کوی.

دا دليل دے په دے چه سړے په دين کښې هله مشر کيږی چه مشقتونه او تکليفونه برداشت کړی. امتحاناتو کښې به واوړی راواوړی نو روسته به ورته بيا مشری ملاويږی.

حکمة : «اِمَامًا» ئے اُووئيل، (رَسُوْلًا) ئے اُونهٔ وئيل؟ پدے کښې حکمة دا دے چه امام لفظ کښې کمال زيات دے ځکه چه دا دلالت کوی چه د ابراهيم عليه السلام د رسالت نه به په ظرفه د تبليغ هغه څوك هم فائده اخلی چه دا چا ته ليږلے شويدے او نورو امتونو ته به فائده رسيږی په طريقه د اقتداء ځکه چه ابراهيم عليه السلام ډيرو ملکونو ته سفر کړے وو لکه د کلدان د علاقو نه عراق ته تلے وو دارنګه شام، حجاز او مصر ته او پدے ټولو علاقو کښې دا د خلقو ښائسته مُقتدیٰ وو.

(الوسيط)

فائده : د امامت درجه د نبوت نه اُوچته نهٔ ده لکه څنګه چه شيعه ګان وائي بلکه دلته مراد د دين مشری ده او د نورو انبياؤ او د حق د داعيانو دپاره په دين کښې مُقتدیٰ او پيشوا جوړيدل دی.

د امامة فی الدين معنیٰ او مطلب :

په دين کښې د امامت نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ انسان لره په دينی کار کښې اُولګوی، د دين خدمت او مشری اُوکړی، چا کښې اهليت زيات وی نو هغه نه الله تعالیٰ ډيرکار اخلی لکه ځينو علماؤ باندے ټوله دنيا آباده وی لکه انبياء او رسولان او صحابه کرام شو. او بعضو باندے يو ملك او په چا يوه علاقه او په چا يو مسجد آباد وی او په چا څهٔ کسان آباد وی هغوی ته دين بيانوی. دا ټول د امامت فی الدين درجات دی.

د امامتیٔ نه مراد د دين مشری ده که د جمات امام شوے، که مدرس شوے، د دين بيانونکے شوے، قاضی شوے. دارنګه د دين غټ غټ کارونه ډيے اُوکړل نو دا هم د دين امامتی ده او دا الله تعالیٰ بعض بندګانو ته ورنصيب کوی او دا ډير لوئی منقبت او شرافت دے، يو سړے بادشاه شی او بل سړے د جمات خطيب او امام شی نو د جمات امامت ډير غوره دے ددغه بادشاهیٔ نه چه د

گمراهئ او کفر سره وی. او که یو انسان د الله تعالیٰ قانون او دین نافذ کوی نو بیا هغه غوره او هغه اصلی امام دے۔

د امامت فی الدین صورتونه :

۱- د یو امت نبی جوړیدل. ۲- د مسلمانانو خلیفه جوړیدل. ۳- د دین په دعوت کښ مشر کیدل او د خلقو مَرجع او مُقتدیٰ گرځیدل. ٤- درس او تدریس کښ مشغوله کیدل او د طالب علمانو علمی، عقیدوی، عملی او اخلاقی تربیت کول. ٥- په مانځه کښ امامت. که یوتن مانځه ته مخکښ کړے شو، دا هم یو قسم امامت دے. ابوبکر صدیق ﷺ چه کله د رسول الله ﷺ نه مانځه ته مخکښ شوے وو او هغه ته د نبی ﷺ دطرف نه اشاره اُوشوه چه مهٔ راروستو کیږه نو هغه په مانځه کښ لاس پورته کړو او الحمد لله ئے اُووئیله. (صحیح بخاری ٦٨٤) ځکه چه هغه ته د امامت فی الصلاة مرتبه حاصله شوه. چه نبی د هغه نه روستو ولاړ دے!!.

د امامت فی الدین د حاصلولو اسباب :

۱- الایمان الصحیح. (صحیح ایمان) لرل. ۲- العمل الصالح. (نیك عمل) ۳- الصبر.
٤- والیقین. (یعنی د الله په وعدو باندے مضبوط یقین کول) لکه مخکښ تیر شو چه په صبر کښ عملی او اخلاقی کمال دے او په یقین کښ علمی او عقیدوی کمال دے.
ددے وجه نه علماؤ دا قانون خودلے دے چه [بِالصَّبْرِ وَالْيَقِيْنِ تُنَالُ الْإِمَامَةُ فِي الدِّيْنِ]
(یعنی په صبر او یقین سره د دین امامت حاصلیدے شی)
په بنی اسرائیلو کښ دا دوه صفات پیدا شوی وو نو الله تعالیٰ ترے د دین امامان جوړ کړل.
﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا وَكَانُوْا بِآيَاتِنَا يُوْقِنُوْنَ ﴾ (السجدة/ ٢٤)
٥- اَلتَّقْوٰى بَيْنَكَ وَبَيْنَ اللهِ . ستا او د الله ترمینځ تقویٰ پیدا کیدل. انسان کښ چه څومره تقویٰ وی الله تعالیٰ ئے په هغه اندازه کښ په دین کښ استعمالوی.
٦- اَلتَّوَاضُعُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ النَّاسِ . ستا او د خلقو ترمینځ به تواضع او عاجزی وی) په خلقو باندے تکبر کول او ځان په هغوی لوئی گنړلو سره انسان صحیح دینی امام نهٔ جوړیږی.
٧- اَلزُّهْدُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الدُّنْيَا . (د دنیا نه بے رغبته کیدل) او د فانی دنیا د څیزونو سره مینه نهٔ کول چه د هغے د وجه نه انسان دینی کارونه پریدی.
٨- [مُجَاهَدَةٌ فِيْمَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ النَّفْسِ] (د نفس سره مجاهده کول) او په نفس باندے په نیك اعمالو کولو کښ زور کول او نفس کړول. هر قسم قربانی ته ئے تیارول.

۹- الدعوة۔ (يعنی د الله د دين دعوت او تبليغ کول) که يو انسان سره عِلم وی او د هغے دعوت په مختلفو طريقو سره نهٔ کوی او د مسلمانانو د اصلاح کوشش نهٔ کوی نو هغه نه امام فی الدين نهٔ جوړيږی۔

۱۰- حقوق الله او حقوق العباد اداء کول۔ کوم انسان چه د الله او د بندګانو په حقوقو کښې سُستی کوی نو هغه نه د دين امام نشی جوړيدے۔ لکه پردی مالونه غلا کوی يا قرضونه اخلی او بيا ترے انکار کوی وغيره نور صورتونه شويا د مونځونو او عباداتو پابند نهٔ وی۔

۱۱- [تَرْكُ الظُّلْمِ بِجَمِيْعِ اَنْوَاعِهٖ] ۔ (ظلم سره د ټولو اقسامو نه پريخودل) د شرك نه واخله تر ورے ګناه پورے دا ټول به پريدی۔ ظلم پدے مقام کښې شرك، کفر، کبيره او صغيره ګناهونو او خلافِ اولیٰ ټولو ته شامل دے۔

بس دا ياد ساتل پکار دی چه انسان کښې څومره درجه ظلم وی هغومره به ددهٔ د دين مشری وی که ظلم ئے زيات وو نو ډير به محروم وی او که ظلم ئے کم وی نو هغومره به ئے د دين مشری هم کمه وی نو کوم طالبان د دين چه د طالب العلمئ په دوران کښې په علم کښې ے باکه وی او د الله د حدودو خيال نهٔ ساتی نو هغه که هرڅومره ذهين او قابل وی، هغه ته به د دين مشری نهٔ ملاويږی او چه په دوران د طالبئ کښې ډير بے باکه او ظالم وی نو هغه به الله تعالیٰ د خپل دين په خلاف کښې استعمالوی او که ادنیٰ درجه ظلم وی نو نهٔ به د دين په ضرر کښې استعماليږی او نهٔ به د دين د فائدے دپاره۔ بلکه يو عام انسان به وی۔

او که يو انسان امام فی الدين وی او ګناهونه او ظلمونه شروع کړی نو هغه نه به الله تعالیٰ بيرته امامت فی الدين اخلی۔ ابوجهل، وليد، عتبه، شيبه، ابی بن سلول ته الله تعالیٰ د دين مشری ورنکړه بلکه د کفر امامان ئے اُوګرزول ځکه چه دوی کښې اعلیٰ درجه ظلمونه وو او نبی ﷺ او صحابه کرامؓ ته ئے د دين مشری ورکړه ځکه چه هغوی کښې ظلمونه نهٔ وو۔ او کوم انسان چه د الله په طاعاتو کښې وخت تيروی نو هغه ته الله تعالیٰ مقبوليت او ښائسته شهرت ورکوی او د دين مشرئے جوړوی۔

نو ابراهيم علیه السلام رحم دِل انسان وو۔ د خپل اولادو دپاره ئے هم دغه مشری اُوغوختله چه هغوی هم د دين کار کوی۔

﴿ قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ﴾ يعنی [اِجْعَلْ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ اَئِمَّةً] (زما په اولادو (اونسل) کښې هم د دين امامان جوړ کړه) يا استفهام دے يعنی [اَتَجْعَلُ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ اَئِمَّةً] آيا ته ګرځوے زما په اولادو کښې امامان) نو الله تعالیٰ دا دعا قبوله کړه او د هغه په اولادو کښې ئے نبوت او کتاب راوليږلو۔

دا جمله جواب د سوال ده چه هرکله الله تعالیٰ ددهٔ نه امام جوړ کړو او لوئی زیرے ئے ورکړو نو دهٔ څه اُووئیل ؟ نو جواب اُوشو چه ابراهیمؑ دغه امامت د خپل بعض اولادو دپاره طلب کړو.

هرکله چه ابراهیمؑ ته د امامة فی الدین (دینی مشریٔ) اهمیت معلوم وو، نو ددے وجه نه ئے د خپلو اولادو دپاره طلب کړو، او دا ددهٔ خیر خواهي او په دین صحیح پوهه وه چه د خپل اولادو دپاره ئے دین خوښ کړو. بیا ئے دلته (مِنْ) کلمه راوړه پدے کښ د ابراهیمؑ کمال ته اشاره ده چه د ټولو اولادو دپاره ئے دغه امامت ذکر نکړو ځکه چه ابراهیمؑ ته معلومه وه چه ددے عالَم د پیدا کولو نه د الله تعالیٰ حکمت دا نهٔ دے چه ټول انسانان به صحیح خلق وی او په دین کښ به امامان او مُقتدیٔ وی بلکه څهٔ به ظالمان وی او څهٔ به نیك عمله وی. لکه بل ځائے الله فرمایلی دی : ﴿ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِيْنٌ ﴾ [الصافات:۱۱۳] (د اسحاق او یعقوب په اولادو کښ به نیك عمله او ظالمان دواړه قسمه موجود وی) نو ابراهیمؑ د دعا د آدابو لحاظ اُوساتلو ځکه چه داسے څه ئے اُونهٔ غوختل چه هغه نهٔ کیدونکی دی. (الوسیط).

﴿ ذُرِّيَّتِىْ ﴾ مفسر ابوالسعودؒ لیکی : ذُریة د سړی نسل ته وئیلے شی دا د ذَرَوْتُ یا ذَرَيْتُ نه اخستے شویدے په وزن د فُعُوْلَةٌ دے په اصل کښ ذُرُوْوَةٌ یا ذُرَوْيَةٌ دے واو او یاء راجمع شوة اول ساکن وو اول په دویم بدل شو او بیا پکښ ادغام اُوشو. نو ذُرِّيَّةٌ ترے جوړ شو. یا د ذَرَءَ نه ماخوذ دے په معنیٰ د پیدائش سره او په اصل کښ ذَرِيْئَةٌ دے د خَطِيْئَةٌ په شان اعلال پکښ شویدے، همزه په یاء سره بدله شوه بیا په کښ ادغام اُوشو. یا د ذَرّ نه دے په معنیٰ د خورولو او جدا جدا کولو سره. (او انسانی نسل هم الله تعالیٰ د آدم د شا نه د سرو میږانو په شکل راویستلی وو او د هغه مخکښ ئے خوارهٔ کړی وو) (زاد المسیر) او اصل ئے ذرِّيْرَة یا ذرورة دے دویمه راء په یاء سره بدله شوه لکه د تَسَرِّیْ او تَظَنِّیْ او تَقَضِّیْ په شان. او بیا په دوه یائینو کښ ادغام اُوشو. او پدے کښ یو لغت د ذال کسرے سره لوستل دی او ابوجعفر المدنی په کښ د ذال فتحه لوستلے ده او دا هم یو لغت دے. انتهیٰ قول ابی السعودؒ.

﴿ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِى الظَّالِمِيْنَ ﴾ یعنی زما د نبوت او امامة فی الدین وعده اؤلوظ ظالمانو (او هر قسم گناهگارو) او مشرکانو ته نهٔ رسی. عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی: پدے آیت کښ الله تعالیٰ ابراهیمؑ ته خبر ورکړیدے چه د هغه په نسل کښ به ظالمان گناهگاران خلق هم وی (لکه یهود او نصاریٰ او مشرکان شو).

یعنی دوه قسمه اولاد به وی لکه الله فرمائی : ﴿ وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰى إِسْحَاقَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِيْنٌ ﴾ [الصافات:۱۱۳] څهٔ اولاد به محسنین وی، او څه به ظالمان وی. لهذا ظالمان

ددې اُوچت منصب لائق نهٔ دی، ځکه چه دا منصب د ظلم سره منافات لري، ځکه چه دا منصب په صبر او یقین سره حاصلیږي چه هغه د کامل ایمان او نیك عمل او ښائسته اخلاقو او کامل محبت او خشیت او انابت سره تعلق لري۔ او د ابراهیم ﷺ دعا د محسن افرادو په باره کښې قبوله شویده لکه په سورة عنکبوت (۲۷) آیت کښې ذکر شویده : ﴿ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ ﴾ (ما ددهٔ په اولادو کښې نبوت او کتاب مقرر کړو) (از هر البیان فارسی)۔

او پدې کښې اشاره ده چه اے ابراهیم ! دا امامت د نسب په استحقاق سره نهٔ دے، او نهٔ د یو سبب په راخکلو سره دے بلکه دا به خواصو بندګانو ته ملاویږي چه هغوی د ظلم نه پاك وی، او الله غوره کړي وی لکه مفسر قُشَیریؒ داسے معنیٰ کوی :

[لٰكِنَّ عَهْدِيْ لَايَنَالُهُ اِلَّا مَنِ اخْتَرْتُهُ مِنْ خَوَاصِّ عِبَادِيْ] ...... [تفسیر القشیری ۱/۱۲۰]

(زما عُهده د امامت به صرف هغه خلق حاصلوی چه زهٔ ئے د خپلو خواصو بندګانو نه غوره کړم)۔

او آیت نه دا معلومه شوه چه ظالمان خلق د خلقو د امامت حقدار نشیٰ کیدے او دوی قابل د امامت نهٔ دی۔ (تفسیر ابی السعود) ځکه د امام دپاره دا شرط دے چه د عدل او انصاف والا به وی او په شریعت به عمل کونکے وی۔

ځکه چه امامت او پیشوائی په یو حیثیت سره د الله تعالیٰ خلافت دے، داسے کَس ته ئے ورکول نشی کیدے چه د الله تعالیٰ نه باغی او نافرمانه وی۔ (معارف القرآن)

او دارنګه ددے نه دا حکم هم راووتو چه د شریعت د کارونو ذمه واري به ظالم ته نشی ورکولے (یعنی نهٔ اهل د امامتِ رسالت دی، نهٔ د امامتِ خلافت او نهٔ د امامتِ صلاة) ځکه مسلمانان د هغه پیروی او اقتداء کوی او که هغه ظالم یا فاسق وی نو خپل ماتحت مقتدیان به ګمراه کړی او د صراط مستقیم نه به ئے واړوی۔ (زبدة التفسیر، وتیسیر الرحمن)

○ جصاصؒ په احکام القرآن کښې لیکی : [اِنَّ الْفَاسِقَ لَايَكُوْنُ خَلِيْفَةً وَلَايَكُوْنُ حَاكِمًا كَمَا لَاتُقْبَلُ شَهَادَتُهٗ وَخَبَرُهٗ] (فاسق خلیفه او حاکم نشی جوړیدے لکه څنګه چه د هغهٔ ګواهی او خبر (حدیث نقل کول) نهٔ دی مقبول)۔

○ امام رازیؒ لیکی : [اِحْتَجَّ الْجُمْهُوْرُ عَلٰى اَنَّ الْفَاسِقَ لَايُعْقَدُ لَهُ الْاِمَامَةُ] (تفسیر کبیر)

(جمهورو علماؤ پدے آیت دلیل نیولے دے چه فاسق ته به امامت نشی ورکولے)۔

○ ابن کثیرؒ او قرطبیؒ د ابن خویزمنداد رحمه الله نه نقل کوی :

[وَكُلُّ مَنْ كَانَ ظَالِمًا لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا وَلَا خَلِيْفَةً وَلَا حَاكِمًا وَلَا مُفْتِيًا وَلَا اِمَامًا لِلصَّلَاةِ وَلَايُقْبَلُ مَا يَرْوِيْهِ عَنْ صَاحِبِ الشَّرِيْعَةِ وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهٗ فِي الْاَحْكَامِ غَيْرَ اَنَّهٗ لَايُعْزَلُ بِفِسْقِهٖ حَتّٰى يَعْزِلَهٗ اَهْلُ الْحِلِّ وَالْعَقْدِ]

(یعنی هر هغه څوك چه ظالم وی هغه نبی، خلیفه، حاکم، مفتی او د مانځه امام نشی جوړیدے او نهٔ به د هغهٔ د صاحب شریعت نه نقل کړے روایت قبلولے شی، صرف دومره ده که یو ځل خلیفه شوے وو نو د اهل حل او عقد (اهل شوریٰ) نه علاوه بل څوك به ئے نهٔ معزول کوی)۔

نو په امامت کښ عدالت شرط دے او معصومیت شرط نهٔ دے لکه چه شیعه ګان وائی۔

په ظالمانو باندے چه کوم امامت منع شویدے ددے نه عمومی امامت مراد دے چه د امامت ټولو اقسامو ته شامل دے، امامتِ رسالت، امامتِ خلافت، امامتِ صلاة، (د مانځه امامت) او ددے نه علاوه د امامت او قیادت ټول مناصب شامل دی، لهذا عدل او انصاف په خپلو فراخه معنو کښ د هر قسم امامت د استحقاق دپاره اولنے شرط دے او یو شخص که هر قسم ظلم په سر واخلی، هغه به خپل ځان د امامت او قیادت د استحقاق نه محروم کوی، برابره ده چه هغه قیادت هرڅنګه وی۔ نو ددے نه دا هم صفا معلومه شوه چه یهودیان به همیشه دپاره د قیادت د منصب نه لرے او محروم پاتے وی ځکه چه هغوی ظلم په سر پورته کړیدے، په فسق او فجور کښ اخته شویدی او د الله تعالیٰ نافرمانی ئے کړیده او هغوی د خپل نیکهٔ (ابراهیم عليه السلام) عقائد او نظریات پریخوستی دی۔ او دغه شان حکم د دعویدارو مسلمانانو په باره کښ هم دے۔

(فی ظلال القرآن تفسیر د سید قطبؒ)

او د آیت نه دا هم په ښکاره توګه ثابته شوه چه د امامت منصب موروثی نهٔ دے چه د پلار نه به ځوی ته نقل کیږی، دلته رشته او تعلق په وینه، نسل او قومیت باندے نهٔ بنا کیږی بلکه دلته د دین او ایمان رشته د تعلق دارومدار دے۔ د ابراهیم عليه السلام دومره اُوچت شان او د الله په نیز د هغه د مرتبے باوجود که د هغه د اولادو نه څوك ظالم او مشرك وی، نو د هغه شقاوت (بدبختی) او محرومی لرے کولے نشی۔ هیڅوك نشته نو الله تعالیٰ دلته د پیغمبر نسلیٔ جرړے پریکړے، که په انسان کښ ایمان او عمل صالح نهٔ وی نو پیرزادګی او صاحبزادګی د الله په بارګاه کښ هیڅ حیثیت نهٔ لری۔ نبی ﷺ فرمائی : [مَن بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ] ...... [صحیح مسلم کتاب الذکر والدعاء، باب فضل الاجتماع علی تلاوة القرآن] (چا لره چه د هغهٔ عمل روستو پریخودو نو د هغه نسب هغه لره مخکښ نشی بوتلے)۔ (احسن البیان، وفی ظلال القرآن)

نو پدے کښ ضمناً رد دے چه اے یهودو، نصاراؤ او مشرکانو ! د نسب په تشو دعوو باندے کار نهٔ کیږی چه مونږ د پیغمبرانو اولاد یو۔ راشئ د صحیح ملت ابراهیمی تابع شئ۔

نو په آیت کښ د الله تعالیٰ قاعده دا شوه چه زهٔ به د دین مشری هغه چا ته نهٔ ورکوم چه هغه ظالم وی۔ دے کښ اشاره ده چه یهود، نصاریٰ او په دے امت کښ چه څوك ظالمان وی هغه ته

الله تعالیٰ د دین مشری نۀ ورکوی۔ په دے آخره زمانه کښې په مونږ کښې داسے یو غټ امام نشته لکه د امام شافعیؒ، احمدؒ، مالكؒ، ابو حنیفةؒ او د امام بخاریؒ وغیره په شان۔ دا ولے نشته؟ ځکه چه مونږ کښې د ظلم صفت ډیر دے۔ او هغوی کښې نۀ وو۔ الله ځکه د هغوی نه غټ امامان جوړ کړل او مونږ نه ئے نۀ جوړوی، نو قانون دا دے چه څومره چا کښې ظلم نۀ وی هغومره الله د دین امامت ورکوی۔ او څومره چه چا کښې د ظلم صفت او نور بد صفات موجود وی، هغومره الله تعالیٰ د دین مشری نۀ ورکوی۔ نو دا زمونږ او ستاسو او د طالبانو د دین دپاره قاعده شوه که څوك دا غواړی چه د هغه نه الله تعالیٰ د دین کارونه واخلی نو د ظلم د صفاتونه به ځان ساتی چه هغه تول گناهونه دی۔ دا خو د ابراهیم علیه السلام عظمتِ شان شو۔

وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَیْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا
او کله چه مونږه اُوګرځولو بیت الله ځائے د جمع کیدلو دپاره د خلقو او ځائے د امن،
وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّی، وَعَهِدْنَآ اِلٰٓی اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِیْلَ
(اُووئیل مونږ) اُونیسئ د مقام ابراهیم نه ځائے د مانځه، او مونږ مضبوط حکم اُوکړو ابراهیم (علیه السلام) او اسماعیل (علیه السلام) ته
اَنْ طَهِّرَا بَیْتِیَ لِلطَّآئِفِیْنَ وَالْعٰکِفِیْنَ وَالرُّکَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۱۲۵﴾
چه پاك ساتئ کور زما دپاره د طواف کونکو او اعتکاف کونکو او رکوع کونکو او سجده کونکو۔

تفسیر: اُوس د بیت الله عظمتِ شان بیانوی چه دا د ابراهیم علیه السلام د امامت نخه ده۔ هرکله چه ابراهیم علیه السلام لوئی سړے وو نو هغه داسے عظیم کور جوړ کړو نو دے ته متوجه کیدل پکار دی او پدے باندے اعتراضونه نۀ دی پکار۔ او پدے کښې په مشرکانو رد دے چه ابراهیم علیه السلام د الله په حکم دا کور د توحید دپاره جوړ کړو او تاسو رالګیږئ دا رسول او ددۀ ملګری مؤحدین ددے کور نه منع کوئ او یره ورکوئ تردے چه دا په هجرت مجبوره کوئ حال دا چه ددے کور په باره کښې د الله تعالیٰ دا فیصله وه چه دا به د عوامو دپاره مرکز وی او ټول خلق به د هر طرف نه دے ته رُخ کوی، دلته به هیڅوك یرونکے نۀ وی، دلته به خلقو ته روحانی او جسمانی اطمینان حاصل وی ځکه دا د سلامتیا ځائے دے۔ او همدا به د مسلمانانو قبله وی کوم چه په صحیح ملت ابراهیمی باندے روان دی او د هغے وارثان دی۔ او ددے بیت (کور) داسے منت نۀ دی چه هغه په بیت المقدس کښې نشته۔

ربط: مخکښې د بیت الله د بانی (جوړونکی) لوئی شان بیان شو یعنی ابراهیم علیه السلام، نو اُوس

لوئی شان د بیت الله بیانوی۔

﴿ الْبَيْتَ﴾ کښې الف لام عهدی دی مراد ترې کعبه ده۔ خطیب شربینیؒ لیکی : مراد د البیت نه ټول حرم دے لکه په سورة المائده (۹۵) آیت کښې ذکر د کعبې او مراد ترې نه ټول حرم دے۔

ځکه چه د اَمن صفت لکه څنګه چه د کعبې په خوا کښې دے نو دغه شان ټول حرم کښې هم شته او دا امن د انسانانو نه سِوئ بوتو او حیواناتو ته هم شامل دے چه شریعت هلته د حیواناتو ښکار کول او د حرم بوټې پریکول حرام ګرزولی دی۔

﴿مَثَابَةً﴾ د مثابة : (۱) یوه معنیٰ ده : ځائے د راجمع کیدو د خلقو۔ یعنی مونږ خلقوته امر اُوکړو چه دے ځائے ته به راجمع کیږئ۔ (قتادةؒ) ۲- او مثابة د ثواب ځائے ته هم وائی۔ ثوابونه پکښې ډیر دی۔...... ۳- یا ځائے د واپس کیدو د خلقو۔ (مجاهدؒ وابن عباسؓ)

د ثَابَ يَثُوْبُ نه اخستے شویدے په معنیٰ د رجوع سره او تاء پکښې د مبالغې دپاره ده۔ ځکه چه څوك یو ځل حج یا عمره اُوکړی نو هغه بار بار خواهش لری او زړه ئے نهٔ مړیږی۔ او بار بار تلو باندے حکم اُوشو، دا د بیت الله کمال دے۔

﴿ وَاَمْنًا﴾ په معنیٰ د مَأْمَنُ (ځائے د امن) سره۔ د جاهلیت په زمانه کښې به سړی د خپل پلار یا د ورور قاتل د خانه کعبې خوا کښې اُوموندلو نو هیڅ به ئے ورته نهٔ وئیل، ټوله دنیا کښې به اغوا کاریانے، لوټ مار او ظلم کولے شو مګر حرم او اهل حرم به ددے نه محفوظ وو لکه دا احسان الله تعالیٰ په سورة العنکبوت (٦٧) او قصص (٥٧) آیت کښې ذکر کړیدے۔ الله تعالیٰ فرمائی :﴿ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَّيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ﴾ [العنکبوت٦٧]

(آیا دوی نهٔ ګوری چه مونږ حرم امن والا ګرځولے دے او د دوی نه ګیر چاپیره خلق تختولے شی)

سورة آل عمران (۹۷) آیت کښې الله تعالیٰ فرمائی :﴿ وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ آمِنًا ﴾

(څوك چه حرم ته داخل شو هغه به په امن وی) .... او دا تفسیر راجح دے۔

ابوبکر ابن العربیؒ وائی ځکه چه الله تعالیٰ پدے آیت کښې په خپلو بندګانو باندے د خپل احسان خبر ورکوی چه هغهٔ د عربو په زړونو کښې ددے کور تعظیم اچولے دے او څوك چه دے کور ته پناه راوړی نو هغه په امن کښې کیږی ځکه چه الله تعالیٰ د ابراهیمؑ دعا قبوله کړیده۔

په تفسیر د امن کښې درے تفاسیر نور هم دی چه هغه علامه وهبه زُحیلی په التفسیر المنیر (۳۰۸/۱) کښې ذکر کړیدی :

(۱) یو دا چه د الله د عذاب نه امن مراد دے۔ یعنی څوك چه بیت الله ته داخل شو او ددے تعظیم ئے په زړهٔ کښې وی او د اجر نیت ئے وی نو هغه به د عذاب نه بچ کیږی لکه حدیث کښې دی : ((چا

چه حج اُوكړو او بے حياء خبرے او د گناه كارونه ئے اُونكړل نود گناهونو نه به داسے اُوځی لكه چه په كومه ورځ د مور نه پيدا شوے وی ››۔(صحيح البخاری)

((٢) دويم دا امن دے د حدودو قائمولو نه نو كافر به پكښں نۀ قتليږی او قصاص به د قاتل نه پدے كښں نۀ اخستے كيږی، او په مُحْصن (شادی شده) او غل باندے به حد نۀ قائميږی۔

(٣) دا امن دے د قتال كولو نه پدے كښں۔ ځكه صحيح حديث كښں دی : «الله د مكے نه فيل (هاتيان) بند ساتلی دی، او په هغے باندے ئے خپل رسول او مؤمنان مسلط كړل او مكه ما نه مخكښں د هيچا دپاره حلال نۀ ده او نۀ به ما نه روستو د چا دپاره پدے كښں قتال حلال وی او ما دپاره د ورځے د لږ وخت دپاره حلاله شوے وه ›› ۔(بخاری ومسلم)

دا ټول د ابراهيم عليه السلام د دعا بركت دے۔او كله چه اسلام راغلو نو دا حكم ئے باقی پريخودو او زياته فراخی ئے پكښں اُوكړه چه د حرم په حدودو كښں به قتل وقتال نشی كولے، ظلم او لوټ مار، ښكار او بوټی پريكول به حرام وی۔ څوك چه حرم ته داخل شی هغۀ به په امن وی۔

اُوس د ابراهيم عليه السلام لوئی شان او د هغه لويه هميشه پاتے كيدونكی معجزه بيانوی۔

﴿ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهِيْمَ مُصَلًّى ﴾ يعنی الله تعالىٰ ته د ابراهيم عليه السلام د بيت الله د خدمت او په امتحاناتو كښں پاس كيدل دومره خوښں شو چه انسانانو ته ئے حكم اُوكړو چه هغه په كوم كاڼړی باندے ولاړ وو د هغے ځوا كښں د الله بندگی او مونځونه اُوكړی او د هغه په شان طاعت والا بندگان جوړ شی او د خپل پلار په نقش قدم روان شی۔

بيا پدے كښں دوه تفسيره دی (١) يو دا چه مقام ابراهيم هغه معلوم كاڼړے دے چه ابراهيم عليه السلام د خانه كعبے په جوړولو كښں په هغے باندے خپه كيخوده او كعبه به ئے جوړوله او په هغه كاڼړی باندے الله تعالىٰ د هغه د قدم نخه د معجزے په طريقه جوړه كړه چه هغه تر اُوسه پورے باقی دے۔ نو ددے حكم الهی د وجه نه حاجيان د طواف كولو نه روستو دغه مقام ابراهيم كاڼړی ځوا كښں چه اُوس په شيشه كښں بند دے دوه ركعاته كوی چه دا دوه ركعاته كول په نيز جمهور علماؤ سنت دی او په نيز د بعض علماؤ (مالكيه ؤ) واجب دی۔

بيا د احاديثو نه معلوميږی چه د مقام ابراهيم نه ټول مسجد حرام مراد دے۔ او دا دوه ركعاته په ټول مسجد حرام كښں كول جائز دی خاصكر كله چه د مقام ابراهيم په ځوا كښں كولو سره طواف كونكو ته تكليف رسی نو بل ځائے كول پكار دی۔ او كه گنړۀ نۀ وی نو بيا دلته مونځ كول غوره دی، دا وجه ده عام امامان د مسجد حرام هم د مقام ابراهيم په ځوا كښں امامت كوی۔ ددے په ځوا كښں خلق ډير بدعات كوی څوك ورله گوتے وروړی او ښكلوی ئے او څوك په رش او

کنرۀ کښې هم دلته دوه رکعاته ضروري ګنړي او بعض خلق د دوه رکعاته کولو نه روستو دغه ځائې کښې ناست وي، تلاوتونه او ذکرونه او دعاګانې کوي او طواف کونکو ته دارنګه نورو راتلونکو خلقو ته تکليف ورکوي، دا صحيح کار نهٔ دے بلکه دوه رکعاته کول او بيا ددے ځائے نه بل ځائے ته نقل کيدل پکار دي۔

(۲) **دويم تفسير** دا دے چه مقام مفرد مضاف دے او مراد ترے عموم د مقاماتو د ابراهيم دے يعنې د ابراهيم عليه السلام د حج د کارونو ځايونه مراد دي لکه مطاف، مسعیٰ، عرفات، مزدلفه، او مِنیٰ۔ او پدے صورت کښې به د ((مُصَلّٰی)) نه مراد ځائے د عبادت وي چه په دے هر يو مقام کښې د کارونو د حج نه يو ضرور اداکيږي۔او مطلب د آيت به دا وي چه په شعائرو (کارونو) د حج کښې د ابراهيم عليه السلام اقتداء اُوکړئ او د هغه په نقش قدم روان شئ۔ دا توجيه د ابن عباسؓ نه حافظ ابن کثيرؒ نقل کړيده او دا غوره ده ځکه چه اوله معنیٰ هم پدے کښې داخليږي۔

[تيسير الكريم الرحمن لناصر السعدى:١/٦٥]

﴿ مَقَامُ اِبْرَاهِيْمَ ﴾ مقام ابراهيم يو کانړے دے چه کله ابراهيم عليه السلام کعبه جوړوله نو اسماعيل عليه السلام ورته دغه کانړے راوړو، ابراهيم عليه السلام به پدے اُودريدو او دا به خکته پورته کيدو (معجزه وه) نو الله رب العالمين پدے کانړي کښې د ابراهيم عليه السلام د خپے نقش باقي پريخودو۔ په دے ګټه کښې د ګوتو او پوندو نخے وے ليکن د خلقو د ډيرو ګوتو وروړلو په وجه د هغے نه دغه نخے تقريباً زائل شوے، اُوس سعودي حکومت هغے ته د تانبے يو قالب د هغے د حفاظت دپاره وراغوستے دے۔

دا کانړے اوله کښې د کعبے د ديوال سره پيوسته وو، ځکه ابراهيم عليه السلام چه کله د کعبے د آبادئ نه فارغه شو نو کانړے ئے د کعبے د ديوال سره جُخت کيخودو، د نبي ﷺ د دور پورے همدغسے پروت وو تردے چه د عمر فاروق په دور خلافت کښې د يو سخت سيلاب په وجه هغه د مکے په يوه کنده کښې پريوتو۔ نو امير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه هلته نه راوړو او د کعبے نه جدا ځائے کښې ئے نال کړو او هيڅ صحابي پرے انکار اُونکړو۔لکه دا په روايت د بيهقي کښې په صحيح سند ثابت دي۔ (ابن کثيرؒ) ...... اُوس دا کانړے په يوه شيشه کښې بند کړے شويدے، دے دپاره چه خلق ئے په آسانئ سره اُوګوري۔ او د الله د قدرت عظيمه نخه ده۔

ابن جريرؒ د قتادهؒ نه نقل کړيدي چه الله تعالیٰ امر کړيدے چه د هغے په خوا کښې مونځ کوئ، د هغے د مسح کولو امر ئے نهٔ دے کړے ليکن دے امت ځان له تکلف (او بدعت) جوړ کړيدے چه هغے له ګوتے وروړي۔ لکه اُوس ډير مبتدعين او مشرکان د طواف کولو په وخت کښې هغه شيشه باندے لاسونه راکاږي او هغه ښکلوي۔

نو ددے کور (بیت الله) جوړونکی ته الله تعالیٰ داسے مقام ورکړو چه د خانه کعبے سره ئے د هغه یاد اُوترلو او د کعبے هر زیارت کونکی ته ئے حکم اُوکړو چه ددے مقام سره دِے مونځ اُوکړی۔ عمر فاروق ﷺ فرمائی : زما رب ما سره په درے خبرو کښې موافقت کړیدے۔ ما اُوویل : اے د الله رسوله ! آرمان چه مقام ابراهیم ته د مانځه ځائے جوړ کړے ۔ نو دا آیت نازل شو۔

(بخاری عن انس رقم : ۳۹۳)

ددے نه دا هم معلومه شوه چه د مقام ابراهیم اول تفسیر هم صحیح دے۔ [التفسیر المنیر ۱/۳۰۹]

﴿ وَعَهِدْنَا اِلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَاِسْمَاعِیْلَ ﴾ پدے کښې په هغه مشرکانو رد دے چه د الله په ځائے د بتانو عبادت کوی، د هغه کور په خوا کښې کوم چه ابراهیم علیه السلام صرف د الله رب العالمین د عبادت دپاره جوړ کړے وو او کوم چه ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام د الله په حکم سره د بتانو نه پاك کړے وو۔ او مشرکانو په بیت الله کښې بتان ساتلی وو او د ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام شکلونه ئے جوړکړی وو او دوی له ئے په لاس کښې غشی ورکړی وو۔

د عهد په صله کښې چه کله اِلٰی راشی په معنیٰ د وصیت وی یعنی مونږ وصیت او مضبوط حکم کړے وو۔ او په وصیت کښې اشاره ده چه د ابراهیم علیه السلام په اولادو او منسوبینو هم دا لازم دی چه د بیت الله صفائی به کوی، او دا به د شرکیاتو نه ساتی۔

﴿ اَنْ طَهِّرَا بَیْتِیَ ﴾ پاك ساتئ۔ د طهارت نه مراد ظاهری او باطنی دواړه قسمه پاکوالے دے۔

۱- یعنی ظاهرئے د ګندګو نه پاك ساتئ۔ حدیث کښې دی، عائشه رضی الله عنها فرمائی :

[اَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِبِنَاءِ الْمَسَاجِدِ فِی الدُّوْرِ وَاَنْ تُنَظَّفَ وَتُطَیَّبَ]

[احمد، ابو داود، ترمذی ابن ماجه (۱/۲۵۳) بسند صحیح]

(رسول الله ﷺ حکم کړیدے چه په محلو کښې دِے مساجد جوړ کړے شی او هغه دِے ظاهری او معنوی پاك کړے شی)۔

۲- او کفر او شرك او ګناهونه پکښې مهٔ کوئ او خلق ددے نه منع کوئ۔ مجاهدؒ فرمائی : د بتانو، او د اَوثانو د عبادت او د الله سره د شرك کولو نه ئے پاك ساتئ۔ (ابن جریرؒ)۔

۳- علامه قاسمیؒ دا معنیٰ هم ذکر کړیده : [اَوِ اخْلِصَاهُ لِلطَّائِفِیْنَ وَمَا بَعْدَهٗ، لِئَلَّا یَغْشَاهُ غَیْرُهُمْ] (یعنی دا کور صرف او صرف د طواف کونکو وغیره کسانو دپاره خالص کړئ او د دوی نه علاوه د مشرکانو او کافرانو دپاره دا مهٔ جوړوئ، هغوی دِے دلته رانشی)۔ نو لام په للطائفین الخ کښې صله د ((طَهِّرَا)) شوه۔ او په مخکنو تفسیرونو لام د علت دے۔ نو د طواف کونکو ...... د وجه نه ئے پاك ساتئ۔

دا آیت دلیل دے چه طواف به په پاکئ سره کولے شی لهذا اودس د طواف دپاره شرط دے او د علماؤ په دوه قولونو کښ دا قول راجح دے۔دلیل دا دے چه رسول الله ﷺ فرمائی [اَلطَّوَافُ بِالْبَيْتِ صَلَاةٌ] (ترمذی بسند صحیح ارواء الغلیل۲ ۱۱۰) د بیت الله نه طواف کول د مانځه په شان دی۔ او د مونځ دپاره څنو طهارت شرط دے نو دغه شان د طواف دپاره هم۔

﴿ بَيْتِيَ ﴾ : الله د خپل کور نسبت ځان ته اُوکړو (۱) دے دپاره چه دا دواړه پیغمبران د هغے په پاکوالی کښ ښهٔ کوشش اُوکړی۔ (۲) دا نسبت دپاره د اظهار د شرافت او اکرام دے ځکه چه دا د ټول جهان د مسلمانانو قبله ده۔ (۳) پدے نسبت کښ د بندګانو د زړونو توجه راښکل غرض دے دے دپاره چه ددے په احترام او ادب کښ هیڅ قسمه کوتاهی اُونکړی۔ ...... (از هر البیان)۔

﴿ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودُ ﴾ دا درے قسمه عبادتونه هلته کیږی۔ اول طواف دے، بیا اعتکاف دے او بیا رکوع او سجده ده۔ د قرآن کریم تلاوت او نور اذکار او دعاګانے هم پکښ کیږی۔ بلکه په حرم کښ هسے کیناستل هم ثواب دے چه انسان کعبے ته ګوری۔

طواف ئے مخکښ ذکر کړو ځکه چه طواف د بیت الله پورے خاص دے، د بیت الله نه علاوه د قبر، یا کوټے، یا ونے او ګټے وغیره نه طواف کول شرك دے او پدے وجه ئے دا مخکښ هم ذکر کړو۔

د طواف معنیٰ ده د عبادت په نیت د بیت الله نه ګیر چاپیره ګرزیدل۔ او پدے کښ د الله تعالیٰ تعظیم دے او دا د الله تعالیٰ امر دے۔ پدے به د مشرکانو د قبرونو نه طوافونه کول نهٔ قیاس کیږی ځکه چه هغه شرك دے، په هغے کښ د الله تعالیٰ تعظیم نشته، بلکه د مخلوق تعظیم دے او د الله په امر سره نهٔ دے او د بیت الله نه طواف کول عبادت دے او د الله تعالیٰ په امر سره دی۔ دا د بیت الله عبادت نهٔ دے بلکه د الله عبادت دے۔

اعتکاف : د الله د عبادت دپاره او د هغه د تعظیم دپاره په مسجد کښ څه وخت دپاره اُوسیدلو ته وئیلے شی۔ دلته یا شرعی اعتکاف مراد دے۔ یا نفس په مکه او حرم کښ پاتے کیدل او اُوسیدلو ته وائی۔

د قتادهؒ، ربیع بن انسؒ او عطاءؒ نه نقل دی : [اَلطَّائِفِينَ : مَنْ آتَاهُ مِنْ غُرْبَةٍ وَالْعَاكِفِينَ الْمُقِيمِينَ فِيهِ] (طائفین هغه کسان دی چه مسافر وی، د بهر نه راغلی وی او عاکفین هغه خلق دی چه د حرم په خوا کښ اُوسیږی) .... (ابن کثیرؒ)۔

مسئله : طواف غوره دے او که د بیت الله په خوا کښ مونځ کول ؟ امام مالكؒ فرمائی چه په حرم کښ طواف د بهر خلقو دپاره د مانځه نه غوره دے۔ پدے وجه ئے طواف مقدم کړے هم دے۔ او جمهور فقهاء وائی چه مونځ مطلقاً غوره دے ځکه چه یو مونځ په یو لاکهـ دے او دواړو طرف

ته دلائل موجود دي چه د احکامو په کتابونو کښې کتلے شي۔
﴿وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ﴾ دا جمع د راکع او ساجد ده مراد ترے نه مونځ کونکی دی۔ دا دواړه د مانځه اهم اعمال دي پدے وجه ئے دا دواړه خاص کړل۔
پدے آیت کښې په یهود او نصاراؤ باندے هم تنقید دے چه دوی د ابراهیم علیه السلام د فضیلت او عظمت اقرار کوی او پدے پوهیږی چه هغوی بیت الله د حج، عمرے، طواف، اعتکاف او مونځونو دپاره جوړ کړے وو لیکن دا خلق داسے نۀ کوی نو بیا دوی د خلیل الله علیه السلام مُتّبِع څنګه شو ؟! او د صحیح حدیث نه ثابت دی چه موسیٰ بن عمران علیه السلام او د هغه نه روستو انبیاء علیهم السلام حجونه کړی وو او یهود او نصاریٰ ئے نۀ کوی۔ اُوګوره الصحیحة (۱۵۹/۷) رقم (۲۹۵۸) وصحیح الترغیب (۱۱۳۰)۔

وَاِذْقَالَ اِبْرٰهِمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَابَلَدًاامِنًا وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ
او کله چه اووئیل ابراهیم (علیه السلام) اے ربه زما ! اُوګرځوه دا ځائے ښار، اَمن والا، او رزق ورکړه اُوسیدونکو ددے ښار ته
مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ
د هر قسم میوو نه هغه چا ته چه ایمان راوړی د دوی نه په الله او په ورځ روستنئ۔ الله اُوفرمایل : او چا چه کفر اُوکړو
فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا ثُمَّ اَضْطَرُّهٗٓ اِلٰى عَذَابِ النَّارِ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ﴿۱۲۶﴾
نو فائدے به ورکړم هغۀ ته لږه موده، بیا به مجبوراً راکاږم دۀ لره عذاب د اُور ته او بد ځائے د ورتګ دے دا اُور۔

تفسیر : په دے آیت کښې د حرم مکی د اُوسیدونکو دپاره د ابراهیم علیه السلام درے دعاګانے ذکر دی۔ او دا دعاګانے ابراهیم علیه السلام د کعبے د جوړولو نه مخکښې اُوکړے۔
اوله دعا دا ده چه اے زما ربه ! دا ځائے چه زۀ به پکښې ستا کور جوړوم او ستا په حکم سره مے پکښې خپل اولاد اُووسول، دے نه بلد (ښار) جوړ کړه چه خلق دے سره اُنس او محبت محسوس کړی دا خو شاړ شنګړ دے، دلته د خوراك انتظام نشته، کورونه آبادیانے نشته، خلق نشته، نو دا علاقه تۀ ښار او آباد کړه دے دپاره چه خلق ستا د عبادت دپاره دلته راځی او د هغوی ضروریات پوره کیږی۔ دویمه دعا دا ده چه (آمِناً) امن ورله ورکړه۔ ولے که چرته یو ښۀ ښار وی او امن پکښې نۀ وی نو هم انسان په تکلیف کښې وی۔ او د امن مطلب دا دے چه هیڅ ظالم بادشاه په هغے باندے تر قیامته پورے قبضه نشی کولے او د خسف او زلزلو او نورو دنیوی عذابونو نه به بچ وی۔ دارنګه د قحط او د خلقو د لوټ مار نه بچ وی۔

او امام قرطبیؒ لیکی چه کله سپے او ښکاریو ځائے شی نو سپے په هغه ښکار حمله نشی کولے ترڅو چه د حرم نه بهر وتلے نهٔ وی۔ دارنګه په حرم کښ ښکار کول او بوټی پریکول او پدے کښ لُقطه یعنی پردے ورك شوے شے راپورته کول منع دی مګر هغه چا له جائز دی چه همیشه د هغے اعلانونه کوی۔

دریمه دعا دا ده چه د رزق پروګرام اُوکړه ځکه چه یوه علاقه ښار وی او امن هم پکښ وی خو د ډوډئ او د رزق بندوبست نهٔ وی نو هلته اُوسیدل مشکل وی، بیا به بل ځائے ته ځی۔ نو د هغے دپاره هم سوال کوی: ﴿ وَارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرَاتِ ﴾

دا دعاګانے الله قبولے کړے لکه نورو سورتونو کښ د هغے بیان راغلے دے۔ سورة آل عمران (۹۷) آیت کښ دی: ﴿ وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ آمِنًا ﴾ (څوك چه بیت الله ته داخل شی هغه به په امن وی)

او په سورة القصص (۵۷) او سورة العنکبوت (۶۷) آیت کښ ئے د امن سره نعمتونه او میوه جات بیان کړیدی۔ ﴿ يُجْبٰى اِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِزْقًا مِنْ لَدُنَّا ﴾ (القصص۵۷)

(راخکلے شی دے ته میوے د هر شی دپاره د خوراك، زمونږ د طرف نه)

پدے وجه په حرم کښ هر قسم میوے، فروټ او سبزیانے او غوښے او هر قسم غلے پریمانه ملاویږی، سره ددے نه چه شاړه زمکه ده، دا ټول ورله الله د بهر دنیا نه راولی۔

که ابراهیم علیه السلام نورے دعاګانے کړے وے هغه به هم الله قبولے کړے وے۔ کیدے شی چه هغے ته ئے فکر شوے نهٔ وی۔ ګرمئ ته به ئے فکر شوے نهٔ وو چه دا دعا ئے کړے وے چه یا الله دا ګرمی هم ترے لرے کړه، نو الله به دا هم لرے کړے وے خو هغه به کیدے شی داسے زمانه کښ راغلے وو چه ژمے به وو، ګرمی به نهٔ وه۔ یا به دغه دعا د نظام ربوبیت خلاف وه ځکه ئے نهٔ ده کړے۔

﴿ رَبِّ ﴾ د عامو انبیاؤ علیهم السلام په دعاګانو کښ (رَبِّ) لفظ ذکر کیږی ځکه چه دا د الله اسم اعظم دے۔ او پدے کښ خپلے عاجزئ ته اشاره وی چه اے الله! تا زما تربیت کړے او زهٔ ستا تربیت ته محتاج یم او تهٔ د هر شی مالك ئے۔ او پدے کښ رد د شرك دے چه انبیاء علیهم السلام د مخلوق نه او قبرونو نه سوالونه نهٔ کوی۔

﴿ هٰذَا بَلَدًا ﴾ په سورة ابراهیم (۳۵) آیت کښ (اَلْبَلَدَ) معرفه راغلے ده۔

۱- پدے کښ بعض مفسرینو وئیلی دی چه ابراهیم علیه السلام دوه دعاګانے کړیدی، دا دعا د بیت الله د جوړولو نه مخکښ وه چه ددے نه لا ښار نهٔ وو جوړ شوے نو ځکه ئے (بلداً) نکره راوړه او هغه دعا د بیت الله د جوړولو نه روستو وه نو ځکه ئے (اَلْبَلَدَ) معرفه راوړه۔ دلیل دا دے چه هلته ابراهیم علیه السلام په دعا کښ د اسماعیل او اسحاق په پیدائش حمدونه وئیلی دی او اسحاق علیه السلام د

اسماعیل علیه السلام نه دیارلس کاله کشر دے۔ نو دا روستنئ زمانه ده۔ او (عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ) الفاظ راغلی دی۔ (دا فرق ابن کثیرؒ ذکر کړیدے)۔

۲- یا دا چه دا دعا په هغه وخت کښې وه چه د ابراهیم علیه السلام په ذهن کښې ددے د ښار کیدو څهٔ خاص تصور نهٔ وو او الله ورله خبر هم نهٔ وو ورکړے، نو ځکه ئے نکره استعمال کړه او کله ئے چه په کښې خپل اهل اُووسول او الله ورله خبر ورکړو چه دلته به زهٔ ښار جوړوم نو بیا ئے دعاء اُوکړه او (الْبَلَدَ) ئے معرفه استعمال کړه ځکه چه تصور کښې ئے ښار راغلے وو۔

۳- علامه قاسمیؒ وائی: زما په نیز دعا یو ځل شویده لیکن په دواړو ځایونو کښې د تعبیر تفنن شویدے۔ گویا کښې اصل عبارت داسے دے: [اِجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ بَلَدًا آمِنًا]

(دا ښار د امن ښار جوړ کړه)۔ او دیته په علم بلاغت کښې احتباك وائی۔

(بَلَدًا) دا دعا الله قبوله کړه چه په هغه زمانه کښې بنوجُرْهُمْ راغلل او په مکه کښې د کعبے په خوا کښې آباد شول او بیا د هغوی نه اسماعیل علیه السلام وادهٔ هم اُوکړو او د هغوی نه نسل راخور شو او د هغے په نتیجه کښې قریش پیدا شول۔او مکه یو لوئی ښار اُوگرزیدو۔

﴿مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ دلته ابراهیم علیه السلام تخصیص اُوکړو چه صرف ایمان والو ته دا رزقونه او امن ورکړه دا ددهٔ ادب دے۔ کله چه دهٔ اُووئیل اے الله! زما تهولو بچو کښې اماماں جوړ کړه نو الله ورته اُوفرمایل: نهٔ! هرڅوك اماماں نهٔ جوړوم، ظالمانو له امامتی نهٔ ورکوم۔ نو هغه ادب ددهٔ په ذهن کښې وو، نو اُوس چه دعا کوی نو هم صرف مؤمنان یادوی، دهٔ دا دعا د امامت په دعا باندے قیاس کړه ځکه ئے د ایمان والو تخصیص اُوکړو وے وئیل: اے الله! مؤمنانو له رزق ورکړه خو دا دعا ئے قبوله نهٔ شوه ځکه دا د الله د حکمت خلاف وه که دا دعا قبوله شوے وے چه صرف مؤمنان به په مکه کښې رزقونه خوری بیا به مکه د ایمان معلو مولو دپاره ترمامیټر (thermO metre) وے، څوك چه ورتللے هغه به مؤمن وے او څوك ئے چه نهٔ پریخودلے هغه به کافر وے۔ نو دنیا کښې به د بنده د ایمان او کفر پته لگیدے۔ لیکن بیا خو امتحان نهٔ راتلو پدے وجه الله دا دعا قبوله نهٔ کړه۔ نو پدے کښې الله تعالیٰ پدے مشرکانو هم رد کوی چه گورئ تاسو آخرت نهٔ منئ او ابراهیم علیه السلام خو د آخرت په منکرینو خوراکونه هم حرام کړی وو۔

﴿قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا﴾ یعنی الله اُوفرمایل: ستا ددے دعا نه به په دے دنیا کښې کافر هم فائده اخلی چه هغوی ته به هم امن ملاویږی او ضروریات به ئے پوره کیږی لیکن په آخرت کښې به د هغه ټهکانه جهنم وی۔ لکه الله فرمائی: ﴿كُلًّا نُمِدُّ هٰؤُلَاءِ وَهٰؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ﴾

(الاسراء: ۲۰) (هر یو ته ددے کافرانو او مؤمنانو نه مونږ ستا د رب تحفے ورکوو)۔

﴿ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا ﴾ د دنیا فائدو ته ئې لږې اُووئیلې ځکه چه دا د قبر او حشر د ژوند په اعتبار سره ډیرې کمې دی، که دنیا کښې هر څومره مالونه او فائدې بندګانو ته ملاؤ شي لیکن وخت ئې کم دې، نو دا د آخرت په نسبت په لکهونو درجو کم دې۔

﴿ ثُمَّ اَضْطَرُّهٗ اِلٰی عَذَابِ النَّارِ ﴾ یعنی زهٔ به ئې مجبوره او محتاج کړم عذاب د اُور ته یعنی بیا به ئې هیڅ چاره نهٔ وی۔ او دا مجبورول به په طریقه د دیکو ورکولو او شړلو او راښکلو سره وی لکه په سورة طور (۱۳) آیت او سورة زمر (۷۱) آیت او سورة قمر (٤۸) آیت کښې ددې تفصیل راغلې دې۔

فائده: حرم مکی ته دا احترام الله تعالیٰ د آسمانونو او د زمکو د پیدائش د ورځې نه ورکړې دې لکه په حدیث د صحیحینو کښې راغلې دی: [اِنَّ هٰذَا الْبَلَدَ حَرَّمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰی یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ آه] (دې ښار ته الله تعالیٰ احترام او حرمت ورکړې د هغه ورځې نه چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه پیدا کړل) .... او ابراهیم علیه السلام هم دې ته اَلْبَیْتُ الْمُحَرَّم وئیلې دې ﴿ عِنْدَ بَیْتِكَ الْمُحَرَّمِ ﴾۔ لیکن دا حرمت او احترام الله تعالیٰ د هیڅ نبی په ژبه نهٔ وو بیان کړې لیکن الله تعالیٰ به جبابره او ظالمان د مکې د حملې او ظلمونو نه اړول تردې چه ددې حرمت په خلقو کښې مشهور شو بیا ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ نه دعا اُوکړه چه د هغه په ژبه ددې احترام راښکاره کړی نو الله ورله دعا قبوله کړه لهذا د ابراهیم علیه السلام په دعا سره د هغې تجدید او تازګی او فرضیت ثابت شو۔ او دې رائې ته ابن جریرؒ صحیح وئیلې ده۔ (ابن جریر، خازن، قرطبی)۔

او لکه څنګه چه ابراهیم علیه السلام د حرم مکی دپاره دعا کړیده نو ددې نه دوچنده دعا محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د حرم مدنی دپاره کړیده۔ لکه په حدیث د مسلم کښې راغلې دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل: ((اې الله! ابراهیم علیه السلام مکه حرم ګرځولې وو او زهٔ مدینه د دواړو خوړونو ترمینځ حرم جوړوم))۔

اُوس ددې نه روستو د ابراهیم علیه السلام د بیت الله جوړول بیانوی۔ او دعا ئې اُوکړه د عبادت د قبولیت دپاره او دوی داسې خلق وو چه عبادت ئې هم کولو او د الله نه ئې دعاګانې هم غوختلې۔ الله ته داسې عاجز او محتاج خلق وو۔ او داسې نهٔ وو لکه د یهودو په شان چه دعوې کوی چه مونږه جنتیان یو او ښهٔ خلق مونږه یو۔ کار ئې نهٔ دې کړې او دعوې غټې کوی۔

وَاِذْ یَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَیْتِ وَاِسْمٰعِیْلُ رَبَّنَا

او (یاد کړه هغه وخت) کله چه اُوچتول ابراهیم علیه السلام بنیادونه د بیت الله او اسماعیل۔ (دواړو وئیل) اې ربه زمونږ!

تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۱۲۷﴾

قبول کړه زمونږ نه (دا عبادت)۔ یقیناً خاص تهٔ هر څه اَورې (قبلونکې ئې) او په هر څه پوهه ئې۔

تفسیر : په دے آیت کښې د بیت الله د آبادولو ذکر دے او د هغے د قبولیت دعا ده۔ او په دے کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم کوی چه خپل قوم ته اُووائی چه ابراهیم علیه السلام او د هغه ځوی اسماعیل علیه السلام په مکه کښې د الله تعالیٰ د کور د جوړولو په وخت د الله نه داسے دعا غوختنه چه اے الله ! زمونږ دا عمل قبول کړه۔

امام بخاریؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه کله ابراهیم علیه السلام د اسماعیل علیه السلام او د هغه د مور (هاجرے) د خیریت معلومولو دپاره مکے مکرمے ته تشریف راوړو نو اسماعیل علیه السلام غشے شوے وو، ابرهیم علیه السلام اُوفرمایل : اے اسماعیل ! ما ته الله تعالیٰ د یو کار حکم کړیدے۔ اسماعیل علیه السلام اُووئیل : تا ته چه خپل رب کوم حکم کړے هغه اُوکړه۔ ابراهیم علیه السلام ورته اُوفرمایل : ته به زما مدد اُوکړے ؟ هغهٔ اووئیل : (آؤ) زهٔ به ستا مدد کوم۔ ورته ئے اُوفرمایل : ما ته الله حکم کړے چه زهٔ یو کور جوړ کړم۔ نو کله چه دواړو په یو ځائے د الله د کور بنیادونه پورته کړل، اسماعیل به ورته کاڼړی راوړل او ابراهیم علیه السلام به لګول، کله چه دیوالونه پورته شو نو هغه کاڼړے (مقام ابراهیم) ئے راوړو چه په هغے به ابراهیم علیه السلام اُودریدو او کاڼړی به ئے لګول او اسماعیل به ورله کاڼړی (همغه شان) راوړل، او دواړه به د بیت الله نه ګیر چاپیره ګرځیدل او وئیل به ئے، اے ربه ! زمونږ د طرفنه دا عمل قبول کړه الخ۔

﴿ الْقَوَاعِدَ ﴾: جمع د قَاعِدَةٌ ده بنیاد ته وائی او دا بنیادونه ورته الله تعالیٰ خودلی وو چه ددے ځائے نه ئے اُوچت کړه۔

اول بانی د بیت الله څوک دے ؟

حافظ ابن کثیرؒ پدے کښې ډیر اقوال ذکر کړیدی او بیا ئے د هغے تحقیق کړیدے۔

(۱) امام ابوجعفر الباقرؒ وائی : کعبه اول کښې ملائکو جوړه کړیده۔

(۲) عطاءؒ او سعید بن المسیبؒ وائی : آدم علیه السلام جوړه کړیده۔

(۳) وهب بن منبهؒ وائی : شیث علیه السلام جوړه کړیده۔ لیکن حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : دا اقوال ټول د اهل کتابو نه نقل دی چه د هغوی نهٔ تکذیب کیدے شی او نهٔ تصدیق او بغیر د دلیل نه په هغے باندے پوره اعتماد هم نشی کیدے۔

نو د قرآن د ظاهر نه دا معلومیږی چه اول جوړونکے د بیت الله ابراهیم علیه السلام دے۔ الله فرمائی :

...... ﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ ﴾ (الحج) (مونږ ابراهیم ته د بیت الله ځائے ور اُوخودلو)

دارنګه په حدیث د ابوذر رضی الله عنه کښې راغلی دی، وائی چه ما اُووئیل : یارسول الله ! کوم مسجد اول (په مخ د زمکه) جوړ شویدے ؟ ورے فرمایل : «المسجد الحرام» ما اُووئیل: بیا کوم ؟ ورے فرمایل

(په مخ د زمکه) جوړ شويدے ؟ وے فرمايل : ((المسجد الحرام)) ما اُووئيل: بيا کوم ؟ وے فرمايل : ((بيت المقدس)). ما اُووئيل : د دواړو ترمينځ څومره موده (فرق) وو؟. وے فرمايل : ((څلويښت کاله)). (متفق عليه). ...... نو بيت الله ابراهيم عليه السلام جوړ کړو او بيت المقدس يعقوب عليه السلام جوړ کړو او د دواړو ترمينځ څلويښت کاله فاصله وه.

اګرکۀ ددے ځائے حرمت او عزت د پخوا نه دے کوم وخت نه چه آسمانونه او زمکه پيدا شويدی، ليکن کعبه پکښې لا جوړه نۀ وه او الله ته پته ده چه د ابراهيم عليه السلام نه مخکښې به خلقو کوم طرف ته مونځونه کول. بيا د رسول الله ﷺ د نبوت نه پنځه کاله مخکښې قريشو جوړه کړه، بيا د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو عبد الله بن زبير رضي الله عنه جوړه کړه په هغه طريقه چه رسول الله ﷺ ئے ارمان کړے وو چه عائشے رضي الله عنها ته ئے فرمايلي وو که ستا قوم نوی اسلام راوړنکي نۀ وے نو ما به دا کعبه ورانه کړے وے او د ابراهيم عليه السلام په بنيادونو به مے جوړه کړے وے او دوه دروازے به مے ورله جوړے کړے وے، نو عبد الله بن زبير رضي الله عنه دا ارمان پوره کړو، ليکن حجاج بن يوسف د هغه په خلاف بيرته ورانه کړه او د قريشو په طريقه ئے جوړه کړه کومه چه نن صبا موجوده ده. روستو منصور بادشاه پکښې د تغيير راوستو اراده اُوکړه ليکن امام مالك رحمه الله ترے منع اُوکړه چه د کعبے نه به لوبے جوړے شی، يو به ئے ورانوی او بل به ئے جوړوی. وبالله التوفيق.

﴿ وَاِسۡمٰعِيۡلُ ﴾ دواړه ته ئے ابتداءً نسبت د پورته کولو اُونکړو بلکه اسماعيل ئے ورسره روستو ذکر کړو وجه دا ده چه اصل جوړونکے ابراهيم عليه السلام وو او اسماعيل عليه السلام ورسره مدد کولو.

﴿ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّا ﴾ انبياء کرام عليهم السلام د الله تعالىٰ شان پيژنی ځکه په عمل باندے فخر نۀ کوی بلکه د قبوليت سوال کوی. او دا د ايمان والو صفت دے چه عمل صالح کولو سره سره يره کوی چه دا به قبول نۀ شی لکه سورة المؤمنون (۶۰) آيت کښې ذکر دے.

ابن ابی حاتم د وُهيب بن الورد په باره کښې ليکلی دی چه هغه به دا آيت لوستلو او ژړل به ئے او وئيل به ئے چه خليل الرحمن د الله کور جوړولو او يريدو چه چرته د هغه عمل رد نۀ کړے شی، معلومه شوه چه مُخلص مؤمن عمل کوی او يريږی چه چرته د هغه عمل د هغه په مخ باندے راګوزار نشی. (وُهيبؒ د عبد الله بن مباركؒ، فضيل بن عياضؒ او د عبد الرزاقؒ وغيرهم شيخ او لوئی عابد او زاهد انسان وو).

نو مؤمن له پکار دی چه هغه د خوف او رجاء (يرے او اميد) په مينځ کښې اُوسيږی.

او د عمل سره دعا ځکه کوی چه دعا د عمل د قبوليت ذريعه وی. لکه آيت کښې دی :

﴿ اِلَيۡهِ يَصۡعَدُ الۡكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالۡعَمَلُ الصَّالِحُ ﴾ (فاطر: ۱۰)

پدے کښې یو تفسیر دا دے چه د ذکر او د دعا په ذریعه عمل صالح الله ته پورته کیږي.
او دا جمله حال دے او يَقُوْلَانِ پکښې پټ دے یعنی دا بنیادونه ئے پداسے حال کښې پورته کول چه دا دعا ئے کوله. نو ددے سره د باطل پرستو مبتدعینو دا دلیل نیول غلط شو چه وائی د مانځه نه روستو په اجتماعي طور سره دعا ثابته شوه. بلکه دا دعا په مینځ د عمل کښې ده.
او دداسے غیر صریح دلیل نه استدلال کول او صحیح احادیث پریخودل د اهل زیغو طریقه ده.
دعا خو عبادت دے لیکن د نبی ﷺ نه به د هغې طریقه او وخت زدهٔ کولے شی، نبی ﷺ هیڅ کله همیشه دپاره د فرائضو او د سنتو نه روستو په جمع سره دعا نهٔ ده کړے.
نو ددے ځائے نه د ابراهیم علیه السلام دویمه دعا د عمل د قبلیدو اُوشوه او د هغې علت ئے په ﴿ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ﴾ سره ذکر کړو.
او پدے کښې د دعا ادب ذکر دے چه د الله تعالیٰ په نومونو او صفتونو ئے وسیله نیولے ده.

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ
اے ربه زمونږ ! اُو ګرځوه مونږه (همیشه) تابعدار ستا، او زمونږ د اَولادو نه یوه ډله تابعداره ستا
وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۲۸﴾
او را اُوښایه مونږ ته طریقے د عبادت زمونږه، او مهربانی اُوکړه په مونږ یقیناً خاص تهٔ توبه قبلونکے، رحم کونکے ئے.

تفسیر: په دے آیت کښې د ابراهیم علیه السلام دریمه دعا ده، په دین باندے د کلك والی دپاره او په خپلو اولادو کښې د دین د جاري ساتلو دپاره. او پدے کښې په یهودو او مشرکانو رد دے چه که تاسو ځان ته د هغه تابعدار وایئ نو هغه خو ځانله د اسلام دعا غواړي چه مونږ په اسلام مضبوط کړه او په خپلو اولادو کښې هم اسلام غواړي او تاسو ددے اسلام خلاف کوئ.
او د آیت نه معلومه شوه چه د مؤمن د زړهٔ اول ارمان به کوم وی؟، نو عقیده او نظریه د یو مؤمن اول محبوب وی او دا ئے مشغله وی، هغه اول دیته ترجیح ورکوی، ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام ته ددے دولت کوم چه دوی ته ورکړے شوے وو، اهمیت ښکاره وو چه هغه صحیح عقیده او صحیح ایمان دے، دا اهمیت او خواهش دوی مجبور کوی چه دوی د آینده نسلونو دپاره هم ددے دولت په باره کښې الله تعالیٰ ته عاجزي اُوکړي نو ځکه د خپل اولادو دپاره هم دعا کوی چه ددے دولت نه ئے محروم نهٔ کړي. مخکښې ئے اُووئیل : چه اولادو دپاره د رزق وسائل فراخه کړے شي او دلته وائي چه د ایمان د دولت نه هم محروم نهٔ شي. (فی ظلال).

اسلام د مخکښ نه وو خو دلته د هغې دوام او همیش والے غواړي او اسلام انقیاد ته هم وائي یعني مونږه همیشه ستا د حکم منقاد او تابعدار کړه او زمونږ په اولادو کښې هم امتِ مسلمه پیدا کړه. د امتِ مسلمه اطلاق په عربو او په دے اُمت باندے کیږي. لکه سورة الحج (۷۸) آیت کښې ورته اشاره ده.

﴿ أُمَّةً مُّسْلِمَةً ﴾ پدے کښې اشاره ده چه خلافتَ به د یهودو او نصاراؤ نه نقل کیږي او دے امتِ محمدیه ته به ورکولے شي.

﴿ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا ﴾ دا بیت الله خو مونږ جوړ کړو، دا خو یوه کوټه شوه، نو اُوس د عبادت طریقه پیژندل پکار دي چه دے کښې به څه کوو؟. د هغې سوال کوي چه مونږ ته د عبادت او د حج طریقے راوښایه.

مَنَاسِكُ جمع د مَنسِك ده هر هغه ځائے ته وئیلے شي چه په هغې کښې الله تعالیٰ ته په نیك عمل سره تقرب (نزدیکت) کیدے شي، که ذبح کول وي، که مونځ یا طواف او سعي وغیره وي او دا ئے شرعي معنیٰ ده.

او منسك ځائے د عبادت ته هم وائي ځکه د (نَسَكَ) لغوي معنیٰ (تَعَبَّدَ) دے، یعني عبادت کول. دلته ترے کارونه د عبادت او طریقے او ځایونه د حج (طواف، سعي، عرفات مزدلفه، منیٰ وغیره) مراد دي. دے دپاره چه حج په صحیح طریقه ادا شي.

یعني چه د عباداتو او د حج په صحیح طریقه ادا کولو په وجه تا ته نزدے شم.

معلومه شوه چه په عبادت باندے به الله تعالیٰ ته نزدیکت هله حاصلیږي چه هغه په صحیح شرعي طریقه سره ادا کړے شي.

﴿ وَتُبْ عَلَيْنَا ﴾ یعني که په بندګئ او عبادت کښې کوم تقصیر او کوتاهي کیږي نو هغه راته معاف کړه او زمونږه توبه قبوله کړه.

یا مونږ باندے رحم اُوکړه چه تا ته په زړهٔ سره رجوع اُوکړو. دا ټول کارونه د الله په فضل سره کیږي. د توبے طلب ولے کوي؟ وجه دا ده چه د توبے طلب په طریقه د عبادت او عاجزئ سره دے، او اشاره ده چه د هر عبادت سره توبه او استغفار مناسب دے.

توبه یواځے د ګناه نه نهٔ وي بلکه دا د الله تعالیٰ حق دے، انبیاء علیهم السلام پاك مخلوق دے او عبادت کوي او ددے سره توبے اُوباسي.

پدے کښې هم په یهود او نصاراؤ رد دے چه ابراهیم ﷺ ځان د الله تعالیٰ په حق کښې قاصر او کوتاه ګڼړي او دوی ځان له د جنت دعوے کوي نو آیا دوی د هغه تابعدار کیدے شي ؟!.

دارنګه توبه کله د نیکو کارونو توفیق ورکولو ته وئیلے شي لکه آیت کښ دی: ﴿لَقَدْ تَابَ اللهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ﴾ (التوبة) (يعني الله احسان اُوکړو او دوی ته ئے د تبوك د غزا توفیق ورکړو)۔ نو دلته معنیٰ شوه: مونږ استعمال کړه په خپل طاعت کښ۔ ددے لفظ زیات تحقیق به په سورة النساء (١٦) آیت او په سورة الفرقان (٦٧) آیت کښ راځی ان شاء الله۔

بله دا ده چه مونږ خو به دا کار اُوکړو لیکن صبا له زمونږ مرګ دے نو ددے ځائے دپاره یو مُعلم او استاذ پکار دے، داسے اُستاذ چه د هغه استاذی تر قیامته پورے باقی وی، مدرسه ورله ستا په حکم مونږه جوړه کړه۔ اے الله! مدرس ورله ته مقرر کړه۔ او هغه مدرس محمد رسول الله ﷺ دے نو هغه دپاره دعا کوی:

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ
اے ربه زمونږ! راولیږه په دوی کښ رسول د دوی نه چه لولی به په دوی آیتونه ستا او خودنه به کوی دوی ته
الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٢٩﴾
ستا دکتاب (قرآن) او د سنت خبرے، او پاکوی به دوی لره، یقیناً خاص ته غالبه، حکمتونو والائے۔

تفسیر: په دے آیت کښ د ابراهیم علیه السلام دعا ذکر ده دپاره د رالیږلو د خاتم الانبیاء محمد رسول الله ﷺ چه دا تقریباً دوه زره کاله روستو قبوله شوه۔ دعا ئے داسے اُوکړه چه اے الله! د اسماعیل علیه السلام په اولادو (یعنی عربو) کښ یو نبی پیدا کړه چه خلقو ته ستا آیتونه اُولولی او هغوی ته د قرآن او سنت تعلیم ورکړی او هغوی د شرك او د تمامو ګناهونو نه پاك کړی نو دا دعا قبوله شوه او رسول الله ﷺ فرمائی: زهٔ د خپل پلار ابراهیم علیه السلام دعا او د عیسیٰ علیه السلام بشارت او د خپلے مور لیدل یم۔ چه هغے د نبی ﷺ د ولادت په وخت کښ یوه رنړا اُولیدهٔ چه د هغے نه اُووتله او د شام مانړئ (قلعه ګانے) ئے روښانه کړے۔

(مسند احمد ٥/٢٦٢) رقم (٢٢٣١٥) الطيالسي (١١٤٠) واسناده حسن وله شواهد تقويه (هيثمي) وصححه الالباني في صحيح السيرة النبوية ص(٥٤)۔

پدے کښ هم په یهود او نصاراؤ رد دے چه ستاسو پلار نیکه ددے نبی د رالیږلو دعا کوی او تاسو ترے انکار کوئ۔ دارنګه مشرکینو باندے هم رد دے۔

فوائد الآية:

پدے آیت کښ د نبی ﷺ درے صفات او درے کارونه ذکر دی او ددے هر صفت نه انکار کول کفر دے۔

اول صفت : فِيهِمْ : ضمير مخكښې (ذرية) ته راجع دے يعني په اولادو د ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام كښې چه عرب دي نبي راوليږهٔ چه هغوی ته اُميين هم وئيلے شي۔ الله تعالیٰ دا دعا قبوله کړه فرمائي : ﴿هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا﴾ [الجمعة : ۲]
يا ددے بنار (مکے والا) مراد دي او هغه هم عرب دي۔ نو راغلے په عربو کښې خو نبوت ئے عجمو او ټولو انسانانو ته عام دے۔ لکه چه الله فرمائي :
﴿قُلْ يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا﴾ [الاعراف: ۱۵۸]
(اے خلقو زهٔ تاسو ټولو ته د الله رسول (پيغام رسونکے) راليږلے شوے يم)۔
په عربو کښې ځکه راوليږلے شو چه عربو کښې الله تعالیٰ هوښيارتيا، عقلمندي، ذهانت، زيرکتيا، بهادري، ميلمه دوستي، سخا او ښه صفات اچولي دي، په خپله خبره دليل ښهٔ قائمولے شي۔ دا وجه ده چه د الله دين ئے هم ټولے دنيا ته په خپلو وينو او مالونوسره اُورسولو، که نور قومونو کښې راغلے وے نو کيدے شي چه هغوی د خپل نبي دغسے خدمت نهٔ وے کړے۔نو الله خپل آخري غوره رسول هم په هغوی کښې خاص کړو چه دهٔ کښې هم بے شانه کمالات دي۔
دويم صفت : (رسولًا): نبي ﷺ به د الله رسول ګڼړلے شي۔ د هغه تابعداري او طاعت به واجب ګڼړلے شي او د هغه په شان به د هغه نه روستو بل هيڅوك رسول نهٔ ګڼړلے شي چه د هغه تابعداري هم لازمه شي۔
دريم صفت : (مِنْهُمْ) يعني د دوی د جنس نه به وي يعني بشر (انسان) به وي۔ دا دليل دے چه نبي ﷺ په انسانيت کښې د عامو انسانانو په شان وو، ليکن الله تعالیٰ ورله د نبوت مرتبه ورکړے وه۔د الله د توحيد او د خپل نبوت رنړا ورسره وه، نو هغه خلق دروغ وائي چه وائي نبي ﷺ بشر متشکل وو۔کله وائي سورے ئے نهٔ لرلو۔کله وائي زمونږ په شان انسان نهٔ وو۔
او پدے درے وارو صفاتو کښې شك يا انکار کول کفر دے۔
فائده : علامه آلوسیؒ د شيخ ولي الدين العراقيؒ نه نقل کوی هغه فرمائي :
[فَلَوْ قَالَ شَخْصٌ : اُوْمِنُ بِرِسَالَةِ مُحَمَّدٍ ﷺ اِلٰى جَمِيْعِ الْخَلْقِ لٰكِنْ لَا اَدْرِیْ هَلْ هُوَ مِنَ الْبَشَرِ اَوْ مِنَ الْمَلَائِكَةِ اَوْ مِنَ الْجِنِّ اَوْ لَا اَدْرِیْ هَلْ هُوَ مِنَ الْعَرَبِ اَوِ الْعَجَمِ؟ فَلَا شَكَّ فِیْ كُفْرِهٖ لِتَكْذِيْبِهِ الْقُرْآنَ وَجَحْدِهٖ مَا تَلَقَّتْهُ قُرُوْنُ الْاِسْلَامِ خَلَفًا عَنْ سَلَفٍ وَصَارَ مَعْلُوْمًا بِالضَّرُوْرَةِ عِنْدَ الْخَاصِّ وَالْعَامِّ وَلَا اَعْلَمُ فِیْ ذٰلِكَ خِلَافًا فَلَوْ كَانَ غَبِيًّا لَا يَعْرِفُ ذٰلِكَ وَجَبَ تَعْلِيْمُهٗ اِيَّاهُ فَاِنْ جَحَدَهٗ بَعْدَ ذٰلِكَ حَكَمْنَا بِكُفْرِهٖ، اِنْتَهٰى]۔
[روح المعانی ۳/ ۳۰۰]۔
که يو شخص دا اُووائي چه زهٔ پدے ايمان لرم چه محمد ﷺ ټولو خلقو ته رسول راليږلے شوے

دے لیکن نۀ پو هیږم چه هغه د انسانانو نه دے او که د ملائکو یا پیریانو نه دے ؟، یا نۀ پو هیږم چه د عربو نه دے او که د عجمو نه ؟، نو ددۀ په کفر کښې هیڅ شك نشته ځکه چه دۀ د قرآن تکذیب اُوکړو او د هغه څۀ نه ئے انکار اوکړو چه مسلمانانو په ټولو زمانو کښې روستنو د مخکنو نه اخستے دے او په دین کښې د خاص او عام په نیز ښکاره معلوم دے۔ او پدے باره کښې ما ته هیڅ مخالف نۀ دے معلوم۔ نو که دا شخص غبی وی، پدے مسئله نۀ پو هیږی، نو دۀ ته ددے تعلیم ورکول لازم دی۔ که د پو هے نه روستو هم انکار کوی نو کافر به وی۔ آه۔

اُوس وائی: ددے رسول کارونه به څۀ وی ؟ : دے ته نصاب تبلیغ وائی، که د چا په دعوت کښې دا درے واړه کارونه نۀ وی نو هغه له په خپل دعوت باندے سوچ او فکر پکار دے چه آیا زما دا دعوت به په پیغمبری وی؟! لیکن امت کښې بعض خلقو دا کارونه تقسیم کړل چا یو راواخستو او چا بل، حال دا چه دا ټول کارونه خپلول پکار دی۔

﴿ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ ﴾ دا اوله ذمه واري د نبی ﷺ ده چه تلاوة الآیات به کوی او ددے نه مراد قرآن کریم ته دعوت او تبلیغ کول دی ځکه دلته ئے (عَلَيْهِمْ) لفظ وئیلے دے یعنی په بل باندے د قرآن کریم آیتونه لوستل او هغوی ته دعوت ورکول۔ نو دا دلیل دے چه تبلیغی نصاب به قرآن کریم وی، که د چا په تبلیغی نصاب کښې قرآن کریم نۀ وی شامل هغۀ نبوی تبلیغ نۀ دے۔

د تلاوت الآيات مصداق

د تلاوة الآیات دوه مصداقه دی : (۱) د قرآن کریم آیتونه او الفاظ لوستل۔ ددے فائده به دا شی چه د قرآن لفظ مقصود دے لکه څنګه چه معنیٰ ئے مقصود ده۔ په خلاف د نورو کتابونو چه هغے کښې معنیٰ مقصود وی فقط نو د قرآن د لفظ او معنیٰ دواړو خدمت، نبوی طریقه ده۔

(۲) دویم مصداق د تلاوة الآیات دا چه هغه کونی دلائل بیانول چه هغه د الله تعالیٰ په عظمت او توحید او د هغه په کمال دلالت کوی۔ ددے فائده دا ده چه په زړۀ کښې اولًا د الله تعالیٰ تعظیم پیدا کول بیا په دین عمل کول، که داسے نۀ وی نو په زړۀ کښې هسے د الله تعالیٰ تعظیم راوستل او عمل نۀ کول فائده نۀ ورکوی۔

﴿ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ﴾

دا دویمه ذمه واری ده چه کوم خلق د قرآن کریم په دعوت سره ایمان راوړی، د هغوی د مضبوطوالی او تفصیلی ایمان زدۀ کولو دپاره به هغوی ته د قرآن او سنت تعلیم ورکوی۔

حکمة : د حُکم نه مشتق دے په معنیٰ د منع سره او حکمة (پو هه او عِلم) هم انسان د ګمراهئ نه او په غلطئ کښې د واقع کیدو نه بچ کوی۔ کومه کړئ چه د اَس په واګو کښې بیا د هغه په

خوله کښې اچولے شی نو هغې ته حَکَمَة وائی- (ابن عاشورؒ)

د (اَلْحِکْمَة) نه مراد سنت دے چه هغه د قرآن کریم د احکامو تفسیر او تشریح ده- لکه چه دا خبره امام شافعیؒ په ((رساله)) کښې ذکر کړیده- او د قتادهؒ نه نقل ده- ځکه د رسول الله ﷺ هره خبره د حکمت نه ډکه ده-

رسول الله ﷺ به کله بعض خلقو ته د حدیثونو د یادولو حکم کولو-

اصل کښې حکمت :[كُلُّ كَلِمَةٍ وَعَظَتْكَ اَوْ زَجَرَتْكَ اَوْ دَعَتْكَ اِلٰى مَكْرُمَةٍ اَوْ نَهَتْكَ عَنْ قَبِيْحٍ]

[جمهرة اللغة لابن درید). (هر هغه کلمه ده چه تا د بد کار نه منع کړی یا دِ په عزتمند او شریف کار باندے راپورته کړی)- په لغت کښې مضبوطوالی ته وئیلے شی-

۲- امام مالكؒ وائی : [هِيَ مَعْرِفَةُ الدِّيْنِ وَالْفِقْهُ فِيْهِ وَالْاِتِّبَاعُ لَهٗ] (قاسمی)

(حکمة د دین پیژندلو او په هغې کښې پوهه حاصلولو او د هغې تابعداری کولو ته وئیلے شی)-

قرآن کښې ئے په معنیٰ د الفهم بالقرآن سره تفسیر شویدے (یعنی د قرآن پوهه) لکه آیت کښې دی: ﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ ......﴾ (البقره:۲٦۹) (یعنی ورکوی پوهه د قرآن)-

او دا تفسیر امام مجاهدؒ کړیدے- (بغویؒ)

۳- بعض علماء وائی : حکمة د قرآن کریم د احکامو تفسیر ته وئیلے شی- چه ددے رجوع هم سنت ته کیږی- ٤- مقاتل بن سلیمان -مشهور مفسر- وائی : حکمة علم او عمل ته وئیلے شی- دارنګه ابن قتیبهؒ وائی : [لَا يَكُوْنُ الرَّجُلُ حَكِيْمًا حَتّٰى يَكُوْنَ عَالِمًا بِعِلْمِهٖ] (بغوی)

(انسان نه حکیم هله جوړیږی چه په خپل عِلم عمل اُوکړی)-

مقاتل دا هم وائی : .... [مَوَاعِظُ الْقُرْآنِ وَمَا فِيْهِ مِنَ الْاَحْكَامِ]

(د قرآن وعظونه او په هغې کښې چه کوم احکام دی)-

۵- [يُعَلِّمُهُمُ الْحِكْمَةَ فِيْ كُلِّ اُمُوْرِهِمْ وَالْاِصَابَةَ وَالسَّدَادَ فِيْ كُلِّ شُؤُوْنِهِمْ، يُفَقِّهُهُمْ اَسْرَارَ الشَّرْعِ وَحِكْمَةَ فِيْ اَحْكَامِهٖ] (ایسر التفاسیر للجزائری) (یعنی دوی ته به په ټولو کارونو کښې مضبوطوالے ورښائی او په ټولو حالاتو کښې حق ته رسیدل او سیده والے ورښائی او دوی ته به د شریعت په رازونو او د هغه په احکامو کښې د حکمتونو پوهه ورکوی)-

٦- یا حکمة : وَضْعُ الْاَشْيَاءِ فِيْ مَوَاضِعِهَا ته وئیلے شی یعنی هر شے په خپل خپل مناسب ځائے کښې کیخودل او هر عمل په خپله موقعه کښې ادا کول-

۷- سید قطبؒ فرمائی : کتاب به ورته ښائی نو اهل کتاب به اُوګرزی او حکمة به ورته ښائی نو د کارونو حقیقت به پیژنی او ښائسته اندازه به لګوی او دوی ته به د دوی روحونه د سیده

حکم او د صحیح عمل خودنه کوی او دا ډیر خیر دے۔ [فی ظلال]

۸- آلوسیؒ وائی : [اَلْحِكْمَةُ اِتْقَانُ الْعِلْمِ وَالْعَمَلِ اَوِ الْاَسْرَارُ الْمُوْدَعَةُ فِي الْكِتَابِ]

(د علم او عمل مضبوطوالی ته حکمت وائی یا هغه رازونو معلومولو ته کوم چه په کتاب کښې وی)۔

۹- [اَلْقَضَاءُ وَالْاَحْكَامُ] (بغوی،خازن) (د احکامو او د فیصلو علم)

او ددے تفاسیر ترمینځ هیڅ منافات نشته، ټول صحیح دی۔ لیکن بعض د مطلق حکمة تفسیر دے او بعض ددے آیت سره لګیږی ډیر تفصیل د الحکمة په الفوائد (۳ زیرطبع) کښې اُوګوره۔ روستو دے سورة آیت (۲۶۹) یؤتی الحکمة کښې بیا راځی، دلته د حکمة تفسیر په سنت سره راجح او غوره دے او دا قول د ابن دریدؒ دے۔

﴿ وَيُزَكِّيْهِمْ ﴾ دریمه ذمه واری تزکیه ده۔ هرکله چه تزکیه عمل دے او عَمل د عِلم نه روستو وی نو دا ئے روستو ذکر کړو۔ تزکیه دیته وائی چه د شرك او کفر او د بدو اعمالو (ګناهونو) او ناکاره اخلاقو نه پاکول۔ چا ته به ئے مخامخ اُووئیل چه دا کار مهٔ کوه۔ عبد الله بن عمرؓ ته ئے اُووئیل : [اِنْ كُنْتَ عَبْدَ اللهِ فَارْفَعْ اِزَارَكَ] (مسند احمد والطبرانی)

(که ته د الله بنده ئے نو خپل لنګ د ګیټو نه پورته کړه)۔

دارنګه د خُریمؓ په باره کښې ئے فرمایلی وو : [نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمُ الْاَسَدِيُّ لَوْلَا طُوْلُ جُمَّتِهٖ وَاِسْبَالُ اِزَارِهٖ] (احمد، ابوداود والبخاری فی التاریخ) (خُریم ښهٔ سړے دے خو که د هغه ویښته ډیر اُوګده نهٔ وے او لنګ ئے د ګیټو پورے اُوږد نهٔ وے) ځکه چه کیدے شی په هغه کښې ددے په وجه تکبر راشی نو خریم چه خبر شو، ځان ئے سَم کړو۔

هر عمل چه د تزکیه نه بغیر اُوشی او د زړهٔ کیفیت جوړ نهٔ وی او زړهٔ کښې ګندونه (حسدونه) وی، د الله په محبت باندے بناء نهٔ وی نو اګر که هغه ډیر عبادت او عمل وی لیکن دومره اثرئے نهٔ وی۔ پدے وجه تزکیه ډیر ضروری عمل دے ﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ﴾۔

هر قسم دینی کوشش د نفسونو د تزکیه او صفائی دپاره دے۔ نو کله چه انسان قرآن وائی او د هغه په نفس کښې تزکیه او پاکی رانشی، هغه له قرآن فائده ورنکړه۔

۲ ...... دارنګه په قرآن او په الٰهی احکامو باندے د عمل کولو عملی طریقے خودلو ته هم تزکیه وائی لکه نبی ﷺ مونځ، اَودس، حج او نور احکام په عملی طریقه خودلی دی۔

۳...... دارنګه د باطنی رذائلو (بدو خویونو لکه د دنیا محبت، غفلت، بغض، حسد او تعصب نه) منع کول هم د نفس تزکیه ده، کله به ئے د صحابه کرامؓ نه په اعمال او اخلاقو بیعت

اخستلو، نو زمونږ نبی ﷺ کامل مُرشد هم دے۔

٤..... په آخرت کښې به د امتِ مسلمه تزکیه کوی چه دوی په نورونو امتونو گواهی ورکړه نو دا صحیح ده۔ (بغوی)

علامه ناصر السعدیؒ فرمائی :[فَقَدْ جَمَعَ لَهُمْ بَيْنَ تَعْلِيمِ الْاَحْكَامِ، وَمَا بِهِ تُنَفَّذُ الْاَحْكَامُ وَمَا بِهِ تُدْرَكُ فوائدها وثمراتها فَفَاقُوْا بِهٰذِهِ الْاُمُوْرِ الْعَظِيْمَةِ جَمِيْعَ الْمَخْلُوْقِيْنَ وَكَانُوْا مِنَ الْعُلَمَاءِ الرَّبَّانِيِّيْنَ]

(تیسیر الکریم للسعدی:١٦٤]

(یعنی : الله دوی دپاره تعلیم د احکامو او هغه شے چه په هغے سره احکام نافذ کولے شی او هغه شے چه په هغے سره د احکامو فائدے او میوے حاصلولے شی دا ټول راجمع کړل نو ددے لویو کارونو په سبب دوی د ټول مخلوق نه پورته شو او ربانیین (الله والا) علماء جوړ شو)۔

فائده : تزکیه د تخلیه او تحلیه نه مرکب ده۔ تخلیه (یعنی صفا کول) به د کفر او شرك نه تر صغیره گناهونو پورے وی او تحلیه (ښائسته کول) به په ایمان سره وی تر مستحبات عملونو پورے۔

فائده : داسے آیت په قرآن کریم کښې (٤) کرته راغلے دے۔ دلته او بقره (١٥٣) او آل عمران (١٦٤) ﴿لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا﴾

او سورة الجمعه (٣) آیت ﴿هُوَ الَّذِىْ بَعَثَ فِى الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا﴾ .

فرق دا دے چه دلته تزکیه د ټولو روستو ذکر ده او باقی درے آیتونو کښې تزکیه د تعلیم د کتاب او حکمة نه مخکښې ذکر ده۔ ددے حکمت دا دے چه دلته ترتیب اصلی ذکر دے او نورو آیتونو کښې ترتیب مقصودی دے۔ تزکیه مَرتبه د عمل ده او په عمل باندے تعلیم د کتاب او سنت مقدم وی۔ اول به وعظ او نصیحت واورے بیا به عمل اُوکړے نو ځکه ئے دلته تزکیه روستو کړه او چونکه د کتاب او سنت د تعلیم مقصد تزکیه او عمل او تربیت دے پدے وجه ئے په باقی ځایونو کښې هغه مخکښې ذکر کړه او وسیله ئے روستو ذکر کړیده چه ترغیب راشی او خلق مقصود ته اولًا متوجه شی۔

فائده : آیت دلیل دے چه د سنت نبوی نه بغیر د نفس تزکیه نشی کیدے، په سنت طریقو سره به تزکیه راځی، نهٔ په بدعات او خرافاتو او د ځان نه په ایجاد شوی طریقو او خرافاتو سره۔ او د سنت پریخودل د نفس خباثت دے۔

فائده : تعلیم د کتاب په یو څو طریقو دے (١) یو تعلیم د الفاظو د قرآن دے۔ (٢) دویم تعلیم د معنیٰ دے۔ (٣) دریم تعلیم د احکامو دے۔ چه د قرآن احکام معلوم شی۔ (٤) تعلیم الاسرار۔ یعنی د قرآن د احکامو او الفاظو رازونه معلومول۔ (٥) تعلیم التطبیق۔ یعنی د دغه

احکامو او رازونو د معلوملو نه روستو هغه په ځان باندے تطبیق کول او په خپل ځان کښ راوستل او ځان د هغے مطابق جوړول۔ د قرآن کریم په لوستلو او تعلیم کښ ددے تولو مقاصدو نیت کول ضروری دی۔

﴿ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴾ دا د الله تعالیٰ په نومونو سره توسل او وسیله نیول دی او پدے سره دعا زر قبلیږی۔ بلکه اشاره ده چه ته قادر ئے په دے کار او په تاخیر کښ ستا حکمة دے۔

الۡعَزِيۡزُ (۱) اَلَّذِیۡ لَایُعۡجِزُهٗ شَیۡءٌ. (هغه ذات دے چه دهیڅ نه عاجز نهٔ دے او په هر شی غالب دے) لکه آیت کښ دی :﴿ وَعَزَّنِیۡ فِی الۡخِطَابِ﴾ (ص:۲۳)۔

(یعنی په ما باندے په خبرو کښ غالب دے)۔

(۲) [اَلَّذِیۡ لَایُوۡجَدُ مِثۡلُهٗ] (ابن عباس) ۔(هغه ذات چه د هغه مثل موجود نهٔ وی یعنی بے مثله ذات)۔ای عَزِیۡزُ الۡوُجُوۡدِ۔ آلوسیؒ وائی دا معنیٰ دلته مراد کول بعید دی۔ (روح)

(۳)...... عزتمند ذات۔ (٤) ...... عزة کله په معنیٰ د قوت سره راځی یعنی قوی ذات لکه ﴿ فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٍ ﴾ (یس:١٤)۔ (یعنی مونږ په دریم نبی سره مضبوط کړل)۔

(٥) [وَقِیۡلَ : الۡمَنِیۡعُ الَّذِیۡ لَا تَنَالُهُ الۡاَیۡدِیۡ وَلَایَصِلُ اِلَیۡهِ شَیۡءٌ] (مُفَضَّل بن سَلِمة)۔

(هغه محفوظ ذات چه هغه ته د انسانانو لاسونه او هیڅ شے نشی رسیدلے) یعنی انسانان ورله گوتے نشی وروړے او جهازونو وغیره آلاتو سره هغه ته رسیدلے نشی)۔ (تفسیر البغوی والماوردی والبحر المحیط) د غالب معنیٰ ئے زیاته ظاهر ده۔ یعنی زورَور دے۔

﴿ الۡحَكِيۡمُ ﴾ (۱) ...... [اَلۡحَكِيۡمُ فِیۡ صُنۡعِهٖ].یعنی د هغه هر کار مضبوط او مُحکم دے۔

(۲) ...... [اَلۡحَكِيۡمُ فِیۡ شَرۡعِهٖ]. (په شریعت او احکامو کښ د هغه حکمتونه دی او شریعت ئے مُحکم او مضبوط دے)۔ (۳) ...... [اَلۡحَكِيۡمُ فِیۡ صُدُوۡرِ الذُّنُوۡبِ عَنۡ عِبَادِهٖ].

(د بندگانو نه په گناهونو صادرولو کښ ئے حکمتونه وی)۔

(٤) ...... [اَلَّذِیۡ لَایَفۡعَلُ اِلَّا مَا فِیۡهِ حِكۡمَةٌ بَالِغَةٌ] (آلوسی)۔

(هغه ذات چه صرف هغه کار کوی چه په هغے کښ کامل حکمت وی)۔

(٥) ...... [هُوَ الۡعَلِيۡمُ الَّذِیۡ لَایَجۡهَلُ شَیۡئًا] ۔ (حکیم هغه پوهه ذات دے چه د هیڅ شی نه ناخبره نهٔ وی)۔ (اللباب لابن عادل)۔ (٦) ...... [وَالۡحَكِيۡمُ هُوَ الۡعَالِمُ بِوَضۡعِ الۡاَشۡيَاءِ فِیۡ مَوَاضِعِهَا] (اللباب)

(حکیم هغه ذات دے چه د هر شی په خپل خپل ځائے کیخودو باندے پوهه وی)۔

په قرآن کښ دا دواړه صفتونه د الله دپاره ډیر راځی، ددے حکمة دا دے چه په عزیز کښ کامل قدرت ته او په حکیم کښ کامل علم ته اشاره ده۔ او دواړه جمال او کمال دے، په بل چا کښ نشی کیدے۔ او

کله چه دواړه جمع شي نو ډیر کمال وي او چه یو وي او بل نهٔ وي نو ناقص کمال دے۔ فتدبر۔

فائده : د الله تعالیٰ د مجاورت (او تعلق) طریقه دا ده چه اول به د الله تعالیٰ آیتونو ته غوږ کیدے بیا به علم حاصل کړے بیا به په حکمة کښ تدرج اُوکړے، بیا به تزکیة النفس وی نو پدے سره به تا ته د الله تعالیٰ مجاورة او نزدیکت حاصل شي لکه چه راغبؒ وئیلی دی۔

وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا
او اعراض نهٔ کوی د دین د ابراهیم (علیه السلام) نه مګر هغه څوک چه کم عقل کړی خپل ځان
وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۳۰﴾
او یقیناً هغهٔ مونږه غوره کړے وو په دنیا کښ او یقیناً هغه به په آخرت کښ د نیکانو (د ډلے) نه وی۔

تفسیر : اُوس په دے آیت کریمه الله تعالیٰ هغه چا ته رټنه ورکوی چه د ابراهیم (علیه السلام) دین پریدی۔ د ابراهیم (علیه السلام) دین خو د توحید دین وو، او دا یهود او نصاریٰ او مشرکان درے واړه په توحید روان نهٔ دی۔ بلکه د خپل نفساني خواهشاتو اتباع کوی حال دا چه ابراهیم (علیه السلام) د الله تعالیٰ د وحدانیت ښکاره اعلان کړے وو، د هغهٔ سره ئے یو سیکنډ هم شریك نهٔ وو جوړ کړے، او د ټول قوم مخالفت ئے په سر اخستے وو تردے چه د خپل پلار نه ئے هم د براء ت اعلان اُوکړو، او ددے عقیدے د خاطره اُور ته ګوزار کړے شو، دا هغهٔ ملتِ ابراهیمي دے چه ددے وصیت ابراهیم (علیه السلام) خپلو بچو ته کړے وو او ددے ملتِ ابراهیمي د دعوت او تبلیغ دپاره رسول الله ﷺ رالیږلے شویدے۔ نو تاسو ددهٔ نه څنګه انکار کوئ او دعویٰ د ابراهیم (علیه السلام) د دین کوئ !!۔

ربط : مخکښ د ابراهیم (علیه السلام) فضائل، د هغه دعاګانے ئے ذکر کړے نو اُوس د هغه ملت ذکر کوی او پدے کښ د ملتِ ابراهیمي په مخالفینو چه اهل کتاب او مشرکان دی تعریض کوی۔ (از هر البیان)۔

مضمون : پدے آیت کریمه کښ الله تعالیٰ رټنه ورکوی هغه چاته چه د ابراهیم (علیه السلام) د دین نه اَوړی او پدے کښ په دغه درے طائفو باندے رد دے۔ د ابراهیم (علیه السلام) ملت او دین ئے روستو آیت (۱۳۱) کښ ذکر کړے چه هغه (الاخلاص لله) دے۔ الله دپاره خپل ټول اعمال خالص کول۔ بیا ئے دا خبره بیان کړے چه ابراهیم او یعقوب علیهما السلام د مرګ په وخت وصیت صرف په دین توحید او اسلام باندے کړیدے او دا چه د ځان نه دینونه مهٔ جوړوئ، نهٔ ئے په یهودیت، نهٔ په نصرانیت او نهٔ ئے په شرك وصیت کړے، نو تاسو څنګه ځان د هغه تابعدار ګڼړئ۔ بیا صراحةً

ردونه او اُوه زجرونه ئے ورکړیدی چه دوی وئیلي وو چه یعقوب علیه السلام وصیت په یهودیت او نصرانیت کړے وو نو رد پرے اُوشو چه هغوی خو وصیت په توحید کړے وو۔ بیا (تِلْكَ اُمَّةٌ) سره په فخر بالاباء رد دے چه زمونږ پلاران انبیاء تیر شویدی۔ نو جواب اُوشو چه د هر سړی خپل خپل عمل دے، د بل چا عمل د چا پکار نهٔ راځی۔ بیا په (وَقَالُوْا کُوْنُوْا) کښې زجر او رټنه ده هغه کسانو ته چه د حق ښکاره کیدو سره سره او د یهودیت او نصرانیت د باطل ښکاره کیدو سره بیا هم یهودیت او نصرانیت طرف ته دعوت ورکوی، نو ددے په جواب کښې اُووئیل شو چه مونږ به صرف تابعداری د ابراهیم علیه السلام کوو۔ بیا (قُوْلُوْا آمَنَّا) کښې د د یهودو او نصاراؤ د دعوت په مقابله د خپل ایمان ښکاره کول دی۔ یعنی زمونږ عقیده خو دغه ده او مونږ پوره دین منو، نو پدے کښې څه نقصان دے تاسو مونږ ته د نقصانی دین دعوت راکوئ چه بعض رسولان منئ او بعض نهٔ منئ۔ نیمګړی مذهب کښې داخلیدل جائز نهٔ دی۔ بیا یهودیان او نصاراؤ ته د ایمان دعوت ورکړے شویدے (فَاِنْ آمَنُوْا) سره۔ چه د صحابه کرامؓ په شان ایمان راوړئ هله به هدایت والا جوړیږئ۔ بیا د هغوی یو رواج وو چه خپل بچی به ئے په یو خاص رنګ رنګول او دا به ئے د خپل دین نخه ګنړله نو الله تعالیٰ امر کوی په خپل رنګ باندے چه هغه د الله دین دے۔ چه دا قبول کړئ، ظاهری رنګونوله اعتبار نشته۔ بلکه باطنی رنګ حاصل کړئ۔ بیا مسئله د برائت ده۔ بیا (اَمْ تَقُوْلُوْنَ)کښې دوباره په یهود او نصاراؤ رد دے چه دوی به پخوانی انبیاء علیهم السلام د خپل ځان تابع کول نو الله پرے رد کوی چه دا نیکان د خپل ځان مهٔ تابع کوئ، غلطه دروغجنه ګواهی مهٔ ورکوئ۔ یهودیت او نصرانیت خو روستو پیدا شویدی۔ او دا د باطل پرستو طریقه وی چه نیکان د خپل ځان تابع کوی۔ بیا (تِلْكَ) کښې په انبیاؤ باندے په فخر کولو دوباره رد دے چه د هر چا خپل خپل عمل دے۔

اُوس (وَمَنْ یَّرْغَبُ) آیت کښې مطلب دا دے چه الله تعالیٰ اهل کتاب او کافرانو ټولو ته دا خبره بیانوی چه ددے نه به لوئی ظالم بل څوك وی چه دا ملتِ ابراهیمی نهٔ قبلوی او ددے مخالفت کوی، هغه ابراهیم چه الله تعالیٰ د وړوکوالی نه د خپل توحید د دعوت دپاره چانړ کړے وو تردے چه خپل خلیل ئے ترے جوړ کړو، او په آخرت کښې به هغه ته د نیکانو نه اُوچت مقام ورکولے شی۔

﴿وَمَنْ یَّرْغَبُ﴾ د (رَغِبَ) په صله کښې چه کله (عَنْ) کلمه راشی، په معنیٰ د اعراض او پریخوستلو او مخ اړولو سره وی۔ او چه صله کښې ئے (فِیْ) راشی نو په معنیٰ د مینی سره وی۔

(مَنْ) کله په معنیٰ د نفی سره وی، دلته ئے همدا معنیٰ ده۔ او استفهامی معنیٰ ئے هم صحیح ده یعنی (د ملتِ ابراهیمی نه سِویٰ د هغه چا نه چه ځان کم عقل کړی بل څوك اعراض کولے شی)۔

(مِلَّةَ) : [مَا شَرَعَهُ اللهُ عَلٰى لِسَانِ الْاَنْبِيَاءِ لِعِبَادِهٖ لِيَتَوَصَّلُوْا بِهٖ اِلٰى جِوَارِ اللهِ] (ملت هغه دين ته وائي چه الله تعالىٰ د خپلو بندگانو دپاره د انبياء كرامو په ژبه مقرر كړے وى دے دپاره چه دوى د الله تعالىٰ جِوار او رحمت (جنت) ته اُورسى) ......

او ملة الله تعالىٰ ته نهٔ مضاف كيږى داسے به نهٔ وئيلے كيږى. مِلَّةُ اللهِ. او د انبياء عليهم السلام نه غير بل چا ته هم نشى مضاف كيدے لكه مِلَّةُ زَيْدٍ وغيره به نهٔ وئيلے كيږى او مِلَّةُ اِبْرَاهِيْمَ وَمِلَّةُ آدَمَ وئيل صحيح دى. په خلاف د دين. مفردات للراغبؒ.

﴿ مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ﴾ يعنى كم عقل توب ئے په نفس كښې دننه پروت دے. دا منصوب بنزع الخافض دے، اصل تقدير ئے داسے دے: [سَفِهَ فِيْ نَفْسِهٖ] . مبردؒ او ثعلبؒ وئيلى دى چه سَفِهَ (په كسره د فاء) خپله متعدى كيږى. او سَفُهَ فعل لازم دے. (ماوردى فى النكت والعيون)

ددے يوه معنىٰ زجاجؒ كړيده : [جَهِلَ اَمْرَ نَفْسِهٖ] دے (يعنى د خپل كار (كاميابئ) نه جاهل او نا خبره دے) ځكه چه د كاميابئ دين خو صرف همدا دے.نو سَفِهَ په معنىٰ د جَهِلَ سره دے او مضاف پكښې محذوف دے.

ابوعبيدؒ وائى : ...... [اَهْلَكَ نَفْسَهٗ] (ځان ئے هلاك او تباه كړو).

روح المعانى ليكى: [جَهِلَ نَفْسَهٗ، جَعَلَهَا مُهَانَةً ذَلِيْلَةً] خپل ځان ئے جاهل او ذليله او بے عزته كړو دا ئے حاصل معنىٰ ده.

ابن عباس ﷛ وائى : [خَسِرَ نَفْسَهٗ] (يعنى ځان ئے تاوانى كړو) (بغوىؒ).

قتادةؒ وائى : ددے نه مراد يهود او نصارىٰ دى چه دين ابراهيمى ئے پريخودو او يهوديت او نصرانيت ئے بدعت جوړ كړو. (قرطبىؒ).

نو مطلب دا راووتو چه د ابراهيم ﷤ د دين نه چه څوك اعراض كوى نو هغه غټ كم عقل دے ځكه ملتِ ابراهيمى څه شے دے؟ هغه خو توحيد، خالص او واضح اسلام او فرمانبردارى ده.

﴿وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِى الدُّنْيَا ﴾ پدے سره د هغه چا چه د ملتِ ابراهيمى نه اعراض كوى د كم عقلتيا دپاره علت او سبب بيانوى. وجه دا ده چه ابراهيم ﷤ الله تعالىٰ د هدايت او امامت فى الدين او توحيد او قبوليتِ عامه او د بيت الله جوړولو او پاك ساتلو او د حج د كارونو د تعليم دپاره غوره كړے وو، نو څوك چه د هغه د لارے نه مخ اُوگرزوى او د گمراهئ او سركشئ لاره اختيار كړى نو ددے نه بل غټ سفاهت (كم عقلتيا) او بل غټ ظلم شته څهٔ ؟!. د (اصطفاء) نه مراد د اُوچتو كارونو دپاره غوره كول او چاڼ كول دى.

﴿وَاِنَّهٗ فِى الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِيْنَ ﴾ صالحين دا معنىٰ نهٔ ده چه هلته به نيك عمل كوى بلكه

مطلب دا چه د نیکانو په صف او د هغوی په جماعت کښې به شامل وی، او څوك وائی (صالحین) په معنیٰ د (فَائِزِیْن) (کامیابو خلقو) سره دے۔(مسائل الرازی)

لیکن دا غوره نهٔ ده بلکه دا ئے حاصل معنیٰ ده۔ او د نیك عمله خلقو سره کیناستل دا کامیابی ده۔

اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ اَسْلِمْ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۳۱﴾
کله چه اُووئیل هغهٔ ته رب د هغهٔ، تابع شه (زما د حکمونو) هغهٔ (سمدست) اووئیل زهٔ تابع یم دپاره د رب د مخلوقاتو۔

تفسیر: پدے کښې دا بیانوی چه الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام څکه د دین د مشرئ او توحید دپاره غوره کړے وو چه هغه د الله تعالیٰ کامل فرمانبردار وو، الله تعالیٰ هغوی ته د اخلاص، دکمالِ عبودیت او توحید او اسلام باندے د ثابت پاتے کیدو حکم کړے وو، نو هغوی الله رب العالمین ته ځان پوره تسلیم کړو۔ او بغیر د انحراف او تردد نه فوراً د الله حکم ته ئے غاړه کیخوده۔

نو پدے کښې په یهود او نصاریٰ او مشرکانو رد دے چه ابراهیم علیه السلام ته چه مشری ملاؤ شوے وه د هغے وجه خو دا وه چه هغه د الله تعالیٰ پوره تابعدار وو او د الله تعالیٰ هر حکم منلو ته ئے سمدست منده وهلے وه او تاسو کښې توحید او اخلاص او ددے رسول تابعداری نشته او اسلام درکښې نشته، نو ستاسو د ملتِ ابراهیمی دعوه غلطه ده۔

اُوس هم یهود او نصاریٰ ځان ته مسلمانان نهٔ وائی۔ او پدے کښې ملتِ ابراهیمی ذکر دے چه هغه اسلام منل او د الله تولو حکمونو ته غاړه کیخودل دی۔

﴿اَسْلِمْ﴾ یعنی تابع شه زما د حکمونو۔د زړهٔ د یقین او د ایمان نه پس۔

۲- یا [اَخْلِصْ دِیْنَكَ لِلّٰهِ] (ابن کیسان والکلبی - قرطبی)۔ اخلاص اُوکړه ما ته په تولو عباداتو کښې۔

۳- یا [اِسْتَقِمْ عَلَى الْاِسْلَامِ]۔ کلك شه په دین اسلام باندے همیشه دپاره۔

٤- یا معنیٰ دہ [اَسْلِمْ نَفْسَكَ اِلَی اللّٰهِ وَفَوِّضْ اَمْرَكَ اِلَیْهِ] (عطاء - تفسیرخازن)

(ځان او تول کارونه الله ته اُوسپاره) څکه اسلام کښې معنیٰ د توکل او الله ته د کارونو سپارلو پرته ده۔ یعنی ما ته ځان حواله کړه۔

﴿اَسْلَمْتُ﴾ ماضی صیغه ئے راوړه یعنی زهٔ د پخوا نه د الله تعالیٰ تابعدار یم۔ الله ته مے ځان حواله کړو۔

﴿لِرَبِّ الْعَالَمِیْنَ﴾ یعنی زهٔ به ځان ولے الله تعالیٰ ته نهٔ تابع کوم حال دا چه هغه خو د تمام عالَم تربیت کونکے دے۔ نو دا صفت گویا کښې الله تعالیٰ ته د ځان تابع کولو دپاره علت دے۔

وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ يٰبَنِيَّ
او وصیت کړے وو په دے (کلمه د توحید) ابراهیم ﷷ خپلو ځامنوته او یعقوب ﷷ هم چه اے ځامنو !
اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ
یقیناً الله غوره کړیدے ستاسو دپاره دین (توحید او اسلام) نو مهٔ مرئ
اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴿۱۳۲﴾
مگر په داسے حال کښ چه تاسو مسلمانان (تابعدار، مؤحدین) یئ۔

تفسیر : یعنی دا دینِ اسلام چه د توحید دین دے دا ابراهیم ﷷ صرف خپل ځان پورے نهٔ وو محدود کړے بلکه هغه سره د خپلو اولادو فکر هم وو نو خپلو اولاد ته او دغه شان یعقوب ﷷ خپلو بچو ته په دین اسلام باندے د کلك پاتے کیدو وصیت کړے وو چه ددے اسلام نه علاوه د الله په نیز هیڅ دین قابل قبول نهٔ دے۔ نو حاصل د آیت دا دے چه :

[اَلْاِسْلَامُ هُوَ دِيْنُ الْاَنْبِيَاءِ وَهُوَ الدِّيْنُ الْمُوْصٰى بِهٖ لَا الْيَهُوْدِيَّةُ وَالنَّصْرَانِيَّةُ].

(یعنی صرف اسلام د انبیاؤ دین وو او دا هغه دین دے چه په همدے باندے تولو انبیاؤ وصیت کړیدے، نهٔ په یهودیت او نصرانیت)۔

او پدے کښ هم په یهود او نصاراؤ رد دے چه هغوی وئیلی وو اسلام که د ابراهیم ﷷ دین وو نو دهغهٔ پورے صرف خاص وو او زمونږ دپاره اسلام دین نهٔ دے۔نودوی ځان ته مسلمانان نهٔ وائی۔ نو الله تعالیٰ اُوفرمایل : چه په دین اسلام باندے ابراهیم ﷷ او یعقوب ﷷ چه اسرائیل دے او دوی هغهٔ ته خپل ځانونه منسوب کوی، دے دواړو خپلو اولادو ته په اسلام وصیت کړے وو چه الله دا ستاسو دپاره پسند او خوښ کړے دے۔ نو دا د بنی اسرائیلو او بنی اسماعیلو تولو دین دے، لیکن دا ظالمان رالکی او د خپل نیکهٔ وصیت نهٔ منی او د خپل نیکهٔ مخالفین دی۔لکه څنگه چه د هر باطل پرست طریقه دا ده چه د کومو مشرانو د تابعدارئ دعوه کوی نو د هغوی په صحیح طریقو نهٔ وی روان۔ بلکه خپل خواهش پسے روان وی او دعوه غټه کوی۔

(فی ظلال، احسن الکلام)

﴿وَوَصّٰى بِهَا﴾ (بِهَا) ضمیر دغه ملتِ اسلامیه ته راجع دے چه دا تعبیر وو د لا اله الا الله نه۔ یا د اخلاص کلمے ته راجع دے چه هغه (لا اله الا الله) ده۔

په دین باندے وصیت لازم دے او په دنیاوی څیزونو کښ وصیت هله وی چه کله انسان سره څهٔ

مال او حقوق وی۔

﴿ بَنِيهِ ﴾ د ابراهیم علیه السلام اته ځامن وو لکه قرطبیؒ او علاء الدین خازنؒ لیکلی دی، اسماعیل او دده مور هاجره قبطیه وه او اسحاق او دده مور ساره وه او مدین، مداین، یقنان، زمران، شیق او شوخ او د دوی مور قطورا یا قنطورا بنت یقطن الکنعانیة وه، دائے د سارے د وفات نه روستو په نکاح کړے وه۔ او سیوطیؒ دولس لیکلی دی۔ او لونړه ئے نهٔ وے۔

حکمة : ځامن ئے په وصیت سره خاص کړل (۱) [لِاَنَّهُمْ اَقْرَبُ اِلٰى قَبُوْلِ وَصِيَّتِهٖ]۔

(ځکه ځامن د وصیت قبلولو ته زیات نزدے دی)۔

(۲) [لِاَنَّهُمْ كَانُوْا اَئِمَّةً يُقْتَدٰى بِهِمْ فَكَانَ صَلَاحُهُمْ صَلَاحًا لِغَيْرِهِمْ] (خازن)۔

(ځکه دا ځامن د نورو خلقو مقتدیٰ او پیشوایان وو نو دوی چه برابر شی نور خلق به هم د دوی په وجه برابریږی)۔

(۳) [شَفْقَةً بِهِمْ]۔ (ځکه چه بچو باندے شفقت زیات وی)۔

(٤) دعوت کښې اصول دا دی چه د اَلْاَقْرَبُ فَالْاَقْرَب (یعنی ډیر نزدے) نه به شروع کولے شی، داسے نهٔ چه ځامن ئے پو دریان او بد عمله وی او د بل د اصلاح کوشش کوی۔ الله فرمائی :

﴿ وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴾ [الشعراء]۔ (خپل نزدے خپلوان اُویره وه)۔

فائده : (وَصّٰى) ئے اُووئیلو او (اَمَرَهُمْ) یعنی حکم ئے ورته اُوکړو) داسے ئے اُونهٔ وئیل ځکه چه وصیت وئیلے شی [اَلْحُكْمُ الْمُؤَكَّدُ الَّذِىْ لَايَتَغَيَّرُ] (هغه حکم ته چه هیڅ تغیر پکښې نهٔ راځی) او غالباً دا په وخت د مرګ کښې وی، او په داسے وخت کښې د انسان احتیاط د خپلو بچو دپاره زیات وی، نو پدے کښې اهتمام ته اشاره ده چه آخری حکم د ابراهیم او د یعقوب علیهما السلام په بل شی نهٔ وو صرف په اسلام او توحید باندے وو، نو هغوی سره د توحید څومره اهتمام وو او یهود او نصاریٰ او مشرکین ئے هیڅ پرواه نهٔ ساتی!!۔

﴿ وَيَعْقُوْبُ ﴾ د یعقوب علیه السلام نوم پکښې ځکه راوړی چه دلته په بنی اسرائیلو باندے رد مقصود دے چه دا د دوی نیکهٔ دے۔

﴿ اِصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ ﴾ یعنی دین د توحید او دین اسلام ئے ستاسو دپاره غوره کړے۔ اګرکه یهود او نصاراؤ هغه دین ځان له غوره نکړو او د ځان نه بل ایجاد کړی دین پسے روان شو۔

او دے دواړو اُووئیل : ﴿ فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴾ مطلب دا چه د الله تعالیٰ د حکم تابعدار شئ، توحید باندے روان شئ، او ژ مونږ په تابعداریٔ روان شئ ترمرګه پورے، نو پدے حال کښې به په تاسو مرګ راشی، نو په اسلام کښې به مړهٔ شئ۔ فَلَا تَمُوْتُنَّ : معنیٰ دا ده چه ترمرګه پورے په

اسلام عمل کوئ او دا اسلام ځان سره تر مرګه پورے باقي اُوساتئ۔ ځکه دا لويه سرمايه ده۔ نو پدے معنیٰ کولو سره دا اعتراض نهٔ راځي چه مرګ خو د انسان په اختيار کښې نهٔ دے۔ بلکه معنیٰ دا شوه چه [دُوْمُوْا عَلَى الْإِسْلَامِ حَتّٰى الْمَوْتِ]۔ (قرطبی،خازن)

(ترمرګه پورے په اسلام هميشه اُوسيږئ او په هيڅ حالت کښې اسلام د ځان نه مهٔ جدا کوئ او يهوديت او نصرانيت طرف ته مهٔ مائل کيږئ)۔

فضيل بن عياضؒ وائي : مسلمون نه مراد په الله ښائسته ګمان کول دی۔ يعني تاسو له دِے مرګ په داسے حال کښې راشي چه تاسو په الله تعالیٰ ښهٔ ګمان کوئ۔ ليکن دا معنیٰ بعيده ده۔او جزء د اسلام دے، او دے ته تفسير باللازم وائي۔

اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ
آيا تاسو حاضر وئ کله چه حاضر شو يعقوب (عليه السلام) ته مرګ، کله چه هغه اُووئيل خپلو ځامنو ته
مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ بَعْدِيْ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ
د چا بندګي به کوئ ځما نه روستو؟ هغوی اُووئيل : مونږ به عبادت کوو د معبود ستا او د معبود د پلارانو ستا
اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۳﴾
چه ابراهيم، اسماعيل او اسحاق عليهم السلام دی چه هغه يو معبود دے۔ او مونږ هغهٔ ته هميشه تابعدار يو۔

تفسير : اُوس بيرته الله رب العزت يهود او نصاراؤ ته خطاب متوجه کوی ځکه دوی بيا اعتراضونه شروع کړل۔ نو ددے ځائے نه يهود او نصاراؤ ته اُوه (۷) زجرونه او ردونه بيانيږی۔

اول زجر په دے آيت کښې دے چه دوی دروغ وائي او جواب د اعتراض دے چه دوی وئيلی وو چه يعقوب عليه السلام د مرګ په وخت کښې زمونږ په يهوديت او نصرانيت باندے وصيت کړے وو، نو ځکه مونږ ايمان نهٔ راوړو۔

ددے جواب ورکوی چه تاسو دروغ وايئ او د يعقوب عليه السلام وصيت په دوی باندے د حجت د تمامولو دپاره ذکر کوی چه يعقوب عليه السلام په سکرات الموت (د مرګ په سختيانو) او سخت حالت کښې هم په دين اسلام او توحيد باندے بچو ته وصيت کړے وو ځکه هغوی ته دين اسلام د هر څه نه ډير اهميت والا وو۔

﴿ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ ﴾ (۱) دا يا استفهام انکاری دے يعنی آيا تاسو د يعقوب عليه السلام د وفات په وخت حاضر وئ يعنی نهٔ وئ حاضر نو بيا ولے د ځان نه په هغه دروغ جوړوئ ؟ !

(۲) یا استفهام تقریری دے او (اَمْ) په معنیٰ د (بَلْ) دے او خطاب یهودو ته متوجه دے مراد ترے د هغوی مشران دی۔ یعنی بلکه ستاسو مشران یعقوب ﷺ ته د هغه د وفات په وخت حاضر وو چه هغه په دین اسلام باندے وصیت کولو نو تاسو ولے د هغه د وصیت نه اعراض کوئ او خپل مشر نهٔ منئ۔

(شُهَدَاءَ) جمع د شهید ده په معنیٰ د حاضر سره۔

﴿ اِذْ حَضَرَ ﴾ (۱) د حضور نه مراد قرب او نزدیکت دے ځکه چه مرگ حاضر شی، نو بیا انسان وصیت نشی کولے۔ یعنی مرگ ورته قریب شو۔ (خازن)

(۲) یا د مرگ نه مراد اسباب او دواعی د مرگ دی یعنی د مرگ نخے او اسباب ئے اُولیدل۔ (قرطبی)۔

مسئله : ټول انبیاء او زمونږ نبی ﷺ وفات شویدے:

په نبی اکرم ﷺ او په ټولو انبیاء کرامو باندے وفات راغلے دے اوځوك چه دا وائی چه هغوی ﷺ وصال کړیدے، یا ئے پرده فرمائیلے ده او حقیقةً وفات نهٔ دی، نو دا عقیده غلطه ده، اودا عقیده دمتکلمینو دیوے وسوسے نه پیدا شویده چه هغوی وائی: رسالت او نبوت عرض دی، اوعرض تابع دذات وی نوکله چه دنبی ذات وفات شو نو نبوت به هم ختمیږی، نو اُوس چه یو شخص ایمان راوړی نو په رسالت اونبوت د نبی باندے ایمان نشی راوړے ځکه هغه خو د نبی په موت سره ختم شویدی، لهذا هغوی اُووئیل چه نبی نه دے وفات بلکه وصال ئے کړیدے، هسے ملاقات له تلے دے، حقیقی وفات نهٔ دے، ولے که وفات ئے اُومنو نو مذکوره نقصان راځی، په دے وجه د ډیرو نصوصو نه ئے انکار اوکړو۔ اود خپلے غلطے عقیدے د اثبات دپاره ئے په دین کښے یو بدعت پیدا کړو او دین ئے پرے وران کړو، حال دا چه مذکوره عقیده خطاء ده ځکه چه عرض په دوه قسمه دے :

۱- یو هغه عرض دے چه دانسان وصف وی لکه مثلًا عالِم شو، نو علم دانسان یو داسے وصف دے چه دا په مرگ دهٔ سره نهٔ ختمیږی، بلکه پس دمرگ نه ورته هم عالِم وئیلے شی، لکه ځنګه چه دخوب په حالت کښے دا وصف نهٔ ختمیږی۔

۲- دویم قسم هغه عرض دے چه هغه د انسان وصف عارضی دے لکه د انسان بیان او تقریر شو چه دا په وفات دهٔ سره ختمیږی۔ لهذا بیان د رسالت اونبوت په وفات د نبی ﷺ سره ختم شو، ولے نفس وصف د رسالة نهٔ دے ختم شوے۔

تفصیل دپاره القصیدة النونیة، او الماتریدیه (۱/ ٤٤٥) د شیخ شمس الدینؒ اُوگوره.

اودحیاة النبی صلی الله علیه وسلم دا مذکوره عقیده د اشاعره ؤ، ماتریدیه ؤ، کوثریانو او اکثرو

دیوبندیانو ده۔او دا عقیده دصریح قرآن اود صحابه کرامو د اجماع خلاف ده۔
ابو بکر صدیق د نبی اکرم ﷺ د وفات په وخت اُوفرمائیل : [بِاَبِیْ اَنْتَ وَاُمِّیْ یَا نَبِیَّ اللهِ! لَا یَجْمَعُ اللهُ عَلَیْكَ مَوْتَتَیْنِ، وَفِیْ رِوَایَةٍ : طِبْتَ حَیًّا وَمَیِّتًا، وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَایُذِیْقُكَ اللّٰهُ الْمَوْتَتَیْنِ اَبَدًا]
(یعنی الله تعالیٰ په تا باندے دوه مرگه نهٔ راجمع کوی او ته په ژوند او مرگ کښ مزیدار ئے)
او په خطبه کښے ئے اُوفرمائیل : [مَنْ كَانَ یَعْبُدُ مُحَمَّدًا فَاِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ].
(څوك چه د محمد (ﷺ) عبادت کوی نو یقیناً چه محمد (ﷺ) مړ شو)
او دلیل کښے ئے دا آیتِ کریمه پیش کړو ﴿ اِنَّكَ مَیِّتٌ وَاِنَّهُمْ مَیِّتُوْنَ ﴾ (الزمر : ۳۰)
﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَاِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰی اَعْقَابِكُمْ ﴾
[آلعمران آیت: ۱٤٤].رواه البخاری فی صحیحه کتاب الجنائز، وباب الدخول علی المیت (۱/٤۱۹)
بیا مولوی اشرف علی تهانوی صاحب ددے عقیدے د اثبات دپاره چه نبی ﷺ په قبر کښے داسے ژوندے دے څنګه چه په دنیا کښے ژوندے وو، دا دلیل ذکر کړیدے چه : د نبی ﷺ میراث نشی وړلے، او د هغه بیبیانے نشی په نکاح کولے، نو دینه معلومیږی چه هغه په قبر کښے د دنیا د ژوندون پشان ژوندے دے۔
جواب دا دے : چه دمیراث نهٔ وړل په دے وجه نهٔ دی چه نبی اکرم ﷺ په قبر کښے ددنیا د ژوند پشان ژوندے دے بلکه په دے وجه چه د نبی اکرم ﷺ وینا ده [لَا نُوْرَثُ مَاتَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ]
(میراث مونږ نه نهٔ نشی وړلے بلکه مونږ چه څه پریخی وی هغه به صدقه وی)۔ (بخاری)
اوددے وجوهات په خپل ځائے کښ بیان شویدی، یو دهغے نه دا ده چه که پیغمبرانو نه میراث وړل کیدلے، نو کیدے شی چه میراث خوارهٔ دهغوی په وفات باندے د خوشحالئ احساس اُوکړی، نو دا ددغه میراث خورو دپاره د تباهئ سبب جوړیدو۔اوهرچه د نبی اکرم ﷺ د بیبیانو سره د نکاح حراموالے دے، نودا د نبی اکرم ﷺ د اکرام او عزت په وجه دے۔ بله دا چه هغه د امت اُمهات (میندے) دی۔اود مور سره نکاح حرامه وی۔
په حدیث د بخاری او مسلم کښ دی : کله چه یو نبی وفات کیږی نو الله تعالیٰ هغه ته اختیار ورکوی (او خبر ورکوی) چه دنیا غوره کوی او که آخرت......)
نو یعقوب علیه السلام ته چه کله د مرګ اطلاع اُوشوه نو هغه خپل اولاد راجمع کړل او د توحید وصیت ئے ورته اُوکړو۔
﴿ اِذْ قَالَ لِبَنِیْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ بَعْدِیْ ﴾ نو دا اقرار ئے ترے واخستو چه ما نه روستو به د چا بندگی کوئ؟ ستاسو معبود به څوك وی؟ او پدے اقرار اخستو کښ مقصد په توحید باندے د هغوی

مضبوطول وو۔ څکه ئې ورته صرف حکم اُونکړو چه د يو الله عبادت کوئ بلکه هغوی نه ئې تپوس اُوکړو چه ښۀ متوجه شی۔

بيا هر يو سره ئې (اِلٰـه) راوړو اشاره ده چه توحيد او د الله يواځې بندګی د ټولو انبياء عليهم السلام دين دے لکه حديث د ابو هريره ﷺ کښې دی: رسول الله ﷺ فرمايلی دی: [اَلْاَنْبِيَاءُ اِخْوَةٌ لِعَلَّاتٍ، اُمَّهَاتُهُمْ شَتّٰى وَدِيْنُهُمْ وَاحِدٌ] ټول انبياء کرام خپل مينځ کښې علاتی (په پلار کښې شريك) ورونه دی۔ او د هغوی ميندے مختلفے دی او دين ئې يو دے۔

(صحيح بخاری كتاب الانبياء)۔

﴿ آبَاءَ كَ ﴾ : نيکه او ترونو ته هم (آبَاء) يعنی پلاران وئيلے شی۔

﴿ اِلٰهًا وَاحِدًا ﴾ دا ئې ورسره دفع د وهم اُوکړه چه دلته عطف تقاضا د مغايرت نۀ کوی يعنی د يعقوب عليه السلام او د هغه د پلارانو بيل بيل اِلٰه نۀ وو بلکه د ټولو اِلٰه يو وو۔

﴿وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُوْنَ﴾ کوم حکم چه د هغه راتلو مونږ به ئې منو۔ او عبادت به يواځې هغه لره کوو۔ نو يعقوب عليه السلام خو په دين توحيد باندے امر کړے وو، په يهوديت، نصرانيت او شرك باندے ئې امر نۀ دے کړے۔ لهذا ثابته شوه چه قرآن مجيد دا ګواهی ورکوی چه د بنی اسرائيلو د خپل جد امجد سره هيڅ قسم نظرياتی يا روحانی تعلق نشته۔

فوائد : (١) اِلٰهًا وَاحِدًا نه معلومه شوه چه په هر امت کښې د الله دين يو وی چه هغه په دوه خبرو بناء دے (١) يو : د الله خالص توحيد منل او شرك او وثنية سَرۀ د مختلفو اقسامو نه ګوزارل۔ (٢) دويم : الله ته منقاد او تابعدار کيدل او هغۀ ته په ټولو اعمالو کښې عاجزی کول۔ که چا کښې دا دواړه خبرے په يوځل رانغلے، هغه مسلمان نشی کيدے او نۀ هغه په صحيح دين روانيدے شی۔ [التفسير المنير ١/٢٢٥]۔

٢- فائده : اسلام ئې خاص کړو، په يهود، نصارىٰ او مشرکانو باندے رد غرض دے۔

دوی بيا فخر کولو چه زمونږه نيکونه پيغمبران تير شوی دی، نيکان صالحين دی، د هغوی په وجه به مونږه خلاص شو۔ د دوی تصور غلط شو نو الله د دوی د تصور اصلاح کوی نو جواب :

تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ

هغۀ (انبياء) يوه ډله ده چه تيره شوه۔ هغوی دپاره بدله د هغه عملونو ده چه هغوی څۀ کړی او ستاسو دپاره

مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٤﴾

بدله د هغۀ عمل ده چه تاسو کړيدے او تپوس به نۀ شی کيدے ستاسو نه د هغه عملونو چه هغوی کول۔

تفسير : نو پدے کښې دويم زجر دے او جواب د هغه اعتراض دے چه دوی وئيلی وو مونږ به مشران خلاصوی۔ الله تعالیٰ جواب ورکوی چه د ابراهيم او اسحاق او يعقوب عليهم السلام اعتقادات، اعمال او ښائسته اخلاق به صرف د هغوی په کار راځی، او اے يهود او نصاراؤ ! ستاسو بد عمليانے به ستاسو د عمل په ميزان (تلهٔ) کښې وی۔ د هغوی نيك اعمال په دے وجه ذکر شويدی چه تاسو هم د هغوی په شان جوړ شئ او که انکار کوئ نو د هغوی اعمال ستاسو په کار نهٔ راځی۔ په هغے باندے د فخر کولو هيڅ قسم تصور نهٔ دے پکار۔ او معلومه شوه چه انبياء کرام يو جدا جماعت وو، د هغوی عقيده او عمل جدا وو او دا يهود او نصاریٰ جدا جماعت دے، د دوی اعمال او کردار د هغوی د اعمالو او کردار نه بالکل جدا دے نو ددے نالائقه خلقو د انبياؤ سره هيڅ قسم تعلق نشته۔ او د دوی ترمينځ د روحانی وراثت قانون ختم شويدے۔

﴿ اُمَّةٌ ﴾ : امت جماعت او ډلے ته هم وئيلے شی او کله په معنیٰ د مودے سره وی لکه ﴿ اِلٰی اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ ﴾ (هود:۸) ۔ دلته جماعة او ډله مراد ده۔

﴿ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ ﴾ پدے کښې اشاره ده چه د خير عمل هم د کونکی نه سِویٰ د بل چا نهٔ پکاريږی۔ ﴿ وَلَا تُسْئَلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾ او پدے کښې اشاره ده چه د فاسقانو او کافرانو د بدو عملونو په باره کښې به هم د نيکانو نه تپوس نهٔ کيږی۔ کله چه هغوی د دعوت او نصيحت خپله ذمه واری ادا کړی وی۔ بل جانب ئے ذکر نکړو چه ((هغوی نه به ستاسو د عملونو په باره کښې تپوس نهٔ کيږی)) ځکه کله نا کله د مشرانو نه د کشرانو په باره کښې تپوس کيږی، کله چه هغوی خپلو کشرانو ته دعوت نهٔ وی کړے او هغوی ئے د بدو اعمالو نه نهٔ وی منع کړی۔

نو آيت دليل دے چه د اسلافو په نيك عملونو باندے اعتماد کول غلط دی، اصل شے ايمان او عمل صالح دے چه د مخکنو صالحينو سرمايه هم وه او د قيامته پورے د راتلونکو انسانانو د نجات واحده ذريعه هم ده۔

وَقَالُوْا كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰی تَهْتَدُوْا قُلْ بَلْ مِلَّةَ

او دوی وائی : شئ يهوديان يا نصرانيان هدايت به مونده کړئ، ته اُووايه ! بلکه مونږ تابعداری و د ملت

اِبْرٰهٖمَ حَنِيْفًا وَّمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۳۵﴾

د ابراهيم ؑ چه متوجه وو الله ته (يا کلك موحد وو) او نهٔ وو د مشرکانو د ډلے نه۔

تفسير : اُوس دريم زجر (رټنه) ورکوی [بِالدَّعْوَةِ اِلَی الْيَهُوْدِيَّةِ] (چه دوی بيا هم يهوديت او

نصرانیت (باطل او تحریف شوی دین) ته دعوت ورکوی۔

نو په دوه آیتونو کښې الله تعالیٰ د دوی رد کوی:

او ددے ځائے نه اُوس قرآن کریم د معاصرو اهل کتابو باطلو دعوو ته متوجه کیږی او د هغوی د غلطو خیالاتو او تصوراتو، دے بنیاده دلائلو او د غیر معقول بحثونو رد کوی۔

﴿وَقَالُوْا كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصَارٰى تَهْتَدُوْا﴾ یعنی هره ډله خپل ځان کښې هدایت بند ګنړی او خپل دین طرف ته دعوت ورکوی۔ نو دوی د دروغو دعویٰ کوله، هرڅوك چه دغه شان دعوت کوی، نو داسے جواب به ورته کولے شی:

﴿قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ﴾ محمد بن اسحاقؒ د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت کوی چه عبد الله بن صوریا یهودی (چه شیړا وو) رسول الله ﷺ ته اُووئیل چه مونږ په صحیح دین باندے روان یو، پدے وجه اے محمد (ﷺ) تاسو زمونږ اتباع اُوکړئ۔ او د نجران نصاراؤ هم دغه شان خبره کړے وه، نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ او نبی کریم ﷺ ته حکم اُوشو چه تاسو دوی ته اُووایئ چه مونږ خو د ابراهیم علیه السلام د دین اتباع کوو چه هغه د ټولو باطلو دینونو نه بیزاری کړے وه او په دین حنیف (دین اسلام) باندے د ټلو اعلان ئے کړے وو۔

﴿بَلْ﴾ ددے نه روستو (نَتَّبِعُ) فعل پټ دے۔ یعنی مونږ او تاسو له خو تابعداری صرف د ملتِ ابراهیمی پکار ده۔

بَلْ د اضراب دپاره دے یعنی [لَانَتَّبِعُ الْيَهُوْدِيَّةَ وَالنَّصْرَانِيَّةَ بَلْ نَتَّبِعُ مِلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ]۔ (یعنی مونږ د یهودیت او نصرانیت تابعداری نهٔ کوو بلکه صرف د ملتِ ابراهیمی تابعدار یو)۔

﴿حَنِيْفًا﴾ (۱) یعنی کلك ولاړ وو په توحید او اعراض کونکے وو د ټولو باطلو دینونو نه)۔

(بحر العلوم للسمرقندی)

(۲) یا حنیف دیته وائی: [اَلْمُقْبِلُ عَلَى اللهِ وَالْمُعْرِضُ عَمَّا سِوَاهُ] (یعنی په ټولو عملونو کښې ئے الله ته توجه وه۔ او مخلوق ته به ئے هیڅ توجه نهٔ وه)۔ (جلاء الافهام د ابن قیمؒ)۔

دا معنیٰ لغوی معنیٰ ته ډیره نزدے ده۔

(۳) مجاهدؒ وائی په معنیٰ د مُخلص دے۔

(٤) ...... د ربیعؒ نه نقل دی چه په معنیٰ د مُتبع (تابعدار) دے۔

(۵) ابو العالیهؒ وائی: حنیف هغه دے چه په مانځه کښې کعبے ته مخ اړوی او حج د بیت الله منی۔

(٦) ...... ابوقلابهؒ وائی: حنیف هغه دے چه په ټولو رسولانو باندے د اول نه تر آخره پورے ایمان لری۔ (ابن کثیرؒ)۔

(٦) ...... حنيف په معنىٰ د اَلْمُسْتَقِيْمُ عَلَى الْحَقِّ سره دے يعنى په نيغه لاره رولن ـ يا په حق باندے مضبوط ولاړ۔

حَنَف : حق ته مائل کيدو ته وائى او جَنَفُ ظلم او گناه ته مائل کيدو ته وائى۔

په دے کښ اشاره ده اے يهوديانو! تاسو کښ خو دا صفت نشته، تاسو خو حنفاء نۀ يئ۔

﴿ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴾ هغه د مشرکانو د ډلے نه نۀ وو او تاسو اے يهود او نصارىٰ او مشرکانو !، مشرکان يئ، د الله سره برخه داران جوړوئ۔ نو د هغه دين پسے ولے نۀ ورځو چه هغه بے شرکه دے۔

مِنَ الْمُشْرِكِيْن کښ اشاره ده چه د ابراهيم عليه السلام شرك کول خو درکنار، هغه د مشرکانو ډله کښ هم ځان نۀ شاملولو، د هغوى ډله ايز به نۀ وو، او د هغوى ډله به ئے نۀ ډيروله۔د مشرکانودشمن او د هغوى نه بالکل بيزاره وو، هغوى ته ئے هيڅ قسم ميلان هم نۀ وو۔

قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ
اووايئ! مونږه ايمان راوړے په الله او په هغهٔ څهٔ چه نازل شويدے مونږ ته او په هغه څهٔ چه نازل شويدى
اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ
ابراهيم او اسماعيل او اسحاق او يعقوب (عليهم السلام) او د هغوى اولادو ته، او په هغه څه چه ورکړے شويدے
مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَمَا اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ
موسى او عيسى (عليهما السلام) ته، او په هغه څهٔ چه ورکړے شوى دى نورو نبيانو ته د طرف د رب د هغوى نه
لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿ ۱۳٦﴾
مونږ جدا والے نۀ راولو په مينځ د يو تن کښ د دوى نه (په ايمان راوړلو کښ) او مونږ خاص د دے الله تابعدار يو۔

تفسير : پدے آيت کښ اُوس د خپل ايمان اظهار کوى د يهود او نصاراؤ په مقابل کښ چه هر کله هغوى تاسو ته دعوت درکوى نو تاسو د هغوى په جواب کښ خپل ايمان داسے ښکاره کړئ (درے خبرے ئے ورته ذکر کړيدى) چه زمونږه ايمان دا دے (۱) چه په الله باندے صحيح ايمان لرو، (۲) او بغير د تفريق نه ټول کتابونه او ټول رسولان منو۔ (۳) او د الله ټول حکمونه منو او ستاسو د يهودو او نصاراؤ دين دا دے چه بعض رسولان منئ او د بعضو نه انکار کوئ۔ کوم آيت چه ستاسو د خواهش مطابق وى هغه منئ او کوم چه نۀ وى هغه نه منئ نو آيا مونږ د

خواهش والا دغه دین پسے لاړ شو؟ !۔او په دے دین کښې څۀ نقصان دے چه تاسو پرابانده دا پریدئ او یهودیت او نصرانیت رابانده منئ۔

لکه دا مقلدین هم مونږ ته وائی چه تاسو به مقلدین کیږئ۔ مونږه ورته وایو چه آیا مونږه هم داسے اُوکړو چه بعض احادیث د رسول الله ﷺ اُومنو او بعض پریدو۔ او بعض آیتونه او بعض احکام شرعیه او نیمګړی دین پسے روان شو او که نۀ دا تول اُومنو۔ او دا علماء تول خپل امامان اُوګنړو، دا بنۀ ده او که نۀ دا تول امامان خپل دشمنان کړو او دا یو صرف اُومنو دا بعینه هغه شان صورت دے۔

او تبصیر الرحمان کښې مُهَائمیؒ لیکلی دی چه دا آیت د هغوی د اعتراض جواب دے چه وئیلی ئے وو تاسو موسیٰ او عیسٰی علیهما السلام نۀ منئ څکه چه تاسو د هغوی د دین تردید کوئ، نو جواب اُوشو چه مونږ تول رسولان منو او تاسو تول نۀ منئ، په بعضو ایمان لرئ او په بعضو ایمان نۀ لرئ، او بعض د الله سره شریکان جوړوئ، د هغه اولاد ئے ګنړئ۔

او امام بخاریؒ د ابو هریره ؓ نه روایت کړے چه اهل کتابو به تورات په عبرانئ ژبه کښې لوستلو او په عربئ ژبه کښې به ئے مسلمانانو ته د هغے ترجمه کوله (دے دپاره چه دوی هغوی لره خپل دین ته راواړوی او دعوت ورکړی) نو نبی ﷺ اُوفرمایل : د دوی تصدیق هم (مطلقاً) مۀ کوئ او تکذیب ئے هم (مطلقاً) مۀ کوئ، بلکه وایئ چه مونږ ایمان لرو په الله او په هغه کتابونو چه مونږ ته نازل شویدی (باقی ایمانیات داسے دی لکه پدے آیت کښې چه راغلی دی)۔نو ګویا کښې دا آیت په جواب د دعوت د اهل کتابو کښې دے۔

او نبی ﷺ به دا آیت د سحر د سنتو په اول رکعت کښې او ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا﴾ په دویم رکعت کښې لوستلو دپاره د دعوت، او د اظهار د ایمان، او په ایمان باندے د تثبت او مضبوطوالی دپاره۔ (مسند ، وابن خزیمه والحاکم)

﴿قُولُوا﴾ یعنی دوی ته ئے هم اُووایئ او څان سره ئے هم د ایمان د مضبوطوالی دپاره وایئ۔

۱- پدے کښې اشاره ده چه مسلمان به د خپلے عقیدے اعلان کوی، او نورو ته به دعوت ورکوی۔ ۲- دارنګه پدے کښې اشاره ده چه مؤمن به د خپلے عقیدے په ژبه هم اقرارکوی او په زړۀ به ئے تصدیق کوی۔ څکه کله چه په خوله باندے یو عمل وی، او د زړۀ د اعتقاد تائید ورسره نۀ وی، نو هغه بے اثره اوبے فائدے وی۔

﴿آمَنَّا﴾ ایمان چه کله ذکر شی نو د اسلام تول ارکان او اعمال صالحه پکښې داخل وی، دغه شان چه کله اسلام ذکر شی، نو په هغے کښې ایمان داخلیږی او کله چه دواړه ذکر شی نو ایمان به

د زړهٔ د تصديق او د اقرار نوم وی او اسلام به دظاهری اعمالو.
﴿ بِاللهِ ﴾ يعنی د الله په ذات او صفاتو او وجود باندے يقين لری، په خلاف د يهودو او نصاراؤ چهٔ هغوی پرے مشركان دی.
﴿ آمَنَّا ﴾ ئے جمع صيغه راوړه، دے ته اشاره ده چه د امتِ اسلاميه د ټولو افرادو دا ذمه واری ده چه د الله رسئ په مضبوطتيا سره اُونيسی او افتراق او اختلاف قبول نهٔ کړی. او اُمتِ مُسلِمه به په همدے عقيده راجمع کيږی، دا د اسلامی تصور بنياد دے. او دا هغه فکر دے چه امتِ مُسلمه يو ملت جوړوی.
﴿ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْنَا ﴾ : دا قرآن او سنت دواړو ته شامل دے. لکه الله فرمائی : ﴿ وَمَا اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ ﴾ (بقره : ۲۳۱) (او هغه چه الله په تاسو نازل کړے يعنی قرآن او حديث) نو دواړه نازل شويدی. په قرآن او سنت باندے د ايمان راوړو مطلب دا دے چه مسلمانان په دے دواړو کښ د الله تعالیٰ په ټولو صفاتو، د انبياء کرامو او رسولانو په صفاتو، او د آخرت په ورځ او په غيبی امورو او شرعی احکامو باندے ايمان لری.
﴿ وَمَا اُنْزِلَ اِلٰی اِبْرَاهِيْمَ ...... ﴾ دا په ټولو آسمانی کتابونو او تمامو انبياؤ باندے د ايمان د وجوب دليل دے يعنی په ټولو باندے ايمان راوړل ضروری دی، او دا عقيده ساتل چه دا انبياء عليهم السلام په خپل خپل دورونو کښ د الله تعالیٰ حق انبياء وو، چا چه د دوی خبره منلے ده، هغه کامياب شويدے او چا چه ددے انبياؤ مخالفت کړيدے، هغه هلاك شويدے. ليکن زمونږ د رسول محمد رسول الله ﷺ د راتلو نه روستو د هغوی شريعتونه منسوخ شويدی. اګرکه توحيد د ټولو انبياؤ شريك دين دے خو بعض بعض احکام به جدا وو.
﴿ وَالْاَسْبَاطِ ﴾: جمع د سِبْطُ ده، په لغت کښ پرله پسے راتلو ته وائی نو معنیٰ ئے ده جماعت او خاندان ځکه چه د هغے افراد هم د يو بل پسے وی. او دارنګه په لغت کښ هغه ونے ته وائی چه يو بيخ او ډيرے څانګے لری، نو د يعقوب ﷺ هم دولس ځامن وو چه دا ئے څانګے وے او يعقوب ﷺ ئے اصل وو. چه د هغوی نه ډير خاندانونه خوارهٔ شول.
امام بخاریؒ ليکی: اسباط د بنی اسرائيلو قبيلو ته وئيلے شی او دلته مراد هغه انبياء دی چه په بنی اسرائيلو کښ راليږلے شوی وو. (احسن الکلام).
نو د اسباط نه خاندانونه او اولاد مراد دی.
﴿ وَمَا اُوْتِیَ مُوْسٰی وَعِيْسٰی ﴾ ددے دواړو تخصيص ئے پدے وجه اُوکړو چه هغوی د تورات او د انجيل د ايمان په باره کښ اعتراض کړے وو چه تاسو دا ولے نهٔ منئ. او دارنګه يهودو انجيل نهٔ

منلو او عیسایانو تورات نهٔ منلو۔ او مؤمنان دواړه منی۔

﴿النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ﴾ ددے نه مراد هغه انبیاء کرام علیهم السلام دی چه د آدم علیه السلام نه تر ابراهیم علیه السلام پورے رالیږلے شوی وو۔

﴿لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾ دلته هم (قُوْلُوْا) (اُووایئ) پټ دے۔ د تفریق نه مراد تفریق فی الایمان دے۔ یعنی داسے نهٔ کوو چه په بعضو باندے ایمان اُولرو او د بعضو نه انکار اُوکړو، لکه یهود او نصاریٰ او مشرکان دا کار کوی۔ او دلته د تفریق نه تفاضل (یو بل باندے غوره والے) نهٔ دے مراد ځکه چه انبیاؤ کښې تفاضل شته۔ لکه ددے سورت په آیت (۲۵۳) کښې راځی۔ یا دا چه مونږ به د ځان نه د هغوی ترمینځ جدا والے نهٔ راولو چه یو له یوه مرتبه بیان کړو او بل نه ئے نفی کړو۔ او الله چه کومو مرتبو کښې فرق کړے وی نو هغه د بندګانو د طرف نه نهٔ دے۔

﴿وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ﴾ او مونږ الله دپاره اخلاص کونکی یو او تابعدار یو۔ د هغه سره شریکان نهٔ جوړو، او د هغه ټول حکمونه او رسولان منو، او تاسو کښې اسلام او تابعداری نشته۔ نو پدے آیت کښې ټول ایمانیات ذکر دی۔

هرکله چه د یهودیت او نصرانیت بطلان او غلط والے ثابت شو، نو اُوس الله تعالیٰ هغوی ته ترغیب او دعوت ورکوی چه راشئ ایمان راوړئ داسے صحیح اصلی ایمان کوم چه دے صحابه کرامؓ راوړے دے، همدا مقبول ایمان دے:

فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا
پس که دوی ایمان راوړو په شان د هغه چه تاسو ایمان راوړے په هغے، نو یقیناً دوی په هدایت شو
وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ
او که دوی اُوګرزیدل نو یقیناً دوی په سخت اختلاف کښې دی، زر دے چه کافی به شی ستا الله له طرفه د دوی نه،
وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳۷﴾
او الله اوریدونکے، په هرڅه پوهه دے۔

تفسیر: پدے آیت کښې ټولو کافرانو او د عالَم اقوامو ته او بالخصوص یهود او نصاراؤ ته د صحیح ایمان راوړلو دعوت دے چه هغه د صحابه کرامؓ په شان ایمان دے۔

﴿فَاِنْ آمَنُوْا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهٖ﴾ یعنی که دا یهود، نصاریٰ، مشرکان او منافقان ټول ستاسو د ایمان په شان ایمان راوړی چه ټول انبیاء اُومنی، او د الله تعالیٰ ټول صفتونه او ټول حکمونه اُومنی۔ او

په اخلاص سره توحيد قبول کړي. نو هله به په هدايت وي.

د مثل نه مراد دا دے چه ستاسو د ايمان په شان ايمان راوړي په تولو خبرو منلو کښې. پدے آيت کښې الله تعالىٰ د صحابه کرامؓ ډير اعزاز کړيدے چه د هغوی ايمان ئے د تول عالَم دپاره معيار او کسوټي ګرزولے دے چه الله تعالىٰ ته به د دوی ايمان هله مقبول وی چه کله د صحابه کرامؓ په شان ايمان راوړی چه هغه د اخلاص او توحيد نه ډک ايمان وو.

خطيب شربينىؒ او خازنؒ وئيلي دی چه دا په طريقه د تعجيز سره دے او مطلب دا دے چه که دوی ستاسو د دين په شان بل دين حاصل کړي نو دوی به په هدايت شي ليکن ستاسو د دين اسلام په شان بل دين خو محال (ناممکن) دے نو دغه شان د دوی هدايت موندل هم محال دی.

(فَاِنۡ اٰمَنُوۡا بِمِثۡلِ) **سوال** دا دے چه مونږ خو په الله تعالىٰ او د هغه په رسولانو او کتابونو ايمان راوړيدے او د دوی مثل خو نشته ؟. **جواب ١** - : ابن عباسؓ فرمائی: مثل لفظ زائد دے (طبریؒ). او د زينت دپاره په عربئ کښې استعماليږی. او اصل کښې داسے دے : [فَاِنۡ اٰمَنُوۡا بِمَا اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ] (يعنی که دوی په هغه څۀ ايمان راوړی په کومو چه تاسو ايمان راوړے) چه هغه الله، ملائک، آسمانی کتابونه، د خير او د شر تقدير او بعث بعد الموت) دی. نو (مَا اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ) نه مراد مُؤۡمَنٌ بِهٖ ده يعنی په کومو څيزونو چه ايمان راوړے شی).

٢-جواب : دلته لفظ د مثل صفت دے دپاره د پټ مصدر يعنی [فَاِنۡ اٰمَنُوۡا اِيۡمَانًا مِّثۡلَ اِيۡمَانِكُمۡ] او باء زائده ده يعنی که دوی ايمان راوړی داسے ايمان چه ستاسو د ايمان په شان وی. نو دا مثليت د ايمان دے، نۀ د مُؤۡمَنٌ بِهٖ. او د ايمان مثل راتلل جائز دی.

٣- جواب : امام راغبؒ ليکی : مثل کله په معنىٰ د عين (ذات) سره وی، او کله په معنىٰ د صفت سره. او دلته په معنىٰ د عين سره دے يعنی په عين الله تعالىٰ باندے ئے ايمان راوړو. الخ.

٤- جواب: ابن کثيرؒ ليکی : دلته مثلية نه مراد ايمان بجميع الانبياء والکتب دے. يعنی د مثل نه مراد مُؤۡمَن بِهٖ. يعنی که دوی ايمان راوړی په مثل د هغه چا چه تاسو پرے ايمان راوړے چه هغه تول انبياء او تول کتابونه دی. نو مثليت راجع دے تولے مؤمن به ته.

٥- بدائع التفسير کښې ابن قيمؒ ليکی : دے مثل ذکر کولو کښې مبالغه غرض وی او مطلب دا وی چه تاسو خو په الله ايمان راوړيدے نو دوی ډے هم ځانله يو الله پيدا کړی ستاسو د الله په شان. او د محمد رسول الله ﷺ او د قرآن په شان رسول او کتاب ډے پيدا کړی نو بيا به دوی هم په هدايت وی، ليکن هرکله چه ددے راوړل ممکن نۀ دی نو پکار دا ده چه دا اُومنی.

فائده: د صحابه کرامؓ په شان ايمان د تولو مؤمنانو دے ليکن د چا پوره طريقے سره دے او چا

ورسره ګناهونه يو ځائے کړی وی ليکن په اصل مُؤمَنٌ بِهٖ کښې او د ټولو رسولانو او کتابونو او د ټول دين اسلام په منلو کښې د صحابه کرامؓ سره شريك دی۔ او يهود، نصارىٰ او مشرکان داسے نهٔ دی۔ نو پدے وجه الله رحمٰن رحيم دے د هر مؤمن ايمان په هره درجه کښې قبلوی، اعلیٰ وی که متوسط او که ادنیٰ۔ خو پدے شرط چه شرك، کفر او نفاق ورسره ملګرے نهٔ وی۔ فَلَكَ الْحَمْدُ يَا رَحْمٰنُ، يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ۔

﴿وَاِنْ تَوَلَّوْا﴾ يعنى که دوی ستاسو په شان ايمان رانهٔ وړو، او ستاسو د دشمنئ په وجه ئے حق قبول نکړو او د حق نه باطل ته واوړيدل پس ددے نه چه دوی باندے حجت قائم شو۔ نو دوی د اختلاف والا دی۔ نو الله خپل رسولﷺ سره وعده کوی چه د دوی د شر نه به تا لره جدا اُوساتم۔

﴿فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ﴾ شقاق په معنیٰ د دشمنئ او جګړے او ضد سره دے۔ ددے نه معلومه شوه چه څوك د حق مخالفت کوی او د هغے سره دشمنی کوی، نو اصل جګړه مار او اختلاف کونکے او شری همدغه دے او حق بيانونکے مُصلح دے۔ او دا هم معلومه شوه چه د صحابه کرامؓ د ايمان په شان د ايمان نه اَوړيدل څهٔ مستحب کار پريخوستل نهٔ دی، بلکه دا په اصل کښې د حق سره اختلاف کول دی چه دا هلاکت او بربادی ده۔

او شقاق د شِق نه دے په معنیٰ د طرف سره يعنی دوی د ايمان په مقابله کښې په بل طرف د کفر، ګمراهئ او هلاکت باندے ولاړ دی۔ او شقاق په اصل کښې بُعد او وړاندے والی ته وئيلے شی۔ يعنی دوی د حق نه ډير وړاندے دی۔

﴿فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ﴾ [اَیْ سَيَقِيْكَ شَرَّهُمْ وَيَنْصُرُكَ عَلَيْهِمْ] (يعنی الله تعالیٰ به تا د دوی د شر نه بچ اُوساتی او تا سره به د دوی په مقابله کښې مدد اُوکړی)۔ [الوسيط، والبحر المديد ١٠٨/١]۔

يعنی هرکله چه دوی حق نهٔ منی، نو خپل دعوت جاری ساته او يريږه ترے مهٔ، الله به ستا کافی شی او دوی به ذليله او رسوا کړی، تهٔ په خپل حق باندے عمل کوه اے زما نبی !۔ نو د دوی جګړے به ختمے شی۔ او همدغه شان اُوشو چه څهٔ کسان په کښې قتل کړے شول، څه قيديان شول، او څهٔ جلاوطن شول او هر طرف ته تس نس شو، او دا قرآن کريم د الله تعالیٰ د طرف نه معجزه ده چه څنګه ئے خبر ورکړے وو همغه شان اُوشوه۔

په صحيح بخاری کښې د ابوسعيد خدری ﷺ نه روايت دے چه بنو قريظو کله سعد بن معاذؓ (کوم چه د دوی حليف وو) حَکم (فيصله کونکے) تسليم کړو نو رسول الله ﷺ هغه راوغوختو. هغه په يو خر باندے راغلو۔ کله چه مسجد ته رانزدے شو، رسول الله ﷺ انصارو ته اُووئيل : تاسو د خپل سردار د خدمت دپاره راپاڅيږئ، بيا ئے هغه ته اُووئيل : بنو قريظه ۇ تهٔ فيصله

کونکے منلے ئے، نو هغه اُوفرمایل : د دوی جنگ کونکی قتل کړئ او د دوی اولاد قیدیان کړئ۔
نبی ﷺ اُوفرمایل : ((تا د الله تعالیٰ د فیصلے مطابق فیصله اُوکړه))۔
د صحیح بخاری یو بل روایت د ابن عمر رضی الله عنهما دے چه بنو نضیر او بنو قریظه ؤ د مسلمانانو سره جنگ اُوکړو نو بنو نضیر د وطن نه اُوشړلے شو، او بنو قریظه ؤ سره احسان اُوکړے شو، پریخودے شو۔ لیکن بنو قریظه ؤ بیا د مسلمانانو سره جنگ اُوکړو، نو د هغوی سړی قتل کړے شو او ښځے او ماشومان او جائیدادونه ئے د مسلمانانو په مینځ کښ تقسیم کړے شو، سِوئ د هغه بعض خلقونه چه هغوی مخکښ نه رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو، نو نبی ﷺ هغوی ته اَمن ورکړو او هغه خلق مسلمانان شو، ددے نه روستو د مدینے ټول یهودیان رسول الله ﷺ د وطن نه اُوشړل، او مدینه د هغوی د وجود نه پاکه شوه۔ او د الله وعده رشتینی ثابته شوه۔
ابن کثیرؒ د ابن ابی حاتمؒ نه نقل کوی، لیکی : کله چه سیدنا عثمان ؓ ظالمانو باغیانو قتل کولو، نو د هغه په غیږ کښ قرآن کریم وو نو پدے آیت باندے د هغه د وینے څاڅکے پریوتو، نو گویا کښ پدے کښ اشاره وه چه الله تعالیٰ به د عثمان کافی شی او ددے ظالمانو نه به ورله بدله واخلی۔ دا د هغه کرامت وو۔
د هغوی یو بل مرض او یو بل جواب ذکر کوی :

صِبۡغَةَ اللّٰهِ وَمَنۡ اَحۡسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبۡغَةً
(تاسو ځان رنګ کړئ) په رنګ (دین) د الله۔ او څوك ډیر ښائسته دے د الله نه په رنګ ورکولو کښ
وَّنَحۡنُ لَهٗ عٰبِدُوۡنَ ﴿۱۳۸﴾
او مونږه خاص هغه دپاره بندګی کونکی یو۔

تفسیر : په دے مخکنو آیتونو کښ الله رب العالمین د اهل کتابو د اعتراضاتو او شبهو جوابونه کول، او هغوی چه د ځان د غوره والی دعوے کولے هغه ئے رد کړے چه تاسو څنګه غوره کیدے شئ، او صفات درکښ نشته، نو آخر دا چه هغوی په خپل یو رواج باندے فخر شروع کړو، خاصکر نصاراؤ چه مونږه معمودی رنګ لرو، معمودی یو زیړ رنګ وو، او دوی د خپل ذهن مطابق دا عیسیٰ علیه السلام ته منسوب کوی چه هغه به خپلو تابعدارو ته داسے رنګ ورکولو، او اُوسنو انجیلونو کښ ئے هم لیکلے ده، دیته (بَپتِسمَهٗ) وائی او طریقه ئے دا ده چه اُوبو کښ څهٔ زیړ شان رنګ واچوی، او بیا پکښ یو ماشوم د اُووه ورځو نه پس یا که څوك نوے

نـصراني شي، هغه پکښې داخل کړي او اُوبه پرې دپاسه واړوي نو بيا وائي [الْآنَ صَارَ نَصْرَانِيًّا حَقًّا] اُوس صحيح نـصراني شـو۔ نـو بيـا بـه ئې پدې ظاهري رنګ فخر کولو، او په واقع کښې هيڅ صحيح دين ورسره نۀ وو۔

او ددې اصل سبب دا وو چه عيسٰى عليه السلام يو ځل د يحيٰى عليه السلام ملاقات له لاړو نـو هغه ته ئې اُووئيل چه زۀ تا له راغلے يم چه ستا نه رنګ حاصل کړم يعني دين۔ نو نصاراؤ ددې نه صِرف ظاهري رنګ مراد کړو، او بيا په هره ژبه او محاوره کښې ديندارۍ په رنګ سره تعبير کيږي۔

نو الله تعالىٰ په دوی باندې رد کوي چه دا څۀ خبره ده چه يو سړي باندې ظاهري رنګ واچوی، بس هغۀ ښائسته شو، پدې خو نۀ خائسته کيږي۔ الله رب العزت چه کوم رنګ راليږلے دے چه هغه معنوي او باطني رنګ دے چه هغه دين اسلام دے، دا ډير غوره دے پدې فخر کول پکار دی، چه څوك پدې کښې داخل شو دا انتهائي ښائسته شي۔عقيده ئې برابره شي، الله باندې ئې عقيده جوړه شي، دارنګه بد صفات ئې په ښائسته صفاتو بدل شي لکه قوت غضبي پکښې پروت وی، د غصې طاقت ورله په کنټرول کړي، دا قوت بې ځايه نۀ استعمالوی، قوت شهوانیٰ پکښې وی، شهوتونه بې ځايه د خرو او غوايانو په شان نۀ استعمالوی، بلکه دا په صحيح ځايونو کښې استعمالوی، اخلاق ورله برابر کړي چه خلقو سره به څنګه خبرې کوی، څنګه به کينې پاځيږې، او بيا د الله تعالىٰ بندګي ورته خودلې شي چه الله ته به سجدې او رکوع ګانې کوی او د شپې او د ورځې عبادتونه به کوی نو په هغه انسان کښې يو معنوي قسم ښائست پيدا کيږي، چه دا ډول په ډيرو جامو، په اعلىٰ قسم عطرونو او په رنګونو او لباسونو سره نۀ حاصليږي۔

ظاهري رنګ بـه د سړي تـوروی، جامې به ئې خړې پړې او کمزورې وی ليکن دننه به پکښې ايمان او تقوىٰ وی، په هغې به ډير ښائسته ښکاره کيږي، او يو سړے به داسې وی چه کوټ پتلون به ئې اَچولے وی، ګيره بـه ئې خرئيلې وی او ځان به ئې په ظاهره ښائسته کړے وی، ليکن دومره سپك او ذليله به وی چه سړي ته به د شادو او خنزير نه هم بد ښکاره کيږي، نو الله فرمائي : چه اصلي رنګ خو زما دے کوم چه ما خلقو له ورکړے دے چه هغه دين دے، او دا حاصليږي د الله په عبادت، د الله د عبادت د وجه نه انسان کښې يو خاص قسم خائست پيدا کيږي، هغه معنويات او صفات انسان کښې پيدا کيږي چه هغه تواضع، خشوع، عاجزي ده، په مخ کښې رنړا ده، اخلاق دی، احسان دے۔ نـو الله تـعالىٰ فرمائي زما رنګ غوره دے ددې نصاراؤ د رنګ نه چه دوی کوم ظاهري رنګ ورکوی ځکه چه ظاهري زيړ رنګ ډ پرې راواړولو نو څۀ به اُوشي، هغه خو څۀ ښائسته کيږي نۀ۔ او نۀ د هغه اخلاق په هغې باندې بدليږي او نۀ ئې عقيده بدله شوه، تهول

ناولتوب پکښې دننه پروت دے۔ نو که ظاهری رنګ ډیر پریے راخکلو، ددیے مثال داسے جوړیږی چه خوشیانو له ډیر د سرو اُوبه ورکړیے، په دیے څۀ؟۔ لکه اُوس هم د نصاراؤ دین صرف نومونه او صلیبونه او رواجونه دی، هیڅ کمالی صفت او عبادت پکښې نشته۔

دا ډیر عجیب آیت دیے چه بنده پریے پو هه شی۔

نو پدیے آیت کښې بنی اسرائیلو ته ترغیب او دعوت دیے چه په صحیح دین کښې داخل شئ او غلط رواجونه پریدئ۔

فائده : پدیے آیت کښې دوه جملے دی، یوه جمله د الله د طرف نه ده، او دویمه جمله په طریقه د کلام د مؤمنانو ده او دواړه د الله کلام دیے نو پدیے کښې د مؤمنانو عظیم عزت او اعزاز دیے چه الله د دوی کلام د خپل کلام نه جزء اُوګرزولو، ددیے نه معلومه شوه چه د الله او د مؤمنانو ترمینځ یو ژور تعلق دیے۔

﴿ صِبۡغَةَ اللهِ ﴾ یعنی [صَبِغُوۡا صِبۡغَةَ اللهِ] (اے خلقو! ځان رنګ کړئ د الله په رنګ)۔ او دا په خپل ټول ژوند کښې جاری او ساری کړئ۔ یا فعل اِلۡزَمُوۡا (لازم اُونیسئ) اِقۡبَلُوۡا۔ (قبول کړئ) یا اِتَّبِعُوۡا (تابعداری اُوکړئ) پټ دیے۔ یا صِبۡغَةَ منصوب دیے متعلق دیے مخکښې سره چه [بَلۡ نَتَّبِعُ مِلَّةَ اِبۡرَاهِیۡمَ وَنَتَّبِعُ صِبۡغَةَ اللهِ] ۔ (یعنی مونږ د الله د رنګ تابعداری کوو)۔

د رنګ نه مراد ددین رنګ دیے۔ یعنی لکه څنګه چه رنګ د کپړیے هر جزء سره پیوسته کیږی نو دغه شان اسلام د خپل منونکی حالت په یو ځل بدلوی۔

٢- یا د رنګ نه مراد تطهیر (پاکوالے) د مؤمن دیے په ایمان سره۔ یعنی الله چه چا له دین ورکړی او پاک ئے کړی هغه ډیر ښائسته وی۔ ظاهری او باطنی صفات پکښې پیدا شی۔

په اسلام کښې دا پاکوالے په عقیقه او ختنه کولو سره دیے۔

﴿ وَمَنۡ اَحۡسَنُ مِنَ اللهِ صِبۡغَةً ﴾ (یعنی دِیۡنًا وَتَطۡهِیۡرًا) الله چه چا له رنګ ورکړی، دین او صحیح فطرت ورکړی دا ډیر ښائسته وی، صفات پکښې پیدا شی۔ اګرکه غریب او مسکین وی۔

اُوس دا ښائست په څۀ پیدا کیږی : ﴿وَنَحۡنُ لَهٗ عَابِدُوۡنَ ﴾ یعنی د الله په بندګئ باندیے د هغه خاص رنګ او ښائست حاصلیږی، انسان کښې خشوع، په مخ کښې نُور پیدا شی۔

﴿ سِیۡمَاهُمۡ فِیۡ وُجُوۡهِهِمۡ مِنۡ اَثَرِ السُّجُوۡدِ﴾ او عبادت د انسان زړۀ نرموی او اخلاق ښائسته کوی او د خشوع آثار راښکاره کوی۔

فائده: ایمان او دین ته ئے رنګ اُووئیلو، دے کښې دے خبرے ته اشاره ده چه لکه څنګه رنګ په سترګو لیدلے شی نو د مُؤمن د ایمان نخے نښانے د هغه په مخ او ظاهری بدن او تولو حرکاتو او

سکناتو، کړو وړو، معاملاتو او عاداتو کښې ښکاره کیدل پکار دی۔

قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِي اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَآ

اووايه آيا تاسو مونږ سره جګړے کوئ په باره د الله کښې حال دا چه هغه زمونږ رب هم دے او ستاسو رب هم دے او زمونږ دپاره

اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾

زمونږ عملونه دی او ستاسو دپاره ستاسو عملونه دی، او مونږه هغه دپاره اخلاص کونکی یو۔ (یا مونږ خالص د هغهٔ یو)

تفسیر : پدے آیت کریمه کښې په دوی باندے بیا رد دے، هرکله چه رسول الله ﷺ او صحابه کرامو د دین خبرے شروع کړے او یهودیان ئے راګیر کړل، نو دوی هم دعوه شروع کړه، وے وئیل چه [نَحْنُ اَوْلٰى بِاللّٰهِ مِنْكُمْ] مونږه الله ته ستاسو نه ډیر قریب یو ځکه چه انبیاء زمونږ په دین وو او په مونږ کښې کتابونه ستاسو نه مخکښې نازل دی۔ (طبرى، بغوى) ..... لکه مبتدعین او هر باطل پرست چه کله ته راګیر کړے نو هغوی به هم وائی مونږ هم قرآن او سنت والا یو او ستاسو نه ښهٔ مسلمانان یو۔

نو په دے آیت کښې پرے رد اُوشو چه تاسو څنګه الله ته ځان قریب حسابوئ او څنګه د الله دوستان او قریب یئ، حال دا چه الله زمونږه یو شان رب دے۔ تاسو ئے هم پیدا کړی یئ او مونږه ئے هم پیدا کړی یو، زمونږ خالق هم دے او ستاسو هم دے۔ بله دا چه عملونه به اُوګورو زمونږه هم عمل شته او ستاسو هم شته او ستاسو عمل غلط دے او زمونږ صحیح دے، ځکه مونږ کښې اخلاص شته، تاسو کښې اخلاص نشته۔ مونږ بندګی صرف د الله کوو او تاسو ورسره شریکان جوړوئ نو څهٔ وجه ده چه تاسو الله ته قریب شوئ او مونږه وراندے؟۔ په مخکوالی د کتاب باندے خو څه اثر نهٔ پریوزی بلکه اعتبار اخلاص او توحید له دے۔

ددے آیت یو تفسیر دا دے : ﴿قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِي اللّٰهِ﴾ [اَیْ فِي الْقُرْبِ مِنَ اللّٰهِ] یعنی آیا تاسو مونږ سره جګړے کوئ الله ته په نزدے کیدو کښې چه تاسو وایئ مونږ الله ته نزدی یو۔

﴿وَهُوَ رَبُّنَا﴾ یعنی حال دا دے چه الله زمونږ او ستاسو یو شان رب دے۔

﴿وَلَنَآ اَعْمَالُنَا﴾ زمونږ دپاره زمونږ عملونه دی یعنی د هغے جزا به الله مونږ له راکوی۔

﴿وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ﴾ یعنی عملونو ته به هم اُوګورو، الله تاسو له په دے عملونو څومره بدے سزاګانے درکړی دی، او مونږ له ښائسته جزاګانے راکوی، دلیل دے په دے چه مونږه الله ته قریب یو۔ او زمونږ صفت دا دے : ﴿وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ﴾ مونږ په عبادتونو کښې اخلاص کونکی یو۔ اشاره ده چه تاسو

کښې اخلاص نشته دے۔ نو تاسو ځان ته څنګه غوره وایئ ؟!۔
(۲) دویم تفسیر دا دے چه د (فِی اللهِ) نه د الله تعالیٰ په توحیدِ اُلوهیت او اطاعت او د اوامرو په اتباع کښې جګړے کول مراد دی یعنی الله خپل نبی ته دا تعلیم ورکوی چه دوی ته اُووایهٔ چه تاسو ما سره د الله په توحید او اخلاص او د هغه په اوامرو او نواهیو باندے عمل کولو کښې جګړے کوئ نو دا جګړے ستاسو خطاء دی ځکه چه (وَهُوَ رَبُّنَا) یعنی زمونږ او ستاسو رب یو دے، نو هرکله چه تاسو الله تعالیٰ خپل رب ګنړئ او مونږه ئے هم رب ګنړو نو دواړه په توحید ربوبیت کښې شریك شو او هرکله چه تاسو توحید ربوبیت منئ نو پکار ده چه توحیدِ اُلوهیت هم اُومنئ ځکه چه توحید ربوبیت مستلزم دے توحید د اُلوهیت لره۔ یعنی الله رب ګنړئ نو بندګی هم خالص د هغه کوئ، اوامر او نواهی د هغه منئ، په هغے کښې ولے مخالفت کوئ! لیکن هرکله چه دوی نهٔ منی نو بیا نبی ﷺ ته تعلیم ورکوی چه دوی ته اعلان د براءت اُوکړه او اُووایه چه که تاسو په شرك باندے مضبوط ولاړیئ نو مونږ د یو بل نه بیزاره یو۔ چه زمونږ خپل اعمال دی او ستاسو خپل اعمال دی، هر یو له به الله تعالیٰ د هغے مطابق بدله ورکوی، او زمونږ او ستاسو ترمینځ فرق دا دے چه (وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ) مونږ کښې د عقیدے او د اعمالو اخلاص دے او تاسو کښې نشته۔ (تفسیر ابن کثیرؒ) یعنی مونږ په خپل عبادت او تعلق بالله (د الله په تعلق) کښې مخلص یو۔ نو دا څهٔ لرے خبره نهٔ ده چه الله تعالیٰ خپل مخلصینو بندګانو ته زیات کرامت او عزت ورکړی او غوره رسول پکښې راولیږی۔

اخلاص څه ته وائی ؟

۱ – حَقِیْقَةُ الْإِخْلَاصِ التَّبَرِّیْ عَنْ کُلِّ مَادُوْنَ اللهِ] (د اخلاص حقیقت دا دے چه د الله تعالیٰ نه ما سوا د ټولو څیزونو نه انسان براءت اُوکړی)۔ (مفردات د راغبؒ)
۲ – [تَصْفِیَةُ الْعَمَلِ مِنْ کُلِّ شَوْبٍ] (عمل د هر قسم ګډون نه صفا کول دی)
او د هغے څو ارکان دی: (۱) ...... اِخْرَاجُ رُؤْیَةِ الْعَمَلِ عَنِ الْعَمَلِ]۔
یعنی عمل ته به اُوچت نهٔ ګوری بلکه د الله دپاره به ئے معمولی ګنړی۔
(۲) ......عَدَمُ اَخْذِ الْعِوَضِ عَلَی الْعَمَلِ۔ (مخلوق نه به پرے بدله نهٔ اخلی)۔
(۳) ...... عَدَمُ الرِّضَا عَلَی الْعَمَلِ ۔ (یعنی د الله دپاره به پدے عمل نهٔ راضی کیږی، د هغه د شان موافق به ئے نهٔ ګنړی)۔ (٤) ......اَلْخَجَلُ عَنِ الْعَمَلِ مَعَ بَذْلِ الْجُهْدِ۔
(ځان به پکښې شرمنده ګنړی او کوشش به هم جاری ساتی) ۔
(۵) ...... رُؤْیَةُ الْعَمَلِ فِیْ نُوْرِ التَّوْفِیْقِ ۔ (عمل ته به ګوری چه ددے توفیق ما له الله تعالیٰ راکړو زما

څۀ کمال نۀ دے)۔ کله چه انسان کښ دا کارونه نۀ وی نو دا اخلاص کونکے نۀ دے۔
او اخلاص انسان کښ هله پیدا کیږی چه د الله لوئی والے، د هغه د حق لوئی والے او په آخرت باندے ایمان د انسان په زړۀ کښ راشی۔ او کله چه انسان کښ د الله معرفت او د هغه د حقوقو پیژندګلی نۀ وی نو د هغه نه ریاء واقع کیږی۔
او ټول انبیاء علیهم السلام الله تعالیٰ په اخلاص باندے مامور رالیږلی دی۔
﴿وَمَا أُمِرُوْا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ﴾ [البينة:۵]۔
۳- سعید بن جبیرؒ فرمائی : [اَلْإِخْلَاصُ: اَنْ يُّخْلِصَ الْعَبْدُ دِيْنَهٗ وَعَمَلَهٗ فَلا يُشْرِكُ بِهٖ فِيْ دِيْنِهٖ وَلَا يُرَائِيْ بِعَمَلِهٖ] ۔ (اخلاص دیته وائی چه بنده خپل دین او عمل د الله تعالیٰ دپاره خالص کړی، د هغه سره د هغه په دین کښ شریکان جوړ نکړی او په خپل عمل کښ ریاء (ښودنه) اُونکړی)۔ او د مخلوق د تعریف او شاباسی طمع نۀ لری۔
٤- فضیل بن عیاضؒ فرمائی : [تَرْكُ الْعَمَلِ لِأَجْلِ النَّاسِ رِيَاءٌ وَالْعَمَلُ مِنْ اَجْلِ النَّاسِ شِرْكٌ، وَالْإِخْلَاصُ اَنْ يُّعَافِيَكَ اللهُ مِنْهُمَا] (معالم التنزیل للبغوی ۱/۱۵۷)۔
(د چا د وجه نه عمل پریخودل ریاء ده او د چا د وجه نه عمل شروع کول شرك دے، او اخلاص دا دے چه الله تعالیٰ تا د دواړو نه اُوساتی)۔
ځینو علماؤ وئیلی دی چه اخلاص یو داسے عمل دے چه نۀ خوئے ملائك پیژندے شی، نۀ شیطان او دا صرف د بنده او د الله ترمینځه یو راز دے۔ (معارف)۔ د اخلاص زیات تحقیق او تفصیل او اقوال د سلفو په الفوائد فی تزکیة النفوس (۲/۳۲٤) کښ اُوګوره۔

اَمْ تَقُوْلُوْنَ اِنَّ اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطَ كَانُوْا هُوْدًا
آیا تاسو وایئ چه یقیناً ابراهیم، اسماعیل، اسحاق، او یعقوب (علیهم السلام) او د هغوی اولاد یهودیان
اَوْ نَصٰرٰى قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ
یا نصاریٰ وو، تۀ ورته اُووایه ! آیا تاسو ښۀ پوهیږئ (د هغوی په مذهب) که الله، او څوك ډیر لوئی ظالم دے د هغه چا نه
كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱٤۰﴾
چه پټوی ګواهی (د حق) چه ددۀ سره ده د الله د طرف نه۔ او نۀ دے الله نا خبره د هغه عملونو نه چه تاسو ئے کوئ۔

تفسیر : بیا دوی اُووئیل : زمونږه مشران پیغمبران دی، هغه یهود او نصاریٰ تیر شوی دی او زیات پیغمبران زمونږ په قوم کښ او زمونږ په دین باندے راغلی دی۔ نو زمونږ دین (یهودیت او

نصرانیت) پخوانے دین دے۔ حال دا چه په تورات او انجیل کښې دوی خپله لوستلی وو چه ابراهیم ؑ (عَلَى الْحَنِيفِيَّةِ) په حنیفیت دین وو۔ او آخری نبی چه راځی هغه به هم په حنیفیة دین باندے وی۔ نو دا گواهی دوی سره پرته وه او دوی پټه کړے وه۔ دارنگه دا انبیاء علیهم السلام خو د موسیٰ ؑ نه هم مخکښې تیر شویدی، او یهودیت او نصرانیت نه هم مخکښې تیر شویدی۔ د باطل والو دا طریقه ده چه په یو مذهب باندے روان وی، نو وائی : زمونږ په دے مذهب باندے مشران تیر شویدی لکه بدعتیان اُوس دے وخت کښې دا دعوه کوی چه ټول راویان او محدثین مقلدین وو۔ پدے باندے خلق گمراه کوی۔ حال دا چه دا ټول راویان او محدثین یو هم مقلد نۀ وو بلکه دا ټول د قرآن او د حدیث تابعدار وو۔ نو دوی مشران د خپل ځان تابع کوی۔ نو یهودو او نصاراؤ غلط تاریخ بیانولو۔ نو الله تعالیٰ په درے طریقو سره ددے رد کوی :

﴿ اَمْ تَقُوْلُوْنَ ﴾ آیا تاسو دا خبره کوئ یعنی دا خبره مۀ کوئ، پدے کښې پدے خبره کولو باندے رټنه ده۔ نو الله تعالیٰ دا یهود او نصاریٰ د ځان نه هم بالکل جدا کړی دی او د خپلو پیغمبرانو نه ئے هم جدا کړی دی، د شیطان او د ابلیس ملگری کړی ئے دی۔

﴿ قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ﴾ نو دا خو معلومه خبره ده چه الله بنۀ پو هیږی او الله خبر ورکړے دے چه ابراهیم، اسماعیل، اسحاق او یعقوب علیهم السلام یهودیان او نصاریٰ نۀ وو۔ لکه روستو سورة العمران (٦٧) آیت کښې الله تعالیٰ صراحةً فرمائیلی دی۔ ﴿ مَا كَانَ اِبْرَاهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا مُّسْلِمًا وَّمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴾ او دا اول رد شو۔ چه دوی دروغ وائی۔

﴿ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً ﴾ دا دویمه طریقه د رد : شهادت نه مراد د حقے خبرے عِلم دے۔ یعنی د حقے خبرے عِلم ورسره دے چه دا انبیاء علیهم السلام یهودیان او نصاریٰ نۀ وو۔ او دوی پرے گواهان دی او پټوی ئے، خلقو ته ئے نۀ بیانوی۔

﴿عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ﴾ : دا دواړه د (شَهَادَةً) دپاره صفتونه دی۔ یعنی دوی سره د حقے خبرے عِلم موجود دے او هغه د الله د طرف نه دے، یقیني عِلم دے او بیا ئے هم پټوی۔

دریمه طریقه د رد : ﴿ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴾ یعنی الله به د حق پدے پټولو باندے سزا درکوی۔ نو پدے کښې هر هغه چا ته زجر او رټنه ده چه د حقے خبرے علم ورسره وی او بیا ئے هم د عوامو نه د دنیا پرستئ او د مداهنت په وجه پټوی۔

تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ

هغۀ (انبیاء) یوه ډله ده چه مخکښې تیره شوه۔ هغوی دپاره بدله د هغه عملونو ده چه هغوی څۀ کړیدی او ستاسو دپاره

مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْئَلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱٤۱﴾

بدله د هغهٔ عمل ده چه تاسو کړیدے او تپوس به نهٔ شی کیدے ستاسو نه د هغه عملونو چه هغوی کول۔

تفسیر : دوی بیا اُووئیل : کـه دا انبیاء یهود او نصاریٰ نهٔ وو نو زمونږ پلاران نیکونه خو دی، دوی به مونږ د الله تعالیٰ د عذابونو نه خلاصوی۔ دا آیت مخکښې هم تیر شو فرق دا دے چه

(۱) هلته مقصد دا وو چه دوی د مشرانو په عمل د نجات دعوه کوله، او دلته د انبیاء کرامو په نسب باندے فخر کول دی چه دا زمونږ پلاران نیکونه تیر شویدی۔

(۲) دویم فرق دا دے چه مخکښې په عامو نیکانو مشرانو باندے فخر وو، او دلته په انبیاء علیهم السلام باندے فخر کول دی۔

(۳) یا دوی بار بار فخر کولو نو رد به هم پرے بار بار کیدو چه نجات د هر انسان په خپل عمل دے او نسب د عمل په مقابله کښې هیڅ فائده نهٔ ورکوی۔

﴿تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ﴾ یعنی هغوی ته به د خپل عمل بدله ورکولے شی او تاسو ته به د خپل عمل نو فخر ته ضرورت نشته۔

﴿وَلَا تُسْئَلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ یعنی د هغوی د عمل تپوس به ستاسو نه نهٔ کیږی۔ دارنګه د هغوی نه زمونږ په باره کښې هم نهٔ کیږی او دا ئے اُونهٔ وئیل چه د هغوی نه به الله تعالیٰ ستاسو د عملونو په باره کښې تپوس نهٔ کوی، وجه ئے مخکښې ذکر شوه۔

او اُوسنو نه د پخوانو په باره کښې تپوس نهٔ کیږی ځکه چه هغوی خو مخکښې تیر شوی دی۔ ددے روستنو مسئولیت د پخوانو په باره کښې نشته۔ او پدے کښې یو قسم وعظ او نصیحت پروت وی چه د ځان غم اُوکړئ، تاسو د مشرانو نه خلاص یئ۔



سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَاوَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِىْ كَانُوْا

زردے چه وائی به کم عقلان د خلقو نه چه څهٔ شی واړول دوی لره د قبلے د دوی نه هغه چه وو دوی

عَلَيْهَا قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۴۲﴾

په هغے باندے. ته اُووایه د الله دپاره مشرق او مغرب دے. هدایت کوی چا ته چه اُوغواړی لارے نیغے ته.

مضمون: ددے ځائے نه تر آخر د سورت پورے د سورت دويمه حصه ده، او په دے کښې [تَرْبِيَةُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ] ددے اُمت تربیت دے. ددے دوه سورتونو (البقره او العمران) تقریباً یو طرز دے. په اوله حصه کښې ئے یهود او نصارىٰ او مشرکان راګیر کړی دی، او په دویمه حصه کښې ئے ددے اُمت تربیت کړے دے. د اُمت مسلمه (د مسلمانانو) تربیت کوی په ذکر د قوانینو او آدابو شرعیه ؤ سره، هغه قوانین څهٔ د جهاد متعلق دی او څهٔ د انفاق او څهٔ د تدبیر منزل او دارنګه څهٔ د بادشاهی او نظامی قوانین دی. خو اوله مسئله ئے د قبلے شروع کړے ده چه ددے اُمت قبله به جدا وی. غوره اُمت دے نو الله تعالىٰ ورله غوره قبله ورکوی چه هغه کعبه ده او د هغے نه روستو ورته د جهاد حکم کوی او دارنګه د نظام د جوړولو حکم، د کور د جوړ ولو حکم، د مالونو د لګولو حکم ورته کوی. او دے ته ئے تیاروی چه د الله تعالىٰ په حکمونو باندے به عمل کوئ او د هغه نظام به نافذ کوئ او د مخالفینو سره به جهادو نه کوئ پدے کښې به په تاسو امتحانات راځی. بیائے هغه عملونه خودلی دی.

دے آیتونو کښې تر دوه رکوع پورے د قبلے مسئله ده. خلاصه دا ده چه ددے ځائے نه تر (۱۶۲) آیت پورے بل قسم مضمون دے، په دے کښې د دوه شبهاتو جوابونه دی چه اوله شبهه په باره د قبلے بدلیدو کښې وه، او دا شبهه په اول آیت کښې ذکر ده، بیا په پنځو علتونو او طریقو سره ئے ددے جواب ورکړیدے. اول جواب او علت: (قُلْ لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ). دویم تفصیلی علت په (۱۴۳) کښې (وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِىْ) او دا حکمت دے د قبلے د بدلیدو چه هغه مخلصین د غیر مخلصینو نه راجدا کول دی. او مینځ کښې جواب د سوال (وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ) کښې. بیا (۱۴۳) قَدْ نَرٰى آیت) هم د قبلے متعلق دے چه د رسول الله ﷺ خوښه وه چه کعبے ته راواوړی نو څکه الله تعالىٰ د هغه دخوښے مطابق کار اُوکړو او امرئے ورته اُوکړو چه کعبے ته واوړهٔ او دا امرئے پنځه ځله اُوکړو. څهٔ امت ته او څهٔ نبی ﷺ ته. او دریم اجمالی علت په (۱۴۴) آیت (وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ) کښې دے. چه د کعبے قبلے جوړیدل دشمنان ئے هم منی چه

دا حق دی او تاسو ئے نۀ منئ۔ (وَلَئِنْ اَتَيْتَ) كښې ئے دا اهل كتابو ضد بيان كړے چه د هريے شبهے جواب دوی ته مۀ وركوئ، دوی ضديان دی، نۀ ئے منی۔ او ضد ئے دے حد ته رسيدلے دے چه خپل مينځ كښې هم د يو بل د قبلے تابع نۀ دی۔ او نبی ﷺ او امت ئے د هغوی د تابعدارئ نه منع كړيدے۔ بيا ئے د اهل كتابو نه نقلی دليل راوړيدے چه دا نبی ﷺ حق رسول دے دا چه څۀ وائی او څۀ كوی نو دا حق دی۔ نيكان اهل كتاب هم دا منی۔ او بار بار تاكيدات ذكر كوی چه حق ستا د رب د طرف نه دے شك پكښې مۀ كوئ۔ (تعريف د حق ئے ذكر كړے) او دا تاكيدات ځكه كوی چه مسئله د قبلے ډيره سخته وه۔

بيا په (١٤٨) وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ الخ) كښې د قبلے تحويل (اَوړيدو) ته ترغيب دے چه هر قوم يو طرف ته اَوړی نو تاسو نيكئ ته منډه كړئ او نيكی دا ده چه الله مو كوم طرف ته متوجه كوی هغه طرف ته متوجه شئ۔ بيا قبلے طرف ته په مخ اړولو باندے ئے درے امرونه كړيدی۔

او څلورم تفصيلی علت په (١٥٠) (لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ) آيت كښې ذكر دے۔ چه د يهودو او نصاراؤ دليل په تاسو رانشی ځكه مے قبله بدله كړه۔ او خاص انعام ذكر كول دی دپاره د مضبوطولو په امر د قبله باندے چه كعبه ئے درله ځكه قبله مقرر كړه چه الله تعالیٰ درباندے خاص انعام پوره كوی۔ ځكه چه دا امت غوره دے نو غوره قبله ئے وركړه۔ بيا ئے امر كړے په ذكر او شكر چه دا د ټول دين خلاصه ده۔ چه ددے احساناتو په بدله كښې به تاسو د الله عز وجل ذكر او د هغه شكر كوئ۔

په ابتداء د اسلام كښې د قبلے مسئله سخته وه پدے وجه الله تعالیٰ ډير تاكيدات كړی دی۔ ځكه دا اولنے رواج وو، او اولنے رد كول وو، ګران كار وو چه مسلمانان د كعبے نه واوړيدل بيت المقدس ته، اولس (١٧) مياشتے ئے بيت المقدس ته مونځونه اُوكړل بيا بيرته كعبے طرف ته واوړيدل۔ اول چه راواوړيدل نو مشركانو اعتراضات كول، يهود خوشحاله وو چه زمونږ قبلے ته ئے مخ كړو او بيا چه كله بيرته كعبے ته واوړيدل، نو يهوديان او منافقان غصه شو، مشركانو هم خبرے شروع كړے چه ګوره بيرته راواوړيدل، زمونږ مذهب ئے بيرته غوره كړو۔ درے واړو خبرے شروع كړے او دا ډيره ګرانه خبره ده، هسے په خوله باندے وئيل ئے خو آسان دی، ليكن دغه وخت كښې تينګيدل ډير ګران وی، نو الله تعالیٰ د هغه مؤمنانو صفت كوی چه څوك د قبلے په مسئله كښې كلك پاتے شوی وو او د هغه چا بدی بيانوی چه هغوی شيطانی او ورانے كولو او خبره ئے نۀ منله۔ نو د اول نه الله تعالیٰ پيشينګوئی وركوی چه زۀ به قبله بدلوم خو ګم عقل خلق به اعتراضات كوی۔ اول نه ځكه خبر وركوی چه د مخكښې نه انسان د دشمن په دسيسه باندے خبر وی بيا پرے هغه

دومره اثر نهٔ کوي.

ربط: ۱- ددې آيت د مخکښ (وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً) سره تعلق دې يعنی يهود او نصارىٰ خپله حق پټوي، لوئي ظالمان دي، نو اُوس وائي چه دوي کښ دا مرض هم دے چه څوك حق ښکاره کوي، هغوي باندے دوي اعتراضونه کوي.

۲- او دغه شان مخکښ آيتونه د قبلے د بدليدو دپاره مقدمه وه. چه ابراهيم ﷺ کعبه جوړه کړيده نو اصلي مرکز کعبه ده، ددے نه اوړيدل او بيرته راوړيدل هيڅ اشکال نهٔ لري.

۳- او دارنگه مسئله د نسخ ئے بيان کړه چه دين کښ نسخ د حکمت دپاره راتلل جائز وي، او د يهودو بديانے ئے بيان کړے چه د دوي دين غلط دے او که اعتراضونه درباندے کوي نو هيڅ پرواه ئے مهٔ لرئ.

تفسير: ﴿ سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ ﴾

۱- دا آيت يا د قبلے د اَوړيدو نه مخکښ نازل شوے وو او پدے کښ پيشينگوئی وه چه دا خلق به په تاسو باندے د قبلے په اَوړيدو کښ اعتراض کوي او دا پيشينگوئی صادقه شوه نو دا د رسول الله ﷺ او د قرآن کريم د صدق او رشتينوالي دپاره دليل شو. ۲- يا قبله بدله شوه نو پدے وخت کښ خلقو اعتراضونه شروع کړل نو الله تعالىٰ دا آيت نازل کړو چه دا خلق لګيا دي د ضد د وجه نه اعتراضونه کوي اُوس ئے هم کوي او آينده کښ هم.

اَلسُّفَهَاءُ: د کم عقلانو نه مراد دلته [اَلْمُعْتَرِضِيْنَ عَلٰى عَمَلِ الرَّسُوْلِ] دي يعنی هغه خلق دي چه د رسول الله ﷺ په عمل باندے اعتراض کوي). نو معلومه شوه چه څوك د پيغمبر او د صحابهٔ کرامؓ په عمل باندے اعتراض کوي، دا لوئي بے وقوف دے. ولے که دوي کښ عقل وے نو دوي به وئيلي وے چه دا خو د الله رسول دے او د الله د رسول کار په وحي سره وي، او په هغے کښ ډير حکمتونه وي، چه هغه به انسانانو ته نهٔ وي معلوم، نو ددے منل پکار دي. او دا وينا د کم عقلانو ځکه ده چه دوي ته د تورات او انجيل نه معلومه وه چه دا نبي (ﷺ) به اُولس مياشتے بيت المقدس ته مونځ کوي او بيرته به کعبے ته اَوړي او ددے عِلم سره سره دوي اعتراض کوي.

مُؤَرِّجْ بن عمرو السدوسي متوفي (۱۹۵ هـ) وائي: سفيه: [اَلْبَهَّاتُ الْكَذَّابُ الْمُتَعَمِّدُ خِلَافَ مَا يَعْلَمُ]- (قرطبیؒ) (سفيه: ډير بهتان جوړونکے، غټ دروغجن ته وائي چه د خپل علم په خلاف قصداً دروغ وائي). او دا اعتراض کونکي هم دغه شان وو.

﴿مِنَ النَّاسِ﴾ يعني دا ذليله خلق دي ځکه چه د ضد او د عناد په وجه د حق خلاف کوي او ددے مصداق يهوديان، مشرکان دي او منافقان هم پکښ داخل دي، آيت ټولو ته شامل دے- (ابن کثيرؒ).

﴿ مَا وَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا ﴾

پدے کښې دوه تفسيره دي : (۱) ابن عباسؓ فرمائي : په مکه کښې به صحابه کرامؓ او نبي ﷺ د بيت المقدس صخرے (کانړی) ته مخ کولو په داسے طريقه چه بيت الله به ئے هم مخے ته راغلو او بيت المقدس هم يعنی د رکن يماني او د حجر اسود ترمينځ به اُودريدل۔ نو ځکه هلته چا اعتراض نهٔ کولو۔(او پدے کار باندے مشرکان نهٔ پوهيدل نو ځکه ئے اعتراض هم نهٔ کولو) کله چه مدينے ته هجرت اُوشو نو هغوی بيت المقدس ته مخ اَړولو کښې رابنکاره شو ځکه چه مدينه کښې خو دغه شان حالت نهٔ جوړيدو (ځکه چه په مدينه کښې کعبه جنوبي طرف ته ده او بيت المقدس شمالي طرف ته دے) نو مشرکانو اعتراض اُوکړو چه زمونږ د قبلے نه بل طرف ته واوړيدل نو اُوولس. مياشتے روستو الله تعالیٰ خپل نبي ته وحی اُوکړه چه بيت الله ته مخ واړوه۔

ابن عباسؓ دا خبره ځکه غوره کړے ده چه که نهٔ وی نو بيا دوه ځل نسخ راځي او حال دا چه نسخ د قبلے خو يو کرت راغلے ده۔ يعنی د ابتداء نه بيت المقدس قبله وه خو په مکه کښې پټه وه، او په مدينه کښې اُولس مياشتے ښکاره وه بيا الله تعالیٰ قبله کعبه مقرر کړه۔ ليکن دا تفسير غوره نهٔ دے۔

۲- **ظاهر** تفسير دا دے چه نبي ﷺ او صحابه کرامؓ به په مکه کښې بيت الله ته مخ کولو، کله چه مدينے ته راغلل نو الله تعالیٰ ورته وحی اُوکړه (په ذريعه د حديث) چه بيت المقدس ته مخ واړوه نو اُوولس يا شپاړس مياشتے (په صحيح بخاری کښې د دوه مختلفو روايتونو په بناء) بيت المقدس ته مونځ اُوشو، نبي ﷺ دا خوښوله چه ما ته امر اُوشي چه کعبه زما قبله شي، نو الله عز وجل ورته امر اُوکړو چه کعبه ستا قبله شوه۔ نو ګويا کښې دوه ځل نسخ راغلے ده۔ يو ځل نسخ په حديث او بل ځل په آيت۔ په اول ځل مشرکانو اعتراض اُوکړو چه زمونږه قبله، کعبه ئے پريخوده، د پلار نيکهٔ دين ئے پريخودو۔ او يهوديانو اُووئيل : زمونږ دين غوره دے ځکه ئے زمونږ قبله غوره کړه، خو کله چه کعبے ته بيرته واوړيدو نو يهوديانو اُووئيل :[رَغِبَ فِيْ مِلَّةِ آبَائِهٖ] د پلار نيکه دين ئے غوره کړو او د انبياؤ قبله ئے پريخودهٔ۔ منافقانو اُووئيل : دا څنګه نبي دے کله مو اخوا اړوی او کله ديخوا۔ او مشرکانو اُووئيل : [رَجَعَ اِلٰى قِبْلَتِنَا وَلَعَلَّهٗ يَرْجِعُ اِلٰى دِيْنِنَا] زمونږ قبلے ته بيرته راواوړيدو اُو کيدے شي چه زمونږ دين ته به هم راواوړی)، هر سړی خپل دين اصل ګنړو او نبي ﷺ ئے فرع۔ او حال دا چه اصل خو نبي وو۔ نو هر طرف نه اعتراضات شويدی۔ او دا آيت دواړه احتماله لری۔

فائده : دا تفسير دليل دے چه نسخ د حديث په آيت سره صحيح ده۔

﴿ عَنْ قِبْلَتِهِمْ ﴾ ۱- ددے نه په اول تفسير باندے بيت المقدس مراد دے يعنی يهوديانو اعتراض

اُوکړو چه د بیت المقدس نه چا واړول. ۲- یا کعبه مراد ده نو مشرکانو اعتراض اُوکړو چه د کعبې نه بیت المقدس ته چا واړول. لیکن اوله معنیٰ ظاهره ده ځکه د بیت المقدس نه بیرته کعبې ته راوړیدو کښې اعتراضات ډیر شوی وو.

نو اُوس جواب ورکوی : ﴿قُلْ لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ﴾

یعنی د مشرق او مغرب دواړو واکدار یو الله دے. نو هغه چه چا ته کوم طرف ته امر کوی د هغه اختیار دے، هیڅ اعتراض پرے نشته. او قبله بدلول د پیغمبر په اختیار کښې نۀ دی.

دویم جواب :﴿يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾

کوم بندګان ئے چه بیت المقدس ته واړول، دا هم د الله تعالیٰ هدایت دے او کوم بندګان ئے چه بیت الله ته واړول نو دا هم د هغه هدایت دے.

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ
او دغه شان مونږ تاسو ګرځولی یئ اُمت غوره، (یا درمیانه) دے دپاره چه تاسو شئ ګواهان په خلقو، او شی رسول
عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِىْ كُنْتَ عَلَيْهَآ اِلَّا لِنَعْلَمَ
په تاسو ګواه او مونږ نۀ ده ګرځولے قبله هغۀ چه وے ته په هغے باندے مګر ددے دپاره چه راښکاره کړو مونږه
مَنْ يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَاِنْ كَانَتْ
هغه څوک چه تابعداری کوی د رسول د هغه چا نه چه اوړی په خپلو پوندو، او یقیناً دا خبره (بدلول د قبلے)
لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ
خامخا ګرانه وه مګر په هغه کسانو چه الله ورته هدایت کړے دے، او نۀ دے الله چه برباد کړی ایمان ستاسو،
اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱٤۳﴾
یقیناً الله په خلقو ډیر شفقت کونکے او مهربان دے.

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ بل جواب کوی فرمائی : چه دا اُمت غوره اُمت دے، دا به په خلقو ګواه وی، او رسول الله ﷺ به په دے امت ګواه وی، دا امت به د زمکے قائدین وی پدے وجه الله تعالیٰ دوی ته نصیحتونه کوی چه پدے منصب کښې به مشکلات راځی هغے باندے به صبر کوئ، او مالی او جانی قربانی به ورکوئ. نو الله فرمائی : غوره قبله ورله ورکوم. نو ځکه مے د

بيت المقدس نه راواړول۔

﴿وَكَذٰلِكَ﴾ (۱) يعنې لکه څنګه چه مے غوره قبله درکړے ده۔ دارنګه مے تاسو هم غوره کړی يئ۔ (ابومسلم)۔ يا د (يَهْدِيْ) سره متعلق دے او مُشبّه بِه داسے ده :

[كَمَا اَنْعَمْنَا عَلَيْكُمْ بِالْهِدَايَةِ كَذٰلِكَ اَنْعَمْنَا عَلَيْكُمْ بِاَنْ جَعَلْنَاكُمْ اُمَّةً وَسَطًا] (تفسير الرازی ۲/۲۸۸)

(لکه څنګه ما په تاسو د هدايت انعام کړے نو دغه شان ما په تاسو دا انعام هم کړے چه تاسو مے غوره امت ګرځولی يئ)۔

(۲) يا کاف د کمال دپاره دے يعني غوره امت دارنګه وی لکه څنګه چه تاسو يئ۔ او دا په هره ژبه کښې استعماليږی لکه پښتو کښې دی: «سړے دغه شان وی»۔ يعنی کامل سړے همدا دے۔ د تشبيه معنیٰ پکښې نهٔ وی۔

تفسير روح المعانی کښې دی: (ذلك) اشاره ده هغه جعل ته چه په هغے باندے جَعَلْنَاكُمْ دلالت کوی او ذلك بعيد راوړے شويدے دپاره د تفخيم او تعظيم۔ يا دا بُعد حمل دے په بعد رتبی باندے۔ او کاف پکښې مُقْحَم (زائد) دے، د مبالغے او تاکيد دپاره راوړے شويدے۔ او محلًا منصوب دے صفت د مصدرِ محذوفه دے او اصل عبارت داسے دے : [جَعَلْنَاكُمْ اُمَّةً وَسَطًا جَعْلًا كَائِنًا مِثْلَ ذٰلِكَ الْجَعْلِ] (مونږ تاسو غوره امت ګرځولی يئ په دغه شان ګرځولو سره) يعنی پډے ناشنا او کامل ګرځولو سره مونږ صرف تاسو غوره امت اُوګرځولئ۔ نهٔ په بل قسم ګرځولو سره چه هغه ددے نه خکته درجے والا وی۔ نو دلته كذلك په فعل (جَعَلْنَا) باندے مقدم شو، دے دپاره چه قصر او اختصاص پيدا کړی۔ او كذلك ډير کرته د مابعد د تثبيت او تاکيد دپاره استعماليږی آه۔ (روح المعانی ۲/۳۸)

﴿اُمَّةً وَسَطًا﴾ دا امت هر لحاظ سره غوره دے، د دوی تصور، عقيده، عمل، اخلاق او تعلقات مزيدار دی۔ او ددے د غوره والی وجوهات به په سورة آل عمران آيت (۱۱۰) (كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ) کښې راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

(وَسَطًا) [اَیْ عُدُوْلًا خِيَارًا] (عادلان، غوره) ۔ (۱) وسط : غوره ته هم وائی۔ لکه حديث کښې دی :

[فَاسْأَلُوْهُ الْفِرْدَوْسَ، فَاِنَّهٗ اَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَاَعْلَاهَا] (احمد، بخاری، ابن حبان)۔

(د اَوْسَط معنیٰ غوره او اعلیٰ) (۲) او درميانه او عادل ته هم وائی۔ يعنی دا امت د يهوديانو د افراط او غلو او د نصاراؤ د تقصير او تفريط په مينځ کښې درميانه دے۔

او قبله هم پداسے ځائے کښې ده چه د ټول عالَم مرکز دے، او په جغرافيائی لحاظ سره د مسلمانانو ملکونه د ټولے دنيا نه غوره دی، تيل او هر قسم آمدنی د دوی په ملکونو کښې دی۔

(کما في حاضر العالم الاسلامي)۔
(لیکن دے خلقو ځان اُونهٔ پیژندلو، کافرانو پرے قبضه اُوکړه او دوی د یهودو او نصاراؤ پسے منډے وهی)۔
دارنګه معتدل دی په اعتبار د اقتصاد او د زمکو د حاصلاتو سره چه مشهور معدنیات پدے کښې دی۔ معتدل دی په عقیده کښې چه نهٔ د یهودیانو په شان غلو او افراط والا دی او نهٔ د نصاراؤ په شان تفریط والا دی۔ دارنګه معتدل دی په دین او شریعت کښې چه د یهودیانو په شان تشدیدات او د نصاراؤ په شان تهاون (سپکاوے) ئے په دین کښې نشته۔
معتدل دی په اخلاقو او اعمالو کښې ځکه چه د نبی ﷺ او د قرآن کریم د تعلیماتو اقتدا ئے کړیده۔ دارنګه معتدل دی په عِلم، حِلم او تولو صفاتو کښې چه داسے په هیڅ امت کښې تردے حده پورے نهٔ دی لیدلے شوی۔ (از هر البیان)۔
فائده: دا آیت د اجماع په حجت کیدو باندے دلیل دے ځکه د وسط معنیٰ ده عدل او ثقه، نو که تول امت په غلطئ باندے اتفاق اُوکړی نو بیا خو دا (امت وسط) نهٔ کیږی۔ (قاسمی ۱/۳۸۲)۔
او شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی: چه الله تعالیٰ دا اُمت په ګمراهئ باندے د راجمع کیدو نه محفوظ ساتلے دے، او پدے کښې به یو داسے جماعت همیشه دپاره وی چه د هغوی په وجه به تر قیامته پورے حُجت پوره کیږی، پدے وجه ددے امت اجماع (دوی چه په یوه مسئله اتفاق کړے وی هغه) حجت دے لکه قرآن او سنت چه څنګه حجت دے۔ ځکه چه دغه مسئله هم قرآن او سنت ته منسوبه وی۔ او پدے وجه ددے امت اهل حق به د سنت او د مسلمانانو د جماعت مضبوط رانیولو په وجه د هغه باطل پرستو نه همیشه جدا وی چه هغوی په خپل دے باطل ګمان کښې اخته دی چه هغوی صرف د قرآن اتباع کوی او د رسول الله ﷺ د سنت او د اجماع نه اعراض کوی۔
اصحاب السنن او مسانید په مختلفو سندونو سره د رسول الله ﷺ نه روایت کړیدے چه دا اُمت به درے اَویا (۷۳) فرقو ته تقسیمیږی۔ تول به جهنم ته ځی سِویٰ د یوے فرقے نه او هغه د مسلمانانو د جماعت فرقه ده۔ او په یو روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل: دا خلق به په هغه څهٔ باندے قائم وی په کوم باندے چه نن زهٔ او زما صحابه دی۔ انتهیٰ۔ او دا فرقه ناجیه (نجات موندونکے ډله) د اهل سنت والجماعت ده، او دا فرقه په تولو فِرقو کښې غوره ده لکه څنګه چه اسلام په تولو مذاهبو کښې غوره مذهب دے۔
بیا د اجماع معنیٰ دا نهٔ ده چه دا د قرآن او سنت نه جدا مستقل دلیل دے بلکه مطلب دا دے

چه يوه مسئله به په كتاب او سنت كښې ثابته وي او بيا به د امت په هغې اتفاق شوے وي نو دے ته اجماعي مسئله وئيلے شي۔ د يو آيت يا حديث معنىٰ چه ټول امت يو شان كوي نو د هغې نه علاوه به بله د ځان ايجاد شوے معنىٰ صحيح نۀ وي۔ دا د اجماع مطلب دے۔ او د اجماع فائده صرف تاكيد او تائيد دے، او د اجماع خلاف كول د قرآن او سنت نه غلط تعبير دے۔ د اجماع تفصيلي بحث دپاره الحق الصريح (٤٨٨/١) ته رجوع پكار ده۔

﴿لِتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ﴾ د (لِتَكُوْنُوْا) په لام كښې دوه احتماله دي (١) كه شهادت په معنىٰ د ګواهۍ سره شي نو بيا به وسط په معنىٰ د عادل سره وي۔ او په (لِتَكُوْنُوْا) كښې به لام د عاقبت اُو صيرورت دپاره وي ځكه چه شرط په ګواه كښې دا دے چه عادل به وي، نو معنىٰ به دا شي: ما تاسو عادل (انصاف كونكي) اُمت ګرځولي يئ انجام دا دے چه تاسو په خلقو ګواه شئ په تبليغ او دعوت د انبياؤ، په كفر او شرك د خلقو، په تحريف او تبديل، په الحاد او انحراف، په افراط او تفريط، په غلو او جفا د هغوي، چه تاسو ټولو دا حقائق د پيغمبر او د قرآن د تعليماتو نه زدۀ كړيدي۔ او پيغمبر ستاسو تزكيه اُوكړې۔

او دا شهادت او ګواهي په ډيرو طريقو سره ده:

(١) يو دا چه دا اُمت په يو مړي باندے نيكه يا بده ګواهي اُوكړي نو هغه دپاره جنت يا جهنم واجبيږي لكه حديث د بخاري وغيره كښې دي يوه جنازه تيره شوه، صحابه كرامؓ د هغه صفت اُوكړو، نبي ﷺ اُوفرمايل: وَجَبَتْ (واجب شو) بيا بله جنازه تيره شوه، صحابه كرامؓ هغه په بدو ياد كړو، نو نبي ﷺ اُوفرمايل: وَجَبَتْ (واجب شو)، تپوس اُوشو چه دواړو باره كښې تاسو څنګه وَجَبَتْ اُووئيلو؟۔ نو نبي ﷺ اُوفرمايل: تاسو د يو صفت اُوكړو او د بل مو بدي بيان كړه، نو يو له جنت واجب شو او بل له جهنم واجب شو ځكه چه تاسو په زمكه كښې د الله ګواهان يئ۔

[صحيح البخاري رقم: ١٣٠١ مسلم: ٢٢٤٣]۔

ددے آيت او ددے حديث اول مصداق صحابه كرام رضي الله عنهم دي۔

(٢) دويم: دا ګواهي په آخرت كښې د انبياء عليهم السلام په دعوت او تبليغ باندے ده لكه په حديث د بخاري كښې دي: نوح ﷺ به راوستے شي هغه ته به الله اُوفرمائي: [هَلْ بَلَّغْتَ؟] آيا تا تبليغ كړيدے؟ ۔ هغه به وائي: آؤ۔ امت ته به اُووائي: تاسو ته ئے دين بيان كړے وو؟۔ هغوي به وائي: نۀ۔ [مَا جَآءَ نَا مِنْ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ] مونږ ته بشير او نذير نۀ وو راغلے۔ نو دۀ ته به اُووئيلے شي: [مَنْ شُهُوْدُكَ ؟] ستا ګواهان څوك دي؟۔ هغه به اُوفرمائي: [مُحَمَّدٌ وَاُمَّتُهٗ] محمد ﷺ او د هغه امت۔ نو نبي ﷺ فرمائي: تاسو به راوستے شئ۔ او ګواهي به وركوئ چه نوح ﷺ خپل قوم

تـه دیـن بیـان کـړیدےـ بیا رسول الله ﷺ دا آیت اُولوستلو :﴿ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ﴾ (بخاری:٦٩١٧]

بیا د حـدیث د مفهوم نه معلومیږی چه دے امت ته به اُووئیلے شی چه تاسو خو په هغه وخت کښې نهٔ وئ؟ نو دوی به اُووائی مونږ ته قرآن کښې وئیلے شویدی۔

ددے وجه نه حدیث کښې دی، ابو الدرداء ﷺ د نبی ﷺ نه نقل کوی :

[اِنَّ اللَّعَّانِيْنَ لَايَكُوْنُوْنَ شُهَدَاءَ وَلاَ شُفَعَآءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ] .... [مسلم:٦٧٧٧]

(لعـنت او ښیرے (کنځلے) کونکی به د قیامت په ورځ ګواهان او سفارش کونکی نهٔ وی) ځکه دوی کښې وسطیت (غوره والے) ختم شو۔ او دا ګواهی لوئی منقبت دے چه دے امت ته الله تعالیٰ ورکړیدے۔

(۲) یا (لِتَكُوْنُوْا) کښې لام د تعلیل دپاره دے یعنی (لاَمِ كَیْ) دے۔ او وسط په معنیٰ د غوره سره دے، او د شهادت نه مراد به د حق تعلیم او بیان وی۔ او معنیٰ به دا وی :

مـا تـاسو غوره امت ګرځولی یئ ځکه چه تاسو به د حق معلمین یئ او حق به بیانوئ، او خلق بـه د دعـوت او ارشاد پـه ذریعـه د حـقـائـقـو نـه خبـروئ او د جمود فکری نه به ئے جدا ساتئ او د ګـمـراهئ او انحراف نه به ئے یروئ، څهٔ قسم درس چه تاسو د پیغمبر نه زدهٔ کړے وی همغه درس بـه تـاسـو نـورو تـه زدهٔ کـوئ دے دپاره چـه ټول جهان انسانان د تعلیم او تربیت په ذریعه رونق او ښائست والا شی۔ (محاسن التنزیل للقاسمی واز هر البیان)۔

نو شهادت په معنی د تعلیم، بیان او دعوت د حق او د دین سره، او د شهداء معنیٰ ده مُعلمین او د دین او د حق بیانونکی۔ لکه دا معنیٰ په سورة آل عمران (۱۱۰) آیت کښې راغلے ده۔ [كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ] نـو انسان بـه هـلـه غـوره کیـږی چه خـلقو ته حق او صحیح دین او قرآن او سنت بیانوی، د کـفـارو د دَسِیسُـو نـه بـه ئے خبروی۔ داسے نهٔ چه غلے به ناست وی۔ او ګواهی به هله ورکوی چه انسان خو مخکښې دین بیان کړے وی۔

نو لازم دی چه دا امت خپل قدر او مرتبه اُوپیژنی او شرافت او حیثیت خپل محفوظ اُوساتی۔

﴿ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ﴾ (۱) د نبی ﷺ شهادت یو په معنیٰ د دین بیانولو سره دے چه هغه امت ته دین رسولے دے۔ او امت به ئے نورو ته رسوی۔ (۲) دویم : [شَهِيْدًا بِالْبَلاَغِ]

(چه نبی به وائی :ما خلقو ته دین بیان کړے وو) ...... (جلالینؔ)۔

۳- شهیـد کـلـه پـه مـعـنیٰ د تزکیه کونکی سره۔ کله چه قیامت کښې اُمت ګواهی اُوکړی، نو نبی ﷺ به د هغوی تزکیه بیان کړی۔ لکه صحیح حدیث کښې دی۔ نو عَلَيْكُمْ په معنیٰ د لَكُمْ سره دے۔

او د شهيد معنیٰ دا نهٔ ده لکه بعض خلق وائي : حاضر ناظر به وي۔
دا د متشابهاتو تابعداري ده ځکه چه بيا خو به دا اُمت هم حاضر ناظر وي، دوی ته هم شهداء وئيل شويدي۔

﴿ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَا ﴾ (جعل په معنى د مقررولو سره دے) په دے جمله کښ د قبلے د بدلولو حکمت ذکر دے چه هغه امتحان د خلقو دے، چه مونږ ستا قبله بدله کړه دے دپاره چه خلقو ته معلومه او راښکاره شي چه څوك د رسول الله ﷺ اتباع کوي، او څوك د دين نه اوړي، او څوك په پيغمبر اعتراضونه کوي، ځکه اُوس د بيت المقدس په ځائے کعبے ته متوجه کيدل د صادقانو مؤمنانو نه ماسِویٰ په کفارو او منافقانو باندے ډيره گرانه پريوزي۔ لکه همدغه شان اُوشو چه پدے امتحان کښ ډير خلق ناکام شو۔

امام بغويؒ ليکي : د قبلے په بدليدو سره ډير مسلمانان مرتد شو او يهوديت طرف ته واوړيدل او دائے اُووئيل محمد (ﷺ) د خپل پلارانو دين ته واوړيدو۔ (بغويؒ)

او ډيرو منافقانو د پيغمبر بے ادبي شروع کړه چه مونږ اَړوي راړوي۔ او بعض مؤمنانو ته دا وسوسه راغله چه ډيرو خلقو خو بيت المقدس ته مونځونه کړيدي، او هغه اُوس وفات شويدي نو آيا د هغوی مونځونه به برباد وي۔ نو روستو جمله نازله شوه۔ او داسے امتحانات کله نا کله الله راولي، مخلصين او غير مخلصين راښکاره کوي۔

(كُنْتَ عَلَيْهَا) دا په معنیٰ د [اَنْتَ الْآنَ عَلَيْهَا] سره دے يعنى چه تهٔ پرے اُوس موجود ئے۔ او يا بيت المقدس مراد دے كُنْتَ عَلَيْهَا اَیْ بَيْتِ الْمُقَدِّسِ۔

﴿ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ ﴾ الله تعالیٰ ته خو معلومات شته ليکن خلقو ته ئے راښکاره کوي۔ د علم په صله کښ چه کله (مَنْ) کلمه راشي نو هلته په معنیٰ د راښکاره کولو او جدا کولو سره وي۔ يعنى [لِنُظْهِرَ وَلِنُمَيِّزَ] (دے دپاره چه مونږ راښکاره کړو يقين والا د شکيانو نه) (قرطبيؒ، ماورديؒ)۔ يعني چه خلقو ته پته اُولگي چه دا سړے د الله تعالیٰ د رسول تابعدار دے او دا نهٔ دے، هسے د خواهشاتو پسے روان دے۔ يا شکي دے۔ د پيغمبر تابعداري ديته وائي چه تهٔ به د هغه خبره منے، که ستا عقل ئے مني او که نهٔ ئے مني، که ستا د رواج او عادت برابره وي او که نهٔ وي، دهغه خبره به منے۔

ابن جريرؒ او قرطبيؒ (۱٥٦/۲) وائي : د عربو عادت دے چه د کشرانو د عمل نسبت مشرانو ته کوي نو دلته (لِنَعْلَمَ) معنیٰ ده [لِيَعْلَمَ رَسُوْلِيْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ]

(چه زما رسول او مؤمنانو ته پته اُولگي)۔

لکه يو حديث قدسي کښې دي :[يَا ابْنَ آدَمَ! مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِيْ] (اے د آدم ځويه! زهٔ مريض شوے وم تا زما عيادت ندے کړے)۔(رواه مسلم) نو د بنده مرض ئے ځان ته منسوب کړو۔

(۳) (اِلَّا لِنَعْلَمَ) په معنیٰ د لِنَخْتَبِرَ سره دے۔ يعنی چه مونږ امتحان اُوکړو۔ او دا تاويلات ولے کيږي؟ ځکه چه د مسلمانانو اتفاق دے چه الله تعالیٰ په هر شي، په ماکان او مايکون تهلو باندے عِلم لري۔ دويم : د عربيت د محاورے مطابق لفظ دلته استعمال دے او هغه دغه معانی لري۔

﴿يَنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ﴾ په پوندو باندے اَوړيدل، د خپل دين نه د مرتد کيدو نه کنايه ده۔[اَیْ يَرْجِعُ عَنْ دِيْنِهٖ] (ابن جرير) يعنی څوك د دين نه اوړي)۔ ځکه چه څوك په پوندو اَوړي نو هغه خپلے مخے ته مزل پريدی۔ هرکله چه دوی ايمان او دلائل پريخودل نو داسے شو لکه چه په شا باندے راغلی وی۔ يا د جنت لاره ئے پريخودهٔ او بيرته ګمراهئ طرف ته راواپس شو۔

﴿وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً﴾ پدے جمله کښې الله تعالیٰ د قبلے د بدلولو مسئلے عظمت بيانوی چه قبله بدلول ګران کار دے ځکه چه رواج او عادت بدلول ګران وی مګرچا ته چه الله تعالیٰ هدايت کړے وی او په دين ئے مضبوط کړے وی، نو هغه ته د نبی تابعداری آسانه وی۔

(اِنْ) په معنیٰ د قَدْ سره دے۔ او کَبِيْرَةً په معنیٰ د (ثَقِيْلَةً) سره دے۔ (يعنی خامخا د قبلے مسئله ډيره ګرانه وه)۔ او كَانَتْ کښې ضمير خبرے ته هم راجع کيږي يعنی دا خبره ګرانه وه۔

﴿اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللهُ﴾ ۱- مګر په هغه کسانو آسانه ده چه الله تعالیٰ ورته هدايت کړے وی يعنی زړهٔ ئے ورله په تصديق د رسول باندے مضبوط کړے وی او شکيان نهٔ وی۔

۲- يا [هَدَى اللهُ اِلٰى سِرِّ الْاَحْكَامِ الشَّرْعِيَّةِ الْمَبْنِيَّةِ عَلَى الْحِكَمِ وَالْمَصَالِحِ اِجْمَالاً اَوْتَفْصِيْلاً] (يا هغه کسان چه الله تعالیٰ ورته د احکامِ شرعيه ؤ رازونه اجمالًا يا تفصيلًا خودلی وی چه الله پدے کښې ډير حکمتونه لري۔ چه کله يو حکم کوی او کله بل حکم۔ (روح المعانی)۔

﴿وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ﴾

بعض خلقو اعتراض اُوکړو (او دا اعتراض کونکی يا يهوديان وو او منافقان ورسره ملګری وو، يا د مسلمانانو شك پيدا شوے وو) حُيَيُّ بن اَخْطَبُ يهودی او د هغه ملګرو مسلمانانو ته اُوويل : چه مونږ ته خبر راکړئ تاسو اُوسه پورے بيت المقدس ته مونځونه کړی، که دا هدايت وو نو تاسو خو ترے واوړيدئ، او که دا ګمراهی وه نو تاسو خو د الله تعالیٰ عبادت په ګمراهئ سره اُوکړو، او تاسو نه چه څوك مړهٔ شوی دی نو هغوی خو په ګمراهئ مړهٔ شويدی۔ (بغوی)۔

دارنګه د مسلمانانو په زړونو کښې هم دا وسوسے پيدا شوے چه دا اُولس (۱۷) مياشتے مونږه بيت المقدس ته مونځ اُوکړو، هغه به ضائع او برباد وی ؟۔ دارنګه کوم کسان چه پدے موده کښې

وفات شویدی د هغوی مونځونه به برباد وی ؟ (چه پدې موده کښې تقریباً لس کسان وفات شوی ووـیو پکښې شهید شوے وو) لکه اُوس هم ډیر خلق داسے اعتراض کوی چه هرکله چه دا حق ما اُومنلو نو هغه پنځوس کاله مونځونه چه ما کړیدی هغه به برباد وی ؟ نو الله تعالیٰ ددے جواب کوی او مسلمانانو ته اطمینان ورکوی چه الله ستاسو مونځونه نهٔ بربادوی ځکه چه هغه مونځونه تاسو د الله تعالیٰ د حکم مطابق کړی وو او اُوس ئے هم د الله تعالیٰ د حکم مطابق کوئ. مخکښې هغه حق وو اُوس دا حق دے. نو هریو په خپل خپل وخت کښې هدایت وو. دغه شان که یو انسان مخکښې نه په ناخبرئ سره یو عمل کوی او بیا په سنت طریقه پو هه شی، نو الله تعالیٰ د هغه زاړهٔ اعمال نهٔ بربادوی ځکه چه دهٔ ته هغه دین ښکاره کیدو. دا مجتهد مُخطی وو. الله تعالیٰ په بندګانو شفقت کونکے رحم کونکے دے.

﴿ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ﴾ ۱- یعنی چه برباد کړی مونځونه ستاسو کوم چه تاسو بیت المقدس (اولے قبلے) ته کړیدی.د صلاة په ځائے ایمان ذکر کړو ځکه چه دغه مونځونه د ایمان په سبب شوی وو. ۲- یا الله تعالیٰ ستاسو ایمان نهٔ ضائع کوی.

فائده : د ایمان نه مراد دلته مونځ دے چه په حالت د ایمان کښې تاسو کړیدے.او دا دلیل دے چه مونځ د ایمان جزء دے، او په ایمان کښې داخل دے لکه دا د عامو محدثینو مذهب دے چه اعمال په ایمان کښې داخل دی. نو دلته ذکر د کل دے مراد ترے نه اَهَم جزء دے. او اشاره ده چه دا مونځونه تاسو د ایمان په حالت کښې کړیدی نو ځکه به برباد نهٔ وی. ځکه چه مونځونه دوه قسمه دی یو هغه مونځ دے چه د نفاق سره وی نو هغه خو برباد دے، او دویم هغه دے چه د ایمان سره وی نو دا الله تعالیٰ نهٔ بربادوی.

﴿ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ اُوس دلیل بیانوی چه الله تعالیٰ ستاسو مونځونه ځکه نهٔ ضائع کوی چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو ډیر شفقت والا او رحم کونکے دے.

د الله د رحمت مثال حدیث کښې داسے راغلے دے چه رسول الله ﷺ یوه ښځه د قیدیانو نه اُولیده (غالباً دا په غزوهٔ حنین کښې نیولے شوے وه) چه د هغے او د هغے د بچی ترمینځ جدائی راوستلے شوے وه نو دا پسے دومره خفه وه چه کله به ئے یو ماشوم په قیدیانو کښې اُولیدو، هغه به ئے راواخستو او سینے سره به ئے یو ځائے کړو او خپل بچی پسے ګرځیدله خو کله ئے چه خپل بچے موندهٔ کړو نو ځان سره ئے یو ځائے کړو او خپله سینه ئے ورکړه نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

[اَتُرَوْنَ هٰذِهٖ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ؟]

(ستاسو څه خیال دے چه دا به خپل بچے اُور ته ګوزار کړی ؟)

کله چه دا پدې قادره هم ده چه اُور ته ئې گوزار نکړی؟ صحابه کرامو عرض اُوکړو: نهٔ، اې د الله رسوله! نو نبی ﷺ اُوفرمایل: [فَوَا اللهِ، لَلّٰهُ اَرْحَمُ بِعِبَادِهٖ مِنْ هٰذِهٖ بِوَلَدِهَا] (بخاری: ۵۹۹۹) مسلم (۲۷۵٤) (قسم په الله، الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې ددې زنانه نه په بچی باندې ډیر مهربان دې).

د رأفت او رحمت فرقونه

۱- رأفت د ضرر دفع کولو دپاره استعمالیږی، او رحمت د فائدې راخکلو دپاره.

۲- او رأفت په خاص بندګانو رحم دې او رحمت په عامو بندګانو دې. پدې وجه ئې رأفت مقدم کړو.

۳- بل: رحمة په هغه وخت کښې وی چه په بنده کښې یو حالت پیدا شی چه هغه حاجت او ضعف د هغهٔ دې، او رأفة په هغه وخت کښې استعمالیږی چه په فاعل (کونکی د رحمت) کښې یوه معنیٰ یعنی په مرحوم (بنده) باندې شفقت پیدا شی. نو په رأفت کښې بنده ته د احسان د رسولو پوره او کامله جذبه وی. او په رحمة کښې د بنده احسان او نعمت ته پوره حاجت وی. (یعنی کله چه الله تعالیٰ بنده ته د خیر رسولو پوره او کامله اراده کړی وی نو دې ته رأفت وائی. او کله چه بنده کښې د الله تعالیٰ نعمت ته پوره حاجت وی او په دهٔ باندې په دغه وخت کښې کوم نعمت اُوشی نو دې ته رحمت وائی نو رأفت تعلق د احسان کونکی سره او د رحمة تعلق د بنده سره دې). او د یو کار په موجودولو کښې د فاعل د حال تاثیر ډیر قوی وی د حاجت د مفعول (یعنی بنده) نه هغه کار ته نو پدې وجه رأفت مقدم شو چه دا د رحمة نه ډیر قوی دې. [تفسیر ابن عرفة ۱/۱۸۳]

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِى السَّمَآءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً
یقیناً مونږه وینو بیا بیا اوړیدل د مخ ستا آسمان طرف ته، نو خامخا مونږ اړوو تا داسې قبلې (کعبې) ته
تَرْضٰهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ
چه تهٔ خوښوې هغې لره. نو واړه وه مخ خپل په طرف د مسجد حرام او چرته چه یئ تاسو، نو واړوئ مخونه خپل
شَطْرَهٗ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ
په طرف د هغې او یقیناً هغه کسان چه ورکړې شوې دې هغوی ته کتاب خامخا پوهیږی چه دا (قبله اړول)
الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱٤٤﴾
حق دی د طرف د رب د دوی نه او نهٔ دې الله بې خبره د هغه عملونو نه چه دوی ئې کوی.

تفسیر : ۱- دا آیتونه خو هغه وخت کښې نازل وو چه قبله بدله شوے وه۔ اُوس هغه حالت بیانوی چه قبله لا بدله شوے نهٔ وه۔ نو دا آیت اګرچه د تلاوت په اعتبار روستو دے لیکن د معنیٰ په اعتبار مخکښې دے۔ (قاسمیؒ) ځکه رسول الله ﷺ چه کله مدینے طیبے ته هجرت اُوکړو نو د الله تعالیٰ د حکم مطابق به ئے بیت المقدس طرف ته مونځونه کول او زړهٔ کښې به ئے دا غوختل چه دا قبله الله رب العزت بیت الله طرف ته راواړوی نو ښهٔ به وی ځکه چه دا بهترینه قبله ده۔ نو ادباً مع الله (یعنی د الله سره د ادب د وجه نه) به ئے بَره بَره کتل چه وحی به کله راځی او په خولے به ئے څه نهٔ وئیل۔ او جبرئیل علیه السلام ته ئے هم وئیلی وو چه زما قبله بدله شی ښهٔ به وی، هغه ورته اُووئیل : زما اختیار نشته، ته دعا اُوغواړه خو نبی ﷺ د ادب د وجه نه دعا نهٔ غوختله، لیکن د وحی په انتظار کښې وو۔ نو الله تعالیٰ دا آیت راولیږلو۔او د هغه تَمَنّی او آرزو ئے پوره کړه۔

۲- پدے کښې زمونږ بعض مشائخو وئیلی دی چه نبی علیه السلام په ظاهره کښې دا خوښوله چه زما قبله دے همیشه دپاره بیت المقدس وی، او بَره بَره ئے کتل چه وحی راشی او ددے په همیشوالی حکم اُوکړی، دے دپاره چه د یهودیانو سره اتفاق راشی او انتشار پیدا نهٔ شی اګرکه په زړهٔ کښې ئے کعبه خوښه وه۔ او دلیل دا وائی چه پدے آیت کښې تَقَلُّب لفظ راغلے دے یعنی په تکلف سره ئے بره بره کتل یعنی په زړهٔ کښې ئے بیت المقدس خوښ نهٔ وو۔ لیکن په تکلف سره به ئے غوختل چه بیت المقدس همیشه شی۔ دویم دا چه تَرْضَاهَا فعل مستقبل دے یعنی فی الحال کعبے ته مخ واړوه او روستو به پرے رضا شے۔ (قاله شیخ مشائخنا حسین علی فی بُلْغَةِ الْحَیْرَان)

لیکن دا تفسیر صحیح نهٔ دے ځکه چه د صحیح بخاری د حدیث خلاف دے چه نبی علیه السلام کعبے ته متوجه کیدل خوښول۔ [وَكَانَ يُحِبُّ اَنْ يُّوَجَّهَ اِلَى الْكَعْبَةِ] دارنګه د نبی کریم علیه السلام د شان نه دا لرے ده چه هغه په زړهٔ کښې یو څیز خوښ کړی او په ظاهره کښې بل۔ او تَرْضَاهَا فعل مضارع ده خو د حال او استقبال دواړو دپاره راځی نو دلته په معنیٰ د حال ده او کله په معنیٰ د ماضی سره هم راځی۔ او تقلب کښې د تکرار او کثرت معنیٰ ده، نهٔ د تکلف۔ نو دا تفسیر د جمهورو مفسرینو د تفسیر او د صحیح حدیث خلاف دے لهذا دا تفسیر کول جائز نهٔ دی۔

بیا پدے آیت کښې یو څو جملے دی ټولے د قبلے د تحویل متعلق دی۔ په اوله جمله کښې نبی ﷺ ته تسلی ده چه مونږ ستا حالت اُولیدو، خفه کیږه مهٔ۔

﴿قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِى السَّمَآءِ﴾ (تَقَلُّبَ) باربار مخ اَوړیدو ته وائی، او دا دلیل دے چه الله تعالیٰ د ذات په اعتبار سره بَره دے۔ (قَدْ) د الله تعالیٰ په صفاتو کښې د تحقیق دپاره وی۔ او د انسانانو په صفاتو کښې د تقلیل دپاره هم راځی۔ (فِى السَّمَآءِ) نه مراد جهت د علو (یعنی بره طرف) دے۔

فوائد الآية

١- د الله تعالیٰ سره د رسول الله ﷺ ادب پکښې ذکر دے چه په خوله څه نهٔ وائی۔
٢- د الله تعالیٰ د عِلم عُموم معلوم شو چه د هرڅهٔ نه خبر دار دے۔
٣- د الله تعالیٰ د قدرت معلومولو دپاره آسمان ته په ښائسته طريقه کتل بهتر عمل دے۔ او دا بے ادبی نهٔ ده لکه بعض صوفياؤ وئيلی دی چه آسمان ته کتل بے ادبی ده، او د الله تعالیٰ نه د حياء خلاف ده۔ د زکريا صاحب په فضائل اعمال او فضائل صدقات کښې ډيرے داسے قيصے شته چه په هغے کښې د آسمان ته نهٔ کتل ئے صفت شمارلے دے۔ وائی چه سری سقطی صاحب اته نوی کاله آسمان ته نهٔ وو کتلی مگر په هغه ورځ چه وفات کيدو نو آسمان ته ئے اُوکتل۔ دا خبره يا مبالغه ده، اوکه هغوی داسے کړی وی، نو دا د هغوی خپل ذهنی دين دے، بلکه آسمان ته په کتلو کښې د الله تعالیٰ قدرت معلومول او د هغهٔ سره محبت پيدا کول ښهٔ کار دے۔
او ددے باندے امر راغلے دے ﴿ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْا اِلَى السَّمَاءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَاهَا ﴾ (ق:٦)
(ايا دوی آسمان ته نهٔ گوری چه د دوی نه بره دے چه مونږ څنگه جوړ کړيدے)۔
٤- د الله دپاره جهت شته چه هغه بره طرف دے او پدے کښې هيڅ هغه نقصان نشته کوم چه فلاسفه او معتزله او متکلمين نفی کوی۔
﴿ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ﴾ پدے جمله کښې ورسره وعده او پيشينگوئی ده چه ستا قبله به بدله کړم۔
﴿ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾ دا فاء د تعقيب (يعنی روستو والی) دپاره ده ځکه چه دا حکم لږه زمانه روستو راغلے وو۔ مجاهدؒ فرمائی: دا حکم د بنی سلمه ؤپه مسجد کښې نازل شوے وو چه رسول الله ﷺ د ماسپښين په مانځه ولاړ وو، وحی راغله (او انبياؤ ته په مانځه کښې هم وحی کيږی) نو رسول الله ﷺ او مقتديان په مانځه کښې کعبے طرف ته راواوړيدل پدے وجه دغه مسجد ته مسجد القبلتين وائی۔ چه يو مونځ دواړو قبلو ته شوے وو۔ او په مسجد نبوی کښې اول د مازيگر مونځ بيت الله طرف ته اُوشو، نو په يو لحاظ سره اول مونځ ماسپښين دے ځکه نيم مونځ وو او په بل لحاظ سره د مازيگر مونځ دے ځکه چه پوره مونځ کعبے طرف ته اُوشو۔ نو پدے سره د صحيحينو د روايت چه اول مونځ د مازيگر مونځ وو او د نسائی روايت چه اول مونځ د ماسپښين مونځ وو، تطبيق راغلو۔
او دا خبر مسجد قباء ته په سحر مانځه کښې اُورسيدو۔ ابن عمرؓ فرمائی: خلق په مسجد قباء کښې په سحر مانځه ولاړ وو چه يو تن راغلو او دا ئے اُووئيل: بيگاه شپه په رسول الله ﷺ قرآن

(یعنی وحی) نازله شویده او هغه ته امر شویدے چه کعبے ته مخ واړوی۔ او د هغوی مخونه شام طرف ته وو نو (په مانځه کښې) کعبے ته واوړیدل۔ (بخاری ومسلم)۔

او د قبلے دا بدلیدل د رجب په میاشت کښې د یوم الاثنین په ورځ د ماسپښین په وخت کښې د جنګ بدر نه دوه میاشتے مخکښې او د هجرت نه اُولس میاشتے روستو واقع شوی وو۔

﴿ فَوَلِّ ﴾ دا امر نبی ﷺ ته دے او پدے امر سره د بیت المقدس قبله کیدل منسوخ شول۔

(شطر) د شطر ډیرے معنے دی، دلته ئے د طرف معنیٰ ده۔

امام قرطبیؒ لیکی : د اهل علمو پدے اتفاق دے چه په هر وطن او هر طرف کښې قبله صرف کعبه ده او څوك چه هلته حاضر وی او په سترګو ئے وینی، نو په هغه باندے عین کعبے ته مخ کول فرض دی او څوك چه د هغے نه غائب وی نو هغوی به مسجد حرام ته متوجه کیږی او د بهر دنیا خلق به ټول حرم ته متوجه کیږی۔ او دا خبره په یو مرفوع حدیث د ابن عباسؓ کښې هم راغلے ده۔ او د مسجد حرام اطلاق کله په عین مسجد کیږی او کله په ټول حرم هم کیږی۔ چه منیٰ، مزدلفه او تر تنعیم پورے علاقے پکښې داخلے دی۔

فائده : د (استقبال الی القبله) یعنی قبلے ته د مخ اړولو ډیر حکمتونه دی :

(۱) پدے سره د امت وحدت پیدا کیږی۔ (۲) تَوَجُّهُ الْقَلْبِ۔ د زړهٔ توجه برابریږی۔

(۳) تَعْظِیْمُ الْبُقْعَةِ الْمُقَدَّسَةِ. د پاکے زمکے تعظیم او قدر کول۔

(٤) جَمْعِیَّةُ الْقَلْبِ عَلَى اللهِ. په الله باندے زړهٔ راجمع کیدل۔

(٥) اِمْتِثَالُ اَمْرِ اللهِ تَعَالٰی۔ د الله تعالیٰ په امر باندے عمل کول۔

(٦) تَمْیِیْزُ الْمُسْلِمِیْنَ عَنْ غَیْرِهِمْ. پدے سره مسلمانان د غیر مسلمو نه جدا کیږی۔

(۷) کعبه کښې هدایت دے۔

(۸) زیادة الاجر دے۔

(۹) اتمام نعمت۔ د نعمت پوره کول دی۔ دغسے نور ډیر فوائد شته۔

﴿ وَحَیْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ﴾

پدے کښې ټول امت ته په هر مکان کښې د قبلے د حکم تعمیم دے، کور وی که مسجد، دریاب وی که اُوچه، مشرق وی که مغرب، سفر وی او که حضر۔

﴿ وَاِنَّ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ ﴾ پدے جمله کښې د قبلے د تحویل جواب ذکر کوی چه دے یهود او نصاراؤ ته د خپلو کتابونو نه معلومه ده چه دا آخری نبی به اول بیت المقدس او بیا کعبے ته مخ ګرځوی۔ بیا هسے د ضد نه اعتراضونه کوی او حق پټوی۔

﴿ اَنَّهُ الْحَقُّ ﴾ یعنی دا قبله بدلیدل یا دا نبی او ددهٔ صدق او حقانیت د دوی په کتابونو کښې موجود وو۔ اول قول غوره دے۔

﴿ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا یَعْمَلُوْنَ ﴾ اُوس دوی ته یره بیانوی چه دوی کوم حق پټوی الله تعالیٰ ته پته ده، ددے سزا به ورکوی۔ د الله تعالیٰ نه خلاصیدے نهٔ شی۔

اوس الله رب العزت د دوی عناد بیانوی چه دا داسے عناد کر دی چه خپل مینځ کښې هم موافق نهٔ دی:

وَلَئِنْ اَتَیْتَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ بِکُلِّ اٰیَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ
او که چرته تهٔ راوړے هغه کسانو ته چه کتاب ورکړے شوے دے هره یوه نخه۔ تابعداری نهٔ کوی ستا د قبلے
وَمَآ اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ
او نهٔ یے تهٔ تابعداری کونکے د هغوی د قبلے۔ او نهٔ دی بعض د دوی تابعداری کونکی د قبلے د بعضو،
وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَ هُمْ مِّنْ بَعْدِ مَا جَآءَ كَ
او که چرته تهٔ روان شوے د هغوی د خواهشاتو پسے پس د هغے نه چه راغے تا ته
مِنَ الْعِلْمِ اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۴۵﴾
علم (پوهه د قرآن) یقیناً تهٔ به په دغه وخت کښې خامخا د ظالمانو نه شے۔

تفسیر: پدے آیت کښې د یهودیانو د عناد او ضد بیان دے په دوه طریقو سره:

(۱) یو دا چه که تهٔ دوی ته په خپل حقانیت او د قبلے په حقانیت هر څومره معجزات راوړے، او د دوی د شبهانو ازاله هم اُوشی بیا هم عناد کوی او ستا خبره نهٔ منی۔

(۲) دویم دا چه خپل مینځ کښې یے هم اختلاف دے، د یو بل حق نهٔ منی۔ حال دا چه د دواړو تعلق د بنی اسرائیلو سره دے۔ او په خپله خپله رائے سخت کلك ولاړ دی۔ نو د دوی دین د خواهشاتو پسے روانیدل دی، نو پدے کښې الله تعالیٰ خپل نبی ته دا خبر ورکوی چه که تهٔ هر څومره کوشش اُوکړے خو دوی حق منلو ته تیار نهٔ دی، نو د دوی نه د خیر توقع مهٔ کوه او د دوی د هدایت امید مهٔ ساته۔ او تابعداری یے مهٔ کوه، ضدیان دی خپل کار به کوی۔

﴿ بِکُلِّ اٰیَةٍ ﴾ یعنی هر قسم دلیل او معجزه۔ په حقانیت ددے قبلے۔

﴿ مَا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ﴾ (لِعِنَادِهِمْ) دوی ستا د قبلے تابعداری د عناد او د ضد په وجه نکوی)

بحث په قبله کښې وو ځکه ئې دا ذکر کړه، ورنه ټول دين اسلام مراد دے۔ تا پسې نهٔ راځي ځکه چه ضديان دی او چه سړے ضدی شی نو هغه به څهٔ دليل اُومنی۔ او هرکله چه انسان ضدی شو، نو د هغه د شبهې او اعتراض هيڅ اهميت پاتے نشی۔

﴿وَمَا اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ﴾ يعنی تهٔ هم د هغوی د قبلے تابعدار نهٔ ئے۔

۱- دا نفی په معنیٰ د نهی ده، يعنی تابعداری ئے مهٔ کوه۔او طمع ترے مهٔ ساته۔ او هرچه مونږه يو نو مونږه دا قبله د ضد د وجه نه نهٔ پريدو، بلکه د الله تعالیٰ د حکم د وجه نه ئے پريدو ځکه هغوی په غلطه روان دی۔ يو باطل پرست انسان حق نهٔ منی نو حق پرست به څنګهٔ د هغه سره باطل اُومنی۔ پکار خو دا ده چه حق پرست د باطل پرست په نسبت په خپل حق دين ډير مضبوط شی۔او جمله خبريه ئے ذکر کړه پدے کښې د نبی کريم ﷺ عظمتِ شان دے چه الله فرمائی، زما نبی داسے ضعيف الايمان شخص نهٔ دے چه تاسو به ئے په يوه شبهه دوه شبهو سره، او په دهمکيانو سره د خپل دين نه واړوئ۔ يعنی د نبی (او مؤمن بنده) د شان سره دا مناسب نهٔ دی چه هغه د دوی د قبله پسے روان شی۔

۲- يا دا خبر په خپله معنیٰ دے نو پدے کښې الله تعالیٰ يهودو او نصاراؤ ته خبر ورکوی چه زما نبی نه اميد مهٔ ساتئ چه دا به ستاسو قبله (او دين) قبول کړی، بلکه زما نبی په خپل دين او قبله مضبوط دے۔ (ابن کثيرؒ)

فوائد : (۱) ...... امام راغبؒ فرمائی : الله تعالیٰ څنګه خبر ورکړو چه اهل کتاب د نبی ﷺ د قبلے تابعداری نهٔ کوی حال دا چه د دوی نه خو څه کسانو ايمان هم راوړيدے ؟

جواب دا دے چه دا د ټولو په باره کښې دے، نهٔ د بعضو په باره کښې۔ يعنی ټول او اکثر اهل کتاب ايمان نهٔ راوړی، په اکثرو کښې ضد او عناد دے او لږ د دوی نه بهر دی۔

(۲) ......وَمَا اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ) کښې اشاره ده چه څوك الله تعالیٰ په لائق پيژندګلیٔ سره اُوپيژنی نو دا محاله او نا ممکن ده چه هغه مرتد شی او دين پريدی۔ پدے وجه دا مقوله مشهوره ده : [مَا رَجَعَ مَنْ رَجَعَ اِلَّا مِنَ الطَّرِيْقِ] (يعنی څوك چه د دين او ايمان نه ګرزيدلے دے نو هغه د لارے نه ګرزيدلے دے او ايمان لا د هغه زړهٔ ته په صحيح طريقه نهٔ دے رسيدلے ځکه ګرزيدلے دے)۔او کوم خلق چه د دين نه مرتد کيږی نو هغوی په يقينی طريقے سره د ايمان او د دين خوند نهٔ وی څکلے، هسے د موافقت د وجه نه ملګرے شوے وی۔ مثال ئے داسے دے لکه يو سپرغیٔ چه لا بله شوی نهٔ وی او مړهٔ شی۔ (راغبؒ، قاسمیؒ)

﴿وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ﴾ ځکه نصاریٰ بيت الشرق ته (چه د عيسیٰ عليه السلام د ولادت ځائے

دے) مونځ کوی، د یهودو خلاف دی، او یهود بیت اللحم او صخره د بیت المقدس ته مونځ کوی د نصاراؤ خلاف دی۔

ابن جریرؒ د ابو العالیهؒ نه نقل کړیدی چه د موسیٰ علیه السلام قبله صخره نهٔ وه بلکه هغه به د صخرے په خوا کښې ولاړ وو او کعبے طرف ته به ئے مخ کولو۔

آیا بیت المقدس د انبیاؤ قبله وه؟

پدے کښې د علماؤ اختلاف دے چه آیا بیت المقدس د انبیاؤ قبله وه که نهٔ وه؟ دوه رائے دی۔ عام مفسرین وائی: د ابراهیم علیه السلام د زمانے نه روستو د ټولو انبیاؤ علیهم السلام قبله کعبه وه او صرف زمونږ د نبی ﷺ دپاره ئے بیت المقدس شپاړس یا اُوولس میاشتے قبله ګرزولے وه۔ او بعض مفسرین وائی چه د بنی اسرائیلو د انبیاؤ قبله بیت المقدس وه۔ نو ددے نه معلومیږی چه د یهود او نصاراؤ قبلے (بیت اللحم او بیت الشرق) مبتدع (د ځان نه ایجاد شوے) وے۔

حافظ ابن القیمؒ په (بدائع الفوائد) کښې لیکی: د اهل کتابو قبله د الله تعالیٰ په وحی او توقیف سره نهٔ وه، بلکه دا د هغوی په مشوره او اجتهاد جوړه شوے وه۔ هرچه نصاریٰ دی نو دا خبره یقینی ثابته ده چه الله تعالیٰ دوی ته نهٔ په انجیل کښې او نهٔ په بل کوم کتاب کښې دا حکم کړے وو چه دوی مشرق طرف ته مخ اُوګرزوی، بلکه دوی خپله هم دا اقرار کوی چه د مسیح قبله بعینهٖ د عامو بنی اسرائیلو قبله وه چه هغه صخره ده۔ بلکه دوی له د دوی اشیاخو او مشرانو دا قبله جوړه کړے وه۔ دوی او یهودیان متفق دی چه الله تعالیٰ بیت المقدس طرف ته مخ ګرزول په یو رسول باندے هم هیڅکله نهٔ دی مشروع کړی۔ او مسلمانان هم پدے ګواه دی۔ او هرچه یهودیان دی نو په تورات کښې دا امر نشته چه خامخا به صخرے ته مخ ګرزوی بلکه دوی چه به بهر وتل نو تابوت به ئے اُودرولو او هغے طرف ته به ئے مونځونه کول او کله چه به خپل ځائے ته واپس راغلل نو دا به ئے په صخره باندے کیخودو او هغے طرف ته به ئے مونځ کولو نو کله چه تابوت د دوی نه پورته شو، بیا به ئے د تابوت د کیخودو ځائے ته مونځ کولو چه هغه صخره وه۔ انتهیٰ۔ [محاسن التاویل للقاسمی ۱/۳۹۹۱]

که څوك اُووائی چه خیر دے هسے د موافقت دپاره به ورسره ملګرے شوے وے، اَمن وامان به راغلے وے او اختلاف به نهٔ وے پیدا شوے۔ معاشره به جوړه شوے وے۔ نو الله تعالیٰ فرمائی:

﴿وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ﴾ کله چه تا ته دا علم راغلو چه دوی په باطله دی، او زهٔ په حقه یم او بیا هم د هغوی تابعداری اختیار کړے، نو ظالمانو کښې به حساب شے، او هغه ظلم بعینهٖ کفر دے۔ یعنی کافر به شے اے انسانه! که چرته د هغوی قبلے ته ور واوړیدلے۔ دا خطاب نبی ته دے مراد ترے نه

امت دیے ځکه د الله تعالیٰ نبی هغوی ته ذره برابر هم نهٔ مائل کیدو۔ پدیے کښ امت ته تعریض دیے۔ چه هر کله الله تعالیٰ خپل پاك نبی هغوی ته په میلان سره ظالم جوړوی، نو امتی خو به پدیے عمل سره خامخا په ظالمانو کښ داخلیږی۔ نو پدیے کښ زیاته یره ورکول دی د هغوی د تابعداریٔ نه، او ډیر سخت حال بیانول دی د هغه چا چه د دلیل د ښکاره کیدو نه روستو هغه پریدی، او د خواهش پسے روانیږی چه دا به د ظالمانو په ډله کښ داخلیږی۔ او پدیے کښ په حق باندیے د مضبوط پاتے کیدو زیات تاکید دیے۔ (زمخشری، قاسمیؒ)۔

﴿ اَهْوَآئَهُمْ﴾ دا هواء نه مراد د دوی قبلے دی، او د دوی قبلے ته ئے خواهشات ځکه اُووئیل چه هر کله الله تعالیٰ نبی ته حکم اُوکړو چه کعبے ته متوجه شی، نو دوی باندیے هم دا لازمه وه، لیکن هر کله چه دوی د کعبے نه سِویٰ په بله قبله پاتے کیږی، نو دا به د دوی خواهش وی (او د شرعی دلیل خلاف به وی)۔ (زبدة التفسير ۱/۲۲)

﴿ مِنَ الْعِلْمِ ﴾ پدیے کښ د علم لوئی شان ذکر دیے ځکه چه الله تعالیٰ معجزاتو او دلائلو او نبوی کارونو ته عِلم اُووئیلو، معلومه شوه چه عِلم په ټول مخلوق کښ د شرافت او مرتبے په لحاظ اُوچت شے دیے۔ ۲- دا آیت دلیل دیے چه علماؤ ته د عوامو په نسبت وعید زیات متوجه وی لکه دا د (مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ) نه معلومیږی۔ (رازیؒ)

﴿ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ ددیے نه لوئی ظلم به بل کوم وی چه انسان حق او باطل اُوپیژنی او بیا باطل لره په حق باندیے غوره کوی ؟ !۔

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ
هغه کسان چه مونږ ورکړیے هغوی له کتاب، پیژنی (حقانیت) ددیے پیغمبر (یا د قبلے) لکه څنګه چه پیژنی
اَبْنَآءَهُمْ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱٤٦﴾
خپل ځامن او یقیناً یوه ډله د دوی نه خامخا پټوی حق لره حال دا چه دوی پو هیږی۔

تفسیر: اُوس د نیکانو اهل کتابو نه دلیل راوړی چه ګوره دا خبره نیکان اهل کتاب هم پیژنی، چه دا نبی (ﷺ) او مسئله د قبلے حقه ده، او پدیے باندیے اقرار هم کوی، لیکن دا ضدیان ئے نهٔ منی۔ یعنی اهل کتاب د رسول الله ﷺ په رسول کیدو باندیے داسے یقین لری لکه څنګه چه د خپلو اولادو په باره کښ یقین لری چه دا زمونږ اولاد دی۔ ځکه چه په تورات او انجیل کښ د نبی ﷺ صفات موجود وو لکه الله تعالیٰ په سورة اعراف (۱۵۷) کښ فرمایلی دی : ﴿ يَجِدُوْنَهٗ

مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ ﴾ (یعنی دوی دا رسول (او دهٔ صفات) په تورات او انجیل کښ لیکلې شوی موندهٔ کوی)

لیکن د اهل کتابو یوه ډله د حق پیژندلو سره سره هغه پټوی۔

نو د کور نه ورته دلیل بیانوی :

﴿ اَلَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ﴾ مونږ ورته کتاب ورکړے او قبول کړے ئے هم دے، نیکان دی۔ دا الفاظ د نیکانو اهل کتابو دپاره استعمالیږی۔

﴿ يَعْرِفُونَهُ﴾ (هٔ) ضمیر نبی ته راجع دے۔ (شربینیؒ) یا قبلے ته۔ (قرطبیؒ)۔ یا دین اسلام ته۔ (ابن کثیرؒ)۔ اول ظاهر دے۔

﴿ يَعْرِفُونَ اَبْنَاءَ هُمْ ﴾ یعنی لکه څنګه چه په خپلو ځامنو کښ شك نهٔ کوی، نو دغه شان په رسول الله ﷺ کښ هم شك نهٔ کوی۔ عبد الله بن سلام ﷺ به وئیل : ځوی کښ به زما شك پیدا شی، لیکن نبی ﷺ کښ مے نهٔ پیدا کیږی ځکه کیدے شی چه مورئے څهٔ خیانت کړے وی، او دا ځوی د بل چا نه پیدا شوے وی او ما نه نهٔ وی، او رسول الله ﷺ کښ دا شك نه شته۔

﴿ وَإِنَّ فَرِيقًا ﴾ دا دریمه ډله د اهل کتابو ده چه هغه مداهنین او حق پټونکی دی۔

اُوس تا سره حقه خبره ده لیکن بل طرف ته ظالمان دی، که تهٔ حق بیانوے نو کله مخالفین ډیر شی نو سړے دے وخت کښ شکی شی چه دا خلق ولے دومره مخالفت کوی؟ کیدے شی چه زهٔ به په غلطه یم، مسئله به ورانه بیانوم، نو تهٔ به شکی شے، نو دے وخت کښ به څه کوے؟ نو الله تعالیٰ اُوس طریقه ښائی چه په حق به کلك اُودریږے او شك به نهٔ کوے نو الله ددے تاکید بیانوی :

اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَاتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾
حق ثابت دے د طرفه د رب ستا نه نو مهٔ کیږه د شك کونکو نه۔

تفسیر : ﴿ اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ﴾ ۱ – اَیْ [اَلْحَقُّ مَا نَزَلَ مِنْ رَّبِّكَ] یعنی د رب د طرفنه چه کومه خبره راشی دغه حق وی۔ حق به هغے ته وائی چه ستا د رب د طرف نه راغلے وی او دا کومے خبرے چه تا ته راغلی دی، دا د الله تعالیٰ د طرفه دی او کوم شے چه ثابت نشی چه دا د الله د طرف نه دے لکه هغه دین چه په هغے باندے اهل کتاب روان دی، نو دا به باطل وی۔

نو پدے کښ نبی کریم ﷺ او مؤمنانو ته زیات یقین ورکول دی چه په رسول الله ﷺ باندے کوم قرآن نازل شویدے او هغه ته کوم دین ورکړے شویدے، همدا حق دے۔

نو ﴿ فَلَاتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴾ ددے خلقو د اعتراضاتو او شبهاتو په وجه په حق کښ شك مهٔ

کوه. يا د اهل کتابو د پتهولو په وجه. يعنې ستا امت له پکار دي چه پدے کښې شك اُونکړي ځکه چه د نبي ﷺ نه د شك توقع نشوه کيدے.

٢- دويمه معنیٰ: [اَلْحَقُّ فِيْ هٰذِهِ الْمَسْئَلَةِ] يعنې د قبلے د بدليدو په مسئله کښې حق ستا د رب د طرف نه دے. او تا له ئے درکړيدے، نو شك پکښې مۀ کوه، کعبے ته اَوړيدل يقيني خبره ده. او دا خطاب نبي ته دے مراد ترے نه امت دے ځکه چه نبي ﷺ هيڅ قسمه شك نۀ کولو.

په نبي ﷺ باندے هم د الله تعالیٰ په احکامو او په حق باندے ايمان لرل فرض وو.

اُوس الله تعالیٰ د قبلے بدليدو ته ترغيب ورکوي چه هرکله کعبه غوره قبله ده نو دے ته په مخ کولو کښې نيکي ده، او نيکئ پسے منډے وهل پکار دي. او د خلقو د اختلاف کولو د وجه نه حق پريخودل نۀ دي پکار.

وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ
او د هر چا دپاره يو طرف د توجه دے چه دا مخ اړونکے دے هغې ته، نو مخکښې والے اُوکړئ نيکو ته،
اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٤٨﴾
هر ځائے چه يئ تاسو رابه ولي الله تاسو لره ټول. يقيناً الله په هر څه قدرت لرونکے دے.

تفسير: ﴿وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا﴾

(لِكُلٍّ) ددے مضاف اليه پټ دے يعني د هر شخص يا هر ملت او قوم دپاره.

(وِجْهَةٌ) طرف د توجه ته وائي. وِجْهَةٌ د مُوَاجَهَةٌ نه دے په معنیٰ د جِهَتُ او وجه سره دے دلته ترے مراد قبله ده. (فتح القدير للشوكانيؒ).

﴿هُوَ مُوَلِّيْهَا﴾ کښې دوه تفسيره دي: (١) ...... ضمير د مُوَلي راجع دے هغه (كُل) يعني شخص ته او د مُوَلِّيْهَا دپاره مفعول ثاني محذوف دے چه هغه (وَجْهَهٗ) دے او مُوَلي نه مراد په مانځه کښې اړونکے دے .(اَىْ مُوَلِّيْهَا وَجْهَهٗ فِي الصَّلٰوةِ) . يعني هر شخص په مانځه کښې يو طرف ته خپل مخ متوجه کوي.(٢) ...... دويم دا چه ضمير الله تعالیٰ ته راجع دے. او مُوَلِّيْهَا کښې (مجرور ضمير جهت ته راجع دے) يعني الله دا قوم هغه جهت او سِمت ته متوجه کړيدے نو ددے دوه ضميرونو د اختلاف په وجه بيا ډير تفسيرونه جوړيږي:

(١) يو دا چه د هر قوم دپاره يو جهت او طرف د توجه دے چه الله تعالیٰ هغه طرف ته متوجه کړيدي شرعاً يعني الله به په خپله زمانه کښې هر قوم ته حکم کولو چه په مانځه کښې دے طرف

ته متوجه شئ، چا ته کعبه او چا ته بيت المقدس وغيره۔ ملائکو ته بيت المعمور ۔ نو تاسو هم نيکيو پسے منډه اوکړئ ، الله تعالیٰ چه تاسو ته کوم طرف متعين کوی، بس هغے پسے روان شئ۔ (۲) دويم هر قوم دپاره يو جهت د توجه دے چه الله تعالیٰ هغے طرف ته اړولی دی قسراً او کوناً۔ يعنی د الله په تقدير کښ ليکلے شويدی چه دوی به هغه طرف غوره کوی، او الله ورته امر نۀ دے کړے۔ نو تاسو د الله تعالیٰ د امر تابعدار شئ۔

(۳) دريم: هو ضمير راجع دے هغه شخص ته نو معنیٰ دا ده چه د هر قوم او هر شخص دپاره طرف د توجه دے چه هغه شخص خپل مخ اړوی هغے ته په خپلو عبادتونو کښ نو دغه جهتونه به يا صحيح وی يا به غلط وی، خو تاسو نيکيو پسے روان شئ، د الله د حکم مطابق خپل جهت برابر کړئ۔

(٤) څلورمه توجيه دا ده چه د (لِكُلٍّ) نه مراد هر مسلمان دے، که د مشرق والا مسلمان وی او که د مغرب والا۔ چه د دوی دپاره يو طرف د قبلے دے چه هغه کعبه ده يعنی څوك ورته د يو طرف نه متوجه کيږی او څوك د بل طرف نه او د فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ معنیٰ دا چه ټولو مونځونو کښ به دے ته متوجه کيږئ۔ (فتح القدير) نو اصل عبارت داسے جوړيږی: [اَلْكَعْبَةُ لِكُلِّ اَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ قِبْلَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا وَجْهَهٗ] (کعبه د هر مسلمان دپاره قبله ده چه دا ورته خپل مخ اړوی)۔

(۵) پنځم توجيه دا ده چه عموم اوکړے شی يعنی د هر شخص او هر قوم او هر ملت دپاره يو مسلك او مخه وی چه هغے ته توجه کوی او هغے سره د زړۀ تعلق ساتی، څوك د دين سره، څوك د دنيا سره، څوك د مسجد سره، څوك د مندر او ګيرجے او درمسال سره او څوك د الله تعالیٰ سره او څوك د بت او قبر او بابا سره، څوك د قرآن او سنت د علم سره، څوك د نورو علمونو سره، څوك د سنت طريقو سره نو څوك د رسم او رواج او خرافات او بدعاتو سره، او څوك د کعبے سره، څوك د بيت المقدس او بيت الشرق سره بيا دا توجه به د چا حقه وی او د چا باطله نو د خلقو ددے اختلاف په وخت کښ به ستاسو کار دا وی چه (فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ) تاسو به د هغه جهت سره تعلق ساتئ چه کوم د خير والا وی، او الله او رسول ورته خير وئيلے وی او هغے ته به سبقت کوئ او د خلقو د مختلف جهتونونه به نۀ متأثره کيږئ او حق به نۀ پريدئ۔ او صحيح دين پسے ورځئ۔ او ددے آيت مثال داسے دے لکه حديث [كُلُّ النَّاسِ يَغْدُوْ فَبَائِعٌ نَفْسَهٗ فَمُعْتِقُهَا اَوْ مُوْبِقُهَا]

(ټول انسانان صبا کوی او ځان خرڅوی نو څوك ځان د اُور نه آزاد کړی او څوك ئے هلاك کړی)۔ دارنګه آيت کښ دی: ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا﴾ (مائده: ٤٨)

په تاسو کښ د هر چا دپاره لاره او طريقه مونږه مقرر کړيده۔ (ابن کثيرؒ)۔

او پدے کښې اشاره ده چه قبله د دین د ارکانو نه داسے رکن نهٔ دے چه تغییر به نهٔ قبلوی، یا د تکوینی امورو په شان نهٔ ده چه د هغے نه به تخلف نهٔ راځی بلکه دا یوه فرعی مسئله ده چه د امت په اختلاف او د شرائعو په تغییر سره پدے کښې تبدیلی راتلے شی لکه دغه آیت د سورة المائده پرے دلیل دے۔ (از هر البیان)۔

فائده : آیت کښې دا مقصد پروت دے چه د هر دین او ملت دپاره یو مخصوص جهت وی چه هغے ته په خپلو عبادتونو کښې متوجه کیږی لکه د مسلمانانو قبله کعبه ده۔ نو پدے کښې دے طرف ته اشاره ده چه په دنیا کښې مختلف مذاهب او ډیر دینونه موجود دی، پدے وجه عقلمند انسان له پکار دی چه پدے کښې چه کوم د ټولو نه غوره، اعلیٰ او اُوچت دین وی، هغه خپل کړی او د ټولو عقلمندو انسانانو پدے اتفاق دے چه دین اسلام هغه دین دے چه په دے کښې د انسان دپاره ټول قسم خیرونه او کمالات راجمع شویدی، پدے وجه ددے په قبلولو او پدے باندے د عمل کولو دپاره هر انسان له د یو بل نه سبقت او مخکښې کیدل پکار دی۔

(تیسیر الرحمن والقاسمیؒ)۔

﴿ فَاسْتَبِقُوْا ﴾ استباق دلته په معنیٰ د تَسَابق سره دے یعنی د یو بل نه مخکښې والے کول۔ دا وجه ده چه دلته ئے (فَاسْبِقُوْا) (مخکښې شئ) اُونهٔ وئیلو، ځکه چه نفس مخکښې والے مطلوب نهٔ دے۔

دارنګه که فَاسْبِقُوْا ئے وئیلی وے، نو بیا به دا حکم صرف هغه چا ته شامل شوے وے چه هغه د ټولو نه مخکښې شوے وے او که څوك لږ روستو شوے وے نو هغه به پدے حکم باندے عمل کونکے نهٔ وے او هرچه استباق دے نو هغه دواړو ته شامل دے۔ (تفسیر ابن عرفه)

او په استباق کښې معنیٰ د تکلف پرته وی، یعنی په ځانونو باندے تکلف او برداشت اُوکړئ او نیکیو ته ورمخکښې شئ۔

او پدے کښې اشاره ده چه هرکله چه ایمان والا خپل مینځ کښې د یو بل نه نیکیانو ته مخکښې والے کوی، نو د نورو خلقو نه به په طریق اولیٰ مخکښې والے کوی۔

او پدے کښې بله دا اشاره هم ده چه د ایمان والو نه سِویٰ خلق د خیر په لاره نهٔ دی روان تردے چه ایمان والو ته حکم اُوکړی چه د هغوی نه مخکښې شی۔ (روح المعانی)

(الْخَيْرَاتِ) دلته (اِلیٰ) کلمه پټه ده ځکه چه فَاسْتَبِقُوْا په معنیٰ د تَسَابَقُوْا سره دے او هغه لازم دے، په الیٰ سره استعمالیږی۔ (اللباب)

الخیرات جمع د خَيْرَةٌ ده۔ خیرات (۱) : ټولو نیك عملونو او طاعاتو ته وائی چه د هغے په ذریعه د دنیا او د آخرت نیکبختی حاصلیږی، او د الله تعالیٰ د اوامرو منلو، او په هغے باندے

عمل کولو ته وائی، که د قبلې په باره کښې وی او که علاوه وی. نیك عملونو کښې یو بل نه مخکښې شئ، منډه ورپسې اُوکړئ. دا اول صف او تکبیر اولیٰ ته هم شاملیږی.

(٢) اَلْخَيْرَاتِ الدُّنْيَوِيَّةَ وَهِيَ الشَّرَفُ وَالْفَخْرُ بِقِبْلَةِ اِبْرَاهِيْمَ وَالْاُخْرَوِيَّةَ وَهِيَ الثَّوَابُ الْجَزِيْلُ الْمُعَدُّ لِلْمُطِيْعِيْنَ) (نيسابوری) يعنی په دنيا کښې خيرات دا دی چه د ابراهيم ﷺ په قبله شرافت او فخر اُوکړے شی، او په آخرت کښې خيرات هغه ثوابونه حاصلول دی کوم چه فرمانبردارو خلقو له الله تعالیٰ تيار کړيدی).

[ای: بَادِرُوْا اِلَى الْاِنْقِيَادِ اِلَى الطَّاعَاتِ وَاتِّبَاعِ الْحَقِّ وَالْخُضُوْعِ لِمَنْ جَاءَ بِهٖ] (البحر المديد٢/٧٤)

(د يو بل نه جلتی اُوکړئ د الله تعالیٰ طاعات او عباداتو ته غاړه کيدئ، او حق قبول کړئ او چا چه حق راوړے وی هغه ته تسليم شئ).

فائده : په استباق لفظ کښې اشاره ده چه هرے نيکئ باندے په جلتئ سره عمل کول غوره دی، او تاخير او سستی پکښې نهٔ ده پکار. حديث کښې دی : «څه خلق به هميشه روستو روستو کيږی تردے چه الله تعالیٰ به ئے هم روستو پريدی». (صحيح مسلم)

دارنګه خيرات شامل دی فرائض، واجبات، مستحبات او نوافلو ټولو ته.

او دا شامل دے هغه چا ته هم چه خپله يو نيك کار ته ورمخکښې شو او هغه چا ته هم چه بل ئے يو نيك کار ته مخکښې کړو. اګرکه دواړو يو شی ته د يو بل نه مخکښنوالے نهٔ وی کړے. (ابن عرفه).

استباق او مسابقت کښې درے ارکان دی :

(١) تَكْمِيْلُهَا (٢) وَالْمُبَادَرَةُ اِلَيْهَا (٣) وَاِيْقَاعُهَا عَلٰى اَكْمَلِ الْوُجُوْهِ)

عبادت پوره کول، او هغے ته جلتی کول او د يو بل سره پکښې سيالی کول، او بيا هغه عمل په کامله او ښائسته طريقے سره واقع کول.

پدے وجه علماء فرمائی : مسابقه د مسارعے نه زياته بليغه ده ځکه چه پدے کښې په نورو باندے د سبقت او مخکښې والی معنیٰ موجوده وی. دارنګه مسابقه د نفس خيرات نه هم غوره ده.

نو فائده به څه اُوشی ؟ هغه دا چه د قيامت ورځ ته به تاسو هر ځائے نه حاضر شئ او بيا به ددے اعمالو جزاء درکوی.

﴿ اَيْنَمَا تَكُوْنُوْا ﴾ نو پدے کښې اعمال صالحه ؤ ته يو قسم ترغيب دے ځکه چه انسان ته کله دا يقين اُوشی چه الله به دهٔ لره دوباره ژوندے کوی او دهٔ ته به ددهٔ د اعمالو بدله ورکوی نو هغه د آخرت په تيارئ کښې تيزی کوی. او دارنګه پدے کښې يره هم پرته ده.

فوائد الآية : (١) د امتونو منهجونه او طريقے د عمل اګرکه مختلفے دی، ليکن په يو اصل

بـانـدے متـفق دی، او هغه دا چه الله تعالیٰ ته په غیر منسوخ شوی شریعتونو او احکامو باندے غاړهٔ کیـخودونکی دی۔ (۲) انسان باندے لازم دی چه د حق تابعداری اُوکړی هر چرته چه وی او د مخالف ډیر والی ته دِے نهٔ گوری۔

(۳) آیت دلیـل دے چه مطلق امر د شارع د فوریة دپاره دے یعنی پدے به فوراً او په جلتئ سره عمل کولے شی۔ (٤) فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ کښې ډیر کمال دے د (فَاسْتَبِقُوا اِلَى الْخَيْرَاتِ) نـه ځکه چه ددے مـعـنـیٰ دا ده چه نیـکیـانو ته منډه کړه او بیا په هغے کښې دننه هم د مخکښې والی کوشش کوه۔ او دا مـعـنیٰ نهٔ ده چه صرف د نیکیانو خوا له ورشه او بیا هلته اُودریږه، په هغے کښې ترقی مهٔ پیدا کوه۔ (تفسیر ابن عثیمین)

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاِنَّهٗ لَلْحَقُّ
د کوم ځائے نه چه ته اُوځے نو واړه وه مخ خپل طرف د مسجد حرام ته او یقیناً دا خامخا حق دے
مِنْ رَّبِّكَ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱٤۹﴾
له طرفه د رب ستا نه او نهٔ دے الله بے خبره ستاسو د عملونو نه۔

تفسیر: دلتـه د حَيْـثُ خَـرَجْتَ نه مکه مراد ده یعنی د کوم ځائے نه چه ته وتلے ئے او هجرت دِے کړیدے نو هغے ته بیرته مخ راوګرزوه۔

ددے حکمونو د مکررولو حکمتونه

بیا الله تعالیٰ د کعبے په توجه باندے درے امرونه کوی :

(۱) دپاره د تاکید ځکه چه دا مسئله د یهودیانو، مشرکانو او منافقانو دپاره لویه فتنه گرځیدلے وه نو باربار حکم کوی چه د هغوی هیڅ عذر پاتے نشی۔

(۲) یـا پـه اول امر بـانـدے ئے بیـت الـمـقـدس قبله کیدل منسوخ کړل، او هغه حکم په داخل د مسجد حرام او مکه کښې وو او بیا ئے امت ته حکم اُوکړو چه ستاسو دپاره هم کعبه قبله شوه۔ اُوس حـکـم کوی بهر د مکے او مسجد حرام او مدینے نه۔ او روستو امر دے په باره د سفر کښې۔ او مؤمنانو ته حکم دے دپاره د تاکید یا هغه هم په حالت د سفر کښې دے۔

(۳) امـام رازیؒ وائی : اول امر وو هغه چا ته چه مسجد حرام کښې دننه وی۔ او دویم امر دے هغه چا ته چه د مسجد حرام نه بهر مکه کښې وی او دریم امر دے د مکے نه بهر دنیا والو ته۔

(تفسیر کبیر و التنویر ۲/٤٥)۔

نو دلته د کلي او علاقې نه د وتلو په وخت کښې امر دے چه بهر به هم کعبې ته مخ کوے او دا حکم ئې ځکه اُوکړو چه غالباً د کلي نه په وتلو کښې احکام بدلیږي نو وَهم (گمان) راتلو چه بهر به د کعبې اهتمام نۀ وي نو تاکیداً ئې دا حکم بیا راوړو۔

(٤) یا دا چه د علت د تعدد په وجه دا تکرار شویدے۔ ځکه چه الله تعالیٰ د قبلې د بدلولو دپاره درې علتونه بیان کړیدي یو علت: د نبي کریم ﷺ مینه او خواهش وو۔ هلته ئې دا بیان کړو۔ دویم علت: د هر ملت او دعوت والا دپاره د یو مستقل مرکز وجود وو، نو هلته ئې بیا بیان کړو۔ دریم علت: د مخالفینو د اعتراضاتو ازاله ده نو هلته ئې هم بیان کړو۔

(فتح القدیر للشوکاني ١/٢٤٣ واحسن البیان)

(٥) یا تکرار پدے وجه اُوشو چه د هر یو سره جدا جدا فائده ذکر ده۔ د اول سره شهادت او علم د اهل کتابو ذکر دے۔ او دویم سره د الله تعالیٰ شهادت په (وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ) سره او په دریم کښې (لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ) کښې فائده د فع د حجت ذکر ده۔ (احسن الکلام)۔

(٦) بنه وجه دا ده چه پدے امرونو کښې الله تعالیٰ هغه درے عظیم حکمتونه او مصلحتونه بیانوي کوم چه ئې پدے احکامو کښې ددے امت دپاره ایخودي دي او هغه روستو آیت کښې راځي۔ چه د هغه حکمتونو نه معمولي بے خبري او بے پروائي دا امت پداسے غلطیانو کښې اخته کولے شي چه د هغے د اصلاح هیڅ صورت به باقي نۀ پاتے شي۔ پدے وجه قرآن د هغه حکمتونو د بیانولو نه مخکښې د تمهید په طور دے احکامو ته ذهنونه بیا متوجه کړل چه د دننه او بهر، سفر او حضر، هر ځائے او هر صورت کښې بیت الله ته د مخ اړولو کوم حکم کیږي دا څۀ سرسري او سطحي حکم نۀ دے۔ بلکه په دے کښې لوئې حکمتونه او مصلحتونه دي که تاسو پدے کښې معمولي شان سستي اُوکړه نوستاسو سفر به غلط سمت ته شروع شي، پدے وجه ددے پوره اهتمام کوئ،

هغه حکمتونه دا دي (١) (قطع حجة) د خلقو دلیل او تهمت ختمول په (لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ) کښې۔ (که کعبې ته وانۀ وړیدئ نو یهودیان به درباندے دلیل نیسي) (٢) او د نعمت پوره والے په (وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي) کښې۔ یعني کعبې ته ځکه مخ واړوئ چه الله په تاسو نعمت پوره کول غواړي، دا قبول کړئ۔ (٣) او هدایت او لاره موندل په (وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ) کښې۔(که تاسو کعبې ته وانۀ وړئ نو هدایت نه به محروم شئ)۔ چه د هغې بیان به روستو راشي۔ (تدبر قرآن)

﴿ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ ﴾ یعني دا قبله بدلیدل ستا د رب د طرف نه حق دي۔

﴿ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ یعني تاسو پدے حکم باندے عمل کوئ او د چا پرواه مۀ ساتئ که

خلق درپسے خبرے کوی الله به تاسو ته بنائسته بدله درکوی۔ او دے مجرمانو ته به سزا ورکوی۔ نو مؤمنانو له تسلی او کافرانو ته ئے دهمکی ورکره۔

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ
او دکوم ځائے نه چه ته اُووتلے نو واړه وه مخ خپل په طرف د مسجد حرام، او هر ځائے چه يئ تاسو
فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلَّا الَّذِينَ
نو واړه وئ مخونه په طرف د هغے۔ دے دپاره چه نۀ شی د خلقو په تاسو څۀ دليل مگر هغه کسان
ظَلَمُوا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي
چه ظالمان دی ددوی نه نو مۀ يريږئ د هغوی نه او اُويريږئ زما نه او دے دپاره چه زۀ پوره کړم نعمتونه خپل
عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿۱۵۰﴾
په تاسو باندے۔او دے دپاره چه تاسو سمه لارمونده کړئ۔

تفسير: بيا امر کوی او دا امر په باره د سفر کښ دے۔

﴿لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ﴾ دا څلورم جواب دے او د تحويل قبله دپاره تفصيلی علت ذکر کوی۔ (۱) حجت په معنیٰ د صحيح دليل سره دے۔ يعنی الله فرمائی: دا امرونه درته ولے کوم؟ دے دپاره چه د خلقو (د يهوديانو او مشرکانو) په تاسو باندے حجت قائم نۀ شی او څوك درسره جګړه اُونکړی ځکه چه په تورات کښ ئے دا ليکلی دی چه د آخری رسول او آخری امت نخه به دا وی چه کعبے ته به مخ کوی، او دا به د هغوی اَبَدی قبله وی، نو که چرے نبی ﷺ او مؤمنان کعبے ته مخ وانۀ ړوی، نو يهوديان به په دوی باندے ضرور صحيح دليل قائموی چه تاسو آخری اُمت نـۀ يئ ځکه چه تاسو کښ دا علامت موجود نۀ دے کوم چه په تورات کښ راغلے دے او بيا د تورات خبره دروغجنه کيږی، او د اهل کتابو په زړونو کښ به ددے نبی په باره کښ شکونه پيدا کيږی، نو ددے وجه نه هرکله چه تاسو کعبے ته مخ اُوګرزوئ نو د دوی دليل به ختم شی او ستاسو حقانيت او د تورات صدق به ستاسو په باره کښ باقی پاتے شی۔ دارنګه مشرکانو به وئيل دا څنګه نبی دے چه د ابراهيم عليه السلام د قبلے (کعبے) نه خلاف کوی، او دعویٰ د ابراهيم عليه السلام د ملت کوی نو هرکله چه تاسو کعبے ته واوړيدئ نو د هغوی دليل هم ختم شو۔

(۲) - او حجت کله په معنیٰ د جګړے سره راځی نو اُوس د قبلے د تحویل نه روستو د هغوی اعتراضونه او جګړے ختمے شوے. اګرکه بعض شریان او ظالمان خلق به ددے حجت او دلیل د ختمیدو نه روستو هم جګړے کوی لیکن په دنیا کښې هیڅ احتیاط هم د هر قسم خلقو خوله نشی بندولے. د دوی علاج دا دے (فَلَا تَخْشَوْهُمْ) چه د دوی نه یره نهٔ ده پکار.

﴿إِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ﴾ . دا (إلا) استثناء منقطع ده. په معنیٰ د لٰکِنْ ده. او ظَلَمُوْا نه مراد عنادیان اهل کتاب دی. او د بعضو په نیز مشرکان مراد دی.

[اَیْ لٰکِنِ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا یَحْتَجُّوْنَ بِالْحُجَجِ الْبَاطِلَةِ] لیکن ظالمان به اُوس هم تاسو ته باطل دلائل وائی او جګړے به درسره کوی، اعتراضونه به دریاندے کوی خو د هغوی نه یره مهٔ کوئ ځکه چه صحیح دلیل ورسره نشته، د هغوی جګړے فضول دی، د توجه قابل نهٔ دی نو : ﴿فَلَا تَخْشَوْهُمْ﴾ ځکه ظالمان که چرته په حق ښهٔ پوهه هم شی بیا هم جګړے کوی، نو د هغوی د جګړو او د هغوی د لائلو (اعتراضونو) نه مهٔ یریږئ.

﴿وَاخْشَوْنِیْ﴾ د الله نه یره دا ده چه د هغه د حکم تابعداری اُوشی، او د هغوی نه یره دا ده چه حق پریخودلے شی، او پټ کړے شی. ځکه داسے حالاتو کښې یره وی نو بعض خلق حق پټوی، د جګړو او اختلافاتو نه یریږی.

﴿وَلِاُتِمَّ﴾ دا د قبلے د بدلیدو دپاره بله فائده او علت دے. دا د ((اَمَرْتُکُمْ)) مقدر پورے متعلق دے. یعنی ما تاسو ته د قبلے طرف ته د متوجه کیدو حکم اُوکړو. نو وجه دا ده :﴿ وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِیْ عَلَیْکُمْ ﴾ چه زهٔ خپل نعمت په تاسو پوره کول غوارم. دا د الله تعالیٰ غټ نعمت دے ځکه چه په دے کښې د انسان د عبادت توجه معلومه وی، اجر پکښې زیات دے، د الله د محبت نخه ده. او په امتحان کښې کامیابیدل دی.

زجاجؒ وئیلی دی : چه د نعمت پوره کول هدایت کول دی قبلے ته او داخلول دی جنت ته (قرطبیؒ). او خازنؒ وئیلی دی : اتمام د نعمت دا دے چه په اسلام باندے مرګ راولی او بیا ئے جنت ته داخل کړی او د الله دیدار ورته نصیب کړی.

سعید بن جبیرؒ وائی : د الله نعمت هله پوره کیږی چه بنده جنت ته داخل شی. (قرطبیؒ).

دلته د اتمام نعمت نه مراد اتمام روستو د نقصان نه نهٔ دے بلکه د اول وخت نه ډیر پریمانه نعمتونه ورکول مراد دی. یا مطلب دا دے چه اصل نعمت د رسول د رالیږلو او د کتاب د نازلولو په سبب دین طرف ته هدایت کول دی، او کوم بیشماره نعمتونه چه ددے دوه لویو اصولو نه روستو ملاویږی هغه د متمماتو ددے نه دی. (ازهر).

صاحب د تدبر قرآن وائی: د اتمامِ نعمت نه مراد د دین د تکمیل هغه نعمت دې چه د هغې پیشین گوئی موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام ددې امت په باره کښې فرمائیلې وه او چه د هغې وعده الله تعالیٰ د ابراهیم علیه السلام سره په هغه وخت کښې کړې وه کله چه هغه د اسماعیل د قربانئ په امتحان کښې کامیاب شوې وو، هغه سره الله تعالیٰ دا وعده کړې وه چه ددې ځوی د نسل نه به یو لوئی امت پیدا کیږی چه په هغې سره به د تمامې دنیا قومونه د دین برکت مونده کوی نو د هغه د نسل نه الله تعالیٰ آخری رسول محمد رسول الله ﷺ راولیږلو چه د هغه قبله ئې بیت الله مقرر کړه کوم چه د تمام عالَم دپاره د خیر او برکت د دین د پوره کولو مرکز مقرر شوې وو۔ (تدبر قرآن)

﴿ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴾ دا بله فائده او علت دې چه الله فرمائی: تاسو ته ما غوره قبله درکړه چه نور خلق ترې گمراه شویدی۔ ځکه زۀ پدې سره تاسو هدایت ته رسَول غواړم۔ چه د هغې نه یهود او نصارىٰ خطا شویدی۔ دا دلیل دې چه د کعبې په وجه بنده ته هدایت کیږی۔ (هُدًى لِلْعَالَمِيْن) ځائې دې۔

د هدایت نه مراد هغه صراط مستقیم موندل دی چه کومه الله تعالیٰ ته رسونکې نیغه او فطری لاره ده چه د هغې په باره کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی:

﴿ قُلْ اِنَّنِيْ هَدَانِيْ رَبِّيْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ، دِيْنًا قِيَمًا مِّلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا﴾ [انعام: ١٦١]۔

(اُووایه چه ما ته زما رب نیغه لاره خودلې ده چه هغه فطری دین – ملت د ابراهیم – دې چه هغه په توحید ولاړ وو)۔ ...... او ددې ملتِ ابراهیمی طرف ته لاره خودونکې مناره هغه همدا قبله ده، پدې وجه ضروری ده چه دا نخه ددې امت د سترگو مخې مخې ته وی۔ پدې وجهٔ الله تعالیٰ مخکښې کعبې ته د مخ اړولو بار بار حکمونه اُوکړل۔

فائده: د قبلې بدلولو ته ئې اتمام د نعمت او هدایت موندل اُووئیل ځکه چه په حکم الٰهی باندې عمل کول یقیناً انسان د انعام او اکرام مستحق هم جوړوی او د هدایت توفیق هم هغه ته نصیب کیږی۔ (احسن البیان)۔

فائده: علامه حرالیؒ فرمائی: د آیت په ضمن کښې د مکې د فتح زیرې دې او دا چه دا نبی ﷺ به په جزیرة العرب غالبه کیږی، او ددې په وجه به په ټولو زمکو والو غلبه مومی، او اسلام به مشرق او مغرب ته رسیږی۔ (محاسن التاویل للقاسمیؒ)

ددې نه روستو د اتمامِ نعمت یو مثال ذکر کوی۔

كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا
(پوره کول د نعمت داسې دی) لکه څنګه چه ما رالیږلې دې په تاسو کښې رسول ستاسو نه چه لولی

عَلَيْكُمْ ايٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

په تاسو باندے آیتونه زمونږ او پاکوی تاسو لره او ښائی تاسو ته قرآن او سنت (یا رازونه د دین)

وَيُعَلِّمُكُمْ مَّالَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۵۱﴾

او ښائی تاسو ته هغهٔ څهٔ چه تاسو پرے نهٔ پوهیدئ۔

تفسیر : پدے آیت کښں د قبلے نعمت پسے د آخری رسول د رسالت نعمت بیانوی او دا (كَمَا) دَاتِمَّ پورے متعلق دے یعنی[كَمَا اَتْمَمْتُ نِعْمَتِيْ بِاِرْسَالِ الرَّسُوْلِ فِيْكُمْ] یعنی په قبلے درکولو سره دربانـدے نـعـمـت کـوم لـکه څنګه چه ما په تاسو کښں د رسول په رالیږلو سره نعمت پوره کړے دے)۔ یا تقدیر داسے دے : [وَلَاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ اِتْمَامًا مِثْلَ اِرْسَالِ الرَّسُوْلِ فِيْكُمْ] (قرطبی عَنِ الْفَرَّاءِ)

(دے دپاره چه زهٔ خپل نـعـمـت په تاسو داسے پوره کړم چه سنت ابراهیمی درته بیان کړم لکه څنګه چه مے په تاسو کښں رسول رالیږلے)۔

نـو رسـول رالیـږل هـم نـعمت، کعبه هم نعمت او قرآن هم نعمت دے، پدے امت الله تعالیٰ غټ غټ نعمتونه کړیدی۔ او دا آیت د ابراهیم ؑ د هغه دعا قبول والے دے کوم چه مخکښں (۱۲۹) آیت کښں ذکر شوے دہ۔

۲- یا دا د تَهْتَدُوْنَ پورے متعلق دے یعنی[كَمَا هَدَيْتُكُمْ بِالرَّسُوْلِ كَذٰلِكَ هَدَيْتُكُمْ بِالْقِبْلَةِ] (لـکـه څـنـګـه چـه مـا تـاسـو ته ددے رسول په وجه هدایت اُوکړو نو په قبلے سره مے هم تاسو ته هدایت اُوکړو)۔ نو دواړه ذریعے د هدایت دی۔

بـعـض وائـی : دا د روستو (فَاذْكُرُوْنِيْ) پورے متعلق دے (یعـنـی فَاذْكُرُوْنِيْ كَمَا ذَكَرْتُكُمْ بِاِرْسَالِ الرَّسُوْلِ) یـعـنـی مـا یاد کړئ لکه چه ما تاسو د رسول په رالیږلو یاد کړی یئ)۔ (قرطبی عن علیؓ واختـاره الـزجـاجؒ) لیـکـن دا تعلق لرے دے۔ اول قول راجح دے (نقله القرطبیؒ عن ابن عطیةؒ)۔ او دویم هم صحیح دے۔

او ددے یـو تعلق داسے هم صحیح دے چه مونږ د قبلے تحویل د اتمام نعمت او د ملت ابراهیم ته د رهنمائی دپاره کړیدے نو دغه شان د ابراهیم ؑ د دعـا مطابق ددے مقاصدو دپاره یو رسول په تاسو کښں رالیږلے دے۔ (تدبر قرآن)

پدے آیت کښں د رسول الله ﷺ څلور اُوچت صفات ذکر شویدی :

اول صفت : د علـمـی او عـمـلی آیتونو تلاوت کول۔ دا پیغمبر اول د عوت او تعلیم شروع د تلاوت د الفاظو نه کوی ﴿يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا﴾ (په تاسو باندے زمونږ آیتونه لولی) چه دا آیتونه د

الله تعالىٰ لوئى نعمت دے ځکه چه دا آيتونه د ټولو عباداتو مأخذ دے، اصول وى او که فروع، د ټولو علومو، د آدابو او د ښائسته اخلاقو سرچشمه ده. د توحيد، رسالت، آخرت، د اخلاقو او د فضائلو د اصولو آيتونه په تاسو تلاوت كوى. چه ددے په وسيله سره تاسو ته د حقے لارے خودنه كوى چه ددے په نتيجه كښ تاسو ته شرافت او افتخار حاصليږى او د دنيا او د آخرت كاميابى په نصيب كيږى.

دويم صفت : دويم عملى تربيت دے، ﴿ وَيُزَكِّيكُمْ ﴾ (تاسو د شرك او گناهونو او د رذيل اخلاقو او بدو عاداتو نه پاكوى) لكه عربو به خپلے لونړۀ د شرم يا د فقر د يرے نه ژوندئ خخولے، د يتيمانانو مالونه به ئے خوړل او ميراث به ئے نۀ وركولو ددے نه به نبى ﷺ هغوى پاك كول او ددے مثالونه په آيت (۱۲۹) كښ تير شو. او د نفس ددے تزكيے په وجه هغوى ته په ټول جهان باندے فتح ملاؤ شوه، او د مخلوق دپاره مُعَلِّمَان او پيشوايان اُوگرځيدل. او دنيا د دوى د فضيلت او د عدالت گواهى وركړه، ټول امت مسلمه ئے د شرك او د ټولو بدو او گندگو نه پاك كړو.

دريم صفت : يو بل قسم علمى تربيت بيانوى ﴿ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ﴾ (تاسو ته د كتاب او حكمة تعليم دركوى) د حكمة نه مراد د شريعت رازونه پيژندل او د دين فقاهت دے، يا د رسول الله ﷺ سنت مراد دے چه د قرآن او د حلال، حرام د احكامو بيان كونكے دے. دلته تزكيه په تعليم د كتاب او سنت مخكښ ذكر شوه ځكه چه تزكيه اصلى هدف دے او تعليم د هغے ذريعه ده. كما تقدم.

څلورم **صفت** : د مختلفو څيزونو تعليم وركول. ﴿ وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴾ (تاسو ته هغه څيزونه ښائى چه تاسو پرے مخكښ نۀ پوهيدلئ) چه هغه د دين احكام، د ژوند نظام، د كورنئ نظام، معاشرت او سياست، جنگى طريقے، د انبياؤ عليهم السلام سيرت او د ژوند طريقے، د غيبو خبرونه، د عالَم د امتونو حالات. او هر شے چه امت ته فائده وركوى هغه ئے بيان كړے او هر شے چه امت ته ضرر وركوى د هغے نه ئے امت منع كړيدے چه د مسلمانانو معاشرے ته ئے د هرے خوا نه يو رونق وربخښلے دے. او په عالَم كښ ئے يو داسے سياسى او عِلمى انقلاب راوستے دے چه ددے نظير او مثال چا ليدلے نۀ دے.

او ﴿وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا﴾ دا د تاكيد دپاره وائى يعنى قرآن او حديث كښ داسے خبرے دى چه تاسو ته مخكښ نۀ وے معلومے ځكه كوم شے چه د مخكښ نه معلوم وى، بيا د هغے بيان دومره فائده نۀ لرى، او كله چه معلوم نۀ وى د هغے بيان ډيره فائده لرى، هغه قيصے، هغه واقعات، هغه رازونه، هغه حكمتونه او مثالونه درته بيانوى چه مخكښ درته معلوم نۀ وو، د

دنیا او د آخرت او د قبر تذکرے دی او د الله د تعلق خبرے۔ د راتلونکی زمانے حالات چه هغهٔ په فکر سره نهٔ حاصلیږی بلکه په وحی پورے خاص دی۔ او پدے کښں غرض په بنی اسماعیلو باندے د یو خاص فضل او کرم اظهار دے چه هرکله تاسو یے دینه قوم وئ، الله تعالیٰ ستاسو د هدایت او تعلیم دپاره دا رسول راولیږلو نو تاسو له ددهٔ ډیر زیات قدر پکار دے۔
بعض خلق وائی ددے نه قیاسونه او د حکمونو علتونه مراد دی۔ دا بعید قول دے ځکه چه پیغمبر چا ته قیاسونه او علتونه ندی خودلی۔ دا خو د روستو علماؤ اجتهاد دے۔

فَاذْكُرُونِيٓ أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿۱۵۲﴾

نو یادوئ ما لره زهٔ به یادوم تاسو لره او زما شکر کوئ او زما ناشکری مهٔ کوئ۔

تفسیر : ربط : (۱) مخکښں د الله تعالیٰ عظیم دینی نعمتونه ذکر شو چه هغهٔ قرآن او پیغمبر راولیږلو او غوره قبلہ ئے درکړه، نواُوس فرمائی چه ددے په مقابله کښں تاسو له درے کارونه کول پکار دی : ۱ – ذکر۔ ۲ – شکر۔ ۳ – او عدم کفر۔ (ناشکری نهٔ کول) نو پدے درے خبرو امر کوی۔ او دا بهترین عبادات دی او دا ټول ایمان دے۔ نو مخکښں نعمتونه ذکر شو اُوس د هغے شکر بیانوی۔ (۲) دارنگه پدے کښں ددے امت بل تربیت ذکر دے په ذکر او شکر سره۔
(۳) اشاره ده چه قبله د ذکر او د شکر ځائے دے۔
(٤) د قبلے د تحویل د حکم نه روستو دا امت یو بالکل د ممتاز امت په حیثیت سره مخے ته راغلو، یهودیان د امامت د منصب نه معزول شو او په خلقو باندے د ګواهئ ذمه واری تر قیامته پورے دے امت ته اُوسپارلے شوه، نو پدے اهمه موقعه کښں دا یاد دهانی شویده چه تاسو ما یاد کړئ زهٔ به تاسو یاد کړم، همیشه زما شکر کوئ، ناشکری مهٔ کوئ، دا یاد دهانی د الله تعالیٰ او ددے امت په مینځ کښں یوه لویه معاهده ده۔ او د الله تعالیٰ د یادولو نه مقصد هغه ټولے ذمه واریانے او فرائض یادول او د هغے په ځائے راوړل دی کوم چه دے امت ته سپارلے کیږی۔ پدے ذمه واریانو او فرائضو باندے د عمل کولو په جواب کښں د الله تعالیٰ د طرف نه دا وعده ده چه زهٔ به تاسو یادوم یعنی په دنیا او آخرت دواړو کښں د کامیابئ، مدد، فتح مندئ او خوشحالئ کومے وعدے چه ما ددے امت سره کړیدی هغه به پوره کوم۔ او (زما شکر کوئ) ددے مطلب دا دے چه د هغه تمامو نعمتونو صحیح صحیح حق ادا کړئ کوم چه د الله تعالیٰ د طرف نه سلاو شویدی، یا ملاویدونکی دی، چه د هغه نعمتونونه لوئی نعمت خپله هغه شریعت وو چه په خپل کامل شکل کښں دے امت ته منتقل کیدو۔ (تدبر قرآن)۔ بناء پدے د فَاذْكُرُونِيٓ معنیٰ دا چه

عـمل په احکامو کوئ او واشکروا لی معنیٰ دا چه په صحیح طریقه ئے حق ادا کړئ څکه چه ما درسره ځو مره لوئی احسان اُوکړو۔

د اللّٰه تعالیٰ د ذکر طریقے او اقسام

د الله تـعـالـیٰ یـادول پـه زړهٔ هـم وی، پـه ژبـه او انـدامـونـو هم وی، په امر او نهی منلو سره هم الله یـادیږی، څـوك چـه د الله تـعـالـیٰ د امر تابعداری کوی نو هغه ته الله یاد دے، او څوك چه د هغه د نهـی (مـمـنـوع کـار) نـه ځـان سـاتـی، نـو هـغـه تـه الله یاد دے۔ او بیا د الله شکر کول یعنی د هغه احسـانات منل او په هغے باندے د الله ثنا او صفت وئیل او د هغه په طاعت کښ ځان استعمالولو ته شکر وائی۔

﴿فَاذْكُرُوْنِیْ اَذْكُرْكُمْ﴾ ذکـر د الله یـادولـو تـه وائـی او دا لـوئـی عـبادت دے بـلـکه د ټولو عبادتونو خلاصه ده۔ او دا په درے طریقو کیږی: ۱- ذکر قلبی: په زړهٔ سره الله یادول، د هغهٔ محبت ساتل او د هغهٔ په قدرت او کائناتو کښ فکر کول۔ ۲- صرف په ژبه ذکر: دے کښ هم خیر شته خو کم دے، صـرف انسان پرے د گناهونو نه بچ وی۔لیکن د ذکر فوائد ورته نهٔ حاصلیږی څکه توجه ئے نشته۔
۳- په ژبه او زړهٔ دواړو سره وی او دا بهترین ذکر دے۔

بیا ذکر په دوه قسمه دے۔ ۱- د قرآن کریم په تلاوت، تعلیم او تعلم، ترجمه او تفسیر سره۔
۲- پـه اذکـار شـرعـیه ؤ سره ۔ ...... دا بیا دوه قسمه دے: ۱- اذکار مقیده چه د یو وخت او محل پـورے خـاص وی لـکـه د خوراك، څکاك، د خوب نه بیداریدو، مسجد ته داخلیدو او وتلو اذکار۔ ددے پـه پابندئ سره هم انسان په ذاکرینو کښ داخلیږی۔ پدے کښ قانون دا دے چه پدے مقاماتو کښ به لاسونه نهٔ اُوچتوی۔
۲- اذکـار مـطـلـقـه: چـه مـکـان او وخـت او عـدد ئـے معلوم نهٔ وی، پدے کښ زیادت او کم والے مقررول جائز دی۔دا بدعت کښ نهٔ داخلیږی چه څوك سبحان الله وغیره زر کرته وائی۔

بیا د الله تعالیٰ ذکر په دوه قسمه دے: ۱- ذکر مشروع: کوم چه سنت کښ وارد دے۔
۲- اذکـار مبتدعه: پدے سره الله تعالیٰ ناراضه کیږی۔ لکه هُوْ، هُوْ، صرف اللّٰهُ، اللّٰهُ، وئیل پدے الله تعالیٰ نهٔ رضا کیږی، اګرکه صوفیاء دے ته د خواصو ذکر وائی۔

ذکر په نورو طریقو هم کیږی لکه: ۳- ذکر: د الله امر منل او د هغه د نهی نه ځان ساتل۔
٤- د الله تعالیٰ په اسماء او صفاتو سره ذکر کولو ته هم ترغیب راغلے دے۔

او ذکر په اعتبار د حقیقت سره په درے قسمه دے : (۱) ذکر د ثنا او صفت : لکه [سُبْحَانَ اللهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ] یا ددے په شان نور اذکار شرعیه شو۔
(۲) ذکر د دعا : لکه ﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا ﴾ او ټولے منقولے دعاګانے شوے۔
(۳) ذکر د رعایت، دپاره د زړهٔ مضبوطولو او د الله د ادب ساتلو۔ لکه بنده وائی : الله ما سره دے، الله مے په سر ولاړ دے، الله ما ته ګوری، الله شاهد دے۔ (از هر)
ذکر کښې د اثر پیدا کولو طریقه دا ده چه (۱) په پټه وی لکه قرآن دا طریقه خودلے ده۔
(۲) عاجزی ډیرے ورسره ملګرے وی۔(۳) او یره ورسره وی۔ لکه ﴿ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ ﴾ (الاعراف ۲۰۵) (٤) هغه ذکر چه په اتباع د سنت سره وی۔
د ذکر سل فوائد په ((اَلْوَابِلُ الصَّيِّب)) کښې ابن القیمؒ لیکلی دی۔ هغے ته رجوع اُوکړه!
۱- غټه فائده ئے دا ده چه د الله د محبت نخه ده۔ ۲- د شیطان او د وسوسو نه مضبوطه قلعه ده۔ ۳- زړهٔ او بدن کښې قوت او طاقت پیدا کوی۔ نبی ﷺ فاطمےؓ ته د خادم په بدل کښې د شپے تسبیحات اُوخودل۔ ٤- په ذکر سره د الله تعالیٰ مدد راځی او الله رضا کیږی۔
فائده : ذکر الهی صرف په تسبیح، تهلیل، تحمید او تکبیر کښې منحصر نهٔ دے بلکه هر هغه عمل چه د قرآن او د سنت مطابق وی او په هغے کښې د الله اطاعت وی، هغه ذکر الهی دے۔ حافظ ابن القیمؒ فرمائی : نبی کریم ﷺ د ټولو خلقو نه زیات ذکر کونکے وو، د هغه خبرے اترے، د هغه امر او نهی، د الله اسماء او صفات، د احکامو او افعالو او وعد او وعید په باره کښې د هغه حدیثونه، د هغه د الله تعالیٰ حمد او ثنا بیانول، الله تعالیٰ نه سوال او دعا، جنت ته ترغیب ورکول، او د جهنم نه یرول، د هغهٔ خاموشی، دا ټول ذکرِ الهی وو۔ هغهٔ هر وخت او هر حال کښې، تلو راتلو، کیناستو پاڅیدو، اُودهٔ کیدو بیداریدو، سفر او حضر کښې د الله تعالیٰ په یاد کښې مشغول وو۔ انتهیٰ۔
د ذکر الهی هغه طریقے او هغه حرکات او سکنات چه ګمراه صوفیاؤ ایجاد کړیدی چه د هغے ثبوت د صحابه کرام، تابعین عظام او ائمه کرامؒ نه نهٔ ملاویږی بدترین بدعت دے، دوی د سَمَاع (قوالی) په نوم په خپلو محفلونو کښې ګډا او موسیقی داخل کړیدی او مسلمانان ئے د قرآن او سنت وئیلو او اَوریدو نه منع کړیدی۔ صحابه کرام رضی الله عنهم چه به کله جمع شو نو په هغوی کښې به یو تن قرآن لوستلو، او باقی کسانو به اَوریدو، عمر فاروق ؓ یوه ورځ ابو موسیٰ اشعری ؓ ته اُوفرمایل (او ددهٔ آواز ډیر مزیدار وو) : (ذَكِّرْنَا رَبَّنَا) مونږ ته خپل رب رایاد کړه)
[مقدمة ابن کثیر ۱ : ٦٣ وفضائل القرآن لابی عبید : ۷۹]

نو هغه به قرآن شروع کړو او عمرؓ به ورته غوږ ایخودے وو۔ قرآن کریم کښ د مؤمنانو او انبیاء کرامو دا صفت خودلے شویدے۔ ﴿إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا﴾ کله چه په دوی باندے د رحمٰن ذات آیتونه لوستلے شی نو دوی پریوزی سجده کونکی او ژړیدونکی) (مریم: ۵۸)

معلومه شوه چه د قرآن او سنت په حدودو کښ د الله تعالیٰ بندگی کول، د رسول الله ﷺ د سیرتِ مبارکه په سانچه کښ خپله زندگی اچول، د قرآن کریم تلاوت او د قرآن کریم تعلیم او تعلم د ذکر الٰهی صحیح طریقے دی۔

هغه تسبیحات چه د هغے ثبوت په قرآن او سنت کښ نهٔ وی، لکه سترگے بندول او سر خوزول، یا په پوزه باندے ذکر کول او ضربونه لگول، او حلقے جوړول او هُوْ هُوْ نعرے وهل او په یو بل باندے پریوتل، دا ټول بدعات او ناروا کارونه دی، ددے د ذکر الٰهی سره هیڅ قسم تعلق نشته۔ او هسے ځان سترے کول دی۔ رسول الله ﷺ فرمایلی دی: ((هر هغه کار چه د هغے ثبوت زمونږ په شریعت کښ نهٔ وی هغه مردود دے))۔ (صحیح مسلم)

برابره ده که هغه عقیده وی، که نظریه وی، یا قول او عمل وی، او یا د ذکر خود ساخته طریقے وی، دا ټول مردود دی۔

فَاذْكُرُونِىٓ کښ د مفسرینو توجیهات

﴿فَاذْكُرُونِىٓ﴾: مفسرینو ددے څو مصداقات بیان کړیدی: (۱) [فَاذْكُرُونِىٓ بِالطَّاعَةِ اَذْكُرْكُمْ بِالْمَغْفِرَةِ] ما په طاعت سره یاد کړئ زهٔ به تاسو په رحمت او مغفرت سره یاد کړم۔

(۲) [فَاذْكُرُونِىٓ فِي الْيُسْرِ اَذْكُرْكُمْ فِي الْعُسْرِ] ۔ (ما یاد کړئ په آسانتیا کښ زهٔ به تاسو په تنگسیا کښ یاد کړم)۔ (۳) [فَاذْكُرُونِىٓ فِي الدُّنْيَا اَذْكُرْكُمْ فِي الآخِرَةِ] ۔ (ما دنیا کښ یاد کړئ زهٔ به تاسو په آخرت کښ یاد کړم)۔ (٤) [فَاذْكُرُونِىٓ بالمجاهدة اذكركم بالمشاهدة] ما یاد کړئ په مجاهده سره زهٔ به تاسو په مشاهده (په جنت کښ په خپل دیدار) سره یاد کړم۔ (۵) [فَاذْكُرُونِىٓ فى النعمة والرخاء اذكركم فى الشدة والبلاء] (سعید بن جبیر) ما یاد کړئ په نعمتونو او مالدارئ او فراخئ کښ زهٔ به تاسو په سختئ او مصیبت کښ یاد کړم۔ (٦) ما یاد کړئ په یواځې والی کښ زهٔ به تاسو د خلقو په جماعت کښ یاد کړم۔ (یعنی خلقو ته به ستاسو مرتبه اُوچته کړم)۔

(۷) ما د خلقو په جماعت کښ یاد کړئ (په درس او تدریس سره) زهٔ به تاسو په جماعت د ملائکو کښ یاد کړم۔ (بحر العلوم للسمرقندی)

(۸) ما یاد کړئ په تنگسیا کښ زهٔ به تاسو په مخرج (لارهٔ ویستو) کښ یاد کړم۔

(۹) ما ياد کړئ په دعا، زۀ به تاسو په اجابت (قبول والی) سره ياد کړم۔

(۱۰) ما ياد کړئ په مجاهده، زۀ به تاسو په هدايت ياد کړم۔

(۱۱) ما ياد کړئ په صدق او اخلاص، زۀ به تاسو په خلاصوالی او زيات خصوصيت سره ياد کړم۔

(۱۲) [فَاذْكُرُوْنِیْ بالعبودية اذكركم بالربوبية] (ما ياد کړئ په عبوديت (عبادت سره) زۀ به تاسو په ربوبيت (انعاماتو او تربيت) سره ياد کړم۔

(۱۳) ما ياد کړئ په شکر، زۀ به تاسو په نعمت درکولو سره ياد کړم۔

(۱٤) ما ياد کړئ په قبول والی د احکامو زما، زۀ به تاسو په جزاء او بدلے سره ياد کړم۔

(۱۵) [فَاذْكُرُوْنِیْ بقطع العلائق اذكركم بنعوت الحقائق] ما ياد کړئ په قطع د علائقو (يعنی تعنقات د محلوق) سره۔ زۀ به تاسو په نعوت الحقائق (په حقيقی صفاتو) سره ياد کړم۔

(تفسير القشيری)

(۱٦) [فَاذْكُرُوْنِیْ بالموافقات اذكركم بالكرامات] ما ياد کړئ په موافقات (د احکامو په منلو) سره زۀ به تاسو په کراماتو (کرامتونو) سره ياد کړم۔

(۱۷) ما ياد کړئ په زړۀ کښې زۀ به تاسو په شهود او عيان (ښکاره) سره ياد کړم۔

(۱۸) ما ياد کړئ په مخ د زمکه زۀ به تاسو په خيټه د زمکه کښې ياد کړم۔

(۱۹) ما ياد کړئ په تسليم او رضاء زۀ به تاسو په ښائسته تدبير او مزيداره فيصله سره ياد کړم۔ (البحر المديد)

(۲۰) [فَاذْكُرُوْنِیْ فيما افترضت عليكم اذكركم فيما اوجبت لكم على نفسی] (ما ياد کړئ په هغه احکامو کښې چه ما درباندے فرض کړيدی زۀ به تاسو ياد کړم په هغه څه چه ما تاسو لره په ځان باندے لازم کړيدی)۔ (حسن بصریؒ) [ابن کثير ۱/٤٦٥، تفسير ابن ابی حاتم (۱/۳۹۰)]۔

دغه شان اقوال تقريباً څلويښتو ته رسی۔ ددے وجه نه هر مؤمن له پکار دی چه ځان له د ذکر الٰهی څۀ حد مقرر کړی او په هغے پابندی اُوکړی نو ډير فوائد به وينی۔

په حديث د بخاری کښې دی چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل: ((الله فرمائی: اے د آدم ځويه! که تۀ ما په خپل نفس کښې ياد کړے، زۀ به تا په خپل نفس کښې ياد کړم، او که ته ما د خلقو په مينځ کښې ياد کړے، زۀ به تا د ملائکو په مينځ کښې ياد کړم (چه هغه غوره جماعت دے) او که تۀ ما ته يو لويشت رانزدے کيږے، نو زۀ به تا ته يو گز نزدے شم، که تۀ ما ته يو گز رانزدے شوے نو زۀ به تا ته يو وازۀ نزدے شم، که تۀ ما ته پياده راشے نو زۀ به تا ته په منډه راشم))۔

(اَذْكُرْكُمْ) کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ مدد هله راځی چه د الله سبحانه ذکر کيدے شی۔

﴿وَاشْكُرُوْا لِيْ﴾ د الله احسان اُومنئ، او د هغه سره محبت اولرئ، او د هغه حکم ادا کرئ او شکر هم د ذکر یوه حصه ده۔ نور تفصیل مخکښې په (لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ) کښې تیر شویدے۔

فائده : ذکر او شکر ئے جمع کړل ځکه چه دواړو کښې تلازم دے۔ دواړه د یو بل سره لازم ملزوم دی۔ او یو بغیر د بل نه نۀ پوره کیږی۔ او په یو اثر کښې راغلی دی چه د الله تعالیٰ دائماً ذکر کول بعینهٖ شکر دے۔

﴿وَلَا تَكْفُرُوْنِ﴾ لَا تَكْفُرُوْنَ ئے د دوام دپاره راوړے دے، چه په شکر باندے همیش والے اُوکړئ تر مرګه پورے۔ که وَلَا تَكْفُرُوْنَ ئے نۀ وے وئیلے نو بیا په یو ځل شکر هم دا امر اداء کیدو۔ او اشاره ده چه ذکر د الله شکر هم دے۔او پدے کښې تنبیه ده چه که تاسو ناشکری اُوکړه نو لکه څنګه چه یهودیان او نور کفار د ناشکرئ په وجه خپلو سزاګانو ته اُورسیدل نو د الله تعالیٰ ددے قانون نه به تاسو هم نشئ بچ کیدے۔

نو اُوس ددے امت نور تربیتونه کوی، د صبر او د مانځه حکم ئے کړے دے، او دا په مینځ کښې راوړی ځکه چه پدے امت به الله تعالیٰ امتحانات راولی نو دوی به د صبر نه کار اخلی۔ دا د مسلمانانو تربیت دے۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾
اے ایمان والو ! مدد طلب کړئ (د الله نه) په صبر کولو او په مانځه کولو۔یقیناً الله ملګرے دے د صبرناکو۔

مضمون : ددے ځائے نه روستو الله تعالیٰ دے اُمت اسلامیه ته څۀ کارونه سپاری نو د هغے نه مخکښې ورته تنبیهات کوی اول دا چه تاسو باندے کوم احوال راځی د هغے مقابله به په صبر او مانځه سره کوئ۔ تردے چه تاسو باندے به د الله تعالیٰ په دین کښې د نفسونو قربانول راځی، وژلے کیږئ به، نو څوك چه پدے لار کښې اُووژلے شی، هغوی ته به بد نۀ ګورئ۔ دویمه تنبیه : دغه شان په ډیرو طریقو به امتحانات راځی خو صبر به کوئ۔ بیا ئے د صفا مروه مسئله راوړے ده د قبلے د بدلیدو د متعلقاتو نه ده او د صفا او مروه د سعی په باره کښې د یوے شبهے جواب دے چه هغوی وئیلی وو تاسو خپله د جاهلیت تابعداری کوئ او مونږه منع کوئ ؟۔ نو جواب اُوشو چه دا د جاهلیت کار نۀ دے بلکه دا د اسلام د شعائرو نه دے، نو پدے باندے اعتراض کول جائز نۀ دی۔بیا کاتمینو د حق ته زجر دے چه دے خلقو ته د رسول الله ﷺ د حقانیت دلائل واضح دی او بیا ئے هم پټوی۔ او د آخرت تخویف سره د توبے او د هغے د شرطونو نه ذکر کوی۔ او کافرانو ته ئے د آخرت تخویف (یره) ورکړیدے۔ بیا په (وَاِلٰـهُكُمْ) کښې مسلمانانو ته د توحید عقیده سپاری

او په هغې ئې دلائل بیان کړیدي، او د محبت په باره کښې ئې د توحید عقیده خودلې ده چه مؤمن به د الله تعالیٰ سره ډیر محبت لري. او زجر ئې ورکړې دې هغه مشرکینو ته چه د الله تعالیٰ سره په محبت کښې نور شریکان جوړوي، د براءت مسئله بیانوي چه دنیا کښې ئې چا سره د عبادت محبت کړیدې او د هغه عبادت ئې کړیدې نو قیامت کښې به د هغه نه بري وي. نو اې ایمان والو! دنیا کښې داسې محبوب اُونیسئ چه د هغه نه بیا برائت نهٔ کوئ. تر (۱٦۷) پورې.

تفسیر: ۱- د مخکښې سره تعلق او **ربط** دا دې چه د انسان دوه حالته دي، د سراء (خوشحالئ) حالت، نو پدې حالت کښې به شکر کوي. او دویم د ضراء (تکلیف) حالت دې نو پدې حالت کښې به صبر کوي، او مانځه ته به متوجه کیږي. او حدیث کښې هم راغلي دي :

[عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ لَهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذٰلِكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ] [احمد، مسلم].

تعجب دې په کار د مؤمن چه ددهٔ هر کار ددهٔ دپاره فائده مند دې، او دا خصوصیت صرف د مؤمن دې، که دهٔ ته خوشحالي اُورسي شکر کوي نو دا هم ورله غوره دې، او که دهٔ ته تکلیف اُورسي، او صبر کوي نو دا ددهٔ دپاره غوره دې). (قاسمیؒ)

او د صبر او ابتلاء مسئله ځکه ذکر کړې چه پدې کښې تنبیه ده چه په تاسو به غټ کارونه مقرریږي نو په هغې کښې به د صبر نه کار اخلئ، جهادونه فرض کیږي، عشر، زکاة، روژې، قصاص به فرض کیږي. نو ډیرې فائدې به درته حاصلې شي.

۲- دویم دا چه په تیرشوي آیت کښې په (فَاذْكُرُونِيْ) کښې تول عبادات او په (وَاشْكُرُوْا لِيْ) کښې د تولو نعمتونو شکر لازم اُوګرزیدو، نو ددې دواړو ادا کول د اسبابو د تعاون نه بغیرنهٔ کیږي، نو اُوس د هغې دپاره وسیله بیانوي چه هغه صبر او صلاة دې چه پدې سره د دغه کارونو ادا کول آسانیږي.

۳- مُؤمِن به هر وخت عبادت کوي. او دا په څلورو طریقو دې. (۱) په اِمْتِثَالُ الْاَوَامِرِ اَوْ اِجْتِنَابُ النَّوَاهِيْ. سره یعنی په امر باندې عمل کول او د نهی نه ځان ساتل.

(۲) اَلشُّكْرُ عِنْدَ النِّعَمِ ـ د نعمتونو په وخت به شکر کوي. (۳) اَلصَّبْرُ عِنْدَ حُلُوْلِ النِّقَمِ ـ د مصیبت او عذاب په وخت به صبر کوي.

(٤) اَلتَّوْبَةُ عِنْدَ الذَّنْبِ وَالنَّدَمُ ـ د ګناه په وخت به توبه اُویاسي او پښیمانه کیږي به. نو دلته د مؤمنانو تربیت غرض دې چه د عباداتو دا تول اقسام به پوره کوي.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ﴾ اې هغه خلقو چه ایمان مو راوړو او د یهودو او نصاراؤ په شان نشوئ نو راشئ پدې اوامرو او آدابو عمل اُوکړئ.

١- ددے يوه معنیٰ ده : د الله نه مدد حاصل کړئ په وسيله د صبر او مانځه سره. يعنی د الله مدد په صبر او مانځه سره راځی. ٢- دويم دا چه (اِسْتَعِيْنُوا عَلٰى قَضَاءِ حَوَائِجِكُمْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ) د خپلو حاجتونو پوره کولو دپاره د صبر او مانځه نه کار واخلئ.

حديث کښې دی : [كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا حَزَبَهٗ اَمْرٌ صَلّٰى] (ابوداود باسنادٍ صحيح)

رسول الله ﷺ ته به چه کله څۀ مشکلات راغلل نو مونځ ته به متوجه شو).

په مانځه سره دينی او دنياوی مشکلات حل کيږی. د زړۀ قسوت او سختی ختميږی. دلته وقف دے يعنی صبر به کوئ اګرکه د الله تعالیٰ په لاره کښې قتل کړے شئ. ځکه چه : ﴿ اِنَّ اللهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴾ چا کښې چه د صبر ماده وی، هغه د الله تعالیٰ ډير خوښ وی، د ګناه نه صبر، په مصيبتونو صبر، د الله په طاعاتو، عباداتو او نيك اعمالو باندے صبر.

شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په خپل کتاب (السياسة الشرعية) کښې ليکی چه د حاکم (او بادشاه) دپاره بالخصوص او د رعيت دپاره بالعموم درے څيزونه مددګار ثابتيږی :

١- الله دپاره اخلاص او د دعا وغيره په ذريعه په هغه باندے توکل او په زړۀ او بدن باندے د مانځه حفاظت او پابندی چه دا د اخلاص اصل دے. ٢- د مخلوق سره احسان کول او زکاة ادا کول. ٣- په تکليف، مصيبت او حادثاتو کښې صبر کول. انتهیٰ. (قاسمی ١/٣٩٩)

وجه د تخصيص د صبر او صلاة دا ده چه په باطنی اعمالو کښې سخت ترين عمل په نفس باندے صبر دے، او په ظاهری اعمالو کښې په انسان باندے مشکل کار مونځ دے، ځکه چه په مانځه کښې د دنيا نه انقطاع او الله ته متوجه کيدل دی. او ددے تشريح ددے تفسير په اول جلد کښې په آيت (٤٥) کښې اُوګورئ.

(مَعَ) معيت ملګرتيا ته وائی او دا معيتِ خاصه دے چه د الله تعالیٰ په محبت او د هغه په نصرت او قربت باندے دلالت کوی يعنی الله د صبرکونکو سره محبت کوی، او په سختو ځايونو کښې د هغوی مدد کوی، او هغوی ته نزدے وی. او په هغے سره مشکلات دفع کيږی او حاجات حاصليږی. او دا معيت په سورة توبه آيت (٤٠) او سورة النحل آيت (١٢٨) او سورة طه آيت (٤٦) او سورة العنکبوت آيت (٦٩) کښې ذکر شويدے چه د مؤمنانو پورے خاص دے. او د معيت يو بل قسم دے (معيتِ عامه) يعنی الله تعالیٰ په علم او قدرت سره د خپلو بندګانو سره دے لکه الله فرمائی : (وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ) سورة حديد (٤) او سورة المجادله آيت (٧) کښې دی : ﴿ وَهُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ﴾ (الله تعالیٰ د دوی سره دے کوم ځائے چه دوی وی) او دا معيت د ټول مخلوق دپاره دے.

حکمة : دلته د صبر او صلاة نه روستو په معیت سره بشارت ذکر شو ځکه دا خطاب مؤمنانو ته دے او په هغوی کښې د مخکښې نه خشوع وی، او په (٤٥) آیت کښې ئے (وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ) ذکرکړے وو۔ ځکه هغه خطاب بنی اسرائیلو ته وو او هغوی ته ئے د صبر او صلاة د آسانوالی دپاره خشوع اُوخودله۔ (احسن الکلام)

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ بَلْ اَحْيَآءٌ
او مهٔ وایئ په باره د هغه چا کښې چه اُووژلے شی په لاره د الله کښې چه دا (عام) مړی دی بلکه دوی ژوندی
وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵٤﴾
دی (په یو خاص قسم ژوند) لیکن تاسو نهٔ پوهیږئ۔ (د هغوی په ژوند)۔

تفسیر : دے آیت کښې دا وائی چه د الله تعالیٰ په طاعت باندے د صبر کولو لویه نمونه د الله په لاره کښې جهاد کول دی، چه بنده د خپل مالك د رضا دپاره خپل ځان قربان کړی۔ او مؤمنانو وغیره ؤ ته دا خبردارے ورکوی چه ددے شهداؤ په باره کښې به سپکے خبرے نهٔ کوئ، بلکه دوی خو لویه کارنامه اُوکړه چه د حق په لاره کښې شهیدان شول۔ لکه د آیت شان نزول هم دغه شان دے۔

شان نزول : کله چه د بدر غزوه اُوشوه نو څوارلس صحابه کرامؓ پکښې شهیدان شول، شپږ د مهاجرینو او اته د انصارو نه نو خلقو اُووئیل چه فلانے مړ شو او د دنیا د مزو او خوندونو نه محروم شو نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ (خازن، معالم التنزیل للبغوی) چه هغوی خو سو چه خوندونو له ورغلل۔

﴿فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ سبیل الله کله اعلاء کلمة الله ته وائی یعنی د الله تعالیٰ د دین د اُوچتولو د خاطره مړ شو۔ کله د الله رضا ته وائی۔

﴿اَمْوَاتٌ﴾ دا خبر دے دپاره د مبتدا (اَیْ هُمْ اَمْوَاتٌ) ۔(چه دا مړهٔ دی) ظاهراً خو مړهٔ دی ځکه (يُقْتَلُ) (وژلے شوی) لفظ پرے دلالت کوی۔ خو معنیٰ دا ده : (۱) [اَمْوَاتٌ اَیْ كَسَائِرِ الْاَمْوَاتِ] چه د عامو مړو په شان ئے مهٔ ګڼرئ (چه عام خلق مړهٔ شی نو په تکلیف او مصیبتونو کښې وی، او دوی د هغوی په شان نهٔ دی)۔ (معالم التنزیل د بغوی)۔

(۲) او دارنګه داسے مړی ورته مهٔ وایئ چه روح او بدن دواړه ئے مړهٔ دی، او هیڅ فائده نهٔ اخلی خوند نهٔ اخلی۔ نو دلته نفی د خاص قسم مرګ ده۔(۳) اَمْوَاتٌ فِي الْعَوَالِمِ الثَّلَاثَةِ: الدُّنْيَا وَالْبَرْزَخِ وَالْآخِرَةِ۔ که دنیا کښې مړهٔ دی لیکن روستو دوه عالمونو کښې ژوندی دی۔

﴿بَلْ اَحْيَاءٌ﴾ ۱- یعنی ژوندی دی په برزخ کښې. چه د هغې سره د حقیقي مرګ منافات نشته. (ابن کثیرؒ وفتح البیان)۔

۲- راغبؒ په مفردات کښې معنیٰ کوی (مُتَلَذِّذُوْنَ) خوندونه او مزې اخستونکی دی. څنګه مزې اخلی؟ نو په هغې تاسو نهٔ پو هیږئ۔

۳- یا معنیٰ ده : اَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ : (دغه شان په سورة آل عمران (۱۶۹) کښې راغلی دی هغه د اُحد د شهیدانو په باره کښې دی) یعنی د الله په نیز ژوندی دی، او د دنیا په احکامو کښې ژوندی نهٔ دی، داسې ژوندی نهٔ دی چه د چا حاجات دې پوره کړی، یا د چا آواز دې واوری، یا دې د هغوی روحونه دنیا ته راځی، او خلقو سره دې مددونه کوی۔

بلکه پدې آیت کښې الله تعالیٰ د خلقو وَهم رد کولو چه د عامو خلقو ګمان داوو چه په بدر کښې کوم شهیدان اُوشو، نو هغوی لاړل ختم شو، نو الله فرمائی : د مړو ګمان پرې مهٔ کوئ چه دا مړې دی، او ختم شو، هیڅ مزې به ورته نهٔ ملاویږی. بلکه ددهٔ روح ژوندې دې، او بدن ته ئې په قبرونو کښې نعمتونه ورکول کیږی خو لیکن د دنیا په لحاظ مړ دې. دنیا ته بیرته نشی راتلې۔

فقهاؤ لیکلی دی : [اَمْوَاتٌ فِيْ اُمُوْرِ الدُّنْيَا اَحْيَاءٌ فِيْ اُمُوْرِ الآخِرَةِ] د دنیا په کارونو کښې مړهٔ دی او د آخرت په کارونو کښې ژوندی دی) نو د دنیا سره ئې هیڅ قسم تعلق نشته۔

﴿وَلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ﴾ یعنی مونږ ته د هغوی د ژوند او مزو اخستو پته نشته چه په څه طریقه دې. د دنیا په لحاظ مړهٔ دی. ښځې ئې خلقو واخستې، مال ئې ورله تقسیم کړو، د دنیا په حال نهٔ پو هیږی، لیکن قبر کښې مزې کوی څکه قبر یا د جنت باغیچه ده یا د دوزخ یوه کنده ده، هلته راحت دې یا سخت مصیبت دې۔

فائده: دا آیت د برزخ په ژوند باندې دلیل دې او دا چه د برزخ ژوند د دنیاوی ژوند نه افضل او اکمل دې. څکه د هغه ژوند تعلق د دنیا په نسبت د آخرت سره زیات دې۔

بیا حدیث کښې راغلی دی چه :

«د شهید روح د شنو مرغانو په ججورو کښې اچولې شی او په جنت کښې چکرې لګوی او خوراکونه کوی او د عرش نه لاندې قندیلونو کښې آرام کوی»۔ (صحیح مسلم)

او د عام مؤمن روح د مرغئ په شکل په جنت کښې وی۔ (مسند احمد)

نو معلومه شوه چه د شهید روح ډیر افضل دې پدې وجه ئې دلته ددې تخصیص هم اُوکړو۔

بیا د آخرت او برزخ په اعتبار سره ټول خلق ژوندی دی، لیکن فرق دې، انبیاء علیهم السلام ډیرو مزو والا وی، بیا وروستې شهداء وی بیا عام مؤمنان وی۔ او کفار خلق په عذاب کښې وی۔

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ بِشَیۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَالۡجُوۡعِ
او خامخا مونږ به امتحان کوو په تاسو باندے په معمولي څیز سره د یرے نه او د لوږے نه
وَنَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَنۡفُسِ وَالثَّمَرٰتِ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۵۵﴾
او د کموالي د مالونږ او د نفسونو او د میوو نه او زیرے ورکړه صبرناکو ته۔

تفسیر: پدے آیت کښې الله تعالیٰ مؤمنانو ته د صبر امر کوی ځکه چه څوك د دعوت الی الله او جهاد فی سبیل الله ذمه واری قبوله کړی، نو دهغه مقابله به د فاسقانو، فاجرانو سره راځی او څوك چه په حق ولاړ وی او هغے ته نور خلق رابلی نو په هغوی به از میښت او امتحان ضرور راځی، همدا ابراهیمی سنت دے، او دا امتحان پدے وجه هم ضروری دے چه په دروغجن او رشتینی، په صبر کونکو او جزع فزع کونکو کښې تمییز او فرق اُوشی۔

او پدے کښې په پنځو مصیبتونو باندے د صبر کولو امر دے۔

د مصیبتونو د راتللو فائدے

الله تعالیٰ ولے امتحانات راولی ؟ دا ددے دپاره چه بنده مؤمن سرۀ زر دی او سرۀ زر خلق دے دپاره اُور کښې اچوی چه والیٔ او ګانړۀ ترے جوړه شی، بنګړی، ګینتهه ترے جوړه شی او ویلی کوی ئے، دے دپاره چه خِیری او ګندونه ترے لری شی۔ او د مخکښې نه الله تعالیٰ مونږ له خبر راکوی چه امتحان به راولم، خبر شئ، دے دپاره چه مصیبت آسان شی ځکه چه کله انسان ته معلومه شی چه دا د الله تعالیٰ قانون دے چه په بنده ابتلاء راولی، او د هغه د پاکولو دپاره ئے راولی، او په دے کښې د الله تعالیٰ ډیر حکمتونه وی، د بندګانو د مزاج مطابق په چا سخت مصیبت راولی، په چا آسان راولی، الله تعالیٰ ډیر حکیم ذات دے، او که انسان ته دا د مخکښې نه معلومه نۀ وی او امتحان ناڅاپی راشی، نو بیا به ډیر سخت وی، د انسانانو زړونه به پکښې اُوړی۔ لکه صحابه کرامؓ په غزوه خندق کښې اُووئیل :

﴿هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ وَمَا زَادَهُمۡ اِلَّاۤ اِيۡمَانًا وَّتَسۡلِيۡمًا﴾ دا ئے ځکه اُووئیل چه مخکښې نه ورته معلومه وه چه امتحان به راځی۔

نو تاسو به د صبر نه کار اخلئ ! ولے که بنده صبر اُونکړی نو مصیبت به راشی او اجر به ئے اُونۀ شی او چه صبر اُوکړی غټ اجرونه به ورته حاصل شی۔

﴿لَنَبۡلُوَنَّكُمۡ﴾ ابتلاء (امتحان) الله تعالیٰ په انبیاؤ علیهم السلام، مؤمنانو او کافرانو راولی پدے

تهولو كښې بيلې بيلې حكمتونه وي په انبياء عليهم السلام او مؤمنانو امتحان راولي:

(۱) پدے كښې حكمت دا دے چه د بندګانو ګناهونه معاف كړي.

(۲) بنده ته د هغه حقيقت ښكاره كول غرض وي، چه غټے دعوے مهٔ كوه.

۳- كله پرے مرتبے اُوچتوي خاصكر د انبياء كرامو ابتلاء اتو سره درجات پورته كيږي. او په كافرو باندے عذاب وي او د هغوي توبے ته متوجه كول وي. او ددے اُولس (۱۷) حكمتونه تفسير قاسمي (۱/٤٠٥) ليكلي دي.

٤- خبيث د طيب نه جدا كوي.

٥- د الله د جباريت او قهر ته اشاره ده.

٦- د انسان ذلت او كمزورئ ته اشاره وي.

۷- د انسان د زړهٔ التجاء او توجه الله تعالىٰ ته پيدا شي ځكه چه ابتلاء نهٔ وي، نو بيا انسان الله ته پوره نهٔ متوجه كيږي. ابتلاء به نهٔ غواړے. ځكه حديث كښې دي: «تاسو د دشمن د ملاقات (يعني د جنګ) ارمان مهٔ كوئ (بلكه) د الله نه عافيت غواړئ خو كله چه د دشمن سره ملاؤ شوئ نو بيا صبر كوئ». الحديث. (مستدرك د حاكم بسند صحيح) ځكه په عافيت غوختلو كښې په الله تعالىٰ اعتماد وي او د خپل ځان كمزورتيا وي او په جنګ غوختو كښې په خپل ځان اعتماد وي. نو ځكه د عافيت سوال د الله تعالىٰ خوښ دے.

۸- چا چه ګناه كړي وي هغه ته معافي كول.

﴿وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ﴾. ۹- په مصيبت باندے صبر كولو كښې بنده ته ډير اجر وركول.

۱۰- ددے د فوائدو د وجه نه پدے باندے خوشحاليدل.

۱۱- په مصيبت زدهٔ خلقو باندے رحمت كول او د هغوي سره د مدد كولو جذبه پيدا كيږي.

۱۲- د عافية او صحت قدر پيژندل او په هغے شكر كول.

۱۳- پدے كښې پټ فوائد وي ﴿فَعَسٰى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا﴾ كله چه جبار بادشاه ساره د ابراهيم عليه السلام نه اُونيوله نو پدے مصيبت كښې دا فائده پټه شوه چه هغے ته ئے هاجره رضي الله عنها په خدمت كښې وركړه نو د هغے نه د ابراهيم عليه السلام ځوي اسماعيل عليه السلام پيدا شو او د اسماعيل په اولادو كښې خاتم النبيين (محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم) پيدا شو. نو پدے مصيبت كښې څهٔ ډير ښهٔ خير وو !!.

۱٤- مصيبت او تكليفونه د انسان نه تكبر، فخر، خيلاء، تجبر او ظلم ختموي. نمرود ځكه سركشي كړے وه چه الله تعالىٰ ورله بادشاهي او روغ صحت وركړے وو.

۱۵- په مصيبت باندې راضي كيدو سره د الله تعالىٰ رضا حاصليږي- (وَرِضْوَانٌ مِنَ اللهِ اَكْبَرُ) ـ ددې فوائدو د وجه نه مصيبتونه په انبياء عليهم السلام او بيا په غوره غوره خلقو زيات وي- (قاسمیؒ)

او د ابتلاء معنىٰ ده :[اَنْ يُّظْهِرَ فِي الْوُجُوْدِ مَا قَدْ عَلِمَهٗ] بندګانو ته هغه شې راښكاره كول كوم چه الله ته معلوم دې)-

(بِشَيْءٍ) شيء لفظ ئې نكره د تحقير دپاره راوړه، يعنى لږ غوندې يره به راځى- او دا يره به كله د دشمنانو د طرف نه وى او كله به عامه يره وى- ﴿وَالْجُوْعِ﴾ او كله به لوږې راځى- ﴿وَنَقْصٍ مِنَ الْاَمْوَالِ﴾ كله به مالونه كميږى، څاروى به مړۀ كيږى، مال به ورك شى، كاروبار كښې به تاوان اُوكړى- حلال به كم او حرام به ډير ملاويږى-

(وَالْاَنْفُسِ) كله به بال بچ، يا مور او پلار، ښځه يا خاوند، او خپلوان به مړۀ يا قتل شى- دوستان او ملګرى به مړۀ يا شهيدان شى-

(وَالثَّمَرَاتِ) كله به د ميوو قحط راشى او د زمكې غلې او آمدنئ به كمې شى، باغونه به سيلابونه او ګلئ خراب كړى، په تا به امتحان وى چه تۀ صبر كوې او كه په الله اعتراض كوې-دا كارونه به كله د جهاد په وجه پيدا كيږى او كله به د هسې تكوينى آفتونو په وجه-ابن عباسؓ فرمائى: ددې نه مراد (قِلَّةُ النَّبَاتِ وَانْقِطَاعُ الْبَرَكَات) دى يعنى ګياه ګانې به كمې شى او بركات به ختم شى)-

امام شافعیؒ پدې كښې وئيلى دى چه دا دينى امتحانات دى، د خوف نه مراد جهاد، يا د الله نه يره ده-او(الْجُوْعِ) نه مراد روژه د رمضان ده او (نَقْصٍ مِنَ الْاَمْوَالِ) نه مراد زكوٰة او انفاق فى سبيل الله دى چه دا په ظاهره كښې مال كموى ليكن په حقيقت كښې ئې ډيروى-او (اَنْفُس) نه مراد د الله په لاره كښې شهادتونه دى يا بدنى امراض دى-

(وَالثَّمَرَات) نه مراد عشر وغيره دى، يا د اولادو مړۀ كيدل دى- ليكن دا دينى امتحانات سخت نۀ دى، دنياوى مصيبتونه سخت وى، بيا دا مصيبتونه الله تعالىٰ په انسان باندې ټول په يو ځائې نۀ راجمع كوى څكه بيا انسان ډير په تكليف كيږى، د طاقت نه خبره اُوځى- نو تاسو به څه كوئ ؟ (فَاصْبِرُوْا) صبر به كوئ-

﴿وَبَشِّرِ الصَّابِرِيْنَ﴾ يعنى دوى ته به هر قسم خوشحالى حاصليږى په دنيا او په قبر او په حشر كښې- شيخينو د ابو هريره او ابو سعيد خدرى رضى الله عنهما نه روايت كړيدې چه رسول الله ﷺ فرمايلى دى : ((مسلمان ته چه كله هم كومه پريشانى يا غم، يا ستومانى يا تكليف رسيږى تردې چه يو ازغې په دۀ كښې ننوزى نو الله تعالىٰ د هغې په بدله كښې ددۀ ګناهونه معاف كوى))-

الَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ

(صبرناك) هغه خلق دي كله چه اُورسيږي دوى ته څۀ مصيبت، (نو) دوى وائي يقيناً مونږ د الله يو

وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۱۵۶﴾

او يقيناً خاص مونږه هغۀ ته ورګرځيدونكي يو۔

تفسير: پدې كښې د صابرينو علامه او نخه بيانوي۔

مُصِيْبَةٌ: كښې تنوين د تحقير او تقليل دے۔ يعنې كه دوى ته لږ شان مصيبت هم اُورسي تردے چه د نبي ﷺ ډيوه به مړۀ كيدۀ، يا به ئے د څپليۍ وندنه اُوشوكيده، نو هم اِنَّا لِلّٰهِ به ئے وئيله۔ او دا دعا په هر مصيبت كښې وئيل سنت عمل دے، او صرف د مرګ د خبر اَوريدو په وخت پورے خاص كول ئے ندي پكار۔

﴿قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ﴾ په خوله دا كلمه وئيل سنت دي، او عقيده ساتل ئے فرض دي، او د وينا په وخت كښې زړۀ كښې ددے خبرے استحضار پكار دے۔ ﴿اِنَّا لِلّٰهِ﴾ الله زمونږ مالك دے، مونږه ئے مملوك يو، د هغۀ خوښه ده چه هغه راباندے څۀ كوي، نو مونږه د الله يو چه مو وژني او كه راحت راولي، يا مصيبت راولي، زمونږ په ځان كښې واك نشته، او هغۀ په خپل ځائے باندے راولي، حكيم دے۔ نوځوك چه ځان مملوك اُوګڼړي بيا ورته مصيبت آسانيږي۔

﴿وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ﴾ يعنې مرګ به راځي۔ نو د مرګ په يادولو مصيبت آسانيږي چه دا مصيبت به هميشه نۀ وي بلكه دا ختميدو والا دے، صبا خو زمونږ مرګ دے، آخرت له به ورځو، كه په خوشحالۍ كښې ډے مرګ رایاد كړو نو تكبر به دركښې نۀ راځي چه دا خوشحالي به هميشه نۀ وي او كه په مصيبت كښې ډے رایاد كړو نو مصيبت به دربانده آسان شي۔

۱- په (اِنا لله) كښې په الله تعالىٰ باندے د اعتراض نۀ كولو اقرار دے ځكه چه هغه مالك او متصرف دے او په دويم كښې د زړۀ تصديق او تسلي ده چه د الله په نيز به پدے مصيبت سره جزاء او ثواب ملاويږي او په دے دواړو سره د زړۀ صبر حاصليږي۔ ۲- دارنګه په اول كښې د عبوديت اقرار دے او په دويم كښې الله تعالىٰ ته د كارونو تفويض (سپارل) دي۔

۱- په حديث كښې د څۀ نقصان په وخت د (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ) سره (اَللّٰهُمَّ اْجُرْنِيْ فِيْ مُصِيْبَتِيْ وَاَخْلِفْ لِيْ خَيْراً مِنْهَا) فضيلت هم راغلے دے، (صحيح مسلم، كتاب الجنائز رقم: ۹۱۸)۔

څوك چه دا دعا د يو مصيبت يا د يو شي د فوت كيدو يا د ورك كيدو په وخت اُووائي نو الله به ضرور هغه ته د هغې نه بهتره بدله وركوي۔ ام سلمةؓ دا دعا د نبي ﷺ په خودنه د ابوسلمةؓ د وفات په وخت اُووئيله هغه وائي: زما ګمان نۀ وو چه د ابوسلمةؓ نه به ځوك غوره وي، نو الله

تعالیٰ راته د ابو سلمةؓ نه غوره رسول الله ﷺ په نکاح راکړو۔

۲- ددے یو فضیلت دا هم راغلے دے : امام احمدؒ د حسین بن علی رضی الله عنه نه روایت کړے چه نبی ﷺ اُوفرمایل : ((کوم مسلمان سړی یا ښځے ته چه یو مصیبت اُورسی او هغه ئے رایاد کړی اګرکه ډیر وخت ئے تیر شوے وو، او د هغے دپاره (انا لله وانا الیه راجعون) اُووائی نو ضرور به الله دهٔ له په دغه وخت کښں اجر راواپس کوی او د مصیبت د ورځے په شان اجر به ورکوی))

(مسند احمد ۲۰۱/۱) دا روایت ضعیف جدا دے۔ پدے کښں ابو المقدام متروك راوی دے کما فی الحق الصریح (٦٨٢/٦)۔

۳- د بنده چه ماشوم بچے وفات شی، نو الله تعالیٰ ملك الموت ته وائی چه تا زما د بنده بچے او د هغه د سترګو یخوالے او د زړهٔ میوه واخسته ؟ هغه وائی، آؤ۔ الله فرمائی : هغه څه اُووئیل : ملك الموت وائی : هغه ستا حمدونه او (انا لله) اُووئیله۔ الله فرمائی : دهٔ له په جنت کښں کور جوړ کړئ او د هغے نوم (بیت الحمد) کیدئ))۔ یعنی د حمد په ذریعه حاصل شوے کور۔

(مسند احمد ٤١٥/٤، والترمذی وسنده صحیح)۔

٤- امام بخاریؒ د ابو هریرةؓ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((چا باندے چه الله د خیر اراده اُوکړی هغه ته مصیبت اُورسوی))۔ (قاسمیؒ والخازنؒ)

اُولَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞ
دغه کسان په دوی باندے ثناء ګانے او آفرین دے د طرفه د رب د دوی نه او رحمت دے
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ﴿١٥٧﴾
او دغه کسان هم دوی لار موندونکی دی۔

تفسیر : اُوس د صابرینو درے قسمه انعامات بیانوی۔ (۱) د الله د طرف نه بخنه او صفت او شاباسے۔ (۲) او رحمتونه (۳) او د هدایت لارے خودل۔

(صَلَوَاتٌ) دلته په معنیٰ د ثنا او مغفرت او آفرین دے۔ (ابن عباسؓ)

یعنی الله ئے صفت کوی او بخنه ورته کوی او آفرین او شاباسے پرے وائی او برکت ورکوی۔ او د رحمت معنیٰ ئے نهٔ ده ځکه هغه روستو ذکر دے۔ ددے نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ کله مصیبت راولی نو انسان ته پدے سره بخنه کوی، او مرتبے ورله اُوچتوی۔ او رحمت او خوشحالی را روانه وی، او کله چه فقر راشی نو پو هه شه چه ددے نه روستو مالداری راځی او که مرض

راشي نو پو هه شه چه ددے نه روستو صحت راځي (اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا) ځکه د هرے سختۍ نه روستو آساني وي، ليکن الله تعالىٰ د بنده لږ صبر معلوموي۔

امام راغبؒ وائي : صلاة په اصل کښې دعا ته وائي، دا د الله د طرف نه کله په معنىٰ د برکت سره او کله په معنىٰ د بخښے سره وي۔ امام رازيؒ وائي : صلاة د الله د طرف نه ثنا او مدح او تعظيم (لوئي بيانولو) ته وائي۔ امام راغبؒ وائي : صلوات ئې جمع راوړه اشاره ده چه دا صفتونه به ډير وي او دا په دنيا کښې په طريقه د توفيق او لارخودنے سره او په آخرت کښې په ثواب او بخښے سره حاصليږي۔ (قاسميؒ)

﴿ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴾ يعنې دے کسانو ته هدايت اُوشو يعني د ربوبيت او عبوديت حق ئې پوره اداء کړو۔نو ځکه الله ورته پوره صلوات او رحمتونه ورکوي۔ (قاسميؒ)۔

عمر فاروق ﷺ فرمائي :(نِعْمَ الْعِدْلَانِ وَنِعْمَ الْعِلَاوَةُ) (صحيح بخاري) ښه دوه اندي دي (صلوة او رحمت) او ښه سربارے او زياتي پنډ دے (هدايت)۔ چه الله ورته هدايت والا هم اُووئيل۔ يعنې الله ورله غټه فائده ورکړه۔

اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَاجُنَاحَ
يقيناً صفا او مروه د نخود دين د الله نه دي نو څوك چه حج د بيت الله کوي يا عمره کوي نو نشته هيڅ ګناه
عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا
په دهٔ باندے چه څې راځي په مينځ ددے دواړو کښې او چا چه په خوشحالۍ سره اُوکړه نيکي
فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۵۸﴾
نو يقيناً الله قبلونکے دے، پوهه دے۔ (په هرڅه)

تفسير: دا آيت د قبلے د بدليدو سره متعلق دے، مينځ کښې ئې مؤمنانو ته آداب او تنبيهات بيان کړل نو اُوس د صفا مروه مسئله بيانوي ځکه قبله بدله شوه، نو په دے کښې د صفا او مروه مسئله هم راغله ځکه دا د قبلے خوا کښې دے۔

پدے مقام کښې يو وهمي اعتراض دے او دوه واقعي اعتراضونه دي۔ وهمي اعتراض (يعنې د مشرکانو په ذهن کښې دا خبره راتله اګرکه هغوی دا اعتراض نهٔ دے کړے) چه تاسو مونږ د شرك نه منع کوئ او خپله شرك کوئ ځکه صفا مروه کښې منډے وهئ۔ د هغے تعظيم کوئ او دا خو د

اساف او نائلې مکان دے۔ (تبصير الرحمن للمهائمیؒ)

نو د هغې جواب اُوشو چه دلته گرځيدل شرك نۀ دے ځکه شرك خو ديته وائي چه خلق غير الله عبادت اُوكړي او دا خو ځائے د شعائر الله دے، د الله په امر باندے مونږ دلته عبادت كوو۔ او ددے ځائے عبادت نۀ كوو بلكه د الله عبادت دے۔اگركه مشركانو ترے د شرك ځائے جوړ كړے وو۔

دويم : واقعي شبهات دا وو (١) - په صفا او مروه كښې مخكښې دوه بتان پراته وو (اُساف) په صفَا او (نائلـه) په مروه باندے او دا پخوا زمانه كښې دوه كسان وو چه يو بل سره ئے پدے مكان كښې زنا كړے وه نو الله ترے كانړي جوړ كړل او خلقو د عبرت دپاره يو په صفا او بل په مروه كيخودل چه څوك د حرم بيعزتي كوي، د هغه به دا حال وي، روستو زمانه كښې شيطان خلقو ته دا دعوت وركړو چه ستاسو مشرانو خو به ددے دواړو عبادت كولو، نو خلقو د دوي عبادت شروع كړو۔ كله چه اسلام راغلو نو مسلمانانو اُووئيل دا خو د شرك ځائے وو، مونږ له به دلته منډے وهل ناروا وي؟۔د مشركانو سره مشابهت دے۔ نو الله دا آيت نازل كړو۔ چه بالكل جائز دي او دے مكان كښې اگركه شرك شويدے ليكن پدے سره د الله تعالىٰ د حرم تعظيم نۀ دے ختم شوے۔او دا د الله تعالىٰ د دين د نخو نه يوه نخه ده پدے كښې به تاسو عبادت كوئ لكه مخكښې په بيت الله كښې دننه بتان پراته وو، هلته هم شرك شوے وو، نو بيا هغه خالي كړے شو او د الله بندگي پكښې شروع شوه۔په هغې سره د كعبے احترام ختم نۀ شو۔

٢- دويم اعتراض دا وو :(چه دا انصارو كړے وو)۔ انصارو به د مدينے منورے نه احرام اُوتړلو او (مُشلَّل) علاقے ته به راتلل هلته يو بُت پروت وو، د هغه (مَنَات) نوم وو، د هغه عبادت به ئے كولو او احرام به ئے د هغه دپاره تړلو، د پخوا نه به داسے راتلل او دا به ئے وئيل كه مونږ ددے نه تير شو، نو بيا زمونږ بابا خفه كيږي۔ او مونږ گناهگاريږو، دا يوه خُرافه او ډكوسله ئے جوړه كړے وه۔ صفا مروه ته په راتلو كښې به ئے گناه گنړله نو چه اسلام كله راغلے، دوي اُووئيل : د بتانو نه خو مونږ منع كړے شو خو آيا صفا مروه ته به ځو او كه نۀ ؟ نو الله تعالىٰ دا آيت راوليږلو چه آؤ، اُوس به ځئ ځكه چه تاسو په جاهليت كښې صفا مروه د منات بُت دپاره پريخودله، او اُوس به د الله دپاره صفا مروه ته ځئ۔ او د اسلام نه پس د صفا مروه بتان گوزار كړے شو۔نو دا آيت د دغه دوه سوالونو جواب دے :

﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ﴾ صفا او مروه دواړه غونډئ دي، او كعبے ته نزدے مشرقي جانب ته دوه ځايونه دي۔ صفا : په لغت كښې هموارے او خوئے گټے ته وئيلے شي جمع د صَفَاةٌ ده۔ يا مفرد دے۔ او (المروة) مفرد دے او جمع ئے (مَرْوٌ) ده، بَكرے يعني سپينے پرقيدونكے گټے ته

وئیلے شی چه د هغے نه اُور راوځی۔

(شعائر الله) جمع د شَعِيْرَةٌ ده، خاصے نخے او علامے ته وائی یعنی صفا مروه د الله تعالیٰ د دین د بعض هغه نخونه دی چه په هغے سره دین اسلام پیژندلے شی، او دا د حج تولو مواضعو او کارونو ته شامل دی، لکه طواف، سعی، حجر اسود، قربانی، مزدلفه، مِنیٰ، عرفات، هدایا، بُدنے او قلائد۔ او دغه شعائر الله ډیر شیان دی لکه علماء، مساجد وغیره۔ او د هر یو دین والو دپاره خاص نخے وی لکه د عیسایانو نخه صلیب او ګیرجه ده، او د هندوانو زنار، او د سیکانو تُوره او وبښتهٔ نهٔ اخستل وغیره۔

نو د (مِنْ شَعَائِرِ الله) معنیٰ دا ده چه د مناسکو (یعنی د حج د کارونو) او د عباداتو د علاماتو نه دی۔ یعنی دا ځایونه د الله د بندګیٔ دی۔ او دلته د حج کارونه ادا کولے شی۔

امام رازیؒ فرمائی : .... [كُلُّ شَيْءٍ جُعِلَ عَلَمًا مِنْ أَعْلَامِ طَاعَةِ اللهِ فَهُوَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ]

(هر هغه شے چه د الله د طاعت او د بندګیٔ نخه اُوګرځی هغه د شعائر الله نه دے)۔ (قاسمیؒ)

۲- شعائر : د الله تعالیٰ د قربت او نزدیکت علاماتو ته هم وائی۔ (قاسمی)

انسان پدے سره الله ته قریب کیږی۔

په تفسیر تدبر القرآن کښ ئے هم یوه ښه وجه دا لیکلے ده : شعیره هغه شی ته وائی چه د یو حقیقت احساس ورکونکے او د هغے مظهر او نخه (symbol) وی۔

د دین په اصطلاح کښ ددے نه مراد د شریعت هغه مظاهر دی چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول د طرف نه د یو معنوی حقیقت د شعور پیدا کولو دپاره د یوے نخے او علامے په طور مقرر کړے شوی وی۔ پدے مظاهرو کښ مقصود بالذات خو هغه حقائق وی کوم چه پدے کښ پټ وی لیکن دا مقرر کړی الله او د هغه رسول وی، پدے وجه ددے حقائقو د تعلق سره دا مظاهرَ هم د تقدیس او احترام درجه حاصلوی۔ مثلًا قربانی د اسلام د حقیقت یو مظهر دے۔د اسلام حقیقت دا دے چه بنده خپل ځان تول په توله خپل رب ته حواله کړی، خپل محبوب شے هم د هغه نه منع نکړی، ددے حقیقت عملی مظاهره لکه څنګه چه ابراهیم علیه السلام د خپل ځوی په قربانولو سره اُوکړه هغه د انسانی تاریخ یوه بے مثله واقعه ده۔ پدے وجه الله تعالیٰ د هغے په یادګار کښ د څاروو قربانی د یوے شعیرے په طور مقرر کړل، دے دپاره چه ددے په ذریعه په خلقو کښ د اسلام اصل حقیقت همیشه تازهٔ پاتے شی۔

دغه شان حجر اسود یوه شعیره ده چه پدے باندے لاس راخکل یا ښکلولو سره بنده د خپل رب سره د اطاعت او بندګیٔ وعده تازهٔ کوی۔ دغه شان جمرات هم د شعائر الله نه دی۔ دا نخے ددے

دپاره اُودرولے شویدی چه حاجیان پدے باندے کانړی ویشتو سره د خپل هغه عزم اظهار کوی چه دوی به د بیت الله په دشمنانو او د اسلام په دشمنانو لعنت کوی که هغه د ابلیس د اولادو سره تعلق لری یا د انسانانو نه یوے ډلے سره۔ او د هغوی په خلاف د جهاد دپاره هر وخت تیار دی۔ دغه شان بیت الله هم یوه شعیره ده، بلکه د ټولو نه لویه شعیره ده چه د ټول امت قبله او د توحید او د مانځه مرکز دے۔ددے نه گیر چا پیره طواف او د خپلو مونځونو او مسجدونو دپاره دا قبله گرځوی او دا حقیقت راښکاره کوی چه د کوم یوالله د عبادت دپاره چه دا کور جوړ شویدے د هغه بندگان دی، هغه طرف ته مخ گرځونکی دی، د هغه عبادت کونکی او د هغه د توحید د شمع پتنگان دی، هر قسم قربانئ ته تیار دی۔ دغه شان صفا مروه هم د الله تعالیٰ د شعائرو نه دی۔ د ابراهیم ﷺ د قربانئ ځائے مروه وو، پدے وجه پدے کښ سعی کول د الله د حکم په تعمیل کښ سرگرمی او خپله غلامی ښکاره کول دی، او دارنگه د هاجرے د منډے ترړے یاد داشت دے چه هغے د الله دپاره څو مره قربانی ورکړے وه۔

ددے شعائرو متعلق درے اصول یادول پکار دی (۱) یو دا چه دا شعائر، الله او د هغه رسول مقرر کړیدی، بل هیچا ته دا حق حاصل نهٔ دے چه هغه د خپل طرف نه یو شے د دین د شعائرو او نځو نه اُوگرځوی، یا کوم شے چه په شعائرو کښ داخل دے، هغه د شعائرو د فهرست نه بهر کړی۔ په دین کښ دا قسم د ځان نه تصرفات د شرك او بدعت لارے کولاوه وی۔ تاریخ گواه دے چه کومو قومونو د خپل طرف نه شعائر مقرر کړی، هغوی د شرك او بت پرستئ لارے کولاوے کړیدی۔

(۲) دویم دا چه لکه څنگه چه شعائر، الله مقرر کړیدی نو دغه شان په اسلام کښ ددے شعائرو حدود هم الله او رسول مقرر کړیدی، د کومے شعیرے د تعظیم چه کوم شکل په شریعت کښ مقرر شویدے، هغهٔ د هغه شعیرے د حقیقت د اظهار دپاره یواځینے شکل دے۔ په بله طریقه سره ددغه شعیرے حقیقت نهٔ راښکاره کیږی۔ که په بله طریقه سره اُوکړے شی نو د هغے نه د شرك او بدعت دروازے کولاویدے شی۔ مثلاً د حجر اسود دپاره شریعت ښکلول او لاس راخکل یا هغے طرف ته اشاره کول صرف په طواف کښ مقرر کړیدی که څوك د شعائر الله د تعظیم په جوش کښ راشی، او هغه کانړی ته سجده شروع کړی یا هغه ته نذر او منښتے پیش کړی، یا په هغه باندے گولان خوارهٔ کړی یا بل یو حرکت اُوکړی نو پدے کارونو سره نهٔ یواځے دا چه د هغهٔ حقیقت نه بالکل وراندے کیږی کوم چه پدے شعیره کښ پټ دے بلکه هغه به په شرك او بدعت کښ هم اخته کیږی۔

(۳) دریم دا چه پدے شعائرو کښ اصل مقصود هغه حقیقتونه دی کوم چه پدے کښ پټ دی۔

د هغه حقیقتونو د اظهار دپاره دا شعائر ګویا کښې د قالب حیثیت لري. پدے وجه د ملت د ژوند دپاره د تهولو نه ډیره ضروري خبره دا ده چه د خلقو په زړونو او دماغو کښې دا حقیقت همیشه ژوندے او تازهٔ اوساتلے شي. که دا اهتمام ختم شي نو د دین اصل روح به اوځي، صرف قالب به باقي پاتے کیږي او بیا به په آرام آرام سره د خلقو اصل توجه صرف په قالبونو باندے پاتے شي چه د هغې په نتیجه کښې به دین صرف د رسمونو یوه مجموعه پاتے شي.

دلته چه صفا او مروه ته شعائر الله وئیلے شویدي نو پدے سره مقصود یو طرف ته خو دا دے چه دا دواړه شعائر د جاهلیت د ګرد او غبار نه پاك کړے شي، او د ابراهیمي وراثت پورته کونکې امت دپاره بیرته د سر نه تازهٔ کړے شي. چه دلته به مشرکانو شرك او بت پرستي کوله، لیکن اصل تاریخ دا دے چه دا د ابراهیم ﷺ د وخت نه د شعائر الله نه دي او ددے ترمینځ سعي او طواف د ابراهیم ﷺ د سعي او طواف یادګار دے لیکن مشرکانو لکه څنګه چه د توحید په مرکز بیت الله کښې په سلګونو بتان اودرولي، دغه شان دا شعائر ئے هم په بت پرستئ سره ککړ کړل. اوس دا ستاسو ذمه واري ده چه تاسو د ګندګئ دا ډیران لرے کړئ او دا شعائر د سر نه تازهٔ کړئ او پدے کښې سعي او طواف صرف د الله دپاره خاص کړئ. او بل طرف ته یهودیانو چه پدے شعائرو باندے د تحریف او د کتمان کومه پرده اچولے وه لکه روستو آیت کښې راځي قرآن هغه پرده هم پورته کړه. څکه چه په تورات کښې دا ذکر په صراحت سره موجود وو چه ابراهیم ﷺ د خپل یوځوي قرباني د مروه په خوا کښې کړے وه، لیکن یهودیانو صرف پدے خیال سره ددے لفظ صحیح تلفظ بالکل ختم کړو چه په څهٔ طریقه سره دا مقام د مکے په ځائے په بیت المقدس کښې ثابت کړي، او دغه شان د آخري نبي د بعثت متعلق چه کومے پیشین ګویانے په تورات کښې موجود دے دي، هغه د اسماعیل د نسل په ځائے د اسحاق نسل طرف ته منتقل شي، نو قرآن دلته د مروه حواله ورکولو سره دے نخے طرف ته ګوته پورته کړه چه د خالص حسد او شرارت په بناء ددے د غائب کولو کوشش شوے وو. (تدبر قرآن).

﴿فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ﴾ **مناسبت** : مخکښې د صفا او مره تذکره اوشوه، اوس ددے ترمینځ د سعي حکم بیانوي، ګویا کښې اصل دا شو : صفا مروه د الله د شعائرو نه دي نو پدے کښې سعي کوئ او دا حرام مهٔ ګڼړئ.

حج قصد ته وائي. او عمره زیارت ته وائي. او په شریعت کښې خاص عبادتونو ته وئیلے شي چه د بیت الله او د هغې د ماحول سره ئے تعلق دے.

﴿جُنَاح﴾ : د جیم په پیښ سره (ګناه، تنګسیا او مواخذے (یعني رانیولو) ته وئیلے شي.

﴿ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ﴾ (د طواف) نه مراد سعي ده ځکه دے کښې هم تلل راتلل دي۔ د طواف معنیٰ ده، ډير تـلـل راتلل برابره ده ګير چاپيره د يو شي نه وي او که نهٔ وي۔ دے سعي ته ئے د طواف نوم ورکړے ځکه چه دا هم د کعبے نه د ګير چاپيره ګرزيدو مشابه دے۔ دا سعي ئے د حج او عمرے سره مشـروط کـړه ددے نـه دا خبره راوځي چه دا د حج او عمرے د مجموعه نه يو جز دے، د هغوی نه جـدا ددے هيـڅ مسـتـقـل حيثيت نشته، نو پدے سره د مشرکانو د هغه رسمونه نفي اُوشوه چه هغوی ددے شعائرو په سلسله کښې د ځان نه زياتی کړيٰ وو چه د بتانو دپاره به ئے دا سعي کوله۔

د سعي حکم : سعي په حج او عمره کښې واجب ده ليکـن ددے الفاظو د ظاهر نه داسے معلومیږي چه په حج او عمره کښې سعي کول او نکول برابر دي مګر داسے نهٔ ده۔

عروه د عائشے رضي الله عنها نه (چه دا ئے ماسی (ترور) وه) سوال اُوکړو چه دے آيت نه خو ظاهر کښې معلوميږي چه سعي واجب نهٔ ده بلکه د سعي صرف اجازت دے ځکه چه معنیٰ دا ده چه ګناهګار نهٔ دے که سعي کوي او که نهٔ۔

١- جواب : عائشے ورته جواب ورکړو (بِئْسَمَا قُلْتَ يَا ابْنَ اُخْتِيْ) (اے خوريه ! خبره دے غلطه اُوکړه)۔ کـه خبره دغه شان وے لکه څنګه چه تا اُوويـل نو بيا به الله داسے وئيلي وے (اَنْ لَّا يَطَّوَّفَ بِهِمَا) يعنـي په سعي نـهٔ کـولو ګناهګار نهٔ دے۔او حال دا چه دلته خو وائي چه په سعي کولو باندے ګنـاهـګار نهٔ دے نو په سعي کولو چه ګناهګار نهٔ شو نو سعي کول به يا واجب وي يا به مستحب، د نورو دلائلو نه معلومه ده چه سعي کول واجب دي۔

٢- دويـم جـواب دا چه (لَاجُنَاحَ) په جواب د وَهم کښې وئيلے شويدے ځکه چه مسلمانانو ګمان کـولو چه د شرك د مشابهت د وجه نه به دے کښې ګناه وي، نو د هغے مطابق جواب ورکړے شو چه ګناه پکښې مهٔ ګنړئ او ضرور ئے کوئ، ستاسو عمل به ستاسو د نيت مطابق وي، پدے مقام کښې د بتـانو د موجودګئ په وجه اګرکه قباحت راغلے دے ليکن چونکه دا د حج د شعائرو نه الله مقرر کړيدي پدے وجه تاسو پدے کښې سعي کوئ، ددے په وجه ددے مقام قباحت ختميږي۔

په صحيح مسلم کښې د جابر بن عبد الله ﷺ روايت دے چه رسول الله ﷺ د بيت الله د طواف نه روستـو د صفا او مروه په مينځ کښې سعي اُوکړه او وے فرمايل :((سعي کوئ ځکه الله تعالیٰ په تاسـو باندے سعي فرض کړيده))۔ (وَرَوَاهُ اَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه وَصَحَّحَهُ الْاَلْبَانِيُّ) او عـائشه رضي الله عنـهـا فـرمـائـي : د صفا او مروه په مينځ کښې طواف د رسول الله ﷺ سنت دے، پدے وجه هيچا دپاره ددے پريخودل جائز نهٔ دي۔ (صحيحين) (تيسير الرحمن) ددے نـه مـعلومه شوه چه سعي د حج او د عمرے د ارکانو نه يو رکن دے۔ او د عامو علماؤ په نيز فرض ده۔

فائده : د صفا او مروه په مينځ کښې سعي (منډه وهل) د هاجره (ام اسماعيل) عليها السلام د منډې وهلو يادګار دے، کله چه د هغې سره خوراك څكاك ختم شو او خپل ځوى ئے د تندے نه پريشانه اُوليدو، نو ډيرے پريشانئ په حالت کښې د الله مخے ته ئے عجز او انکسارى سره د صفا او مروه دوارو غرونو ترمينځ اُووه ځل منډے اُووهلے، دے دپاره چه څوك مددګار به وينى. نو د الله رحمت په جوش کښې راغلو او جبرئيل عليه السلام راغلو او په وزر وهلو سره ئے زمزم چينه راوخکله او د هغې درد او پريشانى ختمه شوه.

پدے وجه سعى کونکى له پکار دى چه په خپل زړۀ کښې الله ته د خپل ذلت او محتاجئ تصور اُوکړى، د خپلو ګناهونو په باره کښې معافى اُوغواړى، او دعا اُوکړى چه الله د هغه د زړۀ حالت بهتر جوړ کړى او د هغه عيبونه او نقصانونه لرے کړى.

بعض علماء وائى لکه چه مخکښې تير شو چه دا د ابراهيمى وراثت يادګار دے چه په مروه کښې ابراهيم عليه السلام په خپل ځوى اسماعيل قربانى ورکړے وه. (تدبر قرآن)

﴿ وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا ﴾ تطوع : د زړۀ په خوشحالئ سره يو نيك عمل کول، برابره ده فرض وى که نفل. (خطيب شربينىؒ).

دا الفاظ ئے زيات کړل ځکه چه په حج او عمره کښې ډير ښۀ عملونه کيږى، طوافونه، ذکرونه، استغفارونه، نفلونه او مسجد حرام کښې کيناستل دى. يا پدے سره د فرض حج او د عمرے د اداء کولونه روستو نفلى حج او عمرے کولو ته ترغيب دے.

﴿ فَإِنَّ اللهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴾ شاکر د الله په صفت کښې په ډيرو معنو دے :

(۱) اَلْمُجَازِىْ : بدله ورکونکے دے، د انسان عمل بے بدلے نۀ پريدى.

(۲) اَلْمُثِيْبُ عَلَى الْقَلِيْلِ بِالْكَثِيْرِ (ابن کثير) په لږ عمل باندے ډير اجر ورکوى. نو د الله په نيز د عمل ډير قدر وى. پدے وجه حديث کښې دى : ((د نيکيو نه هيڅ شے سپك مۀ ګڼره اګرکه د يو ورور مسلمان سره په کولاؤ تندى ملاؤ شے)). (صحيح مسلم)

نو د شاکر معنىٰ ده قدردان ذات. د الله شکر دا دے چه د عمل قدر پيژنى. نو تا له هم پکار دى چه تۀ د عمل قدر اُوپيژنے. (۳) شاکر د شکر نه اخستے شويدے (الثناء الجميل) ته وائى، يعنى د بنده په نيك عمل باندے ښائسته ثنا او صفت ويونکے دے.

او د بنده شکر دا دے چه د الله نعمتونه اُومنى او د هغه بندګى اُوکړى. بنده هم شاکر دے او الله هم شاکر دے ليکن د الله شکر جدا او د بنده جدا دے.

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى
يقيناً هغه كسان چه پټوى هغهٔ څه چه نازل كړى دى مونږ د ښكاره دليلونو نه او د هدايت د خبرو نه،
مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِى الْكِتٰبِ اُولٰٓئِكَ
پس د هغې نه چه مونږ هغهٔ بيان كړى دى د خلقو دپاره په كتاب كښې، دغه كسان
يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ ﴿۱۵۹﴾
لعنت كوى په دوى باندے الله تعالىٰ او لعنت وائى په دوى لعنت ويونكى.

تفسير: دے آيت كښې هغه خلقو ته سخت وعيد او رټنه ده چه د انبياء او رسولانو په ذريعه راليږلے شوے هدايت او ښكاره حكمونه او د دين مسئلے پټوى.

دا آيت اگركه د يهود او نصاراؤ په باره كښې نازل دے چه هغوى د نبى كريم ﷺ د صدق نخے پټے كړے وے. دارنګه د قبلے د بدليدو مسئله ئے پټه كړے وه. او توحيد ئے پټ كړے وو. ليكن ددے حكم عام دے، ځكه چه په قرآن او حديث كښې د [اَلْعِبْرَةُ لِعُمُوْمِ اللَّفْظِ لَا لِخُصُوْصِ السَّبَبِ] قانون دے يعنى د قرآن او حديث عام الفاظو له به اعتبار وى اگركه په يو خاص سبب كښې نازل شوى وى) نو هر هغه شخص چه د الله د طرف نه د نازل شوى حق نخے پټوى، هغه پدے وعيد كښې داخل دے، كتمان حق (د حق پټول) دومره غټ جرم دے چه داسے خلق الله تعالىٰ د خپل رحمت او قربت نه لرے كوى، او د ټولے دنيا لعنتونه به په دوى باندے راپريوزى.

نو آيت كښې د هر چا دپاره عموم دے. ددے آيت نه صحابه كرامؓ يريدلى دى او ځان سره ئے لګولے دے. ابو هريره ؓ به وئيل: [لَوْلَا آيَتَانِ أَنْزَلَهُمَا اللّٰهُ فِيْ كِتَابِهٖ مَا حَدَّثْتُ شَيْئًا اَبَدًا]

(كه په قرآن كښې الله تعالىٰ دا دوه آيتونه نهٔ وے نازل كړى نو ما به تاسو ته هيڅ حديث هيڅ كله نهٔ وے بيان كړے، يو دا آيت دے او دويم ﴿وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ ......﴾ (آل عمران ۱۸۷).

يعنى مونږ احاديث ځكه بيانوو چه ددے آيتونو نه مو خطره ده چه په دے وعيد كښې داخل نهٔ شو. كه دا آيتونه نهٔ وے نو مونږ به هيڅ حديث نهٔ بيانولے. (بخارى).

او عثمان ؓ هم حديث بيان كړو او بيا ئے اُوفرمايل: كه دا آيت نهٔ وے نو ما به تاسو ته دا حديث نهٔ وے بيان كړے. (بخارى) نو ابو هريره او عثمانؓ دا آيت د احاديثو كتمان (پټولو) ته هم شاملوى.

او انسان حق ولے پټوى؟ يا د حسد يا د مداهنت يا د خلقو د يرے يا د مال د لالچ د وجه نه لكه

مخکښې ددې تفسير په اول جلد آيت (٤٢) ص (٤٢٢) کښې ئې اُوګوره. که يو انسان پوره د حق بيانونکے شي نو خپل دوستان هم ورسره وخت نشي تيرولے.

حديث کښې دي: «الله دې په عمر رحم اُوکړي، حق کوئي دۀ لره څوك دوست نۀ دے پريخے».(ترمذي والبزار والحاكم).

۱- ددې آيت **ربط** او مناسبت د مخکښې سره دے چه يهوديانو د قبلې مسئله پټه کړے وه نو اُوس ورته په کتمان حق زجر ورکوي. ۲- مخکښې شاکر عليم ذکر شو چه الله د خير په کار باندے اجر ورکوي او که څوك خير او دين پټوي، او نۀ ئې بيانوي نو الله په هغه پوهه دے او سزا به ورکوي نو اُوس د حق او خير پټونکو سزا بيانيږي. (قاسمیؒ)

۳- : يهودو د رسول الله ﷺ د حقانيت نخې هم پټے کړے وو:

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى﴾

کتمان دے ته وائي چه د دين يوے مسئلے ښکاره کولو خلق ته محتاج وي او انسان ئې ترے پټه کړي (خازن).

(البينات) ددے نه مراد تورات او انجيل او قرآن دے. او الهدى احاديث دي.

۲- البينات: ښکاره دليلونه او آيتونه چه نازل شوي وي او (الهدیٰ) هغه فوائد دي چه ددے نه معلوميږي. ۳- ظاهر دا ده چه بينات او هدى دواړه يو شے دے. ځکه هره بينه هدايت دے ليکن دواړه صفتونه ئې ذکر کړل، دے دپاره چه د هغوي په رد کښې پوره مبالغه او تاکيد اُوکړے شي.

او دا آيت دليل دے چه کوم شے بينات او هُدیٰ نۀ وي، د هغے کتمان جائز دے چه د خلقو ورته ضرورت نۀ وي او خاصکر چه کله يره وي لکه ابو هريره ﷺ به هغه احاديث د يرے په وخت نۀ بيانول چه هغے کښې سياسي خبرے وے. (قرطبیؒ) يا عامے قيصے او واقعات.

بعض مفسرين وائي: دلته د بينات او هدى نه هغه عام تعليمات هم مراد دي چه يهوديانو به د هغے د پټ ساتلو کوشش کولو، ليکن په خاص طور سره هغه نخے هم مراد دي چه په تورات کښې الله تعالیٰ ددے دپاره ښکاره کړے وے چه د هغے په مدد سره يهوديان د آخري نبي په باره کښې رهنمائي حاصله کړي، ليکن يهوديانو د هغے نه د فائدے اخستو په ځائے هغه پټے اُوساتلے.

﴿مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتٰبِ﴾ (ۀ) ضمير (مَآ اَنْزَلْنَا) ته راجع دے او الکتاب جنس دے تولو منزّل کتابونو ته شامل دے. يعني داسے واضحه خبرے دي چه هيڅ قسم تلبيس او اشتباه پکښې نشته، او بيا ئې هم دوي پټوي نو غټ ظالمان دي.

او د (بَيَّنّٰهُ) نه معلومه شوه چه که يو انسان په يوه خبره ښۀ پوهه نۀ شي نو د هغے په پټولو

باندے دا مُجرم نهٔ دے۔

﴿ لِلنَّاسِ﴾ یعنی د خلقو د فائدے خبرے دی۔ نو که یوه داسے خبره بیانه نهٔ کړے شی چه په هغے کښ د خلقو ښکاره فائده نهٔ وی نو هم انسان گناهگار نهٔ دے۔

﴿ یَلۡعَنُهُمُ ﴾ د لعنت معنیٰ ده د الله د رحمت نه او د هر خیر نه جداوالے، او دا بیا مستلزم دے دِ الله عذاب او غضب لره۔ او د بندگانو لعنت ښیرے او بد رد او د هغه مخالفت او دشمنی او په هغه باندے غصه کول او د هغه نه براءت کول دی۔ (قاسمیؒ)۔

﴿ اَللّٰعِنُوۡنَ﴾ نه مراد ملائك، نیکان انسانان او جنات دی۔ او دارنگه خپل ملگری به هم پرے لعنت وائی چه زمونږ نه مو حق پټ ساتلے وو لکه سورة عنکبوت (۲۹) کښ راځی۔ ﴿ ثُمَّ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ یَکۡفُرُ بَعۡضُکُمۡ بِبَعۡضٍ وَّیَلۡعَنُ بَعۡضُکُمۡ بَعۡضًا﴾ ۔او د مخلوق د طرف نه لعنت په معنیٰ د ښیرو سره وی۔ یعنی دوی ورته ښیرے کوی چه اے الله ! دا خلق د خپل رحمت نه جدا کړه۔ او دا لعنت به په دنیا کښ هم وی او په آخرت کښ به ئے پرے هم وائی۔

نو یهودیان د امامت د لوئی نعمت او منصب نه محروم شو او په لویه خوارئ او ذلت او سزا کښ اخته شو۔

په معین شخص باندے د لعنت وئیلو مسئله په آیت (۸۹) کښ اُوگوره۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی : د عالِم دپاره چه کله حق بیانوی په اُوبو کښ ماهیان او په هوا کښ مارغان بخنه غواړی نو دغه شان په حق پټونکی عالِم باندے هغوی لعنت هم وائی۔ او دا آیت دلیل دے چه حق پټونکی عالِم سره به تعلقات نشی ساتلے۔

فائده : ددے آیت او د روستو آیت (۱۷۵) فرق دا دے چه هلته کتمان د دنیا د وجه نه دے او دلته کتمان د حق دے فقط۔ دویم : هلته د توحید او حلال او حرامو کتمان دے او دلته صرف د قبلے د مسئلے کتمان دے۔ نو ځکه هلته تاکید زیات دے او دلته کم دے۔

اِلَّاالَّذِیۡنَ تَابُوۡا وَاَصۡلَحُوۡا وَبَیَّنُوۡا
مگر هغه کسان چه توبه ئے ویستله او خپل عمل ئے برابرکړو، او بیان ئے کړه (هغه خبره چه کومه ئے پټه کړے وه)
فَاُولٰٓئِكَ اَتُوۡبُ عَلَیۡهِمۡ وَاَنَا التَّوَّابُ الرَّحِیۡمُ ﴿۱۶۰﴾
نو دغه کسان زهٔ مهربانی کوم په دوی باندے او زه ډیر توبه قبلونکے، مهربان یم۔

تفسیر : پدے آیت کښ توبے ته ترغیب ورکوی چه څوك توبه اُوباسی نو الله ئے قبلوی، او

هغه خلق ذکر کوی چه د لعنت نه به محفوظ وی۔ او پدے کښ توبه د عالِم ذکر ده چه هغے کښ دریے شرطونه دی۔ (۱) فی الحال به توبه اُویاسی، (۲) او د عمل اصلاح اُوکړی، په تابعداریٔ د رسول الله ﷺ کښ نیك اعمال شروع کړی۔
(۳) او د حق کومه خبره ئے چه پټه کړی وی، هغه خلقو ته بیان کړی۔
او د امی یا د هغه عالِم توبه چه د حق کتمان ئے نهٔ وی کړے د عامو گناهونونه، نو هغے دپاره دوه شرطونه سورة آلعمران (۸۹) آیت کښ ذکر دی او د منافق د توبے څلور شرطونه سورة نساء (۱٤٦) آیت کښ ذکر دی۔
د توبے متعلق پوره تفصیل مخکښ ددے سورة آیت (۳۷) کښ اُوگوره۔ بیا سورة النساء ولیست التوبة آیت (۱۸) اُوگوره۔
﴿وَبَيَّنُوْا﴾ عالِم به د خلقو مخکښ پټ کړی مسائل بیان کړی، او دا بیان به کله په خولے سره وی، منبر ته به اُوخیژی۔ ځکه چه ددهٔ نه شر خور شویدے او کله به په کتاب کښ اُولیکی چه ما دا مسئلے خطاء لیکلی دی یا مے پټے کړیدی۔
نو : ﴿فَاُولٰٓئِكَ اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ﴾ توبه په معنیٰ د رجوع سره ده یعنی زهٔ راواپس کیږم دوی ته په توبه قبلولو او رحمت کولو سره۔
﴿وَاَنَا التَّوَّابُ﴾ تواب هغه ذات ته وائی چه بار بار توبه قبلوی او انسان ته د توبے توفیق ورکوی۔ ددے تشریح هم په آیت (۳۷) کښ اُوگوره۔

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ اُولٰٓئِكَ
یقیناً هغه کسان چه کفر ئے اُوکړو او مړهٔ شو په داسے حال کښ چه دوی کافر وی، دغه کسان
عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱٦۱﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا
په دوی لعنت د الله دے او د ملائکو او د خلقو ټولو، همیشه به وی په دے (لعنت) کښ
لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۱٦۲﴾
سپك به نهٔ کړے شی د دوی نه عذاب او نهٔ به دوی له مهلت ورکړے شی۔

تفسیر : اُوس داسے خلقو ته د آخرت یره ورکوی چه حق ئے پټ کړیدے او توبه ئے نهٔ ده ویستلے۔
﴿اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ د کفر نه مراد کفر دے په حق پټولو سره۔

﴿ وَهُمْ كُفَّارٌ﴾ یعني تر مرګه پورې ئې حق پټ ساتلے دے او توبه ئې نۀ ده ویستلے۔ یا عام کفر مراد دے۔او همدا ظاهره ده ځکه چه لفظ عام دے، کتمان هم پکښې داخلیږی۔

ددے آیت او د مخکنی آیت فرق دا دے ۱- چه مخکښې آیت د حق د کاتمینو (پټونکو) په باره کښې وو او دے آیت کښې عام کفار مراد دی۔

۲- یا هغه کاتمین د حق وو خو لعنت پرے په دنیا کښې مراد وو او دلته هم کاتمین د حق مراد دی او لعنت نه د آخرت لعنت مراد دے۔

﴿وَالنَّاسِ ﴾ یعني کافران او مسلمانان ټول به لعنتونه وائی، دارنګه تابعدار به پرے لعنتونه وائی لکه سورة الاعراف (۳۷) او سورة العنکبوت کښې دی۔ دلته ئې د الله د لعنت سره د ملائکو او د تمامو خلقو لعنت ذکر کړو دا د مخکنی آیت (اللاعنون) تفصیل دے۔

﴿ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴾ **د انتظار مصداقات :**

۱- دا یا د (نَظِرَةٌ) نه دے یعني مهلت به ورته نۀ ملاویږی بلکه سمدست به په عذاب باندے اخته کیږی کله چه قبر ته لاړ شی یا آخرت ته لاړشی۔

نو د مهلت نه مراد د عذاب روستو کول شو۔ ۲- یا د توبے دپاره به مهلت نشی ورکولے۔

۳- یا د عذر پیش کولو او دنیا ته د واپس کیدو دپاره به مهلت نۀ ورکړے کیږی۔

٤- یا مهلت معنیٰ دا چه څه ورځے ورله چهټی ورکړی۔ بغیر د عذاب نه ئې پریدی۔

٥- یا د نَظَر نه ماخوذ دے یعني د رحمت په نظر به ورته نشی کتلے۔ نو څلور قسمه عذابونه شو۔ لعنت، او په هغے کښې همیشه اُوسیدل او عذاب نۀ سپکیدل او مهلت نۀ ورکول۔

وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَّاحِدٌ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ
او لائق د بندګئ ستاسو یو اِله (معبود) دے، نشته حقدار د بندګئ سِویٰ د هغه نه،
الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿۱۶۳﴾
بے حده مهربان، همیشه رحم کونکے دے۔

تفسیر: ددے نه روستو الله خپل توحید بیانوی چه اے خلقو الله اوپیژنئ او ایمان والو ته دا عقیده سپاری چه دا کلکه راونیسئ او خلقو ته ئې راښکاره کړئ۔ دا مهمه مسئله ده۔

مخکښې ئې د قبلے مسئله او د صفا مروه بیان کړه او مینځ کښې ئې دا مسئله بیان کړه چه څوك حق پټوی هغه سره به زۀ ګورم، نو اُوس فرمائی چه یوه ضروری مسئله چه د هغے بیان ضروری

دي، هغه مسئله د توحيد ده، د الله د اُلوهيت او د هغه د معرفت ده. چه ددې بيان واجب دې. په هغې دلائل راوړي او صحيح ايمان ته دعوت دې. يعنې دا بيانوي چه الله به معبود گنړې او هغه به رب گنړې او د هغه سره به مينه کوې او که چا د هغه نه ماسوئ د نورو معبودانو سره مينه د عبادت اُوکړه نو په قيامت کښې به د هغوی نه برائت کوی. او هيڅ په کار به ئې نۀ راځي. د يو رکوع نه بعد به نور تفصيل راځي.

مخکښې سره **مناسبت** ١ – دا دې : [اَوَّلُ مَا يُحَرَّمُ كِتْمَانُهُ وَيَجِبُ اِظْهَارُهُ هُوَ التَّوْحِيْدُ]

(اول هغه شے چه د هغې پټول حرام او ښکاره کول ئې لازم دي، هغه توحيد دې). يهوديانو توحيد هم پټ کړے وو، بلکه خپله ئې د سخي عبادت کړے او بيت الشرق ته ئې مونځونه کړي نو دا مسئله به څۀ بيانه کړي. (٢) دويم : ددې امت تربيت شروع دې نو اول تربيت په تحويل القبله اُوشو بيا په اتباع الرسول او بيا په ذکر او شکر بيا په صبر او مونځ بيا زجر په کتمان ورکړې شو نو اُوس تربيت په توحيد الالوهية والاسماء والصفات سره کوی.

﴿ وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ﴾ دا خطاب مسلمانانو، مشرکانو او يهوديانو ټولو ته عام دې.

اِلٰه هغه ذات ته وائي چه د هغه عبادت کيږی، د هغه سره مينه کيدے شي او هغه دپاره رکوع او سجده کيږی. مستحق د عبادت وی.

﴿ لَا اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْم ﴾ کله يو انسان چا ته وائي چه صرف ما سره مينه کوه او حال دا چه بل هم د مينې لائق موجود وی نو الله د هغې نفی کوی چه هيڅ قسم لائق د بندګئ بل څوك نشته سوئ زما نه.

(الرحمن الرحيم) دا دليل هم دې او زيرے هم دې. هغه لائق د عبادت څکه دې چه رحمان رحيم دې. او هر کله چه بنده د الله عبادت اُوکړی نو څه به اُوشي نو الله فرمائي زۀ رحمٰن او رحيم يم، رحمتونه به دربانديے اُوکړم.

او دا اشاره ده چه الله په تاسو باندې په بندګئ کښې مشقت نۀ اچوی څکه هغه رحيم دې. کله چه د انسان عقيده د توحيد برابره شي نو ددۀ اسلام ثابت شو.

فائده : دلته الله تعالىٰ د توحيد دوه طرفونه په مثبت او منفي دوه شکلونو سره ذکر کړل دې دپاره چه د هيڅ قسم شك او شبهے دپاره څه ګنجائش پاتے نۀ شي.

او ددې توحيد سره ئې د الله تعالىٰ دوه صفتونه د دوه علتونو په وجه ذکر کړيدی چه د هغه دوه علتونو د وجه نه عام انسانان شرك کوی. يو علت دا چه د شرك لوئی سبب او محرك د مشرکانو دا غلط تصور دې چه دوی د الله تعالىٰ د هر قسم شغل او عمل او د هر قسم تعلق نه د ارفع او بالاتر

کیدو تصور کړے دا اګرکه د الله تعالیٰ د تنزیه او پاکۍ تصور دے لیکن په بعض صورتونو کښې ددے نه دا فساد پیدا کیږی چه د الله تعالیٰ یواځے والے دومره لوئی کیږی چه د مخلوق سره د هغه تعلق بالکل ختمیږی او هغه ته رسیدل یا د مخلوق د معاملاتو سره د هغه تعلق ساتل د هغه الُوهیت د شان منافی ګڼړلے کیږی، دا تصور یو طرف ته په فطری طور سره په زړونو کښې یو قسم مایوسی او نا امیدی پیدا کوی او ددے نتیجه دا راوځی چه انسان د الله د نهٔ موندلو په صورت کښې د خپل ځان د تسلی او اطمینان دپاره واسطے او وسیلے تلاش کوی۔ ګویا کښې الله ترے ورك شوے وی او د هغه د موندلو دپاره مخلوق هغه ته واسطه جوړوی۔ قرآن د الله د معرفت او پیژندګلۍ په لاره کښې ددے مغالطے د لرے کولو دپاره ځائے په ځائے دا کار کړے چه د الله د وحدانیت او پورته والی بیانولو سره سره د هغه داسے صفات هم ذکر کوی چه د مخلوق سره د هغه تعلق واضح کونکے وی، دے دپاره چه انسان د وسیلو او واسطو تلاش کولو په ځائے خپله د الله د رحمت لمن اُونیسی او په هغے کښې د ځان پټولو کوشش اُوکړی۔ پدے وجه الله تعالیٰ دلته د وحدانیت ذکر کولو نه روستو دا ښکاره اُوفرمایل چه هغه رحمان او رحیم دے یعنی الله خو یکتا او یواځے دے لیکن د مخلوق سره ئے تعلق هم شته هغه رحمان رحیم دے هغه د خپل رحمت په جوش سره تاسو ته وجود درکړے او په خپل رحمت سره ستاسو تربیت کوی او د خپل دے رحمت دپاره ئے ستاسو دپاره د جزا او سزا ورځ مقرر کړے، نو بس تاسو د هغه دپاره ژوندی شئ او د هغه دپاره مړهٔ شئ او خپل تمام حاجات او اُمیدونه یواځے د هغه سره اُوتړئ۔

دویم علت دا دے چه مشرکان او بت پرست قومونو همیشه قهر او غضب د الوهیت د ضروری لوازمو نه ګڼړلی دی، هغوی د کائناتو بادشاه په دنیاوی بادشاهانو قیاس کړے۔ هغوی اُولیدل چه په دنیا کښې د یوے علاقے بادشاه دا تسلط او قدرت او جلال او جبروت لری چه د هغه خواله د هغه د مقربینو او درباریانو نه سویٰ هیڅوك ورنشی هغه چه څوك غواړی او کله غواړی په دار باندے خیژولے شی نو کوم ذات چه د ټول جهان بادشاه دے د هغه د جلال او جبروت او د هغه د قهر او غضب اندازه څوك کولے شی، پدے طریقه هغوی د الله تعالیٰ تصور د انتهائی خوفناك او دهشتناك هستیٔ په حیثیت سره اُوکړو او بیائے په خپل ذهن سره څه مقربین او درباریان ایجاد کړل او د هغوی عبادت ئے شروع کړو دے دپاره چه ددے هیبتناك الله د آفتونو نه ئے محفوظ کړی۔

په آسمانی مذاهبو والو کښې داسے نهٔ وو لیکن د زمانے په تیریدو سره د هغوی عقیدے هم ګنده شوے، پدے غلط تصور کښې یهودیان هم واقع شو چه په هغوی هم د الله تعالیٰ د جمالی صفاتو په نسبت د جلالی صفاتو رنګ غالب شو۔ د تورات د مطالعے نه معلومیږی چه

يهوديانو هم د الله تعالىٰ د قهر او جلال داستان دومره اُوږد كړے وو چه د هغے په مقابله كښې د الله د رحمن او رحيم كيدو تصور بالكل ډوب شوے وو۔
ددے اثر دا شو چه هغوى هم د مشركانو په شان د الله د رحمت حاصلولو دپاره مقربين او سفارشيانو ته محتاج شو او ددے مقصد دپاره ئے خپل هغه بزرگان او مشران وسيله اُوګنړله چه د هغوى په نيز د هغوى تقدس او تقرب موجود وو۔ او بيا په آرام آرام سره اسرائيل خاندان ئے د الله تعالىٰ په خوښو او محبوبانو كښې داخل كړو، او غير بني اسرائيل د الله د قهر او غضب دپاره پاتے شو۔ په دے آيت كښې چونكه د توحيد دا امانت د بني اسرائيلو نه واپس اخستو سره دے امت مسلمه ته حواله كيږى پدے وجه دا ضرورى شوه چه د الله د رحمانيت او رحيميت د صفاتونه پرده پورته كړے شى كومه چه د مشركانو په تقليد كښې يهوديانو په هغے باندے اچولے وه دے دپاره چه دا امت د الله د صفاتو په باب كښې هغه اعتدال طرفته راشى كوم چه د دوى د امت وسط كيدو په وجه د دوى خصوصيت وو او پدے طريقه د شرك د فتنو دروازه بنده شى۔ (تدبر قرآن)۔
نو ثابته شوه چه الله يواځے ذات دے او رحمن رحيم دے نو ددے ښكلے ذات بندګى تاسو له پكار ده، دا دعوىٰ شوه چه زمونږ معبود يو دے نو الله تعالىٰ پدے اته دلائل راوړى او ديته عقلى دلائل وائى او دا دلائل نعمتونه هم دى او دلائل هم، مسئله هم پرے ثابتيږى او ذهن هم پرے كولاويږى، ډيرے فائدے پكښې وى۔ او د الله د وجود دلائل هم دى، د هغه د قدرت او د علم دلائل هم دى۔ لكه (۲۲) آيت اُوګوره۔

اِنَّ فِيۡ خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَاخۡتِلَافِ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ وَالۡفُلۡكِ الَّتِىۡ تَجۡرِىۡ
بيشكه په پيدائش د آسمانونو او د زمكه كښې او په بدليدو د شپه او ورځ كښې او په هغه كښتو كښې چه روانے وى
فِى الۡبَحۡرِ بِمَا يَنۡفَعُ النَّاسَ وَمَآ اَنۡزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنۡ مَّآءٍ
په درياب كښې په دے وجه چه فائده وركوى خلقو ته، او په هغه كښې چه راليږلى دى الله د بره نه څۀ اُوبه،
فَاَحۡيَا بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَبَثَّ فِيۡهَا مِنۡ كُلِّ دَآبَّةٍ
پس راژوندئ كړى په هغے سره زمكه پس د اُوچوالى نه، او خوارۀ كړى دى په ديكښې هرقسمه ځناور
وَّتَصۡرِيۡفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الۡمُسَخَّرِ بَيۡنَ السَّمَآءِ وَالۡاَرۡضِ
او په اړولو راړولو د هواګانو كښې او په هغه وريځو كښې چه تابع كړے شوى دى په مينځ د آسمان او د زمكه كښې

﴿لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿١٦٤﴾﴾

(پدے تولو ځیزونو کښں) خامخا ډیرے نخے (د توحید) دی د هغه خلقو دپاره چه عقل لری۔

تفسیر: اُوس پدے کښں د توحید په اثبات اته (۸) دلائل راوړی او دا عقلی دلائل دی او پدے کښں توحید ربوبیت دے او مخکښں (په آیت (۲۲)کښں) مونږ وئیلی وو چه توحید ربوبیت سره توحید اُلوهیت لازم دے یعنی هرکله چه دا کارونه الله کوی نو لائق د عبادت هم صرف هغه دے۔ او پدے دلائلو کښں د الله معرفت هم راځی۔ او مشرکانو هم وئیلی وو چه دا خو دعوه شوه چه لائق د عبادت صرف الله دے، او بل حقدار د بندګئ د الله نه سوئ نشته نو پدے باندے دلیل څه دے؟ نو دا آیت نازل شو۔

﴿اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ﴾ نو پدے کښں الله تعالیٰ انسان ته د فکر دعوت ورکړے چه لږ دے نشاناتو کښں خو فکر اُوکړه، آیا دا د الله د وجود او د هغه په قادر مطلق کیدو باندے دلائل نهٔ دی؟ د آسمان اُوچتوالے، د هغے فراخی، بے ستنو اُودرول، ښائسته رنګ ورکول او عیب او نقصان په هغے کښں نهٔ راتلل، او د راپریوتو او د شیطانانو نه د محفوظ ساتل او د ملائکو مسکن کیدل او په هغے کښں د نمر او د سپوږمئ او د ستورو حالات او دارنګه د زمکے خورول، د هغے د بسترے په شان هموار کول، نهٔ سخته ده نهٔ نرمه ده۔او د هغے فراخوالے او په هغے کښں اُونے، میوه جات، غرونه، نهرونه، دریابونه او معدنیات، لارے او سرکونه راویستل۔

د آسمان او زمکے د پیدائش نه مراد ددے هغه پیدائش هم دے چه پدے سره د الله تعالیٰ عظیم قدرت واضحه کیږی، ددے هغه جوړخت هم دے چه په هغے سره ددے په بے مثاله کاریګرئ او حیرانتیا کښں اچونکی حکمت باندے ګواهی کیږی، ددے هغه فائدے رَسول هم دی چه په هغے سره د خالق رحمانیت او رحیمیت او ربوبیت ثابتیږی، هغه مقصدیت هم دے چه ګواهی کوی چه د دومره حکمتونو نه ډکه کارخانه عبث اوبے مقصده نهٔ ده بلکه ددے نه روستو یو لوئی مقصد دے چه د هغے د راښکاره کیدو دپاره یوه ورځ مقرر ده، او ددے هغه موافقت او سازګاری هم ده چه ثابتوی چه آسمان او زمکه دواړه د یو خالق په اراده سره راښکاره شویدی او د هغه په حکم سره چلیږی۔ (تدبر)

﴿وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ﴾ د شپے او ورځے اختلاف په یو بل پسے تلل راتلل، په تیارهٔ او په رڼرا کښں، په زیاتیدو او کمیدو کښں، په سپینوالے او توروالی کښں، د شپے خوبونه او آرام کول او د ورځے کاروبارونه کول۔ او په ځلیریشت ګینټو کښں یو بل پسے راتلل۔ او په بعض علاقو کښں درے

میاشتے ورځ وی۔

﴿ وَالْفُلْكِ الَّتِیْ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ﴾ یعنی کشتو کښې هم د الله تعالیٰ د قدرت ډیرے نخے دی چه کشتئ دروند لرگے دے اُوکوره خلق پکښې ناست وی او دریاب ئے نهٔ ډوبوی۔ د انسانانو د فائدو دپاره گرځی، خلق په کښې په دریاب پوریوزی، ښکار کوی، ملغلرے او لؤلؤ او مرجان او قیمتی کانړی د دریابونو نه پرے راوباسی، دریاب ډیر قدرت لری، په هغے کښې لوئی لوئی حیوانات وی لیکن الله تعالیٰ د کشتئ حفاظت کوی۔

﴿ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ ﴾ ددے نه مراد د تجارت او معیشت هغه سامان دے چه دا کشتئ ئے وړی راوړی او د هغے په وجه په معاشرت او معیشت کښې فراخی راځی۔

پدے کښې اشاره ده چه په دریاب کښې سفر کول د تجارت او عبادت د فائدے نه غیر نه منع دی۔ لکه حدیث کښې د هغے نه منع راغلے ده۔ (بِمَا) (۱) مَا موصوله اسمیه ده او باء د حال دپاره ده (اَیْ تَجْرِیْ مَصْحُوْبَةً بِالْاَعْیَانِ الَّتِیْ تَنْفَعُ النَّاسَ)۔ دا کشتئ روانی وی په داسے حال کښې چه هغه څیزونه ورسره ملگری وی چه خلقو ته فائده ورکوی۔

(۲) یا ما مصدریه ده او باء سببیه حرفیه ده، اَیْ تَجْرِیْ بِسَبَبِ نَفْعِ النَّاسِ فِی التِّجَارَةِ وَغَیْرِهَا) روانی وی په سبب د فائدو د خلقو په تجارت وغیره کښې۔ (اللباب)

﴿ وَمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَّاءٍ ﴾ هوا راوالوزی، هغه یخه شی، د هغے نه وریځ پیدا شی او په انسانانو باندے باران اُوشی، د هغوی حیوانات، پتی پرے خړوبه شی۔ او بیا ئے الله په یو ځل نهٔ راپریدی بلکه تقسیم ئے کړی د چاڼړ په شان، که په یو ایر راشی نو انسانان به تباه کړی او دے حکمت ته اُوگوره، اُوبه ثقیل (دروند) شے دے د دومره لرے ځائے نه راخلاصے شی لیکن انسان د باران لاندے روان وی او هغه ئے نهٔ خوږوی۔ نو پدے اُوبو سره انسانان قسماقسم فائدے اخلی، طهارت پرے حاصلوی، جامے پرے وینځی، گندونه پرے صفا کوی۔

﴿ فَاَحْیَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ زمکه اُوچه وی، باران اُوشی نو گلونه، چمنونه ښائسته شی۔ میوے او غلے او طعامونه او گیا هگانے او بوټی راپیدا شی۔

﴿وَبَثَّ فِیْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ﴾

دا په (فَاَحْیَا بِهِ الْاَرْضَ) عطف دے ځکه چه د اُوبو په وجه حیوانات هم ژوند تیره وی۔ که اُوبه نهٔ وی نو خلق به قیمتی حیوانات په معمولی قیمت خرڅوی۔

د دابه مشهور استعمال خو په زمکه گرځیدونکی حیوانات دپاره دے بلکه ددے نه ډیر ښکاره استعمال ئے د هغه حیواناتو دپاره کیږی چه په هغے باندے سورلی یا بار وړلے کیږی، لیکن د هر

ساه والا حيوان دپاره هم استعماليږي که څاروي وي او که مارغان بلکه پدے کښې انسانان هم داخليږي لکه بل آيت کښې دي :

﴿ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَابَّةٍ ﴾ (فاطر :٤٥)۔

(که الله تعالىٰ خلقو لره د هغوی په گناهونو رانيولے نو د زمکے په شا به ئے هيڅ ساه والا حيوان نهٔ وے پريخے)۔ دغه شان د سورة عنکبوت (٦٠) آيت کښې او د سورة هود (٦) آيت کښې دي۔ پدے آيتونو کښې ئے عامه معنىٰ ده۔

﴿ وَتَصْرِيْفِ الرِّيَاحِ ﴾ دا مجرور دے په خَلْقِ السَّمٰوٰتِ باندے عطف دے۔ يعنى الله تعالىٰ هواگانے کله يوخوا اړوی کله بل خوا، کله نرمه وی او کله سخته۔ کله لږه وی او کله زياته او کله درميانه وی، بعض هواگانو سره بدبويانے ختموی او بعضے بوټی بلاربوی۔ بعض د رحمت وی او بعض د عذاب وی لکه بادِ دَبُور چه د مغرب د طرف نه رالوزی، عذابی هواء ده۔ عاديان پدے باندے هلاك شوی وو۔ بادِ صبا فائده منه هواء ده۔

﴿ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ﴾ مختلف قسم وريځے پيدا کوی لکه سپينه، توره، سرهٔ، خرهٔ، نرئ او غټه او الله تعالىٰ د دريابونونه راوباسی۔

﴿ اَلْمُسَخَّرِ ﴾ اَىِ الْمُذَلَّلِ يعنى د الله د حکم تابع دی دا يا صفت د سحاب دے يا د رياح (هواگانو) او سحاب دواړو دے۔

بعض وريځے وړاندے وی او بعض نزدے وی اکثر زمکے ته نزدے وی۔

ددے آيت نه د الله تعالىٰ د توحيد او د قدرت دليل پدے طريقه سره راوېستلے کيږی چه پدے کښې الله تعالىٰ د اول نه تر آخره پورے متضاد او متقابل اجزاء او عناصر جمع کړيدی او د هغے بے مثاله پيدائش طرف ته ئے اشاره کړيده چه د آسمان سره زمکه، د شپے سره ئے ورځ، د کشتئ سره درياب، په ظاهر کښې چه گورے د يو بل ضدين دی ليکن بل طرف ته ددے کائناتو په آبادئ کښې د زوجينو په شان ربط او تعلق لری۔ که دا آسمان او ددے پرقيدونکی ستوری او نمر او سپوږمئ نهٔ وے نو زمونږ د زمکے ټول رونق او تازگی به ختمه وے بلکه دا ټوله هستی به نيشت شوے وے۔ دغه شان که دا زمکه نهٔ وے نو انسانانو به چرته ژوند تيرولے، د چا کور به معلوم وے؟، ددے په اطرافو کښې به څوك گرځيدلے شوے؟، او ددے نه به ئے حاجات څنگه پوره کولے شوے۔ ددے نهرونه، دا په باغونو او ميوو او بوټو باندے آبادول به د کوم ځائے نه وے؟۔

پدے وجه الله تعالىٰ په قرآن کريم کښې خپل بندگان د آسمانونو او د زمکے پيدائش ته زيات متوجه کوی۔ دغه شان مونږ او زمونږ په شان نور حيوانات په ژوند کښې لکه څنگه چه د ورځے

گرمائش، رنړا او تازګۍ او چکر ته محتاج دی، دغه شان د شپې نرمي، سکون او آرام، او خوب کولو ته هم محتاج دی۔ پدې دواړو سره الله تعالیٰ دا کور آباد کړیدے۔ ورځ ئې د رزق د طلب او د کاروبار دپاره مقرر کړے او شپه ئې د آرام او راحت او عبادت او خپل مناجات دپاره مقرر کړے۔ او دا دواړه هیڅکله خپل کار نهٔ پریدی او د الله د حکم نه نهٔ روستو کیږی۔

دغه شان دریاب ته اُوګوره چه څومره خور او فراخه دے چه هیڅ کناره ئې نهٔ ده معلومه او د هغې څومره هیبتناکې چپې دی لیکن ګوره چه ددے سرکشۍ او طغیان باوجود په خپله سینه باندے زمونږ د کشتیانو او زمونږ د جهازونو دپاره انتهائی هموار او صفا سرکونه اُوباسی، چه په هغې باندے زمونږ جهازونه شپه او ورځ منډے وهی او د تجارت او معیشت او د خوراکونو او څکاکونو او د علوم او فنونو هر شی دپاره مشرق او مغرب یو بل سره ملاووی۔ دغه شان د آسمان نه باران نازلوی او بیا پدے باران سره زمکه تازهٔ کوی۔ آسمان چرته دے او زمکه چرته۔ لیکن ددے وراندے والی سره سره په دواړو کښ څومره ژور تعلق او پیوستون دے۔ په زمکه کښ څومره خزانے پټے دی لیکن دا ټولے خزانے تر هغه وخته پورے پټے وی چه تر څو پورے پرے باران نازل شوے نهٔ وی۔

دغه شان د وریځو او هواګانو تعلق دے۔ وریځې د خپل ځائے نه خوزیدے نشی ترڅو پورے چه هوا هغې له دیکے ورکولو سره هغه اُونهٔ خوزوی، کله چه غواړی هغه غائبه وی او کله ئې په کنارو کښ رانښکاره کوی۔ دا متضاد عناصر په یو ځائے راجمع کول ددے دنیا په باره کښ دا فیصله کوی چه ددے دپاسه یو حکیم او مدبر ذات دے چه هغه دے لره حرکت ورکوی او دا مختلف عناصر په یو خاص نظام او د یو مجموعی مقصد دپاره استعمالوی۔ دا حقیقت خو یو طرف ته د شرك ټولے دروازے بندوی او بل طرف ته د دهریت او د ماده پرستۍ د ټولو وسوسو جرړے اُوباسی۔ (التفسير الوسيط للسيد طنطاوی و تدبر قرآن)۔

﴿لَآيَاتٍ﴾ دا اسم د إِنَّ دے او ددے ټولو سره لګی یعنی (پدے ټولو څیزونو او ددے په حالاتو کښ ډیرے نخے او ډیر مقاصد پراته دی، د الله د وجود او د الله د توحید نخے دی او د هغه د عِلم، د حکمت، دکمالاتو او د رحمت نخے دی ځکه دا ټول کارونه بغیر د کامل قدرت او کامل عِلم نه نهٔ کیږی۔ بیا ددے منافعو ته الله تعالیٰ حاجت نهٔ لری بلکه په خپل مخلوق باندے رحمت کول ئې غرض دے۔ نو دا عجیب ترتیب دلیل په حکمت دے۔ نو بس صرف دغه ذات د تعظیم او ادب او د محبت او عبادت لائق دے۔

﴿لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ چا کښ چه لږ عقل وی۔ نو هغه پدے باندے خپل مالك حقیقی معلومولے شی۔

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ
او بعض د خلقو نه هغهٔ څوك دي چه نيسي سِوئ د الله نه شريكان۔ مينه كوي د هغوى سره په شان د مينے
اللهِ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ وَلَوْ يَرَى
د الله، او هغه كسان چه ايمان ئے راوړے دے ډير سخت دي په مينه كښ د الله سره، او كه چرته پو هيدے
الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا
هغه كسان چه ظالمان دي كله چه اُووينئ دوى عذاب لره پدے خبره چه بيشكه طاقت ټول الله لره دے
وَّاَنَّ اللهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾
او بيشكه الله سخت عذاب والا دے۔ (نو دوى به شرك نهٔ وے كړے)۔

تفسير: اُوس الله دے آيت كښ رتهٔه وركوى هغه چا ته چه دومره دلائل پريدى او لاړ شي د بل چا بندگى شروع كړى۔ الله تعالىٰ د خپل وجود، د خپل قدرتِ مطلقه، د خپل توحيد او د خپل رحمت نخے ددے دپاره بيان كړے چه بنده صرف د هغهٔ عبادت اُوكړى، او صرف د هغهٔ سره محبت اُوكړى، او د هغهٔ په عبادت او د هغهٔ په محبت كښ هيڅوك شريك نهٔ كړى ليكن مشركان بيا هم د الله د عبادت او محبت په ځائے د بل چا عبادت كوى، او خپلو باطلو معبودانو سره داسے محبت كوى لكه چه د الله سره پكار دے پدے وجه د ايمان والو حال د دوى نه جدا دے، هغوى د الله سره هيڅ قسم شريكان نهٔ جوړوى، صرف د هغه عبادت كوى، په هغه باندے توكل كوى او د ژوند په ټولو كارونو كښ صرف د الله پورے پناه اخلى۔

نو پدے آيت كښ په محبت د غير الله او په شرك كولو سره رتهٔه وركوى۔ او ايمان والو ته دا ذمه وارى سپارى چه د الله تعالىٰ سره به بے حده مينه كوى۔

فائده : حافظ ابن قيّم په ((شرح المنازل)) باب التوبه كښ فرمائى : شرك په دوه قسمه دے : شرك اكبر او شرك اصغر۔ شرك اكبر الله تعالىٰ بغير د توبے نه نهٔ معاف كوى، او هغه دا دے چه بنده يو څوك د الله تعالىٰ سره شريك جوړ كړى، او د هغه سره داسے محبت اُوكړى لكه د الله سره ئے چه كول پكار وى، او دا هغه شرك دے چه مشركانو به خپل باطل معبودان د الله تعالىٰ سره برابر گنړل، او دا برابروالے په محبت او تعظيم او عبادت كښ وو لكه د عالَم د عامو مشركانو حال همدا دے، بلكه اكثر مشركان خو د الله تعالىٰ په مقابله كښ د خپلو معبودانو سره زيات محبت

كوي، او دهغوي په يادولو ډير خوشحاليږي، كه د هغوي د معبودانو يا د هغه مشائخو چه دوي ترے معبودان جوړ كړيدي، څوك په ادب او احترام سره نوم وانخلي نو دومره غصه كيږي چه هغومره د الله په بے ادبئ سره نوم اخستلو باندے نۀ غصه كيږي، او د پړانګ او د سپي په شان غصه رانښكاره كوي. او كه څوك د الله تعالىٰ حدود پائيمال كوي نو د هغه نه غافل وي بلكه د لږ شان دنياوي لالچ په خاطر فوراً خوشحاليږي. آه.

پدے آيت كښ هغه مشركان او اهل كتاب مراد دي چه دوي خپل بتان، معبودان، باباګان، مُليان، پيران او مشائخ د الله تعالىٰ سره په محبت، طاعت او تعظيم كښ شريكان جوړ كړيدي يعني لكه څنګه چه د الله تعالىٰ سره مينه كيدے شي نو دوي ئے د خپلو معبودانو سره كوي، او لكه څنګه چه د الله تعالىٰ طاعت كيدے شي (طاعتِ مطلقه) نو دغه شان دا معبودان او پيران او مُليان چه دے خلقو له څه حلال كړي هغه (بغير د دليل نه) حلال ګڼړي او چه څۀ ورله حرام كړي هغه حرام ګڼړي، او د الله په شان تعظيم ئے كوي، سجدے ورته لګوي او سر ورته ټيټوي او د الله په شان رامدد شه ورته وائي. د هغه نوم بے اودسه نۀ اخلي او د هغه نه په مدد نۀ غوختلو غصه كيږي، اوچه څوك د دوي عجز او كمزورتيا بيانوي نو هغوي باندے رد كوي چه دا اولياء نۀ مني. نو دلته په شرك في المحبة والطاعة والتعظيم باندے رد دے. او داسے مشركان په عالَم كښ ډير كم بلكه په منزله د عدم (نشت) دي چه هغوي خپل معبودان د الله تعالىٰ سره داسے برابر كړي چه معبودانو له ئے د الله ټول صفات وركړي وي، لكه الله خالق دے او دوي وئيلي وي چه نۀ، زمونږ باباګان او معبودان هم خالقان دي. بلكه عام شرك د مشركانو دا په محبت، طاعت او تعظيم كښ دے.

او دغسے شرك د نبي ﷺ په باره كښ هم ډيرو مقلدينو پيدا كړيدے چه د يو امام او شيخ خبره د الله تعالىٰ او د هغه د رسول د خبرے نه درنه ګڼړي او د هغے ډير تعظيم كوي، او د امام د خبرے په مقابله كښ د الله د رسول د حديث نه شپاړس جوابونه كوي، د امام خبره خامخا اُوچتوي، او كه حديث هرڅنګه شو، نو دا هم يو قسم شرك في الطاعة دے. يعني په طاعت او خبره منلو كښ شرك دے. دلته (وَمِنَ النَّاس) لفظ د تحقير دپاره دے.

﴿ أَنْدَادًا﴾ ددے تفصيل په (۲۲) آيت كښ تير شويدے.

﴿ يُحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللهِ﴾ (۱) يوه معنىٰ دا ده چه د هغوي سره مينه كوي او د الله سره هم مينه كوي، څكه مشركان هم كله كله د الله تعالىٰ عبادت او تعظيم كوي، او دعاګانے ترے غواړي. او معلومه شوه چه دا هم شرك دے چه د مخلوق سره د الله تعالىٰ په شان مينه اُوكړے شي يعني د عبادت مينه. ۲- دويمه معنىٰ: (دوي مينه كوي د خپلو شريكانو سره په شان د مينے د مؤمنانو

د الله سره). لکه مؤمنان د الله سره مینه کوی نو دوی د خپلو معبودانو سره مینه کوی. اوله معنیٰ ظاهره ده ځکه چه د مشرکانو مینه خو د الله سره هم وی، لیکن کمزوری وی، هسے د دعوے په درجه کښ وی. نو دوی ته ئے چه مشرکان اُووئیل پدے وجه چه دوی د الله تعالیٰ سره هم مینه لرله، او د معبودانو سره ئے هم مینه لرله. شرك فی المحبة ئے کولو. او اصل کښ شرك، د الله تعالیٰ نه سوا د بل چا سره د اُلوهیت او عبادت مینه کول دی.

ډیر خلق دا گمان کوی چه شرك به دیته وائی چه څوك بل خالق او بل رازق اُوګنړی، نهٔ، بلکه د غیر الله سره محبت او د هغه تعظیم هم شرك دے، چه هغه ته سرتیټ کړی او د هغه سره د عبادت محبت اُوساتی، بیا نذر او منختے د هغه په نوم کوی نو دا هم سو چه شرك دے.

رسول الله ﷺ به دا بده گنړله چه هغه راشی او صحابه کرام هغه ته پاڅیږی. (صحیح بخاری)

ځکه داسے تعظیم د الله تعالیٰ پکار دے.

۲- او محبت په معنیٰ د اطاعت هم راځی خو دائے مجازی معنیٰ ده. تفسیر باللازم دے. (یَعْنِی یُطِیْعُوْنَهُمْ کَطَاعَةِ اللہِ) د هغوی اطاعت کوی لکه د الله د اطاعت په شان او مؤمنان د الله تعالیٰ سخت اطاعت کونکی دی. د محبت تقاضا دا ده چه خبره به منے ځکه یو کس سره چه ډیے مینه وه، نو د هغه خبره به هم منے، خبره نهٔ منی نو د مینے دعوه دروغجنه ده. او پدے مقام کښ مفسرینو د رابعه بصریهٔ اشعار نقل کړیدی:

تَعْصِی الْإِلٰـهَ وَاَنْتَ تُظْهِرُ حُبَّهُ	هٰذَا لَعَمْرِیْ فِی الْقِیَاسِ بَدِیْعٌ
لَوْکَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَاَطَعْتَهُ	اِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ یُحِبُّ مُطِیْعٌ

۱ : تهٔ د الله مخالفت کوے او د هغه محبت ظاهروے، قسم په الله دا په عقل کښ ناشنا خبره ده. ۲: که چرے ستا محبت د خپل محبوب سره رشتینے وے نو تا به ضرور د هغه اطاعت کولے ځکه محبت کونکے د خپل محبوب اطاعت کونکے وی). شعب الایمان للبیهقی.

فائده...... د محبت اقسام

هر محبت د غیر الله سره شرك نهٔ دے بلکه محبت کښ اقسام دی:

(۱) یو محبت په معنیٰ د شفقت سره دے لکه دا د ماشومانو سره کولے شی، او دے محبت ته هم ترغیب راغلے دے. اقرع بن حابسؓ اووئیل: زما لس بچی دی، ما یو هم نهٔ دے خکل کړے. رسول الله ﷺ اُوفرمایل: آیا زهٔ اختیار لرم کله چه الله ستا د زړهٔ نه رحمت ویستلے دے. (بخاری)

رسول الله ﷺ به د ماشومانو سره ډیره مینه کوله.

(۲) دویم مَحَبَّةُ الْاُخُوَّةِ الدِّيْنِيَّة: د دين د وجه نه د چا سره محبت كول، او دا په اصل كښې د الله سره محبت دے لکه رسول الله ﷺ د ابوبكرؓ په باره كښې فرمائي : دا زما خليل نۀ دے ليكن زمونږ محبت د اسلام دے۔(۳) دریم محبة د ښځے او خاوند ترمينځ دے، دا هم ضروري دے۔ دا دريواړه اقسام د غير الله عبادت نۀ دے۔ بلکه پداسے محبت باندے حكم راغلے دے، او دا د الله تعالىٰ د محبت تابع دي، دا به دالله تعالىٰ د محبت سره به برابر یا به د هغے نه زيات نۀ وي۔

(٤) بل محبة الالوهية دے يعني د چا سره داسے مينه اُولري چه هغه ته عاجزي كوي، سر ټيټ وي، سجده ورته كوي، هغه د خپل معبود په شان جوړ كړي، د هغه نه بغير د اسبابو نه يره كوي او د هغه په نوم نذر او منختے كوي لکه مشركان چه كله د يو ولي يا نبي قبر ته ورشي نو داسے ژړا ګانے كوي او سر ئے ورته ټيټ كړے وي، په ډير ادب او احترام ولاړوي، د هغه د قبر كانړي خكلوي او په ځان پورے ئے راكاږي، د هغه د قبر نه طوافونه كوي، دا محبت كه د غير الله دپاره اُوشي نو سو چه شرك دے۔ د زيارة القبور په نوم ډير خلق مشركان شو۔ زيارة القبور كښې خو مقصد دا وو چه هغوي ته دعا اُوشي او آخرت انسان ته ياد شي، نۀ دا چه د بابا نه څه غواړي او د هغه تعظيم په زړۀ كښې راولي۔

﴿وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ﴾ (۱) يعني مؤمنان ډير محبت والا دي د مشركانو نه د الله سره۔ ځكه مؤمن سړے يواځے مينه د الله سره لري او د مشركانو محبت تقسيم دے، كله د الله سره او كله د يو بابا سره او كله د بل بابا سره مينه كوي۔ نو الله فرمائي چه مؤمنان به خالص د الله سره زياته مينه لري او د مشركانو په شان به نۀ وي۔(۲) دويمه معنىٰ :[وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ مِنْ حُبِّ الْمُشْرِكِيْنَ لِآلِهَتِهِمْ] (د مشركانو د خپلو معبودانو سره دومره مينه نشته څنګه چه د مؤمنانو د الله سره ده) ځكه مؤمن چه د الله سره مينه لري نو د غرض د وجه نه ئے نۀ لري چه ګنے زما حاجت پوره كوي، بلكه د هغه د كمال د وجه نه محبت كوي چه الله كامل ذات دے او دا د هغۀ حق ګڼړي۔ په خلاف د مشركانو نه چه د هغوي محبت د خپلو معبودانو سره په لالچ بناء وي چه زما حاجت به پوره كړي۔ او چه كله پر هه شي چه ددۀ سره زما حاجت نۀ پوره كيږي نو بيا بل له ورځي چه هر څوك كوم بابا او زيارت ښائي نو بس منډه ورپسے وهي۔ او د الله محبت انسان ځان ته راكاږي ځكه ورسره ډيره مينه كيدے شي او مخلوق كښې خو هغه كمال نشته، نو ځكه د هغه سره پوره مينه نشي كيدے۔ او محبت هغه شے دے چه د بنده په عملونو كښې كمال پيدا كوي، كله چه محبت نۀ وي نو عبادت كښې خوند نۀ وي۔

فائدة - اسباب المحبة

او د الله د محبت د پيدا كيدو ډير اسباب دي : (۱) د فرائضو نه پس په نوافلو باندې الله تعالىٰ ته ځان نزدې كول۔ لكه حديث قدسي كښې راغلي دي۔ (۲) ذِكْرُهُ تَعَالٰى عَلٰى كُلِّ حَالٍ، بِاللِّسَانِ وَالْقَلْبِ وَالْعَمَلِ وَالْحَالِ۔ (د الله يادول په هر حال كښې په ژبه، په زړهٔ، په عمل او په حالت جوړولو سره) او د الله د ډير يادولو وجه نه محبت پيدا كيږي۔

(۳) ...... اِيْثَارُ مُحَابِهٖ عَلٰى مُحَابِكَ عِنْدَ غَلَبَاتِ الْهَوٰى) ...... (په خپلو محبوب څيزونو باندې د الله محبوب څيزونه غوره كول كله چه خواهشات غلبه اُوكړي) يعني ستا نفس غواړي چه زهٔ دا خوراك اُوكړم، ليكن شريعت وائي چه مهٔ ئې كوه، نو كله چه تهٔ منع شې، تا سره به د الله مينه پيدا شي، او ستا به د الله تعالىٰ سره پيدا شي۔

(٤) ...... مُطَالَعَةُ الْقَلْبِ فِيْ اَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ ...... (د الله تعالىٰ په اسماء او صفاتو كښې سوچ كول)۔

(٥) ...... مُشَاهَدَةُ بِرِّهٖ وَاِحْسَانِهٖ) ...... د الله په نعمتونو او احساناتو كښې سوچ كول او هغه رايادول۔

(٦) ...... اِنْكِسَارُ الْقَلْبِ بِكُلِّيَّتِهٖ بَيْنَ يَدَيِ اللهِ]

د الله تعالىٰ مخې ته خپل زړهٔ ماتول او پوره عاجزي ښكاره كول۔

۷– اَلْخَلْوَةُ بِهٖ:...... د الله د نزول په وخت د الله تعالىٰ سره خلوت كول۔

(يعني د شپې په آخري حصه كښې)۔

(۸) ...... مُجَالَسَةُ الْمُحِبِّيْنَ وَالْتِقَاطُ اَطَايِبِ كَلَامِهِمْ ...... د مخلص محبت كونكو سره كيناستل او د هغوي مزيدار كلام راخستل)۔

(۹) ...... مُبَاعَدَةُ كُلِّ سَبَبٍ يَحُوْلُ بَيْنَ اللهِ وَبَيْنَ الْقَلْبِ)

(د هر هغه سبب نه ځان جدا كړه چه د الله تعالىٰ او ستا د زړهٔ په مينځ كښې پرده كيږي)۔

(۱۰) ...... تَدَبُّرُ الْقُرْآن۔ (قرآن كښې سوچ او فكر كول)۔

(۱۱) اِتِّبَاعُ السُّنَّةِ النَّبَوِيَّةِ۔ (۱۲) الادعية۔ ددې دپاره الفوائد جلد (۱) اُوګوره۔

﴿ وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ﴾ اُوس الله تعالىٰ دوي ته تخويف وركوي چه دا ډير لوئي ظالمان دي چه د معبودانو سره داسې مينه كوي لكه د الله تعالىٰ په شان۔ نو كه دوي د الله تعالىٰ قوت او سخت عذاب منلې نو دوي به شرك نهٔ كولې۔ هله به ئې اُومني چه كله ئې الله تعالىٰ راګير كړي، ليكن بيا به علم دوي ته فائده ورنكړي۔

بيا پدې آيت كښې دوه تفسيره دي : (۱) – لو يرى : رؤية په دوه قسمه دې : ۱– يو رؤية د ستركو ليدو ته وائي نو دا يو فاعل او يو مفعول غواړي نو(اَلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا) ئې فاعل شو او مفعول ئې پټ دې (حَالَ اَنْفُسِهِمْ) (يعني حال د خپلو ځانونو) او ﴿اِذْ يَرَوْنَ﴾ په (حَالَ) پورې متعلق دې۔

د﴿ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ ﴾ نـه مخکښې به جزاء د ((لَوْ)) پټـه راوباسے يعنى (لَعَلِمُوْا اَنَّ الْقُوَّةَ) نو اَنَّ الْقُوَّةَ به د (لَعَلِمُوْا) دپاره مفعول وى۔ او دا ليدل به په قيامت کښې مراد وى۔

معنىٰ دا شوه : که چرے ظالمانو د خپل ځان حالت اُوس په دنيا کښې ليدلے هغه حال کوم چه به دوى په قامت کښې وينى چه هغه د عذاب حال دے۔ نو لَعَلِمُوْا اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۔ (پدے حقيقت به پوهه شوى وے چه ټول قوت خو خاص د الله دپاره دے)۔د هغه سره هيڅوك شريك او برابر نشته چه د هغـه سره برابر د محبت حقدار وى، بلکه يواځے د ټولو قوتونو اختيارمند او مالك دے۔ او هغـهٔ خپل ځان سره شريك جوړونکو ته سخت عذاب ورکونکے دے چه هيڅوك بچونکے به ئے نـهٔ وى۔(او زمونږ معبودان په هيڅ قادر نـهٔ دى، مونږ هسے هغوى ته په عبادت او رامدد شه ځانونه سترى کړى) يعنى بيا به ئے دماغ ځائے له راشى خو وخت به تير وى۔

۲- دويم رؤية : پـه مـعـنـىٰ د عِلم سره دے او دا يو فاعل او دوه مفعوله غواړى نو (اَلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا) فاعل او (اَنَّ الْقُوَّةَ) معطوف عليه او (وَاَنَّ اللّٰهَ) مـعـطـوف دواړه قائم دى په مقام د دوه مفعولونو او پـه آخـر کـښې جـزاء پټه ده يعنى (لَـمَـا اَشْـرَكُوْا- وَلَمَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا) او وضاحـت ئے په ترجمه کښې تير شو۔ يعنى که پو هيدے ظالمان خلق پدے خبره چه ټول قوت او قدرت الله لره دے او پدے خبره چه د الله عـذاب ډير سـخـت دے نو دوى به شرك نـهٔ وے کړے او دوى به د الله نه سِوا شريکان نـهٔ وے نيولى، او د غير الله سره به ئے محبت نـهٔ ساتلے۔ ليکن مشرکانو سره د الله د قوت او قـدرت عـلـم نشته نو ځکه شرك کوى او غير ته متوجه کيږى، او د غير سره محبت کوى۔ او انسان نه چه ګناه کيږى نو ددے وجه هم دا وى چه د الله علم ددهٔ د ذهن نه غائب شى۔

اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا
کله چه به جدا شى هغه کسان چه تابعدارى ئے کړے شويده د هغه کسانو نه چه د هغوى تابعدارى ئے کړيده
وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾
او اُووينى دوى عذاب لره او اُوبه شو کيږى د دوى ترمينځ تعلقات۔

تفسير : اُوس کـه څـوك اُووائـى چـه زمـونږ مـعـبودان شته هغه به راله سفارش کوى، د الله د عـذاب نـه بـه مـو خـلاص کـړى نـو د هغوى برائت بيانوى چه ستاسو باباګان، پيران او معبودان وغيـره بـه ستـاسـو نـه بيـزارى اُوکړى، او دا بيزارى به په هغه وخت کښې وى چه کله دوى عذاب وينـى يعنى په سختـه کښې به ئے نـهٔ پکاريږى۔ ځکه (اِذْ) د (اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ) نه بدل دے۔ يعنى د

عذاب د لیدو وخت کښې به ترې دغه باطل آلهه براء ت کوی او هیڅ فائده به نۀ شی ورکولے۔
﴿اِذْ تَبَرَّءَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا﴾ یعنی مشران به د کشرانو نه جدا شی، لیډر او پیر او بابا به ترې جدا شی۔ بیا سوال دا دے چه د انبیاؤ تابعداری هم شویده نو آیا د هغوی او د هغوی د تابعدارو ترمینځ به هم براء ت وی؟۔
جواب : دلته مفسرین لیکی : په گمراهئ کښې چه هر چا تابعداری کړے ده هغه به ترے جدا شی۔ او انبیاء علیهم السلام د چا نه نۀ جدا کیږی ځکه چه د انبیاؤ تابعداری حقه ده۔ ﴿اَلْاَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ﴾ نو دلته د تابعداری نه په شرك او گمراهئ کښې تابعداری مراد ده یعنی چه د گمراه مشرانو تابعداری ئے کړیده، نو د هغوی نه به بیزاری کوی۔او وائی به چه مونږ تاسونۀ ئے گمراه کړی۔او نۀ مو درباندے زور کړے او نۀ مو درته دعوت درکړے۔
۲– آؤ، که چا ملائك یا جنات یا نیکان خلق معبودان جوړ کړی وی، او د الله سره ئے شریك کړی وی، نو دوی به هم د مشرکانو نه بیزاری کوی ځکه د دوی دا تابعداری هم په شرك کښې شویده، نو دوی به ترے انکار اُوکړی چه مونږ ستاسو د عبادت نۀ نا خبره وو لکه په سورة الاحقاف آیت (٦) کښې دی ..... ﴿وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَاءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ﴾
(قیامت کښې به ئے دشمنان وی او د هغوی د عبادت نه به انکار کوی چه تاسو مونږ له بندگی نۀ ده کړے)۔
نو دا آیت مونږ ته دا هدایت راکوی چه ځانله داسے مشر او امام اُونیسئ چه تاسو له د هغه په تابعدارئ کښې ضرر نۀ وی او په قیامت کښې درنه بیزاری نۀ کوی۔نو پدے کښې په تقلید جامد باندے رد دے۔ (تفسیر قاسمیؒ) لکه دا آیت د درے قسمه خلقو سره لگی۔ معبودانو سره۔
۲– د پیرانو او استاذانو او علماؤ سره۔
۳– د ملك او کلی لیډرانو سره چه دوی پسے بے دلیله لاړ نۀ شے هسے نه چه صبا له د هغه په تابعدارئ باندے خفه نۀ شے، او بیا درنه برائت اُونکړی۔
﴿وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ﴾ اسباب جمع د سَبَب ده، پړی او رسئ ته وائی دلته ترے مراد تعلقات دی ځکه چه د پړی په ذریعه هم یو شے د بل سره تعلق پیدا کوی۔یعنی د دوی په خپل مینځ کښې د استاذئ شاگردئ، د پیرئ مریدئ، د انفاق (ورکړے راکړے) تعلقات وو (مجاهدؒ) محبت به ئے وو (ابن عباسؓ) صله رحمی ئے وه (ابن جریج ابن زید) د دوی خپل مینځ کښې عهود او لوظونه وو۔ د مشرانو په کشرانو خاص مرتبے وی نو دا تعلقات به ئے ختم شی او د الله یواځے اُلوهیت به ښکاره شی۔ (ماوردی، خازن، بغوی، بحر العلوم)

٢- دارنګه د عذاب نه د خلاصيدو حيلې او طريقې به ختمې شي. (ابن كثير ١/٤٧٧)
٣- سُدّیؒ وائي : د اسباب نه مراد هغه عملونه دي چه دوی به ورپورې په دنيا کښې وسيله نيوله چه مونږ به په دې سره خلاص شو. (تفسير بغویؒ)
او (بِهِمُ) په معنىٰ د (عَنْهُمُ) سره دې. يعنې د دوی نه به دغه تعلقات ختم شي.

وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا لَوْاَنَّ لَنَا كَرَّةً
او وبه وائي هغه کسان چه تابعداري ئې کړيده (د خپلو مشرانو) که چرته وې مونږ له دوباره واپسي (دنيا ته)
فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُ وْا مِنَّا كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ
پس مونږ به جدا شو د دوی نه لکه څنګه چه دوی جدا شو ز مونږ نه، دغه رنګه ورښائي دوی ته
اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ حَسَرٰتٍ عَلَيْهِمْ وَمَاهُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾
الله تعالىٰ عملونه د دوی دپاره د افسوسونو په دوی باندې او نۀ به وی دوی راوتونکی د اُور نه.

تفسير: په دې آيت کښې اُوس د تابعدارو پښيمانتيا ده يعنې هرکله چه غلط اتباع والامشرکان اُوګوري چه د دوی باطلو معبودانو د دوی نه براء ت اعلان کړو نو په دنيا کښې په خپلو کړو باندې به هلته پښيمانه شي او ارمان به کوی چه مونږ دوباره دنيا ته واپس کړې شوی وې چه مونږ هم ددې خپلو معبودانو نه بری او بيزاره شوی وې او صرف د يو الله عبادت مو کړې وې. ليکن سورة الانعام آيت (٢٧) نه معلوميږی ﴿وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ﴾ چه دوی به په دې خبره کښې دروغجن وی بلکه که دوی دوباره واپس هم شی نو همغه شرك به کوی کوم چه ئې مخکښې کولو. نو الله به دوی ته دغه بد اعمال د افسوسونو ډيرولو دپاره ورښکاره کړی چه مونږ محبت، خرچه، تابعداري، سجده، نذر او منخته غلط استعمال کړيدی. او د اُور فيصله به پرې اُوشي. ليکن د موقعې د فوت کيدو نه روستو افسوس به دوی له هيڅ فائده نۀ ورکوی ((څکه اُوبه به د ورخه تيروی)).
﴿كَرَّةً﴾ : کرّت مخکنی حالت ته رجوع او واپس کيدو ته وائي. (قرطبیؒ)
﴿اَعْمَالَهُمْ﴾: د اعمالو نه مراد بد اعمال دی لکه شرك، انکار د قرآن نه، انکار د رسول نه، انکار د آخرت نه او نور حقونه د الله او د مخلوق ضائع کول نو دا ټول اعمال سيئه او د هغې عاقبتونه به وينی، ارمان به کوی چه دا قسم اعمال مو نۀ وې کړی نو ښۀ به وو.

﴿حَسَرَاتٍ﴾ مفعول لهٗ دے یعنی لِلْحَسْرَةِ (دپاره د افسوسونو)۔
او دا افسوسونو به په جدا جدا مقاماتو کښې وی نو ځکه ئے جمع راوړے ده یا اعمال ډیر دی۔ کله به د ایمان او د توحید پسے افسوس کوی لکه په سورة حجر (۲) آیت کښې دی ﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ﴾ (ډیر کرت به کافران آرمان کوی چه مونږ مسلمانان وے)۔
کله به د الله د آیتونو په انکار او تکذیب باندے افسوس وی۔ لکه په سورة انعام (۲۷) کښې دی۔
او کله به د رسول الله ﷺ نه په انکار او د هغه نه په مخالفة کولو افسوس وی لکه په سورة فرقان (۲۷) آیت کښې۔ او کله به د قیامت په انکار افسوس وی، لکه په سورة انعام (۳۱) آیت کښې۔ او کله به د الله د حقوقو په ضائع کولو او کوتاهی کولو افسوس وی۔ لکه سورة زمر (۵۶) آیت کښې دی۔
دے وجه نه قیامت ته يَوْمُ الْحَسْرَةِ (د افسوسونو ورځ) وائی۔
﴿وَمَاهُمْ بِخَارِجِينَ﴾ دا دفع د وهم ده چه آیا دا افسوسونه کول به دوی له فائده ورکړی او د اُور نه به ئے خلاص کړی؟ نو جواب اُوشو چه نهٔ۔ بلکه د دوی طمع ختمه ده۔

يَاأَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا وَّلَاتَتَّبِعُوا خُطُوٰتِ
اے خلقو! خورئ د هغه څیزونو نه چه په زمکه کښې دی حلال پاك، او مهٔ روانیږئ په قدمونو (لارو)
الشَّيْطٰنِ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۶۸﴾
د شیطان پسے، یقیناً دا ستاسو دپاره دشمن دے ښکاره۔

مضمون : راتلونکی رکوع پورے حاصل دا دے چه دلته الله تعالیٰ مؤمنانو ته نور قوانین بیانوی، اول دا چه حلال او حرام به د شارع منئ او د ځان نه به حلال او حرام نهٔ جوړوئ، ځکه چه پدے سره دین ګډوډ کیږی۔ او د اتباع د شیطان نه منع کوی۔ بیا رد دے په دلیل د مشرکانو او امر دے په اتباع د کتاب او سنت ځکه کله چه د قرآن او سنت په خلاف د خپلو مشرانو تقلید کیدے شی، او د هغوی خبرے منلے شی نو دے سره هم دین ورانیږی۔ بیا الله تعالیٰ د کافرانو په دین باندے د نهٔ پوهیدو او د حق نهٔ منلو مثال راوړیدے۔ نو ځکه حلال او حرام د ځان نه جوړوی۔ بیا الله تعالیٰ په طیباتو (پاکو خوراکونو) باندے په شکر کولو امر کړے۔ بیا د محرماتِ الهیه ؤ بیان دے یعنی د ځان نه حرام او حلال مهٔ جوړوئ او د الله تعالیٰ حرام کړده څیزونه دا څلور دی۔ بیا تفصیلا د حق په کاتمینو (پټونکو) باندے رد دے چه دا مسئلے دے مشرکانو او یهود او نصاراؤ

ته معلومے شوے او دوی ئے د دنیا د عیش معاش دپاره پتهوی۔
او د هغوی د جهالت بیان چه هدایت ئے پریخے او گمراهی ئے اخستے ده۔ او د دوی په خپل کتاب کښې اختلاف او تحریف بیانوی۔
۱- **مناسبت** ددے آیت د « وَإِلَٰهُكُمْ » سره دے، لکه څنګه چه إِلٰه (حقدار د بندگئ) یو دے، نو دغه شان مُحَرِّم او مُحَلِّل (حرامونکے او حلالونکے) به هم دغه یو ذات وی۔ یعنی یو قسم توحید الله بیان کړو چه د الله نه سِوا د بل چا بندگی مۀ کوئ۔ اُوس دلته بل قسم توحید بیانوی او د شرك فعلی رد کوی۔ چه دیته شرك فی التحلیل والتحریم هم وائی۔ شرك فعلی دیته وائی چه حلال او حرام د الله نه ما سوا د بل چا په نوم جوړ کړی، او د بل چا په اختیار ئے جوړ کړی۔ بلکه حلال او حرام جوړونکے صرف الله تعالیٰ دے، دا قانون صرف الله تعالیٰ پورے خاص دے۔ او لکه مشرکانو به دا کار هم کولو چه د الله نه ماسِویٰ به ئے حلال او حرام د ځان نه جوړول، او اُوس دے زمانه کښې هم خلق د ځان نه څیزونه حراموی کله وائی دا شے به نۀ خورو او دا به نۀ کوو، په فلانی وخت کښې به جامے نۀ بدلوو۔ گاړی کښې چه مړے راوړی نو مخے ته ورته چرگ ذبح کوی چه تکر راونۀ رسی۔ او په شوال کښې وادۀ مکروه گڼړی۔ او په هغه زمانه کښې به مشرکانو بحیره، سائبه، وصیله او حام (اُوښان) حرامول۔
۲- ابن کثیرؒ لیکی : مخکښې الله بیان کړل چه د هغه نه سِویٰ حقدار د بندگئ نشته او هغه د هر شی خالق او مالك دے، نو اُوس دا بیانوی چه هغه یواځے روزی ورکونکے دے، نو پدے کښې به د ځان نه حلال حرام نۀ جوړوی۔ د شیطان تابعداری به نۀ کوی۔
ابوحیانؒ وئیلی دی : دا آیت د هغه چا په رد کښې نازل دے چه په ځان باندے هغه څیزونه حرام گڼړی چه الله تعالیٰ نۀ دی حرام کړی، او ددے ډیر اقسام دی :
(۱)- انکار کوی د الله د حلالو څیزونو نه او په خپل خواهش سره څیزونه په ځان باندے حرام گڼړی۔ (۲) دویم قسم هغه څیزونه چه نسبت ئے خپلو معبودانو ته کوی او په ځان باندے ئے حرام گڼړی، لکه بحیره، سائبه، وصیله او حام۔ او ددے د استعمال او د خوراك نه ځان بچ ساتی ځکه چه د معبودانو د ضرر نه په زړۀ کښې یره کوی۔
(۳) دریم قسم هغه څیزونه چه د رهبانیت د وجے نه ئے په ځان باندے حرام گڼړی، مزیدار حلال خوراك څکاك او جامے په ځان باندے حرامے گڼړی لکه بعض پیران پخپله هم داسے کوی او په خپلو مریدانو باندے هم حراموی۔ بیا د ځان نه حرامول او حلالول ډیر شکلونه لری، په مختلفو علاقو کښې مختلف قسم مسائل دی مثلًا ۔

١- مسافر پسے ځائے جارو کول بد گنړی.
٢- د مازیگر نـه روستـو لیـکـل بـد گـنـړل. ٣- د حـامـلـے (باردارے) ښځے سَمَنَكُ حَلوىٰ بده گنړل. ٤- شنے جامے بدے گنړل. ٥- د جُمعے په ورځ د حائضے غسل بد گنړل.
٦- بـعـض خـلـق د خپـلـے ښـځـے سره زیات کیناستل حرام گنړل. ٧- بعض خلق بعضے ونے نهٔ راپریکوی، پدے وجه چه ددے لاندے فلانی بابا ناسته کړے او دغه شان ډیر مثالونه او صورتونه په معاشره کښ موجود دی، دا تولے د خپل خواهش د طرف نه پابندیانے دی.
﴿ كُلُوْا ﴾ دا امر د ایجاب دپاره نهٔ دے، بلکه د اباحت دپاره دے یعنی مباح ئے گنړئ او د ځان نه او د معبودانو په نوم ئے مهٔ حراموئ. او پدے کښ د الله احسان دے چه الله مونږ له د زمکے څیزونه حلال کړیدی.
زجاج وئیلی دی : چا چه یو شے د هغه شیانو نه حرام کړو چه الله حلال کړے وو، یا ئے حلال کړو هغه شے چه الله حرام کړے وو نو دا مشرك دے. انتهیٰ.
ځکه دا د الله تعالیٰ د قانون په مقابله کښ بل قانون جوړول دی. لکه یهودو به دا کار کولو.
او اکـل ئے ذکر کړو مراد ترینه تولے فائدے اخستل دی، خو خوراك په کښ اَهم جزء دے ځکه پدے سره بدن قائم وی. او د ضرورت په وخت کښ د خوراك امر د وجوب دپاره هم دے.
﴿ حَلٰلًا طَيِّبًا ﴾
دا دواړه چه جدا جدا ذکر شی نو بیا یو شے وی او چه یو ځائے ذکر وی نو بیا ئے فرق دے :
١- نو حلال هغه ته وائی: مَا يَتَعَلَّقُ بِالذَّاتِ (چه ذات ئے حلال وی) او طیب مَا يَتَعَلَّقُ بِالْكَسْبِ (چه گټه ئے حـلالـه وی)، کـلـه د یـو شی ذات حرام وی لکه زهر، گندگی، شراب خنزیر وغیره . او په بـعـض اوقاتو کښ به شے حلال وی لیکن کسب به ئے غلط شوے وی لکه د غلا مال، دروغ وئیلو او دهوکے سره کاروبار کول ، سود کول.
٢- حـلال خـو مـعـلـوم دی او طـیـب هـغـه دی چه غذاء او نُمو (ترقی) بدن ته ورکوی. نو خاوره حلاله ده لیکن طیّبه نهٔ ده ځکه بدن ته ضرر ورکوی.
٣- حـلال هـغـه دے چـه شریعت د هغے اجازه ورکړی وی او طیب هغه دے چه بدن او عقل ته ضرر او نقصان نهٔ ورکوی. (ابن کثیرؒ).
نو چرس، پوډر او افیون حلال هم نهٔ دی او طیّب هم نهٔ دی.
٤- حـلال هـغـه دی چـه مـفـتـی د هـغـے د حلال والی فتویٰ ورکړی، او طیب هغه دی چه زړهٔ د هغے په حلال والی گواهی اُوکړی. (البحر المحیط)

ابوعبد الله الساجي (سعيد بن زيدؒ) فرمائي : پنځه خصلتونو سره د انسان عمل پوره كيږي :
۱- د الله معرفت (پيژندګلي) ۲- د حق معرفت۔ ۳- د الله دپاره په عمل كښ اخلاص كول۔
٤-او عمل په تابعدارئ د سنت كښ كول۔ ٥- او حلال خوړل، كه پدے كښ يو نهٔ وي نو عمل د قبوليت مقام ته نهٔ پورته كيږي۔

سهل بن عبد اللهؒ فرمائي : نجات په درے څيزونو كښ دے : ۱- حلال خوړل۔ ۲-فرائض ادا كول۔ ۳- او د نبي كريم ﷺ اقتداء كول۔ (تفسير القرطبيؒ)۔

فائده : حرام خوړلو سره نفس كښ خباثت راځي، بيا د الله تعالىٰ د توحيد او تعلق اهليت ختميږي، پدے وجه د حلالو په خوړلو امر شويدے۔

د خطوات الشيطان مصداقات

﴿ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ﴾ خُطُوات جمع د خُطُوَةٌ ده، هغه مسافت چه د دوه قدمونو ترمينځ وي۔ دلته ترے مراد (۱) تحريمات د غير الله دي۔ يعني د ځان نه تحريم (حرامول) مهٔ كوئ۔

(۲) ...... هر معصيت او واړهٔ واړه ګناهونه۔ (ابوعبيدة)

(۳) ...... لارے د شيطان۔ ...... (زجاج)

(٤) ...... كُلُّ مَا خَالَفَ الْكِتَابَ۔ هر هغه شے چه د كتاب الله خلاف وي۔

(ابن عباسؓ – تفسير فتح البيان)۔

(٥) اَلنُّذُوْرُ فِي الْمَعَاصِيْ : په ګناه كښ نذر كول۔ ...... (ابو مِجلزؒ)۔

٦- تفسير قرطبيؒ ليكي : ټول بدعتونه او ګناهونه د شيطان قدمونه دي، او كوم شے چه په شريعت كښ نهٔ وي راغلے، نو هغه شيطان ته منسوب وي۔

۷- نَزَغَاتُ الشَّيطان۔ (يعني د شيطان وسوسے په هر قسم ګناه)۔

(الشيطان) نه مراد دلته مطلق وسوسه اچونكے دے، انسي وي كه جني۔ د شيطان نه به انسان په څهٔ خلاصيږي نو روستو راځي ﴿ وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا ﴾ يعني په اتباع د قرآن۔

﴿ مُبِيْنٌ ﴾ دا متعدي هم استعماليږي يعني خپلے دشمنئ لره ښكاره كونكے۔ او مبين د قرآن كريم په صفت كښ هم راځي۔ او لازم هم استعمال دے يعني ښكاره دشمنئ والا۔ څكه چه آدم عليه السلام ئے د جنت نه راكوز كړو او تاسو ته غلطے لارے ښائي، آيا تاسو نهٔ ګورئ چه د شيطان په تابعدارئ څومره مشكلاتو كښ واقع كيږئ، ايمان، صحت او مال خراب شي۔ جګړے او انتشار پيدا شي، شيطان چه اُوخوزيږي نو شرونه پيدا كيږي۔

اِنَّمَا يَاْمُرُكُمْ بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ وَاَنْ تَقُوْلُوْا
يقيناً هغهٔ حكم كوي تاسو ته (په وسوسه اچولو سره) په بدئ او بے حيايئ سره او دا چه تاسو اُووايئ
عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۶۹﴾
په الله باندے هغهٔ څهٔ چه تاسو پرے نهٔ پو هيږئ۔

تفسير: د هغه د دشمنئ نخے دا دی چه په درے غلطو كارونو تاسو ته حكم كوی۔ اول : حكم كوی په سوء۔ سوء (۱) بدی ته وائی، دا هرے گناه ته شامل دے، صغيره وی اوكه كبيره، د ظاهری اندامونو اعمال وی او كه د زړونو اعمال وی۔ گناه ته سوء ځكه وائی چه په عاقبت كښ د هغے كونكے خفه كوی۔ او (الفحشاء) هغه گناه ده چه د شريعت سره عقل ئے هم بده گڼړی۔ لكه بی حيائی، زنا، نشه، قتل، بخل، تهمت لگول وغيره۔ (تيسير الكريم الرحمن ۱/۹۷)۔

او پدے كښ عطف د خاص دے په عام باندے۔

(۲) ...... السوء كلمه شركی ده او فحشاء عمل شركی دے۔

(۳) ...... السوء هغه گناه ده چه په هغے كښ مقرر حد نهٔ وی او فحشاء هغه ده چه په هغے كښ حد وی لكه زنا، غلا تهمت لگول، بهتان وغيره۔

(٤) ...... سوء هره گناه او فحشاء هر قول او فعل چه قبيح (بد) وی۔

(٥) ...... سوء وارهٔ گناهونه او فحشاء لوئی گناهونه دی۔ (تفسير العثيمين)

فحشاء ئے جدا راوړه اگركه دا په سوء كښ داخل ده ځكه بے حيائی مستقله گناه ده، عظيم جُرم دے۔ چه متضمن دے ډيرو گناهونو لره لكه بد الفاظ، بد نظری، لاس لگول، د اجنبی ښځے خكلول، زنا، لواطة، ځان بربنډول، د زنانو تنگے جامے اغوستل، سينډل اغوستل وغيره۔

﴿ وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴾

(يعنی پدے هم حكم كوی چه تاسو په الله باندے په ناپو هئ دروغ اُووايئ)۔

د تَقَوُّل په صله كښ چه (عَلٰى) راشی نو په معنیٰ د دروغ جوړولو سره وی۔

۱ - تقوّل عَلَى الله (په الله باندے دروغ وئيل) ديته وائی چه الله تعالیٰ يوه خبره نهٔ ده كړے، يو څيز ئے نهٔ دے حرام كړے او دا وائی دا شے حرام دے۔ دا د الله مُحاده ده (يعنی د هغه په مقابله كښ نوی حد ږد كيخودل دی) او صريح مخالفت دے۔ (۲) دويم دا چه انسان ته معلومه نهٔ وی چه آيا الله دا شے حلال كړيدے او كه نهٔ، او انسان هغے ته د ځان نه حلال يا حرام وائی۔ دا هم په الله تعالیٰ دروغ

دی۔ دا تقول علی الله ډیره سخته گناه ده۔ دین کښې د ځان نه خبرے کول چه دا حلال دے او دا حرام دے۔ دا به هله کوے چه دلیل درسره وی او چه دلیل درسره نهٔ وی، نو ددے بیانول ډیر لوئی جرم دے ځکه تقوّل علی الله د شرك نه هم لویه گنایه ده، ځکه چه شرك د تقول علی الله یوه نوعه ده، او دا په نن صبا زمانه کښې ډیر زیات دے (نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْهُ) د الله سبحانه وتعالیٰ نه یره کمه شویده ځکه خلق په الله باندے جرأت کوی او ځان نه ئے مفتیان جوړ کړی وی۔

او (تَقَوُّل عَلَى الله) نورو ډیرو صورتونو ته هم شامل دے : ١- یو دروغ وئیل په الله باندے د هغه په ذات کښې لکه ماتریدیه او اشاعره چه غلطه عقیده لری چه د الله ذات نهٔ په عالَم کښې داخل دے او نهٔ خارج دے، نهٔ متصل دے او نهٔ منفصل دے، نهٔ د عالَم دپاسه دے او نهٔ خکته دے۔ دارنگه د هغه د ذات نه انکار، د هغه سره شریکان جوړول۔

٢- دارنګه دا شامل دے د الله تعالیٰ اسماء (نومونو) ته هم چه داسے اُووائی چه د الله نومونه بے معنیٰ او بے صفته نومونه دی لکه معتزله وائی : الله سمیع دے بلا سمع او بصیر دے بلا بصر او علیم دے بلا علم۔ او هغه علیم دے په اعتبار د ذات سره۔ او علم ئے صفت نهٔ گنړی۔

٣- دارنګه دا شامل دے د الله صفاتو کښې بے علمه خبرو ته هم مثلاً بعض صفتونه د الله ثابت کړی او بعضو نه انکار اُوکړی، لکه کله وائی چه ددے صفت نه مراد دا دے او ددے نه دا دے۔ نو دا هم په الله باندے بے علمه دروغ وئیل دی۔ لکه مثلاً اِسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ کښې وائی چه د (اِسْتَوٰى) نه مراد (اِسْتَوْلٰى) (یعنی غلبه ده په عرش باندے) او د الله استواء په عرش نهٔ منی۔ یا د یَد نه مراد قدرت اخلی او د الله لاس نهٔ منی۔

٤- دارنګه دا شامل دے د الله افعالو کښې خبرو ته هم، لکه بعض خلق داسے اسباب ثابت کړی چه هغه الله تعالیٰ اسباب نهٔ وی جوړ کړی لکه د نجومیانو او اټکل والو، نو دوی د الله په کارونو کښې د ځان نه خبرے کوی وائی : چه ددے فلانی شی د موجودیدو فلانے سبب دے، او دهٔ ته یقینی معلومات نهٔ وی۔

٥- دارنګه د الله تعالیٰ په احکامو کښې خبرے کول۔ چه جائز ته حرام وائی او حرام ته جائز، یا جائز ته واجب وائی۔ او دهٔ ته د هغے معلومات نهٔ وی او دا قسم خلق ډیر زیات دی۔ نو په بے علمئ سره په الله باندے دروغ تړل شاملیږی د الله ذات، د هغه اسماء، د هغه صفات، د هغه افعال او د هغه احکامو ته۔ دا ټول د شیطان حکمونه دی۔

او اکثر دا کار چه څوك کوی نو د هغه مقصد شرافت، مشری او خپل نوم او شهرت سره مینه وی۔ ورنه که چا کښې تقویٰ وی، نو هغه به د الله تعالیٰ سره ډیر په ادب چلیږی، او د الله او د هغه د

رسول نـه بـه ځان نهٔ مخکښ کوی۔ (تفسیر العثیمین٤/١٩٣) او دارنګـه دا مرض د هر مشرك او بدعتی دے چه ګناه ته طاعت وائی او په هغے کښ ثواب ګنړی۔

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَآ أَنزَلَ اللّٰهُ قَالُوا بَلْ
او کله چه اُووئیلے شی دوی ته تابعداری اُوکړئ د هغه څهٔ چه نازل کړیدی الله تعالیٰ۔ دوی وائی بلکه
نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَ نَا أَوَلَوْ كَانَ
مونږ تابعداری کوو د هغه طریقے چه مونږ موندلی دی په هغے باندے مشران خپل، آیا اګرکه وو
اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَّلَا يَهْتَدُونَ ﴿۱۷۰﴾
مشران د دوی چه نهٔ پو هیدل په هیڅ شی او نهٔ په سمه لار وو۔

تفسیر : پدے آیت کښ امر دے په اتباع د کتاب او سنت چه حلال او حرام به د کوم ځائے نه معلوموو نو هغه کتاب او سنت دے۔ الله فرمائی چه کله مشرکانو ته وئیلے کیږی چه الله تعالیٰ کوم دین په خپل رسول نازل کړیدے، د هغے تابعداری اُوکړئ نو دوی وائی چه مونږ به هغه کار کوو چه زمونږ پلارانو نیکونو به کولو یعنی د بتانو او خود ساخته معبودانو عبادت به کوو، او رسم و رواج د مشرانو به نهٔ پریدو۔ نو الله په دوی رد کوی چه آیا تاسو به د خپلو پلارانو او مشرانو تابعداری کوئ، اګرکه هغوی په دین بالکل پو هه نهٔ وی او د حق نه وړاندے وی؟!۔

ربط : ۱- مخکښ د شیطان د اتباع نه منع اُوشوه، نو اُوس په غیر د دلیل او حجت نه د خپل پلارانو نیکونو د اتباع نه منع کولے شی چه دا په حقیقت کښ د شیطان اتباع ده۔

۲- کله چه دوی ته اُووئیلے شی چه د ځان نه حرام او حلال مهٔ جوړوئ، او په ما انزل الله کښ حلال او حرام شته د هغے تابعداریٔ اُوکړئ، نو دوی پلار نیکهٔ رامخے ته کړی، چه هغوی نیکان خلق وو، د هغوی تابعداری به کوو۔ نو الله فرمائی : چه هغه خو بے عقله خلق وو، هدایت ورسره نهٔ وو۔ د هغوی پسے د قرآن او حدیث په مقابله کښ څنګه روانیږئ۔

۳- دریم دا چه په تقول علی الله کښ انسان اکثر د تقلید الآباء (د پلارانو د تقلید) په وجه پریوزی۔ ٤- مخکښ د انسان د دشمن حال وو، اُوس د انسان د دوست حال بیانوی چه هغه د الله تعالیٰ کتاب دے۔

۵- د شیطان د وسوسے او د تقلید په مابین کښ فرق نشته۔ (امام رازیؒ)

او پدے کښې د مشرکانو په دلیل باندے رد دے چه هغوی د قرآن او حدیث په مقابله کښې اتباع الآباء کوی۔ پلار نیکه پیش کوی۔ او د قرآن او سنت د اتباع نهٔ کولو دپاره ئے دغه عذر جوړ کړے وی۔ نن صبا که اهل بدعت پوهه کړے شی چه د دوی د بدعاتو دپاره په دین کښې هیڅ اصل نشته، نو دوی همدا جواب کوی چه دا رسمونه خو زمونږ د پلارانو نیکونو نه راروان دی، حال دا چه د دوی پلاران نیکونه هم د دینی بصیرت نه ړاندهٔ او د هدایت نه محروم پاتے کیدے شی۔ پدے وجه د شریعت د دلیلونو په مقابله کښې د خپل پلار نیکهٔ یا د أئمه کرامو او علماءِ عظامو پیروی او تابعداری کول غلط دی۔ الله تعالیٰ دِے مسلمانان ددے دلدل نه راوباسی، آمین۔ (احسن البیان)۔

نکته: د مشرکانو غالباً څلور دلائل وی: ۱- اتباع الآباء۔ (د پلارانو تابعداری)۔

۲- اتباع الاکثرية۔ (د ډیرو پسے روانیدل)۔ وائی لړو پسے څنګه لاړ شو۔

۳- الظن: گمانونه کول۔ ٤- خرص او تخمین (اټکل) پسے روانیدل۔ فلانی داسے وئیلی دی، او زمونږ دین او مذهب غوره دے۔ او پدے سره د کتاب او د سنت د تابعدارئ نه ځان معذور گنړی۔ لیکن دا عذر قبول نهٔ دے۔

﴿ مَا أَنْزَلَ اللهُ ﴾ دا قرآن او حدیث دواړو ته شامل دے۔

﴿ بَلْ ﴾ دا د اِضراب (یعنی اعراض) دپاره دے۔

﴿ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَ نَا ﴾ د (آبَاءَ نَا) نه مراد دلته مشران او علماء دی۔ لکه امام راغبؒ وئیلی دی: ای عُلَمَاءَ نَا ۔ ځکه عالِم د انسان په عِلم تربیت کوی۔ (مفردات ۱/۷)۔

نو الله پرے رد کوی: ﴿ اَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴾۔

یعنی که پلاران نیکونه ئے جاهل او بے هدایته هم وی بیا به ئے هم دوی تابعداری کوی؟ دا خو مره بے عقلی ده !!۔

فائده: دا آیت د مشرکانو په باره کښې دے چه هغوی قرآن او حدیث له هیڅ اعتبار نهٔ ورکولو، او هغه ئے د پلار نیکهٔ د تقلید په وجه رد کولو۔ لیکن مفسرین وائی: د قرآن او سنت دا اصولی منلے شوے قاعده ده چه اعتبار د الفاظو عموم له وی او خاص سبب له اعتبار نهٔ وی، نو ددے آیت کریمه نه سیاق کښې رد دے په هغه مقلدینو چه هغوی ته ما انزل الله (قرآن او حدیث) پیش شی نو هغوی وائی، مونږ د مشرانو او علماؤ پسے ځو، زمونږ مُرشد، زمونږ بزرگ او زمونږ فقیه بنهٔ پو هیدو، او یقیناً دا حدیثونه به د هغوی په عِلم کښې وی، لیکن د کوم ډیر قوی دلیل په وجه به هغوی ددے حدیثونو نه انکار کړے وی۔ لکه مشرکانو به هم دا وئیل چه زمونږ پلار نیکهٔ بنهٔ پو هیدل، نو دا د مشرکانو سره ځان مشابه کول دی او د کتاب اود سنت مقابله کول دی۔

او ددې دپاسه بيا غټ ظلم دا شويدې چه دوی د حديثو انکار ته لاره کولاوه کړه، او داسې فقهي اصول ئې جوړ کړل او هغه ئې په خپلو کتابونو کښې مُدوّن کړل (وې ليکل) چه کله يو حديث ددې اصولو خلاف راشي، نو (د دوی په گمان) به هغه رد کولے شي ځکه هغه به يا ضعيف وي يا به مرجوح وي يا به منسوخ وي۔ نو ددې جرم نتيجه دا شوه چه د امت په انفرادي او اجتماعي زندگئ کښې ډير کمزوري او واهيات قسم حديثونه رائج شو، او هغه صحيح حديثونه چه بخاري او مسلم روايت کړيدي، او په هغې باندې د عمل نهٔ کولو هيڅ جواز د امت سره موجود نهٔ دې، د سلګونو کلونو نه آوازونه کوی چه اې مسلمانانو! په مونږ باندې عمل اُوکړئ، مونږ د الله د رسول صحيح حديثونه يو، ليکن مقلدين هغې له هيڅ اعتبار نهٔ ورکوی۔ په اسلام کښې د تمامو گمراه فِرقو وجود، د شرك او بدعت رواج، د قبرونو او مزارونو او د درگاهونو عبادت او د عقائدو تولې بيمارياني د همدې دروازې نه راداخلې شوې چه قرآن او سنت ئې پريخودو او د خپلو بزرگانو او مشائخو او د خود ساخته معبودانو خبرو ته ئې ترجيح ورکړه، د هغوی تقليد ئې اُوکړو، او دا ئې اُووئيل چه ددې مشرانو چه څهٔ کړيدي نو د هغوی سره به هم خامخا څهٔ دليل وی، پدې وجه مونږ به همغه کوو کوم چه زمونږه بزرگانو کول، او ددې حديثونو منلو ته مونږ ته تيار نهٔ يو، ځکه چه مونږه د خپلو مشرانو نه ښهٔ نهٔ پوهيږو۔ هغوی به ترې کيدې شي چه څهٔ جواب کړې وی، نو آيا دوی په قرآن او حديث نهٔ پوهيږی او د علماؤ په اقوالو پو هه شو۔ عجيب !! ۔ (وانظر تيسير الرحمن)۔

(۱) ابن عطيّة په (المحرر الوجيز) کښې وئيلي دي او قرطبيّ هم دهغه نه نقل کړيدی : [وَقُوَّةُ اَلْفَاظِ هٰذِهِ الآيَةِ تُعْطِیْ اِبْطَالَ التَّقْلِيْد] ددې آيت د الفاظو قوت فائده ورکوی چه تقليد باطل دې۔

(۲) پدې آيت کښې کامل آواز دې په جهالت د مقلدينو چه د قرآن او د سنت په مقابله کښې پلاران پيش کوی۔ (تفسير فتح البيان د صديق حسن خان)۔

(۳) ...... ابو حيان اندلسيّ وئيلي دي : پدې آيت کښې دليل دې په بدئ د تقليد باندې۔

(٤) ...... او د ابن عطيّة نه ئې نقل کړيدی چه په عقيدو کښې د تقليد په ابطال (باطلوالی) باندې اجماع منعقده ده ۔ (البحر المحيط) والمحرر الوجيز (۱/ ۱۸٤)۔

(۵) ...... او علامه آلوسيّ ليکی : پدې آيت کښې منع ده د تقليد نه د هغه چا دپاره چه قدرت لری په فکر کولو او هرچه اتباع د بل چا ده په ديني کارونو کښې روستو د عِلم نه په يو دليل سره چه دا حق دې نو دا په حقيقت کښې اتباع د ما انزل الله ده۔ (يعنی په دليل سره د بل چا تابعداري کول تقليد نهٔ دې)۔

فائده : ۱- د قرآن او حديث اتباع كه بالكليه څوك پريدي۔نو هغه خو كافر او مشرك دے۔ ۲- او كه څوك ئے بالكليه نهٔ پريدي، په بعض خبرو كښې ئے منى او په بعضو كښې ئے نهٔ منى، بيا پكښې مِنْ وَجه كفر او شرك راغلے دے۔۳- او كه داسے وائى چه مَا اَنْزَلَ الله ښهٔ شے دے، منم ليكن زمونږ مشران او علماء ښهٔ پوهيدل او زهٔ نهٔ پوهيږم۔نو بيا حقيقى كافر او مشرك نهٔ دے ليكن تشبيه د هغوى سره راغله څكه آيا دا كتاب او سنت الله تعالىٰ صرف مشرانو له راليږلى وو او تا له ئے نهٔ دى راليږلى څه !۔ نو پدے آيت كښې د ائمه ؤ تقليد هم داخل دے۔

علامه ابن ابى العز الحنفيؒ په خپله رساله (الاتباع) او حافظ ابن القيمؒ په اعلام الموقعين بحث التقليد) كښې وئيلى دى چه دلته تشبيه په اعتبار د كفر د يو او ايمان د بل سره نهٔ ده، بلكه تشبيه په اعتبار د تابعدارئ كولو ده بغير د حجت او دليل شرعى نه۔ لكه يو څوك چه د چا تقليد په كفر كښې اُوكړى او بل كس ئے په فسق او فجور كښې اُوكړى، او بل ئے په يوه داسے مسئله كښې اُوكړى چه هغه په كښې خطاء شوے وى۔نو پدے كښې هر يو تن په بے دليله تقليد كولو باندے ملامته دے۔

امام رازيؒ وائى : معنىٰ د آيت دا ده چه الله دوى ته حكم اُوكړو چه الله تعالىٰ كوم ښكاره دليلونه نازل كړى، د هغے تابعدارى اُوكړئ، نو دوى اُووئيل، مونږ ددے تابعدارى نهٔ كوو بلكه مونږ د خپلو پلارانو او مشرانو تابعدارى كوو، نو گويا كښې دوى په تقليد سره د دليل معارضه (مقابله) اُوكړه۔ بيا وائى : د شيطان د وسوسو تابعدارى او د تقليد تابعدارى دواړو كښې هيڅ فرق نشته، لكه د مخكښې او ددے آيت مناسبت همدا دے، او دا دليل دے چه نظر او استدلال واجب دے او د زړهٔ په خبره بغير د دليل نه اعتماد كول يا د بل چا په خبره بغير د دليل نه اعتماد كول جائز نهٔ دى۔ (محاسن التاويل للقاسمى ۱/۴۳۲)

د تقليد مسئلے وضاحت

تقليد لفظ په عربى ژبه كښې د قلادے نه اخستے شويدے، د چا په غاړهٔ كښې پړے اچول چه ما راكاږه كوم خوا چه ستا خوښهٔ وى يعنى خپل ټول اختيار هغه ته وركول۔ په اصطلاح كښې : د چا قول (وينا) قبلول بغير د دليل نه۔ (قرطبيؒ)

۲- ابن امير الحاجؒ په التقرير والتحبير شرح د تحرير د ابن الهمامؒ كښې ليكى: ((تقليد عمل كول دى بغير د دليل نه په قول د هغه چا چه د هغه قول په شرع كښې حجت نهٔ دے))۔

(عِقْدُ الفريد ص : ۱۵)

نو پدے سره د طبيب قول په باره د علاج كولو كښې خارج شو څكه چه هغے ته شرعى عمل نهٔ

وثیلے کیږی۔ رجوع د عامی قول د مفتی ته او عمل د قاضی په خبره د عادل گواهانو دا تقلید نهٔ دے ځکه چه ددے کسانو تابعداری په احادیثو سره ثابته ده، لهذا دلیل پرے موجود دے۔

تقلید په قرآن، حدیث، اجماع او د علماء کرامو او صحابه کرامو په اقوالو سره رد کرے شویدے۔

○ د قرآن کریم په یولسو (۱۱) آیتونو کښ د تقلید رد دے چه هغه زمونږ په رساله (حقیقة التقلید واقسام المقلدین ص : ۱۲۷-۱٤۳ کښ تفصیلًا اُوگوره)۔

او دا آیت دلیل دے چه کله دوی ته نص (آیت یا حدیث) پیش کرے شی ،نو دوی وائی : ددے نه به مشرانو څهٔ جواب کرے وی۔ یا دا زمونږ حدیث نهٔ دے، د امام شافعیؒ حدیث دے۔ دا بعینهٖ د حدیث رد کول دی۔ او ددے آیت لاندے تفسیر قرطبیؒ، ابن عطیهؒ، ابوحیانؒ او آلوسیؒ وغیره د تقلید رد لیکلے دے۔لکه مخکښ تیر شو۔

۲ - اِتَّبِعُوْا مَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖ اَوْلِيَاءَ (اعراف/۳)۔

○ دولس احادیث په رد د تقلید کښ اُوگوره .... (حقیقة التقلید ص : ۱٤٤- ۱۵۷)

○ پنځه اجماعی دلائل هم هغه رساله کښ اُوگوره .... (۱۵۸-۱٦٤)

علی رضی الله عنه فرمائی : [اِيَّاكَ وَالْاِسْتِنَانَ بِالرِّجَالِ]. (اعلام الموقعین ۲/۱۹۵)

(د سړو پسے (بے دلیله) مهٔ ورځه)۔

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : [لَا يُقَلِّدَنَّ اَحَدُكُمْ دِيْنَهٗ رَجُلًا، اِنْ آمَنَ آمَنَ وَاِنْ كَفَرَ كَفَرَ]

(جامع بیان العلم وفضله ۲/۲/۱۳۷) مجمع الزوائد ۱/ ۱۸۰) المیزان للشعرانی (۱/٤۷)

(یو تن دِے په تاسو کښ خپل دین د یو سړی نهٔ تابع کوی۔که هغه ایمان راوړی نو دا ئے هم راوړی او که هغه کفر کوی نو دا ئے هم کوی)۔ نهٔ، بلکه تحقیق پکار دے۔

ټولو سلفو د تقلید نه منع کړیده، او فقه حنفی کښ هم ددے تردید شته، ددے وجه نه خلقو ته دا اشکال هم راځی چه دے فقهاؤ د تقلید نه منع کړیده او پخپله ئے کوی هم ؟ دا څهٔ وجه ده ؟ نو ددے جواب دا دے چه دے فقهاؤ کوم تقلید رد کړیدے نو هغه ئے صحیح کار کړیدے، او خپله مقلدین نهٔ وو بلکه کوم ځائے کښ ئے چه د یو امام قول اخستے وی نو دیته موافقة الرأی والاجتهاد وائی، د دوی رایه ددغه امام د وینا سره برابره شوی وی، ځکه چه دا روستو امام هم مجتهد دے، صرف فرق دا دے چه هغهٔ مسئله د کتاب او سنت معلومه کړه او ددے روستو امام او عالِم ذهن هغه واخسته او اجتهاد ئے ددهٔ د اجتهاد سره برابر شو۔لکه امام طحاویؒ ته خلق حنفی وائی او حال دا چه هغه په خپله په تقلید ردکوی فرمائی :[وَهَلْ يُقَلِّدُ اِلَّا غَبِيٌّ اَوْ عَصَبِيٌّ] تقلید خو یا غبی کوی یا عصبیت والا۔ (لسان المیزان ۱/ ۲۸۰)

طحاویؒ فرمائي: قاضي ابوعبیدؒ به ما سره د مسائلو تذکره کوله نو یوه ورځ ما په یو مسئله کښې یو جواب ورکړو نو هغه اُووئیل: (مَا هٰذَا قَوْلُ اَبِيْ حَنِيْفَةَ) دا خو د امام ابوحنیفهؒ خبره نهٔ ده، نو ما ورته اُووئیل: (اَيُّهَا الْقَاضِيُ اَوَكُلُّ مَا قَالَهٗ اَبُوْحَنِيْفَةَ اَقُوْلُ بِهٖ) اے قاضي! آیا هر څهٔ چه ابوحنیفهؒ وئیلي وي، نو زهٔ به ئے هم وایم څه؟) هغه راته اُووئیل: (مَا ظَنَنْتُكَ اِلَّا مُقَلِّدًا)۔ ما خو په تا باندے گمان کولو چه تهٔ مقلد ئے۔ نو ما ورته اُووئیل: (وَهَلْ يُقَلِّدُ اِلَّا عَصَبِيٌّ)۔ تقلید خو عصبیت والا (یعنی ضدی تعصب والا انسان) کوي۔ نو هغه پکښې دا الفاظ زیات کړل۔ (اَوْغَبِيٌّ) یا ئے کم عقل انسان کوي۔ تردے چه دا کلمه په مصر کښې مشهوره شوه او متل اُوگرزیده۔

(رفع الاصرؒ عن قضاة مصر للحافظ ابن حجر العسقلانی ص (۱۲۰)

نوویؒ په ابتداء د ((مجموع شرح المهذب ۱/ ٤٠)) کښې لیکلي دي چه مونږ شوافع نهٔ یو (بَلْ وَافَقَ رَأْيُنَا رَأْيَ الشَّافِعِيِّ) ...... بلکه زمونږ رایه د امام شافعيؒ د رائے سره موافق شویده۔

(او په ړندو سترگو د هغے پسے نهٔ یو ورغلي)۔

۳ ...... فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت (۱/ ٤٠٧) کښې دي:

[وَلَمْ يُوْجِبِ اللّٰهُ اَنْ يَّكُوْنَ حَنَفِيًّا اَوْ شَافِعِيًّا اَوْ حَنْبَلِيًّا] ۔ الله تعالیٰ په هیچا نهٔ دي واجب کړي چه هغه حنفي، شافعي یا حنبلي جوړ شي۔ دا د هغه د عبارت حاصل دے۔

٤ ...... ملا علي القاريؒ په شرح د ((عین العلم)) کښې وائي: [وَلَمْ يُوْجِبِ اللّٰهُ عَلٰى اَحَدٍ اَنْ يَّتَمَذْهَبَ بِمَذْهَبٍ مُّعَيَّنٍ وَاَنْ يَّكُوْنَ حَنَفِيًّا اَوْ شَافِعِيًّا] یعنی الله تعالیٰ دا په هیچا باندے نهٔ دي واجب کړي چه خاص یو مذهب راونیسي، یا حنفي یا شافعي شي)۔ نو مقلدینو له خو د خپلو مشرانو خبره منل پکار دي۔ شرح عین العلم (۱/ ٤١٥)

دغه شان اقوال د ابوحنیفه، مالك، شافعي او احمد (رحم الله الجمیع) د تقلید په رد کښې موجود دي۔

امام ابوحنیفه رحمه الله تعالیٰ فرمائي: [وَيْحَكَ يَا يَعْقُوْبُ لَا تَكْتُبْ عَنِّيْ كُلَّ شَيْءٍ فَاِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ اَقُوْلُ الْقَوْلَ الْيَوْمَ وَاَرْجِعُ عَنْهُ غَدًا] ۔ اے ابویوسف! خوار شے ما نه هر شے مهٔ لیکه، ځکه زهٔ انسان یم، نن یوه خبره اُوکړم او صبا له د هغے نه رجوع کوم)۔

(المستفاد من ذیل تاریخ بغداد۲/ ۷٤) تاریخ بغداد (۱۳/ ٤٢٤) تاریخ یحیی بن معین (۱/ ۷۰) الانتقاء فی فضائل الثلاثة الائمة الفقهاء لابن عبد البر) موسوعة الرد علی الصوفیة (۵۱/ ۲۲) لمجموعة من العلماء)

۲– دارنگه فرمائي: کله چه حدیث صحیح ثابت شي نو هغهٔ زما مذهب دے۔

(الوجیز فی عقیدة السلف لعبد الله بن عبد الحمید الاثری) وشرح کتاب التوحید لسلیمان اللهیمید)

۲- **امام مالک** رحمه الله فرمائی : [اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ اُخْطِئُ وَاُصِیْبُ]۔
زهٔ انسان یم خطاء کیږمه هم او حق ته هم رسیږم۔
۲- د هر چا د قول او د عمل نه به څهٔ اخستلے شي او څهٔ به پریخودلے شي ما سِوا ددے قبر والا نه (اشاره ئے اُوکړه قبر د رسول الله ﷺ ته او دا په مسجد نبوی کښې ناست وو)
(موسوعة الدفاع عن رسول الله ﷺ لنایف بن محمود)
۳- **امام شافعی** رحمه الله فرمائی : د ټولو مسلمانانو پدے اجماع ده چه چا ته د رسول الله ﷺ سنت واضح شي، نو دهٔ له جائز نهٔ دی چه دا د چا د قول د وجه نه پریدی۔
(الرساله للشافعیؒ ص: ٤٢٤)
٤- **امام احمد** رحمه الله امام ابوداودؒ ته فرمائیلی وو : زما او د امام مالك، او د امام ثوریؒ او د امام اوزاعیؒ تقلید مهٔ کوه او اخستل کوه د هغه ځائے نه چه دوی د هغے نه اخستل کړیدی (چه هغه کتاب او سنت دے) الدرر السنية فى الاجوبة النجدية (٦/٣١٤) ۔
او دا خبره غلطه ده چه هغوی په قرآن او سنت پو هیدل او مونږ به نهٔ پو هیږو، بلکه مونږ چه دا نحو وصرف وایو، نو ددے غرض هم دا دے چه په قرآن او حدیث باندے ځان پو هه کړو۔ اګرکه مونږ دے سلفو ته نشو رسیدلے۔ لیکن د قرآن او حدیث نه اخذ کول مشکل کار نهٔ دے۔
۲- دارنګه فرمائی : د سړی د فقاهت کموالے دا دے چه په دین کښې د نورو خلقو تقلید کوی۔
(الدرر السنية فى الاجوبة النجدية : ٥/٢٦)۔
دارنګه ابن عبد البرّ د علماؤ اجماع نقل کړیده فرمائی: اَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلٰی اَنَّ الْمُقَلِّدَ لَیْسَ مَعْدُوْدًا مِنْ اَهْلِ الْعِلْمِ) د علماؤ پدے اتفاق دے چه مقلد په علماؤ کښې شمار نهٔ دے۔
(الدرر السنية ٥/٢٦) واعلام الموقعين لابن القيم (١/٧)۔
نو څوك چه ځان ته مقلد وائی دا به جاهل وی۔ ۲- قرطبیؒ لیکی : تقلید د علم لاره نهٔ ده او نهٔ دا رسوونکے دے علم ته په اصولو کښې او نهٔ په فروعو کښې او جاهل حشویه او ثعلبیه ؤیئیلی دی چه دا لاره د پیژندلو د حق ده او واجب دے۔ (قرطبی ۲/۲۱۲)
٤- ابن القیمؒ په ((القصیدة النونية)) کښې وائی :

اِذْ اَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ اَنَّ مُقَلِّدًا	○	لِلنَّاسِ وَالْاَعْمٰی هُمَا اَخَوَانِ

(د علماؤ پدے اجماع ده چه د خلقو تقلید کونکے او ړوند دواړه برابر دی)۔

وَالْعِلْمُ مَعْرِفَةُ الْهُدٰی بِدَلِیْلِهٖ	○	مَا ذَاكَ وَالتَّقْلِیْدُ مُسْتَوِیَانِ

(ځکه علم خو مسئله سره د دلیل نه پیژندلو ته وائی، دا او تقلید دواړه چرته برابر دی !!)۔

او څوك چه تقليد پريدى او الله تعالىٰ ورته د تحقيق حلاوت او خوند ورنصيب كړى نو هغه باندے الله تعالىٰ د اجتهاد لاره راكولاووى او حق ته ئے زر رسوى. او څوك چه تقليد كوى نو هغوى د جزئيو پسے ګرځى چه آيا دا مسئله ثابته ده او كه نهٔ او د هغے د اصل او دليل نه خبر نهٔ وى.

نو غرض دا چه تقليد يو مردود شے دے، او عِلم نهٔ بلكه جهالت دے، بيا هم خلق ځان له جهالت خوښوى !!. .... او خاصكر عوام خو احناف، مالكيه، حنابله او شوافع نشى جوړيدے لكه شامىؒ او دغه شان ابن قيم رحمه الله په «اعلام الموقعين» كښې ليكلى دى. چه د اَمى سړى هيڅ مذهب نشى كيدے ځكه مذهب د هغهٔ چا كيدے شى چه د هغه دپاره اهليت د نظر او فكر وى، د يو عالِم كتاب اُوګورى او د هغه د خبره پسے روان شى. او امى سړے خو په كتاب نهٔ پوهيږى نو د هغه عالِم تقليد به څنګه اُوكړى، امى ته لكه څنګه چه قرآن او حديث نهٔ دے ياد نو دغه شان فقه هم ورته نهٔ ده ياده. بعض جاهل مُليان وائى : تاسګے وال په حديث څهٔ پوهيږى. مونږ وايو : تاسګے وال په هدايه او شامى څه پوهيږى لكه څنګه چه په حديث نهٔ پوهيږى، نو هدايه خو د حديث نه لا ډيره ګرانه ده. نو تهٔ به ئے ورته وربښائے، نو تهٔ ورته كتاب او سنت وروښايه، هدايه ورته څه له ښائے. نو د امى مذهب د هغه د مفتى مذهب دے. په امى باندے واجب ده چه د هر پټكى والا مُلا نه به تپوس نهٔ كوى بلكه د قرآن او د حديث د ماهر نه به تپوس كوى، او د دليل مطالبه به ترے كوى، او كه دهٔ د هر چا نه تپوس كولو او هغه ورته غلطه مسئله اُوخودله نو الله به دا راګيروى.

الله فرمائى : ﴿فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ يعنى د قرآن او حديث والو نه تپوس كوئ كه تاسو نهٔ پوهيږئ) نو اهل الذكر به د الله د حكم جواب دركړى لكه صحابه كرامو (رضى الله عنهم) كښې اميان هم ډير وو، هغوى به د الله تعالىٰ او د هغه د رسول د حكم تپوس كولو، نو جواب به ورته داسے وركړے شو چه رسول الله ﷺ دغه شان كړيدى، او دغه شان ئے فرمائيلى دى. لكه اُوس هم اميان دغه شان تپوس كوى خو مُليان ورته د شامى نه جواب وركوى. نو پدے كښې به د هغه عالِم شكريه اداء شوه، او بيا به د هغه پسے نهٔ روانيدو چه د هغه د طرف نه مدافعت شروع كړى، او د هغه د طرف نه جلسے او جلوسونه او مناظرے شروع كړى، لكه نن صبا د تقليد دغه حاصل دے.

او د **تحقيق حاصل** دا دے چه كه يو عالِم ښهٔ خبره اُوكړه نو هغه به منى او فائده به ترے اخلى، د بيتهرى او شونتيئ په شان، ليكن د هغه نه به قبله او مقصود نهٔ جوړوے چه بس د هغه هره خبره د كاڼړى كرخه اُوګنړے، او د دے دليله خبرو پسے ورله روان شے. او كه يو عالِم په يوه مسئله كښې خطاء شو نو د هغه تابعدارى به نهٔ كوے، او ددے سره د هغه عالِم اكرام به كوے، د هغه په خطائى سره د

هغـه پـه عزت او اکرام کښې هيڅ فرق نهٔ راځي ليکن په وخت د خطائی کښې د هغه تابعداری کول گمراهي او د خواهش تابعداری ده۔
او مُليـان هـم مـقـلدين نشي کيدے ځکه چه هغوی مامور دی په اتباع د کتاب او سنت او د بے دليله خبرو پسے د روانيدو نه منع شويدی۔ الله فرمائی :
﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ﴾ (الاسراء : ۳٦)
(مهٔ روانيږه د هغه خبرے او کار پسے چه ستا پرے عِلم نهٔ وی)۔
پدے کښې آيت فکر اُوکړه، دا آيت د تقليد په حراموالی باندے ښکاره دليل دے۔
نـو د تـقـليد مسئلے ټول خرافات او وهميات دی، هيڅ حقيقت نهٔ لری، خلق د اوهامو پسے روان دی۔ کـه د تـقـليـد نـه ځـوك خـلاص شـو نـو الله به ورته د کتاب او سنت خوند او د الله او د رسول محبت په نصيب کړی لکه دا خبره په مشاهده کښې راغلے ده۔
مـقلدينو ته دا **چيلنج** دے چه دوی دِے د امـام ابـوحـنيفهؒ يا بل يو امام نه داسے ثابت کړی چه هغـوی خپـل تـقـليـد تـه دعـوت ورکـړے وی بلکـه هغوی د الله او د رسول تابعداری تـه دعوت ورکـړيـدے۔ بـلکـه دوی د امـام ابـوحـنيـفهؒ خبره هم پريخے ده، هغه فرمائی : کله چه زما خبره د حـديث خـلاف وی نو په ديوال ئے گوزار کړئ۔ نو آيا مقلدينو چرته يوه مسئله د امام ابوحنيفهؒ په ديـوال ويشتـلے ده ؟ بـلکـه د صاحب هدايه طريقه خو دا ده چه د امام صاحب دوه روايته ذکر کـړی، قـديم او جـديـد نـو د دواړو دپاره د خپـل ځـان نـه د خپـلے کارخانے دليلونه وائی چه دواړه صـحيـح دی۔ او کوشش کوی چه هسے نه چه مخکنے قول ئے خطاء ثابت نهٔ شی۔ دا کوم ضد او عناد دے او د حديثونه وړاندے والے دے!!۔
بـلـکـه نن سبا چه کوم تقليد شروع دے نو دا تقليد د مقلدينو دے ځکه چه د امام صاحبؒ خپل هيـڅ کـتـاب نشـتـه چـه د هـغے پسے خـلق روان شی بلکه مقلدين مُليان چه فتوی ورکوی نو د هـدايـه او شامـی او عـالـمگـيری نه ئے ورکوی، او دا د امامِ صاحبؒ نه په سلگونو کلونه روستو راغـلـی دی۔ نـو دوی دعـویٰ د امـام ابـوحـنيـفهؒ د تقليدکوی او مسائل د نورو مُليانو منی، بلکه خپـلـه ئے لـيـکـلـی دی چـه امـام ابـوحنيفهؒ اوويا زره مسائل کړيدی، او په فقه حنفی کښې دولس لاکهـه مسـئـلے دی، نـو تـه سـوچ اُوکړه يولس لاکهه ديرش زره مسائلو کښې خو د امام صاحب تقليد اُونشو؟!۔
د تـحقيق صحيح طريقه دا ده چه ټول مذاهب اُوگوره (يعنی فقه مقارن) نو په هغے کښې چه کوم مـذهـب د دلـيـل زيات مـوافق وی، هغه راواخله او باقی هغه عالِم ته اُوسپاره نو د ټولو کتابونو نه

فائدے اخستل پکار دی، او د تحقیق مقصد دا نهٔ دے چه تول کتابونه او مذاهب رد کړے شی لکه مقلدین دا کار کوی چه یو مذهب (د خپل خواهش مطابق) راواخلی او باقی د ډیرو علماؤ مذاهبو ته بد گوری، هغے ته اَوریدل گناه کبیره او موجب د حد گنړی۔
آخر کښې مونږ مقلد مُلا ته وایو چه تهٔ به ځان ته یا جاهل وائے یا عالم؟، که عالِم وائے نو د قرآن او حدیث مطالعه کوه او مسائل ترے اخله او کومو علماؤ چه کتابونه لیکلی دی هغے کښې قرآن او حدیث گوره او عوامو ته مسائل بیانوه۔ تقلید ته ډیر حاجت نشته۔ او که جاهل ئے نو بیا به تهٔ هیڅ آیت او حدیث په دلیل کښې نهٔ پیش کوے (لکه د دوی فقهاؤ دا اصول لیکلی دی چه د مقلد د آیت او حدیث سره کار نشته – رجوع الی الحدیث مقلد کا وظیفہ نہیں۔ احسن الفتاوی)
نو تهٔ څنگه د تقلید د اثبات دپاره آیت او حدیث او عقلی دلیلونه او منطقی قاعدے پیش کوے، دا خو تهٔ د خپلو اصولو نه اُوتختیدے۔ دلته خو مجتهد شو او په نورو مسئلو کښې ځان جاهل گنړی۔ عجیب تناقض دے ؟! وبالله التوفیق۔
اُوګوره زمونږ کتاب تحفة المناظر یا تناقضات المقلدین)۔
﴿بَلْ نَتَّبِعُ﴾ اتباع هغه ته وائی چه په دلیل سره وی او تقلید هغه دے چه بے دلیله وی، نو پدے باندے سوال دے چه دلته خو اتباع استعمال ده او حال دا چه مشرکانو سره هیڅ دلیل نهٔ وو؟۔
جواب دا دے چه اتباع لغت کښې دوه قسمه راځی کله ممدوح وی، او کله مذموم وی که په نیکئ کښې تابعداری اُوکړے شی، نو دا ممدوح ده، او که په بدئ کښې اُوکړے شی نو مذموم ده، او دلته اتباع مذموم ده۔ او هرچه شرعی اتباع ده نو هغه په دلیل سره وی۔ د الله او د رسول او د ما انزل الله وی۔ او تقلید اصطلاحی تول مذموم دے۔
او کوم علماء چه په کښې ممدوح او مذموم جوړوی لکه حافظ ابن القیمؒ په اعلام الموقعین کښې دوه اقسام جوړ کړیدی نو د هغے مطلب دا دے چه د عالِم نه تپوس ته ئے تقلید وئیلے دے۔
حال دا چه هغے ته په شریعت کښې [مَعْرِفَةُ حُكْمِ اللهِ فِي الْمَسْئَلَةِ] او [سُؤَالُ اَهْلِ الذِّكْرِ فِي الْمَسْئَلَةِ] (یعنی د الله حکم په مسئله کښې معلومول یا د اهل الذکر نه په یوه مسئله کښې تپوس کول) وئیلے شی۔ دیته تقلید نهٔ وائی ځکه چه امی باندے واجب ده چه د الله او د رسول د حکم تپوس به د اَعلم (لوئی عالِم) نه کوی۔ او پدے باندے امر راغلے دے۔ او که دے ته څوك تقلید نوم ورکوی نو دا به د هغه اصطلاح وی او په اصطلاح کښې څه بخل نهٔ وی، خو معروف اصطلاحی تقلید هغه دے چه بے دلیله وی۔
او مونږ وایو چه مقلدینو له بیا پکار دی چه په خپله زمانه کښې د لوئی عالِم نه تپوس اُوکړی

نو آيا په امت کښې صرف يو عالِم په دين پو هه شو، او د هغه تقليد واجب شو، او په لکونو صحابه کرامؓ او علماء عظامؒ ټول شاته گوزار شو، دا کوم دين او کوم عقل دے ؟!۔
او دے تقسيم کښې نقصان دا پيدا کيږي چه د هر مقلد نه چه تپوس اُوکړے شي نو هغه خپل تقليد ممدوح گنړي، او حال دا چه غلط تقليد به کوي۔ نو پدے سره خلقو ته غلطه لاره کولاويږي۔ داسے کومه مسئله ده چه هغه الله او رسول نۀ وي بيان کړي، او امت ورته محتاج وي او صرف امامانو ايجاد کړي وي؟!۔
﴿ اَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ ﴾ همزه د استفهام دپاره ده، او مقصود پکښې توبيخ او زورنه ده، او لفظ د (يَتَّبِعُوْنَهُمْ) پټ دے او (لَوْ) وصليه دے۔ معنیٰ دا ده : آيا دوي د خپلو مشرانو تابعداري کوي اگرکه د دوي مشران بے عقله وو)۔ نو پدے کښې ابو حيانؒ وئيلي دي چه پدے کښې رد دے په تقليد د آباؤ باندے په هر حال کښې کله چه بے دليله وي، او پداسے حال کښې خو اتباع بالکل مناسب نۀ ده چه کله هغوي بے عقله هم وي۔
﴿ لَايَعْقِلُوْنَ﴾ د عقل نه مراد په حق باندے پو هه ده، او د لَايَهْتَدُوْنَ نه مراد د حق تابعداري کول او په حق باندے عمل کول دي۔ يعني دوي په حق نۀ پو هيدل او نۀ ئے پرے عمل کولو۔

وَمَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ بِمَا
او مثال د هغه کسانو چه کفرئے کړے په شان د هغه سړي دے چه آوازونه کوي هغه گډو بزو ته
لَايَسْمَعُ اِلَّا دُعَاءً وَّنِدَآءً صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَايَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷۱﴾
چه نۀ آوري مگر آواز او چغه۔ دوي کانړۀ دي، گونگيان دي، ړاندۀ دي۔نو دوي سوچ نۀ لري۔

تفسير : پدے آيت کښې د کافرانو مثال راوړي چه دوي لا يَعْقِلُوْن (بے عقله) او قليل الفهم (ناپو هه) دي۔ او مخکښې سره ئے **مناسبت** دا دے چه مشرانو پسے ځي او مَا اَنْزَلَ الله پريدي، او د حق داعي خبره نۀ اَوري۔
مطلب د آيت دا دے : ۱- پدے کښې الله تعالیٰ د کافرانو تشبيه د څاروو (ځناورو) سره ورکړے ده چه لکه څنگه شپونکے کله خپلو څاروو ته آواز ورکوي، نو هغه څاروي صرف آواز آوري، ليکن د هغے په معنیٰ هيڅ نۀ پو هيږي، بعينه دغه حال ددے کافرانو دے چه الله تعالیٰ دوي لره د حق او هدايت لارے ته رابلي، قرآن نازلوي، او د الله رسول ﷺ هغوي ته صفا صفا بيان کوي، ليکن هغوي د بد قسمتئ په وجه په هيڅ نۀ پو هيږي، هسے آواز به ئے په غوږونو لگي ليکن

په مقصد ئې نۀ پو هیږی چه دا څۀ مونږ ته وئیلے کیږی۔ دا کوم طرف ته روان یو او دا څۀ دعوت مونږ ته کیږی۔ څکه چه د صحیح عقل نه محروم دی، هغوی د حق اَوریدو نه کانړۀ شویدی، چاړاگان دی، د حق آواز جواب نۀ ورکوی، او ړانده دی چه زرگونه دلیلونه د هغوی مخے ته تیریږی لیکن هغے ته هیڅ توجه نۀ ورکوی۔ (محرر الوجیز، تیسیر الرحمن)۔

نو تقدیر د عبارتونو به داسے وی [مَثَلُ دَاعِي الَّذِيْنَ كَفَرُوْا] (مثال د دعوت کونکی کافرانو ته) یا [مَثَلُكَ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا] (اے نبی او اے داعی ستا مثال او ددے کافرانو مثال د شپونکی او گډو بزو دے) (نو دا دوه مثالونه شو) یا [مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حِيْنَ يُنَادَوْنَ كَمَثَلِ دَوَابِّ الَّذِيْ]

(یعنی د کافرانو مثال کله چه دوی ته الله طرف ته دعوت ورکولے شی په شان د گډو بیزو د هغۀ شپونکی دے) (بدائع التفسیر واعلام الموقعین ۱/۱۸۲)۔

او د ټولو حاصل مطلب همدغه یو دے۔

۲- دویم دا مثال د مشرکانو د خپلو باطلو آلهو نه د بلنے او مدد غوختلو دے، یعنی مشرکان چه خپلو آلهو ته آوازونه کوی، داسے مثال لری لکه یو سړے خپلو گډو بزو ته آواز کوی او گډے بزے اگرکه آواز او چغه اَوری، لیکن هغه پرے پو هیږی نۀ او هیڅ جواب او فائده نۀ ورکوی، نو دغه شان د دوی باطل معبودان هیڅ نۀ اَوری او دوی له فائده نۀ شی ورکولے۔ د دوی حاجات نشی پوره کولے، آواز ئې ضائع دے، هسے به ځان ستړے کړی لیکن کار به ئې اُونشی۔ دلته به تشبیه په ټولو امورو کښې نۀ وی بلکه تشبیه د مرکب ده د مرکب سره یا تشبیه په ضائع کیدو د آواز کښې ده۔ نو تقدیر د عبارت داسے دے : [مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ دَعْوَتِهِمُ الآلِهَةَ ...... یا فِيْ دَعْوَتِهِمْ غَيْرَ اللهِ] (د کافرانو مثال په رابللو د دوی کښې غیر الله لره داسے برباد دے لکه څنگه چه آواز د شپونکی گډو بیزو ته برباد دے) (اعلام الموقعین)۔ نو د داعی تشبیه ئې د ناعق (آواز کونکی) سره او د اصنام (بتانو) تشبیه ئې د منعوق (آواز کړے شوی) سره ورکړه۔ او هر کله چه دوی په خپلو حواسو فائده وانخستـه نو دا مشابه شو د هغه چا سره چه هغوی ړانده، کانړۀ او گونگیان وی۔

(المحرر الوجیز ۱/۱۸۵) لابن عطیة)

تشبیه د مفرد: او که تشبیه د مفرد د مفرد سره شی نو کافران په منزله د بهائمو او چارپیانو دی او کوم داعی چه دوی نیغے لارے او هدایت ته رابلی، هغه په شان د شپونکی دے چه گډو بزو ته آواز کوی او نیغے لارے ته ئې رابلی۔ (ابن عباسؓ، عکرمة، سدیؒ، سیبویۃ- المحرر الوجیز ۱/۱۸۵)،

او د داعی دوی لره هدایت ته رابلل په شان د هغه چغے او آواز دی چه گډو بزو ته کولے شی۔ او د کافرانو صرف رابلل او آواز باندے پو هیدل په شان د پو هیدو د چارپیانو دے چه صرف د آواز

کونکي آواز باندے پو هیږي، او د مقصد نه ئے خبر نهٔ وي۔

(اعلام الموقعین، والامثال فی القرآن لابن القیم والقاسمی ١/٤٣٣)۔

۳- دریم مطلب دا هم دے چه دا مثال د هغه چا دے چه تقلید د مشرانو کوي، او د هغوی د حقیقت نه خبر نهٔ وي، لکه چه څاروی د شپونکي د آواز په حقیقت نهٔ پو هیږي، نو دارنګه دا مقلدین د خپلو متبوعینو د حال او حقیقت نه خبر نهٔ دي چه آیا په هغوی کښې عقل، هدایت او علم وو او که نهٔ وو۔ نو تقدیر د عبارت به داسے وي :[وَمَثَلُ اسْتِدْلَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِآبَائِهِمْ كَمَثَلِ الَّذِيْ آه] یعنی مثال د دلیل نیولو د کافرانو په خپلو مشرانو، داسے دے لکه آواز د شپونکي خپل څاروو ته، نو دا هم عبث دے او هغه هم عبث دے، څاروی هم په حقیقت د آواز باندے نهٔ پو هیږي او دا کافران هم د خپلو مشرانو په حقیقت نهٔ پو هیږي۔

﴿ يَنْعِقُ ﴾ نعق د شپونکي آواز کول دي خپلو څاروو ته۔

﴿ بِمَا لَا يَسْمَعُ ﴾ د (مَا) نه مراد څاروي (ګډے بزے وغیره) دي۔

﴿ اِلَّادُعَاءً وَّنِدَاءً ﴾ دعاء نزدے آواز دے او نداء لرے آواز دے یعنی چغه۔

﴿ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ ﴾ یعنی دوی د داعي خبره څکه نهٔ مني چه الله ورله د علم ټول اسباب بند کړیدي د دوی د بدبختۍ او ضد او عناد د وجه نه ۔

﴿ فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴾ نو دوی په خپله بے عقلئ کښې د مشرانو پسے روان دي، د مشرانو په حال باندے سوچ نهٔ کوي چه هغوی څنګه تیر شویدي۔ یا دا چه اسباب د علم ترے واخستے شول نو عقل ترے لاړو ختم شو۔ او مشرك وي همداسے بے عقله، دماغو کښې ئے ګندونه او خوشیان پراتهٔ وي، عظیم خالق پریدي او کمزوري مخلوق ته آوازونه کوي۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَارَزَقْنٰكُمْ وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ
اے ایمان والو ! خورئ د پاك هغه مالونو نه چه مونږ درکړیدي تاسو ته، او شکر کوئ د الله تعالیٰ
اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۷۲﴾
که چرته تاسو خاص د هغهٔ بندګي کوئ۔

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ مؤمنانو ته خاص خطاب کوي پس د عام خطاب نه چه تاسو د کافرانو په شان مهٔ جوړیږئ چه د ځان نه حلال حرام جوړ کړئ، او د الله په خوراکونو باندے په شکر امر کوي او پدے کښې رد دے په هغه خلقو چه په طعامونو کښې فراخوالي او د دنیا د څیزونو نه د

مزو او خوندونو اخستلو ته حرام وائي نو الله فرمائي : دا حرام مهٔ گنړئ لکه مشرکانو چه حلال څيزونه په ځان حرام گنړلي دي. دارنگه هرکله چه الله تعالیٰ درله ډير او قسماقسم خوراکونه حلالوي نو تاسو ئې د ځان نه ولې حراموئ.

ربط او مناسبت :

(۱) دا خاص خطاب دے پس د عام خطاب نه. (۲) د مشرکينو د حال سره ئې مناسبت بالتضاد دے يعني هغوی ناشکره مشرکين شو نو تاسو شکرگذار عابدين جوړ شئ.

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ﴾.

طيبات : ۱- عمر بن عبد العزيزؒ فرمائي : ددے نه مراد طيب الکسب دے يعني هغه مالونه او خوراکونه خورئ چه تاسو په حلاله طريقه گټلي او پيدا کړي وي. او دا مطلب نهٔ دے چه مزيدار او اعلیٰ اعلیٰ خوراکونه کوئ. البته که اعلیٰ خوراکونه الله تعالیٰ درکوي بغير د تکلف نه نو د هغے خوړل هم بد نهٔ دي، لکه نبي ﷺ ته به چه اعلیٰ خوراك ملاويدو نو هغه به ئې استعمالولو او چه نهٔ به وو نو بيا به ئې د هغے پسے تکلفات نهٔ کول.

۲- يا طيبات په خپله معنیٰ دے يعني: نجس او گنده او ضرري خوراکونه مهٔ کوئ.

فتح البيان کښې دي چه بعض علماء وائي د طيبات نه مراد خوندور خوراکونه دي، ليکن نبوي طريقه کښې کمال دے لکه چه مخکښې تيره شوه.

﴿ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾

يعني که ستاسو د الله تعالیٰ عبادت خوښ وي او د هغے اراده لرئ، نو د الله تعالیٰ شکر کوئ، نو شکر بعينهٖ د الله تعالیٰ عبادت دے.لکه د روستو حديث نه معلوميږي.

او دلته اختيار ورکول مقصد نهٔ دے بلکه ترغيب مقصد دے چه د الله بندگي او شکر اُوکړئ. ستاسو پيدائش الله تعالیٰ د همدے مقصد دپاره کړے.

﴿ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ ﴾ : (۱) يعني اَلْحَمْدُ لله پرے اُووايه لکه حديث کښې دي : ((بنده چه روټئ اُوخوري يا اُوبه اُوڅکي او د الله حمد پرے اُووائي نو الله ترے رضا کيږي)) (صحيح مسلم رقم (۸۹).

(۲) ...... يا د طعام نه روستو عبادت اُوکړي په مانځه اُودريږي نو دا يو شکر شو.

(۳) ...... او د هغه احسان اُومنئ چه هغه درکړل.

نبي ﷺ فرمائي : ((الله تعالیٰ مؤمنانو ته په هغه څهٔ حکم کړے چه پيغمبرانو ته ئې پرے کړے، پيغمبرانو ته ئې وئيلي دي :﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا ﴾

(پاك خوراکونه کوئ او نيك عمل کوئ) او مؤمنانو ته ئې دلته فرمايلي دي : ((چه حلال

خوریٔ او شکر کویٔ))، نوشکر د الله بعینه نیك عمل دے۔ نو (وَاعْمَلُوْا صَالِحًا) د (وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ) تفسیر شو۔ د رزق مقابله کښې به نیك عمل کوے، هله به شکر گذار جوړیږے۔ داسے نهٔ چه د الله قسم قسم نعمتونه او خوراکونه او مزے حاصلے کړے او مونځ هم نهٔ کوے۔ او ډیر خلق په رزقونو کښې ناشکری کوی۔ ځوك چه د الله نه په لږ رزق رضا شو، الله ترے په لږ عمل رضا کیږی، او که ځوك په ډیر رزق نهٔ رضا کیږی نو الله ترے په ډیر عمل نهٔ رضا کیږی۔ او ناشکری د رزق دا ده چه تهی وی ته ناست وی او خوراك کوی، په حرامو ئے لګوی۔ نسبت ئے خپل ځان یا باباګانو ته کوی۔ د الله تعالیٰ نه غفلت کوی او عبادت ئے نهٔ کوی۔

فائده : حلاله روزی د دعا او د عبادت د قبلیدو سبب دے او حرام خوری سره دعا او عبادت رد کیږی لکه د ابو هریره ﷺ نه مرفوعاً روایت دے چه ((یو سړے به اُوږد سفر کوی، پراګنده ویختو والا به وی، پریشان حال به وی او خپل دواړه لاسونه به ئے آسمان طرف ته پورته کړی وی، یا رب یارب آوازونه به کوی حال دا چه ددهٔ خوراك به حرام وی، ځکاك به ئے حرام وی، لباس به ئے حرام وی او د حرامو په ذریعه به ددهٔ پرورش شوے وی نو ددهٔ دعا به څنګه قبوله شی ؟))۔ (صحیح مسلم)

ځکه ئے دلته د حلال خوړلو نه روستو د شکر کولو حکم اُوکړو چه د دواړو مناسبت دے۔

○ ځوك چه حلال خوری، ددهٔ نه به د الله طاعت او عبادت کیږی که دا ئے غواړی او که نهٔ۔ او ځوك چه حرام خوری، ددهٔ نه به د الله عصیان او نافرمانی کیږی که دا ئے غواړی او که نهٔ۔ (سَهل التُسْتُرِی) او دا ډیر عجیبه راز دے۔

اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ
یقیناً الله حرامه کړیده په تاسو باندے مرداره او وینه (بیولے شوے) او غوښه د خنزیر
وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ فَمَنِ اضْطُرَّ
او هغهٔ څیز چه آواز اُوکړے شی په هغے باندے دپاره (د نزدیے والی) د غیر الله۔ نو ځوك چه محتاج شو
غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۷۳﴾
چه نهٔ دے طلبګار د خوند او نهٔ دے زیاتے کونکے، نو نشته ګناه په دهٔ، یقیناً الله بخونکے مهربان دے۔

تفسیر: ددے ځائے نه اُوس (محرماتِ اِلٰهیه) یعنی د الله حرام کړے شوی څیزونه بیانوی چه دا په تاسو حرام دی (دے ته به حرام وایئ) او باقی څیزونه چه دین کښې نهٔ دی حرام شوی هغه حلال دی۔

مناسبت: ○ مخکښې آیت کښې تحریم د ما احل الله باندې رد اُوشو (چه حلال څیزونه په ځان مۀ حراموئ) نو اُوس رد کوی په تحلیل د ما حرم الله۔ (یعنی حلال ګنړل د هغه څه چه الله حرام کړیدی)۔ ○ مخکښې ئې اُووئیل چه پاك خوراکونه کوئ اُوس ضرورت راغلو چه خبیث او حرام خوراکونه بیان کړی۔ (قاسمیؒ)۔

بیا ئې دا څلور محرمات خاص ذکر کړل اګرکه احادیثو کښې نور محرمات هم ذکر دی لکه سپے، شرمخ، زمریے، پیشو، ګیدړ، چندخ وغیره نور خوراکونه (۱) لیکن ددے تخصیص ئې پدے وجه اُوکړو چه دا به مشرکانو حلال ګنړل نو الله تعالیٰ ورته اُوفرمایل: د ځان نه تحلیل او تحریم مۀ کوئ او د الله تعالیٰ حرام شوی څیزونه بعض دا څلور دی۔ نو دا حصر اضافی دے۔ یعنی ستاسو د حرامو په نسبت دا څیزونه حرام دی۔ او بحیره، سائبه، وصیله او حام او د باباګانو په نوم باندے حرام شوی څیزونه په اصل کښې حرام نۀ دی۔ نو د ځان نه ئې ولے حراموئ۔

(۲) دارنګه دا څلور په ټولو آسمانی دینونو کښې حرام وو، نو پدے کښې په یهود، نصاریٰ او مشرکانو باندے رد دے چه دا خو اتفاقی حرام دی او تاسو ددے مخالفت کوئ۔ نو دلته حصر (راګیرول) د ټولو محرماتو مقصد نۀ دے۔

﴿ اَلْمَيْتَةَ ﴾ هغه حیوان دے چه په خپل مرګ مړ شی، او وینه ترے په ذبح سره اُونۀ وځی۔ چه ددے بعض اقسام په ابتداء د سورة المائده (۳) آیت کښې ذکر دی۔

دا دلیل دے چه د مردار حیوان نه هر قسمه فائده د خوراك وغیره اخستل حرام دی سِویٰ د هغے نه چه په احادیثو کښې د هغے تخصیص شوے دے لکه ماهیان (او د سمندر مرداره) او ملخان، جائز دی۔ (موطأ، مسند، سنن)

یا وینښته د مردارے او وړیٔ او هډوکی او څرمن د هغے کله چه رنګ کړے شی۔ نو ددے نه (د خوراك نه علاوه) فائده اخستل جواز لری۔ نبی ﷺ یوه چیلئ اُولیدۀ چه مرداره پرته وه وے فرمایل: تاسو ددے د څرمنے نه ولے فائده نۀ اخستله ؟ خلقو اُووئیل: دا خو مرداره ده۔ وے فرمایل: ددے خو صرف خوراك حرام دے۔

د ﴿ الدَّمَ ﴾ نه مراد (اَلدَّمُ الْمَسْفُوْح) بهیدونکے وینه ده۔ چه هغه د رګونو وینه ده۔ او کومه وینه چه د ذبح نه روستو په غوښه کښې وی، یا په وازدۀ یا هډوکو پورے لګیدلے وی نو هغه پاکه ده۔ د صحابه کرامؓ په زمانه کښې استعمال شویده۔ او حدیث کښې د دوه قسمه نورو وینو استثناء هم راغلے ده چه هغه ګیډ (جګر، اینه) او طحال (تورے)۔ (ترمذی بسند صحیح)۔

وینه د هر قسم استعمال دپاره نا روا ده، چرګانو له ورکول هم حرام، او دا چائے کښې اچول، یا ددے

نه پالش جوړول دا تول حرام دی۔ حدیث کښې دی :

[إِنَّ اللّٰهَ إِذَا حَرَّمَ شَيْئًا حَرَّمَ ثَمَنَهُ] ...... (مسند احمد : ۲٦۷۸ والدارقطنی وغیرهما بسند صحیح)

(الله چه کله یو شے حرام کړی نو د هغے پیسے هم حرامے کړی)۔

﴿وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ﴾ غوښه ئے ذکر کړه ځکه چه دا ډیر استعمالیږی او دا مقصود اصلی دے او مراد ترے نه تول بدن دے۔ امام قرطبیؒ لیکی: دا تول بدن ته شامل دے سِوئ د ویښتو نه چه دا د ګنډلو دپاره استعمالول جائز دی۔ خنزیر کښې الله ډیر بد صفات اچولی دی نو کله چه ددهٔ غوښه وغیره استعمال کړے شی، په انسان کښې هغه بد صفات راځی نو ځکه شریعت ددهٔ هرڅه حرام کړیدی او دا ئے نجس العین ګرځولے دے۔ خنزیر بے حیاء دے، بے غیرته دے۔ پدے وجه یهود او نصارئ دا کوشش کوی چه ددهٔ غوښه او تول بدن په مختلفو څیزونو کښې استعمال کړی او په مسلمانانو باندے ئے اُوخوروی، په هوټلونو کښې ئے ذبح کوی او زمونږ ډیر جاهلان مسلمانان په هغه هوټلونو کښې کارونه کوی، او دوی د مسلمانانو دے حیاء او بے غیرته کولو دپاره دا او اَلګحُل په صابونونو، شرابونو، شربتونو، شیمپوګانو، غوړو، عطرونو، سپرے ګانو او هر قسم موادو کښې استعمالوی۔نو مؤمن به ددے څیزونو په استعمال کښې ډیر احتیاط کوی۔ دے تولو څیزونو کښې ضرر دے ځکه شریعت حرام کړل۔

﴿وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ﴾ پدے کښې یو څو تفسیرونه او مصداقونه دی :

(۱) **تفسیر**: (مَا) هغه حیوان (أُهِلَّ) چه آواز اُوکړے شی په هغے دپاره د نذر او نزدیکت د غیر الله (یعنی بابا وغیره)۔یا دَ هغه د رضا کولو او د هغه د خوشحالولو په نیت چه دا حیوان د بابا دپاره نذر شو، نوکه پدے باندے د ذبح په وخت د الله تعالیٰ نوم هم واخستے شی، هم حرامه ده۔ لکه څنګه چه په خنزیر او سپی باندے په وخت د ذبح کښې تکبیر وئیلو سره حلت نهٔ شی راتلے، او په مرداره باندے د الله په نوم اخستو سره هیڅ نفع نهٔ حاصلیږی۔ نو دغه شان د غیر الله په نوم نذر او د هغه په نوم نامزد (مقرر) کولو سره هغه حرام شو نو په وخت د ذبح کښې د الله په نوم اخستو سره هرګز نفع او حلت نهٔ شی راتلے۔

۲- **تفسیر** : یا ((أُهِلَّ)) په معنیٰ د (ذُبِحَ) دے۔یعنی د غیر الله په نوم ذبح کړے شی۔نو دا حیوان حرام دے۔یعنی د ذبح په وخت د غیر الله نوم واخلی۔

او ددے د حلال والی طریقه دا ده چه دا ناذر (نذر کونکے) د حیوان د ذبح کولو نه مخکښې الله تعالیٰ ته توبه اُوباسی، او د خپل نیت نه رجوع اُوکړی نو ددے په حلالوالے کښې بیا هیڅ شبهه نشته۔ بیرته به حلال شی ځکه ددهٔ د خبیث نیت او دآواز په وجه په حیوان کښې خباثت راشی

لکه د مرتد او مشرك ذبيحه شريعت ناروا كړيده ځکه چه د هغه خبيثه عقيده په مذبوح حيوان او منذور شي کښې اثر کوي۔ (الدين الخالص ۲/۴۳) د صديق حسن خان)۔

ددے خلورو خيزونو د حراموالی حکمتونه

ددے څيزونو د حراموالی حکمتونه او رازونه دا دی (۱) ميته خو ځکه حرامه شوه چه پدے کښې گنده وينه جمع شويده، او د الله تعالیٰ د نوم په نۀ اخستو سره هغے کښې گندگی پيدا شوے ده نو د الله محبت د هغے نه ختم شو، نو ددے په خوراك سره نفسونو کښې خباثت پيدا کيږی، او د الله د محبت نه کټ کيږی او د مردارے په خوړلو سره زړۀ مړ کيږی۔ او د ماهی ميته (مرداره) جائز شوه ځکه چه اُوبه پاك شے دے، نجاست پکښې نشته، که د اُوبو په وجه ترے روح اُوځی نو دا پکښې خباثت نۀ راپيدا کوی۔

(۲) او بهيدلے وينه ځکه حرامه ده چه دا د شهوانی او غَضَبی قوتونو مَجْمَع ده او کله چه دا زياته شی، نو پدے قوتونو کښې طغيان او سرکشی پيدا کوی او دارنگه دا ځائے د روانيدو د شيطان دے۔ (ابن تيمية)۔ دارنگه د انسان نه د وينے په خوړلو سره قاتل جوړيږی۔

(۳) او د خنزير غوښه ځکه حرامه ده چه دا خو يو نفس ته ضرر ورکوی لکه څنگه چه مخکښې څيزونه ضرر ورکوی۔ ځکه چه په کوم شی کښې چه کوم خوئی او صفت وی د هغه د غوښے د خوړلو په وجه په روح باندے اثر کيږی۔ او جديد طبيبانو پدے زمانه کښې د خنزير د غوښے ډير مُضرات خودلی دی لکه پدے سره په خيټه کښې يو چينجے پيدا کيږی چه د هغے په سبب په کولمو کښې ډير مرضونه پيدا کيږی لکه پيچش، دستونه، قیء، او خوراك ته خواهش نۀ کيدل، سردرد، بيهوشی، سرگردانی، فکری پريشانی، کله نا کله غوټه او مرگی، تشنج او د اعصابو راغونډيدل، بدن سُستيدل، هضم نۀ راتلل او سترے ستومانه کيدل او دغه شان نور امراض۔

او مَا اُهِلَّ کښې ددے څيزونو او حيواناتو په ذات کښې د حرمت هيڅ وجه نشته، صرف پدے وجه حرام شو چه ددے نسبت غير الله ته اُوشو، مرکز د توجه بدل شو، ضمير (زړۀ) خالص پاتے نۀ شو، روح پاك پاتے نۀ شو، زړۀ د الله دپاره سالِم پاتے نۀ شو او عقيده او نظريه پاکه پاتے نشوه نو د روحانی سبب په وجه ددے څيزونو استعمال حرام کړے شو او د مادی څيزونو په شان نجس حساب کړے شو او اسلام د ظاهری بدن د پاکئ په نسبت د روح د پاکئ زيات لحاظ ساتی۔ نو د ناذر غلط نيت په حيوان کښې تاثير اُوکړو چه د هغے اثر بيا په خورونکی کښې هم پيدا کيږی۔

(محاسن التاويل للقاسمی ۱/۴۳۷ بتغيروزيادة)

مسئله : اُوس دلته دا مسئله واوره چه ابن باز رحمه الله د فتح المجيد په تعليق ص (١٢٦) کښې ليکلې دی چه چا يوګډ يا يو شے د غير الله دپاره نذر کړو نو که مشرك ذبح کړو، حرام دے او که يو مسلمان ذبح کړو، بسم الله ئے پرے اُووئيله. نو خوراك ئے جائز دے. او که د حيوان نه علاوه بل يو نذری شے وو، نو اګرکه مشرك د بابا په نوم نذر کړے وی خو مؤحد دپاره د هغے خوراك جائز دے. هغه ته شبهه ددے نه پيدا شويده چه په لات بت کښې سرۀ زر پراته وو، هغه راوړے شو او رسول الله ﷺ عروه بن مسعود ثقفیؓ له ورکړل چه تۀ پرے قرض خلاص کړه. نو که دا حرام وے، رسول الله ﷺ به دغه صحابی له نۀ ورکولے.

جواب : دغه حيوان او دغه نذری شے حرام دے ځکه چه غلطه عقيده د ناذر پدے حيوان وغيره کښې اثر کوی. ١- لکه دا آيت پرے دليل دے. نو په نذر د غير الله کښې نيت لره اعتبار دے، برابره ده که د غير الله نوم ئے پرے ذکر کړے وی او که نۀ.

نو چا چه مثلًا يوه غوا د يو مړی دپاره نذر کړه نو دا په مجرد (صرف) نذر سره مشرك شو، برابره ده که دے د ذبح په وخت د الله نوم اخلی او که د دغه مړی نوم يادوی، ځکه عبرت ددۀ نيت لره دے، او ددے ناذر (نذرکونکی) نيت ددے مړی نه خپل مشکلات دفع کول او فائدے حاصلول وی. ٢- دويمه وجه دا ده چه دا خو په منکر باندے تعاون دے او د مشرك په خپل شرك باندے ثابت پريخودل دی چه مونږ به مشرکانو ته وايو چه تاسو نذر د غير الله کوئ مونږ به ئے درله خورو. او کله چه پابندی اُولګولے شی چه مسلمان به دا قسم نذر نۀ خوری نو څوك به دا نۀ کوی. ٣- او د عائشے رضی الله عنها نه تپوس اُوشو په باره د هغه څاروو کښې چه عجميان (مشرکان) ئے په خپلو اخترونو کښې ذبح کوی أو مسلمانانو ته ئے هديه کوی؟ نو هغے اُوفرمايل : هغه څاروے چه په دغه ورځ ذبح کړے شی د هغے نه خوراك مۀ کوئ. (ځکه دا د غير الله د تقرب (نزديکت) دپاره وی، ددے ورځے د تعظيم دپاره ئے ذبح کوی اګرکه د غير الله نوم پرے نۀ وی خستے شوے). تفسير القرطبي وفتاوى الدين الخالص (٤/١٧)

٤- د حسن بصریؒ نه تپوس اُوکړے شو چه يوه زنانه (جينۍ په لوبو کښې) د خپلو ګوډو وادۀ جوړ کړی او په هغے کښې اُوښه حلاله کړی ؟ نو هغه په جواب کښې اُووئيل : دا به نۀ خوړلے کيږی ځکه دا د صَنَم (بت) دپاره ذبح کړے شوه (اګرکه د بت نوم ئے پرے نۀ وی اخستے).

(تفسير احسن الکلام ١/٥٦٦)

هر چه د عروه بن مسعودؓ حديث دے نو هغه د غنيمت د باب سره متعلق دے او په غنيمت کښې قانون دا دے چه دا که کافرو په هره طريقه پيدا کړے وی، اګرکه سود ئے کړے وی، يا ورسره

امانت پروت وی خو چه کله تربے مسلمان اُونیولو نو مسلمان له حلال طیب دے۔ لکه نبی ﷺ به بتانو پسے صحابه کرامؓ لیږل او د هغے خزانه به ئے کتله چه سرهٔ زر (مال) به پکښ راوختل نو هغه به ئے غنیمت حسابولو۔ خالد بن ولیدؓ ئے د لات د ختمولو دپاره اُولیږلو نو هغه د هغے خزانه اُوکتله او د هغے نه ئے لباس او گانړهٔ راویستله او خالد د خپلو ملگرو سره رسول الله ﷺ ته هغه راوړل او رسول الله ﷺ په همدغه ورځ تقسیم کړل، او د الله حمد ئے اُووئیلو چه خپل نبی سره ئے مدد اُوکړو او خپل دین ته ئے عزت ورکړو۔ (الرحیق المختوم ص : ٤٤٩)

صدیق حسن خان په الدین الخالص (۴۳/۲) کښ لیکی : که یو مسلمان څاروے ذبح کړی او د هغه په ذبح کولو سره د غیر الله د تقرب قصد اُوکړی نو دا شخص مرتد شو او ذبیحه ددهٔ ذبیحه د مرتد ده۔

او جهود علماء الحنفیة (۱۵٦۲/۳) کښ علامه شمس الدین السلفیؒ د حنفی علماؤ د کتابونو نه پدے مسئله ډیرے حوالے جمع کړیدی چه هغوی هم دا وئیلی دی چه دا قسم نذر او ذبیحه حرامه ده، صرف ملاجیون تفسیراتِ احمدیه کښ لیکلی دی : چه هغه غوا چه د غیر الله دپاره نذر شی کله چه په هغے باندے د الله نوم واخستے شی نو حلاله ده۔ لیکن خبره ئے غلطه ده۔

حاصل دا چه ددے آیت د لاندے هغه حیوانات هم راځی چه جاهل مسلمانان ئے د وفات شوی بزرگانو د عقیدت او محبت، د هغوی د خوشحالولو او هغوی ته د تقرب (نزدیکت) حاصلولو دپاره یا د هغوی نه د یرے یا امید ساتلو په نیت د قبرونو او درگاهونو په خواکښ ذبح کوی، یا ئے منجاورانو ته د باباگانو په نوم نذر ونیاز راوړی، لکه په ډیرو بزرگانو او قبرونو باندے ئے بوردونه لگولی وی چه (د داتا صاحب (علی هجویری) د نیاز او نذر دپاره چیلئ دلته جمع کړئ) نو دا څاروی اگرکه د ذبح په وخت د الله نوم پرے واخستے شی، او مسلمان ئے هم ذبح کړی او بسم الله اُووائی بیا هم حرام دی ،ځکه چه ددے نه مقصود، د الله رضا نهٔ ده بلکه د قبرونو والا رضا او د غیر الله تعظیم یا د غیر الله نه (مافوق الاسباب طریقے سره) خوف (یره) او امید دے، او دا شرك دے، او پدے طریقه د حیواناتو نه علاوه چه د کومو څیزونو د غیر الله په نوم نذر ونیاز او منخته اُوکړے شی نو دا به هم حرام وی لکه قبرونو خوا ته وړلو سره یا هلته نه اخستو سره د قبرونو په خواؤ شا کښ غریبانو او مسکینانو باندے دیگونه او لنگرونه یا میټهائیانے او پیسے وغیره تقسیمول یا هلته په صندوقچه کښ د نذر او منختے پیسے اچول، یا د عرس په موقعه باندے هلته پیئ وړل او تقسیمول دا ټول حرام او ناجائز دی ځکه دا ټول د غیر الله دپاره د نذر او منختے صورتونه دی، او نذر هم د مانځه او د روژے وغیره په شان عبادت دے او هر قسم عبادت صرف د یو الله پورے خاص دے۔ حدیث کښ دی :[مَلْعُوْنٌ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ] (صحیح الجامع ٢/ ١٠٢٤)

(چا چه د غیر الله په نوم څاروے ذبح کړو نو هغه باندے لعنت شویدے)۔
او رسول الله ﷺ د غیر الله په نوم باندے د ذبح کولو نه سخته منع فرمائیلے ده۔ یو یے زنانه اُوفرمایل : ما نذر کړے چه زهٔ په بُوانه علاقه کښې اُوښان حلال کړم۔
رسول الله ﷺ اُوفرمایل : آیا هلته د جاهلیت څه اختر کیدو، هغے اُووئیل : نهٔ۔ وے فرمایل : آیا په هغے کښې د جاهلیت څهٔ وثن (بت) وو چه عبادت ئے کیدے شو؟۔ وے وئیل : نهٔ۔ نو بیا ئے ورته د حلالے اجازت ورکړو۔
۳- **تفسیر** : (مَا) عام دے حیوان، تیل، باتئ، شمعے، غلافونه، مالگه، جنډے، جرندے، قرآنونه، مسجدونه، اُوبه، وریژے، او غوښه چه د غیر الله د تقرب دپاره نذر کړے شي نو دا حرام دي۔
٤- مَا لفظ عبارت دے د کلمے نه یعنی هغه خبره چه د غیر الله د تقرب دپاره اُوشي، آواز پرے اُوچت کړے شي او د غیر الله تعظیم پکښې راځی نو دا هم حرامه ده لکه اُووئیلے شي فلانے بابا په هوا آلوتو او په ترخ کښې به ئے سر نیولو او داسے مرے وو، خلقو سره به ئے مددونه کول۔ نو دا خبرے هم د کفر دي۔ د امعنیٰ زمونږ بعض مشائخو ته منسوب ده۔ لیکن د آیت دا معنیٰ نهٔ ده څکه دلته خوراکی څیزونه مراد دي۔
فائده : دا آیت په قرآن کریم کښې څلور ځائے راغلے دے۔ سورة مائده (۳) او سورة انعام (۱۴۵) او سورة نحل (۱۱۵) آیت کښې۔ دلته ئے (بِهٖ) په (لِغَیْرِ اللهِ) باندے مقدم کړے څکه چه دلته د ترتیب اصلی لحاظ دے څکه چه (بِهٖ) د اُهِلَّ پورے متعلق دے او په روستو سورتونو کښې لِغَیْرِ الله لفظ مقدم دے څکه هلته لحاظ د مقصد شویدے چه هغه غیر الله دے۔ چه ددهٔ ذبیحه دومره مقصدی نهٔ ده چه هغه چا اُوخوړله او که نهٔ خو تقرب غیر الله ته مقصد وو چه هغه حرام کار دے۔
فائده : امام بخاریؒ د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه څهٔ خلقو د نبی کریم ﷺ نه پوښتنه اُوکړه چه بعض خلق مونږ ته غوښه راکوی او مونږ ته پته نهٔ وی چه حیوان په بسم الله وئیلو سره ذبح کړے شویدے او که نهٔ ؟ نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه تاسو بسم الله وئیلو سره هغه خورئ۔ عائشه رضی الله عنها وائی چه هغه خلق نوی نوی مسلمانان شوی وو۔
معلومه شوه چه هغه غوښه حرامه نهٔ ده چه د هغے په باره کښې معلومه نهٔ وی چه دا به په بسم الله وئیلو سره ذبح کړے شوی وی او که نهٔ، بلکه حرامه هغه ده چه د هغے په باره کښې معلومه وی چه پدے باندے د غیر الله نوم اخستے شویدے۔ او د علی ﷛ نه روایت دے چه هغه اُوفرمایل : که یهود او نصاریٰ د غیر الله نوم اخستو سره ذبح اُوکړی، نو مهٔ ئے خورئ او که داسے وانهٔ ورئ، نو خورئ څکه الله د هغوی د ذبح کړی حیواناتو غوښے حلالے کړیدی او الله ښه

پو هیړی چه دا خلق د ذبح په وخت کښی څهٔ وائی۔ (تیسیر الرحمن)

فائده : په کتاب الزهد کښی امام احمدؒ د طارق بن شهابؓ نه هغه د سلمانؓ نه نقل کړی : یو سړے د مچ په باره کښی جنت ته داخل شو او بل سړے اُور ته د مچ په باره کښی داخل شو خلقو اُووئیل دا څنګه ؟ وے فرمایل : دوه سړی په یو قوم تیریدل چه هغوی د خپل یو بت منجاوری کوله او دا ئے وئیلی وو چه نن ورځ به په مونږ څوك نهٔ تیریږی مګر (ددے بت په نوم به) څه ورانده کوی نو یو سړی ته ئے اُووئیل، څهٔ واچوه، هغه انکار اُوکړو وے وئیل چه زهٔ د الله نه سِویٰ هیچا ته هیڅ شے (په نذر کښی) نهٔ ورانده کوم، نو خلقو هغه قتل کړو او بل ته ئے اُووئیل : څهٔ ورانده کړه، که نور هیڅ نهٔ وی یو مچ خو ورانده کړه، نو هغه اُووئیل : مچ خو معمولی خبره ده، نو هغه (د بت په نوم) مچ ورانده کړو نو (پس د مرګ نه) اُور ته داخل شو۔

(ابن ابی شیبه (۶/۴۷۳ ح ۳۳۰۳۸) الزهد لاحمد ص (۱۶)

بیا ددے باقی څیزونو نه استثناء ات شته لیکن د (مَا اُهِلَّ) خباثت دومره زیات دے چه ددے نه هیڅ شے مستثنیٰ نهٔ دے۔ چه بعض جائز وی او بعض نهٔ۔ سِویٰ د حالت د اضطرار نه۔نو دا ترقی ده د ادنیٰ نهٔ اعلیٰ ته، د میتے نه دوه مردارے، او د وینے نه دوه وینے مستثنیٰ دی۔ لکه مخکښی تیر شو۔

نو اُوس **سوال** پیدا شو چه آیا هیڅ وخت کښی به ددے محرماتو خوړل جائز نهٔ وی؟ نو اُوس ددے محرماتو نه استثناء بیانوی چه د مجبورتیا په حالت کښی ئے خوړل جائز دی، دا د الله تعالیٰ احسان دے چه حرام څیزونه ئے هم درله په سخته مجبورتیا کښی حلال کړل، نو ولے ناشکری کوئ :

﴿ فَمَنِ اضْطُرَّ ﴾ اضطرار (مجبورتیا) په دوه قسمه ده (۱) یو دا چه یو ظالم په مسلمان باندے اِکراه (زور) اُوکړی چه وژنم دے دا حرام به خورے، او د هغه ظالم نه خلاصے نهٔ وی (هسے ګواخ او دهمکی به نهٔ وی) نو په دے وخت کښی تا له الله تعالیٰ اجازت درکړو چه دا څیزونه استعمال کړه او ځان پرے مهٔ وژنه۔ (۲) دویم : سخته لوږه دربانده راغله، دا په انسان باندے اکثرد سفر په حالت کښی راځی۔ لکه سورة المائده (۳) کښی دی : ﴿ فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ ﴾ نو په دے وخت کښی هم ددے خوړل جائز شو۔

او ددے نه دا شرعی قاعده مستنبطه ده چه [اَلضَّرُوْرَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ] (ضرورت او مجبورتیا حرام څیز هم جائز کوی)۔

مسروق رحمه الله فرمائی :که چا په اضطراری حالت کښی څهٔ حرام شے اُونهٔ خوړلو او خپل ځان ئے بچ نکړو او مړ شو نو هغه به جهنم ته داخلیږی۔ ابو الحسن الکیا الهراسیؒ (صاحب د احکام

القرآن) وائي چه زمونږ په نيز دا خبره صحيح ده لکه څنګه چه په مريض باندے ډير کرته افطار (روژه ماتول) واجبيږي۔ (تيسير الرحمن)۔

﴿غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ﴾ ددے فرقونه دا دي : (۱) غَيْرَ بَاغٍ : اَىْ بِأَنْ يَّأْكُلَهٗ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ اَىْ بَغٰى فِىْ اَكْلِهٖ وَلَا عَادٍ: اَىْ وَلَا يَعْدُوْ لِشَبْعِهٖ. (حسن، قتاده، ربيع، مجاهد و ابن زيد–اللباب)

(يعني زياتے کونکے نهٔ وي پداسے طريقه چه بے ضرورته ئے اُوخوري، مضطر نهٔ وي يعني د هغے د خوراك متعلق زياتے اُوکړي، او عادي (زياتے کونکے) نهٔ وي يعني چه د موړوالي نه زياتے اُوکړي)۔

(۲) اَىْ غَيْرَ طَالِبٍ لِلَّذَّةِ ...... (د خوند طلبګار به نهٔ وي) يعني چه هسے د خوند دپاره ئے خوري۔

عاد : د عدوان نه دے په معنیٰ د زياتي سره يعني (آكِلًا كَثِيْرًا) (ډير خوړونکے به نهٔ وي) چه د حاجت نه زيات ئے اُوخوري۔ بلکه د ضرورت مطابق به ئے استعمالوي۔ (سدیؔ- طبریؔ)

دا دواړه قريب قريب دي۔ او ددے نه دا شرعي قاعده راوځي چه [مَا اُبِيْحَ لِلضَّرُوْرَةِ فَيُقَدَّرُ بِقَدَرِهَا] کوم شے چه د ضرورت د وجه نه مباح شوے وي نو هغه به د ضرورت په اندازه استعمالولے شي)۔

(۳) باغ : زياتے کونکے نهٔ وي په خپل ملګري (چه هغه له ئے نهٔ ورکوي او خپله ئے خوري يا د هغه نه ئے راوتختوي او هغه هلاك شي) ولا عاد : نهٔ ځان سره وړونکے وي (کلي ته) د ضرورت نه زياتي چه بيا ئے کور کښې پخوي۔

(٤) باغ : د مسلمانانو د جماعت نه به جداکيدونکے نهٔ وي (چه هغوي سره مقابله کښې راوتے وي) ولا عاد : نهٔ وي مبتدع، مخالف د سنت۔ (سهل بن عبد الله تستري)۔

يعني دا اجازت صرف سُني مسلمانانو ته دے، نهٔ مبتدعين او د سنت مخالفينو ته۔

(٥) باغ : يعني تجاوز کونکے نهٔ وي د مقدار د حلال نه۔ (يعني ډيره به نهٔ خوري چه ځان پرے بنهٔ موړ کړي) او عاد : نهٔ وي قصور کونکے په هغه اندازه کښې چه دهٔ لره حلال وي يعني چه بالکل ئے پريدي تر دے چه هلاك شي۔ (اللباب للدمشقي، والبغوي)۔

(٦) باغ : يعني نهٔ وي حلال ګنړونکے مطلقاً او (عاد) : نهٔ وي ځان سره توخه وړونکے۔

(مقاتل بن حيان- بغوي)

(۷) ...... غَيْرَ بَاغٍ اَىْ غَيْرَ طَالِبِهَا وَهُوَ يَجِدُ غَيْرَهَا وَلَا عَادٍ اَىْ غَيْرَ مُتَعَدٍّ مَا حُدَّ لَهٗ فَمَا يَأْكُلُ حَتّٰى يَشْبَعَ وَلٰكِنْ يَأْكُلُ مِنْهَا قُوْتًا مِقْدَارَ مَا يُمْسِكُ رَمَقَهٗ ...... (بغویؔ)

يعني نهٔ وي طلب کونکے کله چه ددے نه سویٰ بل څه مونده کوي۔ ولا عاد : او د حد نه زياتے نهٔ کوي چه ډير پرے ځان موړ کړي بلکه دومره اندازه به ئے خوري چه روح ئے پرے بچ شي)۔

(۸) ...... باغ : اَىْ غَيْرَ خَارِجٍ عَلَى السُّلْطَانِ وَلَا عَادٍ : مُعْتَدٍ عَاصٍ بِسَفَرِهٖ، بِاَنْ خَرَجَ لِقَطْعِ الطَّرِيْقِ وَالْفَسَادِ

فِي الْاَرْضِ (ابن عباس، مجاهد، سعيد بن جبير - اللباب، بغوی)

يعنې نهٔ وی خروج کونکے په بادشاه (امير المؤمنين) يعنې د بادشاه نه ئے بغاوت نهٔ وی کړے۔ ولا عاد: يعنې تجاوز کونکے نهٔ وی په سفر سره يعنې گناهگار نهٔ وی چه د لارے شوکولو دپاره يا فساد کولو دپاره راوتلے وی)۔ امام شافعیؒ فرمائی: ځکه که دهٔ ته اجازت ورکړے شی نو دا د هغه سره په گناه باندے تعاون کول دی۔ (بغوی)

﴿فَلَا اِثْمَ عَلَيْهِ﴾ اَیْ فِی التَّنَاوُلِ مِنْهَا: يعنې گناه او تنگسيا نشته په دهٔ په استعمالولو ددے محرماتو کښې په حالت د اضطرار کښې۔

﴿اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ دا ئے وريسے راوړو اشاره ده که د يو انسان نه د ډيرے لوږے د وجه نه بے اختياره او بے ارادے زيات خوراك اُوشو نو الله به ئے معاف کړی۔ ځکه هغه غفور رحيم دے۔ او رحيم کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ په خپلو بندگانو ډير رحم کونکے دے ځکه ورله رخصتونه ورکوی۔

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا
يقيناً هغهٔ خلق چه پټوی هغهٔ چه نازل کړيدے الله تعالیٰ د کتاب نه، او اخلی په هغے عوض لږ (يعنې دنيا)
اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
دا کسان نهٔ اچوی په خپلو خيټو کښې مگر اُور، او خبرے به نهٔ کوی دوی سره الله تعالیٰ په ورځ د قيامت،
وَلَا يُزَكِّيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٤﴾
او نهٔ به پاکوی دوی لره او د دوی دپاره عذاب دردناك دے۔

تفسير: د حلال او حرامو تفصيل ئے اُوکړو اُوس بيا دوباره کاتمينو د حق ته د آخرت يره او رټنه ورکوی چه يهودو ته دا مسئلے معلومے وے، د رسول الله ﷺ صفات او د هغه د رسالت نخے وغيره ورته ښه واضحه معلومے وے ليکن بيا به ئے هم پټولے او که رسول الله ﷺ به ښکاره کولے نو دوی به پرے اعتراضات کول، دے دپاره چه عربو باندے د دوی برتری باقی پاتے وی، او کومے هديے او تحفے چه د هغوی د طرف نه دوی ته ملاوېږی د هغے سلسله جاری پاتے شی نو الله فرمائی: چه دا خلق په حقيقت کښې (ددے معمولی هديو په بدله کښې) په خپلو خيټو کښې د جهنم اُور اچوی او قيامت کښې به ورته الله تعالیٰ غصه وی، د رحمت هيڅ خبرے به ورسره نهٔ کوی او په دردناك عذاب کښې به اخته وی۔

او پدے امت کښې چه څوك حق پټوی الله تعالیٰ د هغوی بدی هم بیانوی، سخت وعید ورکوی، نو په مخکښې تیر شوی آیت کښې دا بیان شو چه دوی حق پټ کړے وو د خلقو د یرے د وجه نه او دلته وائی چه دوی حق پټوی د دنیا حاصلولو دپاره، نو دا ډیر لوئی مجرم دے نو پدے وجه دلته وعید هم سخت ذکر دے، ددے آیت نه یره کول پکار دی :

﴿ یَکۡتُمُوۡنَ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ ﴾ : (۱) د کتمان (پټولو) نه په باطلو تاویلاتو سره پټول مراد دی چه دیته تحریف معنوی وائی۔ (۲) یا دا چه عوامو ته مَاۤ اَنۡزَلَ الله (دینی مسئلے) نهٔ ښکاره کوی۔

﴿مِنَ الۡکِتٰبِ﴾ یعنی بعض مسائل د کتاب۔ (مِنۡ بعضیه دے)۔ ځکه دوی تول کتاب نهٔ وو پټ کړے۔ لکه سورة مائده (۱۵) او انعام (۹۱) آیت پرے دلیل دے۔ او دا دلیل دے که څوك د کتاب الله او د دین یوه مسئله هم پټه کړی نو دا وعید ورته شامل دے۔

﴿ وَیَشۡتَرُوۡنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِیۡلًا ﴾ (۱) ددے نه مراد د دنیا سامان او معمولی شان مال دے۔

(۲) یا تهوله دنیا مراد ده ځکه چه دوی د آخرت د ثواب او د رضائے اِلٰهی نه محروم شو او دا یوه عظیمه خساره ده او ددے په مقابله کښې شکه چه توله دنیا ثمن قلیل دے۔ (فی ظلال)

﴿ مَا یَاۡکُلُوۡنَ فِیۡ بُطُوۡنِهِمۡ ﴾ د «اَکَلَ فِیۡ بَطۡنِهٖ» معنیٰ ده ځان پوره مړهٔ ول او ډکول۔ او دا جمله اکثر د حرامو د خوراك دپاره استعمالیږی۔

﴿ اِلَّا النَّارَ ﴾ د نار نه مراد دلته حرام خوری ده، ذکر د سبب دے او مراد ترینه مسبب، ځکه حرام خوړل سبب د اُور دے۔ او پدے کښې اشاره ده چه دوی خپل آخرت په خیټو او خوراکونو تباه کړو۔ یا نار (اُور) په خپله معنیٰ دے یعنی جهنم کښې به اُور خوری۔

﴿وَلَا یُکَلِّمُهُمُ اللّٰهُ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ ﴾ د رحمت خبرے به ورسره نهٔ کوی۔لکه دنیا کښې خلق وائی: زهٔ به تاسره خبرے نهٔ کوم، زهٔ به درنه مره وریم، نو الله رب العزت به د دوی نه ناراضه وی۔ او بنده له ډیر زور ورکوی، دا یو مستقل عذاب دے چه مالك حقیقی د انسان نه نا رضا وی۔ او د سوال وجواب او حساب کتاب او د دوی د غم زیاتولو خبرے به ورسره کوی لکه اعراف (٦) آیت کښې راغلی دی۔ یا دا چه بالکل به دوی سره خبرے نهٔ کوی او هرچه حساب او سوال جواب دے نو هغه په واسطه د ملائکو سره کوی لکه سورة المؤمنون (۱۰۸) آیت نه معلومیږی۔

﴿وَلَا یُزَکِّیۡهِمۡ ﴾ ○ یعنی نهٔ ئے پاکوی (د بدو اعمالو نه په دنیا کښې) یعنی همدغسے ناولی به ئے پریږدی ځکه چه انسان د دین په دعوت او بیانولو باندے پاکیږی، نهٔ په دنیا پرستئ۔ نو دے کښې اشاره ده دے ته چه څوك د دین دعوت کوی نو الله تعالیٰ به ئے پاکوی ځکه چه څوك بل ته د نیك عمل خبره کوی، نو الله تعالیٰ هغه ته پخپله د عمل توفیق ورکوی او چه بل ته حق نهٔ

بیانوی او حق پټ ساتی، نو همداسے به ناولے پاتے کیږی۔
○ یا دا چه په آخرت کښ به ئے د گنده خلقو سره اُودروی۔ او د عذاب نه به بچ نهٔ وی۔
○ زجاج وائی : لَایُثْنِیْ عَلَیْهِمْ خَیْرًا، وَلَا یُسَمِّیْهِمْ اَزْکِیَاءَ) د دوی ښه صفت به نهٔ کوی چه گنی دا زما په کتاب عالمان وو۔ او د پاکو خلقو نوم به ورته نهٔ ورکوی۔
﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ﴾ دوی دپاره ئے عذاب الیم ذکر کړو ځکه چه دوی هم د منافقانو په شان کار کړیدے چه زړهٔ کښ پوهه لیکن په خوله باندے ئے ځان ناپوهه ښکاره کړیدے۔
او دا مرض زمونږ ددے امت په ډیرو باطل پرستو مُلیانو کښ دے، د تدریس یا امامت یا عهدے د خاطره حقے مسئلے او سنت طریقے پټوی، وائی : که دا بیان کړو نو خلق به مو د تدریس یا امامت نه لرے کړی۔ (قَبَّحَهُمُ اللهُ)۔
بیا دا قسم عذابونه د نور قسم خلقو دپاره هم وئیلے شویدی لکه سورة آلعمران کښ دی چه څوك د الله په لوظونو او قسمونو باندے ثمن قلیل اخلی الخ۔
○ حدیث کښ دی : درے کسان دی چه الله به ورسره خبرے نهٔ کوی او نهٔ به ئے پاکوی او نهٔ به ورته گوری۔ ابوذرؓ اووئیل: دا خو نامراد او تاوانیان شو، دا څوك دی یا رسول الله ؟ نبی ﷺ اُوفرمایل :
۱- هغه څوك چه پینځے (لنگ) ځان پسے راکاږی۔ ۲-احسان زباتونکے۔ ۳- په دروغو سره په سودا کښ قسم کونکے۔ (احمد، مسلم) ۔ دارنگه درے قسمه نورو خلقو دپاره هم دغه عذاب خودلے شویدے :۱-بوډا زناکار۔ ۲- بادشاه دروغجن ۳- غریب متکبر۔ (صحیح مسلم)۔
نورو روایاتو کښ ورسره زیادات راغلی دی لکه یو سړے د یو امام او بادشاه سره د دنیا دپاره بیعت اُوکړی، که هغه ورله څهٔ ورکړی، وفاداری کوی، او که ورنکړی نو وفاداری نهٔ کوی۔
درے قسمه نور خلق دی : ۱- یو سړے چه د یو مسلمان نه د مال حاصلولو دپاره په دروغه قسم اُوکړی۔ ۲- هغه سړے چه د مازیگر مانځه نه روستو د خپلے مبیعے (سودا) رائج کولو دپاره قسم اُوکړی۔ ۳- هغه سړے چه زیاتی اُوبه منع کړی۔ (بخاری ومسلم)۔

اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰی وَالْعَذَابَ
دا هغهٔ کسان دی چه دوی اخستے ده گمراهی په مقابله د هدایت کښ۔او عذاب
بِالْمَغْفِرَةِ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَی النَّارِ ﴿۱۷۵﴾
په مقابله د بخنه کښ، نو څهٔ ډیر صبرناك دی دوی په اُور۔

تفسیر : دا د مخکښې آيت سره متعلق دے او پدے کښې د حق پټونکو کم عقلي او خُسران (تاوان) بيانوي.

هدايت دا وو چه حق ئے بيان کړے وے او ګمراهي دا ده چه حق ئے بيان نکړو.

﴿وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ﴾ د الله د دين په بيانولو بنده ته بخښنه کيږي او د الله د دين په نهٔ بيانولو په بنده عذاب راځي. ﴿فَمَا أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ﴾ ١- دا تعجب په نسبت د خلقو دے، يعني هر کله چه د دوی داسے سخت او دردناک عذاب يو ليدونکے ويني، نو د دوی په صبر به تعجب کوی چه دا خلق څنګه داسے مشکل اُور برداشت کولے شي چه د هغے برداشت ناممکن دے. ٢- يا مطلب دا دے چه دا اُور د دوی څومره خوښ دے او صبر پرے کوی. په اُور باندے خوګ صبر نهٔ شي کولے خو دا کلمه د تعجب ده او د دوی پورے استهزاء ده.

٣- اَصْبَرَ په معنیٰ د اَجْرَأَ دے : يعني څه شي زړهٔ ورکړيدی دوی لره په اُور باندے چه داسے عملونه کوی چه اُور ته روان دی او پرواه ئے نشته. (فراء او کسائي).

يا څه شي دوی لره صبرناک جوړ کړل په اُور باندے. (تفسير قرطبي).

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ
دا (عذاب) پدے وجه دے چه يقيناً الله نازل کړيدے کتاب په حق (او دوی پکښې اختلاف کوی)
وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ لَفِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ﴿١٧٦﴾
او يقيناً هغه کسان چه اختلاف ئے کړے په کتاب کښې، خامخا په مخالفت کښې دی لرے (د حق نه).

تفسیر: په دے آيت کښې د تيرشوی عذابونو سبب ذکر کوی. نو ذٰلِكَ تيرشوی عذابونو ته اشاره ده. او (بِاَنَّ) د (ثَابِتٌ) مقدر پورے متعلق دے او د (بِالْحَقِّ) لفظ نه روستو وقف دے معنیٰ دا ده : (فَكَتَمُوْهُ) نو دوی هغه پټ کړو. يعني دا عذاب پدے وجه په دوی ثابت شو چه الله تعالیٰ کتاب په حق او رشتيا سره راليږلے وو او دوی پټ کړو.

٢- يا ئے په کښې اختلاف شروع کړو. ٣- يا ئے پرے کفر اُوکړو. او انکار ئے اُوکړو.

﴿وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتَابِ﴾ (١) د کتاب نه مراد جنس منزل کتابونه دی.

○ او اختلاف د خلقو دا وو چه د الله تعالیٰ په بعض کتابونو ئے ايمان راوړو او د بعضو نه ئے انکار اُوکړو. (روح المعاني) ○ يا دا چه د الله د کتابونو په مقصد کښې ئے اختلاف شروع کړو چه خوک پکښې توحيد نهٔ مني او خوک رسالت او خوک قيامت نهٔ مني (خازن)

(۲) - یا د الکتاب نه مراد تورات دے نو نصاراؤ دعوه اُوکړه چه پدے کښې صفات د عیسیٰ علیه السلام شته او یهودیان ترے منکرشو۔ ○ یا اختلاف دا دے چه دوی په تورات باندے د عمل کولو په باره کښې د خپلو مشرانو مخالفت اُوکړو۔ ○ یا دا چه په تورات کښې د رسول الله ﷺ کوم صفات ذکر وو په هغے کښې ئے اختلاف شروع کړو۔

(تفسیر القرطبی ۲۳۶/۲)

(۳)- یا د کتاب نه مراد قرآن کریم دے، د یهودیانو اختلاف پکښې دا وو چه بعضو ترینه مطلقاً انکار اُوکړو او چا پکښې اُووئیل چه دا په اُمیین (عربو) پورے خاص دے او اهل کتاب پدے سره مخاطب نهٔ دی۔ او د مشرکانو اختلاف دا وو چه چا اُووئیل دا سحر (جادو) دے چا وئیل : شعر دے چا وئیل کهانت دے، چا وئیل افتراء ده (دځان نه جوړ شوے دے) چا وئیل : د پخوانو قصے دی۔ (آلوسیؒ)

﴿ لَفِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ﴾ شقاق د شِق نه دے په معنیٰ د طرف سره یعنی دوی د حق په مقابله او اُلټه طرف کښې اُودریدل۔ او داسے مخالفت کښې واقع شو چه حق ته رانزدے کیدل ئے ډیر مشکل دی۔ وجه دا ده چه حق خو د الله په کتاب کښې وو، او د رسول الله ﷺ سره وو، او بیا د حق داعی سره وو، او کله چه څوك د الله تعالیٰ په کتاب کښې ورانے شروع کړی او پیغمبر او داعی باندے اعتراض اُوکړی نو حق خو پدے لاره کښې وو او دهٔ دا لاره په ځان باندے بنده کړه۔ نو بیا به حق چرته ملاؤ شی؟۔ او دا خبره به سورة الفرقان (۹) آیت کښې راغلے ده۔

﴿ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلاً ﴾ ۔

(داسے گمراه شو چه د هدایت د لارے موندلو طاقت هم نهٔ لری)۔

﴿ بَعِيْدٍ ﴾ : ئے څکه اُووئیل چه یو مخالفت په درجه د عصیان کښې دے نو هغه خلق هدایت ته قریب وی. دویم مخالفت په درجه د عداوت او دشمنیٔ کښې دے نو دا د حق قبلولو نه ډیر لرے دے۔ لهٰذا د حق سره ضد ندے پکار۔ وبالله التوفیق۔

لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ
نهٔ ده نیکی (خاص) دا خبره چه تاسو واړوئ مخونه خپل په طرف د مشرق او مغرب لیکن نیکی
مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ
(نیکی) د هغه چا ده چه ایمان ئے راوړے دے به الله او په ورځ روستنیٔ او به ملائکو او به کتابونو او په (ټولو) پیغمبرانو۔

وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ وَالسَّآئِلِيْنَ
او ورکړی مال لره سره د محبت د هغه نه، خپلوانو ته، یتیمانانو او مسکینانو او مسافرو ته او سوال کرو ته
وَفِى الرِّقَابِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ
او په آزادولو د څټونو (مریانو) کښې، او قائم کړی مونځ او ورکړی زکوٰة، او پوره کونکی وی د خپلو وعدو
اِذَاعٰهَدُوْا وَالصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ
کله چه وعده اوکړی او (زۀ صفت کوم د) صبر کونکو په تکلیف د مال کښې او تکلیف د بدن کښې
وَحِيْنَ الْبَاْسِ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾
او په وخت د جنګ کښې دغه کسان رشتینی دی او دغه کسان خاص هم دوی تقویٰ والا دی۔

تفسیر : ...... **ربط مضمونی** : مخکښې آیتونو کښې الله تعالیٰ د مسلمانانو تربیت بیانولو په ذکر د قوانینو لکه د قبلې مسئله ئې ورته ذکر کړه۔ په کتمانِ حق ئې ردونه اُوکړل۔ او وئې فرمایل چه اوله مسئله چه د هغې بیان ضروری دے هغه د توحید مسئله ده، د توحید دوه قسمونه ئې بیان کړل او بیا ئې کاتمینو د حق ته رټنه پدے مخکنو آیتونو کښې ورکړه۔

اُوس ددے ځائے نه الله تعالیٰ امتِ مسلمه ته نورے ذمه واریانے سپاری چه تاسو ته خلافت درکړے شونو تاسو به څۀ کارونه کوئ نو هغه یوڅو کارونه دی : ۱- اول : اصلاح النفس په صحیح عقیده، اعمالو او اخلاقو سره چه پدے آیت کښې ئې لس خبرے ددے متعلق راوړی دی۔ او دیته انفرادی اصلاح وئیلے شی۔ ۲- دویم : بیان د السیاسة المدنیة (یعنی په تاسو لازم ده چه په ملك کښې به شرعی قانون رائج کوئ، بیا د ملکی سیاست دپاره ئې ضروری قوانین څلور ذکر کړیدی چه په هغې سره په ملك کښې امن راځی او حرام خوری ختمیږی۔

۱- اول قانون د قصاص : قصاص چه نافذ شو نو پدے سره امن وامان راځی۔نو بیا ئې حکمة د قصاص بیان کړیدے۔ ۲- دویم قانون : تقسیم المال بالحکم الشرعی۔ په حکومت کښې چه کله مال د صحیح ځائے نه پیدا کیږی او په صحیح ځائے لګیږی، نو د الله تعالیٰ مددونه راځی او کله چه په مسلمانانو ظلمونه کولے شی، ټیکسونه لګولے شی او د خزانے غلط استعمال وی نو امن او راحت نشی راتلے۔

کله چه اقتصادی نظام برابر شی نو پدے سره اصلاح د ملك کیږی۔

او په مال کښې به په صحيح طريقه وصيت کولے شي چه په ورثه ؤ ظلم رانشي۔
٣– دريم قانون د صوم دے : يعني په ملك کښې دے روژه رائجه شي او دا قوانين لکه څنګه چه ملکي دي نو دغه شان شخصي او جزئي هم دي۔ نو اُوس که اسلامي خلافت نۀ وي، هم مسلمانان پدے آيتونو عمل کولے شي۔ او په روژے سره تقوىٰ پيدا کيږي، انسان کښې د پابندئ او صبر ماده پيدا کيږي، نور مالونه او طاقتونه به بے ځايه نۀ استعمالوي۔ جهاد به د الله په لار کښې کولے شي، نو نظام به برابر وي۔
٤– بيا د رشوت ورکولو نه منع شوے ده ځکه چه پدے سره مشکلات ختميږي۔ او په رشوت سره نظام خرابيږي، برکات ختميږي۔ بيا ئے د سپوږمئ متعلق مسئله راوړے ده چه د صوم او د باقي ټولو احکامو سره متعلق ده چه حساب به په سپوږمئ کوئ۔
٥– بيا ئے حکم او قانون د جهاد ذکر کړيدے چه خلافت خرابونکو خلقو سره به جهاد کولے شي۔ او د جهاد متعلق احکام تر (١٩٤) پورے بيان شويدي۔ بيا جهاد وغيره کښې مال لګول ضروري دي نو حکم د انفاق ئے راوړيدے۔ بيا ئے مسائل د حج راوړيدي چه جهاد به کوئ دے دپاره چه مکان د حج آزاد شي۔ او بله دا چه حج هم يو نوع جهاد دے۔
(٢) دويم ربط روستو شان نزول کښې راځي۔
(٣) دريم ربط د موضوع د سورت سره دے چه هغه تفصيل الايمان دے۔
په دے آيت کښې پنځه کارونه د زړۀ د عقيدے سره تعلق لري او پنځه د ظاهري اعمالو او اخلاقو سره چه پدے کښې اصلاح د نفس ده۔
شان نزول : دا آيت د يهوديانو او نصاراؤ په رد کښې نازل شوے وو چه هغوی د قبلے د بدليدو نه روستو د اسلام او د مسلمانانو په باره کښې مختلفے فتنه راپورته کونکے خبرے شروع کړے وے او دا ئے وئيلي وو چه مونږه پوره نيکان يو ځکه چه زمونږه قبله غوره ده او بيت اللحم او بيت الشرق ته مونځ کوو، دا مونږ له بس دے۔ او د مسلمانانو قبله غلطه ده۔ نو الله اُوفرمايل: چه مشرق يا مغرب ته مخ اړول نيکي نۀ ده بلکه پوره نيکي دا روستو اعمال دي او هغه په تاسو کښې پوره نشته، ځانله په يو عمل کولو باندے انسان نۀ ښه سړے کيږي۔ (دا هله چه د دوی قبله شرعي شي او صحيح دا ده چه د دوی قبله بدعت وه نو د ليس البر معنىٰ دا ده چه نۀ ده نيکي مشرق او مغرب ته مخ اړول (بلکه دا بدعت ده) او همدا معنىٰ ظاهره ده۔
دارنګه مفسرينو ليکلي دي چه هرکله مخکښې اُووئيلے شو چه الله تعالىٰ دے امت ته د قبلے هدايت اُوکړو ﴿ اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ ﴾ نو د قبلے د بدليدو نه روستو بعض مسلمانانو د خپلے

خوشحالئ اظهار اُوکړو او پدې باره کښې د دوی تشدد داسې حد ته اُورسیدو چه د کعبې قبله جوړیدل د هغوی په نظر کښې د دین د ټولو نه لوئی غرض او غایه ښکاره شوه او داسې ئې اُووئیل : (اِنَّا تَحَصَّلْنَا الْبِرَّ اَجْمَعَ) مونږ ټولې نیکئ راجمع کړې) نو دا آیت نازل شو چه دا خو پوره نیکی نۀ ده او نیکی پدې کښې بنده نۀ ده چه انسان صرف مشرق یا مغرب ته مخ واړوی بلکه اصلی نیکانې خو نورې زیاتې شته، هغه تاسو نۀ دی پیژندلی چه هغه د عقیدو او اعمالو او اخلاقو نوم دې۔ دا صفات به هم ځان کښې پیدا کوئ هله به پوره نیکان جوړیږئ۔

نو پدې آیت کښې رد دې په هغه چا چه بعض نیك اعمال کوی او دعوه د ټول دین کوی۔ بعض عوام خلق، صرف مونځ او اَودس کولو او تسبیح گرزولو ته پوره نیکی وائی۔ او صرف پدې سره ځان د جنت طمعدار گنړی۔ بعض خلق صرف د یو خو خبرو دعوت کوی او ځان پوره پو هه او د دین ټیکیدار گنړی۔ ډیر تنظیمونو والا یو نیك عمل کوی او ځان پوره نیکان گنړی۔ حق په خپل ځان کښې منحصر گنړی۔داسې نۀ ده پکار۔

دا ډیر ښکلې آیت دې چه الله تعالیٰ مونږ ته چل راښائی چه ضروری څیزونه اُوپیژنئ چه هغه ایمانیات، اخلاق، او اعمال دی۔

﴿ لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ ﴾ که دا د یهود او نصاراؤ سره خطاب شی نو بیا معنیٰ دا ده چه ستاسو خپلو قبلو ته مخ کول هیڅ نیکی نۀ ده۔ ځکه دا قبلې د ځان نه ایجاد شویدی۔ راشئ نیکیانې اُوپیژنئ۔ یعنی ځان کښې صحیح ایمان پیدا کړئ۔ او دا تفسیر ظاهر القرآن دې۔

○ او که مؤمنانو ته خطاب شی نو معنی به دا وی :[لَيْسَ الْبِرُّ مُنْحَصِرًا] نۀ ده نیکی منحصره او راگیره په دې کښې چه تاسو مخونه مشرق او مغرب طرف ته واړوئ۔ کله بیت المقدس ته مونځ کوئ او کله بیت الله ته مونځ کوئ، بلکه دا خو صرف د مرکزیت او اجتماعیت د حاصلولو یوه طریقه ده او دې کښې ټوله نیکی راگیره نۀ ده۔ نوکه ته یو نیك کار کوې نو ځان به پوره نیك عمله نۀ گنړې۔

مسئلة عقدية : ...... اهل قبله ته د تکفیر حکم څه حیثیت لری ؟

بیا دلته مفسرین دا عقدوی مسئله (تَكْفِيْرُ اَهْلِ الْقِبْلَةِ) بیانوی چه اهل قبله ته به کافر نشی وئیلې نو ددې معنیٰ دا ده چه کله نا یو انسان اُولیدو چه د مسلمانانو قبلې (یعنی کعبې) ته مونځ کوی، او بیا ورسره گناهونه هم کوی نو په گناهونو به هغه ته د کفر نسبت نشی کیدې۔ ځکه دا د اهل السنة والجماعة مذهب دې چه (لَا نُكَفِّرُ اَهْلَ الْقِبْلَةِ) (مسلمانانو (قبلې والو) ته به د کفر نسبت نۀ کوو)۔ لیکن که یو انسان د ضروریاتو د دین نه منکر وی یعنی مثلًا یوه مسئله دین

كښې ښكاره ثابته ده چه په هغې كښې هيڅ صحيح تاويل نۀ كيږي. او دارنګه جهالت په انسان كښې نۀ وي، او بيا هم انكار كوي، نو دۀ ته به كافر وئيلې شي لكه مسئله د بشريت د رسول الله ﷺ واضحه مسئله ده، كه څوك د رسول الله ﷺ بشريت نۀ مني، دا به هم كافر وي اګركه قبلې ته مونځ كوي څكه چه دا په دين كښې د ښكاره مسئلې منكر دے. يا غير الله ته د مدد آوازونه كوي. يا رسول الله مدد يا علي مدد وائي نو دا به هم كافر وي.

او دغه شان نور مسائل واخله چه دا ئې د بحث ځائې نۀ دے.

﴿الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ﴾ دا ئې د مثال په طور وئيلې دي. ○ يا دا چه د نصاراؤ قبله مشرق طرف ته وه او د بيت المقدس مغرب طرف ته د يهوديانو قبله وه.

﴿وَلَـٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ﴾ دلتـه د (مَنْ) نـه مخكښې مضاف حذف دے يعني [لَٰكِنَّ الْبِرَّ بِرُّ مَنْ آمَنَ] (يعني نيكي د هغه چا نيكي ده) دا څكه راوباسو چه حمل د (مَنْ) په (الْبِرّ) باندے صحيح شي. يا د (الْبِرّ) نه مخكښې مضاف پټ دے يعني [وَلَكِنَّ ذَا الْبِرِّ مَنْ] (يعني ليكن نيكي والا هغه څوك دے الخ).

نو اول بنيادي شے : په الله تعالىٰ باندے. د هغۀ په وجود، د هغۀ په اسماء او صفاتو او د هغه په توحيد الُوهيت او ربوبيت او د هغه په ټولو اَوامر او نواهيو باندے ايمان لرل دي. چه د هغې تفصيل په ابتداء ددے سورت كښې ذكر شويدے. او دغه شان دا نور ايمانيات.

﴿وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ﴾ پدے كښې په يهود او نصاراؤ تعريض دے چه هغوي د قرآن كريم او د آخري رسول الله ﷺ نه منكر دي.

دا ايمانيات شو : ﴿وَآتَى الْمَالَ﴾ دا اُوس د اندامونو اعمال دي چه دوي حقوق (عبادات) مالي اداكوي. ﴿عَلَىٰ حُبِّهِ﴾ ددے ډيرے معاني دي : (١) په حُبِّهٖ كښې ضمير مال ته راجع دے يعني د مال سره ئې مينه ده او دا مينه هله وي چه انسان روغ وي (مرض الوفات نۀ وي) لكه حديث كښې دي : «بهترينه صدقه دا ده چه تۀ صدقه اُوكړے په داسے حال كښې چه تۀ روغ ئې او بخل كونكے ئې او د مالدارئ اميد لرے او د غريبئ نه يريږے (څكه د روستو ژوند اميد ډے وي) او صبر مۀ كوه تردے چه ستا روح مرئ ته اُورسي نو بيا وائې چه دومره مال د فلاني شو او دومره د فلاني او حال دا چه هغه د بل چا شوے وي». (متفق عليه).

نو اشاره دے ته كوي چه د مرګ نه مخكښې مال اُولګوئ. ○ يا معنىٰ دا ده چه محبوب مال وركوي يعني كرۀ مال. ٢- يا د (حُبِّهٖ) ضمير الله ته راجع دے (يعني الله سره ئې مينه ده څكه مال وركوي). ٣- يا راجع دے (ايتاء) يعني وركړے د مال ته. او مراد ترينه احلاص او د الله تعالىٰ د رضا طلب دے. ٤- يا ضمير مسكين ته راجع دے يعني مسكين سره ئې مينه وي په هغوي

باندې تکبر نۀ کوی۔ اول احتمال ډير ښکاره دے۔
بيا ددے نه مراد وجوبی او نفلی صدقات دی۔ سِویٰ د زکوة نه ځکه هغه روستو مستقلًا ذکر دے۔ لکه يو حديث دے [إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكٰوةِ] (په مال کښې د زکاة نه علاوه هم حق شته) دا روايت اګرکه د سند په لحاظ ضعيف دے، په سند کښې ئے ابوحمزه ميمون الاعور دے، ترمذیؒ وائی: دا ضعيف راوی دے وكذا فی التقريب۔ او شريك بن عبد الله القاضی سیء الحفظ دے۔ شيخ البانیؒ فرمائی: وَجُمْلَةُ الْقَوْلِ اَنَّ الْحَدِيْثَ بِلَفْظِهٖ ضَعِيْفٌ وَالصَّحِيْحُ اَنَّهٗ مِنْ قَوْلِ الشَّعْبِيِّ]. الضعيفة ۹/۳۹٤)۔ خلاصه د خبرے دا شوه چه دا حديث په مذکوره دواړو لفظونو سره ضعيف دے او صحيح دا ده چه دا د شعبیؒ قول دے)آه۔
ليکن معنیٰ ئے ثابته ده ځکه چه دا آيت ئے تائيد کوی۔ ځکه چه زکوٰة روستو ذکر دے۔ کما قال الامام القرطبی فی تفسيره (۲٤١/٢) او ددے حق مثال: لکه د خلقو ضروری حاجتونه پوره کول (اُوږے مړول، بربنډ ته جامے اغوستول، ميلمستيا ورکول، د جهاد په يوه موقعه کښې مال ته ناځاپی ضرورت راغلو نو د مال ورکول به واجب وی۔ په خپلوانو کښې بدحالی انسان له د مال څۀ حصه ورکول)، دا ټول واجب صدقات دی۔
﴿ ذَوِي الْقُرْبٰى ﴾ : دلته د مال شپږ مصارف بيانوی يعنی اول به فقير ته مال ورکولے شی چه رشته دار وی، ځکه چه پدے کښې صدقه او صله رحمی دواړه دی۔
﴿ وَالْيَتٰمٰى ﴾ بيا هغه يے پلاره بچے چه محتاج دے۔ دا ئے ځکه ذکر کړل چه په دے امت کښې به يتيمانان ډير وی، مجاهد امت دے۔
﴿ وَالْمَسٰكِيْنَ ﴾ بيا عام مسکينان چه خپلوان نۀ وی۔ حديث کښې دی: ((مسکين هغه دے چه هغه داسے څه نۀ مونده کوی چه ددۀ پرے کار روان شی او خلق هم پرے نۀ پوهيږی چه صدقه پرے اُوکړی)) (متفق عليه)۔
﴿ وَابْنَ السَّبِيْلِ ﴾ بيا هغه څوك چه په وقتی توګه سره حاجت لری لکه مسافر شو، دا کله مالدار هم وی ليکن فی الحال ورسره څه نۀ وی، نو دۀ له به دومره مال ورکولے شی چه خپل کلی ته پرے ځان اُورسوی۔ دغه شان د يو سړی د عبادت او طاعت، د علم يا د دعوت او تعليم دپاره د سفر اراده ده، نو دۀ ته به هم دومره ورکولے شی چه ددۀ د تللو او راتللو کافی شی۔ او پدے کښې ميلمه هم داخليږی۔
﴿ وَالسَّآئِلِيْنَ ﴾ بيا هغه څوك چه حاجت ئے معلوميږی په سوال کولو سره او کله غنی هم وی، ليکن يو ضرورت ورته پيدا شوے وی۔

په يو روايت د ابو داودٌ او احمدٌ وغيره كښې راغلي دي: ((د سوال گر حق دے اگركه په آس باندے راشي)) (سنداً ضعيف دے په سند كښې ئے يعلي بن ابى يحيى مجهول دے۔ (اعظمىّ، شعيب الارنووطّ، البانىّ) ليكن معنىٰ ئے صحيح ده، د بل حديث نه ثابته ده نبى ﷺ فرمائى: [رُدُّوا السَّائِلَ وَلَوْ بِظِلْفٍ مُحْتَرِقٍ] (احمد ١٦٦٤٨، واسناده حسن - شعيب الارنووط، شرح السنة ١٧٦/٦، صحيح ابن حبان ١٦٧/٨)۔

(تاسو سوال كونكے واپس كړئ اگركه په سوزيدلے پانچے سره وى)۔

يعنى سائل اگركه مالدار وى، ضرور به هغه ته څۀ نا څه وركولے شى ځكه چه د الله نوم درته اخلى، د هغه لحاظ به كولے شى، او كه فى الحال درسره څه نۀ وى، وعده به ورسره اُوكړے چه بيا راشه۔ نو د مسلمانانو معاشره به داسے وى چه په هغے كښې به سوالگر هم محروم نۀ وى اگركه د هغوى به بيل علاج كيږى، هغوى ته به د سوال كولو گناه او نحوست او سپيرۀ والے خودلے كيږى چه بے ځايه سوالونه اُونكړى۔

﴿ وَفِي الرِّقَابِ ﴾ بيا هغه څوك چه خپل ملكيت ئے نۀ وى او محتاج وى۔ لكه مريان (غلامان، وينزے) شو يا قرضداران او قيديان مسلمانان وى۔

(فِي الرِّقَابِ) يعنى فِيْ فَكِّ الرِّقَابِ۔ (د مريانو په آزادولو كښې)۔

رقاب جمع د رَقَبَةٌ ده څټ ته وئيلے شى۔ دلته ذكر د جزء دے مراد ترے نه كل دے۔ او پدے ترتيب كښې ترقى د اعلىٰ نه ادنىٰ ته ده، هر اولنے د روستنى نه ډير محتاج دے۔ (راغبّ)۔

﴿ وَآتَى الزَّكٰوةَ ﴾ دلته فرضى زكوٰة مراد دے ځكه چه د صلاة سره ئے يو ځائے كړے۔

﴿ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ ﴾ دا دريم عمل دے او د اخلاقو د قبيلے نه دے۔يعنى د هر چا سره د لوظ پابندى كوى، د الله تعالىٰ سره وى، كه د مسلمان سره او كه د كافر سره وى۔

(عهد) هغے ته وائى چه د جانبينو نه وى۔ او لوظ ماتول د منافقانو خصلت دے او حديث كښې دى: نبى ﷺ عبد الله بن عمرو بن العاصؓ ته اُوفرمايل: ستا به څۀ حال وى چه تۀ داسے وخت ته پاتے شے (قيامت ته نزدے چه داسے خلق به پيدا شى) [مَرَجَتْ عُهُوْدُهُمْ وَاَمَانَاتُهُمْ] (الصحيحة: ٢٠٥ وصحيح ابن ماجه) (چه لوظونه او امانتونه به ئے گډوډ وى) الحديث۔

او دا زمانه اُوس شروع ده۔

او (الْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ) ئے جمله اسميه راوړه، اشاره ده دوام او هميشوالى ته پدے كار۔

﴿ وَالصَّابِرِيْنَ ﴾ دا څلورم عمل دے او دا هم د اخلاقو د قبيلے نه دے۔ دا ئے منصوب راوړو ترتيب لفظى ئے بدل كړو، پدے كښې اهتمام ته اشاره ده۔ ○ او دا منصوب دے په دے وجه چه دا

مخصوص بالمدح دئ او مفعول دے د (اَمْدَحُ یا اَخُصُّ بِالْمَدْحِ) (زهٔ صفت کوم د صابرینو) یا (خاص کوم په صفت کولو سره صابرینو لره).

○ یا په ذَوِی الْقُرْبٰی باندے عطف کیدو سره د (آتَی) دپاره بالواسطه مفعول دے. یعنی مال ورکوی هغه صبرناکوته چه په وخت د مصیبت کښې هم سوال نهٔ کوی. لیکن اول تفسیر غوره دے ځکه چه د مؤمن ممدوح او غوره صفتونه زیات دی او صبر پکښې د ټولو نه افضل دے او که دا په ذوی القربیٰ عطف شی نو بیا به صبر د هغوی په اخلاقو کښې رانشی.

﴿فِی الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّاءِ﴾ په عامو اوقاتو کښې صبر هر څوك کوی، لیکن دے درے اَوقاتو کښې صبر د صفت لائق دے. (بَأساء) دیته وائی چه انسان غریب شی. د مال تکلیف او مصیبت پرے راشی او صبر اُوکړی، چا ته شکایتونه نهٔ کوی. او ضراء دیته وائی چه بیماریانے پرے راشی، تکلیف د بدن.

﴿وَحِیْنَ الْبَاْسِ﴾ یعنی په وخت د جنګ د کافرانو دشمنانو کښې. ددے نه مراد قتال فی سبیل الله دے. په هغه وخت کښې کلك ولاړ وی تختی راتختی نه چه جنګ پریدی.

نو الله فرمائی : زهٔ د داسے خلقو خصوصاً صفت کوم، دا ډیر اُوچت مؤمنان دی.

﴿اُولٰئِكَ الَّذِیْنَ صَدَقُوْا﴾ ۱- یعنی دا کسان په دعویٰ د نیکئ کښې رشتینی دی. که دوی اُووائی، مونږ نیکان یو نو صحیح ده. ۲- او (صَدَقُوْا فِی الْعَمَلِ) په عمل کښې رشتینی دی. رشتینی عاملان دی.

﴿وَاُولٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ﴾ تقویٰ څه ته وائی؟ چه بنده کښې صحیح ایمان، صحیح عملونه او اخلاق راشی، دا تقویٰ ده. دا آیت دلیل دے چه چا کښې دا مجموعه کارونه راجمع شی نو هغه ته نیك وئیلے شی او که چا کښې ټول راجمع نشی نو دا به نیك نهٔ وی. (واحدی- قاسمی).

فوائد الآیة

(۱) پدے آیت کښې د انسانانو کمالات ئے په درے خصلتونو کښې جمع کړیدی :

(۱) عقیده صحیح کول او ددے دپاره ئے پنځه ایمانیات ذکر کړل.

(۲) ښائسته معاشرت او ژوند تیرول. مستحقینو ته مال ورکولو سره ئے دا خصلت بیان کړو.

(۳) تهذیب او پاکوالے د نفس : په مونځ او زکاة ادا کولو او لوظ پوره کولو او صبر کولو سره ئے دا خصلت بیان کړو. دا کارونه چه څوك عملی کړی نو کمال ئے سرته رسیږی.

(۲) **فائده** : پدے آیت کښې د دین درے اقسام او مرتبے ذکر دی (۱) ایمان په پنځه امورو. (۲) اسلام چه عبارت دے د مونځ، زکاة او صدقاتو نه. (۳) دریم : احسان دے چه عبارت دے د لوظ د

وفادارئ، د صبر، د رشتیا وئیلو او د تقویٰ نه۔

(۳) فائده : دے آیت کښې د نیکیانو څلور انواع او اقسام راجمع دی :

(۱) ایمان په اعتقادی اصولو۔ (۲) د محتاجو او ضرورتمندو خلقو حقوق ادا کول۔ (۳) خالص عبادتونه چه د هغے اهم ارکان مونځ او زکاة دی۔ (٤) فضائل د اخلاقو چه دوه اخلاق د هغے عمده ئے ذکر کړل یو وفاء بالعهد چه دا د اجتماعیت سره تعلق لری۔ او دویم صبر او د صبر د متعلقاتو نه ئے درے ځیزونه ذکر کړل۔ صبر په مصیبت مالی، په مصیبت نفسی، په قتال۔ او آیت ئے په صدق او تقویٰ ذکر کولو سره ختم کړو۔

٤- فائده : په آیت کښې په یهود، نصاریٰ او منافقینو رد دے چه دوی دغه شان نهٔ دی۔

(۵) په آیت کښې د نفس تهذیب او تزکیه ذکر ده او د هغے طریقه خودلے شوے ده۔

(٦) د عربی ژبے دا طرز دے چه کله د فعل یو شان صیغے ذکر کړی، او بیا دا طرز بدل کړی او د صفت (مشتق) صیغے راوړی، نو پدے کښې اهتمام، اختصاص، تاکید او تنبیه ته اشاره وی او ددے تاکید وجه دلته دا ده چه د ایفاء بالعهد او صبر دواړو تعلق د سیرت او کردار سره دے او د سیرت او کردار معامله د ډیر عزم او یقین او د ریاضت او تربیت محتاجه وی۔ ځکه چه اهل مذاهب عام طور سره په ظاهری عقائدو او عباداتو خو ډیر زور ورکوی لیکن د سیرت او کردار په جوړولو کښې سُستی کوی، چونکه ددے آخری امت رهنمائی د بِر او اطاعت مقام طرف ته کیږی، پدے وجه په کردار باندے ئے ډیر زور ورکړو۔

دارنګه د تمامو عقائدو او عباداتو نه اصل مقصود اعلیٰ سیرت او کردار جوړول دی۔ په الله او په رسول باندے د ایمان راوړو او مونځ او روژے د اهتمام نه مقصد صرف په یو څو رسمونو باندے عمل کول نهٔ دی۔ بلکه ددے اصل مقصد دا دے چه په الله او په رسول باندے د ایمان په راوړو سره چه په انسان کښې کومه رنړا پیدا کیږی په هغے سره زمونږ زړونه روښانه شی او په مونځ او روژه سره چه کوم مضبوط انفرادی او اجتماعی کردار پیدا کیږی هغه زمونږ د انفرادی او اجتماعی ژوند خصوصیت جوړ شی۔ ددے نه بغیر تمام عقائد او عبادات بالکل بے ساه او بے روحه دی۔ همدا وجه ده چه قرآن کریم په هر ځائے کښې د عقائدو او عباداتو په عملی اثراتو ډیره توجه ورکوی دے دپاره چه ددے نه غفلت اُونشی۔ (تدبر)

سوال : د کردار او سیرت متعلق خو نور هم ډیر کارونه شته نو ایفاء بالعهد او صبرئے ولے خاص ذکر کړل؟۔ ددے جواب دا دے چه په حقیقت کښې دا دوه ځیزونه د ټولو دپاره مرکزی حیثیت لری، په ایفاء بالعهد کښې ټول واړهٔ او لوئی حقوق راځی، که هغه د مخلوق سره متعلق

وی، او که د خالق سره، یا لیکلی شوی معاهده وی، یا د رشتی او نسبت او قرابت په وجه وی، او په صبر ذکر کولو کښې اشاره ده چه هرهغه مزاحمت چه د حقوقو په پوره والی کښې حائل جوړیږی چه په کلکه اراده او استقامت سره د هغې مقابله اُوکړی او په هیڅ حال کښې هم د طمع، د بے همتیٔ یا د یرے نه مغلوبه نهٔ شی۔

يٰٓـاَيُّهَاالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الۡقِصَاصُ فِى الۡقَتۡلٰى
اے ایمان والو ! فرض کړے شویدے په تاسو باندے قصاص (نافذ کول) په باره د وژلے شوو کښې (په قتل عمد سره)
اَلۡحُرُّ بِالۡحُرِّ وَالۡعَبۡدُ بِالۡعَبۡدِ وَالۡاُنۡثٰى
آزاد به وژلے شی په مقابله د آزاد کښې، او غلام په مقابله د غلام کښې او زنانه په مقابله د زنانه کښې
فَمَنۡ عُفِىَ لَهٗ مِنۡ اَخِيۡهِ شَىۡءٌ
پس هغه څوك چه معافی اُوکړے شوه هغه ته د طرفه د ورور د هغه نه د څهٔ شی
فَاتِّبَاعٌ ۢ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَاَدَآءٌ
پس لازم دی په (وارث باندے) وروسے کیدل (قاتل پسے) په ښهٔ طریقے سره او (لازم دی په قاتل باندے) اداکول
اِلَيۡهِ بِاِحۡسَانٍ ذٰلِكَ تَخۡفِيۡفٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٌ
وارث ته په ښائسته طریقه۔ دا (حکم د معافی) آسانی ده ستاسو د رب د طرفه او مهربانی ده
فَمَنِ اعۡتَدٰى بَعۡدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۱۷۸﴾
پس چا چه زیاتے اُوکړو روستو ددے (معافی) نه نو دهٔ لره عذاب دردناك دے۔

تفسیر: مخکښې اصلاح او د نفسونو تزکیه او د اخلاقو تهذیب وو نو اُوس د سیاست مدنی قوانین بیانیږی۔ هرکله چه د مؤمنانو په مدینه کښې اسلامی حکومت او خلافت جوړ شو، نو دوی ته الله تعالیٰ قوانین بیان کړل چه قصاص دے نافذ شی۔ دویم پردے مال دے خلق نهٔ استعمالوی۔ او دا دواړه کارونه د امن او عدل د قائمیدو دپاره بنیادونه دی۔ او عام خلق د وینی او د مال د محفوظ کیدو کوشش کوی۔ نو هر شخص به د بل د ځان احترام ساتی۔ او دغه شان د هغه د مال احترام به ساتی۔ او دا دواړه په شریعت نافذ کولو باندے کیږی۔ او د عزت حفاظت

روستو آيتونو کښې راځي۔
نو دے آيت کښې د قصاص قانون بيانيږي چه قصاص کله په ملك کښې جاري وي نو ددے ډيرے فائدے دي۔ او دا ظلم نۀ، بلکه دا د ظالم سرې لاس نيول دي۔
د قصاص دا قانون خو د اهل کتابو سره هم وو او د عربو سره هم۔ ليکن هغوی لکه د نورو قوانينو په شان ددے قانون نه هم روح ويستلے وو۔ ددے قانون اصل روح بيحده انصاف او کامل مساوات دے۔ يعنی پدے معامله کښې به ادنیٰ او اعلیٰ، امير او غريب، شريف او رذيل، غلام او آقا ټول يو شان وی۔ او د عدالت قانون به د ټولو سره يو شان معامله کوی ليکن دا د اهل کتابو سره هم باقي پاتے نۀ وو، او نۀ د عربو سره بلکه نن صبا د ترقي او تمدن د دعوے باوجود د دنيا په هيڅ ملك کښې هم د نفس د احترام او مساوات تصور باقي پاتے نۀ دے۔
﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ دا خطاب ۱- يا حُکامو (بادشاهانو) ته دے چه چا له الله تعالیٰ واك ورکړے وی لکه په هغه زمانه کښې نبي ﷺ او صحابه کرامؓ مخاطب وو، او بيا په هره زمانه کښې چه چا له الله تعالیٰ څۀ نا څۀ قدرت ورکړے وی، هغوی باندے قصاص نافذ کول فرض دی۔
او ددے طريقه دا ده چه مسلمانان به خليفه او فوج جوړ کړی، د هغے په ذريعه به مجرمان رانيولے شي، او قصاص وغيره حدود به پرے جاري کولے شي۔ ځکه بادشاه د الله تعالیٰ سورے وی چه هغه ته هر مظلوم پناهي حاصلوی، او حکومت د مسلمانانو دپاره ډير ضروري شے دے ځکه پدے سره دين او دنيا دواړه ښۀ کيږي او په کفري حکومت کښې کله چه په انصاف سره چليږي صرف دنيا ښۀ کيږي۔
۲- يا خطاب دے قاتلانو ته نو معنیٰ به دا وی چه اے قاتلانو! په تاسو فرض کړے شويدی ځان سپارل قصاص ته۔ يعنی قاتل ته وائي چه تښتته مۀ او د مسلمانانو معاشره مۀ خرابوه۔
۳- دارنګه عامو خلقو ته هم دا خطاب دے ځکه چه بعض کسانو باندے به په قصاص باندے رضا او معاونت لازم وی او په بعضو باندے به دا لازم وی چه زياتے به نۀ کوی بلکه قصاص به اخلي يا به ديت اخلي۔ (قاسمیؒ)
(کتب) کتابت دلته په معنیٰ د فرض والي سره دے۔ يعنی دا حکم په تاسو فرض شويدے او ليکلے شويدے۔
﴿الْقِصَاصُ﴾ په معنیٰ د بدلے اخستو سره دے۔
﴿فِي الْقَتْلَى﴾ دا جمع د قتيل ده، مقتول (وژلے شوی) ته وائي۔
﴿الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ﴾ دا اُوس د قصاص تفصيل کوی او پدے تفصيل کښې مقصد د عربو

جاهلیت والو په عادت باندے رد وو چه هغوی به د ادنیٰ شخص په مقابله کښ سرکردۀ سړے وژلو او د یو په مقابله کښ به ئے ډیر وژل۔

شان نزول : دارنګه حافظ ابن کثیرؒ ددے آیت شان نزول دا هم لیکلے دے چه بنو نضیر او بنو قریظه ؤ خپل مینځ کښ د جاهلیت په زمانه کښ جنګ کړے وو، چه په هغے کښ بنو نضیر غالب راغلی وو، نو د هغے نه روستو (دا قانون پاس شوے وو) چه نضری به د قرظی په بدله کښ نۀ قتل کیږی، بلکه د سل (۱۰۰) وسق (تقریباً پنځلس زره کیلو ګرامه) کجورو په بدله کښ به نضری قاتل خلاصیږی، او ددے برعکس قرظی به د نضری په بدله کښ قتل کیږی، او که په فدیه به اتفاق کید و نو قرظی به د نضری دو چنده دیت ورکولو یعنی بنو قریظه به دوه سوه وسق (تقریباً دیرش زره کیلو ګرام) کجورے ورکولے۔ نو دا سراسر ظلم وو، ځکه الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل چهٔ په اسلام کښ به انصاف وی، قصاص به هم یو شان وی او دیت به هم یو شان وی۔

بیا پدے کښ اتفاق دے چه که غلام آزاد سړے قتل کړی، نو غلام به قتلولے شی ځکه چه د غلام مرتبه د آزاد په نسبت خکته ده۔ خو چه آزاد، غلام لره قتل کړی نو دوه صورتونه دی یا به ئے خپل غلام وژلے وی یا پردے که خپل غلام ئے وژلے وی، نو دهٔ باندے قصاص نشته مګر تعزیراً که بادشاه ئے ورکوی نو جائز به وی۔او کوم روایت د ابوداوؒد او ترمذیؒ کښ چه راغلی دی چه (چا خپل غلام قتل کړو مونږ به ئے قتل کوو) نو هغه ضعیف دے (ضعیف سنن الترمذی ۲۳۶رقم (۱٤٤۷) الحسن عن سمرة وهی روایة منقطعة) او که صحیح شی نو په تغلیظ حمل دے لکه امام نوویؒ وئیلی دی۔

او چه پردے غلام ئے وژلے وی نو پدے کښ د علماؤ اختلاف دے چه دیت به ورکوی او که قصاص : ۱ - مفهوم مخالف له چه کوم علماء اعتبار ورکوی هغوی وائی : نۀ به شی وژل کیدے۔ ځکه دلته ئے قتل د حر خاص کړیدے په قتل د حر پورے الخ۔ او د عبد مقابل کښ ئے نۀ دے وئیلے۔ سفیان ثوریؒ او اهل الکوفةؒ وائی چه قاتل به وژلے شی۔ (نقله الترمذی)۔

او همدا ظاهر دے۔ د وجه ددے قول د الله تعالیٰ نه : ﴿ اَنَّ النَّفۡسَ بِالنَّفۡسِ﴾ [مائده:٤٥]

او په حدیث کښ دی : [لَا يُقۡتَلُ الۡمُسۡلِمُ اِلَّا بِاِحۡدٰى ثَلَاثٍ اَلنَّفۡسُ بِالنَّفۡسِ ......] رواه البخاری ومسلم۔

(مسلمان به نشی وژلے کیدے مګر په درے جرمونو سره۔ که یو نفس ئے وژلے وی نو ددهٔ نفس به وژلے شی......)۔ نو نفس، غلام ته هم شامل دے۔

﴿وَالۡاُنۡثٰى بِالۡاُنۡثٰى ﴾ پدے کښ هم اتفاق دے چه زنانه به په مقابله د زنانه او زنانه په مقابله د سړی او سړے په مقابله د زنانه کښ وژلے شی۔ او دلته ظاهری مفهوم نۀ دے مراد بلکه مقصد دا دے

چه په قصاص کښې به صرف قاتل وژلے شي، که سړے وي او که زنانه. ځکه حديث کښې دي:
[اَلْمُسْلِمُوْنَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ] [سنن ابى داود كتاب الجهاد باب فى السرية ترد على اهل العسكر]
(د ټولو مسلمانانو (سړے وي که ښځه، ماشوم وي که غټ) وينه برابره ده)
نو ګويا کښې ددے مفهوم به هغه وي کوم چه په بل آيت کښې راغلے دے ﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾ (المائدة:٤٥) پدے کښې حسنؒ او عطاءؒ خلاف کړيدے چه سړے به د ښځې په بدله کښې نشي وژلے د وجے ددے آيت نه، ليکن صحيح دا ده چه مفهوم مخالف لره اعتبار نشته.
احنافو علماؤ ددے نه دليل نيولے دے چه مسلمان به د کافر په بدله کښې وژلے شي، وائي چه په آيت د مائده کښې دي (النَّفْسَ بِالنَّفْسِ). ليکن جمهور علماء ددے قائل نهٔ دي ځکه چه په حديث کښې ښکاره راغلي دي: [لَايُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ] (صحيح بخارى كتاب الديات باب لا يقتل المسلم بالكافر).(مسلمان به د کافر په بدله کښې نهٔ وژلے کيږي). (تفسير فتح القدير ١/٢٧١)
او دا آيت مقيد دے او آيت د مائدے مطلق دے او د احنافو په نيز هم دا منلے شوے قاعده ده چه مطلق به په مقيد حمل کولے شي کله چه حادثه يوه وي. نو دلته ددے حديث د وجه نه به هم مطلق په مقيد حمل وي لهذا د احنافو دا مسئله د حديثونو د نظره صحيح نهٔ ده. (قاسميؒ، ابن کثيرؒ).

فوائد اوعلوم

(١) والدين به د اولادو په بدله کښې نهٔ وژلے کيږي. حديث کښې دي:
[لَايُقَادُ الْوَالِدُ بِالْوَلَدِ] ...... (نسائي، ترمذي، ابن ماجه).
(٢) د جُمهورو علماؤ مذهب دے چه ذمي د مسلمان برابر نهٔ دے، نو مسلمان به د ذمي په بدله کښې نهٔ وژلے کيږي.
(٣) ائمه اربعه وغيره وائي چه جماعت (ډير کسان) به د يو تن په مقابله کښې وژلے شي. يو غلام اُووه کسانو وژلے وو. عمر فاروق ﷺ هغه ټول قتل کړل او بيا ئے اُووئيل: که ټول صنعاء (يَمَن) والا ددهٔ په مرګ راجمع شوي وے نو ما ټول وژل. او د عمرؓ مخالف نهٔ دے موجود نو دا يو قسم اجماع ده. (صحيح بخاري:٧٧٧٧).
حديث د ترمذيؒ کښې ابوسعيد خدريؓ او ابو هريرةؓ د رسول الله ﷺ نه روايت کوي: ((که اسمان او زمکے والا د يو مؤمن په وينه کښې شريك شي نو الله به خامخا دوي ټول اُور ته پرمخے ګوزار کړي)). (صحيح سنن الترمذي:١٣٩٨)
د امام احمدؒ نه يو روايت دا دے چه جماعت به د يو تن په مقابله کښې نهٔ وژلے کيږي او ديته ابن المنذرؒ اصح وئيلي دي او دا ئے د معاذؓ او ابن الزبيرؓ، عبد الملك بن مروانؒ، امام زهريؒ او محمد

بن سیرينؒ قول شمارلے دے۔ (ابن کثیر ۱/ ٤۹۰) لیکن اول قول غوره دے۔
(٤)- **فائده**: شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په (السیاسة الشرعیة) کښ لیکی :
د قتل درے قسمه دی : ۱- قتل عمد : قصداً قتل کول۔ پدے باندے قصاص واجبیږی لیکن د مقتول وارثان قصاص هم اخستے شی، او که غواړی معافی هم کولے شی، او که غواړی دیت هم اخستے شی۔او د قاتل نه علاوه بل څوك وژل جائز نهٔ دی، که څوك د معافی او دیت اخستو نه روستو قاتل قتل کړی نو دا د اول قاتل نه لوئی مجرم دے۔
پدے وجه بعض علماؤ وئیلی دی چه ددهٔ قتل کول واجب دی، ددهٔ معامله به د مقتول ورثاؤ ته نهٔ حواله کیږی۔
۲- قتل شبه عمد : د ظلم او زیاتی په نیت سره څوك په دُره او کوړه یا امسا باندے وهل چه د مرگ اراده ئے نهٔ وی، لیکن ددهٔ د ظلم او زیاتی په وجه هغه مړ شو نو ددهٔ دیت سل اُوښان دی چه په هغے کښ به څلویښت اُوښانے حاملے وی۔
۳- قتل خطاء : لکه چا د ښکار کولو دپاره غشے اُوویشتو او په غلطئ سره یو انسان اُولگیدو، پدے کښ قصاص نشته بلکه دیت او کفاره ده۔
(۵) ...... قصاص به صرف حاکم یا د حاکم نائب اخلی، عوام د یو بل نه قصاص نشی اخستے ځکه چه پدے سره فساد پیدا کیږی۔ او دا اتفاقی فتویٰ ده۔ (التفسیر المنیر) هان که وے اخستلو نو د الله په نیز به گنهگار نهٔ وی۔خصوصاً چه کله اسلامی حکومت نهٔ وی موجود۔
(٦) ...... قصاص د قَصَص نه دے چه په اصل کښ د چا پسے روستو، د هغه د نقشِ قدم سره سره تللو ته وائی۔ لکه ﴿فَارْتَدَّا عَلٰی آثَارِهِمَا قَصَصًا﴾ [کهف: ٦٤] کښ دی۔ او ددے نه قِصّه هم اخستے شوے ده ځکه چه قصه بیانونکے گویا کښ قدم په قدم د هغه د حالاتو تعاقب کوی۔ ددے نه قصاص راوتے دے ځکه چه د قاتل پسے هم روستو تلاش کولے شی او د هغه تعاقب کیږی۔ او قصاص شامل دے۔ جانی بدلے ته هم او مالی ته هم۔ چه هغے ته دیت وائی۔
(۷) ...... د قصاص ذمه واری په حکومت ده، نهٔ د مقتول په وارثانو۔ ځکه چه ددے خبرے امکان شته چه یو شخص قتل شی او د هغه هیڅوك ولی وارث نهٔ وی، نو حکومت به ترے بدله اخلی۔ که دا ئے صرف د مقتول ولی ته سپارلے وے نو که د چا ولی نهٔ وے، د هغه وینه به ضائع کیدے۔ دارنگه کله د یو شخص وارثان هم وی، لیکن د یو سبب په وجه هغوی د مقتول د قصاص په معامله کښ څه دلچسپی نهٔ لری بلکه کله نا کله د قاتل سره همدردی کوی۔
دارنگه د قصاص په معامله کښ د تحقیق او تفتیش ذمه واریانے او بیا د حدودو نافذ کول

فراخه اختيارات غواړي، او دا صرف حکومت کولے شي. بيا حکومت باندے دا پابندي لګولے شويده چه هغه به خپله فيصله نکوي بلکه د مقتول اولياؤ ته به اختيار ورکوي چه هغوی د اسلامي قانون په حدودو کښ دننه د مجرم سره کومه معامله خوښول غواړي هغه اُوکړي. که هغه قتل وي او که ديت قبلول وي. (تدبر قرآن).

﴿فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ﴾

اُوس دے اُمت سره الله تعالیٰ احسان کوي، اختيار ورکوي په درے صورتونو کښ.

۱- يو انسان هميشه قاتل نهٔ دے، قطاع الطريق نهٔ دے، صرف يو کرت ترے قتل اُوشو نو بس د الله تعالیٰ د رضا دپاره ئے معاف کړه، د هغه دپاره هم خير او ستا دپاره هم ثواب.

۲- دويم صورت : ديت (سل اُوښان، يا دولس زره درهم يا زر اشرفئ (دينار) دِے ترے واخستے شي. ۳- يا قصاص واخستے شي. معافي ئے مقدم کړه اشاره ده ترغيب ته.

﴿مِنْ اَخِيْهِ﴾ دا دليل دے چه په قتل سره انسان نهٔ کافر کيږي. او (اَخِيْهِ) ذکر کولو کښ دے ته هم اشاره ده چه دا ستا ورور (مسلمان) دے، مينه ورسره مهٔ ختموه.

(شَيْءٌ) يعني معمولي شے. پدے کښ دا صورت جاري کيږي چه کله د مقتول دوه وارثان وي، يو د قصاص معافي اُوکړي او بل ئے نهٔ کوي، نو بس دا قصاص معاف او ساقط شو ځکه چه قصاص تجزی (نيميدل) نهٔ قبلوي. پدے وجه ئے (عَفَا اَخُوْهُ) په ځائے (عُفِيَ) مجهول صيغه ئے راوړه. د بعض سلفوؒ نه نقل دي چه ښځے د معافئ حق نهٔ لري. [قاله الحسن، قتاده، زهری، ابن شبرمه، ليث او اوزاعی) او باقي سلف د دوی خلاف دي. (ابن کثير و التفسير المنير).

﴿فَاتِّبَاعٌ﴾ دلته (فَعَلَيْهِ) (لازم دي په دهٔ باندے) لفظ پټ مراد دے. او دا د مقتول د وارثانو صفت دے، يعني کله چه په قصاص کښ د مقتولِ وارثانو قاتل معاف کړو او ديت ترے اخلي ټول يا بعض، نو دوی له پکار دي چه د عرف مطابق د قاتل نه ديت واخلي او هغه تنګ نکړي چه په لنډ وخت کښ ئے ترے غواړي چه مثلاً نن ئے راکړه. او (فَاتِّبَاعٌ) دليل دے چه معافي کولو سره ديت پخپله لازميږي. او دا مذهب د اکثرو اهل علمو دے، البته ولي د مقتول دا هم معاف کولے شي. او د احنافو په نيز ديت نهٔ لازميږي ترڅو پورے چه د ديت شرط ئے نهٔ وي لګولے، ليکن دا د آيت د ظاهر نه خلاف ده. ...... (ابن کثيرؒ).

او بل حديث د ابو شريح الخزاعيؓ دے چه امام احمدؒ مرفوعاً روايت کړيدے :

[مَنْ قُتِلَ لَهٗ قَتِيْلٌ فَلَهٗ اَنْ يَّقْتُلَ اَوْ يَعْفُوَ اَوْ يَاْخُذَ الدِّيَةَ] (د چا چه مړے اُوشو نو هغه له يو د دريو کارونو نه جائز دي که قصاص اخلي يا معافي کوي يا ديت اخلي).

وصححه الالبانی فی الترمذی والارواء (۲۲۲۰)

نو پدے کښې کوم کار چه ولی د مقتول غوره کړو نو قاتل به په هغې مجبوره کولے شی۔ قرطبیؒ وائی دا رائے اصح ده د وجه د دغه حدیث د ابوشریح نه۔ (التفسیر المنیر لوهبة)۔

﴿ بِالْمَعْرُوْفِ﴾: معروف هر هغه قول او فعل ته وائی چه د هغې حُسن (ښائست) په عقل یا په شرع معلومیږی۔

دلته ترے مراد دا دے چه وارثان د مقتول به په مطالبه کښې سختی نهٔ کوی۔

﴿ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ﴾ دا کار د قاتل دے چه هغه به بغیر د ټال متهول نه دیت اداء کوی۔او بغیر د ټال متهول نه ادائیگئ ته احسان وئیلے کیږی۔ نو دواړو طرفونو ته ئے اُوفرمایل: چه یو بل سره به احسان کوئ او خپله خپله ذمه واری به سپارئ۔

﴿ ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ﴾ اشاره ده معافی کولو او دیت اخستلو ته۔او دا تخفیف ځکه دے چه اختیار راغلو په قصاص، دیت او عفوه کولو کښې۔ او په یهودیانو صرف قصاص یا معافی واجب وه او دیت اخستل ورله حرام وو۔ (مگر دوی د خپل طرف نه دا قانون بدل کړے وو)۔

او په نصاراؤ صرف عفوه واجب وه۔ قصاص او دیت اخستل ورله حرام وو لکه دا خبره ابن عباسؓ، قتادهؒ او سعید بن جبیرؒ وغیره کړیده۔

(ابن جریر الطبریؒ وابن کثیرؒ وصحیح سنن النسائی ٤۷۸۱ و٤۷۸۲)۔

﴿ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ ﴾ یعنی څوك چه د معافی کولو او دیت اخستلو نه روستو قتل اُوکړی نو دا به غټ مُعْتَدِیُ (ظالم، زیاتے کونکے) وی۔ (ابن عباسؓ)۔

او دهٔ کښې د منافقانو په شان د خداع او دهوکے عادت راغلو، نو ځکه ورله الله تعالیٰ عذاب الیم ورکوی۔ او ډیر انسانان دا قسم ظلم کوی، د الله تعالیٰ د حکم رعایت نهٔ ساتی نو بیا الله تعالیٰ دغه شان خلقو لره ذلیله کوی۔

بعض علماء وائی: د عذاب الیم نه مراد دا دے چه بادشاه له پکار دی چه دا قسم ظالم قتل کړی۔ (حسنؒ، قتادهؒ، سعید بن جبیرؒ) او اکثر اهل علم وائی چه د داسے شخص حکم د ابتدائی قاتل په شان دے، یا به قصاص کولے شی، یا به معاف کولے شی او د (عذاب الیم) نه د آخرت عذاب مراد کوی۔ (تفسیر المنار ۲/۱۳۰) او دا رائے صحیح معلومیږی۔

او کوم روایت د ابوداود کښې چه راغلی دی چه (زهٔ نهٔ معاف کوم هغه څوك چه د دیت اخستو نه روستو قتل کوی) نو هغه ضعیف دے۔په سند کښې ئے مجهول راوی دے۔ (ضعفه الالبانی فی ضعیف الجامع ٦۱۷۳: عن مطر الوراق عن رجل عن جابر وهی منقطعة ایضاً)

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰأُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۹﴾

او ستاسو دپاره په (جاري کولو د) قصاص کښې ناشنا ژوند دے اے صفا عقل والو ! دے دپاره چه تاسو کښې تقویٰ راشي۔

تفسير : اُوس د قصاص فائده بيانوي چه کله قصاص نافذ شي، نوخلق به د قتلونو نه بچ شي، متقيان به شي او ټول خلق به ژوندی پاتے شي، ولے ؟ هر سړے به يريږي که زهٔ قتل اُوکړم، صبا پرے نيولے کيږم او قصاص کيږم، نو د قتل نه به منع کيږي۔ نو پدے کښې د خلقو روحونه بچ پاتے کيږي۔ او د قاتل روح د قصاص نه بچ کيږي، نو قصاص د دوه نفسونو د ژوند سبب شو۔ (کشاف، قاسمیؒ) .... نو دا بعينهٖ د الله تعالىٰ د رحمت او حکمت سره موافقه خبره ده۔ ليکن ظالمان خلق ددے په حکمت نهٔ پو هيږي او اعتراض کوي۔ او په قصاص قائمولو کښې په خلقو ناشنا رعب راځي، خلق ددے په وجه خامخا منع کيږي، په کومه معاشره کښې چه د قصاص قانون نافذ وي، هلته د قصاص د يرے نه معاشره د قتل او وينے توئي کولو نه محفوظه وي او سکون او امن وامان حاصليږي۔

﴿حَيٰوةٌ﴾: کښې تنوين د تعظيم دپاره دے۔ يعنی يو عظيم او لوئی ژوند دے۔

په مخکنو عربو کښې ددے معنیٰ د ادا کولو دپاره داسے الفاظ مشهور وو [اَلْقَتْلُ اَنْفٰی لِلْقَتْلِ] (قتل ډير ختمونکے دے قتل لره) ليکن قرآني عبارت ددے نه په اته وجو هو سره بليغ دے اُوګوره۔ (تلخيص المفتاح)

دارنګه علامه قاسمیؒ په شل وجو سره ددے آيت کمال ذکر کړيدے۔ (محاسن التاويل ۴۴۹/۱)

﴿الْاَلْبَابِ﴾ : جمع د لُبٌّ ده خالص او صفا عقل ته وائي چه د خواهشاتو او وهمونو نه خالي وي، او پدے کښې اشاره ده چه کوم خلق د قصاص قانون ته ظلم وائي، نو هغوی کښې صحيح او خالص عقل نشته۔ او دارنګه اشاره ده چه چا کښې عقل او سوچ او فکر وي نو هغه د قتل په وخت په عاقبت کښې سوچ کوي، نو کله چه اراده د قتل کوي او پوهه شي چه زهٔ به قصاص کيږم، نو پدے سوچ سره به منع شي ځکه چه عاقل انسان د بل په هلاکولو سره خپل ځان هلاکول نهٔ غواړي۔ او که چا کښې دا سوچ او عقل نهٔ وي نو هغه د قتل نه نهٔ يريږي۔ ځکه الله تعالىٰ دلته اُولُو الْاَلْبَاب (عقلونو) والو ته خاص خطاب اُوکړو۔ (قاسمیؒ)

﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ يعنی قصاص نافذ کول سبب د تقویٰ دے۔ يا لغوی معنیٰ مراد ده يعنی دے دپاره چه تاسو بچ شئ د قتلونو نه) د قصاص په وجه په ملك کښې تقویٰ پيدا کيږي۔ او د قتلونو نه بچ کيږي۔ دا عمومي تقویٰ ده۔ او ظاهر دا ده چه شرعي تقویٰ مراد ده، لغوی تقویٰ

په هغې کښې داخل ده. گویا کښې مسلمانانو ته د تقوىٰ فضائل او خیرونه معلوم دي نو چه کله اُووئیل شي چه دا سبب د تقوىٰ دے، نو هغوی به په جلتئ سره دغه حکم اخلی او قبلوی به ئے ځکه چه دا سبب د حصول د تقوىٰ دے.

كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرَ نِ

فرض کړے شویدے په تاسو کله چه حاضر شي یو ستاسو ته مرگ که چرته پریخودلے ئے وی مال لره،

الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ حَقًّاعَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٨٠﴾

وصیت کول مور او پلار ته، او خپلوانو ته په ښائسته طریقے سره دا لازم دے په تقوىٰ والو باندے.

تفسیر : دا دویم قانون دے چه مال په شرعي طریقے سره تقسیمویٔ، نو د کور او د ملك نظام به برابر وی.

مناسبت: ○ مخکښې د روح او وینے حفاظت وو اُوس د مال حفاظت. او دواړه ضروری دی.
○ مخکښې قانون د قصاص وو اُوس قانون د اقتصاد بیانوی. چه مال ډے صحیح تقسیم شي.
○ نزدے سره ربط : مخکښې قصاص (مرگ) ذکر شو نو اُوس وائي چه د مرگ په وخت کښې صحیح وصیت پکار دے.

﴿ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمْ ﴾ د مرگ د حضور نه د هغې نخې او علامے ښکاره کیدل مراد دی ځکه چه کله مرگ په انسان حاضر شي نو بیا خو خبرے نشي کولے نو وصیت پرے څنگه فرض کیږی ؟!. (الْوَصِيَّةُ) دا نائب فاعل د (كُتِبَ) دے.او وصیت هغه مضبوطے خبرے ته وئیلے شي چه د مرگ نه روستو د هغې د کولو او جاری کولو تاکید کولے شي. دلته معنىٰ مصدری مراد ده یعني وصیت کول.

﴿ اِنْ تَرَكَ خَيْرًا﴾ ددے شرط جزاء، په نیزد بعض علماؤ مخکښې (كُتِبَ) دے یعنی که مال پریدی نو وصیت پرے فرض دے او که مال ئے نهٔ وو نو بیا پرے وصیت فرض نهٔ دے.

(خَيْر) حلال مال ته وائي.او ډیر مال ته وائی لکه دا خبره تفسیر قرطبیؒ لیکلے ده. بیا نقد وی، که سامان وی یا زمکے او جائیدادونه او کورونه وی.

○ ابن عباسؓ فرمائی : چا چه شپیته دیناره پرینخودل هغه خیر (یعنی ډیر مال) نهٔ دے پریخے. ○ طاوس وائی : خیر اتیا دینارو ته وائی. ○ قتادهٔ وائی : زر دیناره یا ددے نه زیات ته خیر وائی. ○ ابن ابی ملیکه عائشےؓ ته اُووئیل : زما د وصیت اراده ده، هغې ورته اُوفرمایل : څومره

مال ږدے دے؟۔ هغه اُووئيل : درے زره۔ وے فرمايل :خومره اولاد دی؟۔ وے وئيل : څلور۔ عائشے اُوفرمايل : الله تعالىٰ فرمائی: (اِنْ تَرَكَ خَيْرًا) (كه ډير مال ئے پريخے وی) او دا درے زره خو معمولی شے دے نو خپل اهل وعيال ته ئے پريده، دا به ستا دپاره ډيره غوره وی۔

(قرطبی۲/۲٦١) وابن كثير، الكشف والبيان للثعلبی)

○ بعض وائی : اَلْمَالُ الْكَثِيْرُ الْفَاضِلُ عَنْ نَفَقَةِ الْعِيَالِ ۔ (هغه ډير مال چه د اهل وعيال د نفقے نه زياتی وی)۔ لكه دغه روايت د عائشےؓ پرے دليل دے۔

○ او علی رضی الله عنه په دريمه حصه د مال باندے وصيت كولو ته ډير شے وئيلے دے۔

د امام زهرىؒ نه نقل دی چه خير هر قليل او كثير (لږ او ډير) ته شامل دے۔ (زاد المسير١/١٨٢)

﴿لِلْوَالِدَيْنِ﴾ لام متعلق دے د(الْوَصِيَّةُ) سره يعنی وصيت به د مور او پلار وغيره په حق كښ كوی۔

﴿بِالْمَعْرُوْفِ﴾ يعنی د عرف مطابق۔ ○ او بِالْعَدْلِ لَا وَكَسَ فِيْهِ وَلَا شَطَطَ۔ (قرطبیؒ)

يعنی په عدل او انصاف سره چه نۀ په كښ نقصان وی او نۀ زيادت۔

(حقاً) په پرهيزګارانو باندے دا لازم دے چه وصيت به په مال كښ كوی چه زما مال دومره دومره مور او پلار له وركړئ او دومره نورو خپلوانو له۔

فائده: دا آيت كريمه په ابتداء زمانه كښ ددے دپاره نازل وو چه كله به يو شخص مړ كيدو نو مور او پلار وغيره ته به ئے وصيت كولو چه دومره دومره وركړئ، او ميراث به بچو ته پاتے كيدو، او نورو ميراث خورو ته به د وصيت مطابق مال وركيدے شو، او دا ئے د مړ كيدونكی اجتهاد ته او د والدين وغيره (مُوْصٰی لَهُمْ) حالت ته سپارلی وو۔ بيا الله تعالىٰ دا حكم د ميراث په آيت او په احكامو د ميراث سره منسوخ كړو۔ كوم چه په سورة النساء كښ راغلی دی۔

۲- دويم په حديث :...... [اَلَا لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ] ...... (احمد، ابوداود، ترمذی بسند صحيح)

(يعنی د وارث دپاره وصيت نشته)

ددے حكم د منسوخ كولو حكمت دا دے چه يو سړی ته به مور پلار ګران وو نو بچو ته به ئے څه نۀ پريخودل، په ټول مال به ئے وصيت اُوكړو۔ او چا ته به بچی ګران وو، نو مور او پلار ته به ئے معمولی شان څه وصيت اُوكړو، نو ظلم پكښ راتلو پدے وجه الله پخپله تقسيم اُوكړو۔ ﴿لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا﴾ ځكه چه انسان ته نۀ ده معلومه چه كوم يو تن هغه دپاره فائده مند دے) نو وصيت ته حاجت پاتے نشو۔ (او دا قول د ابن عباسؓ دے)۔

امام احمدؒ د محمد بن سيرينؒ نه نقل كړی چه ابن عباس رضی الله عنهما سورة البقره تلاوت كړه او كله چه دے آيت ته راورسيدو نو وے وئيل چه دا آيت منسوخ شويدے۔

۲- دويم : دا آيت غير منسوخه معنىٰ هم لري : د معروف نه مراد قانون شرعي دے۔ او الوصية نه مراد (اَلْوَصِيَّةُ بِتَوْرِيْثِ الْوَارِثِ) دے (يعني وصيت كول په ميراث وركولو وارثانو ته) (يا هغه وصيت چه الله تعالىٰ په سورة النساء كښ ذكر كړيدے په (يُوْصِيْكُمُ الله) سره)۔ (قاسمیؒ)

نو مطلب دا شو چه كله يو تن ته مرګ حاضريږي نو داسے به وائي چه زما مال تاسو د شريعت مطابق تقسيم كړئ او وارثانو له ضرور حق وركړئ، زما لونړو له هم حق وركړئ، ښځو له ئے هم وركړئ، ماشومانو له هم۔ او په هغه وصيت عمل اُوكړئ كوم چه په سورت نساء كښ راغلے دے چه هغه قانون شرعي دے۔ او د هيڅ وارث حصه مهٔ كموئ)۔ دا وصيت كول خاصكر په هغه وخت كښ فرض دي چه كله انسان يريږي چه زما بچي وغيره به نورو ته ميراث ورنكړي۔ او په حكم شرعي به عمل اُونكړي۔ ځكه اكثر خلق زنانو له ميراث نهٔ وركوي، نو دا وصيت بيا په متقيانو (يعني ايمان والو) لازم دے۔ متقيان ځكه ذكر كوي چه تقوىٰ يو ضروري شے دے مسلمانانو ته ددے منقبت او درجه معلومه وه نو ځكه الله فرمائي : دے كښ تقوىٰ ده او كه تهٔ ځان ته متقي وائے نو دا وصيت ضروري دے۔

او پدے كښ دا هم داخل دي چه انسان وصيت اُوكړي چه زما په مال كښ غلط خيراتونه، اسقاطونه، ماښامونه، دريمے او كليزے مهٔ كوئ۔

۳- دريم دا چه بعض مفسرينو وئيلي دي چه د والدينو نه مراد كافر مور او پلار دي ځكه هغوي ميراث نهٔ وړي، او معنىٰ دا ده چه دكافر مور او پلار په حق كښ دا مستحب ده چه هغوي ته وصيت اُوكړي يا نور خپلوان چه ميراث خوارهٔ نهٔ وي، د هغوي دپاره څهٔ وصيت اُوكړي۔ خو دا به صرف د مال په دريمه حصه كښ وي۔ نو حقاً به په معنىٰ د مستحب او لائق سره وي۔ رسول الله ﷺ سعد بن ابي وقاصؓ ته صرف د دريمے حصے دمال وصيت كولو اجازت وركړے وو۔ او هغے ته ئے هم زيات وئيلے وو۔ (فتح البيان)۔

مسئله مهمه : وصيت وارثانو ته منسوخ شوے دے ليكن هغه خپلوان چه وارثان نهٔ دي هغوي دپاره د وصيت حكم باقي دے، نو د هغوي په باره كښ وصيت كول ددے آيت د وجه نه لازم دي۔ يعني كه مور او پلار ته او دغه شان نورو وارثانو ته وصيت نهٔ كوي صحيح ده، ليكن د هغه خپلوانو په باره كښ به وصيت كوي چه غريبانان وي، پدے شرط چه څه ناڅه مال ئے پريښے وي۔ مثلاً داسے به وائي چه زما ورور، كاكا، ترهٔ ځوي، ماما وغيره ته زما د مال نه دومره دومره حصه وركړئ۔ دا هم يو ضروري حكم دے ليكن ډير خلق ددے نه غافله دي۔ او دا پدے آيت كښ ذكر دے۔

او دغه شان په حديث د عبد الله بن ابي اوفیٰ کښې راغلي دي۔ چه دهٔ ته طلحهٔ اُووئيل : [كَيْفَ كَتَبَ عَلَى النَّاسِ الْوَصِيَّةَ وَلَمْ يُوْصِ]۔ چه رسول الله ﷺ په خلقو وصيت څنګه لازم کړے او خپله ئې وصيت نهٔ دے کړے؟۔ هغه اُوفرمايل : اَوْصٰى بِكِتَابِ اللهِ۔

(رسول الله ﷺ د الله په کتاب وصيت کړے)۔ (بخاری کتاب الوصايا) يعنی د الله په کتاب کښې د وصيت حکم موجود دے چه د چا سره مال وی نو د غير وارثانو خپلوانو دپاره به وصيت کوی۔ دارنګه دے آيت کښې دا حکم ذکر دے او ناسخ ئې نشته ۔ نو پدے باندے عمل کول پکار دی۔ او دا وصيت به د مال په دريمه حصه کښې وی۔ اوګوره الدين الخالص (۲) او احکام الجنائز للالبانی ص (۵)۔

فَمَنْ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَا اِثْمُهٗ
نو چا چه بدل کړو دا وصيت پس د هغے نه چه وائے وريدو (او پو هه شو په هغے) نو يقيناً ګناه ددے
عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ اِنَّ اللهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۸۱﴾
په هغه کسانو ده چه بدلوی دا وصيت، يقيناً الله اوريدونکے، په هر څه پو هه دے۔

تفسير : پدے آيت کښې د وصيت د بدلولو نه منع ده کله چه د شريعت مطابق وی۔ او که چا بدل کړو نو ګناه به صرف په هغه راځی او د وصيت کونکی اجر به د الله په نيز ثابت وی۔ د تبديلی صورتونه دا دی : (۱) وصيت د يو دپاره اُوشی او دا ئې بل چا ته ورکړی۔
(۲) وصيت ډير وی دا ئې کم کړی۔ (۳) وصيت وی دا ئې ختم کړی، يا ئې پټ کړی۔
(سَمِعَه) نه اَوريدل او بيا پرے پو هيدل مراد دی۔
﴿فَاِنَّمَا اِثْمُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ﴾ دا بدلونکے ګناهګار دے او وصيت کونکے ګناهګار نهٔ دے، او په سميع عليم کښې زورنه ده چه الله تعالیٰ ستا په حال او نيت عالِم دے۔

فَمَنْ خَافَ مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا
نو هغه څوك چه يريږی د وصيت کونکی نه د اوړيدو د حق نه (په خطا) او يا د ګناه نه (قصداً)
فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ اِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۸۲﴾
نو صلح اُوکړی په مينځ د دوی کښې نو نشته هيڅ ګناه په هغهٔ، يقيناً الله ډير بخونکے، رحم کونکے دے۔

تفسير : مخکښې ئې اُوفرمايل : چه عام وصيتونه به نهٔ بدلوی، نو دلته وائی چه بعض

وصيتونه بدلول جائز دي، هغه دا دے چه وصيت كونكي غلط (د شريعت خلاف) وصيت كړيدے۔ يا ئے كوي، او څوك هغه برابر كړي، او د وارثانو ترمينځ جوړ ځ راولي، نو دهٔ باندے څهٔ ګناه نشته بلكه ثواب ئے كيږي۔ مثلاً وصيت كونكے بعض وارثانو ته په ميراث نهٔ وركولو باندے وصيت اُوكړي، چه جينكو له ميراث مهٔ وركوئ، يا د ثلث نه زيات وصيت بل چا دپاره كوي۔ يا په بدعاتو او رواجونو او قطع رحمئ باندے او د مړي په نقل كولو او په غلط خيراتونو او د خپل ځان پسے د سنډا او ميخے په ذبح كولو باندے وصيت اُوكړي، نو يو تن راشي او د هغه دا وصيت د شريعت مطابق كړي، نو پدے بدلولو د وصيت كښ څهٔ ګناه نشته۔ يا دا چه يو وصيت كونكے د چا دمحبت د وجه نه غلط وصيت كوي، نو يو وارث اُووائي : چه زما په وجه څهٔ له غلط وصيت كوي، ما له پكښ دومره راكړه او دومره مهٔ راكوه، نو وصيت ورله بدل رابدل كړي، دے دپاره چه دغه وصيت كونكے ګناهګار نهٔ شي۔ نو دا خير دے د اصلاح اراده ئے ده۔

﴿ فَمَنْ ﴾ ددے نه مراد وارث دے يا يو دريمګړے انسان دے۔

﴿ جَنَفًا﴾ (جنف) ديته وائي چه (په خطائي او جهالت سره) د حق نه ميلان او كږيدل اُوشي، يعني څهٔ كسانو ته زيات مائل شي او د نورو حق برباد كړي۔ او اثم ديته وائي چه قصداً په عِلم سره داسے كوي۔ (ايسر التفاسير) ۔ بعض برعكس فرق كوي۔ ۲- يا د (اثماً) نه مراد د ګناه وصيت دے چه د هغے بدلول او په هغے باندے عمل نكول ضروري دي۔

﴿ فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ ﴾ يعني په ژوند ددے مړي كښ ورله وصيت برابر كړي۔ يا د هغه د مرګ پس وصيت د شريعت مطابق كړي۔ (بَيْنَهُمْ) ضمير وصيت كونكو ته يا وارثانو ته راجع دے، يعني وارثان خپل مينځ كښ د مړي وصيت د شريعت مطابق كړي۔ يا هغه چا ته چه وصيت ورته شوے وي۔ ﴿ فَلَا اِثْمَ عَلَيْهِ ﴾ يعني پدے اصلاح كونكي ګناه نشته بلكه د ثواب حقدار دے، خو د ګناه نفي ئے اُوكړه ځكه چه ظاهر كښ وصيت بدلول دي۔

﴿غَفُوْرٌ﴾ يعني كله چه وصيت كونكي د غلط وصيت اراده كړي وي او څوك ئے منع كړي او هغه منع شي نو الله ورته بخنه كوي۔

﴿رَحِيْمٌ﴾ او په هغه چا رحم كونكے دے چه د وصيت كونكي اصلاح كوي۔

مسئله : ددے آيت نه معلومه شوه چه يو بنده د يو شي وقف كوي نو ددهٔ الفاظ د شارع په شان نهٔ دي۔ نو پدے كښ رد دے په هغه فقهاؤ چه وائي چه د وقف كونكي الفاظ د شارع د الفاظو په شان دي۔

مسئله : حكم او فيصله په ګمان جائز ده لكه دلته دا سړے پريدلے دے چه امكان شته چه

غلط وصیت اُوکړی، نو څکه ورله اصلاح کوی۔ او که یقیناً غلط وصیت وی، نو بیا خو بدلول فرض دی کما فی القرطبیؒ۔

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا کُتِبَ عَلَیْکُمُ الصِّیَامُ کَمَا کُتِبَ
اے ایمان والو : فرض کړے شوی دی په تاسو روژے نیول لکه څنګه چه فرض کړے شوے وے
عَلَی الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِکُمْ لَعَلَّکُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾
په هغه کسانو چه ستاسو نه مخکښ وو دے دپاره چه تاسو تقویٰ حاصله کړئ۔

تفسیر : ربط : بل قانون د روژے بیانوی۔ چه دا به په عام ملك کښ وی شخصی قانون هم دے او اجتماعی قانون هم دے۔ او په روژه کښ فائده دا ده چه خلقو کښ تقویٰ پیدا شی او دا مقصودی شے دے، دا د جهاد دپاره تدریب (ټریننګ) دے۔ د مسکینانو د احوالو نه به خبر شی چه په هغوی باندے څومره سختیانے تیریږی۔ نو انسان به مال لګوی، لهذا دا د غمخورئ او مال لګولو ذریعه ده ۔ د شیطان لارے بندیږی۔ څوك چه یوه میاشت د خولے او د بدن کنټرول اُوکړی، ټول کال ورته الله تعالیٰ د نیکیانو توفیق ورکوی او روژه د نفس تزکیه پیدا کوی، نو دلته د روژے اود هغے بعض احکام بیانیږی۔

(۲) مخکښ د نیکئ درے ارکان د اسلام – ایمان، مونځ او زکوٰة – بیان شو نو اُوس څلورم رکن د اسلام روژه ذکر کوی۔

(۳) دریم ربط دا دے چه مخکښ د مال حفاظت او خپل نفس د حرامو نه محفوظ ساتل وو۔ اُوس دلته ترقی ده د نفس حفاظت دے د حلالو نه په بعض اوقاتو کښ۔

او ایمان والو ته خطاب څکه کوی چه د روژے په فائده باندے ایمان والا پو هیږی۔

﴿کُتِبَ﴾ روژه د هجرت په دویم کال په شعبان میاشت کښ فرض شوه، او حکم اُوشو چه تاسو به په راتلونکی رمضان کښ روژے نیسئ۔

روژے د مخکښ نه هم وے لکه اول کښ ایام البیض (د میاشتے دیارلسم، څوارلسم، پنځلسم) وے، او دارنګه د عاشورے ورځ وه لیکن بیا د هغے فرضیت منسوخ شو او د رمضان مکمله میاشت فرض شوه۔ او دا څکه روستو فرض شوه چه محبوب څیزونه او شهوات پریخودل په نفسونو باندے ډیر ګران کار وی، خو کله چه په توحید او مانځه سره د دوی نفسونه تیار شو او د قرآن اوامرو سره اموخته شو نو حکم د روژو راغلو۔ (قاسمیؒ)۔

فائده : حافظ ابن قیمؒ فرمائي : د روژے د فرضيت درے مرتبے دي :

۱- اول کښې په طريقه د اختيار سره فرض شوے وے چه روژه نيسي او که د هرے ورځے په بدله کښې مسکين ته طعام ورکوي. ۲- بيا د اختيار نه لزوم ته نقل شو او طعام ورکول د شيخ فاني او بوډۍ ښځے په باره کښې پاتے شو. ليکن که روژه دار به د طعام ورکولو نه مخکښې اُودهٔ شو نو خوراك څکاك به پرے تر راتلونکي شپے پورے حرام وو، بيا دا منسوخ شو په دريم حکم، په کوم باندے چه تر قيامته پورے عمل دے. هغه روستو راځي. (زاد المعاد، قاسمیؒ)

(الصيام) جمع د صوم ده او کله په معنیٰ مصدري سره هم استعماليږي يعني روژه نيول. روژه په شريعت کښې ديته وائي چه انسان د صبا صادق راختلونه پس تر ماښامه پورے د خوراك، څکاك، جماع او هر قسمه ګناه نه ځان اُوساتي سره د نيت کولو نه.

﴿كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ يعني دا نوے عبادت نهٔ دے بلکه دا د پخوا نه شروع دے، پدے کښې مقصود اُمت ته تسلي ده چه مهٔ خفه کيږئ، دا څه ابتدائي عمل نهٔ دے بلکه په مخکنو هم دا عمل لازم کړے شوے وو نو تاسو له هم پدے عمل پکار دے.

○ دارنګه پدے کښې ددے اُمت فضيلت ته اشاره ده چه د خپل فضيلت سره سره ئے د پخوانو امتونو اعمال هم راجمع کړيدي.

﴿كَمَا كُتِبَ﴾ دا تشبيه په څهٔ کښې ده ؟ پدے کښې دوه قوله دي (۱) اول دا چه دا تشبيه په شمار او وقت کښې ده، او پدے کښې بيا اقوال دي : ○ يو دا چه د شمار نه مراد درے ورځے دي چه هغے ته ايام البيض وائي (يعني د مياشتے ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاريخ) چه دا په پخوانو فرض وے نو په تاسو هم فرض. او د عاشوراء ورځ هم فرض وه. او دا بيا منسوخ شو په روستو آيت (شهر رمضان) سره. نو د روستو اياماً معدودات نه مراد دغه ايام البيض شوے.

○ دويم قول دا چه ددے نه عينِ رمضان مراد دے چه دا په يهود او نصاراؤ فرض وو ليکن نصاراؤ په کښې د ځان نه زياتے اُوکړو او پنځوس ورځے ئے ترينه جوړے کړے. (اللباب)

او د هغے وجه دا وه چه نصاراؤ باندے يوه مياشت روژے وے نو دوي به په اُوړي کښې نهٔ نيولے، او د اُوړي او ژمي په درمياني ورځو کښې به ئے نيولے (يعني پسرلي کښې) بيا به ئے ددے کار په کفاره کښې شل ورځے زياتي نيولے، نو پنځوس ئے ترے جوړے کړے. (ماوردیؒ عن الشعبیؒ).

او بعض وائي چه دوي به يوه ورځ د رمضان نه مخکښې او يوه ورځ روستو احتياطي روژه نيوله، نو دوي به دغسے کار کولو تردے چه روستنو خلقو پنځوس روژے مقرر کړے. ددے وجه نه د شك د ورځے د روژے نه زمونږ په دين کښې منع راغله. (خازن).

يا كله چه دوى روژے د خپل موسم نه اُووستلے نو ددے په كفاره كښې ئے لس ورځے زياتے كړے، بيا د دوى يو بادشاه بيمار شو او نذر ئے اُوكړو، كه زۀ روغ شوم نو اُووه ورځے روژے به نيسم بيا روسنو بل بادشاه راغلو چه دے درے ورځو له څۀ شويدى؟ بس هغه ترے پنځوس جوړے كړے. (رازیؒ)

او دا خبره غلطه ده چه په پخوانو شپږ مياشتے روژے فرض وے. غوره دا ده چه په ټولو امتونو رمضان فرض وو باقى بدعات وو.

(۲) **دويم قول** : دا تشبيه صرف په فرضيت كښې ده، او په كيفيت د فرضيت كښې نۀ ده ځكه چه مونږ ته معلومه نۀ ده چه په پخوانو اُمتونو باندے په كوم كيفيت روژه فرض وه. دارنګه په تير شوى اُمتونو كښې د خبرو نه بنديدو روژه هم وه لكه په سورة مريم (۲٦/۱۱) كښې په قصه د زكريا او مريم عليهما السلام كښې روژه د خبرو كولو نه ذكر شويده. نو دلته مقصود صرف په فرضيت كښې تشبيه ده.

﴿ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ ﴾ ددے نه مراد ټول اُمتونه دى د آدم ﷺ نه واخله تر آخرى اُمت پورے. (قرطبى عن مجاهدؒ والنيسابورى عن علىؓ والماوردى عن قتادة) . او بعض وائى يهود او نصارىٰ مراد دى. يعنى اُمت د موسىٰ او عيسىٰ عليهما السلام. (مجاهد- النكت للماوردى).

علامه قاسمیؒ د تورات او انجيل او د بنى اسرائيلو د كتابونو نه ډير شواهد نقل كړى پدے خبره چه روژه په هغوى هم فرض وه. (محاسن التاويل ۱/ ٤٥٦).

﴿ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ يعنى كله چه انسان د خوراك، سكاك او د جماع نه د الله دپاره بند شى او د الله په بندګئ كښې مشغول شى، نو په هغه كښې تقوىٰ پيدا كيږى. نو د روژے دا فائده ده چه انسان كښې تقوىٰ پيدا شى، خو هغه روژه چه بنده پكښې د خُلے، د سترګو، د لاسونو، د غوږونو او د خپو حفاظت اُوكړى داسے نه چه هسے خُلے ته ئے كورے اچولے وى، خوراك او سكاك نه ئے ځان بند كړے وى او نور هر قسمه ګناه كوى. داسے روژه انسان كښې تقوىٰ نۀ راولى. نبى ﷺ فرمائى : ((څوك چه (په روژه كښې) دروغ (او غلطے خبرے) او عمل په دروغو باندے پرے نۀ ږدى نو الله ددے هيڅ پرواه نۀ كوى چه دا انسان صرف خوراك څكاك پريدى)). (احمد، صحيح بخارى : ۵۷۱۰)

او پدے فائده ذكر كولو كښې دا فائده ده چه ايمان والو ته خو تقوىٰ ډير بهترين عمل ښكارى نو دا ترغيب وركوى تعميل ددے حكم ته چه هركله په روژه سره انسان كښې تقوىٰ پيدا كيږى، او تقوىٰ خو بهترين عمل دے نو پدے روژه باندے عمل كول پكار دى چه تقوىٰ حاصله شى.

سوال : په رمضان كښې شيطانان تړلے شويدى ليكن خلق بيا هم ګناه كوى جنګونه، كنځلے، خيانتونه كوى، دروغ وائى ؟.

جواب : په رمضان کښې اګرکه شیطانان تړلے شوی وی، لیکن د انسان نفس دا کار کوی او هغه د شیطان په وسوسو په ګناهونو اموختَه شوے وی. ﴿اِنَّ النَّفۡسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ﴾ (یوسف).

۲- **جواب** : د شرعی روژے تعریف مخکښې بیان شو چه د هر قسم ګناه نه ځان اُوساتی نو هله به تقویٰ پیدا کیږی. او مخکښې حدیث پرے دلیل دے. ددے وجه نه د ابن حزمؒ مذهب دے چه څوك په روژه کښې ګناه اُوکړی روژه ئے ماته ده. ځکه دغسے روژه خو کافر او حیوانات هم نیولے شی. او عام اهل علم وائی چه اجر ئے نهٔ کیږی اګرکه غاړه ئے آزاده ده.

فوائد الصیام :

په روژه کښې مقصد (۱) نفس د خواهشاتو او شهواتو او محبوب څیزونو نه بند ساتل دی.

(۲) ...... قوت شهوانی ورسره برابریږی چه بیا نفس د خپل نعمت او سعادت حاصلولو په طلب کښې لګیا کیږی. (۳) ...... لوږه او تنده د نفس تیزی او جوش ماتوی.

(٤) ...... د فقیرانو او وږی خلقو حالت مخے ته کیږی.

(٥) ...... د شیطان لارے بندیږی ځکه چه د خوراك څکاك نهٔ کولو په وجه لارے تنګے کیږی.

(٦) ...... د اندامونو قوت رابندیږی او د مزاج او طبیعت حکم ته نهٔ پریخودلے کیږی چه هغه ئے په دنیوی او اُخروی ضررونو کښې واقع کړی.

(۷) ...... هر اندام د خپلے سرکشئ نه رابندیږی او هغے ته واګے وراغوستولے شی پدے وجه روژه د متقیانو واګے او د مجاهدینو ډهال او د ابرار او مقربینو ریاضة دے.

(۸) ...... روژه د بنده او د هغه د رب په مابین کښې راز دے چه هیڅوك پرے نهٔ خبریږی ځکه چه بنده د خپل رب د محبت او رضا دپاره خپل خواهشاتؒ او مزے پریدی ځکه الله فرمائی چه روژه صرف زما دپاره ده. او زهٔ به ئے بدله ورکوم. لنډه دا چه روژه د ظاهری او باطنی اندامونو او د قوتونو په حفاظت کښې عجیب تاثیر لری او د فاسدو مادو نه ئے ساتی نو روژے سره د زړهٔ او د اندامونواو د روح صحت راځی او شهواتو چه کوم اثر ختم کړے وی هغه ورته راواپس کوی نو دا په تقویٰ حاصلولو ډیر لوئی مددګار دے. [قاسمی ۱/٤٥٦].

د انسان ظاهری بدن په ظاهری غذا سره پرورش کوی او په دهٔ کښې روح دے، د هغے دپاره هم یوه غذا پکار ده، نو لکه څنګه چه روح آسمانی او الهی دے، نو دا به د دنیا په غذا سره پرورش نهٔ مونده کوی، بلکه دا به د الله په تعلق سره غذا حاصلوی، که دا غذا ورنکړے شی نو بدن به د اُوچتو مرتبو حاصلولو نه کوتاه پاتے شی.

أَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا اَوْعَلٰى سَفَرٍ
ورځې شمار کړے شوے، نو هغه څوك چه وى ستاسو نه مريض يا وى په سفر (او روژے اُونۀ نيسى)
فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ
نو په دۀ باندے شمارل دى د ورځو نورو (دپاره د قضا راوړلو) او په هغه کسانو چه طاقت د روژے لرى، فديه ده
طَعَامُ مِسْكِيْنٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ
چه طعام د مسکين دے (د يوے ورځے دپاره) نو چا چه په خوښيے سره اُوکړو يو نيك کار نو دا ډيرغوره ده هغۀ له
وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸٤﴾
او چه روژه اُونيسئ دا ډيره غوره ده ستاسو دپاره که چرته تاسو پو هيږئ۔

تفسير : پدے آيت کښې تسلى ورکوى چه دا يو څو ورځے دى مشکل کار نۀ دے۔ او بيا د روژے د رخصت دپاره عذرونه او د فدئيے حکم بيانوى۔

﴿ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَاتٍ ﴾ دا منصوب دے دلته فعل (صُوْمُوْا) (روژے نيسئ) پټ دے۔

او پدے کښې بعض مفسرين وائى چه ددے نه مراد ايام البيض دى۔ ليکن صحيح دا ده چه ددے نه د رمضان د مياشتے ورځے مراد دى، خو ديته ئے د تسلى ورکولو دپاره يو څو ورځے وئيلى دى چه په ځان ئے بوج مۀ ګنړئ۔ او ورسره رخصتونه هم شته، نو هر قسمه حرج ئے ختم کړيدے۔

فائده : د روژے د فرضيت د اعلان نه روستو په څلورو طريقو سره ئے د هغے د اسبابو د آسانوالى بيان اُوکړو (۱) كَمَا كُتِبَ۔ يعنى دا يواځے په تاسو نۀ دى فرض۔ نو يو کار چه عام مقرر شى هغه انسان ته آسان شى۔ (۲) لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۔ هر شے چه د تقوىٰ وسيله وى، نو انسانانو ته د هغے حاصلول آسانيږى ځکه چه فائده پکښې ښکارى۔

(۳) اَيَّامًا مَّعْدُوْدَات ۔ (يو څو ورځے دى) يعنى نهه ويشت يا ديرش او ډيرے مياشتے او کلونه نۀ دى۔ نو نيول ئے آسان دى۔ (٤) که څوك په سفر کښې وى، يا بيمار وى او د روژے نيولو طاقت نۀ لرى نو روژه ماتول ورله جائز دى، نو څومره آسان حکم شو لهذا ددے نه روستو هم ددے نۀ پوره کول به ډيره بے وفائى وى۔

د صوم رمضان رخصتونه

د رمضان روژه : ۱ – په هغه چا فرض نۀ ده چه (الشيخ الخرف) وى يعنى عقل ئے د بوډاوالى په

وجه خراب شوے وی۔ او په داسے شخص فدیه هم نشته۔

۲- الشیخ الفانی : هغه بوډا چه عقل ئے په ځائے دے، لیکن روژه ورته سخت تکلیف ورکوی، نو هغه ته شریعت وئیلی دی چه روژه مهٔ نیسه او فدیه ورکړه۔ لکه دا د صحابه کرامؓ نه نقل ده او دے آیت کښ ورته اشاره ده۔

۳- مریض ته اجازت دے چه فی الحال روژه اُونهٔ نیسی او قضائی راوړی۔

٤- حامله (بارداره) یا مُرضعه (تے ورکونکے) ښځے ته چه په روژه نیولو کښ تکلیف وی، نو روژه دِے ماته کړی، او روستو به قضائی راوړی۔ دا هم د مریض په حکم کښ دی۔

۵- په ماشومانو هم لازم نهٔ ده۔

٦- او په ابتداء د اسلام کښ دا وه چه روغ انسان ته هم اختیار وو، روژه نیسی او که فدیه ورکوی۔ځکه ابتداء کښ د روژو مسئله سخته وه۔ روستو آیت ﴿فَمَنۡ شَهِدَ مِنۡكُمُ الشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ﴾ سره منسوخ شو۔

(مَرِيضًا) د مریض نه مراد بعض خلق وائی هغه دے چه آسمان او زمکه نهٔ پیژنی۔ لیکن دا خبره صحیح نهٔ ده۔ بلکه د مریض نه مراد هغه بیمار دے چه د عامو خلقو نه ئے عادت جدا وی لکه تبه، اسهال، سخت سر درد ورته لګیدلے وی، اُلتیٔ ورځی۔ چه روژه ورته تکلیف ورکوی، نو د ماتولو اجازه شته۔ او داسے معمولی بیماری هم نهٔ ده مراد چه د هغے سره د روژے نیولو سخت تکلیف نهٔ وی۔

﴿اَوۡ عَلٰى سَفَرٍ﴾ د سفر نه مراد شرعی سفر دے چه د عامو اهل علمو په نیز (اته ځلویښت میله) دے او غوره دا ده چه په عرف کښ کوم سفر مراد وی، بس هغے کښ اجازه د روژے ماتولو شته اګرکه تکلیف ورته نهٔ وی، ځکه چه نفس سفر سبب د رخصت دے ځکه چه دا قائمقام د مؤنة او مشقت دے۔ او مسافر دپاره روژه ماتول به کله جائز وی او کله واجب او کله به ماتول او نهٔ ماتول دواړه برابر وی۔ چه د هغے تفصیل په احادیثو کښ راځی۔

په حالت د سفر کښ روژه نیول او ماتول دواړه د رسول الله ﷺ نه ثابت دی۔ ددے وجه نه ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ (په سفر کښ) روژه نیولے هم ده او افطارئے هم کړیدے نوځوك چه غواړی روژه دِے نیسی، او ځوك چه غواړی روژه دِے ماته کړی۔ (متفق علیه)۔

۲- د بعض خلقو په نیز په سفر کښ روژه نیول افضل دی او د بعضو په نیز افطار غوره دے، لیکن صحیح دا ده چه دا دواړه خبرے مطلق نهٔ دی، بلکه که سفر داسے وی چه په هغے کښ هیڅ تکلیف او پریشانی نهٔ وی، او نهٔ د دشمن مقابله وی، نو روژه نیول افضل دی او که روژه نیولو

سره تكليف راځي، يا د ملګرو خدمت کول ئې غرض وي، نو بيا ورله روژه ماتول افضل دي.
البته که يو انسان د رخصت نه نفرت کوي او زړه ئې نهٔ مني، او ددې په وجه روژه ماتونکو ته سپك ګوري، نو دهٔ له روژه نيول حرام دي لکه رسول الله ﷺ ته د څه کسانو نه اُورسيدل چه نبي ﷺ روژه ماته کړه او هغوی ماته نهٔ کړه نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل: [أُولَٰئِكَ الْعُصَاةُ] (همدا خلق نافرمان دي) (صحيح الترمذي بسند صحيح) او بل حديث دے: [لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصِّيَامُ فِي السَّفَرِ] (مسند احمد، ابوداود، نسائي بسند صحيح)، (په سفر کښې روژے نيول نيکي نهٔ ده).
دا هم پدے صورت باندے محمول دے.
الله رب العالمين د سفر او مرض سره هيڅ قسم قيد او شرط اُونهٔ لګولو، نو پدے کښې د ځان نه د سختۍ پيدا کولو دپاره شرطونو لګولو ته هيڅ ضرورت نشته، بلکه د الله مقصد اُمت سره آسانۍ کول دي، او په دے قيد نهٔ لګولو کښې به داسے حکمت وي چه هغه به زمونږ ذهن ته نهٔ راځي ځکه چه دا خطاب ايمان والو ته دے او هغوی عبادتونه د رخصت تالاش کولو دپاره نهٔ کوي. د روژے او د هغې د رخصت متعلق تفصيلي بحث په تفسير (في ظلال القرآن د سيد قطب) وغيره کښې اُوګورئ.
د سفر د شروع نه مخکښې روژه ماتولو کښې اختلاف شته، ليکن صحيح دا ده چه که چا په کور کښې يا په کلي کښې روژه ماته کړه او بيا سفر ته روان شو نو جائز ده د صحابه کرامؓ نه نقل دي. آثار په تفسير القاسمي (۴۶۰/۱) او ابوداود کتاب الصوم کښې کتلے شي. والتفصيل في الدين الخالص (۱۳۲/۶)
د (فَمَنْ) دپاره جزاء پټه ده يعني (وَلَمْ يَصُمْ) يعني هر يو ددے کسانو روژه اُونهٔ نيوله. نو:
﴿ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ﴾ يعني د پريخودلو روژو مطابق قضاء دے راوړي، لکه لس ترے قضاء شوي دي نو نورو ورځو کښې دے د هغې قضائي راوړي.
او د (ايام اخر) د نورو ورځو تعيين ئې نهٔ دے کړے نو دا دليل دے چه په قضائي راوړلو کښې پرله پسے والے او زر نيول شرط نهٔ دے، او په روستو کولو کښې ئې کفاره هم نشته. او همدا خبره غوره ده. هاؤ، زر نيول ئې افضل دي. فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ باندے عمل کول دي.
دارنګه دا دليل دے چه که دے انسان ته د نورو ورځو موقعه ملاؤ شوي وي، نو هله به قضاء راوړي او که موقعه ورته نهٔ وي ملاؤ شوي، او په رمضان کښې يا د اختر په ورځ وفات شو او د قضائي موده ورته ملاؤ نشوه نو په دهٔ باندے نهٔ قضاء شته او نهٔ کفاره. نو حيله د اسقاط ختمه شوه.

حیلهٔ اسقاط

ددے وجه نه دلته مسئله د اسقاط بیانیږي : په شریعت کښې اسقاط صرف د روژو راغلے دے او هغه هم په دوه طریقو دے : (۱) د مړي میراث خور به د هغهٔ د طرف نه روژه اُونیسي۔
حدیث کښې دي : ...... [مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ] ...... (صحیح بخاري بروایة عائشة)
(څوك چه مړ شي او په هغه باندے روژے وي نو د هغه د طرف نه به وارث روژه نیسي)
(۲) دویم : فدیه ورکول چه هغه پنځلس کیلو وړهٔ دي۔ روستو راځي۔
نو د اسقاط مسئله آسانه وه، لیکن خلقو د یو بدعت نه بل بدعت پیدا کړو، پدے کښې ئے د مانځه فدیه هم راپیدا کړه، حال دا چه د مانځه فدیه په دین کښې نشته۔ نهٔ د نبي ﷺ، نهٔ د صحابه کرامو او نهٔ د تابعینو او نهٔ د ائمه اربعو نه نقل ده بلکه دا بے دیني ده ځکه په اسلام کښې د مانځه قضاء کول نشته۔ صحیح بخاري کښې دي : (لَا كَفَّارَةَ لَهَا اِلَّا ذٰلِكَ) د مانځه کفاره نشته مگر همدا مونځ کول دي) بلکه فقهاءِ احنافو د مانځه فدیه د امام محمدؒ د یو اُمید نه پیدا کړه چه هغه وئیلي وو چه زما اُمید دے چه د مانځه فدیه به قبوله شي۔
نو فقهاءِ احنافو د اُمید نه دین جوړ کړو۔ او بیا ئے پکښې دا خبره راپیدا کړه چه یو انسان وفات شي او د هغه نه ډیره موده مونځونه فوت شوي وي، نو ددهٔ د فدیے سره به څهٔ کوو ځکه ددهٔ نه دا پاتے شوے مال (پیسے) خو ددے مونځونو او روژو نهٔ کافي کیږي، نو دے دپاره ئے حیله جوړه کړه چه یوه دائره به اُولگوي او د مسکین پیسے مثلًا زر روپۍ به راوړل شي، یو مسکین له به ورکړے شي، نو د زرو روپو په مقدار مونځونه او روژے به مړي ته معاف شي، بیا به ئے هغه بل مسکین له ورکړي او د هغے ثواب به مړي ته اُوبخي، نو دغه شان نور مونځونه او روژے به معاف شي او پدغه طریقه به په توله دائره کښې اُوگرځولے شي که لس کسان وي، نو د لس زره روپو په مقدار به مونځونه معاف شي۔ د الله سره حیله او چل کوي، او بیا پدے کښې په مسکین باندے دا شرط لگوي چه تهٔ به ئے بل ته بخے، او ورسره دا بې ادبي هم کیږي چه قرآن کریم پکښې گرزولے شي۔ دا د دین په احکامو کښې هغه حیلے دي چه یهود او نصاراؤ به کولے۔ بیا دوي دا حیله اسقاط د مالدار دپاره هم کوي، او د غریب دپاره هم۔ دارنگه که د چا نه روژے او مونځونه قضاء دي او که نهٔ دي خو دا چلونه الله تعالیٰ سره کوي۔ مُلیان خپل جیب گرموي۔ دا د بدعتیانو دین دے !!۔ او بیا وائي چه ددے دهوکے ثابتولو دپاره مونږ مناظره کوو۔
او فقهاءِ احنافو ددے دپاره لس شرطونه وئیلي دي۔
او ددے تفصیل په الحق الصریح (۱۷۳/۳) کښې اُوگوره۔ اُوس الحمد لله حیله د اسقاط په اکثرو

علاقو کښې ختمه شوه او د بدعت همدغسې انجام وي۔

﴿ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ﴾ (١) ...... ددې آيت حکم د اسلام په ابتدائي زمانه کښې ووچه چا به د روژو طاقت لرلو، او روژه به ئې نهٔ نيوله، نو هغه دپاره اجازه وه چه طعام د مسکين دِې ورکړي، بس دا به ئې د روژې په ځائې کافي شي۔ او د روژې حکم ابتداء کښې ګران وو، نو الله تعالیٰ پدې سره اموخته کول پدې وجه ئې اختيار ورکړې وو۔ بيا الله تعالیٰ دا حکم په روستو آيت (شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْ) سره منسوخ کړو۔ او دا ئې ورته وئيلي وو چه ﴿وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ روژه نيول غوره دي۔ او دا د سلمه بن اکوعؓ، معاذ بن جبلؓ او عبد الله بن عمرؓ او د شعبیؒ نه نقل شويدي۔ (بخاریؒ، طبریؒ، قرطبیؒ، بغویؒ)۔

(٢) ...... او دې کښې دويمه معنیٰ ابن عباسؓ دا هم کړيده چه دا آيت منسوخ نهٔ دې بلکه دا په حق د هغه بوډا او بوډئ او حاملې او مُرضعې (تي ورکونکي ښځه) کښې دې چه روژې نيول ورته تکليف ورکوي نو د (يُطِيْقُوْنَهٗ) معنیٰ دا ده چه په مشقت او تکليف سره طاقت لري (اَیْ يَتَجَشَّمُوْنَهٗ) (طاقت لري سره د تکليف نه) (بخاري عن ابن عباسؓ) لکه دا معنیٰ په (اطاق، يطيق) باب کښې پرته ده۔ نو دوی ته شريعت دا اجازه ورکړيده چه د هرې روژې په بدله کښې مسکين ته خوراك ورکړي۔ (صحيح بخاریؒ) (قرطبیؒ)۔

او دا حکم اُوس هم باقي پاتې دې۔

○ يا يطيقون باب افعال دې او پدې کښې همزه د سلب دپاره هم راځي يعني چه طاقت نهٔ لري نو فديه به ورکړي۔ دا هسې احتمال دې او اول مطلب غوره دې۔

پدې کښې بعيدې دوه معاني نورې هم دي۔

(٣) شيخ عبد القادر جيلانیؒ فرمائي : چه دلته د فديه نه مراد افطار الصائم دې نو معنیٰ دا ده چه کوم کسان چه طاقت د روژې لري نو هغه دِې هم اُونيسي او هغه له پکار دي چه فديه هم ورکړي چه هغه مسکين ته خوراك (افطار) ورکول دي۔ يعني خپله هم روژې نيسه او يوائې خوراك مهٔ کوه چه تول خوراکونه خپلې مخې ته کيږدې بلکه بل مسلمان هم يادوه۔ او دا فديه ورکول مستحب دي۔

(٤) ...... د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ نه دا معنیٰ هم نقل ده چه د فديه نه مراد دلته صدقة الفطر (سرسايه) ده۔ يعني څوك چه طاقت د روژو لري او روژه ئې اُونيوله، نو هغه باندې د روژو نيولو نه پس فديه ورکول لازم دي چه هغه د مسکين خوراك دې (يعني سرسايه، فطرانه) لکه نبی ﷺ هم دا فرض کړيدي۔ ددې دوه فائدې دي (١) طُهْرَةٌ لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ

(د لغو اوبے حیاء خبرو په وجه د روژے خرابیدو نه پدے سره صفائی راځی)۔
(۲) اِغْنَاءُ لِلْمَسَاكِيْنِ۔(پدے ورځ پدے سره مسکینان بے پرواه کولے شی)۔ او دا درے واړه معانی منسوخ نهٔ دی۔
(فدیة) په اصل کښ هغه شی ته وائی چه قائم وی د یو څیز په ځائے او جزاء ته هم وئیلے شی۔

د فدیے مقدار:

د فقهاء الحجاز په نیز یو مد (نیمه کیلو) طعام دے۔او دا د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی۔او دا یو قول د امام مالكؒ دے۔○ او امام ابو حنیفةؒ وائی : نیم صاع (دوه مده، یعنی یو کیلو او تقریباً سل گرامه) د غنمو نه دے او د نورو طعامونه یو صاع (دوه کیلو او دوه سوه گرامه) دے۔ او د ابن عباس رضی الله عنهما نه دا هم نقل دی چه دا به دوه وخته ورکولے شی د پیشنمی او روژه ماتی په بدله کښ۔(معالم التنزیل للبغوی ۱/۱۹۷)
او په مرفوع احادیثو کښ ئے څهٔ خاص مقدار نهٔ دے ذکر مگر د قرآن کریم نه معلومیږی چه دومره خوراك وی چه مسکین پرے مړیږی۔
﴿فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا﴾ (څوك چه زیاتی اُوکړی یو نیك عمل)
پدے کښ ترغیب ورکوی چه د مسکینانو سره احسان اُوکړی او د فدیئے د مقرر حد نه زیات ورکړی مثلًا د یو مسکین په ځائے درے څلورو کسانو ته خوراك ورکړی۔ یا یو مسکین ته د خپل مقرر نه زیات ورکړی۔ ○ دارنګه په دے کښ ترغیب دے هر قسم نیك عمل کولو ته په اخلاص سره څکه چه روژه کښ تلاوتونه، ذکر اذکار، تراویح، د تهجدو مونځونه، صدقات او عبادتونه کولے شی او دا د جهاد میاشت هم ده۔
﴿وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ ۱- که د منسوخے معنیٰ سره اُولګی نو معنیٰ دا چه د فدیئے ورکولو نه روژه نیول غوره دی۔ ۲- که دویمه معنیٰ واخلو نو معنیٰ دا ده چه بوډا او بوډئ که روژه نیسی او تکلیف تیر کړی نو دا د فدیئے ورکولو نه غوره ده۔ ۳- یا د سفر او مرض سره لګی : یعنی په سفر او مرض کښ روژے نیول افضل دی۔ او پدے کښ په دهریو او سوشلزم والو باندے رد دے چه هغوی وائی : په هغه زمانه کښ اقتصاد خراب وو نو څکه رسول الله ﷺ په روژو باندے امر کولو او اُوس خو هر څه فراخه دی، نو روژو ته څه ضرورت !۔ نو الله فرمائی : چه دا بے علمه خلق دی۔ څکه د روژو غرض خو دا نهٔ دے چه اقتصاد ښهٔ شی بلکه پدے کښ خو رزق لا فراخه کیږی، نهٔ، بلکه غرض پدے کښ دا دے چه مسلمان هرکله د حلالو نه ځان ساتی، نو د حرامونه به په طریق اولیٰ پرهیز کوی۔ او نور فوائد ئے مخکښ ذکر شو۔

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ
(دغه ورځې) مياشت د رمضان ده هغه چه نازل شوے دے په هغې كښې قرآن چه هدايت دے د خلقو دپاره او ښكاره خبرے
مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ، فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ
د هدايت دى او د جدائى راوستلو په مينځ د حق او باطل كښې نو څوك چه حاضر شو ستاسو نه دے مياشتے ته
فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْعَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ
نو روژه دِے اُونيسى د هغې او څوك چه وى ناجوړه يا وى په سفر نو په دهٔ باندے شميرل دى د نورو ورځو،
يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ
غواړى الله په تاسو آسانى او نهٔ غواړى په تاسو گرانى، او دے دپاره چه تاسو پوره كړئ شمير
وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَاهَدٰكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٨٥﴾
او دے دپاره چه لوئى بيان كړئ د الله په هغه طريقه چه خودلے ئے ده تاسو ته او دے دپاره چه تاسو شكر اُوكړئ۔

تفسير: پدے آيت كښې د روژے د مياشتے تعيين دے چه هغه رمضان دے او ددے عظمت او فضيلت ذكر كول دى (چه دا هغه مياشت ده چه پدے كښې الله تعالىٰ قرآن كريم نازل كړے چه حق دين ښكاره پيش كوى او حق او باطل، هدايت او گمراهى بيانوى، د نيك بخت او بد بختو نخښے بيانوى او بيا د هغوى انجام بيانوى)۔ او امر دے په فرضيت د روژو۔ او د سفر او مرض په وخت رخصت ذكر دے سره د قضاء راوړلو نه۔ او د هغې حكمتونه بيانوى۔

﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ﴾دا د (ايام معدودات) بيان دے۔

تركيب : (۱) شهر رمضان خبر د مبتدا محذوف دے يعنى ذٰلِكُمْ شَهْرُ رَمَضَانَ ۔يا هِيَ شَهْرُ رَمَضَانَ (دغه ورځې مياشت د رمضان ده) (فراء بغوىؒ)

(۲) – يا د (الصيام) نه بدل دے يعنى هغه فرض كړے شوے روژے څهٔ شے دى؟ هغه مياشت د رمضان ده۔ (كسائىؒ)۔ (۳) يا دا مبتداء ده او اَلَّذِىٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْآنُ ئے خبر دے۔

(رمضان) : ۱– د رمض نه دے په معنىٰ د سوزيدلو سره، او پدے مياشت كښې د بنده په عبادتونو سره گناهونه سوزى۔ ۲– يا دا نوم ورته په هغه مياشت كښې كيخودلے شو چه گرمى وه۔ ۳– دارنگه رمض هغه باران ته وائى چه د ژمے نه دوړه پورته كړى نو د رمضان روژے زړونه

د گناهونو نه پاکوي. (اللباب للدمشقي) اول قول ظاهر دے. او بيا ئے شهر أُوئيل، معلومه شوه چه مياشت روژے نيول فرض دي که هغه د نهه ويشتو وي او که د ديرشو.

﴿ الَّذِیۡ اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ ﴾ **سوال** : کله وائي قرآن کريم په ليلة القدر کښ نازل دے، کله وائي په رمضان کښ او کله وائي په ليلة مبارکة کښ او په درويشت کاله کښ نازل دے ؟.

۱ - **جواب** دا دے چه ددے منافات نشته ځکه قرآن کريم آسمان د دنيا ته د لوح محفوظ نه په يو ځل د رمضان په مياشت کښ د ليلة القدر په شپه نازل شو چه ديته ليلة مبارکه هم وائي.او هلته په بيت العزة کښ کيخودے شو او بيا د آسمان د دنيا نه زمکے ته په درويشت کاله کښ د حالاتو مطابق نازل شو. (ابن کثيرؒ).

۲- يا مطلب دا دے چه ابتداء د نزول ئے په رمضان کښ شويده. او په هر رمضان کښ به جبريل ؑ نبي ﷺ ته لوستلو.او په کوم کال چه وفات کيدو نو په هغه رمضان کښ ئے ورسره د قرآن کريم دوه ځل دَورکړے وو.

۳- يا معنیٰ دا ده (اُنۡزِلَ فِیۡ فَضۡلِهٖ وَوَجُوۡبِ صَوۡمِهِ الۡقُرۡآنُ) چه نازل شويدے په باره د فضيلت او فرضيت د روژو د رمضان کښ قرآن کريم. (سفيان بن عُيَيۡنَةؒ) (ابن کثيرؒ والرازيؒ).

ليکن دا معنیٰ کمزورے ده ځکه چه د مانځه او حج وغيره عباداتو د فضيلت په باره کښ هم قرآن کريم نازل دے. يواځے د رمضان په باره کښ نهٔ دے.

٤- يا ددے په فرضيت کښ قرآن نازل دے. (ابن الانباريؒ)

ليکن دا هم د مخکښ دليل په وجه ضعيف قول دے. اول او دويم مطلب ئے واضح دے.

او د يو حسن روايت نه معلوميږي چه د الله تعالیٰ تول کتابونه د رمضان په مياشت کښ نازل شويدي. ((صحف ابراهيم په اوله شپه د رمضان، تورات په شپږم رمضان، انجيل په ديارلسم رمضان او زبور په اتلسم او قرآن په څليرشتم د رمضان نازل شويدي)).

(مسند احمد، والبزار_الصحيحة : ١٥٧٥) بسند حسن).

ددے نه معلوميږي چه د الله د کتاب (قرآن) د رمضان او روژو سره مناسبت او تعلق دے لکه حديث کښ دي : [اَلصِّيَامُ وَالۡقُرۡآنُ يَشۡفَعَانِ لِلۡعَبۡدِ] (روژه او قرآن به د بنده دپاره د قيامت په ورځ سفارش کوي. روژه به وائي : اے ربه ! ما دے د خوراك او شهواتو نه منع کړے وو نو زما سفارش ددهٔ په باره کښ قبول کړه. او قرآن به وائي : ما د شپے د خوب نه منع کړے وو، زما سفارش ددهٔ په باره کښ قبول کړه. نو د دواړو سفارش به قبولے شي).

(احمد، طبراني في الکبير بسند حسن صحيح- صحيح الترغيب : ١٤٢٩)

ددے وجه نه په رمضان كښې قرآن زيات لوستل پكار دى، په ترجمه او تفسير او په تلاوت سره او په تهجدو كښې، دا د قرآن مياشت ده۔

(القرآن) په لفظ او حرف سره د الله تعالىٰ كلام دے، الله پرے تلفظ كړيدے، مخلوق نهٔ دے او څوك چه كلام دوه قسمونو ته تقسيم كوى، يو كلام لفظى او هغے ته قرآن نهٔ وائى او دويم كلام نفسى (يعنى معنىٰ د قرآن) او دے ته قرآن وائى، نو دا د سلف صالحينو نه خلاف عقيده ده، او په دين كښې نوے بدعت پيدا كول دى۔ چه دا مقام د تفصيل نهٔ دے۔ تفصيل دپاره زمونږ «اصول التفسير وعلوم القرآن» ته رجوع اُوكړه۔

اُوس د قرآن صفت كوى :﴿ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدٰى ﴾

نو څوك چه پدے كتاب ايمان راوړى او ددے تصديق اُوكړى او بيا ددے د احكامو تابعدارى اُوكړى نو د هغه زړونو ته هدايت كوى۔

نو ۱ – (هُدى للناس) ددے امت احكام او (وبينات من الهدى) د پخوانو امتونو غير منسوخ احكام هم پكښې بيان شوى دى۔ د هدايت واضحے خبرے او واضح تعليمات د پخوانو هم پكښې بيان شويدى۔ او (الفرقان) عطف دے په الهُدىٰ باندے اى (بَيِّنَاتٍ مِنَ الْفُرْقَانِ) يعنى واضحے خبرے د جدائى راوستو په مينځ د حق او باطل او د دروغ او رشتيا او حلال او حرام او مامور او محظور هم پكښې شته۔

۲ – يا د (هُدًى) نه مراد مجموعه هدايت د خلقو دے او واضحه خبرے د هدايت چه هغه حلال او حرام او ښكاره مواعظ او نصيحتونه او قيصے دى، هغه هم پكښې بيان شويدى۔

۳ – د اولٰ هدايت نه مراد هدايت د عقائد او اصولو دے او دويم هدايت د احكامو او فروعو دے۔

٤ – يا اول نه دلائل عقليه او دويم نه مراد احكام دى۔

٥ – يا اول هدايت اجمالًا دے او دويم هدايت تفصيلًا دے يعنى هركله چه انسان ته د نيغے لارے هدايت اُوكړى نو بيا ئے بغير د واضح او ښكاره دليل او روښانه صورت نه نهٔ پريدى بلكه د توحيد او آخرت او د رسول د حقانيت او د دنيا د سياست او د آخرت د سعادت ضمانت هم وركوى۔ او په بصيرت باندے ئے روانوى۔ يعنى په قرآن كښې هدايت هم شته او دليل د هدايت هم شته۔ (از هر البيان)۔

او (اَلْفُرْقَان) كښې اشاره ده هغه دليلو ته چه د حق او باطل جدائى راولى۔

فائده : (هُدًى) په منزله ددے دے چه يو شخص ته د نيغے لارے هدايت او خودنه اُوشى۔ (بينات) په منزله د لارے د علاماتو دے چه هغه انسان ته تفصيلًا ښائى۔ او (الفرقان) په منزله

ددې دې چه د هغه لارې د خودلو دپاسه دا بیان اُوشی چه ددې لارې او د نورو لارو ترمینځ فرق دې، دا لاره انسان اصلی هدف ته رسوی او نورې لارې چه ددې په مقابله کښې دی هلاکت ته راکاږی۔ (ازهربتغیر)۔ نو قرآن کښې درې واړه کارونه شته۔

نو ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ﴾ مخکښې فضیلت د رمضان او د هغې د آسانوالی طریقې بیان شوې، نو اُوس ئې فرضیت بیانوی۔

شَهِدَ : په معنیٰ د حَضَرَ او عَلِمَ سره دې۔ یعنی څوك چه حاضر شی میاشتې ته یا پو هه شی په میاشت راختلو سره که په هره ذریعه سره وی، په لیدلو سره وی، یا د بل نه په اَوریدو سره وی، یا په یوه علاقه کښې اُولیدې شی، او د نورو علاقو خلقو ته خبر اُورسیږی نو هغوی له هم روژې نیول پکار دی۔ یا د شعبان په دیرش ورځو پوره کیدو سره وی۔ او په [صُوْمُوْا لِرُؤْيَتِهٖ وَاَفْطِرُوْا لِرُؤْيَتِهٖ] (متفق علیه) کښې خطاب عام مسلمانانو ته دې نو د هرچا لیدل ضروری نهٔ دی لکه بعض ناپو هه ددې نه د هر چا په لیدلو دلیل نیسی۔ځکه چه د عادل ګواهانو ګواهی قبلول هم شریعت لازم کړیدی۔ او معنیٰ د حاضریدو دا ده چه روژه نیونکې عاقل، بالغ، مقیم وی او د میاشت په راتلو کښې ژوندې وی۔ نو : ﴿فَلْيَصُمْهُ﴾ (روژه دې اُونیسی او دا پرې فرض ده، او نابالغ دپاره روژه نیول مستحب دی، او د مسافر، یا مریض دپاره اجازه ده چه فی الحال ئې پریدی، خو روستو به ئې قضائی راوړی۔

نو اُوس هغه استثنائی صورت بیانوی او دا ئې دوباره راوړو ځکه اُوس روژه فرض شوه نو دا وَهم راتې چه آیا دا حکم د رخصت به هم ختم شوې وی۔

دارنګه د روستو علتونو ذکر کولو دپاره ئې دوباره راوړو :

﴿وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ﴾ دې سره دا قید مراد دې(وَلَمْ يَصُمْ) (یعنی روژه ئې په میاشت د رمضان کښې اُونهٔ نیوله)۔نو (فَعِدَّةٌ) یعنی دهٔ باندې شمارل لازم دی د نورو ورځو دپاره د قضاء راوړلو)۔

دا مطلق دې نو پرله پسې قضائی راګرځول ضروری نهٔ دی۔

اُوس د مخکنو پنځه احکامو علتونه او وجې بیانوی :

﴿يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ﴾ دا د اول حکم سره متعلق دې چه هغه د مریض او مسافر نه فرضیت ساقطول دی۔ ﴿وَلَا يُرِيْدُ﴾ دا د دویم حکم سره متعلق دې چه د قضاء راوړلو ورځو کښې ئې تخصیص اُونهٔ کړو۔دا ئې اُونهٔ وئیل چه فلانئ فلانئ ورځو کښې قضاء راوړئ۔ ځکه چه پدې کښې تنګسیا ده او هغه الله نهٔ غواړی۔

او حدیث دې : [اِنَّ الدِّيْنَ يُسْرٌ] ...... (دین آسان دې) ...... (بخاری والنسائی)۔

دے دپاره چه بندګان د اُور نه په آسانئ خلاص شی او جنت ته لاړ شی، دا د الله مهربانی ده.
دے کښې دا معنیٰ هم ده : [يُرِيْدُ اللهُ بِكُمُ اَنْ تَيَسَّرُوْا وَلَا يُرِيْدُ بِكُمْ اَنْ تَعَسَّرُوْا] الله غواړی چه تاسو آسانی اُوکړئ د خپل ځان سره او نۀ غواړی چه تاسو سختی اُوکړئ) بلکه د هغه رخصتونه قبول کړئ او داسے مۀ کوئ چه خامخا به په سفر او مرض کښې روژې نيسئ او روژه ماتول بد ګڼړئ. نبی ﷺ فرمائی : [يَسِّرُوْا وَلَاتُعَسِّرُوْا]
(آسانی کوئ او سختی مۀ کوئ) (متفق عليه).
او حديث کښې دی : ((الله خوښوی چه د هغه په رخصتونو باندے عمل اُوشی لکه څنګه چه دا بده ګڼړی چه د هغه احکام مات کړے شی)).
(مسند احمد ٥٨٦٦ والبيهقی واسناده صحيح).
۳- دے کښې حاصل معنیٰ دا هم ده چه يُسر جنت ته وائی او عُسر جهنم ته. يعنی الله دا احکام څکه راليږی چه تاسو جنت ته داخلوی او که ګران احکام راوليږی نو بيا به پرے عمل نۀ شی کيدے نو خلق به جهنم ته ځی او الله خو هغه نۀ غواړی. او دا دليل دے چه د دين ټول احکام د بندګانو د وسع مطابق آسان دی. څکه الله د ګرانو احکامو راليږلو اراده نۀ لری.
﴿وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ﴾ دا د (يُرِيْدُ) سره متعلق دے (اَیْ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ تُكْمِلُوا الْعِدَّةَ) يعنی الله غواړی چه تاسو شمار پوره کړئ. (التفسير المنير)
۲- يا د (اَمَرْنَا) مقدر پورے متعلق دے يعنی (اَمَرْنَاكُمْ بِالْاَدَاءِ وَالْقَضَآءِ) (تاسو ته مے امر اُوکړو په اداء کولو پاتے شوو روژو) دے دپاره چه شمار د روژو پوره کړئ. چه ديرش يا نهه ويشت روژے دی. ولے که قضائی رانۀ وړی نو د الله حکم به مات شوے پاتے شی، نو تاسو ته به نقصان اُورسی.
فائده : د الله د حکم پابندی په دوه طريقو سره کيږی (۱) يو دا چه د عدد خيال به ساتی (۲) دويم د کيفيت. که په يو مقام کښې کيفيت معاف شی، نو عدد به نۀ پريدی لکه په رمضان کښې د سفر يا د بيمارئ د وجه نه روژے پاتے شی، نو کيفيت ئے شرعاً پاتے شو، ليکن عدد چه (۲۹) يا (۳۰) دی، دا به تۀ نۀ خرابوے. بلکه شمار به پوره کوے.
﴿وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰاكُمْ﴾
۱- ددے يوه معنیٰ دا ده چه د الله تعظيم او لوئی والے بيان کړئ پدے احکام راليږلو. او د هغه لوئی والے ستاسو زړۀ کښې راشی چه داسے آسان احکام راليږی او تاسو ته پرے هدايت کوی.
۲- دويم : ددے تکبير نه مراد تکبيرات التشريق دی چه د رمضان په آخر کښې د اختر د شپے نه د اختر د مانځه پورے دا تکبيرات وئيلے شی، احاديثو کښې ثابت دی. نو معنیٰ دا ده (لِتَذْكُرُوا اللّٰهَ

عِنْدَ انْقِضَاءِ عِبَادَتِكُمْ) تاسو الله رایاد کړئ، د هغه ذکر اُوکړئ په وخت د ختميدو د عبادت ستاسو کښې) چه روژه ده او د مانځه د ختميدو نه روستو، نو د روژے او د مونځونو نه روستو الله اکبر الله اکبر کلمات الخ وئيل دی. ليکن اول مطلب اولیٰ دے ځکه چه په دے احکامو باندے عمل کولو کښې د بنده په زړهٔ کښې د رب تعالیٰ کبرياء او لوئي والے دے پدے وجه هغه روژے نيسی او نهٔ ئے ماتری ځکه چه د هغه دا عقيده ده چه الله ما ته ګوری او هغه په ما پو هه دے.

او د (عَلٰى مَا هَدَاكُمْ) (۱) يوه معنى دا ده: په هغه طريقه چه الله درته خودلے ده. اشاره ده چه الفاظ د تکبيراتو به د شريعت موافق وئيلے شی، د ځان نه به الفاظ نهٔ جوړوی.

(۲) دويمه معنیٰ دا ده چه علیٰ تعليليه او ما مصدريه ده (اى لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ لِاَجْلِ اَنَّهٗ هَدَاكُمْ) يعنى په سبب د هدايت ستاسو، چه الله تاسو ته د خپل قربت او نزدے والی طريقه اُوخودله. نو تاسو د الله لوئی والے اُووايئ چه اے الله! تهٔ ډير لوئی ئے چه مونږ سره دِے دا انعامات کړی، او دا روژے دِے مونږله د تقوئ او فائدو دپاره راکړے، او بيا دِے پکښې آسانی هم پيدا کړه او دا قرآن دِے راوليږلو.

بل تعبير: (لوئی اُووايئ په هغه خبره چه تاسو ته ئے هدايت کړے).

﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ دا د الله په احکامو باندے د پابندی کولو دپاره علت دے يعنی دا احکام مے راوليږل او تاسو ته مے پرے د پابندئ حکم اُوکړو، دے دپاره چه تاسو شکر اُوکړئ. او دارنګه دغه احکام لوئی انعامات دی چه د شکر کولو مستحق دی. يا نتيجه د رخصت ده يعنی الله تعالیٰ رخصت درکړو نو شکر اُوکړئ. د شکر معنیٰ په دين باندے عمل کول هم دی، يعنی دے دپاره چه تاسو د الله تعالیٰ په حکم او د هغه په دين عمل کونکی جوړ شئ او همدا شکر دے.

وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِيْبٌ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ

او کله چه تپوس کوی ستا نه بندګان زما په باره زما کښې نو يقيناً زهٔ نزدے يم، قبلوم دُعا د دُعا کونکی

اِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِیْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ ﴿۱۸۶﴾

کله چه ما نه دعا غواړي نو دوی دِے خبره اُومنی زما، او ايمان دِے راوړی په ما، دے دپاره چه دوی په سمه لار شی.

تفسير:

مناسبت: ۱- ددے جملے مناسبت د مخکښې سره دا دے چه په روژه سره بنده الله تعالیٰ ته نزدے کيږی نو الله هم پدے آيت کښې خپل قربت بيانوی چه زهٔ نزدے يم.

۲- پدے کښې د تکبيراو لوئی بيانولو طريقه ده يعنی ذکر به په پټه کوے لکه روستو د شان

نزول نه معلومیږي.

۳- قاسميؒ وائي : چه کله روژه ماتوے نو د الله تعالیٰ نه دعا کول پکار دي ځکه حدیث کښې دي چه د روژه ماتي په وخت کښې دعا نهٔ رد کیږي. ○ عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به د افطار په وخت تهول بال بچ سره یو ځائے دعا کوله ځکه چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه د روژه دار د افطار په وخت دعا قبلیږي. (مسند طيالسي).

په یو بل حدیث کښې دي چه د درے کسانو دعا نهٔ رد کیږي : د عادل امام (بادشاه)، د روژه دار، او د مظلوم. (مسند احمد، ترمذی، نسائی، ابن ماجه).

٤- مخکښې ئے بندګانو ته په تکبیر او ذکر او شکر باندے حکم اُوکړو نو اُوس وائي زهٔ ستاسو د شکر نه خبردار یم، او زهٔ ستاسو آواز آورم او ستاسو دعا قبلوم او ستاسو امیدونه به نهٔ ضائع کوم. (النیسابوری)

شان نزول : ۱- بعض صحابه کرامؓ (یو روایت کښې دي چه یو باندچي) تپوس کړے وو چه یارسول الله ! آیا زمونږ رب نزدے دے چه مونږ ورسره خبرے اُوکړو (په پټه) او که لرے دے چه آواز ورته اُوکړو، او پدے تپوس کښې د دوی نیت ښهٔ وو. لیکن عِلم ورته نهٔ وو، نو نبي ﷺ خاموش شو، الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو. (ابن جریرؒ وابن ابی حاتمؒ)

او د شفقت بیان ئے اُوکړو چه زهٔ نزدے یم. چغو ته حاجت نشته.

۲- یا د یهودیانو په جواب کښې نازل دے چه هغوی وئیلي وو، زمونږ رب به زمونږ دعا څنګه واوری او حال دا چه تهٔ وائے چه زمونږ او د آسمان ترمینځ پنځه سوه کاله مسافه ده ؟. (قرطبيؒ والبغویؒ عن ابن عباسؓ).

۳- د بعض صحابه کرامؓ نه په روژه کښې د حکم د سختوالي په وجه (چه د خوب نه روستو جماع کول ورله حرام وو لکه روستو راځي) مخالفت شوے وو نو هغوی رسول الله ﷺ ته پښیمانه راغلل او توبه ئے اُوویستله او تپوس ئے اُوکړو چه آیا الله به زمونږ توبه قبوله کړي ؟ نو دا آیت نازل شو. (قرطبي، والتفسير المنير).

نو دا آیت ګویا کښې د روستو حکم دپاره تمهید شو.

٤- قتادهؒ وائي : صحابه کرامؓ تپوس اُوکړو چه مونږ د خپل رب نه څنګه دعا اُوغواړو اے د الله نبي ! او په روایت د عطاءؒ کښې دي چه په کوم وخت دعا اُوغواړو چه الله زمونږ دعا قبوله کړي ؟ نو الله دا آیت نازل کړو. (بحر العلوم للسمرقندی والنیسابوری).

مسئله : ددے وجه نه اهل علمؒ فرمائي : تول ذکرونه او دعاګانے به په پټه وئیلے شي ځکه په

جهر کښې د الله تعالیٰ زیات ادب نشته او په اخفاء کښې ادب ډیر دے۔ مګر هغه چه شریعت کښې د هغې جهر ثابت وی لکه اذان، تکبیرات د تشریق او جهری مونځونه۔
او حدیث کښې هم راغلی دی، صحابه کرامؓ په جهر ذکر اُوکړو نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل : [یَا اَیُّهَا النَّاسُ اِرْبَعُوْا عَلٰی اَنْفُسِکُمْ، اِنَّکُمْ لَاتَدْعُوْنَ اَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، اِنَّکُمْ تَدْعُوْنَ سَمِیْعًا قَرِیْبًا] (متفق علیه)
(اے خلقو! په خپلو ځانونو رحم اُوکړئ ځکه چه تاسو کونړ او غائب ته آواز نۀ کوئ، تاسو خو اَوریدونکی، نزدے ذات ته آواز کوئ، هغه ستاسو سره دے، او هغه تاسو ته د اُوښے د څټ نه هم زیات نزدے دے)۔
حسن بصریؒ فرمائی : د پټے دعا او د ښکاره دعا ترمینځ اَوویا چنده فرق دے۔
(بغوی، خازن، اللباب)۔
﴿ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ ﴾ قُرب (نزدے والے) په ډیرو معنو کښې مشترك دے : نزدے والے د مکان، د زمان، د مرتبے، د نسب، نزدے والے په اعتبار د حفاظت، په اعتبار د علم، په اعتبار د قدرت۔ او دلته د الله نزدے والے په اعتبار د علم، قدرت، حفاظت، سمع او اجابت سره دے۔ یعنی الله رب العزت د عرش دپاسه دے، او علم او قدرت، سمع او اجابت ئے په هرځائے کښې دی۔ مونږ باندے خبر دے۔ د مرئ د رګ نه مونږ ته نزدے دے ځکه انسان خپل بدن ټول نۀ شی لیدلے، او الله رب العزت ته ټول ښکاره کیږی۔ او د استواء علی العرش او قرب منافات نشته ځکه چه الله تعالیٰ په عرش هم دے او د ډیر لوئی والی د وجه نه قریب هم دے۔
شیخ الاسلام ابن تیمیۃؒ ددے مثال داسے ورکوی لکه سپوږمۍ په خپل مدار کښې وی لیکن هر سړے (مسافر وی که مقیم، روان وی که ولاړ) وائی چه سپوږمۍ ما سره ده۔
دارنګه دا ټول کائنات د الله په لاس کښې دی۔ نو ورته نزدے دے۔ او دا نزدے والے حمل د مشترك لفظ دے په یوه معنیٰ باندے او دا حقیقت وی۔ او دغه شان تاویل په لفظ د مَعَکُمْ کښې هم دے چه دا په اصل کښې تاویل نۀ دے۔
او بعض اهل علم وائی چه دلته نزدے والے د متشابهاتو نه دے، الله وائی زۀ تاسو ته نزدے یم نو څنګه نزدے دے ؟ ددے کیفیت الله تعالیٰ ته معلوم دے، او مونږ له پدے باندے ایمان راوړل پکار دی چه الله بندګانو ته نزدے دے او که د متشابهاتو نه هم شی نو منافات ئے د استواء علی العرش سره نشته ځکه چه د عرش دپاسه دے او سره د هغے نه هر څیز ته نزدے هم دے۔ لکه مخکښې تیر شو۔
﴿ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ ﴾ الله رب العزت ضرور د بنده دعا قبلوی، لفظی دعا ئے هم قبلوی او عبادت ئے هم قبلوی۔ دعا دوه قسمه ده۔ دعاء العبادة ...... یعنی (اُثِیْبُ مَنْ عَبَدَنِیْ) (بدائع التفسیر)

(ځوك چه زما بندګی کوی نو زۀ ورته ثواب ورکوم)۔

او دعاء الحاجة (يعنى دعاء النداء) هم قبلوى۔

﴿اِذَا دَعَانِ﴾ يعنى هركله، په هر وخت او په هر ځائے کښ چه ما نه دعا غواړى زۀ ئے قبلوم۔

بيا دلته **سوال** دے چه دلته وائى هره دعا قبليږى او حال دا چه مؤمن ډيرے دعاګانے کوى او نۀ قبليږى؟ ۔ ...... **جواب** : بعض وائى: دے سره دا قيد دے ((اِنْ شِئْتُ)) يعنى كه زما خوښه شى۔

ليکن دا جواب کمزورے دے ځکه چه دا د مقام د لطف او رحم سره مناسب نۀ دے۔ ځکه الله تعالىٰ دلته وعده د قبول والى کوى۔ او دا قيد خو په مقام د مشيت او تقدير کښ وئيلے شى۔

او دارنګه د مشرکانو په باره کښ دا قيد دے لکه سورة انعام (٤١) آيت کښ دى :

(فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ)۔

(الله به لرے کوى هغه شے چه تاسو الله لره هغے ته رابللے وى خو که الله اُوغواړى)۔

۲- صحيح دا ده چه هره دعا قبليږى خو د قبليدو ډير صورتونه دى، کله عين هغه مقصد پوره کړى او کله د هغے اجر او ثواب ورکړى، او کله د هغه نه مصيبت لرے کړى۔ لکه دا خبره په صحيح حديث کښ راغلے ده۔او د دعا د استجابت غم مۀ کوه بلکه د دعا د راکولاويدو غم کوه۔ عمر فاروق رضى الله عنه فرمائى : زما دا غم نشته چه زما دعا به قبوله شى او كه نۀ، بلکه دا غم مے دے چه د دعا دروازه راباندے کولاوه شى۔(ځکه چه دعا درباندے راکولاوه شوه نو ضرورئے الله قبلوى)۔ او دا دروازه نن صبا مونږ بندګانو په ځان بنده کړے، د الله نه مستغنى شوى يو۔والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله۔

۳- **جواب** :هره دعا قبليږى خو چه په خپلو شرطونو سره وى او هغه دا دى :

O- مؤمن به وى۔ O استجابت به پکښ وى يعنى حرام او حلال به منى۔ لکه روستو راځى۔O - زړۀ به ئے غافل او لاهى نۀ وى۔ (لَا يَسْتَجِيْبُ دُعَاءً عَنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لاهٍ) (ترمذى، حاكم - ابن كثير) ۔ O - د ټولو ګناهونو نه به الله ته توبه اُوباسى۔O - قبلے ته به متوجه کينى۔

O - لاسونه به پورته کړى۔ O د الله په اسماءِ حسنىٰ سره وى۔ لکه يارب، يا ارحم الراحمين وغيره الفاظو سره۔ O او د هغه ثناء او صفت به مخکښ اُوکړى بيا به درود اُووائى بيا به خپل حاجتونه وړاندے کړى۔ او (يا خدا) او نورو غير منقول الفاظو سره به نۀ وى۔

O - اخلاص به پکښ وى۔ O - دعا کونکے به د خپل مسکنت او محتاجئ اظهار اُوکړى۔

O - د يوے ګناه دعا به نۀ وى، د صله رحمى قطع کولو دعا به نۀ وى۔ (احمد، ترمذى)

O - جلتى به نۀ کوى يعنى دعا به پدے وجه نۀ پريدى چه زر ولے نۀ قبليږى۔ (صحيحين)

O - د دعا په قبليدو باندے يقين كول. (مسند احمد)

O د مسافر دعا ښهٔ قبليږی. O - د مظلوم دعا سمدست قبليږی. O - د قبوليت په اُوقاتو کښې به وی لکه O آخری دريمه حصه د شپے. O د اذان په وخت. O د اذان او د اقامت ترمينځ.

O -د روژه ماتی په وخت کښې. O - د باران د نازليدو په وخت کښې. O د قتال في سبيل الله په صف کښې. O - د جُمعے د اجابت په ساعت کښې. چه امام منبر ته ختلو نه تر مانځه ختميدو پورے دے. O -د جُمعے په ورځ د مازيګر آخری ساعت. O نبی کريم ﷺ په سجده کښې د دعا کولو حکم کړيدے او فرمائيلے ئے دی : (په سجده کښې په دعا کښې ښهٔ کوشش کوئ لائقه ده چه ستاسو دپاره به قبول کړے شي). (صحيح مسلم)

O حرام خور به نهٔ وی. O - د مور او پلار دعاګانے بچو دپاره ښے قبليږی. O د غائب دعا د غائب دپاره زر قبليږی. O پاك مكانونو کښې دعا زر قبليږی لکه كعبه معظمه، ملتزم، ميزابِ رحمت، رياض الجنة. او تول حرم. O - بار بار په الحاح او مبالغے (او زور) سره وی.

حديث کښې دی : تاسو د دعا کولو نه مهٔ تنګيږئ، ځکه چه کوم سړے (هميشه) دعا کوی هغه نهٔ هلاکيږی. (مستدرك الحاكم).

﴿فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي﴾ (اَیْ اِذَا دَعَوْتُهُمْ لِلْاِيْمَانِ وَالطَّاعَةِ) ...... (مجاهدؒ- قرطبی وقاسمی)

يعنی د الله تعالیٰ دعوت (چه ايمان او اطاعت دے) هغه دِے پوره قبول کړی يعنی طاعت او عمل دِے اُوکړی) زما احکام دِے اُومنی او زما بندګی دِے اُوکړی. لکه څنګه چه زهٔ د دوی دعا قبلوم.

اجابة په لغت کښې طاعت او کوم شے چه غوختلے شي د هغے ورکولو ته وائی. نو د الله د طرف نه په معنیٰ د ورکړے سره وی او د بنده د طرف نه په معنیٰ د طاعت او خبرے منلو سره وی. معنیٰ دا ده : (فَلْيَسْتَجِيبُوا لِيْ بِالطَّاعَةِ) (زما قبول والے دِے اُوکړی په بندګی کولو سره).

۳- ابن عطيةؒ وغيره وائی : (اَیْ لِيَسْتَدْعُوا مِنِّی الْاِجَابَةَ) يعنی ما نه دِے د دعا د قبليدو سوال اُوکړی) او ددے حقيقت هم دا دے چه زما اطاعت دِے اُوکړی. (معالم التنزيل للبغوی ۱/ ۲۰۵).

امام راغبؒ وائی : د (فَلْيُجِيبُوا) په ځائے ئے (فَلْيَسْتَجِيبُوا) غوره کړو، پدے کښې يو باريکه نکته ده او هغه دا چه د استجابة حقيقت طلب د اجابة (قبول والی) دے، اګرکه د اجابة په معنیٰ هم استعماليږی. نو الله بيان کړل چه بندګان کله د خپل وَس مطابق د دعا د قبليدو کوشش کوی، الله به ترے راضی کيږی. (قاسمیؒ).

آيت دليل دے چه څوك څومره د الله تعالیٰ خبره منی او د هغه د احکامو استجابت کوی نو هغومره به ئے دعا ښهٔ قبليږی. لکه حديث کښې دی : د الله تعالیٰ بعض بندګان داسے دی چه که

په الله قسم اُوکړي نو الله ئے پوره کوي) ...... (صحيح بخاري).
وجه دا ده چه دۀ خپل خواهشات قربان کړي وي نو الله هم د هغه خبره زمکے ته نۀ ارتوي.
مونږ بندګانو کښې دا خوئي دے چه د الله نه ګیله کوو چه زما دعا نۀ قبلوي او حال دا چه خپله د الله تعالىٰ د حکمونو پابندي نۀ کوو.

﴿ وَلْيُؤْمِنُوا بِي ﴾ ايمان ئے د استجابت نه روستو راوړو،

۱- اشاره ده ديته چه انسان اول خبره اُومني نو روستو ئے ايمان زياتيږي. يعني ايمان به ئے په طاعاتو باندے په عمل کولو سره کمال ته رسي. ۲- يا ايمان د زړۀ صفت دے او استجابت د جوارحو عمل دے يعني د ظاهري اعمالو کولو سره به ئے په زړۀ کښې په الله باندے يقين هم وي. يعني ظاهراً او باطناً دِے تسليم شي نو دعا به ئے قبليږي.

۳- يا دوام على الايمان (هميشوالے په ايمان) مراد دے.

٤- يا د ايمان نه مراد يقين دے او چه د چا څومره يقين وي، نو هغومره ئے استجابت وي نو اشاره ده چه ستاسو استجابت به هله زيات وي چه ستاسو يقين زيات شي.

٥- يا په قبول والي د دعا باندے يقين کول مراد دي. يعني ما نه دِے د دعا د قبول والي سوال اُوکړي او بيا دِے ددے په قبول والي يقين هم اُوکړي.

بيا اجابت نفس جواب ورکول دي که په نَعَم (آؤ) سره وي او که په لَا (نۀ) سره، او استجابت ديته وائي چه جواب په نَعَمْ (منلو) سره وي.

﴿ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴾ رشد: مقابل د غيٌّ (ګمراهيْ) کښې استعماليږي.
هدايت او کاميابئ ته رسيدل او دنيوي او اُخروي فائدو حاصلولو ته وائي. نو معلومه شوه چه څوك د الله خبرے نيے مني او په هغه باندے ډير يقين لري نو د هغه دعا به زر قبليږي، او هغه ته به هدايت کيږي او کاميابئ ته به رسيږي. دا د هدايت اسباب دي.

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ
حلال کړے شويدي ستاسو دپاره په شپه د روژو کښې يو ځائے کيدل د خپلو بيبيانو سره، دوي جامه ده ستاسو دپاره
وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ
او تاسو جامه يئ د دوي دپاره، الله ته معلومه وه چه يقيناً تاسو په خيانت کښې اچوئ ځانونه خپل
فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ فَالْـَٔـٰنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا
نو مهرباني ئے اُوکړه په تاسو او معافي ئے اُوکړه تاسو نه، نو اُوس نزديکت کوئ د خپلو بيبيانو سره او اُولټوئ

مَاكَتَبَ اللهُ لَكُمْ وَكُلُوْا واشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ
هغه شے چه الله لیکلے دے تاسو لره او خورئ او څکئ تردے چه صفا ښکاره شی تاسو ته سپین تار د تور تار نه
مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ وَلَاتُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ
د صبا نه، بیا پوره کړئ روژے تر شپے پورے او نزدیکت مۀ کوئ د ښځو سره په داسے حال کښں چه تاسو
عٰكِفُوْنَ فِي الْمَسٰجِدِ تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا
اعتکاف کونکی یئ په جماتونو کښں، دا د الله پولی دی، پس مۀ نزدے کیږئ دے ته (په ماتولو سره)
كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۷﴾
دغسے بیانوی الله تعالیٰ آیتونه خپل خلقو ته، دے دپاره چه دوی کښں تقویٰ راشی۔

تفسیر: پدے آیت کښں اُوس د روژے نور احکام راوړی۔او دا د (يُرِيْدُ اللهُ بِكُمُ الْيُسْرَ) سره متعلق دے چه د الله تعالیٰ آسانتیا دا ده چه تاسو نه ئے د روژے په باره کښں سخت حکم لرے کړو۔

شان نزول: د اسلام په ابتداء زمانه کښں به دا حکم وو چه څوك به د روژه ماتی نه روستو اُودۀ شو، بیا بـه ئے خوراك، څكاك او جماع نۀ شو کولے، بلکه د هغه وخت نه به روژه شروع شوله، او خـوراك، څکـاك او جماع به حرام شو نو دا حکم لږ غوندے سخت وو، پدے وجه د بعض صحابه کرامؓ نه په دے کښں نقصان اُوشو۔

پـه صحیح بخاری، مسند احمد، ابوداود او حاکم کښں راځی چه قیس بن صِرْمَه انصاری رضی الله عنـه د پټی (د کاروبار) نه ستړے کور ته راغلو (د روژه ماتولو نه روستو) خوراك کور کښں نۀ وو، ښـځـه ئـے د خـوراك تـلاش کـولـو دپـاره لاړه چـه راغـلـه خاوند ئے اُوده شوے وو، هغے اُووئیل : هـلاکت دے تا لره، (اُوس خو دا خوراك نشے کولے) نو هغه پدے حالت کښں روژه وو تردے چه صبا لـه نیـمـه ورځ کـښں پـرے د زیاتے تندے او لوږے نه بے هوشی راغلله نو رسول الله ﷺ ته ددے خبر ورکړے شـو۔ الله تـعـالیٰ دا آیت نـازل کـړو۔صـحـابـه کـرامؓ پدے آیت باندے ډیر خوشحاله شو۔ انتهیٰ۔ (القرطبی)۔

دارنګـه د رمـضان په شپو کښں خپل اهل سره نزدیکت حرام وو، نو پدے کښں د عمر فاروق او د کـعـب انـصاری رضی الله عنهما نه په سهوه سره جماع اُوشوه او دواړه ډیر خفه رسول الله ﷺ ته راغلل چه مونږ خو هلاك شو نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل۔ او دا حکم ئے بدل کړو او رخصت

ئے راولیږلو چه څه دا حکم هم تاسوته آسان شو۔ نو د ماښام نه واخله تر صبا راختلو پورے ستاسو دپاره هر جائز شے حلال دے۔ (بخاري ومسلم)

﴿ اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى نِسَاءِ كُمْ ﴾ (الرفث) : ۱- ددے یوه معنیٰ جماع ده۔ (ابن عباسؓ)

۲- دویم : (كُلُّ مَا يُرِيْدُ الرَّجُلُ مِنِ امْرَاَتِهٖ اَيِ الْجِمَاعُ وَدَوَاعِيْهِ) هر هغه شی ته وائی چه سړے ئے د خپلے ښځے نه اراده لری، هغه فعل وی که قول او که لاس وروړل وی۔ (زجاجؒ عن ابن عباسؓ) چه دیته جماع او د هغے اسباب وائی۔ رفث کله په معنیٰ د فاحشو خبرو (کنځلو) سره راځی، او دا ئے اصلی معنیٰ ده خو دلته نۀ ده مراد۔ هان لره آزادی ښځه او خاوند کولے شی ځکه چه آیت کښ عموم دے۔

﴿ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ﴾ دا د (اُحِلَّ) دپاره علت دے یعنی تاسو له زنانه پدے شپو کښ ځکه حلالے شوے چه دا ستاسو لباس دے۔او لباس خلق اغوندی دهغے نه صبر کول او ځان ساتل ګران وی، نو دا هم تاسو پدے شپو کښ اغوستلے شئ۔ (کشاف، قاسمیؒ)

۱- ښځو ته ئے لباس یو پدے وجه اُووئیلو چه لکه څنګه چه په لباس سره بدن پټیږی نو دغه شان ښځه او خاوند یو بل دپاره د بد نامئ او بد کارئ نه پرده ده۔ ۲- د ابن عباسؓ نه نقل دی چه لباس کښ د بدن دپاره آرام او سکون وی، نودغه شان د ښځے په وجه هم انسان ته ظاهری سکون ملاویږی، او د چا چه ښځه نۀ وی نو هغه بے سکون وی۔

لِبَاسٌ لَّهُنَّ : ښځے چه وادۀ نۀ وی کړے نو بے سکون او پریشانه وی، او دارنګه د بدنامئ نه محفوظه نۀ وی، او کله ئے چه خاوند په سفر تلے وی نو ښځه پریشانه وی، ځان ورته ناشنا ښکاری۔ ۳- دارنګه ښځه او خاوند د تولائی او برستنے په شان دی، نو د دواړو د یو بل نه پرده نشته لکه څنګه چه د لباس نه پرده نۀ وی۔ (ربیعؒ)۔

فائده : په لباس کښ درے خصوصیته دی ۱- حفاظت د یخنئ او ګرمئ نه۔ ۲- عیبونه پټول۔ ۳- د بدن زینت او ډول۔ نو پدے تشبیه کښ هم دا درے نکتے دی ځکه چه ښځه او خاوند د یو بل د انحرافاتو او کړیدو نه حفاظت کوی۔ د یو بل د آرام وسیله ده، د یو بل عیبونه پټوی۔ او هر یو د بل دپاره ډول شمارلے شی۔ (از هر البیان)۔

بیا ښځے ئے په سړو باندے مخکښ کړیدی، حال دا چه د قرآن طریقه دا ده چه سړی مخکښ کوی (۱) ځکه خطاب سړو سره دے (۲) یا دا چه د سړی حاجت ښځو ته زیات وی، او د سړی صبر د زنانو نه کم دے، او د زنانو زیات دے ځکه چه د هغے په مزاج کښ الله تعالیٰ برودت (یخوالے) پیدا کړے، سړو ته ئے توجه کمه وی، او چه کله په څۀ کار مشغوله شی نو بیا د سړو نه غافله وی۔ او سړے که ستړے او مشغول هم وی نو زنانو ته ئے توجه وی۔

﴿عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ﴾ په شپو د رمضان کښې د جماع د حلالوالی دپاره دا دويم علت دے۔او پدے کښې الله تعالیٰ خپل احسان بيانوی يعنی الله تعالیٰ ته دا پته ده چه که زهٔ چرته دا حکم اُوکرم چه پدے شپو کښې به نزديکت نهٔ کویئ، نودوی به ئے کوی نو په گناه کښې به واقع کيږی او چه گناه کښې واقع شو نو دَ الله په غضب کښې به واقع کيږی۔ نو الله وائی زهٔ ترے غضب لرے کوم او مهربانی پرے کوم۔

تَخْتَانُوْنَ : دا د خيانت نه دے، په امانت کښې نقصان کولو ته وئيلے شی۔ ليکن په گناه کولو سره هم د الله تعالیٰ په حقوقو کښې خيانت راځی پدے وجه ئے گناه ته خيانت اُووئيلو۔

﴿فَتَابَ عَلَيْكُمْ﴾ او مهربانی دا ده چه دا حکم ئے درنه لرے کرو۔

○ يا د فتاب معنیٰ ده الله توفيق د توبے درکرو۔

﴿وَعَفَا عَنْكُمْ﴾ يعنی کومه گناه چه درنه شوے ده، نو هغه ئے درته معاف کړه۔ دا د صحابه کرامؓ لويه مرتبه ده چه د هغوی کومه گناه ذکر ده نو د هغے معافی ئے هم په قرآن کښې ذکر کړيده، دا دليل دے چه صحابه کرامؓ د خپلو گناهونو نه استغفار هم طلب کړيدے۔

(۲) دے کښې تفسير قرطبیؒ او قاسمیؒ دا معنیٰ هم کړيده (چه شان نزول ترے لرے کړے) اومعنیٰ ئے په تعليق بناء کړيده يعنی الله ته پته وه چه که په تاسو ئے دا حکم پريخے وی او رفث ئے دربانديے حرام کړے وے نو تاسو به خيانت کښې ځانونه اچولی وے نو فَتَابَ عَلَيْكُمْ (يعنی په تاسو ئے مهربانی اُوکړه او دا حکم ئے درنه لرے کړو (وَعَفَا عَنْكُمْ) او فراخی ئے دربانديے راوسته، نو عفو په معنیٰ د توسعه سره ده، او توبه په معنیٰ د رفع الحکم (حکم پورته کولو) او تخفيف او آسانی راوستو سره ده۔ ليکن دا تفسير ضعيف دے ځکه د صحيح حديث خلاف دے۔

﴿فَالْئٰنَ بَاشِرُوْهُنَّ﴾ (فَالآن) ابوالبقاءَ وئيلی دی چه (الآن) لفظ په اصل کښې هغه وخت ته وائی چه تهٔ په کښې موجود ئے، او په نزدے تيره شوے او نزدے راتلونکے زمانه باندے هم دلالت کوی ځکه چه دا قريب په منزله د حاضر وی۔ او دلته همدا مراد دے۔نو تقدير د عبارت داسے دے : [فَالْئٰنَ اَبَحْنَا لَكُمْ اَنْ تُبَاشِرُوْهُنَّ] (قاسمی ۱/۴۷۸) ...... (اُوس مونږ تاسو ته جائز کړه دا خبره چه تاسو خپلو بيبيانو سره د رمضان په شپو کښې نزديکت کولے شئ)۔

مباشرت : يو بدن د بل بدن سره يو ځائے کيدو ته وائی، او دا د جماع نه کنايه ده۔ او دا ادبی الفاظ دی۔ پدے کښې امت ته ادب دے چه کله دا قسم مقاصد ځوك بيانوی، نو په ادبی الفاظو سره پکار دی او د فاحشو او کريهو الفاظو د استعمال نه به ځان ساتی۔

﴿وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ﴾ پدے کښې اشاره ده چه ددے حکم د آسانولو مقصد دا دے چه د نسل

زیاتوالے راشي۔ پدے کښې (۱) یوه معنیٰ دا ده چه په وخت د جماع کښې د بچي اراده اُوکړئ۔ (مجاهدؒ) ځکه چه د جماع مقصد صرف شهوت پوره کول نهٔ دی بلکه د نسل زیاتول مقصد دے۔او پدے کښې د جاهلانو په منصوبه بندئ او نسل کشئ باندے رد دے چه دا د شریعت د مقصد نه خلاف کار دے۔نو ابتغاء نه مراد نیت کول او کَتَبَ نه مراد تقدیر کښې لیکل دی۔

۲- او عامه معنیٰ پکښې غوره ده چه هر شی ته شامله ده۔ یعنی اُولټوئ خوراك، څکاك، بچے، دعا، استغفار، ذکر اذکار او تلاوت د قرآن پدے شپو کښې او لیلة القدر او رخصت (ځکه الله پدے خوشحالیږی چه د هغه رخصت ته راتلل اُوکړے شی) او هغه ځائے چه الله درله حلال کړیدے په ښځه کښې چه مخکښې عورت دے۔

او دے کښې اشاره ده دے ته هم چه هرکله یو شے حلال شي نو داسے به نهٔ کوی چه بس هغے ته اُولګی او د هغے په وجه ترے مهم مهم کارونه پاتے شي۔ هرکلهٖ چه تا له جماع پدے شپو کښې جائز شوه نو داسے به نهٔ کوے چه ټولے شپے په دے کارونو مشغول کړے بلکه د الله عبادتونه به کوے، د الله تعالیٰ ذکر اُوکړه، مونځونه، تهجد اُوکړه، لیلة القدر طلب کړه او دعاګانے اُوکړه۔ نور نیك اعمال چه درله الله لیکلی وی هغه طلب کړه۔ (حافظ ابن قیمؒ فی البدائع)۔

فائده : راغبؒ وائی : په آیت کښې یوے لطیفے ته اشاره ده چه په شهوت نکاحی کښې یو مقصد پروت دے چه هغه د نسل انسانی حفاظت دے نو څوك چه د نفس د حفاظت او د هغے د بے حیائی نه د ساتلو نیت کوی، نو دهٔ طلب کړو هغه شے چه الله دهٔ له پدے نکاح کښې لیکلے وو۔ او چا چه ددے نه اولاد مراد کړیدی د هغے مقصد هم دے ته راجع کیږی۔ (قاسمیؒ)۔

﴿ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا ﴾ دا په(بَاشِرُوْهُنَّ) باندے عطف دے یعنی (اُوس خوراك او څکاك کوئ) یعنی خوراك څکاك درله حلال شو۔دارنګه ددے ځائے نه اُوس د روژے حدود بیانوی چه د کوم وخت نه شروع کیږی او کوم وخت باندے ختمیږی۔

او پدے کښې اشاره ده پیشمنی کولو ته چه دا هم ضروری حکم دے او نبی ﷺ دے ته ترغیب ورکړیدے چه پیشمنی کوئ ځکه پدے کښې برکت دے (صحیحین وغیره)۔

فائده : که په یو روژه دار باندے په حالت د جنابت کښې صبا راوخیژی یا ئے احتلام اُوشی نو غسل به اُوکړی او همدا روژه به پوره کړی۔ (صحیحین) او هیڅ قضاء پرے نشته۔

﴿ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ ﴾ تبیّن دیته وائی چه یو شے ښهٔ ښکاره شي یعنی صبا ښهٔ راښکاره شي چه د هغے رنړا په غرونو او په لارو کښې خوره شي نو تر هغه وخت پورے خوراك څکاك جائز دے۔ (قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ قَالَهُ ابْنُ كَثِيْرٍ وَالْقَاسِمِيُّ ١/ ٤٨١)

لـکه حديث کښې هم ثابت دي چه کله يو انسان خوراك څکاك کوي او اذان شروع شي نودهٔ له د هغې پوره کول جائز دي۔

ابوداود کښې دي (۴۴۷/۲) ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ((کله چه يو تن ستاسو اذان واوري او لوښے د هغه په لاس کښې وي نو هغه دې نهٔ اږدي تردے چه د هغې نه خپل حاجت پوره کړي)) (وسنده صحيح ارواء الغليل)

او په حديث د ابن عباسؓ کښې مرفوعاً ثابت دي:

[إِنَّا مَعْشَرُ الْأَنْبِيَاءِ أُمِرْنَا بِتَعْجِيلِ فِطْرِنَا وَتَاخِيرِ سُحُوْرِنَا......] (الصحيحة للالباني (۳۷۶/۴)

(مونږ انبياؤ تـه دا حـکـم شـويـدے چه روژه ماتے په اول وخت اُوکړو او پيشمنے روستو کړو)۔ او دا طريقـه د عـامـو صـحـابـه کـرامؓو وه لکه مصنف د عبد الرزاق کښې د عمرو بن ميمون الاوديؒ نه نقل شويدي۔ (رجوع اُوکړه فتاوى الدين الخالص (۲۰۱/۸) ته۔ لهذا پدے رخصت باندے عمل بهتر دے۔

﴿الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ﴾ د سپيـن تـار نه مراد د مشرق د طرف نه د صبا صادق په وخت کښې اُوږد خور وور سپيـنـوالے دے او د تـور تـار نه مراد د شپے تيارهٔ ده ځکه چه د دغه سپينوالى دپاسه توره شپه ښکاري، نو دا دواړه ئې داسے کړل لکه سپين او تور تارونه ځکه چه دا په ابتداء کښې اُوږده ښکاره کيږي ليـکـن بيـا اشتباه راتـلـه چـه دا ظاهري تارونه مراد دي نو د هغې د ختمولو دپاره ئې (مِنَ الْفَجْرِ) اُووئيلو۔ يعنى دا د صبا تارونه دي نهٔ ظاهري۔

﴿مِنَ الْفَجْرِ﴾ امـام بـخـاريؒ د سهل بن سعد ﷺ نـه روايت کـړيدے چه بعض خلق د (خيط ابيض او خـيـط اسود) پـه مـعـنىٰ پو هه نشو او د صبا ناوخته پورے به ئې خوراك څکاك کولو نو الله تعالىٰ (مِنَ الْفَجْرِ) (لفظ) نازل کړو، نو خلقو ته پته اُولګيده چه د سپين او تور تار نه مراد شپه او ورځ دي۔

او عدى بن حاتم ﷺ دوه تـارونـه (توراو سپين) د بالخت لاندے ايخوستي وو، هغې ته به ئې کتل چـه کـلـه بـه ورتـه ښـهٔ ښـکـاره شو نو روژه به ئې بندوله، نو نبى ﷺ تـه ئې اُووئيل چه دا خو ډير نـاوخـته پـورے نهٔ ليدلے کيږي۔ هغه ورته اُوفرمايل: (إِنَّكَ لَعَرِيْضُ الْقَفَا) (صحيح بخاري ومسلم) (ستا څټ خـو ډير پلن دے) چه کنارے د آسمان ډے د سر لاندے کړيدي۔ بلکه ددے نه مراد د شپے تيارهٔ او د ورځے رڼـرا ده۔ دا حديث دليل دے چه د قرآن په تفسير کښې احاديثو ته ضرورت دے خاصکر د احکامو په آيتونو کښې۔

﴿ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ﴾ د روژے ابـتـدائـي وخـت بيان شو چه د صبا صادق نه شروع کيږي، اُوس د روژے دويـم طـرف بيـانـوي چـه د شپے راختـلـو پـورے بـه وي۔ او د شپے راختل ددے نـه مـعـلـوميږي چـه نـمـر پـريوزي او د شپے د تـوروالى آثار ستا سر تـه راورسيږي۔ او دارنګه مشرق

طرف ته توره ليکه ښکاره شي.

دا دليل دے چه کله شپه راوخيژي نو بس روژه ئے ماته شوه، د شپے روژه نهٔ وی. او اذان د شپے د راختلو دپاره صرف علامه وی، ورنه د اذان انتظار لازم نهٔ دے کله چه انسان ته يقيني شپه راختل معلوم شي. حديث کښې ددے وضاحت راځي : رسول الله ﷺ په سفر کښې وو يو صحابيؓ ته ئے اُووئيل: کوز شه (فَاجْدَحْ لَنَا) زمونږ دپاره سَتُوان تيار کړه. هغه اُووئيل يارسول الله ﷺ ورځ لا باقي ده. ورته ئے اُوفرمايل کوزشه : درے ځل ئے ورته دغه شان خبره اُوکړه. بيا هغه کوزشو او ستوان ئے تيار کړل او نبی ﷺ اُوڅکل. بيا رسول الله ﷺ اُوفرمايل : (إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هٰهُنَا وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هٰهُنَا وَغَابَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ)

(کله چه شپه د مشرق طرف نه رامخامخ شي او ورځ بل طرفته شا واړوی او نمر پريوزی نو د روژه دار روژه ماته شوه). (متفق عليه)

په يو حديث کښې دی : زما امت به په خير (فطرت) روان وی ترڅو چه روژه ماتے وختی کوی (يعني د شپے د داخليدو په ابتداء کښې). (صحيح بخاری : ۱۸۵۶ ومسلم)

ځکه چه پدے کښې د يهود او نصاراؤ مخالفت دے.

عائشےؓ ته ابوعطيه رحمه الله راغلو چه مونږ کښې دوه صحابه کرامؓ دی، يو وختی روژه ماتوی او ناوخته پيشمنے کوی. بل روايت کښې دی : يو وختی روژه ماتوی او وختی مونځ کوی). او بل ناوخته روژه ماتوی او وختی پيشمنے کوی (يعني د کوم يو عمل غوره دے) ؟ هغے اُوفرمايل : کوم يو وختی والے کوی ؟ هغه اُووئيل : عبد الله بن مسعودؓ . عائشےؓ اُوفرمايل همدغه شان کار به رسول الله ﷺ کولو. او بل صحابی ابوموسیٰ اشعريؓ وو. (السنن الکبری للبيهقی).

﴿ إِلَى اللَّيْلِ ﴾ نه معلومه شوه چه د شپے د راختلو سره سمدست روژه ماتول مستحب عمل دے، او معلومه شوه چه وصال کول افضل نهٔ دی لکه څنګه چه ددے نه په احاديثو کښې هم منع راغلے ده. ځکه چه په امت باندے مشقت راځي. وصال ديته وائي چه د يوے روژے مکمل کولو نه روستو دوباره بله روژه شروع کړی چه مينځ کښې روژه ماته نهٔ کړی. ددے اجازت صرف د پيشمنی پورے راغلے دے، که يو انسان اُوږدهٔ روژه نيسی، نو د يو پيشمنی نه بل پيشمنی پورے نيولے شي. (متفق عليه).

﴿ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ ﴾

شان نزول : د ضحاکؒ او قتادهؒ نه نقل دی چه بعض کسان به د اعتکاف په وخت کښې د مسجد نه (د يو حاجت دپاره) اُووتل نوکورته به لاړو او خپلے بی بی سره به ئے جماع کوله نو الله

دا آیت نازل کړو۔ چه کله تاسو په اعتکاف کښې یئ نو مباشرت به نۀ کوئ برابره ده مسجد کښې وی او که بهر وی۔ (ابن جریرؒ، ابن کثیرؒ)

بی بی ورله ملاقات له راتلے شی، خو اکښې ورسره کیناستے شی خو خواهشات، جماع، یا لاس وروړل په طریقه د شهوت او خکلول به نۀ وی۔ لکه عائشہؓ به د نبی ﷺ سر ګمنځولو، وینځلو۔او صفیه رضی الله عنها د رسول الله ملاقات ته (د هغه د اعتکاف په حالت کښې) راغلے وه۔

اعتکاف: په لغت کښې: (اَلْإِقْبَالُ عَلَى الشَّيْءِ عَلٰى وَجْهِ التَّعْظِيْمِ) یو شی ته متوجه کیدل په طریقه د تعظیم، لکه په مسجد کښې یو انسان ناست وی د الله تعظیم، د هغه عبادت پکښې کوی۔ او شرعی معنیٰ ئے دا ده: هُوَ الْمَكْثُ فِي الْمَسْجِدِ بِالنِّيَّةِ مَعَ الصَّوْمِ وَاَدْنَاهُ يَوْمٌ۔

په مسجد کښې په نیت د عبادت او تعلق بالله سره وخت تیرول خو چه روژه ورسره وی او ادنیٰ وخت ئے یوه ورځ دے۔

بعض ئے داسے تعریف کوی: د هر شی نه جدا کیدو سره د الله په یاد کښې یواځے کیناستلو ته وائی۔ او مسجد کښې کول ددے د لوازمو نه دی۔پدے وجه په اعتکاف کښې د بی بیانو سره نزدیکت هم حرام دے۔ (تدبر قرآن)۔

اعتکاف دے اُمت ته الله تعالیٰ مشروع کړیدے ځکه چه پخوانی امتونه به ګودونو کښې کیناستل، نو دے اُمت ته هم الله تعالیٰ دا عبادت مشروع کړو او فائده ئے دا ده [جَمْعِيَّةُ الْقَلْبِ عَلَى اللهِ] (چه په الله باندے د بنده زړهٔ راجمعه شی او تزکیه د نفس ئے اُوشی) او اعتکاف کښې مقصد تَبَتُّلُ اِلَى اللهِ دے۔ یعنی د الله سره ځان یواځے کول۔ او د دنیا نه ځان راخکل دی۔

او دا یو سنت عمل دے او د رمضان په آخری عشره کښې کولے شی، پدے وجه ئے د روژے د احکامو سره متصل راوړو۔ او د جمهورو سلفوؒ په نیز اعتکاف دپاره د ورځے روژه نیول شرط دی۔او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او حافظ ابن قیمؒ دے مذهب ته ترجیح ورکړیده۔

(قیام رمضان للالبانیؒ)

﴿فِي الْمَسَاجِدِ﴾ د مسجد قید ئے اُولګولو لکه احادیثو کښې هم د مسجد قید راغلی دا دلیل دے چه د مسجد نه بهر په کورونو کښې د زنانه او سړو دپاره اعتکاف نۀ وی۔ او پدے باندے امام قرطبیؒ د اجماع دعوه کړیده۔ او که بغیر د مساجدو نه جائز وے نو د رسول الله ﷺ بیبیانے ډیرے حیاناکے وے، هغوی به کړے وے حال دا چه هغوی د مسجد نه سِویٰ په بل ځائے کښې اعتکاف نۀ دے کړے۔ ددے نه دا هم ثابته شوه چه څوك په غارونو او غرونو او خانقاه ګانو او شاړو ځایونو کښې چیلے اُویاسی نو دا سو چه بدعات دی چه په شریعت کښې هیڅ ثبوت نۀ لری، دا شیطانی

عبادات دي۔

مسئله : اعتکاف په کوم مسجد کی کولے شي ؟

دا اختلافي مسئله ده چه کوم مسجد کښې اعتکاف کولے شي او کوم کښې نۀ ؟

(۱) يو قول دے چه اعتکاف په مساجد ثلاثه ؤ پورے خاص دے (يعني مسجد حرام، مسجد نبوي، مسجد اقصىٰ) لکه دا په صحيح حديث کښې راغلي دي۔ (ابن ابی شيبه، سير اعلام النبلاء، مشکل الآثار للطحاوی) ۔ مګر بعض علماؤ (زبير عليزئ) دا روايت د دوه وجو نه ضعيف ګرځولے دے، يو تدليس د سفيان چه دا اکثر د ثقاتو نه تدليس کوی ليکن کله نا کله د غير ثقاتو نه هم تدليس کوی نو ددۀ په روايت کښې شك دے او د ټولو رواياتو مدار همدا دے۔ دويم : پدے روايت کښې اضطراب هم دے۔ حافظ زبير عليزئ دا هم وائي چه مسجد اقصىٰ ددے حديث د وينا په زمانه کښې د مسلمانانو په لاس کښې نۀ وو بلکه دا عمر فاروق په سنه (۱۵ هـ) کښې فتح کړے وو۔

(۲) قول ثاني دا دے چه اعتکاف په هر جامع مسجد کښې کيږي، او ددے حديث مطلب دا دے چه په دے مساجدو کښې اعتکاف د نورو مساجدو د اعتکاف نه غوره دے۔يا روايت ضعيف دے۔ ۲- دارنګه ابن حزمؒ او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائي چه دا په باره د نذر کښې دے يعني چا چه نذر کړے وی چه زۀ به په يو ددے درے مساجدو کښې اعتکاف کوم، نو هغه به ئے پوره کوی او بل مسجد کښې د هغے په ځائے اعتکاف نۀ کافي کيږي۔

(المحلى (۳۲۳/۸) مجموع الفتاوى (۲۵۱/۲۷)

دليل : يو ددے آيت نه استدلال کيږي چه دلته ئے مَسَاجِد جمع راوړيده۔ او تخصيص ئے د دريو مساجدو نۀ دے کړے۔ ۲- دويم حديث د ابو داود (۲۷۲/۱) دے۔

عائشهؓ فرمائي: (......و لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِيْ مَسْجِدٍ جَامِعٍ) (وَصَحَّحَهُ الْاَلْبَانِيُّ) (اعتکاف صرف په جامع مسجد کښې وی) او جامع مسجد هر هغه جمات ته وائي چه د جُمعے مونځ پکښې کيږي۔

او پدے قول کښې په ټولو دلائلو عمل راځي۔ والله اعلم۔

او تفصيل په فتاوی الدين الخالص (۱۸۶/۸) کښې اُوګوره۔

﴿تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ﴾ (تِلْكَ) اشاره ده مخکښې ذکر شوی حکمونو ته که اوامر وی او که نواهي۔دا د الله حدود دي۔

(حدود) جمع د حد ده په اصل کښې منع ته او د يو شي انتهاء ته وئيلے شي۔ او حد په معنىٰ د پولې سره راځي، نو دا ذکر شوی حکمونه (امرونه ویٰ که نواهي) دا ټول د الله حدود يعني پولے دي او ددے ماتول منع شويدي۔ حدود کله په معنىٰ د اوامرو (امرونو) سره وی او کله په معنىٰ د

نـواهیـو سره وی او کـلـه په معنیٰ د زجرونو سره وی لکه خاص حدود۔ دلته ټولو ته شامل دے او دے ته ئے حدود ځکه اُووئیل چه لکه څنګه حد جامع او مانع وی نو دغه شان د الله په حکمونو کښې هم بے دلیله نور حکمونه نشی داخلیدلے۔

﴿ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ﴾ یـعـنـی د ماتولو او مخالفت دپاره مهٔ ورنزدے کیږئ ځکه چه د ګناه په خوا کښې خوزیدلو سره انسان په ګناه کښې واقع کیږی۔

فائده : روستو راځی فَلَا تَعْتَدُوْهَا (بقره : ۲۲۹) او دلته فَلَا تَقْرَبُوْهَا وائی :

(۱) وجه دا ده چه پدے مقام کښې نواهی زیات بیان شو او امرونه کم۔ او ددے سره د نزدیکت نه منـع منـاسـب ده ځـکـه دا کـنایه ده چه د صریح نه ابلغ ده۔ او روستو آیت کښې د طلاق، ایلاء او نکاح احکام دی او د هغے سره د تعدی نه منع مناسب ده۔

(كَذٰلِكَ) دا کـاف د بیـان د کـمـال دپاره دے۔ یـعـنـی تیر شوی احکام په مختصر، جامع او کامل وضاحت سره ذکر دی۔ او پدے جمله کښې خلقو ته ترغیب دے چه پدے احکامو باندے عِلم راولی، او بیا پرے عمل اُوکړی چه تقویٰ پکښې پیدا شی۔

﴿ آيَاتِهٖ لِلنَّاسِ ﴾ یـعـنـی هغـه آیتـونـه چـه متضمن دی د الله احکامو لره۔ او عامو خلقو ته ئے بیانوی چه غبی او ذکی پکښې برابر دی۔

﴿ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴾ دا دلیـل دے چـه روژه، دعـا، د لیـلـة الـقـدر طلب، او په مسجد کښې اعتکاف ته کیناستل، دا ټول د تقویٰ اسباب دی۔

وَلَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ
او مهٔ خورئ مالونه د یو بل خپل مینځ کښې په ناروا طریقو، او مهٔ وړئ دا مالونه حاکمانو ته
لِتَأْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۸﴾
دے دپاره چه تاسو اُوخورئ یوه حصه د مالونو د خلقو نه په ګناه (ظلم) سره او تاسو پو هیږئ۔

تفسیر: اُوس بـل (څـلـورم) حـکـم او قانون بیانیږی هغه دا دے چه په غلطو طریقو او رشوتونو سره پـریـدی مـالـونـه مهٔ خورئ۔ نو پدے کښې اصلاح الاموال (د مالونو اصلاح) ده۔ نو عنوان د آیت دے : (اَلنَّهْىُ عَنْ اَكْلِ الْاَمْوَالِ بِالطُّرُقِ الْبَاطِلَةِ وَالْاِرْتِشَاءِ)

(په غلطو طریقو او رشوت سره د مالونو د خوړولو نه منع ده)۔

ربط : مـخـکـښې سره ئے مناسبت دا دے چه روژه بنده د حرامونه بچ کوی، ځکه چه روژه کښې

بنده د حلالو نه بچ وی۔نو د حرامونه به په طریقه اولیٰ سره بچ کیږی۔ نو روژه د حرامو نه د بچ کیدو سبب دے۔

دلته ذکر د (اکل) (خوراك) دے مراد تربے نه (اخذ) (اخستل او حاصلول) دی۔ او دا په عرف کښې استعمالیږی، خلق وائی (سود خور دے، رشوت خوردے)۔ ځکه چه د مال د اخستو اصل مقصد خوراك وی۔نو پردے مال د لږ ساعت دپاره هم مۀ اخله، ددے وجه نه دا هم ناروا ده چه څوك پردئ چپلے بغیر د اجازت نه استعمال کړی۔لکه ډیر خلق پردئ چپل وا چوی دوه درے ورځے ئے اُوګرځوی بیا ئے راوړی نو دا کار هم سخته ګناه ده۔ او پدے باندے ډیر جاهلان نۀ پو هیږی۔

﴿ بِالْبَاطِلِ ﴾ یعنی په ناروا طریقه سره۔ دا یو عام مفهوم لری چه ددے لاندے ډیر څیزونه او طریقے راځی لکه دهوکے درکے، رشوت او په غلط بیوعو، غلط خیراتونو سره ئے اُوخوری۔

○ او پدے کښې خپل مال په غلطه طریقه خوړل هم داخل دی چه تې وی، دمتوب، شراب، چرس، افیون، د خنزیر غوښے پرے واخلی یا ئے خرڅ کړی۔ یا په اسراف طریقو سره په ودونو او رواجونو کښې مالونه لګول، جواری، د زنا اُجرت (ټیکټ)، غلا، لوټ مار، غصب، په خرید وفروخت کښې دهوکه کول، په امانت کښې خیانت کول۔سود مال، په داسے کار اجرت اخستل چه هغه ټیك نۀ وی، د وقف او وصیت مال په ناحقه خوړل، د مسلمانانو نه ټیکسونه اخستل، په ختم د قرآن او د سورة یس په ختمونو اجرت اخستل، په امامت او اذان باندے مزدوری اخستل، د خویندو تریندو میراث خوړل۔

او دا قسم ټول هغه صورتونه چه په هغے سره د خلقو مال په ناحقه خوړلے کیږی دا ټول حرام مال دے او په هیڅ طریقه جائز نۀ دے۔ او د حرام خوړلو نه ځکه منع اُوشوه چه په حرام مال سره د انسان توحید خرابیږی۔

﴿ وَتُدْلُوْا ﴾ دا په (تَأْكُلُوْا) باندے عطف دے نو د (لَا) د لاندے دے لکه په قراءت د ابی بن کعبؓ کښې ورسره (لا) ذکر شویده۔ هرکله چه د خلقو مال خوړل په باطله طریقه سره یو عام مفهوم وو، نو اُوس څۀ کسان به پردے مال پدے ګمان جائز ګنړی چه دا مال د قاضی په حکم سره لاس ته راغلے دے نو الله تعالیٰ د دوی ګمان پدے جمله کښې رد کوی۔

او د اِدْلَاء معنیٰ ده زوړندول لکه بوقه چه کوهی ته زوړندولے شی۔نو پدے صورت کښې به (بِهَا) کښې باء صله د اِدْلَاء وی او ضمیر به (حُكُومة) یعنی فیصلے ته راجع وی۔او ادلاء به د القاء (ګوزارولو) نه مجاز وی۔اَیْ لَا تُلْقُوْا اَمْرَهَا وَالْحُكُوْمَةَ فِيْهَا – اِلَى الْحُكَّامِ)

معنیٰ دا چه مۀ زوړندوئ یا مۀ ګوزاروئ کار او معامله د مالونو او فیصله پدے مالونو کښې

حاکمانوته چه کله پوهیږی چه مدعی سره ګواهان نشته، نو قاضی به زما دپاره فیصله اُوکړی۔او د دروغو قسم نه نهٔ یریږی۔ نو د حاکمانو د فیصلو په وجه تا له دا مال نهٔ حلالیږی۔

حافظ ابن کثیرؒ په خپل تفسیر کښ لیکی : علی بن ابی طلحهؒ د ابن عباسؓ نه روایت کړے چه دا آیت د هغه سړی په باره کښ دے چه په هغه باندے مال وی، او په هغے کښ د مدعی سره ګواهان نهٔ وی نو دا د مال نه انکار اُوکړی او جګړه حاکمانو ته یوسی، دے دپاره چه فیصله ددهٔ په حق کښ اُوشی او دا پوهیږی چه دا ګناهګار دے او د حرامو خوړلو کوشش کونکے دے۔ (قاسمیؒ)

د صحیحینو په حدیث کښ د ام سلمهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

« زهٔ انسان یم، ما ته جګړه کونکی راځی، کیدے شی چه ستاسو نه بعض کسان د نورو نه په دلیل کښ چالاك وی نو زهٔ به د هغه دپاره فیصله اُوکړم، نو چا له چه زهٔ د مسلمان په یو حق فیصله اُوکړم نو(دا ددهٔ دپاره جائز نهٔ ده بلکه) دا یوه ټکړه د اُور ده۔ دادے ځان سره واخلی یا دِے ئے پریدی»۔ نو دا آیت او دا حدیث دلیل دے چه د حاکم او قاضی او مفتی فیصله یو شے د نفس الامر نه نهٔ بدلوی، که یو شے په نفس الامر او واقع کښ حرام وی نو هغه حلال نهٔ ګرځوی، او که یو شے حلال وی نو هغه حرام نهٔ ګرځوی۔بلکه د قاضی فیصله صرف په ظاهر کښ نافذه وی، نهٔ په باطن کښ۔ که د نفس الامر او واقع سره برابره شوه خو ښهٔ ده او که نهٔ وی نو د حاکم اجر اُوشو او په حیله کونکی د هغے ګناه راغله۔ پدے وجه ئے په آخر د آیت کښ اُوفرمایل :(وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ) یعنی تاسو ته د خپلے دعوے او د خپلو خبرو باطلوالے معلوم وی۔ (تفسیر القاسمی ۱/۴۸٦)۔

(۲) **دویم تفسیر** : (بِهَا) ضمیر اموالو ته راجع دے، او مراد ترے نه رشوت دے۔

[اَیْ لَاتُلْقُوْا بَعْضَهَا اِلٰی حُکَّامِ السُّوْءِ عَلٰی وَجْهِ الرِّشْوَةِ لِیُعِیْنُوْکُمْ عَلَی اقْتِطَاعِ اَمْوَالِ النَّاسِ] (قاسمی)

یعنی غلطو حاکمانو ته په طریقه د رشوت مالونه مهٔ وړئ، دے دپاره چه هغوی تاسو سره د پردی مال په حاصلولو کښ مدد اُوکړی) ځکه رشوت ورکول ستا دپاره هم ګناه ده او هغه دپاره ئے اخستل حرام دی۔ ځکه حدیث کښ دی :[لَعَنَ اللّٰهُ الرَّاشِیَ وَالْمُرْتَشِیَ وَالرَّائِشَ] (مسند احمد، وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِیُّ وَالْاَلْبَانِیُّ) (الله لعنت کړے په رشوت ورکونکی (په غلطه کښ) او په رشوت اخستونکی او څوك چه د دوی ترمینځ منډه وهی)۔

او پدے رشوت کښ دوه لوئی جرمونه راغلل۔ یو رشوت ورکول او بل په باطله طریقه پردے مال حاصلول۔

بیا رشوت دیته وائی چه یو انسان حاکم ته ددے دپاره څهٔ مال ورکړی چه هغه ددهٔ په حق کښ د پردی مال یا زمکے وغیره فیصله اُوکړی۔ او که یو انسان یو ظالم یا حاکم ته څهٔ مال وغیره ورکړو

ددے دپاره چه د خپل مال حفاظت پرے اُوکړي، نو دا به جائز وي اګر که د حاکم او ظالم دپاره ددے اخستل حرام دی۔ دارنګه یو غل درباندے پیخ شی مال درنه اخلی نو تهٔ ورته اُووائے دا لس شل روپیٔ واخله ما پریده نو دا به ستا دپاره جائز وي۔

او رشوتونه اخستل اصل کښې د یهودو طریقه وه او بیا دے اُمت کښې هم کافی طریقے سره رائج دی، او الله ته د مخکښې نه معلومه وه چه دا اُمت به دا کار کوی ځکه ئے دوی ته هم خطاب کړیدے۔

فائده : علماء فرمائی : [فِيْهِ نَهْيٌ عَنْ اِقَامَةِ حُجَّةٍ بَاطِلَةٍ] پدے کښې بادشاه او حاکم ته د پردی مال حاصلولو دپاره د باطل دلیل وئیلو نه منع ده، که هغه په چالاکیٔ سره وي یا په غلطو ګواهانو قائمولو سره وي۔ لنډه دا چه په هره غلطه طریقه سره پردے مال خوړل حرام دی۔نو ددے نه دا مسئله ثابتیږی چه حرام مال په فیصله د قاضی هم نهٔ حلالیږی کله چه تا ته په زړهٔ کښې معلومه وي چه دا پردے مال دے۔ لکه دا خبره په حدیث د بخاري وغیره کښې صراحةً مخکښې تیره شوه۔

﴿ اِلَى الْحُكَّامِ ﴾ حکام جمع د حاکم ده۔ (فیصله کونکے) که قاضی وي او که بادشاه وي۔

﴿ لِتَأْكُلُوْا ﴾ یعنی دا وروړل د خوراك دپاره منع دی۔

(فَرِيْقًا) د فریق نه مراد حصه او برخه ده۔

﴿ بِالْاِثْمِ ﴾ (باء سببیه ده او مراد د اِثْم (ګناه) نه د دروغو ګواهی یا رشوت ورکول یا په دروغه قسم خوړل دی۔ او دا د لِتَأْكُلُوْا پورے متعلق دے، یعنی چه تاسو خوریٔ څهٔ حصه د مالونو د خلقو نه په سبب د ګناه چه هغه د دروغو ګواهی ده، یا رشوت ورکول یا قسم خوړل دی۔ یا باء د ملابست او مصاحبت ده یعنی چه ستاسو دا خوړل د مالونو په ګناه مشتمل وي او د ګناه سره ملګری وي نو داسے مهٔ کویٔ۔ او که په ګناه سره نهٔ وي، بلکه خپل حق وي نو بیا جائز دی۔

﴿ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴾ (بِاَنَّكُمْ عَلَى الْبَاطِلِ وَالْمَعْصِيَةِ) یعنی تاسو ته دا معلومه ده چه تاسو په باطله ئے او په ناحقه ئے۔ دا قید ځکه لګوی چه کله یو انسان ته دا معلومه نهٔ وي چه دا پردے مال دے بلکه ددهٔ غالب ګمان دا وي چه دا زما مال دے، او مینځ کښې پردے وي، نو پدے باندے دا ګناهګار نهٔ دے۔ ځکه دا ناپوهه دے۔ د جهالت د وجه نه ئے پردے مال واخستو۔ او دغه شان خبره روح المعانی او البحر المحیط هم لیکلے ده۔

oooooooooo

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ

دوی تپوس کوی ستا نه په باره د میاشتو کښې، اُووایه چه دا وختونه مقرر شویدی د خلقو (د فائدو) دپاره

وَالْحَجِّ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ

او د حج دپاره، او نهٔ ده دا نیکی چه تاسو راځئ کورونو ته د شاګانو نه لیکن نیکی دا ده

مَنِ اتَّقٰى وَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۸۹﴾

چه څوك اُووېرېږی د الله نه، او راځئ کورونو ته د دروازو نه او اُووېرېږئ د الله نه دے دپاره چه تاسو کامیاب شئ۔

تفسير: پدے آیت کښې د سپوږمۍ په باره کښې د یو سوال جواب دے۔

مناسبت د مخکښې سره دا دے چه روژه وغیره نور عبادات په میاشت سره معلومیږی نو اُوس د میاشتے تذکره کوی حدیث کښې دی: «د میاشتے په لیدو روژه نیسئ او د میاشتے په لیدلو سره روژه ماتوئ» (بخاری ومسلم)۔

او پدے آیت کښې د جاهلیت د بعض رواجونو رد کوی او د تصور اصلاح کوی۔

ابن عباسؓ فرمائی: صحابه کرامو د نبی ﷺ نه په ټول ژوند کښې صرف څوارلس تپوسونه کړیدی۔ او د هغے جوابونه الله ورکړیدی۔ غالباً د احکامو متعلق دی لکه یو دا سوال دے او بل (۱۸۶) آیت کښې، او بعض نور تپوسونه هم پدے سورت کښې راروان دی۔

ددے وجه نه هرکله چه دا سوال دے نو په سوال کښې مختلف څیزونه جمع کوی نو د مخکښې سره ربط ته هم ضرورت نشته۔ اګرکه ربط ئے هم واضح دے۔

﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ﴾: دا تپوس چا کړے وو؟ (۱) نو ظاهر قول دا دے چه دا تپوس بعض صحابه کرامو (معاذ بن جبل او ثعلبه بن غنم رضی الله عنهما) کړے وو۔ چه اے د الله رسوله! څهٔ راز دے چه سپوږمۍ د تار په شان باریکه راخیژی، بیا غټیږی تردے چه ګول شی بیا وړهٔ کیږی تردے چه د مخکښې په شان باریکه شی، (د نمر په شان) په یو حال باندے باقی نهٔ پاتے کیږی نو دا آیت نازل شو۔ (معرفة الصحابة لابی نعیم: ۱۳۰٦) وابن عساکر)

او دا قول د ابن عباسؓ، قتادهؒ او ربیعؒ وغیره دے۔ (قرطبیؒ واللباب والبغوی)۔

(۲) بعض وائی: دا تپوس یهودیانو د معاذ بن جبل او ثعلبه بن غنم رضی الله عنهما نه کړے وو، نو هغے دواړو رسول الله ﷺ ته ذکر کړو چه مونږ نه یهودیانو داسے تپوس اُوکړو چه څهٔ وجه ده سپوږمۍ اول نرۍ ښکاره کیږی او بیا زیاته شی بیا برابره شی او بیا کمیږی او نرۍ کیږی۔ (قرطبیؒ)

نو کـه ابتداءً تپوس د مسلمانانو شي نو هغوی د حکمت تپوس کړے او جواب هم د حکمت په بیان سره ورکړے شو چه دے کښ ډیر حکمتونه دی۔ د سپوږمۍ په ذریعه خلق د خپل ژوند د ضروریاتو اَوقات مقرروی، د قرض، د اخستو خرڅولو تاریخ، روژه، افطار، حج، اجارے، کرایه ګانے، تنخواه ګانے، د حیض (ماهواری) ورځے۔ د زنانو عدتونه او د شرطونو مودے، دا ټول مواعید د سپوږمۍ په ذریعه معلومیږی۔

مواقیت جمع د میقات ده، مقرر وخت ته وائی۔

او کـه دا تپوس د یهودیانو شي یا د صحابه کرامو شي چه دوی د نری والی او غټ والی د سببب تپوس کړے وو خو هرکله چه دا تپوس بے فائدے وو، نو جواب ورکړے شو په حکمت بیانولو سره، پدے کښ تنبیه ده چه اے خلقو ! تاسوله ددے فائدو تپوس پکار دے نۀ د سبب، ځکه په سبب معلومولو کښ فائده نشته او دا د مفتی هوښیارتیا وی چه کله د هغه نه یو قسم تپوس اُوشی، نو هغه د مخاطب د حال مطابق جواب ورکړی، نۀ د سوال مطابق۔ او دیته په علم البلاغة کښ الاسلوب الحکیم وائی۔ یعنی دوی د سبب فاعلی تپوس کړے وو او جواب په سبب غائی سره ورکړے شو۔

او پدے کښ تعریض دے په یهودو چه دا نبی مۀ تنګوئ او مفید تپوسونه اُوکړئ۔ ځکه چه نبی ﷺ ددے دپاره نۀ دے راغلے چه د کائناتو د څیزونو وجوهات او اسباب بیان کړی بلکه د نبی کار د دین احکام بیانول دی۔ او دلته تفتازانی په مطول کښ غلطه خبره لیکلے ده چه دا تپوس صحابه کرامو کړے وو، لیکن هرکله چه هغوی د ریاضۍ او علم هیئت په باریکاتو نۀ پوهیدل نو ددے وجه نه الله تعالیٰ ورته د حکمت جواب ورکړو۔

دا د صحابه کرامو سپکاوے دے۔ بلکه دا چه صحابه کرامو او عربو کښ علم ریاضی ډیر زیات وو، هغوی پدے علومو پوهیدل۔ دارنګه که نۀ پوهیدلے، نو چه الله جواب ورکړے وے پوهه شوی به وے۔ صحیح دا ده چه که دا د صحابه کرامو تپوس شی نو جواب ځکه ورنکړے شو چه په هغے کښ فائده دومره نۀ وه ځکه چه نبی ﷺ ددے دپاره رالیږلے شوے وو چه خلقو ته د دنیا او د آخرت د صلاح او جوړوالی بیان اُوکړی او د علم هیئت سره ددے هیڅ تعلق نشته ځکه دا د شرعی علومو نه نۀ دے۔ نو ځکه ئے حکمت ذکر شو او دا مطلب نۀ دے چه صحابه کرامؓ په جواب نۀ پوهیدل۔

﴿ عَنِ الْاَهِلَّةِ ﴾ اَهلـه جمع د هِلَال ده سپوږمۍ ته وائی چه په اولو درے شپو کښ وی، هلال په اصل کښ آواز اُوچتولو ته وائی، نو سپوږمۍ ته هِلَال ځکه وائی چه کله راوخیژی، خلق چغے

وهى چه هغه ده سپوږمۍ راختلې ده۔

فائده: (۱) زمونږ د مسلمانانو حساب به همیشه په قمری حساب بناء وی۔
او په شمسی طریقه حساب کولو باندے بعض علماؤ رد کړیدے چه دا په اسلام باندے نصرانیت ته ترقی ورکول دی، لکه نن صبا د خلقو همدا حال دے، د شرعی سَنے او تاریخ نه خبر نهٔ دی۔ دے وجه نه صحابه کرامؓ په عیسوی سنه باندے اکتفاء اُونکړه بلکه خپله هجری قمری سنه ئے مقرر کړه۔

(۲) د سپوږمۍ تخصیص ئے اُوکړو، نهٔ د نمر ځکه چه د سپوږمۍ د اختلاف د احوالو په وجه هر عقلمند انسان اګرکه امی وی د اوقاتو معلومات کولے شی لکه ډیر عوام خلق تاریخ د میاشتے نه معلوموی، د هغے وړوکوالی او غټوالی ته ګوری۔ او د نمر نه معلومات کول سخت دی، صرف د هغه نه څلور موسمونه معلومیږی او هغه هم هرڅوك نشی معلومولے، بلکه جنتری (کلینډر) کتلو ته به حاجت راځی۔

﴿ قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ﴾

(وخت معلومول او مقررول دی د خلقو د کارونو او د حج دپاره)۔

حج ئے خاص ذکر کړو ۱ – پدے کښ د عربو په رواج او عادت باندے رد غرض دے چه هغوی به په حج کښ نَسِیءُ کوله یعنی حج به ئے په خپله طبعه سره د یوے میاشتے نه بلے میاشتے ته نقل کولو او روستو کولو به ئے، نو په تخصیص د حج کښ د دوی په بدعت باندے رد اُوشو چه حج یو داسے عبادت دے چه مکان ئے خاص دے، نو دغسے زمان ئے هم خاص دے، چه هغه درے میاشتے دی (روستو راځی) نو ددے روستو کول بدعت او ناروا کار دے۔

۲ – دارنګه مخکښ نه د بِرٌ (نیکیانو) او د فرائضو تفصیل شروع دے نو مخکښ روژه وه اُوس څلورمه فریضه د حج ذکر کوی۔ مینځ کښ ئے د میاشتے خبره اُوکړه ځکه چه روژه هم میاشتے معلومولو ته حاجت لری او حج هم میاشتو ته ضرورت لری۔

﴿ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا ﴾

ددے جملے ذکر کولو وجه دا ده چه د یوے خبرے نه بله خبره پیدا شی، مخکښ د حج متعلق یو بدعت ئے رد کړو نو اُوس د عربو د حج په باره کښ بل بدعت او رواج او غلطی رد کوی، او د الله تعالیٰ په قرآن کریم کښ عادتِ مبارکه دا دے چه د دین په باره کښ غلط تصور رد کوی ځکه چه دا دین خرابوی چه عام ګناهونه ئے هغومره نهٔ خرابوی ځکه د هغے ضرر شخصی دے، او د بدعت ضرر متعدی دے۔نو یے شریعت جوړول دی۔او دا د الله تعالیٰ مقابله ده۔ لکه د دوی

بدعات به په قرآن كريم كښې ځائے په ځائے رد كيږي.

شان نزول : او ددے په سبب د نزول كښې ډير اقوال دي :

(١) حسن بصريؒ فرمائي : د جاهليت په وخت كښې به چه يو سړے د سفر دپاره د كور نه اُووتلو (كه هر سفر به وو) بيا به ئے رائے بدله شوه او سفر به ئے پريخودو نو د كور د دروازے نه به نهٔ داخليدو بلكه د شا د طرف نه به په ديوال (يا په بله ذريعه) رادا خليدو او په دروازه داخليدل به ئے سپيرهٔ والے ګنړلو. نو الله تعالىٰ دا آيت نازل كړو. (ابن كثيرؒ)

نو بنا پدے به د نيكى نه مراد دلته د سپيرهٔ والے نه بچ كيدل وي يعنى د كور د شا طرف نه داخليدل د سپيرهٔ والى نه بچكيدل نهٔ دي بلكه په تقوىٰ او په توكل على الله سره به د سپيرهٔ والى نه بچ كيږئ. (تفسير القرطبى).

(٢) محمد بن كعبؓ پكښې دا وئيلى دي چه سړے به د اعتكاف نه واپس كيدو كښې د كور د دروازے نه نهٔ داخليدو.

(٣) عطاء بن ابى رباحؒ وائى : مدينے والا به چه كله د اخترونو نه واپس كيدل نو د كورونو د شا طرف نه به داخليدل او دا عقيده ئے وه چه دا كار نيكئ ته ډير نزدے دے. (ابن كثيرؒ).

(٤) امام قرطبىؒ وائى : ډير صحيح قول پدے باره كښې د براء بن عازبؓ قول دے چه انصارو به كله د حج (يا عمرے) دپاره احرام اُوتړلو او د حج نه به فارغ شو، نو كورونو ته به د دروازو نه نهٔ داخليدل (بلكه يا به ئے پارسنګ كيخودلو يا به ئے سورے كولو) نو دغه وخت يو انصارى ددے خلاف اُوكړو او په دروازه داخل شو نو هغه له خلقو پيغور وركړو چه تا د خپل رواج خلاف اُوكړو. نو دا آيت نازل شو. (بخارى ومسلم)

او رد اُوشو چه دا څهٔ د نيكى تقاضا نهٔ ده چه په دروازه باندے نهٔ داخليږى بلكه نيكى په تقوىٰ كولو كښې ده. او د الله په احكامو منلو كښې ده.

(٥) په يو روايت كښې دي، امام زهرىؒ فرمائي : انصارو كښې څهٔ كسانو چه به كله احرام اُوتړلو نو دا به ئے لازمه ګنړله چه زمونږ او د آسمان په مابين كښې به څهٔ حائل (پرده) نهٔ واقع كيږي، بلكه كله چه به ئے كورته د راواپس كيدو ضرورت راپيښ شو نو د ديوال دپاسه به راوختلو او د كور په مَنډو كښې به اُودريدو او خپل حاجت به ئے پوره كړو او بيا به تلو او دا كار به ئے ثواب ګنړلو. (تفسير الطبرىؒ)

هر سبب چه وي خو د سياق نه معلوميږى چه دا رواج په حج كښې وو نو الله تعالىٰ دا غلط تصور رد كړو او د نيكئ صحيح تصور ئے وركړو چه نيكى د الله نه د يرے نوم دے، په ظاهر او

باطن کښې د الله نګراني او د هغه د وجود پوخ شعور بس همدا نيکي ده۔

﴿ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ﴾ دلته مضاف پټ دے يعنى لٰكِنَّ الْبِرَّ بِرُّ مَنِ اتَّقٰى) (ليکن قبوله نيکي نيکي د هغه چا ده)۔

﴿ وَأْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا ﴾ پدے جمله کښې ډير اشارات دي :

○ يعنى [اِءْتُوا الْاُمُوْرَ عَلٰى وُجُوْهِهَا] (کارونو ته په خپلو صحيح طريقو او خپلو مخونو راتګ کوئ) پدے کښې تنبيه ده چه کوم شے بغير د خپلے طريقے نه طلب کړے شي نو د هغے حاصلول ګرانيږي۔ ○ نو مال چه د چا نه اخلے نو حلال مال اخله، نۀ حرام۔

○ روژے چه نيسے نو د ورځے، نۀ د شپے۔ ○ بيبيانو ته چه راتګ کوئ نو د شا (دُبر) نه نۀ بلکه د مخے نه ورے وي۔ (ابن الانباريؒ والماورديؒ عن ابن زيدؒ)

○ سَلُوا الْعُلَمَاءَ وَلَا تَسْئَلُوا الْجُهَّالَ (د علماؤ نه تپوسونه کوئ او د جاهلانو نه تپوسونه مۀ کوئ) (قرطبيؒ عن ابى عبيدةؒ) ○ د نيکئ هر کار په هغه طريقه کوئ چه د هغے امر الله تعالىٰ کړے وي، يعنى په دليل شرعي سره عمل کوئ او بے دليله عمل مۀ کوئ۔

○ کوم څيز (قول او فعل) چه الله قربت (ثواب) نۀ وي ګرځولے او هغے ته ئے ترغيب نۀ وي ورکړے نو هغه به ثواب نۀ ګڼرئ۔ بلکه عبادت او قربت به د الله او د هغه د رسول نه زدۀ کوئ۔ (قرطبيؒ)۔ ○ يهوديانو ته په کښې تعريض دے چه تاسو سوالونه مۀ اُلټه کوئ بلکه په صحيح طريقه سوالونه کوئ لکه دوی د مياشتو د وړوکوالي او غټوالي د سبب تپوس کولو او پکار دا ده چه سوال ئے د فائدو کړے وے، داسے مثال ئے دے لکه يو انسان چه د کور دروازه پريږدي او د شا طرف نه کورته داخليږي۔ نو يهوديان د جاهلانو په شان اُلټه کارونه کوي۔ (اللباب)۔

○ خپل اهل او لائق خلقو ته ذمه واري سپارئ او نا اهلو ته ئے مۀ سپارئ۔

نو پدے کښې د عقيدے، د اعمالو او د اخلاقو متعلق په ټولو بدعاتو رد دے۔

﴿ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ يعنى تقوىٰ او د الله احکام منل سبب د کاميابئ دے، نۀ رواجونه او بدعات۔

وَقَاتِلُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا
جنګ کوئ د الله په لار کښې د هغه کسانو سره چه تاسو سره جنګ کوي او زياتے مۀ کوئ
اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۱۹۰﴾
يقيناً الله مينه نۀ کوي د زياتي کونکو سره۔

تفسير: اُوس پنځم قانون د السياسة المدنية دپاره بيانوى چه هركله دا قوانين مخكښې بيان شول، او اسلامى حكومت جوړ شو نو اُوس وائى چه څوك دا قوانين نهٔ منى او ددے د ورانولو او ختمولو كوشش كوى، نو د هغوى سره قتال كول پكار دى۔ لكه د كفارو دا طريقه ده چه د هر قانون بالادستى منى ليكن د اسلام بالادستى او حاكميت منلو ته تيار نهٔ دى، لهذا مسلمانان به د دوى ډهټكر (په سختئ سره) مقابله كوى۔

نبى كريم ﷺ چه كله مدينے منورے ته تشريف راوړو، او د مسلمانانو څهٔ قوت او تمكن پيدا شو، نودوى ته حكم اُوشو چه اُوس به د دشمن مقابله كوئ۔ او تاسو ته چه كوم اسلامى نظريهٔ حيات دركړے شوه نو دا به راخلئ او د ټول انسانيت قيادت به كوئ او دا دعوت به ورته رسوئ او څوك چه لار كښې ركاوټ واقع كيږى هغے سره به مقابله كولے شى۔

په بعض روايتونو كښې راغلى دى چه د جنګ د قانون په سلسله كښې دا د قرآن كريم اولنے حكم دے، ددے نه مخكښې الله تعالىٰ هغه مؤمنانو ته چه د كفارو سره په مقابله كښې وو، صرف د جنګ اجازت وركړے وو، پدے وجه چه دوى مظلوم دى لكه هغه په سورة الحج (۳۹) آيت كښې راغلى دى ﴿اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ﴾ نو مسلمانانو محسوس كړه چه دا اجازت د جهاد د فرضيت دپاره يو تمهيد دے۔ نو بيا دا حكم نازل شو۔

په مكه كښې د لاس اُوچتولو او قتال كولو ممانعت هم په يو خاص حكمت بنا وو۔ او هغه دا چه (۱) په مسلمانانو كښې داسے جذبه پيدا شى چه هغوى د امير د اطاعت عادى شى، او د قتال حكم پورے انتظار اُوكړى ځكه چه هغوى د جاهليت په دور كښې د مخكښې نه سخت جنګجو وو او په اولنى آواز به ميدان ته راوتل، او په معمولى بده خبره ليدلو سره به په هغوى كښې د صبر هيڅ ماده نهٔ پاتے كيدهٔ، ليكن الله تعالىٰ غوختل چه په دوى كښې ښائسته صفات پيدا شى او تربيت ئے اُوشى او داسے سيرت ئے جوړ شى چه دا تمام نفسياتى كمزورىانے ئے په نظم وضبط بدلے شى او د جاهليت د دَور تمام عصبيتونه او ناجائزے طرفدارىانے پريدى۔

(۲) دارنګه د عربو معاشره يوه بهادره او شريفه معاشره وه، خلق د حِلم او د نفس د عزت او شرافت مالكان وو، په مسلمانانو كښې بعض داسے خلق هم وو چه د شرے جواب ئے په كانړى سره وركولے شو، ليكن ددے باوجود چه كله هغوى په مظالمو باندے صبر كولو، نو د ډيرو شريفانو په عزتِ نفس او شرافت كښې به جوش راتلو او د هغوى زړونه به اسلام طرف ته مائل كيدل، او ددے عملًا اظهار په هغه وخت اُوشو چه كله قريشو بنى هاشمو سره د بائيكاټ فيصله اُوكړه۔ او په شعب ابى طالب كښې بند كړے شو۔نو كله چه په هغوى باندے تكليفونه د برداشت نه

اُووتل نو د ډيرو شريفانو شرافت او غيرت په جوش کښې راغلو، او هغه صحيفه ئې اُوشو کوله، او محاصره ختمه شوه، دا د رسول الله ﷺ د دَور مکي پاليسي وه چه د عربو جذبات ئې ملحوظ کړي وو چه خلق خپله اسلام ته آماده شي۔ او د مسلمانانو په مظلوميت باندے غيرت اُوکړي۔
(۳) دارنګه د مسلمانانو قوت منتشر (خور وور) وو او مجتمع ئې نۀ وو، تمکن ئې نۀ وو، او جهاد شروع کول خو تمکن او د پناه حاصلولو ځائے غواړي چه هغے ته انسان د جنګ په وخت کښې پناه وړي، او په مکه کښې د مسلمانانو دا قسم طاقت نۀ وو، نو ځکه الله ورته حکم د قتال نۀ کولو۔
پدے آيت کښې د قتال متعلق څلور امور دي۔ اول فرضيت د قتال په (قَاتِلُوا) سره۔ دويم مقصد د قتال چه فِيُ سَبِيُلِ الله دے۔ دريم اهل د قتال چه اَلَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ دي۔ څلورم آداب او شرطونه د قتال په (وَلَا تَعْتَدُوْا) سره۔
د عبد الله بن عباسؓ نه روايت دے چه دا آيتونه په حديبيه کښې نازل شوي وو، کله چه مشرکانو مؤمنانو لره د بيت الله نه منع کړل، او بيا صلح اُوشوه چه راتلونکي کال کښې به مکے معظمے ته د عُمرے دپاره صرف درے ورځو دپاره داخليږئ، نو مسلمانانو سره يره پيدا شوه چه که دوي په راتلونکي کال کښې مونږ سره بے لوظي اُوکړي او په حرم مکي او په مياشت د حُرمت کښې زمونږ سره قتال اُوکړي نو دا خو به زمونږ دپاره ګناه وي۔ نو الله تعالیٰ دا آيتونه نازل کړل۔ (القرطبيؒ)
نو د قتال دا حکم د حج او عمرے سره متعلق شو او دا ئے د مخکښې سره تړون او مناسبت هم شو۔
﴿وَقَاتِلُوا فِيُ سَبِيُلِ اللهِ﴾ **ربط** دا دے چه دا په مخکښې (وَاتَّقُوا اللهَ) باندے عطف دے، او مطلب دا دے چه د تقویٰ په اقسامو کښې اشد ضروري او ډير اَهم شے قتال في سبيل الله دے۔ او د مضمون سره ئے مناسبت دا دے چه په مخکنو امورو کښې د قتال دپاره تياري وه نو اُوس ورته په قتال باندے امر کوي۔
(قَاتِلُوا) لفظ په قرآن کريم کښې (۱۵) کرته راغلے دے۔
﴿فِيُ سَبِيُلِ اللهِ﴾ يعني د الله د دين د اُوچتولو دپاره۔ او دا د جهاد د اته مقصدونو نه يو مقصد دے۔ چه هغه مقاصد په فتاوي الدين الخالص (۹/۱٤۰) جلد کښې تفصيلا ذکر شويدي۔
او بل جهاد د مسلمانانو مظلومو د راخلاصولو دپاره دے۔ که ددے نه علاوه د رياء، شهرت، قوم پرستئ، غيرت خودلو، او د غنيمت او کرسئ حاصلولو په نيت وي نو دا هلاکت دے۔ ديته جهاد في سبيل الله نشي وئيلے۔
﴿اَلَّذِيُنَ يُقَاتِلُوُنَكُمْ﴾ دا قيد ئے ځکه اُولګولو چه کوم کافران د مسلمانانو سره جنګ نۀ کوي او په آرام ناست وي، نو د هغه سره جنګ نۀ وي۔ بلکه جزيه او ټيکس به ورکوي، زمونږ اسلام

جنگونه نهٔ غواړي، هله غواړي چه کله کافران مقابله کوي۔ دا وجه ده چه اسلامي تاريخ اُوګوره، رسول الله ﷺ کله هم ابتدائي حمله نهٔ ده کړې بلکه کفارو فساد کړے، نو رسول الله ﷺ ورسره بيا جنګ کړے، قريشو اول مسلمانان تنګول او اسلام ته ئې نهٔ پريخودل، نو رسول الله ﷺ ورسره مقابله اُوکړه۔دارنګه د مدينے يهوديانو سره ئې اول صلح اُوکړه خو کله چه هغوي صلح ماته کړه، نو رسول الله ﷺ ورسره جنګ اُوکړو۔او کله چه د کفارو سره جنګ شروع شي، نو بيا په هره طريقه د هغوي وژل جائز وي، په پټه وي که په ښکاره۔

فائده : د جهاد څلور مراحل وو، (١) اول : په مکه کښ دعوت او د مشرکانو د طرف نه په تکليفونو باندے صبر کول۔ (٢) بيا د قتال اجازت او اباحت نازل شو۔ (٣) بيا څوك چه قتال کوي د هغوي سره د قتال کولو اجازت۔(٤) څلورم : په وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَافَّةً سره د ټولو کافرانو سره اقدامي جهاد شروع شو۔ نو دے آيت کښ دريمه مرحله ده۔

(فتاوی الدين الخالص بالتفصيل٩/ ١٠٤)۔

فائده : الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ) هغه کسانو ته هم شامل دے چه في الحال د مسلمانانو سره جنګ کوي، يا په کښ د جنګ اهليت وي يعني ځوانان وي۔ نو کوم کسانو کښ چه د جنګ اهليت نهٔ وي نو هغوي سره به جنګ نشي کولے لکه زنانه، ماشومان، بوډاګان، البته کومه زنانه چه د کافرانو مشري کوي او د هغے نه ډير فساد خوريږي۔

دارنګه کوم بوډاګان چه دوي ته مشورے ورکوي نو د هغوي سره به هم جنګ کولے شي او د هغوي وژل هم جائز دي۔

په (الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ) کښ په جهاد کولو تيزي ورکول دي ځکه چه تاسو سره کفار جنګ کوي، ستاسو دين ختمول غواړي، نو تاسو به ورسره ولے جنګ نهٔ کوئ حال دا چه تاسو په حقه يئ۔

﴿ وَلَا تَعْتَدُوْا ﴾ اِعتداء د حد نه تيروتو ته وائي۔ پدے کښ ټول ګناهونه داخل دي چه انسان جنګ ته اُووځي نو د الله او د هغه د رسول مخالفتونه به نهٔ کوي۔ دارنګه بوډاګان، ماشومان، او زنانه قتل کول او پيران چه په ګوډونو کښ ناست وي جنګ نهٔ کوي۔ يا څوك چه په جنګ کښ کلمه اُووائي او تسليم شي، يا په غنيمت کښ غلول (خيانت) کول، يا د کفارو مُثله کول، دارنګه کورونه او مالونه سيزل، ونے پريکول، حيوانات وژل، په معاهده او صلح کښ دننه جنګ کول، دا ټول د حد نه تيروتل دي۔ البته که زنانه او ماشومان تبعاً اُووژلے شي نو جائز به وي مثلاً په يو کلي باندے د شپے حمله کيږي، په هغے کښ غير اختياري طريقے سره ماشومان اُولګي نو رسول الله ﷺ ددے اجازت ورکړيدے۔ او پدے معنیٰ سره دا آيت منسوخ نهٔ دے۔ او که د

(لَاتَعۡتَدُوۡا) معنیٰ دا شی چه اول قتال مهٔ شروع کوئ۔ نو بیا به دا آیت په آیت (فَاقۡتُلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ) سره منسوخ وی۔ (بغوی)۔

لیکن راجح دا ده چه دا منسوخ نهٔ دے۔او دریمه مرحله د قتال ده۔ اُوس هم په څلورو مراحلو عمل کول شته خو کله چه ضرورت وی او موقعه او وخت ئے راشی۔

﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الۡمُعۡتَدِيۡنَ ﴾ محبت د الله تعالیٰ صفت دے او په خپله حقیقی معنیٰ دے، تاویل به پکښ نشی کیدے۔ د الله تعالیٰ او د مخلوق د محبت ترمینځ فرق دا دے چه د الله تعالیٰ دمحبت او نفرت کولو ترمینځ واسطه نهٔ وی۔ محبت کوی، که محبت نهٔ وی نو بیا بغض ساتی او غذابونه ورکوی او د مخلوق د محبت او بغض په مینځ کښ واسطه وی لکه یو انسان د چا سره نهٔ محبت ساتی او نهٔ بغض۔ نو دلته معنیٰ دا ده چه الله د زیاتے کونکو سره مینه نهٔ کوی او چه مینهٔ ئے اُونکړه نو بنده هلاك شو۔

وَاقۡتُلُوۡهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوۡهُمۡ وَاَخۡرِجُوۡهُمۡ مِّنۡ حَيۡثُ اَخۡرَجُوۡكُمۡ وَالۡفِتۡنَةُ
او وژنئ دوی لره چرته چه اُوموموئ دوی لره او اُوباسئ دوی لره د هغه ځائے نه چه تاسو ئے ویستلی یئ، او شرك
اَشَدُّ مِنَ الۡقَتۡلِ وَلَا تُقٰتِلُوۡهُمۡ عِنۡدَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوۡكُمۡ
ډیر سخت دے د قتل نه او جنګ مهٔ کوئ د دوی سره د مسجد حرام په خوا کښ ترڅو چه هغوی جنګ شروع کړی
فِيۡهِ فَاِنۡ قٰتَلُوۡكُمۡ فَاقۡتُلُوۡهُمۡ كَذٰلِكَ جَزَآءُ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۱۹۱﴾
تاسو سره په هغے کښ نو که هغوی درسره جنګ شروع کړی نو مړه کړئ دوی لره، دغسے بدله د کافرانو ده۔

تفسیر : پدے آیت کښ اُوس خاص د قریش کافرانو په قتلولو حکم کوی په دوه طریقو سره، یو په قتل د هغوی هر ځائے چه موندهٔ شی، دویم د هغوی د کورونو نه په ویستلو او شړلو سره۔ یعنی کوم خلق چه تاسو سره جنګ کوی، نو هغوی چه چرته موندهٔ کړئ، قتل ئے کړئ، او د کوم ښار نه ئے چه تاسو راویستلی یئ، تاسو ئے هم اُوباسئ، ځکه چه دوی تاسو سره ظلم جائز ګڼلے دے، تاسو ئے په عذابونو کښ اخته کړی یئ، او د وطن نه ئے ویستلی یئ، او ستاسو په مال اوجائیداد ئے قبضه کړے، تاسو ئے په امتحاناتو کښ اچولی یئ، او د دین نه ستاسو اړول ئے خوښ کړی، دا جرمونه د قتل نه ډیر لوئی دی۔

لیکن خیال ساتئ چه د مسجد حرام په خوا کښ دوی سره قتال اُونکړئ، آؤ، که دوی هلته

تاسو سره قتال شروع کړي، نو بيا د تيختې لاره مهٔ اختياروئ، بلکه دوی قتل کړئ ځکه چه کافرانو ته دغه شان بدله ورکول پکار دي۔ او تاريخ گواه دے چه رسول الله ﷺ مکے ته د فاتح په حيثيت داخل شو او د مکے کومو مشرکانو چه اسلام قبول نکړو نو د هغوی د لوظ د مودے ختميدو نه روستو ئے هغوی د مکے نه اُوويستل او مسجد حرام ئے د بتانو او د مشرکانو نه پاك کړو او مسلمانانو هلته په عزت ژوند تيرول شروع کړل۔

﴿ وَاَخۡرِجُوۡهُمۡ ﴾ يعنی که په وژلو مو طاقت بر شي نو قتل ئے کړئ او که په ويستلو مو طاقت بر شي نو ويے باسئ۔

فائده : دا آيت دليل دے چه په دفاعي جهاد کښ هيڅ شرط نشته، کله چه کافرانو مسلمانانو په ملك حمله کړې وی، نو د الله د عبادت دپاره د هغے آزادول ضروری دی، د مور او پلار اجازه هم ضروری نهٔ ده۔ او امير وی او که نهٔ۔

﴿ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوۡهُمۡ ﴾ حيث : لفظ د عموم دپاره راځي يعنی په هر مکان او هر زمان کښ دوی وژلے شئ، که زمکه د حرم وی او که زمکه د حِل وی، د حرمت مياشت وی او که نهٔ وی، ليکن روستو د مسجد حرام او د حرمت (احترام والا) مياشتو استثناء بيانوی چه پدے کښ به په قتال کولو ابتداء نشي کولے۔

ثقف : معنیٰ ده په هوښيارتيا او مضبوطيا سره يو شے لاندے کول او موندل۔

مفسرين ددے معنیٰ کوی : (حَيۡثُ تَمَكَّنۡتُمۡ مِنۡ قِتَالِهِمۡ) (ايسر التفاسير)

يعنی هرځائے کښ چه ستاسو د هغوی په وژلو وَس بر شي نو قتل ئے کړئ، ځکه چه کله حربي کافر شو، بيا د هغه سره دا نشته چه دا عبادت خانه کښ ناست دے، او دا حج او عمرے ته روان دے۔ بلکه هرځائے کښ به وژلے شي۔

﴿ وَاَخۡرِجُوۡهُمۡ مِّنۡ حَيۡثُ اَخۡرَجُوۡكُمۡ ﴾ حيث : (١) يا مکانيه دے يعنی د هغه علاقے نه ئے اُوباسئ، مراد ددے نه مکه ده او ددے نه مراد اگرکه په هغه وخت کښ مکه وه، ليکن پدے کښ عموم هم مراد کيدے شي چه کافران مسلمانانو لره د کورونو او علاقو نه اُوباسی، نو بس مسلمانانو له هم پکار دی چه هغوی سره مقابله اُوکړی او خپل وطن ترے آزاد کړی۔ او دارنګه پدے کښ د الله تعالیٰ د طرف نه وعده ده چه الله به مؤمنانو ته بيرته مکه فتح کوی۔

(٢) يا حيث تعليليه دے، په معنیٰ د علت دے يعنی اُوباسئ دوی لره پدے وجه چه تاسو ئے د کورونو نه ويستلي يئ نو پدے کښ مؤمنانو ته د کافرانو په ويستلو تيزی ورکول دی۔

﴿ وَالۡفِتۡنَةُ اَشَدُّ مِنَ الۡقَتۡلِ ﴾ ددے ډير معنے دی : (١) [اَیۡ شِرۡكُهُمۡ اَشَدُّ مِنۡ قَتۡلِهِمۡ فِی الۡحَرَمِ وَالۡاِحۡرَامِ]

شرك د مشركانو ډير سخت دے د وژلود دوی نه په حرم او احرام کښې).
که دوی تهٔ په حرم او احرام کښې مړهٔ کړے، نو دے کښې دومره گناه نشته لکه دوی چه څومره شرك د الله تعالیٰ سره کوی۔ دا شرك ډیره سخته گناه ده، نو په هر ځائے کښې د مشرکانو وژل پکار دی۔ گویا کښې دا د (وَاقْتُلُوْهُمْ) دپاره علت دے۔ یعنی شرك د دوی د وژلو دپاره علت شو۔
(۲) یا د قتل نه مراد د مؤمن مرگ دے۔ یعنی شرك د مؤمن د مرگ نه هم سخت دے۔ که مؤمن اُووژلے شی خیر دے، خو چه شرك اُونشی، لهذا د دوی سره جنگ پکار دے چه د دوی شرك ختم شی۔
(۳) دریم د فتنے نه [اِفْتِتَانُ الْمُؤْمِنِ عَنْ دِيْنِهٖ] مراد دے یعنی د مؤمن گمراه کول او هغه د ایمان نه اَړول ډیر سخت دی په هغه باندے د وژلو د هغه نه یعنی مؤمن ته دا ښهٔ ښکاری چه ما څوك مړ کړی خو چه گمراه مے نهٔ کړی۔
لکه په مکه کښې د مسلمانانو همدا حال وو۔ او دا کافران اُوس کوشش کوی او تاسو گمراه کوی، نو جنگ اُوکړئ، دے دپاره چه مؤمنان څوك گمراه نهٔ کړی۔
او پدے کښې اشاره ده چه د صحابه کرامؓ ایمان ډیر مضبوط دے او هغوی ته ډیر خوښ دے۔ او پدے دواړو معنو کښې د شرك لوئی قباحت دے چه که مسلمان مړ شی او که کافر نو خیر دے خو چه شرك نهٔ وی۔
(٤) یا د فتنے نه مراد عذاب دے یعنی عذاب د آخرت د مشرکانو دپاره سخت دے د وژلو د دوی نه په دنیا کښې۔ (اللباب)۔ لیکن مخکنی تفسیرونه ډیر غوره دی۔
﴿ وَلَا تُقَاتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾ اُوس وائی چه شرك ډیر غټ جرم دے، لیکن بیا به هم د حَرَم لحاظ کوئ، او ابتداء د جنگ به نهٔ کوئ، که هغوی جنگ شروع کړو نو بیا د هغے جوابی کاروائی کول جائز دی۔او د کافرانو نه تختیدل نهٔ دی پکار۔
(عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ) نه مراد ټول حرم مکی دے چه دا تقریباً اته څلویښت کیلو میټره دے۔ شمالی طرف ته ئے حد (تَنْعِيْم) دے چه د مکے نه (٦) کیلو میټره فاصله کښې دے۔ جنوبی طرف ته ئے (اَضَاة) دے چه ددے او د مکے ترمینځ (١٢) کیلو میټره مسافت دے۔ او مشرقی طرف ته ئے (جِعِرَّانَه) حد دے چه ددے او د مکے ترمینځ (١٦) کیلو میټره دی۔ او شمال مشرقی طرف ته ئے (وادی نَخْلَه) حد دے چه ددے او د مکے ترمینځ (١٤) کیلو میټره فاصله ده۔ (فقه السنه١/٦٨٨) او دا حکم هر مسجد ته هم شامل دے۔
﴿ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ﴾ یعنی که دوی در سره جنگ کوی او اقدام درباندے اُوکړی، نو بیا ئے په

حرم كښې هم وژلے شي۔ لكه ابن خطل د كعبے غلاف لاس كښې نيولے وو بيا هم رسول الله ﷺ د هغه په وژلو حكم اُوكړو۔

﴿كَذٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِيْنَ﴾ (كذلك) دا اشاره ده قتل ته يعنې د ټولو كافرانو سزا قتل دے يعنې كفر كول د هغوی د قتل علت دے، او پدے كښې اشاره ده چه جهاد حسن لذاته شے دے ځكه چه پدے كښې تعظيم د الله تعالیٰ دے، چه د هغه د دين د خاطره د هغه دشمنان وژلے شي او پدے كښې تذليل د كفر دے۔

فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾
پس كه دوی منع شو نو يقيناً الله ډير بخونكے، رحم كونكے دے۔

تفسير : پدے كښې كافرانو ته د شرك او كفر نه د توبے ويستلو ترغيب دے، يعنې كه دوی د كفر او شرك نه منع شو نو بيا ورسره جنګ مهٔ كوئ بلكه الله غفور رحيم دے، ګناه ورته معاف كوی او بيا به ستاسو ورونه وی۔نو د جنګ لائق به نهٔ وی۔

او دلته صرف د قتال نه او د مسلمانانو د تكليف او فتنو كښې اچولو نه منع كيدل نهٔ دی مراد ځكه صرف پدے كار سره دوی اهل د مغفرت او رحمت نهٔ ګرځي۔ بلكه د شرك او كفر نه منع كيدل مقصد دے۔ (في ظلال القرآن)

څهٔ عظيم ښائسته اسلام دے چه كافرو ته هم مغفرت او رحمت ښكاره كوی چه راشئ په اسلامی صفونو كښې داخل شئ نو تاسو ته د تشدد او ظلم قصاص معاف، ديت معاف، تاسو خلق وژلی دی، هر قسم تشدد هم كړيے۔ دا ټول معاف او د مغفرت او د رحمت په باران كښې داخل۔

وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَاتَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ
او جنګ كوئ د دوی سره تردے چه پاتے نهٔ شي شرك (يا فساد) او شي دين ټول الله لره
فَاِنِ انْتَهَوْا فَلَاعُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾
نو كه دوی منع شو (د قتال نه) نو نشته زياتے كول مګر په ظالمانو۔

تفسير : پدے آيت كښې د قتال بل مقصد ذكر كوی چه د فتنے او فساد او ظلم ختميدل راشي او صرف د الله بندګی شروع شي او مؤمن د آزميښتونو نه خلاص شي۔

﴿وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ﴾ (۱) د فتنے نه مراد شرك او كفر دے يعنې قتال به تر هغه وخته

پورې کوئ چه په دنيا کښې شرك او كفر پاتې نهٔ شي او شرك او كفر خو به تر قيامته پورې وي، نو جهاد او قتال به هم تر قيامته پورې جاري وي۔

دنيا د الله ده، بندګان د هغه دي، او عبادت د بل چا کيږي دا هيچرې نشي کيدې!!۔ بيا الله تعالیٰ داسې کولې شو چه مشرکان او کفار خپله تباه کړي ليکن په مسلمانانو باندې امتحان دې چه تاسو د الله تعالیٰ دين قبول کړې او جنت غواړئ، نو ددې شرك ختمول ستاسو په ذمه دي۔ نو ترڅو چه مسلمانان باقي وي، جهاد به باقي وي۔

(۲) دويم : فتنه [اِفْتِتَانُ الْمُؤْمِنِ عَنْ دِيْنِهٖ] (مؤمن د دين او ايمان نه اړولو) ته وائي يعني جنګ تر هغهٔ وخت پورې کوئ چه مؤمن لره د دين نه اړول او مرتد کول ختم شي، مسلمان ته پکښې ديني تکليف نهٔ وي،، کنځل، وهل ټکول، مسخرې کول او د کورونو او مالونونه ويستل نهٔ وي، څوك ئې شرك ته نهٔ دعوت کوي او په زوره پرې شرك نهٔ کوي او غلبه د اسلام راشي۔ اګرکه په پټه کفر او شرك ډېر وي خو غلبه او بالادستي به د اسلام وي۔ او د هغوي نه به جزيه او ټيکس اخستې شي۔

او د مکې کفارو او مشرکانو به مسلمانان په زوره په خپل شرك او كفر کښې داخلول، او که چا به نهٔ منله، نو هغوي له به ئې عذابونه ورکول تردې چه ډېر صحابه کرامؓ حبشو ته او بيا مدينې طيبې ته په هجرت باندې مجبور شو۔

امام بخاريؒ په کتاب التفسير سورة الانفال کښې د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت کوي چه مونږ قتال د رسول الله ﷺ په زمانه کښې کړيدې چه مسلمانان لږ وو او سړې به د دين نه په زوره اړولې شو، يا به ئې وژلو يا به ئې ترلو تردې چه مسلمانان زيات شول نو فتنه پاتې نشوه۔

(بخاري : ۴۳۷۳)۔

علامه جمال الدين قاسميؒ معنیٰ کوي : [اَیْ تَقَوٍّ بِسَبَبِهٖ يَفْتِنُوْنَ النَّاسَ عَنْ دِيْنِهِمْ] يعني کافرو سره تر هغه وخته پورې جنګ کوئ چه داسې طاقت د کافرو پاتې نهٔ شي چه د هغې په سبب دوي مسلمانان د خپل دين نه واړوي)۔

﴿وَيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ﴾ الدين په معنیٰ د طاعت او عبادت سره دې، يعني شي ټول عبادتونه او طاعتونه د الله دپاره۔ او د دين معنیٰ بلنه او آواز هم دې يعني آوازونه او عظمت او کبرياء صرف د الله تعالیٰ دپاره وي۔ او نظام او قانون دې د الله تعالیٰ دپاره وي۔

دا څومره لوئی نقصان دې چه بندګان دې د الله وي او عبادت او طاعت او قانون او نظام دې د بل چا چليږي او مسلمانان دې هم ژوندي وي!!۔

﴿فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ﴾ يعنى كه منع شو په توبه ويستلو سره د شرك او كفر نه، يا د جنگ نه منع شو په جزيه قبلولو سره، نو بيا به ورسره جنگ نهٔ كوئ صرف جنگ به د هغه چا سره وى چه هغه ظالم وى. او نهٔ منع كيږى، ځكه چه جهاد ظلم او ظالمينو ته متوجه كولے شى. او د ظلم د ختمولو دپاره كولے شى.

ذكر د (عدوان) د مشاكلت د وجه نه دے، ورنه دا بدله د ظلم او زياتى ده. ځكه د شريعت امر سراسر عدل او انصاف دے. د ظالمين نه مراد عكرمةٌ وائى : [مَنْ اَبٰى اَنْ يَّقُوْلَ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ] (زبدة التفسير) يعنى هغهٔ څوك چه د توحيد كلمے ويلو نه انكار كوى.

(۲) [فَلَا قِتَالَ اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ يَرْجِعُوْنَ اِلَى الْكُفْرِ وَيَنْقُضُوْنَ الْعَهْدَ اَوِ الَّذِيْنَ اسْتَمَرُّوْا عَلَى الْكُفْرِ فَمَا يَنْتَهُوْنَ] ...... (تعليق صحيح البخارى للدكتور مصطفى ديب البغا)

(يعنى جنگ به نهٔ وى مگر هغه كسانو سره به وى چه كفر ته واپس كيږى او لو ظونه ماتوى، يا هغه كسانو سره چه په كفر باندے هميش والے كوى او نهٔ منع كيږى).

د عدوان معنىٰ دلته د اقدام كولو هم ده. يعنى اقدام به صرف د ظالمانو په خلاف كيږى. (تدبر)

فائده : بيا د ظالم او كافر توبه دوه قسمه ده : (۱) يو دا چه اصالةً كافر وى نو دا كه په جنگ كښں توبه اُوباسى او د تورے لاندے راغلو نو هم ددهٔ توبه قبوله ده. اگركه تهٔ ئے زخمى كړے ئے، ضرر ئے دركړے. لكه انگريزان او نور كافران. واقعه د اسامهؓ او واقعه د خالد بن وليدؓ پرے دليل دے. (۲) دويم هغه كلمه گو كافر دے چه په خوله كلمه وائى ليكن په زړهٔ كښں كافر وى، يعنى منافق وى نو دا به په هر حالت كښں وژلے شى.

(۳) او كه يو انسان (العياذ بالله) د اسلام نه مرتد شى نو دا كه په خپله خوښه اسلام ته راځى، توبه ئے قبوله ده، ليكن كه د تورے لاندے راغلو او د اسلام دعوه كوى، نو توبه به ئے قبوله نهٔ وى، او پدے حالت كښں ددهٔ مرگ جائز دے. او همدا طريقه د دهريه ؤ او كميونستو هم ده. او همدا ئے حكم دے.

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ فَمَنِ اعْتَدٰى
مياشت عزتمنه په بدل د مياشت عزتمنه كښں ده او ټول عزتونه بدلے والا دى، نو چا چه زياتے اُوكړو
عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ
په تاسو نو تاسو هم زياتے اُوكړئ په هغه باندے په شان د هغے چه زياتے ئے كړے دے په تاسو.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعۡلَمُوۡا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۹٤﴾

او اُويريږئ د الله نه او پوهه شئ چه يقيناً الله ملګرے د متقيانو دے۔

تفسير : په دے آيت کښې دا ادب بيانوی چه کله تاسو سره څوك په عزتمنه مياشت کښې جنګ شروع کوی، نو تاسو له هم د هغوی سره جنګ کول جائز دی، ځکه ظلم او تعدی هغوی کړيده۔ او دا د مخکښې حکم [حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوۡهُمۡ] نه استثناء ده يعنی هر وخت کښې ورسره جنګ شروع کولے شئ، ليکن په عزتمنه مياشت کښې به ابتداء د جنګ نهٔ کوئ۔ او جوابی کاروائی پکښې جائز ده۔

په اسلام کښې عزتمنے مياشتے څلور دی (رجب، ذی قعده، ذی الحجه، محرم)۔

مسئله: آيا ددے څلورو مياشتو عزت اُوس باقی دے او که منسوخ دے؟، قتال پکښې جائز دے او که نهٔ؟ (۱) مشهور قول دا دے چه دا حکم په ابتداء د اسلام کښې وو، او بيا منسوخ شو ځکه چه رسول الله ﷺ په عزتمنو مياشتو کښې هم صحابه کرامؓ جنګونو ته ليږلی دی۔ او خپله ئے اهل طائف څلويښت ورځے په ذی القعده مياشت کښې محاصره کړی وو۔

○ دارنګه آيت د سورة براءت کښې ئے څلور مياشتے د حرمت ذکر کړی او بيا ئے وئيلی دی: ﴿فَلَا تَظۡلِمُوۡا فِيۡهِنَّ اَنۡفُسَكُمۡ وَقَاتِلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ كَآفَّةً﴾ يعنی مشرکان تول وژنئ نو پدے څلورو مياشتو کښې ئے د مشرکانو د وژلو استثناء اُونکړه۔

(۲) دويم قول دا دے چه ددے مياشتو عزت اُوس هم باقی دے، پدے کښې نيك عمل ډير اجر لری، او ګناه کول سخته سزا لری، او پدے کښې قتال ابتداءً کول ناروا دی۔ او که د کافرو حملے شروع وے نو بيا قتال پکښې جائز دے۔ او دليل دا دے چه روستو آيت کښې راځی (يَسۡئَلُوۡنَكَ عَنِ الشَّهۡرِ الۡحَرَامِ قِتَالٍ فِيۡهِ) او هغه خو منسوخ نهٔ دے۔

○ دارنګه نبی ﷺ د خپل وفات نه اتيا ورځے مخکښې په مِنیٰ او عرفات کښې په خطبه کښې اُوفرمايل: [فَاِنَّ دِمَائَكُمۡ وَاَمۡوَالَكُمۡ – وَاَعۡرَاضَكُمۡ– عَلَيۡكُمۡ حَرَامٌ كَحُرۡمَةِ يَوۡمِكُمۡ هٰذَا فِيۡ شَهۡرِكُمۡ هٰذَا] (صحيح البخاری کتاب العلم رقم۱۰۵) (ستاسو وينے په تاسو باندے داسے حرامے دی لکه ددے ورځے د احترام په شان پدے مياشت (ذی الحجه) کښې)۔

معلومه شوه چه ددے حرمت د قيامت د ورځے پورے باقی دے۔ او هرچه آيت د سورة براءة دے نو ممکنه ده چه دا مستقل حکم وی او د مخکښې سره مربوط نهٔ وی۔ يعنی کله چه کافران ستاسو په قتال راجمع کيږی نو تاسو هم ورته راجمع شئ۔

○ يا دا چه دا محمول دے په ابتدائي قتال شروع كولو باندے او كله چه د مشركانو د طرف نه قتال شروع شو، نو بيا پدے مياشت كښ هم قتال جائز دے لكه د طائف محاصره هم دغه شان وه۔ (تفسير ابن كثيرؒ)

او د دليل په اعتبار سره همدا قول راجح دے۔

شان نزول: دا آيت د صلح حديبيه په واقعه كښ نازل شوے چه هركله كافرانو د مسلمانانو مخه اُونيوله، او مكے ته ئے د داخليدو نه منع كړل، او پدے كښ د عثمان ؓ د مرګ خبر راغلو، نو رسول الله ﷺ او مسلمانانو د هغوى د جنګ اراده اُوكړه، بيا ئے خيال راغلو چه دا خو د عزت په مياشت (ذى القعده) كښ مونږ د جنګ اراده اُوكړه او دا خو حرام كار دے۔ (الطبرى) يا دا چه مشركانو پرے اعتراض اُوكړو۔

○ مشهور روايت دا دے چه په صلح حُديبيه كښ د مسلمانانو سره يره پيدا شوے وه چه آينده كال په دغه مياشت (ذى القعده) كښ كه مشركان مونږ سره جنګ اُوكړى، نو څۀ به كوو؟۔ (هسے نه چه د عزتمنے مياشتے او د مسجد حرام تقدس خراب نشى)۔

نو دا آيت نازل شو چه خير دے كله چه كافران تاسو سره په عزتمنه مياشت كښ جنګ كوى نو تاسو هم ورسره پدے مياشت كښ جنګ كولے شئ۔ او د عزتمنے مياشتے رعايت د هغه چا سره واجب دے چه د عزتمنے مياشتے رعايت كوى، او څوك چه ددے مياشتے د حرمت خيال نۀ كوى نو د هغوى سره ددے مياشتے د حرمت خيال نۀ ساتلے كيږى۔ نو پدے قول سره به معنىٰ دا وى : [حُرْمَةُ الشَّهْرِ الْحَرَامِ بِعِوَضِ حُرْمَةِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ] يعنى د عزتمنے مياشتے د عزت خيال ساتل په مقابله د عزت د عزتمنه مياشت كښ دے)۔ يعنى كه هغوى ئے د عزت خيال ساتى نو تاسو ئے هم ساتئ، او كه هغوى په قتال كولو سره ددے خيال نۀ ساتى نو تاسو لره هم قتال جائز دے۔

(۲) بعض مفسرين پكښ داسے تفسير كوى چه كله د هجرت په شپږم كال كښ د مكے مشركانو د ذى القعدے په مياشت كښ صحابه كرامؓ د عُمرے نه منع كړل، نو په اُووم كال په همدغه مياشت كښ مسلمانانو عُمره اُوكړه څكه چه كفارو ورسره صلح او معاهده كړے وه، نو دا آيت د تسلئ په طور نازل شو چه اے نبى ! او اے ايمان والو! مۀ خفه كيږئ دا مياشت په مقابله د هغه مياشت كښ شوه چه پروسه كال تاسو پكښ د عمرے نه منع شوى وئ۔ (البغوى والطبرى)

ليكن اول قول غوره دے۔

﴿ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ ﴾ دا اُوس عام كلى حكم بيانوى او دا د مخكښ حكم دپاره دليل دے۔

قِصَاص معنىٰ : برابر۔ يعنى ټول عزتونه برابر دى په بدله كښ۔ يا دلته مضاف (ذات) لفظ پټ

دے اَیْ ذَاتُ قِصَاصٍ۔ یعنی عزتونه بدلے والا دی۔ یعنی که ستا عزت چا واخستو، ته ئے هم ترے اخستلے شے۔ او حرمات ئے جمع راوړه، اشاره ده حرمت او عزت د احرام، عزت د بلد (حرم)، عزت د مال، عزت د نفس تولو ته یعنی که چا دا عزتونه مات کړل نو تهٔ هم د هغے بدله اخستے شے۔ لهذا دا به مستقل حکم شی۔

(۲) یا دا د مخکنی حکم سره متعلق دے او د حرمات نه د میاشتے حرمت مراد دے، او جمع ئے راوړیده د وجے د حرمت د میاشتے، حرمت د مکے مکرمے او حرمت د احرام وغیره نه یعنی هغه عزتونه د مؤمنانو چه مشرکانو په شپږم کال د هجرت کښ ضائع کړل نو د هغے پوره بدله په اُوم کال د مؤمنانو په عمره کولو سره ادا شوه۔ (احسن الکلام)

﴿ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ﴾ د فَاعْتَدُوْا معنیٰ ده (فَعَاقِبُوْا) یعنی په تاسو باندے چا زیاتے اُوکړو نو د هغه زیاتی بدله ترے واخلئ۔او اخستے شئ۔ یا په خپله که ممکن وی، یا د حاکم په ذریعه۔ (تفسیر القرطبی)۔

او په سورة النحل (۱۲٦) آیت کښ ورسره دا دی چه که صبر کوئ نو دا ډیر غوره دے نو هغه په باب د دعوت کښ دے او دا په باب د قتال کښ دے۔

د مثل نه په اتفاق د علماؤ سره دلته دا معنیٰ نهٔ ده مراد چه کافر یو مسلمان لره قتل کړی نو تهٔ به صرف یو کافر وژنے۔ نهٔ، بلکه د کافرانو خو ډیر زیات وژل پکار دی۔ دلته د مثل معنیٰ دا ده چه که هغوی د یوتن مُثله کړی وی (غوږ، پوزه او اندامونه ئے پریکړی وی) نو تهٔ هم د هغوی نه په یوتن کښ دغه شان کار کولے شے۔او که هغوی د ډیرو کړی وی نو تهٔ ئے هم د ډیرو نه کولے شے۔ دارنګه که هغوی په هر وخت کښ کړے وی، نو تهٔ هم په هر وخت کښ کولے شے۔ اګرکه میاشت د حرمت وی۔ نو مثلیت نه په مقدار (اندازه) او زمانه کښ مثلیت مراد دے۔

○ تفسیر قرطبیؒ لیکی: چه مثلیت دا هم دے چه تا نه څوك په زور او ظلم سره مال واخلی، نو تهٔ هم ترے خپل حق اخستے شے، یا څوك ستا پیاله ماته کړی نو تهٔ هم د هغه پیاله ماتولے شے۔ یا ترے د هغے مثل (عوض) اخستے شے۔ دارنګه که هغه تا ته کنځل اُوکړی یا ستا بے عزتی اُوکړی نو تهٔ هم هغه سره دغه شان کولے شے، خو تعدی به نهٔ کوے چه د هغه مور او پلار وغیره ته کنځل اُوکړے او د هغوی بے عزتی شروع کړے۔ آه۔ او دا کار تقویٰ ته سپارلے شویدے ځکه روستو په تقویٰ امر کوی۔

او دیته ئے اعتداء د مشاکلت او مقابلے د وجه نه اُووئیله یعنی بدله د زیاتی ده او پخپله دا زیاتے نهٔ دے۔ لکه دا په شان دذے آیت دے۔ ﴿ وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ﴾

(بدله د بدئ بدی ده د هغې په شان)۔ (الشوری : ٤٠)

﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ (۱) دلته د تقوىٰ نه مراد دا دے چه د بدلے اخستو په وخت کښ ځان د تجاوز نه بچ کړئ ځکه چه انسان غصه وی نو د هغه نه کله تجاوز کيږی۔ (کشاف)

(۲) يا د الله نه يره اُوکړئ په بے عزتی کولو د عزتمنے مياشتے او مسجد او حرم کښ بغير د بے عزتی کولو د هغوی نه۔ (قاسمیؒ)

(۳) ابن کثيرؒ وائی : دا امر دے په طاعت کولو د احکامو د الله تعالىٰ باندے۔ او روستو فائده د تقوىٰ بيانوی چه هغه د الله ملګرتيا ده۔

﴿وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ﴾ پدے کښ اشاره ده چه مؤمن او متقی به په حالت د جنګونو او بدلو اخستلو کښ د الله تعالىٰ د حکمونو تابع وی، نو هله به د هغهٔ سره د الله تعالىٰ معيت (ملګرتيا) او نصرت او مدد راځی۔

فائده : الله تعالىٰ داسے نهٔ دی وئيلی (وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُقَاتِلِيْنَ ۔(چه الله د جنګ کونکو سره دے) بلکه مَعَ الْمُتقين ئے وئيلی دی۔ يعنی نفس قتال سبب د معيت د الله تعالىٰ نهٔ دے، بلکه د تقوىٰ سره د الله تعالىٰ مدد او ملګرتيا ده۔

وَاَنْفِقُوْا فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ
او مال اُولګوئ په لار د الله کښ او مهٔ غورزوئ (خپل ځانونه) په خپلو لاسونو هلاکت ته
وَاَحْسِنُوْا اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۹۵﴾
او نيک عملونه کوئ يقيناً الله مينه کوی د نيک عمل کونکو سره۔

تفسير : اُوس انفاق ته ترغيب ورکوی، اګرکه د انفاق ذکر پدے سورت کښ روستو تفصيلًا راځی، ليکن دلته د جهاد متعلق دے ځکه چه جهاد کښ د مال لګولو ډير ضرورت وی، بلکه بغير د مال نه جهاد ممکن نهٔ دے ۔نو پدے وجه هر ځائے د جهاد سره انفاق ذکر کيږی۔ او انفاق د مؤمن صفت دے عامو اوقاتو کښ به هم مال لګوی۔ نو مخکښ امر په قتال اُوشو او دشمنان خو د سامان جنګ په لحاظ زيات وو نو اُوس د جهاد دپاره د مالونو په انفاق سره د تيارئ حکم کوی۔ (ابن عاشور)۔

﴿وَاَنْفِقُوْا فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ (۱) د فی سبيل الله نه مراد جهاد دے۔

(۲) يا د الله رضا ده۔ ځکه حديث کښ دی : ((هر شے چه بنده د الله تعالىٰ د رضا دپاره لګوی په

هغې باندې اجر ملاوېږي. مګر هغه نفقه چه په خاورو کښې ئې لګوي)).
(صحیح ابن حبان ۷/۲٦٥ ح ۲۹۹۹) ...... یعني بې ضرورته آبادیانې کوي.
نو دلته صدقات، زکاتونه او خپلو خپلوانو سره احسان، او میلمستیا ورکول مراد دي.
﴿وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ﴾ ددې معنی دا نهٔ ده چه جهاد ته یو سړې ورځي او په کافرو فدائي حمله کوي او د کافرانو مینځ ته ورننوزي، دا ګنې ځان هلاکول دي، ځکه چه د مسلمان مرګ هم یو نوع فتح وي لکه واقعه د عبد الله بن تامر پرې دلیل دې.

هلاکت ته د ځان غورځولو مطلبونه

(۱) بلکه ددې معنیٰ هغه ده کومه چه ترمذی کښې راغلې ده چه هغه (ترك الجهاد) دې یعنې چه جهاد پریدی نو بس ځان ئې هلاك کړو. (۲) یا [بِجَمْعِ الْمَالِ] د مال په جمع کولو او کورونو کښې پاتې کیدل). لکه دا په حدیث د ابو ایوب انصاریؓ کښې راغلې ده چه د هغه په زمانه کښې یو سړي د مهاجرینو نه د قسطنطینیه په جنګ کښې د کافرانو په صفونو باندې یواځې حمله اوکړه تردې چه هغه ئې څیرې کړل (او بل طرف ته واوړیدو) نو خلقو اُووئیل : ځان ئې هلاکت ته ګوزار کړو. نو ابوایوب انصاری ﷺ اُوفرمایل : اې خلقو مونږ پدې آیت ښهٔ پوهیږو او دا زمونږ په باره کښې نازل شویدې، مونږ د رسول الله ﷺ سره ملګري شو او د هغه سره معرکو او جنګونو ته حاضر شو، نو کله چه اسلام خور شو، مونږ انصار راجمع شو او دا مو اُووئیل چه الله تعالیٰ اسلام غالب کړو او ابتداء کښې مونږ د اسلام د غلبې دپاره د خپل اهل او مال نه تیر وو، نو اُوس به مونږ واپس لاړ شو او د خپل اهل سره به کینو او د خپلو مالونو حفاظت به کوو، نو الله تعالیٰ زمونږ په باره کښې دا آیت نازل کړو. نو د تهلُکه (هلاکت) نه مراد په خپل اهل او مال کښې اُوسیدل او جهاد پریخودل دي. (ابوداود والترمذی) (ابن کثیر).
(۳) ...... [اَلْقُنُوْطُ عَنِ التَّوْبَةِ وَعَنْ رَحْمَةِ اللهِ] یعني د توبې او د الله د رحمت نه نا اُمیده کیدل، انسان ګناه کوي او بیا وائي زهٔ هلاك شوم، زما توبه نهٔ شته، بس ګناهونو کښې ننوزي. (ابن سیرین وعبیدة السلمانی) (السراج المنیر وابن جریر الطبری).
(٤) ...... یا د یو ې ګناه دپاسه بله ګناه کول او توبه او استغفار نهٔ کول. (احسن البیان)
(٥) ...... [اِقْتِحَامُ الْاَخْطَار] د جهاد نه علاوه ځان داسې ځائې ته بوتلل چه هغه خطري وي، او ځان پکښې انسان هلاك کړي لکه لامبو نهٔ ورځي او دریاب ته دانګي، دا ناروا ده او هرچه جهاد دې نو مینځ د کافرو ته ورتلل ناروا نهٔ دي بلکه هغه دین دې.
(٦) ...... بخاریؒ کښې راځي حذیفه ﷺ فرمائي : دا آیت د نفقې په باره کښې نازل شوې) یعنې

هلاکت دا دے چه انسان د الله په لار (جهاد) کښې نفقه نهٔ کوی۔ (بخاری : ٤٥١٦)
نو پدے کښې په نفقه کولو سره سخته تیزی ورکول دی، اګرکه د یو غشی په مقدار وی۔ لکه دا خبره د ابن عباسؓ نه نقل ده۔ (ابن جریر الطبری)۔
(۷) – د عکرمهٔ وغیره نه نقل دی چه ددے نه مراد د حرامو نه انفاق کول دی چه هغه په انسان بیرته رد شی نو هلاك به شیٔ۔ (قرطبی، بحر العلوم للسمرقندی)۔
او د آیت الفاظ عام دی، لهٰذا دا تول مطلبونه پدے کښې صحیح دی۔
بیا (لَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَة) په عربیٔ کښې هلاکت ته د ځان سپارلو دپاره متل دے یعنی ځانونه هلاکت ته مهٔ تسلیمویٔ او مهٔ سپاریٔ۔ بعض وائی : د لَا تُلْقُوْا دپاره مفعول پټ دے یعنی [لَاتُلْقُوْا اَنْفُسَكُمْ بِاَيْدِيْكُمْ]۔ (نفسونه په خپلو لاسونو هلاکت ته مهٔ غورزویٔ)
○ مبردؒ وائی : ذکر د ید دے، مراد ترے نه نفس دے یعنی لَا تُلْقُوْا اَنْفُسَكُمْ او باء د تاکید دپاره زائده ده، او دا قول ابن عاشورؒ غوره کریدے ځکه چه پدے کښې تاکید زیات دے چه هلاکت ئے په منزله د نیونکی د لاس دے او هلاکونکے په شان د لاس ورکونکی دے هلاکت لره۔ یعنی ګویا کښې دهٔ خپل لاس هلاکت له ورکړو او هلاکت ورله لاس اُونیولو۔
مخکښې خاص احسان ذکر وو چه هغه د الله تعالیٰ په لار کښې مال لګول وو، اُوس په عام احسان باندے حکم کوی :
﴿وَاَحْسِنُوْا﴾ (نیکی کویٔ)۔ دا احسان او نیکی ټولو اقسامو د احسان ته شامله ده (۱) که په مال او انفاق کښې وی (۲) او که جاه او مرتبے سره وی۔
(۳) که په امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره وی۔ (٤) په تعلیم د عِلم نافع سره وی۔
(۵) د مسلمانانو د حاجتونو په پوره کولو سره وی۔ او د هغوی نه په تکلیفونو او سختو لرے کولو سره وی۔ (٦) ...... د بیمارانو په تپوس کولو سره۔ (۷) په جنازو ته حاضریدو سره وی۔
(۸) ...... اوکه په اداء الفرائض والطاعات سره وی، یعنی ښائسته طریقے سره عبادتونه او فرائض اداء کویٔ۔ [اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ]۔
(۹) او په الله باندے ښائسته ګمان کویٔ چه الله به په دنیا او آخرت کښې د انفاق بدله درکوی۔
(۱۰) یا احسان دا دے چه په لګولو کښې نهٔ کموالے اُوکړے شی او نهٔ اسراف۔ (فتح البیان ۱/۳۹۲)۔
(۱۱) ...... یا د احسان نه په جهاد کښې انفاق کول مراد دی او د تهلکه نه مراد جهاد ته بغیر د توخے نه تلل دی۔ (ابن عاشور)۔
بیا احسان (۱) یو د مخلوق سره وی لکه مال لګول او هر قسمه احسان کول او هغه معلوم

دے۔ (۲) دویم د الله سره نیکی او احسان کول دی، او هغهٔ اداء د فرائضو او عباداتو ده پداسے طریقه چه ګویا کښې انسان الله تعالیٰ ته ګوری یا دا یقین کوی چه الله ما ته ګوری۔ او دا د ایمان اُوچته درجه ده۔ مجاهد له داسے مرتبے ته رسیدل پکار دی۔ دے دپاره چه مددونه او نصرتونه د الله ورسره شامل وی۔

وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ
او پوره کرئ حج او عمره د الله دپاره نو که چرته تاسو بند کړے شوئ (د پوره کولو د هغے نه)
فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ
نو لازم دے په تاسو هغه چه آسان وی د هدیے (قربانی) نه او مهٔ خریوئ سرونه خپل تردے چه اُورسیږی قربانی
مَحِلَّهٗ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْبِهٖٓ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ
ځائے د حلالولو د هغے ته، نو هغه څوك وی ستاسو نه ناجوړه یا په هغه باندے تکلیف وی د هغه د سر د وجے نه۔
فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْصَدَقَةٍ اَوْنُسُكٍ
نو لازم ده په هغه باندے فدیه (بدله) ورکول د (درے) روژو یا صدقه (د شپږ مسکینانو) یا قربانی (د یوګډ)
فَاِذَآ اَمِنْتُمْ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ اِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ
نو کله چه تاسو په امن شئ نو چا چه فائده واخسته په عمره کولو د حج سره (یوځائے) نو لازم دے په دهٔ باندے هغه چه آسان وی
مِنَ الْهَدْيِ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِى الْحَجِّ
د قربانی نه پس که چا (قربانی) نهٔ موندله، نو (په دهٔ) روژے نیول دی درے ورځے د حج په ورځو کښې۔
وَسَبْعَةٍ اِذَارَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِى
او اُووه ورځے کله چه تاسو واپس شئ (کور ته)، دا لس (روژے) دی پوره (ثواب والا)، دا حکم د هغه چا دپاره دے
الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۹۶﴾
چه نهٔ وی کوروالا د هغه اُوسیدونکی په مسجد حرام کښې، او اُویریږئ د الله نه او پوهه شئ چه یقیناً الله سخت عذاب والا دے۔

تفسير : اُوس د حج مسائل راوړي تر (٢٠٣) آيت پورې۔ څکه مخکښې د مياشتې تذکره اُوشوه، نو اُوس د حج متعلقات بيانوي او جهاد سره ئې نزدې راوړو څکه چه حج يو قسم جهاد دې۔ او بله دا چه مشرکانو سره جګړه وه او هغوی د الله تعالیٰ حرم په لاس کښې نيولې وو، مسلمانان ئې ورته نۀ پريخودل، نو الله تعالیٰ فرمائي چه جهاد به ورسره کوئ او کله چه حج له تلئ او دوی مو منع کوی نو څۀ به کوئ ؟ هغه احکام راوړی۔

بله وجه دا ده چه سورة البقرة فسطاط القرآن (د قرآن کريم خيمه) ده، دې کښې د دين ټول احکام بيانيږي۔ نو دا يو بل قانون دې د حج متعلق، خو د حج ټول احکام ئې نۀ دی راوړی بلکه صرف هغه احکام ئې راوړی چه مشرکانو په کښې غلط رواجونه جوړ کړی وو۔

نو الله تعالیٰ د دغه رواجونو رد کړيدې۔ او عام احکام د حج او عمرې په احاديثو کښې تفصيلاً ذکر شويدی۔

دلته ئې صرف پنځه لوئي احکام راوړی دی، او په آخره کښې ئې درې قسمه خلق بيان کړيدی، دوه نيك بخت او دوه بد بخت۔ او دا اقسام د حاجيانو او غير حاجيانو دی۔ بيا جهاد ته ترغيب دې په داخليدو په اسلام کښې ټول په ټوله ۔ سره د تخويف نه د هغه چا دپاره چه د الله تعالیٰ په دين کښې پوره نۀ داخليږي په (٢١٠) آيت کښې۔

عائشې اُووئيل: آيا په زنانو جهاد شته ؟ نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل :

«په دوی جهاد لازم دې چه هغې کښې قتال نشته چه حج او عمره دی»۔

(احمد، ابن خزيمه، ابن ماجه بسند صحيح)۔

رسول الله ﷺ په شپږم کال کښې خوب اُوليدو چه زۀ د صحابه کرامؓ سره عمرې کولو دپاره تلې يم، نو څان سره ئې څوارلس سوه صحابه کرامؓ واخستل او د عمرې په اراده روان شو، کله چه حديبيه مقام ته اُورسيدو نو په لاره کښې کافرانو بند کړو او د هغوی سره دغه صلح اُوشوه چه کال له به دا عمره پوره کوئ، او اُوس به بيرته واپس کيږئ نو دا آيتونه نازل شو۔ نو څوارلس سوه صحابه کرامؓ خپلې بُدنې (اُوښانې) چه اُوه اويا وې، ذبح کړې، اُووه اووه کسان پکښې شريك وو۔

﴿ وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ﴾ د حج او د عمرې د اتمام دوه تفسيره دی :

(١) [اَدُّوْهُمَا عَلٰى وَجْهِ التَّمَامِ وَالْكَمَالِ بِاَنْ يَّكُوْنَ عَلٰى وَفْقِ السُّنَّةِ وَبِالنَّفَقَةِ الْحَلَالِ وَاِخْلَاصِ النِّيَّةِ] (خازن) يعنى د حج او د عمرې د پوره کولو معنیٰ دا ده چه په سنت طريقه باندې ئې اُوکړئ، پوره پوره ئې ادا کړئ او حلاله نفقه پکښې اُولګوئ، او نيت خالص کړئ۔ او د ميقات نه ئې شروع کړئ)، سفيان ثوريؒ وائي : اتمام دا دې چه د کور نه اراده د حج يا عمرې اُوکړه او داسې مۀ کوه چه

تجارت يا حاجت دپاره لاړ شي بيا وائي چه حج کوم يا عمره کوم، دا جائز دي ليکن کامله طريقه نۀ ده۔ (ابن کثیرؒ، السراج المنیر)۔

(۲) دويم دا چه کله انسان حج يا عمره کښې شروع اُوکړي، فرضي وي او که نفلي نو په هغه باندے ددے سر ته رسول واجب دي او په مينځ کښې به ئے نيمګړي نۀ پريدي، او دا خبره اتفاقي ده، خو که د بند والي څه عذر ورته راپيښ شو نو بيا ورله د هديه په ليږلو ځان د احرام نه کولاوول جائز دي۔او دا معنیٰ د سياق سره ډيره واضحه ده۔

او ددے آيت د نزول په وخت کښې حج فرض نۀ وو، ځکه چه پدے وخت کښې حرم د مکے مشرکانو په لاس کښې وو، نو الله تعالیٰ داسے نۀ کوي چه په يو ځائے کښې اختيار نۀ وي او هلته عبادت فرض کړي۔او بيا دے ئے پيغمبر څلور کاله روستو ادا کوي۔ بلکه صحيح دا ده چه حج د فتح د مکے نه روستو فرض شوے وو۔ نو دا حکم استحبابي دے۔ او په عمره کښې اختلاف دے چه آيا دا واجب ده او که مستحب ؟ ظاهر دا ده چه فرض نۀ ده په نيز د اکثرو علماؤ او دلائل ئے په تفسير فتح البيان او ابن کثيرؒ او قرطبيؒ وغيره کښې ګوره۔ او دلته د اتمام معنیٰ مخکښې ذکر شوه چه ښۀ طريقے سره ئے پوره کړئ۔

(لله) يعني خاص الله دپاره ئے پوره کړئ۔ دا ځکه وائي چه مشرکانو به د حج بعض کارونه د بتانو او د غير الله د تقرب د حاصلولو دپاره کول لکه تلبيه کښې به ئے داسے وئيل :[اِلَّا شَرِيْكًا تَمْلِكُهٗ وَمَا مَلَكَ] (ستا شريك نۀ شته مګر هغۀ شريك شته چه تۀ د هغے مالك ئے او د هغه خپل اختيار نشته)۔ دارنګه ډيرو مشرکانو خپل خپل حجونه مقرر کړيدي نصاریٰ د عيسیٰ ﷺ د ولادت د ځائے نه حج کوي، د (اورشليم) زيارتونه کوي، په روم کښې د (ماربولس) او (ماربطرس) د قبرونو زيارتونه کوي۔ د اسلام د زمانے نه مخکښې به نصاراؤ د شام د (عَسْقَلَان) ښار حج کولو۔ او خلق به ئے د کعبے نه دے طرف ته راړول۔ دارنګه د مصريانو او يونانيانو او هندوانو ډير حجونه دي۔ (ابن عاشورؒ)

نو الله په هغوی باندے رد اُوکړو او مسلمانانو ته ئے اُوفرمايل : چه صرف د الله د رضا او تقرب دپاره حج او عمره کوئ ځکه چه حج او عمره او دغه مقدس مقامات الله تعالیٰ د خپل توحيد دپاره مقرر کړيدي۔

ابن عاشورؒ وائي (لله) ئے ځکه اُووئيلو چه مشرکانو هم د الله دپاره حج او عمره کول ليکن مشرکانو مسلمانان د حج او عمرے نه بند کړي وو، نو کال له چه دوی حج کولونو دوی ته اُووئيلے شو چه تاسو به د مشرکانو د ضد نه حج او عمره نۀ کوئ بلکه پکار ده چه ستاسو نيت

ډې د الله دپاره وي۔ او اګر که تاسو ته تکليف اُورسيدو خو بيا هم د الله دپاره حج او عمره مهٔ پريدئ۔ (التحرير والتنوير ۲/۲۱۵)

﴿فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ﴾ احصار بنديدل او راګيريدلو ته وائي۔

يعني که د حج يا د عمرې په لاره کښې څه مانع راشي لکه دشمن لاره بنده کړي، (لکه دا د جمهورو علماؤ رايه ده چه احصار صرف په دشمن سره وي) (لکه په حديبيه کښې دغسې اُوشو) يا څهٔ بيماري راشي، يا لاره ورکه شي يا په بله طريقه لاره بنده شي، غل ئې اُوتختوي (لکه دا د محققينو رايه ده او همدا راجح ده) نو مُحرم ته چه کوم څاروې (د اُوښ يا د غوا اُوومه حصه يا يو ګډ يا چيلې) آسان وي هغه به ذبح کړي او سر به اُوخروي نو حلال به شي او بغير ددې نه احرام نشي کوزولې لکه چه نبي ﷺ او صحابه کرامو په حُديبيه مقام کښې په (سنه۶ هجري) کښې دغه شان کار اُوکړو او بيا ئې په سنه (۷ھ) کښې ئې ددې عمرې قضاء راوړه۔

او د څاروي د لازميدو نه بغير احرام کوزول په يو صورت کښې راغلي دي چه مُحرم د احرام ترلو په وخت کښې د الله تعالىٰ سره شرط اُولګوي چه اې الله! ما د حج يا عمرې احرام اُوترلو ليکن کوم ځائې چه زهٔ بند شوم نو هلته به احرام کوزوم۔ لکه دا خبره نبي ﷺ ضباعه بنت الزبير ته کړې وه چه داسې اُووايه۔ (صحيحين عن عائشة)۔

﴿فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ﴾ دې کښې مبتداء پټه ده يعني [فَالْوَاجِبُ مَا اسْتَيْسَرَ] يا خبر پټ دې [فَعَلَيْكُمْ مَا اسْتَيْسَرَ] (په تاسو لازم دې هغه شې چه آسان وي) يا فعل امر پټ دې يعني [فَاذْبَحُوْا مَا اسْتَيْسَرَ] (ذبح کړئ هغه چه آسان وي تاسو ته)۔

(هدي) دلته هغه څاروي ته وائي چه د احرام نه د وتلو په مقابله کښې حرم ته ليږلې شي۔ ابن عباسؓ فرمائي: دا د څلورو اقسامونه جائز ده (اُوښ، غوا، ګډ، چيلې)۔ او همدا غوره قول دې۔ بعض ئې صرف د اُوښ او غوا پورې خاص کوي۔ او دا قول د ابن عمرؓ دې۔ (ابن کثير) او دا څاروې ئې که ځان سره بولې وي او که هلته ئې اخلي تولو ته عام دې۔

مسئله: که انسان ته هدي نهٔ ملاويږي يا د هغې طاقت نهٔ لري، نو آيا د هغې بدل شته او که نهٔ؟ يو قول دا دې چه ددې بدل نشته څکه چه الله نهٔ دې ذکر کړې۔ (دا قول د امام ابوحنيفةؒ دې) او دويم قول دا دې چه ددې بدل شته لکه چه د تمتع او قِران په هدي کښې چه بدل شته او په حالت د عذر کښې هم شته نو دلته هم په طريقه د قياس سره ده۔ (احسن الکلام)۔

ليکن په قياس باندې احکام ثابتول کمزورې خبره ده۔

﴿وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ﴾ سر خرئيل دوه قسمه دي، (۱) يو د اختر په ورځ د احرام کوزولو دپاره نو

دا بـه د قربانۍ ذبح کـولـو نه روستو وي خو که چا مخکښې سر اُوخرئيلو او بیا ئې ذبح اُوکړه نو صرف د افضل خلاف کار ئې اُوکړو۔ او دم پرې نۀ واجبيږي۔ لکه دا خبره په حديث د صحيحينو کښې راغلې ده۔

(۲) او دویـم : د حج یا عمرې نه د احصار (بندش) په وخت سر خرئيل دی نو پدې کښې د هدی د ذبح کيدلو نه مخکښې سر خرئيل جائز نۀ دی لکه دلته هغه بيانيږي۔

او کـه دا پـه حـالـت د امـن کـښې مراد شي نو بيا مطلب دا دے چه که حج کونکی د هَدٰی څاروے ځان سره روان کړے وي، نو په حالت د امن کښې د هدی د ذبح کولو ځائے حرم دے، ترڅو پورے چه د هـدی څـاروے حرم ته اُونۀ رسي او حج کونکے د حج او د عمرے د اعمالو نه فارغ شوے نۀ وي نو د هـغـه دپاره سر خرئيل يا لنډول جائز نۀ دي۔ او افضل دا ده چه په لسم تاريخ (د اختر په ورځ) د جمراتو ويشتو نه روستو ذبح اُوکړي بيا سر اُوخروي۔ (تيسير الرحمن)

﴿حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ﴾ (مـحله) (ځائے د حلالے)۔ ددے نه مراد د احنافو په نيز حرم دے۔ يعنی مـحـصَـر انسان بـه څـاروے یا پیسے حرم ته لیږي او کله چه دۀ ته په څۀ ذريعه خبر راورسيدو چه ستا څاروے په حرم کښې حلال شو نو بيا به دا احرام کوز کړي۔

دليل ئې ﴿ثُمَّ مَحِلُّهَا اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ﴾ (الحج/٣٢) آيت دے۔ ليکن جواب دا دے چه هغه حکم په باره د امن والا کښې دے، نۀ د محصر۔ (فتح البيان ١/٣٩٦)

او جـمـهـور اهل علم فرمائي چه (مَحِلَّهٗ) هـر ځائے او هر زمان ته شامل دے، حرم وي او که هغه ځائے وي کـوم ځائے چه بند شويدے۔ **دليل** دا دے چـه حُـديبيـه د حـرم نه نۀ ده، او نبی ﷺ او صحابه کرامؓ په همدغه مقام کښې قرباني اُوکړه او احرامونه ئې کوز کړل۔

دارنګه مخکښې حديث د ضباعة بنت الزبير هم دليل دے۔

۳- دارنګه فَمَا اسْتَيْسَرَ نه معلوميږي چه پدے کښې تخصيص د حرم نشته۔ او همدا راجح قول دے۔ ليکن عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي: که امکان وي نو حرم ته دے اُوليږي او که نۀ وي نو بيا هر ځائے کولے شي۔ (بخاريؒ) ...... او همدا ظاهر دے او پدے کښې په ټولو دلائلو عمل راځي۔

اوس بله مسئله : چـه احـرام دے اُوتړلو او چا بند نۀ کړے ليکن نور تکليف دے مثلًا زخمي شوے يا سرخـارخ کـوي يـا پـکښې سپږے د اُوږد سفر د وجه نه پيدا شي لکه کعب بن عجره ﷺ فـرمائـي : دا آيت زمـا په باره کښې نازل دے او حکم ئې تاسو ته عام دے او هغه دا چه په ما باندے سپږے ډيرے بهيدلے نـو رسول الله ﷺ راته اُوفرمايل : آيا تا ته دا حشرات تکليف درکوي؟ ما ورتـه اُووئـيـل : آؤ۔ وے فرمايل : سر اُوخرئيوه او ګډ حلال کړه۔ الحديث۔ او صبا له بيا په حديبيه

کښې تول صحابه کرامؓ بند کړے شو۔

﴿ فَمَنْ كَانَ ﴾ د دے جزاء پټه ده : (فَلْيَحْلِقْ رَأْسَهٗ) (یعنی سر دِے اُوخروی)

﴿ اَوْبِهٖ اَذًى مِّنْ رَّأْسِهٖ ﴾ (اذی) تکلیف او ضرر ته وائی، دلته ترے مراد دا دے چه سپږے پکښې شوی وی، یا ئے په سر باندے درد وی یا پکښې زخمونه او دانے وی۔

﴿ فَفِدْيَةٌ ﴾ دلته فعل پټ دے [اَیْ فَیَلْزَمُ عَلَیْهِ فِدْیَةٌ] (نو لازم ده په ده باندے فدیه) او فدیه بدلے او عوض ته وئیلے شی۔ یعنی کله ئے چه سر اُوخرئیلو نو فدیه به ورکړی۔

﴿ مِنْ صِيَامٍ ﴾ ددے نه مراد درے روژے دی لکه دا په حدیث د کعب بن عجرهؓ کښې په بخاری (۶۷۰۸) او مسلم (۲۹۳۷) کښې راغلی دی۔ او درے روژے ځکه مقرر شوے چه ده په درے کارونو کښې جنایت کړے یعنی په احرام، طواف او سعی کښې۔ او ظاهر دا ده چه هره روژه د یو صاع قائم مقام ده۔ (المنار)

﴿ اَوْ صَدَقَةٍ ﴾ دا درے صاعه د کجورو دی چه شپږ مسکینانو ته به ورکولے شی یعنی هر یو ته نیم نیم صاع چه تول (شپږ کیلو او تقریباً پنځه سوه گرامه جوړیږی)۔

﴿ اَوْ نُسُكٍ ﴾ جمع د نَسِيْكَةٌ ده په معنیٰ د هغه ځاروی (قربانی) چه خاص د الله دپاره ذبح کولے شی۔او ددے قربانی ادنیٰ مقدار یو گډ دے۔

او هدی هغه ځاروی ته وئیلے شی چه حرم ته بوتللے شی۔ او ددے فدیئے مکان متعین نهٔ دے بلکه کوم ځائے چه ورکوی خوښه ئے ده۔ (مجاهدؒ)۔

فائده: دا حکم په هغه وخت کښې دے چه په حالت د احرام کښې د عذر د وجه نه سر اُوخروی، او که څوك بغیر د عذر نه سر اُوخروی نو هغه باندے فدیه واجب ده۔ نو د ابو حنیفهؒ او شافعیؒ او ابو ثورؒ په نیز صرف دم واجب دے۔ او په دے درے څیزونو کښې اختیار نشته۔ او امام مالك وائی : کار ئے غلط اُوکړو، فدیه پرے واجب ده، لیکن اختیار پکښې شته۔ او که په هیره سره سر اُوخروی یا خوشبوئی استعمال کړی نو آیا فدیه پرے شته او که نهٔ ؟۔ اکثر اهل علم وائی په دے صورت کښې هم فدیه واجب ده۔ او بعض اهل علم وائی : فدیه پرے واجب نهٔ ده۔ راجح دویم قول دے۔ ځکه سهوه او نسیان دے امت ته معاف دی۔ فتاوی الدین الخالص (۱۰)۔

تنبیه: دلته (اَوْ) د تخییر یعنی اختیار دپاره دے، ستا خوښه ده چه هر یو ورکوے او کعب بن عجرهؓ ته ئے چه اول په گډ حکم کړے وو، نو هغه د وجه د افضلیت نه او باقی جائز دی۔ (ابن کثیرؒ)۔

﴿ فَاِذَا اَمِنْتُمْ ﴾ اُوس د امن په حالت کښې حکم بیانوی، برابره ده چه دا امن د اول نه وی او که پس د احصار نه وی۔ تمتع په دواړو صورتونو کښې جائز دے۔

﴿ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ ﴾ د تمتع معنیٰ ده فائدے او مزے اخستل. او عمره کونکے د احرام کوزولو نه پس تر وخت د حج پورے په ممنوعاتو د احرام باندے فائدے اخلی.

حج په درے قسمه دے. (۱) **حج تمتع** : طریقه ئے دا ده چه د حج په میاشتو کښ د میقات نه احرام اُوتړی (دا خبره د بهر ملك والا دپاره ده) او مکے ته داخل شی او طواف د بیت الله او سعی د صفا او مروه اُوکړی، بیا ځان حلال کړی (په سر خرئیلو یا په قصر (لنډولو) سره) بیا د میقات نه بهر اُونهٔ وځی او وطن ته واپس لاړ نهٔ شی تردے پورے چه احرام د حج اُوتړی او اعمال د حج اُوکړی نو دا شخص مُتمتع دے. او دا طریقه اتفاقی ده.

۲- دویم **حج قِران** دے او دیته هم په معنیٰ لغوی سره تمتع ویلے شی. چه د میقات نه احرام د عمرے او د حج دواړو اُوتړی او بیا کارونه د عمرے اَول اُوکړی او ځان حلال نکړی تردے پورے چه په همدغه احرام کښ پاتے شی او د حج کارونه هم ادا کړی او بیا ځان حلال کړی (یعنی په یو احرام کښ عمره او حج دواړه یو ځائے کول) پدے دواړو صورتونو کښ د اختر په ورځ هدی (قربانی) کول واجب دی.

۳- **حج افراد** دیته وائی چه د اول نه اراده د حج اُوکړی او احرام د حج اُوتړی صرف طوافِ قدوم اُوکړی بیا مِنیٰ ته لاړ شی یا سیده عرفات ته لاړ شی. په حاجی مفرد باندے هدی (قربانی) لازم نهٔ ده. دلته دا حج نهٔ دے مراد.

مسئله : لیکن په حج قِران کښ سوق د هدی لازم دے که نهٔ وی، نو بیا به خامخا تمتع یا افراد کوی. نو کوم خلق چه ځان سره د خپل ملك نه هدی (یعنی قربانی) روانه نکړی نو هغه حج قِران نشی کولے.

﴿ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ ﴾ دلته ددے نه مراد دا دے چه په عمره فائده واخلی د حج سره یعنی دواړه په یو سفر کښ جمع کړی په طریقه د تمتع یا قِران سره او دواړو نه فارغه شی نو :

﴿ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ﴾ نو هغه باندے هدی (قربانی) کول واجب دی.

چه دا هدی د حج تمتع او د حج قِران د وجه نه ده. یعنی تا په یو کال کښ حج او عمره دواړه شریك اُوکړل نو اُوس به د اختر په ورځ قربانی کوے او دا قربانی درباندے فرض شوه. که غریب وی نو روژے به اُونیسی. او هر چه د اختر په ورځ قربانی ده، نو هغه په غریب نهٔ ده واجب. او د حاجی او غیر حاجی تولو دپاره ده.

فائده : پدے هَدْی (قربانی) کښ اختلاف دے. د امام شافعیؒ په نیز دا دم جَبر دے. ځکه چه د امام شافعیؒ په نیز په یو سفر کښ حج او عمره شریك کول افضل نهٔ دی. نو دا د نقصان جبیره

ده۔ نو دم ورکره۔ او د جمهورو په نیز دا دم د نسك او د شکر دے۔ یعنی د دوه عبادتونو د شکر ادا کولو دپاره کولے شي۔

فائده: دلته درے قسمه هدی راغلے (۱) یو د احصار په صورت کښې د احرام نه د ځان ویستلو په وخت کښې۔ (۲) دویم د تکلیف د سر یا د مرض د وجه نه هدی یا صدقه یا روژے دی۔ (۳) دریم په صورت د حج تمتع یا حج قِران کښې هدی ده۔ او څلورم به په سورة المائده ﴿ لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ ﴾ کښې ذکر کیږی او هغه په ښکار کولو او ونے پریکولو کښې لازمیږی۔ (فتح البیان)۔

همدغه دمونه قرآن او حدیث کښې دی۔ یو بل دم په صورت د جماع کښې د عمر فاروقؓ نه موقوفاً نقل دے۔ نو پنځه شو۔ باقي نور دمونه صحیح حدیث کښې نشته، صرف ابن عباسؓ موقوفاً وئیلی دی :[مَنْ قَدَّمَ شَيْئًا مِنْ حَجِّهِ اَوْ اَخَّرَهُ فَلْيُهْرِقْ لِذٰلِكَ دَمًا] (شرح مشكل الآثار للطحاوی (۲۸۸)۔

(څوك چه یو عمل مخکښې روستو کړی نو هغه دے ددے په بدله کښې وینه توی کړی)۔ لیکن ظاهر دا ده چه دا حدیث موقوف دے او دا په حکم د مرفوع کښې نۀ دے لهذا په خلقو هسے چټی دمونه لازمول نۀ دی پکار۔ کما في فتاوی الدین الخالص (۱۰)۔

﴿ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ ﴾ اُوس رخصت بیانوی د هغه چا دپاره چه هدی (قربانی) نۀ مونده کوی ځکه نۀ ملاویږی یا دا چه پیسے ورسره نۀ وی۔ نو بیا به د حج په ورځو کښې درے روژے اُونیسی۔ او غوره دا ده چه دا به د ذی الحجے د میاشتے شپږمه، اُومه او اتمه ورځ وی۔ او که نهمے یعنی عرفے ورځے نه ئے روستو کړی، هم جائز ده۔

﴿ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ﴾ (یعنی کله چه خپل کور ته واپس شی نو بیا به اُووه ورځے روژے اُونیسی۔ نو د رجوع نه مراد یا کلی ته واپس کیدل دی یا د حج نه فارغ کیدل دی۔ اگرکه په مکه کښې وی۔ (او دا قول د ابوحنیفهؒ دے) لیکن اول قول د مسلم (۱۲۲۷) د حدیث د وجه نه غوره دے چه په هغے کښې (اِذَا رَجَعَ اِلٰی اَهْلِهٖ) لفظ دے۔(یعنی چه کله خپل اهل ته واپس شي)۔

نکته : د دم په مقابله کښې روژے نیول په ظاهر کښې د عقل خلاف دی لیکن د الله په عِلم کښې به پدے کښې ډیر حکمتونه وی۔ ځکه چه دا یو عبادت بدني نو دا بل عبادت مالي دے۔ د یو بل قائمقام راځی۔

﴿ تِلْكَ عَشَرَةٌ ﴾ دا ورسره وائی اشاره کوی چه د درے او د اُووه تر مینځ اختیار نشته بلکه دواړه به جمع کوی۔ یعنی واو په معنی د (اَوْ) نۀ دے۔ (زجاج)۔

یا دا چه څوك گمان اُونکړی چه د اُووه نه روستو به نور عدد هم باقي وی۔ (مبرد- فتح البیان)۔

﴿كَامِلَةٌ﴾ یعنی ثواب ئے پوره دے۔ دا گمان اُونکړے چه ددے مرتبه او ثواب به د هدی نه کمه

وی څکه حالت د مجبورتیا دے۔

﴿ ذٰلِكَ ﴾ امام شافعیؒ وغیره (یعنی جمهور علماء) وائی : دا هدی ته اشاره ده۔ یعنی د تمتع او د قِران قربانی په هغه حاجیانو واجب ده چه اهل حرم (یعنی مکے والا) نهٔ وی۔ بلکه آفاقی وی او په دهٔ څکه لازم ده چه دا به د حج احرام د مکے نه ترِی، نهٔ د میقات نه، نو ددهٔ حج ناقص ګرځی نو دا نقصان به په قربانی کولو پوره کری۔ او حرم ته نزدے خلق تمتع او قِران کولے شی، لیکن قربانی پرے واجب نهٔ ده۔

۲- بعض علماء وائی چه حج تمتع او قِران ته اشاره ده کوم چه په (فَمَنْ تَمَتَّعَ) کښ ذکر دے۔ لکه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما دا تفسیر کرے دے۔ (ابن جریر، الدر المنثور، نقله البخاری فی صحیحه) او همدا راجح دے نو دا دلیل دے چه څوك د مسجد حرام په خوا کښ وی، هغه به حج تمتع او حج قِران نهٔ کوی، که وے کرو نو دم پرے واجب دے چه د هغے نه به خپله خوراك نهٔ کوی۔ او د مکے اُوسیدونکے خو تول کال مسجد حرام ته حاضر وی نو هغه له څهٔ پکار چه په میاشتو د حج کښ عمره کوی۔

﴿ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾ یعنی کوم خلق چه د مسجد حرام په خوا کښ اُوسیږی۔ حَاضِر په معنیٰ د مُقیم سره دے۔ یعنی د میقات نه دننه وی (ابو حنیفهؒ) یا هر هغه څوك چه ددهٔ او د حرم ترمینځ موده د سفر نهٔ وی۔ (شافعیؒ) یا مکے والا مراد دی۔ (مالكؒ) ...... (فتح البیان)۔

هغوی دِے حج تمتع یعنی عمره اوحج شریك نهٔ کوی بلکه هغوی دپاره حج افراد دے۔ څکه هغوی خو هر وخت عمرے کولے شی، نو دا تمتع او قِران به هغه څوك کوی چه هغه د بهر نه راشی لکه د پاکستان، هندستان، افغانستان وغیره نه راشی۔ نو هغه له پکار دی چه عمره اُوکری او بیا حج اُوکری، څکه هغه هر وخت نشی راتللے۔ نو هرکله چه تا تمتع اُوکرو نو په تا باندے هدیه لازمه ده۔ او په مکے والو دا هدیه نهٔ ده لازمه څکه چه هغوی دپاره تمتع او قِران نشته۔

﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ (اَیْ بِالْعَمَلِ بِالْاَحْكَامِ) اُویریږئ د الله نه په عمل کولو کښ په احکامو د الله۔

﴿ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴾ دا یره ده هغه چا ته چه د الله د احکامو مخالفت کوی۔

اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ
د حج یو څو میاشتے دی معلومے نو چا چه فرض کړو په دے ورځو کښ (په ځان باندے) حج (چه احرام ئے وړله اُوتړلو)
فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ
نو نهٔ به وی خبرے د زنانو او نهٔ ګناه کول او نهٔ جګړے کول په حج کښ او هغه چه تاسو کوئ څهٔ نیکئ لره

يَعْلَمْهُ اللّٰهُ وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى وَاتَّقُوْنِ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ﴿۱۹۷﴾

پوهيږي په هغې باندې الله او ځان سره توخه وړئ يقيناً غوره توخه تقوىٰ ده او اُويرېږئ ما نه اې عقل والو!۔

تفسير : پدې آيت کښې د عربو په رواج او غلط عادت باندې رد دې چه هغوی په حج کښې دا جهالت پيدا کړې وو چه نسيء به ئې کوله، کله به ئې حج په (صفر) مياشت کښې کولو، او کله به ئې (رمضان) کښې کولو۔ او دا به ئې وئيل چه څلور مياشتو له عزت ورکول پکار دی که هره مياشت له دې ورکړو۔ نوخپله خوښه به ئې پکښې استعمالوله۔ او پدې آيت کښې د حج بعض احکام بيانوی، کومو کښې چه د خلقو تصور غلط شوې وو۔ (۱) يو وخت د احرام د حج بيانوی۔ (۲) دويم ممنوعات د حج۔ ځکه دوی به په حالت د احرام کښې تقوىٰ نهٔ کوله او د محرماتونه به ئې ځان نهٔ ساتلو۔(۳) امر په توښه وړلو سره۔ ځکه چه دوی به توښه وړل ګناه ګڼړله۔

نو الله پرې اُوس رد کوی : ﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمَاتٌ﴾ دلته مضاف پټ دې يعني (وَقْتُ اِحْرَامِ الْحَجِّ) وخت د احرام د حج معلومې مياشتې دی چه هغه درې دی، شوال، ذی القعده، او د ذی الحجې لس ورځې دی، يعني د وړوکی اختر نه روستو د حج دپاره احرام تړل جائز دی اګرکه حج په يو څو ورځو د ذی الحجه کښې ادا کيږی، ليکن شريعت اُووئيل چه مخکښې نه هم احرام تړل صحيح دی ځکه د لرې دنيا نه به خلق راځی۔ نو حج ته به رسيدې شی۔ يا دا چه څوك پدې مياشتو کښې عمره اُوکړی، نو حج ئې تمتع يا قِران جوړيږی۔او ددې نه معلومه شوه چه که ددې نه مخکښې څوك احرام د حج دپاره تړی نو دا به غلط وی۔

او څوك چه پدې مياشتو کښې د حج نيت اُوکړی، نو په هغه باندې د احرام تعظيم واجب دې، او ددې تعظيم تقاضا دا ده چه مُحرم به د جماع او د هغې د مقدماتو، او تمام قسم ګناهونو او جنګ جګړو نه پرهيز کوی، رسول الله ﷺ فرمايلی دی : ((څوك چه ددې کور حج اُوکړی او د جماع او د نورو ګناهونو نه ځان بچ ساتی نو هغه د ګناهونونه داسې پاك شو لکه د هغه ورځې په شان چه دهٔ لره مور زيږولې وو))۔ (متفق عليه)

﴿فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ﴾ يعني چاچه لازم کړو په ځان باندې حج کول په دې طريقه چه نيت ئې اُوکړو په زړهٔ کښې او په احرام تړلو سره او په تلبيه وئيلو سره په ژبه باندې۔(قرطبیؒ، فتح البيان) نو :

﴿فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ﴾ دا نفي په معنىٰ د نهی ده۔ يعني (لَا تَرْفُثُوْا وَلَا تَفْسُقُوْا وَلَا تُجَادِلُوْا) (يعني رفث او فسوق او جګړې مهٔ کوئ) ليکن جمله خبريه ئې راوړه، اشاره ده چه د حاجی د شان او حال نه دا لرې ده چه هغه په حج کښې دغه کارونه اُوکړی۔

ځکه چه حج تول د يو شعور او فکر نوم دے چه انسان دا شعور اُوکړی چه ما کفن واغوستو او د الله ملنګ شوم او د هغه په امر به چليږم۔نو حج په انسان کښې تبديلی راولی۔ ليکن که دا شعور نۀ وی د حج نه به هيڅ اثر رانۀ وړی ځکه هغه څۀ د چکر ځائے هم نۀ دے۔
دا درے قسمه قوتونه به نۀ استعمالوی۔ (۱) قوت شهوانی۔ (په رفث کښې) (۲) قوت شيطانی په فسوق کښې۔ (۳) او قوت سَبُعی په جدال کښې۔ بلکه ځان کښې به قوت ملکی پيدا کړی چه هغه د الله عبادتونه کول او بل ته فائدے ورکول دی۔ او پدے زمانه کښې غالباً د حج اثر نۀ وی ځکه چه بے شعوره کيږی، او دا درے قوتونه بے ځائے استعماليږی۔ او دا درے څيزونه په عام حالتونو کښې منع دی ليکن په حج کښې منع ئے زياته ده۔
رفث نه پدے مقام کښې (تَعَاطِی الْجِمَاعِ وَدَوَاعِيهِ بِحَضْرَةِ النِّسَاءِ) يعنی جماع کول يا اسباب د جماع اختيارول، د شهوت خبرے کول او بوس وکنار کول پۀ حضور د زنانو کښې)
او که زنانه حاضره نۀ وی او انسان داسے وائی چه زۀ به وادۀ کوم، يا به د ښځے سره جماع کوم۔ لکه دا خبره ابن عباسؓ کړے وه چه زۀ که واپس لاړم خپله وينځه (لميس) سره به جماع کوم نو هغه باندے اعتراض اُوشو چه په حالت د احرام کښې تۀ دا خبرے کوے؟ نو هغه اُوفرمايل: چه رفث هغه دے (مَاكَانَ بِحَضْرَةِ النِّسَآءِ) چه په حضور د زنانو کښې وی۔ ليکن اثر د ابن عباسؓ سنداً ضعيف دے کما قال عبد الرزاق المهدیؒ فی تعليق ابن کثيرؒ۔
ليکن احرام کښې به ډير کپ شپ نۀ لګوی ځکه چه احرام د نورو حالاتو دپاره قالب دے۔
(فسوق) عام ګناهونه کول يا په حالت د احرام کښې ښکار کول، عطر او خوشبوئی لګول، نوکونه يا ويښته پريکول (ابن عمرؓ)، د حرم ونے او بوټی پريکول۔ فِلمونه کتل او بد نظری او بے حيائی کول۔ کنځل کول۔
(جدال) د ملګرو وغيره سره به جګړے نۀ کوی۔اُوسنی حاجيان غالباً هسے چکر دپاره ځی، د حج نه اثر نۀ راوړی۔ او اکثر په خپل مينځ کښې ئے په معمولی خبرو بحثونه او جګړے وی۔ دا تيك حج نۀ دے۔ بيا دينی جګړے جائز دی لکه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی، څوك غلط کار کوی، هغه منع کوی، او په نيك کار باندے خلقو ته ترغيب ورکوی نو دا ښۀ کار دے، دا په حج کښې منع نۀ دے۔
﴿وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ﴾ **ربط** دا دے چه د دغه کارونه به ځان ساتی۔ (وَيَفْعَلُ الْخَيْرَ) او د خير کارونه به کوی۔ ځکه چه په حج کښې نور نيك عملونه کيږی، هغے ته ترغيب ورکوی۔ لکه تلبيه زيات وئيل، قربانی کول، بل باندے خوراکونه خورول او نرمے خبرے کول۔ يعنی لکه

څنګه چه په حج کښې ګناهونه پریخودل ضروري دي نو نیك عملونه کول هم ضروري دي نو ځکه یې ذکر کړل۔ او حدیث کښې دي :[اَیُّ الْحَجِّ اَفْضَلُ ؟ قَالَ الْحَجِّ الْعَجُّ وَالثَّجُّ] بهترین حج هغه دے چه په هغے کښې تلبیه زیاته اُووئیلے شي او وینه په کښې زیاته توئي شي (یعني قرباني)۔ (ترمذي (۸۲۷) بسند صحیح)۔

او حدیث کښې دي : د حج مبرور (مقبول) بدله نشته مګر جنت دے۔ (مسند احمد و صحیح مسلم)

«او حج مبرور هغه دے چه په هغے کښې په بل بانده خوراك (صدقه) اُوکړے شي او نرمے خبرے اُوکړے شي»۔ کما في صحیح ابن خزیمه والترغیب (۱۱۰٤) صحیح لغیره)

او هیڅ ګناه ورسره شریکه نشي۔

﴿ وَتَزَوَّدُوْا ﴾ دا جزئي حکم ئے راوړو ځکه چه پدے کښې د یمن والو په رواج بانده رد دے چه هغوی به کله حج یا عمرے ته راتلل، نو ځان سره به ئے د سفر توښهٔ نهٔ راوړله او توښهٔ نهٔ راوړل به ئے ثواب ګنړلو، او دا به ئے وئیل (نَحْنُ مُتَوَكِّلُوْنَ) (مونږ په الله توکل کړیدے) نو الله خو په بندګانو بانده امتحان راولي، نو چه کله به راروان شو، په سفر کښې به وږی شو، بیا به ئے د حج په نوم د خلقو نه سوالونه کول۔او په خلقو به بوج شو، نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔

(بخاري، ابوداود، نسائي وغیرهم عن ابن عباس)۔

نو الله فرمائي : ځان سره توښهٔ راوړهٔ، حج دربانده هله فرض کیږي چه دومره توښهٔ درسره وي چه حج ته پرے راشے او بیرته واپس کلي ته لاړ شے۔

بعضِ خلقو د حج نه د تجارت او کاروبار ذریعه جوړه کړي وي۔ علي ﷺ یو تن په عرفات کښې سوال کونکے اُولیدو نو دُره ئے پسے اُوچته کړه چه آیا تهٔ پدے ورځ او په دے مقام کښې د غیر الله نه سوال کوے۔ (رزین– مشکاة : ۱۸۵۵)

﴿ فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى ﴾ دے کښې دوه معنے دي : (۱) التقویٰ نه مراد دومره توښهٔ ده چه انسان پرے ځان د سوال نه بچ کړي یعني ادنیٰ توښهٔ هم کافي ده، دا ضروري نهٔ ده چه انسان سره به ډیر مال پیدا کیږي چه هلته پرے چرګان او ګډان خوري نو هله به حج ته ځي۔

[اَیْ فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ مَا اتَّقٰى بِهِ الْمُسَافِرُ مِنَ التَّهْلُكَةِ وَالْحَاجَةِ اِلَى السُّؤَالِ وَالتَّكَفُّفِ] (فتح البیان ۱/٤۰۵)۔

(یعني غوره توښهٔ هغهٔ ده چه مسافر په هغے سره ځان د هلاکت او د خلقو د سوالونو او لاس نیولو نه اُوساتي) نو تقویٰ نه مراد لغوي تقویٰ ده۔

(۲) دویم : شرعي تقویٰ مراد ده، ځکه چه مخکښې د مال تذکره اُوشوه، دنیا ته توجه پیدا شوه چه مال خو ډیر ښهٔ شے دے، نو اُوس الله تعالیٰ بنده لره آخرت ته متوجه کوي چه د دنیا د توښے

سره د آخرت توښه هم ځان سره واخله. د وړوکي سفر دپاره ځومره فکر مند يې، نو دغځ سفر دپاره هم تيارے شروع کړه. اول قول د شان نزول سره برابر دے، نو هغه راجح دے. (فتح البيان)

ليکن تقوىٰ چه مطلق ذکر شي مراد ترے شرعي تقوىٰ وي او همدا خبره ظاهره ده . او معنىٰ به دا وي : اِتَّخِذُوا التَّقْوىٰ زَادَكُمْ لِمَعَادِكُمْ فَاِنَّهَا خَيْرُ زَادٍ] (آلوسي).

(تقوىٰ د خپل آخرت دپاره توښه جوړه کړئ ځکه چه دا غوره توښه ده).

﴿ وَاتَّقُوْنِ يَا اُولِي الْاَلْبَابِ ﴾ ځوك چه عاقل وي هغه به د الله نه يريږي، بے عقله خلق د الله تعالىٰ نه نهٔ يريږي. ځومره چه عقل کم وي هغومره د الله نه يره پکښ کمه وي ځکه چه د آخرت سوچ ورسره نهٔ وي.

فائده : په وَاتَّقُوْنِ کښ د الله تعالىٰ په جلال (لوئي والي) او عظمتِ شان باندے تنبيه ده. (خازن). دارنګه مخکښ په (خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوىٰ) کښ تيزى ده په تقوىٰ باندے او په وَاتَّقُوْنِ کښ تيزى ده په تقوىٰ کښ په اخلاص پيدا کولو باندے، يعني صرف ما نه اُويريږئ. نو شائبه د تکرار نشته. (آلوسیؒ).

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاِذَآ اَفَضْتُمْ مِّنْ
نشته په تاسو ګناه چه لټوئ تاسو احسان د طرفه د رب ستاسو نه، نو هرکله چه تاسو راکوز شوئ د
عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوْهُ كَمَا هَدٰىكُمْ
عرفات نه نو يادوئ الله لره په خوا د مشعر حرام کښ او يادوئ الله لره لکه څنګه چه تاسو ته يې خودنه کړيده
وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۱۹۸﴾
او يقيناً وئ تاسو مخکښ ددے نه خامخا د ګمراهانو نه.

تفسير : دا د عربو په بل رواج رد دے چه د هغوى به دا طريقه وه چه حج ته به راتلل نو تجارتونه به يې کول. د شوال د مياشتے نه به درے ميلے لګيدلے. (ذو المجاز، مجنّه، او عُکاظ) نو دوى به د شوال نه اِحرام اُوتړلو او پدے ميلو به ګرځيدل، تجارتونه به يې کول او بيا به يې حج هم اُوکړو، نو کله چه اسلام راغلو او اسلام خو هميشه په اخلاص امر کوى، نو د صحابه کرامؓ دا وَهم پيدا شو چه حج کښ به تجارت ناروا وى. يو خو دا ميلے دکافرانو ځايونه وو هلته به تګ هم جائز نهٔ وى. دويم: د حج په احرام کښ تجارت کول د اخلاص منافي دي؟!.

نو الله تعالىٰ دا آيت نازل كړو چه كله ستاسو اصلي مقصود د الله تعالىٰ عبادت وي، كه ضمناً پكښې تجارت يا كاروبار اُوشو او مال حاصل شو مثلًا هلته څۀ اخلي او څۀ خرڅوي يا څۀ شے راوړي يا ئے ځان سره يوسي.نو دا كار ناروا نۀ دے او دا د اخلاص منافي نۀ دے. خو اول نه به د تجارت په نيت نۀ ځي. (بخاري عن ابن عباسؓ)

او دا كار صرف جائز دے اګركه غوره دا ده چه د انسان صرف يو عبادت غرض وي، او د دنيا بل كار ورسره ملګرے نشي.

﴿ فَضْلًا ﴾ ددے نه د تجارت مالونه مراد دي، او ديته ئے فضل اُووئيلو ځكه چه په مال سره د خير ډير كارونه كيږي. انسان پرے د سوال نه بچ كيږي، عزت پرے محفوظ كيږي، د دين كار پرے كيږي.

﴿ فَإِذَآ أَفَضْتُم ﴾ فاء ئے راوړه ځكه چه پدے كښې قريشو او د هغوي ملګرو بل مرض دا پيدا كړو چه قريش به عرفات ته نۀ تلل او دا به ئے وئيل چه مونږ د عامو خلقو نه جدا يو، مونږ حُمس (يعني په خپل دين كښې مضبوط) يو.زمونږ جدا حكم دے. مونږ د الله د كور والا يو، مونږ به د حرم نه بهر نۀ ځو (صحيح بخاري)

نو الله تعالىٰ ورته فرمائي چه تاسو ټول به عرفات ته ځئ او بيا به د عامو خلقو سره مزدلفه كښې وقوف كوئ (ايساريږئ به) او د الله په ذكر اذكار كښې به مشغول كيږئ.

دا آيت دليل دے چه عرفات كښې وقوف كول (ايساريدل) فرض دي. د رسول الله ﷺ مشهور حديث دے «د حج بنيادي كار د عرفے وقوف دے» (ترمذي والنسائي وغيره)

او دا خبره د جاهليت د دَور نه معلومه وه. په مزدلفه كښې د لسم تاريخ شپه تيرول او د صبا د مانځه نه روستو د مشعر حرام په خوا كښې الله تعالىٰ ډير يادول پكار دي. بعض علماء ديته واجب وائي. او بعض ورته سنت وائي.

او صحيح حديث كښې دي چه حج ددے نه په غير نۀ پوره كيږي. الترمذي والمشكاة ۱)

﴿ أَفَضْتُم ﴾ إفاضه په اصل كښې د (فَاضَ الإنَاءُ) نه اخستے شوے چه لوخے د اُوبونه ډك شي او په غاړو ترينه اُوبهيږي. او دلته په معنىٰ د راكوزيدلو دے ځكه چه عرفات اُوچت ځائے دے. يعني هركله چه تاسو به عرفات كښې په اذكارو او دعاګانو ماړۀ شئ، او بيا د هغے نه راكوز شئ.او دا راكوزيدل به د نمر پريوتو نه روستو وي، او د ماښام مونځ به هلته يا په لاره كښې نۀ ادا كوي بلكه په مزدلفه كښې به ئے د ماسخوتن مانځه سره يو ځائے كوي.

﴿ عَرَفَٰتٍ ﴾ : ديته عرفات او عرفه وائي.(۱) دا ورته ځكه وائي چه دا د الله تعالىٰ د معرفت او

پیژندګلئ ځائے وو ځکه چه الله تعالیٰ عالَم الارواح (روحونه د بندګانو) دلته پیدا کړی وو۔ او دلته ئے ترے د خپل ربوبیت اقرار اخستے وو۔ (۲) یا آدم او حواء علیهما السلام د آسمان نه د راکوزیدو نه روستو دلته یو بل پیژندلی وو۔

(۳) یا ابراهیم ﷺ د خپل خوب تعبیر پیژندلے وو۔ او دا یو میدان دے۔

﴿ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ ﴾: (۱) ددے ذکر نه مراد د ماښام او ماسخوتن مونځ یو ځائے کول دی۔

(۲) او ددے نه عام ذکرونه او دعاګانے او تلبیه او تکبیرونه هم مراد کیدیشی۔ او په حج کښې د نبی ﷺ نه څۀ مقرر اذکار نۀ دی نقل بلکه عام قِسم ذکرونه وئیل پکار دی۔

(مشعر حرام) په اصل کښې ځائے د علامت ته وائي، مراد ترینه ټوله مزدلفه ده او مزدلفه ټوله موقِف (ځائے د اُودریدو) دے، اګرکه د مشعر حرام خوا کښې (چه اُوس هلته مسجد جوړ دے) اُودریدل غوره دی۔ حرام ورته ځکه وائي چه پدے کښې هغه کارونه کول منع دی چه د هغے اجازت شریعت نۀ وی ورکړی۔ اګرکه نور ځایونو کښې هغه کارونه جائز وی۔

﴿ وَاذْكُرُوْهُ كَمَا هَدٰىكُمْ ﴾ دلته د ذکر نه مراد د صبا مانځه نه روستو او د نمر خاته نه مخکښې پورے ذکر اذکار او دعاګانے کول دی۔ لکه دا د نبی ﷺ طریقه وه چه د نمر ختلو نه لږ وړاندے به مِنیٰ طرف ته روان شو۔ (صحیح مسلم)

او مشرکان به د نمر خاته نه پس روانیدل۔ او دویم ځلی ئے په ذکر کولو امر اُوکړو، پدے کښې د ذکر تاکید، دوام او همیشوالے او په ذکر کښې اخلاص پیدا کول غرض دے۔

○ یا دا چه مخکښې ذکر پدے وجه وو چه الله یاد کړئ په اعتبار د ذات سره بغیر د کتلو د نعمتونو د هغه نه ځکه چه الله تعالیٰ مستحق د حمد دے په اعتبار د ذات سره او په اعتبار د انعام کولو په مخلوقاتو باندے۔ او د دویم ذکر نه مراد ذکر دے په مقابله د نعمت د هدایت کښې نو په كَمَا هَدٰىكُمْ کښې به کاف د تعلیل (علت) دپاره وی۔ یعنی ذکر ئے ځکه اُوکړئ چه هدایت ئے درته کړے۔ (فتح البیان)۔

﴿ كَمَا هَدٰىكُمْ ﴾ دا دلیل دے چه د ذکر دپاره به شرعی طریقه پیژندل ضروری وی، او د ځان نه به په جهر سره اذکار او بدعی اذکار نۀ جوړوی۔ یا کاف په معنیٰ د علت دے یعنی الله تعالیٰ په شکر سره یاد کړئ ځکه چه تاسو ته ئے هدایت کړیدے۔ توحید ئے در نصیب کړے۔ او د نبی ﷺ په واسطه ئے د حج طریقے درخودلی دی کوم چه د کامیابئ طریقے دی او د جاهلیت د رسمونو نه ئے بچ کړی یئ۔

﴿ وَاِنْ كُنْتُمْ ﴾ اِنْ مخفف دے د مثقل نه یعنی اِنَّهٗ كُنْتُمْ او لام ابتدائیه تاکیدیه دے۔ یا اِنْ وصلیه دے۔

﴿ مِنْ قَبْلِهٖ ﴾ : (۵) ضمیر یا هدایت ته راجع دے په ضمن د هَدٰىكُمْ کښې۔ یا رسول، یا قرآن کریم ته

راجع دے۔ او دا دلیل دے چه د قرآن او د رسول نه بغیر انسان په گمراهئ کښې وی۔
(الضَّالِّيْنَ) (۱) یعنی د ایمان او د طاعت نه جاهلان او ناخبره وئ۔ (خطیب)
(۲) یا جاهلان وئ، نهٔ پوهیدئ چه څنګه د الله ذکر او عبادت اُوکړئ۔ (فتح البیان)۔

ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ
بیا (وایم) راکوزیږئ د هغه ځائے نه چه راکوزیږی ټول خلق او بخنه غواړئ د الله نه
اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۹﴾
یقیناً الله تعالیٰ ډیر بخونکے، رحم کونکے دے۔

تفسیر : پدے آیت کښې عرفات ته د تللو او بیا د عرفات نه د راکوزیدو تاکید دے۔ او مخکښې آیت سره صرف خبر ورکړے شو۔ او پدے آیت کښې پرے امر کوی او ددے فرضیت ثابتوی۔ دارنګه د قریشو په رسم باندے صراحةً رد دے چه عرفات ته به نهٔ تلل۔ لکه مخکښې تیر شو۔
بعض علماء (یعنی ضحاکؒ وغیره) وائی چه ددے نه مراد د مزدلفے نه مِنیٰ ته کوزیدل دی۔ ځکه چه دا کوزیدل هم ضروری دی۔ او دا قول ابن جریر طبریؒ غوره کړے او علامه صدیق حسن خان قنوجیؒ وائی چه دا د قرآن د ظاهر سره برابر قول دے۔ (فتح البیان)۔
بناء په اول قول (ثُمَّ) لفظ د ترتیب ذکری دپاره دے۔ یعنی بیا دا هم واورئ۔ او بناء په دویم قول (ثُمَّ) په خپله معنیٰ دے ځکه چه کوزیدل د مزدلفے نه مِنیٰ ته روستو دی۔
(الناس) نه مراد یا عام عرب دی، یا ابراهیم علیه السلام او د هغه تابعدار دی۔ اشاره ده چه قریشو ملتِ ابراهیمي پریخے وو۔
﴿وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ﴾ ځکه چه حج اُوس ختمیږی، نو په دغه ځائے کښې ډیره بخنه غوختل پکار دی۔ او دارنګه د هر عبادت نه روستو استغفار وی، لکه د فرض مانځه نه روستو درے کرته استغفرالله وئیلے شی۔ او انسان د الله تعالیٰ د پوره حق څنګه چه د هغهٔ لائق وی– ادا کولو نهٔ قاصر او کوتاه دے۔ (۲) یا بخنه اُوغواړئ ځکه چه تاسو به په موقِف کښې د ابراهیم علیه السلام د سنت نه مخالفت کولو او عرفات ته به نهٔ تللئ۔ (۳) یا به ستاسو نه پدے موقِف کښې ډیر مخالفتونه شوی وی۔ (٤) د ټولو ګناهونو دپاره بخنه اُوغواړئ۔
او په استغفار ئے حکم اُوکړو ځکه چه دا د رحمت د راتویدو ځایونه دی، او د قبولیت مقامات دی، او د دعا د قبلیدو د ګمان ځایونه دی۔ دا ټول مطلبونه اخستل صحیح دی۔

فائده : د هر عبادت نه روستو استغفار ځکه مشروع دے چه د الله تعالیٰ حق ډیر لوئی دے او بنده د هغے په اداء کولو کښې قصور کوی۔ او بل پدے وجه چه د عمل صالح شرطونه زیات دی، کیدے شی چه بنده به هغه نۀ وی پوره کړی۔

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ
نو کله چه تاسو پوره کړئ کارونه د حج ستاسو نو یادوئ الله لره په شان د یادولو ستاسو پلارانو لره
أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا فَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَا
یا د هغے نه په زیات یادولو سره۔ نو بعضِ د خلقو نه هغه څوك دی چه وائی اے ربه زمونږ !
آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿۲۰۰﴾
راکړه مونږ ته په دنیا کښې (هر شے) او نۀ وی دۀ لره په آخرت کښې څۀ برخه۔

تفسیر : پدے آیت کښې الله تعالیٰ د حج د کارونو د فراغت نه روستو په ذکر کولو حکم کوی چه د الله په توفیق سره دا عظیم عبادت پوره شو، نو د هغه شکر کول او د هغه په ذکر کښې مصروف کیدل پکار دی، او د جاهلیت په رسم باندے رد دے چه هغوی به د مزدلفے نه مِنیٰ ته واپس کیدو نه روستو د جَمراتو خوا کښې میلے او مجلسونه لګول او د خپل پلار نیکۀ په شان کښې به ئے قصیدے او اشعار لوستل، او په هغوی به ئے فخرونه کول لکه اُوس هم د عامو حاجیانو نه دا ورځے هسے په ګپ شپ تیریږی۔

نو الله تعالیٰ د ایمان والو د فکر اصلاح کوی، او دوی ته تعلیم ورکوی چه صرف الله تعالیٰ ډیر یاد کړی او په یواځے والی او په محبت سره ئے یاد کړی، او د هغه شکر اُوکړی، ځکه پلار نیکۀ دوی له څۀ خیر ورکړے دے، او کوم هدایت ئے ورته پریخے دے، او کوم رزق ئے ورکړیدے۔

او دا ذکر به خاصکر په هغه موقعه زیات کولے شی چه کله حُجّاج د قربانی، د طوافِ زیارت او د صفا او مروه د سعی نه فارغ شی او په مِنیٰ کښې د جمراتو د ویشتلو دپاره ایسار وی، نو دا صرف د ذکر اذکار ورځے دی۔ پدے کښې د الله تعالیٰ سره تعلق قائمول پکار دی۔

﴿ مَنَاسِكَكُمْ ﴾ (۱) د مناسك نه مراد د حج اعمال او کارونه دی۔ (۲) یا قربانیانے مراد دی۔ یعنی د اختر په ورځ د قربانی کولو نه روستو په ذکرونو کښې شروع شئ۔

﴿ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ ﴾ دا تشبیه (۱) په وحدت (یووالی) کښې ده، یعنی لکه څنګه چه تۀ د خپل

پـلار سره نور څوك شريك نهٔ ګڼړي نو دغه شان الله هم يواځې ياد كړه. د هغه سره څنګه شريكان جوړوې؟!. (٢) يا پـه مـحـبت كـښې ده. يـعـنـي الله پـه مينه ياد كړئ لكه پلار نيكهٔ چه په مينه يادوې. او فخر په پلار نيكهٔ كوې، نو په الله باندې فخر اُوكړه.

﴿ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ﴾ ځكه چه حق د الله تعالىٰ زيات دې، او احسانات د هغهٔ زيات دي، هغهٔ تاسو ته د اسلام هدايت اُوكړو او د نيكيو توفيق ئې دركړو، نو پكار دا ده چه هغه ډير ياد كړې شي.

﴿ فَمِنَ النَّاسِ ﴾ د استـغـفـار او د كثـرتِ ذكـر د نـصيـحت نه روستو الله تعالىٰ دعا طرف ته توجه وركړه ځكه چه د ډير ذكر كولو نه روستو د دعا د قبليدو اميد زيات وي. او بيا ئې د هغه خلقو بدى بيان كړه چه د هغوى د ژوند اول مقصود، د دنيا حاصلول وي، او عبادتونه هم صرف د دنيا د حاجاتو پوره كيدو دپاره كوي، او د هغه خلقو صفت ئې اُوكړو چه د هغوى نظر د آخرت په كاميابئ او د اُور نه په نجات حاصلولو لګى.

او ددې ځائې نـه روستـو اُوس الله تـعـالىٰ د خلقو تقسيم بيانوى چه حج ته لاړ شي يا عامه دنيا كـښې وى چه دا څلور قِسمه انسانان دي. او ددې په ذكر كولو كښې ترغيب او ترهيب وركوي. چه د ښو په شان جوړ شئ او د بدو صفاتو والا خلقو د صفاتو نه ځان اُوساتئ.

فائده: ددې ځائې نـه څلـور اقسام د انسانانو ذكر كيږى (١) اول انسان صرف د دنيا سره مينه لرى ظاهراً او باطناً. (٢) دويم د دنيا او آخرت دواړو سره مينه لرى ظاهراً او باطناً. (٣) او دريم د آخرت سره مينـه لـرى ظاهراً، او د دنيا سره مينه لرى باطناً. (٤) او څلورم صرف د آخرت سره مينه لرى ظاهراً او باطناً، د دنيا نه ظاهراً او باطناً اعراض كونكے دے. (فتح البيان ١/٤١٨)

د عبد الله بن عباس رضى الله عـنهما نه روايت دے چه بعض بانډيچيانو به په عرفات كښې د الله تعالىٰ نه دنياوى فائدے غوختے او د آخرت هيڅ ذكر به ئې نهٔ كولو.

بعض وائى چه عربو مشركانو به دغسے كول.

او ځينى وائى چه بعض مسلمانانو به دغسے كول چه د خپل ژوند د ښه كولو سوال به ئې كولو او آخرت به ئې هير وو، نو ددے خلقو متعلق دا آيت نازل شو.

او مشـركانو چه به كله په پلارانو فخرونه اُوكړل، نو بيا به ئې دا سوال كولو چه اے الله !مونږ ته هم د دنيا دغه اسباب او مالونه راكړه كوم چه ډيرے زمونږ پلار نيكهٔ له وركړى وو.

﴿ آتِنَا فِي الدُّنْيَا ﴾ مفعول ئې نهٔ دے ذكر كړے يعنى جَمِيْعَ الْاَشْيَاءِ. (ټول څيزونه راكړهٔ) يا (مَا نُرِيْدُ) (څهٔ چه مـونـږ غـواړو) په دنيا كښې راكړه يعنى صرف د دنيا سوال كوى. اے الله ! صحت راكړه، مال راكړه او بچى مے ښهٔ كړه نو دنيا غواړى او آخرت باندے ئې نظر نشته.

﴿ وَمَالَهٗ فِی الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴾ ځکه دا ډير قليل الهمة انسان دے، ظاهر بين دے، غټ شے (آخرت) دهٔ ته نهٔ ښکاره کيږي۔ او صرف په دنيا ئے نظر لګی۔
که دا د مؤمنانو سره اُولګی نو بيا معنیٰ دا ده چه په آخرت کښې به ئے هغه برخه نهٔ وی کوم چه د نورو کاملو نيکانو ده چه هغوی دنيا او آخرت دواړه غوختے وی۔
(۲) يا به دلته تقدير وی۔ (اِلَّا اَنْ یَّعْفُوَ اللّٰهُ عَنْهُ) يعنی برخه ئے په آخرت کښې نشته مګر که الله ورته معافی اُوکړه نو بيا به ئے برخه وی۔ ليکن ظاهر دا ده چه دا د کفارانو په حق کښې دے خو فاسقان په دوی کښې ضمناً د هغوی د فسق مطابق داخليږي۔

وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً
او بعضِ د دوی نه هغه څوك دی چه وائی، اے ربه زمونږ ! راکړے مونږ ته په دنيا کښې ښائسته ژوند
وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾
او په آخرت کښې ښائسته ژوند او اُوساته مونږ د عذاب د اُور نه۔

تفسير: دا د حج والو دويم قسم دے۔ او دا نيکان (نيك بخت) خلق دی۔ چه دنيا او آخرت دواړه غواړی۔ او د نبی ﷺ عادت مبارك هم داوو چه هرے دعا سره به ئے دا دعا ملګرے کوله۔ او په حديث د ابوداود وغيره کښې دی چه رسول الله ﷺ به د رکن يمانی او د حجر اسود په مابين کښې دغه دعا کوله۔
امام احمدؒ او امام مسلمؒ د انس﷜ نه روايت کړے چه رسول الله ﷺ د يو مريض پوښتنه اُوکړه چه هغه د بيمارئ په وجه سخت نرے شوے وو، نو رسول الله ﷺ هغه ته همدغه دعا اُوخودله، هغه داسے اُوکړل، نو بيماری ئے لرے شوه)۔ او د الله تعالیٰ هغه دعا خوښه وی چه دنيا او آخرت پکښې دواړه اُوغوختے شی ځکه چه پدے کښې تواضع وی ځکه چه کوم انسان دنيا نهٔ غواړی، نو ددے معنیٰ دا جوړيږی چه اے الله ! که زما دنيا خرابه هم وی، نو زهٔ صبرکولے شم، دا په ځان باندے يو قِسم اعتماد دے۔ او کوم انسان چه صرف دنيا غواړی نودا قليل الذهن او قليل الهمت وی، غټ مقصد ترے پاتے دے۔
﴿ حَسَنَةً ﴾ (ښائسته ژوند) ددے يو مصداق دے۔ (۱) ...... اَلْعِلْمُ۔ چه انسان له الله علم او پوهه په دين ورکړی دا ښهٔ ژوند دے۔(۲) ...... اَلْوَلَدُ الصَّالِحُ (نيك بچے)۔
(۳) ...... علی﷜ فرمائی :اَلْمَرْاَةُ الصَّالِحَةُ (نيك عمله ښځه) چه سړی سره د دين په کار کښې مدد

کوی او خدمت ئے کوی۔
(٤) ...... تَوْفِيْقُ الْحَسَنَاتِ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ : (چه انسان ته د نیك عملونو توفیق ملاویږی او ژوند ئے د الله په تعلق کښې تیریږی)۔ (٥) ...... اَلْمَالُ الْحَلَالُ) حلال مال پکښې هم داخلیږی ځکه چه د حلال په خوړلو سره انسان ته په نیك عملونو توفیق ملاویږی او اعمال ئے د قبولیت مقام ته رسیږی۔ (٦) عافیت، روغ صحت، (طبریؒ) (٧) فراخه کور۔(٨) آسانه او نرمه سورلی۔
(٩) او د خلقو ددۀ په حق کښې ښائسته صفت کول۔ (یعنی لسان صدق)۔
(١٠) ...... ابوعبد الرحمن القاسمؒ فرمائی : مَنْ اُعْطِيَ قَلْبًا شَاكِرًا وَلِسَانًا ذَاكِرًا وَجَسَدًا صَابِرًا فَقَدْ اُوْتِيَ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً] (تفسیر ابن ابی حاتم۲/۳۵۹) ۔ چا ته چه شکر گزار زړۀ، ذکر کونکے ژبه او صبرناك بدن ورکړے شو نو هغه ته په دنیا کښې حسنه ورکړے شوه۔
علامه قرطبیؒ فرمائی : حسنه نکره ده، په مقام د دعا کښې راغلے ده نو د دنیا هر قسم خیرونه او فائدے او ښائسته حالتونه پکښې داخل دی۔
او د آخرت حسنه دا ده چه انسان ته جنت، د الله تعالیٰ دیدار، آسان حساب ملاؤ شی، د فزع اکبر نه امن، او د عذاب د اُور نه بچاؤ ملاؤ شی، دا غټه خبره ده، او ددے نه ماسوا چه کوم مصائب دی هغه ټول کمزوری دی، غټے مسئلے خو پس د مرگه شروع کیږی۔
بیا چونکه د آخرت حسنه د ایمان او عمل صالح سره تړلے ده نو پدے وجه طلب ددے حسنے ایمان او عمل صالح لره متضمن دی۔

اُولَٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾
دغه کسان دوی له برخه ده د هغه عمل نه چه دوی کړیدی۔ او الله زر حساب کونکے دے۔

تفسیر : دا یا دے روستو ډلے (نیك بختو) ته اشاره ده چه دوی له به الله تعالیٰ پوره حصه د آخرت او د دنیا دواړو ورکړی۔ او د اولنئ ډلے دپاره په آخرت کښې هیڅ نشته۔
○ یا دا دواړو ډلو ته اشاره ده یعنی دواړو ډلو له به الله تعالیٰ د عمل خپله خپله برخه ورکړی، نیکه وی او که بده۔ ○ یا چا چه دنیا غوختے وی دنیا به ورکړی او که چا دنیا او آخرت دواړه غوختے وی نو دواړه به ورکړی۔
﴿نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا﴾ (١) نصیب نه مراد حصه او د (كَسَبُوْا) نه مراد طلب دے ځکه چه (کسب وئیلے شی طلب کول د هغه شی چه د هغے سره مینه کیدے شی) یعنی دوی دپاره برخه ده د هغه دعا او حاجت نه چه دوی طلب کړے وو۔ او دا د الله د طرف نه د مسلمانانو سره وعده ده چه پداسے

مبارکو ځایونو کښې به د دوی دعا قبلوی۔
(۲) یا د نصیب نه مراد ثواب دے او د کَسَبُوۡا نه مراد عمل دے۔ یعنی دوی ته به د دوی د عملونو ثوابونه ملاویږی۔
(التحریر والتنویر ۲/۲٤٤)۔
﴿وَاللهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ﴾ (۱) یعنی د الله حساب زر راروان دے۔ یعنی قیامت زر راتلونکے دے نو په نیك اعمالو سره جلتی اُوکړئ۔ (۲) یا په قیامت کښې به حساب په جلتئ سره کوی، او ددے په مقدار کښې مختلف روایات دی۔ بعضو کښې دی چه د بیزے د لوشلو په مقدار۔ په بعضو کښې د مؤمن د فرض د مانځه ادا کولو د وخت اندازه ذکر ده۔ او بل روایت کښې دی چه تر نیمائی ورځ پورے به حساب ختم کړی۔ (قرطبیؒ)
د علی ﷛ نه تپوس اُوشو : الله به د بندګانو سره سَره د ډیر والی نه څنګه زر حساب کوی؟ نو وے فرمایل : [كَمَا يَرْزُقُهُمْ عَلٰى كَثْرَتِهِمْ] لکه څنګه چه سره د ډیر والی نه تولو ته په یو ځل رزق ورکوی۔ (تفسیر القرطبی والتسهیل)۔
نو پدے کښې د الله کمالِ قدرت ته اشاره شوه۔
او پدے جمله کښې انسانانو ته تیزی ورکول دی چه دنیا کښې نیك اعمال کوئ او ځان سره د ګناهونو حساب کوئ چه پدے سره تاسو ته د الله حساب په آخرت کښې آسان شی۔ (قرطبیؒ)
او د حساب طریقه دا ده چه الله به بنده ته نیك او بد عمل وربښائی او بیا به ترے د هغے تپوس کوی چه دا دِے ولے کړے؟ او څنګه دِے کړے ؟ او بیا به د هغے بدله او سزا ورکوی۔
(۳) یا حساب په لغت کښې شمار ته وئیلے شی، بیا ئے اطلاق کیږی په شمار د هغه شی چه هغه ادا کولے شی یا په هغے جزا ورکولے شی، نو د حق د وفا او پوره والی په معنیٰ استعمالیږی، نو معنیٰ دا ده چه الله د اعمالو بدله او د هغے جزا په جلتئ سره ورکوی او ستاسو دعا به زر قبلوی۔
لکه عَطَاءً حِسَابًا. اَیْ وِفَاقًا لِاَعْمَالِهِمْ۔ (هغه ورکړه چه د دوی د عملونو برابره وی)۔ (ابن عاشورؒ)۔

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ

او یادوئ الله لره په ورځو شمار کړے شوو کښې پس چا چه جلتی اُوکړه (په ویشتو د جمراتو) په دوه ورځو کښې

فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقٰى

نو ګناه نشته په هغه او څوك چه روستو شو (دریمے ورځے ته) نو نشته ګناه په هغه۔ دپاره د هغه چا چه یریږی د الله نه،

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٠٣﴾

او اُويريږئ د الله نه او پوهه شئ چه يقيناً تاسو به خاص دے الله ته ورجمع كولے شئ.

تفسير : پدے كښې امر دے په ذكر د الله تعالىٰ سره په ورځو د منىٰ كښې، او ددے نه مراد تكبيرات وئيل دي پدے ورځو كښې په هر ساعت كښې. او پس د فرض مونځونو نه په اُوچت آواز سره داسے : [اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ واللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ]. نور اذكار هم شته لكه اُووه قسمه ذكرونه راغلي دي په دے ورځو كښې.

احكام العيدين للفريابى وفتح البارى وارواء الغليل (٣/١٢٦).

او خصوصاً د جمراتو د ويشتو په وخت كښې د هر كانړي ويشتلو سره الله اكبر وئيل مسنون دي.

﴿فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدَاتٍ﴾ عبد الله بن عباس رضى الله عنهما وائى چه د «اَيَّامٍ مَّعْدُوْدَات» نه مراد ايام تشريق دي، او هغه څلور ورځے دي، د قربانۍ ورځ او د هغے نه روستو درے ورځے يعنى يولسمه، دولسمه او ديارلسمه ورځ. د ابن عمرؓ، ابن زبيرؓ، ابو موسىٰؓ، مجاهدؒ، سعيد بن جبيرؒ او قتادةؒ وغيره هم همدا قول دے. او ددے آيت نه هم ددے تائيد كيږي. او د مسلم په روايت كښې دي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «ايام تشريق د خوراك، څكاك، او د ذكر الهى ورځے دي».

د بخاري روايت دے چه ابن عمر رضى الله عنهما به په مِنىٰ كښې په هر وخت او هر حال كښې تكبيرات لوستل، د مونځونو نه روستو، په خپله بستره او په خپله خيمه كښې، او په ناسته او په روانه كښې پدے ټولو ورځو كښې. (فتح البيان).

(معدودات) ئے جمع راوړه ځكه چه ددے نه مراد د ورځے هر ساعت او هر وخت دے. او پدے كښې اشاره ده چه ددے ورځو هر وخت د تكبير وخت دے او صرف د فرض مونځونو نه روستو لوستلو پورے ئے تخصيص نشته (لكه چه په يو ضعيف حديث سره په خلقو كښې مشهور شويدى) او دليل پرے مخكښې عمل د ابن عمرؓ دے.

فائده : په سورة الحج (٢٨) آيت كښې ئے «اَيَّامٍ مَّعْلُوْمَات» وئيلى دي، او دلته «مَعْدُوْدَات» ؟ وجه دا ده چه هلته د ذبح ورځے مراد دي، او هغه عربو پيژندلے چه د اختر ورځ او د هغے نه دوه ورځے روستو دي. او دلته د شيطانانو د ويشتو ورځے مراد دي، او پدے كښې د جاهليت والو اختلاف وو. (لكه روستو راځي) پدے وجه دا ورځے به ئے شمارلے چه نن دويمه ورځ ده او كه دريمه ده.

او ددے نه دا هم معلومه شوه چه معدودات د اختر د ورځے نه علاوه روستو درے ورځے مراد دي، او د معلومات نه د اختر د ورځے سره درے ورځے مراد دي. يعنى آخرى ديارلسمه ورځ پكښې نۀ ده

داخله۔ اگرکه په راجح مذهب کښې په څلورمه ورځ هم ذبح کول جائز دي۔
نو لسمه (۱۰) ورځ د معلومات نه ده، نهٔ د معدودات نه، او د اختر نه دوه ورځې روستو معلومات او معدودات دواړه دي، او څلورمه ورځ د اختر د معدودات نه ده، نهٔ د معلومات نه۔ (ابن عاشورؒ)۔
﴿ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ﴾ په دے نیم آیت کښې په بل رواج باندے رد دے : بعض خلقو به په مِنىٰ کښې دوه ورځې تیرولے او چا به درے ورځې تیرولے او پدے کار سره به ئے یو بل ته بد کتل۔ نو الله تعالیٰ فرمائي چه دواړه طریقے جائز دي، که څوك دیارلسمے ورځے ته پاتے کیږي هم جائز او که څوك مخکښې ځي نو هم جائز، نو ولے د الله په حکمونو کښې سختي پیدا کوئ؟ او ددے په وجه یو بل ته بد ګورئ ؟ او دا دلیل دے چه مستحب عمل، واجب او فرض ګنړل ـ یا مستحب عمل حرام ګنړل بدعت کار دے۔
(فَمَنْ تَعَجَّلَ) یعنی چا چه جلتي اُوکړه په ویشتلو د شیطاناتو کښې) تعجل او تأخر دواړه داسے فعلونه دي چه فاعل ئے نفس ماده د فعل ده ...... اَیْ مَنْ فَعَلَ فِعْلَ الْعَجْلَةِ وَفَعَلَ التَّأْخُرِ
(چا چه جلتي اُوکړه او تاخیرئے اُوکړو)۔ او مفعول نهٔ غواړي۔
یا مفعول محذوف دے اَیْ فَمَنْ تَعَجَّلَ النَّفْرَ وَمَنْ تَأَخَّرَهٗ۔
(چا چه جلتي اُوکړه په تللو د منىٰ نه او چا چه روستو والے اُوکړو په تللو کښې د منىٰ نه)۔
(فِيْ يَوْمَيْنِ) یعنی په پوره کولو د دوه ورځو کښې جلتي کوي چه دوه ورځې جمرات اُوولي او دریمے (آخري) ورځے ته ایسار نهٔ شي۔نو دا هم جائز دي۔ د یومین نه مراد د اختر د ورځے نه علاوه دوه ورځې دي۔ یعنی یولسمه او دولسمه ورځ د زوال نه روستو جمرات اُوولي او بیا د مِنىٰ نه لاړ شي۔ او دیارلسمے ورځے ته ایسار نشي نو هم جائز ده۔ لیکن شرط دا دے چه د نمر د پریوتو نه مخکښې مخکښې به اُوځي۔که نمر پرے مِنىٰ کښې پریوتونو بیا به ایساریږي۔
﴿ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ﴾ یعنی که څوك دیارلسمے ورځے ته پاتے شو نو ګناهګار نهٔ دے، لیکن پاتے کیدو کښې خیر دے ځکه چه نبي ﷺ پخپله د اختر څلورمے ورځے ته پاتے شوے وو۔ دلته ئے نفي د اِثْم اُوکړه ځکه چه خلقو پدے کښې ګناه ګنړله۔
فائده : دا آیتونه دلیل دے چه مِنىٰ کښې شپے تیرول واجب دي۔او که چا مِنىٰ کښې شپے تیرے نکړے نو واجب ترے پاتے شو نو په دهٔ به دم لازم وي بناء په موقوف روایت۔ او مرفوع حدیث پکښې نشته۔ مګر که د چا سخت ضرورت وي نو بیا شپه بهر تیرول جائز دي لکه نبي کریم ﷺ سیدنا عباس ﷺ ته رخصت ورکړے وو چه مکے ته لاړ شي او خلقو باندے د زمزم اُوبه اُوڅکي۔ (ابن عاشورؒ)۔

﴿لِمَنِ اتَّقٰى﴾ (۱) يعنى دا اختيار او دا حكم د جلتى او تاخير كولو د هغه چا دپاره دے چه په هغه كښې تقوىٰ وى، حج ئے په كامله طريقه ادا كړے وى او په غلط نيت نۀ ځى، او د جلتى تللو حكم قبلوى، ليكن روستو پاتے كيږى د الله د عبادت او ځان نزدے كولو دپاره۔ او كه د ورانئ دپاره تلو، مثلاً غلا، ډاكے، زنا دپاره جلتى كوى نو د هغه دپاره دا رخصت نشته۔

(۲) يا [اَلْمَغْفِرَةُ وَغُفْرَانُ الذُّنُوْبِ لِمَنِ اتَّقٰى] يعنى مغفرت د الله به هغه حاجى دپاره وى چه د الله نه يريږى۔ په حج كښې هم تقوىٰ كوى او آينده كښې هم تقوىٰ كوى۔

(۳) يا [لِمَنِ اتَّقَى الْاِثْمَ فِى التَّقَدُّمِ وَالتَّاَخُّرِ] يعنى څوك چه ځان دپاره مخكښې والى او روستو والى كښې د ګناه نه يريږى۔ چه كوم كښې به ګناه وى نو الله فرمائى : ګناه پكښې نشته، پاتے كيدل او تلل ورله جائز دى۔

(٤) ابن عاشورؒ ددے ښۀ نكته ذكر كړيده چه الله تعالىٰ هركله ﴿فَمَنْ تَعَجَّلَ فِىْ يَوْمَيْنِ فَلَا اِثْمَ عَلَيْهِ﴾ ذكر كړو، نو ددے ګمان پيدا كيدو يره راغله چه جلتئ سره وتل به غوره وى ځكه چه هسے نه چه په مِنىٰ كښې په بدو خبرو او فخرونو كښې واقع نشى نو دا ګمان ئے دفع كړو په دے قول ﴿وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَا اِثْمَ عَلَيْهِ﴾ نو هركله ئے چه دا ګمان نفى كړو نو آوريدونكے پوهه شو چه د روستو پاتے كيدونكى دپاره پدغه پاكو مباركو مقاماتو كښې فضيلت شته چه د الله ذكر اُوكړى ددے وجه نه ئے روستو پسے ﴿لِمَنِ اتَّقٰى﴾ راوړو يعنى څوك چه د الله نه يريږى په روستو پاتے كيدو كښې او رفث او فسوق نكوى په ورځو د مِنىٰ كښې نو د هغه دپاره پدے مقامامو كښې پاتے كيدو كښې فضيلت شته، ورنه ځلورمے ورځے ته روستو كيدل د هغه چا دپاره چه تقوىٰ نۀ كوى ګناه ده۔ لهذا ﴿لِمَنِ اتَّقٰى﴾ د نفى د معنىٰ پورے متعلق دے چه په هغے باندے (لَا) دلالت كوى۔ يا خبر د مبتدا دے اى ذلك لمن اتقى۔ او بغير ددے نه د ﴿لِمَنِ اتَّقٰى﴾ ذكر كولو هيڅ وجه نۀ ښكاره كيږى۔

(التحرير و التنوير ۲/۲٤۸)

﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ﴾ پدے كښې حاجيانو ته تيزى وركوى چه د حج نه روستو پكار دا ده چه تاسو كښې تقوىٰ راشى، او ځانله د حج پورے دے تقوىٰ خاص نۀ وى۔ لكه د جاهليت والو به دا طريقه وه، او اُوس هم ډير جاهلان د حج په ورځو كښې (دارنګه په رمضان كښې) خو بزرګان وى ليكن كله چه كلى ته راشى نو همغه شان بلكه د هغے نه زياتے سركشئ او ګناهونو كښې مبتلا شى۔ او جاهليت والو به د حج نه روستو جګړے او لوټ مار او فسادونه كول۔ (ابن عاشورؒ)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
او بعض د خلقو نه هغه څوك دي چه تعجب كښې اچوي تا لره وينا د هغه په باره د ژوند دنيوي كښې
وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾
او گواه كوي الله لره په هغهٔ څهٔ چه د هغهٔ په زړهٔ كښې دي او هغهٔ ډير سخت جگړه مار دے۔

تفسير: اُوس دوه قسمه نور خلق بيانوي چه يو غټ منافق (اَلشَّقِيُّ الْاَعْلٰى) غټ بدبخت) دے چه د دنيا د محبت سره ئے نور بد صفات هم يو ځائے كړيدي۔ او بل غټ نيك عمله انسان۔ (اَلسَّعِيْدُ الْاَعْلٰى) (لوئى نيك بخت) چه صرف د آخرت سره ئے مكمله مينه ده۔او په آخرت ئے خپل ځان قربان كړيدے۔ او دا د حاجيانو سره هم تعلق لرى او د عامو انسانانو سره هم۔

ربط اومناسبة : (۱) دا هم د حججاجو اقسام دی (۲) يا نور خلق دی۔ د خبرے نه خبره پيدا شوه۔ (۳) مَنْ تَعَجَّلَ او تَأَخَّرَسره لگيږی چه اَلَدُّ الْخِصَامِ دے چه په دينى مسائلو كښې جگړے كوی۔

او پدے كښې مقصود ترغيب او تحذير دے يعنى ددے يو په شان طريقه اختياره كړئ او ددے بل د عمل نه ځان بچ كړئ۔

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾

شان نزول : دا آيت د اخنس بن شريق ثقفى منافق په باره كښې نازل وو چه دا ښائسته شكل او خوږو خبرو والا وو، ليكن سخت ضررى انسان وو، د دنيا په باره كښې ماهر او د آخرت په باره كښې ناپوهه۔ابن جريرؒ د سُدِّیؒ په حواله نقل كړيدى چه دا آيت د اخنس په باره كښې نازل شوے وو چه هغه رسول الله ﷺ ته راغلو او د خپل مسلمانيدو اعلان ئے اُوكړو، حال دا چه د زړهٔ نه كافر وو۔ د ابن عباس رضى الله عنهما د يو روايت مطابق د منافقانو د يو جماعت په باره كښې نازل شوے وو چه هغوی د خُبَيب ﷺ او د هغه د ملگرو پورے توقے كړے وے۔ هرڅنگه چه وی خو د مشهورے قاعدے مطابق چه د قرآن او سنت نه د فائدے اخستو دپاره د الفاظو عموم له اعتبار وی نهٔ خاص سبب له۔

نو دا آيت په هر هغه شخص باندے صادقيږی چه اسلام د عقيدے او د ژوند د منهج په طريقه نهٔ قبلوی، ليكن د دنيوی مصالحو او فائدو د خاطره اعلان كوی چه زهٔ هم مسلمان يم۔ (تيسير الرحمن)۔

ډير خلق داسے شته چه د ووټونو او د مشری حاصلولو د خاطره مونځونه شروع كړی او نفلونو له زور وركړی، جنازو ته حاضريږی او خلقو ته وائی چه زهٔ هم مسلمان يم۔

او اول خطاب په يُعْجِبُكَ كښې نبي ﷺ ته وو بيا هر مخاطب په هره زمانه كښې مراد دے۔ پدے آيت كښې ورله درے بد صفات بيانوي۔
(من الناس) دا د تحقير (سپكوالي) كلمه ده۔
﴿ يُعْجِبُكَ ﴾ دا د إعجاب نه دے او هغه د عُجب نه دے په معنىٰ د تعجب سره۔
راغبؒ وائي : عجب هغه حيرانتيا ته وائي چه انسان ته د يو څيز په سبب باندے د نا پوهئ په وخت عارضيږي۔ بيا اعجاب كښې يو شے ښهٔ ګنړل وي او په عُجب كښې غالباً انكار وي۔
﴿ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ﴾ (١) دا متعلق دے د يُعْجِبُكَ پورے يعني دا صرف دنيا كښې چالاكه دے، ليكن په آخرت كښې به چاړا وي۔ آخرت كښې به هغه څوك خبرے كوي چه انبياء عليهم السلام او صالحين او متقين وي۔
٢- يا د (قَوْلُهٗ) پورے متعلق دے، او هم دا ظاهر مطلب دے يعني د دنيا په باره كښې به ډير چالاكه هوښيار او ماهر وي، د دنيا په څيزونو او كاروبارونو به ښهٔ پوهيږي، مصنوعات به جوړوي، ليكن د دين په باره كښې به صفر وي، عقيده به ئے د كفر او شرك وي۔
حسن بصريؒ فرمائي : كه روپئ ورله لاس كښې وركړے نو په نوك باندے ئے كرۀ او كوټه پيژني ليكن [وَلَا يُحْسِنُ يُصَلِّيْ] (مونځ به ورله نهٔ ورځي)۔ نو دا بدي د هرهغه چا ده چه د دنيا په باره كښې خو ښهٔ ماهر وي، تماتر چه اخلي نو شل ځائے تپوس كوي، او چه د دين مسئله راشي، بيا وائي چه مونږ اميان خلق يو، د كوم مُلا خبره اُومنو۔ كوم يو په حق دے؟ او دا حالت د هر هغه چا وي چه د دين غم ورسره نهٔ وي او منافق وي۔ او مؤمن ددے په خلاف وي (غِرٌّ كَرِيْمٌ) د دنيا په باره كښې سيده ساده وي (دهوكه ئے نهٔ وي ياده) او د دين په باره كښې شرافت والا۔ او دا صفت د منافقانو په سورة المنافقون (٤) آيت كښې راغلے دے
﴿ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ﴾۔ (كه دوی خبرے كوي نو تهٔ به د دوی خبرو ته غوږ اږدے)۔
او دا صفت په اخنس بن شريق كښې هم وو چه هغه به د نبي ﷺ او د مسلمانانو سره د محبت او وفادارئ خبرے كولے او د دين په باره كښې ئے هيڅ خبره نشوه كولے۔ (التحرير والتنوير ١/٢٥١)
٢- يا د قَوْلُهٗ نه مراد د ايمان دعوىٰ او د كافرانو نه د براء ت، او د مؤمنانو د خير خواهئ، او د اخلاص او د ايمان والو او د نبي كريم ﷺ سره د محبت دعوىٰ ده۔
او مؤمنان او نبي ﷺ په دے خبرو خوشحاليږي۔ ليكن په حقيقت كښې دوی هغه شان نهٔ وي۔ لكه عبد الله بن ابي ابن سلول به د نبي ﷺ د منبر په خوا كښې وئيل :...... [هٰذَا رَسُوْلُ اللهِ حَقًّا] دا د الله رشتينے رسول دے، ددهٔ په تابعدارئ كښې خير دے) او مينځ كښې غټ كافر وو۔

بل بد صفت ئې دا دے :

﴿ وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ ﴾ وائي چه الله گواه دے چه زما په زړۀ کښې همدا خبره ده، او د خوله او د زړۀ خبره مې يوه ده۔ او زۀ مسلمان يم او زۀ تاسره مينه لرم۔ يا د دين سره مينه لرم۔ او پدې صفت کښې اشاره ده چه دوی په دروغو قسمونه کوی۔ لکه دغه شان صفت د دوی په سورة التوبه (۴۲، ۵۶) آيت کښې هم راغلے دے۔

﴿ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴾ دا دريم صفت دے۔ (اَلَدُّ) د لَدَدُ نه دے، معنیٰ ئې ده :شَدِيْدُ الْخُصُوْمَةِ۔ (سختے جګړے والا) او د خصام : معنیٰ كَثِيْرُ الْخُصُوْمَةِ ده۔ يعنی ډيرے جګړے والا۔ خصام مصدر هم دے او جمع هم راځی۔ دلته معنیٰ مصدری مراد ده۔ يعنی دا سختے جګړے کوی، او سختی ئې دا ده چه بيرته معافی او رجوع نۀ کوی او جګړه ئې نۀ ختميږی او په باطله باندے جګړے کوی، او په هر ځا باندے دعوے کوی۔او دارنګه ډيرے جګړے کوی، د هر ځا سره انختے وی۔ او څوك چه دغه شان وی نو دا غټ منافق وی۔

لکه حديث کښې هم راغلی دی۔ [اِنَّ اَبْغَضَ الرِّجَالِ اِلَى اللّٰهِ الْاَلَدُّ الْخَصِمُ] ...... (متفق عليه)

(الله تعالیٰ ته ډير مبغوض انسان هغه څوك دے چه سخت او ډير جګړه مار وی)

او دا غټه بد اخلاقی ده۔ ځکه چه د جګړو په وجه د انسان دين، عملنامه او تقویٰ خرابيږی، د زړۀ نه ئې نور او رڼا اُوځی۔ حديث کښې دی : «څوك چه جګړه د الله دپاره پريدی اګرکه په حقه وی نو الله ورله د جنت په طرف کښې کور جوړوی» (ابوداود و سنده صحيح)

بل روايت کښې دی : [مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوْا عَلَيْهِ اِلَّا اُوْتُوا الْجَدَلَ] (مسند احمد والترمذی بسند صحيح - البانی) (يو قوم چه د هدايت نه روستو ګمراه کيږی نو ددے سبب دا وی چه هغوی ته جګړے ورکړے شی)۔

وَاِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِى الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا
او کله چه واوړی (ستاسو نه)، کوشش کوی په زمکه کښې، دے دپاره چه فساد اُوکړی په دے کښې
وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾
او هلاك کړی فصل او نسل لره او الله مينه نۀ کوی د فساد سره۔

تفسير : پدے کښې ددغه منافق نور درے بد صفتونه ذکر کوی چه دا متعدی ضررونه دی۔

﴿ وَاِذَا تَوَلّٰى ﴾ د (تَوَلّٰى) (۱) يوه معنیٰ ده [اِذَا اَدْبَرَ وَانْصَرَفَ عَمَّنْ خَدَعَهٗ بِكَلَامِهٖ] (قاسمی ۱/۵۱۱)

(د هغه چا نه واوري چه هغه ئے په خپله خبره دهوکه کړي)

او د هغه د مجلس نه واوړي. نو روان شي په زمکه کښې د فسادونو دپاره. مطلب دا چه مخکښې آيت کښې ددهٔ حالت ذکر شو کله چه دا د مسلمانانو په مجلس کښې وي. او پدے آيت کښې ددهٔ حالت ذکر دے په وخت د غائب والي کښې د هغوی نه.

(۲) دويم مطلب : دا د ولاية نه دے (تَوَلّٰی يَعْنِیْ صَارَ وَالِيًا) يعني كله چه د يو ځائے مشر شي نو بيا فسادونه كوي، د خلقو نه زمكے قبضه كوي، او فصلونه تباه كوي، او نور ظلمونه كوي. (ضحاك). لكه زمونږ د زمانے غالباً مشران همدغسے وي.

(۳) تولی کله په معنیٰ د (اَنِفَ وَغَضِبَ) سره وي. (طبری عن ابن جريج) (وفتح البيان)

او دے ته د زړهٔ اَوړيدل وائي يعني (كله چه نفرت اُوكړي او غصه شي) څوك ئے په غصه كړي چه دا منافقت ولے كوے؟ نو بيا دوی فسادونو ته لاس واچوی.

(سَعٰی) ددے سَعٰی نه مراد يا په قدمونو باندے فسادونو ته منډه وهل او مزل كول دی لكه لارے شوكول، صله رحمی پريكول او دمسلمانانو ترمينځ جنګونه واقع كول او د هغوی وينے توئی كول. نو معنیٰ دا شوه (په جلتئ سره ګرځی د فسادونو دپاره).

(۲) يا د سعي نه مراد عمل في الفساد دے يعني د فساد كار كول دی اګركه په هغے كښې د قدمونو مزل نهٔ وی لكه د مسلمانانو په خلاف تدبيرونه او چلونه جوړول. او هر هغه عمل چه انسان ئے په جوارحو او حواسو سره كوی هغے ته سعی وئيلے شی، او دا ددے آيت نه ښكاره كيږی. (فتح البيان ۱/٤۱٦).

﴿لِيُفْسِدَ فِيْهَا﴾ فساد ئے دا دے چه د ايمان په باره كښې د خلقو په زړونو كښې شبهے اچوی، د كفر د تقويت سازشونه كوی. (قاسمیؒ)، او د مسلمانانو د هر قسم بربادئ دپاره ئے كوشش جاری وی؛ ظاهری نقصانات هم وركوی، او نسل ئے هم تباه كوی. او نور ګناهونه او ورانی كوی. د هغوی وينے تويه وی او صله رحمی قطع كوی. (طبریؒ)

ډاكے كوی، لارے شوكوی، لكه اخنس بن شريق به دغه كارونه كول چه د مسلمانانو فصلونو ته به ئے اُور اچولو او د هغوی خرهٔ به ئے قتلول.

علامه مفسر قاسمیؒ ليكی : د خلقو په زړونو كښې شبهات اچول او د كفر د مضبوطوالی دپاره چلونو جوړولو ته فساد وئيلے شی لكه دا معنیٰ په بل آيت كښې راغلے ده، فرعون وئيلی وو :

﴿ اَتَذَرُ مُوْسٰی وَقَوْمَهٗ لِيُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ﴾ (الاعراف/۱۲۷)

يعنی موسیٰ او د هغه قوم به ستا قوم د دين نه واړوی او شريعت به ورله خراب كړی)

او دے معنیٰ ته فساد ځکه وائی چه دا کار د خلقو ترمینځ اختلاف پیدا کوی او د هغوی اجتماعیت جدا کوی، او خبره دے ته رسیږی چه بعض د بعضو نه براء ت اُوکړی، نو صله رحمی به ختمه شی او وینے به توئی شی۔ او دا معنیٰ په قرآن کښ زیاته استعمال ده۔ آه۔

﴿ وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ﴾ (الحَرْث) یعنی فصلونه ورله تباه کوی او نسل بچو او ماشومانو ته وائی چه هغوی ته بد اخلاقی ورښائی، ډیرو خلقو ورله سنیما گانے او ویډیو گیمونه جوړ کړی او کیبل، او وی سی آر، او سی ډیز، د انسانی نسل د تباهئ دپاره تیار کړیدی۔

(۲) او حرث کله دین ته هم وائی۔

(۳) او کله زنانو ته هم وائی، هغوی ته دآزادی په نوم بے حیائی ورښائی لکه دا د یهود او نصاراؤ او د منافقانو مشن دے پدے زمانه کښ هم۔

زجاجؒ وائی : منافقت کښ د مسلمانانو د کلمے تفریق (وحدت او اجتماعیت تس نس کول) او جگړے واقع کول راځی او پدے سره نسل هلاکیږی۔ (فتح البیان)

او نسل عوام الناس ته او هر روح والا حیوان ته هم وائی۔ (مجاهد- فتح البیان)

○ یا د حرث او نسل هلاکول مجموعه د ایذاء شدید (سخت ضرر) نه کنایه ده یعنی خلقو ته سخت ضررونه رسوی۔ (قاسمیؒ)

حافظ ابن کثیرؒ لیکی : حرث او نسل ئے خاص ذکرکړل ځکه چه په حرث سره د فصلونو او میوه جاتو ترقی راځی، او نسل سره د حیواناتو ترقی راځی، او اکثر عرب ددے دواړو مالکان وو او پدے سره ئے ژوند آباد وو، او دا منافق انسان پدے سره د انسانانو ژوند تباه کول غواړی۔

د امام مجاهدؒ نه نقل دی : کله چه دا انسان په زمکه کښ فسادونه او ظلمونه شروع کړی نو ددے په وجه الله تعالیٰ بارانونه بند کړی او قحط او سوکړهٔ راپیدا کړی، نو په هغے سره څاروی او فصلونه هلاك شی۔نو ددهٔ فساد د نسل د هلاکت سبب جوړ شی۔

(تفسیر الطبری و ابن کثیر وفتح البیان)

فائده : دا آیت دلیل دے چه کوم شی سره نسل تباه کیږی، هغه فساد دے لکه منصوبه بندی او د (ضبطِ تولید) مشن چلول سراسر بے دینی او کفری سازش دے چه هغوی پدے طریقه د مسلمانانو نسل کشی کوی۔ مسلمانانوله ددے نه اثر اخستل غفلت دے۔

﴿ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴾ یعنی د الله تعالیٰ فساد خوښ نهٔ دے، دینی وی او که دنیوی۔ او نهٔ هغه څوك چه فساد ترے صادریږی که هغه هر څوك وی۔ او اخنس بن شریق به خپل قوم سره دغه غداری کوله چه باغونه او فصلونه به ئے ورله سیزل اگرکه هغوی به کافران هم وو نو ځکه الله

اُوفرمايل چه الله نفس فساد نهٔ خوښوي اګرکه کافرانو سره وي۔ (ابن عاشور)
محبت د الله تعالیٰ حقيقي صفت دے بغير د تمثيل او تشبيه او بغير د تاويل نه به منلے شي۔ او په معنیٰ د ارادے او رضا سره اخستل ئے تحريف دے۔

وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ
او کله چه اُووئيلے شي دهٔ ته يره اُوکړه د الله نه نو اُونيسی دهٔ لره غيرت په ګناه باندے
فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾
نو کافي دے دهٔ لره جهنم او خامخا ډير بد ځائے دے تيار کړے شوے۔ (دا جهنم)۔

تفسير: پدے کښې ددے منافق بل بد صفت ذکر کوي چه هغه غرور او تکبر او د جاهليت غيرت دے، د چا نصيحت پرے اثر نهٔ کوي۔ يعني کله چه دے فاجر ته اُووئيل شي چه د الله نه يره کوه او دا فسادونه مهٔ کوه او د خپل قول او فعل د تضاد نه منع شه (ځکه مخکښې آيت کښې ئے قول ذکر شو او دے آيت کښې عمل ذکر دے او د دواړو ترمينځ تضاد دے) او حق ته رجوع اُوکړه نو دا په غرور او تکبر او د جاهليت په غيرت کښې راشي، خپل عزت ورته مخے ته راشي او نصيحت نهٔ قبلوي، نو د داسے خلقو ډير بد انجام دے چه هغهٔ جهنم دے۔
د عبد الله بن مسعود ﷺ نه نقل دي : چه د ټولونه لويه ګناه (اوکافي ګناه) دا ده چه يو تن ته اُووئيلے شي چه د الله نه اُويريږه، نو هغه په جواب کښې اُووائي : تهٔ خپل فکر کوه۔
په بل روايت کښې دي : ((الله تعالیٰ ته د ټولو نه ډيره بده او مبغوضه خبره دا ده چه يو سړے بل ته اُووائي د الله نه يره اُوکړه هغه وائي چه د خپل ځان غم کوه))۔
(شعب الايمان والصحيحة ٦/٩٩ رقم :٢٥٩٨)
هارون الرشيد نه يو يهودي د څهٔ حاجت مطالبه اُوکړه نو هغه پوره نکړے شو،نو يوه ورځ هارون بهر را اُووتو نو دے يهودي ورته اُووئيل : (اِتَّقِ اللّٰهَ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ) د الله نه اُويريږه اے د مؤمنانو اميره !) نو هارون د آس نه راکوز شو او سجده ئے اُوکړه، بيا ئے د هغه په حاجت پوره کولو امر اُوکړو۔ چا ورته اُووئيل د يهودي په خبره تهٔ د آس نه راکوز شوے؟۔ هغه اُوفرمايل : ما د الله تعالیٰ دا قول راياد کړو (وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ الخ) (تفسير القرطبي)۔
او دغه شان واقعه د عمر فاروقؓ سره هم راغلے وه۔ چه هغهٔ ته اُووئيل شو (اِتَّقِ اللّٰهَ) سو هغه په سجده پريوتو۔ (تفسير البغوي)۔

○ مالك بن مِغْوَل رحمة الله علیه ته یو سړی اُووئیل، د الله نه یره اُوکړه !۔ نو هغه الله ته د عاجزئ او تواضع کولو دپاره راپرېوتو او اننګې ئې په زمکه کیخودو۔ (فتح البیان)

﴿ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ ﴾ یعنی دهٔ کښې خو عزت نشته، لیکن ځان ورته عزتمند ښکاری، او غیرت کښې راشي۔ د عزت نه مراد دلته د جاهلیت غیرت دے، او د اخذ نه مراد غلبه ده، یعنی غیرت پرے غالبه شي، او په غصه کښې راشي۔ اخذ کښې معنیٰ د راتاوولو او راګیرولو ده یعنی غیرت دهٔ نه راتاو شي۔

﴿ بِالْاِثْمِ ﴾ (۱) یعنی دا غیرت ئې په ګناه دے او اسلامي غیرت نهٔ دے۔ (۲) یا باء سببیه ده، یعنی سبب ددے غیرت ګناه وی چه د مخکښې نه دهٔ په زړهٔ کښې ګناهونه جمع شویدی، پدے وجه په حقه خبره ورله غیرت ورځي۔ او دا وائي زهٔ عزتمند یم، ما ته دا خبرے څهٔ له کوے او صَرف زهٔ مو لیدلے یم، یا وائی، زهٔ ښهٔ پو هیږم۔ کله وائی چه زهٔ به دا ګناه خامخا کوم، که تهٔ راته ډیر وائے خو زهٔ ستا خبرے نهٔ منم۔

او تفسیر روح المعاني لیکی : د اکثرو رسمیانو او بدعتیانو طریقه او صفت هم دا دے چه کله تهٔ ورته اُووائے، دا کار مهٔ کوه، دا حرام دے، بدعت دے، نو په غرور کښې راشي، چه اُوسه پورے مونږ کړیدی هیچا نهٔ یو منع کړی، او تاسو نوے مسئلے پیدا کړی۔ او اهل حقو ته چه حق بیان کړے شي، اګرکه هغه پرے بد اُولګی خو مني ئې۔ او دعا کوی چه الله دِے تا له اجر درکړی چه زهٔ دِے په دے خبره پو هه کړم۔ او څوك چه په یوه نیکه حقه خبره باندے غصه کیږی نو دا منافق دے۔ او دا آیت هغه ته شامل دے۔ (روح المعانی)۔

او ددے آیت په شان د سورة الحج آیت دے ﴿ وَاِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمْ اٰیٰتُنَا بَیِّنٰتٍ تَعْرِفُ فِیْ وُجُوْهِ الَّذِیْنَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ یَكَادُوْنَ یَسْطُوْنَ بِالَّذِیْنَ یَتْلُوْنَ عَلَیْهِمْ اٰیٰتِنَا...... ﴾ الآیة۔

یعنی په حق باندے غصه کیږی او په داعی باندے حمله کوی۔

﴿ فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ﴾ حَسْب اصل کښې کافی ته وئیلے شي یعنی جهنم دهٔ دپاره کافی سزا ده۔ څکه ګناه ئې غټه ده، نو سزا ئې هم د هغې برابر ده۔ یا دا چه د یو خیر خواه نصیحت په هغه باندے اثر نهٔ کوی نو د جهنم اُور به ئې برابر کړی چه ډیر خراب ځائے دے۔

﴿ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴾ (۱) (مِهَاد) جمع د مَهْد ده، د خوب او د آرام دپاره تیار شوی ځائے ته وائی۔

(۲) یا مفرد دے په معنیٰ د فِراش (بسترے) سره۔ او جهنم ته مِهَاد پدے وجه اُووئیل شو چه دا د کافرانو د قرارئ او د اُوسیدو ځائے دے۔ د کافرانو شاګانے به ورسره لګیږی۔ او جهنم ته مِهَاد وئیل په طریقه د تهکم او مسخرے سره دی۔

(۳) يا د مِهَاد نه مراد اعمال دی۔ يعنی [بِئْسَ مَا مَهَّدُوْا لِاَنْفُسِهِمْ مِنَ الْاَعْمَالِ السَّيِّئَةِ] (مجاهد) (بد دی هغه اعمال چه دیے مجرمانو د خپلو ځانونو دپاره د مخکښ نه تيار کړی دی) نو هغه اعمال به دوی ته هيڅ فائده نهٔ ورکوی۔ (تفسير فتح البيان للصديق حسن خان)۔

ليکن اول تفسير ظاهر دیے۔

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ وَاللهُ رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾
او بعض د خلقو نه هغه څوك دی چه خرخوی ځان خپل دپاره د طلب د رضا د الله او الله شفقت کونکے دیے په بندګانو خپلو۔

تفسير: اُوس د نيك عَمَله انسان حال بيانوی چه پوره کامياب او نيك بخت دیے او دا څلورم قسم دیے۔ مفسرين پدیے کښ مختلف اقوال کوی: ○ حافظ ابن جرير الطبريؒ وائی ظاهر دا ده چه دا آيت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کونکی په باره کښ نازل دیے ځکه چه دا د مخکښ منافق مقابل دیے۔ هغه دنيا پرست دیے، خپل دين په دنيا طلب کولو باندیے خرچ کوی، او دا د حق بيانونکے دیے، اګرکه نفس ئے پکښ هلاك شی، او خلق ئے بے عزتی هم اُوکړی۔

○ حافظ ابن کثيرؒ فرمائی: دا د مجاهد په باره کښ دیے، چه دا جهاد د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په طريقه سره وی او که د قتال په طريقه سره وی۔

○ او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دیے چه دا آيت د صهيب بن سنان رومی ﷺ په باره کښ نازل شویے وو کله چه د مکے نه د هجرت په وخت د مکے مشرکانو هغه راګير کړو چه تهٔ خپل مال ځان سره نشیے وړیے، که مال پريدیے نو تلے شیے، نو هغه تول جائيداد مکے والو ته حواله کړو او صرف د ايمان اخستو سره مدينے ته روان شو، هغه لا مدينے ته رسيدلے نهٔ وو چه دا آيتونه نازل شوی وو۔ کله چه رسول الله ﷺ هغه اُوليدو، ویے فرمايل: [رَبِحَ صُهَيْبٌ، رَبِحَ صُهَيْبٌ] (صهيب په خپل تجارت کښ ګټه اُوکړه، صهيب ګټه اُوکړه)۔ (صحيح ابن حبان (۷۰۸۲) مستدرك د حاکم، تفسير ابن مردويه بسند صحيح)۔

دا آيت اګرکه ابتداءً د صهيبؓ په باره کښ نازل دیے، ليکن د آيت د الفاظو عموم لره اعتبار وی نو پدیے وجه دا آيت هر مجاهد فی سبيل الله ته هم شامليږی چه د الله د رضا دپاره د خپل نفس او مال قربانی پيش کوی۔ قتادهٔ وائی: ددیے نه مراد مهاجرين او انصار دی۔ (فتح البيان)۔

○ دارنګه د آيت مراد هرهغه انسان دیے چه د الله تعالیٰ د رضا دپاره د مال، د نفس، د خواهش نو د ارام او راحت قربانی ورکوی۔

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ﴾ (يَشْرِىْ) د شراء نه دیے، په معنیٰ د اخستو هم

راځي او په معنیٰ د خرڅولو (بَيۡعُ) سره هم راځي۔
دلته ئې معنیٰ د خرڅولو ده او اخستونکے ددے نفس الله تعالیٰ دے لکه چه الله فرمائي : ﴿ اِنَّ اللّٰهَ اشۡتَرٰی مِنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ اَنۡفُسَهُمۡ وَاَمۡوَالَهُمۡ بِاَنَّ لَهُمُ الۡجَنَّةَ ﴾ (سورة توبه : ۱۱۱) او ثمن او عوض ئې جنت، او د الله رضا حاصلول دي۔ یعني الله له ئې ځان ورکړے او د الله رضا ئې اخستے ده که په هرځائے کښې استعماليږي، د الله رضاء ئې مقصد وي، که خدمت کښې وي، که په جهاد کښې وي، که په عبادت کښې وي۔ حاصل معنیٰ ئې د قربانولو ده۔
او حديث کښې هم دي چه څوك د الله رضا لټوي، نو الله تعالیٰ جبرئيل ته اُووائي، دا بنده هميشه زما رضا لټوي، نو ته پوهه شه چه زما رحمت په هغه نازل شو......)۔
(او زهٔ د هغهٔ نه راضي شوم)۔ الی آخر الحديث۔ (مسند احمد ۲۲٤٦٥) بسند حسن)
او د الله رضا حاصلول ډير عظيم نعمت دے۔ تردے چه جنتيانو ته به الله اُوفرمائي:
[اَلۡیَوۡمَ اُحِلُّ عَلَیۡکُمۡ رِضۡوَانِیۡ فَلَا اَسۡخَطُ عَلَیۡکُمۡ اَبَدًا] ...... [متفق عليه]
نن به زهٔ تاسو ته د خپلے رضا اعلان کوم او هيڅکله به په تاسو نهٔ غصه کيږم)۔
نو جنتيان به ددے نه لوئي بل نعمت محسوس نهٔ کړي۔
﴿ وَاللّٰهُ رَءُوۡفٌۢ بِالۡعِبَادِ ﴾ الله په مؤمنانو بندګانو شفقت کوي چه داسے ښهٔ صفات پکښې وي۔ د عِبَاد نه مراد مؤمنان دي۔ په مؤمنانو باندے په خاص طور باندے مهربان دے، هغوی ته ئې اُوچتو درجو حاصلولو دپاره خپله لاره کښې د خپل محبوب روح او مال قربانولو لاره اُوښودله او د خپلے رضامندئ د حاصلولو طريقے ئې اُوښودلے۔
رأفت د رحمت نه اُوچته درجه ده۔ معنیٰ ئې ده نعمتونه ورکول او مصيبتونه او تکليفونه دفع کول۔ بيا د الله رأفت او رحمت دا دے (۱) چه په لږ او منقطع عمل باندے هميشه نعمتونه ورکوي۔ (۲) او د الله د رأفت نه دا هم ده چه د نفس د بچ کولو دپاره ئې دوی ته کلمه د کفر وئيل جائز کړيدي۔(۳) او نفس باندے د هغه د وسع مطابق تکليف اچوي۔
(٤) د سلو کالو کافر که توبه اُوباسي نو ددے تولو کلونو سزا ترے لرے کوي او ددے په بدله کښې هميشه ثوابونه ورکوي۔(۵) نفس او مال اصل کښې د الله دي بيا ئې اخلي او ددے په بدله کښې بنده ته اجر ورکوي۔ [اللباب لابن عادل، وروح المعاني للآلوسي]

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا ادۡخُلُوۡا فِي السِّلۡمِ كَآفَّةً وَّلَا تَتَّبِعُوۡا خُطُوٰتِ الشَّيۡطٰنِ اِنَّهٗ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِيۡنٌ ﴿۲۰۸﴾

اے ايمان والو! داخل شئ په اسلام کښې پوره او مهٔ روانيږئ د قدمونو د شيطان پسے، يقيناً هغه ستاسو دپاره دشمن دے ښکاره۔

تفسیر : ربط : (۱) مخکښې د خلقو څلور اقسام بیان شول نو اُوس الله تعالیٰ دعوت ورکوی چه دا ټول ډیے په یو دین باندیے مکمل روان شی چه هغه اسلام دیے۔
(۲) مناسبت دا دیے چه ترغیب الی الجهاد شروع دیے نو دیے کښې بیا جهاد ته ترغیب دیے۔
(۳) دریم : تربیة الجماعة المسلمه شروع دیے نو دلته د تربیت دوه خبریے بیانوی (۱) ټول اسلام باندیے عمل کول (۲) او د کفر او ارتداد نه ځان ساتل۔ او په خپل مابین کښې ئے مناسبت ښکاره دیے، ځوك چه په دین باندیے عمل نکوی نو په هغه باندیے د ارتداد احتمال زیات وی۔

شان نزول

(۱) دا آیتونه اصل کښې په باره د بعض مسلمانانو کښې نازل وو چه د یهودیانو نه وو، او د اسلام نه پس به ئے د خالی د ورځے تعظیم کولو، او بعض خوراکونه به ئے بد ګنړل لکه د اُوښانو غوښے۔ دارنګه دا به ئے وئیل چه که مونړه تورات لولو، نو دا به څنګه وی؟ نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل چه دا خو پوره اسلام نهٔ دیے، هرکله چه تا اسلام راوړو، نو بیا به پوره پوره په دیے عمل کویځ۔ (۲) او پدیے کښې رد دیے په منافقانو هم چه په بعض دین عمل کوی او په بعض ئے نهٔ کوی۔ دعویے د ایمان او اسلام کوی، او کله چه به موقعه د جهاد راغله نو بیا به پټیدل۔
نو الله فرمائی چه په پوره اسلام کښې ظاهراً او باطناً داخل شئ او د الله حکم چه راشی نو هغے ته تیاریږئ۔
(۳) دارنګه عام مسلمانانو ته هم الله فرمائی : چه دوی ډیے اسلام د ټولو جزئیاتو او تفاصیلو سره قبول کړی او د هغه چا په شان ډیے نهٔ کیږی چه د نفس د خواهشاتو غلامان جوړ شوی دی چه کومه خبره د هغوی د خواهش مطابق وی، هغه اخلی او کومه چه د هغوی د خواهش مطابق نهٔ وی، هغه پریدی، د اسلام راوړلو تقاضا دا ده چه د مسلمان هر خواهش د الله تعالیٰ د دین تابع شی، کوم نیك اعمال چه کولے شی هغه ډیے کوی، او کوم چه نهٔ شی کولے، د هغے دکولو نیت ډیے اُوکړی کله چه دوی ته قدرت او طاقت ملاؤ شی۔ دیے دپاره چه د نیت اجر ورته ملاؤ شی۔ (تیسیر الرحمن)۔
او د اسلام مثال داسے دیے لکه یو قمیص چه یولِستونړی اغوستلو سره قمیص نهٔ اغوستلے کیږی بلکه دا به ټول اچوے۔
(٤) دارنګه پدیے کښې په بدعتیانو او رسمیانو باندیے رد دیے چه هغوی په دین کښې نوی کارونه راداخل کړی او د اسلام اعمال او عقائد ئے بدل کړی، د خپلو رسمونو رواجونو نه ئے دین جوړ کړیے، کله ئے چه جګړیے راشی نو په نرخ او رواج باندیے فیصله کوی، اسلام ته نهٔ تیاریږی۔ په خپل غم او

ښادئ کښې د خپل رواج پسې روان وي، او بيا هم ځان ته بزرګان او کامل مسلمانان وائي.اهل بدعت دعوه د قرآن او حديث کوي او چه کله مسائل راشي نو بيا پکښې د بل چا خبرې مني. دا پوره اسلام نهٔ دے.بعض خلق يو څو خبرو ته دعوت ورکوي، او دا پوره دين ګڼړي، دا هم د الله په نيز غلطه ده. بلکه ټول اسلام ته دعوت پکار دے.

﴿ اُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ کَافَّةً ﴾ (کَافَةً) په معنیٰ د جَمِيْعًا (ټول) سره، دا د(اُدْخُلُوْا) د فاعل او د (السِّلْمِ) دواړو نه حال واقع دے. (ابن عطية)

معنیٰ دا ده : ټول داخل شئ او په ټول اسلام کښې داخل شئ. يعني داسے نهٔ چه مونځ کوئ او زکوٰة نهٔ ورکوئ، زکوٰة ورکوئ او روژه نه نيسئ، په مرض کښې د الله تعالیٰ تابع او په صحت کښې د خواهش تابع، کله وائي : ګيره دے پکښې نهٔ وي، پينځے پورته کول دے پکښې نهٔ وي. کله وائي : مونږ خوڅهٔ صحابه نهٔ يو، دا يو رواج دے پکښې اُوکړے شي، خير دے. نهٔ، بلکه ټول کارونه د دين به کوئ. او ټول خلق په اسلام کښې داخل شئ، هيڅ پير فقير، ملا او امي، امير او ګدا، ښځه او سړے دے د دے نه بهر نهٔ وي.

(السِّلْمِ) سلم په زور او زير د سين، اسلام ته هم وائي او صلح ته هم وائي. بعض اهل لغتو فرق کړے چه په زور سره صلح ته وائي او په زير سره اسلام ته. ليکن اکثرو وئيلي دي چه دواړه يو شان دي. اګرکه په زور سره د صلح دپاره زيات استعماليږي.

﴿ وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ ﴾ (انفال).

پدے کښې يو تفسير دا هم شويدے چه اے ايمان والو په صلح کښې داخل شئ او د يو بل سره جنګ جګړے مهٔ کوئ لکه څنګه چه تاسو په جاهليت کښې يو بل سره جنګونه کول. (ابن عاشور۲/۲۶۱) ليکن اول قول غوره دے. څکه د سياق نه معلوميږي.

○ يا د سِلْم معنیٰ امن او صلح ده.او ددے نه مراد دينِ اسلام دے. يعني داخل شئ په امن او صلح کښې چه هغه دين اسلام دے چه دا د امن دين دے. (جواهر القرآن).

﴿وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ﴾ دا وروسته څکه وائي چه انسان په پوره اسلام باندے هغه وخت تللے شي چه کله د شيطان مخالفت د خپل ژوند عادت اُوګرځوي. پدے وجه ئے د شيطان د اتباع نه منع اُوکړه. او تنبيه ئے ورکړه چه دا ستاسو ښکاره دشمن دے. (تيسير) قدمونه د شيطان څه شے دے ؟(جَمِيْعُ الْبِدَعِ وَالْمَعَاصِيْ) (قرطبی)

يعني ټول بدعات او ګناهونه، فسق او فجور او منافقت او پخواني دينونه.

دارنګه هغه شبهات چه ګمراهان ئے پيدا کوي. (فتح).

﴿ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴾: شيطان ستاسو ښكاره دشمن دے، هغه هميشه ستاسو د گمراه كولو متعلق سوچ كوى او ستاسو په زړونو كښې نوى نوى خيالات او نوے نوے طريقے پيدا كوى، دے دپاره چه ستاسو عملونه او عقيدے خرابے كړى۔

فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَاجَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ
نو كه چرته تاسو اُوخويدلئ (د پوره اسلام نه) پس د هغے نه چه راغلى دى تاسو ته ښكاره دليلونه
فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۰۹﴾ .
نو پوهه شئ چه يقيناً الله تعالىٰ زورور دے، حكمتونو والا دے۔

تفسير: څوك چه په اسلام كښې داخل شى، او بيا په آرام آرام يو يو حكم ماتوى نو هغوى ته سخت تخويف (يره) وركوى۔ دارنگه د زيات تاكيد دپاره وائى چه كه د واضح دلائلو راتللو باوجود تاسو د شيطان تابعدارى كوئ، نو ياد لرئ چه الله تعالىٰ ډير قدرت لرونكے دے، د هغهٔ د انتقام نه هيڅوك نشى بچ كيدے، او حكمت والا دے، د هغهٔ هيڅ كار د حكمت او مصلحت نه خالى نهٔ وى، د هغه د قهر او عذاب نه بچ كيدل ممكن نهٔ دى۔

او اشاره ده دے ته چه د اسلام نه هغهٔ څوك اَوړى چه د الله د حكمونو پرواه نهٔ لرى، كله يو ماتوى او كله بل۔ او دهٔ باندے د گمراهئ خطره ده۔ الله به ترے دين واخلى ځكه چه دين قيمتى شے دے، څوك چه ددے قدر نهٔ كوى، الله ئے ترے بيرته اخلى۔ لكه پلار يو قيمتى شے بچى له وركړى او هغه ئے اكرام نهٔ كوى نو هغه ئے ترے بيرته اخلى۔ نو د اسلام د حدودو پوره پوره لحاظ پكار دے۔

﴿ فَاِنْ زَلَلْتُمْ ﴾ ددے نه ظاهرى خوئيدل نهٔ دى مراد بلكه عبد الله بن عباسؓ فرمائى : (ضَلَلْتُمْ وَاَشْرَكْتُمْ وَعَرِجْتُمْ عَنِ الْحَقِّ) كه تاسو گمراه شوئ او شرك مو شروع كړو او د حق او دين نه واوړيدئ)۔ او د ابن عباسؓ يو بل روايت دے : كه تاسو سرهٔ د نزول د قرآن نه تعظيم د خالى ورځے كوئ او د اُوښانو غوښے حرامے گنړئ۔

﴿ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْكُمُ الْبَيِّنَاتُ ﴾ يعنى ښهٔ پوهه شوئ په دلائلو سره چه دا حق دے۔ او بيا هم اُونهٔ منلو، نو دلته جزاء پټه ده يعنى (يُعَذِّبُكُمُ اللّٰهُ) الله به عذاب دركړى۔ ځكه چه الله تعالىٰ غالب از حكمت والا دے، د هغه د سزا وركولو نه هغه څوك نهٔ شى منع كولے او د حكمت په تقاضا چه كوم سزا وركول غواړى د هغے نه څوك نشى بچ كيدے۔

فائده: مفسرين ليكى : [فِيْ هٰذِهِ الْآيَةِ وَعِيْدٌ لِمَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ نِفَاقٌ اَوْ شَكٌّ اَوْ شُبْهَةٌ فِي الدِّيْنِ] (فتح

البیان) (پدے آیت کښې وعید دے هغه چا ته چه د هغه په زړهٔ کښې منافقت وی یا د اسلام په باره کښې شك وی یا په دین اعتراضونه لری چه دا د جهاد او نور حکمونه ولے کیږی) نو الله به داسے قسم خلقو له سزا ورکوی۔

قتادة فرمائی : الله تعالیٰ ته د مخکښې نه معلومه وه چه څهٔ کسان به ددین نه اَوړی نو الله تعالیٰ دوی ته د مخکښې نه خبر ورکړو، که دین او د دین احکام مو پریخودل نو سزا به درکوم۔ دے دپاره چه د الله تعالیٰ حجت په دوی باندے قائم شی۔

﴿ فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ عَزِیۡزٌ حَکِیۡمٌ ﴾ کعب الاحبار رحمة الله علیه چه کله اسلام راوړو، نو قرآن ئے زدهٔ کولو، استاذ ورته داسے اُولوستل (فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ) نو هغه اُووئیل : زهٔ خو دا ناشنا گڼړم چه داسے وی (څکه چه د حکیم ذات سره لائق نهٔ دی چه اول کښې وعید (دهمکی) ورکړی او بیا ورته د مغفرت اُمید ورکړی)۔ نو د دواړو په خوا کښې یو سړے تیریدو، کعبؓ ورته اُووئیل دا آیت څنګه دے ؟ هغه اُووئیل : (فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ عَزِیۡزٌ حَکِیۡمٌ)۔ کعبؓ اُووئیل: همداسے پکار دے۔

(حاشیة فتح البیان)۔

دے نه معلومه شوه چه د آیتونو فواصل د خپل خپل مقام سره پوره مناسبت لری۔ او داسے واقعه د یو اعرابی سره هم راغلے ده چه هغه د یو قاری نه واوریدل (غفور رحیم) نو هغه اُووئیل چه حکیم ذات داسے خبره نهٔ کوی چه په خوئیدو باندے د معافئ اعلان اُوکړی څکه چه دا خو په غلطئ باندے تیزی ورکول دی۔ (کشاف، وابن عاشور)۔

هَلۡ یَنۡظُرُوۡنَ اِلَّاۤ اَنۡ یَّاۡتِیَهُمُ اللّٰهُ فِیۡ ظُلَلٍ مِّنَ الۡغَمَامِ
انتظار نهٔ کوی دوی (په ایمان راوړلو کښې) مگر ددے چه راشی دوی ته الله په سورو کښې د وریځو نه
وَالۡمَلٰٓئِکَةُ وَقُضِیَ الۡاَمۡرُ وَاِلَی اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۲۱۰﴾
او ملائك راشی او فیصله اُوشی د کار او خاص الله ته ورګرځیدلے شی ټول کارونه۔

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ هغه چا ته دنیوی تخویف او رټنه ورکوی چه ښهٔ د دین نه خبر دے او دین کښې پوره نهٔ داخلیږی، دین له سمه غاړه نهٔ ورکوی۔ او د خطوات الشیطان تابعدار دے، د خپلو شرارتونو او فسادونو نه نهٔ منع کیږی۔ نو الله فرمائی : دا د عذاب په انتظار کښې ناست دے چه الله ورله کله څپیړه ورکړه بیا به په اسلام کښې پوره داخلیږی، خو هغه وخت به بیا فائده نهٔ ورکوی۔ یعنی دوی په ایمان راوړو کښې د قیامت او د هغے دیَرو انتظار کوی کله چه الله تعالیٰ به په خپل پوره جلال

او لوئي والي كښې راشي، او صرف د هغه بادشاهي به وي، د هغه حكمونه به نافذ كيږي، او صرف هغه به په تمامو كارونو كښې تصرف كوي، او ټول مخلوق به د هغه مخې ته په هغه ورځې بغير د تفريق نه سر ټيټونكي وي او د هغه ورځې يرے او ګبراهټ به دومره لوئي وي چه د ظالمانو زړونه به خوزيږي او په هغه ورځ به الله تعالىٰ كافرانو ته د هغوي د كفر سزا وركوي.

﴿هَلۡ يَنظُرُونَ﴾ هَلۡ په معنىٰ د نفي دے او (يَنظُرُونَ) په معنىٰ د انتظار دے او دا انتظار په ايمان راوړلو كښې او په دين كښې پوره داخليدو كښې دے. او اتيان د متشابهاتو نه دے چه دلته ئے تاويلي معنىٰ هم شته او حقيقي معنىٰ هم.

نو حاصل معنىٰ دا شوه چه دا خلق ايمان نۀ راوړي او دے دين له غاړه نۀ وركوي، غرض ئے دا دے چه الله ورله عذاب وركړي بيا به ئے قبول كړي او د عذاب نه روستو دين كښې داخليدل الله تعالىٰ ته قبول نۀ دي، هغه د مشاهدے دين دے او د الله په نيز ايمان بالغيب مقبول دے. نو مطلب دا شو چه دوي دين نۀ مني مګر هله چه څپيړه وركړے شي. او قبر ته اُورسولے شي نو بيا به دوي له ايمان راوړل څۀ فائده وركړي؟ !!.

نو پدے آيت كښې ټولو كفارو، منافقانو، مجرمانو او څوك چه فسق او فجور او ګناهونو كښې مبتلا دي هغوي ته د صحيح ايمان راوړلو دعوت دے.

﴿إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ﴾ يعني الله تعالىٰ دوي ته د قيامت په ورځ د دوي ترمينځ د فيصلے كولو دپاره راشي او هر عمل كونكي ته د هغه د عمل جزا او سزا وركړي.

اتيان (راتلل) د الله حق دي او دا په خپله حقيقي معنىٰ دے او څنګه به راځي د هغے كيفيت الله تعالىٰ ته سپارل شويدے لكه دا د سلف صالحينو د الله تعالىٰ د ټولو صفاتو متعلق عقيده ده چه هغه د الله راكوزيدل، په عرش باندے استواء (برابروالے)، تلل راتلل وغيره دي چه دا به هم مونږ الله دپاره ثابت ګڼړو او پدے به ايمان لرو او د مخلوق د صفاتو سره به ئے نۀ مشابه كوو، او نۀ به د مخلوق د صفت په ذريعه د هغے مثال بيانوو، او نۀ به ددے صفاتو تاويل كوو لكه باطل پرست معطله، جهميه، معتزله، اشاعره، ماتريديه، خوراج او باطلو فرقو د الله تعالىٰ صفات هغه شان نۀ دي منلي څنګه چه الله تعالىٰ ځان دپاره ثابت كړيدي يا د هغه رسول ﷺ د هغه دپاره ثابت كړيدي. لكه دا خبره امام قرطبيؒ، امام سمعانيؒ او ابن عبد البرؒ كړيده او حافظ ابن كثيرؒ د مجاهدؒ نه نقل كړيده.

ابن كثيرؒ او قاسميؒ وئيلي دي : چه دلته د راتلو نه په آخرت كښې راتلل مراد دي. او په قيامت كښې د الله تعالىٰ او ملائكو راتلل حق دي. الله فرمائي: ﴿وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ

تَنۡزِيۡلًا ﴾ (الفرقان: ٢٥) (په کومه ورځ چه آسمان به په وريځے سره اُوچوی او ملائك به راکوز شی) نو الله تعالیٰ به د بندګانو سره حساب کوی۔
او ابـن مـردويـهٌ، امـام ابوداوُدٌ او منذریٌ د ابن مسعود ﷺ نـه مـرفـوعـاً روايت راوړيدے چه ((الله تعالیٰ به اولنی او روستنی خلق د يو ے مقررے معلومے ورځے دپاره راجمع کړی چه د دوی سترګے بـه آسـمـان تـه نيغے کولاوے وی، انتظار به کوی چه ددوی ترمينځ فيصله اُوشی او الله به د عرش نه کرسی ته د وريځو په سورو کښ راکوز شی))۔
(ابوداود باب ١٦٣ وصحيح الترغيب والترهيب ٣٥٩١ للالباني) وفتح البيان للصديق (١/٤٢٢)۔
او تـاويـلی معانی پکښ دا دی: ○ دلتـه مضاف پټ دے (اَیْ اَمْرُ اللهِ) يـعـنی رابه شی د الله امر او عذاب۔ ليکن دا تاويل به هله صحيح وی چه دے سره د الله تعالیٰ راتلل حق ګنړی۔
(٢) يا فِیْ په معنیٰ د باء سره دے يعنی الله دوی ته د وريځو سوری راولی او د هغے نه ورله عذاب ورکـړی۔(٣) اتيان کـلـمـه پـه مـعـنـیٰ د هـلاکـت وی، يعنی الله ئے د وريځو پـه سـورو کـښ هلاك کړی۔لکه ﴿ فَاَتَی اللهُ بُنۡيَانَهُمۡ مِنَ الۡقَوَاعِدِ ﴾ کـښ د اتيان نه مراد عذاب او هلاکت دے۔ او په قصه د بنی النضير کښ ﴿ فَاَتَاهُمُ اللهُ مِنۡ حَيۡثُ لَمۡ يَحۡتَسِبُوۡا ﴾ (اخفش)۔
دا معانی به هله صحيح وی چه کله انسان د الله حقيقی راتلل منی۔ (فتح البيان، القاسمی)
حافظ ابن کثيرٌ پدے مقام کښ هغه احاديث نقل کړی چه په هغے کښ د الله تعالیٰ په راکوزيدو بـانـدے صراحـت شـويـدے۔لهذا د الله تعالیٰ دپاره دا صِفات په خپل ظاهر باندے بناء دی، بغير د تشبيه او تاويل نه به منلے شی۔
﴿ مِنَ الۡغَمَامِ ﴾ وريځ ئے ولے ذکر کړه ځکه چه (اَلۡغَمَامُ مَظِنَّةُ الرَّحۡمَةِ وَالۡعَذَابُ مِنۡهُ اَفۡظَعُ)
وريځ د الله د رحمت د ګمان ځائے وی، نو ددے نه عذاب راتلل ډير ګبرا هټ او هيبت والا وی) ددے وجه نه به رسول الله ﷺ د وريځے نه ډير يريدو، کيناستو او پاځيدو او وتلو ننوتلو به، د عائشےؓ په جـواب کـښ ئے اُوفرمايل: ددے نه په يو قوم عذاب نازل شوے وو، زهٔ يريږم چه چرته ددے د طرف نه عذاب رانشی۔ (متفق عليه)
او د وريځے د شر نه به ئے پناه طلب کوله۔
﴿ وَالۡمَلٰٓئِکَةُ ﴾ دا پـه لـفـظ (الله) بـانـدے عطف دے۔ يعنی ملائك به راشی، الله تعالیٰ به ملائك راوليږی۔ او هغه به دا نافرمان بندګان د مرئ نه اُونيسی او زمکے ته به ئے راخطا کړی، يا به پرے زمکه واړوی۔(٢) يا به ملائك د الله سره راشی، يا به د وريځے نه ګير چاپيره وی۔
﴿ وَقُضِیَ الۡاَمۡرُ ﴾ (او فيصله اُوشی د کار) ۔ (١) يعنی هلاك به ئے کړی، زلزله به پرے راولی، غر

به پرېږي راګوزار کړي۔(۲) یا د قیامت سره متعلق دی۔ فیصله د کار به اُوشي یعني قیامت به قائم شي۔ (عکرمهؒ)۔ یا به ئې په قیامت کښې هلاك کړي او حساب به ورسره اُوکړي۔ او نیك او بد به خپل خپل انجام ته اُورسیږي۔ نو بیا به دوی ایمان راوړي لیکن بیا ئې څه فائده ؟!۔

(قضي) ئې ماضي راوړه، اشاره ده یقیني واقع کیدو ته ګویا کښې دا کار واقع شویدی۔

﴿ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴾ واو په معنیٰ د (اِذْ) دی، یعني په قیامت کښې به د کارونو فیصله څکه کولې شي چه ټول کارونه به هغه ته واپس کولې شي۔ د هیچا تصرف به نۀ وي۔په دنیا کښې بعض کارونه امیرانو، قاضیانو او افسرانو ته ورګرځي لیکن په آخرت کښې به صرف الله ته ورګرځي۔ نو پدې کښې مخلوق ته خبرداری دی چه هغه به په عملونو جزا او سزا ورکوي۔

(۲) یا دا چه دنیا کښې هم ټول کارونه الله ته واپس کیږي څکه چه فاعل حقیقي ددې ټولو کائناتو الله تعالیٰ دی، انسانان که څۀ کارونه کوي نو دا هم د الله په قدرت او طاقت ورکولو دی۔

سَلْ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍ بَيِّنَةٍ وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ
تپوس اُوکړه د بني اسرائیلو نه څومره ورکړي وو مونږ دوی ته نخې ښکاره او څوك چه بدل کړي نعمت
اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَاجَآءَتْهُ فَإِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۱۱﴾
د الله (په ناشکرئ سره) پس د هغې نه چه راغلې دی دۀ ته۔نو یقیناً الله سخت عذاب ورکونکې دی۔

مناسبت (۱) د مخکښې (فَإِنْ زَلَلْتُمْ) سره دی۔ یعني یو انسان له الله تعالیٰ قرآن او رسول راولیږي، عظیم نعمت پرې اُوکړي او دلائل ورته واضح کړي او دا بنده د هغې نه اعراض اُوکړي او فائده ترې وانخلي لکه د بني اسرائیلو په شان چه الله تعالیٰ ډیر واضح معجزات او آیات ورکړي وو، لیکن د خپل رسول سره ئې ضد اُوکړو، بیا ئې پرې ضعیف شان ایمان راوړو، بیا ئې د هغه نه روستو دین ښۀ بدل کړو۔

نو بني اسرائیل په مثال کښې راوړي چه دوی د نعمتونو ناشکري کړې وه۔ الله تعالیٰ سزا ورکړه نو تاسو سره به هم هغه شان کار اُوکړې شي۔

(۲) موجوده منکرینو ته دلائل راوړل فائده نۀ ورکوي لکه څنګه ئې چه بني اسرائیلو ته فائده نۀ وه ورکړي، لهذا د دوی په اسلام کښې د داخلیدو دپاره لویه معجزه او دلیل غوختل صحیح نۀ دي۔ (ابوحیان)

مضمون : الله تعالیٰ د قوانینو او د احکامو او د اخلاقو او آدابو په ذکر کولو سره ددې امت

تربيت بيانوي. نو د حج احکام ئے مخکښ بيان کړل، بيا ئے دلے ذکر کړے چه بعض ښۀ خلق دي او بعض نـاکـاره، او ورسره ئے دا بيـان کـړل چـه د الله تول دين کښ داخل شئ او څوك چـه نـۀ داخليږي، د هغوي عذاب مقصد دے چه پرے راشي. نو اُوس الله فرمائي : دا دين يو عظيم نعمت دے، دا مے تاسو له درکړو او دا نعمت تاسو اُوس شاته غورزوئ. د بني اسرائيلو په شان کيږئ، لاړ شئ بني اسرائيلو نه تپوس اُوکړئ، هغوي له ما څومره نعمتونه ورکړي وو، هغوي بدل کړل. او د الله د حکمونو پرواه ئے نۀ لرله، نو الله تعالیٰ تباه کړل نو که تاسو هم د هغوي په شان کار کوئ، تاسو به هم تباه شئ. الله مونږ ته خپل نعمت رايادوي چه دين زما يو لوئي نعمت دے. ناشکري ئے مۀ کوئ او د تولو نعمتونو نه لوئي نعمت، دين، قرآن او حديث، د الله تعالیٰ عبادت او د هغه توحيد دے.

روستو آيت کښ الله تعالیٰ بيا د دنيا بے رغبتي بيانوي. چه دنيا يو سپك شے دے، خلق دين د دنيا په وجه پريدي نو دا کار ولے کوئ ؟ دنيا سپکه ده او آخرت ډير لوئي دے، د آخرت عظمت او د دنيا سپك والے بيانوي، رټنه کافرو ته ورکوي، زيرے مومنانو ته ورکوي.

بيا روستو آيت کښ حکمة ارسال الرسل (د رسولانو د راليږلو حکمت) بيانوي چه الله تعالیٰ دا انبياء عليهم السلام دے دپاره خلقو ته راليږلي دي چه دا اختلافات لرے شي او په يو دين روان شي، نو چه تاسو حق دين پريدئ نو بيا د پيغمبرانو د راليږلو فائده څه ده ؟.

بيا روستو (۲۱٤) آيت کښ په تکليفونو او شدائدو باندے د صبر امر کوي. دا د جهاد سره متعلق آيتونه دي. بيا د تدبير منزل احکام بيانيږي چه کورنئ برابره کړئ چه د هغے دپاره ئے اتلس احکام راوړي تر (۲٤۲) آيت پورے د انفاق مسئلے، د قتال، د اشهر حرم مسئلے، د شراب او جوارئ مسئلے، د يتيمانانو، د عدت، د طلاقو، قَسَمونو، ښځو ته د راتللو مسائل او د بچو د تربيت مسائل ئے بيان کړيدي، بيا د هغه ځائے نه روستو ئے دوه واقعات د ترغيب الی الجهاد دپاره ذکر کړيدي چه اے ايمان والو! تاسو به د کور جوړولو نه روستو د الله په لار کښ قتال کوئ، او داسے سُستي به نۀ کوئ لکه څنګه چه بني اسرائيل سُست شوي وو او د مرګ نه يريدلي وو، او د بعض مضبوطو بني اسرائيلو په شان جوړ شئ، بيا په (۲۵۱) آيت کښ به د قتال حکمت بيانيږي، بيا د رسول الله ﷺ د رسالت د رشتينوالي او د عامو رسولانو تذکره ده.

﴿ سَلْ بَنِيْ إِسْرَائِيلَ ﴾ دا خطاب دے نبي ﷺ ته او مراد ترينه هر مخاطب دے، او دلته د سوال نه مراد تحقيق دے يعني د هغوي د نعمتونو په باره کښ معلومات اُوکړه.

د بني اسرائيلو نه د تپوس کولو مقصد دا نۀ دے چه انسان بني اسرائيلو له ورشي او هغوي نه

تپوس اُوكړى چه تاسو له الله تعالىٰ څومره نعمتونه دركړى دى؟۔ بلكه معنىٰ دا ده چه د هغے په باره كښې تۀ سوچ اُوكړه، تحقيق اُوكړه چه الله رب العزت څومره نعمتونه هغوى له وركړى وو، بدل ئے كړل الله پرے څه چل اُوكړو لكه خلق وائى : فلانكى نه تپوس اُوكړه ما ورسره څۀ اُوكړل۔ يعنى ځان خبر كړه۔

﴿كَمْ آتَيْنَاهُمْ﴾ كم استفهاميه دے۔ او خبريه كيدل ئے هم جائز دى۔

﴿مِنْ آيَةٍ بَيِّنَةٍ﴾ مفسرين ليكى : دلته د نخو نه مراد نعمتونه دى، او بنى اسرائيلوته چه كوم نخے وركړے شوے وے، هغه هم نعمتونه وو، څكه معجزے وركړے شوے وے، لكه د موسىٰ عليه السلام امسا، يَدِ بيضاء، مَنُّ او سَلْوىٰ راتلل او په درياب باندے اړول۔ او په ميدان تيه كښې سورے راتلل۔ (ابو العاليةؒ) او انبياء او رسولان د دوى د هدايت دپاره راليږل او نور قسمه كرامتونه وركړے شوى وو، دے دپاره چه دوى د الله شكر اُوكړى او صحيح ايمان راوړى۔

○ او نقلى دلائل هم مراد دى چه په تورات او انجيل كښې د محمد رسول الله ﷺ د نبوت په صدق باندے واضح دلائل موجود وو، ليكن دوى هغه بدل كړل، يا ئے پټ كړل۔

آية لفظ ئے څكه راوړو چه دينى نعمتونه پرے ډير زيات وو، نو وقف دے : (فَبَدَّلُوْهَا) (يعنى هغوى دا نعمتونه بدل كړل)۔ او ناشكرى ئے شروع كړه۔ او د رسولانو خبرے ئے نۀ منلے او د هغوى د وژلو كوشش ئے شروع كړو۔

﴿وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ﴾ يعنى چا چه د الله نعمت بدل كړو په كفر، انكار، كتمان، غلط تاويل، د بعضو نه په اعراض كولو او په ناشكرئ سره۔ د نعمت نه مراد عام نعمتونه دى (١) كه هغه اسلام دے چه دے لره يو انسان بدل كړى، پرے ئے دى، او د يهود، نصاراؤ او د مشركانو لاره او د فسق او د فجور لاره اختياركړى۔ نو الله به سخته سزا وركړى۔

(٢) او كه محمد رسول الله ﷺ دے لكه دا سورة ابراهيم (٢٨) آيت كښې راغلے دے۔

(٣) او كه قرآن دے۔ چه خلقو د دنيا ذريعه جوړه كړه او پټ ئے كړو۔

(٤) دارنګه امن او حكومت نعمت دے، چه د الله قانون پكښې نۀ نافذ كوى او پدے كښې ضمناً صحت او علم هم داخل دے چه انسان خپل صحت او علم د دنيا دپاره استعمال كړى او د دين هيڅ كار اُونكړى۔ او پدے كښې هر قسم نعمت داخل دے۔ (فتح البيان)۔

او پدے كښې هغه سړے هم داخليږى چه الله تعالىٰ ورته پاك زړۀ وركړے وى او ددے لحاظ اُونۀ ساتى نو هغه خراب او فاسد شى۔ دارنګه تقوىٰ او ايمان ورته وركړى بيا د هغے حفاظت اُونكړى۔ اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الْمُسْتَعَانُ۔

﴿مِنۡ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ﴾ دے لفظ کښې ډیر تاکید دے چه څوك سرۀ د معرفت او عِلم نه نعمت بدل کړي نو هغه ډیر بد تر حالت والا دے۔
﴿شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ﴾ یعنی سخت عذاب به ورکړي پدے تبدیلئ څکه چه د دوی دا تبدیلی د عِلم او پوهے نه پس ده او په غلطئ او جهالت سره نۀ ده۔

زُيِّنَ لِلَّذِيۡنَ كَفَرُوا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُوۡنَ مِنَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَالَّذِيۡنَ

ښائسته کړے شویدے کافرانو ته ژوند دنیوی او توقے کوی د هغه کسانو پورے چه ایمان ئے راوړے او هغه کسان

اتَّقَوۡا فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ وَاللّٰهُ يَرۡزُقُ مَنۡ يَّشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ﴿۲۱۲﴾

چه ویریږی د الله نه، دپاسه به وی په دوی باندے په ورځ د قیامت کښې او الله رزق ورکوی چا له چه اُوغواړی بے حسابه۔

تفسیر : دے آیت کښې د دنیا بے رغبتی ده، او کافرانو ته رټنه ورکوی چه دوی د ایمان والو پورے مسخرے او توقے کوی۔
مناسبت : خلق د دین نه ولے اوړی، او د الله نعمتونه ولے بدلوی ؟ نو دے آیت کښې وجه بیانوی : [لاخۡتِيَارِهِمُ الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا عَلَى الۡآخِرَةِ] څکه دوی دنیا په آخرت غوره کړیده)۔
نو پدے آیت کښې کافرانو ته توبیخ او زورنه ده چه دوی دنیا په آخرت غوره کړیده۔ او کله چه انسان آخرت په دنیا غوره کړی نو بیا په دین کښې پوره داخلیدے شی او خواهشات قربانولے شی۔ او که دنیا غوره کړی نو بیا پوره نشی داخلیدے څکه د دنیا او د دین تعارض راځی۔ نو الله ایمان والو ته ضمناً زیرے ورکوی چه قیامت کښې به ستاسو مزے وی اګرکه دنیا والا تاسو پورے توقے کوی نو صبر کوئ۔ او ترغیب دے چه دنیا مۀ غوره کوئ، زهد اختیار کړئ۔
﴿زُيِّنَ لِلَّذِيۡنَ كَفَرُوا الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا﴾ حاصل مطلب دا دے چه کافرانو ته د دنیا زندګی ښائسته ښکاره شویده چه په دے باندے خوشحاله او مطمئن دی، دولت جمع کوی، او د الله په لار کښې ئے نۀ خرچ کوی، او مسلمانانو پورے مسخرے کوی چه دوی فقیران دی، او د دوی دا ګمان دے چه دنیاوی مال او متاع حقیقی سعادت او نیك بختی ده، او څوك چه ددے نه محروم دے، نو هغه شقی او بد بخت دے، لیکن ایمان والا د دنیا نه اعراض کوی او کوم مال چه حاصلوی هغه د الله په لار کښې خرچ کوی، پدے وجه په قیامت کښې به د دوی مقام جنت وی او د کافرانو ټکانه به جهنم وی، هغوی به علیین کښې وی او کفار به اسفل السافلین کښې وی۔
(زین) دا تزیین چا کړیدے : (۱) نو یا فاعل ئے الله تعالیٰ دے یعنی الله ورته دنیا ښائسته ښکاره

كرپده ○ (بِالْإِمْهَالِ) چه دنيا كښې ئې مهلت وركړيدے، كه الله ورله زر زر سزا وركولے نو دنيا به ورته بدې ښكاره كيدلے. ○ يا (بِخَلْقِ الْأَشْيَاءِ الْعَجِيْبَةِ) په دنيا كښې الله تعالىٰ ناشنا او ښائسته څيزونه پيدا كړي دي چه هغه د كفارو دپاره امتحان ګرځيدلے دے.

(۲) يا شيطان ورته په وسوسه اچولو سره ښائسته ښكاره كړے ده.

(۳) يا هغه نفسونه چه د دنيا سره په مينه كښې اموخته شويدي هغې ورته ښائسته ښكاره كرپده. تول مطلبونه صحيح دي ځكه شيطان وسوسه اچوي او الله پكښې ناشنا څيزونه پيدا كړي او نفس په هغې سره اموخته دے.

بيا دنيا خو ايمان والو ته هم ښۀ ښكاري او كفارو ته هم، ليكن فرق دا دے چه ايمان والا دنيا په آخرت باندے نۀ غوره كوي، د الله حكمونه پكښې نۀ ماتوي، او كفار صرف د دنيا د ژوند ښۀ كولو دپاره لګيا دي او د الله تعالىٰ د حكمونو هيڅ پرواه نۀ لري لكه دا به سورة آل عمران (۱٤) آيت كښې هم راشي. او ددے دنيا ښائسته ښكاره كيدو نتيجه او مسبب دا دے :

﴿وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾ چه ايمان والو پورے مسخرے كوي چه دا غريبانان دي او كم لو. كمزوري او كم عقل دي چه ددے نبي (ﷺ) خبره مني. او دا طريقه ده چه دنيا پرستو ته دنيا لوئي شے ښكاري، نو پدے وجه مسلمانان ورته سپك ښكاري، او دا اعتراضونه كوي چه كه دا د الله تعالىٰ دوستان وے نو الله به ورله ګاړي موټرے او ښائسته جامے او بنګلے وركړے وے. لكه دا هميشه د كافرو اعتراض راروان دے.

﴿وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ﴾ دا فوقيت (پورته والے) په مرتبه كښې هم مراد دے او په مكان كښې هم. ايمان والا به په اعلىٰ عليين (جنت) كښې وي او كافران او منافقان به په لاندے طبقه د جهنم كښې وي. بيا به قيامت كښې ايمان والا د كفارو پورے مسخرے كوي. لكه سورة المطففين (۳٤) آيت كښې دي :

﴿فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ﴾.

(نن ورځ به مؤمنان د كافرانو پورے خاندي)

او دا دليل دے چه ايمان والو ته فوقيت د تقوىٰ د وجه نه حاصليږي، نو پدے كښې د تقوىٰ په حاصلولو تيزي ركول دي. يا پدے كښې خبردارے دے چه دوي د دنيا نه اعراض ځكه كړيدے چه دوي د دنيا نه ځان ساتلے دے ځكه چه دا د الله تعالىٰ نه مشغوله كول كوي. (فتح البيان).

﴿وَاللّٰهُ يَرْزُقُ﴾ ددے جملے مقصد دا دے چه كفار د رزق د فراخئ د وجه نه تكبر كوي نو الله فرمائي : رزق خو د الله په لاس كښې دے، چا له ئې بے حسابه او زيات وركوي، نو دا خو د كاميابئ

او د الله تعالیٰ د محبت نخه او سبب نهٔ دے۔ او پدے سره ئے ددے شبهے ازاله هم اُوکړه چه د کومے د پیدا کیدو امکان وو چه که چرے کافران په حق نهٔ دی، نو بیا الله تعالیٰ هغوی ته دومره ډیر مال او دولت ولے ورکړے دے ؟ نو وے فرمایل چه دا دولت خو د څو ورځو دپاره دے او محض د دنیا زینت او رونق دے، په آخرت کښې خو به صرف دا ایمان او تقویٰ پکار راځی۔

﴿ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ (۱) ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: (كَثِيْرًا بِلَا مِقْدَارٍ) یعنی ډیر رزق ورکوی چه هیڅ مقدار ئے نهٔ وی۔ (۲) توسیع مراد ده یعنی [يُوَسِّعُ الرِّزْقَ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ]
یعنی الله په دنیا کښې چا له فراخه رزق ورکوی۔

(۳) ظاهر مطلب دا دے : [يَرْزُقُ فِي الدُّنْيَا بِلَاحِسَابٍ فِي الآخِرَةِ] دنیا کښې فراخه رزق ورکوی او په آخرت کښې ورسره حساب نهٔ کوی، لکه د مؤمنانو رزق همدغسے وی۔ پدے کښې اشاره ده چه تاسو سره به حساب کیږی اے کافرو ولے په غنی ذات تکبر کوئ ؟!۔

(٤) یا حساب گمان ته وائی : ﴿ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ (طلاق/۳) او دا د متقیانو رزق دے چه گمان ئے هم نهٔ وی او رزق ورته ملاویږی۔ (٥) یا په آخرت او په جنت کښې داسے رزقونه ورکوی چه بے حسابه به وی، د دنیا په نسبت به ډیر زیات وی۔ یا حساب به ورسره نهٔ کوی۔ او دنیا کښې خو په رزق باندے حساب دے۔ نو کافران دے نهٔ خوشحالیږی۔

(٦) یا مطلب دا دے [لَا يَخَافُ اللّٰهُ نَفَادَ مَا فِيْ خَزَائِنِهٖ] چه الله تعالیٰ د خپلو خزانو د ختمیدلو نه نهٔ یریږی چه حساب ئے اُوکړی چه څومره اُولګیدلے او څومره پاتے شوے)۔

(۷) یا بِغَيْرِ حِسَابٍ مَعَ اللهِ) یعنی د الله سره څوك حساب نشی کولے چه ولے دے فلانی ته رزق ورکړو او فلانی ته نهٔ۔ (فتح البیان) دا ټول مطالب صحیح دی۔ دریم ظاهر دے۔

كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ
وو خلق یوه ډله (په دین باندے) نو الله راولیږل پیغمبران زیرے ورکونکی او ویره ورکونکی او نازل ئے کړل د هغوی سره
الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا
کتابونه په حق سره، دے دپاره چه فیصله اُوکړی په مینځ د خلقو کښې په هغه څهٔ کښې چه دوی اختلاف کړے وو
فِيْهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ مَا
په هغے کښې او اختلاف نهٔ وو کړے په هغے کښې مگر هغه کسانو چه ورکړے شوے وو هغوی ته کتاب روستو د هغے نه

جَآءَتۡهُمُ الۡبَيِّنٰتُ بَغۡيًا بَيۡنَهُمۡ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

چه راغلي وو هغوی ته ښكاره حكمونه د وجه د ضد نه په خپل مينځ كښې. نو الله هدايت اُوكړو هغه كسانو ته چه ايمان ئې راوړے وو

لِمَا اخۡتَلَفُوۡا فِيۡهِ مِنَ الۡحَقِّ بِاِذۡنِهٖ وَاللّٰهُ يَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۲۱۳﴾

هغه خبرے ته چه دوی پكښې اختلاف كړے وو د حق نه. په توفيق خپل سره او الله تعالىٰ هدايت كوی چا ته چه اُوغواړی نيغے لارے ته.

تفسير : اوس حكمة ارسال الرسل بيانوی، چه الله تعالىٰ انبياء كرام څه له راليږلی دی ؟ هغه دا چه خلق په حق باندے اُودريږی، او اختلافات ختم شی، څوك چه خبره اُومنی هغوی له زيرے وركړی، او څوك چه نۀ منی هغوی له يره وركړی. دارنگه د پيغمبرانو كار بيان وی چه هغه انذار او تبشير دے.

مناسبت : (۱) كافرانو دنيا غوره كړے وه او ايمان والو آخرت، نو پدے وجه ئې اختلاف پيدا شو، نو الله تعالىٰ انبياء راوليږل چه دواړو ته بيان اُوكړی چه كومه لاره حقه ده.

(۲) اُدۡخُلُوۡا فِى السِّلۡمِ كَآفَّةً سره ئې مناسبت دے چه الله تعالىٰ نبی دے دپاره راليږلے دے چه ټول خلق په صحيح دين كښې داخل شی او اختلاف ختم شی او كله چه تاسو اختلافات كوئ او د هغه خبره نۀ منئ نو بيا د رسول د راليږلو فائده څه شوه ؟.

(۳) د موضوع د سورت سره مناسبت دا دے چه د ايمان فائده، هدايت وركول دی.

﴿ كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً ﴾ (وو خلق يوه ډله) دا په كومه زمانه كښې مراد دے ؟.

(۱) بعض وائی : د نوح عليه السلام په زمانه كښې مراد دے چه ټول خلق په توحيد او صحيح ايمان باندے روان وو لكه ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : د آدم او د نوح عليهما السلام ترمينځ د لسو صديو موده وه، پدے ټوله موده كښې خلق په يو حق شريعت (صحيح دين توحيد) باندے روان وو، بيا د دوی ترمينځ په تيريدو د زمانے سره په عقائدو كښې اختلاف پيدا شو (انتهىٰ).

نو الله تعالىٰ د هغوی په صحيح لاره راوستو دپاره انبياء كرام عليهم السلام راوليږل چه هغوی د الله بندگی كونكو ته د دنيا او د آخرت د كاميابئ او د جنت زيرے وركړو او د الله نافرمانی كونكو ته ئې د دنيا او د آخرت د ناكامئ او محرومئ او ذلت او رسوائی او جهنم نه يره وركړه، او بيا ئې يواځے په هغے اكتفاء اُونكړه بلكه بل احسان ئې ورسره دا اُوكړو چه د دوی سره ئې كتابونه راوليږل چه په هغے كښې رشتينے او د عدل نه ډك حكمونه وو چه په اصولو او فروعو كښې د اختلاف كونكو ترمينځ فيصله كونكی وو.

يهود او نصارىٰ د الله په کتابونو کښې (سره د پوهې نه) اختلاف اُوکړو او ددې سبب د هغوی خپل مينځ کښې ضد او حسد وو ليکن الله تعالىٰ مسلمانانو ته په خپل فضل او کرم او توفيق سره حق طرف ته هدايت اُوکړو، هغوی په تمامو آسمانی کتابونو ايمان راوړو، بيا ئې په قرآن باندې ايمان راوړو، او په هغه تمامو کارونو کښې ئې د اعتدال لاره اختيار کړه چه په هغې کښې يهود او نصاراؤ اختلاف کړې وو۔

په صحيحينو او مسند احمدؒ وغيره کښې د ابو هريره ﷺ روايت دې چه نبی کريم ﷺ اُوفرمايل چه ((مونږ مسلمانان د زمانې په اعتبار سره آخر کښې راغلی يو، د قيامت په ورځ به اولنی خلق يو۔مونږ به اول جنت ته داخليږو، حال دا چه اهل کتابو ته زمونږ نه مخکښې کتاب ورکړې شوې او مونږ ته د هغوی نه روستو کتاب راکړې شوې، ليکن الله تعالىٰ مونږ لره حق طرف ته په خپل فضل او کرم سره هدايت اُوکړو۔ خلقو د جُمعې د ورځې په باره کښې خپل مينځ کښې اختلاف اُوکړو، (چا د خالی ورځ او چا د اتوار ورځ غوره کړه) نو الله تعالىٰ مونږ ته هدايت اُوکړو نو مونږ د جُمعې ورځ اختيار کړه (د الله د بندگی او تعظيم دپاره) او خلق زمونږ تابع شو يعنی د خالی ورځ يهوديانو اختيار کړه او نصاراؤ د اتوار ورځ))۔ (يعنی دا دواړه ورځې روستو دی د جُمعې نه نو يهود او نصارىٰ به هم د مسلمانانو نه روستو روستو وی)۔

(۲) **دويم تفسير**: بعض وائی: دلته مقصد دا دې چه ټول خلق په کفر باندې روان وو، يعنی خلق د نوح ؑ د زمانې نه په کفر باندې يوه ډله شوه، راجمع شو۔نو الله تعالىٰ ورته د نوح ؑ نه سلسله د رسالت شروع کړه چه کفر او شرك ئې ختم شی۔ ليکن اول قول ظاهر دې ځکه چه د سورت يونس (۱۹) آيت پرې دليل دې چه اختلاف روستو پيدا شو او مخکښې په توحيد باندې اتفاق وو۔ او په قراء ت د ابی بن کعبؓ کښې ورسره پدې آيت کښې (فَاخْتَلَفُوْا) راغلی دې۔ (طبریؒ)

(۳) د ابی بن کعب ﷺ نه نقل دی چه [كَانَ النَّاسُ عِنْدَ خَلْقِهِمْ] يعنی خلق يوه ډله وه په وخت د پيدائش د دوی کښې، ټول د الله منونکی وو، او چه کله پيدا شو نو بيا ئې اختلافات شروع کړل۔

نو دلته وقف دې (فَاخْتَلَفُوْا) نو هغوی اختلاف شروع کړو۔ لکه دا لفظ په سورة يونس (۱۹) آيت کښې راغلی دې۔ ﴿ وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا ﴾۔ او دا د روستو (فيما اختلفوا) نه هم معلوميږی۔

(٤) امام قرطبیؒ ليکی: پدې کښې دا احتمال هم شته چه کَانَ صرف د ثبوت دپاره وی او ددې نه هره زمانه مراد شی يعنی هرکله چه به الله تعالىٰ انبياء راوليږل او دعوت نه پس به ئې مخالفين الله تعالىٰ هلاك کړل نو باقی مؤمنان به تر يو وخت پورې په صحيح دين توحيد باندې روان وو

ليكن څهٔ وخت روستو به په دوی کښې اختلاف پيدا شو، نو الله تعالىٰ به بل نبي راوليږلو۔
○ او دا مطلب هم دے چه د الله په نيز دلته تولو خلقو ته د يوے لارے حکم دے، کوم وخت چه به ددے لارے نه خلق بل کوم طرفته اُوخوئيدل نو الله تعالىٰ به پيغمبر راوليږلو چه پوهه ئے کړی او کتاب به ئے راوليږلو چه په هغے باندے لاړ شی، بيا چه به د کتاب والا يے لارے شول، نو هغه وخت به بل کتاب ته حاجت پيښ شو۔ ټول کتابونه او پيغمبران د يوے لارے قائمولو دپاره راغلی دی۔
ددے مثال لکه چه صحت يو دے او بيمارئ ډيرے دی، چه کله يو مرض پيدا شی نو يوه دوائی او پرهيز ئے د هغے موافق اُوفرمايلو، چه کله دويم مرض پيدا شو نو دوائی او پرهيز ئے د هغے موافق اُوخودلو، آخری کتاب کښې ئے داسے لاره اُوښودله چه د هر مرض نه خلاصے دے، دا د ټولو په بدله کښې پوره والے کوی۔ (تفسير جواهر القرآن د شيخ غلام الله خان رحمه الله)۔

﴿ مُبَشِّرِيْنَ ﴾ مومنانو ته په جنت زيرے ورکونکی۔ ﴿ وَمُنْذِرِيْنَ ﴾ نهٔ منونکو ته په عذابونو يره ورکونکی۔ د انبياؤ عليهم السلام د بعثت دا دواړه مقاصد دی۔
﴿ وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ﴾ يعنی بشارت او انذار به په کتاب باندے وو، نهٔ په اخوا ديخوا خبرو۔ ﴿ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ﴾
يعنی په کومو خبرو کښې چه دوی اختلاف کوی چه هغه عقيده وی، که عمل وی نو دا کتاب به ورله فيصله کوی چه دا صحيح دے او دا غلط۔
دا دليل دے چه د اختلاف د ختمولو يواځينئ ذريعه د الله کتاب او د رسول الله ﷺ فيصله ده۔
او اشاره ده چه انبياء خو اختلاف ختمولو دپاره راغلی دی نو تاسو اختلافات مهٔ جوړوئ۔
نو سوال دا دے چه دا خلق په حق کښې ولے اختلاف کوی؟ نو الله فرمائی : بعض عنادګر خلق وو چه د ايمان والو او د انبياؤ او د هغوی د معجزاتو دشمنان وو، نو د هغوی نه ئے انکار اُوکړو۔
معلومه شوه چه اصل اختلاف کونکی هغه خلق دی چه حق نهٔ منی۔ دارنګه د اختلاف سبب حسد دے نو حسد ډيره غټه بيماری ده۔
﴿ وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ ﴾ اختلاف نهٔ دے کړے په دے حق کښې۔
﴿ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ ﴾ يعنی دا حق ورکړے شوے وو ليکن دوی قبول نکړو۔ يا علم د محمد ﷺ د رښتينوالی ورکړے شوے وو ليکن بيا ئے هم اُونهٔ منلو۔
○ يا د اَلَّذِيْنَ اُوْتُوْا نه ددے کتاب پوهان او درس او تدريس کونکی او د قوم پيشوايان مراد دی۔
﴿ مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ ﴾ يعنی ښکاره نښے دوی ته راغلے وے او پته ورته لګيدلے وه چه آؤ دا حق دے، خو بيا ئے هم اختلاف پيدا کړو۔

○ يا د البينات نه مراد عقلي دلائل دي يعنى د كتاب سره سره مونږ په توحيد باندے عقلي دلائل هم قائم كړی وو۔ (كبير)۔
پدے كښې د يهود او نصارالؤ سخته بدی ده چه سره د علم او پو هے نه د انبياؤ او د حق نه انكار كوی۔ اختلاف دے ته وائی چه سړے حق نهٔ منی، اختلاف پيدا كونكے هغه څوك نهٔ دے چه حق بيانوی۔
﴿ بَغۡيًا بَيۡنَهُمۡ ﴾ پدے سره د اختلاف سبب بيانوی: يعنى د مؤمنانو حق پرستو سره ئے كينه ده پدے وجه اختلاف ورسره كوی۔ اشاره ده چه دا اختلاف د جهل او د اجتهاد د وجه نه نهٔ وو بلكه قصداً او د ظلم او حسد په بنياد وو۔ بغی: ظلم او كينے ته وائی۔
(بَيۡنَهُمۡ) دے كښې بل جانب پټ دے يعنى بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ اَهۡلِ الۡحَقِّ يعنى د دوی او د اهل حقو ترمينځ كينه وه۔ ليكن حسد د دوی د طرف نه وو نو ځكه ئے اهل حق ذكر نهٔ كړل۔
(۲) يا دا چه ددے متعلق پټ دے (بَغۡيًا بَاضَ بَيۡنَهُمۡ) يعنى داسے حسد وو چه دوی كښې خور شوے وو او د دوی ترمينځ ئے اګئ اچولے وے) يعنى سخت حسد وو۔ او دا ظاهر د قرآن دے۔
فائده: دلته دوه ځل اختلاف ذكر دے يعنى (اِخۡتَلَفُوۡا فِيۡهِ او مَا اخۡتَلَفَ الخ)
(۱) نو بعض علماء وائی چه دواړو نه يو قسم اختلاف مراد دے، ليكن اول كښې ئے نسبت عامو خلقو ته اُوكړو او بيا ئے د علم والو پورے تخصيص اُوكړو۔
(۲) دويم دا چه اول اختلاف د خلقو د كتاب د راتلو نه مخكښې وو، نو كله چه كتاب الله راغلو نو د هغه خلقو فيصله اُوشوه، بيا كله چه وخت تيريدو نو سره د پو هے نه خلقو اختلافات شروع كړل، او د انبياؤ صحيح مِشن او دعوت ئے پريخودو او د انبياؤ صحيح خبرو كښې ئے تحريف او تلبيس شروع كړو او يو بل ته ئے د كفر نسبتونه اُوكړل نو دا اختلاف روستو د كتاب نه دے۔ او دا احتمال غوره دے۔
﴿ مِنَ الۡحَقِّ ﴾ دا بيان دے د (مَا) يعنى هغه څهٔ شے دے چه دوی پكښې اختلاف كړے وو؟ هغه حق دے۔يعنى په كوم حق كښې چه اختلاف شوے وو، په هغه حق كښې الله تعالىٰ مؤمنانو ته هدايت اُوكړو۔ او دوی ئے په دے حق مضبوط كړل۔او دا دليل دے چه د ايمان په وجه او د اختلاف نهٔ كولو په وجه انسان ته هدايت كيږی۔ او د اهل حقو سره ضد او كينه كول او د هغوی د حق نه انكار كول د ګمراهئ سبب دے۔ او دليل دے چه انسان هركله د حق نه انكار اُوكړی نو څنګه به ورته هدايت اُوشی؟!۔
﴿ بِاِذۡنِهٖ ﴾ يعنى دوی ته چه دا هدايت اُوشو نو دا د دوی هوښيارتيا نهٔ وه، بلكه دا د الله تعالىٰ په

احسان او توفیق سره اُوشو، نو که تا ته چرته هدایت اُوشو نو دا ستا کمال نهٔ دے چه گنے ته هوښیار او عاقل سړے ئے، بلکه دا د الله تعالیٰ خصوصي احسان او فضل اُوګنړه۔

﴿ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۤءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾

نو فائده دا شوه چه ټول اختیار د الله دے۔ پدے جمله کښې دویمه فائده دا ده چه اے بنده ! د الله تعالیٰ نه هدایت اُوغواړه ځکه چه د الله په اختیار کښې هدایت دے۔ نو تا له د هغه نه مطالبه پکار ده۔ او د اهل حقو سره ضد نهٔ دے پکار۔ لکه نبي ﷺ به په تهجدو کښې د هدایت دعا کوله : [اِهْدِنِيْ لِمَا اخْتُلِفَ فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِكَ اِنَّكَ تَهْدِيْ مَنْ تَشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ] [مسلم]۔

او اشاره ده چه د الله مشیت همیشه د هغه خلقو د هدایت سره متعلق وی چه ضد او عناد نهٔ کوی، او د زړهٔ په صدق او د عمل په اخلاص سره د حقے لارے طلبګار وی۔ (جواهر)

فائده : په دے آیت کښې درے څیزونه بیان شویدی (۱) اختلاف کومو خلقو اُوکړو۔ (۲) کله ئے اُوکړو۔ (۳) ولے ئے اُوکړو؟ یعنی اختلاف همیشه ناکاره علماؤ کړے، او سره د پوهے نه ئے کړے، او د عناد او د ضد د وجے نه ئے کړے۔

اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ
آیا تاسو ګمان کوئ چه داخل به شئ جنت ته او حال دا چه تر اُوسه پورے نهٔ دے راغلے تاسو ته
مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ
حال د هغه کسانو چه مخکښې تیر شویدی ستاسو نه، رسیدلی وو هغوی ته تکلیف د مال او تکلیف د بدن
وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ
او خوزولے شوی وو تردے چه اُوبه وئیل رسول او هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے وو
مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ ﴿۲۱۴﴾
د هغه په ملګرتیا کښې، کله به وی مدد د الله تعالیٰ، خبر شئ ! یقیناً مدد د الله نزدے دے۔

تفسیر : تردے ځائے پورے د جماعت مسلمه د تربیت هدایات او اصول او د ژوند جامع تصور بیان شو، اُوس دوی ته امر کوی چه لږ د پخوانو ایمان والو د حالاتو مطالعه هم اُوکړی چه په

هغوی باندے د اسلام د دشمنانو او مخالفینو د طرف نه څومره مصیبتونه او تکلیفونه راغلی وو۔ نو پدے آیت کښ اُوس (اَلْاَمْرُ بِالصَّبْرِ بِالشَّدَائِدِ) دے،

یعنی حکم کوی چه تاسو به په تکلیفونو صبر کوئ، هله به جنت ته داخلیږئ، اسلام جنت ته د داخلیدو سبب دے، لیکن شرط دا دے چه امتحانات او تکالیف به برداشت کوی، د خپلو عقائدو او نظریاتو دپاره به مشکلات برداشت کوی، دا د الله تعالیٰ قانون نهٔ دے چه انسان ایمان راوړی او په هغه دے امتحان نهٔ وی راغلے۔

حدیث کښ دی: [حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ] ...... [احمد، مسلم، ترمذی]

(د جنت نه تکلیفونه تاؤ کړے شویدی او د جهنم نه شهوات) دا ددے دپاره چه جنت ته عاجز او سُست او خواهشاتو والا داخل نهٔ شی۔ نو مؤمن به داسے نهٔ وی چه معمولی سخته راشی او د دین نه اُودانګے، یا وائی چه دا خو د رواج خلاف ده، خلق به راسره اختلاف کوی، جګړے به پیدا شی، او خلق به تکلیف راورسوی۔ بلکه مؤمن ته به پدے لار کښ تکالیف رسی، کله به ورته فتح نصیب کیږی او کله به شکست۔ لیکن هغه به په هر حال کښ په خپلو نظریاتو باندے ثابت قدم وی، هیڅ سختی به هغه لره نهٔ متزلزل کوی، هیڅ طاقت به هغه لره نهٔ شی یرولے، د مشکلاتو او ازمیښتونو د پرله پسے حملو کښ به هغه همت نهٔ بیلی، که چا داسے اُوکړل نو هغه به د الله تعالیٰ د مدد مستحق کیږی نو الله فرمائی: زهٔ چه کوم خلق په دے دنیا کښ خپل امینان جوړوم او د هغوی په ذریعه اسلامی نظام قائموم او شریعت نافذ کوم نو هغوی به اول د مصائبو په بټئ کښ اچوم، د هغوی تربیت به کوم دا زما تاریخی سنت دے۔

نو الله فرمائی: صبر به کوئ هله به جنت ته داخلیږئ او دا اول کښ صحابه کرامؓ ته خطاب وو او بیا ټولو مؤمنانو ته خطاب دے۔

د مخکښ سره **مناسبت** دا دے چه (۱) دا متعلق دے د جهاد سره هم۔ (۲) او متعلق دے د (فَاِنْ زَلَلْتُمْ) سره هم۔ یعنی دین به نهٔ پریدئ اګرکه سخت مصائب راشی، د رسول الله ﷺ اتباع په خوشحالئ او خفګان دواړو کښ لازم ده۔

عنوان د آیت دا دے چه په آیت کښ د الله په دین کښ په تکلیفونو باندے په صبر کولو امر دے۔ دویم: د الله تعالیٰ عادت ابتلاء او ازمیښت کول دی۔

او دا آیت د جهاد (قَاتِلُوا) سره هم لګی چه تاسو به د الله په لاره کښ جهاد کوئ نو په دے کښ به تکلیفونه هم راځی او تاسو به صبر کوئ نو هله به جنت ملاویږی۔

او داسے آیت په سورة العنکبوت (۱) کښ راغلے دے۔

﴿ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْا﴾ او سورة آلعمران (۱۴۲) او توبه (۱۶) آيت كښې راغلے دے۔

شان نزول : قتادةؒ وائي : دا آيت د غزوه خندق (غزوه احزاب) په باره كښې نازل شويدے چه نبي ﷺ او د هغه اصحابؓ ته مصيبت او د دشمنانو محاصره رسيدلے وه۔ بعض وائي چه غزوه احد كښې نازل دے۔ (فتح البيان)

﴿ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ ﴾ (اَمْ) دا اَمْ منقطعه دے په معنىٰ د بَلْ سره دے، ليكن كله نا كله په معنىٰ د همزه استفهامي سره استعماليږي۔ او په ابتداء د كلام كښې راځي (فراء)

او استفهام انكاري دے يعني آيا تاسو دا گمان كوئ بلكه دا گمان مهٔ كوئ۔ يا استفهام تقريري دے يعني ستاسو دا گمان موجود دے۔ (اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ) د جنت د داخليدو نه مراد بغير د تكليف او مشكلاتو نه داخليدل دي، يا دخول اولي (رومبے داخليدل) مراد دي۔

﴿ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ﴾ لما راځي د تاكيد د استغراق د نفي د زمانے د ماضي نه تر زمانه حالي پورے۔

﴿ مَثَلُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ ﴾ (مَثَل) په معنىٰ د حال سره دے۔ يعني د پخوانو په شان احوال به په تاسو هم راځي، په هغوي باندے مالي او بدني دومره سخت مصيبتونه راغلي وو چه د انبياء عليهم السلام او په هغوي باندے ايمان راوړونكو خلقو به د سخت مصيبت او درد او پريشانئ په وجه او د خلقو د مخالفتونو په وجه الله تعالىٰ ته داسے آوازونه كول چه اے الله ! اُوس خو خپل مدد راوليږه او كله چه د هغوي امتحان اُوشو او د هغوي صبر الله تعالىٰ خلقو ته ښكاره كړو نو الله به اُوفرمايل : چه آؤ، اُوس زما مدد مؤمنانو او صالح بندگانو سره نزدے دے، ځكه الله خو په هر څه قادر دے، الله خو از ميښت كول غوختل چه په ميدان د عمل كښې كوم بنده رشتيني دے۔

امام بخاريؒ د خباب بن الارت ؓ نه روايت كړے چه رسول الله ﷺ د كعبے په سوري كښې يو څادر ته تكيه لګولے وه او مونږ ته د مشركانو ظلم او زياتے انتهاء ته رسيدلے وو نو مونږ اُووئيل : مونږ دپاره د الله تعالىٰ نه مدد اُوغواړه، مونږ دپاره دعا اُوغواړه ؟ نو نبي ﷺ اُوفرمايل : چه ستاسو نه مخكښې زمانه كښې به يو مسلمان سړے نيولے شو او كنده به ورله اُوكنستے شوه، بيا به په آرے سره دوه ټكړے كړے شو، يا به د اُوسپنے په ګمنزے سره د هغه غوښه د هډوكي نه جدا شوه، ليكن دے عذاب به هغه لره د دين نه نهٔ اړولو، قسم په الله ! الله تعالىٰ به دا دين پوره كوي تردے چه يو سور انسان به د صنعاء نه حضرموت ته ځي او هغه به د الله نه سِوىٰ د بل هيچا نه نهٔ يريږي او شپونكے به په خپلو ګډو بيزو باندے د شرمخ نه نهٔ يريږي۔ ليكن تاسو جلتي كوئ آه۔

﴿ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ ﴾ دا د (مَثَل) تفسير دے يعني هغه حالات داسے وو۔

تكليفونه دوه قسمه دي، يو ذاتي او دويم هغه چه د بل د طرف نه وي۔ او ذاتي بيا دوه قسمه

دی۔ اول مالی (غربت وغیره) هغې ته بأساء وائی او دویم بدنی مرضونه، زخم وغیره او هغې ته ضراء وئیلې شي او دویم قسم په (زُلْزِلُوْا) سره ذکر شویدی۔

﴿ وَزُلْزِلُوْا ﴾ خوزولې شوی وو، پریشانه شوی وو۔ دلته د زلزلې نه مراد د دشمنانو د طرف نه د زړونو زلزلې دی یعنی د خلقو د طرفه پریشانی پرې راغلې وه۔ چه دغه دې دشمن راغلو او حمله به کوی او قتلوی به مو۔ او دا کار په مؤمنانو باندې ډیر راځی، خاصکر کله چه سړې د حق دعوت کوی۔ نبی ﷺ ته هم د قتل پلان جوړ شوې وو، او عیسیٰ علیه السلام ته هم او د هغه نه مخکښې انبیاء کرامو علیهم السلام ته هم۔ او دا پریشانی او مصیبتونه به دومره زیات شول چه نزدې وه چه خلق نا اُمیدیٔ درجې ته رسیدلی وې۔

﴿ حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ﴾

دلته **سوال** دې چه ددې امت مؤمنانو د سخت تکلیف په وخت ایمان او تسلیم زیات شوې وو لکه سورة الاحزاب (۲۲) کښې راغلی دی او دلته نه معلومیږی چه انبیاء او پخوانی مؤمنان د الله تعالیٰ مدد وړاندې ګنړی ؟۔ **جواب** : ۱- بعضو جواب کړیدې چه آیت کښې تقطیع ده یعنی حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ اَلَا اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ وَيَقُوْلَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ) یعنی ایمان والو به د الله مدد طلب کولو او رسولانو به د هغوی د تسلی دپاره فرمایل چه د الله مدد نزدې دې)۔ نو زمونږ د امت مؤمنان د پخوانو مؤمنانو نه اُوچت دی۔ اګرکه د انبیاؤ په شان نهٔ دی۔

۲-**اصل جواب** دا دې چه دلته الله تعالیٰ د انبیاء او د ایمان والو د زړهٔ تمنیٰ او پریشانی ذکر کوی او د هغوی په ایمان باندې تثبت او کلك والې بیانوی، نو (مَتٰى) دلته د تمنی او طلب دپاره ده، یعنی دوی به دا ارمان او طلب کولو چه د الله مدد به کله راځی ځکه چه مدد به ترې لږ وخت پورې لرې شوې وو۔ او د الله د مدد نه منکر نهٔ وو۔ یعنی رسول ډیر اوچت صبر والا وو، لیکن هغه به هم بې صبریٔ ته نزدې شو، نو دومره غټ مصیبتونه به وو۔اوبیا به ئې هم دین نهٔ پریخودو۔ او دا تفسیر د ابن عباسؓ نه نقل دې۔ (فتح البیان)۔

مفسرین لیکی : (يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلٰى اَعْدَائِهِمْ وَيَدْعُوْنَ بِالظَّفْرِ وَالْفَرَجِ وَاِزَالَةِ الشِّدَّةِ) (ابن کثیر) دعا به ئې کوله چه یا الله ! په دشمنانو زر کامیابی راکړه او د مصیبت نه کشادګی راوله او دا سختی ختمه کړه) پدې حالت کښې به نا امیدیٔ ته قریب شو۔ ځکه انسان زړهٔ تنګې دې، کله چه مصیبت اُوږد شی او د کفارو ناشنا تکالیف او د مؤمنانو ظاهری بدحالی اُووینی نو د هغه زړهٔ ته غیر اختیاری شبهات راشی او د نا اُمیدیٔ درجې ته اُورسی۔ لکه سورت یوسف (۱۱۰) کښې راغلی دی : (حَتّٰى اِذَا اسْتَيْئَسَ الرُّسُلُ) د هغه آیت او ددې آیت یوه معنیٰ ده۔

نو د الله د طرف نه به جواب راغلو چه ستاسو دعا قبوله شوه۔ او مطلب دا دے چه ددوی به دغه شان حال وو، دوی لره اوږد امتحان او سخت مصيبت د دين نه وانهٔ ړول تردے پورے چه د الله مدد ورته راورسيدو۔ نو اے مسلمانانو! تاسو هم دغه شان مصيبتونه برداشت کړئ ځکه چه د الله د مدد راتلل نزدے دی۔ (فتح البيان ١/٤٣١)۔

ځکه کله چه امتحان سختيږی نو د الله مدد زر رانزدے کيږی۔

(اَلا) يعنی خبر شئ، واورئ)

﴿ اِنَّ نَصْرَ اللهِ قَرِيْبٌ ﴾

د الله د مدد مستحق هغه خلق وی چه آخر وخت پورے ثابت قدم پاتے وی، د خلقو د مصائبو په مقابله کښ کلك ولاړ وی، د مصائبو د سختوالی په وجه خپل دعوت او مشن او جهاد او عقيده او نظريه نهٔ پريدی نو هرکله چه مصيبتونه انتهاء ته اُورسی او د ايمان والو ظاهری هيڅ مددګار پاتے نهٔ شی او صرف د الله تعالیٰ نصرت باقی پاتے شی او مؤمنان صرف الله طرف ته نظر پورته کونکی شی نو بس د الله مدد بيا راتلونکے وی۔

او حديث کښ هم دغسے راغلی دی چه [وَاعْلَمْ اَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ وَاَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ وَاَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا] (السنن الكبرىٰ) (والصحيحة رقم: ٢٣٨٢)۔ (پوهه شه چه مدد د صبر سره وی او کشادګی د مصيبت سره وی او د سختئ سره آسانی ضرور وی)۔

او هر کله چه انسان سخت مصيبت برداشت کړی نو بيا ددهٔ دشمنان هم دهٔ طرف ته راواپس کيږی۔ او څومره چه ايمان مضبوط وی، نو هغومره اُمتحان او مصيبت هم سخت وی، او بيا مدد هم ډير قوی وی۔ او انسان باندے الله تعالیٰ داسے سخت مصيبتونه ځکه راولی چه دهٔ ته د صبر په نتيجه کښ يو عظيم قوت ورکړے شی، او په خپل ذات باندے ئے حاکميت حاصل شی، د مصيبت او تکليف په بتئ کښ د نفس انسانی عناصر صفا کيږی، په اسلامی نظريهٔ حيات کښ ئے زور والے او قوت پيدا کيږی۔ مرتبے ئے پورته کيږی او د خلقو دپاره امام جوړيږی۔

(فی ظلال)

يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ
تپوس کوی دوی ستا نه اے پيغمبره! چه څهٔ شے خرچ کړی، تهٔ اُووايه! هغه چه تاسو خرچ کوئ څهٔ مال (حلال)
فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢١٥﴾
نو دپاره د مور او پلار او خپلوانو او يتيمانانو او مسکينانو او مسافرو دے او هغه چه تاسو کوئ نيك عمل۔ نو الله په هغے پوهه دے۔

تفسیر: ددے ځائے نه روستو اتـلس احکام د تدبیر منزل دی۔ یعنی هغه احکام چه د کور د جوړولو سره تعلق لري ځکه چه کله د کور حالات برابر وی نو انسان د الله په لار کښں جهاد او د دین عام کارونه کولے شی۔ او ددے سره به انتظامی احکام هم بیانیږی۔

اول حکم دا دے [بَيَانُ مَصَارِفِ الْإِنْفَاقِ وَكَيْفِيَّةِ الْإِنْفَاقِ] (چه مال به په کوم ځائے کښں لګوی او په کومه طریقه به ئے لګوی) ولے که د مال نظام په ملك کښں، په کور کښں برابر نهٔ وی نو هغه ملك او علاقه او کور وران دے، او کله چه سرے د صحیح ځائے نه مال راخلی او په صحیح ځائے کښں ئے لګوی نو دا ډیر اُوچت ملك او اُوچت کور دے او د دوی هر پروګرام به الله تعالیٰ برابروی۔

مناسبت: (۱) ددے امت تربیت شروع دے نو دا نور احکام د تربیت دی۔

(۲) صحابه کرامو یو څو تپوسونه کړی، یسئلونك عن الاهله وغیره وغیره نو د هغے جوابونه الله تعالیٰ ورکوی نو مناسبت د سوالونو په جوابونو کښں دے، اګرکه د سوالونو ترمینځ ډیر مناسبت نهٔ وی۔ (۳) مخکښں د جهاد، انفاق مسئله راروانه ده مینځ کښں حج او د هغه متعلقات بیان شول نو اُوس بیرته اصل طرف ته رجوع ده۔

(٤) او ددے آیت تعلق د مخکښں الْبَأْسَاءُ سره دے چه ایمان والو باندے به ابتلاء او ازمیښت په مالونو کښں هم راځی، نو دوی به د الله په لار کښں مالونه لګوی۔

﴿ يَسْئَلُوْنَكَ مَا ذَا يُنْفِقُوْنَ ﴾ بعض صحابه کرامو (لکه عمرو بن جموح ﷺ) دا تپوس کړے وو چه د خپلو مالونو نه څومره خرچ کړو او په چا باندے ئے خرچ کړو؟ نو دا آیت د هغه په جواب کښں نازل شو۔ (ابن کثیرؒ، وابن جریرؒ) نو د دواړو خبرو جواب اُوشو۔

اول په (مِنْ خَيْرٍ) سره چه حلال مال به خرچ کویٔ هرڅومره چه وَس وی۔ او د دوېم جواب په (فَلِلْوَالِدَيْنِ) سره اُوشو۔

فائده: بعض مفسرینو لیکلی دی چه پدے مقام کښں سوال د خرچ کړے شوی څیز په باره کښں شوے وو یعنی څهٔ او څومره خرچ کړی او جواب کښں د خرچ مصارف بیان کړے شویدی پدے سره دے طرفته اشاره ده چه دا خبره پریږدیٔ چه څهٔ او څومره خرچ کول پکار دی۔ اصل څیز خو مصرف دے، ددے وجه نه چه تاسو کوم څهٔ خرچ کول غواړیٔ برابره ده لږ وی که زیات، نو هغه دے په صحیح مصرف کښں خرچ کړے شی۔ (روح المعانی۲/۱۰۵)۔

فائده: په (مِنْ خَيْرٍ) لفظ کښں دوه اشارے دی یو دا چه هر شے چه تاسو خرچ کویٔ نو د هغے خیر کیدل پکار دی، چه د ورکونکی دپاره هم خیر وی، اخستونکی دپاره هم، د هغهٔ معاشرے دپاره هم خیر وی په کوم کښں چه دا لین دین کیږی، او په خپل ذات کښں هم هغه خیر وی، داسے

وى چه عمل هم پاك، تحفه هم پاكه او شے هم پاك.

دويمه اشاره دا ده چه خرچ كونكى لره په ښهٔ سوچ كولو سره د خپل مال نه اعلىٰ تر ټيز خرچ كول پكار دى، او بيا تلاش كولو سره د خپل مال نه بهتر ټيز خرچ كول يو داسے اقدام دے چه پدے سره په زړهٔ كښ طهارت (پاكى) پيدا كيږى، انسانى نفس پاكيږى.

ليكن دا صرف اشاره ده، او لازم او فرض نهٔ دى ګرځولے شوى لكه چه په نورو آيتونو كښ ددے وضاحت شويدے. نو دے باره كښ مناسب دا ده چه اَوسط درجے مال د الله په لار كښ خرچ كړے شى، نهٔ ډير قيمتى وى او نهٔ بالكل ردى وى، البته پدے آيت كښ دا اشاره ده چه په نفس باندے د قابو موندلو دپاره بهتر مال خرچ كول پكار دى، او د ايمان والو پدے باندے د آماده كولو كوشش شويدے. دا د قرآن كريم د تربيت انداز دے يعنى په ذريعه د ترغيب او آمادګئ سره اصلاح كيږى. (فى ظلال القرآن).

بيا ددے انفاق نه مراد عام صدقات او واجب انفاق دے، نهٔ زكوٰة. ځكه چه مور او پلار لره زكوٰة وركول صحيح نهٔ دى. بيا د الله تعالىٰ د حق نه روستو په بندګانو كښ د والدينو حق دے، كله چه دوى سره خپل مال نهٔ وى او كاروبار نشى كولے او بچى سره څهٔ ناڅهٔ مال وى نو په مور او پلار به انفاق كوى او دا پرے حق دے. بيا د نورو خپلوانو او يتيمانانو چه د هغوى د كارو كسب دپاره څوك نشته نو حاجت ئے زيات وى.

حديث كښ راځى : نبى كريم ﷺ اُوفرمايل : ((په خپل مور او پلار باندے خرچه كوه، په خپل خور او ورور باندے خرچه كوه، ددے نه روستو د مرتبو مطابق په نزدے خپلوانو باندے)).

(مسند احمد بسند صحيح).

ميمون بن مهران رحمة الله عليه دا آيت اُولوستلو او بيا ئے اُوفرمايل : دا د خرچے ځايونه دى، پدے كښ ئے تمبل او باجے او شپيلئ نهٔ دى ذكر كړى، او نهٔ د لرګى تصاوير او نهٔ د ديوالونو كپړے. (الطبرى).

ابو هريره رضي الله عنه فرمائى: يو سړے رسول الله ﷺ ته راغلو وے فرمايل : ما سره يو دينار دے څهٔ پرے اُوكړم ؟ وے فرمايل : په خپل ځان ئے خرچ كړه. هغه اُووئيل : ما سره بل دينار دے څهٔ پرے اُوكړم ؟ وے فرمايل : په خپل اهل ئے خرچ كړه. هغه اُووئيل : ما سره بل دينار دے؟ وے فرمايل : په خپل بچى ئے خرچ كړه. هغه اُووئيل : ما سره بل دينار دے ؟ وے فرمايل : په خپل خادم ئے خرچ كړه. هغه اُووئيل : ماسره بل دينار دے، وے فرمايل : تهٔ ښه پو هيږے.

(ابوداود والنسائى وصحيح ابن حبان ٤٢٣٣ وسنده حسن)

﴿وَمَا تَفۡعَلُوۡا مِنۡ خَيۡرٍ﴾ هر نيك عمل چه کوئ الله به د هغے اجر درکوی۔ يعنی که چا سره دے څه نيکی اُوکړه که مالی وی يا بدنی وی، وړه وی يا غټه نو د الله د علم نه بهر نۀ ده، الله به د هغے بدله درکوی۔ اګرکه دغه ذکر شوی مصارف نۀ وی۔ نو الله تعالیٰ ستا د انفاق نه هم خبر دے، او ددے د مقصد نه هم خبر دے، او د بنده د نيت نه هم خبر دے، د الله په دربار کښ د هيڅا انفاق نۀ ضائع کيږی، خو پدے شرط چه په رياء کارئ او غلط نيت سره نۀ وی، د الله تعالیٰ په دربار کښ رياکاری او دهوکه نۀ چليږی۔

كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الۡقِتَالُ وَهُوَ كُرۡهٌ لَّكُمۡ وَعَسٰٓى
فرض کړے شوے دے په تاسو باندے جنګ (د کافرانو سره) او دا بد لګی په تاسو، او کيدے شی
اَنۡ تَكۡرَهُوۡا شَيۡئًا وَّهُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ وَعَسٰٓى اَنۡ تُحِبُّوۡا شَيۡئًا
چه تاسو بد ګنړئ يو شے او حال دا چه هغه فائده مند وی ستاسو دپاره۔ او کيدے شی چه تاسو به ښۀ ګنړئ يو شے
وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمۡ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۱٦﴾
او هغه بد وی تاسو لره او الله پو هيږی او تاسو نه پو هيږئ۔

تفسير: بل حکم د قتال فی سبيل الله دے۔ چه ستاسو کور به هله جوړيږی چه د الله په لاره کښ د الله د دشمنانو سره جنګ اُوکړئ، ولے که دا نۀ وی نو نظام د کور به ورانه خراب شی، کافران به راشی ګډوډ به ئے کړی۔ او دا معنیٰ هم په دے آيت کښ پرته ده چه خير او شر به په شرع معلوميږی۔ شريعت چه يو شی ته خير اُووائی نو هغه خير دے او که شريعت ورته خير اُونۀ وائی نو هغه خير نۀ دے۔ تاسو به د ځان نه خير او شر نۀ جوړوئ۔ او دے آيت کښ قتال فی سبيل الله ته ترغيب دے۔

ربط: (۱) دويم قسم ابتلاء (الضَّرَّاء) د بدن تکليف دے او هغه په جهاد کښ وی۔ نو تاسو به جنت ته هله داخليږئ چه قتال فی سبيل الله اُوکړئ۔

(۲) مَدَارُ الۡخَيۡرِ وَالشَّرِّ فِیۡ تَدۡبِيۡرِ الۡمَنۡزِلِ بِاتِّبَاعِ الشَّرِيۡعَةِ لَا بِالطَّبِيۡعَةِ) يعنی ستاسو کور چه برابريږی نو هغه پدے طريقه چه د شريعت تابعداری اُوکړے شی، نۀ د طبيعت، لکه ستا طبيعت دا غواړی چه تهی وی کور ته راوړه، نو دا د کور برابرول نۀ دی بلکه ورانول دی، کله به ښځه وائی ګيره اُوخرئيوه نو دا د کور ورانول دی۔ يا قتال فرض دے او کور والا به وائی چه جنګ له مۀ

څه۔ ليکن تللو کښې خير دے۔

(۳) او دارنګه مخکښې فَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ سره ئے هم ربط دے چه الله امر د قتال اُوکړو نو اُوس ئے دلته فائده بيانوي، چه دے کښې ډير خيرونه دي او پدے سره د عالَم اصلاح راځي۔

﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ ﴾ په دے امت قتال في سبيل الله فرض دے چه موقعه ئے راشي نو انسان به پکښې ځان ضرور استعمالوي۔

﴿ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ﴾ (كُرْه) د کاف په پيښ سره۔ يعني مکروه شے دے چه مزاج او طبيعت ئے بد ګنړي نو د کراهت نه مراد طبعي کراهت او ناخوښي ده۔ او دا ځکه طبيعت بد ګنړي چه پدے کښې د مال لګول دي، د خپل اهل او وطن نه جدا کيدل او ځان مرګ ته وړاندے کول دي۔ د خوندونو او خوبونو او خوراکونه جدائي ده۔ او دلته (كُرْهٌ) مصدر دے، تعبير ئے په مصدر سره اُوکړو مبالغةً۔ يا كُرْهٌ په معنىٰ د مَكْرُوْهٌ دے۔ يعني طبعاً ناخوښه څيز دے۔ يا كُرْه نوم دے د (مَكْرُوْه) يعني هغه شے چه بد ګنړلے شي۔ لکه د (خُبْز) په شان۔ (ابن عاشورؒ)

كُره د کاف په پيښ سره، مشقت ته وئيلے شي او د کاف په زوَر سره، هغه شے چه تۀ پرے زور اُوکړے يعني په معنىٰ د اِكْرَاه دے۔

﴿ وَعَسٰى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ يعني کيدے شي چه ځينے څيزونه د خپلو ظاهري او مادي نقصاناتو د وجے نه تاسو ته ناخوښه وي او تاسو هغه ښۀ نۀ ګنړئ، ليکن د انجام په لحاظ سره او د پټهو فائدو په لحاظ سره هغه ستاسو دپاره د خير او برکت او د دنيا او د آخرت د کاميابئ سبب وي۔ لکه جهاد واخله چه کله نا کله د انسان ګمان ته دا خبره راشي چه خلق د کافرانو سره جنګونه ولے کوي، دا خو دهشتګردي ده، اختلافات دي، علاقے وړانول دي، ليکن الله تعالىٰ فرمائي چه دے کښې خير دے۔ ځکه په جهاد کښې خيريت دا دے چه يا خو به د الله په دشمنانو غلبه حاصله شي، او د الله د شمنان به ذليله شي، د الله دين به پورته شي، د مسلمان شان او شوکت به قائم اُوساتلے شي، د هغوي نه به غنيمتونه حاصل شي او که د کافرانو د طرف نه مسلمان ته مصيبت اُورسي، نو اجر به ورته حاصل شي، او که قتل شي نو شهادت او بيا جنت ته به اُورسيږي۔

﴿ وَعَسٰى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْئًا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ﴾ لکه انسان دا خوښوي چه کورکښې د خپلو بچو او ښځے سره کيني او خپل کاروبار کوي، ليکن دے کښې خير نشته۔ ځکه چه ددۀ نه عظيمه فريضه پاتے ده۔ د د دواړو جهانونو خساره ده ځکه چه پدے کار سره به تاسو د کافرانو د لاسه خوار او ذليله شئ، هغوي به تاسو تباه او برباد کړي، مالونه به مو لوټ کړي او ښځے او بچي به مو غلامان

کړي، ستاسو په ښارونو به قبضه اُوکړي، او ستاسو دين او دنيا به ختم کړي۔ نو دا په بله طريقه جهاد ته ترغيب دے، لهذا په جهاد کښې خير دے، دغه شان په مال لګولو کښې خير دے ځکه الله چه کوم شے اُوخودلو، نو بس هغه کول پکار دي۔ ځکه هغه د بندګانو خير خواه دے، الله باندے اختراعات کول نهٔ دي پکار چه يا الله داسے اُوکړه او دا وکړه، او دا عمل ډيے ولے فرض کړو؟ ځکه الله پو هيږي او ته نهٔ پو هيږے۔

(عَسىٰ) په لغتِ عربي کښې د اميد دپاره راځي۔ ليکن مفسرين ليکي : [عَسىٰ مِنَ اللهِ وَاجِبَةٌ] يعني عسىٰ د الله د طرف نه د وجوب او تحقيق دپاره راځي۔

﴿ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴾ پدے کښې الله تعالىٰ مونږ ته ترغيب راکوي چه هرکله الله تعالىٰ پو هيږي په خير او په شر او تاسو نهٔ پو هيږئ نو هغه ته تسليم شئ اے بندګانو !۔

فوائد : هرکله چه انسان ته د خير او د شر پوره طريقے سره معلومات نشي کيدے بلکه د هر څه پوره عِلم الله تعالىٰ ته دے، نو انسان له پکار دي :

(۱) ...... [اِمْتِثَالُ اَمْرِ رَبِّهٖ وَاِنْ شَقَّ عَلَيْهِ] (چه د الله د حکم اُومنى اګرکه په دهٔ ګران وي)۔

(۲) ...... اَلتَّفْوِيْضُ اِلٰى مَنْ يَّعْلَمُ بِعَوَاقِبِ الْاُمُوْرِ] (ځان سپارل هغه ذات ته چه هغه ته د کارونو انجام معلوم دے) نو خپل اختيار مهٔ استعمالوه۔

(۳) ...... [اَنْ لَا يَقْتَرِحَ عَلٰى رَبِّهٖ وَلَا يَخْتَرِعَ عَلَيْهِ وَلَايَسْئَلُهٗ مَا لَيْسَ لَهٗ بِهٖ عِلْمٌ]

(په الله به مطالبے نهٔ کوي او داسے څهٔ به نهٔ غواړي چه دهٔ ته په هغے عِلم نهٔ وي)۔

بلکه معلق سوال به کوي اے الله ! که پدے فلاني څيز کښې خير وي نو ما له ئے راکړه۔ ځکه کيدے شي انسان داسے څيز اُوغواړي چه په هغے به هلاك شي۔

(٤) ...... [اَنْ يُّرِيْحَ نَفْسَهٗ مِنَ الْاَفْكَارِ الْمُتْعِبَةِ وَيُفَرِّغَ قَلْبَهٗ مِنَ التَّقْدِيْرَاتِ وَالتَّدْبِيْرَاتِ] (خپل نفس له به د ډيرو اُوږدو فکرونو نه راحت ورکړي او زړهٔ به د ډيرو فرضياتو، خيالات او بے ځايه تدبيراتو نه فارغ کړي) ...... يعني داسے به نهٔ وائي که دا اُوکړم نو داسے به اُوشي۔ بلکه که يو شے ورته په شريعت کښې خير ښکاره کيدو نو هغه ډيے اُوکړي او الله ته ډيے ځان سپاري او که د شريعت خلاف ورته ښکاره کيدو نو ځان به ترے ساتي۔ هرکله چه داسے کارونه اُوکړي نو په بنده به د الله لطف او مهرباني راځي او مدد به ئے کيږي۔ (انظر بدائع التفسير)۔

يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ

تپوس کوي دوی ستا نه په باره د مياشتو عزتمنو کښې د جنګ کولو نه په دے کښې، تهٔ اُووايه جنګ کول په دے کښې

كَبِيْرٌ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ
لویه گناه ده، او خلق منع کول د الله د لارے نه او کفر کول په هغه او (منع کول) د مسجد حرام نه۔
وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ
او ویستل د حقدارو ددیے، ددیے نه، ډیره لویه گناه ده په نیز د الله۔ او شرك كول ډیره لویه گناه ده د قتل نه
وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا
او همیشه به وی دوی چه جنگونه به کوی تاسو سره تردیے چه واپس کړی تاسو د خپل دین نه که د دوی وس برشی۔
وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ
او څوك چه واوړیدل ستاسو نه د خپل دین نه بیا مړ شو پداسے حال كښ چه كافر وی نو دغه كسان
حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾
برباد دی عملونه د دوی په دنیا او په آخرت کښ او دغه کسان اُور والا دی دوی به په دیے کښ همیشه وی۔

تفسیر : پدیے آیت کښ بل حکم دیے : [تَعْظِيْمُ الْاَوْقَاتِ الْمُقَدَّسَةِ فِي الشَّرْعِ]

(په شریعت کښ چه کوم اوقاتِ مقدسه دی د هغے تعظیم کول پکار دی) لکه اشهر حرم (عزتمنے میاشتو) کښ به قتال نهٔ کویٔ، او هغه څلور میاشتے دی۔

○ او دویم قانون په دیے آیت کښ دا دیے چه څوك په دوه مصیبتونو او مشکلاتو کښ راګیر شو نو کوم چه آسان وی هغه دیے اختیار کړی۔ او د غټ مصیبت نه دیے ځان اُوساتی۔

او دا عامه اسلامی قاعده ده، په ډیرو احادیثو کښ هم ثابته ده۔ لکه دلته یو طرف ته د میاشتے عزت خرابیدل او بل طرف، ته د کافرانو فوت کیدل دی، نو خیر دیے د میاشتو د عزت نقصان دیے اُوشی، لیکن شرك غټ مصیبت دیے چه دا ختم شی۔ (دا هله چه شك وی چه میاشت داخل وه او که نهٔ ؟ کچرته یقیناً عزتمنه میاشت وی بیا د کفارو سره قتال نشته که فوت کیږی او که نهٔ۔ فتدبر)۔

○ او ظاهری فائده پکښ دا ده چه عزتمنو میاشتو کښ ابتداءً قتال کول ناروا دی، لیکن که کافرانو په تا اقدام اُوکړو نو جوابی کاروائی کول جواز لری۔ او پدیے کښ رد دیے په مشرکانو چه د بل چا گناه ته گوری او خپل غټ گناهونه تریے هیر دی۔ نو بیا په هر هغه چا رد دیے چه د بل گناه ته گوری او خپل گناهونه تریے هیر وی۔

شان نزول

دا آیت پـه هغـه خاص واقعه کښې نازل شویدے چه نبی ﷺ یـوه سریه (جماعت) اُولیږلو. اته کسان وو چه پـه هغـې کـښې سیـدنـا عمار بن یاسر، سعد بن ابی وقاص، سیدنا عتبه بن غزوان، سیـدنـا واقـد بـن عبـد الله، سیـدنـا سهیـل بن بیضاء، سیدنا عامر بن فهیرة، سیدنا ابو حذیفة بن عتبة (رضـی الله عـنهـم اجـمـعیـن) وو.او پـه دوی بـانـدے ئے سیدنا عبد الله بن جحـش ﷺ امیر مـقـرر کـړو او مکے مکرمے ته قریب د کافرانو سره ملاؤ شو، چه هغوی د طائف د طرف نه راتلل نـو دوه کسـان (الـحکـم بـن کیسـان او مـغیـرة بن عثمان) ئے تریے اُونیول او عبد الله بن المغیرة اُوتـختیـدو او واقـد بـن عبـد الله پـکـښې عـمـرو بـن الـحضرمی لره قتل کړو او څۀ اوښان ئے تریے راوستل، او دا په اسلام کښې اولنے غنیمت وو چه صحابه کرامؓ اُونیولو.او دا د رجب اوله ورځ وه لیـکـن مسـلـمـانـانـو تـه دا شك راپیښ شوے وو چه ګنے دا د جمادی الآخر آخری ورځ ده، (یعنی دیرشـم لیـکـن اتـفـاقـاً هـغـه میاشت د یو کم دیرشو وه او دا د رجب ړومبے تاریخ وو) نو مشرکانو خپلـو قیـدیـانـو پسـے فـدیـه راولیـږلـه او بیا ئے په مسلمانانو دا اعتراض اُوکړو چه دوی د ملتِ ابراهیمی نه خلاف اُوکړو او دا نبی ګمان کوی چه زۀ د الله تابعدار بنده یم او حال دا چه د عزتمنے میـاشتے اوله یے عزتی دۀ اُوکړه. او زمونږ ملګرے (ابن الحضرمی) ئے په رجب میاشت کښې قتـل کـړو. نو صحابه کرامؓ هم ډیر خفه وو چه مونږ خو ظلم اُوکړو، نو ددے اشتباه د لرے کولو دپاره ئے تپوس اُوکړو چه په میاشت د حرمت کښې قتال څنګه دے ؟ . (ابن کثیر ۱/ ۵۷٤).

بـعـض وائی دا آیت د صـلح حدیبیه په موقعه نازل شوے وو چه نبی ﷺ د عثمان ﷺ د قتـل خبره واوریـدهٔ نـو د خـلـقـو نـه ئے په قتال کولو بیعت واخستو او دا د ذی العقدے میاشت وه نو مؤمنانو تپوس اُوکړو یا مشرکانو اعتراض اوکړو چه د حرمت په میاشت کښې قتال څنګه کولے شی ؟. ابن عاشورؒ وائی دا قول د روستو (صَدٌّ عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ) سره زیات مناسب دے. آه. لیکن اول قول هم ورسره لګیږی.

نـو الله دا آیتـونـه نـازل کـړل چه ټیك ده، دے عزتمنو میاشتو کښې خو قتال کول ګناه ده، او دے کسـانـو دا کـار ښـه نـۀ دے کـړے، آینده کښې ددے کار نه اجتناب پکار دے، لیکن دومره ده چه اے مشـرکـانـو ! خپلـے ګـنـاه تـه هـم اُوګـورئ ! خپـلـه ګـناه درنه پټه ده، او بل ته ګوته نیسئ، خپلو ګـنـاهـونـو تـه هـم متـوجـه کیـدل پکار دی. نو الله هغوی ته د هغوی ګناهونه په ګوته کوی چه تـاسـو شـرك کـوئ، د الله د لارے نه خلق اړوئ، دے پیغمبر باندے کفر کوئ، الله باندے کفر کوئ، د مسجد حرام نه خلق منع کوئ او همدا حقدار خلق ددے مسجد حرام نه تاسو ویستلی دی.

دارنگه تاسو مسلمانان په فتنه کښې اچوئ او هميشه د مسلمانانو د ارتداد کوشش کوئ۔ دے ته ګناه نۀ وايئ او چه بل چا لږ معمولي نقصان اُوکړو بس تاسو د هغه ګناه نيغه نيغه کوئ، او دا د جاهلانو خلقو طريقه ده، ځان ته نۀ ګوري او بل ته ګوته نيسي۔ نو الله د مؤمنانو د طرف نه مدافعت کوي، او په دے کښې هم د اُمتِ مسلمه ناشنا تربيت دے۔ نو آيت کښې مقصد دا دے چه عزتمنو مياشتو کښې آينده دپاره قتال مۀ کوئ او مخکښې چه کوم شويدے نو مشرکان ډير اعتراض نۀ کوي ځکه چه د هغوی خپل جرمونه ډير زيات سخت دي او د هغوی سره د قتال سبب موجود دے نو هغوی دے خپلے ګناه ته فکر اُوکړي او اعتراض دے نۀ کوي۔

ربط : نو مخکښې سره ئے مناسبت واضح دے، چه قتال فرض دے خو په عزتمنو مياشتو کښې نۀ، مګر هله ئے کول جائز چه کافرانو دربانديے شروع اُوکړه۔

کله چه دا آيتونه نازل شو نو ددے واقعے متعلق عبد الله بن جحش رضی الله عنه داسے اشعار اُووئيل : ۔

تَعُدُّوْنَ قَتْلًا فِي الْحَرَامِ عَظِيْمَةً	وَاَعْظَمُ مِنْهُ لَوْ يَرَى الرُّشْدَ رَاشِدٌ
صُدُوْدُكُمْ عَمَّا يَقُوْلُ مُحَمَّدٌ	وَكُفْرٌ بِهٖ وَاللّٰهُ رَاءٍ وَّشَاهِدٌ
وَاِخْرَاجُكُمْ مِنْ مَسْجِدِ اللّٰهِ اَهْلَهٗ	لِئَلَّا يُرٰى لِلّٰهِ فِي الْبَيْتِ سَاجِدٌ
فَاِنَّا وَاِنْ عَيَّرْتُمُوْنَا بِقَتْلِهٖ	وَاَرْجَفَ بِالْاِسْلَامِ بَاغٍ وَّحَاسِدٌ
سَقَيْنَا مِنِ ابْنِ الْحَضْرَمِيِّ رِمَاحَنَا	بِنَخْلَةَ لَمَّا اَوْقَدَ الْحَرْبَ وَاقِدٌ
دَمًا وَابْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عُثْمَانُ بَيْنَنَا	يُنَازِعُهٗ غُلٌّ مِنَ الْقَدِّ عَانِدٌ

(ابن کثير ۱/۵۷۸)

○ تاسو په عزتمنه مياشت کښې قتل عظيم جرم ګنړئ او حال دا چه هوښيار سړی ته ددے نه غټ جرم دا ښکاري......

○ چه تاسو د محمد (ﷺ) د خبرو نه خلق منع کوئ او په هغه کفر کوئ او الله ستاسو دا عمل ويني او حاضر دے۔

○ او تاسو د الله د مسجد نه حقدار د هغے ويستلي دي، دے دپاره چه د الله په کور کښې الله ته څوك په سجده اُونۀ ليدلے شي۔

○ نو که تاسو مونږ ته د (ابن الحضرمي) په وژلو پيغور راکوئ او په اسلام پسے باغي او حسد کونکے ډنډوره (هم) اُوکړي۔ (نو هيڅ پرواه نشته بلکه) ......

○ مونږ د عمرو بن الحضرمي د وينو نه خپلے نيزے په نخله مقام کښې خړوبه کړے کله چه واقد جنګ بل کړو او عثمان بن عبد الله زمونږ ترمينځ د څرمنے په هتکړو کښې په زوره سره

راخکلے شو)۔
﴿ اَلشَّهۡرُ الۡحَرَامُ ﴾ پدے کښ الف لام جنسی څلور واړه میاشتو د عزت ته شاملیږی۔
﴿ قِتَالٍ فِيۡهِ ﴾ دا د (الشهر الحرام) نه بدل اشتمال دے۔ مطلب دا شو چه تپوس کوی ستا نه په باره د جنګ کولو کښ په دے میاشت کښ چه آیا دا جائز دے او که حرام ؟۔او فائده په بدل اشتمال راوړو کښ اهتمام د میاشتے دے د قتال په باره کښ، نۀ اهتمام د قتال په باره د میاشت کښ۔
﴿ قُلۡ قِتَالٌ فِيۡهِ كَبِيۡرٌ ﴾ (قِتَال) ئے اسم ظاهر راوړو دپاره ددے چه حکم د عزت تولو میاشتو ته شامل شی، او که تخصیص مراد وے، نو بیا به ئے ضمیر راوړے وے کوم چه په تعیین او تخصیص دلالت کوی۔ او قِتَالٌ ئے نکره راوړه ځکه چه یو معین قتال نۀ دے مراد، بلکه هر قسمه قتال مراد دے ځکه چه د عبد الله بن جحش ﷺ قتال کبیره ګناه نۀ وه۔او دا دلیل دے چه دا حکم اُوس هم باقی پاتے دے او منسوخ شوے نۀ دے۔
(کبیر) غټے جُثے والا او قوی څیز ته وئیلے شی دلته مراد غټے ګناه والا دے۔
﴿ وَصَدٌّ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ﴾ صَدٌّ په ترکیب کښ مبتداء ده او اَكۡبَرُ ئے خبر دے۔
ددے ځائے نه شپږ علتونه ذکر کوی چه د مشرکانو سره په عزتمنو میاشتوکښ قتال جائز کوی۔ چه اے مشرکانو! تاسو شپږ کارونه کوئ دا خو اکبر (ډیر غټ) ګناهونه دی په نسبت د هغه عمل چه مسلمانانو ستاسو په مخالفت کښ کړیدے لهذا د دفعے دپاره قتال جائز کړے شو۔
او دا (صَدٌّ) اول سبب دے۔
(صَد) منع کول او اړولو ته وائی۔ او سبیل الله عام دے، اسلام، هجرت، حج، عمرے، قرآن او نبی ﷺ تولو ته شامل دے بلکه که څوك د دین د یوے مسئلے نه خلق منع کوی، نو هغه هم پدے کښ داخل دے۔
﴿ وَكُفۡرٌۢ بِهٖ ﴾ دا دویم علت دے او (بِهٖ) ضمیر الله ته راجع دے۔ یعنی د الله د ذات او د صفاتو او احکامو نه انکار کول او د هغه سره شریکان جوړول۔ یا سبیل ته یا نبی ته راجع دے۔
﴿ وَالۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ ﴾ دا مجرور دے په (سَبِيۡلِ الله) باندے عطف دے، او د (صَد) د لاندے داخل دے۔ او دا دریم علت دے یعنی دوی د مسجد حرام نه خلق منع کوی، او دا نبی کریم ﷺ او صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ئے د صلح حدیبیه په موقعه کښ منع کړی وو، او دغه شان عام مسلمانان به ئے نۀ پریخودل، د الله نبی ﷺ به ئے په مسجد حرام کښ تنګولو، کله به ئے پرے لری او پریوانونه ارتول او کله به ئے د ځادر نه راخکلو او قسماقسم اذیتونه او تکلیفونه به ئے ورته رَسَول۔

○ يا دا پـه ضـميـر د (بِهٖ) بانـدې عطف دې او دا د كوفيانو په نيز جائز دې۔ (يعني كفر كول په مسـجـد حـرام باندې)۔او په مسجد حرام باندې د كفر كولو نه مراد د طواف او مونځونو نه خلق منع كول دي۔

﴿ وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ ﴾ دا څـلـورم عـلـت دې۔ دواړه ضميرونه مسجد ته راجع دي، يعني د مسجد حـقـدار خـلـق (چه دا نبي ﷺ او صحابه كرام رضى الله عنهم دي) دا ئې د دې مسجد نه ويستلي دي۔ او د مسـجـد د اهـل نـه مراد مؤمنان دي چه دوى د مسجد لائق دي، او ديته په سورة الانفال (٣٤) آيـت كـښې اولياء وئيـلـې شـويـدي۔ او دوى ته اهل او اولياء ځكه وئيلې شي چه دوى اصلي وارثان د ابراهيم عليه السلام دي كوم چه كعبه جوړه كړې وه۔

﴿ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ﴾ دا د (صَدٌّ) دپاره خبر دې، يعني دغه مذكوره كارونه د الله په نيز په اعتبار د ګناه سره ډير غـټ دي ددې نـه چه يو مشرك په اشهر حرم كښې مړ شي، هغې كښې دومره ګناه نشته۔ دارنګه قتال د عبد الله بن جحش رضی الله عنه د رجب په مياشت كښې په دې ګمان سره وو چه دا رجب نۀ دې۔ او مشـركـان خو دا جرمونه د حرمت په مياشتو كښې قصداً او يقيناً كوى لهذا د دوى د قتل اسباب موجود وو۔ نو ولې دا اعتراضونه كوى۔

﴿ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ﴾ دا پنځم علت دې، او په دې كښې دوه معنے دي :

(١) يو دا چه شرك د مشركانو ډيره لويه ګناه ده د قتل د يو مشرك نه په دې مياشتو كښې۔

(٢) دويـم دا چـه د ديـن اسلام نه د مسلمانانو اړول په شبهاتو اچولو سره، يا په عذاب وركولو او مـصـيبـتـونـو كـښې اخته كولو سره او منع كول د هغوى د ايمان نه او په قول او فعل سره د هغوى تـنـګـول دا ډير غټ جرم دې ځكه چه په ډيرو كفرياتو او مظالمو باندې مشتمل دې۔ نو دا د قتل نـه هـم زيات بـد كـارونـه دي۔ لهـذا د مشركانو دا دليل نيول چه مسلمانانو د عزتمنو مياشتو د احترام هيڅ خيال نۀ دې ساتلې، يا د بيت الحرام د حرمت هيڅ خيال ئې نۀ دې كړې، دا خالصه يوه پروپيګنډه ده او بې اعتباره خبره ده ځكه چه په حقيقت كښې همدوى هغه خلق دي چه د مقدس حـرم هيـڅ احتـرام نـۀ كـوى او د هغې تقدس ئې پائيمال كړيدې، او بيا مسلمانانو ته ددې د تقدس خيال نۀ ساتلو پيغور او عار وركوى۔ دا سراسر بې انصافي ده۔

﴿ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ ﴾ دا شپږم عـلـت دې او په دې كښې قتال ته ترغيب وركوى ځكه چه ددې مـخـكـښې واقـعـې نه صحابه كرامؓ په خطره كښې شو چه دا خو مونږ د ګناه كار اُوكړو، نو دا وَهم او ګمان كيدې شو چه بيا به جنګونو له نه ځو، كيدې شي چه دغه شان ګناه رانه سرزد شي؟ نو الله رب الـعـزت تـرغيب وركوى چه هغوى تاسو سره هميشه جنګونه كوى، نو تاسو به د جنګ نه

نهٔ یریږئ، که په یو ځائې کښې درنه خطائي اُوشوله نوخیر دې، ددې خو دا معنیٰ نهٔ ده چه تاسو به جهاد پریدئ۔
دارنګه کافران ستاسو د مرتد کولو کوشش کښې لګیا دي نو سبب د قتال موجود دې۔
دارنګه اقدام هم دربانديې هغوی کوی نو تاسو له د هغوی سره مقابله بالکل پکار ده۔
په بـل تـعبیـر سره الله تعالیٰ پدې آیت کښې مسلمانانو ته دا حقیقت ښکاره کوی چه د کوم شر سره ستاسـو مـقابله ده نو دا څه سطحی (سرسری) شر نهٔ دې، بلکه دا ډیر زوور شر او فساد دې، د دشمـنـانو منصوبه ډیره زوره ده او هغوی پدې باندې د اصولو په طور کللك روان دی۔ هغوی په زمکه باندې د اسلام وجود نهٔ برداشت کوی۔
﴿ اِنِ اسْتَطَاعُوْا﴾ پـدې شرط ذکـر کـولـو کـښې حـکـمت دا دې چه پدې کښې اشاره ده د صحابه کـرامو د ایمان قوت ته چه د مشرکانو د هغوی په مرتد کولو باندې وَس نهٔ رسی۔ او اشاره ده چه د مشرکانو کوششونه د هغوی په مرتد کولو کښې عبث او باطل دی۔
﴿ وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ ﴾ پـدې آیت کښې اشاره ده چه د دین نه هغه څوك اَوړی چه جهادونه نـهٔ کـوی، په کـوم مـلك او کـومه علاقه کښې چه جهاد ختم شي، نو خلق به ئې ډیر مرتد کیږی، لـکـه دې زمـانـه کـښې د جـهـاد د کموالي د وجه نه خلق په قسماقسم تنظیمونو او غلطو پارټیانو کـښې ننـوتـل، عـقـیـدې ئې خـرابې شـوې۔ او پـدې جـمـلـه کـښې د موقع مناسب یوه تنبیه ده چه مسـلمانانو ته ورکړې شویده چه که دوی د کافرانو د ظلم او زیاتی نه په رعب کښې شي او د خپل دیـن نـه واوړی او بیا پـدې حالت کښې ورله مرګ راشي، نو د دوی مخکښې کړی ټول نیك اعمال به برباد وی۔ والعیاذ بالله۔
﴿ فَيَمُتْ ﴾ دا قـیـد څـکـه لـګـوی چه کـه یـو انسان مرتد شي او د مرګ نه مخکښې بیرته ایمان راوړی، نو د هغه ایمان معتبر دې، لیکن غالباً کوم انسان چه په خپله خوښه کفر اختیارکړی، نو هغـه ته د ایمان توفیق نهٔ ملاویږی۔ څومره رحیم رب دې چه د هغه بنده ته هیڅ ضرورت نشته او بیا هم د مرګ نه مخکښې توبه ویستلو باندې راضي کیږی!!۔
﴿ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ﴾ حَبِطَتْ د حُبُوْط نه دې، عرب وائي حَبِطَتِ النَّاقَةُ (اُوښـه چه کـلـه یـو ضـرری بوټې اُوخوری او د هغې په وجه ئې خیټه اُوپړسیږی او هلاکه شي) الله تـعـالـیٰ د کـافـرانو د عـمـلـونو دپاره داسې لفظ استعمال کړې چه په هغې سره د حسي او معنوی مـفـهـومـونو مـطـابـقت هم معلومیږی۔ لکه څنګه چه اُوښه په ظاهره کښې د نقصاني بوټي په خوړلـو سره اُوپړسیږی لیکن انجام ئې هلاکت وی، دغه شان د کفارو اعمال ډیر غټ او پړسیدلی

معلومېږي، ليکن د هغې انجام هيڅ نۀ وي، بلکه تباه کېږي به او بې اثر به وي او هيڅ صحيح نتيجه به ئې نۀ وي، او دا حال به د هغه شخص هم وي چه د اسلام د پيژندلو او د تجربه کولو نه روستو، د مصيبتونو او ضررونو نه د ګبراويدو په وجه ددې نه مخ واړوي۔

او د الله تعالىٰ په نيز باندې عمل ډير قدر او شرافت لري، پدې وجه ئې په سزا کښې د عمل برباديدل ذکر کړل، او د عمل د برباديدلو نه په الله تعالىٰ پورې امان طلب کول پکار دي، ځکه چه ډيرو خلقو د کفارو مجرمينو روسانو سره جهادونه کړي وو، ليکن روستو د دنياوي لالچ او کرسۍ په طمع د صليبيانو حيله ګرو ملګري شو۔ [اَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْ دَيْدَنِهِمْ]

کوم زړۀ چه د ايمان ذوق او خوند اُوڅکي، او په صحيح طريقه اسلام اُوپيژني، نو ددې خبرې هيڅ امکان نشته چه هغه في الواقع اسلام پريدي او د ارتداد لاره اختيار کړي۔

د حبط (يعنى د عمل د برباديدو) مصداقات

بيا ځوک چه د اسلام نه واوړيدو نو ددۀ عملونه په دنيا کښې برباديدل دا دي چه دۀ ته به په دنيا کښې ځوک مجاهد، مؤمن، متقي او مونځ کونکے نۀ وائي بلکه مرتد به ورته وائي۔

او په دنيا کښې هم د نيك اعمالو بدله شته، الله تعالى به ئې د هغې نه محروم کړي۔

دارنګه دا به قتل کولے شي کله چه د مسلمانانو پرې وَس بَر شي۔ حديث دے:

[مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهٗ فَاقْتُلُوْهُ الحديث......] [بخاری ٢٨٥٤]

(چا چه دين پريخودو هغه قتل کړئ)۔

او که مقابله کوي نو جنګ به ورسره کولے شي۔ دارنګه د اسلامي رياست د تولو مدني حقوقونه به محروم کيږي۔ او مؤمنان به ورسره هيڅ قسم تعلق او دوستانه نۀ ساتي، او نصرت او مدد به ئې نشي کولے، او ښځه به ترې جدا کړے شي، او د مسلمانانو د ميراث نه به محروم کړے شي۔ او په آخرت کښې ئې هم عملونه برباد شو، هيڅ اجر به ورته نۀ ملاوېږي او د جهنم په اُور کښې به هميشه وي۔

د ﴿ اَعْمَالُهُمْ ﴾ نه هغه نيك اعمال مراد دي چه د اسلام په حالت کښې ئې کړي وو يعنى مونځ روژه، زکاة، حج وغيره۔

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ
يقيناً هغه کسان چه ايمان ئې راوړے او هغه کسان چه هجرت ئې کړے او جهاد ئې کړيدے په لاره

اللهِ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللهِ وَاللهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۱۸﴾

د الله کښې دا کسان امید لري د الله د رحمت او الله بخونکے، رحم کونکے دے۔

تفسیر : ربط : ۱- اُوس د مرتدینو په مقابله کښې ایمان والو ته زیرے بیانیږي، او پدے کښې ایمان، هجرت او جهاد ته ترغیب ورکوي چه هرکله تاسو پدے کارونو همیش والے کوئ۔نو ستاسو عملونه به د بربادیدو نه محفوظ شي۔ او د ایمان والو دا درے صفتونه په قرآن کریم کښې غالباً یو ځائے ذکر کیږي۔ایمان، هجرت او جهاد۔ ځکه چه ایمان اصلي شے دے او جهاد او هجرت د هغې محافظ او مددګار دي۔

بله وجه دا ده چه د درے وارو ملازمه ده، هجرت او جهاد بغیرد ایمان نه قبول نهٔ دي، او دے دوارو سره د ایمان تاکید او مضبوطوالے راځي او جهاد بغیر د هجرت نه پوره طریقے سره نهٔ شي کیدے۔ قاله الحافظ ابن قیم فی زاد المعاد وانظر فتاوی الدین الخالص (۸۹/۹)۔

او پدے کښې مسلمانانو ته دا لارخودنه هم ده چه د کافرانو د ظلمونو جواب ارتداد نهٔ دے بلکه هجرت او جهاد دے۔

۲- ربط : پدے آیت کښې دغه سریه (فوجي دستے) ته بشارت دے کومو چه په شهر حرام کښې قتال کړے وو۔ ۳- پدے آیت کښې د ارتداد نه د حفاظت لاره او سبب بیان شویدے۔

﴿وَهَاجَرُوْا﴾ هجرت په لغت کښې ترك (پریخودلو) ته وئیلے شي، د ایمان والو ژوند به د هجرت نه خالي نهٔ وي، ضرور به په یو قسم هجرت کښې وي، (۱) غټ هجرت دا دے (لکه حدیث کښې دي : اَنْ تَهْجُرَ مَا كَرِهَ رَبُّكَ) (ستا رب چه کوم شے بد ګنړي او حرام کړے ئې دے هغه پریدے) [وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ] [صحیح بخاري] (کامل مهاجر هغه دے چه د الله تعالیٰ حرام کړي کارونه پریدي) او پدے معنیٰ باندے هر مسلمان مهاجر دے۔

(۲) دویم هجرت د دار الحرب نه دار الامان ته اګرکه د کفر ملك وي۔ لکه حبشو ته هجرت شو۔ (۳) دریم هجرت د دار الکفر نه دار الایمان ته لکه هجرت د مکے نه مدینے ته۔

(٤) هجرت د دار الفسوق نه دار الطاعة ته۔ یعنې په یوه علاقه کښې فسق او فجور کیږي نو هغه علاقے ته هجرت اُوکړه چه په هغې کښې د الله طاعتونه کیږي۔

(۵) هجرت د بدانو د مجلس نه د نیکانو مجلس ته (یو مجلس کښې غیبت او بهتان او کنځل او مؤمنانو پورے توقے کیږي نو د نیکانو مجلس ته هجرت واجب دے)۔

مؤمن سړے به هر وخت پدے فکر کښې وي چه زهٔ کوم ځائے اُوسیږم، او کوم مجلس کښې

ناست يم، آيا دلته د الله طاعت او بندګي كيږي او كه نهٔ؟ زما عبادات برابر دي او كه نهٔ؟۔ او دين دومره قيمتي شے دے چه د دين د حفاظت دپاره به ايمان والا خپل كور، مال، او بال بچ، پوله پټے، امامت، عزت او مشرى پريدى۔

﴿وَجَاهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ دا ورسره ځكه وائى چه په نفسِ هجرت كار نهٔ كيږى بلكه د هجرت نه پس به د الله په لاره كښ د هغه د دين د غالبه كولو دپاره جهادونه كوى نو بيا ډيے دوى د الله د رحمت اُميد اُوساتى۔

(جهاد) په لغت كښ كوشش ته وائى او په شريعت كښ [بَذْلُ النَّفْسِ وَالْمَالِ لِاِشَاعَةِ الْاِسْلَامِ] ته وائى (يعنى خپل نفس او مال د اسلام د خورولو دپاره لګول)۔

جهاد هم د مؤمن داسے صفت دے چه ددهٔ نه نهٔ جدا كيږى، مؤمن سړے به هميشه په جهاد كښ وى، د جهاد د ديارلسو اقسامو نه په يو قسم كښ به ضرور مصروف وى:

۱- جهاد بِتَعَلُّمِ الْعِلْمِ (دين زدهٔ كول) ۲- (وَتَعْلِيْمِهٖ) (دين بيانول)۔

۳- وَالْعَمَلِ بِهٖ (په دين باندے عمل كول) ٤- وَالصَّبرِ فِيْ ذٰلِكَ (د دعوت او د تعلم او د عمل په تكاليفو صبر كول) دا جهاد د نفس سره وى۔

○ د شيطان سره جهاد دوه قسمه دے۔ ۱- بِدَفْعِ الشَّهَوَاتِ (د خواهشاتو په دفع كولو سره د شيطان مقابله كول) ۲- بِدَفْعِ الشُّبُهَاتِ: (د شيطان غلطے شبهے او وسوسے دفع كول)۔

○ د كفارو سره جهاد په څلورو طريقو دے: ۱- بِالْقَلْبِ (په زړهٔ بد ګڼړل)

۲- بِاللِّسَانِ (په ژبه باندے د هغوى مقابله كول) ۳- بِالسَّيْفِ وَالسِّنَانِ (په توره او نيزه باندے)

٤- بِالْمَالِ: په مال لګولو سره د هغوى مقابله كول۔

○ بل جهاد المنافقين دے۔ دا په يو څو طريقو دے: ۱- بِالْغِلْظَةِ عَلَيْهِمْ: (هغوى سره سختى كول)۔ ۲- بِاِقَامَةِ الْحُدُوْدِ (هغوى باندے حدود نافذ كول) ۳- بِاِكْفِهْرَارِ الْوَجْهِ) هغوى ته مخ توروُل او تندے ترېوُل۔ مؤمن به په دے جهادونو كښ ضرور مصروف وى۔

﴿اُولٰئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَةَ اللهِ﴾ رجاء ديته وائى چه بنده نيك عمل كوى (يعنى اسباب ئے تيار كړى وى) او د الله نه اميد لرى۔ (لكه دلته ئے درے اسباب تيار كړيدى)۔

(۱) دا يا جمله خبريه ده لكه همدا خبره ظاهره ده يعنى دا قسم خلق د الله تعالىٰ د رحمت اميد لرى ځكه چه اسباب ورسره دى، بے اسبابو اميد هسے تمنى ده۔

(۲) يا دا جمله خبريه ده په معنىٰ د انشاء ده يعنى (فَلْيَرْجُوا رَحْمَةَ الله) دوى ډے د الله د رحمت اُميد اُوساتى، الله به ضرور د دوى اميد پوره كړى او خپل رحمت به وركړى۔

د مهاجرین او انصارو مخلصین مؤمنان اگرچه په تعداد کښې ډیر کم وو لیکن هغوی په غورونو دا وعده اوریدلے وه نو پدے وجه هغوی جهاد اوکړو او په مشکلاتو باندے ئے صبر اوکړو، نو الله تعالیٰ ورسره وعده پوره کړه، بعضو ته شهادت نصیب شو، او بعضو ته د الله نصرت اورسیدو، او دواړه خیر دے، او دواړه د الله رحمت دے، او دغه خلق د الله د مغفرت او رحمت په مرتبو باندے کامیاب او کامران شو۔

او حافظ ابن کثیرؒ او ابن جریرؒ په خپل سند سره د عروه بن الزبیر رحمه الله نه نقل کوی چه کله دا مخکنی آیتونه نازل شو نو د عبد الله بن جحشؓ او د هغه د ملگرو خفگان زائل شونو د اجر په طمع شو او نبی ﷺ ته ئے اوفرمایل: آیا زمونږ دپاره به ددے غزا اجرد مجاهدینو او مهاجرینو راکړے شی؟ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه الله تعالیٰ ددوی اجرنهٔ دے برباد کړے، او ترغیب ئے ورکړو چه آینده کښې هم جهادونه کوئ او که کومه خطائی اوشی نو الله غفور رحیم دے۔ او دا دلیل دے چه په اجتهادی خطائی سره هم انسان ته اجرضرور ملاویږی۔

○ قتاده رحمه الله وائی: الله تعالیٰ پدے ایت کښې د محمد ﷺ د ملگرو – چه هغه ددے امت غوره خلق دی – ښائسته صفت کړیدے بیا ئے دوی امید والا کرخولی دی، ځکه چه څوك امید لری هغه طلب کوی او څوك چه یره کوی هغه تیخته کوی۔ (فتح البیان)۔

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ
او دوی تپوس کوی ستا نه په باره د شرابو او جوارئ کښې ته اُووایه په دے دواړو کښې گناه ده لویه او لړے فائدے دی
لِلنَّاسِ وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا وَيَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ
دپاره د خلقو او گناه د دے دواړو ډیره لویه ده د فائدے د دے نه۔ او دوی تپوس کوی ستا نه چه څهٔ خرچ کړی دوی
قُلِ الْعَفْوَ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱۹﴾
اُووایه زیاتی مال۔ دغه شان بیانوی الله تعالیٰ تاسو ته حکمونه خپل دے دپاره چه فکر اُوکړئ۔

تفسیر: پدے آیت کښې څلورم حکم دے چه د تدبیر منزل سره تعلق لری۔او هغه دا چه شراب او جواری به ستاسو په علاقه کښې نهٔ وی ځکه چه پدے سره په کور او معاشره کښې فساد پیدا کیږی۔ قتل وقتال، دشمنیانے دے سره پیدا کیږی، عزتونه پدے ختمیږی، د الله تعلق دے سره کټ کیږی، ځکه انسان دے سره د مانځه او د الله د ذکر نه غافله کیږی۔ نو کله چه داسے گنده

معاشره وي نو دوی سره د الله مدد چرته راځي؟ او هغوی د الله د خلافت لائق چرته کرځي؟ د دين مشری الله تعالیٰ هغه چا له ورکوی چه دا ګندونه پکښ نهٔ وی. نو الله تعالیٰ د صحابه کرامؓ د معاشرے تربيت په تدريج سره کولو، پدے وجه ئے شراب هم په تدريج سره حرام کړل.

شراب او جواری د عربو داسے لذتونه وو چه هغوی پکښ د غوړونو پورے غرق وو او دا ئے طبيعت ګرځيدلے وو ځکه چه د هغوی مخے ته څهٔ اُوچت مقاصد نهٔ وو چه هغوی پکښ مصروف شوی وے، او قيمتی اوقات ئے په هغے کښ تير کړی وے نو الله تعالیٰ ئے اُوچت مقاصدو طرف ته متوجه کوی نو ځکه ئے د شراب او جوارئ نه درجه په درجه اړوی.

ربط الآية : (۱) احکام د تدبير منزل بيانول شروع دی. (۲) يا د امة مسلمه تربيت شروع دے، دا بل تربيت دے. (۳) مخکښ جهاد او انفاق ته ترغيب وو نو د هغے په ضمن کښ اُوس په خمر او ميسر باندے د مال لګولو نه منع بيانيږی.

بيا پدے آيت کښ يوه مسئله ده او يو قانون دے. مسئله دا ده چه د شرابو او جوارئ نه ځان ساتل پکار دی ځکه دے کښ نقصانات دی چه پدے سره معاشره خرابيږی.

شان نزول : د آيت نزول پدے طريقه شوے وو چه اول کښ شراب او جواری حلال وو، نو بعض صحابه کرامؓ شراب څکلی وو، او په خپل مابين کښ ئے اشعار وئيلی وو، او د فخر خبرے ئے کړے وے او يو کس په کښ وهلے شوے وو، نو نبی کريم ﷺ ته شکايت اُوکړے شو؟ نو دا آيتونه نازل شو چه په شرابو او جوارئ کښ معمولی شان فائدے دی خو ددے نه ډير ګناهونه او نقصانات پيدا کيږی. نو ځان ترے ساتل پکار دی يعنی ذريعه د ګناه ده او خپله ګناه نهٔ ده، نو ډيرو مسلمانانو ترے ځان اُوساتلو چه هرکله دے کښ نقصانات شته نو نهٔ به ئے څکو، ليکن حرام شوی نهٔ وو. بعض کسانو به بيا هم څکل.

عبد الرحمن بن عوف ﷺ څهٔ صحابه کرامؓ ميلمانه کړل او طعام ئے پرے اُوخوړلو، پدے کښ علی بن ابی طالبؓ ئے جُمعے ته مخکښ کړو نو هغه ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ﴾ کښ د ﴿لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ﴾ په ځائے (أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ) اُولوستلو.(چه معنیٰ ئے بالکل شرکی شوه). نو الله تعالیٰ د سورة النساء آيت راوليږلو ﴿لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارٰى﴾ چه د مانځه په وخت کښ ئے مهٔ سکئ؛ نو چا به چه سکل نو د ماسخوتن مانځه نه روستو يا سحر نه تر غرمے پورے وخت کښ به ئے سکل چه مانځه ته به ئے نشه ختمه شوے وه.

بيا عمر بن الخطاب ﷺ اُوفرمايل : [اَللّٰهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شَافِيًا] (اے الله ! زمونږ دپاره د شرابو په باره کښ شافی بيان اُوکړه) مقصد ئے دا وو چه دا حرام شی نو بنهٔ به وی، نو الله تعالیٰ د

سورة المائدې (۹۱)آیت ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُنْتَهُوْنَ﴾ نازل کړونو امیر المؤمنین عمر بن الخطاب ﷺ
اُوفرمایل :[اِنْتَهَيْنَا اِنْتَهَيْنَا] (مونږ منع شو، مونږ منع شو) (ابن جریرالطبرئ)
او خلقو د شرابو کتموئ او بوتلو نه مات کړل او شراب ئې واړول چه د مدینې کوڅې د هغې نه بهیدلې۔ دا قیمتی مالونه وو لیکن کله چه د عظیم ذات امر راغلو، بیا ئې هیڅ ته اُونهٔ کتل۔ او نشه پریخودل ډیر ګران وو لیکن کله چه د الله خوف زړهٔ ته کوز شی، بیا هیڅ نشه پریخودل ګران نهٔ وی، دا ټول مشکلات انسان ته پدې وجه راپیښیږی چه هغه د خپل نفس د خواهش تابع وی او خوفِ الهی د هغه زړهٔ ته نهٔ وی کوز شوې۔یا هغهٔ نشه ورته ګناه نهٔ ښکاری، بعض خلقو د نسوارو او سیګریټو نه یو غټ غرجوړ کړې وی او ددې پریخودل ورته انتهائی مشکل بلکه مرګ ښکاری۔
د صحابه کرامؓ نه عبرت اخستل پکار دی۔
بیا پدې آیت کښې دوه قوله دی :
(۱) تفسیر سراج المنیر او تفسیر التسهیل کښې لیکی: چه پدې آیت سره شراب حرام شویدی ځکه چه د﴿فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ﴾ معنیٰ دا کوی چه هرکله چه پدې دواړو کښې لویه ګناه ده او د وړې ګناه نه ځان ساتل لازم دی، نوپاتې لا دغټې ګناه نه، لهذا دا آیتِ کریمه په تحریم کښې صریح دې۔
(۲) مشهور قول چه د شان نزول نه معلومیږی، دا دې چه پدې سره شراب نهٔ دی حرام شوی بلکه پدې کښې د شرابو یو قسم عیب خودل شویدې او صراحةً حرمت پکښې نهٔ وو نازل۔ او د(فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ) معنیٰ دا ده [يُنْشَأُ مِنْهُمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ] یعنی ددې دواړو نه غټ ګناهونه راپیدا کیږی۔ یعنی دا د غټو ګناهونو سبب جوړیږی۔
بنا پدې تفسیر باندې پدې آیت کښې **قانون** او فائده دا ده چه یو شې دې چه په هغې کښې مصلحت هم وی او مفسدت هم، خیر هم وی او شر هم۔ نو دواړو کښې به کتلې شی، که خیرئې غالب وو او شرئې کم وو، نو لږ شرته به نهٔ ګورې بلکه ډیر خیر ته به ګورې او که شرئې غالب وو، نو لږ خیر ته به نهٔ ګورې۔ د لږ خیر دپاره به دډیر شر والا کار نهٔ شی اختیارولې۔ او که دواړه علی السویه (برابر) وو، نو بیا به ددې نه ځان ساتی، او بل کار ته به رجوع کوی۔
او دا قانون دې چه [اَلشَّرِيْعَةُ جَاءَ تْ لِاِعْدَامِ الْمَفَاسِدِ وَتَقْلِيْلِهَا وَتَوْلِيْدِ الْمَصَالِحِ وَتَكْثِيْرِهَا]
(شریعت د مفاسدو د ختمولو یا دکمولو دپاره او د مصلحتونو د راپیدا کولو او ډیرولو دپاره راغلې دې) او دا د شریعت مقصد دې۔
نو مصلحت په شرابو کښې دا دې :[فَاِنَّ الْمُدَامَ تُقَوِّى الْعِظَامَ وَتَنْفِى التَّرَحَ] (مقامات حریری) شراب

هډوکی مضبوطوی او غمونه او خفګانونه ختموی)، په جنسی قوت کښې اضافه پیدا کوی، او طبیعت خوشحاله کوی، او په تجارت کښې ئے زیاته ګټه کیږی،

او بعض مرضونه پرے دفع کیدل (په هغه وخت کښې چه حرام نهٔ وو او پس د حرمت نه مرضونه زیاتوی) .... او مفسدت ئے دا دے چه شراب اُوسکی نو الله به نهٔ پیژنی، عقل به ئے لاړ شی، خور او مور به نهٔ پیژنی، زنا ګانے به کوی، د خولے نه به ئے ګندۍ راخیژی، مونځ، ذکر او هیڅ عبادت په صحیح طریقه نهٔ شی کولے۔ پدے سره ئے تنده نهٔ ماتیږی، د ماشومانو ذهنی او جسمانی ترقی بنده شی، نسل ئے ضعیف پیدا کیږی، قوت ارادی کمزورے شی، تی بی بیماری اُولګی، د زړهٔ او د وینے په رګونو باندے اثر غورځوی اونورے ډیرے بیماریانے پیدا شی۔

(تیسیر الرحمٰن)

خیته غتهوی، د طعام شهوت ئے ختم شی، جګر کښې سوزش پیدا کوی، ګردے کمزوری کوی، بوډاوالے په جلتئ سره راولی ځکه شرایین رګونه کلك شی۔ مالی ضرر ئے دا دے چه د انسان اقتصاد او مالداری ختموی او د ښځے او د اولادو واجبے نفقے ختمیدو ته ئے رسوی۔

اجتماعی ضرر ئے دا دے چه د نشه یانو همیشه جګړے وی چه د هغے نه کله لوئی حادثات او قتلونه او زخمونه پیدا شی۔

ادبی ضرر ئے دا دے چه نشائی ذلیل او سپك وی، د مسخرو او خندا لائق جوړ شی ځکه چه خبرے، هیئت او حرکات ئے ګډوډ وی، کنځل او بد رد کوی، پدے وجه شرابو ته ام الخبائث (د ګندګو مور) وائی۔ پدے سره د خلقو رازونه ښکاره کولے شی۔ (التفسیر المنیر) ...... او د شرابو فائدے په نورو دوایانو او خوراکونو کښې شته نو د شرابو څکلو ته ضرورت راپیښ نهٔ شو۔

دارنګه جواری کښې لږ ساعت فائده ده چه په لږ وخت کښې به ډیرے پیسے اُوګټی او په غریبانو باندے به ئے د ریاء او سُمعت دپاره تقسیم کړی۔ لیکن ضرر ئے دا دے چه دے سره دشمنی او بغض پیدا کیږی، د الله د ذکر او د مانځه نه غفلت راځی او په مسلمان باندے ظلم راځی، دارنګه د جوارئ د بیللو د وجه نه غلا او ډاکے پیدا کیږی۔

دا قاعده چه کله انسان ته معلومه شی نو الله تعالیٰ انسان ته د دین فقاهت ورنصیب کوی۔ ډیر مسائل پرے حل کیږی۔ لکه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ د مبتدعینو جهمیه او معطله ؤ سره ملګرتیا اُوکړهٔ د تتاریانو په خلاف او دوی ئے ځان سره ملګری کړل او د تتار په خلاف ئے جهاد اعلان کړو، او دا ئے اُوفرمایل : چه تتار عظیم شر دے، کفار دی د دوی په شریکه ختمول پکار دی، او د جهمیه او مبتدعینو شر د هغوی نه کم دے، ځکه چه د مسلمانانو نوم پرے پروت دے نو د

لوئی شر د ختمولو دپاره د وړوکی شر والا سره ملګرتیا جائز دَه۔ او خپل کورنی اختلاف سره په روستو ګورو۔ او دا د دین فقاهت دے۔

حکمت: ددے آیت او ددے په شان آیتونو نه د اسلامی نظام تربیت او د قرآنی منهج تعمیر او د ربانی تعلیم یو خاص انداز مینځ ته راځی او دا د ترتیب نهایت حکیمانه انداز دے، او د اسلام په اکثرو هدایاتو او فرائضو او قانون سازئ کښې همدا منهاج اختیار شویدے ځکه د اسلامی نظام د تربیت طریقه دا ده چه:

(۱) که د یو امر او نهی تعلق د اصولو یعنی د اسلام د عقائدو او نظریاتو سره وی نو اسلام په اول فرصت کښې د هغے قطعی او اټله فیصله کوی۔

(۲) او که د یو امر او نهی تعلق د یو ے داسے معاملے سره وی چه د عادت په طور باندے معمول به وی۔ یا د رسم په طور باندے راروان وی، نو اسلام د هغے په باره کښې د اصلاحی قدم پورته کولو نه مخکښې انتظار کوی، په تدریج او نرمئ او سهولت سره په هغے کښې قدم اخلی، او د إقدام نه مخکښې داسے حالات تیاروی چه په هغے کښې د قانون او د حکم د نافذ کولو لاره په ښهٔ شان سره هموارېږی۔ مثلاً د توحید او د شرك د مسئلے په باره کښې اسلام په اولنی فرصت کښې فیصله کن خبره کوی، په شرکی عقائدو باندے فیصله کن حمله کوی، بغیر د څه تردد او تأمل نه او بغیر د نرمئ او سودی بازئ نه په هغے باندے ابتداءً رد کوی۔ ځکه چه دا مسئله د اسلامی نظریهٔ حیات اساسی (یعنی عقیدوی) مسئله ده چه ددے نه بغیر ایمان مکمل کیدے نهٔ شی او ددے دصفائی نه بغیر اسلام په خپل ځائے قائم پاتے کیدے نهٔ شی۔

اوشراب او جواری داسے معاملات دی چه ددے تعلق د عادت سره وو، پدے وجه ددے د علاج دپاره قرآن کریم دا طریقه اختیار کړه چه ددے څیزونو خلاف دینی شعور ئے بیدار کړو، د مسلمانانو په دماغو کښې ئے د قانون سازئ هغه دلائل کینول چه په هغے سره دا څیزونه حرام ګنړلے شی۔ مثلاً په جوارئ او شرابو کښې چه کوم ضررونه او قباحتونه دی هغه ددے د فائدو نه ډیر زیات دی۔ لهذا ددے نه بچ کیدل مناسب دی او ددے نه روستو ئے بیا د مانځه په حالت کښې منع اُوکړه او بیا مستقلاً منع په سورة المائده کښې راغله۔ (تفسیر فی ظلال القرآن ۱/۲۰۹)

﴿قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ﴾ (اَیْ یُنْشَأُ مِنْ اِسْتِعْمَالِهِمَا اِثْمٌ كَبِيرٌ) یعنی ددے دواړو د استعمال نه غټه ګناه راپیدا کیږی۔ یعنی دا دواړه څیزونه د انسان اخلاق او کردار تباه کوی۔ دین کښې ئے نقصان پیدا کیږی۔ او په (کبیر) کښې اشاره ده چه شراب اګرکه یوه ګناه ده لیکن منشأ د نورو ګناهونو ده نو غټ والے په اعتبار د سبب سره دے۔

﴿ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾ (منافع) ئے جمع قلت راوړه، اشاره ده چه منافع ئے د مضراتو په نسبت ډير کم دی۔

فائده : څينو علماؤ پدے مقام کښ دا خبره کړے چه قرآن دلته د شرابو او د جوارئ د کومو منافعو او فوائدو اقرار کړے د هغے نه مادی او طبی منافع نۀ دی مراد، ځکه د قرآن کريم د څيزونو يا د اعمالو د طبی او د مادی فوائدو سره براهِ راست هيڅ تعلق نشته۔ ځکه چه په دنيا کښ په هر بد او نا پاکه څيز کښ هم څۀ نا څه فوائد ضرور موجود وی، نو بيا د جوارئ او د شرابو څۀ خصوصيت دے چه قرآن ددے د فوائدو اقرار اُوکړو ؟۔ بلکه دلته اخلاقی فائدے مراد دی ځکه دلته د نفع په مقابل کښ اِثُم لفظ استعمال شويدے او اِثُم (گناه) د طبی نقصاناتو دپاره نۀ استعماليږی، بلکه د اخلاقی مفاسدو او گناهونو دپاره استعماليږی، که دلته د شرابو د طبی نفع او نقصان په باره کښ سوال وے نو د نفع په مقابل کښ د ضرر لفظ به ئے استعمال کړے وے نۀ د اثم۔

نو دلته اسلامی شريعت دا مزاج ښکاره کړو چه کوم څيزونه په اخلاقی اعتبار سره ضرری وی، که د هغے نه څه فائده په ظاهره کښ انسانانو ته رسيږی هم، خوکله چه د هغے د ضرر طرف غالبه وی نو اسلام د هغے نه ځان ساتل لازم کريدی۔ د مثال په طور کيدے شی چه يو ځائے کښ خلق لاټری واچوی، يا سنيما جوړه کړی يا سود اُوکړی، دے دپاره چه د هغے نه ډير مال حاصل شی چه په هغے سره د مصيبت زدۀ علاقے مسلمانانو مدد اُوکړی نو په ظاهره کښ دا کار د نيکئ او خدمتِ خلق دے ليکن اسلام دا نيکی نۀ جائز کوی ځکه چه پدے نيکئ کښ دننه چه کومه اخلاقی بدی پرورش مونده کوی هغه ددے نيکئ نه ډيره زياته ده۔ (تدبر قرآن)

فائده: ددے آيت نه مونږ ته دا اَهم اصول معلوم شو چه هر شی کښ اګرکه هغه هر څومره بد وی، څه نا څه فائدے هم وی مثلاً ريډيو، ټی وی او نور داسے قسم ايجادات شو چه خلق ددے بعض فوائد بيانوی او خپل نفس له دهوکه ورکوی، ديته کتل پکار دی چه د فوائد او نقصاناتو تقابل څه دے ؟ خاصکر د دين او ايمان او اخلاق او کردار په لحاظ۔ که په دينی نقطۀ نظر سره نقصانات اومفاسد زيات وی، نو د لږ دنيوی فائدو په خاطر هغه جائز نۀ گنړلے کيږی، او د ټی وی او وی سی آر وغيره هغه نقصانات چه د انسان دينی نقطۀ نظر سره دی، د وضاحت محتاج نۀ دی۔

﴿ وَاِثْمُهُمَا اَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا ﴾ او هرکله چه ددے فائدے کمے او گناه ئے ډيره ده، نو د عقل سليم تقاضا دا ده چه د داسے شی نه ځان ساتل پکار وی، پدے وجه مشرانو صحابه کرامو ددے استعمال پريخودلو۔ او د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما په روايت کښ دی چه (سزاگانے ددے روستو د تحريم نه غتے دی په منافعو ددے مخکښ د تحريم ددے نه)۔

فائده : خمر په متن لغت کښ پټولو ته وائی۔ شرابو ته خمر ځکه وائی چه دا هم عقل

پټوي، پرده پرې راولي. بيا د خمر يو لغوي تعريف دے او بل شرعي. لغوي تعريف ئے دا دے چه خمر [هُوَ النِّيُّ مِنْ مَاءِ الْعِنَبِ إِذَا اشْتَدَّ وَغَلٰى وَقَذَفَ بِالزَّبَدِ] (فتح البيان)
(د انګورو کچه اُوبه چه سختے شي او جوش اُووهي او زګونه ګوزار کړي).
او په اصطلاح د شريعت کښ [كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ] او دا نبوي تعريف دے چه هر نشائي شے شراب دی. او الفاظِ شرعيه به په شرعي معنو حمل کولے شي. او نبي ﷺ فرمائي :
[مَا اَسْكَرَ كَثِيْرُهٗ فَقَلِيْلُهٗ حَرَامٌ] ...... [احمد، ابن ماجه، والدارقطني بسند صحيح]
(هر هغه شے چه زيات ئے نشه پيدا کوي نو لږ ئے هم حرام دی) او دا د جمهورو علماؤ فتوئ ده چه هر نشائي څيز د شرابو په حکم کښ دے، او تعريف د شرابو ورته شرعاً شامل دے. صرف امام ابوحنيفه او سفيان ثوري رحمهما الله فرمائي : چه شراب د انګورو پورے خاص دی. او د باقي څيزونو شراب که ډير وي نو حرام دی او که لږ وي نو حلال دی. ليکن دا قول د دليل په لحاظ ضعيف دے. وجه دا ده چه حديث کښ هرکله تعريف د خمر پخپله اُوشو نو بس دا به تفسير د قرآن کريم وي.
او په احاديثو کښ هر نشائي څيز ته خمر وئيلے شويدے.
او دارنګه د صحيحينو په حديث کښ راغلي دي چه عمر بن الخطاب ﷛ د رسول الله ﷺ په منبر باندے خطبه کښ اُوفرمايل : اے خلقو ! په کوم وخت کښ چه د شرابو د حراميدو حکم نازليدو نو په هغه وخت کښ شراب د پنځو څيزونو نه وو ۱ – د انګورو، ۲ – د کجورو، ۳ – د ګبين (شهدو)، ٤ – د غنمو، ٥ – او د وريشو نه. [وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ] (او شراب به هر هغه شے وي چه عقل باندے (د نشے د وجه نه) پرده راولي) آه.
او ددے په معنیٰ مرفوع حديث په حَسَن سند سره په ابوداود کښ نقل دے.
امام قرطبيؒ ليکي : دا د امام ابوحنيفهؒ د مذهب په بطلان باندے دليل دے. ځکه چه عمر فاروق ﷛ د صحابه کرامو ﷡ په مَجمَع کښ داسے خبره کوي. او هغه په شرع او لغت دواړو باندے کافي عالِم دے. او هغه د شرابو عام تعريف کوي، نو بس د هغه خبرے له به اعتبار وي. تفصيل دپاره مسك الختام د صديق حسن خانؒ او نيل الاوطار د شوکانيؒ اُوګوره.
﴿وَالْمَيْسِرُ﴾ د يُسر نه دے، آسانتيا ته وئيلے شي او په جوارئ کښ هم انسان په آسانئ سره مال حاصلوي.
عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي : دا هر قمار ته شامل دے لکه نَرد (چه د عربو د جوارئ يو خاص قسم لوبه وه) او شطرنج (زمرے لوبه). دارنګه په غوزانو باندے يا بلورو، لډو،

خبيث بورړ، تاشونو، بانډونو او نورو طريقو باندے جوارى كولو ته شامل دے۔
﴿ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ﴾ دلتـه ئے (واو) راوړو څکه مخکښې، او دا، او ددے نه روستو سوالونه صحابه کرامؓ په يو ځائے کړى وو۔

شان نزول : ابـن ابـى حـاتـمؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړيدى چه د صحابه کرامؓ نه څۀ کسان کله چـه دوى تـه د الله پـه لاره کـښې د انفاق او صدقے امر اُوشو نو نبى ﷺ ته راغلل، وے وئيل : مونږ تـه پتـه نشتـه چـه دا کومه نفقه ده چه مونږ ته پرے زمونږ د مالونو نه حکم شويدے۔ نو ددے نه مونږ څومره خرچ کړو ؟ نو الله دا آيت نازل کړو۔ (التفسير المنير)۔

ربط دا دے چـه پـه خـمـر او ميسـر کـښې مـنـافـع کم او ضررونه زيات وو نو د هغے نه ځان ساتل ضرورى دى، او د زياتى مال په انفاق کښې ضرر کم دے (چه هغه په ظاهره کښې مال کميدل دى) او دنياوى او اُخروى منافع ئے زيات دى نو ددے اختيارول پکار دى۔

(مـاذا يـنـفـقـون) داسے تپوس مخکښې تير شو ليکن هغه د مصرف د پيژندلو په باره کښې وو او دلته د انفاق د مقدار او درجے معلومولو په باره کښې دے چه څومره او کوم مال خرچ کړو؟۔

او صـحابه کرامؓ دا تپوس د زکوٰة د فرض کيدو نه مخکښې کړے وو چه دوى د الله په لار کښې د خپل مـال څـومره حصه خرچ کړى؟ نو الله تعالىٰ اُوفرمايل : چه دوى ته اُووايه چه د خپل اهل وعيال باندے د خـرچ کـولـو نـه روستـو چه کوم پاتے شى نو هغه د الله په لار کښې خرچ کړئ۔ نو دلته هغه انفاق مراد دے چه د جهاد، د اعلاء کلمة الله، او د اسلام او د دين د تحفظ او دفاع دپاره خرچ کيږى۔

﴿ قُلِ الْعَفْوَ ﴾ (اَلْعَفْوَ) دا منصوب دے۔ فعل(اَنْفِقُوْا) (خرچ کړئ) پټ دے۔ عفو په عربى ژبه کښې زياتى ته وائى، دلته ئے ډير مصداقات دى :

(۱) [مَا فَضُلَ عَنْ حَوَائِجِكُمْ] (هـغـه چـه د انسـان د ذاتى او اصلى حاجت (لکه د هغه او د هغه د اهل وعيال د خرچے نه او د لباس او استوګنے او خادم وغيره نه) زياتى وى۔ (ابن عاشور)۔

(۲) [مَا سَهُلَ اِنْفَاقُهٗ وَلَايَضُرُّهُمْ اِخْرَاجُهٗ] (کوم مال چه په آسانئ سره لګيږى او په خرچ کولو کښې ئے تکليف نۀ وى) (بدائع التفسير، فتح البيان)۔

(۳)- د طاووسؒ نه نقل دى : [اَلْيَسِيْرُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ] يـعنى د هر شى نه معمولى شے خرچ کولو ته عفو وائى۔ مثلًا يو کروړ روپۍ دى که د دے نه دوه درے لاکهه روپۍ خرچ شى نو دومره تاوان نۀ راځى۔

٤- عبـد الله بـن عبـاس رضى الله عنهما فرمائى : هغه آسان خرچ چه د مال بيخکندى نۀ کوى او د هغے په خرچ کولو سره په مال کښې څۀ پته نۀ لګى۔ (طبرى)

(٥) د حسـن بـصـرىؒ او عمرو بن دينارؒ نه نقل دى چه [مَا كَانَ مِنْ غَيْرِ اِسْرَافٍ وَلَا تَقْتِيْرٍ] (درميانه

انفاق چه نهٔ په کښې اسراف وي او نهٔ پکښې ډیر کموالے وي).
پدے تولو کښې اولنے قول غوره دے. او اکثر احادیث ئے تائید کوي، لکه حدیث کښې دي:
[خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ] (متفق علیه)
(بهترینه صدقه هغه ده چه دے حاجته کیدلو نه روستو وي او په انفاق کښې په اهل وعیال باندے شروع کوه) یعنی چه د خرچے کولو نه روستو انسان بل ته محتاج نشي).
بل حدیث دے: ابو هریره ﷺ فرمائي: یو سړي اُووئیل: یارسول الله! ما سره یو دینار دے نبي ﷺ ورته اُوفرمایل: په خپل ځان ئے خرچ کړه. هغهٔ اُووئیل: ما سره بل دینار دے، وے فرمایل: په خپل اهل ئے خرچ کړه. هغهٔ اُووئیل: ما سره بل دینار دے. ورته ئے اُوفرمایل: په خپلو بچو ئے خرچ کړه. هغه اُووئیل: ما سره بل دینار دے. وے فرمایل: په خپل خادم ئے خرچ کړه، هغه اُووئیل: ما سره بل دینار دے. وے فرمایل: تهٔ (ددے په خرچ کولو) ډیر پو هه ئے.
(ابوداود والنسائي بسند حسن - ارواء الغليل).
بیا تهول زیاتي مال خرچ کول د زکوٰة د فرض کیدو نه روستو منسوخ شویدی البته فضیلت پکښې ضرور شته، او دا اخلاقي هدایت دے. آؤ، په بعضِ اوقاتو کښې نفلي صدقه او انفاق هم واجب وي، او دا په هغه وخت کښې چه کله د مسلمانانو حاجت مال ته زیات شي، یا د جهاد موقعه وي، یا لوږه راشي.
لکه د ابوسعید خدريؓ په حدیث کښې دي چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کښې وو چه یو سړے په یوه اُوښه باندے په تکلیف سره راروان وو. رسول الله ﷺ اُوفرمایل: ((چا سره چه زیاتي سورلۍ وي نو هغه چا ته دِے ئے ورکړي چه د هغه سره سورلي نهٔ وي، او چا سره چه زیاتي توښهٔ وي نو هغه چا ته دِے ئے ورکړي چه هغه سره توښهٔ نهٔ وي)). ابوسعیدؓ وائي: د مال نور اقسام ئے ذکر کړل تردے چه زمونږ گمان راغلو چه [أَنَّهُ لَا حَقَّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِيْ فَضْلٍ] (زمونږ د یو تن په زیاتي مال کښې هیڅ حق نشته) بلکه تهول به خیرات کوي. (رواه مسلم: ٤٦١٤).
ددے حدیث نه معلومه شوه چه د ضرورت په بعض اَوقاتو کښې نفلي صدقه هم واجبیږي. دارنگه په صرف زکوٰة ویستلو سره د انفاق حکم پوره نهٔ ادا کیږي، ځکه چه د زکوٰة مقصد دا نهٔ دے چه ادا کونکے بس د نورو معاشرتي ذمه واریانو نه بری الذمه شو بلکه د زکوٰة نه روستو هم د انفاق حکم په خپل حال باقي پاتے دے، ځکه زکوٰة خو د مسلمانانو د بیت المال حق دے او هغه به حکومت حاصلوي او هغه به ئے په معلومو مصارفو باندے خرچ کوي، لیکن ددے نه روستو هم په مسلمانانو باندے د الله تعالیٰ د جانب نه او پخپله د مسلمانانو ورونو د طرف نه

عائد شوي ذمه واريانے باقي پاتے کيږي۔
لکه حديث کښې دي :[إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكٰوةِ] (ترمذی مرفوعاً وقال: ابوحمزة ميمون الاعور يُضَعَّفُ وَالْأَصَحُّ إِنَّهُ مِنْ قَوْلِ الشَّعْبِيِّ) (په مال کښې د زکوٰة نه علاوه هم حق ضرور شته)
او دا اتفاقي مسئله ده۔ لهذا پدے صورت کښې دا حکم په زکوٰة سره منسوخ نۀ دے۔لکه څنګه چه د شان نزول نه هم معلوميږي چه دا آيت د نفلي صدقے د تپوس په جواب کښې نازل شوے وو۔
او دا آيت او احاديث مونږ ته دا ترغيب راکوي چه اے ايمان والو! د الله په دين باندے خپل مال خرچ کرئ او دا څومره بے وفائي او بے محبتي ده چه انسان مال جمع کوي او په هغے باندے د مار په شان دپاسه ناست وي، په کور کښې په فومونو (اسپنجونو) او نرمو بسترو او ائرکنډيشنونو ته خوبونه کوي، يخے اُوبه، او هر قسم فروټ او مصنوعاتو نه فائدے اخلي او فراخه ئے خوري او د الله په دين او په عاجزو مسلمانانو باندے د هغے نه انفاق نۀ کوي۔ چه هغوي ته بستره او بالخت هم نۀ ملاويږي، او بيا دا بنده د الله تعالىٰ نه د لويو نعمتونو او جنتونو طمع لري !۔ اسلام خو د همدردئ دين دے۔ لا حول لا قوة الا بالله۔
بلکه پکار دا ده چه انسان سره دوه جوړه خپلئ دي، يوه دے خيرات کړي، زياتے جامے ورسره دي هغے نه دے صدقه اُوکړي۔ پيسے ورسره زياتے دي، بل ملګري سره نشته هغه باندے دے خرچ کړي، د ګاونډي او خپلوانو خبر ګيري اُوکړي، دا ټولے ذمه واريانے دي، انسان يواځے په مونځونو باندے نجات نشي موندلے۔
﴿كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمُ آيٰتِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ﴾ پدے کښې ترغيب دے چه د الله په احکامو عمل اُوکړئ، عظيم رب ستاسو د هدايت دپاره داسے حکمونه راليږي چه په هغے کښې ستاسو د دنيا او د آخرت کاميابي ده۔
علامه آلوسيؒ فرمائي : دلته د تفکر نه د الله په آيتونو کښې د احکامود راويستلو دپاره او د مصالحو او د منافعو د پوهے دپاره فکر کول مراد دي۔ لهذا د تتفکرون متعلق پټ دے۔
[اَیْ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ فِي الْآيَاتِ فَتَسْتَنْبِطُوا الْاَحْكَامَ مِنْهَا وَتَفْهَمُوا الْمَصَالِحَ وَالْمَنَافِعَ الْمَنُوْطَةَ بِهَا] يعنی چه تاسو فکر اُوکړئ په آيتونو کښې او ددے نه احکام راوباسئ او هغه مصلحتونه او فائدے معلومے کړئ چه ددے احکامو سره متعلق دي۔
○ ظاهره دا ده چه دا د روستو آيت سره لګيږي۔

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ

په باره د دنيا او آخرت کښې او دوي تپوس کوي ستا نه په باره د يتيمانانو کښې ته اُووايه ! اصلاح د هغوي دپاره

خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ وَاللهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ

غوره ده او که چرې تاسو ګډون کوئ د دوی سره نوستاسو ورونه دي او الله پیژني فساد کونکے جدا د اصلاح کونکي نه

وَلَوْشَآءَ اللهُ لَاَعْنَتَكُمْ إِنَّ اللهَ عَزِيْزٌحَكِيْمٌ ﴿۲۲۰﴾

او که چرته الله غوختے نو خامخا به ئے تاسو په مشقت کښې اچولي وے، یقیناً الله غالبه، حکمتونو والا دے۔

تفسیر : (في الدنيا) ددے دوه مطلبونه دي : (۱) يعني فِيْ شَانِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ۔ (د دنيا او د آخرت دوارو دپاره فکر پکار دے)۔ ولے که ټول مال ورکړے نو ځان له به څۀ کوی، بيا به سوالونه کوی، او دا د دنيا نقصان دے، او که ټول مال اُوساتی نو آخرت له به څۀ شے ليږی لهذا دوارو دپاره فکر پکار دے۔ پدے معنیٰ سره دا د (العفو) دپاره فائده ده۔(يعنی د زياتی مال لګولو حکم مے ځکه اُوکړو چه دنيا او آخرت مو دواړه ښۀ شی)۔

۲ - [تَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ زَوَالِ الدُّنْيَا وَاِقْبَالِ الآخِرَةِ] يعني چه د دنيا په ختميدو او د آخرت په راتللو کښې فکر اُوکړئ) نو هرکله چه دنيا زائله کيدو والا ده نو مال لګول پکار دی، او آخرت راتلو والا دے نو هلته هم ځان له څۀ جمع کول پکار دی۔ پدے معنیٰ سره دا د انفاق فائده ده۔ يعنی انفاق ځکه اُوکړئ چه دنيا ختميدو والا ده او آخرت راروان دے۔

يا د مخکښې تَتَفَكَّرُوْنَ متعلِق پټ وو، او د في الدنيا نه مخکښې بل فعل پټ دے اَیْ تَفَكَّرُوْا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ ۔ نو بناء پدے د مخکښې تفکر نه په آيتونو کښې د هغے نه د حکمتونو راويستلو دپاره تفکر مراد دے۔ او دلته د دنيا او د آخرت په باره کښې تفکر دے۔ ليکن مخکني مطلبونه ښکاره دی۔

﴿وَيَسْئَلُوْنَكَ﴾ دا د تدبير منزل بل حکم دے چه ستاسو معاشره به هله صحيح کيږی چه د يتيمانو او کندو رنډو د مال ډير سخت حفاظت اُوشی، د يتيمانو اوکندو اصلاح ضروری ده، ځکه چه دا اُمت مجاهد اُمت دے، يتيمانان پکښې ډير دی۔ ځکه هغه ډير بدترين کور دے چه يتيم پکښې وی او د هغه سره بدی کيدے شي او بهترين کور هغه دے چه په هغے کښې يتيم وی او د هغه سره احسان کيدے شی۔ او هرکله چه د يتيمانانو حفاظت کيدے شی، نو معاشره به برابره وی، خلق به جهادونو له په خوشحالئ اوبے فکرئ سره ځی۔ دارنګه د دين هر کار ته به په جلتی وړاندے کيږی، وائی به که زۀ مړ شم، د الله نه روستو مسلمانان شته چه زما د بال بچ تربيت به کوی۔

صحابه کرامؓ داسے تپوس په هغه وخت کښې کړے وو چه کله ﴿ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ﴾ (الانعام (۱۵۲) او ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا﴾ (النساء :

۱۰) نازل شو چه د يتيمانانو مال مهٔ خورئ، نو صحابه كرامٌ اُويريدل، يتيمانان ئے د ځان نه جدا كړل، جدا خوراك پخول ئے ورله شروع كړل (ځكه كيدے شي چه د يتيم د مال نه دومره طعام د خپل طعام سره شريك كړى چه د هغه د خوړلو نه زيات وى او هغه به كور والا ته پاتے شي او هغوى به ئے اُوخورى نو په ګناه كښ به واقع شي)۔

ليكن دا ورته ګرانه شوه چه عام كورله جدا او يتيم له جدا خوراك پوخ كړى۔ دويم دا چه كله به يتيم موړ وو، او دوډئ به پخه شوه نو هغه به نهٔ خوړله نو ضائع به شوه او كله به پاتے شوه صبا له به ئے پرے اُوچه خوړله، او كور والو به تازۀ خوړله او دا ئے هم نشوه برداشت كولے۔ نو تپوس كولو ته محتاج شو چه كه مونږ د يتيمانانو سره شريك شونو څنګه به وى ؟ الله تعالىٰ دا آيت نازل كړو چه حاصل ئے دا دے چه مقصود د يتيمانانو د مال حفاظت دے او كه دا په خوراك وغيره كښ شريك كړے شي پدے طريقه چه د هغوى سره د نيكى كولو نيت وى، او د هغه مال خوړل غرض نهٔ وى، نو پدے كښ هيڅ حرج نشته، برابره ده كه د هغوى د خوراك نه څهٔ حصه تاسو يا ستاسو بچى اُوخورى ځكه چه دا دينى ورونه دى، او دينى اُخوّت د خاندانى اُخوّت نه زيات قوى او په اخلاص باندے بناء وى او الله تعالىٰ ښهٔ پيژنى چه د چا نيت د يتيم خير خواهى ده، او د چا د هغه د مال په حيله جوړولو سره خوړل دى او كه الله غوختے نو تاسو به ئے په مشقت او پريشانئ كښ اچولى وے او د هغوى د خوراك جدا پخولو او ساتلو حكم به ئے درته كړے وے۔ او دغسے روايت د ابن عباسؓ نه نقل دے۔ (ابوداوٗد، نسائیؒ، حاكمؒ)۔

﴿عَنِ الْيَتٰمٰى﴾ [يعنى عَنِ الْاِخْتِلَاطِ مَعَ الْيَتٰمٰى] يعنى د يتيمانانو سره د ګډون په باره كښ تپوس كوى چه آيا دوى سره مونږ شريك كيدے شو او كه نهٔ ؟۔

﴿قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ﴾ اصلاح او خير ورله لټوئ، كه په جدا پخولو كښ ورله خير وو، نو هغهٔ كوئ او كه په شركت كښ خير وو نو هغهٔ كوئ۔ او دا اصلاح يو عام لفظ دے چه د يتيم دپاره هر قسم خير لټولو ته شامل دے، د هغه تربيت، تعليم او د هغه د مال حفاظت او د هلاكت نه بچ كول، د هغه په مال تجارت كول دے دپاره چه زيات شي۔

﴿وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ﴾ او كه تاسو د هغوى سره په خرچه او خوراك او نكاح كولو كښ ګډون كوئ نو ستاسو ورونه دى۔

بعض مفسرين ليكى: دا شامل دے دے ته هم چه د يتيم سره طعام خوړلو يا په اَس باندے سوريدو، يا د هغه د اُوښے نه په پيځ څكلو كښ شركت اُوكړى۔ او هغه ئے ددۀ سره اُوكړى۔ ځكه چه خلقو به د يتيم د هرڅهٔ نه ځان ساتلو۔ (طبرى)

○ ابو مسلم الاصفهاني وائي: غوره دا ده چه ددے نه مراد مصاهرت (سخرگني) ده يعني چه يتيم سره دا احسان اُوکړی چه لور خور ورله په نکاح ورکړی. (روح المعاني).
بعض اهل علم وائي چه پدے کښې د يتيم سره گډون کولو ته ترغيب دے، او د جاهليت د عادت په باطلوالي باندے تعريض دے چه دوی به يتيمانان سپك گنړل او د هغوی سره گډون او ازدواجي رشته به ئے بده گنړله، د هغوی د نکاح نه به ئے اعراض کولو لکه آيت کښې دی ﴿ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ ﴾ (النساء :۱۲۷) . نو الله اُوفرمايل چه دا ستاسو ورونه دی، ځان پرے اُوچت مۀ گنړئ او د دوی سره تعلقات کوئ. (ابن عاشور).
﴿ فَاِخْوَانُكُمْ ﴾ دلته وقف دے يعني [وَمِنْ شَانِ الْاَخِ اَنْ يُّخَالِطَ اَخَا] (او د ورور شان دا وی چه هغه د خپل ورور سره شريك وی) د يو بل په مال باندے پام کوی، او يو بل باندے رحم کوی. او که يو انسان د يتيم د مال خوړلو دپاره د هغه سره گډون کوی نو الله فرمائی :
﴿ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ﴾ (الله ته مفسد د مصلح نه جدا معلوم دے).
پدے کښې د يتيمانانو وارثانو ته يره ورکول دی چه په الله تعالیٰ باندے ستاسو حال پټ نۀ دے، هر انسان ته به د هغه د عمل بدله ورکوی، نو پدے کښې وعد او وعيد دواړه دی. (فتح البيان).
د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ اُوفرمايل :
((زۀ او د يتيم کفالت کونکے به په جنت کښې داسے يو))، او د خپلے شهادت گوتے او مينځومۍ گوتے سره ئے اشاره اُوکړه، او د دواړو په مينځ کښې ئے جدا والے اُوکړو. (بخاری ومسلم).
(مفسد) دلته (آكِلُ مَالِ الْيَتِيْمِ) (د يتيم مال خوړونکی) ته وائی يعني چه څوك د يتيمانانو مال خوری، الله تعالیٰ ته هغه هم معلوم دے او څوك چه اصلاح کوی هغه هم الله ته معلوم دے.
(مِنَ الْمُفْسِدِ) يعني مُمْتَازًا عَنِ الْمُفْسِدِ) (جدا ئے پيژني د فسادی نه).
اُوس الله تعالیٰ ددے رخصت په نازلولو خپل انعام بيانوی :
﴿ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ﴾ (عَنَت) سخت تکليف، زحمت او تنگسيا ته وئيلے شی. او د اِعنات معنیٰ په مشقت کښې د اچولو ده. او عَنَتُ په اصل کښې د مات هډوکی د روغيدو نه پس بيا ماتيدل دی، او دا ډير تکليف ورکوی. مشقت دا دے چه تاسو ته به ئے حکم کړے وے چه د يتيمانو سره به شرکت نۀ کوئ، او بيله دوډۍ به ورله پخوئ. او د (عَنَتُ) معنیٰ هلاکت هم ده، [اَهْلَكَكُمْ بِمَا اَكَلْتُمْ مِنْ اَمْوَالِ الْيَتَامٰى] (يعني تاسو به ئے د يتيمانانو په مخکني مالونو خوړلو سره هلاك کړی وے)، ليکن رحم ئے درباندے اُوکړو. ځکه عامو خلقو به د يتيمانانو مالونه خوړل او اُوس ئے هم خلق خوری.

ددے نـه د اسـلامـی شـريعت مزاج معلوميږی چه دے شريعت د مشقت لارے نۀ دی پرانستلی بلکه د مشقتونو نه د بچ کيدو لارے ئے بيان کړی۔ (تدبرقرآن)۔

د ابـوعبيدؒ نـه نـقل دی چه دا آيت دليل دے چه په سفر کښ کوم ملګری شريکه خرچه اچوی او بيا بعض خوراك کم کوی او بعض زيات نو پدے کښ هيڅ حرج نشته۔ (القرطبیؒ)

وَلَاتَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ
او نکاح مۀ کوئ د مشرکو (غير کتابيه) ښځو سره تردے چه ايمان راوړی او خامخا وينځه مومنه غوره ده
مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْاَعْجَبَتْكُمْ وَلَا تُنْكِحُوا
د مشرکے (آزادے) ښځے نه اګرکه تاسو په تعجب کښ اچوی او په نکاح سره مۀ ورکوئ (لونړۀ، خويندے)
الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ
مشرکانو سرو ته تردے چه ايمان راوړی او خامخا يو غلام مؤمن غوره دے د مشرك (آزاد) نه
وَّلَوْاَعْجَبَكُمْ اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ
اګرکه تعجب کښ اچوی تاسو۔ دغه کسان دعوت ورکوی اُورته او الله دعوت ورکوی جنت او بخنے ته
بِاِذْنِهٖ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٢١﴾
په حکم خپل سره او بيانوی آيتونه خپل خلقو ته دے دپاره چه دوی خبره رايادہ کړی۔

تفسير: دا د تـدبيـر مـنزل نه بل (٦) قانون دے : [اَنْ لَايَتَعَلَّقَ الْمُسْلِمُ بِمُشْرِكٍ سَوَاءً كَانَ بِالنِّكَاحِ اَوِالصَّدَاقَةِ اَوِالتَّلَمُّذِ]۔ (يعنی د مسلمان به د مشرك سره هيڅ قسم تعلقات نۀ وی، نۀ د نکاح او نۀ د دوستـانے او نـۀ د شاګـردئ) او هـرکـله چـه نـکاح د مشرك سره جائز نشوه نو استنباطاً ترے دا مـعـلـومـه شـوه چه دوستانه او شاګردی خو به بالکل جائز نۀ وی۔ ځکه چه په نکاح کولو سره د ښـځے، د خواخے، د سخر او د هغوی کورنئ سره مينه پيدا کيږی او مشرك د مينے لائق نۀ دے۔ او دارنګه استاذی او شاګردی هم سبب د مينے وی۔

دارنګه مشرك نه چه سبق اُووئيلے شی نو الله تعالىٰ د انسان نه بصيرت او خير او برکت اخلی او بے وقـوف ئے جـوړوی، نـو پـدے آيت کښ د مشرکو زنانو سره د نکاح کولو نه نهی ده۔ او خپله خـور لـور مشرك تـه پـه نـکـاح ورکـولـو نـه منع ده۔ وجه ئے دا بيان کړيده چه مشرکان اُورطرف ته

دعوت ورکوي.
ليکن دا خبره زدۀ کړه چه بعض خلق بدعتيانو ته هم مشرکان وائي، دا صحيح نۀ ده، بلکه کله چه انسان، الله او رسول او قيامت مني او يواځې د الله تعالیٰ عبادت کوي، ضديان او عنادګر نۀ وي، ساده ګان او ناپوهه وي. بدعات او رواجونه کوي نو دوی ته به مشرکان نشي وئيلې. بلکه مشرکان هغه خلق دي چه د قبرونو او باباګانو عبادت کوي، په هغوی باندې شالونه او کپړې اچوي، د هغوی په نوم منختې کوي، يارسول الله او ياعلي مدد نعرې وهي نو دوی سره نکاح نۀ کيږي.
﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ﴾
فائده: مشرکې ښځې په دوه قسمه دي (۱) يو عامې مشرکاتِ دي نو د دوی سره خو نکاح کول حرام دي. (۲) او بل کتابياتِ (اهل کتابې) دي. کتابياتِ اګرکه مشرکې وي (لکه عبد الله بن عمرؓ فرمائي: ددې نه لوئي شرك بل کوم دې چه وائي عيسٰی ابن الله او عزير ابن الله (د الله ځوی) دې) (بخاري، فتح البيان ۱/٤٤٥).
ليکن شريعت د هغوی سره د نکاح کولو اجازه (په سورة المائده (۵) آيت کښې) ورکړې ده. لهذا دا آيت عام دې او د سورة المائدې آيت ددې تخصيص کړې. او دا د ابن عباسؓ، عمر بن الخطابؓ، عثمان بن عفانؓ، طلحهؓ، جابرؓ، حذيفه رضی الله عنهم او د حسنؒ، شعبيؒ، عکرمهؒ، مالك، سفيان بن سعيدؒ، عبد الرحمن بن عمروؒ او اوزاعيؒ وينا ده.
حکمت پکښې دا دې چه نکاح سبب د دعوت دې، ځکه ښځه غالباً د خاوند نه متأثره وي نو خاوند به هغې ته او د هغې والدينو ته د اسلام د حقانيت دعوت ورکوي، کيدې شي چه الله تعالیٰ هغوی ته د ايمان توفيق ورکړي. او د عمر ﷺ نه چه د کتابي زنانو سره د نکاح کولو نه منع نقل ده، نو هغه منع د عادت جوړولو نه وه او په مؤمنه باندې کتابيه زنانه غوره کولو نه منع وه چه مؤمنه ورته سپکه ښکاري او نصرانيې سره نکاح ئې خوښه وي، لکه دې زمانه کښې خلق يورپي ملکونو ته ځي او هلته نکاحونه د نصراني ښځو سره کوي او هلته په آسانئ هم ملاوېږي، نو دې کښې نقصان دې.
وجه دا ده چه ستا بچي به ستا په واك کښې نۀ وي، هغه درنه عيسايان کوي. بل نقصان دا چه سړې د ښځې نه متأثره وي، مينه ئې ورسره وي او خپله په دين هم پوهه نۀ وي، نو دا ورپسې عيسائي شي او ډير داسې شويدي. نو داسې نکاحونو نه بغير د سخت ضرورت نه ځان ساتل پکار دي.
دويم جواب دا دې چه په هغه روايت کښې خپله وجه دا راغلې ده. حذيفهؓ ورته اُوفرمايل چه آيا دا حرامه ده؟ نو هغه اُوفرمايل: نۀ، [وَلٰكِنِّيْ اَخَافُ اَنْ تَعَاطَوُا الْمُوْمِسَاتِ مِنْهُنَّ]. ليکن زۀ يريږم که

تاسو د كتابي زنانو سره نكاح كوئ نو كيدے شي چه زناكارے ستاسو په نكاح كښې راشي۔
(ابن عاشور ۲/ ۳۴۲)۔

دا مخكنے قول هله دے چه مشرك لفظ عام شي، كتابي او غير كتابي دواړو ته، ليكن بعض اهل علمو وئيلي دي چه په اصطلاح د قرآن كښې غالباً د مشرك لفظ د اهل كتابو نه علاوه خلقو دپاره استعماليږي۔ او قرآن د دواړو په مينځ كښې جدائي كړيده، او يو ئے د بل نه روستو ذكر كړيدے لكه ﴿مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ﴾ [البقرة: ۱۰۵] ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِيْنَ﴾ [البينة: ٦]۔

ددے وجه دا ده چه د مشرك د مذهب بنياد په شرك دے او د كتابي د دين بنياد په توحيد وو، ليكن د زمانے په تيريدو سره هغوي د الله سره نور خلق شريكان كړل۔ معلومه شوه چه د مشركے سره د نكاح په حرمت كښې د اهل كتابو ښځے شامل نۀ دي۔ (فتح البيان، تيسير الرحمن، تدبر قرآن)۔

فائده : عامے مشركو ښځو سره نكاح صحيح نۀ ده، لكه كافران چينيان، روسيان، دهريه كافر، او دارنګه نام نهاد مسلمانان مشركان لكه څوك چه غير الله ته آوازونه كوي او د هغوي په نوم نذر او منختے كوي، باباګانو ته سجدے كوي نو دا هم مشركان دي، او دا په اهل كتابو كښې داخل نۀ دي۔ كومو علماؤ چه وئيلي دي چه دا اهل كتاب دي او د اهل كتابو تعريف ئے دا كړيدے [كُلُّ مَنْ نَزَلَ عَلَيْهِ كِتَابٌ سَمَاوِيٌّ] (هر هغه څوك چه په هغوي آسماني كتاب نازل وي، دا اهل كتاب دے) نو دا خبره غلطه ده۔ څكه چه پدے امت كښې اهل كتاب نشته، يا به مسلمان وي يا به مرتد وي۔ او دغه تعريف د يهود او نصاراؤ په باره كښې دے۔ نو داسے مشركانو مسلمانانو سره به عام مسلمانان نكاح نۀ كوي۔ او همدا حق قول دے۔

او دا خبره مخكښې ذكر شويده چه اهل كتابو ته كوم خطاب وي، هغه مونږ ته هم وي، نو هغه په باره د اخلاقياتو، اعمالو او عقائدو كښې دے۔ ليكن د هغے نه دا نۀ لازميږي چه كوم لازمي احكام د هغوي دي هغه به پدے نام نهاد مسلمانانو تطبيق كيږي څكه چه د اهل كتابو ذبيحه خوړل جائز او د مشركانو ذبيحه خوړل حرام دي۔ د اهل كتابو ښځے په نكاح اخستل جائز او د مشركانو ناروا۔ او داسے نور ډير احكام دي چه هغه ددے امت په مشركانو نۀ برابريږي۔

او هرچه صابئين او مجوس دي نو په هغوي كښې د اهل علمو اختلاف دے چه دا اهل كتابو كښې داخل دي او كه نۀ۔ اكثر اهل علم ئے په كتابيانو كښې داخل ګڼړي۔

فائده ۲ : دا د مشركانو سرو حكم دے، يهود وي كه نصارئ، مجوس وي كه صابئين، مسلمانان مشركان وي كه هندوان۔ نو مسلمانه ښځه به هغوي له نشي وركولے۔ او عام

مشرکانو لـه خـور لـور ورکول او د هغوی نه کول دواړه ناروا وی، او د اهل کتابونه کول جائز او ورکـول حـرام دی۔ ځکه چه ستا خور لور به مشرکه کړی نو پدے کښې ډیر نقصان دے، او دا د الله تـعـالیٰ دشمنان دی نو الله تعالیٰ خپل دوستان د هغوی سره د تعلق او د نکاح نه منع کوی، دیته وائی د تـوحيـد اتـمام او د تـوحيـد حـفـاظت۔ چه ستا توحید به هله محفوظ کیږی چه ته د الله تعالیٰ د دشمنانو نه نفرت اُوکړے او هیڅ قسم نکاحی تعلق ورسره اُونهٔ ساتے۔

او زمـونـږ ډیـر مـوحـدیـن ددے پرواه نهٔ لری، مشرکانو سره نکاحونه کوی، د هغوی شاګردی، د هغـوی سـره مـحبت او د هـغـوی سره راشه درشه کوی، او هغوی له ووټ ورکوی او هیڅ نفرت تـرے نهٔ کوی، نو پدے وجه په توحید کښې ئے هیڅ مزه نهٔ وی۔ او دیته د ولاء او براء مسئله وائی۔ د الله دپاره دوستی او د الله دپاره دشمنی ساتلو سره د توحید پوره والے راځی۔

بیا ددے حـکـمت دا دے چه مشرکان د مسلمانانونه ډیر وړاندے دی ځکه چه دوی کښې توحید نشتـه، ایـمـان پـکـښې نشتـه، په هیڅ شی کښې د ایمان والو سره متفق نهٔ دی۔ نو ځکه شریعت د دواړو طرفـونـو نـه د نـکـاح حـرمـت بیـان کـړو او د اهـل کـتـابـو او د مسلمانانو ترمینځ په عامو ایـمـانیـاتو کښې اتفاق دے، صرف یهود په عیسیٰ ﷺ او مـحـمـد ﷺ ایمان نهٔ لری او نصاریٰ په موسیٰ ﷺ او مـحمد ﷺ ایمان نهٔ لری۔ نو هرکله چه د دوی او د مسلمانانو ترمینځ ډیر وړاندے والے نهٔ وو، نو د یو طرف نه نکاح جائزشوه چه د هغوی نه کول جائز او هغوی لره ورکول ناروا۔

﴿حَتّٰى يُؤْمِنَّ﴾ یعنی چه ایمان راوړی بیا ورسره نکاح کولے شئ۔ لکه د آیت شان نزول هم داسے وو۔ واحدیؒ وغیره مفسرینو وئیلی دی چه رسول الله ﷺ ابو مرثد الغَنَوِیؓ مکے ته په پټه ددے دپاره اُولیږلو چه هلته نه د مسلمانانو یو سړے راوباسی، په مکه کښې یوه ښځه چه د ابو مرثدؓ په جـاهـلیـت کـښې یـاره وه، نوم ئے عَنَاق وو، خبره شوه، ورته راغله، وے وئیل : اے ابو مرثد خوار شے یـواځے کـیـږے نهٔ ؟ هغه اُووئیل : اسلام د جاهلیت کارونه حرام کړیدی۔ نو هغے اُووئیل : ما سره نـکـاح اُوکړه۔ دهٔ اُووئیل: تردے چه رسول الله ﷺ نه اجازت اُوغواړم۔ نو نبی ﷺ د هغے د نکاح نه منع کړو۔ ځکه چه هغه مشرکه وه۔ نو دا آیت ددے په سبب نازل شو۔ (ابن عاشور ۳٤١/٢)

﴿وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ﴾ یعنی که د آزادے مؤمنے طاقت مونهٔ وی، نو مومنه وینـځـه درلـه د آزادے مشـرکے نه ډیره غوره ده، اګرکه حیرانوی تاسو لره مال او جمال او حسن د هغے، چه ډیره ښائسته ده او ډیره مالداره ده، او ډیره هوښیاره ده، خو مشرکه ده نو دے سره نکاح مهٔ کـوه، دا جـاهـلـه ده، او یـوے ساده وینـځے سره نکاح اُوکړه اګرکه د هغے بچی به هم غلامان کیږی، لیکن په هغے کښې خیر دے خو شرك نه ځان ساته۔

نو دے کښې دا اسلامي اصول بيان شو چه په اسلام کښې د خوښې او ناخوښې معيار نهٔ ظاهري شکل او صورت دے او نهٔ نسل او نسب، او نهٔ آزادي او غلامي، بلکه ايمان او عمل صالح دے۔ پدے وجه رشتې او تعلقات به په ذاتونو او نسبونو سره نهٔ وي بلکه د عقيدے او عمل صالح تابع به وي۔ د قريشو يوه حسينه زنانه ستاسو دپاره ډيره بد رنګه ده که هغه د ايمان په زيور سره ښائسته نهٔ وي۔ او د افريقې د اطرافو يوه توره خړيسه وينځه ستاسو دپاره د جنت حوره ده که د هغې زړهٔ د ايمان او د اسلام په ښائست سره نوراني وي۔ دغه شان د سړو په باره کښې واخله۔

(خير) **فائده :** خير صيغه د اسم تفضيل ده، ددے نه معلوميږي چه مشرکه کښې هم څهٔ نا څهٔ خير شته خو مؤمنه وينځه کښې ډير خير دے؟۔

جواب دا دے چه دواړو کښې په اعتبار د منافعو سره خير شته۔ په مشرکه کښې دنيوي منافع وي، ښائسته به وي، مالداره به وي۔ او په مؤمنه وينځه کښې ديني او اُخروي فائدے دي، او ديني منافع د دنيا د زائل کيدونکو فائدو نه د شريعت په نظر کښې ډير اَعلیٰ او غوره دي۔نو پدے کښې مقصود د حراموالي حکمت بيانول دي دے دپاره چه مؤمنان ورسره آشنا شي۔

﴿ وَلَا تُنۡكِحُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴾ خپله خور لور به مشرك ته بالکل نهٔ ورکوي، که هرڅوك وي، اهل کتاب وي او که غير اهل کتاب۔ دلته ذکر دمشرکين دے، ليکن اهل کتاب ورسره هم مراد دي چه هغوي ته به هم خور لور نشي ورکولے۔ دارنګه هغه حکم په تواتر سره صحابه کرامو د نبي ﷺ نه اخستے دے او اجماع د امت هم پرے دليل دے۔

﴿ حَتّٰى يُؤۡمِنُوۡا ﴾ دا د نهي علت دے۔ ددے نه دا فائده معلوميږي چه کافرے ښځې کله اسلام راوړو، نود دواړو نکاح به فسخ کولے شي، بيا چه کله کافر هم اسلام راوړو، نودا ددے ښځې ډير لائق دے تر څو پورے چه ښځه په عدت کښې وي۔بلکه د عدت نه روستو هم په زړهٔ نکاح باقي پاتے کيدے شي، لکه د زينبؓ بنت رسول الله په قصه کښې راغلے ده۔

﴿ وَلَعَبۡدٌ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٌ مِّنۡ مُّشۡرِكٍ وَّلَوۡ اَعۡجَبَكُمۡ ﴾ يعني که مشرك ډير ښائسته دے، يا ډير مالداره دے، او ډيرے غټے عهدے والا دے ليکن بيا ئے هم مهٔ ورکوئ۔ ولے ؟ ځکه چه :

﴿ اُولٰٓئِكَ يَدۡعُوۡنَ اِلَى النَّارِ ﴾

پدے کښې حکمت دا بيانوي چه د رشتو او نکاحونو اثرات په ژوند باندے سطحي او سرسري نهٔ وي بلکه ډير ژور وي۔ که انسان پدے څيزونو کښې عقائد او اعمالو ته هيڅ اهميت ورنکړي، صرف حُسن يا مال يا خاندان يا مصلحت مخے ته اُونيسي نو کيدے شي چه هغه په خپله خرچه باندے په خپل کور کښې يوه داسے بلا اُوپالي چه صرف ددهٔ نهٔ، بلکه ددهٔ د راتلونکي

نسلونو ايمان او اسلام هم تباه کړي۔
د ودونو تعلقاتو په مذهب، په روایاتو او په تهذیب او تمدن کښ داسے لوئی تبدیلیانے کړیدی چه دهغے د عملی مثالونو نه تاریخ ډك دے۔ د بنی اسرائیلو د تاریخ د مطالعه کولو نه معلومیږی چه په هغوی کښ بے شماره عقائدی گمراهیانے د هغه ښځو په ذریعه راخورے شوے چه د نورو بت پرست قومو نه ئے وادهٔ کړے وے۔
دغه شان د مغل بادشاهانو د هندوانو د راجاگانو سره د سیاسی مصالحو په وجه چه کوم ودونه کړی نو دهغوی د جینکو سره سره د هغوی عقائد، اوهام، رسمونه او د عباداتو طریقے ئے هم خپلو کورونو ته راننویستلے۔ نن صبا هم چه کوم خلق د قومونو او مذهبونو د امتیازی نخو او نظریاتو د ختمولو کوشش کوی، هغوی د تهولونه لویه نسخه خپل مینځ کښ ودونه او نکاحونه گنړی، پدے وجه مسلمان له پدے معامله کښ دے پرواهئ او آسانی نه کار نهٔ دی، اخستل پکار، بلکه لوئی حقیقت او انجام ته همیشه کتل پکار دی، په کوم رب چه دوی ایمان لری، هغه مغفرت او جنت ته دعوت ورکوی او کوم خلق چه د ایمان نه محروم وی، هغوی دوزخ ته لاره هواره وی۔ برابره ده سړے وی که ښځه۔ ځکه ئے په آخره کښ اُوفرمایل چه ددے خبرو نه نصیحت اخستل او دا همیشه رایادول پکار دی۔ مشرك له خور لور ورکول د خپلے خور لور حق بربادول دی چه د الله په دربار کښ به ددهٔ نه تپوس کیږی۔
﴿ يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ﴾ یعنی د کافرانو سره تعلقات کول سبب ددے دے چه مؤمن یا مؤمنه ښځه به گمراه کړی او په نتیجه کښ به ئے ځان سره همیشه جهنم ته بوځی۔
﴿ وَاللّٰهُ يَدْعُوْ اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ ﴾ نو چه الله درته کومه مسئله اُوکړه دا سبب د جنت او د مغفرت دے۔
﴿ بِاِذْنِهٖ ﴾ : د اذن نه مراد د الله تعالیٰ امر دے۔ (زجاج) یا مراد ترے تیسیر (آسانوالے) او توفیق دے۔
﴿ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴾
تذکر : خبره رایادولو ته وائی۔ داسے ئے رایاده کړی چه که دے مشرك سره زهٔ نکاح اُوکړم نو دا خو زما د رب دشمن هم دے او دا خو د غیر الله عبادت کوی، دا خومره نجس دے، او زهٔ خو ددے مشرکانو نه په عقیده راجدا شوے یم، نو بیا څنگه د دوی سره د نکاح تعلق اُوساتم۔ نو آیا زما نکاح ددهٔ سره پکار ده څه؟ نو تا ته به دا خبره رایاده شی چه شرك څومره بده او قبیحه گناه ده۔ او زما د کلمه طیبے تقاضا هم دا ده چه زهٔ به د مشرکانو دشمن یم۔ د تذکر بله معنیٰ نصیحت قبلول هم دی۔
فوائد : (۱) د مشرك او بدعتی سره تعلقات ساتل جائز نهٔ دی ځکه چه هغه د خپل هر قول

او فعل په ذریعه جهنم ته دعوت ورکوي۔

(۲) د ښځې نکاح به په غیر د ولي نه معتبره نهٔ وي۔ الله فرمائي: ﴿ وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِينَ ﴾ یعنې خپلې ښځې مشرکانو له په نکاح مهٔ ورکوئ۔ معلومه شوه چه د ښځې نکاح به د هغې ولي کوي، هغه به خپله نکاح نهٔ کوي۔ ځکه دلته خطاب اولیاؤ ته شویدے۔

(۳) عمر ﷺ د کتابیه سره نکاح مکروه ګڼړلې ده دے دپاره چه داسې اُونشي چه مسلمان سړے خپلې ښځې پریدي او د کتابیاتو سره نکاح شروع کړي۔

(٤) پدے آیت کښې ترغیب ورکړے شویدے چه د مؤمنو سړو او ښځو نکاح د هغوي په شان د مؤمنو سړو او ښځو سره کیدل پکار دي۔ او د کافرانو سړو او ښځو سره د نکاحونو رشته ترل نهٔ دي پکار۔ په صحیح احادیثو کښې هم ددے ډیر تاکید راغلے دے۔

په صحیحینو کښې د ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه نبي کریم ﷺ اُوفرمایل چه «د ښځې سره نکاح په څلورو اسبابو سره کیږي: د مال او دولت، حسب او نسب، ډول او ښائست او دینداری په وجه۔ نو تهٔ د دیندارے ښځې د حاصلولو کوشش اُوکړه»۔

او مسلم د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه نبي کریم ﷺ اُوفرمایل چه دنیا یو عارضي متاع (د فائدے شے) دے او په دنیا کښې د تولو نه غوره متاع نیکه ښځه ده۔ (تیسیر الرحمن)



وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ

اوتپوس کوی دوی ستا نه په باره د حیض کښې، اُووایه دا ضرر رسونکے گندگی ده، پس جدا شئ د زنانو نه په حیض کښې

وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ

او مهٔ نزدے کیږئ دوی ته ترڅو چه دوی پاکے شی اوکله چه ځان ښهٔ پاك کړی بیا راځئ دوی ته د هغه ځائے نه

أَمَرَكُمُ اللّٰهُ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿۲۲۲﴾

چه حکم کړیدے تاسو ته الله، یقیناً الله مینه کوی د توبه ویستونکو سره او مینه کوی د پاکی کونکو سره۔

تفسیر: پدے آیت کښې دتدبیر منزل نه (۷) اُووم حکم دے چه خپلو ښځو ته به په حالت د حیض کښې نهٔ نزدے کیږئ، مؤمن سرے به د ظاهری او باطنی گندگیو نه ځان ساتی۔ هله به ئے کورنئ ښهٔ کیږی۔

مناسبت: (۱) مؤمن له پکار دی چه د هر خُبث او پلیتئ نه ځان اُوساتی برابره ده که ظاهراً وی او که باطناً، نو مشرك کښې باطنی خباثت دے، د هغه د نکاح نه ځان ساتل پکار دی۔ اُوس ظاهری نجاست بیانوی چه مؤمنه ښځه باطنی پاکه ده، لیکن په حالت د حیض کښې ظاهری گندگی ده، پدے وجه د وینی په ځائے کښې ترے جدا شه۔ د هر چا نه به د هغه د اندازے مطابق جدائی کولے شی۔ (۲) دویم ددے امت د تربیت احکام شروع دی۔

شان نزول: انس بن مالك رضی الله عنه وائی چه یهودیانو به د خپلو حائضو ښځو سره خوراك نهٔ کولو، او نهٔ به په یو کور کښې د هغوی سره اُودهٔ کیدل، صحابه کرامو د نبی کریم ﷺ نه پدے حقله پوښتنه اُوکړه چه دوی د خپلو ښځو سره څنګه معامله اُوکړی؟ نو دا آیت نازل شو، چه تهٔ دوی ته اُووایه چه د حیض وینه گنده او نقصان رسونکے ده، پدے وجه په موده د حیض کښې د دوی سره جماع مهٔ کوئ او ترڅو چه پاکے شوے نهٔ وی نو د هغوی خوا ته مهٔ ورځئ او ترڅو چه پاکی حاصله نکړی نو د هغوی سره جماع مهٔ کوئ۔ او نبی ﷺ اُوفرمایل: ((هر څهٔ ورسره کوئ سوا د جماع نه)) (مسلم، ترمذی)

بعض علماء وائی چه تپوس کونکے ابوالدحداح رضی الله عنه وو سره د نورو ملگرو نه۔

د یهودو او د عربو مشرکانو به دا طریقه وه چه په حیض کښې به ئے ښځه د ځان نه ډیره جدا کوله، هیڅ تعلقات به ئے ورسره نهٔ ساتل۔ د مجاهدؒ نه نقل دی چه یهودیانو به په حالت د حیض کښې د ښځو سره په شا طرف کښې جماع کوله۔ آه۔

نصاراؤ بـه ورسره نزديكت كولو۔ نو مسلمانان پدے مسئله كښې حيران وو چه څهٔ اُوكړي، نو تپوس ئے اُوكړو، دا آيت نازل شو چه : تاسو نزديكت ورسره مهٔ كوئ، هسے تعلقات ورسره كولے شئ، كيناستل پاڅيدل خوراك وغيره۔ ددے نه د اسلام انصاف او اعتدال معلوميږي۔

په حديث د مسلم كښې دي چه حاصل ئے دا دے چه دوه مسلمانان نبي ﷺ ته راغلل چه يهوديان د زنانو نه په حالت د حيض كښې ځان ساتي نو د هغوى د مخالفت دپاره مونږ د ښځو سره پدے حالت كښې جماع نهٔ كوو ؟ نو رسول الله پدے سره سخت غصه شو۔ دوى پو هه شو نو اُووتل۔ پدے كښې پئ راغلل، رسول الله ﷺ دا دواړه راوغوختل او پئ ئے پرے اُوسكول چه اشاره وه چه دا پرے غصه نهٔ دے۔ ليكن د دوى خبره د شريعت خلاف وه پدے وجه پرے رسول الله ﷺ غصه رابنكاره كړه۔

ددے نه دا فائده معلوميږي چه د يهودو او نصاراؤ او مبتدعينو خلاف به دومره حده پورے كولے شي چه د شريعت د حدودو نه تجاوز اُونكړے شي۔

﴿ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ﴾ مَحِيض يا مصدر ميمي دے په معنىٰ د حيض سره۔ (يعني ماهواري، بيماري) يا اسم ظرف دے يعني ځائے او وخت د وينے۔

﴿ قُلْ هُوَ اَذًى ﴾ اذى : گندگي تـه هم وائي او ضرر تـه هم۔ او كله ئے په مكروه او بده خبره هم اطلاق كيږي لكه (لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى) [البقرة/۲۶۴]۔

د حيض په حالت كې د جماع كولو ضررونه

د حيض په حالت كښې جماع كولو سره د انسان په بدن كښې ډير ضررونه پيدا كيږي، عِلم طب دا ثابته كړيده چه پدے سره د زنانه او د سړي په عورتونو كښې داسے تيز سوزش پيدا كيږي چه د هغے په وجه په ډيرو بيماريانو كښې اخته كيږي، كله د سړي د متيازو په لاره كښے داسے گرمائش پيدا كړي چه د هغے د وجه نه مثانے او گردے ته نقصان اُورسي او بيا د متيازو ترتيب خراب شي سوزي، يا بنديږي، يا ورسره قطره بيماري پيدا شي۔ اَودس به ئے نهٔ اُوچيږي، كله پدے سره د ښځے او د سړي دواړو شنډ والے پيدا شي۔ د رحم په لارو كښے التهابات (سوزش) پيدا شي نو د هغے د وجه نه ښځه كښے شنډوالے پيدا شي، يا نيمگړے بچے پيدا كيږي۔ ددے نه نيم سيرے بيماري هم پيدا كيږي۔

په ښځه كښے غم او پريشاني او تنگ حالي پيدا كوي چه بيا ئے مزاج خراب وي۔

اُوگوره الحق الصريح (۷۰۱/۲) وتوضيح الاحكام (۳۶۲/۱)

﴿ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ ﴾ يعني په حالت د حيض كښې ورسره جماع مهٔ كوئ۔ يا په ځائے د حيض

کښې ترې جدا شئ چه هغه محل د وینې دے۔
﴿ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ ﴾ یعنې د جماع دپاره ورته مهٔ نزدے کیږئ۔
﴿حَتّٰى يَطْهُرْنَ ﴾ یعنې تر دے چه حیض ئے اُودریږی او حیض چه اُودریدو، بیا به هم جماع نهٔ کوی بنا په راجح قول۔ ﴿ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ ﴾ یعنې کله چه ښځهٔ پاکه شی پداسے شان سره چه غسل اُوکړی نو بیا جماع جائز ده۔
مسئله : آیا د حیض د وینے د اُودریدو نه روستو او د غسل کولو نه مخکښې جماع جائز ده ؟ پدے مسئله کښې دوه قوله دی (۱) یو قول دا دے چه که د حیض د وینے د بندیدلو نه روستو ښځه خپل عورت ښهٔ پاك کړی چه هلته د وینے هیڅ اثر باقی پاتے نهٔ شی نو جماع به جائز وی۔ امام ابن حزمؒ او نورو ډیرو علماؤ وئیلی دی چه غسل کول شرط نهٔ دے۔ د شام محدث علامه ناصر الدین البانی رحمه الله په خپل کتاب (آداب الزفاف) کښې همدے رائے ته ترجیح ورکړیده۔ وهو قول الحنفیه۔
(۲) دویم قول دا دے چه دلته الله تعالیٰ د جماع کولو د جواز دپاره دوه غائیے او دوه شرطونه ذکر کړیدی او بیا ئے په هغے باندے جماع مرتب کړیده : اولنے شرط دا دے چه د حیض وینه راتلل بند شی۔(حَتّٰى يَطْهُرْنَ) او دویم دا دے چه ښځه ښهٔ پاکه شی یعنې غسل اُوکړی۔ ﴿ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ ﴾ ۔
که د غسل دپاره اُوبه نهٔ ملاویږی نو تیمم کول کافی کیږی۔ د امام شوکانیؒ په نیز همدا راجح ده۔ او همدا خبره غوره معلومیږی۔ ځکه که يَطْهُرْنَ او تَطَهَّرْنَ دواړه په یوه معنیٰ باندے حمل شی نو بیا نوے فائده نهٔ حاصلیږی۔ (فتح البیان)
امام ابوحنیفهٔؒ وائی چه که وینه د حیض د کمے مودے نه بنده شوے وه، نو د یو مانځه د وخت د تیریدو په اندازه به صبر کوی او که وینه د زیاتے مودے نه بنده شوه نو بیا که انتظار نهٔ کوی هم حلاله ده۔ لیکن پدے خبره دلیل نشته۔ دغه شان طاووسؒ او مجاهدؒ وائی چه اودس اُوکړی نو جماع ورسره جائز ده۔ لیکن پدے اقوالو باندے هیڅ مستند دلیل نشته۔ لهذا احتیاط په دویم قول کښې دے چه د غسل پورے به صبر کوی۔
﴿ فَاْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ﴾ حیث دلته مکانیه دے یعنې هغه مکان ته به راتلل کوی چه الله ورته د هغے په راتللو حکم کړے چه هغه فرج دے۔ او امر کله په معنیٰ د اِذن او اجازت سره هم دے۔
(دبر) شا طرف کښې به راتګ نهٔ کوی۔ ځکه چه حدیث کښې دی : ((هغه انسان لعنتی دے چه خپلو ښځو ته په شا کښې راتلل کوی))۔ (احمد وابوداود)۔
په یو بل روایت کښې دی : ((چا چه حائضے زنانه ته یا ښځے ته په شا طرف کښې راتلل اُوکړل نو

هغه کفر اُوکړو په هغه دين چه الله تعالىٰ په محمد ﷺ نازل کړے))۔ (ابوداود ۳۹۰٤ بسند صحيح)۔
په روايت د شرح السنه کښې دی : ((هغه څوك چه خپلے ښځے ته په شا طرف کښې راتلل کوی الله به هغه ته اُونۀ ګوری))۔ (صححه الالبانی فی تعليق المشکاة)
﴿ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴾ پدے کښې توبے او پاکئ ته ترغيب ورکوی يعنی که دا ګناه درنه شوی وی نو الله ته توبه اُوباسئ او هميشه پاکی کوئ، ښځے ته په شا طرف کښې او په حالت د حيض کښې راتلل ګندګی ده او د الله تعالىٰ ګندګی نۀ ده خوښه، بلکه پاك خلق ئے خوښ دی، په هر لحاظ سره، چه ظاهری لباس ئے هم پاك وی، بدن ئے هم پاك وی، بی بی ته چه نزدے کيږی، نو هم د پاکئ په حالت کښې، د پاکئ په ځائے کښې۔ او باطنی پاکی ئے خوښه ده چه انسان صحيح العقيده او صحيح العمل وی۔
رسول الله ﷺ يو سړے اُوليدو چه سر ئے ګډوډ وو۔ وے فرمايل : ((آيا دا څه نۀ مونده کوی چه خپل ويښتـه پرے برابر کړی، هغه لاړو سر او ګيره ئے برابره کړه نو نبی ﷺ اُوفرمايل آيا دا ددے نه غوره نۀ دے چه يو سړے داسے ګډوډ ويښتو والا راشی لکه د شيطان په شان۔ او بل سړے ئے اُوليدو چه جامے ئے خيرنے وے، وے فرمايل : آيا دا اُوبه نۀ مونده کوی چه خپلے جامے پرے اُوينځی))۔ (الصحيحة : ٤٩٣)
دے نه معلومه شوه چه شريعت ته ظاهری پاکی هم مطلوب ده۔
بيا په توبه سره خپل باطن د ګناهونو نه پاکيږی، او تطهر ديته وائی چه خپل ظاهر لره د نجاستونو او ګندګو نه پاك اُوساتی۔ او الله تعالىٰ ته د مؤمن دا دواړه حالتونه ډير خوښ وی، ددے په خلاف کوم خلق چه ددے نه محروم وی، هغه د الله په نيز مبغوض دی۔نو کوم خلق چه د ښځو سره په ناپاکئ کښې نزديکت کوی، يا د شهوت پوره کولو په معامله کښې د فطرت د حدودو نه تجاوز کوی، نو هغوی د الله تعالىٰ په نيز ډير مبغوض دی۔ لکه چه د مخکښې احاديثو نه معلومه شوه۔
المتطهرين کښې اشاره ده چه دا منع د دوی د فائدے دپاره شويده، دے دپاره چه دوی پاك شی۔او توبه ئے ورسره ذکر کړه پدے کښې د توبے عظمتِ شان ته اشاره ده چه پدے سره روح پاکے کيږی۔ (ابن عاشور)
فوائد : ۱- پدے آيت کښې په حالت د حيض کښې د جماع نه منع ده، په يو ځائے کيناستل پاڅيدل، خوراك څکاك، څملاستل او د جماع نه غير د نورو فائدو اخستلو منع نشته۔
په صحيحينو کښې د ام المؤمنين ميمونه رضی الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به ما سره اُوده کيدو، او زۀ به حائضه اُوم، او زما او د هغه په مينځ کښې به صرف يوه کپړه وه۔

۲ – د وينې د اُودريدو نه روستو حائضې دپاره غسل کول واجب دي.

نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ وَقَدِّمُوْا

ستاسو ښځې فصل دے ستاسو دپاره نو راتلل کوئ خپل فصل ته په کومه طريقه چه ستاسو خوښه وي او مخکښ اُولیږئ

لِاَنْفُسِكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۲۳﴾

د خپلو ځانونو دپاره او اُویریږئ د الله نه او پوهه شئ چه تاسو به د هغهٔ سره ملاویږئ او زیرے ورکړه ایمان والو ته.

تفسير: پدے کښ د تدبير منزل نه بل حکم دا دے چه خاوند به هغه ځائے ته راتګ کوی چه په هغے کښ د ښځے حق ادا کيږی او هغه ځائے ته به راتګ نهٔ کوی چه په هغے سره د ښځے حق نهٔ ادا کيږی، او ښځے لـه پکار دی چه د خاوند شرعی مطالبے پوره کړی، نو پدے سره به کورنئ ودانـه وی، او فسـادونه به نهٔ پيدا کيږی، نو پدے کښ د نزديکت اسلامی طريقه، آداب او مقصد بيانوی او په رواج د يهوديانو رد هم کوی.

د يهـوديانـو دا رواج وو چه هـغـوی بـه وئيـل: سړے چه ښځے سره د شا د طرفنه په فرج کښ نـزديـکـت اُوکړی نو بچی کوږ سترګی پيدا کيږی، نو انصارهم د هغوی سره د ګاونډتوب د وجه نـه ددے خبرے نه متأثره وو. يو مهاجری د يوے انصارئ ښځے سره نکاح اُوکړه او د هغے نه ئے په فـرج کـښ د شـا د طـرف نـه د جـمـاع کـولـو مـطالبه اُوکړه لکه څنګه چه دوی په مکه کښ پدے اموخته وو، نو هغے انکار اُوکړو چه مونږ کښ داسے کار ته راتلل نشی کيدے. (يعنی داکار مونږ تـه عيـب ښـکاری) نو خلقو کښ دا خبره خوره شوه تردے چه نبی ﷺ تـه دا خبره اُورسيدهٔ نو دا آيت نازل شو.

بيا نبی ﷺ اُوفرمايل : [صِمَامًا وَاحِدًا] يـوے لارے تـه بـه راتـګ کـوئ که په هره طريقه سره وی، لکه دا حديث په مسند احمد او ترمذی (۲۹۷۹) او دارمی وغيره کښ په صحيح سند راغلے دے.

نو الله تعالیٰ دا آيت نازل کړو، پدے کښ ئے د خلقو غلط تصور برابر کړو.

﴿ نِسَائُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ﴾ (ښځے ستاسو فصل دے) نو کوم ځائے کښ چه فصل کيږی هغه ځائے ته به راتګ کوئ.

﴿ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ ﴾ راتلل کوئ خپل فصل ته څنګه او په کومه زمانه کښ چه غواړئ)

«اَنّٰى» دلتـه د کيـفيـت دپاره دے، پـه معنیٰ د کَيْفَ دے. يعنی په کومه طريقه مو چه خوښه وی څکه الله حکيم ذات دے چه پابندی ئے لګولے وے چه تاسو به خپلے ښځے سره نزدے کيږئ صرف

په سملاستو، او بله طريقه به نه کوئ نو انسان حرصناك دے، نورے طريقے به لټوی نو هر وخت به په ګناه کښې واقع کيدے۔ الله اجازه ورکړه چه څنګه مو خوښه وی۔

پدے جمله کښې په يو وخت کښې دوه خبرو ته اشاره ده يو خو هغه آزادئ، بے تکلفئ، او خود مختارئ ته چه د يو باغ يا پټي مالك ته د خپل باغ يا پټي په باره کښې حاصليږی۔

او دويم هغه پابندئ او احتياط ته اشاره ده چه يو باغ يا پټي والا ئے د خپل باغ يا پټي په باره کښې لحاظ ساتي۔ دويمے خبرے ته په (حَرْث) لفظ سره اشاره ده، او اول شی ته په (اَنّٰى شِئْتُمْ) لفظ سره۔ هغه آزادی او دا پابندی دواړه څيزونه په يو ځائے خاوند ته د خپلے بی بی په باره کښې لاره متعين کوی چه تا له داسے معامله اختيارول پکار دی۔

انسان چه کله د خپل عيش او خوشحالئ پدے باغ کښې داخليږی نو قدرت غواړی چه هغه د خپلے دے نشے نه پوره فائده اُوچته کړی ليکن ورسره دا حقيقت ئے هم د هغه مخے ته ايخودے دے چه دا کوم څنګل نهٔ دے، بلکه خپل باغ دے او دا کوم ډيران نهٔ دے بلکه خپل فصل او پټے دے۔ پدے وجه سل کرته خو ډے راشی او په کوم شان چه وی او په کوم وخت کښې چه وی او په کوم اړخ چه وی او په کومه طريقه چه غواړی راډے شی، ليکن ددے باغ او د فصل کيدو خيال ډے ياد ساتي۔ د خپل پټي متعلق هر دهقان دا خوښوی چه د هغے نه ډير ښهٔ فصل حاصل شی، په مناسب وخت کښې په هغے کښې اِيوه اُوکړی، د ضرورت مطابق هغے ته اُوبه ملاؤ شی، د موسمی آفتونو نه ډے هغه محفوظ شی، لاروی، مارغان، حيوانات او دشمنان او غلهٔ هغے ته نقصان اُونهٔ رسوی۔

او کله چه دا هغه اُوګوری نو دهغے تازګی دا خوشحاله کړی او کله چه وخت راشی نو هغه د خپلو ميوو او ګلانو نه لمن ډکه کړی۔ پدے وجه قرآن کريم د ښځے دپاره د فصل او پټي لفظ استعاره استعمال کړو چه دے تولو خبرو ته پکښې اشارات پراتهٔ دی، او پدے سره ئے د خاندانی منصوبه بندئ سکيمونو والو د نظريئے جرړے پريکړے څکه چه دا خبره هيڅ عقل نهٔ اخلی چه يو انسان ډے خپل تخم زيات ګوزار کړی او فصل ډے کم حاصل کړی۔ دا خو د سوچه بے وقوفو خلقو منطق دی۔

﴿ وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ ﴾ ددے جملے نه دا حقيقت ښکاره کيږی چه ښځے سره د تعلق کولو اصل غرض د نسلِ انسانی بقاء ده، لذت او خوند حاصلول صرف ضمنی فائده ده۔

د (قَدِّمُوْا) يوه معنىٰ اُوليکله شوه۔ بله دا چه مخکښې نيت او تدبير اُوکړئ د خپل ځانونو دپاره۔

بيا د ځان دپاره د مخکښې ليږلو ډير مصداقات کيدے شی (۱) يو خو نية الاولاد دے۔ چه انسان

د جماع په وخت کښې د اولادو نيت اُوکړی چه الله ورله نيک اولاد ورکړی چه د الله په بندګئ کښې مصروف وی، او ددهٔ دپاره صدقه جاريه جوړه شی۔

(۲) دويم : ددے نه مراد د جماع په وخت کښې بسم الله وئيل دی، لکه څنګه چه په صحيح حديث کښې راغلی دی چه د جماع په وخت کښې به جماع کونکے [بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا] وائی، نو که د ښځے او خاوند ددے جماع نه کوم اولاد مقرر شی، هغه ته به شيطان ضرر نهٔ ورکوی او نهٔ به ئے ګمراه کوی۔ (۳) يا ددے نه مراد اعفاف الزوجة دے۔ دا نيت اُوکړی چه ښځه پاکه شی، د هغے غلط خيالات ختم شی۔

(٤) يا د خپل نفس عفت (پاکی) مراد دے۔ چه د انسان خيالات غلط استعمال نشی۔ د ګناهونو نه بچ شی لکه دا مقاصد د نکاح هم دی۔

(٥) يا معنیٰ ده [اَلْاَعْمَالُ الصَّالِحَةُ الَّتِیْ تُنَالُ بِهَا الْجَنَّةُ وَالْكَرَامَةُ] هغه نيک عملونه اُوليږئ چه تاسو ته پرے جنت او عزت ملاوٙ شی)۔ دا د قرآن کريم طريقه ده چه کله د دنيا خواهشات بيان کړی لکه دلته ئے د شهوت پوره کولو آزادی او حلال والے بيان کړو نو د آخرت اعمال هم بيانوی، چهٔ نور ډير نيک اعمال شته چه هغه درنه په شهواتو پاتے نشی۔ (قاسمی ۱/۵۵۰)

﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ پدے کښې په مخکنی احکامو باندے عمل کولو ته ترغيب دے او د هر قسمه ګناهونو نه منع ده۔

﴿وَاعْلَمُوْا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ﴾ د آخرت په ترغيب سره د انسان اصلاح ډيره کيږی، پدے وجه آخرت ورته يادوی۔ د مُلٰقُوْهُ ضمير الله ته راجع دے۔ يعنی تاسو به د الله سره ملاويږئ، د هغه مخے ته به د مرګ نه روستو په قيامت کښې پيش کيږئ۔

○ يا ضمير تقویٰ ته راجع يعنی تاسو به د تقویٰ جزاء او بدلے سره ملاويږئ۔ اول ډير ظاهر دے۔ څکه مُلٰقُوْهُ کښې يره پرته ده يعنی غلط کار مکوه څکه چه ستا د الله تعالیٰ سره ملاويدل دی۔

او ددے مطلب دا دے چه اګرکه تاسو د فطرت دا قوانين او د الله تعالیٰ دا حدود نن په خلوت او جَلوت کښې ماتولے هم شئ او تاسو ته ددے مهلت درکړے شويدے، ليکن ياد ساتئ چه يوه ورځ به ستاسو د الله سره ملاويدل وی چه هغه تاسو په سترګو سره هر څائے کښې وينی، او د هغه د رانيولو نه به تاسو هيڅوک نشی خلاصولے، هغه به درنه تپوس کوی، چه تا ولے په غلط حالت او په غلطه طريقه راتلل کړيدی۔ او ددے دهمکئ سره ايمان والو ته زيرے هم ورکوی چه دوی د خپل نفس د خواهشاتو باوجود دا خبره ياده ساتی چه يوه ورځ به د دوی د الله سره ملاويدل وی۔

﴿وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ د قرآن دا طريقه ده چه احکام هم بيانوی، ورسره بنده آخرت ته هم راکاږی

او ذهن هم جوړوي۔ او دلته ئې ايمان والو ته زيرے په نفس ايمان ورکړے، دا هم د ايمان والو دپاره خوشحالي ده۔ او اشاره ده چه ايمان د الله تعالیٰ استحضار ته وائي۔

فائده: دلته درے جملے داسے ترتيب سره ذکر شويدی چه په خارج کښ ددے ترتيب د روستو نه شروع کيږي يعنی اول د الله د ملاقات استحضار کول، بيا په تقویٰ امر کول، بيا د خپل ځان دپاره نيك اعمال تيارول۔ ليکن په ظاهر کښ ددے ترتيب مخالفت اُوشو حکمة دا دے چه آخرت دپاره تيارے کول اصل مقصد دے او دا تيارے په تقویٰ سره کيږي او بيا د الله تعالیٰ د ملاقات په استحضار سره کيږي، نو دا ترتيب په منزله د تعليل (علت) شو، چه روستنے شے علت د مخکنی دے۔ (ابن عاشور)۔

وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِأَيْمَانِكُمْ أَن تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا
او مۀ گرځوئ نوم د الله نخه (هدف) دپاره د قسمونو ستاسو چه تاسو به نيکی نۀ کوئ او تقوی به نۀ کوئ
وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٤﴾
او اصلاح به نۀ کوئ او الله اَوريدونکے، پوهه دے۔

تفسير: پدے آيت کښ د تدبير منزل د قوانينو نه نهم قانون دا دے:

[تَعْظِيْمُ اسْمِ اللهِ، وَالنَّهْيُ عَنِ الْحَلْفِ الْغَيْرِ الْجَائِزِ، وَلَايَكُنِ اسْمُ اللهِ مَانِعًا عَنِ الْخَيْرِ فِي الْمُعَاشَرَةِ]

(د الله تعالیٰ د نوم تعظيم او اکرام کول او د بے ځايه ناجائز قسمونو نه ځان ساتل دی، او په معاشره کښ دِ دے د الله نوم د خير نه مانع نشی جوړولے)

يوه کورنئ چه جوړيږي نو پدے چه په هغے کښ بے ځائے يا د گناه قَسَم نۀ وی، خاوند يا ښځه او د کور مشر به د شريعت خلاف يا په دروغه قَسَم نۀ کوی چه ځان پرے د نيکيو نه منع کوی۔ پدے سره کورنئ خرابيږی او د الله د نوم چه کله اکرام کيږی نو معاشره به جوړوی۔

بيا د الله تعالیٰ دا حکم دے چه مسلمان کله قَسم اُوخوری نو هغه به پوره کوی، ليکن که قسم يو داسے وی چه د نيك عمل په لاره کښ رکاوټ جوړيږی، مثلًا اُووائی چه زۀ به دا نيك کار نۀ کوم، اصلاح د خلقو به نۀ کوم، نو داسے قسم به ماتولے شی، او هغه نيك کار به کولے شی، او ددے قَسم کفاره به ورکړے شی۔ بعض خلقو به د خپلو رشته دارانو نه د څۀ وقتی اختلاف او ناراضگئ په وجه قَسم کولو چه آينده به د هغه سره نيکی او احسان جاری نۀ ساتی، کوم ئې چه د مخکښ نه کولو، نو الله تعالیٰ پدے آيتِ کريمه کښ ددے نه منع اُوفرمايله چه خپل قسمونه د

نیکئ، تقوئ، احسان او خیگړې په لاره کښې رکاوټ مهٔ جوړوئ.

د مفسرینو یو جماعت د ابن جریجؒ نه نقل کړی چه دا آیت د ابوبکر صدیق ﷛ په باره کښې نازل شوے وو چه قَسم ئے اُوکړو چه زهٔ به د خپلے ترور (خاله) په ځوی مسطح بن اثاثهؓ باندے انفاق نهٔ کوم، ځکه چه دا د عائشےؓ په تهمت کښې شریك شویدے.

واحدیؒ د کلبیؒ نه نقل کړی چه دا آیت د عبد الله بن رواحه ﷛ په باره کښې نازل دے چه ددهٔ اَوښی نعمان بن بشیر ﷛ ددهٔ خور له طلاق ورکړے وو او بیا دواړو د رجوع او صلحے اراده لرله، نو عبد الله قسم اُوکړو چه نعمان بن بشیرؓ سره به خبرے نهٔ کوی، او د هغه کور ته به نهٔ داخلیږی، او دهغهٔ او دهغه د ښځے په مینځ کښې به جوړ جاړے نهٔ کوی. (ابن عاشورؒ، بغویؒ) هر یو سبب چه وی خو د آیت الفاظ عام دی.

ددے وجه نه په صحیحینو کښې د ابو موسیٰ اشعری ﷛ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل: ((قَسم په الله، که زهٔ په یوه خبره قسم اُوکړم او بیا روستو د هغے نه غوره صورت وینم، نو ان شاء الله چه زهٔ هغه کار کوم، کوم چه غوره وی او قسم ماتوم)).

دا ئے په هغه وخت کښې وئیلی وو چه څهٔ کسانو ترے د اُوښانو مطالبه اُوکړه، نو نبی ﷺ د نهٔ ورکولو قسم اُوکړو، بیا ئے قَسم مات کړو او هغوی ته ئے اُوښان ورکړل.

او په صحیح مسلم کښې د ابوُ هریره ﷛ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل: ((څوك چه قسم اُوکړی او بیا روستو د هغے نه غوره کوم صورت وینی، نو د خپل قَسم کفاره دے ورکړی، او هغه کار دے اُوکړی کوم چه غوره وی)).

یعنی د شریعت خلاف قَسم به ضرور ماتوی او کفاره به ورکوی.

دلتــه الله تعالیٰ د قَسم مسئله راوړه، ځکه چه دا آیت د روستو راتلونکے مسئلے دپاره تمهید دے چه هغه د ایلاء مسئله ده.

﴿وَلَا تَجْعَلُوا﴾ په (نِسَآئُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ) باندے عطف دے او دا عطف د تشریع د یو حکم دے په بل حکم باندے، او مناسبت د دواړو جملو دا دے چه دواړو کښې د ښځے او د خاوند ترمینځ د ژوند تیرولو احکام دی، د اولے جملے مضمون په حالت د حیض کښې د نزدیکت نه منع وه، او دا جمله د روستو (لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ) دپاره تمهید دے، نو دا تمهید د دواړو آیتونو په مینځ کښې په منزله د جملے معترضے دے. (ابن عاشورؒ).

(عُرْضَةً) : په وزن د فُعْلَة دے چه په مفعولی معنیٰ باندے دلالت کوی لکه دقُبْضَةٌ او مُسْكَةٌ او هُزْأَةٌ په شان چه په معنیٰ د مقبوض، ممسك، مهزوء سره دے.

دا د عَرَضَةٌ نه مشتق دے، په هغه وخت کښې استعماليږي کله چه انسان يو شے په عُرض يعني يو جانب باندے کيدی، او دلته د عَرَضَ الْعُوْدَ عَلَى الْإِنَاءِ نه اخستے شويدے يعني (لرګے ئے په لوښي باندے په پلنو کيخودو) يعني يو شے مانع جوړول. بيا مشهور شويدے پدے معنیٰ کښې چه يوشے راپيښ شي او د بل شي نه مانع جوړ شي. (ابن عاشورؒ، بغوی).

﴿ وَلَاتَجْعَلُوا اللهَ عُرْضَةً لِاَيْمَانِكُمْ ﴾

آيت کښې دوه تفسيره دی: (۱) عُرْضَةً په معنیٰ د مانع سره دے، او اَنْ مدخول په تاويل دمصدر ګرځوی او (لِاَيْمَانِكُمْ) کښې لام اجليه دے. (يَعْنِيْ لَا تُجْعَلُوا اسْمَ اللهِ مَانِعًا عَنِ الْبِرِّ وَالتَّقْوىٰ وَالْإِصْلَاحِ لِاَجْلِ اَيْمَانِكُمْ) ـ (مه ګرځوئ نوم د الله منع کونکے د نيکئ او تقویٰ او اصلاح نه د وجه د قسمونو کولو ستاسو نه).

يعني تا قسم کړے پدے وجه د الله نوم دے منع کونکے د نيکئ نه اُوګرځولو. او د الله نوم دے بے ځائے استعمال کړو. د هغه نوم دے د نيکئ نه د منع کيدو سبب اُوګرځولو.

(۲) دويم عُرْضَه په معنیٰ د هدف او نشانه سره دے، او د عربي ژبے دا قانون دے چه د اَنْ نه روستو غالباً (لَا) کلمه پټه وی يعني لِئَلَّا تَبَرُّوْا وَلَاتَتَّقُوْا وَلَاتُصْلِحُوْا ـ او قرآن کښې ددے ډير مثالونه موجود دی. [يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا اَیْ اَنْ لَاتَضِلُّوْا] ـ او کوفين ورته (کراهية) لفظ راوباسی. ای كَرَاهِيَةَ اَنْ تَبَرُّوْا الخ.

معنیٰ دا ده: مه ګرځوئ نوم د الله هدف او نخه دپاره د خپلو قسمونو چه تاسو خپل قسمونه د الله تعالیٰ نوم ته ورولئ لکه څنګه چه نخه ويشتلے شی. ددے دپاره چه تاسو نيکی نهٔ کوئ، تقویٰ نهٔ کوئ، اصلاح نهٔ کوئ. يا د وجه د بد ګنړلو ستاسو نيکی لره، تقویٰ لره، اصلاح لره.

يعني د الله د نوم نه ئے هدف جوړ کړے وی او داسے وائی: قسم په الله او والله، بالله، تالله. ځان پرے د نيکئ نه بندوی. او د الله نوم د قسم دپاره د هدف جوړولو مطلب دا دے چه د هغه په نوم بے ضرورته قسمونه کوی، يا داسے قسمونه کوی چه د نيکی او تقویٰ او اصلاح خلاف وی. د لوئی ذات لوئی نوم دے بے ضرورته قَسَمونو دپاره استعمالول داسے دی لکه يو شخص ماشی ويشتلو دپاره توپ استعمال کړی، او د نيکئ او د تقویٰ خلاف قَسَمونو دپاره د الله پاك نوم استعمالول داسے دی ګويا کښې د الله په نوم سره د نيکی او تقویٰ جرړے پريکول دی، کوم نوم چه د ټولو نيکيانو او خيرونو چينه ده. لهذا د الله نوم به د خير په ځائے د ګناه اوبے خيرئ دپاره نهٔ استعماليږی.

نوم د الله خو ددے دپاره دے چه سړے به نيك عمل کوی، او دے دپاره نهٔ دے چه د بد عمل دپاره

به پرې قَسمونه کوي۔
پدې کښې ابوحيانؒ يوه بله توجيه ذکر کړيده چه ان تبروا الخ د اَيْمَانِكُمْ پورې متعلق دې، او د عُرْضَة معنیٰ د هدف او د نخې ده، او مقصد دا دې چه په نيکئ او تقویٰ او اصلاح کولو باندې د الله په نوم قسم مهٔ کوئ او مقصد پکښې دا دې چه دا درې واړه کارونه اګرکه د خير دي ليکن پدې هم ډير قسمونه مهٔ کوئ۔ ليکن دا توجيه غوره نهٔ ده ځکه چه د الله په نوم قسم کولو ته شريعت ترغيب ورکړيدې لکه چه لږ روستو به راشي۔
فائده : درې څيزونه ئې ذکر کړل، دې الفاظو دلته د خير او نيکئ تمام اقسام راجمع کړي۔
(۱) ...... بِرّ هغه ټولو نيکيانو ته شامل دې چه د هغې تعلق د مور او پلار، خپلوانو، مسکينانو، يتيمانو او نورو حقوق العباد سره دې۔ تقویٰ په هغه نيکيانو مشتمل ده چه د حقوق الله سره تعلق لري، او د اصلاح نه مراد هغه نيکيانې دي چه د معاشرې سره تعلق لري۔ پدې وجه ئې دا درې الفاظ خاص کړل چه ټول دين ته شامل شي۔ (تدبر قرآن)
(۲) ...... دارنګه د خير کار فائده به يا بل ته رَسَول وي يا ځان ته۔يا به د چا نه ضرر دفع کول وي۔ نو بِرّ (نيکي) کښې بل ته فائده ورکول وي۔ او ځان ته فائده رسولو ته تقویٰ وئيلې شي۔ او د بل چا نه ضرر دفع کولو ته اصلاح وئيلې شي۔نو پدې طريقه هم دا د خير ټولو کارونو ته شامل دي۔ (احسن الکلام)۔
(۳) ...... دارنګه بِرّ کښې د الله حقوق دي۔(تَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا) کښې د بندګانو حقوق دي۔ بيا تَتَّقُوْا کښې فائده رَسَول دي او تُصْلِحُوْا کښې ضرر دفع کول دي۔ او دا درې واړه اُوچت اخلاق دي، د الله حق هم ادا کوي، او مخلوق له فائده هم ورکوي، او ضرر ترې لرې کوي۔
﴿وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ﴾ دا تذييل دې، مخکښې قَسَم ذکر شو او هغه تعلق د آوريدو سره لري نو الله فرمائي چه الله ستاسو د قسم الفاظ آوري، خبردار ! د هغه نوم بې ځائې استعمال نکړئ۔ او درې کارونه د خير دي نو الله پوهه دې چه تاسو دا کارونه منع کړل۔ ددې سزا به درکوي۔

فوائد او علوم

(۱) په عوامو کښې مشهوره ده چه قَسَم په حقه او په ناحقه ناروا دې، دا خبره خطاء ده، بلکه د الله په نوم قسم کولو کښې ثواب دې کله چه قَسَم ته ضرورت راشي۔
حديث کښې دي :[اِحْلِفُوْا بِاللّٰهِ وَبَرُّوْا وَاصْدُقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ اَنْ يُّحْلَفَ بِهٖ]
[صحيح الجامع الصغير ۱۱۲۱]۔

(په الله قسم كوئ، او نيكي كوئ او په هغې كښې رشتيا وايئ ځكه چه الله دا خوښوي چه د هغه په نوم قسم اُوكړے شي) ځكه چه پدے كښې د الله د نوم تعظيم راځي. مقصد دا وى چه قَسَم خوړونكے عقيده لري چه زهٔ دا قسم پوره كوم، دے دپاره چه د الله د نوم سپكاوے اُونشي، او كه قَسَم پوره نكړم، نو الله به ما ته عذاب راكړي، نو پدے كښې د الله نه يره راځي.

(۲) قَسَم د الله په نوم هم كيږي، او د الله په صفاتو هم كيږي، او په قرآن هم كيږي، فقه حنفي كښې چه دا راغلي دى چه په قرآن قَسَم نهٔ كيږي، نو د هغې مقصد دا دے چه عرف كښې پرے خلق قَسَم نهٔ كوى. ځكه بناء د قَسَمونو په عرف وى. ليكن مونږ وايو چه د هغه فقهاؤ په عرف كښې به پرے قَسَم نهٔ كيدو او ز مونږ پدے زمانه كښې قوى قَسَم خلق په قرآن كوى، لهذا په قرآن قَسَم بالكل جائز دے ځكه چه قرآن د الله كلام دے، او د هغه صفت دے. او كه څوك وائي چه قرآن باندے ځكه قسم جائز نهٔ دے چه دا مخلوق دے، نو دا خبره د اولے نه هم زياته خطرناكه ده. ځكه چه خلق خو په كتب باندے قسم نهٔ كوى بلكه د الله په كلام ئے كوى.

(۳) مفسرينو ليكلي دى چه پدے آيت كښې په هره خبره باندے د قَسَم كولو نه منع شويده.

(٤) كه يو شخص د واجب په پريخودو قسم اُوكړي نو قَسَم ماتول به واجب وى، او كه د مستحب په پريخودو قسم اُوكړي، نو قسم ماتول به بهتر وى، او كه د حرامو په كولو قسم اُوكړي، نو په دے باندے هم قَسَم ماتول واجبيږي. (تيسير الرحمن).

(۵) كه څوك په كعبه يا په پلار نيكه يا په نبى باندے قسم اُوكړي نو دا قَسَم نهٔ دے، نو پدے كښې كفاره هم واجب نهٔ ده، بلكه دا عظيم جُرم او ګناه ده، الله ته به زر توبه اُوباسى ځكه چه په غير الله باندے قسم كولو ته نبى ﷺ شرك وئيلے دے. (بغوىؒ).

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ
نهٔ راګيروي تاسو الله تعالىٰ په لغو (عادتي) قسمونو ستاسو ليكن رانيسي تاسو په هغې چه كړي وى
قُلُوْبُكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۲۵﴾
زړونو ستاسو ـ او الله ډير بخونكے صبرناك دے.

تفسير : پدے كښې د قَسَم كولو بعض اقسام او حكم ذكر كوى.

مناسبت : مخكښې د ډيرو قسمونو كولو نه منع اُوشوه چه د الله نوم بے ځايه مهٔ استعمالوئ، نو اُوس وائي چه كله انسان عادتي قَسَم كوى لكه د عربو عادت دے چه هغوى په

هر څه کښې (لَا وَاللهِ) او (بَلٰى وَاللهِ) وائي۔ نو ددې به څۀ حکم وي؟ نو الله پدې آيت کښې د هغې استثناء ذکر کوي چه پدې باندې څۀ گناه نشته۔

﴿لَايُؤَاخِذُ﴾ دلته ئې باب مفاعله (مُؤَاخَذَه) د مبالغې دپاره ذکر کړيده۔ د مؤاخذې معنىٰ ده، يوشي چا پسې حسابول او شمارل، دې دپاره چه هغه پرې ملامته کړي يا سزا ورکړي۔

﴿بِاللَّغْوِ﴾ لَغَا يَلْغُوْ لَغْوًا ۔ په معنىٰ د باطلې خبرې کولو سره، او کله په معنىٰ د هغه خبرې سره راځي چه پريوتې وي او هيڅ اعتبار ورله نۀ وي، او ديته خطاء وائي۔ او دا ئې مشهوره معنىٰ ده۔ دلته عادتي، بې ارادې او غير اختياري قَسَم کول مراد دي۔

عائشه رضي الله عنها فرمائي: دا آيت د هغه خلقو په باره کښې نازل شوې چه په غير شعوري طور سره (لَا وَاللهِ، بَلٰى وَاللهِ) کلمه به ئې وئيله۔ (بخاري، مؤطا، ابوداود)۔

يعنې هغه الفاظ د قَسَم چه په ژبه باندې بغير د ارادې نه اُوځي، او د زړۀ سره ئې هيڅ قِسم تعلق نۀ وي۔ او د هيڅ نفع او نقصان د خاطره نۀ وي کړې شوې، بلکه صرف د خبرو په مينځ کښې د تکيه کلام دپاره يا د تنبيه دپاره يا د تاکيد دپاره وئيلې شي۔ او دا قول د جمهورو علماؤ دې۔

ليکن کوم قَسَمونه چه د زړۀ په قصد او اراده سره وي، او د هغې په وجه د انسان په خپلو يا د بل چا په حقوقو باندې د اثر پريوتو دپاره وي، مثلاً د بل دپاره يا ځان دپاره حق ثابتوي، يا د ځان نه پرې ضرر دفع کوي، نو که د الله نوم ئې په غلطه طريقه استعمال کړو نو الله تعالىٰ به دا انسان ضرور رانيسي۔ آؤ، که په جائز کار کښې د زړۀ نه قسم کوي او بيا ئې پوره کوي، نو هيڅ گناه نشته لکه مخکښې آيت کښې تشريح اُوشوه۔

فائده: ددې آيت او د احاديثو نه د قَسَم درې قسمونه او د هغې احکام معلوميږي۔

(۱) يَمِيْنِ لَغْو۔ ددې په تعريف کښې اختلاف دې۔ ○ يو قول مخکښې ذکر شو۔

○ دويم قول دا چه، امام مالك رحمه الله فرمائي: چه انسان په يو شي قَسم اُوکړي او ددۀ گمان وي چه دا شې به دغه شان وي، ليکن بيا ښکاره شي چه دغه شې ددۀ د گمان خلاف دې۔ يعنې په دروغه قَسَم کول په خپل گمان چه په واقع کښې هغه شان نۀ وي۔

لکه مثلاً تا يو کار نۀ دې کړې او گمان دې دا وي چه ما کړې او په هغې قسم اُوکړې۔ يا دې کار کړې او قَسَم کوې چه ما نۀ دې کړې، درنه هير شوي وي۔ امام مالكؒ په موطأ کښې وائي دا بهترين تعريف دې چه ما ته رارسيدلې دې۔ آه۔ او دا د ابو هريره ﷺ، د حسن بصريؒ، قتادةؒ، مکحولؒ، ابن ابی نجيحؒ وغيره نه نقل دې۔

وجه دا ده چه سورة المائده کښې راځي (بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ) رانيول په هغه وخت کښې دي چه د

زړۀ په مضبوطوالی سره وی، او په نفسِ قَسم سره رانیول نشته، بلکه رانیول په هغه صورت کښې دی چه اراده د حنث او ماتولو لری نو ځکه ئې هلته کفاره هم خودلے ده۔

○ بعض علماء وائی : اَللَّغْوُ مَا لَمْ يَقْصِدْ بِهِ الْكَذِبَ۔ لغو هغه قسم دے چه اراده د دروغو نۀ لری۔ نو دا مخکنو دواړو تعریفو نو ته شامل دے۔ برابره ده که بغیر د قصد نه وی لکه عادتی قسم یا سره د ارادے نه وی خو عقیده د رشتیا ئے وی لیکن په واقع کښې خطائی ښکاره شی۔ دا قول د ابن عباسؓ او شعبیؒ دے۔ او دا د امام ابوحنیفةؒ د قول نه هم معلومیږی۔(التنویر والتحریر ۲/۳٦٤)۔

اول قول غوره معلومیږی ځکه چه دلته لغو د کسب القلب (د زړۀ د ارادے) مقابل ذکر شویدے۔ نو په لغو کښې به اراده نۀ وی۔

د لغو قَسم حکم دا دے چه نۀ پکښې کفاره شته او نۀ ګناه۔ لیکن ددے قَسَم نه قرآن کریم په لغو سره تعبیر اُوکړو، پدے کښې اشاره ده چه د ثقه او غوره خلقو دپاره ددے نه هم پرهیز کول پکار دی ځکه چه قرآن کریم کښې د کامل ایمان والو په صفت کښې دا بیان شویدی چه دوی د لغو څیزونو نه ځان ساتی۔ (تدبر قرآن بتصرف)۔

(۲) دویم یمین غَمُوس : [اَلْحَلْفُ عَلَى الزَّمَانِ الْمَاضِيْ كَاذِبًا] : دا هغه قسم دے چه په دروغه باندے قصداً اُوکړے شی په تیره شوے زمانه کښې چه ما دا کار کړے وو، یا مے نۀ وو کړے۔ پردے مال پرے حاصلوی، یا د ځان نه پرے ضرر دفع کوی۔ او ښۀ یقین ئے وی چه دا پکښې دروغجن دے۔

ددے حکم دا دے چه دا کبیره ګناه ده او نبی ﷺ د اکبر الکبائر (د ټولونه د لویو ګناهونو) نه شمارلے دے۔ او په کفاره کښې ئے اختلاف دے۔ امام شافعیؒ وائی پدے کښې کفاره شته۔ جمهورؒ وائی، کفاره نشته، کفاره خو ددے دپاره وی چه ګناه ختمه کړی، او دۀ دومره غټه ګناه کړیده چه هغه په کفاره نۀ معاف کیږی۔

(۳) یمین مُنْعَقِدَه : [اَنْ يَّكُوْنَ عَلَى الزَّمَانِ الْمُسْتَقْبِلِ] چه په راتلونکی زمانه باندے قَسم اُوکړی چه صبا به دا کار کوم، یا به ئے نۀ کوم۔ ددے حکم دا دے چه که د کار په کولو ئے قسم کړے وو، او پوره ئے نکړو، نو کفاره به ورکړی، او که په نۀ کولو ئے قسم کړے وی او وے کړو نو هم کفاره به ورکړی۔ (او د کفارے اندازه په سورة المائده کښې ذکر ده)۔

بیا که د ګناه کار وو، نو قَسَم به ماتوی او کفاره به ورکوی، او که نیك کار وی، سر ته به ئے رسوی، که وے نۀ رسولو، نو هم کفاره به ورکوی۔

فائده: دلته لَغْو قَسم د یمین غَمُوس او یمین مُنْعقده مقابل دے۔ او بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ دواړو قسمونو ته شامل دے ځکه چه غَمُوس کښې هم د زړۀ قصد وی، لیکن په دروغه وی، نو پدے

كښې رانيـول دي په طريقه د ګناهګاريدو، او په منعقده كښې هم د زړهٔ قصد وي ليكن په رشتيا۔
نو پدې كښې د قسم د ماتولو په صورت كښې رانيول صرف په كفارې وركولو سره دي۔
﴿ وَاللهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴾ الله غـفور دے ځكه تاسو په لغو قسم سره نهٔ رانيسي او د زړهٔ د قَسَم ماتولو په صورت كښې ئے درله لاره پيدا كړه په كفارے مقرر ولو سره۔ حليم دے چه په جلتئ سره ئے سزا درنكړه په يمين غموس كښې۔ (تفسير ابن عرفه)۔
غـفور: مبالغه ده په ګناه پټولو او د هغے د سزا په ساقطولو كښې۔ او حليم د حِلْم نه دے په لغت كښې سره د قوت او قدرت نه په آرام او دمه سره يو كار كول دي۔ (اللباب لابن عادل)
او حليـم هغه ذات ته وائي چه كه د هغه په جانب كښې تقصير اُوشي، نو هغه په جلتئ بدله نهٔ اخـلي، او پـه غـفلت باندے غضب نهٔ كوي او عذر قبلوي۔ او دلتـه ئے د غفور سره حليم راوړو، نهٔ رحيـم ځـكـه چه دلتـه د الله سـره په ادب كښې تقصير او كوتاهي شويده نو دا يو قِسم ګناه ده، نو ددے بخښے سره (حَلِيم) صفت ذكر كول مناسب دي چه پدے ګناه ئے په جلتئ سزا ورنكړه۔
(ابن عاشورؒ)۔

لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَآؤُوْا
دپاره د هغه كسانو چه قسمونه كوي د خپلو ښځونه مهلت دے څلور مياشتے، كه دوي (د څلورو مياشتونه روستو) راوګرځيدل
فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٢٧﴾
نو الله بخونكے مهربان دے او كه چرے قصد د طلاقو ئے كړے وو نو يقيناً الله تعالىٰ ليدونكے، پوهه ذات دے۔

تفسير: اُوس يو بل قِسم قَسَم دے چه خاوند ئے د خپلے ښځے نه كوي۔ او ديته مسئله د ايلاء وائـي۔ او پدے كښې هم د جاهليت د زمانے د رسم اصلاح كول دي چه په هغوي كښې به د يو تن د خپلے ښځے سره مينه نهٔ وه، نو داسے قَسَم به ئے ترے اُوكړو، چه ټول عمر به زهٔ تا ته نهٔ نزدے كيږم، يا بـه يـو كـال دوه كـالـه۔ نـو نـهٔ بـه ورتـه خپله نزدے كيدو، او نهٔ به ئے بل چا ته پريخوده چه نكاح ورسـره اُوكړي۔ او مسلمانانو به هم په ابتداء كښې داسے كاركولو، ليكن الله تعالىٰ پدے آيت كښې د هـغـے دپاره قانون مقرر كړو۔ چونكه دا قِسم قَسَم د بِر او د اصلاح او تقوىٰ خلاف دے پدے وجه شريعت ورله اندازه مقرر كړه۔
ايلاء په دوه قسمه ده (۱) لغوي۔ (۲) او شرعي۔
ايـلاء لغوي ديته وائي چه سړے د خپلے ښځے نه قَسَم اُوكړي چه قَسَم په الله، زهٔ به ښځے ته يوه

میاشت یا دوه میاشتے وغیره (چه د څلورو میاشتو نه کم وی) نۀ نزدے کیږم۔ددے حکم واضح دے چه دۀ له قَسَم ماتول پکار دی، لیکن که قَسَم ئے پوره کړو نو هیڅ پرے نشته۔ او که قسم ئے مات کړو نو کفاره به ورکوی، نبی ﷺ هم د خپلو بی بیانو نه خفه شوے وو او د هغوی نه ئے یو میاشت پورے قَسَم اُوکړو۔ او خپله بالخانه کښ د هغوی نه جدا شو۔ ځکه چه هغوی نفقه زیاته طلب کوله نو نبی ﷺ د هغوی نه خفه شو، او پدے سره د نبی ﷺ هغوی له ادب ورکول غرض وو۔ میاشت چه کله تیره شوه، نبی ﷺ د عائشے رضی الله عنها کوټے ته ورغلو او نورو بیبیانو باندے اُوکرځیدو او هغوی ته اختیار ورکړے شو۔ چه ددے تفصیل به سورة الاحزاب کښ راځی۔ او نبی ﷺ هیڅ کفاره ورنکړه ځکه قَسَم پوره شو۔

ایلاء شرعی دا ده چه سړے د خپلے ښځے نه د څلورو میاشتو نه زیاته موده قَسَم اُوکړی، یا د مودے د تعیین نه بغیر مطلق قسم اُوکړی چه زۀ به خپلے ښځے ته هیڅ کله نۀ نزدے کیږم۔ نو پدے آیت کښ د داسے خلقو دپاره د مودے تعیین شویدے چه د څلورو میاشتو د تیریدو نه روستو به یا خو خپلے ښځے ته رجوع کوی، او هغے سره به تعلق قائموی، یا به طلاق ورکوی، (ځکه چه ښځه د څلورو میاشتو نه روستو مُعَلقه (زوړنده) ساتلو اجازت نشته دے) که سړی رجوع اُوکړه نو هیڅ پرے نشته، همغه ښځه ئے ده او خپل قَسَم ئے سرته اُورسولو، او که طلاق ورکوی هم ګناه پرے نشته۔ او که نۀ طلاق اچوی او نۀ رجوع کوی، نو قاضی به ئے په یوه خبره ضرور مجبوره کړی، که یو ته هم نۀ تیاریږی، نو قاضی به د دواړو ترمینځ په طلاق سره جدائی راولی، دے دپاره چه په ښځه ظلم رانشی۔ (ابن کثیر)۔

اُوس که د څلورو میاشتو نه د زیاتے مودے قَسَم ئے کړے وو او بیا په څلورو میاشتو کښ دننه نزدے شو، نو د قَسَم کفاره به ورکړی۔ او که څلور میاشتے ئے پوره کړے، او بیا د ښځے سره نزدے شو، نو په دۀ باندے هم کفاره واجبیږی۔ او که صرف څلور میاشتے ئے قَسَم کړے وو او دا ئے پوره کړے نو بیا پرے کفاره نشته۔

بیا د احنافو علماؤ په نیز د څلورو میاشتو د تیریدو نه روستو سمدست طلاق بائن واقع شو۔ ښځه ترے جدا شوه، بیرته ورته رجوع نشی کولے۔

او بعض اهل علم وائی چه یو طلاق رجعی واقع دے۔

جمهور علماء وائی چه د څلورو میاشتو د تیریدو نه روستو طلاق نۀ واقع کیږی، بلکه دا سړے به قاضی ته راخکلے شی، او دا خبره د عثمان بن عفانؓ او علی بن ابی طالبؓ نه په صحیح سند نقل ده۔ (رواء الغلیل ۷/۱۷۱)۔

لکه حدیث کښې دي : سلیمان بن یسارؒ فرمائي، ما دیارلس صحابه کرامؓ موندلي دي چه هغوی به وئیل :(یُوْقَفُ الْمُوْلِيْ) (دارقطني والبیهقي) ایلاء کونکے به د قاضي مخے ته اُودرولے شي) چه رجوع اُوکړه یا طلاق واچوه، داسے نشي کیدے چه تا د خپل خواهش یا ضد دپاره د ښځے ژوند زوړند کړے وي، او دا د اسلامي خلافت فائده ده۔

او دا د شریعت څومره انصاف دے چه د سړي لحاظ ئے هم کړے چه کیدے شي هغه به ښځے ته ادب ورکوي یا به پرے غصه وي، نو خیر دے څلورو میاشتو پورے ورسره د تعلقاتو نهٔ قائمولو اجازت دے، لیکن که بیا هم دا رجوع نهٔ کوي، نو اُوس په ښځه ظلم راځي، نو څکه ئے ورله څلور میاشتے مقرر کړے چه دواړه طرفونو ته نقصان اُونشي۔

پدے کښې د جمهورو علماؤ قول د لسو وجوهو نه راجح دے چه هغه ابن القیمؒ په بدائع التفسیر کښې ذکر کړیدي۔ددے آیت نه ئے دلیل نیولے دے۔

لیکن چونکه ښځے ته واپس کیدل د الله تعالیٰ په نیز غوره دي، پدے وجه الله تعالیٰ اُوفرمایل چه که قَسَم خوړونکے سړے خپلے ښځے ته رجوع کوي، او د هغے سره نزدیکت کوي، نو کومه غلطي چه ددهٔ نه شوي وه، الله به ئے معاف کړي، او الله په ایمان والو باندے رحم کونکے دے چه په کفاره ورکولو سره د قسم ماتولو اجازت ئے ورکړو، که الله غوختے نو دا به ئے لازم کړے وے، او کفاره به نهٔ وے۔

﴿ لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ ﴾ ایلاء کښې معنیٰ د تقصیر پرته ده، هغه قَسَم ته وائي چه په هغے کښې د یوشي پریخودل وي او د هغه چا په حق کښې کوتاهي وي چه د هغه نه قَسَم شوے وي یعني ښځے سره د جماع تعلق نهٔ ساتلو نه قَسَم کول۔ چونکه پدے لفظ کښې د ترك (پریخودلو) معنیٰ خپله موجود ده، پدے وجه د قطع تعلق معنیٰ ادا کولو دپاره بل کوم لفظ یوځائے کولو ته په کښې ضرورت رانغلو، او ددے وجه نه ئے دا په مِنْ سره متعدي کړو۔ (راغبؒ، ابن عاشورؒ).

﴿ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ﴾ څلور میاشتے څکه مقرر شوے چه یو خو د جاهلیت په ظلم رد دے۔ دویم : پدے کښې ښځے ته ادب ورکول وي څکه چه د څلورو میاشتو جدائي به ښځے له ډیر زور ورکړي، نو د خپل ځان اصلاح به اُوکړي۔ دریم : پدے کښې خاوند ته د سوچ او فکر موقعه ورکول دي چه په طلاق ورکولو کښې جلتي اُونکړي۔

﴿ فَاِنْ فَاءُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ یعني که دوي راواپس شو د ښځو نزدیکت ته، روستو د څلورو میاشتو نه نو که کوم تقصیر شوے وو چه د ښځے حق ئے ضائع کړے وو، نو الله غفور رحیم دے۔ څکه د دوي دا رجوع داسے ده لکه د توبے په شان چه گناه معاف کوي۔

○ يا كه د څلورو مياشتو نه مخكښې واپس شو نو د قَسَم كفاره به وركړي. او گناه ئې معاف شوه. اوله معنىٰ غوره ده.

﴿ وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ ﴾ او كه د څلورو مياشتو پوره كيدو نه روستو هم نۀ راګرځي نو معلوميږي چه ددۀ د طلاقو اراده ده. نو دۀ دپاره طلاق وركول هم جائز دي.

﴿ فَإِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ الله آوريدونكے، پوهه دے، ددۀ خبره آوري او ددۀ په نيت پوهه دے، نو قاضي به ورته حكم اُوكړي چه رجوع كوے او كه طلاق اچوے نو دا به د خولے نه څۀ اُوباسي نو الله به هغه واوري يا به طلاق واچوي، يا به اُووائي زما رجوع ده. دا هم دليل دے چه د مودے د تيريدو نه روستو به خاوند ضرور څۀ الفاظ وائي او خود بخود طلاق بائن نۀ واقع كيږي. دارنګه د عزم نسبت ئې خاوندانو ته كړيدے.

د آيت په آخر كښې يو قسم دهمكي ده هغه كسانو ته چه خپلو بيبيانو ته د نقصان رسولو دپاره داسے قِسم قَسمونه كوي.

فوائد : (١) كه يو سړے د خپلے ښځے نه پنځه، شپږ مياشتے غائب شو، پدے سره ښځه نۀ طلاقيږي ترڅو چه قَسَم ئې نۀ وي كړے. او كه قَسَم ئې هم كړے وي طلاقه نۀ ده، بلكه هغه به په خپل اختيار طلاق اچوي، يا به رجوع كوي. اګركه داسے غائبيدل ټيك نۀ دي.

(٢) دا آيت دليل دے چه په هر څلور مياشتو كښې كم از كم يو كرت د خپلے ښځے سره نزديكت واجب دے ځكه چه د ايلاء قَسم كولو په صورت كښې به خاوند د څلورو مياشتو نه روستو مجبوره كولے شي چه يا خو د خپلے ښځے سره نزديكت اُوكړي يا طلاق وركړي. دا وجه ده چه عمر فاروق ﷺ يوه شپه د خلقو د احوالو معلومولو دپاره ګرځيدو نو د يوے زنانه نه ئې اشعار واوريدل چه د خاوند ارمان ئې كولو، نو هغه ترے صبا تپوس اُوكړو، هغے اُووئيل چه زما خاوند د عراق په فوج كښې وتلے دے. نو عمر فاروق ﷺ د ښځو نه. په يو روايت كښې دي چه د خپلے لور حفصےؓ نه ئې تپوس اُوكړو چه ښځه څو مره موده د خاوند نه صبر كولے شي؟

هغوي جواب وركړو چه دوه مياشتے. او په دريے مياشتو كښې ئې صبر كميږي او په څلورو مياشتو كښې ئې صبر ختميږي. نو عمرؓ بس دا قانون پاس كړو چه مجاهد به په فوج كښې د څلورو مياشتو نه زيات وخت نۀ تيروي.

(٣) پدے آيتِ كريمه كښې د څلورو مياشتو نه روستو رجوع كولو كښې كفاره نۀ ده ذكر ليكن د شريعت عام قانون دے چه د قَسَم ماتولو په صورت كښې كفاره لازمه وي لهذا دا صورت به هم د كفارے نه مستثنىٰ نۀ وي نو كوم فقهاء چه د كفارے قائل دي د هغوي رائے قوي معلوميږي.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ
او هغه زنانه چه طلاقې کړے شي، انتظار به کوي په خپلو ځانونو باندے درے حیضونه او نهٔ دي حلال دوی له
أَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْ أَرْحَامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ
چه پټ کړی هغه شے چه الله پیدا کړے د دوی په رَحِمونو کښې که چرے دوی ایمان لری په الله او په ورځ روستنۍ
وَبُعُوْلَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ إِنْ أَرَادُوْا إِصْلَاحًا
او خاوندان د دوی ډیر لائق دي په واپس کولو د دوی په موده د عدت کښې که دوی غواړی اصلاح لره،
وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ
او دپاره د ښځو حقونه شته په شان د هغه حقونو چه په هغوی باندے دي، په ښائسته طریقے سره
وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۸﴾
او د سړو دپاره په هغوی باندے اُوچته درجه ده او الله غالبه، حکمتونو والا دے۔

تفسیر : ددے ځائے نه روستو د طلاق، عدت، رجوع او د عشرة النساء (زنانو سره د ژوند تیرولو) مسائل بیانوی ځکه چه عربو پدے کښې ډیر ظلمونه پیدا کړی وو۔

دارنګه اُوس زمونږ زمانه کښې غټ ظلم شروع دے، جهالت عام دے ځکه چه د طلاقو په احکامو صحیح عمل د سَره نشته اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ۔

نو الله تعالیٰ حقدارو ته حق ورکوی او ظلم رد کوی۔ عربو به خپلو ښځو له طلاقونه ورکول کله چه به ئې عدت پوره کیدو، نو بیرته به ئې ورته رجوع اُوکړه او سلسله به همدغه شان چلیده نو ښځه به نهٔ خاوند والا وه، او نهٔ به بے خاونده وه۔ او دا طلاق به کله سلو ته هم اُورسیدل۔ نو الله تعالیٰ د طلاقے شوے ښځے عدت مقرر کړو چه درے حیضه دی ددے په تیریدو به ښځه د سړی نه ځی۔ بیرته د رجوع حق نشته۔ او طلاق صرف درے دی۔ زیاتو طلاقو ورکولو ته ضرورت نشته۔

پدے آیتِ کریمه کښې مسئله د عدت ده۔ یعنی د داسے طلاقے شوے ښځے عدت بیان شویدے چه هغه آزادے وی ځکه چه حدیث کښې دی :[طَلَاقُ الْأَمَةِ ثِنْتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ] د وینځے طلاق او عدت دوه دی) ...... (رواه ابوداود ۲۱۸۹ باسناد فیه بعض المقال وروی الدارقطنی والبیهقی نحوه عن عمر موقوفاً وسنده صحیح ارواء الغلیل(۷/۱۵۰)]

دویم دا چه ذوات الاقراء (حیض والا) وی یعنی د هغے ماهواری لا بنده شوے نهٔ وی، که حیض ئے نهٔ راتلو، د هغے عدت درے میاشتے دی۔ دریم دا چه ذوات الاحمال به نهٔ وی (یعنی حاملے به نهٔ وی ځکه د حاملے عدت د حمل په زیږولو دے)۔ څلورم دا چه (مدخول بِهَا) وی یعنی د هغے سره خاوند نزدیکت کړے وی۔ ځکه که دخول ورسره نهٔ وی شوے، نو د هغے هم عدت نشته۔ لکه سورة الاحزاب (٤٩) آیت کښ راځی ﴿فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا﴾ نو داسے ښځے ته (چه دا شرطونه پکښ وی) که د هغے خاوند طلاق رجعی ورکړی نو د هغے عدت به درے حیضه وی۔

قُرُوْء جمع د قَرْءُ ده، ددے په لغت کښ دوه معانی راځی۔ حیض او طهر، او دواړو ته علماؤ تلل کړیدی، لیکن دلته غوره معنیٰ د حیض ده۔ لکه د عدت د حکمت نه معلومیږی، یعنی درے حیضه به تیروی، دے دپاره چه معلومه شی چه د هغے په رَحِم کښ بچے نشته دے۔

او مقصد پدے کښ دا دے چه د خلقو نسب ګډوډ نشی۔ پدے وجه ښځے دپاره دا حرام دی چه هغه د خپل رَحِم حالت پټ کړی۔ که حمل پټ کړی نو بچے به د خپل پلار نه غیر بل چا سره پیوسته شی چه دهغے به ډیرے خرابے نتیجے راوځی۔ بچے به د خپل خاندان او د میراث حق نه محروم شی، مَحرمے ښځے به د هغه نه پرده کوی، بلکه ممکن ده چه هغه د خپلے محرمے ښځے سره وادهٔ اُوکړی۔

دغه شان کوم پردی پلار ته چه ددهٔ نسبت کیږی د هغه د مال ناجائز وارث به جوړیږی، د هغه د ښځو غیر شرعی مَحرم به جوړیږی، او د شر او د فساد داسے دروازے به راکولاویږی چه هیڅوك به ئے نشی بندولے، د مثال په طور که هغه ښځه حمل پټ کړی او بل چا سره وادهٔ کوی، نو دا وادهٔ به حرام وی، او د بل سړی د هغے سره جماع کول به زنا وی۔ او که حیض پټ کړی او وائی چه د طلاق نه روستو درے حیضونه تیر شو، نو دے د خپل خاوند د رجوع حق ختم کړو، او خپل ځان ئے د بل سړی دپاره په غیر شرعی طور سره مباح کړو، او که وائی چه لا درے حیضونه نهٔ دی تیر شوی، او حال دا چه هغه تیر شوی وی، نو دا په ناحقه سره طعام او نفقه غواړی چه ددے دپاره حرام دی، او که خاوند دے ته رجوع کوی، نو د هغے سره به نزدیکت حرامیږی، ځکه چه د عدت د تیریدو نه روستو نوے نکاح (نوے تړون) ضروری وو۔

د عدت په مقررولو کښ حکمتونه :

شریعت چه عدت مقرر کړے پدے کښ ډیر مصلحتونه او فائدے دی :

(١) ...... یو دا چه د ښځے د خیټے بچے معلوم شی لکه چه مخکښ تیر شو۔

(٢) ...... د طلاق په وجه چه کوم وقتی طور سره ناراضګی او خفګان راغلے، نو دواړه فریقین

ښځې په سوچ سره هغه ختم کړي او بيرته مصالحت اُوکړي ځکه چه کيدے شي چه خاوند د غصے په وجه طلاق ورکړی وی۔

(۳) ...... رفع الندامة: کله دواړه فريقين په طلاق باندے خفه وی، نو شريعت ورته د عدت موقعه ورکړه چه پدے کښې دواړه يو بل ته رجوع کولے شي۔ که عدت نۀ وے نو انسان کمزورے دے، د هغه نه به لوئی نقصان کيدے چه تدارك به ئے ممکن نۀ وے۔

(٤) ...... که د ښځې سمدست بل چا سره نکاح کيدل جائز وے، نو ممکن ده چه د ښځې په خيټه به حمل وے، د هغې نسبت به د خپل پلارنه علاوه بل چا ته کيدے، نو د ماشوم نسب به ګډوډ کيدے۔ پدے کښې نور حکمتونه هم شته چه الله تعالیٰ ته بهتر معلوم دی۔

﴿ يَتَرَبَّصۡنَ بِاَنۡفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوۡۤءٍ ﴾ درے حيضه به د خاوند په کورکښې تيروی چه دا پرے تير شو نو بيا به په خپله مخه ځي۔ او د طلاق سره سمدست به همداسے د کور نه نۀ اُوځي، د عجمو په شان کار به نۀ کوی چه ښځې ته اُووائي: ځه طلاقه مے کړے، نو سمدست ئے د کور نه شړی، نۀ نفقه ورکوی او نۀ د اُوسيدو ځائے، حال دا چه د شريعت په قانون کښې تر درے حيضونو پورے به ښځه د خاوند په کورکښې وی، په هغه باندے د ښځې نفقه لازمه ده۔ ځکه چه دا د خاوند د حق پوره کولو دپاره ناسته ده۔

﴿ بِاَنۡفُسِهِنَّ ﴾: دا لفظ ئے ورسره د زيات تاکيد دپاره اُووئيلو چه ښځه به ځان مضبوط راګيروی ځکه چه ښځه چه طلاقه شي نو د هغې خوئي دا دے چه هغه ځان ويستل غواړی، شريعت ورته وائي چه تۀ به د نفس خلاف کوے او زړۀ به هم کوے، او درے حيضونه به انتظار کښې اُوسيږے، کيدے شي چه تا ته خاوند رجوع اُوکړی۔

﴿ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنۡ يَّكۡتُمۡنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِىۡۤ اَرۡحَامِهِنَّ ﴾[اَیْ مِنَ الۡحَيۡضِ وَالۡوَلَدِ] که د دوی په رحمونو کښې الله تعالیٰ حيض پيدا کړے وی يا بچی لره، نو هغه به نۀ پټوی، يعنی يوه ښځه طلاقه شوه، درے مياشتے تيروی لګيا ده او دا وائي چه يو مياشت کښې زما درے حيضه راغلل، او حال دا چه نۀ وی راغلی، دروغ وائي، ځان زر فارغوی، نو دا ورله جائز نۀ ده۔ او يا دا چه ددے په رَحِم کښې بچے نشته، او دا وائي چه زما په خيټه کښې بچے دے، زۀ به نهه مياشتے ناسته يم۔ غرض ئے دا وی چه دا خاوند راته رجوع اُوکړی، يا د خاوند نفقے ته ئے اَړولی وی۔ دا دواړه کارونه به نۀ کوی، بلکه صحيح حال به وائي۔

﴿ اِنۡ كُنَّ يُؤۡمِنَّ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ﴾ يعنی که چرته مؤمنه وی نو دا کار به نۀ کوی۔ دا دواړه قيدونه ئے د زيات تاکيد دپاره اُووئيل ځکه چه ددے په دے حالت کښې دروغ وئيلو باندے ډيرے

غلطې نتيجې مرتبې كيږي چه د هغې بيان مخكښې اُوشو.
﴿ وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ ﴾
اُوس الله تعالىٰ خاوند ته ترغيب وركوى چه پدې عدت كښې دې ښځې ته رجوع اُوكړه. يعنى د عـدت د مـودې پـه دوران كـښې خـاونـد تـه دا حق حاصل دې چه كه هغه د كورسازولو او تعلقاتو بـرحال كولو اراده لرى، نو ښځې ته بيرته رجوع كولې شي. شريعت كښې د ښځې او خاوند تعلق ته ډيرا هميت وركړې شويدې. ددې تعلق ختميدل صرف په هغه صورت كښې برداشت شويدى چـه كـلـه د كـور جـوړولـو هيـڅ امكان باقي پاتې نۀ شي. پدې وجه شريعت ورته دا موده د عدت وركړه چه د دواړو كور جوړ شي.
او ددې رجـوع شرط ئې دا اُولـګـولـو چه دا رجوع به په هغه وخت كښې كول جائز وى چه د سړى به اراده د اصلاح وى، يعنى د محبت او د خوشحالئ سره به ازدواجي ژوند تيروى، او پدې سره به د ښځې هيڅ قِسم تنګولو او په هغې باندې د ظلم كولو اراده نۀ وى بلكه كه مقصد پدې كښې د جاهليت والو په شان تنګول وى، نو بيا به دا لوئى ظلم وى چه د الله د ناراضګئ سبب به جوړيږى.
(فِيْ ذٰلِكَ) يـعنى په عدت كښې. كه سړى په عدت كښې رجـوع اُوكړه، نو د درې طلاقونو نه د دوه طـلاقـو مـالك پـاتې شو، او د يو طلاق واك ئې ختم شو. بيا كه په بله موقعه كښې طلاق وركوى، نـو بـيـا هم دغه شان په عدت كښې دننه رجوع كولې شي، بيا به د يو طلاق مالك پاتې وى، او كه پۀ ژونـد كښې په بله موقعه ئې طلاق وركړو، نو بيا ئې عدت ختم دې او ښځه به ترې ځي، بيرته ورته د رجـوع حـق نـۀ لرى، بلكه ښځه به په خپله خوښه بل خاوند اُوكړى، او كه هغۀ په خپله خوښه طـلاقـه كـړه او د هـغـه نـه ئې عـدت تير شو، نو بيرته ئې اول خاوند كولې شي. په دويم خاوند به دا شـرط لـګـول غـلـط وى چه تۀ دا ښځه د يو څو ورځو يا يوې شپې دپاره په نكاح واخله، او صبا له بيـرتـه ورلـه طـلاق وركړه چه ما له بيرته حلاله شي. دا سراسر ظلم او د الله د حدودو نه تجاوز دې چه نن صبا ډير مُليان پكښې اخته دى.
او كـه مثلاً سړى يو طلاق وركړو، او پدې كښې عدت تير شو نو تجديد د نكاح به اُوكړى يعنى نكاح به تازۀ كړى، لكه څنګه ئې چه اوله نكاح كړې وه سره د مهر، خطبې، اعلان او ګواه وغيره كارونو نه.
﴿ وَلَهُنَّ ﴾ اُوس عشـرة الـنسـاء (زنـانـو سره ښۀ ژونـد تيـرول) بيانوى : چه د طلاق موقعه ولې راځـى؟ څـكـه چـه خـاونـد د ښـځـې او ښـځـه د خـاوند حق نۀ ادا كوى، نود دواړو په يو بل حقونه بيـانـوى. خاوندانو له دا ګمان نۀ دې پكار چه حقوق صرف زمونږ دى، او د ښځو هيڅ حق نشته لـكـه بعض متكبر خلق ښځه د حيواناتونه هم بد تره ګنړى بلكه لكه څنګه چه په دوى باندې د

خاوندانو متعلق فرائض او ذمه واریانې او حقوق دي، نو دغه شان د عرف او دستور مطابق په خاوندانو باندې د ښځو حقوق هم شته۔ نو د هرخاوند دا فریضه ده چه د خپلو حقوقو د مطالبې سره سره د ښځې د حقوقو لحاظ هم اُوساتي، پدې سره به ئې کورنۍ جوړه وي۔ بیا ددې هیچرې دا معنیٰ نۀ ده چه ښځه د خاوند سره په هر اعتبار بالکل برابره ده، بلکه دلته مطلب دا دې چه د دواړو دپاره په ازدواجي ژوند کښې په یو بل باندې حقوق شته، او د هغې خیال ساتل دواړو له پکار دي چه ژوند برابر شي۔

او د ښځې او د خاوند په ټولو کارونو کښې د مساوات نظریه کومه چه د مغرب نه راوړې شویده، بالکل د شریعت د اصولو خلاف ده او روستو الفاظو سره ددې صریح رد شویدې ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيۡهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ چه د سړو دپاره په ښځو درجه د فضیلت او زیاتي حق حاصل دې۔ په فطري قوتونو کښې ښځه د سړي سره برابره نشي کیدې، دغه شان د جهاد په اجازت کښې، د میراث په دوچنده کیدو کښې، په قوامیت (نظام چلولو) او حاکمیت (مشرۍ) کښې او په اختیار د طلاق او رجوع وغیره کښې۔ ابن عباسؓ فرمائي: د سړو درجه پدې وجه ده چه هغوي ښځو ته مهر ورکوي او انفاق پرې کوي۔ بعض وائي په ګواهۍ او په عقل کښې غوره دي۔ (بغوی)

او په صحیح حدیث د ترمذي کتاب الرضاع کښې د ابو هریره ﷺ نه روایت دې چه نبي کریم ﷺ اُوفرمایل: ((که ما یو تن ته حکم کولې چه سجده بل تن ته اُوکړي نو ما به خامخا ښځې ته، حکم کولې چه خاوند ته سجده اُوکړي))۔ (صححه الالباني)

ځکه چه د خاوند په ښځه باندې ډیر زیات حقوق دي۔ او په روایت د ابن ماجه کښې دي چه که خاوند ښځې ته اُووائي چه د سورغر نه کاڼي تورغر ته یوسه او د تور غر نه سور غر ته یوسه نو هغه به ئې وړي)۔ (ابن ماجه (١٨٥٢) وفي سنده مقال) او هغې له جائز نۀ دي چه ددې نه انکار اُوکړي اګرکه پدې کښې فائده هم نۀ وي۔ او که په تنور باندې ولاړه وي او خاوند ورته آواز اُوکړي او ډوډۍ ترې سوزي نو هم د خاوند تابعداري به کوي۔ لکه دا خبره د احادیثو نه ثابته ده۔

او صحیح حدیث کښې دا هم دي: ((که په خاوند د قدم نه تر سره پورې دانه وي چه د هغې نه وینې زوې بهیږي او بیا ښځه هغې ته مخامخ شي او هغه په ژبه ځټي نو(بیا به هم) د خاوند حق ادا نکړي)) (صحیح الترغیب والترهیب ١٩٣٦)

حقوق النساء

بیا د ښځو حقوق د عرف عام مطابق خوراك، څکاك، جامې، ښائسته سلوك او د اُوسیدو ځائې ورکول یعني یواځې کوټه ورکول۔ او د هغې سره نزدیکت کول دي۔

او حديث كښې دي: ((په مخ به ئے نهٔ وهي، كنځل به ورته نهٔ كوے او هجران به ورسره په كور كښې كولے شي- بهر ته به نشي شړلے كيدے- (ابوداود ۲/۲٤٤) احمد ٤/٤٤٧ وسنده صحيح)-

او د ښځے دپاره به ډول كوي- ابن ابى حاتمؒ، ابن ابى شيبهؒ، عبد الرزاقؒ او حاكمؒ د ابن عباسؓ نه روايت كړے [اِنِّيْ لَاُحِبُّ اَنْ اَتَزَيَّنَ لِلْمَرْاَةِ كَمَا اُحِبُّ اَنْ تَتَزَيَّنَ لِيَ الْمَرْاَةُ] (زهٔ خوښوم چه ښځے ته ځان ښائسته كړم لكه څنګه چه خوښوم چه ښځه ما ته ډول اُوكړي)- (ابن كثير)-

لهذا نسوار به نهٔ اچوي او خپله بدبوئي به زائله كوي، هسے نهٔ چه ښځه ددهٔ نه تنګه وي خو د حياء د وجه نه به څهٔ نشي وئيلے- او بالمعروف ئے اُووئيل چه د شريعت مطابق به وي، كه زنانه د تي وي او نورو ګناهونو مطالبه كوله نو دا ئے حق نهٔ دے-

فائده: د ښځو حقوق ئے مقدم كړل دپاره د اهتمام كولو او خيال ساتلو، ځكه چه د پخوا نه د ښځو حقوق ضائع كيږي، او غالباً سړي د هغوي د حقوقو خيال نهٔ ساتي-

او (لَهُنَّ) ظرف ئے مقدم كړو، دے دپاره چه ددے خبر اهتمام اُوكړے شي او آوريدونكي مسند اليه ته متوجه شي-

فائده: معروف هغه شي ته وائي چه صحيح طبيعتونه ئے پيژني، او انكار ترے نهٔ كوي او عقل ئے قبلوي، او د كرامة النفس موافق وي، او شريعت د هغے اقرار كوي-

د بالمعروف نه علماؤ دليل نيولے دے چه ښځه باندے د خاوند خدمت واجب دے چه هغه له وړهٔ واغړي، ډوډئ او تركاري تياره كړي او نور خدمتونه كوم چه په عرف كښې ښځه د خاوند دپاره كوي-او پدے باندے شيخ الاسلام ابن تيميهؒ د مالكيه ؤ موافق فتوىٰ وركړے، او دا قول د ابوبكر بن ابى شيبهؒ او ابو اسحاق الجوزجانيؒ دے-

او په احاديثو كښې هم ددے ډير دلائل موجود دي- نبي ﷺ په خپل لور فاطمهؓ باندے دا فيصله كړے وه چه د كور خدمت به كوي- (رواه الجوزجاني من طرق) نو پدے كښې رد دے په هغه بعض فقهاؤ چه دا خدمت واجب نهٔ ګنړي- (القاسمي)-

﴿وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ﴾ دا دوه صفتونه ئے راوړل چه الله عزيز دے پدے وجه د هغه حق دے چه هغه حكم اُوكړي، او هغه حكيم دے هر حكم چه كوي هغه په حكمت بناء وي، بندګانو له بغير د چون وچرا نه هغه منل پكار دي- كه بندګان د الله د احكامو مخالفت كوي، نو پدے كښې د الله غيرت او عزت چيلنج كوي، او د هغه عذاب ته دعوت وركوي-

فوائد ومسائل

شریعت د طلاقو دپاره اصول مقرر کړي چه پدے کښ بے شماره حکمتونه دي او د انسانانو مصلحتونه او فائدے دي، لکه مثلًا شریعت دا وئیلي دي چه

(۱) طلاق به په غصه کښ نۀ وي، بلکه په خپل هوش او فکر سره په خپله خوښه به طلاق ورکوي۔ د چا زور او خپله غصه به پرے نۀ وي۔ ځکه چه طلاق هله واقع کیږي چه د سړي د ښځے نه ضرورت پوره شي۔ لکه په حدیث د ابن عباسؓ کښ دي : [اَلطَّلَاقُ عَنْ وَطَرٍ] [صحيح البخاري٥/٢٠١٧] طلاق د ضرورت د پوره کیدو نه وي۔

(۲) دویم دا چه طلاق به په طهر کښ وي ځکه چه په حالت د حیض کښ ښځه ګنده وي، نو کیدے شي چه د سړي ترے پدے وخت کښ نفرت پیدا شوے وي، او بیا به ئے په طهر کښ ورته توجه پیدا شي نو خفه به وي۔ نو ځکه شریعت د طهر شرط اُولګولو۔

(۳) دریم په هغه طهر کښ به طلاق وي چه جماع ئے پکښ نۀ وي کړي، ځکه چه کله انسان جماع اُوکړي نو د هغه په محبت او شوق کښ کمے راځي، نو کیدے شي چه ددۀ صبا له محبت زیات شي بیا به پښیمانه شي۔ نو هرکله چه دا په حالت د محبت کښ چه ښۀ ضرورت ئے ښځے ته شته او بیا هم طلاق ورکوي، معلومیږي چه دا طلاقو ته محتاج دے۔

(٤) بیا د طلاقو ورکولو نه پس سمدست د ښځے تلل هم نشته، بلکه عدت به تیروي کیدے شي چه سړے پښیمانه شي او رجوع اُوکړي۔ لیکن هرکله چه درے میاشتو پورے د سړي توجه نۀ پیدا کیږي، نو معلومیږي چه دا په طلاق ورکولو کښ رشتینی دے۔ او بیا به ئے په رجوع نۀ کولو کښ عذر هم نۀ وي۔

(٥) شریعت د طلاقو واك سړي له ورکړے ځکه چه د ښځے سینه تنګه ده، هغۀ په معمولي خفګان سره طلاقونه اچوي، او بیا زر پښیمانه کیږي۔ ښځه چه کله خفه شي نو تول خیرئے د زړۀ نه اُوځي او چه کله رضا شي نو بیائے هیڅ خفګان په زړۀ کښ نۀ وي، په خلاف د سړي نه چه د هغه کله د ښځے سره ورانه شي، نو هم د هغه عقل باقي وي، او محبت ئے وي او په معمولي خبرو طلاق نۀ ورکوي، عاقبت ته ګوري۔ او کله چه رضا شي نو بیائے هم څه نا څه خفګان په زړۀ کښ باقي پاتے کیدے شي۔ په زړۀ کښ ئے ژور والے زیات وي۔

اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ أَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِإِحْسَانٍ وَلَا يَحِلُّ

طلاق (رجعي) دوه ځله دي، نو ساتل دي د ښځے په ښائسته طریقے یا پریخودل دي په ښائسته طریقه او جائز نۀ دي

لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوْا مِمَّا آتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَّخَافَا
ستاسو دپاره چه واخلئ د هغه مال نه چه تاسو ورکړے دے ښځو ته هیڅ شے مګر که یریږی ښځه او خاوند
أَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ
چه وُبه نهٔ دروی پولے د الله تعالیٰ نو که چرے تاسو یریدلئ چه دا ښځه او خاوند به اُونهٔ دروی پولے د الله
فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ
نو نشته دے ګناه په دے دواړو په هغه مال کښ چه ښځه په بدله کښ ورکړی هغه (مال) لره۔ دا د الله پولی دی
فَلَا تَعْتَدُوْهَا وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَأُوْلٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾
نو مهٔ تیریږئ ددے نه او څوک چه تیر شی د الله د پولونه نو همدغه کسان ظالمان دی۔

د طلاق رجعی بیان

تفسیر : اُوس نور احکام بیانوی، طلاق رجعی او د هغے نه روستو رجوع کول یا نهٔ کول، او د ښځے نه د مهر واپس اخستلو نه منع او د خلع مسئله ذکر کوی۔

د جاهلیت په زمانه او د اسلام په ابتداء کښ دا طریقه وه چه خلقو به خپلو ښځوته بغیر د تحدید او شمار نه طلاقونه ورکول، د یو طلاق د مودے ختمیدو نه مخکښ به ئے رجوع کوله، او بیا به ئے طلاق ورکولو او مقصد به پدے کښ ښځو ته نقصان ورکول وو، دے ظالمانه کار ډیرو ښځو ژوند تنګ کړے وو۔

عائشه رضی الله عنها وائی چه یو سړی خپلے ښځے ته اُووئیل چه زهٔ به تا نهٔ د ځان نه جدا کوم او نهٔ به درته پناه درکوم، ښځے اُووئیل دا څنګه ؟ نو هغه اُووئیل چه زهٔ به تا ته طلاق درکوم او هر ځل به د عدت تیریدو نه مخکښ تا ته رجوع کوم۔ هغه ښځه د عائشے رضی الله عنها خوا ته راغله او هغے ته ئے دا خبره اُوکړه۔ نو عائشهؓ غلے شوه، کله چه رسول الله ﷺ کورته راغلو، هغه ته ئے دا واقعه بیان کړه، نبی ﷺ هم غلے شو۔ تردے چه دا آیت نازل شو چه خاوند به د دوه ځل طلاق ورکولو نه روستو یا خو رجوع کوی یا به دریم طلاقه ورکوی۔ دے نه روستو چه ښځه هرچرته غواړی او چا سره غواړی نکاح کولے شی، خاوند به د نورو طلاقونو او رجوع حق نهٔ لری۔ نو الله تعالیٰ دا ظالمانه رواج ختم کړو۔ (ابوداوٗد، ترمذیؒ)

﴿ اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ ﴾ الطلاق په معنیٰ د اَلتَّطْلِيْقُ دے لکه سلام په معنیٰ د تسلیم دے۔ یعنی طلاق

ورکول۔ او دا مبتدا ده چه مضاف ئې حذف دے۔ حاصل د عبارت داسے دے :
[عَدَدُ الطَّلَاقِ الَّذِیْ یَسْتَحِقُّ الزَّوْجُ فِیْهِ الرَّدَّ وَالرَّجْعَةَ مَرَّتَانِ] (قاسمی) یعنی هغه طلاق چه د هغے نه روستو خاوند مستحق وی چه په هغے کښې ښځے ته رجوع اُوکړی، هغه دوه ځله دی یعنی دوه دی)۔ مَرَّتَانِ (دوه ځله) په معنیٰ د اِثْنَتَانِ (دوه) سره دے، لیکن مرتان ذکر کولو کښې اشاره ده چه طلاق به یو کرت پس د بل کرته نه ورکولے شی او په یو ځل به ټول طلاق غورزول صحیح نهٔ وی، اګرکه پدے کښې هم رجوع صحیح ده، لیکن دا طریقه د سنت خلاف ده۔ لکه څنګه چه عجم خلق پدے غلطه طریقه روان دی چه ټول طلاق په یو ځل ګوزاری۔
بیا د (مَرَّتَانِ) دا مطلب نهٔ دے چه درے طلاقه نشته، بلکه معنیٰ دا ده چه رجعی طلاق دوه ځله دی چه روستو د هغے نه خپلے ښځے ته رجوع صحیح کیږی، نوکه یو طلاق ئے ورکړو نو بیرته رجوع کولے شے، او بل وخت ئے بل طلاق ورکړو، بیا هم رجوع کولے شے، خو چه دریم ئے ورکړو نو بیا رجوع نشے کولے بیا ښځه ستا د نکاح نه ختمه شوه۔
نو الله تعالیٰ پدے آیت کښې دا حکم کړیدے چه کهیو خاوند خپلے ښځے ته طلاق ورکول غواړی، نو هغه له په یو طهرکښې یو طلاق ورکول پکار دی۔ دے نه روستوکه رجوع نهٔ کوی، نو بیا په دویم طهر کښې دویم طلاق ورکول پکار دی۔
فائده: دآیت نه دا خبره هیچرے نهٔ معلومیږی چه که یوشخص یوځل دوه طلاقه ورکړی، نو دواړه واقع کیږی۔ د دویم طلاق نه روستو که غواړی نود عدت تیریدو نه مخکښې ئے رجوع اُوکړی۔ او که نهٔ وی نو دریم طلاق ئے ورکړی او همیشه دپاره ئے د زوجیت رشته ختمه کړی۔

د درے طلاقو مسئله

الله تعالیٰ ته دا خبره خوښهٔ ده چه د ښځے او خاوند د ازدواج رشته ئے د اُلفت اومحبت په فضاء کښې همیشه دپاره قائمه وی او که څهٔ عارضی اختلاف پیدا شی، نود هغے د لرے کیدو کوشش ئے اُوکړے شی۔ پدے وجه الله تعالیٰ د یو بل پسے د درے طلاقو مهلت ورکړو، دے دپاره چه انسان ته بار بار د سوچ موقعه ملاؤ شی۔ او عارضی ناراضګی ختمه شی، او خاوند ښځے ته رجوع اُوکړی، که یو طلاق د رجوع نه مانع وے، نو دا عظیم مصلحت به ختم شوے وے، او ډیر خاندانونه به تباه شوی وے، او د مسلمانانو په معاشره کښې به داسے خرابیانے پیدا شوی وے چه د هغے تدارك به ممکن نهٔ وے۔
دغه شان که په یو ځل درے طلاقه یا په یو مجلس کښې درے طلاقه نافذکړے شی نو هغه خرابیانے به پیدا کیږی چه د هغے نه د بچ کیدو دپاره الله تعالیٰ درے طلاقونه په جدا جدا طهر

کښې ورکولو حکم کړيدے، ډېر خاندانونه به تباه شي، او ډېر بچي به د هلاکت په لاره روان شي، او د ډېروے گناه ښځو په ژوند به اُور صرف پدے وجه اُولگي چه د هغے خاوند په وقتي توگه سره په غصه کښې راغلو او درے ځله ئې د طلاق کلمه د خپلې ژبے نه وستلے ده۔ پدے وجه د شریعت مصلحت دا دے چه يو جاهل سړی دپاره درے طلاقه په يو ځل ورکول خاصکر چه هغه دا کار مخکښې کله کړے هم نۀ وی او بيا پښيمانه شي نو شريعت ئې په يو بدلوی۔

لکه د نبی ﷺ او د ابوبکر صديق ﷺ په زمانه کښې او د عمر فاروق ﷺ په ابتدائی دورِ خلافت کښې بالاتفاق د يو مجلس درے طلاقونه به يو شمار کيدل۔

۱- دليل : امام مسلم د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کړيدے چه د نبی ﷺ په دَور او د ابوبکر صديقؓ او د عمر فاروقؓ په ابتدائی دوه کالو کښې به درے طلاقه يو منل کيدل۔ عمر فاروق ﷺ (د خپل خلافت په دَور کښې اُوليدل چه خلقو ډېر طلاقونه ورکول شروع کړيدی نو) وے وئيل چه خلقو پدے معامله کښې د جلتئ نه کار اخستل شروع کړيدی پدے وجه مونږ به درے طلاقونه درے نافذ کوو۔ نو هغوی نافذ کړل))۔

۲- دليل : او امام احمدؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کړے چه رُکانه بن عبد يزيد خپلے ښځے ته په يو مجلس کښې درے طلاقونه ورکړل، دے نه روستو هغه پدے باندے ډېر غمجن شو نو رسول الله ﷺ د هغه نه پوښتنه اُوکړه چه تا څنگه طلاق ورکړی؟ هغه اُووئيل چه په يو ځل مے درے طلاقه ورکړيدی۔ نبی ﷺ پوښتنه اُوکړه چه آيا په يو مجلس کښې؟ هغه اُووئيل، آؤ۔ نو نبی ﷺ اُوفرمايل چه دا ټول به يو طلاق شمار کيږی۔ که غواړے نو رجوع اُوکړه!)) نو هغه رجوع اُوکړه۔ (صحيح ابی داود : ١٩٠٦ للالبانی)

۳-دليل : په لغت او عرف کښې هم دا خبره ده، لکه حديث کښې دی چه څوك په ورځ کښې (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ) سل کرته اُووائی نو گناهونه به ئې معاف شي اگر که د درياب د زگ په اندازه وی۔ نو دلته د سل کرتو نه مراد دا نۀ دے چه داسے اُووائی (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ مِأَةَ مَرَّةٍ) بلکه جدا جدا به دغه ذکر سل کرته کوی۔ او ټول به په يو لفظ کښې نۀ جمع کوی۔

٤-دليل : فتوی د عبد الله بن عباسؓ هم دغه شان ده۔ لکه په ابو داود نمبر (١٩٢٦) کښې راغلے ده۔ او د ابن عباسؓ نه چه د درے طلاقو واقع کيدو کوم روايت نقل دے نو هغۀ د هغے نه رجوع کړيده۔ (عون المعبود ٦/٢٧٣ الصواعق المرسلة (٢/ ٦٢١)

معلومه شوه چه عمر ﷺ چه څۀ کړی وو، نو دا د هغه خپله رائے وه چه هغۀ دا د عام مصلحت په وجه نافذ کړی وو۔ ورنه هغۀ ته سنت معلوم وو، او د يو مجلس درے طلاقونه حقيقیَ درے

طلاقونه معتبرول صرف د هغه یو تعزیراتي فیصله او اجتهادي حکم وو، دې دپاره چه خلق په آینده کښې په طلاق ورکولو کښې د جلتۍ نه کار وانخلي.

بعض علماؤ پدې مسئله باندې د قدیم (پخوانۍ) اجماع دعوه کړیده او ډیرو صحابه کرامو او تابعینو ددې مطابق فتویٰ ورکړیده.

د امام داود ظاهريؒ، بعض اصحاب د مالکؒ او د بعض احنافو هم دا قول دې. او د امام احمدؒ بعض اصحابو او د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله نیکه به هم دغه فتویٰ ورکوله. ځکه چه ددې قول تائید او مضبوطیا په قرآن، سنت، قیاس او قدیمې اجماع تولو سره کیږي. او دې نه روستو کومه داسې اجماع نۀ ده راغلې چه هغې مخکنۍ اجماع باطله ګرځولې وي.

بعض علماء وائي چه عمرؓ به درې طلاقه واقع کول او هیڅ صحابيؓ پرې انکار نۀ دې کړې، نو دا اجماع سکوتي شوه. جواب دا دې چه د عمرؓ دا فیصله اجتهادي او تعزیراتي وه، او دا یوه جزئي فیصله وه چه پدې باندې همیشه عمل کول لازم نۀ دي. او دا داسې اجماع نۀ ده چه ددې مخالفت کول ناجائز وي، امام شافعيؒ، باقلانيؒ، امام غزاليؒ او امام رازيؒ وئیلي دي چه اجماع سکوتي شرعي حجت نۀ دې. (ابن عاشور ۲/۳۹۷)

بلکه دا چه ددې فیصلې نه عمر فاروقؓ رجوع هم کړیده: [مَا نَدِمْتُ عَلٰى شَيْءٍ نَدَامَتِيْ عَلٰى ثَلَاثٍ: اَنْ لَّا اَكُوْنَ حَرَّمْتُ الطَّلَاقَ الخ) لکه دا په صحیح د اسماعیليؒ کښې او په اغاثة اللهفان (۱/۳۳٦) طبع دار المعرفة بیروت) تحقیق حامد الفقی) د ابن القیمؒ کښې په حسن سند سره موجوده ده. عمر فاروق پدې فیصلې پښیمانه شوې وو. ددې ‏ۀ سند کښې خالد بن یزید بن ابی مالك حسن الحدیث راوي دې. عثمان بن ابی شیبه او احمد بن صالح المصری او عجلي او ابوزرعة الدمشقي ورته ثقه وئیلې دې. (تاریخ اسماء الثقات ۱/۷۷) د ابن شاهین.

اُوس کله چه حالات بدل شو او د حلالې د نکاح بازار ګرم دې او خلق په حرام کارۍ کښې اخته دي، او جهالت دومره عام دې چه اکثر خلق پدې پوهیږي هم نۀ چه د یو مجلس درې طلاقه به درې ګنړلې کیږي. ضرورت دې چه د رسول الله ﷺ او د هغه د خلیفه سنت ژوندي کړې شي، دې دپاره چه د فتنو دروازه بنده شي او د حلالې نکاح رواج ختم شي. ځکه چه هر خیر د قرآن او سنت په اتباع کښې دې او هر شر او هره بدي د دې دواړو نه په انحراف او اعراض کښې ده. د حلالې نکاح دې ته وائي چه درې طلاقه ورکړي او بیا ئې د یو شپې یا دوه شپو دپاره بل سړي ته ورکړي چه هغه ورسره نزدیکت اُوکړي بیا ئې اول خاوند ته پریدي او دا شرط هم ورسره لګوي چه دا د یوې شپې دپاره په نکاح واخله خو صبا ته به ئې پریدې، نۀ په کښې مهر مقرر وي، او نۀ پکښې

اعـلان او خـطبه وي، بلكه په پټه نكاح ترې، نو دے ته رسول الله ﷺ اَلتَّيسُ الْمُسْتَعَار وئيلے دے۔ يـعـنـي هغـه چيلے چـه د خپـلـو بـزو دپاره راوستے شي دے دپاره چه حمل و اخلي۔ او په حلاله كـونـكـي بانـدے ئے لـعـنـت فرمايلے دے۔ نو بعض خلق درے طلاقه په يو بدلول بد گنړي، او بل طرف ته په زنا كښ واقع كيږي۔

عـمـر فاروقؓ به فرمايل : درے په درے بدل دي، ليكن حلاله حرامه ده، كه چا حلاله اُوكړه زۀ ئے رجم كوم۔ (ابن ابی شیبۃ)

ابن عمرؓ وائي: دا كار به مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه كښ زنا شمارله۔ (حاكمؒ) (قاسمیؒ وابن كثيرؒ)۔

(د طـلاق ثـلاثـه ؤپـه بـاره كـښ ډير كتابونه ليكلي شوي دي هغه اُوگوره لكه د صلاح الدين يوسف، دارنگه حكم الطلاق الثلاث للدكتور محسن، دارنگه طلاق ثلاثہ کا حکم ۔ابوسلمیٰ)۔

دلتـه يـو بـل صـورت دے چـه په اتفاق د علماؤ جائز دے، ليكن بهتر نۀ دے چه يو سړے په بيل بيـل طهـر كـښ يـو يـو جدا جدا طلاق وركړي يعني په درے مياشتو كښ درے طلاقه وركړي۔ دا ځـكـه بهتـر نۀ دے چه انسان په ځان باندے لاره بنده كړه بيرته ورسره نكاح نشي كولے ترڅو چه بل خاوند ئے كړے نۀ وي، او بل خاوند په خپله خوښه طلاقه كړي نۀ وي۔ بل خاوند ورله شريعت ځـكـه شرط لـگـولے دے چـه دۀ تـه الله تعالىٰ د آزادئ لاره وركړے وه چه يو طلاق وركړي، نو كه بيـرته رجوع كوي كولے ئے شي۔ ليكن هركله چه دۀ د شريعت د مزاج خلاف اُوكړو چه درے واړه طـلاقونه ئے ضائع كړل، نوشريعت هم ددۀ د مزاج خلاف كار كوي چه ورته وائي دا ښځه تۀ نشے كولے تردے چه بل خاوند ورسره نكاح او نزديكت نۀ وي كړے۔

﴿ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ﴾

امسـاك سـاتلو او بندولو ته وئيلے شي۔ او دا خبر دے مبتداء ئے پټه ده۔ [فَـالْوَاجِبُ عَلَيْكُمْ اِمْسَاكٌ] په تاسو واجب دي ساتل د ښځے په ښۀ شان سره)۔

يـعـنـي د يـو طـلاق يـا دوه طـلاقـو وركولونه روستو به ښځه يا ځان سره ساتي او رجوع به ورته كـوي او د هـغـے سره به ښۀ ژوند تيروي، يا به ئے پريدي په ښائسته شان سره۔ چه د هغے هيڅ حق ته به نقصان نۀ وركوي، او د جدائي نه روستو به د هغے بدي نۀ ذكر كوي، او خلقو ته به د هغے نه نفرت نۀ وركوي۔ (قاسمیؒ)۔

دارنـگـه د سړي ځوانمردي دا ده چه د چا سره ئے د مهر او محبت روابط او تعلقات پاتے شويدي، نـو هـغـه دِے د خپـل تـوفـيـق مـطـابـق څۀ تحفه وغيره وركړي او هغه دِے رخصت كړي۔ او ديته تسريح باحسان وئيلے شي۔

(تسریح باحسان)۔ تسریح په معنیٰ د پریخودلو او آزادولو سره ده، او ددے مطلب دا دے چه ښځه پریدی او رجوع ورته نهٔ کوی تردے چه عدت ئے تیر شی۔ او احسان دا دے چه د هغے نه هیڅ حق نهٔ منع کوی او ضرر هم نهٔ ورکوی لکه د جاهلیت والو په شان۔ (ابن کثیر عن ابن عباس)

د شرعی طلاقو ورکولو طریقه

د طلاق ورکولو صحیح طریقه دا ده چه سړے به ښځے ته په هغه طهر کښ چه جماع ئے پکښ نهٔ وی کړی، داسے اُووائی چه تهٔ طلاقه ئے په شرعی طلاقو سره، یا داسے اُووائی : د قرآن او حدیث مطابق مے طلاقه کړے، نو بس یو طلاق پرے واقع شو، او ښځه به عدت تیروی، که بیرته ئے په عدت کښ دننه اتفاق راغلو یا صرف د سړی خوښه شوه، نو دوه کسان به گواهان کینوی او ښځے ته دے رجوع اُوکړی۔نهٔ پکښ مهر شته او نهٔ د ښځے رضا شرط دے۔ بیا به ژوند تیروی، که بیا ئے اختلاف راغلو نو طلاق به ورکړی او عدت به تیروی، بیا که عدت کښ دننه ئے رجوع کوله، نو گواهان به مقررکړی او بغیر د رضا د ښځے نه رجوع کولے شی۔ خو اُوس ئے یو طلاق حق پاتے شو، او که بیا ئے اختلاف راغلو او دریم طلاق ئے هم ورکړو نو بس بیا ښځه لاړه ختمه شوه۔ نو په یو طلاق یا دوه طلاقو ورکولو کښ فائده دا ده چه که عدت تیر شوے نهٔ وو نو رجوع کولے شی او که عدت تیر شوے وو نو نکاح به تازهٔ کړی۔

﴿ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَأْخُذُوْا مِمَّا آتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْئًا ﴾ :

مسئله د خلع او مهر

اُوس مسئله د مهر بیانوی چه خاوند له دا جائز نهٔ دی چه ښځه تنگه کړی، او داسے حالات راپیدا کړی چه د هغے نه د نجات موندلودپاره چه ښځے ته ئے څهٔ د مهر یا د هدیے په طور ورکړی وی، هغه واپس واخلی، دے دپاره چه سړے ورته طلاق ورکړی، یعنی یو سړے ښځے له د طلاق ورکولو اراده هم لری او بیا د ښځے نه مهرهم واپس غواړی، یا نورے کومے تحفے چه ئے په ژوند کښ ورکړی وی، د هغے حساب ته ئے راکاږی او د هغے مطالبه ترے کوی، نو دا ظلم او خِست او ذلت دے، او د سړیتوب او د اُوچتے حوصلے منافی کار دے ځکه چه تر اُوسه پورے ئے د هغے نه فائدے اخستی دی، د محبت ژوند ئے تیر کړیدے، دا ټولے تحفے او مهرونه د هغے په بدله کښ ختم شویدی، نو بیرته د څهٔ خبرے مطالبه کوی۔

او الله تعالیٰ سړی لره په ډیرو ځایونو کښ دے فُتُوّة او سړی توب طرفته متوجه کړیدے لکه :

﴿ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوْهُنَّ ﴾ [نساء:۱۹]

(تاسو ښځے ددے دپاره مهٔ تنگویٔ چه څهٔ تاسو ورکړی وی چه هغه ترے بیرته اخلیٔ)

بل ځائې فرمائي :﴿ وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴾ [نساء :۲۱] او تاسو څنګه د دوی نه اخلئ حال دا چه تاسو يو بل ته نزديکت کړے او زنانو تاسو نه انتهائي مضبوط لوظ اخستے دے) او روستو آيتونو کښې راځي :

﴿ وَأَن تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ وَلَا تَنسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ﴾ [بقرة: ۲۳۷] (او چه تاسو معافي اُوکړئ دا تقویٰ ته ډيره نزدے ده، او خپل مينځ کښې احسان مۀ هيروئ)۔

﴿ إِلَّا أَن يَخَافَا ﴾ پدے سره يو صورت مستثنیٰ کوی چه په هغے کښې سړے د ښځے نه مطالبه کولے شي، هغه دا چه کله د ښځے د خاوند سره داسے اختلاف وی چه داسے ښکاره کيږی چه دواړه به په ژوند کښې د الله د حدودو خيال نشي ساتلے او د هغے نه د خاوند حقوق نشي ادا کيدے، او کوم قيود او حدود چه د ښځے او خاوند دواړو دپاره مقرر دی، دواړه د هغے خيال نشي ساتلے، يا ښځه د څۀ مجبورتيا په وجه ازدواجي ژوند تيرول نۀ غواړی، نو بيا پدے کښې هيڅ ګناه نشته چه ښځه په خپله خوښه خاوند ته مال، پيسے يا باغ وغيره د فديے په طور ورکړی او خاوند راضي کړی، او د هغه نه ځان آزاد کړی۔ د شريعت په اصطلاح کښې ديته خُلَعَ وائي۔ پدے صورت کښې چونکه غالب مصلحت د ښځے وی نو ځکه د خاوند دپاره دا مال، مهر وغيره اخستل جائز دی۔

شان نزول : ابن جريرؒ وائي چه دا آيت د ثابت بن قيس رضی الله عنه په باره کښې نازل شوے وو چه د هغه ښځے د هغه نه سخت نفرت کولو۔

امام بخاري رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت کړے چه د ثابت بن قيسؓ ښځه نبي کريم ﷺ ته راغله، وے وئيل : اے د الله رسوله ! زۀ د ثابتؓ په دين او اخلاقو باندے هيڅ عيب نۀ لګوم، ليکن د اسلام نه روستو کفر بد ګنړم يعني يريږم چه ما نه د هغه په حق کښې نافرماني اُونشي۔ نبي کريم ﷺ اُوفرمايل چه آيا تۀ به هغه ته د هغه باغ واپس کړے ؟ هغے اُووئيل : آؤ۔ نو نبي ﷺ ثابت ته اُووئيل چه باغ واخله او دے ته يو طلاق ورکړه۔

فائده: د احاديثو نه معلوميږی چه خُلع په هغه صورت کښې جائز ده چه کله د قاضي په نظر کښې د ښځے عذر ثابت شي، بغير د عذر او مجبورتيا نه که ښځه د خپل خاوند سره خُلع کوی نو پدے باره کښې په احاديثو کښې سخت وعيد راغلے دے۔

په مسند احمدؒ وغيره کښې د ثوبان رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل چه کومه ښځه د خپل خاوند نه بغير د څۀ مجبورتيا نه طلاق غواړی، په هغے باندے د جنت خوشبوئي حرامه ده۔ (احمد، ابو داود، (۲۲۲٦) ترمذی (۲۲۳/۱) وغيرها و سنده صحيح)

په مسند احمدؒ کښې د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل: ((چه خلع غوختونکے او خپل خاوند نه جدائی طلب کونکے ښځے منافقانے دی))۔
كما في الصحيحة رقم (٦٣٢) وصحيح الجامع الصغير (١٩٣٨)۔
﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ﴾
فائده : أَنْ يَّخَافَا او فَإِنْ خِفْتُمْ نه د خلع متعلق دوه خبرے راښکاره کيږی :
(۱) اوله دا چه که ښځه او خاوند په خپل مينځ کښې څۀ خبره مقرر نکړے شی، او د دواړو ترمينځ ورانے او جګړے پيدا کيږی، نو ښځه به خامخا دا معامله د قاضی عدالت ته وړاندے کوی، او عدالت به د خلع او معاوضے دواړو فيصله کوی، خاوند ته به اُووائی چه تۀ پدے راضی شۀ، او ښځے ته به اُووائی چه تۀ مال زيات کړه وغيره۔ دا معلوميږی د (فَإِنْ خِفْتُمْ) نه ځکه چه خِفْتُمْ کښې خطاب د اسلامی حکومت قاضيانو او اميرانو ته دے، يا صالحينو مسلمانانو ته دے، کله چه اسلامی حکومت نۀ وی۔ ځکه چه د خلقو په جګړو کښې به هغوی فيصله کوی۔
(۲) دويم دا چه د خُلع يا د نکاح د فسخ د مطالبے حق ښځے ته په هغه صورت کښې حاصل دے چه کله دا ثابته شی چه په ازدواجی ژوند کښې ښځه د حدود الله د قائم ساتلو نه مجبوره ده، او د ځان خلاصولو نه بغير ددے نه ګناه واقع کيږی، حدود الله او د خاوند حقوق ترے بربادېږی۔ دا د (أَنْ يَّخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ) نه معلوميږی۔ که هسے معمولی شان اختلاف راشی، او ښځه پکښې د طلاقو مطالبه کوی، نو د هغے سزا د مخکنو احاديثو نه معلومه شوه۔ دارنګه پداسے معاملاتو کښې به قاضی ته وړاندے شی، نو اسلامی عدالت به اُوګوری چه آيا في الواقع د معاملے صورت همداسے دے چه د دواړو طرفينو دپاره په هغے کښې ژوند تيرول ناممکن يا ګران دی، او که نۀ صرف د ذائقه بدلولو خواهش دے؟۔ نو د هغے مطابق به عدالت فيصله اُوکړی۔
﴿فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ يعنی خاوند له جائز دی چه د ښځے نه دا مال واخلی، دے دپاره چه خاوند پرے ځان له بله ښځه اُوکړی۔
فائده: صاحب اللباب ابن عادل الدمشقیؒ ليکلی دی چه د خاوند او ښځے په يره کښې څلور اقسام دی :
(۱) ...... اول دا چه د ښځے د طرف نه يره وی چه هغه خپل خاوند بد ګنړی، او نافرمانی کوی، نو خاوند له جائز دی چه په خُلع سره د هغے نه مال واخلی، لکه دا په واقعه د ثابت بن قيسؓ کښې راغلے دے۔
(۲) ...... دويم دا چه يره د خاوند د طرف نه وی چه خپله ښځه وهی ټکوی، او تکليف ورکوی، دے دپاره چه فديه نرينه واخلی او خلع اُوکړی۔ نو داسے صورت کښې خاوند له فديه اخستل حرام دی۔ د وجه د مخکښې جملے نه چه (وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا)۔

(٣) ...... دريم قسم دا چه يره د يو طرف نه هم نهٔ وى، خو دواړه په خلع راضى شى نو په دے كښ اختلاف دے، اكثر اهل علمٓ وائى چه دا خلع جائز ده، او دا اخستے شوے مال حلال دے۔

(٤) ...... څلورم قسم دا چه د دواړو طرفونو نه يره وى پدے طريقه چه ښځه بد اخلاقه ده، د خاوند نه په خُلع سره د آزادئ مطالبه كوى، ليكن خاوند ئے نهٔ وركوى، آخر دا چه خاوند تنگ كړى او هغه ئے هره ورځ د اندازے نه زياته وهى، نو هغه سره هم يره پيدا شى چه دے ښځے خو زما ايمان برباد كړو، نو پدے صورت كښ خُلع جائز ده، ليكن خاوند لره د ښځے نه فديه (مال) اخستل حرام دى۔ نو (فَلَاجُنَاحَ عَلَيْهِمَا) مصداق د اول قسم دے او دريم قسم هم پكښ داخل دے۔

بيا دلته ئے دواړو ته د گناه نهٔ كيدو نسبت اُوكړو، حال دا چه فديه ښځه وركوى نو د مفرد ضمير راوړل پكار وو؟۔ ليكن دواړو ته ئے نسبت اُوكړو، وجه دا ده چه ښځه فديه وركوى او خاوند ئے وصولوى نو دواړه پدے كار گناهگار نهٔ دى۔ (اللباب)

فائده : آيا خلع فسخ ده او كه طلاق ؟ پدے كښ اختلاف دے۔ د عثمان، على او ابن مسعود رضى الله عنهم او د بعض تابعينو په نيز خلع طلاق دے، او دا مذهب د امام مالك او ابوحنيفه رحمهما الله هم دے، او د دوى په نيز په خلع كښ د دوه او د درے طلاقو نيت كول هم صحيح دى۔ ليكن د امام ابوحنيفهٓ په نيز به پدے صورت كښ طلاق بائن واقع كيږى، او په نيز د ابن عباسؓ، طاؤسؒ او عكرمهٓ خلع فسخ (ماتول) د نكاح ده۔او طلاق نهٔ دے۔ او دا يو قول د امام شافعىؒ او د ابوثور او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم دے۔

او د دواړو دلائلو د احاديثو په كتابونو او تفسيرونو كښ ذكر دى۔ ليكن غوره دا ده چه خلع طلاق نشى ځكه چه روستو (فَإِنْ طَلَّقَهَا)سره دريم طلاق ذكر دے، نوكه خلع طلاق شى، نو بيا به څلور طلاقه شى۔ او څلور طلاقه په اسلام كښ نهٔ وى۔لكه دا دليل علامه خطابىؒ د ابن عباسؓ نه په ((معالم السنن)) كښ ذكر كړيدے۔

بله دا چه ثابت بن قيسؓ چه كله ښځه پريخوسته، نونبى ﷺ ورته دا حكم اُونكړو چه ددے حالت معلوم كړه چه حائضه ده او كه نهٔ؟ نو كه دا طلاق وے نو د ښځے تحقيق پكار وو ځكه چه په حالت د حيض كښ طلاق وركول صحيح نهٔ دى۔

بله دا چه د ابن عباسؓ نه په صحيح سند په ابوداود كښ نقل دى چه (فَجَعَلَ النَّبِىُّ ﷺ عِدَّتَهَا حَيْضَةً) (ابوداود رقم (٢٢٢٩) نبى ﷺ د ثابت د ښځے عدت يو حيض مقرر كړو)۔ نوكه خلع طلاق وے، بيا درے حيضه پكار وو۔ (اللباب)۔

دغه شان رُبَيِّع بنت معوذ بن عفراء خلع كړے وه نو رسول الله ﷺ ورته حكم اُوكړو : [أَنْ تَعْتَدَّ

بِحَيْضَةٍ] (چه دا به یو حیض عدت تیروی) ...... [صحیح الترمذی (۱۱۸۵) وصحیح ابن ماجه (۲۰۵۸)
بیا رُبَیِّعْ عثمان ﷺ ته راغله چه زما به څومره عدت وی؟ هغه اُوفرمایل : ستا عدت نشته مګر دا چه خاوند ستا نه نوی جدا شویدی نو د خاوند سره د یو حیض په اندازه وخت تیر کړه۔ (ابن ماجه) وذکره الحافظ شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ فی مجموع الفتاوی (۳۲/۳۲۵)۔

﴿تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ﴾ په تِـلْكَ سره اشاره ده هغه آیتونو او حکمونو ته چه د ښځې سره متعلق وو چه هغه د (وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ) نه شروع وو تر دے ځائے پورے۔

د حدود نه مراد هغه اوامر او نواهي دی چه شریعت د هغے د تجاوز کولو نه منع کړی وی او په هغے کښې زیاتے او کمے کول دواړه حرام وی، نو ځکه ئے ورپسے (فَلَا تَعْتَدُوْهَا) ذکر کړو چه د اَوامرو ماتولو او د نواهیو مخالفت کولو دواړو ته شامل شی ځکه چه اعتداء دواړو ته شامل ده۔ (احسن الکلام)۔

او په اعتداء کښې د شرعی طلاقو د شمارنه تجاوز کول او د هغے په کیفیت کښې بدلون راوستل تـول داخلیږی۔

محمود بن لبیدؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ته خبر اُوشو چه یو سړی خپله ښځه په درے طلاقو په یو ځائے طلاقه کړیده، نو هغه غصه راپاڅیدو بیا ئے اُوفرمایل : [اَیُلْعَبُ بِکِتَابِ اللهِ وَاَنَا بَیْنَ اَظْهُرِکُمْ] آیا د الله په کتاب به لوبے کیږی، او زهٔ به ستاسو ترمینځ موجود یم) تردے چه یو سړے راپاڅیدو، ویے وئیل چه آیا زهٔ ئے نهٔ وژنم۔ (نسائی والدر المنثور)۔

معلومه شوه چه درے طلاقه په یو ځائے ورکول د الله د کتاب پورے لوبے کول دی۔

حدود، پولو او حد بندیانو ته وئیلے شی لکه څنګه چه انسانان د خپلو زمکو او خپلو چراګاهونو نه ګیر چاپیره حد بندیانے کوی، او دا نهٔ غواړی چه څوك دا حدود مات کړی، او که څوك په هغے کښې مداخلت کوی، نو انسانان دا په خپل ملکیت کښې مداخلت او د خپل عزت او غیرت دپاره یو چیلنج ګنړی۔

دغه شان الله تعالیٰ هم د خپلو محارمو (حرامو څیزونو) نه ګیر چاپیره حدونه او پولے وهلی دی، چه د هغے نه بهر آزاد دی، لیکن په هغے کښې دننه د مداخلت اجازت نشته، که څوك هغه پولے ماتوی، نو همدا خلق به ظالمان وی۔ یعنی ددے په نتیجه کښې چه څهٔ نقصان او ذمه واریانے په دنیا یا په آخرت کښې مخے ته راځی، نو دا به خپله په دوی باندے وی، په الله تعالیٰ باندے به نهٔ وی۔ نو دوی به د خپل ځان نقصان کوی، د الله به څهٔ نقصان اُوکړی!!۔ ځکه چه د الله تعالیٰ تول قوانین د انسانی فطرت د تقاضو مطابق او د بندګانو په فائدو باندے بناء دی۔ نو پدے کښې نقصان کول خپل ځان ته نقصان رَسَول دی۔

﴿وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللهِ فَاُولٰئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ په دے جمله كښ ډير تاكيدات دي۔
(١) يو په دے كښ عام خطاب دے پس د خاص خطاب نه۔ (٢) دويم په دے كښ ئے حكم كړے چه دا ظلم دے۔ (٣) دريم حصر (بندش) د ظلم ئے كړے په لفظ د اُولٰئِكَ او هُمُ او اَلظّٰلِمُوْنَ معرفه راوړو سره۔ او دا تعدي عامه ده چه د گناهونو په كولو سره وي او كه د ښځے او خاوند د يو بل په حقوقو نقصاني كولو سره وي۔

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ
نو كه چرته طلاق ئے وركړو دے ښځے ته (دريم طلاق) نو حلاله نۀ ده دا ښځه هغه له پس ددے نه ترديے چه نكاح اُوكړي
زَوْجًا غَيْرَهُ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا
د بل خاوند سره، نو كه چرته طلاق وركړي دويم خاوند هغے ته نو نشته گناه په دے دواړو چه دواړه يو بل ته اُوگرځي (په نكاح سره)
إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٠﴾
كه ددے دواړو گمان وو چه پابندي به كوي د پولو د الله۔ او دا پولې (حكمونه) د الله دي چه بيانوي ئے دپاره د هغه قوم چه پوهيږي۔

تفسير: په دے آيت كښ دريم طلاق ذكر كوي۔ كه مخكښ تَسْرِيْحٌ بِاِحْسَانٍ كښ دريم طلاق وي، نو هغه به اجمال وي، او دا به د هغے تفصيل وي، او كه د تسريح نه مراد د رجوع پريخودل وي، نو دا مستقل دريم طلاق ته اشاره ده، او همدا خبره غوره ده، او فاء ئے راوړه اشاره ده چه دا طلاق به د مخكنو طلاقونه روستو وي۔ نو مخكښ دوه طلاقونه ذكر شو، اُوس دريم طلاق ذكر كوي۔ او د هغے حكم بيانوي چه ددے نه روستو به ښځے ته رجوع نشي كيدے۔ او په فاء راوړو كښ دے ته هم اشاره ده چه شرعي طريقه دا ده چه دريم ډے د مخكښ دوه طلاقو سره نۀ جمع كوي، بلكه روستو ډے وركوي، نو دريے طلاقه په يو ځائے يا په يوه كلمه كښ جَمَع كول د شرعي طريقے خلاف دي۔ او دا بدعي طلاق دي۔
د آيت مطلب دا دے چه كه خاوند دريم طلاق وركړو نو هغه ښځه به دۀ دپاره نۀ د رجوع په ذريعه حلاليږي، او نۀ به د نوے نكاح په ذريعه، تر دے چه بل كوم سړے ددے سره په رضا او مينه، او د عام عرف مطابق د هميشه دپاره د ازدواجي ژوند تيرولو دپاره وادۀ اُوكړي، او د هغے سره نزديكت اُوكړي، بيا په څۀ وجه سره هغۀ، دے ته طلاق وركړي، نو د نوے نكاح په ذريعه سره ئے اول خاوند په خپله نكاح كښ راوستے شي، ليكن په دے شرط سره چه د دواړو غالب گمان

وي چه دوباره به دوی په ښځهٔ شان سره ازدواجي ژوند تیروي او د یو بل د حقونو لحاظ به ساتي.
په صحیحینو کښې د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے چه د رِفاعه قُرَظِي ښځه (تَمِيمَه) رسول الله ﷺ ته راغله، وې وئیل چه رفاعه ما ته دریم او آخري طلاق راکړے وو. د هغې نه روستو ما د عبد الرحمن بن زَبِیر قُرَظي سره نکاح اُوکړه، لیکن د هغه د سړیتوب آله د کپړے د پڅکے په شان ده، نو رسول الله ﷺ پوښتنه اُوکړه چه کیدے شي چه تهٔ د رفاعه په نکاح کښې دویم ځلي راتلل غواړې؟، داسے نشي کیدے تردے چه تاسو دواړه د یو بل خوند اُونهٔ څکئ (یعنی هغه تا سره جماع اُوکړي).
ددے نه دا هم معلومه شوه چه د حلالے نکاح په ذریعه که یو سړے د هغه ښځے سره جماع هم اُوکړي، نو دغه ښځه به د اول خاوند دپاره نهٔ حلالیږي. ځکه چه د الله رسول ﷺ په حلاله کونکي او چا دپاره چه حلاله کولے شي، په دواړو باندے د الله تعالیٰ د لعنت خبر ورکړیدے او په کومه نکاح باندے چه لعنت وئیلے شوے وي، هغه نکاح نهٔ صحیح کیږي. او پدے وجه هم چه د عرفِ عام مطابق وادهٔ دیته وائي چه د همیشه دپاره د ازدواجي ژوند تیرولو دپاره شوے وي. او په حلالے نکاح باندے دا تعریف نهٔ صادقیږي. نو دا شرعي نکاح نشوه، او قرآن خو (حَتَّى تَنكِحَ زَوْجًا) کښې نکاح شرط کړیده.
په مسند احمدؒ، ترمذيؒ او ابن ماجهؒ وغیره د احادیثو په کتابونو کښې د حلالے نکاح په باره کښې حدیثونه اُوګورئ. چه بعض د هغې نه مخکښې ذکر شو.
حاکمؒ د نافع نه روایت کړیدے چه یو سړي د ابن عمر رضي الله عنهما نه د یو داسے سړي په حقله پوښتنه اُوکړه چه هغه خپلے ښځے ته درے طلاقه ورکړي وو، دے نه روستو د هغه یو ورور بغیر د څهٔ مخکنی سازش نه د هغې سره وادهٔ اُوکړو، دے دپاره چه هغه ئے د خپل ورور دپاره حلاله کړي، نو آیا دا به د مخکني خاوند دپاره حلالیږي ؟
نو ابن عمر رضي الله عنهما اُووئیل چه نهٔ، دداسے نکاح نه بغیر نهٔ حلالیږي چه هغه په رغبت سره شوي وي چه د هغې سره به همیشه دپاره ازدواجي ژوند تیروي.
بیا ئے اُوفرمایل چه مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې داسے نکاح زنا ګنړله. حاکمؒ دے حدیث ته صحیح وئیلے دے.
﴿حَتَّى تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ﴾ نکاح په معنیٰ د عقد (تړون د نکاح) سره راځي، او په معنیٰ د وطی سره هم راځي، دلته په اتفاق د علماؤ نکاح د وطی سره مراد ده ځکه چه په حدیث د صحیحینو کښې په قصه د رفاعه قرظي کښې مخکښې ذکر شو چه په هغې کښې داسے الفاظ دي : [لَا، حَتَّى

تَذُوْقِيْ عُسَيْلَتَهٗ وَيَذُوْقَ هُوَ عُسَيْلَتَكِ] (تهٔ هغه ته نهٔ شے واپس كيدے تردے چه تهٔ د هغه نه خوند واخلے او هغه ستا نه خوند واخلي)۔

بعض علماء وائي پدے جمله كښ په نكاح د حلالے باندے رد دے پدے طريقه چه په شريعت كښ د نكاح لفظ يوه معروفه او مشهوره اصطلاح ده چه نكاح دے ته وائي چه ښځه او خاوند به پدے معاهده كوي چه دوي به د يو بل سره هميشه دپاره صحيح ژوند تيروي، كه په كومه نكاح كښ دا اراده نهٔ وي، نو دا به په حقيقت كښ نكاح نهٔ وي، بلكه دا به يو سازش وي چه ښځے او خاوند خپل مينځ كښ كړيدے۔

او د نكاح سره چه شريعت د طلاقو كوم گنجائش اينبے دے نو هغه ددے سازش يو جزء نهٔ دے، بلكه دا د يو ناڅاپي آفت او ناچاقي راتلو يو مجبورانه امداد دے۔ پدے وجه كه نكاح د يو معين وخت پورے وي، هغے ته د متعے نكاح وائي، او مُتعه په اسلام كښ حرامه ده۔ دارنگه كه يو شخص پدے نيت د يوے ښځے سره نكاح كوي چه ددے نكاح نه روستو به طلاق وركوي، او دا ښځه به د اول خاوند دپاره جائز كوي، نو دے حيلے او سازش ته د شريعت په اصطلاح كښ حلاله وائي۔ دا اسلامي نكاح نهٔ ده، او دا هم په اسلام كښ د مُتعے په شان حرامه ده، او لعنت پرے راغلے دے لكه چه ددے تفصيل مخكښ تير شويدے۔ (تدبر قرآن)۔

د ولي نه بغير نكاح

بيا دلته ئے نسبت د نكاح ښځے ته اُوكړو چه ښځه د بل چا سره نكاح اُوكړي، ددے حكمت چا غلط بيان كړيدے چه ښځه د خپل واك خاونده ده، او خپل ځان په نكاح وركولے شي۔ ولي ته پكښ ضرورت نشته لكه اصول د فقه حنفي كښ ئے ليكلي دي چه تَنْكِحَ لفظ خاص د كتاب الله دے، او خاص د كتاب الله بَيِّن بِنَفْسِهٖ وي، احتمال د بيان نهٔ لري، لهذا د [لَا نِكَاحَ اِلَّا بِوَلِيٍّ] (د ولي نه بغير نكاح نهٔ كيږي) حديث ته ئے ضرورت نشته چه ددے بيان اُوكړي ځكه چه دا خپله واضح لفظ دے، معنیٰ ئے ښكاره ده۔

ليكن دا خبره غلطه ده، ښځه خپل ځان په نكاح نشي وركولے بلكه ولي ورله ضروري دے۔ د هغے ډير دلائل په خپل ځائے كښ راځي، مختصر دا چه صحيح حديث كښ دي : (لَانِكَاحَ اِلَّا بِوَلِيٍّ)۔ (د ولي نه غير نكاح نهٔ كيږي) (ترمذي وابوداود)۔

په يو بل روايت كښ دي : [وَلَاتُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَاِنَّ الزَّانِيَةَ هِيَ الَّتِيْ تُزَوِّجُ نَفْسَهَا] (ابن ماجه والدارقطني ٣٥٨١ بسند صحيح) (ښځه خپل ځان په نكاح نشي وركولے ځكه چه هغه زنانه زناكاره ده چه خپل ځان په نكاح وركوي)۔

او دغه شان وينا د ابن عباس رضى الله عنهما نه هم نقل ده۔(سنن سعيد بن منصور: (٥٣٤)
دارنګه روستو آيت کښې ئې سرو ته خطاب کړے (فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ) (مه ئې منع کوئ د نکاح کولو نه)۔ معلومه شوه چه د ښځې په نکاح کښې ولي شرط دے۔
او دلته ئې چه ښځې ته نسبت کړے نو ددے صحيح حکمت دا دے چه د ښځې نه اجازت اخستل ضروري دي، ځکه چه دلته دوه حقونه دي :
(۱) د ولي حق دا دے چه هغه نه به ښځه تپوس کوي، په خپل سر به نکاح نۀ کوي، ځکه چه دے ته د پښتنو په اصطلاح کښې متيزه وائي۔ نو ښځه به د ولي حق نۀ بربادوي چه هغه اُوشرموي، نو ښځې ته شريعت اُووئيل ستا نکاح به ولي کوي۔
(۲) دويم د ښځې حق دے، نو ولي ته وائي چه تۀ به خپل واك نۀ استعمالوے چه د ښځې حق برباد کړے بلکه د ښځې په خوښه او رضا به تۀ د هغې نکاح کوے۔ او دلته طلاقه شوے ښځه خو کونډه ده، نو دا به په ژبه اظهار کوي چه ما ورکړه يا نۀ۔ نو پدے کښې څومره انصاف او عدل دے!!۔
﴿ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ﴾ دلته طَلَّقَهَا کښې ضمير دويم خاوند ته راجع دےٰ او پدے جمله کښې د دويمے نکاح نه روستو د اول خاوند دپاره د جائز کيدو صورت بيانوي، هغه دا چه دويم خاوند دا ښځه په خپله خوښه سره بغير د جَبُر او زور نه، د خپله مجبورتيا په وجه طلاقه کړي او عدت ئې تير شي، او بيا ښځه غواړي چه اول خاوند ته واپس شي، نو ګناه نشته چه دواړه يو بل ته واپس شي۔ يعني بيرته د اول خاوند سره نکاح کولے شي، خو ددے شرط مخکښې بيان شو چه ددے ښځې به د دويم خاوند سره نزديکت شوے وي، يواځې تړون د نکاح به نۀ وي۔ او د هغې حکمت هم مخکښې بيان شو۔
﴿ اَنْ يَّتَرَاجَعَا ﴾ د تراجع (يو بل ته واپس کيدو) نه مراد د اول خاوند سره نوے نکاح تړل دي، سره د تولو شرطونو د نکاح نه۔خو پدے شرط چه د دواړو دا غالب ګمان وي چه آينده به صحيح ژوند تيروي، ځکه چه نکاح او طلاق خو څۀ لوبے نۀ دي بلکه دا به د صحيحے ارادے او مخلصانه خواهش مطابق موجودېږي۔
﴿ ظَنًّا ﴾ ظن (ګمان) لفظ ځکه ذکر کوي چه د راتلونکے زمانے يقين چا ته نشي کيدے خو غالب ګمان وي۔
﴿ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴾ يعني الله دا احکام ښکاره او په تفصيل سره د هغه خلقو دپاره بيانوي چه هغوي پوهه لري ځکه چه پوهه خلق ددے په خير او حکمتونو باندے پوهيږي، نۀ جاهلان او لام د انتفاع دپاره هم دے۔ يعني پوهه خلق ددے نه فائده اخلي۔ او په قوم

لفظ کښې اشاره ده چه علم والا خلق په عِلم سره د معاشرے قِوام او مضبوطوالے پيدا کوی۔

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ

او کله چه طلاقے کړئ تاسو زنانه پس نزدے شی هغوی خپلے نيتے ته نو اُوساتئ دوی لره په ښائسته طريقه

أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا

يا ئے پريږدئ په خائسته طريقه او مهٔ بندوئ دوئ دپاره د ضرر ورکولو دے دپاره چه تاسو زياتے کوئ

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللّٰهِ هُزُوًا

او چا چه اُوکړو دا کار نو يقيناً دهٔ ظلم اُوکړو په خپل ځان او مهٔ نيسئ آيتونه د الله تعالىٰ په ټوقو سره

وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ

او يا د کړئ احسانات د الله په تاسو باندے او هغه چه رالیږلی دی الله تعالىٰ په تاسو د کتاب نه او د سنت نه،

يَعِظُكُمْ بِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۲۳۱﴾

الله تاسو ته نصيحت کوی په دے سره او ويريږئ د الله نه يقيناً الله په هر شی باندے پوهه دے۔

تفسير: پدے آيت کښې دوباره په عدت کښې د رجوع نهٔ کولو مسئله بيانوی ځکه چه عربو پدے کښې ظلم کړے وو چه د هغوی په نيز په رجوع کښې هيڅ حد نهٔ وو، طلاق به ئے ورکړو، کله چه به ئے عدت ختميدو ته نزدے شو، نو بيرته به ئے ورته رجوع کوله او دا سلسله به ئے جاری ساتله، او پدے سره به ئے زنانو ته ضرر ورکولو۔

نو الله تعالىٰ ددے نه منع کوی، او فرمائی چه کله زنانه طلاقه شی، او د هغے عدت ختميدو ته نزدے شی، نو يا ئے په صحيح نيت سره بيرته راواپس کړه، نو هم جائز ده او که د ژوند تيرولو اراده دے نهٔ وی نو بيا ئے د شريعت مطابق پريدهٔ او ضرر مهٔ ورکوه۔ همدا خبره په تسريح باحسان کښې هم ذکر شوه، ليکن هلته اختيار ذکر وو، او دلته مقصد د جاهليت والو د طريقے رد دے۔ ځکه ئے دوباره ذکر کړو۔ او پدے کښې د اِمۡسَاكٌ بِمَعۡرُوۡفٍ تشريح ده چه ستاسو دا رابندول د ښځو به د ضرر په نيت سره نهٔ وی۔ لکه د جاهليت والو په شان۔

﴿ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ ﴾ د بلوغ الاجل دوه مطلبه دی۔ (۱) يو دا چه نيته بالکل آخر ته اُورسيږی او ختمه شی۔ لکه دا روستو آيت کښې مراد دے۔ (۲) او دويم دا چه نيته ختميدو ته نزدے شی، او لا

ختـمـه شوی نهٔ وی، او دلته همدا معنیٰ مراد ده ځکه چه دلته د رجوع مسئله بیانوی، او رجوع هله صحیح وی چه عدت لا ختم شوے نهٔ وی۔

﴿فَأَمۡسِكُوهُنَّ﴾ دائے مخکښ ذکر کړو، پدے کښ ترغیب دے چه ښځے ته رجوع کول غوره کار دے ځکه چه شریعت حتی الوسع د ښځے او خاوند د کورنئ د جوړوالی کوشش کوی۔ او د ځینو علماؤ په نیز دا رجوع کول به په وینا سره وی او د ځینو نورو په نیز په وینا او جماع دواړو سره وی، لیکن اول قول ډیر ظاهر دے، لکه د حدیثو په کتابونو کښ همدغسے راغلی دی۔

﴿بِمَعۡرُوفٍ﴾ دلته د معروف نه مراد هغے ته په رجوع کولو باندے ګواهان پیش کول دی۔

﴿أَوۡ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٍ﴾ **حکمة**: مخکښ آیت کښ ئے تَسۡرِيحُۢ بِإِحۡسَٰنٍ لفظ ذکر کړو او دلته بِمَعۡرُوفٍ. وجه دا ده چه دلته د معروف نه مراد د ضرر ورکولو نه منع ده، نو چه د چا نه د ضرر یره کیدے شی، د هغه نه مطالبه د احسان نهٔ کیږی۔ او په هغه آیت کښ صرف اختیار ذکروو، نو د هغے سره احسان مناسب وو۔

دویم دا چه مخکښ آیت کښ د تسریح سره احسان ذکر وو، نو وَهم راغلو چه د تسریح سره به احسان واجب وی، نو دلته اُوویلے شو چه د تسریح سره صرف معروف (یعنی د عرف مطابق معامله) واجب ده او احسان مستحب عمل دے۔ (احسن، ابن عاشور)

﴿وَلَا تُمۡسِكُوهُنَّ ضِرَارٗا لِّتَعۡتَدُواْ﴾ پدے دواړو قیدونو کښ فائده ده۔ د ضرر دپاره به ئے نه ساتئ لکه بعض خلق به غصه شو ښځے ته به ئے طلاق ورکړل، چه درے میاشتے به پوره کیدلے، نو بیرته به ئے ورته رجوع اُوکړه، بیا به ئے طلاق ورکړو، بیا به چه درے میاشتے پوره کیدلے، نو رجوع به ئے ورته اُوکړه، او همدا ترتیب به ئے ورسره کولو، په کلونو کلونو به ئے د ضرر ورکولو دپاره زوړندهٔ ساتله۔ خو کله کله سړے ښځے له ضرر ورکولے شی چه زناکاره بد کاره وی، نو ځکه ئے وریسے اُوفرمایل (لِّتَعۡتَدُواْ) : یعنی د زیاتی او ظلم په نیت باندے ضرر ورکول نهٔ دی جائز، او د شرعی سزا په نیت ضرر ورکولے شی۔

﴿وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥ﴾ ځکه په بل باندے ظلم کول په ځان باندے ظلم دے۔ او په ځان باندے د ظلم مطلب دا چه ظلم خو الله منع کړے، نو څوك چه د هغه مخالفت کوی، نو ځان عذاب ته پیش کوی۔ دویم دا چه د دنیا او د دین منافع او فائدے په ځان باندے بندول دی، او ځان ته نقصان ورکول دی۔ په دنیا کښ به خلقو کښ مشهوره شی چه دا انسان بد اخلاقه دے، نو څوك به ورسره معامله نهٔ کوی، او دینی منافع بندیدل دا دی چه د ښځے سره په ښائسته ژوند تیرولو کښ او د الله تعالیٰ په احکامو باندے چه کوم ثوابونه حاصلیږی، د هغے نه به محرومه

شي، او د الله په غضب به اخته شي۔

﴿وَلَا تَتَّخِذُوٓا آيَاتِ اللّٰهِ هُزُوًا﴾ دے نه روستو الله تعالىٰ د آيتونو پورے د توقوكولو نه منع اُوفرمايله لكه څنګه چه د جاهليت په دَور كښې به خلقو كول چه ښځې ته به ئے طلاق وركړو، يا به ئے يوے ښځے سره وادۀ اُوكړو، يا به ئے غلام، يا وينځه آزاده كړه، بيا به ئے وئيل : [إِنَّمَا كُنْتُ لَاعِبًا] ما خو توقے كولے۔ زما خو د طلاقو اراده نۀ وه۔ ددے وجه نه شريعت وائي، كه چا په توقو كښې طلاق وركړل، نو دا طلاق پرے واقع شو۔

په خطاء او په نسيان باندے طلاق نۀ واقع كيږي، ليكن په توقو باندے واقع كيږي ځكه چه توقو كښې اراده وي۔ او د سړي بے فائدے توجيه لره هيڅ اعتبار نشته۔

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ اُوفرمايل : چه « درے كارونه داسے دي چه هغه په قصد سره اُوشي او كه د توقو په نيت سره، هغه به نافذ وي : نكاح، طلاق او ښځے ته رجوع كول»۔ (ابوداود، ترمذي، ابن ماجه)۔

﴿هُزُوًا﴾ : په اصل كښې يو شے سپك ګنړلو ته وئيلے شي۔ او د آيتونو سپكاوے يو دا دے چه د هغے نه انكار اُوكړے شي۔ يا دا چه په هغے باندے عمل اُونكړے شي۔ او د هغے لحاظ اُونۀ ساتلے شي۔ يا د ښځے په جدائي، يا بندولو كښې هغے ته ضرر وركړے شي، يا ډير طلاقونه وركړے شي، يا درے طلاقه په يوځائے جَمع كړے شي۔ (تفسير السعدي)۔

يا دا حكمونه د شهوت دپاره يا د قوم او ددۀ د عادت دپاره ماتوي، نو دا په غير شعوري توګه د الله د آيتونو پورے توقے كوي۔ (تفسير المنار)۔

دارنګه يو سخت شكل ئے دا هم دے چه په ظاهري اعتبار سره خو كار داسے اُوكړے شي چه په هغے باندے كوم اعتراض نۀ كيږي، ليكن د مقصد په لحاظ سره هغه كار د شريعت د مقصد نه بيخي خلاف وي۔ لكه مثلًا په دريم طهر كښې كه يو شخص خپلے ښځے ته رجوع اُوكړي، نو د شريعت په اعتبار هغه ته خو دا حق حاصل دے، ليكن كه پدے سره ددۀ مقصد ښځه تنګول وي، نو ددے معنىٰ دا جوړيږي چه دۀ د الله د آيتونو په پرده كښې د الله مخالفت اُوكړو، او ښكاره ده چه دا د الله او د هغه د شريعت سره ښكاره توقے كول دي۔ (تدبر قرآن، ابن عاشورؒ)۔

﴿وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ﴾ پدے سره د خلقو په نفسونو كښې د مخكنو احكامو د مضبوطولو دپاره ترغيب بيانوي په ذكر كولو د فائدو ددے۔ او د دين په هدايت كولو باندے احسان ذكر كوي۔ يعني الله تاسو سره څومره احسان اُوكړو چه د عدل احكام ئے دربانديے نازل كړل، نو تاسو له ددے پورے توقے نۀ دي پكار۔ د نعمت نه مراد اسلام او د احكامو بيان، او په

هدايت سره ددے رسول راليږل دى۔ او دارنګه نعمة د زوجيت دے۔ او ددے نعمت رايادول دا دى چه پدے باندے په ژبه د الله حمد او ثناء اُووئيلے شى، او په زړهٔ کښ اقرار اُوکړے شى، او په بدن باندے عمل اُوکړے شى۔ (السعدی)۔

﴿ وَمَآ اَنۡزَلَ عَلَيۡكُمۡ مِّنَ الۡكِتٰبِ وَالۡحِكۡمَةِ ﴾ دا په نعمة الله باندے عطف دے۔ (يعنى دا هم رایاد کړئ)۔ د (کتاب) نه مراد قرآن او د (حکمة) نه مراد د نبى ﷺ سنت دى۔ يعنى تاسو باندے الله تعالىٰ دا احسان اُوکړو چه کتاب او سنت ئے راوليږل چه ددے په وجه ئے تاسو ته د خير طريقے بيان کړے، او ترغيب ئے درکړو، او د شر لارے ئے اُوخودلے، او د هغے نه ئے منع اُوکړه، او خپل ځان ئے درته معرفى کړو، د خپلو اولياؤ او دشمنانو حالات ئے درته پکښ بيان کړل۔ (السعدی)۔

يا د حکمة نه مراد هغه علم دے چه د شريعت نه حاصل شوے وى، لکه د تير شوى اُمتونو د حالاتو نه عبرت اَخستل، او د دين مصلحتونه معلومول، او د شريعت رازونه پيژندل۔ (ابن عاشور) دواړه معنے صحيح دى۔ دويمه معنىٰ د روستو يَعِظُكُمۡ سره ښهٔ لګى ځکه چه وعظ د الله د احکامو، او بيا د هغے د حکمتونو په پيژندلو سره زيات حاصليږى۔ (المنار)۔

﴿ يَعِظُكُمۡ بِهٖ ﴾ (بِهٖ) ضمير مَآ اَنۡزَلَ ته راجع دے چه هغه قرآن، او حديث دے۔

وعظ او موعظه هغه نصيحت او تذکير ته وئيلے شى چه زړونه نرموى او انسان منع کوى۔ (ابن عاشورؒ)

﴿ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ﴾ د تقوىٰ حکم ځکه کوى چه خلقو به د ښځو متعلق کوتاهى زياته کوله، نو الله فرمائى چه ستاسو نفسونه د ښځو د حقوقو په بے باکئ اموخته شويدى، نو د الله نه يره اُوکړئ، هغه به سزا درکوى۔

﴿ وَاعۡلَمُوۡا ﴾ دا د مخکښ نه هم په تذکير او نصيحت کښ زياته قوى خبره ده، ځکه چه کله يو انسان خپل حال په ظاهر کښ د شريعت برابر کړى، ليکن زړهٔ د ښځے حقوق بربادونکے وى، نو الله فرمائى چه الله تعالىٰ ستاسو په هر حالت پوهه دے۔ الله به هله راضى کيږى چه د انسان ظاهر او باطن يو شان شى، او نيت ئے خالص شى، او د هغه په احکامو عمل اُوکړے شى۔

وَاِذَا طَلَّقۡتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغۡنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعۡضُلُوۡهُنَّ

او کله چه طلاق ورکړئ تاسو زنانو ته او ورسيږى هغوى نيتے ته نو مهٔ منع کوئ تاسو هغوى لره

اَنۡ يَّنۡكِحۡنَ اَزۡوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوۡا بَيۡنَهُمۡ بِالۡمَعۡرُوۡفِ

ددے نه چه نکاح اُوکړى د خپلو خاوندانو سره کله چه رضا وى په خپل مينځ کښ په ښهٔ طريقه، دا حکم

ذٰلِكَ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

نصيحت كيدے شى پدے سره هغه چا ته چه وى ستاسو نه ايمان لرى په الله او په ورځ روستنئ

ذٰلِكُمْ أَزْكٰى لَكُمْ وَأَطْهَرُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٢﴾

دا كار زياتونكے دے ستاسو عزت لره او ښه پاكونكے دے او الله پو هيږى (د خلقو په زړونو) او تاسو نهٔ پو هيږئ۔

تجديد نكاح

تفسير : پدے آيت كښ د تدبير منزل د حكمونه يولسم حكم دے۔ چه كله يوه ښځه په طلاق رجعى سره طلاقه شوه، او د يو يا دوه طلاقونه روستو ئے عدت ختم شو، او بيا دواړه يو بل غواړى، او په شرعى نكاح سره دوباره په نكاح كښ داخليدل غواړى، نو دوى مهٔ منع كوئ، ځكه چه په همدے كښ هر خير دے۔ نو نكاح دِے تازهٔ كړى، او مهر دِے مقرر كړى، او ولى نه دِے اجازه واخلى۔ او ولى له دا جائز نهٔ دى چه دوى منع كړى۔

نو آيت كښ عنوان دے : بَيَانُ تَجْدِيْدِ نِكَاحِ الْمُطَلَّقَةِ مَعَ بَيَانِ وَلِيِّ الْمَرْأَةِ] د طلاقے شوے ښځے د نكاح تازهٔ كولو بيان او دا چه د ښځے دپاره ولى شرط دے)۔

شان نزول

امام بخاریؒ او اصحاب السنن روايت راوړيدے چه دا آيت د مَعقل بن يَسار مُزَنى ﷺ او د هغهٔ د خور په باره كښ نازل شويدے، دوى خپله خور يو مسلمان ته په نكاح وركړے وه، څهٔ موده روستو هغهٔ يو طلاق وركړو، بيا ئے رجوع اُونكړه، د عدت د تيريدو نه روستو دواړو يو بل سره رغبت او مينه ښكاره كړه، او هغه سړى دويم ځلى د نكاح پيغام اُوليږلو، نو معقل ﷺ انكار اُوكړو، او وے وئيل چه ما ستا اكرام كړے وو چه خور مے په نكاح دركړے وه، او تا ورله طلاق وركړو، او اُوس راروان ئے ددے مطالبه كوے؟ قَسَم په الله، دا تا ته هيڅ كله نشى واپس كيدے۔ ليكن الله تعالىٰ ته ددے دواړو د رغبت او حاجت عِلم وو، پدے وجه دا آيت ئے نازل كړو۔ كله چه معقل ﷺ آيت واوريدو، نو وے وئيل چه اے الله ! ما ستا خبره واوريدهٔ او زهٔ ستا اطاعت كوم، بيا ئے هغه سړے راطلب كړو، ورته ئے اُووئيل چه زهٔ خپله خور تا ته په نكاح دركوم، او ستا اكرام كوم۔ (بخاري، ابوداود، ترمذي)۔ او د خپل قَسَم كفاره ئے وركړه۔

نو الله ددے فائده هم بيانوى چه د ښځے هسے هم ددے خاوند سره مخكښ وخت تير شوے دے، نو پكار دا ده چه اُوس ئے بيرته په نكاح واخلى۔

○ دا هم معلومه شوه چه په طلاق شرعي کښې فائده دا ده چه کله طلاق ورکړے شي نو که عدت ختم هم شي نو بیا هم کار کیږي، دوباره به نکاح تازهٔ کړي سَره د مهر او اجازت د ولی نه.

فوائد : (۱) دا آیت ددے خبرے دلیل دے چه د نکاح دپاره ولی کیدل ضروري دي. ځکه الله تعالیٰ اولیاء منع کړیدي چه هغوی خپلے خویندو لونړهٔ دویم ځلی خپلو مخکنو خاوندانو سره د نکاح کولو نه منع کړي، او د منع کولو حق هغه چا ته حاصل وي، چه د هغه نه بغیر نکاح نشي کیدے. (۲) - د عدت د تیریدو نه روستو ښځه پردۍ شي، نو پدے وجه بیرته به نکاح تړي. (۳) بالمعروف نه معلومه شوه چه دا به شرعي نکاح وي او د یوے شپے او څهٔ معینے مودے دپاره به نهٔ وي او حلاله به نهٔ وي.

﴿ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ ﴾ د بلوغ نه مراد دلته اتمام دے یعني چه نیتهه د عدت ختمه شي، او پوره شي.

﴿ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ ﴾ دے کښې د ښځے اولیاؤ ته خطاب دے او دا پکښې راجح تفسیر دے.

عَضَل : منع او قید کول، او نهٔ نقل کولو ته وئیلے شي.

﴿ اَنْ يَّنْكِحْنَ ﴾ چه نکاح اُوکړي په نوي مهر او نوي نکاح. دلته ئے د نکاح نسبت ښځو ته اُوکړو ځکه چه د هغوی رضا پکښې شرط ده.

﴿ اَزْوَاجَهُنَّ ﴾ ازواجهن : دے ته ئے ازواج (خاوندان) وئیلي دي په اعتبار د (مَاکَانَ) سره یعني مخکښې په نزدے وخت کښې ئے خاوندان وو. او پدے کښې اشاره ده چه منع کول به ظلم وي، ځکه چه دا د مخکښې نه د دوي خاوندان وو، نو دوي ډیر لائق دي چه دا ښځے دوي ته واپس شي. (ابن عاشورؒ).

﴿ اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ﴾ یعني ښځه او خاوند خپل مینځ کښې رضا وي چه آینده کښې به د شریعت مطابق ژوند تیر وو. یا د معروف نه مراد عقد نکاح، جائز مهر او عادل ګواهان او ضرر نهٔ ورکول دي.

په آیت کښې دویم تفسیر دا دے چه د ابن عباسؓ، زهريؒ او ضحاکؒ نه روایت دے چه دا آیت په باره د هرهغه چا کښې نازل شوے چه یوه ښځه د طلاق اوعدت د تیریدو نه روستو د بل چا سره د نکاح کولو نه منع کوي، اګرچه د بل خاوند سره وي. یعني یو خاوند ښځه طلاقه کړي، بیا د هغه نفساني غیرت دا تقاضا کوي چه دهغه ښځه بل څوك په نکاح وانخلي، نو ښځه تنګوي چه ته به د بل سره نکاح نهٔ کوے. بناء پدے قول به (فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ) کښې خاوندانو ته خطاب وي. دا تفسیر هم جائز دے ځکه چه د آیت الفاظ ورته شامل دي، لیکن اول تفسیر د شان نزول سره زیات موافق دے.

﴿ ذٰلِكَ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾

پدے حکم باندے عمل کول د نفس خلاف دی، او ځان شریعت ته پوره تابع کول دی، او دا په نفس باندے ګران دی، نو پدے وجه الله ډیر تاکیدات بیانوی۔

﴿ ذٰلِكَ ﴾ یعنی پدے حکم سره - چه دا ښځه تاسو دے خپل خاوند له ورکړئ او منع ئے نهٔ کړئ- هغه چا ته وعظ او نصیحت کیږی چه هغه کښ په الله تعالیٰ او په آخرت ایمان وی چه که زهٔ دا ښځه منع کړم نو الله به ما نه د قیامت په ورځ تپوس کوی۔ او ځوك چه مؤمن نهٔ دے نو که هغه ئے نهٔ منی، نو د هغه نه ګیله نشته۔ نو پدے کښ نهٔ منع کولو ته ډیر ترغیب دے۔

﴿ اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ ﴾ (اَزْكٰى) د زكوٰة نه اخستے شویدے په معنیٰ د پاکوالی او زیاتوالی دے۔ [اَیْ اَوْفَرُ لِلْعِرْضِ] یعنی دا ښځه بیرته خپل زوړ خاوند ته واپس کول زیاتونکی دی عزت لره او خیر ته زیات نزدی دی)۔ او ددے وجه دا وه چه خلقو به دا بے عزتی او د غیرت خلاف ګڼړله چه طلاقه شوے ښځه بیرته همدغه خاوند ته ورکړی، نو الله ورته خبر ورکړو چه دا ښځه بیرته واپس کول عزت زیاتوی، ځکه چه پدے کښ به د کورنئ اختلافات نهٔ پیدا کیږی، او هغهٔ مینه چه د دواړو کورنو ددے رشتے د وجه نه پیدا شویده، هغه به باقی پاتے شی۔ او د اَطْهَر معنیٰ ده، دا ډیر پاك كار دے ځکه چه دا د دشمنئ او بغضونو او نفرتونو د اسبابو ختمونکے دے۔

(ابن عاشور، وتفسیر المنار)۔

(۲) یا ازکیٰ کښ باطنی پاکوالے دے یعنی زړهٔ ورله پاکوی، ځکه چه هرکله د دواړو په مینځ کښ مینه ده، او دواړه یو بل ته د واپس کیدو نه منع شی، نو کیدے شی چه د دواړو به په پټه غلط تعلقات پیدا شی، نو د دواړو به په زړهٔ کښ غلط خیالات راځی۔ ددے وجه نه علماؤ وئیلی دی چه هر شهوت زړهٔ خرابوی، سِویٰ د نکاح نه، چه دا یو داسے شهوت دے چه زړهٔ کښ صفائی پیدا کوی او غلط خیالات ختموی۔

او د اَطْهَر معنیٰ ده، ظاهرئ پاکوی ځکه چه که دا دواړه منع شی، او بیا دوی په پټه زنا اُوکړی، نو پدے کښ به بدنامے راشی، او د ښځے ولی به اُوشرمیږی۔

(۳) یا اَزْکیٰ په دنیا کښ مراد دے، او اَطْهَر په آخرت کښ، یعنی دا کار زیاتو فائدو والا دے، دین او عزت صفا کوی، او په دنیا کښ د ترقئ سبب دے، د دواړو طرفونو کورنو او رشته دارانو مات زړونه به سم شی، او کینے به د مینځ نه اُوځی۔ او د اَطْهَر معنیٰ ده، په آخرت کښ ګناهونو لره پاکونکے دے۔

(٤) یا اَزْکیٰ زیات ثواب والا دے، او اَطْهَر یعنی ګناهونه صفا کوی۔ پدے کار سره به ډیر ګناهونه معاف شی او زیات ثواب به درکړے شی۔

(٥) د أَزْكىٰ معنىٰ ده: خَيْرٌ لَّكُمْ ـ يعنى دے كښې ستاسو دپاره خير دے۔ وَاَطْهَرُ اَىْ لِقُلُوْبِكُمْ مِنَ الرِّيْبَةِ (بغوىؔ) او پدے سره ستاسو زړونه د شكونو نه پاكيږى، ځكه چه كله دا ښځه او خاوند يو بل سره مينه لرى، نو خطره ده چه گناهونه به ترے واقع كيږى، او پدے سره به د دواړو جانبينو خلق په دوى باندے داسے شكونه كوى چه كيدے شى چه هغوى ترے بيزاره وى، نو خلق به په گناهونو كښې واقع شى۔

﴿ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴾ پدے جمله كښې بل تاكيد دے، چه هركله الله تعالىٰ د هر شى په حقيقت پوهيږى، نو د هغه حكم ته تسليميدل پكار دى، پدے وجه معقل بن يسار ﷜ تسليم شو۔ او پدے كښې اشاره ده چه د الله تعالىٰ په حكمونو كښې د انسان داسے مصلحتونه او فائدے شته چه هغه صرف الله تعالىٰ ته معلومے دى، نو انسان باندے تابعدارى لازم ده، او رسم او رواج د هغے په خلاف پريخودل پكار دى، اگركه انسان ته په هغے كښې په ظاهره كښې فائده ښكارى، ليكن په واقع كښې په هغے كښې ضرر دے۔

وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ
او ميندے به تے وركوى خپلو اولادو ته دوه كاله پوره دپاره د هغه چا چه غوارى چه پوره كړى موده دتے وركولو
وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ
او په هغه سړى چه بچے پيدا كړے شوے دے د هغه دپاره خوراك د هغوى او جامه د هغوى ده د عرف مطابق،
لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا
تكليف به نۀ شى وركيدے هيڅ نفس ته مگر په اندازه د طاقت د هغه۔ ضرر به نشى وركولے مور ته په سبب د بچى د هغے
وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ فَإِنْ أَرَادَا
او نۀ پلار ته په بچى د هغه سره او په وارث باندے (لازم دے) په مثل ددے كار۔ نو كه ښځے او خاوند اراده اُوكړه
فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا وَإِنْ أَرَدْتُّمْ
د تيو نه د پريكولو سره د رضامنتيا ددے دواړو نه او مشورے ددے دواړو نه نو نشته گناه پدے دواړو او كه تاسو اراده كوئ
أَنْ تَسْتَرْضِعُوْا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَّا
چه د تى وركولو دپاره مور اُونيسئ دپاره د اولاد خپل نو نشته گناه په تاسو كله چه پوره وركړئ هغه مال

آتَيْتُم بِالْمَعْرُوفِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾

چه تاسو د هغې ورکول مقرر کړي وي د عرف مطابق او ويرېږئ د الله نه او پوهه شئ چه بيشکه الله ستاسو په عملونو ليدونکے دے۔

تفسير : پدے آيت کښ د تدبير منزل د حکمونو نه دولسم حکم دے چه د مطلقاتو سره هم متعلق دے او د بچو سره هم، چه هغے ته حکم د رضاعت (پئ ورکولو) وائی۔ د نکاح او د طلاقو نه روستو د رضاعت مسئله ذکر شوه، ځکه چه د طلاقيدو په صورت کښ ممکن ده چه د دوی څۀ پئ څکونکے بچے وی، نو دا معلوميدل ضروری دی چه د هغه پرورش به څنګه کيږی۔

مور دوه قسمه ده (۱) يوه هغه ده چه طلاقه شوی نۀ وی، نو هغه خو به خپلو اولادو له ضرور پئ ورکوی، او دا په هغے واجب دی، او دا د خاوند او د بچی په هغے باندے حق دے۔

(۲) او يو هغه مور ده چه طلاقه شی، او بچے پاتے وی، نو په هغے لازمه نۀ ده چه ماشوم ته پئ ورکړی ځکه چه د طلاقيدو په صورت کښ بچے د خاوند رسيږی، نو د هغے خوښه ده، که تے ورکوی او که نۀ، ليکن شريعت وائی که مور غواړی چه دغه ماشوم له پئ ورکړی، نو پلار به ئے ترے نۀ منع کوی، ځکه چه دا ماشوم د مور نه بغير ژوند نشی تيرولے۔ دارنګه که مور انکار کوی، نو هغے ته وائی چه تا له پکار دی چه تۀ پئ ورکړے او ستا د نفقے او خوراك بندوبست به د بچی پلار کوی۔ نو پلار به د بچی مور له د عرف مطابق تنخواه مقرر کړی، او هغه به دوه کالو پورے تے ورکوی۔ که پلار مړ وی، نو د بچی د ميراث نه به مور ته تنخوا ورکړے کيږی۔ او که مور مجبوره شوه نو بيا به ورله په کرايه بله ښځه د پئ ورکولو دپاره اُونيولے شی۔

د آيت لنډ مطلب دا دے چه الله تعالىٰ اُوفرمايل چه طلاقے شوے ميندے به خپل پئ څکونکو بچو ته پوره دوه کاله پئ ورکوی۔ دا حکم د هغه چا دپاره دے چه د رضاعت موده پوره کول غواړی۔ که مور او پلار ددے نه د کمے مودے نه روستو بچے د تيونه پريکول غواړی، نو هيڅ ګناه نشته، او پلار به هغه طلاقے شوے مور ته کومه چه پئ ورکوی، د عام عرف مطابق خوراك او جامے ورکوی، او کله چه هغه طلاقے شوے مور خپل بچی ته د پيو ورکولو دپاره تياره شی، نو د پلار دپاره دا جائز نۀ دی چه بچے د هغے نه واخلی، يا دا چه د هغے د پيو ورکولو باوجود د هغے نه خوراك او جامے ورکول بند کړی۔

دغه شان دا هم جائز نۀ دی چه طلاقه شوے مور پلار ته د نقصان رسولو دپاره بچے هغه ته ګوزار کړی، او د پيو ورکولو نه انکار اُوکړی، کله چه بچے د مور سره اموخته وی، يا دا چه د زياتو پيسو مطالبه اُوکړی۔

او كه پلار د خپل بچي دپاره بله كومه پئ وركونكې دائي مقرر كول غواړي (ځكه چه مور انكار كړے وي، يا هغه د پيو وركولو نه مجبوره وي يا وادۀ كول غواړي) نو هم هيڅ گناه نشته، پدے شرط چه د زړۀ په خوشحالئ دائي ته د هغے مناسب مزدوري وركړي.

او كه پلار مړ شوے وي، نو د هغه په وراثانو باندے هغه څۀ واجبيږي، كوم چه د هغه په پلار باندے واجب وو، يعني دهغه مورنه به بچے نۀ اخلي، او د هغے د رضاعت اخراجات به پوره پوره ادا كوي.

د آيت ربط او ترون

○ مخكښې آيت كښې په زنانه باندے د نكاح په باره كښې د ظلم كولو رد اُوشو، چه ددے منع كول ظلم دے، نو اُوس هغه ظلم رد كوي چه په زنانه باندے د پئ وركولو په باره كښې كيږي، لكه څنگه چه به جاهليت والو داسے كول.

○ دارنگه كله دعدت د تيريدو نه روستو د ښځے ماشوم بچے پاتے وي، چه هغۀ ته د پيو وركولو د وجه نه ښځے ته بله نكاح مشكله شي، پدے وجه چه هغه نفقه نۀ مومي نو د بچي د وجه نه د اختلاف پيدا كيدو خطره ده، نو الله تعالىٰ پدے آيت كښې د هغے تفصيلي حكم بيانوي.

﴿وَالْوَالِدَاتُ﴾ ددے نه مراد هغه ميندے دي چه طلاقے شوي وي، او دا غوره قول دے، او چا چه ددے نه عامے ميندے مراد كړيدي برابره ده چه هغه په نكاح كښې وي، او كه طلاقے شوي وي، نو هغه د څلورو وجو نه غوره نۀ دے چه هغه صاحب د تفسير المنار په تفصيل سره ذكر كړيدي.

(١) اول دا چه دا په مخكښې آيت عطف دے، او هلته طلاقه شوے ښځه مراده وه نو دلته به هم دغه مراده وي. (٢) دويم دا چه بچي ته په پئ وركولو كښې اختلاف هله راځي چه ښځه طلاقه شي ځكه چه هغه ځانله بل خاوند كوي. (٣) په حالت د نكاح كښې په خاوند باندے جامے او نفقه پخپله واجبه وي، نو دهغے ذكر كولو ته په (وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ) سره هيڅ حاجت نۀ وو. (٤) آيت كښې علت ذكر شويدے چه مور به د بچي په ذريعه پلار ته تكليف نۀ وركوي، او دا تكليف هله وي چه ښځه طلاقه شوي وي، ښځے د دغه خاوند نه نفرت كړے وي، او غواړي چه بله نكاح اُوكړي، او خاوند ته په بچي زور وركوي، يا خاوند ښځے ته زور وركوي، چه د ښځے نه بچے اخلي.

﴿يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ﴾ دا خبر دے په معنىٰ د امر سره دے، او په صورت د خبر كښې ئے ذكر كړو، دے دپاره چه په ذهن كښې خبره ښۀ مضبوطه شي. او دا امر د استحباب دپاره دے، دليل پرے د سورة الطلاق (٦) آيت دے: (فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ). يعني كه ښځے غواړي چه پئ ستاسو دپاره بچي ته وركړي نو هغوي ته اجرت وركړئ.

بعض علماء وائی چه دا حکم وجوبی دے، اګرکه د پیو دپاره بله ښځه دائی ملاویږی، لیکن د خپلے مور پئ او تربیت د دائی نه ډیر فائده مند وی۔ نو دا وجوب د مصلحت دپاره دے، نهٔ د تعبد او عبادت دپاره۔ آؤ، کـه د دواړو په دائی نیولو اتفاق راغلو، نو بیا جائز ده چه مور پئ ورنکړی یا ځـهٔ مجبورتیا وی، نو بیا به دا حکم واجب نهٔ وی۔لکه دا د سورة الطلاق نه معلومیږی چه ﴿وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهٗ اُخْرٰی﴾ (تفسیر المنار)۔

﴿حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ﴾ (حول) په اصل کښ ګرځیدو ته وئیلے شی، او کال هم ګرځی، دکال نه مراد اسلامی کال دے، چه هغے ته هجری قمری وائی، او کاملین ئے ورسره ځکه اُووئیل چه عرب کله نیم کال او اکثره حصه د کال تـه هـم کال وائی، نو دلته وائی چه پوره دوه کاله به وی چه هغه (٢٤) میاشتے دی۔ او دوه کالو پورے پئ ورکول د بچی حق دے۔

﴿لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ﴾ یعنی دا واجبه نهٔ ده چه دوه کالو پورے به ئے پوره ورکوی۔ که یو نیم کال پس ئے د تیـو نـه پریکړو، یا یو کال پس، نو هم جائز ده، خاصکر کله چه بچے تکړهٔ هم وی۔ خو دوه کالو پورے په مور باندے حق دے چه دے بچی له تے ورکړی۔

﴿لِمَنْ﴾: ددے نـه مـراد مـورهـم ده او پلار هم۔ یعنی که پلار غواړی چه تے به دوه کاله ورکوی، نو مور به انکار نهٔ کوی، او که مور غواړی نو پلار به ئے ترے نهٔ اخلی۔

دارنګـه ددے د مـفـهـوم مـخـالف نـه دا خبره راوځی چه د دوه کالو د تیریدو نه روستو حرمت د رضاعـت نـهٔ ثـابتیږی، او کـه د یـو مـصلحت د وجه نه د دوه کالو نه مخکښ ئے د پیو ورکولو نه پریکوی نو دا کار به جائز وی۔ (قاسمیؒ)۔

فائده : شریعت د رضاعت دپاره دوه کاله موده پدے وجه مقرر کړه، چه د ماشوم د صحت ترقی د پیو په وجه په همدے عمر کښ کافی کیږی۔ پدے وجه شریعت د مور او د پلار د اختلاف پـه وخت کـښ دوه کـالو ته اعتبار ورکړو، دے دپاره چه د ماشوم د صحت او د مزاج خیال اُوساتلے شـی۔ او د دوه کـالـو نه روستو غالباً د ماشوم د غذاء او د خوراك په وجه پرورش کیدے شی، پیو ته ئے دومره ضرورت نهٔ وی۔

تنبیه: آیت نه معلومه شوه چه اکثره موده د رضاعت دوه کاله ده۔

او پـه دے مـوده کـښ بـه رضاعـت ثـابتیږی، نـهٔ په زیاته موده کښ۔ او پدے کښ خو صرف د طلاقو په صورت کښ د جګړے د ختمولو دپاره دوه کاله متعین شویدی۔او دا مطلب نهٔ دے چه د دوه کـالـو نـه روستـو مـور له بچی ته تے ورکول حرام دی۔ بلکه که مور او پلار مصلحت ګنړی، مثلاً بچے کمزورے وی، نو مور ورته د دغه مودے نه زیات هم تے ورکولے شی۔

(بغویؒ بتصرف)

مسئله : د رضاعت موده

په څومره موده کښې چه ماشوم پیٔ اُوڅکی، حرمت ثابتیږی ؟ پدے کښې اختلاف دے۔ صحیح او راجح قول دا دے چه د رضاعت موده دوه کاله ده۔ دے نه روستو رضاعت له هیڅ اعتبار نشته۔ **دلیل** پرے دا آیت دے : ﴿ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ ﴾۔

(یعنی څوك چه د رضاعت اراده لری نو پوره دوه کالو پورے ورکولے شی)

او پدے موده کښې به د رضاعت حرمت ثابتیږی۔ د اکثرو ائمه کرامو همدا رائے ده چه حرمت په همدے رضاعت سره ثابتیږی کوم چه په دوه کالو کښې دننه وی۔ که د بچی عمر د دوه کالو نه زیاتیږی، نو په رضاعت سره به حرمت نهٔ ثابتیږی۔

۲- **دلیل** : سورة لقمان (١٤) آیت کښې دی :﴿وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ﴾

(د تیو نه پریکول ئے په دوه کاله کښې دی)۔

۳- **دلیل** : د سورة الاحقاف (١٥) آیت دے ﴿ وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا﴾

(او حمل د بچی او د تیو نه د پریکولو موده ئے دیرش میاشتے دی)۔

د حمل نه مراد کمه موده د حمل ده چه هغه شپږ میاشتے دی، او باقی موده (دوه کاله) د تیو موده ده۔ دا آیتونه صریح دی پدے خبره کښې چه د رضاعت موده دوه کاله ده۔

صاحب د تفسیر المنار لیکی چه د قرآن د تصریح باوجود په موده د رضاعت کښې د امامانو اختلاف کول ډیر د تعجب والا دی۔

۴- **دلیل** : ترمذیؒ د ام سلمه رضی الله عنها نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل ((چه په رضاعت سره حرمت په هغهٔ وخت ثابتیږی، کله چه د خولے په ذریعه پیٔ د سینو نه راوځی او کولمے ځیری کړی (یعنی ښهٔ مریدو سره ئے اُوسکی) او د رضاعت په موده کښې دننه وی))۔

دارقطنیؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

((چه حرمت په هغه رضاعت سره ثابتیږی چه په دوه کالو کښې دننه وی))۔

او ابوداود طیالسیؒ د جابر ﷺ نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

((چه د رضاعت د مودے د ختمیدو نه روستو د رضاعت حکم نشته، او بلوغ ته د رسیدو نه روستو یتیم والے نشته))۔

د قرآن کریم ددے ښکاره آیت او ددے نبوی احادیثو په وجه سره د ډیرو صحابه کرامو او تابعینِ عظامو همدا مذهب وو۔ د علی بن ابی طالب، ابن عباس، ابن مسعود، جابر، ابو هریره، ابن

عمر، او ام سلمه رضی الله عنهم۔ د سعید بن المسیبؒ او عطاءؒ وغیرهم همدا رائے ده۔ او د شافعیؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او سفیان ثوریؒ همدا مذهب دے۔

(۲) د امام ابوحنیفةؒ رائے ده چه د رضاعت موده دوه کاله شپږ میاشتے ده، او هغه د ﴿وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا﴾ نه دلیل نیسی، او هدایه مولا د هغه دپاره د آیت تاویل داسے کړے چه د حمل نه په لاسونو کښې اَړول راړول مراد دی، او فصال د تیو نه پریکول دی۔ حال دا چه داسے تاویل د سلفو د هیڅ عالِم نه نهٔ دے نقل۔ بلکه د علی بن ابی طالبؓ وینا ده چه د حمل نه مراد دلته کمه موده د حمل ده چه هغه شپږ میاشتی دی۔

نو دوه کاله موده د رضاعت شوه۔ نو دلته په آیت کښې کمه موده د حمل او زیاته موده د رضاعت بیان شویده۔

(۳) امام لیث بن سعدؒ فرمائی چه که لوئی سړی ته هم د یوے ښځے پئ ورکړے شی، نو هغه به د هغې رضاعی ځوی جوړیږی۔ او د رضاعت حرمت به ثابتیږی، او ددے په دلیل کښې د سهله بنت سهیل رضی الله عنها واقعه پیش کوی چه هغه رسول الله ﷺ ته راغله، وے وئیل چه اے د الله رسوله ! زهٔ محسوس کوم چه د سالمؓ زما خوا ته راتلل د ابوحذیفةؓ (د هغې خاوند) ته خوښ نهٔ دی، نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه تهٔ سالمؓ ته پئ ورکړه۔ سهلےؓ اُووئیل : زهٔ څنګه پئ ورکړم هغه خو غټ سړے شویدے ؟ نو نبی ﷺ مُسکے شو او وے فرمایل، چه زهٔ پو هیږم چه هغه غټ سړے شویدے۔ سهلےؓ همدغسے اُوکړل، او بیا رسول الله ﷺ ته راغله، وے وئیل چه اُوس د ابوحذیفةؓ په مخ باندے د بد ګڼړلو آثار نهٔ وینم۔ ابوحذیفه ؓ بدری صحابی وو۔ (ابن ماجه)۔

دا واقعه امام مسلمؒ، ابوداودؒ، او امام مالکؒ هم روایت کړیده، د عائشے رضی الله عنها او د ابوموسی اشعریؒ هم دغه رائے وه۔

لیکن زیاته غوره دا ده چه د دوه کالو نه روستو رضاعت نهٔ ثابتیږی لکه چه د پورتنو دلائلو نه ثابته شوه۔ ددے رائے تقویت پدے سره هم کیږی چه یو ځل رسول الله ﷺ د عائشے رضی الله عنها خوا ته تشریف راوړو، وے لیدل چه یو سړے د هغې خوا ته ناست دے، نبی ﷺ پوښتنه اُوکړه چه دا سړے څوك دے ؟۔ عائشےؓ اُووئیل چه دا زما رضاعی وروردے، نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه سوچ کوئ چه کوم خلق ستاسو خوا ته راځی ځکه چه رضاعت په هغه وخت ثابتیږی کله چه هغه لوږه لرے کړی۔ (بخاری، مسلم، ابوداود، ابن ماجه)۔

معلومه شوه چه رضاعت به هله ثابتیږی چه پئ لوږه لرے کړی، او د ماشوم غذا صرف پئ وی۔ او د سهله بنت سهیلؓ او د سالمؓ واقعه به د مخکنو ښکاره روایاتو په رڼړا خاص منلے کیږی۔

یعنی ددے دپاره به عام حکم نهٔ وی بلکه د هغوی پورے به خاص وی۔

او پدے وجه هم چه د نبی ﷺ او د صحابه کرامؓ په زمانه کښ داسے بله کومه واقعه نهٔ ده واقع شوے۔ د سهلے رضی الله عنها په واقعه کښ راغلی دی چه کله رسول الله ﷺ هغے ته د سالمؓ د پئ ورکولو په حقله اُوئیل نو هغه حیرانه شوه او وے وئیل چه هغه خو ښهٔ پوره لوئی سرے دے۔ هغه له به زهٔ څنګه پئ ورکرم ؟ نو نبی ﷺ مُسکے شو او وے وئیل چه ما ته پته ده چه هغه پوره ځوان شویدے۔ ددے خبرو اترو نه اندازه لګیږی چه رسول الله ﷺ د سهلےؓ د کورنئ د تمامو حالتونونه په ښهٔ شان واقفیت لرلو، او پو هیدو چه سالم د وړوکوالی نه د دوی سره اُوسیږی، د هغوی سره رالوئی شویدے، نهٔ هغوی د سالمؓ نه بغیر اُوسیدے شی، او نهٔ سالم د هغوی نه جدا کیدے شی۔

پدے وجه کله چه سهلے رضی الله عنها خپله مجبورتیا رسول الله ﷺ ته بیان کړه، نو رسول الله ﷺ د هغوی خاص حالات مخے ته کولو سره هغوی ته هغه حل اُوخودلو، کوم چه مخکښ ذکر شو۔ یو طرف ته د الله رسول وو او بل طرف ته د یوے صحابیه ضرورت، نو هغے ته ددے اجازت ورکړے شو۔ د عامو صحابه کرامؓ دپاره او د تمامو مسلمانانو دپاره هغه حکم پاتے شو کوم چه په آیتِ کریمه او احادیثو کښ بیان کړے شو چه د رضاعت حکم به په دوه کالو کښ دننه ثابتیږی۔ وبالله التوفیق۔

او راجح دا ده چه د سخت ضرورت په وخت به د لوئی سړی رضاعت هم ثابتیږی۔

(٤) د محدثینو په نیز پنځه ځل پئ سکلو سره د رضاعت حرمت ثابتیږی۔

۱- دلیل : ددے مشهور دلیل هغه حدیث دے، کوم چه امام مسلم د عائشه رضی الله عنها نه روایت کړے چه په قرآن کریم کښ د لسو کرتو پیو سکلو نه روستو د حرمتِ رضاعت حکم نازل شوے وو، بیا د پنځه ځل په ذریعه مخکنے حکم منسوخ شو۔ او د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کښ همدا حکم موجود وو۔

دوېم دلیل د سهله بنت سهیلؓ واقعه ده چه په هغے کښ رسول الله ﷺ هغے ته اُوفرمایل چه هغه ډے پنځه کرته سالم ته پئ ورکړی۔

۲-دلیل : په احادیثو کښ د (رَضْعَات) لفظ راغلے دے چه هغه د رَضْعَة جمع ده او د هغے معنیٰ ده، یو کرت پئ سکل، ماشوم چه سینه اُونیسی او بیا ئے پریدی، دا یو رضعه شوه لکه دا خبره په المغنی لابن قدامه (۱۹۹/۹) کښ ذکر ده، او د احتیاط په طور د رضاعت همدا معنیٰ غوره ده۔ نو ماشوم چه کله دغسے پنځه کرته د یوے ښځے پئ اُوسکی نو هغه به ددهٔ رضاعی

مور جوړيږي او د هغې تول بچي به ددهٔ رضاعي وروڼه او خويندے جوړيږي او د هغے خاوند به يې رضاعي پلار- والله تعالیٰ اعلم-

﴿ وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ ﴾ اُوس وائي چه دا ښځه خو طلاقه شوے ده، ډوډئ به د کوم ځائے نه خوري، نو هغه بيانوي، چه هرکله ښځه د خاوند بچي له پئ ورکوي، نو خاوند باندے لازم دي چه دے ښځے ته به د عرف مطابق رزق او جامے ورکوي-

(المولود له) ددے نه مراد پلار دے او پدے لفظ سره يې ترے تعبير اُوکړو (يعني هغه شخص چه د هغه دپاره ولادت شويدے) پدے کښې اشاره ده وجوب د مشقت ته په پلار باندے يعني هرکله چه دا بچے د پلار دپاره پيدا شويدے، او د هغه حق دے، نو هغه به دے ښځے ته د پيو په بدله کښې خرچه هم ورکوي- او پدے کښې دا اشاره هم ده چه د بچي نسب د پلار پسے ځي- نهٔ د مور پسے- (قاسمیؒ)-

(سوئ د رسول الله ﷺ د آل نه چه هغوی د خپلے مور فاطمے رضی الله عنها پسے ځي)-

﴿ بِالْمَعْرُوْفِ ﴾ معروف دا دے چه ښځه به ډيره اُوچته جامه نهٔ غواړي، او پلار به هم ډيره خرابه نهٔ ورکوي، بلکه د پلار د وسع مطابق به وي، پدے وجه شريعت دا عرف ته سپارلی دی ځکه وائي : ﴿ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ﴾ که مالداره وي، د مالدارئ مطابق جامه دے ورکوي، او که غريب وي نو د غريبئ مطابق-

﴿ لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا ﴾ لَاتُضَارَّ: پدے کښې دوه احتماله دي-

(١) يا دا چه دا مجهوله صيغه ده په اصل کښې (لَاتُضَارَرُ) دے- وَالِدَةٌ يې نائب فاعل دے- يعني مور ته به ددے په بچي سره ضرر نشي ورکولے، چه پلار يې د پيو ورکولو نه منع کړي، او هغه اراده لري چه تے ورکړي چه بيا بچے او مور د يو بل پسے ژړاګانے کوي- يا د نفقے ورکولو نه انکار اُوکړي- (٢) دويم دا چه دا د معلوم صيغه ده په اصل کښې (لَاتُضَارِرُ) دے- وَالِدَةٌ يې فاعل دے- معنیٰ دا ده مور به ضرر نهٔ ورکوي په سبب د خپل بچي سره چه پلار تنګ کړي، چه ډير اجرت ترينه غواړي، يا د پيو ورکولو نه انکار اُوکړي سره د طاقت د هغے نه- يا د بچي خيال نهٔ ساتي، دے دپاره چه پلار يې تنګ شي- او دلته يې مور ته هم نسبت د ولد (بچي) اُوکړو دپاره د شفقت، چه ستا هم بچے دے، تهٔ پرے پلار ته ولے تکليف ورکوے، او ددهٔ حق ولے بربادوے!-

﴿ وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ﴾ دارنګه پلار به په سبب د خپل بچي سره مور د بچي ته ضرر نهٔ ورکوي، او نهٔ به پلار ته په سبب د خپل بچي ضرر ورکولے شي (پدے کښې د مخکښې صيغے مطابق دوه معنے شوے)-

﴿ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ﴾ دا په (وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ) باندے عطف دے- اُوس وائي، که چرے پلار مړ

وي، نود پلار په ميراث خور باندې به د مور دغه نفقه او جامې لازمې وي. يا دا مثليت د ضرر په نهٔ ورکولو کښې دې، يعنې لکه څنګه چه پلار د ضرر ورکولو نه منع دې، نو دغه شان که پلار نهٔ وي، نو باقي ميراث خوارو ته به هم مور ضرر نهٔ ورکوي.او ميراث خوارهٔ به هم ښځه نهٔ تنګوي. او نفقې ته هم اشاره ده. (قرطبی۳/۱۷۰ وابن کثير۱/۶۳۵ فتح القدير للشوکانی)

د وارث نه څوك مراد دې؟ پدې کښې ګڼړ اقوال دي. غوره قول دا دې چه د وارث نه مراد، خپله همدا هلك او بچې دې چه پئ خوري، يعنې که د پلار نه بچي ته مال پاتې وو، نو د هغه د ميراث نه به دې مور ته نفقه او جامې ورکولې شي. پدې صورت کښې په اَلْوَارِث کښې الف لام د مضاف اليه نه بدل دي، يعنې وَارِثُ الْمَوْلُوْدِ لَهٗ (يعنې د پلار وارث) چه هغه دا بچې دې. او که ميراث نهٔ وو پاتې، نو بيا وارث الصبي مراد دې يعنې ددې بچي چه کوم ميراث خوارهٔ دي چه هغه نيکهٔ، ورونه او ترونه دي.

دا که عصبه وي او که ذوي الارحام، تولو ته شامل دې. کوم چه پکښې مالدار وي په هغه حق دې چه دا کفالت به کوي. (تفسير المنار)

او دا قول د ضحاكؒ، قبيصهؒ او بشير بن نصرؒ وغيره دې (قرطبيؒ، ابو حيانؒ).

﴿ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا ﴾ د فصال نه د تيو نه پريکول مراد دي. په معنیٰ د فِطَامًا (تی نه پريکولو) سره دې. او عَنْ په معنیٰ د (بَعْدَ) سره دې. يا اجليه دې.

مطلب دا دې چه که مور او پلار د بچي اراده اُوکړه چه بچې قوي دې، اُوس به ئې د تيو نه پريکړو، نو که دوه کاله پوره نهٔ وو هم جائز ده، خو پس د اتفاق د دواړو نه، او پس د رضا او خوشحالئ د دواړو نه، او پس د مشورې نه. د اضطرار، مجبورتيا او يرې په وجه به نهٔ وي. بلکه دواړه به د ماشوم د تيو نه په پريکولو کښې مصلحت ويني.او مشوره به څکه کوي چه د بچي په باره کښې فائدو او ضررونو کښې سوچ اُوکړي چه آيا د تيو نه په پريکولو کښې ئې فائده ده، او که تر دوه کالو پورې په باقي پريخوستو کښې.او خپلو مصلحتونو ته به نهٔ ګوري چه د بچي په تربيت کښې نقصان رانشي او هغه ضائع نشي.

﴿ وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ تَسْتَرْضِعُوْا اَوْلَادَكُمْ ﴾ دا د بچي مور او پلار ته خطاب دې، او پدې کښې د غائب نه خطاب ته التفات دې. پدې کښې بل حکم بيانوي چه که مور بچي ته د پئ ورکولو نه معذوره او عاجزه شي، يا انکار اُوکړي، يا بل خاوند کول غواړي او خاوند سره مشوره اُوکړي چه بله ښځه (رضاعي مور، دائي) به د تې ورکولو دپاره اُونيسو، نو الله فرمائي چه دا کار هم جائز دې. استرضاع طلب د مُرْضِعې (تې ورکونکې) ښځې ته وئيلې شي. يعنې رضاعي مور نيول.

خو دیے سره یو شرط لګوی:

﴿إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ﴾ چه کله تاسو پوره ورکړئ هغه مزدوری چه تاسو د هغے دپاره د پئ ورکولو په بدله کښې په رضا د دواړو جانبینو سره مقرر کړی وی)، او په هغے کښې موځۀ نقصان نۀ وی کړیے۔ تسلیم کښې معنیٰ د پوره ورکولو ده، او د مَا آتَيْتُمْ: نه مراد مقرر کول دی۔ قاسمیؒ او صدیق حسن خانؒ وائی: [مَا اَرَدْتُمْ اِيْتَاءَهٗ اِلَيْهِنَّ مِنَ الْاُجْرَةِ] یعنی هغه اجرت او مزدوری چه تاسو هغوی ته د ورکولو اراده کړی وی)۔

﴿بِالْمَعْرُوْفِ﴾ یعنی د عرف مطابق، هغه به هم ډیر مال نۀ غواړی، او تۀ به هم کمے نه ورکوے۔او په ادا کولو کښې به ئے ټال متول هم نۀ کوی۔ یا د معروف نه د تیو ورکولو شرعی موده مراد ده۔

قاسمیؒ وائی: د معروف نه مراد په خوشحالئ سره ورکول دی، چه په وخت د مزدوری ورکولو کښې ښائسته خبرے کوی چه په هغے سره د تے ورکونکو ښځو نفسونه خوشحالیږی او د دوی مخونه پرے روښانه وی، دیے دپاره چه د ماشوم په باره کښې هغوی څۀ کوتاهی اُونکړی۔ آه۔ (قاسمی وفتح)

﴿وَاتَّقُوا اللهَ﴾ یعنی ددیے احکامو په عملی کولو کښې د الله نه یره اُوکړئ۔

﴿وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ﴾

پدیے کښې د الله تعالیٰ د احکامو د مخالفت کولو نه پوره وعید او یره ورکول دی۔

(بَصِيْر) د بَصَر نه دیے په معنیٰ لیدلو او سترګے سره دیے، او دا د الله تعالیٰ حقیقی صفت دیے، بغیر د تشبیه او تمثیل او بغیر د تاویل او تحریف نه به منلے شی، او پدیے کښې تاویل کول د سلف صالحینو د مذهب نه اَوړیدل دی۔

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ
او هغه کسان چه وفات شی ستاسو نه او پریدی بی بیانے دوی به انتظار کوی په خپلو ځانونو څلور
أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا
میاشتے او لس شپے پس کله چه دوی اورسیږی خپلے نیتے ته نو نشته ګناه په تاسو په هغه کار
فَعَلْنَ فِيْ أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٢٣٤﴾
چه دا ښځے ئے اُوکړی په خپلو ځانونو باندے په ښۀ طریقه او الله ستاسو په عملونو خبردار دے۔

تفسیر : پدے آیت کښې د تدبیر منزل نه دیارلسم حکم دے چه دے ته [عِدَّةُ الْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا] وائی یعنی زنانه چه خاوند ئے مړ شی نو هغه به څلور میاشتے او لس ورځے عدت تیروی۔ او پدے کښې مقصد د عدت د وفات په باره کښې د جاهلیت د طریقے نه ځان ساتل دی۔ ځکه چه جاهلیت والو به په ښځه ظلم کولو، نو پدے وجه الله تعالیٰ دا حکم خپله بیان کړو۔
په جاهلیت کښې به د ښځے د خاوند د وفات کیدو نه روستو یو بے وړے کوټے ته ننوته، یو کاله پورے به هغے کښې گنده ناسته وه، نهٔ به ئے غسل کولو، او نهٔ به ئے پاکے جامے اغوستلے، او پدے حالت کښې به پدے باندے حیض هم راتلو، خوراك څکاك به ئے ورله هغه کوټے ته وروړلو لکه څنگه چه سپی ته ورکولے شی۔
او د کال د تیریدو نه روستو به ئے دا رواج وو چه خر، یا چیلے به ئے راوستو او دا زنانه به په حالت د حیض کښې وه، په هغے باندے به ئے کینوله، او دا امر به ورته اُوشو چه د خپل حیض وینه پدے حیوان پورے راکاږی، نو په هغے کښې به دومره جراثیم وو چه د هغے په وجه به دغه حیوان غالباً مړ کیدو۔ او پچه به ئے ورله لاس کښې ورکړه، او هغه به ئے گوزار کړه، نو بس دا به ددے د عدت نه راوتل وو۔ پدے وجه نبی ﷺ ته یوه زنانه راغله چه زما د لور خاوند مړ دے او ددے سترگے خوږیږی نو آیا مونږ ورله رانجه پورے کړو؟ نبی ﷺ اُوفرمایل: نهٔ، هغے بیا عرض اُوکړو، نو نبی ﷺ اُوفرمایل : دا (عدت) څلور میاشتے او لس ورځے دی۔ او حال دا چه یوه زنانه به په تاسو کښې د جاهلیت په زمانه کښې یو کاله پورے په دغه بد حالت کښې ناسته وه)) ۔ (بخاری)۔
مطلب دا چه په رواج کښې به مو په گران کارونو عمل کولو، او رخصتونه به مونهٔ غوختل، او چه کله د الله تعالیٰ آسان حکم راغلو، نو تاسو پدے کښې رخصتونه غواړئ۔ او افسوس چه غالباً د انسانانو همدا طریقه ده، چه په شرك او بدعاتو کښې وی، نو هرځهٔ ته تیار وی او چه کله توحید او سنت ته راشی نو بیا ترے بخیل، سست جوړ شی، معمولی شان مال لگولو، خیرات او صدقه او عبادت کولو ته تیار نهٔ وی۔ والی الله المشتکیٰ۔
نو په آیت کښې عدت د هغه ښځے دے چه خاوند ئے وفات وی، او پدے عدت کښې به ښځه د خاوند په کور کښې وخت تیروی، په خپل ځان به خرچه کوی، ځکه چه د خاوند نه به ورته میراث پاتے وی۔ او پدے کښې به اِحداد کوی، (اِحداد غم ښکاره کولو ته وائی، هغه دا دے چه سترگے به نهٔ توروی، شونډے او لاسونه او خپے به نهٔ سرے کوی، ښائسته جامے به نهٔ اچوی، او سر وینځلے شی، خو ډول او زینت به نهٔ کوی)، او په کوم څیز کښې چه ډول دے هغه به نهٔ استعمالوی، د خاوند د کور نه به بهر بغیر د ضرورت نه نهٔ وځی۔

كه سخت ضرورت راشي، نو د ورځې وتلې شي، ليكن شپې له به بيرته راواپس كيږي.او پدې عدت كښې به سختنه پابندي كوي.

قرآن كريم إحداد نۀ دې ذكر كړې، ليكن حديثونو كښې ذكر دې. او ديته زيادت د خبر واحد وائي په كتاب الله باندې، او دا جائز دې، كله چه خبر واحد صحيح ثابت وي. او دا په حقيقت كښې زيادت نۀ دې بلكه بيان د قرآن دې. او په دې آيت (يَتَرَبَّصْنَ) او (مِنْ مَعْرُوْف) لفظ كښې ورته اشاره شوې ده.

ځلور مياشتې او لس ورځې چه تيرې شي نو بيا ئې خپله خوښه ده، آزاده شوه، او كه حامله وه، نو د بچي په راوړو به ئې عدت ختم شي. بيا ډول هم كولې شي، او ځان له خاوند هم كولې شي، ليور، سخر وغيره ئې نشي ايسارولې. او په نكاح كولو كښې به د پلار او ورور نه اجازه غواړي ځكه په نكاح كښې ولي شرط دې.

فائده : ددې عدت تيرولو حكمت (۱) يو دا دې چه د ښځې رَحِم معلوم شي چه آيا په ولد خومشغول نۀ دې؟ ځكه چه په ځلورو مياشتو كښې د ښځې د رَحِم حالت معلوميږي، پدې موده كښې بچي كښې روح اچولې شي.

(۲) دارنګه دا د خاوند حق دې ځكه چه د دواړو ډيره قريبي رشته وه، نو دومره وخت د خاوند په كور كښې تيرول د هغۀ حق ادا كول دي.

(۳) بعض خلقو ددې حكمت دا بيان كړې، چه ددې مودې نه روستو د وفات شوي خاوند محبت د هغې د زړۀ نه كمزورې كيږي، او د وادۀ مينه ئې پيدا كيږي. (مُهَايمىّ)

﴿ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ﴾ د څۀ شي انتظار به كوي ؟

۱ – [اَىْ يَتَرَبَّصْنَ عَنِ النِّكَاحِ] (د نكاح كولو نه به انتظار كوي).

۲ – او دارنګه [يَتَرَبَّصْنَ عَنِ التَّزَيُّنِ وَالزِّيْنَةِ] هر قسم ډول به نۀ كوي.

۳ – [وَعَنِ الْخُرُوْجِ مِنْ مَنْزِلِ الزَّوْجِ] (د خاوند په كور كښې به ئې ځان رابند كړې وي، او بهر به نۀ اُوځي). بعض علماؤ ددې دا دليل نيولې دې چه اِحداد د ښځې واجب دې. (قاسمىّ)

او هغې باندې د حديث نه بل دليل روستو فوائدو كښې راځي.

﴿ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَعَشْرًا ﴾ دلته لس شپې سره د ورځو نه مراد دي. ليكن د عربو دا عادت دې چه كله د عدد دپاره معدود مذكر وي، او پټ وي، نو بيا اسم عدد كښې تانيث او تذكير دواړه جائز وي، نو پدې وجه ئې (وَعَشْرَة) اُونۀ وئيل. (طبرىّ)

﴿ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِىْٓ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ﴾ يعنى كه ډول كوي، يا چاته د نكاح دعوت

ورکوی چه ما په نکاح واخله، یا چا ته ځان اُوسپاری چه ما چا له په نکاح ورکړه، او بِالْمَعْرُوْف ځکه وائی چه وران کارونه به نۀ کوی، ورنه بیا به منع کولے شی۔ او پدے کښ د جاهلیت په رسم رد دے چه هغوی به ښځه منع کوله۔ او د عجمو اکثر خلق ئے هم منع کوی۔

﴿جُنَاحَ عَلَيْكُمْ﴾ سرو ته ځکه خطاب کوی چه ښځه غالباً ډیر عقل نۀ لری، نو ډیرکرته هغۀ به غلط کار کوی، نو سړی له ئے منع کول جائز دی، لیکن د شریعت مطابق کار کولو نه به ئے نۀ منع کوی۔

﴿وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ﴾ د خبیر: معنیٰ ده، په باطنی کارونو او باریکو کارونو پو هیدونکے دے۔ هر حکم سره دا خبره ذکر کوی چه گوره د الله په خبر او علم او د هغه په بصیرت باندے تاسو یقین اُولرئ، چه هغه تاسو ته گوری نو بیا به ورانے نۀ کوئ۔

فوائد او معارف

(۱) که ښځه حامله وی نو د هغے عدت به د بچی په پیدائش وی۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَاُولَاتِ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ چه د حاملے ښځے عدت ختمیدل د بچی په پیدائش دی)۔ او رسول الله ﷺ سُبَيْعَه اَسْلَمِيَّهٗ ته د حمل د پیدائش نه روستو د وادهٔ اجازت ورکړے وو۔ حال دا چه د هغے د خاوند د وفات یو څو ورځے شوے وے۔ (متفق علیه)۔

(۲) د عدت په دوران کښ ښځے ته د وادهٔ، زینت او بغیر د سخت ضرورت نه د خاوند د کور نه بهر شپه تیرولو اجازت نشته دے۔ په اولنئ خبره د علماؤ اجماع ده۔ د دویمے خبرے دلیل د ام سلمه رضی الله عنها حدیث دے چه د یوے ښځے خاوند وفات شو، نو د هغے مور د رسول الله ﷺ نه اجازت اُوغوختو چه هغهٔ په خپلو سترگو کښ رانجه وا چوی ځکه چه د هغے په سترگو کښ تکلیف وو۔ نو نبی ﷺ اجازت ورنکړو۔ (متفق علیه)۔

او د دریمے خبرے دلیل د فُرَيْعَه بنت مالك بن سنان رضی الله عنها حدیث دے چه د هغے خاوند تختیدونکو غلامانو د مدینے نه بهر په یو ځائے کښ وژلے وو۔ فُریعه ته چه کله خبر اُوشو نو هغے رسول الله ﷺ ته اُووئیل چه هغے له د خپل خاندان والو سره د عدت تیرولو اجازت ورکړی ځکه چه په کوم کور کښ دا د خپل خاوند سره اُوسیدله هغه لری وو، نو نبی ﷺ اجازت ورنکړو، او ورته ئے اُووئیل چه تا ته په کوم کور کښ د خاوند د مرگ خبر رارسیدلے په هغے کښ به عدت تیروے یعنی د خاوند کور۔ (احمد، ابوداود، ترمذی، نسائی وغیرهم)۔ (محاسن التاویل للقاسمی ۵۷۲/۳)

البته نبی ﷺ بعض صحابیاتو ته د ورځے د ضرورت په وجه غالباً د باغ نه د میوے پریکولو اجازت ورکړے وو۔ (تیسیر الرحمن)۔

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ
او نشته گناه په تاسو باندے په هغه الفاظو کښې چه تاسو اشاره اُوکړئ په هغې سره د غوختنے د زنانو نه
اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ وَلٰكِنْ
يا تاسو پټوئ په خپلو زړونو کښې، الله ته معلومه وه چه بيشکه تاسو به يادوئ دوی لره او ليکن
لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا اِلَّآ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ
وعده (د نکاح) مۀ کوئ د دوی سره په پټه مگر که تاسو وايئ وينا نيکه او تاسو مۀ کلکوئ غوټه د نکاح
حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ
تردے چه اُورسی عدت مقررے نيتے ته او پوهه شئ چه بيشکه الله پو هيږی په هغه څۀ چه ستاسو په زړونو کښې دی
اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿٢٣٥﴾
نو اُووېرېږئ د الله نه او پوهه شئ چه بيشکه الله بخونکے، صبر ناك دے۔

تفسير : پدے کښې څوارلسم حکم دے يعنی [تَحْرِيْمُ نِكَاحِ الْمُعْتَدَّةِ]۔

(د معتدے ښځے سره په عدت کښې دننه نکاح جائز نۀ ده) يعنی د خاوند د وفات نه روستو د عدت تيرونکی او په طلاق بائن سره د طلاقے شوے ښځے حکم بيان شويدے چه د عدت د تيريدو نه مخکښې داسے ښځو ته د وادۀ پيغام نشی ورکولے، البته کوم شخص چه وادۀ کول غواړی، نو هغه په اشاره او کنايه سره د هغے د پوهه کولو دا کوشش کولے شی چه دا د هغے سره د وادۀ کولو خواهش لری، ليکن په پټه سره د هغے سره د نکاح خبره مقررول، يا وادۀ کول جائز نۀ دی۔

فاطمه بنت قيس رضی الله عنها چه کله هغے ته د هغے خاوند ابو عمرو بن حفص دريم طلاق ورکړو، نو رسول الله ﷺ هغے ته اُووئيل چه هغه دِے د ابن ام مکتومؓ په کور کښې عدت تير کړی، او د عدت د تيريدو نه روستو دِے رسول الله ﷺ ته خبر ورکړی۔ نو هغے همدغسے اُوکړل۔ نو نبی ﷺ د اسامه بن زيدؓ دپاره پيغام اُوليږلو او د هغے وادۀ ئے د اُسامهؓ سره اُوکړو۔

نو پدے عدت کښې صرف تعريض جائز دے، او د تعريض صورتونه دا دی : چه صرف اشاره ورته اُوکړی، چه زما يوه ښځه پکار ده، که کونډه وی او که څوانه۔

ابن عباس ﷺ فرمائی : تعريض دا دے چه داسے اُووائی: زما د نکاح اراده ده، او داسے دينداره

ښځـه خـوښـوم چه دا دا صفات ئے وی۔ یا ورته داسے اُووائی چه زما تا سره ډیره مینه ده، ارمان چه ستا په شان ښځه راته ملاؤ شی۔ (تفسیر ابی القاسم الطبرانی)

یا داسے اُووائی : مِثْلُكِ لَا يُرَدُّ : (ستـا پـه شـان ښځه د رد کیدو لائق نهٔ ده) وغیره وغیره اشارات کوی، دیے دپاره چه هغهٔ ښځه پو هه شی چه دا ما ته اشاره کوی۔ نو دا جائز ده خو داسے به ورته نـهٔ وائی چه تـا بـه کـوم، یا ما سره به نکاح کویے، بل چا سره وعده اُونکړیے۔ دا خبریے به ورته نهٔ بیانوی ځکه لا تراُوسه په پردیٔ نکاح کښ مشغوله ده۔نو تصریح کول حرام دی۔

بیـا ددیے سـره الله تـعالیٰ دا حکمة او احسان هم بیانوی چه الله تعالیٰ کولے شوه چه تاسو باندیے ئے ددیے پابندی لګولے وہے، لیکن الله ته پته وه چه ستاسو په زړهٔ کښ دا خبریے تیریږی، نو اجازه ئے درکړه چه خیر دیے اشاریے وغیره کویٔ۔

خـو ددیے نـه هسے پردو ښځو سره خبریَ نهٔ دی مراد، بلکه هله چه د نکاح اراده لری، که نهٔ وی نو پردیٔ ښځے سره د چا ځهٔ کار دیے چه خبریے کوی۔یا ورته ګوری یا ورته اشاریے کوی۔ او کله چه یـو شـخـص د یـویے ښځے د نکاح اراده لری، نو شریعت هغے ته کتل، او د هغے سره خبریے کول، او هغے ته اشاره کول جائز کړی دی۔ پدیے کښ مصلحتونه دی۔

﴿ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ ﴾

فِيمَا : د (مَا) نه مراد خبریے او الفاظ دی۔

عَرَّضْتُمْ : تعریض معنیٰ اشاره کول او داسے خبریے کول چه دلالت ئے په مقصود باندیے واضح نهٔ وی۔ پښتو کښ ورته تیرانے وئیلے شی۔

(خِطبه) د خاء په زیر سره، غوختنه د ښځے او د هغے جرګه کول۔

﴿ اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ﴾ پـه زړهٔ کـښ دیے دا وی چـه کـه ددیے ښځے عدت تیر شونو زهٔ به ئے په نکاح اخلم نو پدیے کښ ګناه نشته۔ اِکنان : پټ ساتلو ته وئیلے شی۔

﴿ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ ﴾ یـعنی الله ته پته ده چه تاسو به دا زنانه په زړهٔ کښ پټه یادویٔ چه دا ښځه خو کونډه شویے ده، زهٔ به ئے په نکاح اخلم نو الله ځکه اجازه درکړه۔

﴿ وَلٰـكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا ﴾ چه صـرف ما سره به نکاح کویے او بل چا سره خبره اُونکړیے۔ یا د پټے وعدیے نه مراد دهغے سره زنا کول دی۔ یا په پټه دهغے سره نکاح کول۔

د امام شـافـعیؒ نـه نـقـل دی چه د سِرُ نه د جماع خبریے مراد دی چه هغے ته د خپلے جماع قوت بیانوی۔ دا ټول منع دی۔

﴿ اِلَّا اَنْ تَـقُـوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴾ دا استـثـنـاء مـنـقـطع ده۔ یا متصل ده، او اصل عبارت داسے دیے :

[لَاتُوَاعِدُوْهُنَّ اِلَّا بِاَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَعْرُوْفًا بِالتَّعْرِيْضِ]

(يعني وعده به په پټه نهٔ کوئ، مګر که په تعريض سره نيکه وينا کوئ نو جائز ده)۔

نو د نيکے وينا نه مراد تعريضي (اشارے) والا خبره ده، د شريعت مطابق قول ته معروف وينا وائي، هغه خبره چه د خلقو مخامخ ئے کولے شي، زنانه ته به هغه الفاظ وئيلے شي، او هغه خبرے به ورسره نشي کولے چه هغهٔ د عامو خلقو مخامخ نهٔ شي کولے۔ د عامو خلقو په مخ کښ خلق داسے وئيلې شي چه زهٔ نکاح کوم، که کونډه ښځه وي او که ځوانه وي، زما دواړو ته ضرورت دے۔ اوبے حياء خبرے به نهٔ کوي۔ (قاسميؒ)۔

او دا قَوْلِ مَعْرُوْف بعينهٖ د تعريض الفاظ دي۔

بيا الله تعالىٰ بار بار استثناء ات ذکر کوي، پدے کښ دا تنبيه ده چه دا محل ډير تنګ دے او خبره مشکله ده اصل پدے باب کښ منع او پابندي ده، نو د احتياط نه کار اخستل پکار دي۔ (قاسميؒ)

﴿ وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ ﴾ عزم: په يو کار پسے د زړهٔ غوټه کول دي۔ مراد ترے نه کلکول او مضبوطول دي۔ د عقدة النكاح نه مراد د نکاح غوټه ده يعني چه ښځے سره نکاح غوټه کړي، وے تړي، داسے به نهٔ کوي۔

﴿ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتَابُ اَجَلَهٗ ﴾ دکتاب نه مراد (اَلْعِدَّةُ الْمَكْتُوْبَة) دے يعني هغه عدت چه فرض شوے او ليکلے شوے دے، هغه خپلے نيټے ته اُورسي چه څلور مياشتے او لس ورځے دي۔ يا بچے اُوشي که حمل وي۔ د کتاب لفظ يو متعين شرعي قانون ته هم وئيلے شي، او دلته همدا مراد دے۔ او د کتاب په لفظ سره ذکر کولو کښ ددے اهميت ته اشاره وي۔ يعني ترڅو پورے چه د قانون موده نهٔ وي پوره شوي تر هغه وخته پورے د عقدِ نکاح عزم مهٔ کوئ۔ (تدبر قرآن)

﴿ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ﴾ په آخره کښ الله تعالىٰ د خپل صفت حواله ورکړه چه ددے صفت په ياد ساتلو سره د الله تعالىٰ د قوانينو صحيح احترام بناء دے۔

او وے فرمايل چه د الله تعالىٰ نه هميشه په يره کښ اُوسيږئ، د هغه مهلت دے تاسو په دهوکه کښ ګوزار نکړي، هغه بخنه کونکے او بُردبار دے، پدے وجه معافي کوي، ليکن هيڅ شے د هغهٔ د علم نه بهر نهٔ دے، لهذا تاسو له پکار دي چه د خپل ځان د بچاؤ اسباب اختيار کړئ، او هغه د الله د احکامو په عملي کولو سره کيږي۔

﴿ فَاحْذَرُوْهُ ﴾ (اُويريږئ د الله نه په خپل ځانونو د ګناهونو نه)۔

○ اُويريږئ د الله نه چه د هغه مخالفت اُونکړئ۔

حذر هغه يرے ته وئيلے شي چه ورسره د بچاؤ اسباب اختيار کړے شي۔

لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ
نشته گناه په تاسو که چرته تاسو طلاقے کړئ ښځے خپلے ترڅو چه تاسونهٔ وی مسه کړی هغوی لره
أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيْضَةً وَمَتِّعُوْهُنَّ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهُ
يا نهٔ وی مقرر کړی د هغوی دپاره مهر، او متعه (فائدے) ورکړئ هغوی ته، په مالداره باندے د هغه په اندازه ده
وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٢٣٦﴾
او په غريب باندے دهغه په اندازه ده، فائدے ورکول دی په ښائسته طريقه، دا لازمه ده په احسان کونکو باندے.

تفسير: اُوس د تدبير منزل نور احکام راوړی چه هغه د طلاقے شوے ښځے د مهر متعلق دی. ټول څلور صورتونه دی. مطلقه ښځه دوه قسمه ده يا به ئے مهر مقرر شوے وی يا نهٔ، يا به نزديکت شوے وی يا نهٔ. که مهر مقرر شوے وی نو يا به د نزديکت نه روستو طلاقه شوی وی، يا مخکښ، که نزديکت شوے وو نو ټول مقرر مهر به ورکولے شی اګرکه يو ځل نزديکت شوے وی. او که نزديکت نهٔ وی شوے، نو نيم مهر به ورکړے شی. دويم صورت دا چه مهر نهٔ وی مقرر نو بيا به يا نزديکت شوے وی يا نهٔ، که شوے وی نو مهرِ مثل به ورکوی، او که نزديکت نهٔ وی شوے نو هيڅ مهر نشته، صرف مُتعه (يوه جوړه جامه) به ورکولے شی. دا ټول تفصيل په دے آيت اواحاديثو کښ ثابت دے.

فائده : د وفات او طلاقو ترمينځ فرق دے که خاوند وفات شو، نو په ټولو صورتونو کښ به ټول مهر پوره ورکوی، نزديکت شوے وی او که نهٔ. خو کله چه مهرئے ورله مقرر کړے وی، ميراث به هم وړی او عدت به هم تيروی ځکه نقصان د خاوند د طرف نه دے، او دغه مخکنے تفصيل صرف د طلاقو په باره کښ دے ځکه چه طلاق د ښځے د عيب د وجه نه واقع کيږی. او دا خبره اجماعی ده. (فتح البيان)

﴿لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ﴾ يعنی هغے سره نزديکت نهٔ دے شوے او طلاق ورکړے نو دا جائز ده. نو دلته **سوال** دے چه سړے ئے مسح کړی او بيا طلاق ورکړی نو آيا بيا به څهٔ ګناهګار وی؟ حال دا چه بيا هم نهٔ ګناهګاريږی؟ .

جواب دا دے چه دلته معنیٰ دا ده چه کله ښځه مسح کړی، نو بيا هر وخت کښ طلاق نشی ورکولے بلکه هغے دپاره شرطونه دی: په طهر کښ به طلاق ورکوی، په حيض کښ طلاق ورکول حرام دی، دارنګه په داسے طهر کښ چه هغے کښ به نزديکت نهٔ وی شوے، ځکه که

نـزدیـکـت شویـے وی، په هغـے کـښې به هم طلاق ورکول جائز نهٔ وی، او کله ئے چه مسح کړی نهٔ ده نو بیا هر وخت کښې طلاق ورکولے شي، که په طهر کښې وی او که په حیض کښې وی۔

دویم جواب دا دے چـه دلتـه وهـم راځـی چـه قبـل الـمسیـس (د مسـه کولو نه مخکښې) به طلاق جائز نهٔ وی ځکه څهٔ مشکل نهٔ دے راغلے، نو دلته فرمائی چه د نزدیکت نه مخکښې هم طلاق ورکول جائز دی ځکه کیدے شي، پټ څهٔ ضرورت به وی۔

﴿ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ﴾ (اَوْ) دا د (لَمْ) د لاندے دے (یعنی مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ لَمْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ) ځکه په تَفْـرِضُـوْا کـښې نـون اعـرابی ساقط شویے دے۔ فرض په معنیٰ د تقدیر (مقرر کولو) سره دے۔ مـعـنـیٰ دا ده چـه تـا نـهٔ ښـځـه مسـحـه کـړے او نهٔ دِے مهر مقرر کړے او مخکښې د وادهٔ نه طلاق ورکویے نو څهٔ فائده ورکړه چه خوشحاله شي۔ لکه چه فرمائی :

﴿ وَمَتِّعُوْهُنَّ﴾ یـعـنـی څـه فـائـده ورکـړه۔ دمتـعـے نـه مـراد یوه جوړه جامه ده۔ پدے متعه کښې اختـلاف دے۔ بـعـض علماء وائی چه دا متعه واجبه ده، برابره ده مهر ئے مقرر وی او که نهٔ ؟ ځکه چـه دلتـه د امر صیغه راغلے ده۔ او دا د امام احمدؒ مذهب دے، او همدا غوره دے ځکه چه روستو راځی (وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ)

او جـمـهـور عـلـمـاء وائی که مهر مقرر وو نو بیا متعه ورکول مستحب دی ځکه چه یو ځل ئے مهر واخستو، نو بیا په متعه څهٔ کوی او که مهر مقرر نهٔ وو، نو بیا متعه واجب ده۔

حکمة : د مـتـعـے ورکـولـو حـکمت دا دے چه خاوند دا ښځه د فِراق (جدائی) په وحشت سره یواځے کړه، نو په سبب د ایحاش (یواځے کولو) سره شریعت ددے په زړهٔ باندے د متعے پټئ واړوله۔

فائده : د مُـتـعـے څومره اندازه ده؟ نو د روستو الفاظو نه معلومیږی چه د عرف مطابق وی، د مـالدار او د غریب فرق به کولے شي۔ د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه د طلاقو د متـعـے اعلیٰ درجه یو خادم یا وینځه ورکول دی۔ او ددے نه خکته د سپینو زرو پیسے ورکول، او ددے نه خکته جامے ورکول دی۔

د ابـن عباسؓ یو بل روایت دا دے چه که مالدار وی نو خادم وغیره به ورکوی، او که غریب وی نو دریِ جامے به ورکړی (قمیص، لوپټه او پرتوګ)۔

عبـد الـرزاقؒ روایت راوړے چـه حـسـن بـن عـلـی رضـی الله عنهما په متعه کښې لس زره روپئ ورکړے، نو ښځے أُووئیل: [مُتَاعٌ قَلِيْلٌ مِنْ حَبِيْبٍ مُفَارِقٍ] د جدا کیدونکی محبوب د طرف نه دا خو ډیر معمولی فائدے دی)۔ (قاسمیؒ)

د امام ابوحنیفهؒ په نیز کله چه د ښځے او خاوند د متعے په اندازه کښې اختلاف راشی، نو ښځے

تـه بـه نیمائی مهرِ مثل ورکولے شی او د پنځه دراهمو نه به کم نهٔ وی ځکه چه د هغه په نیز کم مقدار د مهر لس درهمه دی۔

لیـکـن صـحیـح دا ده چـه د خـاونـد حـالـت د مالداریٔ او غریبیٔ ته کتل پکار دی۔ لکه چه الله تـعالیٰ هغه بیانوی : ﴿عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ﴾ مُوسع هغه مالدار دے چه د هغهٔ مالداری فراخه وی۔ (المُقْتِر) د اِقْتَار نه دے په معنیٰ د فقر سره۔

﴿مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ﴾ دا د (مَتِّعُوْهُنَّ) دپاره مفعول مطلق تاکیدی دے۔ د بِالْمَعْرُوْف نه مراد ښائسته طریقه ده۔ ﴿حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ﴾ حقا : دا صفت د متاعاً دے۔ (اَیْ مَتَاعًا حَقًّا) یا فعل پټ دے (حَقَّ حَقًّا) او حـق پـه معنیٰ د واجب سره دے، او د محسنین نه مراد مؤمنان دی، یعنی دا متعه ورکول لازم دی په ایمان والو ځکه چه دا د مهر بدل دے۔

او تـعبیر ئے په محسنین سره اُوکړو دپاره د ترغیب، چه د ایمان والو دپاره احسان کول پکار دی۔ او دے تـه ئے احسان ځکه اُووئیلو چه پدے کښ مقصد د ښځے زړهٔ خوشحالول او د هغے د کورنیٔ محبت باقی پریخودل دی۔ (قاله الحرالی – قاسمی)۔

او اشاره ده چه دا څهٔ سزا نهٔ ده بلکه احسان دے۔ که هغے ته دا متعه ورنکړے شی نو کیدے شی چه د هغے او د هغے د کور والو کینه او دشمنی په زړونو کښ باقی پاتے شی نو دا د متعے راز هم شو۔

فائده : دا آیت دلیـل دے چـه د مهر نه بغیر نکاح نهٔ کیږیٔ او مهر په وخت د نکاح تړلو کښ معلومول ضروری نهٔ دی، روستو دے په رضا د جانبینو مقرر شی۔

وَإِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ
او که چرته تاسو طلاق ورکړیٔ هغوی ته مخکښ ددے نه چه مسه کړیٔ تاسو هغوی لره او حال دا چه تاسو مقرر کړے وی
لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّآ أَنْ يَّعْفُوْنَ أَوْ يَعْفُوَ
هغوی دپاره مهر مقرر نو لازم دے نیم هغه مهر چه تاسو مقرر کړے وی مگر چه معافی کوی زنانه یا معافی اُوکړی
الَّذِیْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ وَأَنْ تَعْفُوْا أَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى
هغه سړے چه په لاس د هغه کښ غوټه د نکاح ده او چه تاسو معافی کویٔ دا ډیره نزدے ده تقویٰ ته،
وَلَاتَنسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۳۷﴾
او مهٔ هیرویٔ احسان په مینځ خپل کښ یقیناً الله ستاسو په عملونو باندے لیدونکے دے۔

تفسير : اُوس دويم صورت بيانوى چه ښځه د مَسَه كولو نه مخكښ طلاقه شوه، نو بيا دوه صورتونه دى چه دلته د يو حكم بيانيږى، يا به مهر مقرر وى يا نهٔ ؟ ـ كه د هغے مهر مقرر شوے وى ـ نو الله فرمائى چه هغے ته به نيمائى مهر وركولے شى ـ دا هم جائز ده چه ښځه معافى اُوكرى، او اُووائى چه هغه زهٔ ليدلے نهٔ يم، او نهٔ ما د هغه خدمت كړے، نهٔ ئے ما نه فائده اخستے ده، نو زهٔ څنګه د هغه نه څهٔ پيسے واخلم ـ

يا كه خاوند د مهر پوره پيسے ادا كړى وى، نو هغهٔ معاف كړى، او د ښځے نه نيمائى مهر واپس وانخلى، يا كه جينئ نابالغه وى، يا هغے ته معامله كول نهٔ ورځى، نو د هغے ولى د خاوند نه نيمائى مهر وانخلى او معاف ئے كړى ـ او الله فرمائى چه په هر حال كښ معاف كول تقوىٰ ته ډير نزدے او غوره احسان دے ـ دے نه روستو الله تعالىٰ هر يو ته د معاف كولو ترغيب وركړيدے چه څوك معافى اُوكړى نو هغه به د بل نه غوره وى ـ

﴿ فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ ﴾ ددے مبتداء پټه ده يعنى (فَالْوَاجِبُ عَلَيْكُمْ نِصْفُ الخ)

(په تاسو نيمائى هغه مهر وركول واجب دى چه ښځو له مو مقرر كړے وى)

مكمل به ځكه نهٔ وركوى چه فائده ئے تر اوسه نهٔ ده اخستے ـ او نيم به ځكه وركوى چه ښځه ددهٔ په نوم شويده او وعده د مهر ئے كړيده ـ

﴿ اِلَّا اَنْ يَّعْفُوْنَ ﴾ چه ښځه وائى، څه دا نيم هم درنه نهٔ اخلم، دا هله چه خاوند هيڅ مهر لا نهٔ وى وركړے ـ ﴿ اَوْ يَعْفُوَ الَّذِىْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ﴾ غوټه د نكاح د خاوند په لاس كښ وى ـ لكه دا په حديث د دارقطنىؒ كښ راغلے دى ـ او مخكښ (وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ) نه هم معلوميږى ـ او د نكاح د غوټے نه مراد د ايجاب او قبول يعنى د نكاح د تړلو واك دے ـ يعنى خاوند ورته اُووائى چه زر روپئ مے دركړى دى، دا ستا مهر وو، ليكن بيرته ئے درنه نهٔ اخلم، ټولے ستا شوے ـ او پدے كښ وَلِیُّ الصَّغِيْرَه او وَلِیُّ الْاَمَه (د ماشومے او د وينځے ولى) هم داخل دے، هغه هم دا قسم معافى كولے شى ـ لكه دا خبره امام مالكؒ په الموطأ كښ ذكر كړيده ـ (محاسن التاويل ٣/٥٧٦)

بيا دلته فكر اُوكړه، الله رب العزت مونږ ته په طلاقو كښ دا طريقه خودلے ده چه طلاق به وركړے او دا ښځه به داسے ګڼړے لكه د خور په شان، د عامے مسلمانے خور په شان ژوند به ورسره تيروے ـ داسے نهٔ چه طلاقه شى او دشمنى شروع شى، او دوه قومونه پرے اُوجنګيږى، او د پښتنو طريقه خو دا ده چه خور لور دے ورله طلاقه كړه، نو بيا غټے دشمنئ او قتل وقتال ته خبره رسيږى ـ الله مونږ ته د معاشرے د ښهٔ والى اصول ښائى چه يو بل ته معافى كوئ، يو بل سره راشه درشه او احسانات كوئ :

﴿ وَاَنۡ تَعۡفُوۡا اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰى ﴾ دا خطاب سړو او ښځو دواړو ته دے، او صيغه د سړوئے تغليباً ذکر کړيده، او عفو په معنیٰ د ترك او پريخوستو سره ده۔ يعنی ستاسو معافی کول تقویٰ ته ډير نزدے کار دے، د معافی نهٔ کولو نه۔

ابن جريرؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړی چه ((په دواړو کښې کوم يو معافی کوی، هغه تقویٰ ته زيات نزدے دے ځکه چه څوك سخاوت کوی، او خپل حق پريدی، دا احسان کونکے وی، او احسان د تقویٰ سر دے)) ۔ (قاسمیؒ)۔

﴿ وَلَا تَنۡسَوُا الۡفَضۡلَ بَيۡنَكُمۡ ﴾ ۱ – د فضل نه مراد تفضل (يعنی احسان کول) دی، يعنی يو بل باندے احسان کول مهٔ هيروئ، ځکه چه پدے سره به محبت باقی پاتے کيږی، او زړونه به خوشحاله وی، نو پدے کښې په معافی کولو تيزی ورکول دی۔ نو په دواړو کښې چه څوك معافی کوی نو د هغه به په بل باندے فضيلت او احسان وی۔

بيا نسيان (هيرول) د انسان په واك کښې نهٔ دی، نو ددے نه منع نشی کيدے، ليکن دلته د نسيان نه مراد پريخودل دی، يعنی احسان کول داسے مهٔ پريدئ لکه يو هير شوے شے۔ ليکن په نسيان ئے ترے تعبير اُوکړو، پدے کښې په منع کولو کښې زيات تاکيد دے۔ او پدے کښې هم خطاب سړو او ښځو دواړو ته دے په طريقه د تغليب۔

او بعض علماؤ دا د سړو پورے خاص کړيدے ځکه چه خاوند کښې د رجوليت (سړيتوب) فضيلت شته، نو پکار ده چه هغهٔ معافی کونکے وی۔

۲ – يا د فضل نه مراد زاړهٔ احسانات دی چه دواړو د يو بل سره کړی، نو هغه رایاد کړئ، پدے وجه يو بل ته په مهر کښې معافی اُوکړئ۔ لکه د سورة النساء په آيت (۱۵) کښې دی : ﴿ وَقَدۡ اَفۡضٰى بَعۡضُكُمۡ اِلٰى بَعۡضٍ ﴾ (تاسو يو بل ته رسيدل کړی)۔

بعض خلق چه کله ښځه طلاقه کړی، نو بيا د هغوی سره بالکل تعلقات ختم کړی، او د هغوی سره تعلقات قائمولو ته بے غيرتی وائی۔ حال دا چه دا د اسلامی اصولو خلاف عمل دے۔ د الله نه څوك زيات غيرتی نشته، هغهٔ مونږ ته وائی تاسو احسان مهٔ هيروئ، دا ښځه اُوسه پورے ستا وه چه تا طلاقه کړه نو دا ستا خور شوه۔

جُبَير بن مطعمؓ يوه ښځه په نکاح کړه، بيائے هغه د دخول نه مخکښې طلاقه کړه، نو پوره مهر ئے ورکړو، او ورے وئيل : [اَنَا اَحَقُّ بِالۡعَفۡوِ] زهٔ په معافی کولو ډير لائق يم۔

دارنگه جُبَيۡر په سعد بن ابی وقاصؓ داخل شو، هغهٔ ورته خپله لور پيش کړه، نو هغه په نکاح کړه، کله چه بهر شو طلاق ئے ورکړو او هغے ته ئے پوره مهر ورواُوليږلو۔ چا ورته اُووئيل : ولے دے

په نـكـاح كـړه ؟ هغه اُووئيل ما د جُبير خبره رد كول خوښ نهٔ گنړل. ورته اُووئيل شو، نو بيا ډيـر مهـر ولـې اُوليږلو ؟ وې فرمايل : (فَأَيْنَ الْفَضْلُ؟) بيـا هـغـه احسان څۀ شو ؟ كوم بانديـې چه مونږ ته حكم شويدې. (قاسمیؒ).

﴿ إِنَّ اللهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴾ الله ستاسو احسان كول نهٔ ضائع كوى.

حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ والصَّلَاةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿٢٣٨﴾

حفاظت كوئ په مونځونو باندې او خاص په مونځ مينځنى (د مازيگر) او اُودريږئ الله ته عاجزى كونكى.

تفسير : پـدې كـښ د تدبير منزل بل حكم بيانوى چه ستاسو د كورنئ اصلاح به هله كيږى چه هر يو تـن پـكـښ د ټولو مونځونو پابند شى، اگركه دا په دنياوى احكامو هم مشغول وى، ليكن د مانځه محافظت به كوى.

ربط : ١- مخكښ د حقوق العباد حفاظت بيانيدو، اُوس د حقوق الله حفاظت بيانوى.

٢- مـخـكـښ تـعـلـق د ښځې او خاوند يعنى د بندگانو ترمينځ وو، اُوس تعلق د الله تعالىٰ او د بـنـدگـانـو بيـانـوى. ٣- مـخـكـښ د زنـانـو داسـې حـقـوق او كارونه بيان شول چه په هغې باندې مشـغـوليـدل كـلـه انسان د عباداتو په باره كښ سُست جوړ كړى، نو پدې وجه حكم د مانځه ئې اُوكـړو. ٤- دارنـگـه مـخـكـنى احكام كله په بعض خلقو مشقت او گران شى، نو دلته داسې عمل بيانوى چه دغه احكامو باندې عمل كول آسانوى، او دغه احكام محبوب جوړوى.

فـرمـائى چه په مانځه سره په دغه احكامو عمل آسانيږى. ځكه چه دا د فحشاء (بې حيائى) او منكراتو نه منع كول كوى. (قاسمیؒ).

﴿ حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰاتِ ﴾ د مونځ حفاظت كوئ په خپل وخت باندې، د جَمعې سره په ښائسته طريقې سره. د مانځه حفاظت دا دې چه د مكروهاتو، مفسداتو، د غير الله د توجه نه ئې ساتئ، په ښائستـه طريقه ئې كوئ، په مسنون اَوقاتو كښ سره د شرطونو او اركانو او خشوع او خضوع او ټولو واجباتو او مستحباتو خيال ساتلو سره ئې اُوكړئ.

ليكن افسوس چه د امتِ مسلمه ډيرو افرادو د الله تعالىٰ دا حكم مات كړو، څوك ئې خو بالكل نهٔ كـوى، او څـوك ئې بې وخته كوى، او څوك ئې زر زر، او څوك ئې بې توجه او بې خشوع كوى. او څوك د نبوى سنت لحاظ نهٔ ساتى صرف مذهبى مونځ كوى. والله المستعان.

﴿ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطٰى ﴾ د صلاةِ وسطىٰ په تعيين كښ ډير اقوال دى، شوكانیؒ په نيل الاوطار كښ (١٨) اقوال راوړيدى. (١) د سحر مونځ دې. (علیؓ وابن عباسؓ).

(۲) د ماسپښین مونځ دے۔(۳) د ماښام مونځ دے۔ (٤) د ماسخوتن مونځ دے۔
(٥) د جُمعے مونځ دے۔ (٦) د لوئی اختر مونځ دے۔ (٧) صلاة الخوف دے۔ دا ټول اقوال د صحابه کرامو او تابعینِ عظامو نه نقل دی، لیکن ددے ټولو نه صحیح خبره دا ده چه دا د مازیګر مونځ دے۔
په صحیحینو کښ د علی بن ابی طالب ﷛ نه روایت نقل شوید ے چه نبی کریم ﷺ د غزوهٔ خندق په ورځ اُووئیل : «الله تعالیٰ دِے د دوی زړونه او کورونه د اُور نه ډك کړی۔ لکه څنګه ئے چه مونږه د صلاةِ وسطیٰ نه مشغول کړوتردے چه نمر پریوتو»۔
په یو بل روایت کښ دی چه «دوی مونږ د صلاة وسطیٰ یعنی مازیګر مانځه نه مشغول کړو»۔ په مسند احمدؒ کښ د سمره ﷛ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ﴿ حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ ﴾ اُولوستلو او مونږ ته ئے نوم اخستو سره اُوفرمایل چه دا د مازیګر مونځ دے۔
ابن جریرؒ د ابو هریره ﷛ نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : د صلاةِ وسطیٰ نه مراد د مازیګر مونځ دے۔
د وُسطیٰ معنیٰ، درمیانه او غوره مونځ دے۔ او د مازیګر مونځ هم ډیر قیمتی دے، ځکه دے وخت کښ شغلونه ډیر وی، د دکاندارانو ګاهك زیات وی، او خلق ئے ناوخته کوی، او بیا اکثر مقلدین حنفیه ئے خو بالکل ناوخته کوی، زیری مازیګر کښ ئے کوی چه کله ګینټه یا درے پاوه وخت ماښام ته پاتے وی، دا د مونځ تباه کول دی۔
او احادیثو کښ د مازیګر د مونځ کولو وخت ډیر وختی راغلے دے چه نمر به تك سپین وو، او اُوچت به ولاړ وو۔ هیڅ تغیر به پکښ نهٔ وو پیدا شوے، لکه اُوس هم په حرمینو کښ په دغه وخت کښ کیږی، او ددے په زیړی مازیګر کښ ادا کولو ته ئے د منافق مونځ وئیلے دے۔ (مسلم، نسائی، ترمذی)
دارنګه پدے کښ اشاره ده چه د مازیګر مونځ به درمیانه کولے شی، نهٔ ډیر اُوږد، لکه د سحر په شان، او نهٔ ډیر لنډ لکه د ماښام په شان۔ بلکه متوسط به وی۔
په کومو روایاتو کښ چه صلاة وسطیٰ نور مونځونه خودلے شویدی، نو هغه د بعض صحابه کرامو اجتهاد وو، او دا په هغه وخت کښ وو چه ددے بیان نبی ﷺ نهٔ وو کړے۔
روستو نبی ﷺ ددے تعیین په مازیګر مانځه سره اُوکړو۔ په احادیثو کښ د مازیګر د مونځ د پریخودلو په باره کښ ډیر زیات وعیدونه راغلی دی۔
شیخینو د ابن عمرؓ نه مرفوع روایت نقل کړے : «هغه شخص چه د هغه نه مازیګر مونځ فوت شی، نو ګویا کښ د هغه اهل او مال ضائع شو»۔

امـام مسلمؒ حديث راوړے «څـوك چـه د مـازيـگـر د مانځه حفاظت كوی، نو د هغه دپاره به دوه څل اجرونه وی»۔ (قاسمیؒ)

ددے بحث د تفصيل دپاره الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح (٥) جلد ته رجوع اُوكړئ۔

فائده : صلاةِ وسطىٰ د مخكښ (اَلصَّلَوَاتِ) په عموم كښ داخل وو، ليكن دا ئے په عطف سره جـدا ذكر كړو، ديته تخصيص بعد التعميم وائی، دا د زيات اهتمام دپاره كولے شی۔ يعنی د ټولو مونځونو اهتمام او محافظت كوئ خصوصاً د مازيگر خو ډير اهتمام كوئ۔

﴿وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ﴾ (سَـاكِتِيْـنَ، خَـاشِعِيْنَ) يعنی غلی او په خشوع اُودريږئ۔ د قنوت ديارلس معانی دی۔ ددے مقام مناسبے دوه معنے دی (۱) عاجزی او خشوع۔ (۲) سكوت (غلے اُودريدل)۔ يـعـنـی په مـانـځـه كـښ د الله مـخـے تـه په انتـهـائی خشوع او خضوع، عاجزئ او فقيرئ سره اُودريږئ۔ دارنگه غلی اُودريږئ يعنی اختياری خبرے به نشی كولے۔

شان نزول

امام احمدؒ وغيره د زيد بن ارقم ؓ نه روايت كړے چه خلقو به د نبی ﷺ په ابتدائی دَور كښ په مانځه كښ خپل مينځ كښ خبرے كولے نو دا آيت نازل شو۔

ابن مسعود ؓ چـه كـله رسول الله ﷺ باندے سلام واچولو او هغه مونځ كولو، نو جواب ئے ورنـكـړو، او د مانځه د ختمولو نه روستو ئے ورته اُوفرمايل چه په مانځه كښ بنده د الله تعالىٰ په جناب (حضور) كښ مشغوله وی»۔ (متفق عليه)۔

او معاويه بن الحكم السُّلَمِی ؓ چه كله په مانځه كښ خبرے اُوكړے، نو رسول الله ﷺ هغه ته اُووئيل، « چـه په مانځه كښ خبرے كول جائز نهٔ دی۔ په مانځه كښ بنده په تسبيح او تكبير او د الله په ذكر كښ مشغول وی»۔ (مسلم)۔

تنبيه : بـعـض جـاهـلانـو ددے آيت نـه دليـل نيـولے دے چه په مانځه كښ رفع اليدين كول نشته، ځكه چه دا د سكوت او آرام سره د اُودريدو منافی دی۔

جواب دا دے چه دا سو چه د جهالت خبره ده ځكه چه رفع اليدين، دارنگه په مانځه كښ د سلام جواب د لاس په اشاره سره وركول په صحيح احاديثو كښ راغلی دی۔ او دا بعينهٖ خشوع ده۔ په حـديـث كـښ د رفـع اليدين په كولو سره لس نيكئ خودلے شويدی۔ [كُلُّ اُصْبُعٍ حَسَنَةٌ] ۔ په هره گوته پورته كولو يوه نيكی ده۔ [الطبرانی- الصحيحة :٣٢٨٦]

او هـر حـركـت د سكوت منافی نهٔ وی۔ او پدے دليـل نيـولو كښ د الله تعالىٰ او د هغه د رسول نه ځان مخكښ كول دی چه دا د مسلمان كار نهٔ دے۔

○ او بيا خو په تکبير تحريمه کښې هم رفع اليدين حراميږي؟.

مسئله (۱) په مانځه کښې په سهوه خبرے کول جواز لري، لکه احاديثو کښې راغلي دي. (الحق الصريح) (۲) په مونځ کونکي باندے سلام اچول او هغه دپاره د لاس په اشاره سره جواب ورکول حديثو کښې شته. (الحق الصريح ٤/٤٨٢)

(۳) قيام فرض دے مگر د رکوع مونډونکي نه ساقط دے. او کله چه امام په ناسته مونځ کوي د مرض د وجه نه نو د مقتديانو نه هم قيام ساقطيږي.

فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنتُمْ
که ويريدلئ تاسو (د دشمن نه) نو (مونځ کوئ) چه پيادهٔ يئ يا سوارهٔ يئ نو هر کله چه په امن شئ تاسو
فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾
نو يادوئ الله لره لکه څنګه ئې چه خودلے ده تاسو ته هغه طريقه چه تاسو پرے نهٔ پوهيدلئ.

تفسير: اُوس وائي مونځ دومره اَهم او ضروري شے دے چه د جهاد په ډيرو سختو ځايونو کښې به ئې هم نهٔ پريدے. د مخکښې آيت نه معلومه شوه چه په مانځه کښې قيام (اُودريدل) فرض دی، نو اُوس هغه حالت بيانوی چه قيام په کښې ساقط وی.

پدے آيت کښې الله تعالیٰ د جنګ په حالت کښې د مانځه کولو کيفيت بيان کړيدے. الله فرمائی چه په کوم ځائے کښې بنده د تمامو ارکانو، واجباتو، سنن او مستحباتو رعايت ساتلو سره مونځ نشي کولے، نو په داسے حالت کښې په روانه يا په سورلئ مونځ کوئ، برابره ده چه مخ قبلے طرف ته وی او که بل طرف ته.

امام مالك د نافع نه روايت کړے چه عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د صلاة خوف (د ويرے په حالت کښې د مانځه) کيفيت بيانولو سره اُوفرمايل چه که يره ددے نه هم زياته شي نو بيا په روانه يا په سورلئ مونځ کوئ، برابره ده چه مخ په قبله وی او که په بل طرف. نافع وائي چه زهٔ پوهيږم چه هغوی د رسول الله ﷺ حديث بيان کړے وو. دا حديث بخاریؒ او مسلمؒ هم روايت کړيدے.

﴿ فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ﴾ رِجَال جمع د رَاجِل ده په معنیٰ د رَاجِلِينَ سره يعنی پياده مزل کونکی. او رکبان جمع د رَاكِب ده، سور انسان ته وئيلے شي. او ددے نه مخکښې فعل پټ دے. [فَصَلُّوا رِجَالًا وَرُكْبَانًا] يا فَحَافِظُوا رِجَالًا الخ، دا مونځ پياده اُوکړئ الخ يا ددے حفاظت اُوکړئ په پياده تللو يا په سورلئ. بيا دا خوف عام دے که د دشمن نه وی او که د درنده (حيوان) نه وی، يا د

سیلاب وغیره نه وي۔ دارنګه که په هره سورلۍ سور وي، حیوان، ګاډے، موټر وغیره، نو پدے تولو حالاتو کښې مونځ کول جائز دي، لیکن د رکوع او سجدے دپاره به په سر سره اشاره کوي۔

د صلاة الخوف د مانځه حالت الله تعالیٰ په سورة النساء آیت (۱۰۲) کښې تفصیلًا بیان کړیدے هغه د قتال حالت نۀ دے، او دلته د قتال حالت بیان شویدے۔ چه دیته حالة د اِلْتِحَام وائي۔ یعني د مجاهدینو او د دشمنانو په یو بل کښې د ننوتو حالت۔

پدے کښې اشاره ده زیات اِهتمام د مانځه ته۔او پدے حالت کښې جماعت هم ساقط دے، یواځې یواځې به مونځ کوي۔ او دا ددې شریعت رخصتونه دي چه ددے امت نه ئې بوجونه او طوقونه لرے کړیدي او په احکامو کښې ئې ورسره آساني کړیده۔

﴿ فَإِذَآ أَمِنتُمْ ﴾ یعنې کله چه خوف زائله شو، نو بیا به مونځ په هغه طریقه کوئ کومه چه په احادیثو کښې بیان شویده۔

نبوي احادیث حجت دے

﴿ فَاذْكُرُوا اللهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ ﴾ (اَىْ فِي الْاَحَادِيْثِ النَّبَوِيَّةِ) یعنې په هغه طریقه به مونځ کوئ څنګه چه الله تعالیٰ تاسو ته د خپل نبي په احادیثو او عمل کښې خودلے دے۔ چه هغه فرمائیلي دي: (صَلُّوْا كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ اُصَلِّيْ) (بخاري ومسلم)۔ ما ته ګورئ زما په شان مونځ کوئ۔

په قرآن کریم کښې الله تعالیٰ ځائے په ځائے په احادیثو حواله ورکوي، اشاره ده چه دا دواړه د الله د طرف نه وحي ده۔ او د رسول الله ﷺ تعلیم د الله تعالیٰ تعلیم دے۔ ځکه چه د مانځه تفصیلي طریقه صرف په احادیثو کښې بیان شویده۔

پدے کښې هم د احادیثو په منکرینو باندے رد دے، چه دا د یهود او نصاراؤ پیدا کرده خلق دي، په دین کښې خلق شکیان کول او بالآخره د دین نه ویستل دي۔ او د مانځه نه ئې په ذکر سره تعبیر اُوکړو ځکه چه ذکر د مانځه لوئي رکن دے۔

﴿ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴾: پدے کښې یو قسم انعام ذکر کوي چه هرکله تاسو پدے شرعي احکامو پوهه نۀ وئ، الله تعالیٰ درته طریقه اُوخودله، د جهالت نه ئې را اُوویستلئ نو د الله شکر ادا کړئ۔ او پدے کښې اشاره ده چه د مانځه کیفیت او طریقه په عقل سره نشي معلومیدے بلکه دا به د شارع نه ایزده کولے شي۔

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم
او هغه کسان چه مړۀ شي ستاسو نه او پریدي دوی ښځے، نو وصیت دے اُوکړي د ښځو خپلو دپاره،

مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ
د فائدے ورکولو تر یو کاله پورے نۀ به وی ویستل د هغوی که چرته اُووتے (په خپله خوښۀ) نو نشته گناه
عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوفٍ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲٤٠﴾
په تاسو په هغه څه کښې چه کوی دوی په ځانونو خپلو باندے د نیك کار نه الله زورَور، حکمتونو والا دے۔

تفسیر : پدے کښې د تدبیر منزل نه اُولسم حکم ذکر کوی چه هغه عدت د مُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا دے، دا مخکښې هم تیر شو لیکن دلته مقصد په کښې دا دے چه د کومو ښځو خاوند وفات شوے وی نو د هغوی سره احسان اُوکړئ، او د جاهلیت والو په شان ظلم پرے مۀ کوئ۔

ددے آیت معنیٰ دا ده چه کله یو سړی ته مرگ رانزدے شی نو هغه دے د خپلے ښځے په باره کښې وارثانو ته دا وصیت اُوکړی چه دا به تر یو کاله پورے د کور نه په وتلو نۀ مجبوره کوئ، او دے ته به نفقه هم ورکوئ، لیکن که هغه پخپله خوښه د خاوند د کور نه اُوځی، او ډول او خوشبوئی استعماله کړی، او په اشارو او کنایاتو کښې د وادۀ خبرے کوی، نو د خاوند د اولیاؤ به هیڅ گناه نۀ کیږی، او په داسے صورت کښې به نفقه او مسکن نۀ واجبیږی۔

(۱) زیات مفسرین وائی چه دا حکم د اسلام په ابتداء کښې وو، کله چه د ښځے دپاره په میراث کښې حصه نۀ وه، او د عدت موده یو کال وه، او هغے ته اختیار وو چه که غواړی نو د خاوند په کور کښې عدت تیر کړی، او نفقه دے اخلی، او که غواړی نو د کال پوره کیدونه مخکښې دے د کور نه اُوځی، او د هغے دپاره به نۀ نفقه وه او نۀ مسکن (ځائے د اُوسیدو)۔ (قاسمی، تیسیر)۔

دے نه روستو ددے سورت (۲۳٤) آیت نازل شو، چه د هغے مطابق د ښځو عدت څلور میاشتے او لس ورځے شو۔ دغه شان د نفقے او مسکن د وصیت حکم د میراث په آیت سره منسوخ شو۔ او ښځے دپاره د خاوند په پوره مال کښې څلورمه یا اتمه حصه مقرر شوه۔ او هغه آیت (۲۳٤) اگرکه په تلاوت کښې مخکښې دے، لیکن په نزول کښې روستو دے۔

(۲) لیکن د مجاهدؒ، امام بخاریؒ، شیخ الاسلام ابن تیمیۃؒ او حافظ ابن کثیرؒ وَغَيْرُهُمْ رائے دا ده چه دا آیت مُحکم دے او منسوخ شوے نۀ دے۔ او مخکښې آیت پدے خبره دلالت کوی چه څلور میاشتے او لس ورځے د ښځے لازمی عدت دے چه دا به په هر حال کښې د خاوند په کور کښې تیروی۔ او دا آیت پدے دلالت کوی چه د مړی وارثانو له پکار دی چه د هغے د زړۀ ساتلو په خاطر او د مړی سره د اخلاص او د محبت د ښکاره کولو په توگه هغه نور اُووه میاشتے او شل ورځے د

خاوند په كور كښې پريدي۔ دا به ددے ښځے سره د دوی احسان وی۔ آؤ، كه ښځه د څلورو مياشتو او لسو ورځو، يا د حمل د پيدائش نه پس په خپله خوښه ددے كور نه نقل كيدل غواړی، نو دا به نشي منع كولے۔ لهذا ددے حكم وجوب منسوخ شويدے او استحباب ئے اُوس هم باقی دے۔

﴿ وَصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ ﴾ وَصِيَّةً منصوب دے، فعل ئے پټ دے [اَیْ فَلْيُوْصُوْا وَصِيَّةً] وصيت دِے اُوكړی دبی بيانو په باره كښې چه زما ښځه به دے كور كښې اُوسيږی د يو كاله پورے۔

يا (يُوْصُوْنَ) پټ دے۔ او دا د اَلَّذِيْنَ دپاره خبر دے۔ دا وصيت يا خپلو ښځوته دے چه خاوند اُووائی چه تهٔ به زما د مرګ نه روستو يو كاله پورے پدے كور كښې پاتے ئے، او تا ته به زما د مال نه نفقه دركولے شی۔ يا وارثانو ته د خپلو بيبيانو په باره كښې وصيت دے۔ دا وصيت بناء په يو قول واجب وو۔ بيا منسوخ شو۔ دارنګه د خاوند د مال نه يو كال پورے نفقه او مسكن وركول هم واجب وو دا هم منسوخ شو۔ (قاسمی)۔

﴿ مَتَاعًا اِلَی الْحَوْلِ ﴾ دا منصوب دے، د (وَصِيَّةً) نه بدل دے۔ او ددے متاع (فائدو) نه مراد تر يو كاله پورے په طريقه د احسان نفقه او مسكن وركول دی۔

﴿ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ﴾ دا د (اَزْوَاجِهِمْ) نه حال دے، اَیْ غَيْرَ مُخْرَجَاتٍ]۔

(يعنی دا زنانه به د كورنه نشی ويستلے)۔

﴿ فَاِنْ خَرَجْنَ ﴾ يعنی كه خپله اُووځی د عدت تيريدو نه مخكښې يا روستو، نو بيا صحيح ده۔

﴿ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ﴾: يعنی د مړی په وارث او حاكم باندے ګناه نشته چه ددے ښځے نه نفقه بنده كړی۔ ځكه چه د كومے ښځے خاوند مړ شی، نو بيا د هغے خرچه په كور والو باندے نهٔ وی، ځكه چه شريعت هغے دپاره مهر مقرر كړے دے، نو اُوس به د هغه مهر نه خوراك كوی، دارنګه كه د خاوند نه ورته څهٔ ميراث پاتے شوے وو، د هغے نه به خوراك كوی۔

﴿ فِيْمَا فَعَلْنَ فِیْٓ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ ﴾ يعنی د څلورو مياشتو او لسو ورځو نه روستو كه ډول او زينت كوی يا بل چا سره نكاح كوی، يا د خاوند د كور نه اُوځی، يا ځان له د رزق پيدا كولو په شرعی طريقے سره څهٔ كاروكسب كوی، نو پدے سره به وارثان ګنا هګار نهٔ وی او هغوی له ئے منع كول هم جائز نهٔ دی۔ نو د آيت نه معلومه شوه چه د ښځے دپاره د خاوند دا وصيت پوره كول څهٔ واجب نهٔ دی، كله ئے چه وصيت ښځے ته كړے وی۔

دغه شان اولياء او وارثانو باندے هم لازم نهٔ ده چه خامخا به دا ښځه د خاوند كوركښې يو كاله پورے پريدی۔ بلكه دا يو احسان دے۔ لكه مخكښې تير شو۔

حكمة : مخكښې آيت (۲۳۴) كښې ئے بِالْمَعْرُوْفِ معرفه راوړے وه، او دلته مِنْ مَّعْرُوْفٍ نكره،

پدے کښې اشاره ده چه هلته صرف زینت کول (إحداد نهٔ کول) مراد دی، او هغه یو معیّن شے دے او دلته مراد عام دے لکه چه مخکښې ذکر شو۔ نو نکره ئے راوړه چه ددے مختلف اقسامو ته اشاره اُوشی۔ (احسن)۔

﴿ والله عزيز حكيم ﴾ الله غالبه دے په خپلو حکمونو، مخالفینو ته به سزا ورکوی، یا په بدله اخستو باندے زوره ور دے، حکیم دے، په کارونو کښې ئے حکمتونه دی، هر حکم کښې د بندګانو د مصلحت او فائدے لحاظ ساتی۔

وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾

او دپاره د طلاقو شوو ښځو فائدے ورکول دی په ښهٔ طریقه، دا لازمه ده په تقویٰ والو باندے۔

تفسیر: پدے کښې د تدبیر منزل نه اتلسم حکم دے چه د عامو طلاقے شوو ښځو متعه بیانوی چه بنا په قول راجح دا واجبه ده، هره ښځه چه طلاقه شوه، مهر به هم ورله ورکوی، که مهر ئے مقرر شوے وو، او د هغے سره سره به یوه متعه هم ورکوی، چه یوه جوړه جامه وغیره ده۔ د سعید بن جبیرؒ او ابن جریرؒ وغیرهما همدا رائے ده۔

او بعض نور علماء وائی چه دا (مُتعه) په هر حال کښې واجبه نهٔ ده۔ که د طلاقے شوے سره خاوند مباشرت (نزدیکت) نهٔ وی کړے او د هغے مهر هم مقرر شوے نهٔ وی نو د هغے دپاره مُتعه واجب ده۔ نورو طلاقو شوو ښځو دپاره مستحب ده۔ او د دوی دلیل د قرآن کریم هغه آیت دے چه مخکښې تیر شو: ﴿ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴾۔ (البقره: ۲۳٦)۔

او دا قول د امام شافعیؒ او جمهورو دے۔

﴿ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴾ کوم علماء چه وائی متعه مطلقاً واجب ده، نو هغوی د متقین نه مراد مؤمنان اخلی او پدے کښې ترغیب ورکوی چه که تهٔ غواړے چه تا کښې تقویٰ راشی او ایمان دِ دے محفوظ شی، نو متعه ورکړه۔ مفسرین لیکی: کله چه حقاً علی المحسنین نازل شو نو یو سړی اُووئیل: که زهٔ احسان کول غواړم، نو متعه به ورکړم او که احسان نکوم، نو متعه به نهٔ ورکوم نو دا آیت نازل شو (حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ) نو متقین د محسنین دپاره بیان شو، یعنی دا د هر متقی حق دے چه ضرور به متعه ورکوی۔ او تقویٰ اختیارول خو فرض دی لهذا دا متعه هم فرض شوه۔ (ابن عاشور ۱/۴۵۲)

بیهقیؒ د شریحؒ نه نقل کړی چه هغه یو سړی ته اُووئیل چه ښځه ئے جدا کړے وه:

[لَا تَأْبٰى اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ، لَا تَأْبٰى اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ]

(متعه ورکړه او په متقیانو او احسان کونکو کښې د ځان شمارلو نه انکار مهٔ کوه)۔

بیهقیؒ د جابر بن عبد الله ﷺ نه روایت کړے، فرمائی : کله چه حفص بن المغیره خپله ښځه فاطمه طلاقه کړه، نو نبی ﷺ ته راغله۔ نبی ﷺ د هغے خاوند ته اُووئیل : [مَتِّعْهَا] دے ته متعه ورکړه۔ هغه اُووئیل : زهٔ څه نهٔ مونده کوم چه دے ته ئے متعه کښې ورکړم۔ نبی ﷺ اُوفرمایل :

[فَإِنَّهٗ لَابُدَّ مِنَ الْمَتَاعِ، مَتِّعْهَا وَلَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ تَمْرٍ].

متعه ورکول ضروری دی، دے ته متعه ورکړه اگرکه نیمائی صاع (پاؤ باندے یو کلو) کجورے وی،آه۔الصحیحة (۲۲۸۱) باسناد حسن)

ابن المنذرؒ د علی بن ابی طالب ﷺ وینا ذکر کړیده چه : [لِكُلِّ مُؤْمِنَةٍ طُلِّقَتْ، حُرَّةً اَوْ اَمَةً مُتْعَةٌ وَقَرَأَ الْآيَةَ]۔ د هرے طلاقے شوے مؤمنے ښځے دپاره که آزاده وی او که وینځه، متعه ورکول لازم دی۔ بیا ئے دا آیت اُولوستلو۔ (قاسمی۳/۵۸۵)۔

حکمة : مخکښې آیت (۲۳٦) کښې د هغه ښځے د متعے د وجوب ذکر وو چه خاوند ترینه فائده نهٔ ده اخستے (غَيْرِ مَدْخُوْلٍ بِهَا ده) نو دغسے ښځے له حق (واجب) ادا کول په عرف کښې احسان گڼرلے کیږی، ددے وجه نه ئے هلته مُحْسِنِيْنَ لفظ راوړو، او دلته د عامو طلاقو شوو ښځو ذکر دے، اگرکه د هغوی دپاره مهر هم شته، او خاوند ترینه فائده هم اخستے ده، نو د دوی په طلاق سره د دوی زړهٔ ډیر خفه شوے او دردیدلے وی، نو د دوی زړهٔ د خفگان نه د بچکولو دپاره لفظ د تقویٰ مناسب وو۔ (احسن)۔

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ آيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲٤۲﴾
دغسے بیانوی الله تاسو ته آیتونه خپل دے دپاره چه تاسو د عقل نه کار واخلئ۔

تفسیر: اُوس پدے آیت کښې پدے مخکنو احکامو او راتلونکو احکامو باندے عمل کولو ته ترغیب ورکوی۔

﴿ كَذٰلِكَ ﴾ : یعنی لکه د مخکنی کافی شافی بیان په شان تاسو ته الله تعالیٰ هغه آیتونه وخت په وخت بیانوی چه دلالت کوی د الله تعالیٰ په احکامو، دے دپاره چه تاسو پدے پو هه شئ او ددے په تقاضا عمل اُوکړئ۔ (قاسمی)۔ یا کاف د بیان د کمال دپاره دے یعنی دا بیانات په کمالِ فصاحت او بلاغت، او وضاحت کښې کامله درجه لری۔

﴿ آيٰتِهٖ ﴾ د آیتونو نه مراد احکام شرعیه دی۔ یا هغه آیتونه چه متضمن دی احکامو لره۔

﴿ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴾ عقل دلته په معنىٰ د پوهي او تدبر او سوچ کولو سره دے۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ

آيا تۀ نۀ گورے هغه کسانو ته چه وتلي وو د کورونو خپلو نه حال دا چه هغوی په زرګونو وو، دوجه د يرے د مرګ نه

فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ

نو الله ورته اُوفرمايل : مړۀ شئ بيا ئے راژوندی کړل هغوی لره يقيناً الله خاوند د مهربانئ دے په خلقو

وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَايَشْكُرُوْنَ ﴿٢٤٣﴾

ليکن اکثر خلق شکر نۀ کوی

تفسير : مضمون :

ددے ځائے نه بل قسم مضمون بيانيږی۔ او دا آيتونه د جهاد سره متعلق دی، لکه مخکښ نه د جهاد خبره شروع شوے وه، بيا ئے په مينځ کښ اُووئيل چه کورنئ جوړه کړئ، نو اُوس بيرته جهاد ته خبره واپس شوه، او د بنی اسرائيلو دوه واقعات راوړی دپاره د ترغيب الی الجهاد، چه گوره دوی کښ بعض خلق د مرګ نه يريدل، جهاد ئے نۀ کولو، نو الله تعالىٰ پرے مرګ راوستو. نو په اوله واقعه کښ غرض دا دے چه [لَاتَتْرُكُوا الْجِهَادَ لِأَجْلِ الْخَوْفِ وَالْجُبْنِ] بزدلی مۀ کوئ، د دشمن نه مۀ يريږئ مرګ په نيته دے۔

(يو سړے به کور کښ ناست وی مړ به شی او يو سړی به لس کاله په جهاد کښ تير کړی وی، او نۀ به وی مړ شوے، نو دا لازمه نۀ ده چه څوك جهاد ته لاړ شی خامخا به مری) دا په دے اول آيت (٢٤٣) کښ بيانوی، او دے سره امر ذکر کوی په قتال کولو د الله تعالىٰ په لاره کښ، او انفاق فی سبيل الله ته ترغيب دے۔ بيا په (٢٤٥) آيت کښ دويمه واقعه ده چه مقصد پکښ دا دے چه د قلت او کموالی د شمار نه مۀ يريږئ لکه د طالوت ملګری د قلت نه يريدلی وو، نو الله رب العالمين لړو سره مدد اُوکړو او ډيرو له ئے شکست ورکړو، نو د قلت د وجه نه به جهاد نۀ پريدئ، ورسره نور آداب هم بيانيږی۔ چه الله تعالىٰ او د هغه رسول درته يو امر اُوکړی نو د هغے نه تختيدل نۀ دی پکار، او که اُوتختے نو چرته به لاړ شے۔ او ورسره مال لګولو ته ترغيب ورکوی او ورسره په دے واقعه کښ دا خبره هم ده چه اول جهاد فرض نۀ وی، نو غواړے به ئے نۀ، داسے به نۀ وائی چه که جهاد راغلو، نو زۀ به داسے کار اُوکړم ځکه چه څوك د څۀ شی تمناګانے کوی،

نـو الله تـعالىٰ ورله بيا توفيق نهٔ وركوي، لكه ډيرو خلقو دا وئيل كه امريكايان راغلل، مونږ به په اولـنـو صـفـونـو كـښې جـنـګـيـږو چه كله هغوى راغلل، نو هيڅ ئے اُونكړل۔ نو د الله نه به عافيت غـواړے چـه ايے الله ! مـهٔ ئے راولـه خو چه راشي، نو بيا به په هغه وخت كښې كار كوے، د الله نه به مدد غواړے، او صبر به كوے، لكه دا خبره صحيح حديث كښې هم راغلے ده۔

بـلـه بـه دا خبره اُوكړي چه كه يو امير مقرر شي، او هغه ادنىٰ وي، نو اعتراض به پرے نهٔ كوے، بـلـكـه د مـنـلـو مـاده بـه ځـان كـښې پيدا كړے۔ بله دا ده چه په مجاهدينو به امتحانات راځي نو امتـحان كښې د كاميابئ خبره هم بيانوي۔ او په آخره كښې د جهاد حكمت بيانوي چه دا جهادونه الله تـعالىٰ فرض كړي دي، دا ظلم نهٔ دے بلكه په دے كښې فسادونه دفع كول مقصد دے۔ كه جهاد نـهٔ وے، نو عالَم به ټول د فساد نه ډك شوے وے، جماعتونه، مدارس، عبادت خانے او د الله تعالىٰ د دين مراكز ورانيږي چه كله جهاد نهٔ وي۔او كله چه دا ځيزونه وران شي، نو الله تعالىٰ پرے ناراضه كـيږي او چـه الله نـاراضـه شـو نو بيا د عذابونو څهٔ كمے دے ؟!۔ الله خو د شهواتو والو سره مدد نهٔ كـوي، مـدد خـو صـرف د هـغـه چا سره وي چه دين والا وي، او دا دنيا پرست كفار چه په دنيا كښې كـوم خـوراكـونـه كـوي، نـو دا هـم ددے ديندارو د بركـتـه ۔ خو دا جاهلان او ناپوهه دي، دوى وائي راځـئ چـه دا ديـن والا ختم كړو، نو دا خواهشات به راته فراخه شي چه څهٔ مو خوښه وه، هغه به كـوو او پـه دے نـهٔ پو هيږي چه دين والا ډيے ختم كړل، نو په تا باندے الله په دنيا كښې څهٔ كوي، بيا خـو دربـانـدے عـذابـونه راولي، هلاكوي ډيے۔ الله خو دربانديے هسے ډوډئ ګانے نهٔ خلاصوي چه كله د هغه دين پكښې نهٔ وي۔

نـو الله رب الـعـزت د قـتـال حكمت بيان كړے دے چه قتال او جهاد ډير حكمتونه لري، تردے چه پـه قـتـال كـښې دا فـائده هم ده چه دا په كافرو باندے رحم دے۔ ولے چه جنګ كيږي نو الله په كافرو بـانـدے د بَره نـه عذاب نهٔ راولي، بلكه د مسلمانانو په لاسونو ئے تباه كوي، او كه جهاد ختم شو، نـو الله رب الـعـزت بـه بيا د بَره نه عذابونه راولي، بيا به ټول كافران په آسماني عذابونو تباه كړي لكه مخكني امتونه ئے په آسماني عذابونو هلاك كړي دي۔

او پـدے دوه واقـعـاتو كښې دا مختصرے فائدے بيان شوے، ددے په مينځ كښې ډير فوائد موجود دي۔ دا واقـعـات د مسلمانانو د تربيت او د بني اسرائيلو نه د سبق اخستو دپاره ذكر شويدي۔ بيا په (۲۵۲) كښې وائي چه آخري رسول ﷺ الله تعالىٰ دے له راليږلے دے چه كفر او شرك پرے ختم كـړي او حـق ښـكـاره كـړي۔ بيـا د رسـولانـو خـپـل مـيـنـځ كـښې تفاضل (يو بل باندے غوره والے) بيـانـوي، او د رسـولانـو نـه روستـو پـه حق كښې د خلقو اختلاف، سره د مشيت د الله تعالىٰ نه په

آيت (۲۵۳) کښې بيانوي۔

ربط او تړون

۱- مخکښې د نکاح سره متعلق احکام وو چه په هغې سره د يوې کورنۍ حفاظت او اصلاح راتله، اوس په ذکر د قتال سره د دين او د مسلمانانو اجتماعي اصلاح او حفاظت بيانوي۔
۲- مخکښې داسې احکام ذکر شو چه په هغې باندې عمل کولو سره انسان لوئي امر منلو ته په آسانۍ تيارېږي چه هغه قتال دے۔ ۳- دارنګه مخکښې نه د قتال مسئله شروع وه نو بيا مينځ کښې احکام د تدبير منزل بيان کړل، اوس بيرته خپل مقصد ته واپسي ده۔
بيا دا اولنې آيت د روستو (قَاتِلُوْا) دپاره تمهيد او بطور دليل دے، او هغه مقصود دے ځکه چه دا سورت د صلح حديبيه په موده کښې نازل وو، او دا د مکې فتح ته اشارات وو، نو پدې کښې قتال لوئي غرض وو، پدې وجه د مخکښې نه صحابه کرامؓ او مسلمانان جهاد ته تياروي۔ او دليل کله ددې وجه نه مخکښې راوړې شي چه روستو دعوىٰ ته شوق پيدا شي او په جلتۍ سره په دعوىٰ باندې عمل اوکړې شي۔ (ابن عاشورؒ)۔

د واقعې حاصل

﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ ﴾ ۱- ددې يوې واقعې حاصل دا دے چه په بني اسرائيلو کښې يو څو کسان وو چه طاعون بيماري پرې راغله، بعض کسان مړۀ شول او بعضِ د خپل کلي نه اُووتل، بيا دوی اُووئيل، که بله ورځ دا بيماري بيا راغله، نو مونږ به ټول تختو، نو الله تعالىٰ پرې دا بيماري بيا راوسته، نو ټول کلي والا اُووتل، تقريباً لس زره پورې کسان وو، نو دوی يو صحراء ته لاړل چه دې طاعون بيماري نه خلاص شي، نو الله په هغه ځائے کښې دا ټول مړۀ کړل، جبرئيل عليه السلام پرې آواز اوکړو، نو د ټولو نه ساه ګانې اُووتلې۔
يو نبي په دې لاره تيريدو (په اتفاق د مفسرينو هغه حزقيال بن بوزي (يا حزقيل) وو چه د بني اسرائيلو دريم نبي وو کوم چه د ارمياء او د دانيال عليهما السلام په زمانه کښې وو، د عيسىٰ عليه السلام نه شپږ او اُووه پيړۍ مخکښې تير شوی۔ (ابن عاشورؒ) چه وې کتل دا بني اسرائيل دی، او ټول مړۀ پراته دی، نو د الله نه ئې دعا اُوکړه چه اے الله ! دا راژوندي کړه، دا ستا يو اُمت وو، ستا ذکر به ئې کولو، تسبيحات به ئې وئيل، ښۀ خلق وو۔ او دا کار ترې نقصان شوے دے، نو الله تعالىٰ د هغه دُعا قبوله کړه، بيرته ئې راژوندي کړل، ځکه چه دا په اَجَل باندې مړۀ نۀ وو، بلکه دا عِقابي (سزائي) مرګ وو۔ الله د سزا په طور مړۀ کړي وو۔ او دا حقيقي مرګ وو، ليکن د نيتې پوره کيدو والا مرګ نۀ وو۔ بلکه يو عذاب وو۔ نو راژوندي شو، بيرته خپلې علاقې ته راغلل، او الله پرې

رحم اُوکړو۔ ځکه چه د مرګ نه پس راژوندي کيدل د الله تعالیٰ لوئی انعام وی، پدے وجه الله تعالیٰ په دوی باندے په (إِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ) سره خپل احسان بیانوی۔
بناء پدے قول دا قصه به استعاره وی۔ د هغه کسانو چه د قتال نه بزدلی کوی، تشبیه ورکړے شویده د هغه کسانو سره چه هغوی د طاعون نه بزدلی کړے وه او جهت جامعه پکښې يره د مرګ ده۔
٢- دويم قول دا دے چه دوی ته خپل نبی په جهاد امر کړے وو، نو دوی د هغه نه اُووتل چه مونږ دے کار ته نۀ تیاریږو، دا کلے ډے تا ته پاتے وی خو مونږه ځو، صحراونو کښې به اُوسيږو، او جهادونه نشو کولے، د مرګ نه یريدل، نو په لاره کښې پرے الله تعالیٰ حقيقی مرګ راوستو چه روح ئے د بدنونو نه اُووتلو۔ نو الله ورته اُوخودل چه جنګ کښې تول خلق نۀ مری، بعض خلق مړۀ شی د چا چه اَجَل راغلے وی، او تاسو ځان د مرګ نه خلاصولو، نو تاسو تول به زۀ په يو ځل مړۀ کړم۔ الله نه چرته بچ کيدے شئ، دا زمونږ دپاره غټ سبق دے۔ دوی اته ورځے پراته وو، بيا الله تعالیٰ راژوندی کړل دے دپاره چه د الله د قدرت مشاهده اُوکړی او په هغے ئے يقين راشی۔ (ابوالسعود٢/٤٢٦)
بناء پدے قول پدے قصه کښې به د هغه کسانو د حال تشبیه وی چه په قتال کښې بزدلی کوی، د هغه کسانو د حال سره چه د خپلو کورونو نه وتلی وو۔ او جهتِ جامعه پکښې بزدلی ده۔
دا قول غوره معلوميږی، وجه دا ده چه دلته ئے (وَهُمْ اُلُوْفٌ) وئيلی يعنی دا خلق په زرګونو وو۔ دا جملہ د تعجيب دپاره وئيلے شويده، او پدے کښې به تعجب هله وی چه کله خلق سره د ډير والی نه د دشمن نه تختی۔ او که د طاعون نه تختيدل مراد شی نو په هغه صورت کښې د ډيروالی ذکر کولو کښې هيڅ تعجب نۀ ښکاری۔ (ابن عاشورؒ)۔
فائده : اشاره ده چه څوك دينی کارونه د دنيا د وجه نه پريدی، نو الله تعالیٰ ورلره سزا په هم دغه دنياوی شيانو کښې ورکوی، لکه مثلاً څوك جهاد پريدی هغه له الله تعالیٰ په عذاب کښې اخته کوی، او څوك چه دعوت پريدی، الله تعالیٰ ئے په ذلت اخته کوی، او څوك چه عبادت پريدی، الله تعالیٰ ئے په دنيوی شغل اخته کوی۔
٣- ابن جريجؒ د عطاءؒ نه نقل کړی چه دا واقعه صرف مثال دے، او واقعی قصه نۀ ده، ليکن دا ډير بعيد قول دے، ځکه چه دلته الله تعالیٰ د دوی دپاره اسم موصول او ضمائر د حقيقی مذکر ذکر کړيدی۔ او حَذَرَ الْمَوْتِ ئے علت ذکر کړے۔ (ابن کثيرؒ وابن عاشورؒ)
﴿ اَلَمْ تَرَ ﴾ سيبويه ددے معنیٰ کوی : [تَنَبَّهْ اِلٰى اَمْرِ الَّذِيْنَ خَرَجُوْا] يعنی (تۀ متوجه او بيدار شه، حالت د هغه کسانو ته چه وتلی وو)۔ نو دلته رؤية متضمن دے معنیٰ د تنبيه لره، او دا رؤية قلبی دے۔ يعنیٰ په زړۀ سره پرے ځان پوهه کول مقصد دے۔

بعض وائي: دا رؤية متضمن دے معنىٰ د انتهاء او وصول لره [اَیْ اَلَمْ یَنْتَهِ عِلْمُكَ اِلَیْهِمْ یَا اَلَمْ یَصِلْ عِلْمُكَ اِلَیْهِمْ] یعنی ستا علم دوی ته نۀ دے رسیدلے). (فتح البیان ۲/۶۲).

قاعده : کله چه فعل د رؤیت متعدی شی هغه شی ته چه سامع (آوریدونکی) سره د هغے لیدل مناسب نۀ وی، نو پدے کلام کښ به مقصود تیزی ورکول وی، په علم د هغه شی چه هغے ته فعل د رؤیت متعدی شوے وی، او دا خبره د مفسرینو په مینځ کښ اتفاقی ده، ددے وجه نه دلته چه کومه همزه استعمال شویده، نو دا په خپله حقیقی معنیٰ کښ نۀ ده استعمال شوے، بلکه معنیٰ مجازی ده او خطاب پدے کښ د یومعین دپاره نۀ دے، ډیر کرته هغه مخاطب ته خطاب وی چه په خیال او ذهن کښ فرض شوے وی.

نو دلته په استفهام کښ چه د تیزی ورکولو دپاره استعمال دے، درے وجے جائز دی.

(۱) یو دا چه استفهام د تعجب او تعجیب دپاره دے ځکه چه دلته د مخاطب د فعل رؤیت په مفعول باندے علم د مخکښ نه نشته. (یعنی آیا تۀ نۀ گورے مطلب دا چه تعجب اُوکړه داسے مُهمه واقعه لا تا نۀ ده پیژندلے!!) او رؤیت به په معنیٰ د ظن سره وی. یعنی په زړۀ کښ دا خبره حاضره کړه. دا وجه ده چه امام راغبؒ وائی چه دلته رؤیت په معنیٰ د نظر سره دے. ځکه چه رؤیت په خپله معنیٰ سره په واسطه د (اِلیٰ) نۀ متعدی کیږی.

ددے وجه نه رؤیت خو مفعول غواړی او دلته ئے مفعول نۀ دے ذکر، دا دلیل دے چه دا په معنیٰ د نظر سره دے. او مقصد پدے کښ دا دے چه دا دعویٰ اُوکړے شی چه دا قصه اگرکه په عقل سره معلومیږی، لیکن داسے ده لکه گویا کښ چه په نظر سره معلومه شویده. ځکه چه څوك دا قصه آوری، د هغه پرے پوره یقین دے. (یعنی نبی ﷺ) لهذا (اَلَمْ تَرَ) به په معنیٰ د (اَلَمْ تَعْلَمْ كَذَا وَتَنْظُرْ اِلَیْهِ) سره وی یعنی تۀ په فلانئ خبره نۀ پو هیږے او فلانے شے نۀ گورے). (ابن عاشور ۱/۴۵٤).

(۲) یا استفهام تقریری دے. یعنی تا ته دے دا خبره معلومه شی. او ځان پرے پو هه کړه لکه د (اَلَمْ نَشْرَحْ) په شان. (۳) یا استفهام انکاری دے ځکه چه مخاطب د فعل رؤیت په مفعول نۀ دے پو هه. ددے ټولو اقوالو نه دا ثابته شوه چه (اَلَمْ تَرَ) نه دا نۀ لازمیږی چه گنے مخاطب (نبی ﷺ) به د مخکښ نه پو هه وی. بلکه مقصد پدے کښ په مضبوطه پو هه حاصلولو باندے تیزی ورکول دی، داسے پو هه لکه څنگه چه په سترگو لیدلے شوی شی باندے راځی. نو د باطلو ډلو ددے نه دا دلیل نیول چه نبی ﷺ په تیر شوی واقعاتو او په راتلونکی کارونو عِلم لرلو، او هغه حاضر ناظر دے، غلط او باطل دی.

﴿ وَهُمْ اُلُوْفٌ ﴾ ددے په تعداد کښ ډیر اقوال دی. (۳۰۰۰) زره وو. (٤۰۰۰) زره وو.

(۱۰۰۰۰) لس زره وو ـ څهٔ دپاسه دیرش زره وو۔ بعض وائی (اوویا) زره وو۔
لیکن قرطبیؒ وئیلی دی چه پدے تولو کښې ډیر صحیح قول د هغه چا دے چه وائی، دوی د لسو زرو نه زیات وو ځکه چه اُلُوف جمع کثرت ده او دا د لسو نه په بَره کښې حقیقت وی۔ (فتح البیان)۔
بعض وائی (لکه ابن زید) : اُلُوف جمع د آلِف ده، لکه جُلُوس جمع د جالس ده، په معنیٰ د مُؤْتَلِفُوْنَ سره، یعنی خپل مینځ کښې متفق وو، او په یو بل باندے ښهٔ ډاډهٔ وو، خو بیا هم بزدله وو۔ یعنی د دوی دا وتل د افتراق او د خپل مینځی بغض د وجه نه نهٔ وو۔ بلکه بزدله وو۔ او پدے کښې د دوی ډیرے بزدلئ ته اشاره وه چه دوی د ډیر والی او په یو بل باندے د ډاډهٔ کیدو باوجود د جنګ نه تختیدل۔ (قرطبیؒ)۔
﴿ حَذَرَ الْمَوْتِ ﴾ دا د (خَرَجُوْا) دپاره مفعول لهٗ دے، یعنی دا وتل ئے د مرګ د یرے د وجه نه وو۔ حذر هغه یرے ته وائی چه ورسره بچاؤ وی یعنی ځان ئے د مرګ نه ساتلو۔
﴿ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ﴾ یعنی الله پکښې مرګ پیدا کړو په خپل حکم سره، او دا دلیل دے چه دوی یقیناً مړهٔ شوی وو۔
فائده : (فَاَمَاتَهُمْ) لفظ ئے استعمال نکړو (یعنی الله دوی لره مړهٔ کړل) بلکه (مُوْتُوْا) ئے اُووئیل، پدے کښې اشاره ده چه دوی داسے په یوځل مړهٔ شول لکه چه ګویا کښې یو سړے مری۔ ګویا کښې دوی ته الله تعالیٰ حکم اُوکړو، او دوی هغه سمدست قبول کړو۔ (قاسمیؒ)
﴿ ثُمَّ اَحْیَاهُمْ ﴾ په دعا د حزقیال بن بوزی ﷺ سره راژوندی شو، چه دا د هغهٔ معجزه وه۔ او پدے سورت کښې دا دریم کرت دے چه د مرګ نه روستو مړی راژوندی کول پکښې راغلل۔
فائده: د معجزاتو منکرین ددے واقعے د ظاهر نه انکار کوی، او پدے کښې تاویلونه کوی چه د دوی مرګ داسے نهٔ وو، چه روح ئے د بدن نه وتلے وی، بلکه دا یو مرض دے لکه د سکتے بیماریٔ او بے هوشیٔ په شان، او ابن راوندی (چه دا یو کافر زندیق انسان وو) خو د تولو مړو په باره کښې دا عقیده لری چه د بدنونو نه روحونه نهٔ جدا کیږی، بلکه دغسے حالت وریاندے راځی چه روح د بدن په اندامونو کښې موجود وی۔
علامه آلوسیؒ وائی چه د دوی دا قول د شریعت او عقل دواړو نه مخالف دے۔
﴿ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ ﴾ فَضْلٍ کښې تنکیر د تعظیم دپاره دے یعنی الله د لوئی فضل والا دے په تولو خلقو۔ په هغوی باندے ئے فضل او انعام دا وو چه بیرته ئے راژوندی کړل چه عبرت حاصل کړی، او په مخاطبینو باندے فضل دا دے چه دوی ته ئے پدے قصه باندے عبرت ورکړو چه تاسو داسے کار اُونکړئ۔ (فتح، قاسمی)۔

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾
او جنګ کوئ په لاره د الله کښې او پوهه شئ چه یقیناً الله اَوریدونکے پوهه دے۔

تفسیر : پدے آیت کښې دے اُمت تـه دِ قتال حکم دے، یا هغوی ته خطاب وو، بیا به مونږ ته هم خطاب وی۔ لیکن ابن جریرؒ وائی چه ددے قول دپاره هیڅ وجه نشته۔ او پدے کښې عطف د مضمون د یوے جملے دے، په حاصل د مضمون د مخکنئ جملے باندے یعنی د مرګ د یرے نه بزدلی مهٔ کوئ بلکه (وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ)۔ د الله په لاره کښې قتال اُوکړئ۔

﴿فِي سَبِيلِ اللّٰهِ﴾ د سبیل الله نه مراد اعلاء د کلمة الله ده یعنی د الله د دین د ترقئ او پورته کولو دپاره جهاد اُوکړئ، څکه کافران دین ختمول غواړی، نو تاسو ورسره جنګ اُوکړئ چه د هغوی شر او رکاوټ ختم شی او دین ترقی اُوکړی۔

﴿وَاعْلَمُوا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ پدے جملـه کښې ترغیب او یره دواړه پراته دی۔ سمیع یعنی الله آوریدونکے دے هغه خبرے له چه څوك پرے ځان قلاروی او د قتال نه پاتے کیږی، او څوك جهاد تـه ترغیب ورکوی او څوك ترے منع کول کوی۔او پوهه دے په هغه خبره چه کومه زړهٔ کښې پټه ساتی۔ یا ستاسو په زړونو کښې کوم غرضونه دی چه ستاسو جهاد د دنیاوی غرض دپاره دے او که د دین دپاره۔ (فتح البیان، کبیر)۔

او پدے کښې په اخلاص او صحیح نیت باندے تیزی ورکول دی۔ (قاسمیؒ)۔

مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا
څوك دے هغه کس چه قرض ورکړی الله لره قرض ښائسته، پس دوچنده به کړی هغهٔ دهٔ لره په دوچنده کولو
كَثِيرَةً وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾
ډیرو سره، او الله تنګوی (رزق) او فراخوی ئے او خاص هغه ته به تاسو واپس کولے شئ۔

تفسیر : اُوس مینځ کښې انفاق ته ترغیب ورکوی څکه چه جهاد کښې مالونو ته ډیر ضرورت وی۔ دا بیا د جهاد سره هم لګی او د عامو اوقاتو سره هم، چه انفاق هر وخت ښهٔ کار دے۔ انفاق د مؤمن صفت دے۔

﴿مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ (مَنْ ذَا) ذَا روستـو د استفهام نه کله په خپله معنیٰ کښې استعمالیږی، پـه هغـه صورت کښې چـه مشار الیه ظاهر (خارج) کښې موجود وی۔ او کله په

معنیٰ مجازي د اشاره کښې استعمالیږي چه متکلم په ذهن کښې د يو شخص تصور اُوکړي او بيا د هغهٔ د تعيين په باره کښې تپوس کوي. معنیٰ دا وي چه داسې شخص به څوك وي چه هغه الله ته قرض ورکړي. (ابن عاشورؒ).

د قرض حسن وضاحت

(قرض) په لغت کښې قطع (پريکولو) ته وئيلې شي، او په قرض کښې هم د مال يوه برخه بل چا ته پريکولې شي. د کسائيؒ په نيز : اَلْقَرْضُ: مَا اَسْلَفْتَ مِنْ عَمَلٍ صَالِحٍ اَوْ سَيِّءٍ)

هرهغه عمل چه تهٔ ئې ځان دپاره مخکښې اُوليږې، که هغه خير وي او که شر.

او په عرف کښې قرض : [اِسْلَافُ الْمَالِ وَنَحْوِهٖ بِنِيَّةِ اِرْجَاعِ مِثْلِهٖ].

د مال وغيره ورکول ددې دپاره چه دهٔ ته ددې په شان راواپس کړې شي).

او کله استعماليږي د هغه خرچ کولو دپاره چه د هغې بدله طلب کولې شي که هغه نفس وي، بدن وي او که مال وي. او دلته همدا مراد دې. (ابن عاشور وفتح البيان)

قرضا : الله ته د قرض ورکولو معنیٰ دا ده چه نيك عمل مخکښې ليږل چه د هغې په وجه عمل کونکې د ثواب مستحق اُوګرځي. او د مال لګولو نه ئې په قرض سره تعبير اُوکړو، پدې کښې اشاره ده چه لکه څنګه د قرض واپس کول ضروري وي، او د هغې مطالبه کيدې شي، نو دغه شان الله تعالیٰ به ضرور دې انسان ته ددې مال بدله ورکوي، او دا عمل به ورله نهٔ ضائع کوي. نو پدې کښې ډير ترغيب دې چه ضرور د الله په لاره کښې انفاق اُوکړئ، دا به داسې وي لکه په الله تعالیٰ باندې قرض. (ابوالسعودؒ).

او دا ترغيب په ډيرو طريقو سره دې. (١) يو دا چه تعبير ئې په استفهام سره اُوکړو دپاره د تنبيه او ذهنونو متوجه کولو. (٢) په استفهام کښې ئې اشاره او موصول جمع کړيدي يعنی (مَنْ ذَا الَّذِيْ). نو پدې کښې د خرچ کونکي لوئی شان دې، ځکه پداسې الفاظو سره تپوس نهٔ کيږي مګر هله چه يو مقام لوئی شان او مرتبې والا وي، او د مخاطب لوئی شان وي.

(٣) دې ته ئې قرض اُووئيلو، اشاره ده چه دا به خپل مالك ته بيرته ضرور راواپس کيږي، ددې ضرور غوره بدله شته، ددې نه به لويه مرتبه بله کومه وي چه قرض طلب کونکې رب العالمين وي، کوم چه د هر شي مالك او خالق دې چه هيڅ کمې ورسره نشته.

(٤) ديته ئې حَسَن اُووئيلو، يعنی داسې قرض چه د هغې نتيجه او بدله ښائسته وي.

(٥) دارنګه ددې قرض په بدله کښې [فَيُضَاعِفَهٗ لَهٗ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً] اُووئيلو، دا بل ترغيب دې چه ددې عوض هم ډير لوئی شان لري. (زهرة التفاسير للامام الجليل ابی زهرة متوفی (١٣٩٤هـ)

قرطبیؒ وئیلی دي: پدې آیت کښې طلب د قرض د خلقو ذهن او پوهې ته د رانزدې کولو دپاره وئیلې شویدې، (ورنه الله تعالیٰ په حقیقت کښې د قرض محتاج نهٔ دې)۔ (قاسمیؒ، وقرطبیؒ)۔

﴿قَرۡضًا حَسَنًا﴾ قرض حسن دې ته وائي چه د زړهٔ په خوشحالۍ او رضا سره وي۔ بغیر د زبادولو او بغیر د اَذیٰ (ضرر) ورکولو نه وي۔

بعض وائي: مُحۡتَسِبًا۔ چه دا عمل ثواب ګڼړي، نیت ئې صحیح وي۔ ځینې وائي: ددې نه مراد د نیکۍ په لارو کښې حلال مال خرچ کول ښائسته قرض دې۔

بعض وائي: هغه چه د الله دپاره خالص وي، او ریاء او سُمۡعَة په کښې نهٔ وي۔ (فتح البیان)۔

دارنګه په صحیح ځایونو کښې وي، او د سنت مطابق وي۔ بعض وائي: دا هغه انفاق دې چه د الله تعالیٰ په لاره کښې په قتال کښې اُوشي، او بعض وائي: په خپل اهل وعیال باندې انفاق کولو ته وائي۔

لیکن امام ابن کثیرؒ لیکي: صحیح خبره دا ده چه آیت دې تولو ته عام دې، هرهغه څوك چه په خالص نیت او رشتینې عزم سره د الله په لاره کښې خرچ کوي نو پدې آیت کښې داخلیږي۔

(محاسن التاویل سورة الحدید)۔

بعض علماء فرمائي: قرض به هله حَسَن (ښائسته) ګرځي چه لس صفات پکښې راشي

(۱) ...... اَنۡ یَّکُوۡنَ مِنَ الۡحَلَالِ (چه د حلال مال نه وي)۔

(۲) ...... اَنۡ یَّکُوۡنَ مِنۡ اَکۡرَمِ مَا تَمۡلِکُهٗ دُوۡنَ اَنۡ تُنۡفِقَ الرَّدِیۡءَ) غوره مال به لګوي، نهٔ ردي مال۔

(۳) ...... اَنۡ تَصَدَّقَ بِمَا تَمۡلِکُهٗ وَاَنۡتَ تَحۡتَاجُ اِلَیۡهِ بِاَنۡ تَرۡجُو الۡحَیَاةَ)۔ (په داسې وخت کښې به مال لګوي چه تهٔ ورته په ژوند کښې محتاج کیږې) یعني د مرګ وخت به نهٔ وي۔

(٤) ...... اَنۡ تُصۡرِفَ صَدَقَتَكَ اِلَی الۡاَحۡوَجِ۔ (صدقه به ډیر محتاج انسان ته ورکوې)۔

(٥) ...... اَنۡ تَکۡتُمَ الصَّدَقَةَ مَا اَمۡکَنَكَ۔ څومره چه ممکن وي، صدقه به په پټه ورکوې۔

(٦) ...... اَنۡ لَّا تُتۡبِعَهَا مَنًّا وَّلَا اَذًی۔ زبادول او تکلیف ورکول به نهٔ ورپسې کوې۔

(۷) ...... اَنۡ تَقۡصِدَ بِهَا وَجۡهَ اللهِ وَلَا تُرَائِیَ۔ (صرف د الله مخ او رضا به پرې ستا مقصد وي، او ریاء به پکښې نهٔ کوې)۔ (۸) ...... اَنۡ تَسۡتَحۡقِرَ مَا تُعۡطِیۡ وَاِنۡ کَثُرَ۔ (کومه ورکړه چه کوې هغه که هرڅومره ډیره وي خو تهٔ به ئې کمه ګڼړې)۔ (۹) ...... اَنۡ یَّکُوۡنَ الۡمُعۡطٰی مِنۡ اَحَبِّ اَمۡوَالِكَ اِلَیۡكَ۔

(کوم مال چه تهٔ ورکوې، هغه به تا ته د تولو نه زیات محبوب وي)۔

(۱۰) ...... اَنۡ لَّا تَرٰی عِزَّ نَفۡسِكَ وَذُلَّ الۡفَقِیۡرِ، بَلۡ تَرٰی نَفۡسَكَ تَحۡتَ دَیۡنِ الۡفَقِیۡرِ۔

(د صدقې په وخت کښې به د خپل عزت، او د فقیر د ذلت خیال نهٔ راولې، بلکه دا ګمان به کوې چه د

فقير په ما باندې قرض دې او الله په ما باندې ددۀ رزق حواله کړيدې کوم ذات ئې چه ما نه قبلوی)۔
(مراح لبيد لكشف معاني القرآن المجيد لمحمد بن عمر النووي الجاوي البنتني ٢/٤٩١)

ددې تولو شرطونو دپاره په قرآن او احاديثو کښې دلائل موجود دی۔

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی: کله چه دا آيت نازل شو نو ابو الدحداح انصاري ﷺ اُوفرمايل: يارسول الله! الله تعالیٰ زمونږ نه قرض غواړی؟ نبی ﷺ اُوفرمايل: آؤ، يا ابو الدحداح! دۀ عرض اُوکړو: ما ته لاس راکړه يارسول الله! نو هغه ورته لاس ورکړو۔ دۀ عرض اُوکړو: [فَإِنِّيْ قَدْ أَقْرَضْتُ رَبِّيْ حَائِطِيْ] ما خپل باغ خپل رب ته په قرض کښې ورکړو۔(ددۀ په باغ کښې اُووه سوه کجورې وې او ام الدحداح ددۀ بی بی او ددۀ بچی په هغې کښې وو) نو ابو الدحداح راغلو، آواز ئې اُوکړو: اے ام الدحداح! هغې جواب ورکړو: دۀ اُووئيل: ددې باغ نه اُوځه دا ما خپل رب ته په قرض کښې ورکړو۔ (هغه په خوشحالئ سره راووتله) نبی ﷺ اُوفرمايل: الله ستا نه دا قرض قبول کړو۔

(په يو روايت کښې دی: هرکله چه ام الدحداح دا آواز واوريدو نو سمدست ئې د خپلو ماشومانو د خولو نه کجورې راوخکلې او د هغوی جيبونه او لستونړی ئې د کجورو نه خالی کړل۔ دې ته ايمان وائی !!)۔ (صفوة الصفوة)

بيا نبی ﷺ دغه باغ هغه يتيمانانو ته ورکړو، کوم چه د هغۀ په تربيت کښې وو۔ بيا به نبی ﷺ فرمايل: [رُبَّ عَذْقٍ لِأَبِي الدَّحْدَاحِ مُدَلًّى فِي الْجَنَّةِ] (ډير کرته د ابو الدحداح دپاره په جنت کښې د کجورو د ونو غونچکونه رازوړند شويدی)۔

(سعيد بن منصور، بزار، طبراني وغيرهم صَحَّحَهُ الْأَلْبَانِيُّ بِشَوَاهِدِهٖ فِيْ تَخْرِيْجِ مُشْكِلَةِ الْفَقْرِ رقم ١٢٠)۔

بيا دا قرض چه ورکوی نو د خپل طاقت مناسب به ئې ورکوی، داسې به نۀ کوی چه تول مال اُولګوی او بيا خپله بل ته سوال کوی۔

﴿فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً﴾ يو په اُووه سوه، يو په اُووه لاکهه او يو په اُووه کروړه به ئې ورکړی۔ ددې دوچنده کولو بيان نۀ دې شوې لکه دا خبره سُدّیؒ ذکر کړيده او پدې نۀ ذکر کولو کښې فائده دا ده چه په باب د ترغيب کښې مبهم ذکر کول د معينې اندازې ذکرکولو نه ډير قوی وی۔ (فتح)

ځکه: ﴿وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ﴾ يعنی د مال په جَمع کولو او نۀ لګولو مال نۀ ډيريږی، بلکه قبض (تنګول) او بسط (فراخول) د الله په لاس کښې دی۔

ددې وجه نه حديث کښې دی: مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ (قسم په الله په صدقه سره مال نۀ کميږی) (صحيح مسلم)۔ نو پدې جمله کښې ترغيب هم دې چه مال اُولګوئ الله به ئې فراخه کړی۔ او يره هم ده چه هسې نه چه فراخی درله په تنګئ بدله نکړی۔ (قاسمیؒ)

قتادة وائي : قبض او بسط صدقې ته راجع دي يعني الله د چا صدقه اخلي (قبلوي) او د هغې فراخه بدله ورکوي. بعض وائي : دا زړونو ته راجع دي. الله بعض زړونه د صدقې کولو نه تنګوي، چه په طاعت او د خير په کارونو کښې په انفاق باندې قادر نه وي، او بعض زړونه فراخوي چه په انفاق باندې قادر وي. او ددې تائيد په هغه حديث د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ کښې دې چه نبي ﷺ فرمائي : «زړونه د بندګانو د رحمن ذات د دوارو ګوتو ترمينځ دي، لکه د يو زړۀ په شان، کوم طرف ته چه الله غواړي هغه اړوي». الحديث.

(صحيح مسلم). (فتح البيان، ابن عاشورؒ)

﴿ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴾ يعني الله ته به ورګرځولې شئ په قيامت کښې، نو هغه به بدله درکوي. او پدې جمله کښې دا تنبيه پرته ده، چه په آخرت کښې د انفاق کوم خيرونه او بدلې دي، هغه د دنيا د فائدو نه ډيرې زياتې دي. او پدې کښې تعريض دې چه بخيل انسان د ډير خير نه محروم دې.

(ابن عاشورؒ).

أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ مِنْ بَعْدِ مُوْسٰى إِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ
آيا تۀ نۀ ګورې يوې ډلې ته د بني اسرائيلو نه روستو د موسیٰ ﷺ نه کله چه دوی اُووئيل نبي خپل ته
ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ
مقرر کړه مونږ له يو بادشاه چه جنګ اُوکړو په لاره د الله کښې هغه اُووئيل : يقيناً تاسو نزدې يئ
إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوْا قَالُوْا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ
که فرض کړې شي په تاسو جنګ چه جنګ به اُونکړئ، دوی اُووئيل : څۀ وجه ده مونږ له چه جنګ به نۀ کوو
فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَآئِنَا
په لاره د الله کښې حال دا چه مونږ ويستلې شوي يو د کورونو خپلو او ځامنو خپلو نه
فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٤٦﴾
نو هرکله چه فرض شو په دوی باندې جنګ دوی اُوګرځيدل مګر لږ کسان د دوی نه او الله پوهه دې په ظالمانو باندې.

تفسير : پدې کښې د بني اسرائيلو دويمه واقعه بيانوي، پدې کښې په ترک د جهاد يره ورکوي، چه د کموالي د نفرئ په وجه به جنګ کښې سستي نۀ کوئ لکه څنګه چه دې بني اسرائيلو

کړے وه. ورنه بیا به ذلیل او رسوا شي او ظالمان به دریاندے مسلط شي.
﴿مِنْ بَعْدِ مُوْسٰى﴾ دا واقعه د مخکنئ واقعے نه روستو راغلے وه، او دا د هغه خلقو اولاد وو کوم چه الله دوباره راژوندي کړي وو. او دا د موسى عليه السلام د وفات نه تقريباً درے سوه کاله روستو راغلي وو. ځینې مفسرين وائي چه دا واقعه د مسيح عليه السلام نه تقريباً يو زر کاله مخکښ راپيښه شوے وه. او په دے کښ يو قسم اشاره ده چه دوی په زمانه د موسىٰ عليه السلام کښ د هغه په ملګرتيا کښ قتال نهٔ کولو، او دا ئے ورته وئيل چه ﴿اِذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ﴾ تهٔ او ستا رب ډیے جنګ اُوکړی، مونږ به دلته ناست يو)
حال دا چه د هغه په زمانه کښ د دوی سره د مدد کیدو ډیر اُمید وو، لیکن دوی موقعه ضائعه کړه، نو پدے کښ د مسلمانانو يرول مقصد دے چه د خپل رسول سره اختلاف اُونکړی او په اول آواز سره د الله په لاره کښ جنګ ته تيار شي. (ابن عاشورؒ).
﴿اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ﴾ لِنَبِيِّهِمْ ئے اُونهٔ وئيلو، وجه دا ده چه په اضافت کښ تعيين وي او د قرآن مخاطبينو ته دا نبي معلوم نهٔ وو، دويم دا چه د نبي د نوم معلومولو نه بغير هم د واقعے نه عبرت اخستلے کيږي، هر نبي چه وي خو د هغهٔ مخالفت کول سبب د ذلت دے. (ابن عاشورؒ) او دا نبي شموئيل يا صموئيل عليه السلام وو.

د واقعے تفصيل

مفسرين د تاريخ والو نه نقل کوی چه په بني اسرائيلو کښ دوه دَورونه راروان وو، يو ته ئے عَصْرُ الْقُضَاة وئيلو (د قاضيانو دوران) يعنې د بني اسرائيلو د هرے ډلے به جدا جدا حاکم وو چه هغه به دوی له فيصلے کولے، برابره ده که هغه به نبي وو او که غير نبي.
کله چه موسىٰ عليه السلام د عيسوی سنے نه (۱۳۸۰) کاله مخکښ وفات شو، نو د خپل ځان نه روستو ئے يوشع بن نون پريخودو چه هغه ته ئے دا وصيت کړے وو چه تهٔ به زما خليفه ئے، نو کله چه مشري د بني اسرائيلو يوشع ته رانقل شوه، هغه د بني اسرائيلو ډلو دپاره جدا جدا حاکمان مقرر کړل چه هغوی به د دوی مشري او فيصلے کولے.
دے ته ئے د قُضَاة (قاضيانو) نوم ورکړو، نو دوی به په مختلفو ښارونو کښ اُوسيدل او په دغه حاکمانو کښ به انبياء عليهم السلام او غير انبياء وو. او تردے واقعے پورے دا دَور چليدو. نو د دوی د حاکمانو او انبياؤ نه يو نبي صمويل بن القانة (چه دهٔ ته په عربي کښ شمويل وئيلے شي) (د ابوعبيدهؒ نه نقل دي چه دا شمويل بن حنة بن العاقر دے او پدے باندے د اکثرو قول دے) ...... روح المعاني (۲/۱٦٤)
دا د ټولو بني اسرائيلو قاضي وو او هغوی ته ډير محبوب وو، کله چه دا بوډا شو او بدن ئے

كمزورے شو، نو د بني اسرائيلو او د دوى د دشمنانو فلسطينيانو چه عمالقه وو او مشرئے مشهور بادشاه جالوت وو، ترمينځ جنګونه شروع شو، آخر دا چه جالوتيان په دوى غالب راغلل، او دوى نه ئے ډير كلي اُونيول، او ځامن ئے ورله قيديان كړل (تقريباً څلور سوه څلويښت هلكان ئے ورله غلامان كړى وو) تردے چه د دوى نه ئے تابوت هم يوړو، د كوم تذكره چه روستو راځى۔ او په (اشدود) علاقه كښ ئے ځو مياشتے ساتلے وو۔

او ددے سبب دا وو چه دوى د موسىٰ عليه السلام شريعت نه اوړيدلى وو، او د الله نه سِوىٰ د نورو آلهو عبادت ئے شروع كړے وو، نو د دوى ديني رابطه ضعيفه شوے وه، نو الله پرے فلسطينيان مسلط كړل چه د دوى وينے ئے توئے كړے، نو دوى سخت كمزورى شو، او تقريباً ديرش زره جنګيان ئے د دوى نه قتل كړل۔ او كله ئے چه د دوى نه تابوت قبضه كړو، نو د دوى زړونه نوړ هم ډير زيات مات شو، نو همت ئے نشو كولے چه هغه بيرته راواپس كړى او تردے دَور پورے د دوى ملوك (بادشاهان) نهٔ وو مقرر۔ (تفسير المنار)

نو بني اسرائيلو دا ګمان اُوكړو چه ددے شكست سبب دا دے چه صموئيل زمونږ د كارونو پوره انتظام اُونكړے شو، او د فلسطينيانو د قتال نظام چلونكے مَلِك (بادشاه) مضبوط وو، پدے وجه هغوى غالب شول۔ نو بني اسرائيل راجمع شو او د هر ښار نه ئے مشران راوليږل او د صمويل نه ئے مطالبه اُوكړه چه مونږ له يو بادشاه (يعني امير د قتال) مقرر كړه چه د هغه په قيادت كښ مونږ د الله په لار كښ قتال اُوكړو۔ نو هغه ددے كار نه روستو شو، او دوى ئے د بادشاهانو د حكمونو د انجام نه اُويرول۔ او دا ئے ورته اُووئيل چه قتال او جهاد مهٔ غواړئ، كه فرض شى بيا به ئے نهٔ شئ كولے۔ آخر دا چه قتال پرے فرض شو، او دا د عيسىٰ عليه السلام نه مخكښ د يولسمے پيړئ په اوائلو كښ وو۔ نو د هغه وخت نه د بني اسرائيلو عَصْرُ الْمُلُوك (د باشاهانو دَور) شروع شو۔ التنوير لابن عاشور (٤٦٦/١)

د دوى نبي ته د دوى حال معلوم وو۔ د دوى ګنا هونه ئے ليدل چه ښكاره به ئے؟ نه لارو كښ زنا ګانے كولے، نو الله په كښ بزدلي راوستے وه۔ (بغوىؒ) پدے وجه ئے د جنګ طلب كولونه منع كړل، نو دوى اُووئيل : ولے به ئے نهٔ كوو۔ د الله د دين دپاره خلق محنت كوى، او حال دا دے چه سبب د جنګ هم موجود دے چه بچى او كورونه زمونږ نه دے ظالمانو اخستى دى، خپل كور او بچو دپاره هم خلق ځان وژنى۔ او مانع نهٔ دے موجود۔ دا غيرت ئے ځان ته راواچوو، او هسے د خولے شهوت ئے پوره كړو، نو الله ورته اُوفرمايل : بس ټيك ده، فرض شو۔ خو چه هركله فرض شو، نو ټول اُوتختيدل، صرف درے سوه ديارلس كسان پاتے شو۔ هغوى له الله تعالىٰ فتح وركړه

او باقي كسان په امتحان كښې ناكام شو.

اول نـه پـه دې كـښې ناكام شو چه مشرئې غوختو خو چه كله هغه مقرر كړې شو، نو دوى پرې اعتـراضـونـه شروع كړل، بيا چه په ډيره مجبورتيا سره ئې مشر اُومنلو، نو بيا پرې هغهٔ امتحان اُوكـړو چـه لاره كـښې نهر رار وان دې، دې نه به اُوبه نهٔ سكئ. دوى اُووئيل : ولې به ئې نهٔ سكو ؟ په دې كـښې ستـا څـهٔ غـرض دې. نـو هغـه اُوبـه ئې اُوسـكلې، بيـا ئې جنگ نشو كولې، خيتې ئې اُوپړسيـدلې. هر وخت كښې د دوى دا چل وو چه نهٔ شو كولې. او نهٔ ئې منو. دا د بني اسرائيلو حال وو. او پدې هره جمله كښې ددې اُمت د مسلمانانو دپاره سبق پروت دې.

﴿ اِبۡعَثۡ لَنَا مَلِكًا ﴾ بَـعۡـث پـه مـعنىٰ د مقررولو سره دې. په هغه زمانه كښې به قومندان (جنگى مشر) بادشاه وو، او دا به جدا وو او د نبوت بيانونكې به جدا وو.

﴿ قَالَ هَلۡ عَسَيۡتُمۡ ﴾ هَـلۡ پـه معنىٰ د قَدۡ دې، او عَسَيۡتُمۡ په معنىٰ د قَرُبۡتُمۡ دې. يـعـنى يقيناً تاسو نزدې يئ).

﴿ اَنۡ لَّا تُـقَـاتِلُوۡا ﴾ دا د عَسَيۡـتُـمۡ دپـاره خبـر دې، او د اِنۡ كُتِـبَ دپـاره جزاء ده، پـه طريقـه د تنازع سره. يعنى نزدې يئ چه جنگ به اُونكړئ او كه جنگ فرض شي نو قتال به اُونكړئ.

﴿ وَمَا لَنَاۤ اَلَّا نُقَاتِلَ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَقَدۡ اُخۡرِجۡنَا مِنۡ دِيَارِنَا وَاَبۡنَآئِنَا ﴾

يـعـنـى سبـب د قـتـال مـوجـود دې او مـانـع نشتـه، نو جهاد ولې نهٔ فرض كيږى؟ انسانى غيرت تـقـاضـا كـوى چـه داسې قـسـم دشـمنانو سره قتال اُوكړې شي. او پدې جمله كښې د مشركانو په جنگ باندې مهاجرين مسلمانان راپارول دى چه هغوى دوى لره د مكې نه ويستلي وو او دوى ئې د خپـلـو بيبيـانـو او خـامـنـو نه جدا كړي وو. لكه الله فرمائى : ﴿ وَمَا لَـكُـمۡ لَا تُقَاتِلُوۡنَ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَالۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالۡوِلۡدَانِ ﴾ النساء : ۷۵).

﴿ فَـلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ الۡقِتَالُ تَوَلَّوۡا ﴾ يـعـنـى كله چه قتال فرض شو نو دوى واوړيدل د دشمنانو ډير والې او دبدبه ئې اُوليدله. دارنگه نيتونه او عزيمتونه ئې د گناهونو د وجې نه كمزوري وو.

دا تـجـربـه ده چـه كـوم كسان د انقلاب او د جهاد هسې نعرې وهى، هغوى اكثر په امتحان كښې پاتې راځـى. او گناهونه سبب د بزدلئ دې. او دا ددې قصې خلاصه ده چه پدې كښې عبرت پروت دې. چه اې ايمان والو! تاسو كښې د بني اسرائيلو په شان بزدلي رانشي. او روستو ئې تفصيل بيانيږى.

﴿ اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡهُمۡ ﴾ د دوى شـمـار په صحيح حديث سره (۳۱۳) كسان خودلې شويدى، په اندازه د بدريانو صحابه كرامو.

﴿ وَاللّٰهُ عَلِيۡـمٌۢ بِالظّٰلِمِيۡنَ ﴾ پـدې كـښې وعيـد دې دوى تـه د دوى پـه ظلم چـه د فرض جهاد نـه

اُوتختيدل، او د الله نافرماني ئے اُوكړه او ذليله شو۔

فوائد الآية : ۱- جهاد واجب دے ځکه چه الله تعالىٰ دا قصه ددے دپاره بيان كړيده چه اُمتِ مسلمه يروى چه د بنى اسرائيلو په شان طريقه اختيار نكړى۔

۲- په جهاد كښ امير مقررول ضرورى دى، دے دپاره چه د كارونو انتظام اُوكړى ځكه چه امير نهٔ وى، نو ټول كارونه بے نظمه اوبے ترتيبه وى۔ په هره سريه باندے رسول الله ﷺ امير مقرر كړيدے۔

۳- په جنګى او سياسى كارونو كښ د امير طاعت لازم دے۔

٤- امام حاكمؒ فرمائى : دا دليل دے چه انبياؤ عليهم السلام (او مشرانو) له پكار دى چه د خلقو نه مضبوط لوظونه واخلى او خبره پرے مضبوطه كړى (هَلْ عَسَيْتُمْ)۔ (قاسمیؒ)

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوٓا أَنَّىٰ يَكُونُ
اُووئيل دوى ته نبى د دوى يقيناً الله مقرر كړے دے ستاسو دپاره طالوت بادشاه، دوى اُووئيل څرنګه به وى
لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ
دهٔ دپاره بادشاهى په مونږ باندے او حال دا چه مونږ ډير لائق يو په بادشاهئ سره دهٔ نه او نه دهٔ وركړے شوے
سَعَةً مِّنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً
دهٔ ته فراخى د مال اُووئيل هغه يقيناً الله غوره كړے دے دهٔ لره په تاسو باندے او زياتى كړے دهٔ لره فراخى
فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَن يَشَآءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۲٤۷﴾
په علم او جسم كښ او الله وركوى بادشاهى خپله چا له چه اُوغواړى او الله فراخه فضل والا، ډير پوهه دے۔

تفسير : ددے آيت نه اُوس تفصيل ددے قصے بيانوى يعنى الله د دوى نبى ته وحى اُوكړه چه په دوى باندے يو سرے مَلِك (بادشاه) مقرر كړه چه نوم ئے طالوت وو۔ او دا شخص د بدن په لحاظ ډير قوى وو، او اُوچت قد والا وو، ددے وجه نه ورته طالوت وئيلے شى۔ دا ئے لقب وو، په خپل قوم كښ هم پدے مشهور وو، او تورات كښ ددهٔ نوم شاول بن قيس ذكر كيږى۔ لكه په سفر د صموئيل اصحاح (۹) كښ راغلى دى :

((كله چه بنى اسرائيلو خپل سوال مضبوط كړو نو صموئيل مونځ اُوكړو نو الله ورته وحى اُوكړه چه دوى څهٔ غواړى هغه ورله اُومنه ...... بيا ئے دهٔ ته وحى اُوكړه چه فلانى صفاتو والا شخص دوى

دپاره معين كړه نو ددهٔ سره يو سړے چه د بنيامين په اولادو كښ وو، نوم ئے شاول بن قيس وو، ملاؤ شو، نو صموئيل په دهٔ كښ هغه صفات موندهٔ كړل، چه دا په ټول قوم كښ اُوړد وو، نو صموئيل ددهٔ په سر تيل واړول او خكل ئے كړو او د ټولو بنى اسرائيلو مخامخ ئے د هغوى دپاره بادشاه مقرر كړو»۔
او دا كار د عيسىٰ ﷺ نه مخكښ په سنه (۱۰۹۵) كښ شوے وو۔ (ابن عاشورؒ)۔
﴿اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا﴾ پدے كښ ډير تاكيد دے چه نسبت ئے الله تعالىٰ ته اُوكړو، او (اِنَّ) كلمه ئے د تاكيد دپاره راوړه، او قَدْ ئے د تاكيد دپاره راوړو چه دا زما د طرف نه مقرر نهٔ دے بلكه د الله د طرف نه مقرر دے۔
﴿قَالُوْا اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ﴾ اَنّٰى په معنىٰ د كَيْفَ سره د تعجب دپاره استعمال شويدے۔ يعنى دوى په هغه باندے درے قسمه اعتراضونه اُوكړل، يو دا چه ددهٔ په مونږ باندے بادشاهى كول ډير ناشنا دى۔ دا د بادشاهئ حقدار نشى كيدے، ځكه چه دا د بادشاهى خاندان نه نهٔ دے۔ ځكه چه بنى اسرائيلو كښ دوه خاندانونه راروان وو، يو ته به ئے د نبوت كورنئ وئيله، او بل د مملكة او د بادشاهئ كورنئ وه، د نبوت خاندان او كورنئ د لاوى بن يعقوب په اولادو كښ چليدهٔ، او ددے نه موسىٰ او هارون عليهما السلام وو، او ملوكية د يهوذا بن يعقوب په اولادو كښ چليدهٔ، او ددے نه داود او سليمان عليهما السلام وو، او طالوت ددے دواړو نه نهٔ وو، بلكه هغه د بنيامين بن يعقوب ﷺ د اولادو نه وو، ددے وجه نه ئے ددهٔ د بادشاهئ نه انكار اُوكړو۔
دويم دا چه ﴿وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ﴾ مونږ ددهٔ نه په بادشاهئ ډير لائق وو، نو دوى په الله اعتراض اُوكړو چه الله زيات حقدار او غوره شخص ته حق نهٔ دے وركړے، او په خپل ځان ئے فخر اُوكړو، او د ځان تزكيه ئے اُوكړه، او دا د مخكښ نه لوئى اعتراض دے۔
علامه حرالىؒ فرمائى : پدے اعتراض كښ د ابليس د فخر نه يوه برخه راغله چه هغه هم د آدم ﷺ د سجدے نه انكار كولو سره اُووئيل : (اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ) (زهٔ د آدم نه غوره يم)۔ (قاسمىؒ)
دريم اعتراض دا دے چه ﴿وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ﴾ دے غريب هم دے۔ يعنى مال ورسره نشته، او بادشاهى بغير د مال نه نهٔ چليږى۔ علامه حرالىؒ وائى : دا د دوى دپاره ډيره لويه فتنه شوه چه د مال نه بغير بادشاهى نهٔ قائميږى، حال دا چه بادشاهى خو د الله په وركړه سره ده، نهٔ په مال سره نو د دوى پدے وينا كښ جهالت او شرك پروت دے۔ آه۔
نو دوى د نص (د پيغمبر د خبرے) په مقابله كښ قياسونه شروع كړل۔ پيغمبر يوه خبره كوى، او دوى وائى نهٔ، داسے نهٔ ده، دا د اهل بدعو طريقه هم ده، او شيعه ګان هم په ابوبكر صديق ﷺ

باندے داسے قسم اعتراض کوی چه دا د خلافت لائق نهٔ وو۔ غلط وائی۔
(د نص په مقابله کښ اول قیاس ابلیس کړے، بیا بنی اسرئیلو بیا اهل بدعو)۔ (الحلیه۳)
﴿ قَالَ إِنَّ اللهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ﴾
نبی د دوی خبره رد کړه چه دوی اُووئیل ددهٔ نسب کمزورے دے او فقیر دے نو نبی پرے اول رد دا اُوکړو چه اصل خبره د الله غوره والے دے، او الله تعالیٰ طالوت لره په تاسو باندے غوره کړیدے، او هغه ستاسو نه په مصلحتونو ښهٔ پوهه دے۔ نو ستاسو دا خبره غلطه ده چه مونږ ډیر حقدار یو۔ دویم دا چه په امیر کښ اصلی صفت زیات علم دے، دے دپاره چه سیاسی کارونه په ښهٔ شان اُوچلوی، او د بدن قوت دے چه د خلقو په زړونوکښ د هغه نه خطر او هیبت پیدا شی، او د دشمنانو په مقابله کښ مقاومت اُوکړی او جنګونه برداشت کړے شی، او الله تعالیٰ طالوت ته ددے دوارو صفتونو نه پوره برخه ورکړیده۔ (تفسیر ابی السعود ۳۰۱/۱)
نو دا د هغوی په دریمه خبره رد شو چه (وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ) ددهٔ سره مال نشته۔ ولے ډیر کرته یو بادشاه سره مال وی، لیکن په رعیت ئے نهٔ خرچ کوی، نو رعیت ته هیڅ فائده نهٔ رسی، او اصل مالداری خو د نفس مالداری ده۔ ددے وجه نه په خلیفه کښ دا شرط نشته چه مالدار به وی، او علم او روغوالے پکښ شرط دے۔ او د اُمت مالداری خو په بیت المال سره راځی۔
﴿ الْعِلْمِ ﴾ د علم نه مراد دا دے چه په جنګی کارونو، او سیاسی تدابیرو، او د رعیت په تربیت باندے ښهٔ پوهه دے۔ او بَسْطَةً کښ ډیر زیات علم ته اشاره ده ۔
﴿ وَالْجِسْمِ ﴾ د جسم نه مراد دا چه ظاهری بدن ئے هم ډیر قوی دے، چه په کافرانو رعب اچوی، او په جنګونو صبر کونکے او مضبوط وی، او دارنګه د جسم سره همت ئے هم قوی دے۔ نو ددے نه مراد (كَثْرَةُ مَعَانِي الْخَيْرِ) دی، یعنی د خیر صفات پکښ زیات دی، بهادری پکښ موجوده ده۔
(ابن کثیر والقرطبی وغیرهما)۔
او دا صفات په خلفائے راشدینو او معاویه رضی الله عنهم او ټولو باقی خلفاؤ کښ موجود وو۔ او دا طریقه ده چه الله تعالیٰ چه د دین کار توفیق چا ته ورکوی، نو ورسره ذهن هم ورکړی او بدن هم ورکړی چه صحت ئے خراب وی، نو هم د دین کار نهٔ شی کولے، او چه عِلم ورسره نهٔ وی، نو هم د دین کار نهٔ شی کولے۔ او دا خبره غالبی ده۔ ځکه چه الله د چا نه د دین کار اخستے دے، نو د هغوی صحتونه روغ وو۔ او ښهٔ ذهنونه ورله الله ورکړی وو۔ (کما فی بدائع التفسیر)
﴿ وَاللهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ ﴾ دا هم د هغه نبی په وینا کښ داخل دے۔ یعنی په دنیا کښ بادشاهی ورکول بغیر د میراث او بغیر د مال نه دی۔ ځکه چه بادشاهی ورکول د الله په اختیار کښ دی۔ د

هغې دپاره هيڅ شرط نشته۔

﴿وَاللّٰهُ وَاسِعٌ﴾ يعنى فراخه ذات دے، فقير له فراخي وركوى او مالداره كوى ئے۔

﴿عَلِيْمٌ﴾ پو هه دے په لائق د بادشاهئ باندے۔

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَّأْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ
او اُووئيل دوى ته نبى د دوى يقيناً نخه د بادشاهئ ددهٔ دا ده چه رابه شى تاسوته صندوق چه په هغے کښ به
سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ مُوْسٰى وَآلُ
آرام وى د طرفه د رب ستاسو نه او باقى مانده څيزونه به وى د هغه څهٔ نه چه پريخى دى آل د موسىٰ او آل د
هَارُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلآئِكَةُ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾
هارون (عليهما السلام) چه راپورته كړى به وى ملائكو يقيناً په دے كښ خامخا نخه ده ستاسو دپاره كه چرته تاسو مؤمنان يئ۔

تفسير: پدے کښ اُوس د طالوت په بادشاهئ يوه علامه ذکر کوى، او ددهٔ په بادشاهئ کښ فوائد او حکمتونه بيانوى، دے دپاره چه دوى ددهٔ بادشاهى منلو ته تيار شى۔ يوه فائده دا ده چه ددهٔ په وجه به الله تاسو ته تورات راواپس كړى، او دا تورات به په تابوت کښ ملائك راوړى، او ددهٔ كور كښ به ئے كيدى، او بغير د جنگ نه داسے تابوت راتلل ضرور معجزه ده، او د طالوت د صحيح مشر كيدو نخه ده، او دا تابوت ئے ورته څكه راياد كړو چه دوى به كله جنگ كولو، نو څهٔ كسانو به دا تابوت پورته كړے وو، او د لښكر نه مخكښ به روان وو، نو ددے په وجه به د دوى سره مدد كيدو او هغه د دوى نه عمالقهٔ نيولے وو، او د دوى نه ډيره زمانه جدا شوے وو، نو د هغې فضائل ئے ورته راياد كړل، دے دپاره چه د طالوت اِمارت ته تابع شى۔ (نظم الدرر للبقاعیؒ)۔

﴿وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ﴾ نبى دوى ته په طور د نعمت سره خپله دا نخه بيان كړه، لكه دا خبره د ظاهر د آيت نه ښكاره كيږى، او ابن عطيهٔ په المحرر الوجيز كښ همدا قول غوره كړيدے۔ يا دوى يوه نخه ددهٔ په اِمارت باندے غوختلے وه، نو د هغې په جواب كښ دا نخه اُوخودلے شوه۔ لكه دا قول ابن جريرؒ غوره كړيدے۔ او د بنى اسرائيلو بد اخلاقو ته ئے كتلى دى چه تعنت والا او كارهٔ خلق وو۔ (المحرر الوجيز)

﴿اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ﴾ تابوت اُوږدے صندوقچے او بكسے ته وئيلے شى او دا په بنى اسرائيلو كښ مشهور وو چه پدے كښ د موسىٰ عليه السلام د تورات اصلى تختى پرتے وے، او دے ته به ئے تابوت

الشهادة وئیلو۔ چه ددے په وجه به د بنی اسرائیلو سره مدد کیدے شو۔ (ابن عاشور والبحر المحیط)۔
دارنګه د قبلے په ځائے به ئے استعمالوله کما فی تدبر القرآن۔

د سکینة معانی

﴿فِيهِ سَكِينَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ﴾ یعنی پدے تابوت او په راتلو د تابوت کښ ستاسو د رب د طرف نه ستاسو د زړونو آرام او اطمینان دے، ځکه چه پدے کښ د الله تعالیٰ د کتاب تحے وے او دا معجزه وه چه د بنی اسرائیلو زړونه پرے قوی کیدل۔ سکینه د سکون نه دے په معنیٰ د آرام، وقار او اطمینان سره۔ او په حدیث د براء بن عازب رضی الله عنه کښ سکینه هغه ملائکو ته وئیلے شویده چه د وریځے په شکل د آسمان نه د یو سړی د تلاوت آوریدو دپاره راکوز شوی وو، نبی ﷺ ورته اُوفرمایل : [تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ لِلْقُرْآنِ] (دا د آرام ملائك وو چه د قرآن آوریدو دپاره راکوز شوی وو) نو دلته د سکینة نه مراد د آرام والا ملائك هم مراد کیدے شی چه د خلقو په زړونو کښ اطمینان اچوی۔ نو (فِيهِ) کلمه به په معنیٰ د (عِنْدَهُ) سره وی۔ یعنی ددے تابوت سره به د آرام ملائك وی۔ او همدا معانی په سکینه کښ راجحے دی۔ او د لغت موافقے دی۔
د یهودو نه د سکینه په مصداق کښ ډیر متناقض او ګډوډ اقوال نقل دی، چا پکښ وئیلی دی چه دا یو حیوان وو د پیشو په اندازه، دوه سترګے ئے لرلے، چه پړقیدلے به، او کله چه به د دوی د دشمنانو سره جنګ راتلو، نو دے به لاسونه راویستل او دشمنانو ته به ئے اُوکتل، نو هغوی ته به ئے په رعب سره شکست ورکړو۔
بعض وائی دا ګکه وګه هواء وه چه دوه سرونه ئے لرل او د انسان په شان مخ ئے لرلو۔
بعض وائی داسے شے وو چه د پیشو په شان سر او مخ ئے لرلو۔ بعض وائی : د سرو زرو کاسه وه چه پدے سره به د انبیاؤ زړونه وینځلے شو او په هغے کښ الواح اچولے شوی وو۔
دا د اُوچتو علماؤ نه نقل دی لیکن د یهودو په لاره رارسیدلی دی، او په مسلمانانو پورے خندنئ دی۔ پدے وجه یے اعتماده خبرے دی، لکه دا خبره علامه شوکانیؒ په فتح القدیر کښ او صدیق حسن خان بوفالیؒ په فتح البیان کښ ذکر کړیده۔

د بقیة معانی

﴿وَبَقِيَّةٌ﴾ بقیة په اصل کښ هغه شی ته وائی چه د یو شی د زیاتے حصے نه لږه څه حصه پاتے شی او کله عُمده (ښکلے) او نفیس او غوره شی ته هم وئیلے شی۔
او ددے په مصداق کښ ډیر اقوال دی (۱) دا د موسیٰ علیه السلام آمسا وه او د موسیٰ او هارون علیهما

السلام جامے وے۔ (۲) د تورات د تختو بعض آثار وو۔ (ابن عباسؓ)۔
(۳) د موسیٰ او هارون علیهما السلام دواړو امساګانے او د تورات څۀ حصه وه۔
(٤) تورات او علم۔ (مجاهدؒ او عطاءؒ)۔ (۵) يا د موسیٰ ﷺ امسا او څپلۍ وے، او د هارون ﷺ امسا او پټکے وو، او يو قفيز د ترنجبين وو۔ ابن عطيةؒ وائی: صحيح دا ده چه تابوت کښې د انبياؤ د باقيات او آثارو نه غوره غوره څيزونه وو۔ چه نفسونو به په هغے سره سکون حاصلولو، او قوی کيدل به۔ (فتح البيان ۷۳/۲)
صاحب د اللباب وئيلی دی چه د بقيه نه مراد د موسیٰ او هارون عليهما السلام دين او شريعت دے يعنی په دغه تابوت کښې د الله کتاب (تورات) وو، او د بنی اسرائيلو د پيغمبرانو احاديث وو، او دا دواړه د زړونو د اطمينان سبب دے، او پدے کښې آيات الهيه هم شته او دا سبب د برکت هم دے چه د طالوت په وجه سره دوی ته واپس راغلل۔ (احسن)۔
﴿مِمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ﴾ په آل کښې مضاف او مضاف اليه دواړه په حکم کښې داخل وی، نو دلته د آل موسیٰ نه خپله موسیٰ ﷺ مراد دے او د آل هارون نه هارون ﷺ او د هغۀ اولاد پيغمبران مراد دی ځکه چه د موسیٰ ﷺ نه اولاد نۀ دی پاتے شوی، او که د آل نه مراد تابعدار واخستے شی، نو بيا آل په خپله معنیٰ په دواړو ځايونو کښې صحيح دے۔
﴿تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ﴾ يعنی ملائك به ئے راپورته کړی، او د طالوت په کور کښې به ئے کيدی۔ ددے په راوړو کښې د بنی اسرائيلو په تاريخ کښې ډيرے قصے مشهورے دی ليکن هغه نۀ دی ثابتے۔
(التسهيل لعلوم التنزيل ۱۳۰/۱)۔
بعضو ليکلی دی چه ددے تابوت په وجه په عمالقه ؤ کښې مرضونه راپيدا شو، نو هغوی دا تابوت بيرته بنی اسرائيلو ته راواپس کړو، او د دوه غواګانو دپاسه ئے اُوترلو، او غواګانے ئے بنی اسرائيلو طرف ته راپريخودلے، چه هغه ملائکو راروانے کړے او سيده ئے بنی اسرائيلو ته راوستے۔ لکه دا خبره د تورات د الفاظو نه معلوميږی۔
ليکن قرآنی الفاظ ددے مخالف دی۔ ځکه چه د تورات نه دا معلومه ده چه دا عمالقه ؤ د مخکښې نه راليږلے وو، او قرآن وائی چه دا د طالوت د اِمارت د صحت نخه وه۔ قرآن وائی چه ملائکو راپورته کړے وو، او تورات وائی چه دا غواګانو پورته کړے وو۔
(انظر تدبر قرآن وغيره)
ددے نه معلوميږی چه تورات کښې پدے قصه کښې تحريف شويدے۔ يا بعض عبارات پاتے شويدی او تقديم او تأخير دے۔ يا اختصار او تفصيل دے۔

﴿ اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴾ ذلك کښې د تابوت راتللو ته اشاره ده۔ یعنی دا راتلل د تابوت پوره نخه ده ستاسو دپاره چه طالوت د الله د طرف نه امیر دے۔ که د الله په آیتونو او انبیاؤ ایمان لرئ۔ نو دا اُومنئ۔

د انبیاء علیهم السلام په آثارو تبرکات نیول

د انبیاء کرامو علیهم السلام د بدن سره لګیدلی څیزونه، اجزاء وغیره سره برکت حاصلول جائز دی او ددے نه شرك نۀ لازمیږی لکه صحابه کرامؓ به د نبی کریم ﷺ د اَوداسه استعمال شوے اُوبو سره، دارنګه د هغه د ویښتو سره برکت حاصلولو۔ هغے کښې به ئے اُوبه واچولے او بیا به ئے مریضانو ته ورکولے، نو په هغے کښې به الله شفاء اچوله۔ او دا قسم احادیث په بخاری او مسلم وغیره کتابونو د حدیث کښې ډیر زیات راغلی دی۔ لهذا دا په نص سره ثابت دی۔

لیکن دا خبره یاد ساتل پکار دی چه پدے باندے د انبیاء کرامو نه سِویٰ نور هیڅ اولیاء نۀ قیاس کیږی، دا صرف د انبیاؤ علیهم السلام خصوصیات دی ځکه چه د ابوبکرؓ، عمرؓ، عثمانؓ او علی وغیره صحابه کرامؓ نه بل څوك غټ اولیاء کیدے شی؟ او د هغوی نه یو تن هم د یو بل د آثارو سره دا کار نۀ دے کړے او نۀ روستنو صحابه کرامؓ د مشرانو سره او نۀ امامانو د دین دا کار کړیدے۔ ځکه چه هغوی ته معلومه وه چه دا خصوصیت د انبیاؤ وی لهذا پدے باندے نور خلق قیاس کول غلط دی۔

بله دا چه نن صبا زمانه کښې خو انبیاء نشته او د نبی کریم ﷺ د ویښتو یا پټکی یا جامو په باره کښې بعض خلق دعویٰ کوی او هر ملك کښې په عجائب ګهرو کښې دغه څیزونه کیخودلے شویدی، چه دا د نبی کریم ﷺ نه پاتے څیزونه دی۔

لیکن ددے په باره کښې هیڅ صحیح سند نشته، بلکه اکثرو خلقو د خپل بازار ګرمولو دپاره دا کار اختیار کړیدے۔ لهذا پدے دور کښې په آثارو د انبیاؤ باندے هیڅ قسم عمل نشی کیدے، ځکه چه هغه آثار اُوس باقی نۀ دی پاتی۔ هان که په صحیح سند سره ثابت شو نو بیا ئے منل پکار دی۔ والله اعلم۔

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوۡتُ بِالۡجُنُوۡدِ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبۡتَلِیۡكُمۡ
هرکله چه جدا شو طالوت (د خپل ښار نه) سره د لښکرو، وے وئیل یقیناً الله امتحان کوی په تاسو باندے
بِنَهَرٍ فَمَنۡ شَرِبَ مِنۡهُ فَلَیۡسَ مِنِّیۡ وَمَنۡ لَّمۡ یَطۡعَمۡهُ
په یو نهر سره پس هغه څوك چه څکل اُوکړی ددے نه نو دے به نۀ وی زما د تابعدرو نه او چا چه اُونۀ څکلے ددے نه

فَإِنَّهُ مِنِّىٓ إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهٖ فَشَرِبُوْا مِنْهُ
نو يقيناً دا به وى زما نه مګر هغه څوك چه ډك كړى يو چونګ په لاس خپل سره نو اُوڅكلے دوى د هغے نه
إِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا مَعَهٗ
مګر لږو كسانو د دوى نه (اُونهٔ څكلے) نو هركله چه تير شو هغه د نهر نه او هغه كسان چه ددهٔ سره وو
قَالُوْا لَاطَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالَ
اُووئيل دوى نشته دے طاقت مونږ له نن ورځ په مقابله د جالوت او د لښكرو د هغهٔ كښې اُووئيل
الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ أَنَّهُمْ مُّلَاقُوا اللّٰهِ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ
هغه كسانو چه هغوى يقين كوو چه دوى مخامخ كيدونكى دى د الله سره ډيركرته ډله لږه
غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً بِإِذْنِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۲۴۹﴾
غالبه شوے ده په ډله ډيره باندے په مدد د الله تعالىٰ سره او الله ملګرے د صبرناكو دے۔

تفسير: هركله چه دوى ته تابوت راغلو، او دوى د طالوت بادشاهئ ته تسليم شو، نو جهاد ته د وتلو همت پكښې پيدا شو، نو په جلتئ سره د هغهٔ تابعدار شو، او د هغهٔ سره روان شو، د عمالقه ؤ مقابله ئے كوله چه د دوى مشر پهلوان جالوت وو، چه دوى پرے ډير ناز كولو، او دا خلق په اُردن علاقو كښې اُوسيدل۔

نو طالوت دوى لره په يوه ښار ميدان باندے روان كړل چه په لاره كښې ډيره ګرمئ او تندے سره مخامخ شو، نو په لاره كښې يو نهر مخے ته راغلو چه د هغے (يَرْدن) نوم وو۔ په دغه نهر باندے ورتيريدل (او دا اُوږد نهر دے چه د فلسطين او اُردن په مينځ كښې واقع دے۔ فتح البيان) نو طالوت په لاره كښې ملګرو ته اُووئيل چه دا نهر را روان دے۔ دے نه به اُوبه نهٔ سكئ۔ دا د الله امتحان دے۔ خبره ئے هم ورته رايادہ كړه چه دا امتحان دے۔ ددے دپاره چه ددے حكم ښهٔ اهتمام اُوكړى۔

ظاهره دا ده چه دا امتحان طالوت د ځان نه نهٔ دے كړے، بلكه هغهٔ نبى (صموئيل) ورته وئيلى دى چه الله ما ته دا وحى كړے ده چه په دے خلقو امتحان اُوكړه، كه دوى ستا خبره د اُوبو په باره كښې اُومنى، نو باقى به هم منى، او كه دا ئے اُونهٔ منله نو باقى به هم نهٔ منى۔ نو تابعدار ځان سره كړه او نافرمان به درنه روستو پاتے شى۔

بـلـه فائده پکښې دا وي چه داخلق په سختو باندې صبر کولو سره اموخته شي ځکه چه جهاد کښې کـلـه تـنـده او لـوږه هم راځي۔ په داسې مقام کښې امتحان ښۀ وي، دا د امير هوښيارتيا وي۔ نبي ﷺ به هم کله نا کله خپلو ملګرو باندې دغسې امتحانات کول۔

﴿ فَلَمَّا فَصَلَ ﴾ فَـصَـلَ : پـه اصـل کـښې مـتـعدي فعل دے ليکن د زيات استعمال په وجه ددې مفعول حذف کولے شي، او د فعل لازم په شان ګرځي۔ اى اِنْفَصَلَ : يعني د لښکر سره جدا شو۔ او اصـل معنىٰ ئې ده : فَصَلَ نَفْسَهٗ] يـعـنـي خپل ځان ئې د ښار د آبادئ نه د لښکر سره جدا کړو۔ (ابن عـاشـور بتـغيـر)۔ بغويّ وائي : د بيت المقدس نه روان شو، او دوى اويا زره جنګيان وو۔ بعض وائي: اتيا زره وو۔ صرف معذور او بو ډاګان او مريضان ترې پاتې وو۔

﴿ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ﴾ (اِنَّ اللّٰهَ) ځـکـه وائـي چـه دا زما خبره نۀ ده چه ما ته اووايئ چه ستا پـدې کـښې څـۀ غـرض او څـه فـائـده ده؟ نۀ، بلکه دا د الله حکم دے۔ او بادشاه له پکار وي چه د الله وحي په خپل رعيت کښې نافذ کړي۔

ددے نـه بعض جا هلان مُليان دليل نيسي چه تقليد ثابت شو ځکه چه طالوت خپلو ملګرو ته اُووئيـل چـه دا اُوبـه مۀ څکئ نو ملګرى ورته دا نۀ وائي چه دليل پيش کړه۔ بلکه ے دليله خبره ئې ورله اُومنله نو تقليد شو۔ **جواب** دا دے چه د جاهل په سترګو پټئ وي، دلته اِنَّ اللّٰهَ لفظ ته نۀ ګورى چه طالوت ورته دا دليل پيش کړو چه الله فرمائي يعني يواځې زما حکم نۀ دے۔ بله دا چه دا خـو الله مقرر کړے وو په واسطه د پيغمبر، او امامان الله تعالىٰ د تقليد دپاره نۀ دى مقرر کړي۔ او نـۀ نبـي د دوى د تـقـليـد پـه باره کښې څه وينا کړے ده، نۀ خپله دے امامانو خپل تقليد په چا لازم کـړے دے۔ ډارنګه د امير خبره منل په احاديثو سره واجب شوي دي۔ فتدبر۔ دوى خپل جهالت د قرآن نه ثابتوى ؟!۔فَاِلَى اللّٰهِ الْمُشْتَكىٰ۔

﴿ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ ﴾ چا چه ددے نه لړے اُوبه اُوڅکلے او که ډيرے۔

﴿ فَلَيْسَ مِنِّىْ ﴾ هـغـه به زما د تابعدارو، او د دين والو نه نۀ وى۔ (فتح) او زما او د هغه ترمينځ به هيـڅ تعلق او علاقه نۀ وى، او ما سره به نۀ يو ځائے کيږي۔ نو پدے کښې د طالوت معنوى بغض او ظاهرى خفګان دواړه مراد کيدے شي۔ (ابن عاشور)۔

﴿ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّىْ ﴾ طعـم (څکۀ کول) اصل کښې د خوراك دپاره استعماليږي، ليکن د قرينے د مقام په وجه د سکلو دپاره هم استعمال شويدے۔

نـو اُوس استثناء ذکرکوى د ﴿ فَـمَنْ شَرِبَ مِنْهُ ﴾ نـه ځـکـه چـه هلته بالکل اُوبه څکل منع وو، اُوس وائي معمولي شان د يو لاس په اندازه اُوبه څکل جائز دي :

﴿ إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهِ ﴾ د يو چونګ اُوبو څکلو اجازت ئې ورکړو، دې دپاره چه څهٔ ناڅهٔ تنده ئې ماته شي، او دا دليل دے چه يو چونګ اُوبو څکلو سره په سخت ژوند باندے صبرناکو خلقو دپاره د تندے جوش کميږي۔

او بله دا چه دا امتحان وو نو الله ورله پکښې ډير برکت واچولو۔

غرفة : دا په زور د غين سره، يو ځل اُوبه په يو لاس کښې راخستو ته وئيلے شي، او هغه قراءت د نافعؒ او ابن کثيرؒ وغيره دے۔ او په پيښ د غين سره، په يو لاس کښې راخستے شوے اُوبو ته وئيلے شي۔

بِيَدِهِ : دا تفسير د غُرُفَةً دے۔ ابن جريرؒ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړي چه چا په يو چونګ باندے صبر اُوکړو، نو هغوی له الله په کښې برکت واچولو او ماړهٔ شو آه۔ ځکه د اطاعت په وجه روحاني طاقت مضبوطيږي۔

﴿ فَشَرِبُوا مِنْهُ ﴾ د شرب نه چه روستو (مِنْ) لفظ استعمال شي، نو غالباً په اُوبو باندے پريوتو سره اُوبو څکلو ته وئيلے شي يعني ډيرے اُوبه ئې اُوڅکلے، نو د الله حکم ئې هم مات کړو، او د خپل نبي حکم ئې هم مات کړو، او امتحان کښې ناکام شو۔

پدے کښې د دوی بے صبرئ ته اشاره ده، او دے ته اشاره ده چه دوی ددے لائق نهٔ دی چه جنګونه اُوکړے شي، ددے وجه نه د نهر نه د تيريدو نه روستو ئې سمدست اُووئيل:

﴿ لَاطَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ ﴾ مونږ د جالوت او د هغه د لښکرو طاقت نهٔ لرو۔ ځکه چه د الله د حکم په ماتولو کښې انسان باندے ډيره بزدلي راځي۔

﴿ إِلَّا قَلِيْلًا مِنْهُمْ ﴾ په حديث د احمدؒ او بخاريؒ کښې راځي چه درے سوه ديارلس کسان وو په شمار د اصحاب بدر۔ قرطبيؒ وائي : لږو بالکل اُوبه اُونهٔ څکلے کوم چه په (وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ مِنِّيْ) کښې ذکر وو۔ د ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه قليل په دوه قسمه وو، يو قسم ډير صبرناك وو، چه هغوی بيخي اُونهٔ څکلے او عزيمت باندے ئې عمل اُوکړو۔ دويم قسم لږ صبر والا وو، نو هغوی د يو چونګ په اندازه اُوبه اُوڅکلے نو په رخصت ئې عمل اُوکړو۔

لطيفه

قرطبيؒ ليکي : چه پدے آيت کښې د دنيا مثال ته اشاره ده، چه د دنيا مثال د نهر دے، او ددے مال او متاع د اُوبو په شان دے، که چا د دنيا نه د خپل حاجت په اندازه برخه واخسته، نو دهٔ له به په کښې برکت واچولے شي، او کامياب به وی، او په دنيا کښې به دا حقيقي زاهد (بے رغبته) وی۔ او که چا ترے خيټه ډکه کړه، چه حلال او حرام ئې نهٔ کتل، نو خيټه به ئې اُوپړسيږي او مړ به شي، او آخر انجام به ئې ناکامي وی آه۔

لکه دا مثال حدیث کښې هم راغلے دے۔[إِنَّ مِمَّا يُنبِتُ الرَّبِيعُ مَا يَقْتُلُ حَبَطًا] (متفق علیه)۔
یعنې د سپرلی په ګیاه ګانو بعض حیوانات د ډیر خوراك په وجه څان مړ کړی، چوړے پړے اُولګی، او بعض ګوزاره حال خوراك اُوکړی نو روغ وی۔
﴿ فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ ﴾
د جَاوَزَ دپاره فاعل پټ ضمیر دے په جَاوَزَ کښې او (ہ) ضمیر د مفعول نهر ته راجع دے، او (هُوَ) ضمیرِ فصل ددے دپاره راغلے دے چه د (وَالَّذِينَ) عطف په (جَاوَزَهُ) ضمیر باندے صحیح شی۔
فائده : دا دلیل دے چه د طالوت په ملګرتیا کښې صرف مخلصو مؤمنانو جهاد کړے وو، او فاسقان سړے راواپس شوی وو۔ لکه څنګه چه په اُحُد کښې منافقان د رسول الله ﷺ نه واپس شوی وو۔
﴿ قَالُوا ﴾ یعنې دے ایمان والو ورته آواز اُوکړو چه راځئ، وُلے پاتے شوئ ؟۔ نو هغوی خپل عذر پیش کړو :
﴿لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ﴾ مونږ د جالوت او د هغهٔ د لښکرو د مقابلے طاقت نهٔ لرو۔ دے کښې دوه مطلبه جوړیږی، یو دا چه دوی دا خبره په هغهٔ وخت کښې اُوکړه چه د دشمنانو لښکرے ئے اُولیدلے چه ډیر زیات وو۔ قرطبیؒ وائی : دا یو لاکهـ فوجیان وو چه د وسلو نه ښهٔ پوره وو۔ دویم دا چه دوی ته د مخکښې نه د دشمن قوت معلوم وو، او په زړهٔ کښې به ئے یره پټه ساتله، خو کله چه دواړه فوجونه یو بل ته نزدے شو، نو د دغه خبرے پټولو طاقت ئے اُونهٔ لرلو۔ (ابن عاشور)۔
بعض وائی : د ډیرو اُوبو څکلو په وجه د دوی خیټے اُوپړسیدلے، او د نهر په غاړهٔ پاتے شو، او مخکښې لاړ نشو، او بزدله شو، ځکه چه د الله او د رسول نه په خلاف کولو سره انسان بزدله کیږی۔ نو دوی اُووئیل چه مونږ د جالوت مقابله نشو کولے۔ پاتے لا په هغوی باندے غلبه حاصلول خو ډیره لرے خبره ده !!۔
ځکه چه جالوت (چه په تورات کښې ورته جُلْيَات وئیلے شی) دا یو ډیر جبار او پهلوان کافر وو، د عمالقه ؤ فلسطینیانو قائد او فوجی جرنیل وو، شپږ ګزه او یو لویشت اُوګد وو۔ اسلحه او زغرو باندے پوره وو، او د بنی اسرائیلو نه هیڅ د هغهٔ سره مقابله نشوه کولے، او ددهٔ عادت دا وو چه دا به کله د دشمنانو مقابلے ته راوتلو، نو هغوی ته به ئے اول آواز کولو او د هغوی خوا له به ورغلو او پیغورونه به ئے ورکول۔ (ابن عاشور)
او د هغه زمانے د خلقو ډیر غټ غټ بدنونه وو، او لښکرے ئے هم ډیرے وے، لیکن ایمان والا ئے مقابله کولے شی۔ او کله چه سړے حرام خور شی، نو بزدله شی، بیا وائی ددے مقابله به څوك

اُوکړي؟ لکه اُوس هم خلق وائي د امريکي او يورپ مقابله څوك کولے شي؟ دا د حرام خورئ او د خواهش پرستئ اوبے دينئ د وجه نه، او کله چه سړي کښې دين وي، نو ددے خبرو نه نۀ يريږي۔

هرکله چه د هغوي د ډير والي نه اُوويريدل نو ايمان والو ورته تسلي ورکړه:

﴿ قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُلٰقُوا اللّٰهِ ﴾ ظن په معنیٰ د يقين دے، ځکه چه روستو ترے (اَنَّ) کلمه راغلے ده۔ دارنګه په قيامت باندے يقين لرل فرض دي، نۀ ګمان کول۔ او د الله د ملاقات نه مراد د الله سره په قيامت کښې ملاويدل دي، او د هغه مخے ته اُودريدل دي۔ او دا جمله ئے ذکر کړه، اشاره ده چه په الله او د هغه په وعدو باندے مضبوط يقين سره انسان ته قوت ملاويږي، او بيا د الله مددونه او غلبے راځي۔

﴿ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً بِاِذْنِ اللّٰهِ ﴾ يعني مونږ هم لږ يو، الله به غلبه راکړي۔او دا د الله قانون دے چه لږ کسان کمزوري په غتو غتو کافرو باندے غالبه کوي، دا ددے دپاره چه الله خلقو ته خپل قوت اُوښائي چه الله ماديات ته محتاج نۀ دے۔ رب العالمين کولے شي چه لږو کسانو له طاقت ورکړي، خو شرط دا دے چه صبر به کوي۔

﴿ وَاللّٰهُ مَعَ الصَّابِرِيْنَ ﴾ د اسلام تاريخ ګواه دے چه په اسلام کښې هميشه د مخالفو قوتونو سره مقابله، د معنوي قوت، د مادي قوتونو سره مقابله ده، او په ظاهر کښې ايمان والا په ټولو جنګونو کښې کم وو۔ ليکن آخر غلبه دوي ته ملاؤ شويده۔

فِئَةٌ : د خلقو ډلے ته وئيلے شي چه د فيء نه اخستے شويدے، په معنیٰ د رجوع سره، او د يوبے ډلے خلق هم يو بل ته رجوع کوي۔

﴿ بِاِذْنِ اللّٰهِ ﴾ د اِذن نه نصرت، توفيق، اراده او مشيت ټول مراد کيدے شي۔

فائده: ددينه دا معلومه شوه چه دا ضروري نۀ ده چه د کافرانو او مسلمانانو دواړو جانبينو به مساوات وي، يا به کافر صرف دوچنده وي، هله به مقابله جائز وي، نۀ، بلکه مسلمانان که هر څومره کم وي، خو جهاد به کوي۔ او کوم آيت او حديث کښې چه د دوچنده کيدو خبره راغلے ده، نو هغه په ميدان جنګ کښې د تيښتے په باره کښې ده۔ يعني کله چه يو مسلمان د دوه کافرانو ترمينځ راګير شي نو نۀ به تختي بلکه مقابله به کوي۔

فائده ٢ : پدے آيتونو کښې د غلبے اسباب استعمال شويدي:

(١) د الله نه خوف او يره کول۔ (٢) په الله او په آخرت باندے او د هغه په وعدو باندے پوره يقين ساتل (٣) بيا صبر کول (٤) او د الله نه مدد او دعا غوختل۔

وَلَمَّا بَرَزُوۡا لِجَالُوۡتَ وَجُنُوۡدِهٖ قَالُوۡا رَبَّنَا أَفۡرِغۡ
او هر کله چه دوی راښکاره شو جالوت او لښکرو د هغه ته، اُووئیل دوی : اے ربه زمونږه ! راواړوهٔ وه
عَلَيۡنَا صَبۡرًا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكَافِرِيۡنَ ﴿۲۵۰﴾
په مونږ باندے صبر او مضبوط کړه قدمونه زمونږ او مدد راکړه مونږ له په قوم کافرانو۔

تفسیر: پدے آیت کښې د دوی د مقابلے میدان ته د ورتلو په وخت کښې دعا کول ذکر دی چه دا ډیره مرتبه دعا ده، اول صبر حاصلول دی چه پدے سره زړهٔ مضبوط شی او چه کله زړهٔ مضبوط شی، نو بیا قدمونه مضبوط شی، او چه کله قدم مضبوط شی نو بیا د الله مدد راتلل ممکن وی۔ او په دعا کښې ئے د الله په نوم (رَبَّنَا) سره وسیله کړیده۔ او رسول الله ﷺ به هم د جنګ په میدان کښې الله ته ډیره زیاته زاری کوله۔

﴿ بَرَزُوۡا﴾ بَـرَزَ : اصـل کښې کـولاؤ، هموار میدان ته وروتلو ته وئیلے شی۔ او په معنیٰ د ښکاره والی سره هم دے۔ او مبارزه هغه جنګ ته وئیلے شی چه دواړه جنګیان یو بل ته په میدان کښې ښکاره شی۔ یعنی هرکله چه د جالوت او د هغه لښکرو ته راښکاره شو او یو بل ته مخامخ شو۔

﴿ أَفۡرِغۡ ﴾ إِفۡرَاغ یو شے ډیر راتوی کول چه لوښے ترے خالی شی۔ او پدے کښې ډیر والی او احاطے (راګیروالی) ته اشاره ده چه داسے صبر وی چه زمونږ نه راتاؤشی۔

فَهَزَمُوۡهُمۡ بِإِذۡنِ اللّٰهِ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوۡتَ وَآتَاهُ اللّٰهُ
نو شکست ورکړو دوی هغوی ته په مدد د الله سره او قتل کړو داود علیه السلام جالوت لره او ورکړه هغه ته الله
الۡمُلۡكَ وَالۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ وَلَوۡلَا دَفۡعُ اللّٰهِ
بادشاهی او نبوت او تعلیم ئے ورکړو هغه ته د هغه څهٔ نه چه الله غوختل او که چرته نهٔ وے دفع کول د الله تعالیٰ
النَّاسَ بَعۡضَهُمۡ بِبَعۡضٍ لَّفَسَدَتِ الۡأَرۡضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۲۵۱﴾
خلقو لره بعضے په بعضو خامخا خرابه شوے به وه زمکه او لیکن الله د لوئی فضل والا دے په مخلوقاتو باندے۔

تفسیر : پدے کښې په دوی بـاندے د الله تعالیٰ نعمت ذکر دے، چه الله تعالیٰ ورسره په سبب د دغـه مـخـکـنـو کـارونو او دعاګانو مدد اُوکړو۔ او د جالوت وژل په لاس د داؤد ؑ او بیا هغه ته

بادشاهي او نبوت دواړه ورکول او د جهاد د فرض کيدو حکمتونه بيانوي۔

کله چه دوی جنګ شروع کړلو نو پدے کښ داود ابن ايشا يا (يَسى) ورو کے هلك وو چه لا بلوغ ته نۀ وو رسيدلے، راغلو، او د طالوت په فوج کښ داخل شو (اصل کښ پلار ددے دپاره راليږلے وو چه پدے فوج کښ د ورونو سلامتيا معلومه کړی، او هغوی ته ئے څۀ خوراك راوړے وو، هغۀ د هغوی حالت معلوم کړو۔ ددۀ اُووه (٧) ورونړه په جهاد کښ شريك وو، پدے کښ جالوت رابنکاره شو او بنی اسرائيلو ته ئے د مقابلے دعوت ورکړو، نو بنی اسرائيل ترے اُويريدل، يو تن پکښ اُووئيل چه دا ظالم فلسطينی به څوك قتل کړی چه طالوت به ورته ډير انعام ورکړی او خپله لور به ورکړی او په اسرائيلو کښ به د دوی کور ډير آزاد او شريف وی۔ نو داود عليه السلام رامخکښ شو، او د طالوت نه ئے مطالبه اُوکړه چه زۀ جالوت قتلوم، هغه ډير منع کړو چه تۀ ځان هلاکوے، دا خو لوئی جبار دے، د وړوکوالی نه د جنګونو سره اموخته دے۔

خو ددۀ په الله ډير يقين وو، او د بنی اسرائيلو د کتابونو نه معلوميږی چه داود عليه السلام په دغه زمانه کښ د خپل پلار ګډے بيزے څرونکے وو، او په چينوغزه ويشتلو کښ ډير تکړه وو، نو دا د فلسطينيانو صفونو ته نزدے شو، جالوت ورته راووتو او په خپلو آلهو سره ئے داود ته کنځلے اُوکړے، او دا ئے ورته اُووئيل چه آيا زۀ سپے يم چه تۀ ما ته امسا نيولے راغلے ئے۔نن به زۀ ستا غوښے د آسمان مارغانو او د صحراء حيواناتو ته ورکړم۔

داود ورته اُووئيل : زۀ تا ته ددے لښکرو د رب په نوم سره راغلے يم چه هغه د هغه بنی اسرائيلو د صفونو اِلٰه دے کومو ته چه تا پيغورونه ورکړی دی۔ تا به نۀ نن زما رب زما په لاس کښ راولی، او زۀ به دِے وژنم او سر به درنه پريکوم، او ستا د فلسطينيانو د بدنونو غوښے به نن ورځ د آسمان مارغانو او د صحراء حيواناتو ته ورکوم نو د زمکے ټول خلق به پو هيږی چه د اسرائيل اِلٰه موجود دے۔ او دے ډلے ته به معلوميږی چه جنګ په توره او نيزه نۀ دے بلکه رب خلاصول کوی، ځکه چه دا جنګ د رب دپاره دے، او هغه به تاسو زمونږ لاسونو ته راولی۔

کله چه جالوت ددۀ مخے ته رانزدے شو نو په جلتئ سره داود ورمخکښ شو او د خپلے کڅوړے نه ئے يو کانړے په چينوغزه کښ واچولو او جالوت ئے په تندی باندے اُوويشتلو، او دۀ په زغره ټول بدن پټ کړے وو، صرف تندے ئے ښکاره کيدو۔ نو هغه راپريوتو او دا ورپسے ورغلو، دپاسه پرے کيناستو او د هغه توره ئے راويستلۀ او سر ئے ترے پريکړو، او طالوت ته ئے راوړو۔

(ابن عاشورؒ، قاسمیؒ)

بعض رواياتو کښ دی چه بيا طالوت داود ته خپله لور په نکاح ورکړه۔

(دغسے جبار كافر الله د ماشومانو د لاسه مرداروى لكه څنګه چه ابو جهل د وړوكو ماشومانو(مَعَاذ او مُعَوِّذ) د لاسه مردار شوے وو.)

كله چه د جالوت فوج د خپل مشر حال اُوليدو، نو په زړونو كښې ئے سخت رعب او بزدلى راغله، او په تيختنه شو، او د طالوت فوج وريسے شو، او هغوى ئے قتل كړل، او عامے علاقے ئے تريے اُونيولے، تر عَقْرُوْن پورے ئے اُوتختول...... د څهٔ وخت تيريدو نه روستو طالوت قتل شو، او د هغه نه روستو بنى اسرائيل په داود ﷺ راجمع شو، او هغه بيا نبى هم شو. دهٔ باندے الله نبوت او بادشاهى دواړه راجمع كړل چه دا كار مخكښې په بنى اسرائيلو كښې هيڅكله نهٔ وو شوے. په دے وجه بعض يهوديان داود او سليمان عليهما السلام ته غصه دى او په هغوى بدنامے لګوى.

﴿ فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللهِ ﴾ هزم : په اصل كښې ماتولو ته وئيلے شى. مراد تريے نه شكست وركول دى.

(اذن) اصل كښې امر ته وئيلے شى، دا د الله امر شرعى او تكوينى دواړو ته شامل دے. يعنى حكم او امر، او دا كله په معنىٰ د مدد سره وى.

﴿ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ ﴾ الله تعالىٰ دا دوه نومونه ذكر كړل، پدے كښې اشاره وه چه اے ايمان والو! نظام د الله په لاس كښې دے، الله تعالىٰ دغسے لوئى هيبتناك ظالم قائد، د يو وړوكى ماشوم په لاس اُووهلو، نو تاسو به هم پدے لوئى كافرانو غالبه كوى.

﴿ وَآتٰهُ اللهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ ﴾ پدے كښې د داود ﷺ اُوچته مرتبه بيانوى چه الله ورته بادشاهى هم وركړه، د طالوت د مرګ نه روستو پوره اُووه كاله بادشاه وو چه د خلقو تربيت به ئے كولو، او د شمويل نه روستو ئے نبوت هم وركړو، ډير كمالى حكيم انسان وو، عبادتونه ئے هم ډير زيات وو. ددے وجه نه نبى ﷺ هغه ته (اَعْبَدَ الْبَشَر) د ټولو انسانانو نه زيات عبادت كونكے) وئيلے دے.

﴿ الْحِكْمَةَ ﴾ ددے نه مراد (۱) نبوت دے. (۲) يا زبور كتاب مراد دے. (۳) يا العلم والعمل مراد دے. ...... او ددهٔ د حكمتونو نه يو مخكښې بيان شو چه ډير عبادت كونكے وو. يوه ورځ به روژه وو او يوه ورځ كوجه. (۲) حسن الصوت (ښائسته آواز) والا وو.

(۳) حديث كښې دى : (وَاِنَّ نَبِيَّ اللهِ دَاوٗدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ كَسْبِ يَدَيْهِ) (بخارى) داود ﷺ به د خپل لاس د كسب نه خوراك كولو.

(٤) لَا يَفِرُّ اِذَا لَاقٰى (مصنف عبد الرزاق ٧٨٦٤).

د دشمنانو نه به په جنګ كښې نهٔ تختيدو. نور روستو راځى.

﴿ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ﴾ څهٔ چه الله سبحانه غوختل د هغے پوهه ئے وركړه.

ددے هم ډير مصداقات كيدے شى :

(۱) د زغرو عِلم لکه آيت کښې دی : ﴿ وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ﴾ (الانبياء/۸۰) الله ورته اُوسپنه نرمه کړې وه چه زغرې به ئې ترې جوړولې۔

(۲) د حيواناتو په خبرو پوهيدو۔ (۳) حيواناتو، مارغانو او غرونو به ورسره تسبيحات وئيل۔ لکه سورة ص (۱۸) آيت کښې راغلی دی۔ (٤) د فيصلو علم چه خلقو ترمينځ به ئې په ښائسته طريقه فيصلې کولې۔ (سورة ص /۲۰) آيت۔

(۵) بعض مفسرين وائي : د طالوت بادشاهي ځلويښت کاله وه، کله چه هغه قتل شو نو بني اسرائيلو د بادشاهئ خزانې داود ﷺ ته ورکړې نو الله په هغې باندې هم داود ﷺ پوهه کړو۔ (فتح البيان)۔ لنډه دا چه دا هغه ټولو جنګي او صنعتي علومو او فنونو ته شامل دې کوم چه الله تعالىٰ هغوی ته ورکړی وو۔

(يَشَاءُ) مضارع په معنیٰ د ماضي ده۔

﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ﴾ ۔

اوس حکمة القتال بيانوی چه الله جهادونه ولې لازم کړيدی۔ ځکه چه پدې سره د خلقو شرونه او فسادونه ختمول مقصد دې۔ (بَعْضَهُمْ) نه مراد کافر دی او (بِبَعْضٍ) نه مراد مؤمنان دی۔ يعنی که الله د کافرو مقابله کښې مؤمنان نهٔ اُودرولې، او د مفسدانو مقابله کښې مصلحين او د مبتدعينو په مقابله کښې موحدين نهٔ اُودرلې، نو زمکه کښې به فساد راغلې وې۔ لکه ځنګه ئې چه د جالوت په مقابله کښې طالوت او داود ﷺ اُودرول او د هغوی شرئې پرې ختم کړو۔

﴿ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ﴾ کافران به راغلي وې، او د مسلمانانو عبادت خانې، مساجد به ئې وران کړی وې، مدرسې به ئې خرابې کړې وې، او علماء به ئې وژلي وې لکه سورة الحج (٤٠) آيت کښې دی۔ ﴿ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ ﴾ ځکه چه کافران غواړی چه خواهشات، بې حيايانې، کفر او شر عام شي، د الله نوم ورك شي، د هغه بندګي ختمه شي، شرك او حرام خوری او ظلم عام شي، او دا ټول فسادونه دی۔ او پدې سره دنيا ورانيږی، دنيا خو الله د خپلې بندګئ دپاره پيدا کړيده، کله چه هغه نهٔ کيږی نو بيا دنيا ورانيږی۔

ددې وجه نه الله تعالىٰ د کافرانو شر د ايمان والو په وجه دفع کوی۔ خلق جهاد ته فساد او دهشتګردی وائي او الله فرمائي : جهاد سره فسادونه، ظلمونه، بې حيايانې، حرام خوری، قتلونه او د کافرانو ورانې ختميږی، لهذا جهاد ډير عظيم عمل دې۔

فائده : بيا پدې آيت کښې دفاع عامه ده، ډيرو څيزونو ته شامل ده، بعض دا دی :

(۱) که نهٔ وې دفع کول د الله تعالىٰ بعض خلقو لره د کفر نه په سبب د بعضو چه هغه انبياء او د

دين علماء دي، چه دوى دلائل بيانوى او د خلقو كفر ختموى.

(۲) دفع كول د بعض خلقو د گناهونو او منكراتونه په سبب د بعضو چه امر بالمعروف او نهى عن المنكر كونكى دي.

(۳) كه نهٔ وے دفع كول د الله بعض خلقو لره د هرج مرج (گډوډئ او قتل وقتال) او فتنو راپورته كولو نه په دنيا كښې په سبب د بعضو چه هغه انبياء دي يا مسلمانان خلفاء، يا ملائك يا هغه خلق چه د خپلو دينونو نه مدافعت كوى.

(٤) يا د دفع كولو نه مراد مصيبتونه او تكليفونه دفع كول دي، يعنى كه الله تعالىٰ تكليفونه او عذابونه او مصيبتونه نهٔ دفع كولے د بعض انسانانونه چه هغه گناهگار او بد عمله دي په سبب د بعضو چه هغه نيكان دي. نو فساد به راغلے وے، انسانان به هلاك شوى وے. پدے باره كښې يو ضعيف حديث نقل دے چه «الله تعالىٰ د يو نيك مسلمان په وجه د هغه د گاونډيانو نه سلوكورونو مدافعت كوى» . (الطبرانى، ضعيف الجامع الصغير فيه يحيى بن سعيد العطار وهو ضعيف)

اگركه دا خبره د آيتونو نه معلومه ده چه الله تعالىٰ د نيك سړى د اولادو، د ښځو او د مال حفاظت كوى لكه سورة الكهف (۸۲) او سورة الفتح (۲۵) او سورة الانفال (۳۳) آيت كښې ددے تائيد موجود دے.

(۵) كه نهٔ وے دفع كول د الله جگړے د بعض خلقو په سبب د گواهانو، چه د هغوى په صحيح گواهى سره حقوق خپلو مستحقينو ته حاصل شى او جگړے ختمے شى.

(اللباب فى علوم الكتاب لابن عادل ۲۲۶/۳) والرازى والقرطبى وابوحيان)

ابن عادلؒ وائى : ظاهر دا ده چه الفاظ عام دى دے ټولو ته شامليږى ځكه چه په ټولو كښې دفع د فساد موجوده ده.

بِنا په دے په (لَفَسَدَتِ الْاَرْضُ) كښې به دغه مخكنى ټول فسادونه داخل وى.

فائده : پدے آيت كښې الله يو بشارت او زيرے وركړے دے چه الله د انسانانونه وخت په وخت فسادونه ختموى، او حق په يو ځل نهٔ ختموى. په هره زمانه كښې چه په انسانانو كښې د فساد يو تور خادر راخور شى نو الله ځهٔ خلق راپورته كړى چه هغه لرے كړى.

كله شرك عام شى، الله تعالىٰ موحدين علماء راپيدا كړى چه د شرك رد پرے اُوكړى، كله بدعت عام شى الله تعالىٰ ځهٔ خلق پيدا كړى چه د بدعت رد اُوكړى.

د شيعه گانو كفر چا نهٔ پيژندلو نو الله ورله ځهٔ علماء راپيدا كړل چه د هغوى كفرئے امت ته راښكاره كړو. د تقليد يو تور خادر په اُمت پروت وو، هيچا د تقليد په رد كښې ځهٔ خبره نشوه

كولے چه گنے د علماؤ نه هم خطائي كيدے شي او كله ورته حديث نهٔ وي رسيدلے، نو د هغوى تقليد نشته، نو الله تعالىٰ ورته اهل حق راپيدا كړل چه د خلقو ذهنونه ئے كولاؤ كړل ځكه چه دا خو غټ فساد وو چه قرآن او حديث د يو عالِم په خبره تللے شي، كه ورسره موافق وي منى ئے، او كه نهٔ وي نو بيا د قرآن او حديث منلو ته تيار نهٔ دے۔

دغه شان د الله د اسماء او صفاتو د مسئلے د عام كولو دپاره الله تعالىٰ علماؤ كښ هوش راپيدا كړو۔ لنډه دا چه دا آيت مونږ ته دا سبق راكوى چه هركله په كومه زمانه كښ فساد عام كيږى، نو الله د هغے د ختمولو دپاره څهٔ خلق پيدا كوى۔

﴿ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴾ د عَالَمِيْن لفظ ئے دے دپاره راوړو چه په جهاد كښ صرف د مؤمنانو دپاره فائده نهٔ ده، بلكه د كافرو او د دغه مفسدانو فائده هم پكښ شته، داسے ئے اُونهٔ فرمايل: (ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ)۔ ځكه كه د مؤمنانو مقابله د كافرو سره نهٔ وے، نو بيا به الله دنيا ورانولے، او د آسمانى عذابونو په وجه به ئے هلاك كړى وے، ليكن په هغوى باندے الله تعالىٰ عمومى عذابونه نهٔ راولى ځكه چه مسلمانان ورسره لګيادے مقابله كوى۔ او دارنګه جهاد د هغوى دپاره نعمت هم دے چه ډير كسان به پكښ ايمان راوړى، ډير به بصيرت حاصل كړى، ډير به غلى كينى، كفر به ئے كم شى، نو عذابونه به پرے كم شى۔ دارنګه كوم كسان چه د هغوى نه قتل شى، د هغوى نه به نور ګناهونه نهٔ كيږى نو عذاب به ئے هم نهٔ زياتيږى۔ نو ډير فوائد شو۔

تِلْكَ آيَاتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۵۲﴾

دا آيتونه د الله تعالىٰ دى چه مونږه بيانوو دا تا ته په رشتيا سره او يقيناً تهٔ خامخا د رسولانو نه ئے۔

تفسير : پدے كښ قرآن كريم ته ترغيب وركوى او د رسول الله ﷺ رشتينوالے بيانوى۔ فرمائى چه دا نخے دى چه مونږه ئے تا ته بيانوو چه رشتينى دى، او ستا د رسول كيدو ښكاره او په ډاګه دليل دے، ځكه چه الله تا ته د وحى په ذريعه ددے واقعے خبر دركړو چه تا ته ئے مخكښ هيڅ عِلم نهٔ وو۔

مناسبت دا دے (۱) د قرآن طريقه ده چه د مخكښ بيان نه فائده منه خبره راوباسى كومے ته چه ضرورت وى۔ (۲) موضوع سره ئے مناسبت دا دے چه پدے سورت كښ په الله او كتاب الله، او رسول الله ﷺ باندے ايمان ثابتول دى۔

﴿ تِلْكَ آيَاتُ اللّٰهِ ﴾ تِلْكَ اشاره ده مخكنى ټولو آيتونو ته، او خاصكر هغه آيتونه چه د طالوت د واقعے سره متعلق وو ځكه چه په هغے كښ ډير عبرتونه او نصيحتونه پراتهٔ وو۔

﴿ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ ﴾ د تلاوت نه مراد لوستل دي، او دا صفت د الله تعالیٰ دے، او دلیل دے چه قرآن بانـدے الله تلفظ کړے، او دا ئے لوستلے دے۔ څنګه چه د هغه د شان مناسب وي، په غیر د تمثیل او تشبیه او تاویل نه۔

﴿ بِالْحَقِّ ﴾ د حق نـه مراد رشتینی او صحیح خبر دے۔یا بالحق نه مراد لِإِظْهَارِ الْحَقِّ ـیعنی دے دپاره ئے بیانوو چه حق راښکاره شي۔

څکه چه پدے واقعه کښ د امتِ مسلمه دپاره ډیر نصیحتونه دي چه بعض د هغے نه دا دي:

۱ – د جهاد فی سبیل الله نه بغیر د دین او د وطن، د ځان او د مال حفاظت نشی کیدے۔

۲ – د مجاهدینو انجام همیشه ښهٔ وي۔

۳ – د مسـلمانانو د قیادت دپاره داسے خلق اختیارول او مشران مقررول پکار دي، چه د مشرئ اهل وي، او په اهل جوړیدو کښ خاصکر د دوه څیزونو اعتبار وي: عِلم او د بدن قوت۔

٤ – د فـوج د مشر دپاره پـه خپـل فـوج بـانـدے نظر ساتل پکار دي چه څوك د جنګ اهل نهٔ وي، هغهٔ منع کړي۔

٥ – کـه د دشـمن د ډیروالي یا بلے وجے سره د مجاهدینو په صفونو کښ نا اُمیدي خورهٔ شي، نو د هـغـوي هـمـت اُوچتـول پکار دي، او ایماني قوت ته په حرکت ورکولو کښ کوشش پکار دے۔ (تیسیر الرحمن) وبالله التوفیق۔

﴿ وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴾ لـکـه څـنګه چه نور رسولان الله تعالیٰ رالیږلي دي نو ته ئے هم رالیږلے ئے۔څکه ډیرے داسے ناشنا واقعات سره د امي توب نه بیان کړل۔ دارنګه پدے کښ اشاره ده چه ستا پـه وجـه بـه الله دا کـوږ امـت سَـمـوي لـکـه څـنـګـه ئے چه انبیاء د خلقو د هدایت او سمولو دپاره رالیږلي وو، نو دا نبی د خلقو دپاره رحمت او د هدایت سبب دے۔



تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ
دغه پيغمبران غوره والے ورکړے مونږ بعض د دوی ته په بعضو نورو۔ بعض د هغوی نه هغه څوك دی چه الله ورسره خبرے کړی
وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ
او اُوچت کړی ئے دی بعضو لره په ډيرو درجوسره او ورکړی وو مونږه عيسىٰ ځوی د مريم ته ښکاره معجزے
وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ
او مضبوط کړے وو مونږ دهٔ لره په روح پاك سره او که چرته الله تعالىٰ غوختلے نو جنګونه به نهٔ وے کړی هغه کسانو
مِنْ بَعْدِهِم مِّنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوا
چه روستو وو د دوی نه۔ پس د هغے نه چه راغلی وو دوی ته ښکاره دليلونه او ليکن اختلاف اُوکړو دوی
فَمِنْهُم مَّنْ آمَنَ وَمِنْهُم مَّنْ كَفَرَ
نو بعض د دوی نه هغه څوك دی چه ايمان ئے راوړے دے او بعضِ د دوی نه هغه څوك دی چه کفرئے کړے دے
وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوا وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿٢٥٣﴾
او که چرے الله غوختلے نو جنګونه به نهٔ وے کړی دوی او ليکن الله تعالىٰ کوی هغه څه چه اُوغواړی۔

تفسير : پدے آيت کښ الله تعالىٰ د رسولانو ترمينځ تفاوت (فرق) او تفاضل (يو بل باندے غوره والے) بيانوی، يعنی الله دا خبر ورکړے چه د انبياء او رسولانو په مينځ کښ په قسماقسم فضائلو او صفاتو او مرتبو کښ تفاوت او فرق راروان دے، بعض انبياؤ لره الله تعالىٰ داسے فضيلت ورکړيدے چه نوروته ئے هغه نهٔ دے ورکړے، تول انبياء په صفاتو او فضيلتونو کښ يو شان نهٔ دی۔

قتادهٔ فرمائی : ابراهيم عليه السلام ئے خپل خليل جوړ کړے، د موسىٰ عليه السلام سره ئے بغير د واسطے نه خبرے کړی، او عيسىٰ عليه السلام ئے د آدم عليه السلام په شان ګرځولے چه هغه ئے د خاورے نه پيدا کړے، او عيسىٰ د الله بنده او د هغه کلمه او روح دے، او داؤد عليه السلام ته ئے زبور ورکړے او سليمان عليه السلام ته ئے لويه بادشاهی ورکړے وه چه د هغه نه روستو د هيچا دپاره مناسبه نهٔ وه، او محمد ﷺ ته ئے مخکنی او روستنی تول ګناهونه معاف کړی۔ (فتح البيان)

او رسول الله ﷺ ئے په ټولو انسانانو اُوچتے مرتبے والا ګرځولے دے۔

علماء کرامو وئیلی دی چه الله تعالیٰ هغهٔ لره دیو زرونه زیاتے معجزے او نخے ورکړے وے، او د تولو نه لویه معجزه قرآن کریم وو چه یواځے په تولو انبیاؤ باندے د فوقیت حاصلولو دپاره کافی وو۔ او عیسی ابن مریم علیه السلام ته ئے نور معجزات ورکړیدی چه د هغے په ذریعه د الله تعالیٰ په حکم سره ړوند ته او برګی مرض والا ته شفاء ملاویده۔

مړی به ئے ژوندی کول او کله چه په غیږهٔ کښ وو، نو خلقو سره ئے خبرے کړیدی، او الله تعالیٰ د روح القدس په ذریعه د هغه مضبوطیا کړیده یعنی د جبریل امین په ذریعه یا د هغه پاك روح په ذریعه چه الله تعالیٰ په هغه کښ پوکلے وو۔

د انبیاء کرامو د کمال او عظمت او د هغوی سره د رالیږلے شوو نخو تقاضا دا وه چه تولو انسانانو په هغوی ایمان راوړے وے، لیکن داسے اُونشوه۔ اکثر خلق د نیغے لارے نه واوړیدل او یو بل ئے قتل کړل، حال دا چه که الله غوختلے نو تول به ئے په نیغه لاره روان کړی وے، لیکن د الله حکمت ددے تقاضا کوی چه د عالَم نظام د اسبابو سره اُوتړی۔

صاحب د تدبر قرآن فرمائی : پدے آیت کښ د هغه صحیح رویے او طریقے وضاحت دے کومه چه د الله د رسولانو په باره کښ د هغوی اُمتونو له اختیارول پکار وو۔ لیکن هغوی هغه اختیار نهٔ کړه بلکه د هغے په ځائے ئے یوه بالکل غلطه رویه اختیار کړهٔ چه د هغے په سبب د هغوی ترمینځ تعصبات پیدا شو، او هغوی د یو بل سره دشمنان او مخالف کیدو سره خپل مینځ کښ په جنګونو او جګړو کښ اخته شول۔

پدے بیان سره مقصود دلته نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دا واضح کول دی چه نن ستا په مخالفت کښ هم دا اهل کتاب چه کوم زور لګوی ددے لویه وجه د دوی همدغه غلط چلن دے۔ الله تعالیٰ د خپلو رسولانو نه هر رسول ته څهٔ نا څهٔ په یو اعتبار سره فضیلت ورکړیدے او ددے فضیلت په اعتبار سره ئے هغه په نورو باندے ممتاز کړیدے۔ (لکه هغه مخکښ بیان شو)۔

نو د انبیاؤ په باره کښ همداسے عقیده ساتل پکار وو، لیکن ددے انبیاؤ امتونو چه کومه طریقه اختیار کړه هغه دا ده چه د دوی نه چه چا کوم نبی او رسول اُومنلو، نو د تولو فضائلو او خصوصیاتو جامع ئے صرف یواځے هغه جوړ کړو، او بل کوم نبی او رسول دپاره کوم فضیلت تسلیمول د هغوی په نیز د ایمان منافی اُوګنړلے شو۔ ددے تعصب او تنګ نظرئ نتیجه دا شوه چه د مخکنو اُمتونو نه هر امت په خپله خپله کړئ کښ بند پاتے شو، او د هغوی دپاره د نورو نبیانو او رسولانو د برکاتو نه د فائدے اخستو لاره بنده شوه۔ که دوی صحیح طریقه اختیار کړے وے، نو هر رسول به د دوی رسول او هر هدایت به د دوی هدایت وے او دوی به د هغه

هدايت نه هم حصه مونډلے كوم چه اُوس د قرآن كريم په شكل كښ د آخرى هدايت په حيثيت سره د دنيا مخے ته ښكاره شويدے۔ آه۔

ربط : ○ مخكښ اُووئيل شو چه ته د رسولانو نه ئے، نو وَهم پيدا شو چه ټول رسولان به يو شان وى، نو اُوس وائى چه ټول رسولان په مرتبو كښ يو شان نهٔ دى۔

○ مخكښ د امير الجهاد بيان وو، دلته د خليفه بيان دے۔ چه هغه رسولان دى۔

○ كومو خلقو چه د انبياؤ مخالفت كړے هغه ذليل شو، دلته وائى څوك چه د آخرى نبى نه مخالف شوى، هغوى به هم ذليله كيږى ځكه چه دا خو د ټولو انبياؤ نه ډير غوره دے۔

○ مخكښ ئے اُووئيل چه په انبياؤ باندے الله فسادونه ختموى، اُوس وائى چه د انبياؤ د مرتبو په مابين كښ فرق د اختلاف سبب جوړول نهٔ دى پكار، بلكه په ټولو باندے ايمان لرل پكار دى اګركه څپل مينځ كښ به ئے په مرتبو كښ فرق وى۔

فائده : د آيت نه معلومه شوه چه نبى كريم ﷺ لره الله تعالىٰ په تمامو رسولانو باندے افضل جوړ كړے، او د رسول الله ﷺ حديث [اَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ] چه زهٔ د آدم عليه السلام د اولادو سردار يم) نه هم دا ثابتيږى۔ پدے وجه په صحيحينو كښ د ابو هريره رضي الله عنه حديث [لَا تُفَضِّلُوْنِىْ عَلَى الْاَنْبِيَاءِ] يعنى ما ته په انبياؤ باندے فوقيت (غوره والے) مهٔ راكوئ)۔ د نبى ﷺ د طرف نه به په تواضع باندے محموليږى۔ يا دا منع په هغه وخت كښ وه چه نبى ﷺ ته د انبياء عليهم السلام ترمينځ د تفضيل او د يو بل نه د غوره والى وحى نهٔ وه شوے۔

مګر علامه صديق حسن خانؒ فرمائى چه زما په نيز د حديث صحيح مطلب دا دے چه الله او رسول كوم تفضيل بيان كړے هغه بيانه ئ، ليكن د ځان نه زما فضائل مهٔ بيانوئ۔

﴿تِلْكَ﴾ دا اشاره ده هغه رسولانو ته چه په مخكنى آيت كښ ذكر شو، او هلته ټول رسولان مراد وو ځكه چه الف لام په كښ استغراقى وو۔

﴿فَضَّلْنَا﴾ فضيلت د رسولانو ترمينځ (۱) كله په اعتبار د ذات او استعداد (قابليت) سره وى چه دا وَهبى فضيلت دے۔ بعضو كښ د يو شى استعداد او قابليت وى، او بعضو كښ د بل شى۔ (۲) كسبى فضيلت۔ چه دا په دنيا كښ د تكاليفو او د مصيبتونو برداشت كولو او د عزم په اعتبار سره وى۔ د چا مصائب ډير وى، نو مرتبه ئے هم پورته وى لكه ابراهيم عليه السلام باندے امتحانات زيات وو، دغه شان نوح عليه السلام ډير صبرناك وو، او زمونږ نبى ﷺ باندے د ټولو نه زيات تكليفونه راغلى وو۔

﴿مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللّٰهُ﴾ بعض رسولانو سره الله تعالىٰ براه راست خبرے كړى او دا ډير لوئى منقبت

او فضیلت دے لکه موسی، آدم او محمد علیهم السلام۔
صحیح حدیث کښې دی : [آدَمُ نَبِیٌّ مُکَلَّمٌ]۔ (شعب الایمان والحاکم)
آدم ﷺ داسے نبی دے چه الله تعالیٰ ورسره خبرے کړی۔ او موسیٰ ﷺ خو پدے مشهور دے۔
او محمد ﷺ سره ئے د معراج په شپه خبرے کړی۔
بیا دا آیت ښکاره دلیل دے چه د الله کلام او خبرے شته څوك چه د الله تعالیٰ لفظی کلام نهٔ منی، هغوی ددے آیتونو تحریفات کوی۔
﴿ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ ﴾ اکثر مفسرین فرمائی : د بعض نه مراد زمونږ نبی محمد ﷺ دے۔
او په (بَعْضَهُمْ) لفظ سره ئے مبهم ذکر کړو، دپاره د تفخیم او تعظیم۔ځکه چه زمونږ د رسول په ټولو انبیاؤ باندے ډیر زیات فضیلتونه دی چه هغه مفسرینو ذکر کړیدی۔
(۱) د رسول الله ﷺ رسالت د ټول عالَم انسانانو او پیریانو ته عام دے۔ لکه په سورة الاعراف (۱۵۸) آیت کښې دی۔(۲) د نبی ﷺ دپاره مُعجزه خالده (همیشه پاتے کیدونکے) قرآن کریم دے۔
(۳) رسول الله ﷺ د ټول عالَم دپاره رحمت رالیږلے شویدے۔ سورة الانبیاء (۱۰۷) آیت۔
(٤) په رسول الله ﷺ کښې د مخکنو انبیاؤ ټول محاسن او ښائسته صفات راجمع وو لکه سورة الانعام (۹۰) آیت نه معلومیږی۔
(۵) د رسول الله ﷺ طاعت، رضا، بیعت او استجابت داسے دے لکه د الله طاعت، رضا، بیعت او استجابت۔ دا په سورة النساء (۸۰) آیت، فتح (۱۰) آیت، توبه (۶۲) آیت او سورة الانفال (٢٤) آیت کښې ذکر دی۔
(٦) په احادیثو کښې خو ډیر زیات فضیلتونه راغلی۔ د قیامت په ورځ به ټول انبیاء د رسول الله ﷺ د جنډے لاندے وی۔ (۷) جنت ته مخکښې یو نبی هم بغیر د رسول الله ﷺ نه نشی داخلیدے، اول داخلیدونکے به رسول الله ﷺ وی۔ او دغه شان نور ډیر فضائل شته۔
لیکن ظاهر دا ده چه (بَعْضَهُمْ) په تعمیم پریخودے شی، نو دے کښې ابراهیم، موسیٰ او عیسیٰ او نوح علیهم السلام (یعنی اولو العزم رسولان) هم داخل دی۔ کوم چه په سورة الاحزاب (۷) آیت او سورة الشوریٰ (۱۳) آیت کښې ذکر دی چه هغه پنځه انبیاء دی۔ الله دوی له داسے ډیرے درجے ورکړے دی چه هغه ئے نورو له نهٔ دی ورکړی۔
﴿ دَرَجٰتٍ ﴾ ددے انبیاؤ دنیا کښې معنوی درجات هم وو چه ډیر معجزات ئے وو، او لوئی لوئی اُمتونه الله ورکړی وو۔ او په جنت کښې به ئے هم حسی درجات وی چه د یو بل نه به پورته وی۔
سردار به ئے زمونږ پیغمبر محمد رسول الله ﷺ وی۔

اُوس د عیسیٰ علیه السلام تـذکـره کوی، چا به وئیل چه دا به د تولونه بهتر وی ځکه چه بے پلاره پیدا دے؟ نـو فرمائی : ﴿ وَآتَيۡنَا عِيۡسَى ﴾ د عیسیٰ تـخـصیص ئے اُوکړو د دوه وجو نه (۱) دپاره د دفع د وهم چه دا به د تولو رسولانو نه غوره وی ځکه چه بغیر د پلار نه پیدا دے۔

(۲) دویم د عیسیٰ علیه السلام نـه روستو اختلافات ډیر پیدا شوی وو، او پدے کښں په یهود او نصاراؤ رد کـوی چه عیسیٰ علیه السلام دوی تـه واضـحـه مـعـجزات راوړی وو، لیکن یهودو په کښں اختلافات شروع کړل۔ او انکار ئے اُوکړو، او نصاراؤ د هغه په باره کښں غلو اُوکړه، نو اِلٰـه ئے ترے جوړ کړو۔

﴿ اَلۡبَيِّنَاتِ ﴾ یعنی معجزے۔ او ددے تشریح په (۸۷) آیت کښں لیکلے شویده۔

﴿ بِرُوۡحِ الۡقُدُسِ ﴾ روح القدس یا جبریل علیه السلام دے یا انجیل دے۔ یا د عیسیٰ روحانیت دے۔

﴿ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقۡتَتَلَ الَّذِيۡنَ مِنۡ بَعۡدِهِمۡ ﴾ پـدے کـښں الله تعالیٰ خپـل مشیئتِ طلیقه (آزاده اراده) بیانوی۔ او د رسولانو نه روستو د اختلاف کونکو بدی بیانوی۔

او دے کښں د یو وهم ازاله کول مقصد دے چه الله سبحانه رسولان په معجزات او دلیلونو سره د هدایت دپاره رالیږلي نو بیا خلقو ولے قتل وقتال کولو ؟ نو جواب اُوشو چه د قتل او قتال سبب اختـلاف د خـلـقـو وو پـه ایـمـان او کفر کښں، چا ایمان راوړو او چا پرے کفر اُوکړو نو ځکه ئے قتل وقتـال پیدا شو۔ (۲) دارنګه دا بیانوی چه خلقو اختلافات د الله په مشیت او اراده سره اُوکړل چه پدے کښں د الله ډیر مصلحتونه وو چه هغه روستو ذکر کیږی۔

دا هیـڅ اختـلاف هم بغیر د ارادے د الله نه نهٔ دے شوے۔ دا آیتونه چه په کوم دَور کښں نازل شوی وو په هـغـه دَور کښں د مسلمانانو او د مشرکانو جنګونه شروع وو، او حالات نزدے وو چه یهودو سره هم جنـګ شروع شی پدے وجه الله تعالیٰ په داسے حالاتو کښں د مسلمانانو ذهنونه صفا کوی چه ستاسو مینـځ کـښں دا کوم نظریاتی جنګ دے نو دا د الله د مشیت عینِ مطابق دے او دا جنګ د الله په اجازت سره کیږی لګیا دے ځکه چه پدے کښں د الله ډیر حکمتونه دی۔ (فی ظلال القرآن)

(۳) پـدے کـښں بـهٔ مـطـلـب دا دے چـه پـدے حصه د آیت کښں الله تعالیٰ خپـل یو سنت (یعنیٰ طریقے) ته اشاره کړیده، کومه چه هغه د هدایت او ګمراهیٔ په باره کښں خوښهٔ کړیده۔ او هغه ئے په قـرآن کـریـم کـښں پـه مـخـتـلـفو طرزونو سره بیان کړیده، هغه طریقه دا ده چه الله د هدایت او ګمراهیٔ په باره کښں په هیڅا د جبر او د زور طریقه نهٔ ده اختیار کړے۔ که الله داسے کولے نو بیا به هیڅا ته د ایمان د پریخودو او د کفر د اختیارولو هیڅ ګنجائش پاتے نهٔ وے، لیکن هغه داسے نهٔ دی کړی بـلـکـه بندګانو ته ئے آزادی ورکړے چه هغوی په خپـل سوچ او په خپـل اختیار او اراده سره کـه غـواړی د کـفـر لاره اختیـاره کـړی، یـا کـه غـواړی د ایـمان لاره اختیار کړی، کـه د ایمان لاره

اختیاروی نو د هغې بدله به ورته ملاویږی چه جنت او د الله رضا ده، او که د کفر لاره اختیاروی نو د هغې انجام به مومی۔

لهذا د الله تعالیٰ مشیت او اراده آزاده ده۔ هیڅ پابندی په هغه نشته او بندګانو ته ئې هم د خپلو حکمتونو په بناء آزادی ورکړې، ځکه د هغه په هره اراده کښې حکمت او مصلحت وی۔ او ددې قانون په بیانولو سره مقصد نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکول دی چه د خلقو د هدایت او ګمراهۍ په معامله کښې ستا ذمه واری صرف دومره ده چه خلقو ته په واضحه الفاظو سره حق رسوه، د هغې قبلول یا رد کول په خلقو پریده، دا ستا ذمه واری نۀ ده۔او نۀ تۀ پدې پریشانه کیږه۔ الله به ددې اراده کړی وی۔ (تدبر قرآن، وفی ظلال القرآن)

﴿ فَمِنۡهُم مَّنۡ آمَنَ ﴾ دا تفصیل د اختلاف دې۔ چه چا د انبیاؤ خبره اُومنله او په هغوی ئې ایمان راوړو او چا کفر اُوکړو۔ نو د کفر او ایمان مقابله شروع شوه۔

﴿ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقۡتَتَلُوا ﴾ مشیت د الله دوباره ولې ذکر شو ؟ (۱) نو تکرار یا خو د تاکید دپاره دې۔ (۲) یا اولنې مشیت او اراده د مخکنو انبیاؤ د امتونو سره لګی، او دویم مشیت د عیسیٰ علیه السلام نه روستو خلقو سره، یا ددې اُمت د ایمان والو، او د یهود او نصاراؤ او مشرکانو سره لګی۔ یعنی الله د پخوانو امتونو د اختلاف او دارنګه د عیسیٰ علیه السلام نه روستو او پدې امت کښې د اختلاف اراده کړې وه۔

او (اِقۡتَتَلُوۡا) لفظ ذکر کولو کښې اشاره ده ډیر والی د اختلاف ته ځکه چه د عیسیٰ علیه السلام نه روستو ډیر زیات اختلافات پیدا شوی وو۔

﴿ اخۡتَلَفُوا ﴾ پدې کښې اشاره ده چه د انبیاؤ په خلاف کښې اُودریدل اختلاف دې او انبیاء علیهم السلام او د هغوی ملګری اختلاف کونکی نۀ دی۔

﴿ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيۡدُ ﴾ الله دا اراده کړې وه چه د دوی مینځ کښې به جګړې وی، اختلافات به وی او راځی به۔ الله داسې هم کولې شو چه ټول خلق ئې په ایمان راجمع کړی وې، یا کافران په خپل حال وې او مسلمانان په خپل حال او د دوی خپل مینځ کښې هیڅ جګړې نۀ راتلې، لیکن الله داسې نۀ دی کړی، پدې کښې ډیر حکمتونه دی چه نیکان بدان، جنتیان جهنمیان جدا جدا شی۔ بعض خلق به د الله د رحمت مظهر اُوګرځی، ایمان والو ته جنتونه ورکړې شی، الله ته نزدې کړې شی۔ په دنیا کښې ورسره مددونه اُوکړې شی۔ او کافرانو ته جهنم، د هغه غضب ورکړې شی۔ په دنیا او آخرت کښې پرې عذابونه نازل شی۔ نو د الله د غضب مظهر به اُوګرځی۔نو د الله د اسماء او صفاتو آثار به پکښې رابښکاره شی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا أَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ مِّنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَ يَوْمٌ
اے ایمان والو ! خرچ کوئ د هغه مال نه چه مونږ درکړی دی تاسو ته مخکښ د هغے نه چه رابه شی یوه ورځ
لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ وَالْكَافِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۵۴﴾
چه نشته خرڅول او اخستل په هغے کښ او نۀ دوستی او نۀ سفارش او کافران هم دوی ظالمان دی۔

تفسیر :

مضمون : ددے ځائے نه تر آخر د سورت پورے عام مسائل د انفاق دی ځکه چه په جهادونو کښ مال ته انتهائی ضرورت دے، لیکن مال خو محبوب شے دے، ددے لګول مشکل دی، پدے وجه د مال د لګولو ترغیبات به ورکوی چه د جنت زیرے، د الله وعده او یره ده۔ او د مالونو متعلق درے قسمه احکام بیانوی چه انفاق، بیوع او سود۔ انفاق کښ احسان وی او په بیع شراء (خرید و فروخت) کښ عدل وی، او په سود کښ ظلم وی۔

بیا د انفاق شرطونه ایجابی سلبی بیانیږی، دے دپاره چه قبول شی۔ نو یو غټ شرط دا دے چه انفاق ډِیے د الله په توحید او د هغه په معرفت سره وی۔ ځکه چه یو انسان مال لګوی خو الله ئے نۀ دے پیژندلے، نو دا مال لګول ورته فائده نۀ ورکوی۔ نو ځکه به آیة الکرسی کښ د الله معرفت ذکر کوی۔ او کافرو الله تعالیٰ نۀ دے پیژندلے نو ځکه مال هم نۀ لګوی۔ بیا د الله د معرفت خبره اُوړدوی، په دوه رکوع کښ همدا خبره کوی چه روستو ئے حاصل راځی۔

بیا د (۲۶۰) آیت نه روستو انفاق ته ترغیبات بیانیږی په مثالونو او په شرطونو ایجابی او سلبی او اقسام د انفاق سره او اوقات او فوائد د انفاق ذکر کولو سره۔ تر(۲۷۴) پورے، بیا د هغه ځائے نه په نیمه رکوع کښ د سود خبره ذکر کوی چه سود کول سراسر ظلم دے۔ بیا په دوه آیتونو کښ په آیة المداینة او وروستے آیت کښ د بیوع او سَلَم او قرض خبره ده۔ او په آخری رکوع کښ د تیر شوو مضامینو دوباره ذکر کول دی۔ دا اجمالی خلاصه وه۔

د دوه رکوع خلاصه: اول کښ الله امر کړے په انفاق سره روستو د جهاد نه، چه په جهاد کښ انفاق هم ضروری دے۔ ورسره ئے د آخرت یره ذکر کړیده چه آخرت او مرګ ته انتظار مۀ کوئ، مخکښ انفاق اُوکړئ۔ بیا د انفاق شرط ذکر کوی چه د الله تعالیٰ د توحید دپاره به وی، او په توحید سره به وی، که انسان کښ توحید نۀ وی، نو انفاق ئے قبول نۀ دے۔

نو پدے آیت کښ د الله تعارف ذکر کیږی د هغه په نومونو او صفتونو سره۔ بیا دوه ډلے

اصحاب الرشد (هدایت والا) او اصحاب الغي (گمراهئ والا) او د هغوی صفات، بدلے او سزاګانے بیانوی. بیا مثالونه د دواړو ډلو دي چه دوه مثالونه (دویم او دریم) د اصحاب الرشد بیانیږي او اول مثال د اصحاب الغي دے.

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ دا خطاب ځکه کوی چه الله تعالیٰ د مؤمنانو په غاړهٔ یوه بله ذمه واری اچوی، او په یو بل قانون سره تربیت کوی چه هغے ته د انفاق او اقتصاد قانون او اقتصادی نظام برابرول وائی. یعنی مال د الله په لاره کښې لګول، ځکه چه د مسلمانانو ملك او معاشره چه جوړیږی نو دا په مال لګولو، یو کس به ئے نهٔ جمع کوی بلکه خرچه کیږی به، هله به کار کیږی، یو سړی سره مال دے، بل سره نشته نو یو بل له به ورکول کیږی، نو د ایمان تقاضا دا ده چه مال به لګولے شی او یو روپئ چه انسان اُولګوی نو د قرآن په ډیرو آیتونو به عمل راشی.

﴿ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم ﴾ دا انفاق فرضی او نفلی ټولو ته شامل دے او دمخکنو آیتونو، او د مقام په اعتبار سره په جهاد کښې انفاق مراد دے چه هغه هم ضروری دے. کله به فرض وی او کله به مستحب وی (قرطبيّ وابن عطية). او دا انفاق هر شی ته شامل دے، پیسے وی، پیداوار، فصلونه وی، حیوانات وی هر شی ته چه د انسان ضرورت راځی.

﴿ رَزَقْنَا ﴾ کښې ئے نسبت ځان ته اُوکړو چه دا د الله تعالیٰ مال دے، او ددے په لګولو سره ستا نه رضا کیږی نو ولے ئے نهٔ لګوے!.

﴿ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ ﴾ ددے ورځے نه د قیامت ورځ مراد ده، او حدیث کښې راځی چه د مرګ نه ئے مخکښې اُوکړئ. قرآن غټه خبره ذکر کوی او حدیث کښې ورسره وړے وړے ذکر کوی، او هر انسان چه مړ شو بس د هغه قیامت قائم شو.

﴿ لَا بَيْعٌ فِيهِ ﴾ د بیع نه مراد اخستل خرڅول دواړه دی، او مراد ترے تصرف کول دی یعنی سړے په خپل مال کښې تصرف نهٔ شے کولے [لِيَتَدَارَكَ مَا فَاتَهُ] چه د فوت شوی شی تدارك اُوکړی، یعنی چه یو شے خرچ کړی او مال اُوګټی او بیا ترے فائده واخلی، داسے به نهٔ وی.

﴿ وَلَا خُلَّةٌ ﴾ خُلة د خاء په پیښ سره، خالصے دوستانے ته وئیلے شی چه په هغے کښې د دوه دوستانو رازونه یو بل ترمینځ ننوتی وی. ځکه دے کښې معنیٰ د تخلل. (یو بل کښې ننوتو) پرته ده. یعنی د قیامت په ورځ به دوستی هم فائده نهٔ ورکوی چه یو مشرك او کافر لره خپل مخلص دوست خلاص کړی. دا دوستی مقید ده په کافر پورے. او هرچه ایمان والا متقیان دی نو هغوی به د یو بل دوستان وی لکه په سورة الزخرف آیت (٦٧) کښې دی : ﴿ الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴾. (د قیامت په ورځ به دوستان د یو بل دشمنان وی سِویٰ د متقیانو نه).

يعنى كه څوك په غلطه كښې د يو بل ملګرى شوى وى، شرك، بدعت، پيرى او مريدئ كښې نو د يو بل دشمنان به وى۔

﴿ وَلَا شَفَاعَةٌ ﴾ دلته د شفاعت نه شفاعتِ شركيه، شفاعت بالمحبة، شفاعت بالوجاهة شفاعت قهريه مراد دے۔ يعنى مشركان چه په خپلو معبودانو څنګه د سفارش ګمان كوى نو هغه به نۀ وى، داسې څوك به نۀ وى چه د هغه د محبت او د هغه د مخوريزئ د وجه نه مجرم خلاص كړى او هر چه د ايمان والو دپاره سفارش دے كوم چه د الله په اجازه او اراده سره وى، نو هغه خو الله تعالىٰ روستو په آية الكرسى كښې ثابت كړيدے۔

يا مطلب دا چه هيڅ قسم سفارش به نۀ وى مګر كه الله چا دپاره او چا ته اجازت اُوكړى، او الله خو صرف ايمان والو ته د ايمان والو دپاره د سفارش اجازت وركوى لكه روستو آية الكرسى كښې راځى۔ معلومه شوه چه دلته د كافرو دپاره د سفارش نشتوالے مراد دے۔ نو د معتزله ؤ وغيره باطلو ډلو دا دليل نيول صحيح نۀ دى چه قيامت كښې دګنا هګارو دپاره بالكل سفارش نشته، ځكه چه دلته الله تعالىٰ مطلقاً سفارش نفى كړيدے۔

جواب دا دے چه دلته ورسره (اِلَّا بِاِذْنِهٖ) (مګر په اجازت سره) مراد دے ځكه چه روستو آيت ئے تفسير دے۔ ځكه چه دواړه د قرآن آيتونه دى، كه شفاعت بالاذن (د اجازت والا سفارش) نۀ منى نو بيا به هغے سره څۀ كوى؟۔

خو دلته الله تعالىٰ مطلقاً ځكه شفاعت نفى كړيدے چه دا مقام د ترغيب او وعيد دے، د قيامت هيبت ذكر كول مقصود دى۔ يعنى د قيامت داسې سخته ورځ ده اے بنده! نو مال اُولګوه چه هغه ورځ درته آسانه شى۔

﴿ وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴾ ددے مناسبت ۱- يو دا دے چه (واو) په معنىٰ د اِذْ دے [اَىْ اِذِ الْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ وَلَا شَفَاعَةَ لِلظَّالِمِ] خلة او شفاعت د كافرانو دپاره نشته ځكه چه كافران ظالمان دى، او د ظالم سره دوستانه او سفارش نۀ دے پكار۔

۲- دويم پدے كښې مقصد يره وركول دى مؤمنانو ته چه كافران ظالمان دى، انفاق او نيك كارونه ئے پريخى دى، د الله توحيد او د هغه حق ئے برباد كړے، مال لګول پرے فرض وو او هغه ئے په ځائے اُونۀ لګولو (ځكه چه ظلم كيخودل د يو شى دى په غير د خپل مناسب ځائے كښې) نو تاسو په ځان ظلم مۀ كوئ او د كافرانو سره په پريخودو د انفاق، د نيك اعمالو او فرض زكاة وركولو وغيره كارونو كښې مشابهت مۀ كوئ۔ نو پدے كښې عموم شو او دا ډير بهتر دے۔ او آيت به په ظاهر هم حمل شى۔

٣- دریم دا چه پدے کښې علت د انفاق ذکر دے چه هرکله کافران ظلم کونکی دی نو په جهاد کښې انفاق اُوکړئ چه د هغوی ظلم دفع شی او مسلمانان د ظلمونو نه خلاص شی۔
٤- صاحب اللباب فرمائی : دا مطلب هم دے چه کافران ظالمان دی ځکه چه ځانونه ئے په غیر د خپلو مناسبو ځایونو کښې کیخودل چه د هغه چا نه ئے د سفارش توقع او امید اُوساتلو چه هغوی ورله د الله تعالیٰ په نیز سفارش نشی کولے۔ ځکه چه دوی به د خپلو بتانو په باره کښې وئیل : ﴿ هٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللهِ ﴾ یونس :(١٨)
دا به زمونږ دپاره د الله په نیز سفارش کونکی وی۔ ﴿ لِيُقَرِّبُوْنَا اِلَى اللهِ زُلْفٰى ﴾ (الزمر : ٣)
(مونږ دوی له ځکه عبادت کوو چه مونږ الله ته نزدے کړی)۔ (اللباب٣/٢٤٠)
بعض علماؤ دلته د کافرانو نه مانعین د زکاة مراد کړیدی ځکه چه امر په انفاق اُوشو او بیا د کفر تذکره اُوشوه، دا قرینه ده چه څوك زکاة نهٔ ورکوی نو هغه د کافرانو مشابه دے او د هغه سره به د کافرانو په شان قتال کولے شی۔ (فتح البیان)۔
لیکن دا د آیت اشاره ده او تفسیر نهٔ دے۔
حکمة : صاحب د فتح البیان د عطاء بن دینارؒ نه نقل کړی چه الحمد لله چه الله تعالیٰ داسے اُوفرمایل : (وَالْكَافِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ) او داسے ئے اُونهٔ فرمایل : (وَالظّٰلِمُوْنَ هُمُ الْكَافِرُوْنَ) یعنی ظالمان کافران دی ځکه چه ظلم (ګناه) خو مؤمن کښې هم راتلے شی نو بیا به هغه هم کافر شوے وے۔

اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ لَاتَاْخُذُهٗ
الله تعالیٰ نشته لائق د بندګئ سِویٰ د هغه نه همیشه ژوندے دے نظام چلونکے دے نهٔ رانیسی هغه لره
سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ
پرکالی او نهٔ خوب خاص د هغه په اختیار کښې دی هغه څهٔ چه په آسمانونو کښې دی او هغه څه چه په زمکه کښې دی
مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ يَعْلَمُ
څوك دے هغه شخص چه سفارش اُوکړی د هغه سره مګر په اجازه د هغه، هغه پو هه دے
مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖ
په هغهٔ څه چه ددے خلقو مخکښې دی او هغه چه روستو دی او دوی نهٔ شی راګیرولے هیڅ یو شے د علم د الله تعالیٰ نه

إِلَّا بِمَا شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَؤُودُهُ

مگر په هغه څه چه الله اُوغواړي، فراخه ده کرسی د الله تعالیٰ آسمانونو او زمکے ته او نهٔ ستړے کوی الله لره

حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿۲۵۵﴾

حفاظت ددے دواړو او هغه ډیر اوچت دے، ډیر لوئی دے۔

تفسیر: دے آیت کښې څو بحثونه دی: (۱) ربط او مناسبت (۲) نوم ونه او فضیلت۔ (۳) تفسیر او فوائد۔

مناسبت: (۱) ددے مناسبت د مخکښې سره دا دے چه (اَنْفِقُوْا) خیرات اُوکړئ ددے کلمے دپاره۔ چه دا کلمه د توحید ستا په زړهٔ کښې واقع شی او د مال محبت کم شی۔

(۲) دویم دا چه ددے کلمے د اشاعت دپاره دا انفاق کیږی۔ (۳) دریم دا چه د (وَالْكَافِرُوْنَ) سره ئے مناسبت دے، یعنی کافران ظالمان دی څکه چه ددے کلمے د توحید (لا اله الا الله) نه منکر دی۔

(٤) مخکښې ئے انفاق ته ترغیب ورکړو چه مال اُولګوئ، نو اُوس وائی چه اول به الله تعالیٰ پیژنے، بیا به انفاق او نور نیك اعمال فائده ورکوی، نو پدے کښې بیان ددیرے اَهمے مسئلے دے۔ چه هغه معرفت د الله تعالیٰ دے۔ څکه چه دا د شرائطو د انفاق نه لوئی مُهم شرط دے، کله چه انسان الله تعالیٰ په نومونو او په صفاتو سره اُوپیژنی، نو د هغه په زړهٔ کښې بیا ریاء نهٔ واقع کیږی، مخلوق ته څان نهٔ ښائی، څکه چه مخلوق ورته معمولی ښکاری۔ او روستو راځی کوموکسانو چه الله تعالیٰ نهٔ دے پیژندلے، هغوی ریاکار دی، اعمال ئے ضائع دی۔نو دا آیت د روستو مسئلے د انفاق دپاره تمهید او مقدمه ده۔

○ دارنګه پدے آیت کښې په انفاق او په عمل صالح باندے باعث او د هغے سبب بیانوی چه هغه د الله سبحانه معرفت دے، څکه چه څوك خپل رب اُوپیژنی، نو بیا د هغه سره مینه لری، او د هغهٔ دپاره عمل کوی، او څوك چه خپل رب اُونهٔ پیژنی نو محبت به ورسره څنګه اُوکړی او عمل به ورله څنګه اُوکړی!۔ فتدبر۔

نوم ونه او فضیلت:

ددے آیت فضائل په احادیثو کښې ګڼر راغلی دی۔

(۱) چا چه دا د شپے اُولوستلو نو د شیطان نه به تر سحر پورے محفوظ وی، لکه د ابو هریرهؓ په واقعه کښې راځی چه هغه رسول الله ﷺ د رمضان زکاة (سرمایهٔ) حفاظت ته کینولے وو، شیطان

ترے درے شپے غلا اُوکړه او هر ځل به ئے ترے ځان خلاصولو، آخر کښې ئے ورته دا اُووئیل چه ما پریده زهٔ به تا ته داسے کلمات اُوښایم چه الله به تا ته په هغې سره فائده درکړی، کله چه تهٔ خپلے بسترے ته راشے نو آیة الکرسي تر آخره پورے اُووایه :

[فَإِنَّهُ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللهِ حَافِظٌ وَلَا يَقْرُبُكَ شَيْطَانٌ حَتّٰى تُصْبِحَ] (بخاری رقم : ۲۱۸۷)

(په تا باندے به همیشه یو حفاظت کونکے ملائك مقرر وی او تر سحره پورے به تا ته شیطان نزدے نهٔ راځی).

(۲) ابو امامه ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی :

[مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُوْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا أَنْ يَمُوْتَ]

[النسائی والطبرانی باسانید احدها صحیح. صحیح الترغیب :۱۵۹۵ و صحیح الجامع الصغیر ٦٤٦٤]

چا چه آیة الکرسی د هر فرض مانځه پس اُولوستله نو د مرگ سره به سمدست جنت ته داخل شی)۔ خو شرط دا دے چه ددے آیت په مطلب پو هیږی او پدے عقیده لری۔ ډیر مشرکان دا وائی او شرك هم کوی۔

(۳) ابی بن کعب ﷺ هم یو جنی لره نیولے وو چه لاسونه ئے د سپی په شان وو، د هغه نه ئے غلا کوله، هغه ورته اُووئیل چه تاسونه به مونږ په څهٔ محفوظ کیږو۔ هغه ورته اُووئیل : پدے آیة الکرسی۔ بیا رسول الله ﷺ اُوفرمایل : صَدَقَ الْخَبِيْثُ۔ دے خبیث رشتیا وئیلی دی۔

(صحیح ابن حبان – صحیح الترغیب والترهیب : ۱۴۷۰)۔

(٤) اَعْظَمُ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ : (په قرآن کریم کښې ډیر عظمتِ شان والا آیت)۔

اُبی بن کعب ﷺ ته نبی ﷺ اُوفرمایل : په قرآن کښې بهتر او د مرتبے په لحاظ لوئی آیت کوم یو دے؟ نو اول ئے ورته اُووئیل : الله او رسول ښهٔ پو هیږی، لیکن بیا ئے ترے تپوس اُوکړو، نو ورته ئے اُووئیل : آیة الکرسی۔ نبی ﷺ اُوفرمایل : ستا دا علم دے مبارك شی اے ابو المنذر !۔

دے ته ئے عِلم اُووئیلو چه بنده د قرآن په یوه خبره پو هه شی۔

(په یو روایت کښې ورسره دا زیات راغلی دی : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ إِنَّ لَهَا لِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ تُقَدِّسُ الْمَلِكَ عِنْدَ سَاقِ الْعَرْشِ – ابن حبان، طبرانی، عبد الرزاق – الصحیحة : ۳۴۱۰]

(قسم په هغه الله چه زما نفس د هغه په لاس کښې دے چه ددے آیت دپاره یوه ژبه او دوه شونډے دی، چه د عرش د خپے سره د الله پاکی بیانوی)۔

امام احمدؒ او نسائیؒ د ابو ذر ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

« ډیر لوئی آیت چه په رسول الله ﷺ باندے نازل شوے آیة الکرسی دے»۔

(۵) په یو بل حدیث کښې دی چه هغه امام احمدؒ، ابوداوڈ، ترمذیؒ او ابن ماجهؒ روایت کړیدے چه د الله اسم اعظم (لوئی نوم) په دے دوه آیتونو کښې دے :﴿ اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ﴾ او ﴿ الٓمّٓ ۝ اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ﴾۔ (وسنده صحیح)۔

(٦) دا په دمونو کښې هم وئیلے کیږی۔

(۷) دے ته سَیِّدَةُ آیَاتِ الْقُرْآن وائی۔

(په قرآن کریم کښې د آیتونو سردار آیت دے)۔ (عن علیؓ – شعب الایمان)

(۸) اَفْضَلُ آیَةٍ فِی الْقُرْآنِ (په قرآن کریم کښې بهتر آیت دے) او د بهتر والی معنیٰ دا ده چه ددے په لوستلو زیات ثواب ملاویږی په نسبت د نورو آیتونو۔ (فتح البیان)۔

ولے بهتر دے ؟ وجه دا ده چه پدے کښې تول بحث د الله د ذات، د هغهٔ دتوحید، د هغهٔ د عظمت او د هغهٔ د ثبوتی او سلبی صفاتو بیان دے۔ او هر هغه تقریر، موضوع او خطبه چه په هغے کښې موضوع بهترینه او شرافت والا وی نو هغه هم غوره وی۔

ددے آیت موضوع څهٔ شے دے ؟ [بَیَانُ مَعْرِفَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ بِاَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ]

(د الله تعالیٰ په نومونو او صفتونو سره پیژندل) نو د الله معرفت خو ډیر ضروری دے۔

پدے آیت کښې د الله ایجابی او سلبی صفات ذکر دی لکه تفصیل دپاره آیت (۲٦) اُوګوره۔

او د الله دوه قسمه صفات دی، ایجابی (چه فلانے، فلانے صفت لری) او سلبی (چه د فلانی عیب نه منزّه دے) د الله د کمال صفتونه ډیر زیات دی، او منفی صفتونه ئے هم شته چه خوب پرے نهٔ راځی، پرکالی پرے نهٔ راځی، خوراك نهٔ کوی، ښځه ئے نشته، بچی ئے نشته، ظلم نهٔ کوی، او داسے داسے ښائسته صفات هم لری، او دا دواړه خبرے پدے آیت کښې شته۔

بیا د الله سلبی صفات ثبوتی صفت لره متضمن وی، او سلب مجرد (خالص)، کمال نهٔ وی۔ او داسے سلب د الله دپاره نشته، او سلبی صفات کم دی، او ثبوتی ډیر دی ځکه چه ثبوتی صفت کښې کمال وی۔

دے ته آیة الکرسی وائی او پدے کښې پنځوس کلمے دی او لس جملے او د الله د (۲۵) نه زیات نومونه او صفتونه دی۔

﴿ اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ﴾ د الله نه سِوا بل څوك لائق د بندګئ نشته) پیر وی که فقیر، بُت وی که هر شے۔ دا د عبادت لائق نهٔ دی، عبادت صرف د الله تعالیٰ حق دے۔

﴿ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ﴾ قیوم معنیٰ ده :[اَلْقَائِمُ بِتَدْبِیْرِ مَا خَلَقَ] کوم مخلوق ئے چه پیدا کړے نو بیا د هغے تربیت هم کوی، چا ته ئے نهٔ دی سپارلی۔ قیوم هغه دے چه خپله قائم او بل چا لره اُودرونکے وی۔

د هغهٔ پروګرام کوی۔ مونږ هم ژوندی یو، لیکن مرګ رابانديے راځی او الله بانديے مرګ نهٔ راځی، انسان هم قیوم دیے، کله کله تدبیر کوی، لیکن د بعض څیزونو۔ او د هر شی تدبیر نشی کولے، او هغه تدبیر هم ناقص وی۔ ددیے وجه نه غوث، قطب نشته دیے چه هغه د عالَم حاجت پوره کړی۔ لکه مشرکان وائی چه په اقطاب او اغواث او ابدالو سره عالَم ټینګ دیے۔

ابن القیم رحمه الله په قصیده نونیه کښ فرمائی چه دا دوه صفتونه د الله تعالیٰ تولو صفتونو لره راجمع کونکی دی ځکه چه (الحی) ضرور مُرید (اراده کونکے) وی او څوك چه اراده کوی، نو هغهٔ د مخکښ نه عِلم لری۔ او چه اراده لری نو هغه به محبت او کراهیت لری۔ څهٔ به خوښوی او څه به بد ګنړی۔ او محبوب ته به ورکړه کوی، او مبغوض ته به سزا ورکوی۔ دارنګه چه اراده لری، نو فعل او قوت به لری۔ نو پدیے کښ علم، اراده، کراهیة، محبت، فعل، قوت، ورکړه او منع صفتونه راغلل۔

دارنګه (القیوم) دیے، تدبیر کوی نو خالق دیے، عِلم ورسره دیے، قوت ورسره دیے، حکمة ورسره دیے، د چا رائے او مشوریے ته ئے حاجت نشته۔ نو ځکه به رسول الله ﷺ په وخت د مصیبت کښ داسیے دعا کوله : [یَاحَیُّ یَا قَیُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِیْثُ] [عمل الیوم واللیلة لابن السنی ۳۳۶]

اے الله چه تهٔ ژوندیے او تدبیر کونکے ئے، ستا په رحمت سره مدد غواړم)۔

﴿ لَاتَأْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ﴾ سِنَة د خوب اول سرته وئیلے شی، او نوم آخر ته وئیلے شی۔

سِنَه هغه ده چه په سر کښ ئے اثر راشی، او نوم هغه دیے چه په زړهٔ بانديے راشی، دا ډیر مضبوط وی۔او نُعاس هغه دیے چه په سترګو راشی۔ دا درمیانه درجه ده، نولږ خوب هم پریے نهٔ راځی او ډیر هم پریے نهٔ راځی، نو درمیانه به هم پریے نهٔ راځی۔

ولے پریے نهٔ راځی ځکه چه (اَلْحَیُّ) ذات دیے، او خوب چه چا له ورځی نو هغه خو مړ کیدونکے وی، ځکه خوب هم یو نوع مرګ دیے۔ او ځکه چه قَیُّوم دیے، او خوب چه پریے راشی نو بیا به تدبیر څنګه اُوشی، او خوب ته هغهٔ څوك محتاج وی چه هغه ستړیے کیږی، غوښه او هډوکے لری، او رب العزت داسیے ذات نهٔ دیے، هغه نُور دیے، هغه قوت والا ذات دیے۔ په جنت کښ به جنتیان نهٔ اُودهٔ کیږیَ۔ او دارنګه ملائك هم نهٔ اُودهٔ کیږی چه مخلوق دیے نو الله بانديے به څنګه راشی؟ الله رب العالمین داسیے ذات دیے، د شپے او د ورځے په بندګانو علیم او خبیر دیے۔

اُوس د هغهٔ واکداری بیانوی : ﴿ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ﴾ [لَهٗ یعنی مِلْکًا وَخَلْقًا وَعَبِیْدًا] یعنی تمام موجودات د هغه غلامان دی، الله ئے مالك هم دیے، او خالق ئے هم دیے، او سَیّد ئے هم دیے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنْ كُلُّ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّا آتِی الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴾ چه د آسمان او

زمکے تمام مخلوقات د الله بندګان دی۔ (مریم: ۹۳)

اُوس د الله عظمت او هیبت بیانیږی : ﴿مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗ﴾ هیڅوك نشته چه د الله رب العالمین مخے له ورشی، چه اے الله ! دا سړے معاف کړه ځکه چه د الله هیبت ډیر دے۔

﴿اِلَّا بِاِذْنِهٖ﴾ الله به بعضِ بندګانو ته اجازه ورکړی چه څۀ سفارش کوئ. یعنی د الله د اجازت نه بغیر هیڅوك د چا دپاره د الله په دربار کښ د سفارش کولو جرأت نشی کولے، انبیاء او ملائك د الله تعالیٰ د اجازت نه بغیر سفارش نۀ شی کولے، نو هغه بتان- چه کافران ورله عبادت کوی او د کوم په باره کښ چه دوی پدے باطل ګمان کښ اخته دی چه دوی به د الله په دربار کښ د دوی دپاره سفارشیان جوړیږی- څنګه به سفارش اُوکړی ؟!۔

په حدیث د شفاعت کښ دی چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((زۀ به د عرش لاندے راشم او په سجده به پریوځم، نو الله به ما په همدغه حال دومره پریدی، څومره چه هغۀ غواړی بیا به ما ته اُووائی چه خپل سر پورته کړه او وایه، ستا به آوریدلے کیږی او سفارش کوه، قبلیږی به))۔ (بخاری ومسلم)۔

او دا سفارش به د مؤحدینو دپاره وی۔ مشرکانو دپاره به نۀ وی۔

ابو هریره ﷺ د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اُوکړه چه هغه خوش نصیب به څوك وی چه ستا سفارش به ورته نصیب کیږی؟ نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه ((چا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ د زړۀ په پوره اخلاص سره وئیلی وی))۔ (بخاری)۔

معلومه شوه چه دا سفارش به د مؤحدینو دپاره د الله تعالیٰ یو انعام وی۔

نو پدے کښ د الله جباریت او رحم ذکر دے چه داسے زوره ور ذات دے چه څوك مخے له نشی ورتلے، او دومره رحیم دے چه په ایمان والو به رحم کوی، دوی به ګناهونه او جرمونه هم کړی وی لیکن بیا به هم الله تعالیٰ نورو بندګانو ته وائی چه تاسو ما نه اُوغواړئ، دوی ستاسو په خبره معاف کوم۔ پدے کښ د ګناهګارو د اُور نه د خلاصیدو فائده ده او د نیکانو شان او مرتبه اُوچتول دی۔ او د الله عظمت او لوئی والے پکښ دے۔ نو د الله تعالیٰ جباریت، رحم، محبت، مغفرت او قبول الشفاعة صفات شو۔

﴿یَعْلَمُ مَا﴾ د الله تعالیٰ عِلم په تمامو کائناتو محیط (راګیرونکے) دے، هیڅ مخلوق په ماضی، حاضر او مستقبل کښ د هغه د عِلم د حدودو نه بهر نۀ دے، لکه څنګه چه الله د ملائکو په باره کښ خبر ورکړے، فرمایلی ئے دی : ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ لَهٗ مَا بَیْنَ اَیْدِیْنَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَیْنَ ذٰلِكَ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِیًّا﴾ یعنی مونږ بغیر ستا درب د حکم نه نشو راکوزیدے، زمونږ مخکښ روستو او ددے په مینځ کښ تول څیزونه د هغه په ملکیت کښ دی، او ستا رب هیرونکے نۀ دے۔ (مریم:٦٤)۔

او كوم مخلوق چه ئے پيدا كړے نو د هغے نه خبردار دے۔

(۱) د ﴿ مَابَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ ﴾ نه مراد آخرت او دنيا ده، آخرت د انسانانو مخكښې راروان دے او دنيا ئے شا ته پريښے ده۔ نو الله د انسانانو په دنيا او آخرت پوهه دے چه په دواړو كښې به ئے كوم حال وي؟۔ (۲) يا د مَابَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ نه مراد مَا قَدَّمُوۡا مِنَ الۡاَعۡمَالِ قَبۡلَ الۡمَوۡتِ وَمَا خَلۡفَهُمۡ مَا تَرَكُوۡا مِنَ الۡاَعۡمَالِ بَعۡدَ الۡمَوۡتِ (د مرگ نه مخكښې چه دوي كوم اعمال كړيدي او كوم چه ئے د مرگ نه روستو پريخي دي) دا ټول الله ته معلوم دي۔

(۳) ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي : هغه اعمال چه دوي مخكښې ليږلي او هغه اعمال چه دوي ضائع كړيدي۔

اُوس د بندگانو عاجزي : ﴿ وَلَا يُحِيۡطُوۡنَ بِشَيۡءٍ مِّنۡ عِلۡمِهٖۤ ﴾ مخلوق سره هيڅ قسم علم نشته تر څو پورے چه الله ئے پكښې وانچوي څكه چه دماغ يو تار دے او زړهٔ غوښه ده، پدے كښې عِلمونه خپله نشي راتلے مگر د الله په وركړه به راځي۔ ليونو كښې علم نهٔ وي، سره ددے نه چه زړهٔ او دماغ ئے هم شته۔ نو هر څوك هغومره علم لري څومره چه ورته الله وركړے وي، لكه چه الله د ملائكو په ژبه فرمايلي دي :

﴿ سُبۡحٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَاۤ اِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَا ﴾ يعني اے الله ! ستا ذات پاك او بے عيبه دے، زمونږ سره هيڅ علم نشته مگر هغه علم چه تا راكړيدے۔ (البقره : ۳۲)۔

﴿ اِلَّا بِمَا شَآءَ ﴾ يعني چا له الله په وحي سره علم وركړي لكه رسولان شو۔ الله فرمائي :

﴿ فَلَا يُظۡهِرُ عَلٰى غَيۡبِهٖۤ اَحَدًا اِلَّا مَنِ ارۡتَضٰى مِنۡ رَّسُوۡلٍ ﴾ (الجن۳۶) (الله په خپلو غيبو هيڅوك نهٔ خبروي مگر بعض رسولان غوره كړي نو هغه ته د بعضو خبرو خبر وركړي)۔

چا له په مشاهده، چا له په فطرت، چه فطرت كښې ورله داسے استعداد پيدا كړي چه په ډيرو څيزونو پوهيږي لكه حيوانات د فائدے ځائے پيژني او د ضرر نه ځان ساتي۔ او چا له ئے په عقل سره وركړي۔ بيا د مخلوقاتو عِلم د الله د علم په نسبت داسے دے لكه د چينچڼے په مكوخه كښې چه اُوبه دي په نسبت د درياب لكه دا مثال خضر عليه السلام موسیٰ عليه السلام ته بيان كړے وو۔ پدے كښې د شرك في العلم رد دے يعني په مخلوقاتو كښې هيڅوك عِلم محيط او عِلم په هر شي نهٔ لري، او كوم عِلمونه چه دوي ته حاصل دي نو هغه د الله د مشيت لاندے دي۔

الله تعالىٰ چه كله غوختل چه انسان ددے زمكے خليفه جوړ كړي، نو هغه ته ئے د خپل طرف نه عِلمونه وركړل څومره چه د انسان د خلافت سره مناسب وو، او څهٔ څيزونه او گوډونه داسے هم وو چه د هغے په باره كښې الله تعالىٰ انسان ته عِلم ورنكړو څكه چه د خلافت په چلولو كښې

هغې ته ضرورت نۀ وو لکه مثلًا د انسان د خپل ژوند راز ددۀ نه اُوسه پورې پټ پاتې دے چه هغه انسان په ذهن سره نشي معلوموليے چه زما څومره ژوند دے۔ دارنګه د راتلونکي زمانې واقع کيدونکي واقعات او حالات د انسان نه پټ ساتلے شويدي ځکه هغه واقعات غيب دي چه هغې ته د رسيدلو هيڅ لاره نشته او د هغې مخې ته الله تعالىٰ ديوال وهلے دے، نن د شلمې صدۍ سائنس دانان په ډيره عاجزۍ سره دا خبره تسليموي چه د دوی علم محدود دے او د کائناتو د کومې حصې چه مونږ ادراک کړے هغه ډيره کمه ده په نسبت د هغه څيزونو چه مونږ ته د هغې علم نشته او انسان لا تر اُوسه پورې ماشوم دے۔ (فی ظلال القرآن)۔

(عِلۡمِهٖ) نه مراد معلومات د الله تعالىٰ دي، يعنې الله ته چه څۀ معلوم دي، مخلوق هغه په خپل عِلم کښې پوره نشي راګيرولے۔

اُوس د الله د بادشاهۍ بيان چه هغه ډيره فراخه ده :

﴿ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ ﴾ کرسۍ د الله داسې غټه ده چه دا ټول آسمانونه او زمکې په هغې کښې واچوے نو داسې وارۀ دي لکه يو بنګړے چه په صحراء کښې واچوی، کرسۍ د عرش په مقابله کښې دومره وړه ده لکه يو بنګړے چه په صحراء کښې واچوے۔(الحديث) د الله کرسی هم شته۔ او عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی : دا مَوۡضِعُ الۡقَدَمَيۡن (د الله د قدمونو ځائے) دے۔ وَالۡعَرۡشُ لَا يُقَدِّرُ قَدۡرَهٗ اِلَّا اللهُ۔ او د عرش اندازه صرف الله پيژنی۔ (وسنده صحيح موقوفا) ۔ او پدے حقائقو الله پو هيږی، مونږ پرے نۀ پو هيږو۔ او په روايت د ابن جريرؒ کښې راغلی دی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی :

« اُووه آسمانونه په کرسۍ کښې داسې دی لکه اُووه روپۍ چه په يو ډهال کښې واچولے شی» (وسنده مرسل)۔ او صحيح حديث کښې داسې دی : [مَا السَّمٰوٰتُ السَّبۡعُ فِي الۡكُرۡسِيِّ اِلَّا كَحَلۡقَةٍ مُلۡقَاةٍ بِاَرۡضٍ فَلَاةٍ وَفَضۡلُ الۡعَرۡشِ عَلَى الۡكُرۡسِيِّ كَفَضۡلِ تِلۡكَ الۡفَلَاةِ عَلٰى تِلۡكَ الۡحَلۡقَةِ]

(فتح الباری ۱۳/۴۱۱ للحافظ وتعليق الطحاوية للالبانی)۔

(اُووه آسمانونه په کرسۍ کښې داسې دی لکه يوه حلقه (بنګړے) چه په يوه دشته زمکه کښې ګوزار شی، او د عرش فضيلت په کرسی باندې داسې دے لکه د دغه دشتې فضيلت په دغه بنګړی باندې)۔

د بعض سلفو نه روايت دے چه د کرسی نه مراد علم دے، يعنی د الله علم آسمانونه او زمکه راګير کړيدی۔ لکه چه الله تعالىٰ د ملائکو دعا ذکر کړيده :﴿ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٍ رَّحۡمَةً وَّعِلۡمًا ﴾ يعنی اے زمونږ ربه ! ستا رحمت او ستا علم هر شے راګير کړيدے۔ ددے وجه نه علماؤ ته

(گَراسِی) وئیلے شی، او دا قول ابن جریر الطبریؒ غوره کړیدے۔ او دا ابن عباسؓ ته منسوب دے، لیکن شیخ البانیؒ وائی چه د هغه نه ئے ثبوت صحیح نهٔ دے۔ (الصحیحه)۔

۲- بیضاویؒ وائی : دا هسے تمثیل دے او په حقیقت کښ نهٔ کرسی شته او نهٔ ناسته۔

۳- بعض وائی : دا کنایه ده د ملك او سلطان نه۔ ٤- حسن بصریؒ وائی چه کرسی بعینهٖ عرش ته وائی۔ لیکن دا ټول کمزوری اقوال دی۔ ابن کثیرؒ او صاحب د فتح البیان او قرطبیؒ رد کړیدی۔ صحیح دا ده چه کرسی د الله تعالیٰ د متشابهاتو نه ده او دا په حقیقت کښ موجوده ده۔

بعض علماء وائی : د کرسی نه مراد اقتدارِ اعلیٰ وی نو دلته مقصد دا خبره په ذهن کښ اچول دی چه د الله دومره اعلیٰ اقتدار دے چه په آسمانونو او زمکے او ټولو کائناتو باندے چلیږی او بیا په (وَلَا يَئُودُهٗ) سره ددے تائید کوی چه الله پدے لویه نګهبانیٔ کښ هیڅ جد وجهد ته ضرورت نهٔ لری، او نهٔ هغه ته پدے کښ څهٔ ستړی والے رسیږی بلکه هغه د کامل قدرت والا دے۔(فی ظلال)۔

لیکن صاحب د (ظلال) د الله تعالیٰ په صفاتو کښ مؤول دے، تاویلات ډیر کوی نو پدے باب کښ ددهٔ قول لره اعتبار نشته۔

اُوس د الله د قوت او د عِلم بیان دے : ﴿ وَلَا يَئُودُهٗ حِفْظُهُمَا ﴾ الله د آسمانونو او زمکو حفاظت کوی او هیڅ ستړی والے، ستومانی او درون والے پرے نهٔ راځی، دومره قوی دے!!۔ او حفاظت پوره عِلم هم غواړی۔

د آدَ يَئُودُ اَوْدًا معنیٰ ده، د یو شی داسے درنیدل او ګرانیدل چه د هغے سنبالول مشکل شی۔ اَوَدُ۔ (کوږوالے)۔

که یو بنده د یو شی څوکیداری کوی، نو ستړے شی او الله رب العزت د مخلوق حفاظت او څوکیداری کوی، او پدے کښ نهٔ ستړے کیږی، بس امرئے کړے دے او ولاړ دی نو ددے حفاظت په الله نهٔ ګرانیږی۔

او بیا د الله علوّ او عظمت : ﴿ وَهُوَ الْعَلِيُّ ﴾ (همدغه الله اُوچت ذات دے) په هر لحاظ، د ذات په لحاظ، د قدرت په لحاظ، او د مرتبے په لحاظ د مخلوق دپاسه دے هیڅ مخلوق د هغه دپاسه کیدے نهٔ شی۔

د الله دپاره علو (پورته والے) په یو څو قسمه دے۔ (۱) علو ذاتی۔ د الله ذات د ټول مخلوق نه پورته دے، هیڅوك ورته رسیدلے نشی، کائنات د هغه دپاسه نشی کیدے۔ ددے وجه نه الله ته ظاهر وئیلے شی چه د هغه د بره هیڅ شے نشته۔ ددے نه ثابته شوه چه الله په هر مکان کښ نهٔ دے، ځکه چه بیا علو نشی راتلے بلکه هغه د کائناتو دپاسه دے۔

(٢) علو رُتبي۔ د الله مرتبه د هر چا نه اُوچته ده، هيڅ مخلوق د هغه نه پورته نشي كيدے۔

(٣) علو قَهرِي : (زوره ورتيا) يعنى الله په ټولو كائناتو قاهر او زوره ور دے، هيڅوك د مخلوق نه په الله زوره ور نشته۔

پدے جمله كښ د حصر كلمات راغلي دي يعني صرف هغه عَلِي (اُوچت) دے او د بندګانو نه چه څوك هم د علو او عظمت دعوىٰ كوي نو الله به هغه ذليل او سرخكته كوي او په آخرت كښ به د سزا مستحق وي۔

الله فرمائي : ﴿ تِلْكَ الدَّارُ الآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَاداً ﴾

(د آخرت كور مونږ هغه خلقو دپاره ګرځوو چه په زمكه كښ علو او فساد نهٔ غواړي) (القصص/٨٣)۔

د فرعون په باره كښ فرمائي :﴿ اِنَّهُ كَانَ عَالِيًا مِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴾ (الدخان/٣١)

دا تكبر او لوئي كونكے وو، د زياتي كونكو نه وو)۔

انسان هم پورته كيدے شي او د عظمت اُوچتو پوړوته رسيدلے شي، ليكن هغه د الله تعالىٰ د حدود او قيودو نه بهر نشي وتلے، او كله چه د مؤمن په زړهٔ كښ دا عقيده په ښهٔ شان كيني نو دا به ئے د عبوديت مقام ته اُورسوي، او د سركشئ او د لويئ نه به محفوظ شي، او په طبيعت كښ به ئے ميلان پيدا شي، او په زړهٔ كښ به ئے د الله خوف او د هغه د عظمت او جلالتِ شان شعور پيدا شي، او د زړهٔ نه به ئے غرور او تكبر اُوځي۔ او د الله په بندګئ كښ به مصروف شي۔ نو پدے شعور كښ عقيده او تصور هم شته او عمل او سلوك هم۔

﴿ اَلْعَظِيْمُ ﴾ لوئي دے په اعتبار د ذات او د صفاتو۔ څكه دومره غټ كائنات ئے پيدا كړي دي، او د قيامت په ورځ به الله تعالىٰ آسمانونه په يو موټي كښ او زمكه په بل موټي كښ راونيسي، بيا به ئے اُوخوزوي او اُوبه وائي : اَنَا الْمَلِكُ اَيْنَ مُلُوْكُ الْاَرْضِ) (متفق عليه)۔

(زهٔ بادشاه يم، د زمكے بادشاهان چرته دي) يو موټي كښ ټول كائنات راګيروي، دومره عظمت لري۔ سورة الزمر :٦٧) كښ فرمائي :﴿ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِيْنِهٖ﴾ (ټولے زمكے به د قيامت په ورځ د الله تعالىٰ په قبضه كښ وي، او آسمانونه به د هغه په ښي لاس كښ راتاؤ شوي وي)۔ داسے عظمت چه د انسان په زړهٔ كښ واقع شي نو دا د هر خير سرچشمه ګرځي۔

لَآ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَّكْفُرْ
نشته زور په قبلولو د دین کښې یقیناً ښکاره شوے دے هدایت د گمراهئ نه نو څوك چه انكار اُوكړي
بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى لَا
د عبادت د غیر الله نه او ایمان راوړی په الله نو یقیناً دهٔ منګولے اُولګولے په کړئ مضبوطه چه نشته
انْفِصَامَ لَهَا وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٥٦﴾
ماتیدل د هغے او الله تعالیٰ آوریدونکے، ډیر پوهه دے۔

تفسیر:

مناسبت: ۱- د الله د تعارف نه روستو دوه ډلے پیدا کیږی، یو منونکی او بل نهٔ منونکی، څوك چه منونکی دی، هغوی ته اصحاب الرشد وائی، او څوك چه دا مسئله نهٔ منی هغوی ته (اصحاب الغی) وائی۔ د دواړو صفتونه بیانوی۔

۲- مخکښې د الله د توحید او د هغهٔ د عظمت او علو بیان وو، د خالق او د مخلوق خپل مینځ کښې تعلق وو، او دا اسلامی نظریهٔ حیات وو، نو اُوس وائی چه د ایمان والو به ددے نظریئے په باره کښې څهٔ طریقهٔ کار وی او ددے نظریئے دعوت به څنګه ورکوی؟۔

۳- هرکله چه د الله توحید ښکاره دے او د الله عظمت د هیچا نه پټ نهٔ دے او د هغے پوره شافی بیان ئے اُوکړو چه عذرونه ئے ختم کړل نو اُوس خبر ورکوی چه ددے دلائلو نه روستو د کافر دپاره هیڅ عذر پاتے نهٔ دے چه هغه په کفر باندے باقی پاتے شی مګر دا چه په هغه باندے په ایمان کښې زور اُوکړے شی او دنیا خو دار الابتلاء والامتحان ده او په دین باندے زور او اکراه کولو کښې د ابتلاء او امتحان مقصد خرابیږی نو ځکه اکراه نشته۔ نو دا د فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ په شان آیت دے۔

(قفالؒ- قاسمیؒ و فتح البیان)۔

شان نزول: دا آیت د انصارو په باره کښې نازل شوے وو چه خپل بچی ئے یهودو ته ورکړی وو چه هغوی ورله تربیت کولو او دین ئے ورته خودلو، نو هغوی ئے یهودیان کړی وو۔ بیا یهودیان چه د مدینے نه شړلے کیدل نو هغوی دا بچی بوتلل نو انصارو اُووئیل دا ورسره مونږ نهٔ پریدو، (ځکه دا خو زمونږ بچی دی او دوی کافران کړی دی، او هغوی ورسره رضا وو ځکه د وړوکوالی نه د هغوی سره عادت شوی وو) نو دا آیت نازل شو چه زور پرے مهٔ کوئ، که پاتے کیږی ښهٔ ده او که نهٔ وی، په دین کښې په چا زور نشته، که په خپله خوښهٔ کفر اختیاروی، د اسلام دهٔ ته هیڅ

حاجت نشته۔

﴿ لَااِكْرَاهَ ﴾ (۱) دا نفی په معنیٰ د نهی ده یعنی [لَاتُكْرِهُوْا اَحَدًا بِالدُّخُوْلِ فِی الْاِسْلَامِ] (تاسو په هیڅوا باندے د اسلام په قبلولو زور مۀ کوئ) (۲) ......یا نفی په خپله معنیٰ ده یعنی د الله د طرف نه د اسلام په قبلولو په هیڅوا زور نشته۔ د هر ڇا خپله خوښۀ ده۔ که اسلام راوړی او که نۀ۔ لکه ددے معنے په مخکښې ربط کښې تفصیل اُوشو۔

بیا دا آیتِ کریمه د اسلام د کاملیدو دلیل دے، او پدے کښې ددے خبرے بیان دے چه د دین اسلام په رشتینوالی باندے دلیلونه او ښکاره ثبوتونه موجود دی، پدے وجه ضرورت نشته چه پدے کښې په داخلیدو باندے څوك مجبور کړے شی، که څوك پدے کښې داخلیږی، نو دا به د هغۀ خوش نصیبی وی چه الله هغۀ ته د حق د قبلولو توفیق ورکړو، او که د کفر لاره اختیاروی نو ګویا کښې الله تعالیٰ د هغه د زړۀ بصیرت او رنړائی اخستے ده او د هغه په سترګو او غوږونو ئے مهر وهلے دے، نو که داسے انسان د اسلام په قبلولو مجبوره هم کړے شی نو هیڅ فائده به نۀ وی، ځکه چه د حق د قبلولو تولے لارے ئے بندے شویدی۔ (ابن کثیرؒ)۔

اشکال او د هغے ازاله :

بیا دلته بعض مفسرینو ته دا اشکال کیږی چه قرآن کریم کښې په جهاد او قتال امر راغلے دے چه کافرانو سره جنګ اُوکړئ، ددے نه خو معلومیږی چه په اسلام قبلولو کښې زور او اکراه شته، او دے آیت کښې دی چه په اسلام کښې اکراه نشته۔ دارنګه اسلام کښې حدود او تعزیرات شته، که ڇا غلا، زنا اُوکړه، مونځ ئے نۀ کولو، نو په هغه زور شته او دلته وائی چه په دین کښې په ڇا زور نشته ؟۔

(۱) نو ددے وجه نه بعض مفسرینو دا آیت د قتال په آیتونو سره منسوخ ګرځولے دے۔ حال دا چه دا یوه ضعیفه رائے ده، لکه روستو راځی۔ (۲) شعبیؒ، حسن بصریؒ، قتادةؒ او ضحاكؒ وئیلی دی چه دا خاص دے په اهل کتابو پورے چه په هغوی به زور نشی کولے، او د قتال آیتونه د اهل الاوثان (مشرکانو) په باره کښې دی۔ (فتح البیان)

لیکن پدے تخصیص باندے دلیل نشته۔ (۳) او بعض نورو د تطبیق دپاره داسے جواب کړیدے چه دین نه مراد د زړۀ عقیده ده، یعنی د زړۀ په عقیده کښې په ڇا زور نشی کیدے ځکه چه هغے ته زور رسیدل ممکن نۀ دی، او په قتال سره په ظاهر کښې زور وی۔ دارنګه په حدود او تعزیراتو کښې په ظاهر کښې زور وی، د زړۀ نه ئے الله خبر وی۔

(٤) بعض علماء داسے معنیٰ کوی : [لَا اِكْرَاهَ فِی الدِّیْنِ لِوُضُوْحِهٖ] ۔ په دین کښې په ڇا زور نشته

ځکه چه دین دومره ښکاره دے، او دلائل ئے واضح دي او فائده ئے هرچا ته معلومه ده چه زور ته پکښ ضرورت نشته، زور ته خو هله ضرورت وي چه یو انسان د دین په فائده نهٔ پو هیږي، او د اسلام خوبي هرچا ته معلومه ده، نو اکراه ته ضرورت پاتے نهٔ دے۔ نو دا د فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ په شان دے۔

لیکن اصل جواب دا دے چه اِکراه او زور په دوه قسمه دے، یو په احکامو کښ دے، او بل په ایمان کښ، یعنی په دین منلو کښ، نو په دین منلو کښ او ایمان راوړو کښ په چا زور او اکراه نشته، که څوك حق ته راځي او که نهٔ، د هر چا خپله خوښه ده۔

الله تعالیٰ انسانانو ته آزادي ورکړیده، او کله ئے چه په خپله خوښه سره حق قبول کړو، او په اسلام کښ داخل شو نو که هغه فسادونه کوي نو هغه باندے به زور کولے شي، که هغه غلا کوي، د هغه نه به لاس پریکولے شي، که زنا اُوکړي او وادهٔ شوے وي، نو هغه به رجم کولے شي، دے دپاره چه د مسلمانانو معاشره ددهٔ او ددهٔ په شان د بد عملو د شر او د فساد نه محفوظه شي۔ دارنګه هغه د اسلام نه فائدے اخلي، او بیا هم په دین عمل نکوي، نو زور به پرے کولے شي۔ دغه شان د وخت د حاکم دا فریضه ده چه که یو شخص دوباره کفر قبول کړي مرتد شي، نو هغه به قتلوي، دے دپاره چه د مسلمانانو معاشره د مذهبي انتشار نه بچ شي۔ دارنګه مرتد د اسلام نه مزے واخستے، او ددے خوبیانے ورته معلومے شوے، او بیا هم د اسلام توهین او سپکاوے کوي، او خلقو ته اسلام سپك ښکاره کوي، ددے نه اوړي نو پدے وجه هغه به قتلولے شي۔

او هر چه قتال او جهاد دے نو ددے آیت او د جهادي آیتونو ترمینځ هیڅ تعارض نشته، ځکه چه جهاد ددے دپاره نهٔ دے فرض شوے چه خلق په دین اسلام کښ په داخلیدو مجبوره کړے شي لکه چه مخکښ ذکر شو چه د چا په زړهٔ باندے مهر وهلے شوے وي، د هغه په مجبوره کولو کښ هم هیڅ فائده نهٔ وي۔ بلکه جهاد د شر او فساد ختمولو دپاره دے۔

تاریخ ګواه دے چه د اسلام مجاهدینو کله هم یو ښار یا علاقه فتح کړیده نو د هغه ځائے خلق ئے د اسلام په قبلولو مجبوره کړي نهٔ دي، بلکه هغوي ته ئے اختیار ورکړیدے چه که هغوي غواړي، نو په خپل دین باندے دے وي او جزیه دے ورکوي، او اسلامي حکومت به د هغوي حفاظت کوي۔ د جهاد متعلق د آیتونو د تلاش کولو نه معلومیږي چه د هغے غرض او غایه دا وه چه اسلامي حکومت د اسلام د دشمنانو د سازشونو نه محفوظ کړے شي، د الله دین غالبه وي، او شریعتِ اسلامیه نافذ وي، او که د کوم دشمن د طرف نه څهٔ خطره وي، نو د اسلام او د مسلمانانو د طرف نه به دفاعي جنګ کولے شي۔

پدے وجه د بعضو دا خيال چه دا آيت د جهاد په آيتونو سره منسوخ دے، صحيح نۀ دے.
(قاسمی ۳/۲/۶۰۲ وتيسير الرحمن)

فائده : بعض علماء وائي چه دا آيت د كافرانو او مشركانو په جواب كښې راغلے دے چه هغوي به دا وئيل چه مونږ كوم كفر او شرك كوو، دا راباندے الله كوي، او د هغه په مشيت ئې كوو، لكه آيت دے : ﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَاءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ نَحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَاحَرَّمْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ﴾ (النحل. آيت ۳۵) . (كه الله غوختلے مونږ او زمونږ پلارانو به د هغه نه سِوئ د هيڅ شي عبادت نۀ كولے، او نۀ به مونږ د ځان نه څۀ شے حراموله)

نو دوي په شرك كولو سره خپل ځانونه د الله د طرف نه مجبور او مقهور گنړل. او دا به ئې وئيل چه كه زمونږ عقيده او عمل باطل وے، نو د الله په اختيار كښې خو هرڅۀ دي، هغه به په خپل قدرتِ كامله سره دا ټيك كړي وے.

نو الله پدے آيت كښې په هغوي رد اُوكړو چه دا عقيده ستاسو غلطه ده. په دنيا كښې الله تعالىٰ انسان ته د عقيدے او د رائے آزادي وركړے ده، كه څوك غواړي ايمان دِے راوړي او كه څوك غواړي شرك او كفر دِے كوي، الله تعالىٰ پدے معامله كښې فطري جَبر په هيچا نۀ دے كړے، بلكه د انتخاب او اختيار او د هدايت اوگمراهئ آزادي ئې وركړيده كه څوك ايمان راوړي نو د هغے نيكه بدله به مونده كړي، او كه څوك د كفر لاره اختيار كړي نو د هغے سزا به خوري. الله تعالىٰ د خپل مشيت او قدرت په زور سره خلق هدايت او گمراهي ته نۀ راولي، كه الله داسے غوختے نو د هغه لاس هيچا نشو نيولے، ليكن دا خبره د هغه د حكمت او د هغه د عدل خلاف وه، بلكه ددے په عكس الله دا طريقه اختيار كړه چه د خپلو نبيانو او رسولانو په ذريعه ئې خلقو ته حق او باطل دواړه واضح كړل، بيا كوم خلق چه د حق لاره اختيارَوي نو هغوي ته ئې ددے لارے توفيق آسان كړے، او كوم خلق چه د باطل لاره اختيارول غواړي نو هغوي ته ئې مهلت وركړے.

دارنگه پدے آيت كښې مقصد دا هم دے چه رسول الله ﷺ ته تسلي وركوي، او خلقو ته دا واضحه كوي چه د نبي او د رسول په حيثيت سره د هغه ذمه واري صرف د حق دين په ښۀ شان سره واضحه كول دي، دا ذمه واري نۀ ده چه خلق به خامخا په ايمان او هدايت اختيارَولو باندے مجبوره كوي. (تدبر قرآن بتصرف كثير)

آيت نه معلومه شوه چه دا صرف د اسلام حقانيت دے چه خلقو ته ئې د فكر آزادي وركړے، او د انسان د شعور احترام ئے كړے، او د نورو نظامونو په شان نۀ دے چه خلق په زوره د خپل دين پابند كوي او د هغوي نه خپل اختيار اخلي.

تنبیه: بعض جاهلان ددے آیت نه غلطه فائده اخلی او وائی چه په اسلام کښ اکراه نشته، پدے وجه د اسلام په نوم چه کومے خبرے د سزا مستحق گرځولے شویدی، څوك مونځ نهٔ کوی دا سزا به ئے وی، او که څوك غلا کوی، دا سزا به ئے وی وغیره وغیره۔

نو دا مُولیانو د ځان نه جوړے کړیدی۔ ددے مطلب دا جوړیږی چه اسلامی شریعت د حدودو او تعزیراتو نه خالی شریعت دے چه په دے کښ هر شخص ته دهر څهٔ کولو اجازت دے، نهٔ د زنا، نهٔ د تهمت او نهٔ د غلا سزا شته، او نهٔ په فساد، بغاوت او ډاکه باندے تعزیر شته۔ حال دا چه په اسلام کښ د حدودو او تعزیراتو یو مستقل نظام شته چه د هغے نافذ کول د دین د واجباتو نه دی۔ که یو شخص مونځ نهٔ کوی، یا روژے نهٔ نیسی، نو اسلامی حکومت هغه ته هم سزا ورکولے شی۔ دا کار د (لَا اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ) منافی نهٔ دے۔ بلکه اسلام داسے شخص مجبوره کوی چه د اسلام د حدودو او قیودو پابندی به کوی۔ په لادینی نظامونو کښ ډیر د مذهب په نهٔ منلو او د حکومت په نافرمانیانو باندے ډیر خو سزاگانے او تعزیرات وی لیکن څوك چه د الله نه بغاوت کوی هغه ته ډیر آزادی حاصله وی، دا کوم انصاف او کوم عقل دے!!۔

﴿ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ﴾ (تَبَيَّن) ښهٔ ښکاره کیدو ته وئیلے شی چه په دلیلونو سره وی۔

رُشد هدایت او د رائے حقانیت او مقصد ته رسیدلو ته وئیلے شی۔ او پدے کښ معنیٰ د کامیابئ پرته وی۔ بعض وائی : په یو کار کښ ښائسته تصرف کول او بیا په هغے باندے باقی پاتے کیدو ته وئیلے شی۔ دلته ترے ایمان او حق مراد دے۔

او (الغی) د غَوَايَة نه دے، معنیٰ ئے ده : سَرهٔ د پوهے نه د حق نه اَوړیدل، او تجاوز کول۔ یا په یو شی کښ غلط تصرف کول او په داسے طریقه کول چه د هغے عاقبت خراب وی۔ (نقله البقاعی عن الحرالی فی نظم الدرر)۔ دلته ترے کفر او باطل مراد دے۔

او دا جمله د (لَا اِكْرَاهَ) دپاره دلیل دے۔ یعنی اِکْراه په دین کښ ځکه نشته چه حق او باطل، هدایت او گمراهی د یو بل نه جدا جدا معلوم شویدی، هر عقلمند پیژنی چه اسلام سراسر خیر دے او ددے نه سِویٰ ټول شر دے ځکه چه دا خبره په دلائلو ثابته ده، نو اکراه ته ضرورت پاتے نهٔ دے۔ځکه چه اکراه خو دیته وائی چه په یو داسے شی باندے په چا زور کول چه هغه طبیعت بد گنړی او په هغے کښ هیڅ مصلحت نهٔ وی۔ (نظم الدرر للبقاعی ۱/٤١٤)

هرکله چه حق د باطل نه او هدایت د گمراهئ نه ښکاره جدا شویدے نو اُوس د خلقو تقسیم بیانوی چه څوك رُشد والا دی، او څوك غَوایت او گمراهئ والا، نو بعض هدایت قبلوی او د الله بندگی کوی، او دا اصحاب الرشد دی، او بعض گمراهی اختیاروی، او د هغه سره شریکان

جوړوی، نو دا ناکام او اصحاب الْغَيّ دی۔

﴿فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ﴾

هدایت او کامیابی هغه چا ته حاصلیږی چه په هغه کښې دوه شرطونه موجود شی:

(۱) کفر بالطاغوت۔ (په طاغوت باندے کفر کول)۔ (۲) ایمان بالله۔ کفر بالطاغوت ئے مخکښې راوړو ځکه چه دا په منزله د تخلیه (صفائی) دے، او ایمان په منزله د تحلیه (ښائست) دے۔ اول به ځان صفا کړے، زړۀ به د غیر الله د عبادت او د هغه د تعظیم نه صفا کړی، بیا به ئے په ایمان باندے ښائسته کړی۔ او ددے مثال بعینهٖ [لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ] کلمه ده۔

لَا اِلٰهَ کښې کفر بالطاغوت دے او (اِلَّا اللّٰهُ) کښې ایمان بالله دے۔ او د دواړو نه بغیر ایمان نشی راتلے۔ که یو انسان کښې کفر بالطاغوت راغلو، لیکن د الله عبادت هم نۀ کوی، نو دا دهری دے، د خپل خواهش تابع دے۔ او که یو انسان په الله ایمان لری، او د هغه عبادت هم کوی، لیکن کفر بالطاغوت نۀ کوی، مخلوق ته او باباګانو او بتانو ته ئے خوله ورانه کړی وی، او د طاغوت ملګرے وی، د مشرکانو سره ئے د زړۀ تعلق او محبت وی، او د الله د دشمنانو سره دشمنی نۀ ساتی، نو دا مشرك دے، ددۀ ایمان هم قبول نۀ دے۔

الله تعالیٰ په سورة النحل (۳٦) آیت کښې فرمائی: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ﴾ (مونږ په هر امت کښې انبیاء ددے دپاره رالیږلی چه د الله بندګی اُوکړئ، او د طاغوت نه ځان اُوساتئ)۔ په سورة الزمر (۱۷) آیت کښې دی:

﴿وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْا اِلَى اللّٰهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى﴾۔

(هغه کسان چه د طاغوت د عبادت نه ئے ځان اُوساتلو او الله ته ئے په عبادت سره رجوع اُوکړه، نو د دوی دپاره زیرے او خوشحالی ده)۔

د طاغوت وضاحت

طَاغُوْتُ: مفرد هم دے، او جمع هم دے، مذکر او مؤنث هم دے لکه د نورو مصادرو په شان۔ کله به ورته ضمیر د جمع راجع وی، لکه روستو (اَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوْتُ يُخْرِجُوْنَهُمْ) ۔ او کله ضمیر د مؤنث لکه ﴿وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا﴾ او کله ضمیر د مفرد لکه سورة النساء (٦۰) کښې دی: ﴿وَقَدْ اُمِرُوْا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ﴾۔

طاغوت: د طغیان نه دے، په معنیٰ د حد نه تیروتلو او سرکشئ کولو سره دے۔ او دا په اصل کښې د مصدر صیغه ده، د رهبوت او رحموت په شان په اصل کښې (طَغَيُوْتٌ) دے، بیا په کښې قلب مکانی شویدے او یاء په الف بدله شویده۔ (ابن عاشورؒ)۔

طاغـوت لـفـظ پـه قرآن کریم کښ اته (۸) کرته ذکر دے۔ د طاغوت لفظی معنیٰ ده ذُوْ طُغیَان۔ یعنی سرکشئ او گمرا هئ والا۔ او ددے نه اکثر بدان خلق مراد وی۔

(۱) صاحب د التسهیل وائی : اِسْمٌ لِکُلِّ مَنْ یُضِلُّ النَّاسَ مِنَ الشَّیَاطِیْنِ وَبَنِیْ آدَمَ ۔ (التسهیل۱/۱۳٦)

یـعـنـی طاغـوت نـوم دے د هـر هـغـه شـخـص چه خلق گمراه کوی، که هغه شیطانان وی، او که انسـانـان۔ خـلـقـو ته غلطے لارے، غلطے عقیدے وربنائی، غلط تقریرونه کوی، انگریزی قانون په خلقو نافذوی، نو ډیر انسانان په دے زمانه کښ د خلقو دپاره طَوَاغِیْت دی۔

(۲) د طاغوت نه مراد اَوْثَان او بتان دی ځکه چه مسلمانانو به بت ته طَاغِیَه وئیلو، لکه حدیث کښ دی : [کَانُوْا یُهِلُّوْنَ لِمَنَاةَ الطَّاغِیَةِ] (ابن عاشور)۔

(۳) ساحر او کاهن ته هم طاغوت وئیلے شی۔

(٤) [کُلُّ رَأْسٍ فِی الضَّلَالِ وَکُلُّ مَا عُبِدَ مِنْ دُوْنِ اللهِ]۔ (فتح البیان)

هـر هـغـه څـوك چه په گمرا هئ کښ مشر وی، او هر هغه شے چه د هغے د الله تعالیٰ نه سِویٰ عبادت کیدے شی۔ پدے تولو باندے د طاغوت اطلاق کیږی۔

بیـا دلته دا خبره زدهٔ کړه چه طاغوت دوه قسمه دے : (۱) کله به یو انسان خپله گمراه وی او بل ته به د گمرا هئ لارے وربنائی، د گمرا هئ دعوت به کوی۔

(۲) او کـلـه بـه خپـلـه انسان گمراه نهٔ وی لیکن د بل دپاره به سبب د گمرا هئ گرځیدلے وی۔ او خـلـقـو بـه په هغه باندے ځان گمراه کړے وی، لکه شیخ عبد القادر جیلانی رحمة الله علیه خپله ښهٔ عالِم وو، لیکن مشرکان په هغه باندے گمراه شو، او د هغه عبادت ئے شروع کړو، غوث اعظم ورته وائی۔ نو دا د خلقو دپاره طاغوت اُوگرځیدو۔

دغه شان عیسیٰ ﷺ د الله نبی دے، لیکن نصاراؤ ورته اِلٰه اُووئیلو، هغوی پرے گمراه شو، لکه الله تعالیٰ په قرآن کښ فرمائی : ﴿ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِیْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ﴾ (نساء : ٦٠)

(یـعـنـی دوی نـه الله تـعـالیٰ شـادوگـان، خـنـزیران او د طاغوت عبادت کونکی جوړ کړی وو) نو یهـودو خـو د بتـانو عبادت نهٔ وو کړے، بلکه هغوی د عزیر ﷺ عبادت کولو، نصاراؤ د عیسیٰ ﷺ او مریـم عبـادت کـړے، نـهٔ د بتانو۔ او بعض یهودو پکښ د سخی عبادت کړے۔نو اُوگوره دلته ئے د پیغمبرانو عبادت ته د طاغوت عبادت اُووئیلو۔

(۵) او حافظ ابن کثیرؒ په سورة النساء کښ د طاغوت معنیٰ کوی : [اَنْ یَّتَحَاکَمُوْا اِلَی الطَّاغُوْتِ) اَیْ مَا سِوَی الْکِتَابِ وَالسُّنَّةِ] یـعـنی د قرآن او د سنت نه ماسِویٰ چه کوم قوانینوته څوك فیصله وروړی، نو دا طاغوت ته فیصله وړی، نو تول وضعی قوانین په طاغوت کښ داخل دی۔ (ابن کثیر۲/۳٤٦)۔

(٦) شيخ الاسلام ابن القيمؒ د طاغوت يو عام تعريف ذكر كوى چه ډير جامع دے، هغه فرمائى :

[فَالطَّاغُوْتُ: كُلُّ مَا تَجَاوَزَ بِهِ الْعَبْدُ حَدَّهُ مِنْ مَعْبُوْدٍ اَوْمَتْبُوْعٍ اَوْ مُطَاعٍ فَطَاغُوْتُ كُلِّ قَوْمٍ مَنْ يَتَحَاكَمُوْنَ اِلَيْهِ غَيْرَ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ اَوْ يَعْبُدُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللهِ اَوْ يَتْبَعُوْنَهٗ عَلٰى غَيْرِ بَصِيْرَةٍ مِنَ اللهِ اَوْ يُطِيْعُوْنَهٗ فِيْمَا لَايَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ طَاعَةٌ لِلّٰهِ فَهٰذِهٖ طَوَاغِيْتُ الْعَالَمِ] ...... [اعلام الموقعين ۱/ ۵۰] الولاء والبراء ص (۲۲) لسعيد بن وهف القحطان)

(طاغوت هر هغه شى ته وائى چه د هغے په سبب بنده د حد نه تير وځى، كه هغه معبود وى او كه متبوع او كه هغه شخص وى چه د هغه طاعت كيدے شى. نو د هر قوم طاغوت هغه خوك دے چه د الله او د رسول نه سيوئ هغه ته فيصله وړى (۲) يا د الله نه سيوئ د هغه عبادت كوى (۳) يا په غير د بصيرت او دليل نه د هغه تابعدارى كوى. (۴) يا د يو شى په باره كښ ورته معلومه نۀ وى چه دا د الله طاعت دے، او په هغے كښ د هغه طاعت كوى، نو دا د عالَم دپاره طواغيت دى). يعنى اكثر عالَم پدے طواغيتو بانديے گمراه شويدے.

نو بناءً پدے تعريف د مقلدينو د دين د امامانو تقليد (يعنى بے دليله تابعدارى) كول طاغوت دے ځكه چه دوى دا وائى چه كيدے شى چه زمونږ د امام سره به دليل وى، هغه به ځۀ جواب كړے وى، نو بس په ړندو سترگو تقليد شروع كړى، يو شے د الله طاعت نۀ وى، او انسان ورته په شك بانديے طاعت وائى لكه دا خبره په مسائلو كښ معلوميږى.

دغه شان شيعه گان د علىؓ په وجه گمراه شو. هغه ته اِلٰه وائى. او د هغه نه مددونه غواړى. دغه شان وضعى او انگريزى قوانين او ليډران او تنظيمونه چه انسان د حق نه اړوى. دارنگه د الله نه سِوئ د باباگانو د قبرونو عبادت كول او د هغوى په نوم نذر او منختے كول دا ټول طواغيت دى. بس هر هغه ځوك چه تا د حق نه اړوى نو دا ستا دپاره طاغوت دے. كه هغه عالِم وى او كه مؤسسه او تنظيم وى، او كه ليډر او قوم وى، او كه معاشره او رواج وى، او كه ښځه او اولاد وى. داسے پير او مُلا او ليډر به ځان له مُطَاع او مَتْبُوْع نۀ جوړوے چه د هغه خبره بغير د دليل نه د كتاب او سنت په خلاف نيسے، نو ددے طواغيتو نه انكار كول ايمان دے. نو دا ډير ضرورى شرط دے چه دے ته ډير خلق متوجه نۀ دى. جمهوريت هم په طاغوت كښ داخل دے.

﴿فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى﴾ اِسْتِمْسَاك : مضبوط رانيول او منكولے لگولو ته وئيلے شى. يعنى كه چا كښ په الله ايمان او په طاغوت كفر راغلو نو دا انسان كامياب شو، ټول انسانان په كنده كښ پراتۀ دى، او دا د كندے نه را اُووتو او مضبوط كړئ ته ئے گوتے واچولے چه نجات به ورله وركړى.

كړئ ئے ځكه ذكر كړه چه ددے نه لاس زر نۀ وځى، كه په انسان ډير زور اُوكړے شى نو لاس

پکښې کرد تاوېږي خو زر نهٔ وځي، او د هسې لرګي او اُوسپنې نه لاس زر اُوځي. او پدې کښې اشاره ده چه کله حق د يو انسان زړهٔ ته داخل شي، نو هغه بيرته ايمان زر نهٔ پرېږدي لکه دا په حديث د بخاري کښې راغلې ده. [وَكَذٰلِكَ الْاِيْمَانُ اِذَا خَالَطَ بَشَاشَتُهُ الْقُلُوْبَ] مګر که انسان کښې بے ادبي شروع شي، او د ايمان غم نهٔ کوي نو بيا ترے الله تعالىٰ ايمان اخلي. والعياذ بالله.

بيا دا کړئ مضبوطه ده، د اُوسپنے کړئ ده، د لرګي او د تارونو نهٔ ده. بيا کله د اُوسپنے کړئ وي، خو زنګونو وهلې وي، زر ماتيږي نو د هغے زيات مضبوطوالے بيانوي چه (لَا انْفِصَامَ لَهَا) دهغے ماتيدل نشته. دغه شان ايمان چه زړهٔ ته داخل شي نو وخت په وخت مضبوطيږي او نهٔ ماتيږي.

دلته د هغه مؤمن چه په ايمان باندے مضبوط ولاړ وي، تشبيه ورکړے شويده د هغه سړي سره چه هغه په درياب کښې يا په کنده کښې يو مضبوطے کړئ ته ګوتے اچولې وي چه د هغے په سبب نجات مونده کړي، نو دغه شان ايمان والا به د هلاکت د کندے نه او په دنيا او آخرت کښې د فتنو د کندو نه د ايمان په سبب رابهر شي. او الله به ئے نهٔ ګمراه کوي. او اشاره ده چه دا ايمان به مؤمن ته په دنيا کښې هم فائده ورکړي چه دا به په حق او بصيرت باندے روان وي.

زمخشري په کشاف کښې معنىٰ کوي: يعني مؤمن مضبوط يقين والا وي، زړهٔ ئے په دنيا کښې پريشانه نهٔ وي نو په آخرت کښې به هم د هلاکت د کندو نه محفوظ وي لکه څنګه چه کړئ ته لاس اچونکے نجات والا وي. (ابن عاشورؒ)

(اَلْعُرْوَةُ الْوُثْقٰى) دا دمثال په طور وئيلے شويدے خو مفسرينو ددے مصداقات هم ذکر کړيدي، چا وئيلي دي چه ددے نه مراد (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ) کلمه ده.

بعض وائي اسلام دے. خو مصداق د ټولو يو دے.

او العروة الوثقىٰ پوخ يقين ته هم وئيلے شي چه چا کښې د هر قسم طاغوت نه انکار او د الله يواځے په اخلاص سره بندګي راشي، نو هغه ته به الله پوخ يقين ورکوي چه نهٔ به ګمراه کيږي.

او دا د عبد الله بن سلام ﷛ د خوب نه معلوميږي چه هغه وائي ما خوب اُوليدو چه زهٔ په يو شين باغ کښې يم چه مينځ کښې ئے د اُوسپنے يوه ستنه وه چه بيخ ئے په زمکه کښې وو او سر په آسمان کښې وو او په سر کښې ئے کړئ وه، ما ته اُووئيلے شو اُوخيژه. ما اُووئيل: نهٔ شم ختلے، يو شخص د روستو نه زما جامے راپورته کړے، نو زهٔ اُوختلم او هغه کړئ مے راونيوله. چه راپاڅيدم هغه زما په لاس کښې وه. نبي ﷺ راته تعبير داسے راکړو چه د باغ نه مراد اسلام دے، او د ستنے نه مراد د اسلام ستنه ده، او د کړئ نه مراد (اَلْعُرْوَةُ الْوُثْقٰى) پوخ يقين دے. تهٔ به په اسلام ئے تردے چه پدے به مړ شے. (متفق عليه).

(اَلْوُثْقٰى) د اَوْثَق نه دے په معنیٰ د بنۀ مضبوط او کلک سره۔

(انفصام) هغه ماتيدلوته وائی چه جدا جدا نشی، او قَصْم په قاف سره، هغه ماتيدو ته وائی چه په هغے سره يو شے جدا جدا برخے شی۔

فائده : د آيت نه معلومه شوه چه د باطل نخه دا ده چه خلق به ترے اَوړی، او د حق نخه دا ده چه خلق به ترے نۀ اَوړی، کله چه د زړۀ کومی ته کوز شی، او په پوخ يقين سره ورته انسان راداخل شی، او کوم خلق چه مرتد کيږی، نو هغه ايمان او حق سَم زدۀ کړے نۀ وی، او يقين ئے پرے نۀ وی راغلے، نو هغۀ څکه اَوړی۔ بعض مُليان د يهودو په شان د خلقو د حق نه د اَړولو دپاره کوشش کوی، کتابونو کښ ليکی چه زۀ څنګه مقلد شوم۔ مطلب ئے دا وی چه زۀ مخکښ د قرآن او حديث والا اُوم، بيا راته هغه بد ښکاره شو او په تقليد کښ راته نجات ښکاره شو۔ حال دا چه هغه د اول نه په دهوکه راغلے وی او زړۀ ته ئے حق نۀ وی ننوتے، يا د دنياوی اغراضو دپاره ئے ظاهر کښ حق قبول کړے وی۔ فَاِلَى اللهِ الْمُشْتَكٰى۔

﴿وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ﴾ دا دوه صفتونه ئے راوړل څکه چه کفر بالطّاغوت او ايمان بالله باندے کله تلفظ کيږی، نو الله د هغے آوريدونکے دے، او ايمان په زړۀ کښ وی، نو په هغے الله پوهه دے۔(قرطبیؒ)

٢- سَمِيْعٌ لِدُعَائِكَ اِيَّاهُمْ اِلَى الْاِسْلَامِ (الله آوری ستا دعوت دوی لره اسلام ته)۔ او عَلِيْمٌ بِحِرْصِكَ عَلٰى اِيْمَانِهِمْ ۔ پوهه دے په حرص ستا په ايمان د دوی)۔ (بغویؒ)۔

٣- الله آوری کلمه د شهادت د مؤمن او کلمه د کفر د کافر۔ او پوهه دے په پاکه عقيده د مؤمن او په پليته عقيده د کافر۔ (اللباب، والنيسابوری)۔

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَوْلِيَآؤُهُمُ
الله دوست دے د ايمان والو راوباسی دوی لره د تيارو نه رڼرا ته او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے دوستان د دوی
الطَّاغُوْتُ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمَاتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحَابُ النَّارِهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥٧﴾
شيطانان دی اُوباسی دوی لره د رڼرا نه تيارو طرفته همدا کسان دوی اُور والا دی، دوی به پدے کښ هميشه وی۔

تفسير : پدے آيت کښ د مخکښی ايمان نتيجه او فائده ذکر کوی چه څوك په الله تعالىٰ صحيح ايمان راوړی، نو د هغے ډيرے فائدے دی، لکه چه مخکښ مونږ ذکر کړے۔

يوه فائده ئے دا ده چه الله تعالىٰ به ئے دوست جوړ شی، د الله تعالىٰ ولايت اِنسان ته حاصليږی۔او

کله ئے چه دوست شو، نو د هر قسم تیَارو نه به ئے رنړا طرفته راوباسي. او سورت کښې ایمان ته دعوت دے نو ځکه ئے دا لفظ راوړو.

﴿ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا﴾ مفسرینو د ولی ډیرے معانی ذکر کړیدی (۱) په معنیٰ د حافظ.

(۲) او ناصر سره، یعنی الله به ئے حفاظت اُوکړی او هغه به ورسره مدد کوی (قاسمیؒ).

(۳) محبت کونکے. (٤) متولی (واکدار). یعنی الله به ورسره محبت هم کوی او د دوی د کارونو واکدار به وی، سنبالښت به ئے کوی.

﴿ يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ﴾

د **ظلمات** او د **نور** ډیر **مصداقات** دی:

۱ـ ظُلُمَاتِ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ إِلَى نُوْرِ الْإِيْمَانِ وَالتَّوْحِيْدِ. د کفر د تیارونه به ئے رنړا د توحید او ایمان ته رابهر کړی. واقدیؒ وئیلی دی چه په قرآن کښې د سورة الانعام د اول آیت نه سِویٰ د ظلمات او نور نه مراد کفر او ایمان وی. (آلوسیؒ، بغویؒ).

(۲) ظُلُمَاتِ الشَّكِّ وَالشُّبُهَاتِ إِلَى نُوْرِ الْيَقِيْنِ. د شك او شبهاتو د تیَارو نه به ئے رنړا د یقین ته راوباسي او وخت په وخت به ئے یقین مضبوطیږی.

(۳) مِنْ ظُلُمَاتِ الْبِدْعَةِ إِلَى نُوْرِ السُّنَّةِ. د بدعت د تیَارو نه به ئے د سنت رنړا ته راوباسي. (قرطبیؒ)

(٤) ظُلُمَاتِ الْمَعْصِيَةِ إِلَى نُوْرِ الطَّاعَةِ.

د ګناهونو د تیَارو نه به ئے رنړا د طاعت او عبادت ته راوباسي.

(٥) ظُلُمَاتِ التَّعَلُّقِ بِغَيْرِ اللهِ إِلَى نُوْرِ التَّعَلُّقِ بِاللهِ. د غیر الله د تعلق د تیارو نه به ئے د الله د تعلق رنړا ته راوباسي. (٦) مِنْ ظُلْمَةِ الدُّنْيَا، ظُلْمَةِ الْقَبْرِ، ظُلْمَةِ الصِّرَاطِ إِلَى الْجَنَّةِ.

یعنی د دنیا د تیَارو، د قبر د تیارو، د پُل صراط د تیَارو نه ئے جنت طرف ته راوباسي چه هلته سراسر رنړاګانے دی. (بحر العلوم للسمرقندی۱/۲۱۲)

او ددے نه معلومه شوه چه د مؤمن سړی څومره وخت په ایمان کښې تیریږی، نو دهغه په ایمان کښې ترقی او رنړا راځی، او د خلقو د تیَارو نه خبریږی، او په ایمان کښې ئے صفائی پیدا کیږی، شکونه ئے ختمیږی. الله فرمائی: ﴿ وَيَزِيْدُ اللهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى ﴾ (مریم/۷٦)

(الله به د ایمان او هدایت والو هدایت زیاتوی).

دلته بعض خلق **سوال** کوی چه ټول مؤمنان خو اول د کفر په تیَارو کښې نهٔ وی نو څنګه ئے راوباسي؟ بیا ددے **جواب** کوی چه د آمَنُوا نه مراد اراده د ایمان ده.

○ یا بعض مؤمنان مراد دی چه اول په کفر او شرك کښې وو. ○ یا ټول مؤمنان مراد دی خود

ظلمات نه مراد شكوك او شبهات دى ځكه چه دا هر چا ته راځي.○ ليكن صحيح دا ده چه دے سوال ته ضرورت نشته، وجه دا ده چه هر انسان د الله د توفيق نه په غير په تيارهٔ كښې دے.

علامه نيسابوري فرمائي : [فَإِنَّ الْعَبْدَ لَوْ خَلَا عَنْ تَوْفِيْقِ اللهِ لَحْظَةً لَوَقَعَ فِيْ ظُلُمَاتِ الْجَهَالَاتِ وَالضَّلَالَاتِ فَصَارَ تَوْفِيْقُهُ سَبَبًا لِدَفْعِ تِلْكَ الظُّلُمَاتِ عَنْهُ].

(د يو بنده نه كه د الله تعالىٰ توفيق لږ ساعت دپاره لرے شو نو په ډيرو تيارو د جهالتونو او ګمراهيانو كښې به واقع شي، نو د الله توفيق، دده نه د تيارو د دفع كيدو سبب دے). نو د ايمان په سبب انسان ته د الله توفيق ملاويږي.

فائده : ظلمات ئے جمع راوړه او نُور ئے مفرد، ځكه چه تيارے او د هغے اسباب او اقسام او تعلقات ډير دى، د شرك، د شبهاتو، د شكونو، د بدعات او ګناهونو تيارے دى. او رڼا ايمان او حق دے او دا يو وى.

فائده : په دواړو ځايونو كښې (يُخْرِجُوْنَهُمْ) مضارع راغله ځكه چه د ايمان والو ايمان او د كافرانو ګمراهي به ورځ په ورځ زياتيږي، او مضارع هم په استمرار تجددى باندے دلالت كوى. (ابن عاشورؒ).

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ﴾ يعنى كومو كسانو چه په الله باندے كفر كړے دے او د هغه سره ئے شريكان جوړ كړى دى، نو د هغوى دوست شيطان دے.

پدے كښې د اصحاب الغى د نتيجے بيان دے. چه څوك كفر اختياروى نو الله به پرے شيطان مسلط كوى، او هغه به ئے په تيارو كښې باقى پريدى، دا د كفر ضرر شو. چه غلط خلق به ئے دوستان وى. د طاغوت نه مراد دلته شيطان او د هغه ملګرى دى چه خلق ګمراهئ ته دعوت كوى. لكه حُيَي بن اَخطب، كعب بن الاشرف او نَضر بن الحارث وغيره د ګمراهئ مشران دى. طاغوت دلته جمع ده ځكه روستو (يُخْرِجُوْنَهُمْ) كښې د جمع ضمير ورته راجع دے.

﴿يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ﴾ يعنى دوى په وسوسو سره خپل دوستان د توحيد، د ايمان او يقين او د انبياؤ د دعوت د رڼا نه ډيرو تيارو ته راوباسى، او د رڼا نه ئے منع كوى چه خوا له مهٔ ورځئ. دلته **سوال** دے چه كافران خو په رڼا كښې نهٔ دى نو څنګه به ئے راوباسى؟.

(١) **جواب** دا دے چه د كافرانو سره هم د فطرت رڼا وه ځكه هر انسان په فطرت د اسلام پيدا كيږى، روستو بيا كفر اختيار كړى.

(٢) يا د نور نه مراد(نُوْرُ الْبَيِّنَاتِ الَّتِيْ يُشَاهِدُوْنَهَا مِنْ جِهَةِ النَّبِيِّ ﷺ)

(د معجزاتو هغه رڼا ده چه كوم ته دوى ورنزدے شوى دى چه د نبى ﷺ د طرف نه به ئے

لیدله)، لکه دنیا کښې قرآن او سنت موجود دی، نو دا رڼا ده. کافران ورته رانږدې شوی دی، دوی قادر دی چه ځان ددې په وجه رڼا ته راولی. لیکن دوی ددې رڼا نه ځان اُوویستلو او تیارو ته ورغلل. (قاسمیؒ).

(۳) بعض وائی : ددې نه مراد د اهل کتابو مؤمنان دی چه دوی د نبی ﷺ نه مخکښې په نبی ﷺ ایمان لرلو، لیکن کله چه راغلو، بیا ئې ترې انکار شروع کړو. لیکن عموم غوره دې. نو بعض وائی چه د اخراج (راویستلو) نه مراد د توحید د رڼا نه ځانونه منع کول دی. نو دا داسې دی لکه ځان د رڼا نه ویستل. نو ځکه ئې اخراج لفظ ذکر کړیدې. (بغویؒ).

﴿أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ﴾ یعنی دنیا کښې چه تیارو کښې روان وی نو د جهنم تیارو ته به ځی. او دنیا کښې چه رڼا کښې روان وی نو د جنت رڼا ته به ورځی. دا اعمال د هغهٔ ځایونو سره تړل شوی دی.



أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ
آیا تهٔ نه گورې هغه کس ته چه جګړه ئې کړې وه د ابراهیم علیه السلام سره په باره د رب د هغهٔ کښې پدې وجه
آتَاهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ
چه ورکړې وه الله هغه ته بادشاهي کله چه اُووئیل ابراهیم زما رب هغه دې چه ژوندي کول کوي او مړهٔ کول کوي
قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللّٰهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ
هغهٔ اُووئیل: زهٔ هم ژوندي کول کوم او مړهٔ کول کوم اُووئیل ابراهیم: یقیناً الله راولي نمر د مشرق نه
فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿۲۵۸﴾
نو ته ئې راوله د مغرب نه، بس حیران پاتې شو هغه کس چه کفر ئې کړې وو او الله لاره نهٔ ښائي قوم ظالمانو ته۔

تفسیر : ربط : پدې آیتونو کښې الله تعالیٰ دا بیانوي چه څنګه الله تعالیٰ د خپلو اولیاؤ نه شکونه او شبهات اړوي، او یقین ئې مضبوطوي، او ګمراهان او کافران څنګه په شکونو کښې حیران پریدي، نو ددې دپاره دوه مثالونه دوه واقعات راوړي، یو د ابراهیم علیه السلام د دشمن (نمرود بادشاه) چه دا مثال د اصحاب الغي او اصحاب الرشد دواړو سره متعلق دې، چه نمرود ګمراه انسان وو، په الله باندې ئې صحیح ایمان نهٔ وو راوړې، او د طاغوت ملګرې وو، نو پدې وجه په تیارهٔ کښې پاتې شو۔ د شیطان د وسوسې او د نفس د فساد په وجه د نُور او د رڼا او د هغه خبرو نه هم منکر شو چه هر عقل والا ئې مني، او هغهٔ د عقل تقاضا ده۔ نو په نورو تیارو کښې ورننوتو او حیران پاتې شو۔ بیا ئې عقل هم کار نهٔ کولو۔ او ابراهیم علیه السلام د رُشد او هدایت والا وو، الله د هغه ولي او دوست او مددګار وو، نو څکه پرې غالب شو۔

او دویم هغه سړې دې چه هغه صاحب الرُشد دې، نیك انسان دې، په معمولي شان تیارهٔ کښې وو، نو الله د هغې نه را اُوویستو او ښهٔ رڼا ئې ورله ورکړه، یقین ئې هم مضبوط شو۔

بیا د ابراهیم علیه السلام دریمه واقعه راوړي۔ چه په هغې کښې هم د هغه د ایمان ترقي بیانیږي چه هغه ایمان بالغیب لرلو، لیکن غوختل ئې چه زهٔ ایمان بالشهادة ته ورسیږم، اعلیٰ درجه د ایمان ته۔ نو الله رب العالمین هغه له د ایمان اعلیٰ درجې ته اُورسولو، او دا قانون دې چه بنده به د ایمان په ادنیٰ درجه کښې وي، نو الله به ئې وخت په وخت په ایمان کښې طاقت پیدا کوي، او د ایمان 'علیٰ درجې ته به ئې اُورسوي۔ درې مثالونه راوړي۔

دا ددے آیتونو د مخکښ سره ربط هم شو ـ او پدے واقعاتو کښ قریشو کافرانو ته د بعث بعد الموت عقیده هم وربنائی چه الله په مړی راژوندی کولو قادر دے، اُوګورئ دنیا کښ ئے مړی راژوندی کړی دی۔

دا واقعه د ابراهیم ﷺ د نمرود سره راغلے ده۔

قتادة فرمائی : په توله دنیا باندے څلورو کسانو بادشاهی کړیده۔ دوه مسلمانانو، سلیمان او ذو القرنین۔ او دوه کافرانو، بختنصر چه دا د بنی اسرائیلو نه وو۔ او نمرود چه دا د ابراهیم ﷺ په زمانه کښ وو۔ (ابن کثیر ۱/۶۸۶)

نمرود (په دال او ذال دواړو سره وئیلے شی) دا نمرود بن فالخ بن عابر چه د حام بن نوح د اولادو نه وو۔ بعض مفسرین وائی : نمرود بن کوش بن کنعان بن سام بن نوح علیه السلام وو۔ دا اولنے هغه بادشاه وو چه تاج ئے په خپل سر ایښے وو، او په زمکه کښ ئے تکبر شروع کړے وو، او د ربوبیت دعویٰ ئے کړے وه، او دا د زنا نه پیدا وو۔ دا د بابل (عِراق) بادشاه وو، او د بابل ښار دهٔ جوړ کړے او دهٔ په بابل کښ یوه لویه مانړئ جوړه کړے وه۔ (فتح البیان ۲/۱۰۲ والتنویر لابن عاشور ۱/۵۰۵)۔

دا کافر انسان وو، او په تکبر کښ پدے وجه راغلے وو چه الله ورله بادشاهی ورکړے وه او دا قانون دے چه[اَلْوَضِيْعُ اِذَا ارْتَفَعَ تَكَبَّرَ] رذیل چه کله پورته شی نو بیا تکبر شروع کړی۔ دا د الله د وجود نه منکر نهٔ وو، صرف د هغه د وحدانیت او د ربوبیت نه منکر وو۔

د الله تعالیٰ ددے کائناتو یواځے متصرف او یواځے مدبر (تدبیر کونکی) منلو ته تیار نهٔ وو، لکه څنګه چه د جاهلیت ګمراه خلقو کښ بعض داسے وو چه د الله د وجود اقرار به ئے کولو، لیکن د الله سره به ئے نور شریکان جوړول، بعض کارونه او واقعات به ئے خپلو شریکانو ته منسوب کول۔ دغه شان دا خلق د الله د صفت د حاکمیت نه هم منکر وو۔ حال دا چه اسلامی تصور دا دے چه لکه څنګه ددے کائناتو تکوینی کارونه د الله په لاس کښ دی، نو دغه شان قانون سازی او د اجتماعی امورو د فیصلو اختیار هم د الله په لاس کښ دے۔او پدے کښ هیڅوك د هغه شریك نشته۔

نو دهٔ د اُلوهیت دعوه اُوکړه او د ابراهیم ﷺ سره ئے مناظره اُوکړه۔ دا مناظره په هغه وخت کښ وه چه ابراهیم ﷺ به الله ته خلق رابلل، او د کفر او شرك او د بتانو بدی به ئے بیانوله، نو خلقو کښ مشهور شو۔ بادشاه راطلب کړو، هغه ته ئے اُووئیل چه تهٔ څهٔ ته دعوت ورکوے؟ هغه اُووئیل : زهٔ الله تعالیٰ ته دعوت ورکوم، هغه ذات چه تهٔ ئے هم پیدا کړے ئے او زهٔ ئے هم پیدا کړے یم۔ هغه اُووئیل : چه رب خو زهٔ یم۔ دا کارونه زهٔ کوم۔

ابراهیم ﷺ ورته اُووئیل : هرکله چه تهٔ ددے کارونو واکدار ئے، نو بیا زما رب خو د مشرق نه

نمر راخيژوي، ته ئې د مغرب نه راوخيژوه چه ستا ربوبيت مونږ اُومنو.

نو هغه د کفر په وجه حيران شو، او همدغسې لاجوابه پاتې شو. مناظره کښې پر شو، هرکله چه پوهه شو چه ابراهيم عليه السلام خو په مناظره کښې نۀ پر کيږي نو اراده ئې اُوکړه چه ددۀ وژل پکار دي، نو اُور ئې ورله بل کړو او هغې ته ئې گوزار کړو، ليکن الله په اُور کښې محفوظ اُوساتلو، کله چه روغ را اُووتلو نو دوی ښۀ معجزه اُوليدله، ليکن ايمان نه ئې نۀ راوړو.

ابراهيم عليه السلام د دوی نه د عراق نه هجرت اُوکړو، فلسطين ته لاړو چه لوط عليه السلام هم ورسره وو. ځکه چه هغه زمانه کښې جهاد نۀ وو، الله تعالىٰ به کافرانو ته خپله سزا ورکوله، نو په دوی باندې الله تعالىٰ د ماشو عذاب راوستو چه الله پرې تول هلاك کړل، د دوی غوښې ئې اُوخوړلې، وينې ئې اُوڅکلې، تش هډوکي ئې پريخودل. دومره ډير ماشي وو چه د نمر رڼا ئې پټه کړې وه. او د نمرود په پوزه کښې يو ماشې ننوتو چه خلق به ورله راتلل نو په سر به ئې وهلو، څلورو سوو کالو پورې دا حالت وو آخر پدې حالت کښې هلاك شو. (ابن کثير ١/٦٨٧)

د لويئ دعوه ئې کړې وه، الله تعالىٰ ذليله کړو، په معمولي حيوان ئې هلاك کړو. او ابراهيم عليه السلام به فلسطين کښې اُوسيدو، هلته پرې الله تعالىٰ ډير امتحانات راوستل او بيا آخر هلته وفات هم شو.

عبد الرزاقؒ د معمرؒ نه، هغه د زيد بن اسلمؒ نه روايت کوی چه دا واقعه پدې طريقه راغلې وه چه د ابراهيم عليه السلام په زمانه کښې قحط راغلې وو، نو نمرود به مِيره (غله) تقسيموله. خلق به چه بادشاه خواله ورغلل نو هغه به ورته وئيل چه ستا رب څوك دې؟ نو که چا به د بادشاه د ربوبيت اقرار کولو، هغه ته به ئې غله ورکوله، او که چا به انکار کولو، نو د غلې نه به محروم وو. نو ابراهيم عليه السلام هم په دغه کسانو کښې ورغلو، دۀ د هغه د ربوبيت نه انکار اُوکړو. نو بس مناظره جوړه شوه. او ابراهيم عليه السلام د هغه نه بغير د غلې اخستو نه را اُووتو نو په لاره کښې ئې شړې په بوجئ کښې واچولې چه خپل اهل ئې نا اميده نشي، او د هغوی زړۀ خفه نشي، کور ته ئې چه راوړې، نو اُودۀ شو. ښځه ئې ورپاڅيدۀ چه د هغې نه څۀ راواخلي نو الله تعالىٰ ترې طعام جوړ کړې وو، او د هغې نه ئې دۀ له طعام تيار کړو، دۀ ته ئې نزدې کړو، دۀ تپوس اُوکړو دا چرته وو؟ هغې اُووئيل: دا د هغه طعام نه دی چه تا راوړيدی نو دۀ ته پته اُولگيده چه دا د الله تعالىٰ د طرف نه رزق دې، نو د الله حمد ئې اُووئيلو. او دا د هغه معجزه وه. (ابن کثيرؒ، بغویؒ)

﴿ حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ ﴾ (حَاجَّ) د مُحَاجې نه دې، اصل کښې دې ته وائي چه د دواړو طرفونو نه دليلونه وئيلې شي. او هر يو شخص په بل باندې ځان غالب کول غواړي، ليکن د نمرود د طرف نه خو هيڅ دليل نۀ وو، نو بيا دلته حَاجَّ په معنىٰ د باطلې جگړې سره دې. دارنگه هغه په خپل

کمان کښې ځان غالبه ګڼړلو۔
فائده : اَلْمُنَاظَرَةُ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِيْنَ ۔ ددې نه معلومه شوه چه په يوه ديني مسئله کښې مناظره (بحث) کول، د پيغمبرانو سنت دی۔ (قرطبیؒ)
مناظره وئيلې شي د جانبينو په دلائلو کښې کتل چه کوم حق وی هغه قبلول۔ د مناظرې مقصد دا دې چه جانب مخالف ښۀ شي او حق ته راشي، دا د سلفو د مناظرې مقصد وو، ليکن نن صبا مناظرې خپل ځان وَر کول او مخالف پر کول او هيڅ دليل ته نۀ کتل۔ يو طرف ته آيت او حديث وئيلې کيږي او بل ورته ګډې وډې وائي، نو پدې کښې فائده نۀ وی، صرف دا چه عوامو ته معلومه شي چه يو ورته آيت او حديث وائي او بل طرف سره دليل نشته۔ نو عقلمند پرې ښۀ کيږي۔
(فِيْ رَبِّهٖ) ضمير ابراهيم عليه السلام ته راجع دې۔ يعنې د ابراهيم عليه السلام د رب په باره کښې ئې دا بحث کولو۔ د هغۀ د ربوبيت او وحدانيت نه منکر وو۔
﴿أَنْ آتَاهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ﴾ دا په تقدير د لام سره (لِأَنْ آتَاهُ) د حَاجَّ دپاره علت دې۔ يعنې دا جګړه ئې ځکه کوله چه الله ورته بادشاهي ورکړې وه نو بادشاهي په تکبر او سرکشئ کښې راوستې وو چه د الله د ربوبيت نه ئې منکر کړو، حال دا چه ددې تقاضا خو دا وه چه دا پوخ مؤمن او شکر ګذار جوړ شوې وې، او د الله ددې نعمت قدر ئې کړې وې۔ کومه خبره چه ددۀ د هدايت سبب کيدل پکار وو، د هغې په وجه سره ګمراه شو۔
دارنګه الله تعالیٰ خو دۀ له بادشاهي او حاکميت ددې دپاره نۀ وو ورکړې چه دا به عوام خپل بنده ګان جوړوی او د خپل جوړ کړی قوانينو تابع کوی به ئې، ځکه هغه خو خپله د الله بنده دې، لکه څنګه چه نور خلق د الله بنده ګان دی۔ پدې وجه کله چه دا د خپل وخت د نبي سره مباحثه او بحث کوی نو الله تعالیٰ ددۀ دا کار خلقو ته عجيبه او ناشنا ښکاره کوی او په (اَلَمْ تَرَ) سره ئې ذکر کوی۔ چه ګوره دا يو بنده دې او د کائناتو د رب صفات ځان دپاره خاص کوی، ډيره عجيبه خبره ده !!۔
او داسې بد خوئي په ډيرو نا اهله بادشاهانو کښې وی چه کله ورته الله تعالیٰ څۀ ظاهري قوت ورکړی نو بيا په خپل رعيت باندې ظلمونه کوی او د الله حقوق ځان دپاره خاص کړی۔
﴿إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيْمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ﴾ د (اِذْ) نه معلوميږی چه ابراهيم عليه السلام هغه ته د توحيد دعوت ورکړو، کله چه نمرود اُووئيل : ستا رب څوك دې؟ نو ابراهيم عليه السلام ورته د خپل رب دا صفت ذکر کړو۔ چه زما رب هغه دې چه ژوندي کول او مړۀ کول کوی۔ يعنې دا کوم څيزونه چه پدې کائناتو کښې ښکاري، دا مخکښې نيشت وو، بيا وجود ته راغلل او دا به ددې د وجود نه پس نيشت کوی۔ او دا دليل دې په وجود د يو رب چه هغه يواځې دا کارونه کړيدی۔

﴿قَالَ أَنَا أُحْيِ وَأُمِيتُ﴾ لیکن دا ظالم د اِحیاء (ژوندی کولو) او اِماتة (مړهٔ کولو) په حقیقت نهٔ پو هیدو، نو پدے وجه دهٔ هم دعوه اُوکړه، چه دا کار خو زهٔ هم کولے شم۔

مفسرین لیکی : دهٔ دوه کسان راوستل چه دواړه د قتل مستحق وو، نو یو ئے قتل کړو او بل ئے معاف کړو۔ حال دا چه دا خو د احیاء او اماتة معنیٰ نهٔ ده۔ او نهٔ د ابراهیم ﷺ د خبرے جواب دے۔ ځکه چه اِحیاء (ژوندی کول) خو دے ته وائی چه یو شے نیشت وی او هغے له وجود ورکړی مثلًا حیوان او انسان د نطفے نه پیدا کول، او د زمکے ژوند دا دے چه هغے کښې قوت نباتی (د رازرغونولو طاقت) پیدا کړی۔ او دلته خو دا شخص الله تعالیٰ ژوندے کړے وو۔ دهٔ صرف قتل نکړو، دا خو اِحیاء نهٔ ده۔ او کوم شخص ئے چه قتل کړو نو دا هم دهٔ ورله مرګ نهٔ دے راوستے، بلکه الله ورله راوستے دے، دهٔ صرف ظاهری اسباب استعمال کړل، ډیر کرته انسان شل ډزه اُولګی لیکن چه الله ئے د مرګ اراده نهٔ وی کړی، اسباب کار ورنکړی۔

﴿قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ﴾

هرکله چه نمرود په خلقو تلبیس اُوکړو او ځان ئے په زوره جاهل کړو، او د اِحیاء او اِماتة غلطه معنیٰ ئے واخسته، نو ابراهیم ﷺ دا مناسبه اُونهٔ ګنړله چه هغه سره د موت او حیات په موضوع بحث اُوکړی چه مرګ دیته وائی او ژوند دیته وائی۔ ځکه چه پدے کښې مشغوله کیدل مقصد فوت کوی، نو ځکه ابراهیم ﷺ داسے دلیل ته انتقال اُوکړو چه دا پکښې زر انخلی او ددهٔ هیڅ تصرف او دعوه په هغے کښې کار نهٔ ورکوی، نو ورته ئے اُوونیل : هرکله چه تهٔ ځان ته رب وائے او دا تصرفات ځانله ثابتوے، نو نمر د مشرق نه راخیژی، بس تهٔ ئے د مغرب نه راوخیژوه چه دا صرف د الله تصرف دے، هیڅوك په کښې نشی شریك کیدے۔ نو هغه حیران شو۔

﴿فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ﴾ (كَأَنَّمَا أُلْقِيَ فِي فَمِهِ الْحَجَرُ) داسے حیران شو دا کافر انسان ګویا کښې په خوله کښې ورته کانړی واچولے شو)۔ ځان ته ئے هوښیار وئیلو او دے ځائے کښې کم عقل شو۔ داسے جواب ئے ولے نهٔ کولو چه دا نمر زهٔ راخیژوم۔ ؟ جواب د هغے دا دے چه الله ترے دا هیر کړو، دماغ ئے ورله بند کړل ځکه چه (وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ) الله د جواب توفیق نهٔ ورکوی ظالمانو ته)۔ دویم دا چه بیا پرے خلقو اعتراض کولو چه تهٔ خو لا پیدا هم نهٔ وے او دا نمر راختلو۔ دارنګه دهٔ ابراهیم ﷺ ته هم دا نشو وئیلے چه ستا رب ډے د مغرب نه راوخیژوی ځکه چه الله ورله دماغ بند کړل۔ او دهٔ ته دا یقینی معلومه وه چه که زهٔ دا مطالبه اُوکړم، نو د ابراهیم ﷺ رب ددے طاقت لری، اُوس به ئے راوخیژوی، نو زهٔ به اُوشرمیږم۔

سوال : ابراهیم علیه السلام دویم دلیل ته ولے انتقال اُوکړو، حال دا چه د مناظرے اصول دا دی

چه پکار ده چه په همغه دلیل کښې راونیولے شی ؟۔ او بل دلیل ته د نقل کیدو معنیٰ دا جوړیږی چه تا ته دغه مخکنے دلیل کمزورے ښکاری او ته په هغې کښې مخالف ته تسلیم شوے؟۔

جواب۱ - : پدے کښې د واضح دلیل نه أوضح (ډیر واضح) ته انتقال دے۔ دا ددے دپاره کیږی چه ما درله دلیل درکړو، لیکن ته پدے نهٔ پو هیږے، جاهل ئے، نو بیخی واضح دلیل واوره چه هغه د نمر دلیل دے چه هره ورځ ئے انسان وینی۔ او پدے کښې مخالف زر راپرزول او د آوریدونکو دماغو ته زر خبره رَسَول مقصد وی۔ او دا کار جائز دے۔

(۲) **جواب** : حافظ ابن کثیرؒ وغیره فرمائی : پدے کښې انتقال د یو دلیل نه بل دلیل ته نشته بلکه دا اول دلیل د دویم دلیل دپاره مقدمه او تمهید دے۔نو پدے کښې بیان دے د تصرف د مُحْیِی او مُمِیْت (د ژوندی کونکی او مړ کونکی) چه هرکله ته دعویٰ کوے چه ته هم ژوندی کول او مړهٔ کول کولے شے، نو هغه ذات چه مرګ او ژوند راولی او دا تصرف کوی، نو هغه ذات په مخلوقاتو کښې دا تصرف هم کوی چه کائنات، ستوری او د هغې حرکات د هغه مسخر او تابع دی، هغه نمر د مشرق نه راخیژوی، نو که ته ځان ته اِلٰه وائے نو پدے کښې تصرف اُوکړه او د مغرب نه ئے راوله۔ نو احیاء او اماتة د رب یو تصرف وو او د هغې تشریح دا وه چه الله نمر او سپوږمئ له هم حیاة او موت ورکوی۔ نو دا د یو دلیل دپاره دوه مثالونه شو۔

۳- **جواب** : حافظ ابن القیمؒ وائی : [اِنَّمَا هُوَ الْزَامٌ لِلْمُدَّعِی بِطَرْدِ حُجَّتِهٖ اِنْ کَانَتْ صَحِیْحَةً]

(یعنی دا الزام دے مُدعِی لره که ستا دعویٰ صحیح وی نو خپل دلیل ډیر عام کړه او هر شی ته ئے شامل کړه) ددے تفصیل دا دے چه هرکله چه ابراهیم ؑ اُووئیل : زما رب ژوندی کول او مړهٔ کول کوی، نو دغه د الله دشمن د ابراهیم ؑ د دلیل معارضه شروع کړه په مغالطے ورکولو سره چه زهٔ هم څوك وژلے شم او څوك ژوندی پریخودے شم، نو ابراهیم ؑ په هغه باندے الزام اُوکړو چه څه دا خپل دلیل عام کړه، نمر له الله چه کوم طرف ته حرکت ورکوی نو ته ئے د هغې په مخالف طرف حرکت ورکړه، د کوم الله سره چه ته په ژوندی کولو او مړهٔ کولو کښې ځان برابر ګنړے، نو که ته رشتینے ئے، دا تصرف هم اُوکړه چه ستا دعویٰ صحیح شی۔ یعنی ته د ژوندی کولو دعوه کوے نو د ژوندی کولو یو صورت خو دا هم دے چه نمر د مغرب نه راوخیژوه۔ نو پدے کښې په خپل دلیل او مُدعٰی کښې مخالف راګیرول دی چه ستا دعویٰ صحیح نهٔ ده ځکه چه دلیل دے هر ځائے کښې نهٔ چلیږی۔ او دا ډیر ښهٔ جواب دے۔

[بدائع التفسیر و الصواعق المرسلة ص (۲/٤۹۱) الفصل العشرون]

﴿وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ﴾ ...... [لَا یُلْهِمُهُمْ حُجَّةً وَلَا بُرْهَانًا] (ابن کثیر)

الله ظالمانو ته دليل او حجت په زړهٔ کښې نهٔ اچوي۔ دے کښې وجه بیانوی چه دا ظالم انسان وو، نو الله ورته هدایت اُونهٔ کړو، د جواب لاره ئے ورته اُونهٔ خودله، بلکه په ګډو وډو روان شو۔

دلته **سوال** دے چه ډيرو ظالمانو ته هدایت شویدے او دلته وائی چه الله ظالمانو ته هدایت نهٔ کوی؟۔ **جواب ۱** – د هدایت نه دلته د جواب توفیق او په جواب کښې حق ته رَسُول مراد دی۔ چا کښې چه ظلم وی نو الله ئے د حق د جواب نه اَړوی۔

جواب ۲: هدایت دپاره انابت شرط دے او ظالمان اکثر عنادیان وی۔ که په یو شخص کښې مخکښې ظلم وی، لیکن بیا پکښې انابت پیدا شی، نو الله ورته هدایت کوی لکه د عامو صحابه کرامؓ مخکښې حالت شو چه د انابت د وجه نه ورته الله د ایمان توفیق ورکړو۔

فائده: الله تعالیٰ (لَا يَهۡدِي) جمله راوړه، ځکه وَهم راتلو چه دهٔ هدایت ولے نهٔ قبلولو؟، سَره ددے نه چه دلیل ورته واضح شوے وو؟۔ نو جواب دا دے چه دا ظالم وو، د هدایت مستحق او لائق نهٔ وو۔

أَوۡ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرۡيَةٖ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا
او آیا تا نهٔ دے لیدلے په شان د هغه کس چه تیر شو په یو کلی باندے او هغه پریوتے وو په چتونو خپلو باندے
قَالَ أَنَّىٰ يُحۡيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعۡدَ مَوۡتِهَا فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ
اووئیل هغهٔ په څهٔ طریقه به راژوندی کړی دے لره الله تعالیٰ پس د مرګ ددے نه پس مړ اُوساتهٔ هغه لره الله تعالیٰ
مِاْئَةَ عَامٖ ثُمَّ بَعَثَهُۥ قَالَ كَمۡ لَبِثۡتَ قَالَ لَبِثۡتُ يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖ قَالَ
سل کاله بیائے راپورته کړو۔اوفرمایل الله څومره وخت دے تیر کړو؟ اُووئیل هغه وخت تیر کړو ما یوه ورځ یا څه حصه د ورځے۔
بَل لَّبِثۡتَ مِاْئَةَ عَامٖ فَٱنظُرۡ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمۡ يَتَسَنَّهۡ
اُوفرمایل الله: بلکه تا وخت تیر کړے سل کاله نو اُوګوره خوراك خپل او سکاك خپل ته چه نهٔ دے خراب شوے
وَٱنظُرۡ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجۡعَلَكَ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡعِظَامِ
او اُوګوره ستا خر ته (چه تهٔ پرے دلیل اُونیسے) او دے دپاره چه تا مونږه اُوګرځوو نخه د خلقو دپاره او اُوګوره هډوکو ته
كَيۡفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكۡسُوهَا لَحۡمٗاۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ
چه څنګه خوزوو مونږ هغے لره بیا اغوندو مونږ هغے ته غوښه۔پس هرکله چه ښهٔ ښکاره شوه هغهٔ ته (دا حال)

قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۵۹﴾

اُووئیل هغهٔ: زهٔ پو هیږم چه یقیناً الله تعالیٰ په هر څه باندے قدرت لرونکے دے۔

تفسیر: دا دویمه واقعه ده، د اصحاب الرشد دپاره مثال دے، چه الله د ایمان والو دوست دے اُوګوره دوی د شبهاتو نه یقین ته راوباسی او ایمان ورله مضبوطوی۔ معمولی تیارو نه ډیرے رڼرا ته اُووتو۔

ربط: ۱- مخکښ د الله تصرف په ژوندی کولو او مړهٔ کولو کښ ذکر شو، نو اُوس الله تعالیٰ عملی ژوندی کول او مړهٔ کول بیانوی، نو دا په مخکښ تفریع شوه۔

۲- مخکښ د توحیدِ ربوبیت عقیده وه، اُوس بله عقیده د بعث بعد الموت بیانوی۔

پدے واقعه کښ اختلاف دے چه دا د چا ده؟ مشهور دوه قوله دی (۱) یو دا چه دا یو کافر انسان وو چه د بیت المقدس خوا کښ اُوسیدو، د بیت المقدس په کلی ورتیر شو چه وران پروت وو، بختنصر بادشاه وران کړے وو، او د هغے اُوسیدونکی ئے قتل کړی وو۔ نو دے انسان زړهٔ کښ اُووئیل چه دا کلے به الله څنګه راژوندے کړی؟ او دا هډوکی او غوښے به څنګه یو بل سره یوځائے شی؟ دا خو ډیره بعیده ده۔ (د بعث بعد الموت منکر وو)۔

نو الله تعالیٰ اراده اُوکړه چه دهٔ ته هدایت اُوکړی، دا ئے مړ کړو او سل کاله روستو ئے راپورته کړو، او دهٔ ته ئے د دوباره ژوندی کولو طریقه اُوخودله او د ملائکو په ذریعه ئے ورسره خبرے اُوکړے نو آخر کښ ئے اقرار اُوکړو (اَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ)۔

(ما ته پته اُولګیده چه الله په هر شی قادر دے) ایمان ئے راوړو۔ او کله نا کله د کافرانو دپاره داسے ناشنا واقعات سبب د ایمان اُوګرځی۔ او دا قول د مجاهد بن جبرؒ دے چه ابن کثیرؒ، بغویؒ وغیره ذکر کړے، لیکن علامه صدیق حسن خانؒ پرے په فتح البیان کښ رد کړے چه دا ډیر ضعیف قول دے۔ څکه چه دے شخص سره الله خبرے کړیدی (كَمْ لَبِثْتَ) (وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِّلنَّاسِ) او کافر له الله تعالیٰ دومره اهتمام نهٔ ورکوی۔

(۲) دویم قول د اکثرو مفسرینو دے چه هغه صحیح معلومیږی چه دا عزیر بن شرخیا ؑ دے، او دا قول د علی، عبد الله بن سلام او ابن عباس رضی الله عنهم او حسنؒ، قتادهؒ او عکرمهؒ وغیره مفسرینو دے۔ او دا د موسیٰ ؑ د دور نه روستو راغلے دے۔ او د بنی اسرائیلو پیغمبر دے۔ وهب بن منبهؒ وائی: دا اَرمیا بن حلقیا دے چه لقب ئے خضر ؑ دے۔

لیکن ابن عطیهؒ وائی دا قول صحیح نهٔ دے څکه چه دا واقعه د روستو زمانے ده او خضر خو د

موسىٰ ﷺ د زمانے شخص دے۔ (قرطبیؒ)۔

بعض وائی : حزقيل بن بوزی نبی وو۔ ابن عاشورؒ وئیلی دی چه همدا قول صحیح دے ځکه چه دا د تورات د اقوالو مطابق دے۔ لیکن زیاتو مفسرینو دے ته ترجیح ورکړیده چه دا عزیر ﷺ وو۔

دا د مصر نه روان وو، ځان سره ئے توخه راخستے وه چه هغه تازه انځران، انګور او د شرابو وړه شان مشکیزه وه۔ بعض وائی د اُوبو منګے وو۔ (قرطبیؒ)۔

د بیت المقدس په خوا کښې تیر شو چه د هغے اهل وژل شوی او کلی وران شوے وو۔ نو دهٔ د الله د قدرت استعظام اُوکړو (دا خبره ئے لویه اُوګنړله) چه دا به څنګه الله راپورته کوی؟ الله څومره لوئی قدرت والا دے!! نو الله ورته په نفس او خر او خوراك څکاك کښې د خپل قدرت نخے اُوخودلے، او یقین ئے ورله زیات کړو۔ الله دا سل کالو پورے مړ اُوساتلو، بیا ئے اول دا راژوندے کړو او عقل او زړهٔ ئے ورله ورکړو۔ علی ﷺ فرمائی چه اول ورله الله سترګے ورکړے او په هغے باندے ئے په خپل ځان کښې هم د الله قدرت اُولیدو چه را یو ځائے کیږی، او خپل د سورلئ خر ئے هم اُولیدو نو په الله ئے یقین زیات شو او هغه معمولی شان تیارے ئے هم ختمے شوے۔

﴿ أَوْ كَالَّذِي ﴾ دا (اَوْ) په مخکښې (اَلَّذِیْ) باندے عطف دے۔ او کاف زائد دے۔ نو اصل عبارت داسے دے [اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ] ۔آیا تهٔ نهٔ ګورے هغه سړی ته چه په یو کلی تیر شو۔ یا کاف اسمی دے په معنیٰ د مِثْل سره۔ او مقصد پکښې د الله د قدرت د شواهدو ګنړوالے دے۔ [اَیْ اَلَمْ تَرَ مِثْلَ الَّذِیْ مَرَّ]۔ آیا تهٔ نهٔ ګورے په شان د هغه سړی ته چه هغه په یو کلی تیر شو۔ یعنی ددهٔ په شان د الله د قدرت ډیر واقعات شته ځانله په دهٔ کښې د الله د قدرت شواهد نهٔ دی۔ (قاسمی۳/٦٠٤)۔

﴿ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ ﴾ ١- دا قریه بیت المقدس ښار وو چه بختنصر خراب کړے وو او د هغے اهل ئے وژلی وو، مړهٔ پراته وو۔ او څهٔ کسان ترے وتلی وو، نو د قریه نه کورونه او اُوسیدونکی دواړه مراد دی۔

٢- بعض وائی : دا هغه کلے وو چه د هغے اُوسیدونکی زرګونه وو، او د مرګ د یرے نه وتلی وو۔

٣- کلبیؒ وائی : دا قریه (دَیْرِ سَابر آباد) وو چه په فارس کښې یو کلے دے۔

٤- سدیؒ وائی : دا (سَلْمَا آباد) وو چه دا په اطرافو د جُرجان یا هَمْدَان کښې محله یا علاقه ده۔

٥- بعض وائی : دا قریه (دَیْرِ هِرَقْل) وو چه د بصرے او (عسکر مُکرم) په مینځ کښې واقع وو او د دِجلے په غاړهٔ آباد وو۔ لیکن اول قول ډیر ظاهر او مشهور دے۔ (فتح البیان)۔

﴿وَهِیَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوشِهَا ﴾ خاویة (١) معنی : سَاقِطَةٌ ۔ راپریوتے وو۔

(٢) په معنیٰ د خَالِيَةٌ ۔ یعنی خالی شوے وو د اُوسیدونکو نه۔ (قتادة)

دلته اوله معنیٰ مراد ده۔ یعنی اول چتونه راپریوتی وو، بیا پرے دپاسه دیوالونه راغورځیدلی

وو۔ ابن عباسؓ معنیٰ کوی یعنی خراب شوی وو نو یوه دیرکۍ ترے جوړه شوے وه او اشاره ده دیر خرابوالی ته۔

عُرُوش جمع د عرش ده په معنیٰ چهت سره۔

﴿قَالَ أَنّٰى يُحْيِ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا﴾ (أَنّٰى) په معنیٰ د کیف سره دے۔ ددے نه غرض انکار نهٔ دے چه گنے (العیاذ بالله) الله قادر نهٔ دے، بلکه مقصد دا دے چه په کوم کیفیت به ئے ژوندی کوی، وارهٔ به وی او که غتیری به۔ همداسے به راپاڅیږی۔ نو دا کیفیت ورته ناشنا ښکاره شویدے، پدے وجه ئے دا خبره بعیده گنړلے ده، او پدے وجه ئے مفعول مقدم کړیدے ځکه چه په فاعل یعنی راژوندی کونکی کښې ئے شك نهٔ وو۔

سیوطیؒ وائی : [قَالَ ذٰلِكَ اسْتِعْظَامًا لِقُدْرَتِهٖ] دا خبره ئے پدے وجه کړے چه د الله قدرت ئے عظیم گنړلو لکه انسان چه کله ناشنا کار وینی، نو د الله قدرت عظیم لوګنړی چه دا به الله څنګه پیدا کوی، یعنی د الله خومره عظیم قدرت دے۔ او پدے کښې انکار مقصد نهٔ وی۔

ابوالسعودؒ وائی : [قَالَ ذٰلِكَ تَلَهُّفًا عَلَيْهَا، وَتَشَوُّقًا إِلٰى عِمَارَتِهَا مَعَ اسْتِشْعَارِ الْيَأْسِ مِنْهَا]۔

(یعنی دا خبره ئے پدے وجه اُوکړه چه غم ئے کولو په دغه کلی باندے چه بختنصر هلاك کړے وو او د هغے د جوړیدو نه نا امیدئ سره ئے دا شوق لرلو چه دا بیرته آباد شی)۔

بیضاویؒ وائی : [قَالَ ذٰلِكَ اعْتِرَافًا بِالْقُصُوْرِ عَنْ مَعْرِفَةِ طَرِيْقِ الْإِحْيَاءِ] دا خبره ئے پدے وجه اُوکړه چه د دوی د راژوندی کولو د طریقے د پیژندلو نه ئے د قصور اقرار کولو) چه ما ته خو ددے د راژوندی کولو طریقه نهٔ ده معلومه، دا به څنګه کیدے شی؟ او ارمان ئے کولو چه دا طریقه اُووینی۔ (فتح البیان وغیره)

نو هرکله چه عزیر ﷺ ددے کلی راژوندی کول او بیرته پدے کښې اُوسیدل ناشنا اُوګنړل، نو الله اُوغوختل چه دهٔ ته دا په خپلو سترګو وربښکاره کړی په خپل نفس کښې چه هغه د کلی د راژوندی کولو نه لویه نخه ده۔ نو عزیر ﷺ هغه ځائے کښې وفات شو۔

بعض وائی اُودهٔ شو نو خوب کښې ترے الله ساه واخسته۔

نو د الله څومره عجیب قدرتونه راښکاره شول، دا روغ جوړ پروت دے، نه ئے ماران لړمانان خوری، نه ئے حیوانات خوری، او نهٔ ئے سیلابونه وړی او نهٔ ئے څوك وینی، او خوراك هم روغ جوړ پروت دے، خاوره هم پکښې نهٔ واقع کیږی، او خرئے ذره ذره خاورے شوے دے۔ او بیا الله تعالیٰ هغه راژوندے کړے دے۔ نو الله رب العزت داسے ذات دے چه کوم شے زر سخاکیږی (طعام) هغه ئے محفوظ ساتلے، او کوم شے چه زر نهٔ سخا کیږی (خر) هغه ئے زر ختم کړے دے۔

نو ﴿فَأَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ﴾ مفسرین لیکی : دا د څلویښتو کالو په عمر وفات شوے وو او یو څوی

تریے پاتے شویے وو، دا چه کله راپاځیدو، نو څوی ئے د یوسل شلو کالو وو، او نمسیے ئے د نوی کالو وو۔ ددهٔ توره گیره او تور سر وو او هغوی سپین گیری بوډاگان وو۔ نو دا خپل کلی ته لاړو، خلقو نهٔ پیژندلو۔ دهٔ اُووئیل زهٔ عزیر یم۔ خلقو اُووئیل : عزیر ته خو تورات یاد وو، آیا تا ته یاد دیے؟ دهٔ اُوفرمایل : آؤ، نو خلقو اُوپیژندلو ۔ پدیے وجه بیا یهودو اُووئیل چه دا د الله څوی دیے څکه دا ناشناکارنامه پکښں واقع شویے وه۔

﴿ ثُمَّ بَعَثَهُ ﴾ حافظ ابن کثیرؒ لیکی : ددهٔ د مرگ نه روستو اویا کاله روستو دغه ښار آباد شویے وو، او ددیے اُوسیدونکی پوره شوی وو، او بنی اسرائیل دیے ته راواپس شوی وو۔ نو کله چه دا راپورته شو او ښهٔ برابر انسان شو نو الله ورته اُوفرمایل :

﴿ قَالَ كَمۡ لَبِثۡتَ ﴾ دا تپوس تریے الله ددیے دپاره اُوکړو چه هغهٔ ته د هغهٔ عجز او کمزورتیا ښکاره کړی چه دا د الله په کارونو باندیے د احاطے کولو نه عاجز دیے۔ اُوگوره دومره ژوند ئے تیر کړیے او پته ورته نشته۔ نو په نفی د علم الغیب باندیے دلیل دیے۔

دارنگه دیے دپاره چه هغهٔ ته اُوښائی چه تهٔ مړ شویے وے، او دا خوب نهٔ وو څکه چه خوب د سلو کالو پوریے نهٔ اُوږدیږی۔

﴿ قَالَ لَبِثۡتُ يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٍ ﴾ دا ئے څکه اُووئیل چه دا الله د ورځے په ابتداء کښں وفات کړیے وو، بیا سل کاله روستو ئے د ورځے په آخر کښں د نمر پریوتو نه مخکښں راپورته کړو، نو دهٔ اُووئیل یا پوره ورځ شویے یا څهٔ حصه د ورځے۔ او دا پدیے خبره کښں دروغجن نهٔ دیے څکه چه ددهٔ گمان همدغه وو او د غیبو علم ورسره نهٔ وو۔ لکه د اصحابِ کهف په شان چه هغوی هم دغسے خبره کړیے وه ﴿ قَالُوا۟ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٍ﴾ [کهف :۱۹]۔

﴿ قَالَ بَل لَّبِثۡتَ مِاْئَةَ عَامٍ ﴾ دا دلیل دیے چه پیغمبران هم په غیبو نهٔ پوهیږی۔ مگر هله چه وحی ورته اُوکړیے شی۔ نو صالحینو ته چه څوك آوازونه کوی چه رامدد شه، نو دوی د اسلام په عقیده نهٔ دی پوهه شوی۔

﴿ فَانظُرۡ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ﴾ د هغه طعام انځران وو او شراب ئے پیۍ وو، یا د شرابو او د انگورو زس وو، یا اُوبه وے۔ ددیے ځائے نه معلومیږی چه څوك په سفر ځی نو ځان سره به توښهٔ اخلی چه سوالونه نهٔ کوی۔او دا بعینهٖ توکل دیے۔

﴿لَمۡ يَتَسَنَّهۡ﴾ قتادهٔ وائی : [اَیْ لَمۡ یَتَغَیَّرۡ] هیڅ تغیر پکښں نهٔ وو راغلے۔ پدیے کښں هاء اصلی ده او د (لَمۡ) د وجه نه ساکنه شویده۔ تَسَنُّه د سَنَةٌ نه اخستے شویدیے، په اصل کښں سنهة دیے۔کلونو تیریدو ته وائی۔[اَیْ لَمۡ یَمۡضِ عَلَیۡهِ السِّنُوۡنَ] ۔یعنی داسے تازهٔ دی چه گویا کښں هیڅ کلونه پریے نهٔ

دی تیر شوی)۔ او کلونو تیریدو سره په یو شی کښې تغیر ضرور راځی نو دلته معنیٰ التزامی مراد ده [اَیْ لَمْ یُغَیِّرْهُ السِّنُوْنَ] یعنی کلونو تیریدو نهٔ دی متغیر کړی)۔ سره ددے نه چه دا څیزونه ډیر زر خرابیږی۔

(لَمْ یَتَسَنَّهْ) ئے مفرد راوړو اګرکه مخکښې طعام او شراب دوه څیزونه دی، لیکن دواړه یو شی ته راجع دی چه هغه غذاء ده نو ځکه ئے صیغه د مفرد راوړه۔

﴿وَانْظُرْ اِلٰی حِمَارِكَ﴾ دلته د نظر نه مراد دا دے چه د هغه د سورلئ خر ذره ذره شوے وو او اندامونه او هډوکی ئے جدا جدا شوی خوارۀ پراته وو، نو الله ورته اُوفرمایل دے خر ته اُوګوره د څۀ دپاره کتل دی، نو دلته تقدیر دے [اَیْ لِتَسْتَدِلَّ عَلٰی قُدْرَةِ اللهِ] دے دپاره چه تهٔ پدے سره دلیل اُونیسے د الله په قدرت او د هغه په مړی راژوندی کولو)۔

بعض وائی : ددهٔ خر مړ نهٔ وو، بلکه په خپل غوجل کښې ولاړ وو چه سل کاله کښې یرے هیڅ مصیبت نهٔ وو راغلے او هیڅ خوراك څکاك ئے نهٔ کولو۔ (وهب منبه، وضحاكؒ)۔ لیکن اول قول غوره دے ځکه چه د روستو (وَانْظُرْ الی الْعِظام) نه معلومیږی۔

فائده : ددے نه معلومه شوه چه خرهٔ باندے سوریدل د پیغمبرانو سنت دی۔

﴿وَلِنَجْعَلَكَ آیَةً لِلنَّاسِ﴾ دا واقعه د هغه زمانے دپاره هم نخه او عبرت او دلیل شو چه الله به د مرګ نه روستو مړی راژوندی کوی۔ (فراءؒ)۔ یا نخه دا وه چه هغوی په خپلو سترګو اُولیدو چه دا ځوان وو او ځامن او نمسی ئے بوډاګان وو۔ (اعمشؒ، فتح البیان)

دا د الله د قدرت عجیبه نخه ده۔ او زمونږ دپاره هم نخه شوه چه مونږ واوریدهٔ چه الله دنیا کښې مړی راژوندی کړی دی۔

اسرائیلی واقعاتو کښې راځی چه دا په خپل خر سور شو او خپل کلی ته راغلو چه خلق ئے ناشنا لیدل، په خپل ګمان کورته راغلو، یوے زړے ړندے بوډئ سره ملاؤ شو چه هغه د دوی وینځه وه چه ددهٔ د جدائی په وخت د شلو کالو وه، اُوس د یو سل شلو کالو په عمر ده، د هغے نه ئے تپوس اُوکړو چه آیا دا د عزیر کور دے؟ نو هغے اُووئیل آؤ، او وے ژړل چه د دومره دومره مودے نه د عزیر نوم څوك نهٔ یادوی، خلقو هیر کړے دے۔ نو دهٔ ورته اُووئیل زهٔ عزیر یم۔ هغے انکار اُوکړو چه زهٔ خو عزیر پیژنم، هغه خو مستجاب الدعوة ؤو، د مریضانو دپاره به ئے د شفاء دعا کوله نو الله به شفاء ورکوله، نو تهٔ زما دپاره دعا اُوکړه چه زهٔ تا اُوپیژنم۔ نو هغے دپاره دعا کولو سره هغه روغه شوه، او وے پیژندلو او د بنی اسرائیلو یو مجلس ته ئے بوتلو چه دا عزیر دے چه په هغے کښې ددهٔ ځامن او نمسی ناست وو چه بوډاګان وو۔ نو هغوی انکار اُوکړو، آخر دا چه یو

څوی اُووئيل چه زما د پلار په شا کښې تور داغ وو چه وې کتل هغه شان موجود وو۔ بيا ئې اُووئيل: عزير ته خو تورات ياد وو (او دا هغه زمانه وه چه بختنصر د تورات نسخې سيزلې وې) نو عزير ورته په يادو معجزةً تورات اُولوستلو، او دوی له ئې تازهٔ اُوليکلو۔ نو د هغه وخت نه يهوديانو به وئيل چه عزير د الله څوی دے۔ (الدر المنثور فی التفسير بالماثور للسيوطی ۳/۲۱۱)

﴿وَانْظُرْ إِلَى الْعِظَامِ﴾ الْعِظَام کښې الف لام عوض د مضاف اليه دی، مراد ترے نه [عِظَامُ الْحِمَارِ] د خرهٔ هډوکی دی۔ بعض وائی ددهٔ هډوکی مراد دی چه دا ذره ذره شوی وو، او خرئے همدغه شان روغ جوړ ولاړ وو ليکن اول قول زيات ښکاره دے۔

﴿كَيْفَ نُنْشِزُهَا﴾ دا د الْعِظَام نه بدل يا حال دے۔ او نُنْشِزُ د اَنْشَزَ نه دے او د نَشَزَ معنیٰ ده بعضے شے بعض ته پورته کول۔ ابن عطيه وائی: نَشَزَ په آرام آرام سره پورته کول او د يو بل سره پيوسته کولو ته وئيلے شي۔ يعني څنګه مونږ حرکت ورکوو او بعضے هډوکی بعضو ته راپورته کوو)۔ پدے کښې يو بل قراءت (نُنْشِرُهَا) په راء سره دے په معنیٰ د راپورته کولو او راژوندی کولو سره۔ يعني څنګه ئې راژوندی کوو پس د مرګ ددے نه۔

﴿ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا﴾ نو د خر هډوکی يو يو راجمع شول، او په يو بل کښې ننوتل، او يو ډانچه د هډوکو جوړه شوه او ددهٔ ورته کتل، بيا غوښه او پلے ترے راتاؤ شوے بيا ترے پوستکے تاؤ شو، نو خر ژوندے شو او چغه ئې اُووهله۔ نو دهٔ په خپل ځان او خر او طعام کښې د الله عجيب قدرتونه اُوليدل۔

﴿فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ﴾ يعني هرکله چه ورته ښهٔ ښکاره شوے هغه نخے د قدرت د الله چه دا ئې ناشنا ګنړونکے وو چه مړی به څنګه راژوندی کوی؟۔ نو دغه شان به په قيامت کښې الله تعالیٰ مړی راپورته کوی چه د خاورو نه به ئې اندامونه جوړيږی او غوښه او اندامونه به ئې يو ځائے کيږی او بيا به د الله مخے ته ورځی۔

د تَبَيَّنَ فاعل پټ دے يعني كَيْفِيَّةُ الْإِحْيَاءِ۔ (طريقه د ژوندی کولو)۔ يا [تَبَيَّنَ لَهُ آيَاتُ قُدْرَةِ اللهِ مِنْ اِحْيَاءِ الْمَوْتٰى]۔ (دهٔ ته ښکاره شوے نخے د قدرت د الله په راژوندی کولو د مړو)۔

﴿قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ (اَعْلَمُ) يعني اُوس هم پو هه شوم او آينده کښې هم پو هيږم د الله په قدرت۔ دا خو د مخکښې نه د الله په قدرت پو هيدو؟ خو دلته د علم اليقين نه پس د عين اليقين درجه مراد ده ځکه د يقين درے درجے دی، او بيا په هره درجه کښې ډيرے درجے دی۔ دلته ئې د عِلم نه روستو په سترګو ليدلو سره عين اليقين راغلو۔ نو دا ډيره کامله درجه ده۔ او دا په دنيا کښې وی، او حق اليقين بيا په آخرت کښې وی۔ انبياء او نيکانو ته الله تعالیٰ کله نا کله په دنيا کښې عين اليقين درجه ورکوی ځکه چه دوی د حق او د ايمان داعيان دی، کله چه دوی په تذبذب

او شك كښې وي، نو په بل چا به څه اثر اُوكړي ؟ !۔
ددې وجه نه الله تعالىٰ ابراهیم ﷺ ته ملكوت السموات والارض ورخودلي وو۔ (سورة الانعام)۔
او رسول الله ﷺ ئې آسمانونو ته بوتلو او د الله سره ئې خبرې اُوشوې، او جنت جهنم ئې اُولیدل، دې دپاره چه یقین ئې مضبوط شي چه ذره برابر شك ئې هم باقي پاتې نشو۔
ځوك چه دا واقعه هسې د خوب لیدل او د عالَم ملكوت سره متعلقه كنړي لكه صاحب د تدبر قرآن نو خبره ئې خطاء ده۔

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتَىٰ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ
او كله چه اُووئیل ابراهیم ﷺ اې ربه ! اُوخایه ما ته چه څرنګ ته ژوندې كوې مړي. اووئیل الله آیا ته ایمان نهٔ لرې؟
قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِنَ الطَّيْرِ
اُووئیل هغهٔ : آو، (ایمان لرم) او لیكن دې دپاره چه مضبوط شي زړهٔ زما.اووئیل الله نو راواخله څلور د مارغانو نه
فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِنْهُنَّ جُزْءًا
نو اموخته او یوځائې كړه هغوی لره ځان سره (بیائې ټكړه ټكړه كړه) بیا كیږده په هر غر باندې د هغې نه څه حصه
ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲٦۰﴾
بیا آواز وركړه هغوی ته راځي به تا ته په منډه او پوهه شه چه یقیناً الله تعالىٰ زورَوَر حكمتونو والا دې۔

تفسیر : دریم مثال چه دا هم د اصحاب الرشد (د هدایت والا) مثال دې، د لړې رڼړا نه الله دیرې رڼړا ته بوتلې دې۔ ابراهیم ﷺ ئې د علم الیقین مرتبې نه عین الیقین مرتبې ته بوتلو۔ او پدې كښې هم د بعث بعد الموت دریم لوئي دلیل دې۔
بعض تاریخي روایاتو كښې راغلي دي چه نمرود دابراهیم ﷺ نه په مناظره كښې دا مطالبه اُوكړه چه آیا ته پوهیږې چه څنګه الله تعالىٰ مړي راژوندي كوي، تا لیدلي دي؟ نو ابراهیم ﷺ پدې كښې غلې شوې وو۔نو روستو ابراهیم ﷺ د الله نه اُوغوختل چه اې الله ! ما ته په خپلو سترګو د مړي راژوندي كول اُوښایه۔ چه بیا زهٔ خلقو ته د هغې حال وایم۔ (بغوی ۳۲۲/۱)
یا دا چه كله ئې مناظره اُوكړه او د مړي ژوندي كول او مړهٔ كول ئې ذكر كړل، نو خپله دې خبرې ته متوجه شو چه دا به څنګه كیږي؟ خپله لیدل پكار دي، چه یقین زیات شي نو د الله تعالىٰ نه ئې سوال اُوكړو، نو الله یو قسم زورنه وركړه چه یقین دې نشته؟۔

هغه اُووئيل: شته ليكن يقين زياتول غوارم. دا سوال الله تعالىٰ دے دپاره مونږ ته رانقل كړو چه زمونږ اعتراض او وَهم ختموى چه گنې ابراهيم عليه السلام به ددے نه منكر وو يا شكى وو چه د الله نه ئے د مړى ژوندى كولو طريقه ليدل غوختل. نو الله فرمائى چه هغه د شك د وجه نه دا سوال نۀ وو كړے، بلكه د يقين د زياتولو دپاره ئے كړے وو. او پدے كښ مونږ ته ترغيب دے چه تاسو هم د خپل يقين د زياتوالى كوشش اُوكړئ.

مفسرينو نور اسباب هم ليكلى دى چه د درياب په غاړه ئے يو حبشى انسان مړ اُوليدو چه مارغانو، دريابى حيواناتو او درنده گانو دهغه غوښے خوړلے، نو دۀ اُووئيل چه يا الله! ما ته اُوښايه چه تۀ به مړى څنگه راژوندى كوے؟، دا حيوانات خو به هم مړۀ شى، او ذره ذره به شى، او تۀ به ئے راژوندى كوے. (ابن ابى حاتم، ابوالشيخ فى العظمة والدر المنثور).

هر سبب چه وى خو د خپل يقين زياتوالے ئے مقصد وو.

نو الله تعالىٰ د هغۀ دعا قبوله كړه، او وے وئيل چه څلور مارغان ذبح كړه، او يو ځائے ئے كړه او بيا دا په مختلفو غرونو واچوه، بيا دا راطلب كړه، نو دا به ستا خوا ته په منډه راځى.

ابراهيم عليه السلام دغسے اُوكړل او هغه ټول په رالوتلو سره د هغه خوا ته راغلل.

فوائد الآية : ١- د انبياء عليهم السلام شان دا دے چه دوى هميشه په خپل ايمان كښ ترقى خوښوى، او دا د نورو صالحينو طريقه هم ده چه په ايمان كښ د زيادت او ترقى كوشش كوى، او چه څومره د انسان ايمان او يقين زياتيږى، نو الله ته نزدے كيږى.

د قرآن او د حديث د ويلو مقصد هم دا دے. عام انسانان د هر شى ډيروالے غواړى، صرف يقين كښ ترقى نۀ غواړى. دا ډير كم همتى ده.

٢- پدے آيت كښ د خبر نه معاينه او مشاهدے ته ترقى ده. يا د علم اليقين نه عين اليقين ته ترقى ده. ٣- ابراهيم عليه السلام دعا كړيده او ښائسته ادب ئے استعمال كړيدے پدے وجه الله تعالىٰ ورته په آسانئ د مړو راژوندى كولو طريقه خودلے ده. په يوه ورځ كښ ئے مارغان مړۀ كړل، او بيرته ئے راژوندى كړل. په خلاف د مخكنى شخص چه هغه ظاهر كښ دعا نۀ ده كړے، او لږ شان استبعاد او ناشنا والے ئے زړۀ ته راغلے دے (أَنَّىٰ يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ) اگر كه پدے لفظ كښ بے ادبى نشته، ليكن ډيره عاجزى هم پكښ نشته. پدے وجه الله تعالىٰ دۀ ته په تكليف باندے د مړى راژوندى كول اُوخودل چه سل كاله ئے مړ كړو.

٤- د مخكنئ او ددے واقعے فرق دا دے چه مخكښ الله تعالىٰ اُوخودل چه الله د سلو كالو مړى هم راژوندى كولے شى (اگر كه ډيره زمانه پرے تيره شوى وى، ذرات ئے جدا جدا شوى وى). او

دلته وائي چه نقد تازهٔ مړو ژراژوندي کولو باندې هم الله تعالیٰ قادر دے۔ نو د هرے واقعے بیله بیله فائده شوه۔

﴿ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتَىٰ ﴾ د مړي د راژوندي کیدو د کیفیت او طریقے معلومولو سوال کوی، او نفس پدے خبره خو د هغه د مخکښ نه یقین شته چه الله به مړي راژوندي کوی۔ خو د هغے د کیفیت لیدل غواړي۔ لکه چه نبي ﷺ فرمایلي دي چه ((هیڅ خبر د سترګو د لیدلو په شان نهٔ دے))۔ (مسند احمد. صحیح الجامع الصغیر (٥٢٥٠) بسند صحیح)۔

﴿ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ ﴾ یعني ستا پدے خبره ایمان او یقین نشته چه زهٔ مړي راژوندي کولے شم)۔ د ایمان نه مراد تصدیق دے۔

نبي ﷺ فرمایلي دي: [نَحْنُ اَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ اِبْرَاهِيمَ] چه مونږ د ابراهیم علیه السلام په مقابله کښ په شك کښ واقع کیدو ته زیات نزدے یو)۔ (بخاري ومستدرك حاكم)

نو نبي علیه السلام دا په طریقه د تواضع سره وئیلي دي، او د ابراهیم علیه السلام زیات صفت ئې کړیدے۔ او مطلب دا دے چه که ابراهیم علیه السلام په شك کښ واقع وے، نو مونږ به هغے ته زیات نزدے وے، او کله چه مونږ شك نهٔ کوو (چه مونږ ادنیٰ یو) نو ابراهیم علیه السلام څنګه شك او شبهه کولے شي؟۔

قرطبيؒ او نیشاپوريؒ لیکلي دي چه د انبیاءِ کرامو دپاره دا قسم شك او شبهه جائز نهٔ ده۔ نو ابن جریرؒ چه د شك جواز ذکر کړے، هغه خبره ابن عطیهؒ وغیره علماؤ رد کړیده۔

الله تعالیٰ شیطان ته فرمایلي دي: ﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ ﴾ چه زما مُخلص بندګانو باندے ستا طاقت نهٔ چلیږي۔ (الاسراء: ٦٥)۔ او د کَیْفَ سره سوال نه هم معلومیږي چه دا شك نهٔ وو ځکه چه کَیْفَ سره د هغه شي په باره کښ تپوس کیږي چه هغه د مخکښ نه سائل ته معلوم وي، لیکن د هغے د حالت او کیفیت تپوس کوی۔

﴿ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي ﴾ (اَىْ لِيَسْكُنَ قَلْبِيْ اِلَى الْمُعَايَنَةِ وَالْمُشَاهَدَةِ) (دے دپاره چه زما زړهٔ د سترګو لیدلو حالت ته آرام حاصل کړي) او د علم الیقین نه عین الیقین حاصل شي۔ (بغويؒ)

○ [لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ بِالْعِيَانِ بَعْدَ خَبَرِ الْوَحْيِ وَالْبُرْهَانِ] (المنار)

یعني دے دپاره چه زړهٔ مے مضبوط شي په سترګو لیدلو سره پس د خبر د وحي او د دلیل نه) یعني د عِلم استدلالي نه علم ضروري او بدیهي ته نقل شم۔

○ [لِاَزْدَادَ اِيْمَانًا مَعَ اِيْمَانِيْ] ...... (مُجاهدؒ، ابراهیمؒ، قتادهؒ) (الدر المنثور وشعب الایمان والبحر المحیط)۔

چه زما ایمان د مخکښ ایمان سره نور زیات شي)۔

○ سعید بن جبیرؒ وائي: چه زما یقین زیات شي۔ نو د اطمینان القلب نه دلته مراد (زیادة

الايمان) دے چه ايمان کښې مے زيادت راشي۔
دا صريح دليل دے ددے دپاره چه دے تصديقِ قلبي کښې هم زيادت او کمے راتلے شي۔
امام بخاريؒ په كتاب الايمان کښې دا آيت د ايمان (تصديق قلبي) د زيادت دپاره دليل ذكر كړيدے۔ علامه رشيدؒ رضا فرمائي :
[وَالْحَقُّ اَنَّ الْاِيْمَانَ الْقَلْبِيَّ نَفْسَهٗ يَزِيْدُ وَيَنْقُصُ اَيْضًا] ...... (المنار ٩/٤٩٢)۔
(حقه خبره دا ده چه د زړهٔ په تصديق کښې هم زيادت او نقصان راتلے شي)۔
او پدے باندے ئے ډير آيتونه او احاديث راجمع کړيدي، او وئيلي ئے دي چه د يوے نظري شبهے د وجه نه په دے آيتونو او احاديثو کښې تاويلات كول هفوه (بيهوده كار) او خطائي ده۔
بعض علماؤ وئيلي دي چه ددے نه خو معلوميږي چه د ابراهيم عليه السلام په زړهٔ کښې د مخکښې نه اطمينان او سكون نهٔ وو، اُوس ئے طلب كوي۔ نو جواب ئے كړے چه دلته معنىٰ دا ده :
[لٰـكِنْ لِيَزُوْلَ عَنْ قَلْبِي الْفِكْرُ فِيْ كَيْفِيَّةِ الْاِحْيَاءِ لِاَنِّيْ اِذَا شَاهَدْتُهَا سَكَنَ قَلْبِيْ عَنِ الْجَوَلَانِ فِيْ كَيْفِيَّاتِهَا الْمُتَخَيَّلَةِ وَتَعَيَّنَتْ عِنْدِيْ بِالتَّصْوِيْرِ الْمُشَاهَدِ]
(چه زما د زړهٔ نه دا فكر ختم شي چه مړي به څنګه ژوندي كيږي، ځكه چه زهٔ كله دا په خپلو سترګو اُووينم، نو زړهٔ به مے پدے خيالاتو کښې نهٔ ګرځي، بلكه په آرام به شي او ما ته به هغهٔ، د ليدلے شوي تصوير په شان ښكاره شي)۔ نو دلته د اطمينان نه مراد زړهٔ او فكر د خيالاتو نه رابندول دي۔ ځكه چه د هر انسان زړهٔ ته دا قسم خيالات راځي او دا مطلب نهٔ دے چه ګنے مخکښې نه ئے اطمينان او يقين نهٔ وو۔ [محاسن التاويل للقاسمي ٣/٦٠٧]
علامه ابن عاشورؒ د قلب نه عِلم، او د اطمينان نه د هغے په محسوسه طريقه حاصلول مراد كړيدي يعني دے دپاره چه په محسوسه طريقه سره ما ته عِلم حاصل شي۔ نو معلومه شوه چه انبياء عليهم السلام هم د عِلم د مراتبو د زيادت كوشش كوي۔
اطمينان په اصل کښې سكون او آرام ته وئيلے شي او دا په ايمان باندے يوه زياتي درجه ده
[وَهِيَ اَنْ لَّا يَبْقٰى عَلَى النَّفْسِ فِيْ يَقِيْنِهَا مَطْلَبٌ يُحَرِّكُهَا فِيْ تَحْصِيْلِهَا]
[المحرر الوجيز لابن عطية ٧/٣٤]۔
او دا دے ته وائي چه د زړهٔ په يقين کښې داسے يو مطلوب او مقصود پاتے نشي چه هغه زړهٔ ته حركت وركړي چه هغه حاصل كړي) يعني آخري درجه د ايمان۔ لكه په ﴿يَا اَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ﴾ کښې راغلے ده۔
﴿قَالَ فَخُذْ﴾ ددے فاء شرط پټ دے، اَيْ اِذَا اَرَدْتَ الطُّمَانِيْنَةَ۔ هركله چه تهٔ اطمينان غواړے نو

راونیسه څلور مارغان۔ ﴿أَرْبَعَةً مِنَ الطَّيْرِ﴾۔

حکمة :مارغان ئے ولے خاص کړل ؟ ○ وجه دا ده چه دا انسان ته ډیر قریب حیوان دے په خپو او سر کښ۔ ○ یا دا چه مارغانو کښ د اَلوتلو صفت دے او د ابراهیم ﷺ په همت کښ هم پورته والے وو۔نو د هغه د همت مطابق امر ورته اُوشو۔

○ ددے ټکړے کول، او تقسیمول آسان وو۔ (فتح البیان والوسیط)۔

○ ددے په اجزاؤ راتلو کښ او بیرته ژوندی کیدو کښ ډیر عجیب طریقه سره د ژوند لیدل دی۔○ اشاره ده چه په هوا کښ الوتلو سره هم انسان د مرګ او بعث بعد الموت نه نشی خلاصیدے۔

○ څلورئے غوره کړل، ددے دپاره چه د څلورو طرفونو نه دهغے د راجمع کیدو مشاهده اُوکړی، او ددے خبرے یقین ئے مضبوط شی چه د قیامت په ورځ به دغه شان د شپیلئ په پوکلو سره تمام مخلوقات د هر طرف نه خپل رب طرف ته رامنډے وهی۔

حکمة : دا څلور کوم مارغان وو ؟ نو ددے تعیین قرآن کریم نهٔ دے کړے څهٔ فائده پکښ دومره نهٔ ښکاری، لیکن علماؤ ددے په تعیین کښ مختلف اقوال ذکر کړیدی :

○ مجاهدؒ او عکرمهؒ وائی : کونتره، چرګ، طاوس او کارغهٔ وو۔ او ابن عباسؓ د کارغهٔ په ځائے غرنوق یعنی ډینګ ذکر کړیدے۔ (ابن کثیرؒ)۔ بعض علماؤ نسر مارغه ذکر کړیدے۔

فائده : دا څلور مارغان ئے ولے خاص کړل؟ پدے کښ حکمة دا دے چه پدے کښ انسان ته اشاره ده چه ددے مارغانو صفات د ځان نه اُویاسه۔ په طاوس کښ زینت دے او د جاه او مرتبے محبت دے۔نو د دنیا د ډیر زیب وزینت نه به ځان ساتی۔

او په چرګ کښ شهوت دے۔علماء فرمائی :

[إِنْ كُنْتَ تُرِيْدُ اَنْ تَعْلَمَ عِلْمَ الْيَقِيْنِ فَاجْعَلْ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الشَّهَوَاتِ خَنْدَقًا مِنَ الْحَدِيْدِ]

(که تهٔ غواړے چه علم الیقین ته اُورسے نو د شهواتو او خپل مابین کښ د اُوسپنے یوه کنده اُوګرځوه)۔

او په کونتره کښ غفلت دے۔او په کارغهٔ کښ سخت حرص دے۔ او په نسر مارغهٔ کښ د خوراك سخت محبت دے، نو انسانان هم پدے صفاتو کښ د مارغانو مشابه دی، نو څوك چه دا صفات د ځان نه اُویاسی، د جنت اعلیٰ درجاتو ته به اُورسیږی، او د نیکبختیٔ مرتبے به حاصلے کړی۔ ابراهیم ﷺ ظاهری ذبح کړل او عام انسان به ئے صفات ذبح کوی نو اعلیٰ یقین او ایمان ته به رسیږی۔ (خازن والسراج المنیر)۔

﴿فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ﴾ د دے دوه معنے دی : (۱) یوه معنیٰ [اَمِلْهُنَّ وَاضْمُمْهُنَّ] دا ځان سره امو خته کړه

او ځان سره ئې یو ځائې کړه) پدې معنیٰ (اِلَیْكَ) د (صُرْهُنَّ) سره متعلق دے۔ ددے سره به دا عبارت پټ مراد وي چه [ثُمَّ قَطِّعْهُنَّ وَمَزِّقْهُنَّ] بیا ئې پریکړه او ذره ذره ئې کړه)۔ لکه د روستو (جُزْءًا) نه معلومیږي۔ (۲) دویمه معنیٰ (قطع ئې کړه او پریکړه) یعنی وې ټکوه او چکنی ترې جوړه کړه۔ دا معنیٰ ابن عباسؓ، مجاهدؒ، ابو عبیدةؒ او ابن الانباریؒ ذکر کړیده۔ پدې معنیٰ به اِلَیْكَ) د خُذْ سره متعلق وي۔ (قرطبیؒ ۳/۳۰۱)

نو دا لفظ په دوه معنو کښې مشترك دے۔ او ډیر صحیح قول دا دے چه دا عربي لفظ دے۔

عکرمةؒ وائي: دا نبطي لغت دے۔ قتادةؒ وائي : حبشي دے۔ وَهبؒ وائي : رومي لغت دے۔

او (صُر) د صاد په پیښ او زیر دواړو سره راغلې دے۔ دا امر دے د صَارَ یَصُوْرُ صُوْرًا یا صَارَ یَصِیْرُ صُوْرًا نه۔ صور کوږوالي او مائله کیدو او پریکولو ته وائي۔ ددے وجه نه اَصْوَر هغه شخص ته وائي چه د هغهٔ څټ کوږ شوے وي۔

د اموخته کولو او د مائله کولو د حکم فائده دا ده چه ټول اجزاء او رنګونه ئې اُوپیژني چه شك ئې رانشي چه ما وژلي یو قسم مارغان وو، او راغلي بل قسم دي۔ (ابن عاشور وفتح البیاًن)

دلته د قطع او پریکولو معنیٰ غوره ده، ځکه چه د اموخته کولو اومائله کولو په معنیٰ سره تقدیر ته حاجت راځي او هغه د عربي قانون خلاف دي۔ دویم دا چه ددے نه بعض معتزلو (ابو مسلم اصفهاني) او منکرین حدیث انکار کوي چه ابراهیم عليه السلام دا ذره ذره کړي نهٔ وو، بلکه ځان سره ئې اموخته کړل او شپیلے ئې ورته اُووهلو نو هغوي راوالوتل۔ دا تحریف دے۔ ځکه چه بیا روستو (جُزْءًا) معنیٰ بالکل بیکاره کیږي ځکه چه د هغے معنیٰ ده، ټکړے ټکړے کول۔ ځکه چه جُزء (حصه) د تَجَزِّي (ټکړے) کولو نه پیدا کیږي۔

بله دا چه پدے کښې بیا د ابراهیم عليه السلام خصوصیت څهٔ شو؟، دا کار خو د کونترو، مرزانو او بنارو ساتونکے هره ورځ کوي۔ که ابراهیم ته ئې دا تجربه کولے، نو پدے سره د ابراهیم عليه السلام د مړی دژوندی کیدو د طریقے معلومولو اشکال نهٔ ختمیدو !!۔

﴿ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِنْهُنَّ جُزْءًا ﴾ ددے نه معلومیږي چه ابراهیم عليه السلام هغهٔ ذره ذره کړي وو۔ (۱) (كُلِّ جَبَلٍ) نه څلور واړو طرفونو ته چه کوم غرونه وي هغے باندے کیخودل مراد دي۔

(۲) یا څومره چه ممکن وي په هغے باندے دا حصے د مارغانو واچوه۔ دا (كُل) د استغراق عرفي دپاره استعمال شویدے۔ غرونه ئې خاص کړل ځکه چه په غرهٔ کښې داسے حصے پیدا کول ډیر مشکل وي، لیکن الله ته هیڅ ګران نهٔ دي۔ دارنګه غرونه اُوچت وي نو دهٔ ته به د مارغانو د اجزاؤ او اندامونو لیدل ډیر ښکاره وي۔

﴿ ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ﴾ د دعا نه مراد آواز کول او راغوختل دي۔ يعني دعاء النداء ده۔ او دعا د عبادت مراد نهٔ ده، ځکه چه مخلوق ته د عبادت رامدد شه وئيل شرك دے۔ او دلته ابراهيم ﷺ د مارغانو نه کوم مدد غواړي ؟!۔ آيا الله تعالیٰ په شرك حکم کوی څهٔ ؟!!۔
نو ددے نه د بریلیانو او گمراهانو دلیل نیول غلط دی چه وائی ابراهیم ﷺ مارغانو ته آواز کړے نو که مونږ رسول الله ﷺ ته آواز اُوکړو، نو دا خو څهٔ ناروا نهٔ دے ځکه چه مارغان ښهٔ دی، که رسول الله ﷺ ؟۔ دوی اهل زیغ دی چه د قرآن د متشابهاتو پسے روان دی۔
(سَعْيًا) ددے نه مراد په منډه او تیز راتلل دی۔ یا په خپو پیاده راتلل مراد دی، دے دپاره چه هیڅ شك شبهه پکښ پاتے نشي چه دا گنے هغه مارغه نهٔ دے۔ او پدے کښ بل قدرت د الله تعالیٰ دے چه د مارغانو عادت خو الوتل دی لیکن دا به خلافِ عادت په زمکه راروان وی۔ بعض وائی : د سعی نه مراد رالوتل دی۔ (بغوی)۔
اول قول غوره ښکاری ځکه چه په هر عرف کښ منډه د تیز والی دپاره استعمالیږی۔
نو ابراهیم ﷺ هغه مارغان چکنی کړل په داسے طریقه چه قیمه شو، د بڼرو، هډوکو او غوښے پته پکښ نهٔ لگیده، او په هر غرئے د هغهٔ مارغانو برخے واچولے او سرونه ئے ځان سره کیخودل، او دا نور ئے په نزدے غرونو تقسیم کړل۔ څهٔ ئے په یو غر او څه ئے په بل غر۔ نو دهٔ چه کله آواز اُوکړو نو دهٔ اُولیدل چه بڼرے بڼرو ته رالوځی او وینه وینے ته او غوښه غوښے ته او د هر مارغه اجزاء بعض د بعضو سره یوځائے کیږی او هر مارغه جدا جدا پوره کیږی او ددهٔ خواته رامنډے وهی۔
دنیا کښ اُوس انسانان داسے مصنوعات جوړولے شی، نو الله رب العزت به څهٔ قادر نهٔ وی؟! لیکن مونږ د الله د قدرت د ډیرو نخو د لیدلو سره اموخته شوی یو، هیڅ اثر راباندے نهٔ کوی، او عام انسانان دے ته فکر هم نهٔ کوی چه په الله تعالیٰ خپل یقین مضبوط کړی۔
﴿ وَاعْلَمْ أَنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ عزیز یوه معنیٰ غالب۔ نو الله دومره قدرت والا دے چه هغه په هر څهٔ قادر او غالب دے۔ او حکیم دے، په هر کار کښ ئے حکمت وی، نو پدے واقعه کښ ئے هم ډیر حکمتونه راښکاره کړل۔ د قیامت اثبات ئے پکښ اُوکړو۔ چه انسانان او پیریان به هم دغه شان قیامت ته په منډه راځی۔ د ابراهیم ﷺ یقین ئے پوخ کړو۔
پدے سورت کښ دا پنځمه واقعه ده چه په دنیا کښ الله تعالیٰ حقیقةً مړی راژوندی کړی دی۔

مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ

مثال د هغه کسانو چه خرچ کوی مالونه خپل په لاره د الله کښ په شان د حال د یوے دانے دے چه رازرغون کړی

سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِئَةُ حَبَّةٍ وَاللّٰهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲٦۱﴾

اُووه وږی په هر وږی کښې سل دانې وی او الله دوچنده کوی چا لره چه اُوغواړی او الله فراخه فضل والا دے، پوهه دے۔

تفسیر:

مضمون : د مسلمانانو اقتصادی نظام برابرول په اسلام کښې ډیر اهمیت لری، پدے وجه الله تعالیٰ دلته د نظام د برابرولو اصول او مسائل بیانوی چه انفاق کوئ او مالونه مۀ جمع کوئ، دارنګه صحیح طریقو سره تجارتونه کوئ او د سود او د سُودی نظام نه ځان بچ کړئ، هسے نۀ چه دنیا او آخرت مو تباه نشی۔ او په تجارت کښې د اسلامی اصولو لحاظ اُوساتئ۔ نو احسان، عدل او ظلم درے واړه بیانوی۔

تفصیلی مضمون داسے دے چه تر (۲۷٤) آیت پورے د انفاق متعلق خبرے دی.

د اول آیت عنوان دے ترغیب انفاق ته په مثال ذکر کولو سره۔ بیا د انفاق فی سبیل الله شرطونه بیانوی چه دوه سلبی دی او درے ثبوتی۔ سلبی دا چه مَنٌ (زبادول) او اذی (ضرر رَسَول) به نۀ وی ۔او درے ثبوتی دی چه هغه به روستو په (۲٦٥) آیت کښې راځی۔(ابتغاء مرضات الله)۔ د الله د رضا دپاره به وی، (تَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ) یا د زړۀ د مضبوطوالی دپاره۔ او انفاق به طیب (پاك او حلال) څیز وی۔

بیا د انفاق د نشتوالی په وخت کښې د اخلاقو بیان کوی په (۲٦۳) آیت کښې چه سائل ته به غصه نۀ کوے او بد رد به نۀ وائے۔

بیا د انفاق عدمی شرطونه او د هغے د ضائع کیدو مثال په (۲٦٤) آیت کښې، بیا صحیح انفاق او د هغے مثال۔ بیا په (۲٦٦) کښې زجر دے سره د تخویف نه ریاء کار او منافق ته، سره د مثال ذکر کولو نه۔ بیا وائی انفاق د دوه قسمه مالونو نه کولے شی، د تجارت نه او د زمکے نه۔ او د ردی مال د خرچ کولو نه منع شویده۔ او امر دے چه انفاق به د طیباتُ نه کولے شی۔ بیا انفاق ته ترغیب دے په بله طریقه چه هغه دعوت ورکول دی، چه دوه څیزونه د شیطان د طرف نه دی او دوه څیزونه د الله د طرف نه دی۔ نو د الله دعوت اُومنئ او د فقر نه مۀ یریږئ۔ بیا ترغیب الی القرآن دے چه د مالونو په ګټلو قرآن هیر نکړئ۔

بیا دوه قسمه نفقه نفلی او واجبی په (۲۷۲) آیت کښې، بیا د صدقے دوه قسمه په دوه طریقو سره، په پټه او په ښکاره۔ بیا انفاق په مشرکانو بیانوی چه په دوی هم انفاق کول جائز دی۔ او فائده د انفاق او بیا مصارف د انفاق بیانوی، سره د شپږو صفاتو د هغه کسانو نه چه هغوی باندے انفاق کولے شی۔ بیا تعمیم د اوقاتو د انفاق ذکر کوی چه انفاق له څۀ وخت خاص نۀ دے دا

په (۲۷٤) آیت کښې کیږي۔
بیا د انفاق برعکس شے ربا (سود) بیانوي چه د دغه ځائے نه د ظلم په احکامو رد کوي۔ او په سود کولو توبیخ او زورنه ورکوي او تخویفات ئے ورکړي چه څوك سود کوي نو دهغه سره به الله تعالیٰ سخت حساب کوي، بیا د سود بے برکتي بیانوي په (۲۷٦) آیت کښې، د هغې مقابل کښې ایمان والو ته زیرے ورکوي، بیا منع ده د سود نه او د سود خورو سره ئے اعلان جنګ کړے۔ بیا ورسره مسئله د قرض ده چه چا باندے قرض واوړي نو که غریب وي، هغه ته به انتظار کولے شي۔ بیا په آخر کښې تخویف د آخرت دے چه د حرامو نه هله بچ کیدے شي چه د آخرت یره ورسره پیدا شي۔ په (۲۸۱) کښې۔ دا ډیر عجیبب آیتونه دي۔

ارتباطونه

۱- په آیت (۲۵٤) کښې ئے ایمان والو ته په انفاق امر کړے وو، بیا مینځ کښې د توحید او دوباره ژوندی کیدو خبره راغله، نو پدے سره ایمان والا انفاق ته تیار شو نو اُوس د انفاق تفصیل، سَره د فضائلو او شرطونو نه ذکر کوي۔ (ابن عاشور)۔

۲- دارنګه مخکښې واقعاتو کښې بعث بعد الموت ثابت شو چه دوباره ژوند حق دے نو اُوس وائي چه ددے دپاره توښهٔ تیارول هم ضروري دي چه د هغې یوه برخه انفاق دے۔

۳- مخکښې د بعث بعد الموت دپاره ئے د ذي روح شي راژوندي کول په دلیل کښې ذکر کړل، اُوس د هغې دپاره دلیل د بوټو په راویستلو سره ذکرکوي۔

عنوان الآية : تَرْغِيبٌ إِلَى الْإِنْفَاقِ عَلٰى سَبِيْلِ الْمِثَالِ ۔ د انفاق فضیلت او هغې ته د مثال په ذکر کولو سره ترغیب بیانوي۔

پدے آیت کښې الله تعالیٰ په خپله لاره کښې خرچ کونکو ته سخت ترغیب ورکړیدے۔لکه روستو راځي۔

﴿مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ﴾ دا مثال یا د سړي دے یا د نفقو دے۔ د دواړو حاصل یو راوځي۔ نو دلته به مضاف حذف وي [مَثَلُ نَفَقَاتِ الَّذِيْنَ] یعني د الله په لاره کښې د نفقو مثال د یو بے دانے دے چه په هغې کښې اُوه وږي وي، او په هر وږي کښې سل دانے وي، نو دا اُووه سوه دانے شوے نو څوك چه د الله په لاره کښې یوه روپۍ ورکړي، نو الله به اُوه سوه روپۍ ورکړي، که یوه اُوښه ورکړي یا کور ورکړي نو الله به اُووه سوه ورکړي بلکه بعضو خلقو له الله ددے نه هم زیات ورکوي۔ ځکه چه الله فراخه فضل والا دے۔

یا مضاف روستو حذف دے یعني مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ كَمَثَلِ بَاذِرِ حَبَّةٍ ۔ مثال د هغه کسانو

چه د الله په لار کښ مالونه خرچ کوی په شان د مثال د کرونکی د دانے دے چه هغهٔ دغه مخکنی صفاتو والا وی۔ نو که د سری مثال شی او که د نفقے مثال شی، دواړه یو شے دے۔

﴿ أَمْوَالَهُمْ ﴾ يعني چه خپل مالونه لګوی، او پردی مالونه لګول یا د هغوی نه په غلا یا ډاکه یا په بله غیر شرعی طریقه باندے حاصل شوی مال لګول صحیح نهٔ دی۔ نو اول به خپل مالونه خرچ کولے شی۔ آؤ، که یو انسان د بل چا نه د هغه په رضا مال واخلی او د الله په لار کښ ئے خرچ کړی په صحیح نیت سره نو هغه ته هم الله تعالیٰ پوره اجر ورکوی، لکه حدیث کښ دی، هغه خزانچی چه امانتدار وی او مال ورسره پروت وی او د مالك په حکم سره ئے دا په خوشحالئ باندے ورکوی نو دهٔ له هم الله اجر ورکوی۔ (متفق علیه)

بیا دا انفاق عام دے که په ځان ئے لګوی، او که په بل ئے لګوی، دے دپاره چه د جهاد او د دعوت کولو دپاره بدن قوی شی۔ علماء او د دین دُعاتو باندے پدے نیت سره خوراکونه کول چه هغوی د دین دپاره مضبوط شی، دا هم پکښ داخل دی۔

﴿ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ د سبیل الله مصداق :

۱ – فِيْ جَمِيْعِ اَبْوَابِ الْخَيْرِ (تفسیر معالم للبغوی)

یعنی د خیر او نیکئ په ټولو کارونو کښ مال لګولو ته فی سبیل الله وائی، که جهاد وی، که مسجد او مدرسه جوړوی، که په پُل او لاره جوړولو ئے لګوی، او که مسکین او فقیر باندے خرچ کوی۔

۲ – لِاِشَاعَةِ دِيْنِ اللّٰهِ۔ یعنی د دین د اشاعت دپاره ئے لګوی۔ د فائده مندو عِلمونو نشر او اشاعت کوی، کتابونه چهاپ کوی، دعوتی کیستے خوروی۔ دینی پروګرامونو کښ ئے لګوی۔

۳ – لِرِضَا اللّٰهِ۔ چه د الله رضا پکښ وی، او د الله رضا د رسول الله ﷺ د تابعداریٔ نه بغیر نهٔ حاصلیږی، نو که انسان په اوله ورځ د مړی خیرات کوی نو که دے کښ د الله د رضا نیت وی، هم قبول نهٔ دے ځکه چه د رسول الله ﷺ مهر او ټاپه پرے نهٔ دی وهلے شوے۔ او داسے نور مثالونه واخله۔ نو دا اول شرط د انفاق شو چه د الله دپاره به وی۔

﴿ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِّئَةُ حَبَّةٍ ﴾ یعنی د یو دانے نه یو ډکے راوځی چه په هغے کښ اُووه (۷) ځانګے خورے شی، او په هره ځانګه کښ یو وږے وی چه په هغے کښ سل دانے وی۔ نو د یوے دانے نه الله اُووه سوه دانے زیاتے کړے۔ داسے وږی ډیر کم وی چه په هغے کښ اُووه سوه دانے وی، دا په جوار او کله په غنمو کښ کیدے شی لکه چه ابن عطیهٔ وئیلی دی لیکن دلته د پوهے دپاره مثال ذکر دے، او په مثال کښ وجود ضروری نهٔ وی، بلکه صرف ذهنی تصویر غرض وی، نو دلته د زیات اجر تصویر ذهن کښ اچول مقصد دے۔ او بیا دلته د اُووه سوه عدد د تعیین دپاره

نهٔ دے بلکه د ذهن ته د رانژدے کولو دپاره دے، ځکه چه په عربی ژبه کښې غالباً اُوه او اوویا او اووه سوه د ډیر والی دپاره ذکر کیږی.

او دا مقصد نهٔ دے چه د اُوه سوو نه زیات نهٔ ورکوی بلکه روستو وائی وَاللّٰهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَآءُ. چا له چه الله زیات غواړی ورکوی.

حافظ ابن کثیرؒ فرمائی: د دانو مثال ئے ذکر کړو او اُووه سوه ئے اول نه ذکر نکړو ځکه چه پدے کښې اشاره ده چه نیك اعمال الله تعالیٰ د خپل صاحب دپاره وخت په وخت زیاتوی لکه څنګه چه فصل د یوے دانے نه ډیریږی، کله چه په مزیداره زمکه کښې اُوکرلے شی. او حدیث د صحیحینو کښې د ابو هریرهؓ نه مرفوع روایت دے:

[مَنْ تَصَدَّقَ بِعِدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ وَلَايَصْعَدُ اِلَى اللّٰهِ اِلَّا الطَّيِّبُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِيْنِهٖ ثُمَّ يُرَبِّيْهَا لِصَاحِبِهَا كَمَا يُرَبِّىْ اَحَدُكُمْ فُلُوَّهٗ حَتّٰى تَكُوْنَ مِثْلَ الْجَبَلِ].

(څوك چه د یوے کجورے په اندازه د حلال کسب نه صدقه اُوکړی، او الله تعالیٰ ته صرف حلال او پاك مال خیژی، نو الله دا په ښی لاس سره قبلوی، بیا ئے ددے صدقے والا دپاره زیاتوی لکه څنګه چه یو تن ستاسو د خپل آس بچے غټوی، تردے چه دا صدقه د غر په شان شی).

په صحیحینو کښې د ابو هریره ﷺ روایت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل چه:

«د بنیادم نیك کارونه الله تعالیٰ زیاتوی، یوه نیکی د لسو چندو نه واخله تر اُووه سوو پورے زیاتیږی». د ابن مسعود ﷺ روایت دے چه یو سړی یو اُوښ را واخستو او رسول الله ﷺ ته راغلو، او وے وئیل چه دا زهٔ د الله په لاره کښې ورکوم. نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه «ددے په بدله کښې به تا ته د قیامت په ورځ الله تعالیٰ اُووه سوه مُهار والا اُوښانے درکوی».

(احمدؒ، مسلمؒ، نسائیؒ، حاکمؒ).

﴿ وَاللّٰهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ ﴾ د (لِمَنْ يَّشَآءُ) نه مراد یا هر څوك دے چه هر چا له الله تعالیٰ اُووه سوه چنده باندے بدله ورکوی. نو د نیکیٔ ادنیٰ درجه دا ده چه یو په لسه درکړے شی، متوسطه درجه دا چه یو په اُوه سوه او اعلیٰ درجه دا ده چه د اُوه سوو نه هم زیاته کړے شی.

○ ظاهر معنیٰ دا ده چه الله ددے نه ئے هم زیاتوی، یعنی اُووه سوو نه زیات یو په اُوه زره اُووه لاکهه، اُووه کروړه، اُووه اربه تر غیر انتهاء پورے. دا هغه چا له زیاتوی چه په جذبه او شوق سره مال خرچ کړی، او په موقعه او محل کښې ئے استعمال کړی.

﴿ لَايَسْتَوِىْ مِنْكُمْ مَنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ ﴾ یو انسان د تکلیف په وخت کښې مال خرچ کړی، او بل ئے د راحت په وخت کښې د دواړو اجر چرته برابر کیدے شی. یو انسان د خپل غربت په وخت

خیراتونه کوی، او بل ئے د مالدارئ په حالت کښ، دواړه چرته برابر دی !!۔
یو انسان ئے تکلیف زدهٔ ته ورکوی، او بل ئے مالدار ته دواړه نهٔ دی برابر۔
دغه شان الله تعالیٰ جذبے او محبت، اخلاص او ضرورت ته گوری۔ د زړهٔ د کیفیت په وجه په عمل کښ او د هغے په ثواب کښ تبدیلی راځی۔ دوه کسان به لس روپۍ ورکړی، یو له به الله تعالیٰ بدله یو په کروړ ورکړی، او بل له به ئے په لس چنده ورکړی ځکه چه جذبه او شوق کښ فرق وی۔
﴿وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ﴾ تتمه کښ ئے وَاسِعٌ راوړو، اشاره ده چه الله تعالیٰ سره بدلے فراخه دی، نو څومره چه اخلاص سره انفاق اُوشی نو الله به د هغے اجر هم بغیر د معینے اندازے نه ورکوی، او چا له چه الله تعالیٰ اجر ورکوی نو د هغه په نیت باندے عَلِيْم او پوهه دے۔

د مثال تفصیل او تطبیق

یوه دانه چه په صحیح او مزیداره زمکه کښ اُوکرلے شی، نو د هغے نه اُوه وږی پیدا شی، او بیا په هر وږی کښ سل دانے راوخیژی، نو اُوه سوه دانے شوے، بیا چه کله دا اُوه سوه دانے په صحیح زمکه کښ اُوکرلے شی، او ددے صحیح پالنه او تربیت اُوکړے شی، نو د هغے نه دغه شان نور اُووه سوه دانے پیدا کیږی، نو اُووه سوه چه په اُووه سوه کښ ضرب کړے شی، نو څلور لاکهه نوی زره (۴۹۰۰۰۰) دانے جوړیږی، بیا دغه شان چه دا ټولے دانے په یوه فراخه زمکه کښ اُوکرلے شی، او صحیح تربیت ئے کولے شی، نو کروړونو دانے ترے جوړیږی چه دنیا به په پریے مړهٔ شی۔او چه دغه سلسله د کروندے روانه وی، نو بے شماره او بے حده دانے به تیاریږی چه انسانان او حیوانات به ترے فائدے اخلی۔
نو دغه شان که څوك په یو داعی، مُجاهد او طالب علم باندے خرچه اُوکړی، او بیا د هغه صحیح تربیت اُوکړے شی، او په قرآن او حدیث سره هغه موړ کړے شی۔ نو دا مجاهد او داعی او طالب علم به خپل کوشش کوی، نور اُووه کسان به تیاروی، او د هغوی تربیت به کوی، بیا هر یو د دغه اُووه کسانونه کوشش او دعوت او جهاد اُوکړی، تردے پورے چه د صحیح عقیدے، د اعمالو او اخلاقو والا به په زرگونو خلق تیار کړی چه په هغوی به ډیر امت ته فائده اُورسیږی، هر ځائے کښ به خلق په دین او صحیح عقیده سیراب شی۔
ډیر دینی مرکزونه به آباد شی، ددے ټولو اجر به هغه شخص ته ملاویږی چه دهٔ د دین په دغه موقعه کښ مال لگولے دے، او د یو نیك عمل سلسله ئے جاری کړیده۔ نو دا ددهٔ دپاره صدقه جاریه شوه چه پس د مرگ نه به دهٔ ته ددے اجرونه رسیږی۔
نو پدے مثال کښ مال لگولو ته ډیر زیات ترغیب دے گویا کښ انفاق بعینه صدقه جاریه

ده۔ دارنګه دا مطلب هم دے چه د یو یے روپئ په خرچ کولو سره به الله تعالیٰ بنده ته اُووه سوه روپئ اجر ورکوی او دا ئے ادنیٰ درجه ده۔

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ مَا اَنْفَقُوْا
هغه کسان چه خرچ کوی مالونه خپل په لاره د الله کښې بیا نهٔ وروسے کوی د هغے پسے چه کوم ئے خرچ کړی وی
مَنًّا وَّلَا اَذًى لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۲۶۲﴾
زبادنه او نهٔ ضرر۔ دوی دپاره اجر دے په نزد د رب د دوی او نهٔ به وی څه یره په دوی او نهٔ به دوی غمجن شی۔

تفسیر: پدے آیت کښې یو زیرے دے هغه چا ته چه د الله په لاره کښې صحیح انفاق کوی، دویم سلبی او عدمی شرطونه د انفاق بیانوی چه زبادول او ضرر ورکول به پکښې نهٔ وی۔

﴿ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ﴾ قاسمیؒ د زمخشری نه د (ثُمَّ) په باره کښې نقل کړی چه (ثُمَّ) دلته د تراخی د زمان دپاره نهٔ ده، بلکه د انفاق او د هغے پسے د زبادنے او اذی وروسے کولو د تفاوت دپاره ده۔ یعنی دا دواړه کارونه یو ځائے کول د عقل نه ډیر جدا دی۔ او دیته تراخی رتبی هم وئیلے شی۔

قاسمیؒ خپله وئیلی دی چه زما په نیز غوره دا ده چه (ثُمَّ) په داسے مقاماتو کښې دلالت کوی په همیشوالی د روستو فعل په مخکښې فعل پسے، یعنی د انفاق نه روستو زبادنه او اذی نهٔ کول به همیشه دپاره وی، د یو وخت دپاره به نهٔ وی۔

یعنی دا احسان به بالکل هیر کړی لکه دا معنیٰ په (ثُمَّ اسْتَقَامُوْا) کښې هم ده چه د ربوبیت د اقرار نه روستو به په هغے باندے همیشوالے کوی۔ او د خواهشاتو تابعداری به نهٔ کوی۔ او بیا ئے وئیلی دی چه دا معنیٰ په سین کښې هم جوړیږی لکه په ﴿اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ﴾ کښې چه دلته داسے نهٔ ده چه ابراهیم علیه السلام ته هدایت روستو حاصل شویدے۔ بلکه مقصد دا دے چه ابراهیم علیه السلام فرمائی چه الله به ما په هدایت باندے همیشه پاتے کوی او ددے موده به تر مرګه پورے اُوږدوی۔ (تفسیر القاسمی۳/۶۱۰)

﴿مَنًّا وَّلَا اَذًى﴾ (مَن) زبادولو ته وئیلے شی، دا په دوه قسمه دے (۱) یو د الله په صفاتو کښې دے چه الله ته (مَنَّان) زبادونکے وائی او دا د الله ښکلے صفت دے۔ (۲) او من د انسان په باره کښې ډیر بد صفت دے، ددے وجه نه بعض سلف فرمائی: [اِذَا اصْطَنَعْتُمْ صَنِيْعًا فَانْسَوْهُ وَاِذَا اُسْدِيَ اِلَيْكُمْ صَنِيْعٌ فَلَا تَنْسَوْهُ] (کله چه تاسو چا سره احسان اُوکړئ نو هیر ئے کړئ او کله چه تاسو سره څوك احسان اُوکړی نو مهٔ ئے هیروئ)۔

حكمة: د زبادونے د منع علت دا دے (۱) چه پدے کښې استذلال (ذليله) کول د هغه شخص دی چه هغه باندے صدقه شوي وی۔ او دا صرف د الله سره لائق دے چه بنده گان هغه ته ذليله شي۔
(۲) وجه دا ده چه پدے سره ستا په زړهٔ کښې ترفع او تکبر راځی چه گوره ما داسے کړی دی۔
(۳) وجه دا ده چه منعم حقيقي خو الله دے۔ هغهٔ دا نعمت پيدا کړے وو او الله تعالیٰ هغه له ورکړو، تهٔ پکښې يوه واسطه شوے۔ نو واسطے له څهٔ پکار دی چه هغه زبادنه کوی بلکه د الله شکر اُوکړه چه تهٔ ئے واسطه کړے۔
(٤) وجه دا ده چه تا ددے احسان په بدله کښې د الله نه اجر او مزدوری اخستے ده، هغه درله زړهٔ او مال فراخه کړو او د صدقے توفيق ئے درکړو او اجرئے درکړو، نو تهٔ څنگه په هغه باندے احسان کوے دا خو ته ظلم کوے چه مزدوری دِے هم واخستهِ، او بيا زبادول هم کوے۔
(۵) پدے سره زړهٔ د رياء او منافقت نه ډکيږی او انسان پرے د الله نه وراندے کيږی۔ او اسلام انفاق ددے دپاره نهٔ دے مقرر کړے چه صرف د فقير خيټه ډکه شي او حاجت ئے ختم شي بلکه اصل مقصد پکښې دَ ورکونکی د نفس تزکيه او صفائی او تهذيب دے بلکه پدے کښې د انسانی همدردی او ورورولئ فکر پيدا کول دی، او دا رايادول دی چه الله ما سره دا احسان کړے۔ او هغه ما ته دا حکم کړے چه زهٔ به ددے نه خوراك کوم په غير د اسراف او تکبر نه او د الله په لار کښې به ئے خرچ کوم په غير د منع او زباد او ضرر نه۔ (فی ظلال القرآن)۔
بيا مَنّ په دوه قسمه دے۔ ۱ – مَن بِالْقَلْب (په زړهٔ) هم وی۔ چه زړهٔ کښې دا خبره راولی چه زهٔ په فلانی ډير مُحسن (احسان کونکے) يم۔ او ځان پرے لوئی گنړی۔
۲ – او باللسان (په ژبه) هم وی۔ چه يو انسان سره احسان اُوکړی، بيا ورته وائی چه ما تا سره ډير احسانات کړيدی، او تا هيڅ شکر اُونکړو۔
يا چا ته اُووائی چه ما فلانی سره احسان کړے، او بيا هغهٔ دهٔ ته راورسيږی، نو دهٔ ته پرے ضرر ملاؤ شی۔ لکه ډير خلق وائی فلانے ما ته راغلے وو، پيسے رانه غوختے نو ما ورته دومره ورکړے۔ فلانے راغلے وو، چرگان مے پرے اُوخوړل۔ فلانے مونږ کره هر وخت راځی او زهٔ پرے داسے داسے خوراکونه کوم۔ وغيره۔
(اَذًى) ددے هم ډير صوتونه دی (۱) دا پيغور ورکړی چه (اِلٰی کَمْ تَسْأَلُ وَکَمْ تُؤْذِيْنِيْ) څوپورے به ماسوالونه کوے، او ما له به ضرر راکوے)۔ الله دِے ما ستا نه خلاص کړی، او زهٔ تا ته چا خودلے يم۔ (۲) د هغه چا په مخکښې دا انفاق يادول چه هغهٔ شخص ئے نهٔ خوښوی چه هغه پرے خبر شی۔ (بغوی، خازن)۔

(٣) اَلسَّبُّ وَالتَّشَكِّيُ ۔ چا بـاندے ئے احسـان کړے نو بیا هغـه تـه رد بد وائی۔ او د هغـه نـه شکایتونه کوی۔ (٤) یا ترے خدمتونه اخلی۔ (قرطبیؔ)۔

مَنّ د ضرر یو قسم دے، لیکن جدائے ذکر کړو، او د اذی نه ئے مخکښ ذکر کړو، ځکه چه دا ډیر واقع کیږی۔

علماء فرمائی : [اَلْمَنُّ یُشْبِهُ بِالنِّفَاقِ وَالْاَذٰی یُشْبِهُ بِالرِّیَاءِ] (تفسیر بحر العلوم للسمرقندیؔ)۔

زبادونه د منافقت مشابه ده۔ او اذی (ضرر ورکول) د ریاء سره مشابه دی۔

مَـنُ کبیـره ګنـاه ده او پـه یـو حـدیـث کښ راغلی دی، چه درے قسمه خلق دی چه الله به ورسره خبرے نـهٔ کـوی، نهٔ به ورته نظر کوی، او نهٔ به ئے پاکوی، او دوی دپاره به دردناك عذاب وی۔ مَنَّان (زبـاد کـونـکے)۔ د ګیتـونـه جـامـه خـکتـه کونکے۔ په دروغجن قسم سره خپله مَبِیُعَه (سامان) مشهورونکے۔ (متفق علیه)۔

فائده : په (وَلَا اَذًی) کښ ئے (لَا) کلمه دوباره راواپس کړه، پدے کښ اشاره ده چه په هریو د مَن او اَذی سره د صدقے ثواب باطلیږی، یعنی د دواړو جمع کول لازم نهٔ دی۔

(فتح البیان واللباب)۔

﴿ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ پـه بعض ځایونو کښ فَلَهُمْ راځی په فاء سره، او په بعض ځایونو کښ بـغیـر د فـاء نـه راځـی لـکـه دلتـه شـو۔ نـو ددے حـکـمة دا دے چه کوم ځائے کښ چه په حصر او اختـصـاص سره د جزاء د مستحق بیان وی نو هلته فاء نهٔ راوړی۔ یعنی څوك چه انفاق کوی په غیـر د زبـادونـے او اذی نـه نـو صـرف هغه به مستحق د اجر وی، نهٔ هغه څوك چه زبادنه او ضرر ورکـوی۔ او کـوم ځـائے چه فاء راوړی نو هلتـه سببیت ته اشاره وی چه ما قبل سبب د ما بعد دپاره دے، یـعـنـی روستـنـے اجـر ورتـه پدے وجه ملاؤ شوے چه دا مخکنے کارئے کړے۔ او حصر پکښ مقصد نهٔ وی۔ (نقله القاسمی عن الزمخشری ٣/ ٦١٠)۔

ابـو السـعـودؔ وائـی : فاء راوړل ئے پریخودل چه خبر ورکړی چه په دغه مخکنی انفاق باندے اجر ملاویدل داسے ښکاره دی چه تصریح بالسببیة ته ئے حاجت نشته۔

خـو ددے اجـر سره ایـمـان شرط دے۔ او ددے مـطـلـب دا وی چـه پدے انفاق سره خوف او حزن ختمیـږی خـو کـه مـانـع نـهٔ وی مـوجـود۔ او کـه مانع موجود شو مثلًا نور ګناهونه راغلل یا بے ایمانی وه، نو بیا به دا اجر نهٔ وی۔

قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾

وينا نيكه او بخنه غوره ده د هغه صدقې نه چه وروسته وى د هغې پسے ضرر او الله بے حاجته دے، صبرناك دے۔

تفسير: پدے آيت كښې د مال او د انفاق د نشتوالى په وخت كښې د اخلاقو بيان دے۔ يعنى چه كله د انسان سره مال نهٔ وى، او انفاق نشى كولے، نو هغه به اخلاق استعمالوى، هر چا ته انسان مال نشى رسَولے، لكه په مرفوع روايت د ابو هريره ﷺ كښې دى :

[إِنَّكُمْ لَنْ تَسَعُوا النَّاسَ بِأَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَسَعُهُمْ مِنْكُمْ بَسْطُ الْوَجْهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ]

(ابويعلى والبزار مِنْ طُرُقٍ اَحَدُهَا جَيِّدٌ وَحَسَّنَهُ الْاَلْبَانِيُّ لِغَيْرِهٖ فِيْ صَحِيْحِ التَّرْغِيْبِ: ٢٦٦١)

(تاسو مالونه هرچا ته نشئ فراخه كولے ليكن ستاسو نه دِے كولاؤ مخ او ښائسته اخلاق هغوى ته فراخه شى)۔ او ښائسته اخلاق هم نيكى ده۔

حديث كښې دى :[اَلْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ] ...... [مسلم :٢٢٢٤] نيكه خبره كول هم صدقه ده۔

﴿قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ﴾ دے كښې (۱) يو مقصد دا دے چه د ضرر والا صدقے وركولو نه اخلاق چلول غوره دى۔نو پدے كښې به ترغيب وى دے ته چه صدقه وركوئ، نو بغير د ضرر وركولو نه ئے وركړئ۔ (۲) دويم مطلب مخكښې واضح شو چه يو انسان سره صدقه نشته خو د محتاج او سائل سره اخلاق استعمال كړى، نو دا ډير اجر والا دے د هغه انسان نه چه هغه سره د ضرر وركولو نه صدقه وركړى۔

(قَوْلٌ مَعْرُوْفٌ) اَىْ عِنْدَ الْمُطَالَبَةِ ۔ (يعنى كله چه تا نه سائل مطالبه اُوكړى، نو نيكه خبره ورته اُوكړے)۔ ضحاكؒ وائى : چه داسے ورته اُووائے : يَرْحَمُكَ اللّٰهُ وَيَرْزُقُكَ اللّٰهُ۔ الله دِے په تا رحم اُوكړى او الله دِے رزق دركړى۔ او دګل رټل به نهٔ كوے۔ (فتح)۔

﴿وَمَغْفِرَةٌ﴾ (اَىْ عِنْدَ الْمُبَالَغَة) (بخنه كول په وخت د مبالغه د سوال كښې)۔ يعنى كله چه تا نه سائل په زور او سختئ سره مطالبه كوى چه خامخا راكړه او ستا ځه بے عزتى پكښې اُوشى، نو تهٔ ورته معافى اُوكړه۔ داسے ورته اُووايه چه اُوبخه۔

(۲) دويم : د قول مَعْرُوف نه مراد (عِدَةٌ حَسَنَةٌ) ده، ښائسته وعده ورسره اُوكړه چه صبا راشه دربه كړم۔ يا ورله غائبانه نيكه دعا اُوغواړے۔ او مَغْفِرَة نه مراد د سائل بد حالت پټ ساتل۔ او خلق د هغه د سوال نه نهٔ خبرول دى۔ ځكه مغفرت كښې معنىٰ د پټوالى پرته ده۔

(۳) دريم : قول معروف د انسان صفت دے چه نيكه وينا ستا سائل ته او بخنه د الله د طرف نه چه انسان ته په قول معروف سره اُوكړے شى غوره ده د هغه صدقے نه چه ضرر وروسته اُوكړے

شی۔ (التسهیل) لیکن دا معنیٰ بعیده ده۔

رسول الله ﷺ باندے یو اعرابی په سوال کښې دومره سختی اُوکړه چه د رسول الله ﷺ نه ئے څادر راخکلو او د هغه په بدن ئے اثر اُوکړو او هغه ته ئے اُووئیل، ما دپاره د الله په مال کښې حکم اُوکړه، نو رسول الله ﷺ ورته اُوخندل او حکم ئے ورله اُوکړو۔ (او هیڅ بد اخلاقی ئے ورسره ونکړه دا د امت دپاره سبق دے)۔ او په یوه بله موقعه کښې د رسول الله نه خلقو دومره سوال اُوکړو چه هغه ئے د کیکرونے ته محتاج کړو چه د هغه څادر ئے اُونیولو۔ لیکن بیا هم رسول الله ﷺ هغوی ته هیڅ ضرر ورنکړو۔ (صحیح بخاری)

دلته ئے صرف اَذی ذکر کړه څکه چه مَنّ په اَذی کښې داخل دے۔ لکه چه مخکښې تیر شو۔

فائده: قَوْلٌ مَعْرُوفٌ کښې تنوین د تقلیل دپاره دے، او صَدَقَةٌ کښې د تکثیر دپاره دے۔ یعنی لږه نیکه وینا د ډیرے صدقے نه غوره ده چه ضرر ورسره وی۔

﴿ وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ﴾ غنی او حلیم دا دواړه صفتونه د بل چا دپاره نهٔ جمع کیږی۔

الله غنی دے نو هغه ته ستاسو دصدقاتو نه هیڅ فائده نهٔ رسیږی او ستاسو صدقو ته ئے حاجت نشته، بلکه پوره فائده ئے تاسو ته راواپس کیږی۔

حلیم دے یعنی مَعَ الْغِنَى التَّامِّ مَوْصُوفٌ بِالْحِلْمِ وَالتَّجَاوُزِ فَكَيْفَ لَا تَعْفُوْنَ مَعَ قِلَّةِ صَدَقَتِكُمْ وَتُؤْذُوْنَ] (الله سره د پوره بے حاجتئ نه، حِلم او صبر او تجاوز کوی او ستاسو خو صدقه هم کمه ده نو څنګه معافی نهٔ کوئ او ضررونه ورکوئ)۔ یعنی تاسو له خو خامخا صبر پکار دے څکه چه تاسو فقراء یئ، اجر ته حاجت لرئ۔

○ یا غنی دے د صدقے د بندګانو نه، فقیران دے ته نهٔ محتاجوی چه مَن او اَذی برداشت کړی، بلکه د بل کوم طرف نه به هغوی ته رزق ورکړی۔ او حلیم دے چه څوك مَنّ او اَذی کوی، نو هغه له زر عذاب نهٔ ورکوی بلکه مهلت ورکوی چه توبه اُوباسی۔ (فتح البیان)

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذٰى كَالَّذِيْ يُنْفِقُ مَالَهٗ
اے ایمان والو ! مهٔ بربادوئ صدقے خپلے په زبادنه او په ضرر په شان د هغه چا چه خرچ کوی مال خپل
رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ
دپاره د خودنے د خلقو او ایمان نهٔ لری په الله او په ورځ روستنئ، پس مثال دهٔ په شان د یو هوارکانړی دے

عَلَيۡهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلۡدًا لَّا يَقۡدِرُوۡنَ عَلٰى شَيۡءٍ

چه په هغې باندې خاوره وي نو اُورسي هغې ته تيز باران نو پريدى هغې لره صفا، قادر نه وي دوى په هيڅ شى باندې

مِّمَّا كَسَبُوۡا وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿٢٦٤﴾

د هغې نه چه دوى كړي وي او الله هدايت نۀ كوي قوم كافرانو ته.

تفسير : پدې آيتِ كريمه كښې الله تعالىٰ په صدقه حكم كوى، سره د انتفاء د شرطونو نه يعنى چه شرطونه په صدقه كښې نۀ وي نو هغه باطله ده، او منع ئې كړيده د مَنُ او اَذى او رياء نه، او د هغې مثال ئې راوړيدې. چه څوك په رياء او مَنُ او اَذى سره صدقه اُوكړي نو دا داسې برباده ده لكه څنګه چه په يو كاڼړي باندې خاوره پرته وي او تيز باران هغه صفا كړي او هيڅ دوړه پرې پاتې نشي. نو دغه شان به ددغسې صدقې هيڅ اجر پاتې نشي.

ربط : پدې كښې د مخكښې ﴿خَيۡرٌ مِنۡ صَدَقَةٍ﴾ علت ذكر كوى چه قول معروف څكه د هغه صدقې نه غوره دې چه ضرر ورپسې وي چه دغه قسم صدقه خو برباده ده، هيڅ اجر ئې نشته.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبۡطِلُوا صَدَقَاتِكُمۡ﴾ پدې كښې د مَنُ او اَذى په منع كولو كښې ډير تاكيدات شويدى، يو دا چه خطاب په لفظ د آمَنُوۡا سره شوې، چه دا كار د كامل ايمان سره منافي دې. دويم دا چه ښكاره ئې وئيلي دي چه په مَنُ او اذى سره صدقه باطله ده. دريم دا چه مثال ئې د رياكار سره وركړې. څلورم دا چه مثال ئې د صَفۡوَان (كاڼړي) سره وركړې.

(لَا تُبۡطِلُوۡا) د بطلان نه دلته نۀ قبليدل او د ثواب نه محروميدل مراد دى. او اصل كښې بطلان ديته وائي چه د عمل په كولو باندې شرعي اثر مرتب نشي، نو كه عمل واجب وي، بطلان ئې دا دې چه د مكلف ذمه فارغه نشي څكه چه په يو ركن يا شرط كښې نقصان راشي نو په ټول عمل كښې نقصان راځي. او كه د نفل عمل وي، بطلان ئې دا دې چه د ثواب نه محرومه شي. (احسن الكلام).

(صَدَقَاتِكُمۡ) دلته مضاف پټ دې. يعنى أُجُوۡرَ صَدَقَاتِكُمۡ . (مۀ باطلوئ اجرونه او ثوابونه د صدقو خپلو). دا ورته څكه راوياسو چه صدقه خو مسكين ته وركړې شوه، نو هغه اُوشوه، اُوس هغه نۀ باطليږي، او كوم شې چه باطليږي هغه اجر دې.

دلته صدقات، نفلي او فرضي دواړو ته شامل دې.

(بِالۡمَنِّ وَالۡاَذٰى) ابن عباس رضى الله عنهما فرمائى : د مَنُ نه مراد زبادول دي په الله باندې او اذى ضرر وركول دي فقير او سائل ته. (اللباب، والبغوى وفتح البيان)

(۲) یا دواړه د انسانانو سره لګی۔ سمعانیؒ وئیلی دی چه په صدقه کښې زیادونه کول داسے دی لکه په مانځه کښې ے ادسه کیدل۔

فائده: د اکثرو اهل سنتو دا رائے ده چه نیکیانو سره ګناهونه ختمیږی (اِنَّ الْحَسَنَاتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّئَاتِ)۔ لیکن ګناه سره نیکیانے نهٔ ختمیږی، او وائی چه دا د معتزلو مذهب دے چه ګناه سره نیکی ختمیږی، او خوارج وائی چه په کبیره ګناه سره انسان همیشه جهنمی دے۔ او هر نیك عمل ئے برباد دے۔

لیکن پدے کښې راجح مذهب دا دے چه ګناهونه دوه قسمه دی :

(۱) عام ګناهونه سِوی د کفر او شرك نه چه د نیك عمل سره متعلق نهٔ دی۔ لکه یو انسان مونځ اُوکړی او بیا وروسے غیبت، غلا، زنا اُوکړی نو مونځ ئے نهٔ دے باطل۔

(۲) دویم : شرك او کفر دے نو پدے سره نیك عمل باطلیږی۔ دارنګه د دغه عمل سره متعلق ګناهونو سره هم عمل باطلیږی لکه د صدقے سره متعلق مَنّ او اَذیٰ دی، که دا اُوکړے شی نو دغه صدقه باطله ده۔ نو کله نا کله په بدو اعمالو سره نیکیانے باطلیږی۔ لکه د ﴿ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُکُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ﴾ (الحجرات/۲) نه هم معلومیږی چه د نبی ﷺ بے ادبی کولو سره نیك اعمال بربادیږی۔ (والعیاذ بالله)۔

﴿کَالَّذِیْ ﴾ دا په مثال کښې مثال دے یعنی : ستا د صدقے زیادول داسے دی لکه ریاکار۔ د ریاکار صدقه خو باطله ده نو ستا به هم باطله شی۔ بیا د ریاکار مثال ئے د کاڼړی سره ورکړے۔

(کالذی) دلته مضاف حذف دے (کَاِبْطَالِ الَّذِیْ) په شان د باطلولو د هغه سړی انفاق خپل لره چه ریاکاروی)۔د هغهٔ عمل خو باطل نو تاسو په مَنّ او اَذی سره صدقه مهٔ باطلوئ۔

﴿رِئَاءَ النَّاسِ﴾ دا مفعول لهٔ دے یعنی لِاَجْلِ الرِّیَاءِ خلقو ته د خودلو دپاره انفاق کوی۔ یا حال دے۔ په معنیٰ د مُرَائِیًا سره یعنی په داسے حال کښې انفاق کوی چه خلقو ته خودونه کونکے وی۔ نو لکه څنګه چه د ریاکار مقصد دا وی چه د خلقو صفت او تعریف حاصل کړی او د الله رضائے مقصد نهٔ وی، نو دغه شان ددے مَنّ او اَذی کونکی مقصد هم د الله مخ او رضا نهٔ وی۔

رئاء وزن د فِعال دے د رَأی نه په معنیٰ د ورخودلو سره۔

فائده : ریاء هله ناروا ده چه اول نه عمل د مخلوق د خودلو دپاره شروع کړی۔ دویم صورت دا چه یو انسان پټ عمل کړے وی لیکن خلقو ته ئے راښکاره کړی، نو حدیث کښې دی چه دهٔ دپاره به ښکاره عمل اُولیکلے شی، او که بار بار ئے ښکاره کوی نو دا به ریاکار اُولیکلے شی)۔ نو عمل چا ته بغیر د ضرورت نه ښکاره کول صحیح نهٔ دی مګر که د چا خیر خواهی غرض وی، نو بیا

ښكاره كول جائز دي۔

او دا په رياء كښې نۀ داخليږي چه يو انسان پټ يو عمل شروع كړي، ذكر ته ناست دے، په مانځه ولاړ دے او څوك ئے وويني نو ددۀ زړۀ كښې يو قسم خوشحالي پيدا شي، او خلق ئے صفت اُوكړي نو دا رياء نۀ ده۔ ابو ذر ﷺ د نبي كريم ﷺ نه ددے په باره كښې پوښتنه اُوكړه نو نبي ﷺ اُوفرمايل :[تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ] دا د مؤمن سړي دپاره په دنيا كښې زيرے دے چه عمل ئے الله دپاره كولو نو الله مخلوق ته هم ښكاره كړو)۔

(رواه مسلم :٦٨٩١) مشكاة باب التوكل و الصبر:٥٣١٧)

د رياء سره ډير عمل كول هيڅ اثر نۀ لري، او په اخلاص سره لږ عمل هم ډير اثر لري۔ رياكار انسان كم عقل دے څكه چه خواري ئے هم اُوكړه، او برباده شوه، او د الله تعالىٰ د نظر نه پريوتو، د هغۀ سره ئے شرك اُوكړو۔ او كه هغۀ انسان ترے خبر شي نو د هغه د نظر نه به هم پريوزي، او الله تعالىٰ اكثر رياكار انسان مخلوق ته راښكاره كوي۔ او په اخلاص كښې الله هم رضا كيږي، او ضرور ددے اثر راښكاره كيږي اگر كه انسان ئے پټوي۔

حديث كښې دي :[لَوْاَنَّ اَحَدَكُمْ يَعْمَلُ فِيْ صَخْرَةٍ صَمَّاءَ لَا بَابَ لَهَا وَلَا كُوَّةَ لَخَرَجَ عَمَلُهٗ لِلنَّاسِ كَائِنًا مَا كَانَ] (كه يو تن ستاسو په يو بند كاڼي كښې عمل اُوكړي چه د هغے هيڅ دروازه او سورے نۀ وي، نو خامخا به ددۀ عمل انسانانو ته راښهر شي، هر عمل چه وي)۔

(مسند احمد ٢٨/٣رقم ١١٢٤٦) وابويعلى ٥٢١/٢ رقم ١٣٧٨) وقال الهيثمي اسنادهما حسن)

يعني د نور او رنړا څادر به پرے واچوي او د خلقو په زړونو كښې به د هغه سره محبت پيدا شي۔ نو رياء ته حاجت نشته۔ او رياء د زړۀ خرابي وي۔ ډير سپين گيري وي چه تهجد او روژے او نفقے او عام عملونه ئے د رياء دپاره وي، او ډير ځوانان وي خو الله ورله ډير اخلاص وركړے وي، مخلوق ورته هيڅ شے نۀ ښكاري چه هغوي ته رياء اُوكړي۔نو دا د زړۀ ښۀ صفت دے۔ ددے وجه نه عملونه پټ كول پكار دي۔ حديث كښې دي :

((الله تعالىٰ هغه بنده خوښوي چه متقي وي او پټ عملونه كوي او خلقو ته خپل حاجتونه نۀ ښكاره كوي))۔ (صحيح مسلم ٢٢٧٧/٤ رقم : ٢٩٦٥)

څكه چه انسان كمزورے دے، ستا به د اخلاص اراده وي نو درنه به وران شي۔

خو عمل به د رياء د يرے نه نۀ پريدے څكه چه علماؤ وئيلي دي :

[تَرْكُ الْعَمَلِ مِنْ اَجْلِ خَوْفِ الرِّيَاءِ رِيَاءٌ وَالْعَمَلُ لِاَجْلِ النَّاسِ شِرْكٌ]۔

(د رياء د يرے نه عمل پريخودل رياء ده، او د خلقو دپاره عمل كول شرك دے)۔

نو ریاء قبیحه ګناه ده چه عمل هم بربادوی، او ورسره سزا هم ملاویږی۔
مشهور حدیث دے چه درے قسمه خلق قاری د قرآن، مجاهد، او سخی باندے به اول اُور بلولے شی ځکه چه دا غوره عمل ئے د مخلوق دپاره کړے۔ (مسلم، ترمذی، ابن خزیمه)
﴿وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ دا ئے په مخکښ عطف کړو (۱) نو یا خو ددے نه منافق ریاکار مراد دے چه هغه په آخرت یقین نهٔ لری، صرف خلقو ته ځان خودل ئے مقصد وی، نو دا کافر دے او د کافر انفاق باطل دے۔ نو دلته نفی د حقیقی ایمان ده۔
(۲) یا دا چه دلته مسلمان ریاکار مراد دے چه ددهٔ مقصد په انفاق کښ صرف د خلقو صفت او د هغوی نه شکر حاصلول وی، او الله ته ئے هیڅ نظر نهٔ وی، د الله رضا او زیات اجر حاصلول ئے مقصد نهٔ وی، ځکه چه ریاء هغه څوك کوی چه هغه د آخرت نه غافل وی۔ ریاء خو ډیرے هغه سرے اُوکړی چه جنتی شوے وی، او عملونه ورپسے دپاسه کوی، او زمونږ ټول عملونه د آخرت په مقابله کښ صفر دی، نو ریاء څه په کار ؟!!۔ نو دلته نفی د کامل ایمان ده یعنی دا انسان چه ریا کوی نو پوره یقین ئے په ثواب د آخرت نشته۔
او مفسر بغویؒ داسے هم وئیلی دی : چه ریاء سره صدقه کول د مؤمنانو کار نهٔ دے بلکه دا د منافق کار دے چه ظاهر کښ یو څهٔ ښکاره کوی، او په پټه ئے بل مقصد وی۔ نو د ریاء سره صدقه کولو سره انسان بے ایمانه کیږی۔ (تفسیر معالم التنزیل ۱/ ۳۲۶)
فائده : ریاء خلق پدے وجه کوی چه په الله تعالیٰ او په آخرت ئے پوره ایمان نهٔ وی۔ مخلوق ورته د الله تعالیٰ نه لوئی ښکاری۔ ریاء ته په احادیثو کښ شرك خفی او شرك اصغر (ووړکے شرك) وئیلے شویدے۔

د ریاء د زائله کولو اسباب

(۱) صحیح ایمان لرل۔ (۲) عمل پټ کول۔ (۳) ...... په ځان د الله تعالیٰ زیات حق منل۔
(٤) د ریاء بدی په ذهن کښ راوستل او ددے په باره کښ آیتونه او احادیث مطالعه کول۔
(۵) مخلوق داسے ګنړل لکه کانړی او بوټی چه که دا د چا صفت اُوکړی، نو څهٔ به اُوشی او که بدی ئے بیان کړی نو څه به اُوشی۔
(٦) اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَاَنَا اَعْلَمُ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا اَعْلَمُ)
(صحیح الجامع الصغیر ۳۷۳۱ للالبانی)۔
پدے دعا سره ووړکے او غټ شرك ختمیږی لکه صحابه کرامؓ ته ئے فرمایلی وو)۔
﴿فَمَثَلُهٗ﴾ (۱) د مَثَلُهٗ ضمیر (اَلَّذِیْ يُنْفِقُ) ته راجع دے یعنی ریاکار ته۔ نو دا مثال به د ریاکار وی۔

(۲) يا زبادونكى او اذى وركونكى ته راجع دے نو دا به د زبادونكى دپاره دويم مثال شي۔

﴿كَمَثَلِ صَفْوَانٍ﴾ صفوان جمع د صَفْوَانَةٌ ده۔ يا دا خپله مفرد دے۔ غټه ګټه چه همواره خوئے او مئينه وى۔ بعض وائى دا د جنس په شان دے په مفرد او جمع دواړوئے اطلاق كيږى۔ دلته مفرد دے ځكه روستو د (عَلَيْهِ تُرَابٌ) ضمير ورته مفرد راجع شويدے۔

﴿فَأَصَابَهُ وَابِلٌ﴾ د اَصَابَهُ ضمير يا صفوان ته راجع دے يا تراب (خاورے) ته۔

وابل هغه ډير باران ته وئيلے شي چه سخت او ګنړو څاڅكو والا وى۔

﴿فَتَرَكَهُ صَلْدًا﴾ د تَرَكَهُ ضمير صرف صفوان ته راجع دے او صَلْد خويه صفا ګټه ده چه خاورے او دوړے ورپورے نهٔ وى پيوسته شوى۔

د مثال تطبيق

دلته د مركب معقول د مركب محسوس سره تشبيه وركړے شويده، پدے طريقه چه د منافق رياكار انفاق كونكى حال په شان د حال د هغه كانړى دے چه په هغے باندے خاوره پرتهٔ وى نو يو شخص په هغے ګمان اُوكړى چه دا يوه همواره خاوره ده او د كروندے لائق ده نو تخم په كښې واچوى پدے اراده چه باران به راشى دا به اُويه كړى، بيا به زرغون شي او ما ته به فائده راكړى، ليكن هركله چه په هغے باندے تيز باران راشى نو هغه خاوره سره د تخم نه د كانړى نه ګوزار كړى، او په كانړى هيڅ پاتے نشى، خوئے صفا شى، نو د دغه كم عقل دهقان اميد د خاورو سره خاوره شى، او حيران شى چه زما محنت او مال ټول ضائع شو، نو د افسوسونو نه سِوئ په هيڅ شى قادر نهٔ وى چه هغه عمل بيرته راواپس كړى۔

نو دغه شان منافق رياكار او زبادونكے او ضرر رسونكے انسان ډير صدقات، خيراتونه او نيك اعمال كوى او مقصد ئے رياء وى او په مسلمانانو باندے خپل ځان اُوچت ګنړل وى، نو دهٔ دا خيال دے چه دا به ما ته فائده راكړى، ليكن دهٔ ته په آخرت كښې هيڅ فائده نهٔ ملاويږى، البته په دنيا كښې ورله بعض خلق صفتونه اُوكړى چه ډير سخى انسان دے۔

نو دهٔ عيب د خلقو نه پټ وى لكه خاوره چه ګټه پټوى۔ خو چه كله قيامت راشى نو دا به خالى لاسونه پاتے وى، هيڅ عمل به فائده ورنكړى او ټول عملونه به ئے هباء منثورا (دوړه) شى، څه د رياء د وجه نه او څه د بے ايمانئ د وجه نه۔

نو لكه څنګه چه د دغه دهقان عمل برباد شو نو دغه شان ددے رياكار او زبادونكى او زړهٔ آزارونكى انفاق به باطل شى۔ پدے كښې د زبادونكى او ضرر رسونكى انتهائى درجه بدى بيان شويده چه د انفاق په بربادولو كښې دا خبرے بالكل د كفر برابر دى۔ دا تشبيه ډيره غوره ده او

آسانئ سره ذهن ته راځي۔ (ابن عاشور وتدبر قرآن)۔

او په بل عبارت سره ددے مثال حاصل داسے هم راوځي چه د احسان کونکي او رياکار عمل په دنيا کښ ښکاره کيږي چه عمل دے او په آخرت کښ برباد ګرځي، هيڅ فائده نۀ ورکوي لکه چه په کاڼي باندے خاوره پريوتے وي، په ظاهره خو داسے ښکاري چه قابل د کرونديے ده، خو چه کله پرے باران اُووَريږي نو محوه شي۔ (جواهر القرآن)۔

تشبيه د مفرد

او تشبيه د مفرد د مفرد سره په ډيرو طريقو کيدے شي (۱) يوه طريقه داسے ده چه کافر په شان د صَفُوَان (سخت کاڼي) دے چه زَرۀ کښ ئے د الله هيڅ يره نۀ وي۔ او تُرَاب مثال د انفاق دے چه پدے سره په دنيا کښ خپل کفر پټ ساتي لکه څنګه چه خاوره ګټه پټه ساتي، او خلق ورله په دنيا کښ صفت کوي۔ او وَابِل د هغۀ کفر او مَنُ او اَذي ده۔ چه ددے په ذريعه به ددۀ عملونه برباد شي۔ او صَلۡدًا دا چه قيامت کښ به خالي لاسونه پاتے شي۔

(۲) دويمه طريقه: صفوان د منافق او د رياکار د زړۀ مثال دے۔ تشبيه په کلك والي کښ ده چه د الله يره پکښ نشته۔ او تُرَاب نه مراد هغه غبار دے چه ددۀ د زړۀ پورے انختے دے چه هغه د ګناهونو غبار دے، او وَابِل نه مراد د الله حساب دے چه دغه خاورے به زائله کړي۔ يعني د الله حساب به ورته متوجه شي نو ټول عملونه به ئے برباد کړي، هيڅ معنويت به پکښ نۀ وي۔

(۳): او پدے طريقه هم لګيږي چه صفوان کښ ددۀ زړۀ ته اشاره ده، او تراب کښ (ثناء الناس) د خلقو مدح او صفت ته اشاره ده چه دۀ له ئے کوي۔ د خلقو صفت داسے دے لکه خاوره۔ څکه چه نبي ﷺ فرمائي:

[إِذَا رَأَيۡتُمُ الۡمَدَّاحِيۡنَ فَاحۡثُوۡا فِيۡ وُجُوۡهِهِمُ التُّرَابَ] ...... [مسلم: ۷۶۹۸]

(څوك چه ستاسو صفتونه کوي، نو په مخ کښ ورته خاورے واچوئ)، نو د هغے سره ئے مناسبت شو۔ نو د خلقو ستا صفت کول چه تا کښ کمال نۀ شته، هسے ډے خروي، او وَابِل نه مراد د قيامت په ورځ د الله حساب دے نو د قيامت په ورځ به ئے عمل برباد راوځي څکه چه اثر به پکښ نۀ وي د رياء د وجه۔ او په دنيا کښ به هم د رياکار ثناء ګانے څۀ وخته پورے ختمے شي، د رياکار سرې انجام خراب وي نو انسان به اَملس (خوئے، صفا) پاتے شي۔

(٤) دارنګه څوك چه په رياء او منافقت سره عمل کوي، نو ظاهراً د هغۀ په عمل باندے اجر مرتب کيږي، ليکن د غير الله دپاره دے، نو مانع موجود دے۔

نو رياء صفوان دے، دا مانع دے۔ دۀ تخم په خاوره کښ واچولو، ليکن د خاورے دپاره جور والے

ضروري دي چه تخم په هغې کښې جرړې اُوکړي او دلته خو لاندې کاڼړې دې چه هغه مانع دې د تخم د راټوکيدو نه ځکه چه هغې کښې جوړوالې نشي کيدې.

نو دغه شان دهٔ عمل اُوکړو، په ظاهره کښې خو د اجر اُميد کيدې شي، ليکن لاندې مانع موجود دې چه هغه رياء ده، نو دا عمل ئې د قبوليت نه منع کړو. نو کله چه وابِل (باران) راشي، نو خاوره او تخم ختم کړي او دا عمل ئې برباد شي، نو دغه شان په قيامت کښې د رياکار عمل برباد دې، نو دا مجموعه د عمل د بربادېدو مثال دې.

حکمتونه : صَفوان ئې ځکه ذکر کړو چه کاڼړي کښې تخم نهٔ رازرغونيږي، نو ددهٔ عمل کښې هم معنوي اثر نشته. تُراب ئې ځکه راوړې چه دا د خلقو صفت دې چه ددهٔ مخ ئې خړ کړې. او وَابل ئې ځکه راوړې چه تيز باران دې. د الله حساب به هم ورله په جلتئ سره راشي، او خپل انجام هم. نو په انجام کښې به ددهٔ صفتونه هم ختم شي، او د رياء او زباد والا عمل به هم برباد شي نو تش تور به پاتې شي.

﴿لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا﴾ عَلٰى شَيْءٍ معنىٰ ده (عَلَى الْاِنْتِفَاعِ بِثَوَابِ شَيْءٍ) فائده نشي اخستلې د ثواب د يو شي نه) چه کوم ئې کړې دې. يعني د خپل انفاق او عمل هيڅ اجر به ورته ملاؤ نشي. نهٔ به دا صدقه په قيامت کښې ددهٔ دپاره رڼړا وي، او نهٔ به رَدُّ الْبَلَاء (مصيبتونه لرې کونکې) وي، او نهٔ به ورله برهان او دليل د ايمان وي. لکه د صدقې په احاديثو کښې هٔمدا فائدې خودلې شويدي.

ځکه چه د صدقې بدله ئې په دنيا کښې اخستې ده چه هغه د خلقو صفتونه کول دهٔ لره او ددهٔ زبادنه او ضرر ورکول دي. حديث کښې هم دي :

[اَنَا اَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا اَشْرَكَ فِيْهِ مَعِيَ غَيْرِىْ تَرَكْتُهٗ وَشِرْكَهٗ] (مسلم)

زهٔ د شريکانو د برخې نه ډيرې پرواه يم. څوك چه يو عمل اُوکړي او زما سره پکښې بل څوك شريك کړي، نو زهٔ د هغه عمل او د هغه برخه پريدم). په يو بل روايت کښې دي : دا عمل د هغه سړي دپاره شو چا دپاره ئې چه کړې وي. نو الله به هيڅ بدله نهٔ ورکوي.

﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكَافِرِيْنَ﴾ په اِهْدِنَا الصِّرَاطَ کښې مخکښې مونږ وئيلي وو چه د هدايت ډيرې معنې دي، يوه معنىٰ دا ده چه بنده په آخرت کښې د خپلو کوششونو آخري ثمرات او نتيجې ته اُورسيږي. دلته هٔمدا هدايت مراد دې يعني الله کافرانو ته د خپلو کوششونو او عملونو هيڅ فائده مند ثمرات او صحيح نتيجې نهٔ ورکوي، او د آخرت ثوابونو ته ئې نهٔ رسوي. نو د دوي عملونه بې ځايه واقع کيږي، او ځائې ته نهٔ رسيږي. نو پدې کښې د ايمان والو دپاره يره ده

چـه د کـافـرانـو په شان حالت اختیار نکړی چه عمل ئے بے ځائے واقع نشی۔ نو معنیٰ دا ده چه الله کـافـرانـو تـه هـدایـت نـهٔ کوی یعنی په صحیح ځائے کښ د عمل واقع کولو ته او په آخرت کښ ثواب ورکولو ته لاره نهٔ وربنائی)۔

او پـدے کـښ اشاره ده چـه الله تـعـالـیٰ ایـمـان والو ته هدایت کوی، ایمان د هدایت سبب وی، د مـؤمن د بدن نه به نیك نیك اعمال راوځی او په ځائے به واقع کیږی۔ اوکفر سبب د گمراهئ دے، د کافر هر کار به د هدایت نه خالی وی، د هغهٔ د بدن نه به هر شر راوځی۔او دے سورت کښ د کفر او د ایمان خبره شروع ده۔ چه هغه موضوع د سورت وه نو ځکه به بار بار دا لفظ تکراریږی۔

وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ أَنْفُسِهِمْ
او مثال د هغه کسانو چه خرچ کوی مالونه خپل دپاره د طلب د رضاء د الله او دپاره د مضبوطولو د نفسونو خپلو
كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ
په شان د مثال د یو باغ دے په اُوچت ځائے کښ چه اُورسیږی هغے ته ډیر باران نو ورکوی میوے خپلے دوچنده دوچنده
فَإِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۶۵﴾
اوکه اُونهٔ رسیږی هغے ته تیز باران نو کافی دے هغے دپاره شبنم او الله په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ لیدونکے دے۔

تفسیر: اُوس د مخکښ شخص برعکس د نیکانو خلقو د انفاق مثال دے۔ او پدے کښ انفاق تـه تـرغـیـب دے، او د انفاق ایجابی شرطونه ذکر کوی چه یو به د الله د رضاء طلب کولو دپاره وی، دارنگه خپل ځان په دین باندے کلك کولو دپاره به وی، او د خپل نفس تربیت به وی۔

ربط: مخکښ د ریاء کار د نفقے مثال وو، اُوس د مخلص مؤمن د نفقے مثال دے۔

○ هلته (رِئَاءَ النَّاس) ذکر وو او دلته د هغے مقابل کښ (اِبْتِغَاءَ مَرْضَاتِ الله) ذکر دے،

○ هلته (لَايُؤْمِنُ بِالله) ذکر وو نو دلته (تَثْبِيْتًا مِنْ اَنْفُسِهِمْ) ذکر دے۔نو د دواړو ترمینځ تقابل تضاد دے۔

﴿ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ﴾ دا مفعول لهٔ دے یعنی لِاَجْلِ ابْتِغَاءِ رَضَاءِ الله ۔ مالونه خرچ کوی دپاره د رضاء د الله۔ یا حال دے۔ اَیْ مُبْتَغِیْنَ مَرْضَاةَ الله۔ پداسے حال کښ مالونه خرچ کوی چه لټونکی وی د الله رضا لره۔ ابتغاء معنیٰ ده، لټول او طلب کول۔

مرضات مصدر میمی دے په معنیٰ د رضاء سره۔

او مطلب دا دے چه عمل کښ ثواب گنړی، او د عادت په طورئے نهٔ کوی۔

د نيكانو خلقو مثال۔ نيكان هم په دوه قسمه دي يو هغه چه ډير مال لګونكي دي، او بل لږ مال لګونكي دي۔ د دواړو مثال راوړي چه دواړه كامياب دي۔

﴿ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ﴾ يعني په مال لګولو كښې ئې دا مقصد وي چه الله مونږ نه رضاء شي۔

﴿ وَتَثْبِيتًا مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾

ددې ډير معاني دي (۱) تثبيت باب تفعيل دې، معنیٰ ئې مضبوط ول دي۔ يعني انفاق ددې دپاره كوي چه خپل ځان ئې په دين مضبوط شي او ايمان ئې مضبوط شي (يا نفس ئې په انفاق مضبوط شي) ځكه چه په دين باندې د نفس د مضبوطولو دپاره انفاق ډيره اهمه نسخه ده۔ ځكه چه مال لګول نفس له ډير زور وركوي۔ (ابن عاشورؒ)۔

پدې معنیٰ به (تثبيتاً) نتيجه او غايه د انفاق وي۔

(۲) يعني د خپل قوت ايماني د وجه نه مالونه لګوي او دا ايماني قوت ئې په انفاق باندې باعث كوي۔ او په شك او تردد سره مال نۀ لګوي۔ ځكه چه د انفاق په وخت كښې د زړۀ مضبوطوالې ښۀ صفت دې چه لاس ئې په پيسو نۀ ريږي بلكه چټ پټي وي، آزادئ سره نفقه كوي، ځكه چه په الله تعالىٰ ئې يقين دې چه الله به ددې بدله راكوي او زما مال نۀ ضائع كوي، او د هغه حكم دې۔

(۳) تَصْدِيقًا وَيَقِينًا ۔ يعني زړونو كښې ئې په اسلام او د الله په وعدو تصديق او يقين دې ځكه مال لګوي۔ نو دا د مخكني شخص مقابل شو۔ چه د هغۀ د الله په وعدو يقين نۀ وو۔

(٤) إِنَّهُمْ يَتَثَبَّتُونَ أَنْ يَّضَعُوْا صَدَقَاتِهِمْ فِيْ مَوَاضِعِهَا (حسنؒ، مجاهدؒ)۔

يعني دا تحقيق كوي چه خپلې صدقې په خپل صحيح ځائې كښې خرچ كړي۔ او په بصيرت سره ئې خرچ كوي۔ (فتح البيان، وابن عاشورؒ)۔

(۵) إِحْتِسَابًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ ...... (قتادةؒ)۔ يعني دا انفاق د ثواب د نفسونو دپاره كوي، نو په عمل كښې ثواب ګڼړي او د عادت په بناء ئې نۀ كوي۔ (دا ئې حاصل معنیٰ ده)۔

بيا په تثبيتاً كښې د مخكنو معنو په اعتبار سره دوه احتماله دي، يا مفعول لهٗ دې يعني سبب او علت او باعث د انفاق دې۔ يا حال دې لكه څنګه چه (ابتغاء) حال وو۔ اَیْ مُتَثَبِّتِيْنَ لِاَنْفُسِهِمْ (د ځانونو د مضبوطولو دپاره انفاق كوي) نو دا به نتيجه د انفاق وي۔

دواړه صحيح كيږي باعث او نتيجه۔ ليكن نتيجه ګرځول ئې غوره دي لكه چه محققين مفسرينو ديته ترجيح وركړيده۔ (ابن عاشورؒ)۔

﴿ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ ﴾ د باغ سره ئې تشبيه وركړه ځكه چه باغ بار بار ميوې كوي، نو دوی له به هم الله بار بار اجر وركوي۔ (بِرَبْوَةٍ) ربوه : هغه زمكه ده چه هموار وي او اُوچتوالې پكښې وي۔

○ ربوه اُوچتے مزیدارے زمکے ته وئیلے شي۔ (خلیل)۔
بعض وائي : دا هغه هواره زمکه ده چه مزیداره او ښائسته وي کله چه ورته باران اُورسی نو اُوپړسیږي او ګیاهګانے او ونے ئے زیاتے شي۔ (فتح البیان)۔
. دا ځکه وائي چه که باغ په خکته ځائے کښې وي نو په هغے باندے نمر نهٔ لګی نو میوه ئے مزیداره نهٔ وي، ونه زیړه وي۔ او کله چه په اُوچت ځائے وي، نو هواګانے پرے لګی، د بدبویانو نه جدا وي۔او نمر پرے د هر طرف نه لګی، نو ددهٔ صدقه هم عَلیٰ کُل حال مقبوله ده۔
بیا دا مثال د دوه قسمه مؤمنانو دے۔ ○ (۱) ابرار (ډیر نیکان) نو دوی ډیر مال خرچ کوی۔
(۲) مقتصدین (درمیانه خلق) چه لږ انفاق کوی۔ نو الله فرمائی چه ډیروته به ډیر اجر ملاویږي او لږو دپاره هم اجر شته۔ درجه به ئے کمه وي، لیکن الله تعالیٰ ئے پدے هم بخی۔ نو (وَابِل) مثال د ابرارو دے، او (طل) مثال د مقتصدینو دے۔
○ یا دواړه د یو تن مثال دے، که لږه صدقه کوی اوکه ډیره چه ددے تفصیل لاندے راروان دے۔
○ بعض علماء وائی چه که د ابتغاء مرضات الله او تثبیت النفس دواړو نیت لری، نو ډبل اجر دے او که صرف د تثبیت نیت لری نو د هغے مثال د طل دے، چه یو ثواب به ورته ملاویږي۔

د مثال تطبیق او تفصیل

تشبیه المرکب بالمرکب په دوه طریقو ده :
(۱) یو دا چه په اُوچته ډیرکئ باندے باغ دے چه هغے ته تیز او ډیر باران اُورسیږي نو میوے دوچنده ورکوی، او که ډیر باران ورته اُونهٔ رسی نو معمولی باران (پرخه) ئے هم کافی وي، نو دغه شان کوم انسان چه نفقه کوی، د هغه دا نفقه مشابه ده دهغه باغ سره چه په اُوچته زمکه وي او لکه څنګه چه دغه مزیدار باغ نه ډیرے فائدے او میوے حاصلیږي، نو د مؤمن ددے نفقے به هم د الله په نیز ډیرے فائدے وي، برابره ده که لږ مال ئے لګولے وي او که ډیر مال۔
(۲) دویم دا چه ددے نفقه کونکو حال مشابه دے د هغه باغ سره چه په ډیرکئ باندے وي نو هغه دوچنده میوے ورکوی، برابره ده چه په قوی باران باندے اُوبه شي، او که په کمزوری باران۔ نو دغه شان ددے مؤمن که نفقے زیاتے وي او که کمے وي، نو ددهٔ حالت به ښهٔ کوی، او دا ددهٔ د حال د برابرولو او د نفس د مضبوطولو دپاره کافی دی۔
او دا هم تشبیه المرکب ده خو د مفرداتو په مابین کښې د مشابهت لحاظ پکښې شویدے۔
حاصل ئے دا دے چه په لږ او ډیر مال خرچ کولو سره به ئے اجر دوچنده کیږي لکه څنګه چه

باغ په وابل او طل دواړو سره دوچنده میوې ورکوي۔ (قاسمی ۶۱۱/۱)۔
یا دا چه دې انسان ته به د نفقې په وجه، که لږه وي او که ډیره، دواړه قسمه نیتونه ملاویږي۔ د الله رضا به هم حاصلیږي او نفس به ئې هم په دین مضبوطیږي)۔
○ بعض علماء پکښې داسې تعبیر کوي: چه کوم خلق د الله د رضا دپاره او په پوره اخلاص او ایمان سره مال خرچ کوي، د هغوی صدقات داسې ترقي کوي او میوې ورکوي لکه چه په یو لوړ ځائې باندې یو باغ وي، او په هغې باندې په شیبو باران اُوشي نو د هغهٔ باغ وُنې دوچنده میوې ورکوي، او کهٔ چرې په شیبو باران اُونهٔ شي بلکه معمولي شان باران اُوشي نو هم هغه باغ میوه ورکوي، دغه شان د نیت په اخلاص سره د شوو صدقو اجر د الله سره څو چنده زیات ملاویږي، که چرې د اخلاص اعلیٰ درجه نهٔ وي، نو مطلق ایمان او د نیت صحیح والې هم د صدقاتو د ثواب د زیاتیدلو دپاره کافي دې۔ (جواهر القرآن)

د مثال د تطبیق دویمه طریقه تشبیه المفرد بالمفرد ده

د وابل نه مراد د الله تعالیٰ قبولیت دې۔او د دوچنده میوې ورکولو نه مراد دوچنده اجر ورکول دي۔ نو دغه شان دې انسان ته به الله ډبل اجر ورکړي۔ په دنیا کښې به هم ورته اجر ملاویږي او په آخرت کښې هم۔
(۲) دویمه طریقه دا چه د انفاق کونکي حال داسې پورته او تازه او مزیدار دې لکه د اُوچت مزیدار باغ۔ نو مؤمن هم تازه وي او هغهٔ د ګندونونه پاك وي، مَنْ او اَذیٰ ئې په صدقه کښې نهٔ وي، بلکه پاکو اخلاقو والا وي۔ او (وابل) او (طل) نه مراد ډیره او لږه صدقه او نفقه ده، او د اُکُل (میوو) نه مراد اجرونه او ثوابونه دي۔ یعني چه مؤمن پاکه صدقه کوي که لږه وي او که ډیره خو الله به ورته دوچنده اجرونه ورکوي ځکه چه نیت ئې خالص دې۔ (قاسمی بتغیر یسیر)۔
﴿ فَأٰتَتْ أُكُلَهَا ﴾ په پیښې د همزه او کاف سره او سکون د کاف هم پکښې جائز دې۔ اصل کښې هر هغه شي ته وئیلې شي چه خوړلې شي، لیکن بیا په میوو د ونو کښې مشهور شویدې۔ (ابن عاشورؒ)۔
﴿ ضِعْفَيْنِ ﴾ ددې یوه معنیٰ دا وي چه په کال کښې دوه ځل میوې ورکړي لکه د انس بن مالك رضی الله عنه باغ به کال کښې دوه ځل میوې کولې، د هغهٔ د کرامت او د نبي کریم ﷺ د دعا په برکت سره۔ یا دوچنده دا چه یو کال ئې یو خروار اُوکړل او په بل کال ئې دوه خرواره اُوکړل۔
نو الله رب العزت به ددې سړي صدقه دغه شان قبوله کړي ځکه دا ډیره اُوچته صدقه ده، دوچنده ثواب به ورکړي۔
(ضعفین) ضِعف خپله دوچند ته وائي، خو تثنیه ئې ذکر کړه دپاره د تکرار۔ اشاره ده چه الله به

ورته بار بار ددے صدقے په ډیرو چندونو اجر ورکوی. دا خو انفاق ته ډیر عجیب ترغیب دے !!.

﴿ فَإِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ ﴾ : یعنی ډیره صدقه ورنکړی نو طل شبنم (پرخه) هم ورله کافی ده ځکه چه دهٔ کښې اخلاص دے او د اخلاص د وجه نه معمولی صدقه هم د جنت دپاره کافی ده.

﴿ فَطَلٌّ ﴾ دا مبتداء ده خبر ئے پټ دے (ای فَطَلٌّ يَكْفِيهِ فِيْ اِيْتَاءِ الضِّعْفَيْنِ) . یعنی په دوچنده میوو ورکولو کښې ورله شبنم او پرخه هم کافی ده.

طل پرخے او شبنم او معمولی باران ته وائی چه د شپے کیږی.

ددے دوه مطلبه دی (۱) یو دا چه که څوك ډیر مال لګوی او په ډیر اخلاص او تثبت سره ئے لګوی نو هغه ته به دوچنده (یعنی زیات) اجر ملاویږی. او که څوك لږ مال د الله د رضا دپاره ورکوی یا ئے په اخلاص او توجه او محبت کښې کمے وی نو هغه ته به د مخکنی شخص په نسبت کم ملاویږی لیکن دا به هم نا امیده نهٔ وی بلکه دا به هم ددهٔ دپاره کافی شی. اګرکه د مخکنی شخص په شان به نهٔ وی. نو د انفاق لوئی اجر دے او پدے کښې تفاوت دے په اعتبار د تفاوت د مقدار د اخلاص او تثبیت سره لکه څنګه چه په حالت د باغ کښې تفاوت دے په اعتبار د تفاوت د تیز او کمزوری باران سره. (ابن عاشور).

نو اولنے شخص د ابرارو نه دے او دویم د مقتصدینو نه دے.

(۲) دویم دا چه دواړو کښې اخلاص دے د دواړو ډبل او زیات اجر دے. ځکه چه دویم شخص هم د خپل وسع مطابق صدقه کړیده نو هغه هم الله نهٔ ضائع کوی. لکه چه مخکښې بیان شو.

نو معلومه شوه چه صدقه ورکول به د ټولو مؤمنانو صفت وی، که غریب وی او که مالداره. دا ډیر عجیب آیت دے، داسے جامع الفاظ الله تعالیٰ وئیلی دی چه ډیر مطلبونه په تدبر او فکر سره پکښې جوړیږی. (وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهٖ اِلَّا بِمَا شَآءَ).

﴿ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴾ پدے کښې ترغیب او یریے دواړو ته اشاره ده چه په انفاق او ټولو عملونو کښې نیتونه خالص کول پکار دی، الله تعالیٰ ئے وینی.

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّأَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ
آیا خوښوی یو کس په تاسو کښې چه وی هغه له باغ د کجورو او د انګورونه چه بهیږی لاندے د هغے نه نهرونه،
لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَأَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ
هغه دپاره په هغے کښې وی د هرقسم میوو نه او رسیدلے وی هغهٔ ته بوډاوالے او د هغه دپاره بچی وی کمزوری

فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ
نو اُورسی هغے ته تیزه هواء چه په هغے کښې اُور وی نو اُوسوزوی هغه باغ لره دغه شان بیانوی الله تعالیٰ
لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿۲۶۶﴾
ستاسو دپاره آیتونه (مثالونه) دے دپاره چه فکر اُوکړئ۔

تفسير: اُوس یو بل مثال راوړی چه عجیب مثال دے۔ عرب چه مثال ذکر کوی نو لفظ د مِثْلُ یا شِبْهُ یا نَحْوُ یا کاف راوړی او دا د مثال د الفاظو د صراحةً ذکر کولو نه بغیر مثال دے۔

(۱) دا یا مثال د ریاکار د صدقے او د عمل دے چه په خپلو عملونو ریاکاری کوی، نو الله تعالیٰ به ئے د قیامت په ورځ هلاك کړی په داسے حالت کښې چه دا به ورته ډیر سخت محتاج وی۔ لکه د هغه سړی په شان چه د هغه باغ وی او ددهٔ اولاد وی چه ددهٔ ته فائده نشی ورکولے او خپله هم بوډا شوے وی او ددهٔ باغ ته تیزه سیلئ اُورسیړی چه په هغے کښې اُور وی نو باغ ورله اُوسوزوی نو په داسے حالت کښې باغ لاړو چه دا ورته ډیر محتاج وو۔

دا قول قرطبیؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړے۔ او سُدّیؒ وائی: دا د ریاء والا نفقے بل مثال دے او دا قول ابن جریر الطبریؒ غوره کړیدے۔ (قرطبیؒ)۔

(۲) بعض وائی: دا د سوء الخاتمے (د خاتمے د خرابیدو) مثال دے چه ددے تفصیل په حدیث کښې داسے راغلے دے۔ عبید بن عمیرؒ فرمائی: عمر بن الخطاب ﷺ یوه ورځ د رسول الله ﷺ ملګروته (د امتحان اخستو په طور) اُووئیل: ددے آیت (اَيَوَدُّ) په باره کښې ستاسو څه رائے ده؟ چه دا د چا په باره کښې نازل دے؟ هغوی اُووئیل: الله بنهٔ پوهه دے۔ نو عمرؓ غصه شو او وے وئیل چه داسے اُووایئ چه یا پوهیږو یا نه۔ نو ابن عباسؓ اُوفرمایل: اے امیر المؤمنین! زما په زړهٔ کښې ددے په باره کښې څهٔ شے شته۔ عمرؓ اُوفرمایل: اے ورارهٔ وایه! او خپل ځان سپك مهٔ ګڼره!۔ ابن عباسؓ اُووئیل: دا مثال د عمل دے۔ عمرؓ اُوفرمایل: کوم عمل؟ ابن عباسؓ اُوفرمایل:

[لِرَجُلٍ غَنِيٍّ يَعْمَلُ بِطَاعَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ، ثُمَّ بَعَثَ اللّٰهُ لَهُ الشَّيْطَانَ فَعَمِلَ بِالْمَعَاصِيْ حَتّٰى اَغْرَقَ اَعْمَالَهٗ]۔

(د هغه مالدار سړی مثال دے چه د الله په طاعاتو عمل کوی (یعنی صدقے او نیك کارونه کوی) نو په آخره کښې ورته الله تعالیٰ شیطان مقرر کړی نو د هغه د وسوسو په وجه په ګناهونو شروع اُوکړی تردے چه ددهٔ عملونه ټول غرق کړی)۔ (بخاری کتاب التفسیر:۶۵)۔

په روایت د ابن جریرؒ کښې عطاءؒ د ابن عباسؓ نه داسے معنیٰ نقل کړیده:

[اَیَوَدُّ اَحَدُکُمْ اَنْ یَّعْمَلَ عُمُرَہٗ بِعَمَلِ الْخَیْرِ حَتّٰی اِذَا کَانَ حِیْنَ فَنِیَ عُمُرُہٗ خَتَمَ ذٰلِكَ بِعَمَلِ اَهْلِ الشَّقَاءِ فَاَفْسَدَ ذٰلِكَ فَاَحْرَقَهٗ] ـ یعنی یو تن په ټول عمل کښې نیك کارونه کوی تردے چه کله ئے عمر په ختمیدو شی، نو په آخره کښې د بد بختو خلقو عملونه شروع کړی، نو مخکنی ټول عملونه خراب او برباد کړی)۔ حاصل دا چه دا د هغه کسانو مثال دے چه اول کښې نیك عملونه کوی او صدقے ورکوی، خو آخر کښې پرے امتحان راشی او د شیطان د وجے نه ګناهونه شروع کړی او خاتمه ئے (العیاذ بالله) خرابه شی۔

چه **تفصیل** ئے داسے دے یو سړے دے د هغه یو باغ دے چه دوه قسمه میوه پکښې کیږی کجورے او انګور، او په هغے کښې نهرونه روان وی، او ددے باغ نه ورته نور قسم میوه جات او آمدنئ هم ملاوېږی او دا خپله د بوډا والی په حالت کښې وی، او ددهٔ بچی وی لیکن هغه داسے کمزوری (ماشومان) وی چه ددهٔ هیڅ قسم مدد نشی کولے، بلکه دهٔ ته محتاج وی او ددے خلقو بل هیڅ قسمه آمدنی نهٔ وی سِویٰ ددے باغ نه، نو پدے حالت کښې دا ژوند تیروی چه ناڅاپه ددهٔ په باغ باندے تیزه سیلئ راوالوزی چه په هغے کښې اُور وی او ددهٔ باغ اُوسوزوی۔ بل طرف ته د آمدنئ بندوبست ئے هم نشته۔ داسے څهٔ ورسره نشته چه دا باغ دوباره اُوکړی، او په بچو کښې ئے هم څهٔ خیر نهٔ وی چه ددهٔ سره مدد اُوکړی، بلکه هغه اُلټه دهٔ ته محتاج دی۔

نو د داسے سړی به څهٔ حال وی؟ دا به څومره پریشانه وی؟ چه په ډیر محتاج حالت کښې ترے دغه مزیدار باغ لاړو، نو د هلاکت نه سِویٰ به ددهٔ نور څهٔ پاتے وی؟۔

نو دغه شان یو انسان دے چه مالداره دے هر قسم مالونه ورسره دی او هغه د الله په لاره کښې او په طاعاتو کښې خرچ کوی، او لکه څنګه چه ددهٔ باغ دوه قسمه دے نو ددهٔ صدقات او انفاق هم دوه قسمه دے، نفلی او فرضی۔ او لکه څنګه چه دے باغ کښې چینے او نهرونه روان دی، نو ددهٔ دا صدقات هم دغه شان جاری وی، او لکه څنګه چه ددهٔ نور ثمرات او آمدنئ شته، نو دغه شان ددے شخص نور طاعات او د خیر کارونه او بدنی او مالی نیك اعمال هم شته لیکن دا د بوډا والی په حالت کښې دے چه نور کسب هم نشی کولے یعنی د شیطان د وسوسو په وجه ددهٔ په عقیده او نیت کښې ضعف راغلو، ایمان او نیك اعمال ئے پریخودل۔ او په قیامت کښې د نیك عمل کولو نه هم عاجز شو۔

او دا خپله هم داسے څه نهٔ مونده کوی چه باغ پرے بیرته برابر کړی، نو دغه شان دا به په قیامت کښې د نورو اعمالو د کولو طاقت نهٔ لری او بل څوك ددهٔ مدد هم نشی کولے بلکه اُلټه د هغوی حقوق په دهٔ پورے دی، څکه چه دهٔ پرے ظلم کړیدے لکه کمزوری بچی چه دهٔ ته محتاج وو، په

دهٔ باندے د هغوی نفقه لازمه وه۔

او لکه څنګه چه په باغ باندے سیلئ راوالوتله نو دغه شان ددهٔ په انفاق کښې ریاء او مَنّ او اذی راغلل، او په نورو اعمالو کښې ئے رسمونه رواجونه او بدعات او بدنیتیانے پیدا شوے چه په هغے سره ددهٔ ټول طاعات او عبادات او صدقات اُوسوزیدل، او لکه څنګه چه په دے سیلئ کښې اُور دے نو دغه شان ددهٔ په دے اعمالو کښې کفر او شرك هم پیدا شو چه په هغے سره ددهٔ اعمال ټول اُوسوزیدل، نو په دغه شان محتاج حالت کښې دا پاتے شو۔

نو کله چه قبر او قیامت ته لاړ شی نو ددهٔ ټول اعمال به برباد وی، هیڅوك به ئے مددګار نهٔ وی څکه چه ددهٔ آخره خاتمه خرابه شوه۔ عبادات ئے برباد شول۔ نو د افسوسونو نه سِویٰ دهٔ ته هیڅ پاتے نشو۔نو الله تعالیٰ مونږ ته دعوت راکوی چه آیا ستاسو داسے حالت خوښ دے؟، نو پدے کښې ډیره یَره پرته ده چه اے بندګانو ! خپل عملونه په ګناهونو مهٔ بربادوئ، خاتمه به مو خرابه شی، د قیامت په ورځ به د خپلو اعمالو نه هیڅ فائده تاسو ته نهٔ رسی۔د خپلو عملونو به انتهائی خیال ساتی او وخت په وخت به د الله نه مدد غواړی چه الله پرے امتحان رانهٔ ولی چه د هغے په سبب دا په ګمراهئ کښې واقع نشی، هسے نهٔ چه توله خواری ئے ضائع شی او په صدقاتو کښې به د ریاء او من او اذی نه ځان ساتی۔ (الوسیط للسید طنطاوی)

(۳) بعض وائی دا د منافق او کافر مثال دے چه په دنیا کښې ددهٔ داسے ښائسته اعمال وی لکه د دغه باغ په شان، چه دا ترے فائدے اخلی خو کله چه دا کمزورے شی، او ددهٔ اولاد هم کمزوری وی نو په دغسے حالت کښې پرے داسے سیلئ راشی چه په هغے کښې اُور وی او ددهٔ باغ هلاك کړی، نو د اولادو دپاره هم څهٔ نهٔ مونده کوی، او اولاد دهٔ ته فائده نشی ورکولے، نو دا عاجز او حیران پاتے شی چه هیڅ چل نهٔ ورځی۔

نو دغه شان حالت د هغه چا دے چه د قیامت په ورځ ډیر ښائسته اعمال راوړی، لیکن د الله رضا ئے پکښې نهٔ وی قصد کړی نو الله تعالیٰ ئے برباد کړی، او حال دا چه دا ورته په دغه حالت کښې ډیر محتاج دے څکه چه اُوس خو توبه هم نهٔ قبلیږی او نهٔ بیرته اعمالو کولو ته موقعه ملاویږی۔

(تفسیر الخازن ١/٢٩٦ ومعالم التنزیل للبغوی ١/٣٢٩ و المحرر الوجیز لابن عطیة (١/٣٣٠)

(٤) حسن بصریؒ وائی : [هٰذَا مَثَلٌ قَلَّ (وَاللهِ) مَنْ يَعْقِلُهُ مِنَ النَّاسِ. شَيْخٌ كَبِيْرٌ ضَعُفَ جِسْمُهُ وَكَثُرَ صِبْيَانُهُ أَفْقَرَ مَا كَانَ إِلَى جَنَّتِهِ وَإِنَّ أَحَدَكُمْ وَاللهِ – أَفْقَرَ مَا يَكُوْنُ إِلَى عَمَلِهِ إِذَا انْقَطَعَتْ عَنْهُ الدُّنْيَا]

(التفسير القيم لابن القيم ١/٢٦٧)

قسم په الله دا یو داسے (مزیدار) مثال دے چه ډیر کم خلق پرے پو هیږی، یو بوډا دے چه بدن ئے

کمزورے دے، ماشومان ئے زیات دی، او خپل باغ ته زیات محتاج دے، نو دغه شان کله چه یو انسان د دنیا نه رخصتیږی (مری) نو په حالت د مرګ کښې به د ضعیف شیخ په شان وی چه د نیك اعمالو ارمان به کوی، نیك عمل ته به ئے ډیر سخت ضرورت وی (په قبر کښې به د یو سبحان الله وئیلو پسے ارمان کوی) لیکن د مرګ په راتلو سره به ددهٔ اعمال منقطع شی۔

لکه حدیث کښې هم دی چه هر انسان چه مری (نیك وی او که بد) هغه پښیمانه کیږی۔ بد عمله وائی: ولے مے توبه نهٔ ویستله او نیك عمله وائی چه ولے مے زیات نیك اعمال نکول۔

(ترمذی ۲٤۰۳ -بسند فیه مقال یحیٰی بن عبید الله بن موهب ضعیف، ضعیف الجامع الصغیر ۱۱۹۲۹)

د قیامت په ورځ به انبیاء کرام علیهم السلام هم خپل عملونه کم ګنړی۔

نو فرمائی چه زر زر عملونه اُوکړئ او ځان له ددے باغ نه جمع اُوکړئ (دنیا کښې نیك کارونه اُوکړئ) ځان له ئے اُوساتئ که باغ اُوسوزیدلو (مرګ راغلو) نو هغه جمع به درله کار درکوی۔ لکه داسے صدقه جاریه پریدئ، مخکښې نه ځان له ګټه اُوکړئ چه د مرګ نه روستو ستاسو په کار راشی، او تاسو پسے د هغے اجر روان وی۔ نو دا ډیر ښائسته مثال دے۔

علامه ماوردیؒ او ابن الجوزیؒ وئیلی دی چه دا مطلب د امام مجاهدؒ نه (هم) نقل دے۔

[هُوَ مَثَلٌ لِلْمُفَرِّطِ فِیْ طَاعَةِ اللهِ لِمَلَاذِ الدُّنْیَا یَحْصِلُ فِی الآخِرَةِ عَلَی الْحَسْرَةِ الْعُظْمیٰ]

(النکت والعیون ۱/۱۹۹ وزاد المسیر لابن الجوزی ۱/۳۲۱)

دا مثال د هغه شخص دے چه د الله په عبادتونو او نیکو عملونو کښې د دنیا د مزو دپاره کوتاهی کوی، لیکن په آخرت کښې به په لوئی افسوسونو ورواوړی لکه د دغه بوډا په شان)۔

فائده: ددے آیت نه معلومه شوه چه انسان به په خپله خاتمه یَره کوی، او په خپل عمل کښې به ریاء او فخر او عُجب به نهٔ کوی ځکه پته نهٔ لګی چه انجام څنګه کیږی او په چا به دا یقینی فیصله نشی کولے چه دا جهنمی یا جنتی دے، ځکه چه دارومدار خاتمے له دے۔

فائده: بیا دا خبره زدهٔ کړهٔ چه الله تعالیٰ د انسان عمل نهٔ ضائع کوی کله چه عمل په اخلاص سره اُوشی، بلکه د ایمان والو په اعمالو کښې الله تعالیٰ وخت په وخت ترقی پیدا کوی، لیکن دے انسان چهٔ اوله کښې نیك اعمال کول، او آخره کښې ګمراه شو، نو ددے وجه په حدیث کښې راغلے ده، هغه دا چه دا به دا نیك اعمال کوی خو [فِیْمَا یَبْدُوْ لِلنَّاسِ] یعنی خلقو ته په ظاهره کښې نیك عمل ښکاره کیږی او په مینځ کښې به ئے مرضونه وی۔ نو عمل ئے ناجوړه دے، اول نه الله ته قبول نهٔ دے لکه د [وَاَصَابَهُ الْکِبَرُ] د اشارے نه هم معلومیږی۔

فائده: ددے نه معلومه شوه چه د خپل ځان نه روستو صدقه جاریه پریخودل پکار دی دے

دپاره چه په ډير محتاج حالت كښ (په آخرت كښ) ئے پكار راشي۔

﴿أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ﴾ همزه د استفهام انكارى دپاره ده يعنى هيچا ته دا راتلونكے حالت خوښ نۀ دے۔

﴿أَنْ تَكُوْنَ لَهُ جَنَّةٌ﴾ جـنـة اسم جنس دے، هغه باغ ته وئيلے شي چه دكجورے او انگورونے پكښ ډيرے وي۔

﴿نَخِيلٍ وَأَعْنَابٍ﴾ حـافـظ ابـن الـقـيـمؒ فرمائى: كجورے او انگور ئے خاص كړل ځكه چه دا دواړه اشرف او ډيرے فائدو والا دى، دواړو كښ غذاء، دوائى، شربت، ميوه جوړيدل، خوړوالے، ترش والے شتـه۔ او دواړه لامـده او اُوچ خوړلے شي۔او دواړه د يـو بـل مقابل دى، انگور په نرمه او معتدله زمكه كښ كيږى او كجورے په سختـه او گرمه زمكه كښ۔ نو هركله چه دا ډيرو صفاتو والا دى نـوكـوم بـاغ كښ چه دا دواړه وى، هغه به هم غوره وى۔ او ورسره لاندے ترے نهرونه هم روان وى نو دا باغ به ډير قدر والا وى او ډير كمال به پكښ وى۔

﴿لَهُ فِيهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ﴾ او هـر قـسـم مـيـوه جـاتـو تـه چه د انسان شوق كيږى هغه هم پكښ مـوجـود وى اگـركـه اصـلـى او مقصدى ميوه ئے كجورے او انگور دى۔ نو دا منافات نشتـه چه دا بـاغ د كـجـورو او انـگـورو هـم دے او نـور مـيـوه جات هم پكښ دى۔ لكه دغه شان خبره په سورة الكهف كښ هم مراد ده (وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ)۔ (التفسير القيم لابن القيم ۱/ ۲۷۰)

ثـمـرات ميوه جـاتـو تـه وائـى۔ بـعـض علماء فرمائى چه دلته د ثمرات نه مراد بعينهٖ همدغه نـخـيـل او اعـنـاب دى۔ او نور ميوه جات نۀ دى مراد، ځكه چه دغه باغ كښ صرف دوه قسمه ونے دى۔ نـو دلتـه بـه د ثـمـرات نـه مراد منافع وى۔ يعنى ددے نه به ورته ډيرے فائدے حاصليدے۔ او بـعـض وائى چه دا زياتى ميوه جات مراد دى لكه د حافظ ابن قيمؒ د عبارت نه معلومه شوه نو دا ذكر د عام دے پس د خاص نه۔

﴿وَأَصَابَهُ الْكِبَرُ﴾ كِبَر هـغـه بـوډاوالے دے چه د ډير عمر په تيريدو سره په بدن كښ كمزورتيا هم راغـلـى وى۔ چه بيا د كاروبار كولو نۀ وى۔ دے كښ اشاره ده چه ددے انسان په عمل كښ ضعف او كـمـزورتيا راغـلے ده، خـلـقـو ته ئے اعمال نيك ښكارى، ليكن په مينځ كښ كمزورى دى۔ په بـوډاوالـى كښ انسان رزق ته ډير محتاج وى او ډير فكر ئے لرى پدے وجه نبى كريم ﷺ به داسے دعا كوله۔[اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ اَوْسَعَ رِزْقِكَ عَلَىَّ عِنْدَ كِبَرِ سِنِّىْ وَانْقِطَاعِ عُمُرِىْ]

[الصحيحة ۱۵۳/۹) وصحيح الجامع (۱/ ۳۹۶) ومجمع الزوائد (۱۰/ ۱۶۰)۔

﴿وَلَهُ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَاءُ﴾ خـپـلـه خو به د لوړے نه مر شي، دومره خبره به نۀ وى، ليكن د بچو غم ډير گران وى، دا لويه پريشانى ده۔

﴿فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ﴾ اِعْصَار په اصل کښې يو شے نچوړ کولو ته وئيلے شي، بيا په عرف کښې هغه تيزے سيلۍ ته وائي چه د زمکے نه آسمان طرفته د ګول ستنې په شان پورته کيږي، او تاوېږي نو دا د ځان سره هر شے تاووي۔ په عربي کښې دے ته (زُوْبَعَه) هم وائي۔ بعض وائي : دا وريځے نچوړ کوي۔

﴿فِيهِ نَارٌ﴾ يعني پدے سيلۍ کښې د اُور تندرونه وي۔

﴿فَاحْتَرَقَتْ﴾ (پس دا باغ اُوسوزي) يعني پدے هواء او تندر سره ددے باغ پاڼړے او ميوے ګوزار شي او څانګے او جرړے ئے اُوچے شي۔ نو دا انسان به د غم په کوم عالَم کښې وي ؟! لږ تصور خو اُوکړۀ۔ پدے وجه روستو په فکر کولو باندے حکم کوي۔

بيا دا باغ سوزيدل ددے انسان د ګناهونو په وجه اُوشو چه دۀ به پدے باغ کښې صدقه نۀ کوله، او نيك کارونه به ئے نۀ کول لکه په سورة القلم کښې واقعه د باغ والو ذکر ده، په هغے کښې به هغوی د مسکين حق نۀ ادا کولو، نو الله پرے دغه شان عذاب راوستو۔

او په يو حديث کښې دي چه يو سړي د يو باغ په باره کښې د وريځے نه غيبي آواز واوريدو چه د فلاني باغ خړوبه کړۀ نو وريځ راغله او صرف يو باغ ئے خړوبه کړو نو کوم سړي چه دغه آواز آوريدلے وو، د باغ مالك ته راغلو او د هغه نه ئے د باغ متعلق تپوس اُوکړو چه تۀ پدے باغ کښې څه کوے، چه صرف ستا په باغ باران اُوشو نۀ د نور چا ؟۔ هغه اُووئيل چه زۀ يوه برخه ځانله اخلم، او دويمه په مسکينانو تقسيموم او دريمه بيرته په باغ لګوم۔

(صحيح مسلم ٧٦٦٤)

نو د نيك اعمالو او صدقاتو په وجه د باغ او مال حفاظت کيږي۔

﴿كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ﴾ فکر اُوکړئ چه تاسو له څۀ کول پکار دي، او دا زندګي خو لږه او ختميدو والا ده، دے کښې کار پکار دے۔ او په تفکر (سوچ) کولو باندے حکم کوي څکه چه دا مثال دے او په ظاهر کښې په کښې الفاظ د مثال نشته۔ او پدے کښې اشاره ده چه د قرآن د آيتونو نه زياته فائده هله حاصلولے شي چه انسان کښې د فکر ماده پيدا شي۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم
اے ايمان والو! خرچ کړئ د پاك هغه مالونو نه چه تاسو ګټلي دي او د هغه نه چه مونږ راويستلي دي تاسو لره
مِّنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ
د زمکے نه او قصد مۀ کوئ د ردي د دغه مال نه چه تاسو خرچ کړئ هغه حال دا چه نۀ يئ تاسو اخستونکي هغے لره

إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿۲۶۷﴾

(په خپل حق کښې) مګر که سترګې پټې کړئ په هغې کښې او پوهه شئ چه يقيناً الله بے حاجته دے، ستائيلے شوے دے۔

تفسير: پدے آيت کښې امر دے په انفاق کولو او د انفاق دوه قسمه بيانوي، يو انفاق د هغه مالونو نه چه د زمکے (فصلونو) نه راوتي وي۔ چه دا د زمکے عُشر او زکوٰة ته شاملېږي۔

او دويم د تجارت د مالونو نه انفاق دے۔ چه دے کښې نفلي صدقات او فرضي زکاة داخل دے۔ او امر دے چه انفاق به د جيّد (مزيدار) مال نه کولے شي، او ردي به نشي ورکولے۔

ربط: ○ مخکښې انفاق ته ترغيبات وو، او د هغې شرطونه او مثالونه ئے ذکر کړل، اُوس د انفاق اقسام ذکر کوي۔

○ مخکښې د انفاق د قبوليت دپاره شرطونه ذکر شول، اُوس د انفاق د مال دپاره شرط ذکر کوي چه هغه به پاك او حلال مال وي۔ يعني مَن او اذى به هم پکښې نهٔ کوئ او مال به هم حلال وي۔

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا﴾ دا امر د انفاق نفلي او فرضي دواړو ته شامل دے، ليکن ظاهر دا ده چه دلته نفلي صدقاتو باندے حکم دے لکه د آيتونو د سياق نه معلومېږي چه زکوٰة او عُشر دلته نهٔ بيانوي۔ دويم دا چه د شان نزول نه معلومېږي۔ روستو راځي۔

د (أَنْفِقُوا) مفعول نهٔ دے ذکر۔ بعض وائي: مِنْ د تبعيض دپاره دے، او مجرور د مِنْ ئے مفعول دے۔ اَیْ أَنْفِقُوا بَعْضَ مَا رَزَقْنَاكُمْ۔ (خرچ کړئ بعض هغه مالونه چه ما درکړيدي)۔

بعض وائي: مفعول ئے پټ دے۔اَیْ أَنْفِقُوا شَيْئًا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ۔ (خرچ کړئ څه شے د مالونونه)۔ (اللباب)۔

﴿مِنْ طَيِّبَاتِ﴾ د طيبات تشريح مخکښې ذکر شويده چه صفت د حلال والي پکښې وي او ورسره کرهٔ او غوره شے وي۔ ځکه چه د حرام مال نه صدقه کول هيڅ ثواب نهٔ لري۔ بلکه هغه برباد دے داسے دے لکه په بے اَودسۍ سره مونځ کول۔ او هرچه حلال مال دے نو حديث مخکښې تير شويدے په آيت (۲۶۱) کښې چه يوه کجوره الله تعالىٰ دومره زياتوي لکه د غر هومره۔

﴿مَا كَسَبْتُمْ﴾ ما موصوله ده [اَیِ الَّذِیْ کَسَبْتُمُوْهُ]۔ هغه مال چه تاسو ګټلے دے۔ يا ما مصدريه ده يعني د پاك کسب نه۔ او کسب په معنیٰ د مکسوب دے (يعني ګټلے شوے مال)۔

فائده: د آيت نه معلومه شوه چه په خپل لاس مال ګټل بهتر کار دے۔ لکه حديث کښې هم دي [مَا اَكَلَ اَحَدٌ طَعَامًا خَيْرًا مِنْ اَنْ يَّأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهٖ] (بخاري)۔

د هغه چا طعام غوره دے چه د خپل لاس د ګټے نه ئے اُوخوري۔

﴿وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ﴾

فائده : دا آیت فقهاء کرامو ددے دپاره ذکر کرے چه هر څه چه د زمکے نه راوځی نو په هغے کښ عُشر (لسمه حصه زکاة) لازم دے۔ او که په کومه زمکه خرچه کیږی، نو نصف عشر (یعنی شلمه حصه) به ورکوی۔ او بیا په هر قلیل او کثیر کښ عشر لازم گنړی۔

وائی چه دلته مَا لفظ عام دے، لږ وی او که ډیر، خو بس عشر یا نصف عشر پکښ لازم دے۔ جمهور علماۤء وائی چه دا آیت د نفلی صدقاتو په باره کښ دے۔

او ددے آیتونو تفصیل نبی ﷺ بیان کړے چه عُشر په هرڅه کښ نۀ وی لازم، بلکه عُشر صرف په څلور څیزونو کښ لازم دے۔ معاذ بن جبل او ابو موسی اشعری رضی الله عنهما چه کله نبی ﷺ یمن ته لیږل نو هغوی ته ئے اُوفرمایل :

[لَا تَأْخُذَا الصَّدَقَةَ اِلَّا مِنْ هٰذِهِ الْاَرْبَعَةِ : الشَّعِيْرِ وَالْحِنْطَةِ وَالزَّبِيْبِ وَالتَّمْرِ]

(حاکم ۱/۱ ۰ ٤ وَصَحَّحَهُ وَوَافَقَهُ الذَّهَبِيُّ وَالزَّيْلَعِيُّ فِيْ نَصْبِ الرَّايَةِ (۲/۳۸۹) [ارواء الغليل۳/۳۷٦رقم ۸۰]۔

(تاسو به زکاة صرف د اُوربشو، غنمو، اُوځکو (کِشمش) او کجورو اخلئ)۔

معلومه شوه چه ددے نه علاوه څیزونو کښ عُشر لازم نۀ دے او همدا غوره قول دے۔

بیا په احادیثو کښ ددے دپاره بل شرط هم راغلے دے او هغه دا چه دا به پنځه وسقو ته رسیدلی وی (یعنی تقریباً ۷۵۰ کیلو یا پنځلس منه)۔ که ددے نه کم وی، نو په هغے کښ هم عُشر او زکاة نشته۔ د صحیحینو په حدیث کښ دی :[لَيْسَ فِيْمَا دُوْنَ خَمْسَةِ اَوْسُقٍ صَدَقَةٌ]

(د پنځه وسقو نه په کم کښ زکاة نشته) یو وسق شپیته صاعه دے او یو صاع دوه کلو دوه سوه گرامه دے۔ او ددے تفصیل په فتاوی الدین الخالص (۸/۱٦۵) کښ اُوگوره۔ او دا مذهب د حسن بصریؒ، حسن بن صالحؒ، سفیان الثوریؒ، عامر الشعبیؒ، ابن ابی لیلیٰ، عبد الله بن المبارکؒ او ابراهیم النخعیؒ دے۔ او همدا قول د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه نقل دے۔

لهذا تفسیر د قرآن به په احادیثو سره کولے شی۔ احادیث تخصیص د قرآن کولے شی، نبی ﷺ د قرآن د تشریح او تبیین دپاره راغلے وو۔ او اصول التفسیر کښ دا خبره بیان شویده چه د قرآن پو هه انسان ته هله حاصلیږی چه اول د قرآن تفسیر په قرآن سره اُوکړے شی، بیا په احادیثو سره اُوکړے شی۔ او داسے به نشی کولے چه انسان په خپله طبع د قرآن د آیت تشریح اُوکړی او احادیثو ته پکښ اعتبار ورنکړی۔

﴿ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ﴾ ردی مال به نۀ ورکوے بلکه ښۀ ورکړه۔

ردی او خوشے مال د الله په لاره کښ خرچ کول نۀ دی پکار، ځکه چه حدیث کښ راغلی دی چه الله طیب او پاك دے، او غوره او ښۀ مال قبلوی۔ (بخاری ومسلم)

پدې وجه الله تعالىٰ فرمائي چه خراب مال د الله په لاره كښې مهٔ خرچ كوئ، حال دا چه خپله ستاسو حال دا دے چه كه څوك ستا د قرض خلاصولو دپاره خراب مال دركړي، نو تهٔ هغهٔ د زړهٔ په خوشحالئ نهٔ قبلوے، بلكه ستركو پټولو سره په صورت د جبر او اكراه ئے قبلوے. او كه مجبوره نهٔ ئے نو بيا ئے نهٔ قبلوے.

شان نزول: د براء بن عازب ﷺ نه روايت دے چه دا آيت د انصارو په باره كښې نازل شوے وو. د كجورو د پخيدو په زمانه كښې به خلقو په مسجد نبوى كښې د دوه ستنو ترمينځ د كجورو يو غونچك زوړندولو، دے دپاره چه غريبان مهاجرين ئے اُوخوري.

بعض خلقو به په غونچكونو كښې د ردى كجورو غونچكونه ايخودل او دا گمان به ئے كولو چه داسے كول جائز دى. الله تعالىٰ هغوى ته خبردارے وركړو چه داسے كول جائز نهٔ دى. (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، حاكمؒ، بيهقیؒ). ...... د ابن ابى حاتمؒ او ترمذیؒ په روايت كښې ورسره دا راغلى دى چه ددے نه روستو به صحابه كرامؓ بهتر او غوره مالونه راوړل.

﴿ اَلْخَبِيْثَ ﴾ ددے نه مراد ردى او بيكاره مال دے.

بعض علماؤ وئيلى دى چه ددے نه مراد حرام مال دے چه د الله په لاره كښې حرام مهٔ خرچ كوئ. حافظ ابن كثيرؒ وائى چه اولنے قول صحيح دے. ځكه چه د (اِلَّا اَنْ تُغْمِضُوْا) نه معلوميږى. ځكه چه په حرام مال اخستو كښې خلق چشم پوشى نهٔ كوى. امام شوكانیؒ دواړه مراد كړيدى. يعنى د الله په لاره كښې مهٔ حرام مال خرچ كوئ او مهٔ ردى مال.

﴿ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ ﴾ مِنْ د روستو تُنْفِقُوْنَ پورے متعلق دے. او تُنْفِقُوْنَ جمله حال دے، او مقصد پكښې دا دے چه په خپل مال كښې گرځے چه كوم ردى وى هغه د انفاق دپاره راټولوے، نو دا كارمنع دے، او كه گډوډ مال (ردى او كرهٔ) دواړه قسمه په شريكه خيرات كوى، يا ټول مال ئے ردى وى او د هغے نه صدقه كوى نو دا منع نهٔ دے.

﴿ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ اِلَّا اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ﴾ اَىْ فِىْ حُقُوْقِكُمْ . يعنى كه بل څوك ئے دركوى، نو تهٔ ئے نهٔ اخلے، مگر كه ستركے پټے كړے چه سرى نه قرض نهٔ اصوليږى نو بس دا خراب مال به ترے واخلم ځكه چه نور ورسره نشته. نو اُوگوره د خپل ځان دپاره دغسے مال نهٔ غوره كوے او د الله دپاره ئے غوره كوے، دا څومره بے وفائى، بے رغبتى او بے محبتى ده !!.

﴿ تُغْمِضُوْا ﴾ اِغْمَاض په اصل كښې ستركو پټولو ته وائى يعنى چشم پوشى كول. دلته ترے نرمى او آسانى كول او چا سره خپه راخكل مراد دى.

﴿ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ غَنِىٌّ حَمِيْدٌ ﴾ غنى يعنى الله ستاسو د انفاق او صدقو نه بے حاجته دے، فائده ئے

تاسو ته راواپس کیږي۔ او بنده چه کله اِغماض (چشم پوشي) اُونکړي نو هغه بد گنړلے شي، او الله که اغماض اُونکړي نو هغه بیا هم ستائیلے شویدے، په هر حال کښې د هغهٔ صفت کیدے شي۔ نو بنده چه کله هم صدقه ورکړي، نو پدے دِے پو هه شي چه الله تعالیٰ غني دے، فراخه بدله ورکونکے دے، هیڅ ورسره کم نهٔ دي۔

حمید : یا په معنیٰ د فاعل سره دے یعني حَامِد۔ الله دپاره چه څوك نیك اعمال کوي نو الله د هغهٔ صفت کوي۔ او یا په معنیٰ د مفعول سره دے یعني مَحْمُوْد۔ یعني الله ستائیلے شویدے په هغهٔ انعاماتو چه په بنده گانو ئے کړیدي۔

الله تعالیٰ په علم امر اُوکړو، سَره ددے نه چه انسانانو ته د الله تعالیٰ دغه صفات ښکاره دي، پدے کښې د ردي مال په ورکړهٔ باندے زجر او رټنه ده، او اشاره ده چه څوك ردي او خبیث مال ورکوي نو هغه د الله تعالیٰ په عظمتِ شان باندے جاهل دے۔

الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً
شیطان یروي تاسو د فقر نه او امر کوي تاسو ته په بے حیایئ باندے او الله وعده کوي تاسو سره د بخښے
مِنْهُ وَفَضْلًا وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٦٨﴾
د خپل طرف نه او د مهربانئ او الله فراخه فضل والا دے، پو هه دے۔

تفسیر : پدے آیت کښې اَضْرَارُ تَرْكِ الْاِنْفَاقِ وَفَوَائِدُ الْاِنْفَاق) بیانیږي یعنی (د انفاق نهٔ کولو ضررونه او د انفاق کولو فائدے بیانیږي)۔ دارنگه په آیت کښې انفاق ته ترغیب دے، په طریقه د دعوت د الله تعالیٰ سره۔ او ځان ساتل د دعوت او وسوسے د شیطان نه۔

ددے وجه نه قرطبيؒ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړي، فرمائي : پدے آیت کښې دوه څیزونه د الله د طرف نه دي چه د مغفرت وعده او د فضل وعده۔ او دوه د شیطان د طرف نه دي (د فقر نه یرول او د فحشاء حکم کول) آه۔

نو عقل والو له پکار دي چه په انصاف سره د دواړو موازنه اُوکړي، او د شیطان چه لوئی دشمن دے د هغه د دعوت نه ځان اُوساتي، او د رحمٰن دعوت قبول کړي۔ او پدے کښې هم انفاق ته په عجیب انداز سره ترغیب دے۔

ربط : مخکښې ئے د غوره شي د انفاق ترغیب ورکړو، نو اُوس پدے باره کښې د شیطان د وسوسے نه یره ورکوي۔ او د الله وعده ورته یادوي۔ (قاسميؒ)۔

﴿الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ﴾

د شيطان نه مراد ابليس او د هغهٔ اولاد دی، او پدے کښ انسی شيطانان هم داخل دی چه هغه د شيطانانو ملگری وی۔

(يَعِدُكُمْ) يَـعِـدُ د وعـدے نه دے او وعده په خير او شر دواړو کښ استعماليږی، لکه دلته او سورة الفتح (٢٠) آيت کښ ﴿وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً﴾ او مثال د شر لکه په سورة الحج (٨٢) آيت ﴿اَلنَّارُ وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾۔ دلته هم وعده د شر او خير دواړو سره ذکر ده۔

بعض علماء فرمائی : وعده چه مطلق ذکر شی، نو په خير کښ استعماليږی، او چه کله ورسره قيد ذکر کيږی، نو کله به په خير سره مقيد کيږی او کله په شر سره لکه دا آيت شو۔ (فتح البيان)۔

خو دلته يَعِدُ په اول مقام کښ د وعيد نه دے، په معنیٰ د يره ولو سره او دويم ځائے کښ د وعدے نه دے۔

فائده : د شيطان مداخل (د راداخليدو ځايونه) دا دی چه انسان ته وسوسه واچوی چه خرچه مهٔ کوه فقير او غريب به شے۔ نو د لوئی خيرونو نه ئے منع کړی۔ او اکثرو طالبانو او ديندارو خلقو ته دا وسوسه اچوی چه علم او دين پريدهٔ، او خپل ځان له رزق پيدا کړه۔ ستا خو کور نشته، کاروکسب نشته۔ ددے علاج دا دے چه په الله توکل اُوکړه او تقوىٰ اختيار کړه نو الله به په آسانئ رزق درکوی۔ اُوسه پورے ئے د لوږے نه نهٔ ئے وژلے۔

د شيطان مداخل خليريشت قسمه وسوسے وی، يو په کښ د فقر نه يره ول دی۔ چه هغه زمونږ په کتاب «الحق الصريح (٢٦٨/١) باب الوسوسة» کښ تفصيلا ذکر شويدی۔

د شيطان په خلاف نبی ﷺ هم فرمائيلی دی : [فَوَاللّٰهِ لَا الْفَقْرَ اَخْشٰى عَلَيْكُمْ وَلٰكِنْ اَخْشٰى عَلَيْكُمْ اَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ ......الحديث] ...... [بخاری: ٢٩٨٨]۔

(قسم په الله ! زهٔ په تاسو باندے د فقر نه نهٔ يريږم، ليکن زهٔ يريږم چه په تاسو به دنيا داسے فراخه شی لکه څنګه چه په پخوانو خلقو فراخه شوے وه نو تاسو به ورسره داسے مينه اُوکړئ لکه څنګه چه هغوی ورسره مينه اُوکړه، نو داسے به مو هلاك کړی لکه څنګه ئے چه هغوی هلاك کړی وو)۔

ددے نه معلومه شوه چه کوم انسان کښ بخل راغلو، نو دهٔ کښ به د دنيا او د آخرت هر شر راجمع کيږی، ددے سره به ئے په دنيا حرص پيدا کيږی، بيا به ئے د مسلمانانو سره حسد پيدا کيږی، او بيا به د مسلمانانو خلاف شرونه راپيدا کوی، او په انفاق سره د انسان سينه کولاويږی، او هر خير ورته آسانيږی۔

الفقر : اصل کښ د فَقَارُ الظَّهر نه اخستے شويدے د ملا هډوکی ته وائی۔ او بيا په معنیٰ د غريبئ سره استعماليږی گويا کښ د فقير ملا هم ماته وی۔ ځکه چه مال ورسره نهٔ وی۔

﴿ وَيَأْمُرُكُمْ ﴾ دا امر په طريقه د وسوسے دے، او امرئے ذكر كرو، اشاره ده چه هغه داسے قوى وسوسه اچوى چه په نفسونو كښ اثر كوى لكه څنګه چه د آمِر اَمر په مامور كښ اثر كوى.

﴿ بِالْفَحْشَاءِ ﴾ : (۱) د فحشاء نه مراد يا بخل دے. كلبیؒ وئيلى دى چه فحشاء په قرآن كښ په معنىٰ د بے حيائى دے خو صرف دلته ترے بخل مراد دے.

او عربى ژبه كښ فاحش بخيل ته وئيلے شى. او ددے تفسير د صحت وجه هم شته، او هغه دا چه هر اخلاقو كښ دوه طرفه وى، يو كامل طرف او بل ادنىٰ او افحش طرف،

نو كامل طرف دا دے چه انسان د الله په لاره كښ ټول مال اُولګوى.

او افحش طرف ئے دا دے چه هيڅ شے اُونۀ لګوى، نۀ جيد او نۀ ردى.

او درميانه دا دے چه جيد باندے بخل اُوكړى او ردى اُولګوى، نو شيطان چه كله اراده اُوكړى چه انسان د افضل نه افحش ته نقل كړى نو چا باندے چه د هغه وسوسه او حيله پته شى، نو هغه درميانه ته راكاږى او هغه دا چه په فقر باندے ئے اُويروى، بيا ئے د هغے نه افحش طرف ته راكاږى چه هغه امر په فحشاء (بخل) دے. څكه چه بخل د هر چا په نيز بد صفت دے، نو شيطان د اول نه انسان لره هغے ته نشى راخكلے، بلكه د اول نه مقدمات پيدا كړى چه هغه د فقر نه يرول دى. نو كله چه انسان په دے كښ د شيطان خبره اُومنى نو پدے وسوسه كښ زيادت پيدا شى تردے چه هغه د انفاق نه بيخى منع كړى، نو په بخل كښ واقع شى. لهذا فقر مقدمه شوه او فحشاء يعنى بخل اصلى بد صفت شو. (تفسير النيسابورى ۱۴۶/۲)

ليكن ددے نه غوره تفسير دا دے چه فحشاء په معنىٰ د بے حيائى سره دے. او ددے وجه نه الله تعالىٰ د بخل لفظ ذكر نكړو. پدے كښ حكمت دا دے چه فحشاء هر قسمه بے حيائى ته شامليږى، نو بخل هم پكښ داخل دے. څكه چه كله انسان بخيل شى او مال جمع كړى، نو بيا ورته شيطان دا نۀ وائى چه بس دا پخپله خورۀ، بلكه دا وسوسه ورته اچوى چه دا مال په ګناهونو لګوه، ددے وجه نه چه څوك د الله په نوم باندے مال نۀ لګوى او انفاق والا نۀ وى نو د هغوى مال به په غلط ځائے كښ ضرور لګيږى.

ټى، وى، سى آر به اخلى، سنيماګانے به جوړوى، شراب به پرے څكى او زناګانے به كوى لكه عام مالدار خلق داسے اعمال كوى. په غلطو ځايونو كښ په كروړاؤ روپۍ لګوى، ليكن كه د الله دپاره زر روپۍ ترے اُوغوختے شى، يا د يوے مياشتے پورے قرض. نو بيا شل بهانے كوى. نو مالدارئ سره ضرور بے حيائى راځى. اُوګوره عام خلق چه بے حيائى كوى نو د مالدارئ د وجه نه. ابن قيمؒ وائى : [وَالْغِنٰى مِفْتَاحُ الزِّنَا]. مالدارى د زنا چابى ده. (حادى الارواح ص : ۴۹)

﴿ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ ﴾ دلته يَعِدُ په معنىٰ د وعدے سره دے۔

﴿ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَفَضْلًا ﴾ په مغفرت كښ معنىٰ د پټوالى ده، نو دلته [اَلسَّتْرُ عَلٰى عِبَادِهٖ فِى الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ] (په دنيا او آخرت كښ په بندګانو باندے پرده اچول) مراد دى۔ او د فضل نه مراد [اَلتَّوْسِعَةُ فِى الرِّزْقِ] (په رزق كښ فراخي وركول) دى۔

لكه حديث كښ دى : الله فرمائى : اے بنيادمه ! خرچ كوه زۀ به په تا خرچ كوم...... الحديث

(متفق عليه – معالم التنزيل للبغوى)۔

په يو بل روايت كښ دى : هره ورځ چه انسانان پګښ صبا كوى نو دوه ملائك آواز كوى يو وائى : [اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا] ۔ اے الله ! انفاق كونكى ته بدله وركړه او بل ملائك وائى : [اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا] (متفق عليه)۔ اے الله ! مال بند ساتونكى ته هلاكت وركړه)۔

نو معلومه شوه چه په انفاق سره الله تعالىٰ په مال كښ بركات او زياتوالے راولى، او د انسان ګناهونه معاف كيږى۔ او كوم انسان چه د ګناه نه توبه اُوباسى، نو هغه له مخكښ صدقه وركول پكار دى چه الله ئے ګناه معاف كړى۔

﴿وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴾ واسع دے په اعتبار د سخا، فضل او بخښے سره، يعنى دا څيزونه د الله فراخه دى۔ او پدے كښ اشاره ده چه الله د خپلے وعدے خلاف څكه نۀ كوى چه هغه سره هر څۀ ډير دى۔ او چا له ئے چه خپل فضل وركړے نو هغۀ ته د هغۀ ځائے معلوم دے او پدے كښ د هغۀ حكمتونه دى۔

يُؤْتِى الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ
وركوى پوهه د قرآن هغه چا ته چه اُوغواړى او چا له چه وركړے شوه پوهه د قرآن
فَقَدْ اُوْتِىَ خَيْرًا كَثِيْرًا وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۲۶۹﴾
نو يقيناً هغه له ډير خير وركړے شو او نصيحت نۀ اخلى مګر صفا عقلونو والا۔

تفسير : اُوس مينځ كښ قرآن كريم ته ترغيب وركوى، لكه دا د قرآن طريقه ده چه دنياوى خبرو سره زر دين طرفته بنده متوجه كوى، چه مالونه خو ښۀ شے دے، ليكن قرآن زده كړئ، پدے باندے ځان پوهه كړئ، دا ډير لوئى شے دے۔ دغه شان سورة يونس (۵۷) آيت كښ هم بيان شويدى (هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُوْنَ) مال خو ښۀ شے دے خو د قرآن نه ښۀ نۀ دے۔

مناسبت : (۱) مخكښ د شيطان او د رحمٰن وعدے ذكر شوے، نو اُوس ددے د تميز دپاره د

پیژندلو سبب پکار دے چه هغه حکمت دے۔ (رازیؒ،ابن عاشورؒ)۔

(۲) دویم دا چه مخکښې ئے د انفاق متعلق نصیحتونه او آداب ذکر کړل، او د اُوچتو اخلاقو تلقین ئے اُوکړو، نو اُوس وائی چه ددے کارونو په پوهه سره او عملی کولو سره انسان کښې حکمة راځی۔ (ابن عاشورؒ)۔

د حکمة معانی

﴿ يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ ﴾ د حکمة لفظ پوره تشریح مخکښې آیت (۱۲۹) کښې تیره شویده، دلته د حکمة نه مراد (۱) ضحاکؒ، ابوالعالیةؒ، نخعیؒ او مجاهدؒ وائی :

[اَلْقُرْآنُ الْعَظِيْمُ وَالْفَهْمُ فِيْهِ] قرآن کریم او د هغے پوهه ده۔

(۲) عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : په قرآن، او د هغے په اسرارو او رازونو باندے پوهه او په هغے باندے عمل کول دی۔

(۳) [اِتْقَانُ الْعِلْمِ وَالْعَمَلِ] ته وائی (ابن قتیبة)۔ (علم او عمل مضبوطول)۔

(٤) ابن عباسؓ فرمائی : اَلْحِكْمَةُ الْمَعْرِفَةُ بِالْقُرْآنِ نَاسِخِهِ وَمَنْسُوْخِهِ وَمُحْكَمِهِ وَمُتَشَابِهِهِ وَمُقَدَّمِهِ وَمُؤَخَّرِهِ وَحَلَالِهِ وَحَرَامِهِ وَاَمْثَالِهِ۔ (فتح البیان)۔

حکمة : د قرآن پوهے او د هغے ناسخ، منسوخ، محکم او متشابه، مخکښې نازل شوی او روستو نازل شوی او حلال او حرام او مثالونو پیژندلو ته حکمة وائی۔

(٥) ابوالدرداء ﷺ فرمائی : د قرآن قراءت او په هغے کښې فکر کولو ته وائی۔

(٦) بعض وائی : [اَلتَّفَكُّرُ فِيْ اَمْرِ اللهِ]۔ د الله په حکم کښې سوچ کول۔

(۷) [اَلْخَشْيَةُ] د الله نه یره کول۔ (ابوالعالیة ومطر الوراقؒ)۔

(۸) فقه فی الدین۔ په دین باندے پوهیدل۔ (ابن زیدؒ- ماوردیؒ)

(۹) نبوت ته وائی۔ (سُدیؒ)۔ (فتح البیان)۔

صاحب د فتح البیان وائی چه ددے اقوالو ترمینځ هیڅ تعارض نشته، بلکه دا یو بل ته نزدے دی۔

(۱۰) ابن عاشورؒ وائی چه حکمة هغه پوخ علم ته وائی چه د هغے مطابق انسان عمل کوی۔

(۱۱) آلوسیؒ وائی : [اَلْحِكْمَةُ اِتْقَانُ الْعِلْمِ وَالْعَمَلِ اَوِ الْاَسْرَارُ الْمَوْدُعَةُ فِی الْكِتَابِ] (مضبوط علم او عمل او په قرآن کښې کیخودلے شوی رازونه معلومول)۔

(۱۲) مجاهدؒ نه دا هم نقل دی : [اَلْاِصَابَةُ فِی الْقَوْلِ وَالْعَمَلِ] ۔ په وینا او عمل کښې حق او ځائے ته رسیدل۔ یعنی په خپله موقعه کښې خبرے او عمل کول۔

(۱۳) د مجاهدؒ نه یو بل روایت دا دے : [اَلْعِلْمُ الَّذِیْ تُعْظَمُ مَنْفَعَتُهُ وَتَجِلُّ فَائِدَتُهُ]۔

(حكمة هغه علم ته وائي چه غټه او ډيره فائده لري)۔
(١٤) ابوعثمانؒ نه نقل دي: [هِيَ نُوْرٌ يُفَرِّقُ بَيْنَ الْوَسْوَاسِ وَالْإِلْهَامِ]۔ (آلوسيؒ)۔
(دا هغه نور او رڼا ته وئيلے شي چه ددے په وجه انسان وسوسے او د الهام په مابين كښې فرق كولے شي)۔ دا تعريف د مخكني آيت سره د ربط دپاره مناسب دے۔
(١٥) [اَلْمَعْرِفَةُ بِمَكَائِدِ الشَّيْطَانِ وَوَسَاوِسِهٖ]۔ د شيطان په مكرونو او وسوسو باندے پوهے ته حكمة وائي۔ [بحر العلوم للسمرقندی ۱/۲۲٤]
(١٦) سيد قطبؒ وائي: [هِيَ تَوَخِّي الْقَصْدِ وَالْاِعْتِدَالِ، وَاِدْرَاكُ الْعِلَلِ وَالْغَايَاتِ، وَوَضْعِ الْأُمُوْرِ فِيْ نِصَابِهَا فِيْ تَبَصُّرٍ وَرَوِيَّةٍ وَاِدْرَاكٍ]. (فی ظلال) حكمة وائي: درميانه روي او اعتدال طلب كول۔ او د څيزونو وجوهات او نتيجے معلومول۔ او هر كار په خپله موقعه په بصيرت او عقلمندئ او سوچ او پوهے سره كيخودل۔ نو كله چه ورته درميانه روي او اعتدال وركړے شو، نو د حدودو نه به تجاوز نكوي او كله چه ورته په وجوهاتو او نتيجو باندے پوهه وركړے شوه نو د كارونو په اندازه كولو كښې به نهٔ خطا كيږي۔ او كله چه ورته روښانه بصيرت وركړے شو نو اعمال او حركات به ئے نيك او د حق موافق وي، اه۔
ددے ټولو تعريفونو حاصل دا راوځي چه حكمة د قرآن او سنت هغه پوخ علم او پوهے ته وائي چه د هغے په ذريعه انسان د حق او د باطل، د وسوسے او د الهام فرق كولے شي او د هر كار او مسئلے حقيقت او راز پيژني او خبرے او عمل په خپل صحيح ځائے كښې واقع كوي، او د صحيح عقل او رائے والا وي، او بيا پدے خپل عِلم بنهٔ مضبوط هميشه عمل كوي۔ او د بے وقوفو كارونو نه ځان ساتي، د شيطان د دهوكے ځايونه ورته معلوم وي۔نو چا له چه د قرآن او د دين داسے پوهه وركړے شوه، نو بس دا ډير خير والا او حكيم انسان دے۔ دلته شرعي حكمة مراد دے او د يونانيانو او فلسفيانو حكمة مراد كول غلط دي۔ هغے ته حكمة وئيل هم صحيح نهٔ دي۔
د حكمت بنهٔ تفصيل په الفوائد (۳جلد) كښې ليكل شوے ، د حكمة د حصول طريقه هم بيان شويده۔
﴿وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ﴾ حكمة لفظ ئے دوباره په اسم ظاهر سره ذكر كړو، ددے اهميت، شرافت او اُوچت شان ته اشاره ده۔
علامه قاسميؒ فرمائي: پدے آيت كښې د مخكښې سره اشاره ده چه څوك د شيطان په وعدو نهٔ دهوكه كيږي او د الله په وعدو يقين كوي، نو دا هغه شخص دے چه الله ورته حكمة وركړيدے۔
﴿فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا﴾ (خيرًا) نكره د تعظيم دپاره ده، يعني عظيم خير ورته ملاؤ شو۔ او د (كثيرًا) معنىٰ دا ده چه دومره خير دے چه افراد ئے ډير دي۔ ځكه چه د قرآن او سنت پوهے نه

روستـو انسـان تـه د هر شي پوهه وركولے شي۔قرطبیؒ وائي : چا ته چه د قرآن علم وركړے شو نو هغه ته د مخكنو كتابونو او صحيفو علم هم وركړے شو۔

﴿ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴾ أَلْبَاب جمع د لُبٌ ده، خالص او صفا عقل ته وائي۔ نو د خالص عقل تقاضا دا ده چه د حكمة كوشش اُوكړے شي، نهٔ د خواهشاتو۔ ددے وجه نه هغه انسان خو ډير بے عقله دے چه هغه قرآن او حديث د طالبانو شے گنړي، او خپله ورله هيڅ وخت نهٔ وركوی ،چه دے ته كيني او ددے زدهٔ كړه اُوكړي۔

فائده : د حكمت نه د اعراض ډيرے وجے دي، (۱) قَسْوَةُ الْقُلُوْب۔ (د زړونو سخت والے)۔ (۲) حُبُّ الدُّنْيَا ۔ (د دنيا محبت)۔ (۳) ضُعْفُ الْيَقِيْنِ بِاللهِ وَرَسُوْلِه ۔ (په الله او په رسول او د هغوی په وعدو باندے د يقين كمزورتيا)۔

فائده: د آيت نه معلومه شوه چه څوك نصيحت نهٔ اخلي، نو د هغه په عقل كښې به نقصان وي۔دارنگه د عقل فضيلت معلوم شو څكه چه تذكر او نصيحت اخستل په عقل سره كيږي۔ نـو چا كښې چه څومره عقل وي نو هغومره نصيحت قبلوی۔ دارنگه معلومه شوه چه الله والا او تقوىٰ والا خلق كامل عقلمند دي۔ (تفسير العثيمين)

وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ نَفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُمْ مِنْ نَذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ
او هغه چه تاسو خرج كوئ څه خرچه يا منخته كوئ تاسو څه منخته نو يقيناً الله پوهه دے په هغے باندے
وَمَا لِلظَّلِمِيْنَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿۲۷۰﴾
او نشته ظالمانو دپاره څوك مدد گاران۔

تفسير : اُوس د انفاق او د صدقے دوه قسمه بيانوی۔ يو نفلي صدقه او بل واجبي يعني نذری صدقـه۔ واجبي صدقه يوه دا ده چه الله په انسان لازمه كړی وی، لكه زكاة او عُشر۔ او دويم هغه ده چه بـنـده ئے پـه خپل ځان لازمه كړی او په ځان ئے اُومنی چه زهٔ به دومره مال د الله په لار كښې وركوم۔ دے ته نذر او منخته وائي۔ نو ددے پوره كول هم واجب دي۔

د نذر تشريح

نذر د غير الله په نوم حرام او د الله په نوم نذر كول ښهٔ كار دے، نيك عمل دے۔

نـو نـذر په دوه قسمه دے (۱) نذر په گناه كښې كول۔ چه زهٔ به د غير الله (بابا) په نوم دومره مال وركوم، فلاني بابا يا زيارت له به يو گډ بوځم۔ نو دا نذر كول حرام دی، او شركي كار دے۔ او ددے

پوره کول هم حرام دی۔ دارنګه که په یو ګناه ئے نذر کړے وی چه په ما دِے نذر وی چه زۀ به د فلانی سره خبرے نۀ کوم۔ یا فلانیٔ ګناه به کوم۔ نو ددے ماتول واجب دی او بیا به د قَسَم کفاره ورکړی۔ (٢) دویم نذر په نیك او جائز کار کښ دے۔ نو دا نیك عمل دے او ددے پوره کول واجب دی۔ دا ددے دپاره کولے شی چه انسان د الله طاعت اُوکړی، او الله ته تقرب حاصل کړی۔ ډیر مسلمانان نذرونه کوی او بیا ئے نۀ پوره کوی حال دِا چه دوی باندے فرض پاتے دی۔ او دا د قیامت د علاماتو نه دی (وَيَنْذُرُوْنَ وَلَا يُوْفُوْنَ) (بخاری ومسلم)

(یعنی داسے خلق به پیدا شی چه نذرونه به کوی او پوره والے به پرے نۀ کوی)۔

صحابه کرامؓ د جاهلیت د دَور نذرونه د اسلام نه روستو هم پوره کړی دی، کله ئے چه د نیکیٔ نذر کړے وو، لکه عمر فاروق د نبی ﷺ نه تپوس اُوکړو چه ما په جاهلیت کښ نذر کړے وو چه زۀ به یوه شپه په مسجد حرام کښ اعتکاف کوم۔ نو نبی ﷺ ورته اُوفرمایل : نذر دِے پوره کړه۔ (صحیح البخاری رقم: ١٩٢٧)۔

لیکن دا خبره زدۀ کړه چه نذر به د هغه شی کولے شی چه په هغے کښ عبادت او د الله تعظیم کیدے شی۔ که چا دا نذر اُوکړو چه زۀ به تموله ورځ نمر ته کینم، او سوری ته به نۀ کینم، نو دا نذر صحیح نۀ دے ځکه چه نمر ته کیناستل او نۀ کیناستلو سره د الله تعظیم نۀ راځی، لهذا دا عبادت نۀ دے۔

بیا نذر د الله په نوم دوه قسمه دے (١) یو د الله سره شرط لګول چه اے الله !که دا بیمار دِے جوړ کړو نو زۀ به دومره مال ستا په نوم ورکړم۔ دا د بخیلانو کار دے۔

دے نه حدیث کښ منع راغلے ده : [لَا تَنْذُرُوْا فَاِنَّ النَّذْرَ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْقَدَرِ شَيْئًا وَاِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهٖ مِنَ الْبَخِيْلِ] ...... [مسلم، ترمذی، نسائی عن ابی هریرة]

(نذر مۀ کویٔ ځکه چه نذر د تقدیر نه هیڅ شے نۀ دفع کوی، بلکه پدے سره د بخیلانو نه مال راویستلے شی) ځکه چه مریض به جوړیږی یا نۀ ؟ خو پدے سره د بخیلانو نه الله مال راویاسی ځکه چه بخیل مال نۀ ورکوی، نو الله پرے مصیبت راولی دے دپاره چه نذر اُوکړی۔ نو الله سره شرطونه لګول نۀ دی پکار۔

(٢) دویم : نذر د الله په نوم ابتداءً دے چه شرط پکښ نۀ وی، بلکه د انفاق نیت اُوکړی نو شیطان ورته وسوسه اچوی چه ستا خو نور ضرورتونه هم شته هغے کښ به ئے اُولګوے نو زړئے په ځان نذر کړه دے دپاره چه په تا واجب شی نو بیا به ئے ورکول لازم وی نو د شیطان وسوسه به پکښ کار نۀ ورکوی۔

﴿فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ﴾ الله پرې پو هه دې يعني الله به ئې بدله درکوي.
﴿وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾ ددې جملې مناسبت د مخکښې سره دا دې چه دلته (۱) د ظالمانو نه مراد هغه خلق دي چه هغوی صدقې بې ځايه استعمالوي چه رياء کوي يا د حرامو نه صدقه کوي. (بغوی فی معالم التنزيل)

لکه مثلًا د بدعتيانو او مشرکانو په مدرسه کښې چنده ورکړي، يا د هغوی لنګر چلوي يا د هغوی دپاره پوسټرې او پمفلټې او کتابونه چهاپ کوي، او بيا هغوی دين بربادوي. يا پردې مال غلا کړي او د هغې نه څۀ مال صدقه کړي.

بعض خلق په تجارتونو او کاروبارونو کښې دهوکې کوي او غلط او ضرري څيزونه خرڅوي او بيا حج او عمرې له ځي، دې دپاره چه مال ئې پاك شي. دا هم ظلم دې.

○ يا د ظالمين نه مراد هغه څوك دي چه نذر نۀ پوره کوي، يا فرضي زکاة منع کوي، يا نذر او انفاق د غير الله په نوم کوي، يا په ګناهونو کښې مالونه لګوي او د انفاق په باره کښې د الله د حکم مخالفت کوي. يا موقعه د انفاق وي او انسان پکښې انفاق نۀ کوي نو دا هم پکښې داخل دې. (قاسمیؒ وفتح البيان).

فائده: ددې نه معلومه شوه چه سخي انسان کله هم خوئيږي نو الله به د هغه لاس نيسي او مدد به ئې کوي. (قاسمیؒ عن الحرالیؒ).

إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ
که تاسو ښکاره ورکوئ صدقې نو ښۀ دي دغه او که تاسو ئې پټ ورکوئ او ورکوئ هغه فقيرانو ته نو دا
خَيْرٌ لَّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿۲۷۱﴾
غوره دې تاسو لره او اُويه رژوي ستاسو نه ګناهونه ستاسو او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو خبردار دې.

تفسير: اُوس د صدقې نور دوه قسمه بيانيږي: ښکاره او پټه. دواړه جائز دي.

ربط: مخکښې اُوئيل شو چه په انفاق باندې الله تعالیٰ پو هيږي نو دا سوال پيدا شو چه ښکاره صدقه ورکول به رياء وي؟ نو دلته وائي چه دا رياء نۀ ده، کله چه په زړۀ کښې رياء نۀ وي.

شان نزول: کله چه الله تعالیٰ په انفاق او صدقې ورکولو ترغيب او تيزي ورکړه، نو صحابه کرامؓ تپوس اُوکړو چه ښکاره صدقه ورکول بهتر دي او که پټه؟ نو دا آيت نازل شو چه دواړه جائز دي. (بحر العلوم للسمرقندی)

﴿ إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ ﴾ د صدقات نه مراد نفلي او فرضي دواړه قسمه صدقې دي. صدقې ته ځکه صدقه وئيلې شي چه پدې سره د بنده د ايمان صدق (رشتينوالے) او اخلاص معلوميږي چه دا خپل محبوب شے د الله په نوم ورکوي، معلوميږي چه دا رشتيني مؤمن دے.

صدقه په پټه ورکول بهتر دي او که ښکاره؟

بيا د علماؤ اختلاف دے چه صدقه په پټه ورکول بهتر دي او که په ښکاره ؟ نو چا وئيلي دي چه ښکاره ورکول بهتر دي ځکه چه پدے کښې نورو خلقو ته دعوت دے چه هغوی هم داسے کار اُوکړي، او دے دپاره چه فقيرانو ته معلومه شي چه فلانے شخص صدقه ورکوی نو هغوی به دهٔ ته رجوع اُوکړي.نو صدقه به ئے په خپل صحيح ځائے کښې واقع شي.

○ او چا وئيلي دي چه صدقه په پټه بهتره ده ځکه چه دا د فقير د شرمولو نه او د خلقو د صفت طلب کولو نه او د رياء نه وراندے ده.

او د صدقات نه مراد فرضي صدقات دي هغه ښکاره ورکول پکار دي ځکه چه هغه د اسلام يوه شعيره ده، نو ښکاره کول ئے پکار دي چه نور مسلمانانو ته دعوت شي.

ليکن پدے کښې غوره دا ده چه په اعتبار دموقعه او محل سره به کله يو افضل وي او کله بل. کله چه ستا مقصد دا وي چه زما څوك اقتداء اُوکړي او د رياء د نهٔ واقع کيدو پوره يقين دے وي، نو بيا ښکاره ورکول افضل دي ځکه چه پدے کښې غوره طريقه جاري کول دي لکه نبي ﷺ صدقې ته ترغيب ورکړو نو يو صحابي يوه بټوه راوړه، بيا نور صحابه کرامؓ پاڅيدل، هغوی هم راوړل، نبي ﷺ اُوفرمايل : چا چه د نيکئ بنياد کيخودو نو هغه ته به الله تعالیٰ ددے اجر ورکوی او هر څوك چه پدے عمل کوی د هغے اجر به هم ورته ملاوېږي او د خلقو د اجرونو نه به څه کمے نهٔ کيږي. (صحيح مسلم)

دارنګه ښکاره په هغه وخت ورکول پکار دي چه ستا په ځان اعتماد وي او د رياء احتمال نهٔ وي. او که زړهٔ کمزورے وي او رياء د انسان نه واقع کيږي نو بيا په پټه بهتره ده لکه پدے وخت کښې ايمانونه کمزوري دي، نو د انسان نه ضرور رياء واقع کيږي. بيا په پټه بهتره ده. لهذا د ښکاره ورکولو نه په پټه ورکول ډير بهتر شو لکه څنګه چه ددے آيت د الفاظو نه معلوميږي چه پټه صدقه ئے مخکښې ذکر کړيده.

د پټے صدقے ورکولو دوه طريقے دي (۱) يو دا چه مسکين، الله او تهٔ خبر شے. خپله ئے ورکړے. (۲) دويم دا چه يو ځائے کښې ئے کيدے او فقيرئے راواخلي. نو صرف ستا او د الله په مينځ کښې راز شو. يا ئے يو ماشوم ته ورکړے چه ورشه هغه فلاني ته دا ورکړه.

﴿فَنِعِمَّا هِیَ﴾ نِعْمَ فعل مدح دے او مَا په معنیٰ د (اَلشَّیْءَ) یا (شَیْئًا) سره دے او (هِیَ) مخصوص بالمدح دے۔ ای نِعْمَ الشَّیْءُ هِیَ۔ ډیر ښهٔ شے دے د صدقے ښکاره ورکول۔

نو ددے نه معلومه شوه چه نفس ښهٔ والے په ښکاره ورکولو کښ هم شته۔ او په پټه ورکولو کښ ډیر خیر دے ځکه چه په خیر کښ په نسبت د نِعْمَ غوره والے زیات وی۔

﴿وَإِنْ تُخْفُوْهَا﴾ بعض وائی: چه د اول صدقاتونه مراد فرضی دی، او د (تُخْفُوْهَا) ضمیر چه صدقاتوته راجع دے نو د هغے نه مراد نفلی صدقی دی او دے ته په اصطلاح د علم البدیع کښ صنعة استخدام وئیلے شی۔

﴿وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ د صدقے په پټه ورکولو سره ئے دا قید ذکر کړو چه فقیرانو ته ئے په پټه ورکړئ نو دا به غوره وی ځکه چه بعض صدقات داسے دی چه هغه نشی پټیدے لکه لښکر له سامان تیارول۔ پُل جوړول، نهر روانول، او کله چه فقیر ته ورکولے شی نو هغه پټول پکار دی ځکه چه پدے کښ په هغه باندے پرده اچول دی۔

د ریاء نه زیات بچ کیدل دی، د خلقو د صفت طلب کولو نه لرے کیدل دی۔ ددے وجه نه دا غوره شوه۔ او حدیث کښ هم د پټے صدقے فضیلت راغلے دے چه څوك په ښی لاس صدقه ورکړی چه کس لاس ترے خبر نشی نو دا به د هغه اُووه کسانو نه وی چه د عرش د سوری لاندے به د قیامت په ورځ ولاړ وی۔ (بخاری ومسلم) (التفسیر القیم لابن القیم ۱/ ۲۷۵)۔

ابن عاشورؒ وائی: چه صدقه خو هسے هم فقیر ته ورکولے شی نو ولے ئے فقیر ذکر کړو؟ پدے کښ علت ته اشاره ده چه پټه صدقه ځکه غوره ده چه د فقیر مخ اُونهٔ شرمیږی۔

﴿وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ﴾ سیئات گناهونو ته هم وائی نو د صدقو په وجه گناهونه رژیږی۔ بیا مِنْ تبعیضیه دے۔ نو څومره چه صدقه وی هغومره گناهونه به رژیږی۔

(۲) دویم سیئات کله مصائبو او مشکلاتو او بد حالتونو ته وئیلے شی۔ نو په صدقے سره مصیبتونه ختمیږی۔

﴿وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ﴾ یعنی الله ته ستاسو ښکاره او پټے صدقے معلومے دی، نو پدے کښ ترغیب دے چه ښکاره کولو ته ئے ضرورت نشته۔ که خلق خبر نشو نو الله پرے خبردار دے، اجر به ئے درکوی۔ او که څوك ریاء کوی نو د هغے نه هم خبردار دے سزا به ورکوی۔

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ وَمَا تُنْفِقُوْا

نشته ستا په ذمه په سمه راوستل د دوی لیکن الله په سمه لاره راولی هغه چا له چه اُوغواړی او هغه څه چه خرچ کوئ تاسو

مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنْفُسِكُمْ وَمَا تُنْفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ

د څه مال نه نو دا ستاسو د خپلو ځانونو گټه ده۔ او تاسو خرچ نۀ کوئ مگر دپاره د لټولو د مخ د الله تعالیٰ

وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿۲۷۲﴾

او هغه چه تاسو خرچ کوئ د مال نه، پوره به درکولے شي تاسو ته (اجر د هغې) او په تاسو باندې به ظلم نۀ شي کیدے۔

تفسیر: پدے آیت کښې دا بیانوی چه نفلی صدقه په مشرکانو هم جائز ده۔

شان نزول: ابو عبیدؒ په کتاب الاموال (رقم ۱۹۹۱) کښې په صحیح سند سره د ابن عباسؓ نه نقل کړی [كَانَ نَاسٌ لَهُمْ أَنْسِبَاءُ وَقَرَابَةٌ مِنْ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرِ وَكَانُوا يَتَّقُونَ أَنْ يَتَصَدَّقُوا عَلَيْهِمْ وَيُرِيدُونَهُمْ عَلَى الْإِسْلَامِ فَنَزَلَتْ: لَيْسَ عَلَيْكَ الخ] (تمام المنة ص۳۸۸)۔

(د څۀ مسلمانانو د بنی قریظه او بنی النضیر (یهودیانو) سره نسبونه او خپلولیانے وے، نو هغوی به په دوی باندې د صدقې کولو نه ځان ساتلو، دے دپاره چه دوی اسلام ته راشي نو دا آیت نازل شو)۔

چه مطلب ئے دا دے چه چه نفلی صدقې ورکولے شئ، خیر دے، هدایت د الله په لاس کښې دے چه چا ته ئے کوی، هغۀ ته به ئے کوی، خو تۀ صدقه کوه۔ د اسلام اخلاق د هر چا نه اُوچت دی، کیدے شی چه الله ورته ستا په صدقه هدایت اُوکړی، ستا د اخلاقو نه متأثر شی۔

زکوٰة کافر، بدعتی، او مشرك له نشي ورکولے او صدقه کافر له ورکولے شئ، او مبتدع له نۀ شي ورکولے۔ ځکه چه د مبتدع سره بائیکاټ لازم دے، ددۀ فساد پټ دے۔ او د کافر کفر ښکاره دے نو هغه د دین دومره فساد نشي کولے۔ ددے دا معنیٰ نۀ ده چه بدعتی د کافر نه هم غټ مجرم دے، بلکه وجه دا ده چه دا مسلمان دے، او دین ورانوی او کافر خو دین نشي ورانولے هر چا ته معلوم دے۔ او ددے نور وجوهات احادیثو کښې راغلی دی۔

﴿لَيْسَ عَلَيْكَ﴾ (عَلَيْكَ) اول خطاب نبی ﷺ ته دے، بیا هر مخاطب ته دے۔ او عَلیٰ د معنوی استعلاء دپاره استعمال دے، یعنی طلب د فعل په طریقه د وجوب۔ نو معنیٰ دا ده چه په تا باندې د دوی هدایت ته راوستل واجب نۀ دی۔

﴿هُدَاهُمْ﴾ د هدایت دوه معنے دی (۱) بیان د حق۔ نو نبی ﷺ دا کولے شی۔

(۲) دویم هدایت په معنیٰ د توفیق ورکولو او حق ته رسولو او قبلولو دے، نو دا د پیغمبر ﷺ په واك کښې هم نشته۔

(هُمْ) ضمیر کافرانو ته راجع دے۔ او دلته د کافرانو نه مراد هغه کافران دی چه اهل ذمه وی، یا

مشرکان وی خو بے ضرره وی، او هرچه حربی کافر دی، نو هغوی ته هر قسم تحفے او صدقے ورکول حرام دی، کله چه دینی فائده پکښې نۀ وی۔

﴿وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ﴾ پدے جمله کښې انفاق کولو ته او په هغے کښې د اخلاص پیدا کولو ته ترغیب ورکوی۔ (خیر) حلال مال ته هم وائی او هر فائده مند شے۔ چه زمکه، جائیداد، کور، څادر، ګینټه ورکولو ته هم شامل دے۔

﴿وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ﴾ دا نفی ده یعنی د مسلمان شان دا نۀ دے چه دا دِے مال د الله د رضا نه غیر د بل دپاره اُولګوی، بلکه هغه به ئے ضرور د الله د مخ دپاره لګوی۔ او مسلمان ته ترغیب دے چه تۀ په صدقه کښې نظر فقیر طرف ته مۀ کوه بلکه ستا تعلق دِے د الله تعالیٰ سره وی۔

او پدے کښې مال خرچ کونکی ته تسلی ورکوی چه که تۀ د خلقو د دعوت دپاره مال اُولګوے او هغوی د ګمراهی نه منع نشی، نو خپل خرچ مۀ بندوه بلکه الله به بیا هم تا ته اجر درکوی، ستا معامله د الله سره ده، او هدایت او حق ته راوستل د الله په اختیار کښې دی۔ او پدے کښې ډیر صورتونه راتلے شی۔

څوك وائی دا نفی په معنیٰ د نهی ده یعنی تاسو مال مۀ لګوئ مګر د الله د مخ دپاره۔

﴿وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ﴾ کله په انفاق سره هدایت حاصل نشی او د چا د ترغیب دپاره چه مال خرچ کړے شوے وی، نو هغه حق ته رانشی۔ یا تۀ چا ته مال ورکړے او هغه ئے بے ځائے استعمال کړی، یا چنده ورکړے هغه ئے اُوخوری، نو الله فرمائی په هر صورت کښې ستا اجر په الله تعالیٰ واوریدو۔ او د هغے بدله به پوره پوره درکوی۔

(يُوَفَّ) : د وفاء نه دے یعنی پوره به درکولے شی۔ او ددے دا مطلب نۀ دے چه زیات به نشی درکولے، یعنی څومره وعده چه تا سره شویده هغه به درکولے شی او د زیات اخلاص په صورت کښې به زیات اجر هم درکولے شی۔ او دا مطلب هم دے چه ستا د صدقے په اندازه به تا ته اجر درکولے شی، او که کوم نقصان پکښې راځی نو هغه به ستا دے اخلاصۍ یا مَنُ او اذی په وجه سره وی۔

او روستو جمله ورسره د تاکید دپاره ذکر کوی چه د اجر د کمی ګمان مۀ کوه۔

﴿وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ﴾ ظلم په معنیٰ د نقص او کموالی سره دے۔ او دا د اضدادو نه دے زیادت ته هم وائی۔

په آیت کښې (تُنْفِقُوْا) او (تُنْفِقُوْنَ) بار بار مکرر شو دپاره د زیات اهمیت او شرافت د انفاق۔ او دپاره د زیات ترغیب هغے ته۔

لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا
(صدقات) دپاره د فقیرانو دي هغه کسان چه بند کړے شوي دي په لاره د الله کښې طاقت نۀ لري د سفر کولو
فِي الْاَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ
په زمکه کښې گمان کوي په دوي باندے ناخبره انسان د مالدارانو د وجه د ځان پاك ساتلو نه (د سوال او حرامو نه)
تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمَاهُمْ لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا
تۀ به پیژنے دوي لره په نخو نخانو سوال نۀ کوي د خلقو نه په انختلو سره (په سخت سوال سره)
وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۷۳﴾
او هغه چه تاسو خرچ کوئ څه غوره شے یقیناً الله په هغے باندے پوهه دے۔

تفسیر: اُوس د انفاق مصرف بیانوي چه چا له به ئے ورکوئ، نو فرمائی چه هغه فقراؤ له چه شپږ صفتونه لري، بهتره ده چه هغوی له ورکړے شي، بل چا له ئے هم ورکولے شئ خو دوي له افضله ده۔ دا آیت د اصحاب الصفه ؤ او د طالبانو په باره کښې نازل دے۔ او دا صفات اُوس د طلاب العلم دي، بل چا کښې غالباً نشته۔

﴿ لِلْفُقَرَاءِ ﴾ دا د مخکښې (تُنْفِقُوْنَ) پورے متعلق دے۔ یا مبتداء پټه ده (اَلصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ) یا اِنْفَاقُكُمْ لِلْفُقَرَاءِ) یعنی ستاسو صدقے او انفاق د فقیرانو دپاره دي۔ فقراء جمع د فقیر ده چه څه نۀ موندہ کوي او په خپلو شاگانو باندے کارکوي۔

ددے آیت مصداق په هغه زمانه کښې اصحاب الصفه وو (لکه دا د ابن عباسؓ نه نقل دي) چه دوي څلور سوه کسان وو چه کمیدل او زیاتیدل به۔ نبی ﷺ ته ئے هجرت کړے وو او په مسجد نبوی کښې به اُوسیدل، او خپلو علاقو کښې ترے کورونه او مالونه پاتے شوي وو۔

دوی د دین طالبان هم وو، عِلم به ئے زدۀ کولو، او نبی ﷺ به ترے ډیر خدمات اخستل، جهادونو ته به ئے لیږل، د فوج کار به ئے هم کولو۔ نو که دوي کاروبار کښې مشغول شوي وے، نو بیا ئے دا کارونه نشو کولے، نو دوي به سره د قوت نه تجارت او کاروبار نۀ کولو مگر کله نا کله به ئے لرگي د غر نه راوړل او خرڅول به ئے۔ لیکن دین ته پراتۀ وو۔ په مابنام کښې به رسول الله ﷺ ملګرو ته حکم اُوکړو چه دوي ځان سره بوځي او څۀ کسان به د رسول الله ﷺ سره پاتے شو۔ بیا روستو الله فراخي راوسته۔ (ابن عاشورؒ وغیره)۔

او پدے زمانـه کښې ددے مصداق د عِلم طالبان دي چه په مدرسو کښې ئے خپل ځانونه د الله د دين د زدهٔ کولو دپاره بند کړي دي، او په خپل ځان ئے سخته برداشت کړيده.نو داسے خلق د زکاة، د صدقو او د انفاق مستحقين دي. ځکه چه دوي د سوال نه ځان ساتي.

عبد الله بن المبارك رحمه الله به صدقه صرف طالبانو ته ورکوله، چا ورته اُووئيل : بل چا ته ئے هم ولے نهٔ ورکوے؟ هغه اُووئيل چه د نبوت د مرتبے نه روستو ما ته د علماؤ نه غوره مرتبه بله نهٔ ده معلومه. کله چه د يو تن زړهٔ په خپل حاجت مشغول وي، نو عِلم ته به فارغه نهٔ وي او تعلم (زدهٔ کړے) ته به ئے توجه نهٔ وي، نو د دوي عِلم ته فارغه کول ډير افضل عبادت دے. (قاسمي۳/٦١٦).

حافظ ابن کثيرؒ ددے نه مراد هغه تمام مهاجرين اخستي دي چه مدينے منورے ته راغلل او ديرہ شول او د تجارت د مال د حاصلولو اسباب او ذرائع د هغوي نه منقطع شوي وو.

﴿ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللهِ ﴾ (اُحْصِرُوا) يعني بند کړے شويدي.

(۱) د في سبيل الله نه مراد يا جهاد دے. (۲) يا مراد د الله طاعت دے يعني د دعوت او جهاد او د علم د زدهٔ کړے او د الله د بندگئ د خاطره ئے ځانونه بند کړيدي.او پدے کښې هغه خلق هم داخل دي چه هغوي د الله د لارے (جهاد) د وجه نه زخميان شوي وي او د کاروبار طاقت نهٔ لري. نو دا ئے دويم صفت شو.

﴿ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ ﴾ ضرب في الارض د سفر کولو نه کنايه ده، ځکه چه غالباً د کاروبار دپاره خلق سفر کوي، او زمکه په خپلو خپو سره وهي. دا دريم صفت دے چه دوي کاروبار او سفرونه نشي کولے، نو فقيران دي نو ځکه مستحق د انفاق دي.

او دوي ځکه طاقت د کاروبار نهٔ لري چه په دين باندے مشغول دي.بيا ترے د دين کار پاتے کيږي. ځکه چه د نبي ﷺ هر حرکت دين وو، نو که د هغه سره څوك نهٔ وي، نو دين به بيانيږي او آوريدونکي به ئے نهٔ وي، په کور کښې به بيبيانو زدهٔ کولو او په مسجد کښې به اصحاب الصفه ؤ زدهٔ کولو، نو د هر عالِم سره د علم طالبان کيدل پکار دي دے دپاره چه دين ضائع نشي.

﴿ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ ﴾ د جاهل نه مراد ناخبره او بے تجربے انسان دے. يعني بے تجربے انسان په دوي گمان کوي چه دا خو به مالداره وي ځکه چه روستو ئے وجه ذکر ده چه دوي ځان پاك پاك ساتي. او بعضو پکښې گينته هم اچولي وي او سپينه توپئ او ښائسته جامے ئے هم اچولي وي، خلق وائي گنے دا ډير مالدار دے.او حال دا چه په جيب کښې ئے يوه روپئ هم نهٔ وي. او پدے کښې يو قسم اشاره ده چه د طالبانو د حال نه ځان نهٔ خبرول جهالت دے.

﴿ مِنَ التَّعَفُّفِ ﴾ مِنْ اجليه دے. او تَعَفُّفُ د عِفت نه دے، معنىٰ ئے ده، پاکدامني او ځان دے عزته

کارونو نه ساتل۔ دلته مراد دا دے چه دوی د بے ضرورته سوالونو او د حرامو خوراکونو او خپل حاجت ښکاره کولو نه ځانونه ساتی۔ ځکه چه سوال درے قسمه دے (۱) په ژبه (۲) په حال جوړولو سره۔ چه ځان مسکین جوړ کړی او د چا خواله ورشي ورته وائی ستا ملاقات ته راغلے یم۔ او مینځ کښې سوال کوی۔

(۳) په مزل او چال چلن سره چه داسے مزل کوی چه خلق پرے گمان اُوکړی چه دا مسکین دے۔

﴿ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمَاهُمْ ﴾ سِیْمَا نخے ته وائی دلته ترے مراد خشوع او عاجزی ده۔ دارنگه لوږه، د رنگونو زیړوالے۔ د جامو زوړ والے۔ د بدن کمزورتیا او حاجت نهٔ پوره کیدل۔ اَیْ بِسِیْمَا حَاجَتِهِمْ۔ په نخو د فقر او حاجت د دوی به ئے پیژنے۔

﴿ لَا يَسْأَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا ﴾ ددے یو ه معنیٰ دا ده [لَيْسَ لَهُمْ سُؤَالٌ فَيَقَعُ فِيْهِ اِلْحَافٌ] (بغوی)

یعنی دوی هیڅ سوال نهٔ کوی چه په هغے کښې ترے مبالغه واقع شي۔ نو بالکل سوال نهٔ کوی او هرچه کله نا کله سوال کول دی چه انسان ډیر سخت مجبوره شي، نو هغه خو شریعت جائز کړیدے او په هغے کښې هم دوی مبالغه او سختی نهٔ کوی۔

او دا معنیٰ د ابن عباسؓ نه هم علامه سمرقندیؒ په بحر العلوم (۲۲۶/۱) کښې او علامه آلوسیؒ په روح المعانی کښې نقل کړیده۔ اَیْ لَا يَسْأَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَاحًا وَّلَا غَيْرَ اِلْحَاحٍ)۔

نو دلته نفی د قید او مقید دواړو مراد ده۔او ددے معنیٰ د تائید په حدیث کښې ذکر دے۔

شیخینو د ابو هریرهؓ نه نقل کړیدی چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

[لَيْسَ الْمِسْكِيْنُ الَّذِىْ تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَاللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ، اِنَّمَا الْمِسْكِيْنُ الَّذِىْ يَتَعَفَّفُ اِقْرَأُوْا اِنْ شِئْتُمْ : لَا يَسْأَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا]

حقیقی مسکین هغه نهٔ دے چه یوه کجوره یا دوه، یوه لونړئ یا دوه نوړئ ئے واپس کوی بلکه اصلی مسکین هغه دے چه ځان د سوال نه ساتی)۔

او په یو بل روایت کښې دی : [وَلٰـكِنَّ الْمِسْكِيْنَ الَّذِىْ لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيْهِ وَلَا يُفْطَنُ لَهٗ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ وَلَا يَقُوْمُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ] ۔ لیکن مسکین هغه شخص دے چه دومره څه نهٔ مونده کوی چه دا یے حاجته کړی او نهٔ په دهٔ باندے څوك پو هیږی چه صدقه پرے اُوکړی او نهٔ پاڅیږی چه خلقو نه سوالونه شروع کړی)۔ (المنار۷۵/۳)۔

○ بعض وائی : معنیٰ داده چه ډیر سوالونه نهٔ کوی بلکه لږ لږ سوال کوی۔ دا معنیٰ غوره نهٔ ده ځکه چه مخکښې ئے مِنَ التَّعَفُّفِ اُووئیل۔ چه د سوالونو نه ځان ساتل د دوی لازمی صفت دے۔ دارنگه خلق چه پرے د مالدارو گمان کوی نو پدے وجه چه سوال نهٔ کوی۔ (فتح القدیر للشوکانیؒ)۔

الحاف : د لِحاف نه دے او لِحاف بسترے ته وائی، نو الحاف هغه سوال ته وائی چه انسان د مالداره پسے داسے اُونخلی او داسے ترے راتاؤ شی لکه څنګه چه بستره ترے راتاوېږی۔ یعنی په سوال کښې مبالغه او زورکول او سختئ سره سوال کول۔
او د اِلحاف تفسیر د عطاءً نه داسے نقل دے چه چا سره د غرمے خوراك طاقت وی، نو د بیګائی خوراك دپاره به سوال نهٔ کوی۔ (اللباب)۔
او حدیث کښې دی : نبی ﷺ فرمائی :[مَنْ سَأَلَ مِنْكُمْ وَلَهُ أُوْقِيَّةٌ أَوْ عِدْلُهَا فَقَدْ سَأَلَ إِلْحَافًا] [صحیح ابی داود للالبانی ۱/۳۰۵رقم : ۱٤۳۳] ۔ چا چه ستاسو نه سوال اُوکړو او د هغه سره یو اُوقیه یعنی څلویښت درهمه وی، یا ددے برابر نور مال وی، نو دهٔ په طریقه د الحاف سره سوال اُوکړو۔ یعنی دومره مال چه ورسره وی، دا به سوال نهٔ کوی او که وے کړو نو دا کار ورله مکروه دے۔
فائده: پدے آیتِ کریمه کښې د مؤمنانو مهاجرینو دا صفت بیان شوے چه دوی د ضرورت او حاجت سره سره خلقو نه په مبالغے سره سوالونه نهٔ کوی۔
اسلام د سخت ضرورت په وخت سوال کول جائز کړیدی او بغیر د ضرورت نه د سوال کولو ئے لویه بدی بیان کړیده۔
بخاری او مسلم د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :
((یو سړے به همیشه سوالونه کوی تردے چه کله د قیامت په ورځ راشی نو د هغه په مخ باندے به د غوښے یوه ټکړه هم نهٔ وی))۔
دغه شان نور حدیثونه هم شته چه په هغے کښې د خلقو نه د سوال کولو لویه بدی راغلے ده۔
امام مسلم د ابو هریره ﷺ نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل چه ((څوك د خپل مال د زیاتولو دپاره د خلقو نه سوالونه کوی هغه ګویا کښې د جهنم اُور غواړی))۔

د محمد بن نصر او ابن جریر د قناعت عجیبه واقعه

خطیب بغدادیؒ د دوی د قناعت او صبر عجیبه واقعه په خپل سند سره د ابو العباس بکریؒ نه نقل کړیده، هغه فرمائی : عِلمی سفر یو ځل محمد بن جریر، محمد بن خُزیمه، محمد بن نصر مروزیؒ او محمد بن هارون رویانی (رحم الله الجمیع) په مصر کښې راجمع کړل او تنګدسته شو، او لوږے پریشانه کړل او د خوراك هیڅ نهٔ وو، په کوم کور کښې چه دوی اُوسیدل، نو دے څلورو وارو د شپے مشوره اُوکړه، او ټول پدے خبره متفق شو چه قُرعه اندازی به اُوکړو چه د چا نوم را اُووتو نو هغه به د ملګرو دپاره د چا نه خوراك غواړی (ځکه د لوږے ختمولو دپاره سوال جائز دے) نو قُرعه په محمد بن خزیمهؒ را اُووتله، هغه اُووئیل :

[اَمۡهِلُوۡنِیۡ حَتّٰی اُصَلِّیَ]۔ ما ته دومره مهلت راكړئ چه زهٔ مونځ اُوكړم)۔
نو ابن خزيمةؒ د هغوی نه جدا شو او په مانځه كښې مشغول شو۔
راوی وائی : دوی لا په دغه حال كښې وو چه د مصر د والی (گورنر) يو قاصد راورسيدو او دروازه ئے اُووهله۔ نو باقی ملګرو هغه ته دروازه كولاوه كړه، او قاصد د سورلئ نه راكوز شو، او تپوس ئے اُوكړو چه تاسو كښې محمد بن نصرؒ كوم يو دے ؟ دوی اُووئيل : هغه دا دے، نو هغه يوه بټوه را اُوويستله چه په هغے كښې پنځوس ديناره وو او هغه ته ئے وركړه۔
بيا ئے اُووئيل : په تاسو كښې محمد بن جريرؒ څوك دے ؟ اُووئيل شو، دا دے۔ هغه ته ئے هم د پنځوس دينارو بټوه وركړه، بيا ئے اُووئيل : تاسو كښې محمد بن اسحاق بن خزيمةؒ څوك دے ؟ هغه ته ئے هم دغه شان وركړه۔ بيا ئے د محمد بن هارون رويانی تپوس اُوكړو او هغه ته ئے هم د پنځوس دينارو بټوه وركړه۔ او دا ئے ورته اُووئيل: چه امير صاحب پرون قيلوله (د غرمے خوب) كولو چه په خوب كښې هغه ته اُووئيل شو چه د محمد نوم والا كسان د لوږے د وجه نه خپلے كولمے تاؤ كړيدی۔ نو ددے وجه نه هغه تاسو ته دا بټوے راوليږلے او تاسو له دا قَسم دركوی چه كله دا ختمے شی نو هغه ته به ضرور خبر وركوئ چه نورے راوليږی۔

[تذكرة الحفاظ [٢/٧٥٣] وتاريخ بغداد [٢/١٦٥]۔

بيا هغوی د دغه علاقے نه په جلتئ لاړل څكه چه خلقو په يره مشهور كړل۔ (د مختصر قيام الليل لابن نصر مقدمه)۔

مسلمانانو او خصوصاً د دين طالبانو له داسے حالت اختيارول پكار دی۔
﴿وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ خَيۡرٍ﴾ پدے كښې بيا انفاق ته ترغيب وركوی چه تاسو كوم مال لګوئ نو الله ته هغه معلوم دے هغه به ئے نهٔ ضائع كوی۔
فائده : عربو كښې د صدقے او انفاق ماده زياته وه، ميلمه دوست، مال لګونكی وو، ليكن د هغے د شرطونو او آدابو لحاظ پكښې نهٔ وو، د فخر، تكبر او مباهات دپاره به ئے مالونه لګول، مَنّ او اَذی به ئے كوله، په شرابو او ګندونو كښې به ئے لګول، نو شريعت د هغوی اصلاح اُوكړه او اوقات او آداب ئے ورله بيان كړل، دے دپاره چه د دوی انفاق په صحيح ځائے كښې واقع شی۔ پدے وجه الله تعالیٰ پدے مقام كښې د انفاق متعلق ډير تفصيلی بحثونه اُوكړل۔

اَلَّذِيۡنَ يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ بِالَّيۡلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً فَلَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ
هغه كسان چه خرچ كوی مالونه خپل د شپے او د ورځے په پټه او ښكاره نو دوی دپاره اجر د دوی دے

عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۲۷۴﴾

په نزد د رب د دوی او نهٔ به وی یره په دوی او نهٔ به دوی غمجن شی۔

تفسیر: پدے آیت کښې د انفاق د اوقاتو او احوالو تعمیم ذکر دے چه انفاق په هر حالت او هر وخت کښې کول جائز دی۔ څهٔ خاص وخت ورله مقرر نهٔ دے۔ نو د لیل او نهار، سر او علانیه نه مراد ټول اوقات او ټول حالات دی۔ نو یو وخت د صدقے دپاره خاص کول لکه د جُمعے شپه یا د مړی په اوله او دویمه او دریمه او څلویښتمه ورځ خیرات کول دا ټول بدعت کار دے۔

﴿ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ ﴾ دا آیت د علی ﷛ په باره کښې نازل شوے دے چه څلور روپۍ ورسره وے، یوه ئے د ورځے ورکړه، یوه د شپے او یوه ښکاره او یوه پټه۔

نو دے کښې څلور صورتونه جوړیږی۔ سراً د شپے او د ورځے دواړو سره لګی او دغه شان علانیة هم د دواړو سره لګی۔

په اهل وعیال باندے خرچه کول هم پدے کښې داخل دی۔

په صحیحینو کښې روایت شویدے چه رسول الله ﷺ سعد بن ابی وقاص ﷛ ته اُوفرمایل چه «د الله د رضا دپاره چه ته څهٔ خرچ کړے نو په هغے سره د الله په نیز ستا مرتبه او درجه اُوچتیږی تردے چه هغهٔ نوړئ چه ته ئے د خپلے بی بی په خوله کښې اچوے»۔

دارنګه مفسرین لیکی چه دا آیت د هغه کسانو په باره کښې دے چه د جهاد دپاره آسونه تیار ساتی، او هغه د شپے او د ورځے څریګی او کله پټ وی او کله ښکاره۔او بیا په حدیث د بخاری کښې دی چه ددے آسونو په ګیاه او اُوبو سره مریدل او د هغے خاشنهٔ او متیازے به د قیامت په ورځ ددهٔ د نیکیانو په تلهٔ کښې اچول کیږی۔ (ابن جریرؒ، قرطبیؒ)۔

﴿وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً ﴾

شپه ئے په ورځ او پټه ئے په علانیه مخکښې کړه پدے کښې اشاره ده چه صدقه پټه په تیارهٔ کښې ورکول غوره دی۔

﴿ فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ ﴾ فاء ئے راوړه څکه چه مخکښې انفاق علت دے دپاره د اجر د الله په نیز۔ او عِنْدَ رَبِّهِمْ ئے ذکر کړو دپاره د تعظیم د شان د اجر۔

اَلَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ الرِّبَا لَايَقُوْمُوْنَ إِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِىْ يَتَخَبَّطُهُ

هغه کسان چه خوری سود لره، دوی به نهٔ پاڅیږی (د قبرونو نه) مګر لکه چه پاڅیږی هغه کس چه ګډوډ کړے وی هغه لره

الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوْا إِنَّمَا الْبَيْعُ
شیطان د وجه د لیونتوب نه (یا د انختلو نه) دا حالت پدے وجه سره (شو) چه یقیناً دوی وئیل چه یقیناً بیع (سوداګری)
مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا
په شان د سود ده اوحلاله کړے ده الله تعالیٰ بیعے (سوداګرئ) لره او حرام کړے ئے دے سود لره
فَمَنْ جَاءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى فَلَهٗ
پس هغه څوك چه راغے هغه ته نصیحت د طرفه د رب د هغهٔ نه نو منع شو نو وی به ددهٔ دپاره
مَا سَلَفَ وَأَمْرُهٗ إِلَى اللّٰهِ
هغه څه چه مخکښ ئے کړی وی (یا ئے ورکړی وی) او کار ددهٔ سپارلے شوے دے الله ته
وَمَنْ عَادَ فَأُولٰٓئِكَ أَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۷۵﴾
او څوك چه راوګرځیدو (سود ته) نو دا کسان اُور والا دی دوی به په دے کښ همیشه وی۔

تفسیر: اُوسه پورے د انفاق مسئله وه چه دیته احسان وائی، اُوس د ظالمانو حال چه هغوی ته سود خوارهٔ وائی نو مخکښ د احسان بیان وو او دلته د ظلم رد۔ او روستو يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا کښ عدل ذکر دے۔

انفاق کونکی احسان والا دی او سود خوارهٔ ظالمان دی او بیع اوشراء والا عادلان دی۔

ربط: ۱- مخکښ آیت کښ انفاق فی سبیل الله ته ترغیبات ذکر شو، اُوس د حرام مال د ګټلو نه منع ذکر کوی۔ په طریقه د سود۔ ځکه چه د خبیث مال نه انفاق هیڅ فائده نهٔ ورکوی۔

۲- انفاق سبب د برکت دے۔ مال ورسره زیاتیږی او سود سبب دے برکتئ دے، پدے سره مال کمیږی۔

﴿الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ﴾ اکل اصل کښ خوراك ته وئیلے شی، بیا د یو شی نه د فائدے اخستو دپاره، او یو شی په طریقه د حرص سره حاصلولو دپاره استعمالیږی۔ (ابن عاشور)

لیکن خوراك د دنیا دارو اَهم مقصد دے ددے وجے نه ئے اکل ذکر کړو۔ او د سود بدئ ته اشاره ده چه د دوی کار صرف خپله خیټه ساتل دی او دا مقصد خو د ځناورو هم وی۔

﴿الرِّبَا﴾ ربا په لغت کښ زیاتوالی او اُوچتوالی او پړسیدو ته وائی لکه په سورة الحج (۵) آیت کښ دی : ﴿وَرَبَتْ﴾ ۔ (اُوپړسیږی)۔ او سورة الروم (۳۹) کښ دی : ﴿لِيَرْبُوَا فِيْ أَمْوَالِ النَّاسِ﴾ ۔

یـعـنـی زیـات شـی۔ ربـا په الف سره لیکل هم جائز دی او په واو سره چه روستو ترے الف وی هم لیکل جائز دی۔ ځکه چه اصل کښې دا الف د واو نه بدل دے۔

فائده : د احادیثو په اعتبار سره د سود دوه قسمونه دی :

(۱) اول قسم : «رِبَا الْفَضْل» یـعنی زیادت والا سود۔ یعنی یو شے د بل شی په مقابله کښې زیات ورکـولـو سره اخستـل خرڅول کول۔ دا قسم سود په عالَم کښې ډیر کم مونده شی۔ لکه مثلًا یو دړۍ غـنـم ورکـړے او دوه پړے اخلے ځکه چه یو غنم مزیدار وی او بل کمزوری وی۔ نو شریعت دا حرام کړے ځکه چه جیّد او ردی په ربوی مالونو کښې یو شان دی۔

او غـوره قـول دا دے چـه دا قسـم سـود صرف په هغه شپږو څیزونو کښې ناجائز دے کوم چه په احادیثو کښې ذکر شویدی۔

د عباده بن صامت ﷜ مرفوع حدیث دے او امام احمدؒ او مسلمؒ روایت کړے چه « سرۀ زر په سرو او چاندی په چاندی، غنم په غنمو، وربشے په وربشو، کجورے په کجورو او مالګه په مالګه برابر او نـقد خرڅول جائز دی»۔ یـعـنـی د یو په زیادت سره خرڅول جائز نۀ دی۔ ددے شپږو څیزونو نه سِویٰ په نـورو څیـزونـو کـښې سود نۀ جاری کیږی نو په هغے کښې زیات اخستـل او ورکول جائز دی۔ لکه چونه، چینی، دال، کُرخے، کتابونه وغیره پدے کښې سود نۀ جاری کیږی۔

او فـقـهـاؤ چـه ددے قـاعـده کلیه دا بیان کړیده چه هر هغه دوه څیزونه چه په هغے کښې (ناپ او وزن او خـوراك) دریے واړو صـفـاتو نه دوه موجود شی نو د هغے خپل مینځ کښې اخستـل خرڅول پـه یـو کـښې زیـادت کـولـو سره جائز نۀ دی۔ په کومو څیزونو کښې چه دا دریے صفات موجود نۀ شـی یـا د دواړو جـنـس مختلف وی، نو بیا د هریو زیادت سود نۀ دے۔ او که د دواړو جنس یو وی لیـکـن د دریے واړو صـفـاتو نه صرف یو صفت اُومونده شی نو یو قول دا دے چه د هریو زیادت سود نـۀ دے۔ بـل قـول دا دے چـه پـدے صـورت کښې به هم زیادت سود وی۔ نو دا قاعده د فقهاءِ کـرامـو قـیـاسـی او اجتـهـادی ده، او نبی ﷺ پـه احادیثو کښې سود صرف په شپږو څیزونو کښې بیـان کـړے، لهذا ددے نه علاوه څیزونو کښې سود نۀ جاری کیږی ځکه که سود په علاوه څیزونو کښې جاری کیدلے، نو نبی ﷺ به ددے بیان کړے وے۔ (وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا) نبی ﷺ د دین تشریح امامانو ته نۀ ده سپارلے۔

او دا پـه امـت بـانـدے پـه زوره خبره ګرانول دی او اصل په بیوعو کښې حلال والے دے۔ او دا قول د محققینو علماؤ دے۔

بیـا دلتـه دا نـکتـه واوره ! چـه پدے شپږو څیزونو کښې قرض ورکول جائز دی لکه یو دړۍ غنم

قرض ورکړي او میاشت پس ترې یو دړۍ غنم اخلي۔ ځکه منع صرف د خرڅولو نه راغلې ده :
[لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ] (بخاري ومسلم)
(سرۀ په سرو مۀ خرڅوئ مګر هله چه برابر په برابر وي او لاس په لاس وي)۔
نو کوم خلق چه پدې شپړو څيزونو کښې قرض جائز نۀ ګڼري، خبره ئې بې تحقيقه ده۔
(۲) دويم قسم : «رِبَا النَّسِيئَة» ده يعنې د قرض والا زيادت۔ او ددې يو صورت د جاهليت په زمانه کښې دا وو چه کله به د قرض موده پوره کيده نو قرض والا به قرضدار ته اُوويل چه قرض ادا کوې، او که سود راکوې ؟ که قرض به ئې ادا نکړو نو قرض ورکونکې به د مال مقدار زياتولو او د قرض موده به ئې هم زياتوله۔ د سود دا شکل بالاتفاق حرام دې۔
پدې زمانه کښې ئې ډير صورتونه دي، بينکونو سره معامله کول چه د هغوی سره نقدې پيسې کيږدي او هغوی ورله مياشت يا کال پس اضافي رقم ورکوي، يا د بينك نه قرض رقم راواخلي او هغوی پرې د پيسو په حساب هره مياشت کښې يا کال کښې رقم زياتوي، او سود ترې نه اخلي۔ دارنګه پدې کښې بيع التقسيط (د کشتونو والا بيعه) هم داخله ده چه په نقدو يو قيمت وي او په قرضو بل قيمت وي، د وخت د زياتوالي په بدله کښې پرې قيمت زياتوي۔ دا کارونه په ګاړو او مختلف څيزونو کښې نن صبا رائج دي، دا ټول سود دې۔
بيا هره بيعه (سَودا) چه د هغې نه په شريعت کښې منع راغلې وي نو هغه به د سود قِسم وي چه ددې په احاديثو کښې ډير قسمونه دي۔ بيع المُزَابَنَه، مُحَاقَلَه، مُلَامَسَه، مُنَابَذَه، بيع العُرْبُوْن، بيع الغَرَر۔ بيع مَا لَيْسَ عِنْدَكَ، بَيْعُ التَّقْسِيْط، بيع قبل الانتقال، د ميوې د پيخيدو نه مخکښې خرڅول وغيره۔
رسول الله ﷺ د بيع اوشراء (تجارت) بعض قسمونه صرف پدې وجه ناجائز ګرځولي چه د سود پټې دروازې بندې کړې شي ځکه چه سود د اسلام په نظر کښې ډيره عظيمه ګناه او بد ترين اجتماعي جرم دې۔ مسلمانانو له پکار دي چه د سود او د بيع او شراء (تجارت) هغه تمام صورتونو نه بچ شي چه په هغې کښې د سود شبهه موندې کيږي۔
نبي ﷺ اول سود د خپل ترۀ عباس بن عبد المطلب رضی اللہ عنہ معاف کړې وو۔ د مکې د فتح کيدو په ورځ۔ ځکه چه هغه به خلقو سره دا قسم سودي معامله کوله۔ سود اسلام ځکه ناروا کړو چه پدې کښې ظلم دې او د خلقو د مجبورتيا نه غلطه فائده اخستل دي۔ حال دا چه شريعت په احسان امر کړې۔
صاحب د لباب (ابن عادل دمشقيّ) د حرمت پنځه وجې ذکر کړيدي :

(۱) د انسان مال اخستل دی په غیر د عوض نه. او حال دا چه د مسلمان د مال ډیر احترام دے.(۲) سود انسانان د کسبونو کولو نه منع کوی ځکه چه خلق به تجارت، صناعت نهٔ کوی.د زرو روپو په سر به دوه زره میاشت پس ملاویږی، نو د مخلوق ډیر منافع او مصالح او کاروبارونه به منقطع شی.

(۳) سود سره د قرض احسان کول ختمیږی ځکه کله چه سود حرام شی نو خلق به په خوشحالئ سره قرض ورکوی. او کله چه سود وی، نو بیا به قرض د مطلب دپاره ورکوی، د هغے په بدله کښ به مال اخلی. نو پدے کښ همدردی، خمخورګی او احسان کول ختمیږی.

(٤) اکثر قرض ورکونکے مالداروی او قرض اخستونکے غریب وی، نو که سود جائز شی مطلب به دا شی چه مالدار ته نوره موقعه ورکړے شی چه د غریب نه نور مال هم واخلی او ښه ورله مات کړی، نو دا په غریب باندے د رحم کولو نه خلاف دے.

(٥) سود جائز کیدل د عقل مطابق هیڅ معنیٰ نهٔ لری. (اللباب).

د سود بدی

د سود د بدئ او د هغے د دینی او دنیاوی مفاسدو او ضررونو په باره کښ ډیر احادیث راغلی دی. حاکمؒ او بیهقیؒ د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت کړے چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل چه «د سود درے اوویا (۷۳) دروازے دی، د هغے د ټولو نه آسانه ګناه دا ده لکه یو سړے چه د خپلے مور سره زنا اُوکړی».

په روایت د صحیح مسلم کښ دی :

[لَعَنَ اللهُ آكِلَ الرِّبَا وَمُوْكِلَهٗ وَكَاتِبَهٗ وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَاءٌ].

(الله لعنت کړے په خوړونکی د سود او په خوړونکی، او لیکونکی، او ګواهانو چه دا ټول (د سود په ګناه کښ) یو شان برابر دی).

لهذا بینکونو کښ هر قسم نوکری سود خوری ده. او په جامه کښ چه یوه روپئ د حرامو وی، عبادات او دعاګانے ئے نهٔ قبلیږی.د کافر دعا قبلیږی لیکن د حرام خور نهٔ قبلیږی.

رسول الله ﷺ د معراج په شپه یو سړے په یو نهر کښ اُولیدو چه کله به غاړے ته راوتو نو په خُله به په یو کمر ویشتلے کیدو، اُووئیل شو چه دا سود خوړونکے دے.

(صحیح بخاری وغیره).

﴿لا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِی﴾ دلته د قیام (پاڅیدو) نه مراد د قبرونو نه د قیامت په ورځ ښیدل دی، یعنی دوی چه د قبرونو نه راپورته کیږی نو داسے ګډوډ حال به ئے وی لکه څنګه چه

یو لیونی او پیرانی انسان کښې پیرے ننوتے وی او هغه ئے ګډوډ غورزوی راغورزوی۔ دا تفسیر د اکثرو مفسرینو دے۔

دویم مطلب دا هم کیدے شی چه: [لَایَعِیْشُوْنَ فِی الدُّنْیَا اِلَّا کَالْمَجَانِیْنِ] ۔ یعنی په دنیا کښې به د لیونو په شان ژوند تیروی)، د مال په راټولو به حرص کونکی او پریشانه وی، زړونو کښې به ئے سکون نۀ وی۔ دوی به پو هیږی چه د خلقو مونږه بدی شو۔

﴿یَتَخَبَّطُهُ﴾ تَخَبُّطُ د خَبْطُ نه دے ګډ وډوالی ته وائی، دلته ترے مراد مِرګی او پرزول دی۔ اَیْ یَصْرَعُهُ الشَّیْطَانُ۔ چه شیطان ئے راوپرزوی۔

﴿الشَّیْطَانُ﴾ د شیطان نه مراد [اَلْجِنُّ الشَّرِیْرُ] شری پیرے دے۔

﴿مِنَ الْمَسِّ﴾ د مس اصل معنیٰ ده رسیدل۔ بیا استعمالیږی د جنون او لیونتوب دپاره۔ رَجُلْ مَمْسُوْسٌ، لیونی ته وئیلے شی۔ نو دلته دا معنیٰ هم صحیح ده چه پیری مَسّه کړے وی یعنی وریورے انختے وی۔

دا آیت دلیل دے چه پیران په انسان کښې داخلیدے شی، الله ورته قدرت ورکړے۔

او حدیث کښې دی چه شیطان په انسان کښې د وینے په رګونو کښې ګرځی راګرځی۔

(بخاری ومسلم)۔

او دا خبره عقلًا او نقلًا ثابته ده۔ حدیث کښې دی:

((شیطان د انسان په تندونړی کښې شپه تیروی)) (بخاری ومسلم)۔

((شیطان د بنیادم په زړهٔ کوندے وهلی وی))۔ (بخاری وابن ابی شیبه)

نبی ﷺ د عثمان بن ابی العاصؓ نه پیرے د سپی په شکل ویستلے وو۔ (کما فی المستدرک)۔

او همدا ظاهر د قرآن دے، او کومو معتزله وُ چه وئیلی دی چه پیران په بدن د انسان کښې نشی داخلیدے، نو هغوی وئیلی دی چه دا ئے د عربو په ګمان وئیلی دی چه هغوی به دا وئیل چه د انسان په بدن کښې پیران ننوزی۔ او دلته ئے نسبت شیطان ته اُوکړو ځکه چه هغه پدے خوشحالیږی۔ ورنه دا ګډوډوالے په سبب د مِرګو دے او چه کله سوداء ماده په بدن کښې غالبه شی، نو په انسان باندے مِرګی بیماری راځی، ګډوډ غورزیږی راغورزیږی۔ اول قول صحیح دے۔ (النکت والعیون د ماوردی ۱/۲۰۳)۔

قرطبیؒ وئیلی دی چه دا آیت د هغه چه په رد کښې دلیل دے چه د انسان په بدن کښې د پیریانو د راتللو نه انکار کوی۔

لیکن اکثر خلق د پیرانو دعوے کوی، خاصکر زنانه طبقه کور کښې د خاوند یا سخر یا خواخے،

یا د خدمتونو نه تنګه شوی وی، نو په ځان پیران راولی۔ ددے د معلومولو طریقه دا ده چه کومه ژبه نهٔ ورځی، هغه دِے اُووائی۔

﴿ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا اِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا ﴾ کله چه الله تعالیٰ سود حرام کړو، نو بعض عربو (د ثقیف قبیلے څهٔ کسانو) اُووئیل: چه دا بیع به هم ناروا وی ځکه چه بیع خو د سود په شان ده، نو چه سود حرام وی، بیع به هم حرامه وی۔

(نو دوی بیع مشبه اُوګرځوله او ربا (سود) ئے مشبه بهٖ اُوګرځولو) بیع ئے په سود قیاس کړه۔

نو دوی اعتراض اُوکړو چه الله څنګه سود حرام وی او بیع نهٔ حراموی؟۔ حال دا چه بیع او سود یو شے دے۔ دا دلیل دے چه دوی سود حلال ګڼړلو او حرام شے حلال ګڼړل ښکاره کفر دے۔ ځکه ورته الله دومره سخت عذاب ورکوی۔

(ذلك) کښې اشاره ده اکل (خوراك) د ربا ته۔ یا اشاره ده په قیامت کښې دغه خاص راپاڅیدو ته چه هغه عذاب دے۔ یعنی دوی سود پدے وجه خوری چه حلال ئے ګڼړی۔

﴿ وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا﴾ دا یا داخل دے د دوی په وینا کښې، چه دوی دا وئیلی وو چه الله څنګه بیع حلاله کړه او سود ئے حرام کړو؟۔ یعنی دواړو کښې هیڅ فرق نشته، نو د الله تعالیٰ په فرق باندے دوی اعتراض اُوکړو۔ دویم: غوره دا ده چه دا د الله د طرف نه دوی ته جواب دے۔ چه بیع او سود دواړه یو شان نهٔ دی، بلکه دواړو کښې فرق دے، بیع حلاله ده او سود حرام دے ځکه چه بیع کښې هغه زیادت وی چه په هغے کښې ظلم نهٔ وی، او د انسانانو ژوند پدے پورے موقوف دے۔ او په سود کښې بغیر د عوض نه زیادت وی، او ظلم پکښې وی۔ نو ځکه یو حرام او بل حلال شو۔

فائده: دا آیت دلیل دے چه د نص په مقابله کښې قیاس کول او عقل پیش کول جائز نهٔ دی۔

اُوس الله تعالیٰ تخویف بیانوی: ﴿ فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى ﴾

د موعظه نه مراد منع کونکے بیان دے چه هغه دا آیت دے۔

﴿ فَانْتَهٰى ﴾ یعنی منع شو او د نهی تابع شو، د سودی معاملے او هر حرام کسب نه ئے توبه اُوویستله۔

﴿ فَلَهٗ مَا سَلَفَ ﴾ (نو وی به دهٔ له هغه مال چه مخکښې ئے ورکړے) د مَا سَلَفَ نه مراد هغه سودونه دی چه دهٔ مخکښې اخستی وی یعنی الله به ورته هغه هم معاف کړی او حکم به ورته نهٔ کوی چه هغه بیرته واپس کړه، بلکه هغه ورله تر اُوسه پورے حلال وو، ددے نه روستو حرام شو۔

○ یا مطلب دا دے چه دِی به ددهٔ دپاره هغه مال چه مخکښې ئے ورکړے دے، نو هغهٔ خپل مال (قرض) به ترے واپس واخلی او سود به ترے نهٔ اخلی۔

حافظ ابن کثیرؒ دلته یو حدیث راوړے چه ام محبةؓ عائشے رضی الله عنها ته اُووئیل چه ما په زید بن ارقمؓ باندے یو غلام په اته سوه روپئ په قرضو خرڅ کړو، بیا هغه پیسو ته محتاج شو نو د نیتے د پوره کیدو نه مخکښ هغه په ما باندے په شپږ سوه روپو په نقدو راخرڅ کړو؟ نو عائشےؓ اُوفرمایل چا تا ډیر ناروا کار کړیدے او زید بن ارقمؓ ته دا خبر اُورسوه چه که هغه توبه اُونۀ باسی نو هغه چه د رسول الله ﷺ سره کوم جهاد کړے هغهٔ به ورله الله تعالیٰ باطل کړی۔ هغے اُووئیل : که زۀ ترے دوه سوه وانخلم او شپږ سوه ترے واخلم (یعنی هغه زیادت ورته معاف کړم او خپل رأس المال ترے واخلم) نو دا به څنګه وی؟ عائشے اُوفرمایل: صحیح ده۔ بیا ئے دا آیت اُولوستلو۔ او دیته بیع العِینة وائی۔ دا دلیل دے چه هر قسم حرامه بیعه په سود کښ داخله ده۔ (ابن کثیر ۱/ ۷۱۱۰)

○ دا مَطلب هم صحیح دے چه ددۀ دپاره به هغه ګناهونه وی چه کوم ئے مخکښ کړی وی۔ یعنی د سود په پریخودو سره صرف د سود ګناه معاف کیږی او هر چه نور مخکنی ګناهونه دی نو د هغے نه به هم توبه کول ضروری وی۔

﴿وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ﴾ (ه) ضمیر ربا (سود) ته راجع دے یعنی د الله خوښه ده که حلالوی ئے او که حراموی ئے۔ دے کښ ستاسو څه کار دے؟۔ هغه حکیم او علیم دے۔

○ یا امرُه کښ ضمیر رجل ته راجع دے یعنی کار ددے سړی به سپارلے کیږی الله ته چه دا بیا سود کوی او که نه ئے کوی۔ نو د هغے مطابق به سزا او اجر ورکولے شی۔ او همدا ظاهر مطلب دے ځکه چه پدے سره ټول ضمائر د یو بل موافق کیږی۔

او پدے کښ دا مطلب هم صِحیح کیږی چه کار ددے سړی به الله ته سپارلے شی، یعنی اسلامی حکومت به دا په مخکنو سودونو باندے نۀ راګیروی۔لیکن ددے معنیٰ دا نۀ ده چه د الله د طرف نه هم دۀ ته معافی اُوشوه بلکه ددۀ معامله الله ته اُوسپارل شوه، الله ته د سپارلو وجه دا ده چه په آخرت کښ د رانیولو نه دَ بچکیدو دپاره صرف دا کافی نۀ ده چه بنده سود اُونکړی بلکه دا هم ضروری ده چه د بنده د زړۀ نه به د سود هر قسم شائبه اُوځی۔ او پدے کښ اشاره ده چه داسے قسم خلق ډیر د آخرت نه نۀ یے خوفه کیږی بلکه څومره پورے چه کیدے شی د خپلو مظالمو د تلافی کوشش به کوی ځکه چه دا د حقوق العباد سره تعلق لری۔ (تدبر قرآن)۔

﴿وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾

سوال : ظاهر ددے آیت خو د خوارجو او معتزلو دپاره دلیل ګرځی چه سود ګناه ده او کونکے ئے همیشه جهنم ته ځی معلومیږی چه په ګناه کولو سره انسان کافر کیږی؟۔

جواب : مَنْ عَادَ سره دلته قید دے (اَیْ مَنْ عَادَ اِلٰی تَحْلِیْلِ الرِّبَا) ۔ځوك چه راواپس شو حلال

ګنړلو د سود ته). لکه د مخکښ نه معلومه شوه چه دوی سود حلال ګنړلو. ځکه چه داسے مسلمان نۀ دے موجود چه هغه ته د سود بدی ښکاره شوی وی، او بیا هم هغه سود اُوکړی او د هغے دپاره دلائل وائی چه سود نه بغیر کار نۀ چلیږی. یا خو به پو هه نۀ وی چه دا سود دے، یا به ئے د سود بدی په ذهن کښ حاضره نۀ وی.

جواب۲ : د سود سزا دا ده چه انسان همیشه اُور ته داخلوی، لیکن که مانع موجود وی چه ایمان پکښ دے، نور نیک اعمال پکښ موجود دی. د الله دپاره ئے مجاهدے کړی وی او الله سره ئے محبت هم وو، او سود ئے هم کولو نو هغه به ئے په اُور کښ د همیشه پاتے کیدو نه راوباسی. نو په یو وخت د اوقاتو کښ به د اُور نه راوځی. خو چه ایمان هم ورسره نشته او سود خور هم دے نو همیشه به جهنم کښ وی. نو دا دلیل نۀ دے چه انسان په ګناه کولو سره کافر دے.

يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿۲۷۶﴾
ګموی (ختموی) الله تعالیٰ مال د سود لره او ډیروی صدقو لره او الله مینه نۀ کوی د هر ډیر ناشکره ډیر ګناهګار سره.

تفسیر : اُوس د ربا او د صدقے مینځ کښ فرق بیانوی په اعتبار د نتیجے سره، چه انجام د سود هلاکت او تباهی ده، او انجام د صدقے زیادت او برکت دے. او ضمناً صدقے ته ترغیب دے او د سود نه منع ده. حدیث کښ دی :[اَلرِّبَا وَاِنْ كَثُرَ فَاِنَّ عَاقِبَتَهٗ تَصِيْرُ اِلٰى قُلٍّ)

[ابن ماجه وصحیح الجامع الصغیر ۳۵۴۲].

سود که هر څومره ډیر شی خو عاقبت او انجام به ئے کمی ته واپس کیږی.

﴿ يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبَا ﴾ محق : زائل کولو او ختمولو ته وئیلے شی، دلته ترے د مال بے برکتی مراد ده. عبد الله بن عباسؓ فرمائی :[لَايَقْبَلُ مِنْهُ صَدَقَةً وَلَا حَجًّا وَلَا جِهَادًا وَلَا صِلَةَ رَحِمٍ] - نۀ به ترے الله صدقه قبلوی، نۀ حج، نۀ جهاد، نۀ صله رحمی). نو دا څومره لویه بے برکتی ده چه مال ئے اُولګولو او اجر ورته ملاؤ نشو. (قرطبی، النکت، الوسیط)

صاحب اللبابؒ فرمائی : د سود بے برکتی په څلورو طریقو ده :

(۱) د سود خور عاقبت به فقیری وی لکه مخکښ حدیث تیر شو.

(۲) که په ظاهر کښ ئے مال کم نۀ وی، نو انجام به ئے بدی او نقصان وی، عدالت به ئے ساقط

وی، امانت به ئې ختم وی، او فاسق او سخت زړے به ورته وئیلے شی۔
(۳) د کومو فقیرانو نه ئې چه مال د سود په وجه اخستے، هغوی به پرے لعنتونه وائی او بنیرے به ورته کوی۔ نو ددے په سبب به ددهٔ د نفس او د مال نه خیر او برکت ختمیږی۔
(٤) کله چه دا په خلقو کښې مشهور شی چه دهٔ مالونه په سود سره جمع کړیدی او دا ددهٔ خپل نهٔ دی، نو د غلا ګرو، ظالمانو، قطاع طریقو او ډاکوانو طمع به پکښې پیدا شی، نو دهٔ ته به دا مال نهٔ پریدی۔
او په آخرت کښې بے برکتی په درے طریقو ده : (۱) اول قول د ابن عباسؓ ذکر شو چه الله ترے عبادات نهٔ قبلوی۔ (۲) د مرګ په وخت کښې به د دنیا مال زائل شی او ګناه او ملامتیا به ددهٔ په سر پاتے شی، نو په لوئی تاوان کښې به اخته شی۔
(۳) حدیث کښې دی چه مالدار جنتیان به د فقیرانو نه جنت ته پنځه سوه کاله روستو داخلیږی۔دا د حلال مال حالت دے، نو بیا د حرامے مالدارئ به څه حال وی؟ دا لوئی نقصان دے۔
﴿ وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ ﴾ صاحب اللبابؒ فرمائی : د صدقاتو زیاتے په دنیا کښې په څلور طریقو دے۔
(۱) څوك چه د الله بندګانو سره احسان کوی، نو الله به هغه ضائع او اُوګے نهٔ پریدی۔ او ملائك هر صبا دعا کوی : «اے الله انفاق کونکی ته بدله ورکړه»۔
(۲) هره ورځ به ددهٔ مرتبه پورته کولے شی او ښائسته صفات به ئې کیدے شی او زړونه به ورته مائله کیږی۔
(۳) فقیران به ورته د زړونو نه خالصه دعا کوی۔
(۳) غلط خلق به دهٔ ته نهٔ متوجه کیږی ځکه چه کله مشهوره شی چه فلانے شخص د فقیرانو خیال ساتی نو هغه ته به ضرر نهٔ رسوی۔ آه۔
او په آخرت کښې د صدقاتو زیاتوالے دا دے چه الله تعالیٰ یوه کجوره د غر هومره غټوی، (بخاری ومسلم) او بیا په ډیرو چندونو بدله ورکوی۔ او نبیﷺ فرمائی :
«په درے څیزونو زهٔ قسم کوم : ۱- بنده چه معافی اُوکړی نو الله ورله عزت زیاتوی۔
۲- او څوك چه د الله دپاره تواضع اُوکړی نو الله ئې اُوچتوی۔
۳- او کوم انسان چه صدقه اُوکړی نو په دے سره مال نهٔ کمیږی»۔ (احمد ومسلم)۔
دارنګه د صدقے په وجه په ایمان کښې زیادت راځی، او انسان ته د نیك اعمالو توفیق ملاویږی۔ [فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى]۔
﴿وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ ﴾ کفار او اثیم دواړه د مبالغے صیغے دی، نو معنیٰ دا ده چه کفر او ګناه کول ددهٔ عادت وی همیشه دپاره ئې کوی، نو دا لائق ده د حال د هغه چا سره چه سود ته حلال

وائی۔ (۲) یا دا چه کُفَّار راجع دے هغه چا ته چه د سود د حراموالی نه منکر وی، او أَثِيم هغه دے چه حرام ئے گنړی لیکن کوی ئے۔ (اللباب لابن عادل، البغوی)

(۳) د کُفَّار نه مراد د الله د نعمتونو نه ناشکره چه په خپلو مالونو اکتفاء نهٔ کوی او د بندګانو مالونه په غلطه طریقه حاصلوی۔

(٤) ابن کثیرؒ وائی: د کُفَّار نه په زړهٔ سره کافر مراد دے، او د أَثِيم نه په وینا او په عمل سره گناهګار مراد دے۔ او ددے مناسبت د مخکښ سره دا دے چه سود کونکے د الله تعالیٰ په حلال مال راضی نهٔ دے او په حلال کسب باندے اکتفاء نهٔ کوی، او د خلقو د مالونو په غلطو طریقو سره د حاصلولو کوشش کوی، نو دا د الله تعالیٰ د نعمت نه منکر دے او په غلطه طریقه د خلقو د مالونو په خوړلو گناهګار دے۔

او پدے کښ اشاره ده چه دغه خلق پدے وینا سره چه سود په شان د بیع دے کافران شو۔ او د سود خورو عمل ځکه قبول نهٔ دے چه دوی د سود په حلال گنړلو یا د هغے د حرمت نه په انکار کولو سره کافران دی۔

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّلِحٰتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا
یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او نیك عملونه ئے کړی دی او د مانځه پابندی ئے کړے ده او ورکړے ئے دے
الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۲۷۷﴾
زکوٰة، د دوی دپاره ثوابونه دی په نزد د رب د دوی او نهٔ به یره وی په دوی او نهٔ به دوی غمجن شی۔

تفسیر: اُوس مؤمنانو ته بِشارت ورکوی، هغه کسان چه په الله ئے صحیح ایمان راوړے وی او د هغه د حکمونو تابعداروی، او د هغه د نعمتونو شکر ادا کوی، او مخلوق سره احسان کوی چه دوی به د قیامت د ورځے د مصیبتونو نه بچ وی او الله تعالیٰ دوی له کرامتونه او عزتونه تیار کړی۔ (ابن کثیرؒ)۔

د رِبا (سود) د آیتونو په مینځ کښ ددے آیت د راوړلو مقصد دا بیانول دی چه د سودی کاروبار نه د بچ کیدو اَهم سبب په الله باندے ایمان او د هغه د حقوقو ادائیګی ده۔

﴿وَآتَوُا الزَّكَاةَ﴾ پدے کښ اشاره ده چه ایمان والا به د بل سره احسان کوی، نهٔ دا چه د هغوی نه سودونه واخلی او په هغوی ظلم اُوکړی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۲۷۸﴾

اے ایمان والو ! اُویریږئ د الله نه او پریدئ هغه چه باقي دے د سود نه که یئ تاسو ایمان لرونکی۔

تفسیر: د سود په باره کښ نور قوانین بیانوی : اول ئے امر په تقوىٰ اُوکړو چه اشاره ده چه د تقوىٰ تقاضا دا ده چه سود اُونکړے شي۔ او سود پریخودو سره انسان ځان د اُور نه بچ کوی۔

﴿ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا﴾ اَىْ ذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الْمَالِ عَلَى الْمَقْرُوْضِ]۔

یعنی په قرضدارو باندے د سود کوم رقم چه ستاسو پاتے شویدے، نو هغه پریدئ۔ اُوس به هغه نشی اخستلے، د ایمان تقاضا همدغه ده۔ ځکه چه سود او ایمان دواړه نشي جمع کیدے۔ او خپل رأس المال ترے اخستے شي۔

(۲) دویمه معنىٰ دا ده چه (دَعُوْا طُرَقَ الرِّبَا) (د سود چه کوم لارے دی تولے پریدئ)۔ یعنی سود که په هره طریقه او هر نوم سره حاصلیږی، هغه پریدئ۔

﴿ مُؤْمِنِيْنَ ﴾ یعنی که تاسو ځان ته حقیقي او رشتیني مؤمنان وایئ نو سود به پریدئ۔

فائده : سود الله تعالىٰ ته ډیر مبغوض او ناکاره شے وو، او فراخه معاشی فساد وو، پدے وجه الله تعالىٰ په مکی آیتونو کښ ددے ظلم کیدل شروع کړی وو، او مواعظ او نصیحتونه ئے د هغے په باره کښ بیان کړی وو لکه سورة الروم کښ ئے ذکر کړے چه هغه مکی سورت دے۔ نو د حجة الوداع په موقعه ئے پدے باندے آخری ګوزار اُوکړو چه هر قسمه سود پریدئ۔ او دا آیتونه د حجة الوداع په موقعه نازل شویدی لیکن د مضمون د مناسبت په وجه دلته لګولے شویدی۔

فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُوْلِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ

نو که اُونکړو تاسو دا کار نو خبر شئ په جنګ سره د طرفه د الله او د رسول د هغه نه او که تاسو توبه اُوویستله

فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ ﴿۲۷۹﴾

نو وی به تاسو دپاره سرونه د مالونو ستاسو، تاسو به ظلم نهٔ کوئ او نهٔ به په تاسو باندے ظلم کیدے شي۔

تفسیر : پدے کښ د سود په نهٔ پریخودو سره سخته زورنه ورکوی۔

﴿ فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا﴾ دلته د فعل نه مراد پریخودل د سود دی۔ یعنی که سود پرے نهٔ دئ۔

﴿ فَأْذَنُوا ﴾ د اذن نه مراد خبریدل او غوږ کیخودل دی۔[اَىْ فَاعْلَمُوْا یا فَاسْتَمِعُوْا]۔ خبر شئ او غوږ کیدئ۔

﴿ بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُوْلِهِ ﴾ حرب کښ تنوین د تعظیم دپاره دے۔ یعنی الله او رسول به ورسره

عظیم جنګ کوی. او (مِنَ الله) ئے اُووئیل او (بحرب الله) ئے اُونهٔ وئیلو ځکه چه په هغے کښ احتمال د اضافت وو مفعول ته او حال دا چه دلته حرب د الله د طرف نه دے. او پدے کښ ډیر تاکید دے. (۱) ددے یوه معنیٰ دا ده چه الله به ورسره جنګ کوی پدے طریقه چه خپل رسول ته به حکم اُوکړی چه دوی سره جنګ اُوکړی. او اشاره ده چه مسلمانانو له پکار دی چه د داسے خلقو سره جنګ اُوکړی. (۲) دویم حرب په معنیٰ د دشمنیٔ سره دے یعنی که تاسو د سود نه منع نشویٔ نو تاسو به د الله او د رسول دشمنان یئ. (تفسیر الماوردی).

د سود خور حکم

پدے باندے دا مسئله تفریع ده چه که څوك سود ته حلال وائی نو دا مرتد دے، نو دوی سره به د مرتدینو په شان قتال کولے شی، او که څوك ددے په حرمت اقرار کوی، لیکن بیائے هم نهٔ پریدی، نو دوی سره به د بُغاتو (باغیانو) په شان قتال کولے شی لکه ابوبکر صدیق ﷺ چه د زکوٰة منع کونکو سره قتال کړے وو.

بیا که د الله رسول ﷺ ژوندے وی نو هغه به ورسره جنګ کوی او د هغه د وفات نه روستو به د هغه په ځائے خلیفه او د مسلمانانو بادشاه د دغسے سود خورو سره جنګ کوی. او د عبد الله بن عباس ﷺ نه نقل دی چه د هغه نه به توبه طلب کولے شی، که توبه ئے وبستله نو صحیح ده، او که توبه ئے ونهٔ وبستله نو څټ به ئے وهلے شی.

(اللباب وروح المعانی۳/۵۳، خازن۱/۲٥٤)

او دا آیت دلیل دے چه څوك د یوشرعی حکم نه انکار اُوکړی نو دا د ملتِ اسلامی نه خارج دے، او داسے کافر دے لکه د ټول شریعت نه ئے چه انکار کړے وی. (اللباب).

او اشاره ده چه څوك په سُود همیشوالے کوی نو الله به د هغه خاتمه خرابه وی. (قاسمیؒ).

فائده : الله د دوه قسمه خلقو سره د جنګ اعلان کړے. (۱) یو د سود خور سره.

(۲) دویم د الله د دوستانو سره دشمنی کونکو او هغوی ته دضرر ورکونکو سره. لکه حدیث قدسی کښ دی :[مَنْ عَادٰی لِیْ وَلِیًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ] څوك چه زما د یو ولی (نیك بنده) سره دشمنی کوی، نو زهٔ هغه ته د جنګ خبر ورکوم. (صحیح بخاری)

په یو بل روایت د ابن ماجه کښ دی : [فَقَدْ بَارَزَ اللهَ بِالْمُحَارَبَةِ] نو دا د الله جنګ ته ښکاره میدان ته را اُووتو. (څوك چه د اولیاء الله نه مددونه غواړی دا د اولیاؤ سره دشمنی کوی).

د سود نه د توبې کولو نه روستو د مال حالت

﴿وَإِنْ تُبْتُمْ﴾ که يو انسان توبه اُوويستله او د هغه په لاس کښې د سود مال موجود وي، او معلوم وي او د چا نه ئې چه اخستې دې هغه هم حاضر وي، نو هغه ته دې واپس کړي، او که وفات شوې وي، نو صدقه دې ئې کړي. او که خوړلې وي او ختم شوې وي، نو بيا معاف دې. او دا حکم د هر هغه مال دې چه په ظلم او حرامه طريقه سره حاصل شوې وي. (قرطبي).

﴿فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ﴾ رأس المال (اصلي پنګه) به تاسو ته ملاوېږي مثلًا يو سړي ته ئې زر روپئ ورکړې او د وخت په تيريدو په هغه دوه دوه زره واوړيدلې نو بس همدغه زر روپئ به ترې واخلي او ددې وخت تيريدو په بدله کښې به ترې عوض نۀ اخلي.

﴿لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ﴾ اول ظلم په معنیٰ د زياتي، او دويم په معنیٰ د نقصان سره دې. يعني تاسو به په قرضدارو باندې ظلم نۀ کوئ چه د رأس المال نه د زيات مطالبه اُوکړئ، او په تاسو به د هغوی د طرفه ظلم (کمې) نشي کيدې چه هغوی درته اُووائي چه ډير سود دې رانه خوړلې دې. دا رأس المال نۀ درکوم، يا به کم درکوم، يا ټال مټول کوي.

وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ
او که چرته وي تنګسيا والا (قرضدارې) نو لازم دي انتظار کول هغه ته تر وخت د مالدارئ پورې
وَأَن تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۲۸۰﴾
او که تاسو صدقه اوکړئ (په قرضداري باندې) غوره ده ستاسو دپاره که تاسو پو هيږئ.

تفسير : اُوس يو عام قانون بيانوي چه يو سړي باندې قرض دې، او مال ورسره نشته نو هغه ته به انتظار کولې شي چه کله ورسره مال پيدا شو، بيا به ئې ورکړي او که ورسره پيدا نۀ شو او پدې حال کښې مړ شو، نو ميراث به ترې واخلي. که هغه هم ورسره نۀ وو، نو بيا به په دنيا کښې صبر کوي. آخرت کښې به الله ددې بدله ورکړي. هغه باندې هم يو مصيبت وو او په تا باندې هم مصيبت دې.

اُوس پدې وخت کښې چه په چا قرض واوريدو او هغه غريب وو، نو څرمن ترې اُوباسي خو قرض ترې غواړي، او الله تعالیٰ په انتظار کولو امر کړې دې، ليکن بل طرفته هغه سړې به هم ظلم نکوي چه ورسره وي او نۀ ئې ورکوي لکه نن صبا دا ظلم شروع دې. يا قرضدارې پکښې سُستي کوي او کاروبار نۀ کوي، ځان ئې اچولې وي، د پردو پيسو غم ورسره نۀ وي.

﴿وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ﴾ یعنی که یو تن د ټول یا بعض مال ادا کولو نه عاجز وی نو هغه ته به دومره انتظار کولے شی چه دغه اندازه مال ورسره راشی چه ستا قرض پرے ادا کولے شی۔ د جاهلیت والو په شان به نهٔ کوی چه کله به نیټه د قرض پوره کیدهٔ، نو یو تن به خپل قرضداری ته وئیل چه یا به قرض ادا کوے او که نهٔ وی نو بیا به ورپسے سود راکوے۔

(عُسْرَةٌ) د مال د نشتوالی د وجه نه تنګ حالئ او تنګ دستئ ته وائی۔

(فَنَظِرَةٌ) دا خبر د مبتدا دے یعنی فَالْوَاجِبُ نَظِرَةٌ ۔ پس واجب دی انتظار کول۔ یا دا مبتداء ده، خبرئے پټ دے۔ اَیْ فَعَلَیْهِ نَظِرَةٌ۔ په دهٔ باندے انتظار کول لازم دی۔

(نَظِرَةٌ) تاخیر، انتظار او مهلت ته وائی۔

(مَیْسَرَةٌ) مصدر میمی دے په معنیٰ د یُسر او آسانئ سره۔

تنګ دست انسان ته د صبر او معافی کولو فضیلتونه

په احادیثو کښ تنګ دست انسان ته د صبر کولو او د معافی کولو ډیر فضیلتونه راغلی دی۔ په صحیحینو وغیره کښ د ابو هریره ﷺ روایت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((یو سړی به خلقو سره په قرض سره لین دین کولو بیا به ئے خپل غلام ته وئیل : کله چه تهٔ تنګ دست ته ورشے، نو د هغه نه تجاوز کوه، کیدے شی چه الله تعالیٰ زمونږ نه تجاوز اُوکړی، نو کله چه وفات شو، الله د هغه نه تجاوز اُوکړو. (یعنی ګناهونه ئے ورته معاف کړل)))۔

دا شخص ګناهګار وو لیکن پدے یو عمل الله تعالیٰ معاف کړو۔

○ امام مسلمؒ او احمدؒ د ابو قتاده حارث بن ربعی انصاری ﷺ نه روایت کړے چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : ((چا چه د یو قرضداری نه څهٔ قرض کم کړو، یا ئے هغه ته معاف کړو، نو دا به د قیامت په ورځ د عرش په سوری کښ وی))۔

﴿وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ پدے کښ ترغیب دے معاف کولو د اصل مال ته، خاصکر کله چه قرضدار غریب وی، او څه نهٔ مونده کوی، پدے معاف کولو کښ ډیر اجر او ثواب دے۔ معنیٰ دا ده چه که تاسو صدقه اُوکړئ په تنګدسته قرضدارانو چه ټول مال ورته معاف کړئ، یا بعض حصه، نو دا ستاسو دپاره د انتظار کولو نه ډیر غوره دی، او ثواب ئے ډیر زیات دے۔ ځکه چه پدے سره په دنیا کښ ښائسته ثناء او صفت حاصلیږی او په آخرت کښ ډیر اجر۔ (خازن۱/۲۵٤)

علماء فرمائی : کله د واجبو نه مستحب او نفل غوره وی، اجر پکښ زیات وی۔ دلته انتظار کول واجب دی او په هغه باندے صدقه کول مستحب دی، لیکن دا د انتظار نه غوره دی۔ مګر بعض علماء وائی چه په صدقه کولو کښ دوه کارونه دی، انتظار هم شته او بیا نهٔ غوختل هم۔

نو ځکه معاف کول ډیر اجر لري۔

﴿إِنْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ ددے جزاء پټه ده [أَيْ إِنْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ أَنَّ هٰذَا التَّصَدُّقَ خَيْرٌ لَّكُمْ فَلَا تُبَاطِؤُوا فِيْ فِعْلِهِ] (الوسيط) يعنى كه تاسو پو هيږئ چه په تنګ دست باندے خيرات كول ستاسو دپاره غوره دى نو تاسو پرے عمل اُوكړئ او ددے په كولو كښ تاخير مهٔ كوئ)۔

ځكه چه الله به تا سره آسانى اُوكړى۔ لكه حديث كښ دى: چا چه په يو تنګ دست سره آسانى اُوكړه نو الله به دهٔ سره آسانى اُوكړى په دنيا او آخرت كښ۔ (ابن ماجه بسند صحيح)

○ ابن عُثيمينؒ فرمائى: دا جمله شرطيه مستقله ده او د مخكښ سره پيوسته نهٔ ده، ځكه بيا معنىٰ كښ فساد راځى، چه صدقه كول به زمونږ دپاره غوره وى كه مونږ پو هيږو، او كه چرے نهٔ پو هيږو نو بيا به صدقه كول زمونږ دپاره بهتره نهٔ وى۔ او دا معنىٰ خو صحيح نهٔ ده، بلكه معنىٰ دا ده چه[إِنْ كُنتُمْ مِنْ ذَوِي الْعِلْمِ فَافْعَلُوْا – تَصَدَّقُوْا]

كه تاسو د علم والا يئ نو دا كار اُوكړئ، صدقه پرے اُوكړئ)۔

وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ إِلَى اللّٰهِ ثُمَّ تُوَفّٰى
اُويريږئ د هغه ورځے نه چه واپس به كړے شئ تاسو په هغے كښ الله تعالىٰ ته بيا به پوره وركړے شى
كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٨١﴾
هر نفس ته (بدله د) هغه عمل چه دهٔ كړے وى او په دوى باندے به هيڅ ظلم نشى كيدے۔

تفسير: پدے آيت كښ الله تعالىٰ د آخرت يره بيان كړے ده، او دوه مشهده ئے بيان كړى، يو دا چه الله تعالىٰ ته ستاسو ورتګ دے او د الله مخے ته به اُودريږئ يعنى مشهد الموت والقيامة۔ (مرګ به دربانديے راځى او قيامت كښ به الله ته پيش كيږئ) او بل دا چه دا كوم عملونه مو كړى دى، د هغے سزاء او جزاء به درته ملاويږى۔ يعنى مشهد الحساب۔ دواړو باندے نظر واچوه، نو تا ته به پدے احكامو عمل كول او تول ګناهونه پريخودل آسان شى۔

د عبد الله بن عباس رضى الله عنهما نه روايت دے چه په نبى ﷺ باندے د قرآن نه آخرى آيت چه نازل شو هغه دا آيت دے۔ د نبى ﷺ د وفات نه يو اتيا ورځے مخكښ نازل شويدے۔ (فتح البيان)۔

سعيد بن جبيرؒ فرمائى: د نبى ﷺ د وفات نه نهه شپے مخكښ نازل شوے۔ بعض: اُووه ورځے ذكر كوى۔

﴿وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ إِلَى اللّٰهِ﴾ د (يَوْمًا) نه مخكښ د عذاب يا حساب لفظ پټ دے۔

يعنى د قيامت د ورځے د عذاب او حساب نه يره اُوكړئ، او د آخرت نه يره دا ده چه د هغے دپاره

تیارے اُوکړي، ددے وجه نه ئے نفسِ خوف او خشیت لفظ ذکر نکړو، بلکه تقویٰ ئے ذکر کړه ځکه چه تقویٰ کښې یره وي په نیك اعمالو کولو سره۔
د (یَوْمًا) نه مراد د قیامت ورځ ده، لیکن پدے کښې ضمناً د مرګ ورځ هم مراد ده ځکه چه پدے ورځ هم د بنده ملاقات د الله سره کیږي۔
﴿وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ الْمَسَاقُ﴾۔
(تُرْجَعُوْنَ) یعني تاسو به پدے ورځ کښې د الله حساب ته پیش کولے شئ۔
(تُرْجَعُوْنَ) ئے صیغه مجهوله راوړه ځکه که د انسان خوښه وي او که نهٔ، خو الله به ئے ځان ته پیش کوي۔
یعني که یو انسان د چا په باره کښې دا خیال کوي چه صبا له زما شپه د هغه سره راځي نو د هغه ډیر اکرام کوي، دے دپاره چه بیا ددهٔ اکرام اُوکړے شي، نو د بنده ګانو خو د مرګ نه روستو تولے شپے د الله سره دي، نو بیا به ولے د هغه دپاره تیارے نکوي۔
﴿ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ﴾ که چا نیك عمل کړے وي الله تعالیٰ ئے نهٔ بربادوي، او که چا بد کړے وي نو الله ئے پرے نهٔ زیاتوي۔
علامه مُهایميّ وائي : که یو انسان په خپل قرضداری سختي او تنګی راوستی وي، نو الله به د هغه نه پوره حق واخلي چه په هغه به تنګي راولي، او که هغه سره ئے آساني کړي وي نو الله ډیر لائق دے چه د هغه سره آساني اُوکړي۔ او دغه شان که قرضدارے قادر وي، او مالك ته ئے پوره حق نهٔ وي ادا کړے، نو الله به د هغهٔ نه پوره حق واخلي، او که څوك قادر نهٔ وي په ادا کولو نو امید دے چه الله به ورته معافي اُوکړي، او د هغه جګړه ماربه د خپل طرف نه په څهٔ عوض راضي کړي۔ (قاسميّ)
لنډه دا چه بل سره آساني کول د خپل ځان سره د آساني کولو سبب دے۔
﴿كَسَبَتْ﴾ قرطبيّ وئیلي دي چه كَسَبَتْ لفظ دلیل دے چه دارومدار د جزاء او سزا په عقیده او عمل دے۔
﴿لَا يُظْلَمُوْنَ﴾ یعني په دوي به ظلم نشي کیدے په زیاتوالي او کموالي سره۔
تردے ځائے پورے د احسان او ظلم متعلق خبره بیانه شوه اُوس عدل بیانوي۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلٰى أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ وَلْيَكْتُبْ

اے ایمان والو! کله چه معامله کوئ تاسو په قرض سره تر یوے نیتی مقررے پورے نو اُولیکئ هغه او لیکل دے اُوکړي

بَّيۡنَكُمۡ كَاتِبٌ بِالۡعَدۡلِ وَلَا يَأۡبَ كَاتِبٌ أَنۡ يَكۡتُبَ كَمَا

په مینځ ستاسو کښې یو لیکونکے په انصاف سره او انکار دِے نهٔ کوی لیکونکے د لیکلو نه لکه څنګه چه

عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلۡيَكۡتُبۡ وَلۡيُمۡلِلِ الَّذِىۡ عَلَيۡهِ الۡحَقُّ

خودنه کړے ده دهٔ ته الله تعالیٰ نو لیکل دِے اُوکړی او بیان دِے اُوکړی هغه کس چه په هغه باندِے حق دِے

وَلۡيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ شَيۡـًٔا فَإِنۡ كَانَ الَّذِىۡ

او ویره دِے کوی د الله نه چه رب ددهٔ دِے او نهٔ دِے کموی د هغے (حق) نه هیڅ شے نو که چرته وی هغه کس

عَلَيۡهِ الۡحَقُّ سَفِيۡهًا أَوۡ ضَعِيۡفًا أَوۡلَا يَسۡتَطِيۡعُ أَنۡ يُّمِلَّ هُوَ فَلۡيُمۡلِلۡ

چه په هغه باندِے حق (قرض) دِے، بے عقله یا کمزورِے یا طاقت نهٔ لری چه بیان اُوکړی نو بیان دِے اُوکړی

وَلِيُّهٗ بِالۡعَدۡلِ وَاسۡتَشۡهِدُوۡا شَهِيۡدَيۡنِ مِنۡ رِّجَالِكُمۡ فَإِنۡ لَّمۡ يَكُوۡنَا رَجُلَيۡنِ

وارث د هغه په انصاف سره او ګواهان طلب کړئ دوه ګواهان د سړو ستاسو نه نو که چرته نهٔ وو دوه سړی

فَرَجُلٌ وَّامۡرَأَتَانِ مِمَّنۡ تَرۡضَوۡنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ أَنۡ تَضِلَّ

نو یو سړے او دوه زنانه (دِے ګواهی اُوکړی) د هغه چا نه چه تاسوئے غوره کوئ د ګواهانو نه چه هیر کړی

إِحۡدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحۡدَاهُمَا الۡأُخۡرٰى وَلَا يَأۡبَ الشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُوۡا

یو ددِے ښځو نه نو رایاده به کړی یو ددِے دواړو نه بلے ته او انکار دِے نهٔ کوی ګواهان کله چه دوی را اُوبللے شی

وَلَا تَسۡأَمُوۡا أَنۡ تَكۡتُبُوۡهُ صَغِيۡرًا أَوۡ كَبِيۡرًا إِلٰى أَجَلِهٖ

او مهٔ سترې کیږئ ددِے نه چه اُولیکئ تاسو هغه (قرض) لره که لږ وی یا ډیر وی تر نیټے د هغے پورے

ذٰلِكُمۡ أَقۡسَطُ عِنۡدَ اللّٰهِ وَأَقۡوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدۡنٰى

دا لیکل ډیره د انصاف خبره ده د الله په نزد او ډیر برابرونکے دِے ګواهئ لره او ډیره نزدِے ده

أَلَّا تَرۡتَابُوۡا إِلَّا أَنۡ تَكُوۡنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيۡرُوۡنَهَا

دِے ته چه تاسو به شك کښې نهٔ کوئ مګر که چرته وی تجارت لاس په لاس چه اړوئ راړوئ تاسو هغه

بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ
په مینځ ستاسو کښې نو نشته په تاسو ګناه چه اُونهٔ لیکئ هغې لره اوګواهان اُونیسئ کله چه تاسو خرڅول اخستل کوئ
وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ
او ضرر دې نهٔ ورکوی لیکونکې او نهٔ ګواه او که چرته تاسو کوئ دا سې نو یقیناً دا نافرمانی ده په تاسو پورې پیوسته
وَاتَّقُوا اللَّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۲۸۲﴾
او وېرېږئ د الله نه او تعلیم درکوی تاسو ته الله تعالیٰ او الله تعالیٰ په هر څیز باندې ښهٔ پوهه دې۔

تفسیر:

ربط: ۱-کافران وائی چه هرکله سود حرام شو نو پدې سره خو زمونږ زندګی خرابیږی، مالونه موکمیږی، نو الله فرمائی چه په حلاله طریقه تجارتونه او کسبونه کوئ، الله به درله رزق کښې برکت پیدا کوی۔

۲- مخکښې ئې اُوفرمایل چه په سودی معامله کښې فساد دې، نو اُوس وائی چه په کسبونو او تجارتونو کښې د فساد نه د بچ کیدو ذریعې استعمال کړئ، او پدې راتلونکی احکامو عمل اُوکړئ نو معاملات به مو د فساد نه بچ شی۔

۳- په سود او د بیع په بعض صورتونو (لکه بیع السلم) په دواړو کښې د قرضو معامله ده، لیکن سود حرام دې، او بیع السلم شریعت جائز کړه ځکه چه دې کښې عدل دې۔

مضمون: پدې رکوع کښې د عدل احکام بیانوی چه دې ته معاملات او بیوع وائی، دا احکام ددې دپاره ذکر شویدی چه د مسلمانانو په خپلو کښې د معاملاتو انتظام په ښهٔ طریقه اُوچلیږی او په خپلو کښې جنګ جګړه پیدا نهٔ شی۔

دا معاملات چه الله مشروع کړی دی، نو دې کښې عدل دې، کله پکښې احسان وی، او کله نهٔ وی، او مِنْ وَجْه عبادت دې، او غالباً معامله ده۔

بیا دې ته (آيَةُ الدَّيْن، آيَةُ الْمُدَايَنَة) وائی په قرآن کریم کښې د لفظ په اعتبار سره لوئی آیت دې۔ مفسرینو لیکلی دی چه پدې کښې پنځویشت احکام ذکر دی (لیکن واړهٔ واړهٔ پکښې ددې نه هم ډیر دی) چه ډیر فقهی بابونه پکښې راجمع دی، لکه باب السلم (د یو شی قیمت مخکښې ورکول او شې روستو اخستل)، علم الکتابة، علم الانشاء، باب الحِجْر، باب الشهادة، باب الرَّهن، باب الامانة ددې ابوابو اصول پکښې ذکر شوی دی۔ او دا د قرآن بلاغت دې چه په یو آیت کښې دومره

زيات احكام بيانوي، كه بل كتاب بيانولے نو په لسو صفحو كښ به ئے هم نهٔ وے بيان كړى۔

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ مؤمنانو ته خطاب ځكه كوى چه اشاره ده چه په شرعى طريقے سره معامله كول د ايمان تقاضا ده۔ او پدے احكامو عمل صرف ايمان والا كوى۔

﴿إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ﴾ تَدَايَنَ معنىٰ ده معامله كول په دَين (قرض) سره۔

د قرض او دَين فرق دا دے چه قرض كښ يو شے وركول وى په طريقه د احسان چه د الله نه پرے اجر غواړى، او په مقابله كښ ئے څهٔ شے نهٔ وى، او دَين د يو شى د خرڅولو په مقابله كښ وى۔ چه فى الحال ترے پيسے اُونهٔ غواړى، روستو ئے ترے واخلى۔

كه يو انسان په يو شخص باندے يو شے خرڅ كړى، او پيسے ترے فى الحال وانخلى، څهٔ نيته روستو ئے ترے اخلى، يا دا چه مال غنم، جوار اُوس وركړى، او پيسے ترے روستو غواړى نو دا احسان دے۔

اول صورت چه هغه درله پيسے اُوس دركړى، او تهٔ ورله كال يا مياشت پس غنم يا جوار وركوے، نو ديته بيع السلم وائى، پدے كښ د دواړو طرفونو فائده ده۔ هغه سره اُوس پيسے شته او غنم يا جوارو ته ئے فى الحال ضرورت نشته، كال يا مياشت پس به ورته ضرورت راځى، او ستا پيسو ته فى الحال ضرورت دے نو ستا حاجت هم پكښ پوره شو۔

نو پدے آيت كښ بيع السلم او بيع القرض دواړه داخل شو۔شريعت د اُمت د آسانئ دپاره جائز كړى دى۔

(بِدَيْنٍ) دا لفظ ئے ورسره ذكر كړو، اګر كه تَدَاينِ لفظ كښ خپله د دين معنىٰ پرته ده۔

(۱) يا خو غرض پكښ تاكيد دے۔

(۲) يا دے دپاره چه روستو د فَاكْتُبُوهُ ضمير راجع كيدل ورته صحيح شى۔

(۳) دريم دا چه تداين كله مجازاً په معنىٰ د وعدے سره هم استعماليږى لكه په اشعارو كښ استعمال شويدے۔ نو دين لفظ ذكر كولو سره معلوميږى چه دلته د وعدے او جزاء معنىٰ نهٔ ده مراد بلكه د قرضو معامله مراد ده۔ (ابن عاشورؒ)

تنبيه : پدے كښ بيع التقسيط (د كشتونو والا بيعه) مراد نهٔ ده، دا دے ته وائى چه په نقدو په يو نرخ او په قرضو ئے په بل نرخ وركوى، د وخت د اُوږدوالى په وجه قيمت زياتوى، دا ناروا ده۔ او كوم علماء چه دا پدے آيت كښ داخل وائى نو قول ئے صحيح نهٔ دے ځكه چه په قرضو كښ احسان مقصد وى او په كشتونو والا بيعه كښ ظلم دے چه د پيسو د روستو ادا كولو په بدله كښ قيمت زياتوى۔ يو شے د لسو روپو دے ليكن د قرضو په وجه ئے په شل خرڅوى۔ دا كنجوسى ده۔

﴿إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى﴾ پدے کښ اشاره ده چه بیع السلم کښ شرط نه دی لکه چه په احادیثو کښ هم ذکر دی چه (ګیل (پیمانه) به معلومه وی، وزن به ئې معلوم وی، نیته به ئې معلومه وی)۔ او نیته مقررول ددے دپاره دی چه جګړے واقع نشی۔

په قرض معامله کښ هم نیته مقررول پکار دی بنا په راجح قول چه مثلًا قرض اُوس ورکړی، او ورته اُووائی چه میاشت یا کال پس به قرض واپس راکوے۔ لکه عبد الله بن عمر رضی الله عنهما به دغسے کول۔ (صحیح بخاری)۔

پدے کښ احنافو علماؤ خلاف کړے، هغوی وائی چه قرض کښ نیته مقررول ضروری نهٔ دی بلکه هرکله چه د مالك خوښه شی خپل قرض واپس اخستے شی۔ لیکن خبره ئې د عبد الله بن عمرؓ په وینا ضعیفه ده۔ او په مرفوع حدیث کښ هم د قرض تأجیل ذکر دے۔ لکه په حدیث د بنی اسرائیلی کښ راغلی دی چه هغه یو ملګری ته قرض ورکړو او ورته ئې اُووئیل چه میاشت پس به ئې ادا کوے، او ورته ئې اُووئیل ګواه راوله هغه اُووئیل الله ګواه دے ورته ئې اُووئیل، ذمه وار راکړه هغه اُووئیل الله ذمه وار دے، بیا د نیتے په پوره کیدو کښ ئې په لرګی کښ پیسے ورکړے او په دریاب کښ ئې خوشے کړے او هغه بنی اسرائیلی ته هغه ملاؤ شوے لکه چه مشهوره واقعه ده۔ (صحیح بخاری)۔

نو پدے جمله کښ درے احکام راغلل یو دا چه بیع السلم جائز ده، دویم بیع القرض جائز ده۔ دریم دا چه احسان به ورسره اُوکړے چه په نقدو او قرضو دواړو کښ به یو نرخ وی۔ خو وخت به ورته اُوږد کړے۔

﴿مُسَمًّى﴾ کښ اشاره ده چه پدے معامله کښ به وخت معین وی په یو خاص نوم سره لکه فلانے تاریخ، د لَوونو شروع کیدو او د فصل د رارسیدو وخت وغیره، او نامعلومه نیته مقررول صحیح نهٔ دی۔

﴿فَاكْتُبُوهُ﴾ پدے کښ د کتابت بل حکم دے، په نسیئه (قرضو) معامله کښ لیکل د واجباتو نه دی ځکه چه الله پرے امر کړے۔لیکل چه اُونهٔ شی، لانجے واقع کیږی۔

او په نقدو کښ لیکل ضروری نهٔ دی۔ځکه چه هر یو ته خپل خپل بدل ملاؤ شونو د انکار صورت نهٔ راپیدا کیږی۔او په قرضو معامله کښ یو ته عوض ملاؤ شوے دے او بل ته نهٔ دے، نو که لیکل نهٔ وی، نو بیا به د یو په انکار سره د بل حق ضائع شی۔ (قاسمیؒ)

او ددے لیکلو مطالبه قرض اخستونکی له پکار ده، اګرکه قرض ورکونکے ترے د لیکلو مطالبه اُونکړی، دے دپاره چه د قرض ورکونکی زړهٔ مطمئن شی۔لکه څنګه چه د موسیٰ او شعیب علیهما السلام په معامله کښ موسیٰ ﷺ اُوفرمایل : (وَاللهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ) نو د شعیب علیه السلام د مزدورئ دپاره ئې په ځان ګواهی اُوکړه اګرکه هغه ترے مطالبه نهٔ وه کړے۔ (الطاهر ابن عاشورؒ)۔

﴿وَلْيَكْتُبْ بَيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ﴾ يعنى دا ليكل دے په دريمګرى اُوشى، دے دپاره چه په يو بل بدګمانى رانشى چه دۀ به پكښ زيادت يا كمے كړے وى۔ او دريمګرى له هم پكار دى چه د عدل نه كار واخلى او يو طرفى ليكل دے نۀ كوى۔ او كه دريمګرے كاتب نۀ وى، او يو طرف والا ليكل اُوكړى او بل ته ئے اُوښائى يا بيان كړى او بل پرے رضا شى نو هم جائز ده۔ دلته دريمګرے كاتب ددے دپاره ذكر شو چه خپله ليكل ضرورى نۀ دى۔

فائده: معلومه شوه چه كتابت زدۀ كول د شرعى علومو نه يو علم دے۔ لكه روستو كَمَا عَلَّمَهُ اللهُ كښ هم فرمائى۔ د كتابت زدۀ كول فرض كفائى دى ځكه چه نظام بغير ددے نه نۀ چليږى۔

﴿وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ﴾ پدے كښ بل حكم دے چه يو سړى ته اُووائے چه راشه ليكل مونږ له اُوكړه، نو هغه به نۀ خفه كيږى او نۀ به انكار كوى، او نۀ به عوض او مزدورى غواړى، پدے شرط چه منشى نۀ وى، بلكه په يوه معامله كښ ليكل وى، هميشه ئے دا كار نۀ وى۔ نو كه د يو انسان تا ته هميشه ضرورت راتلو نو بيا پيسے اخستل تا له جائز دى، دا د خپل لاس كارو كسب دے۔

﴿كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ﴾ يعنى ليكل ورله ځكه پكار دى چه الله تعالىٰ دۀ سره دا احسان كړے چه د كتابت علم ئے ورزدۀ كړے، نو ددے علم شكريه دا ده چه د مسلمانانو د ضرورت مطابق ليكل به كوى، او مزدورى به ترے نۀ اخلى۔ خو پدے كښ دا شرط دے چه دا معامله به د سود او حرامو نۀ وى په حرامو كښ ليكل كول جائز نۀ دى۔

د كَمَا عَلَّمَهُ اللهُ) (١) يوه معنىٰ دا ده چه هغه ليكل دے اُوكړى څنګه چه الله دۀ ته تعليم وركړے پدے قول سره چه (بِالْعَدْلِ) يعنى په انصاف سره دے ليكل اُوكړى۔

(٢) دويم دا چه په خپل كتابت سره دے خلقو ته فائده اُورسوى، لكه څنګه چه الله دۀ ته د كتابت په زدۀ كولو فائده رسولے ده۔ (قاسمىؒ)۔

او كه كاتب انكار اُوكړى، نو دۀ علم پټ كړو او حديث كښ دى : «چا چه يو علم پټ كړو چه دا پرے پوهيدو، نو دۀ ته به د اُور واګے واچولے شى»۔

(احمد، ابوداود، ترمذى وصححه الالبانى)

په حديث د بخارى كښ دى : [تُعِيْنُ صَانِعًا اَوْ تَصْنَعُ لِاَخْرَقَ]۔ (دا هم صدقه ده چه تۀ يو كار كونكى سره مدد اُوكړے، يا كم عقل بے تجربے انسان دپاره كار اُوكړے)۔

(كَمَا) كاف تعليلى دے، يعنى پدے وجه چه الله ورله علم وركړے۔ يا كاف تشبيهى دے۔ لكه څنګه چه الله دۀ له علم وركړے۔

﴿فَلْيَكْتُبْ﴾ د كتابت حكم ئے دوباره اُوكړو، د تاكيد دپاره۔

امام رازیؒ فرمائي : ظاهر دده کلام دا دے چه کاتب منع شوے دے د انکار کولو د کتابت نه او په دهٔ باندے واجب شوی چه لیکل به کوی۔ (قاسمیؒ)

﴿ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ ﴾ دے کښې مسئله د اقرار ده یعنی په چا چه یو حق وی، نو هغه به لیکونکی ته داسے اقرار کوی چه اُولیکه په ما باندے د فلانکی دومره روپۍ دی، په فلانی معامله کښې ئے راکړی دی، میاشت یا دوه میاشتو کښې به ئے ورکوم۔ یا دا چه بل طرف به اُووائی د فلانی په ما باندے یو مَنْ غنم دی، په فلانی تاریخ به ئے ورکوم۔

﴿ وَلْيُمْلِلِ ﴾ املال او املاء دوه لغته دی، دواړه په یوه معنیٰ دی۔ لوستل او بیانولو ته وئیلے شی۔ خاصکر هغه لوستل چه د لیکلو دپاره وی۔ مطلب دا چه په چا باندے حق (قرض) لازم دے، هغه دے په انصاف سره بیان اُوکړی۔

﴿وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهُ ﴾ یعنی کومه خبره چه بیانوی په هغے کښې دے د الله نه یره اُوکړی، د پردی حق نه دے انکار نهٔ کوی، نهٔ د ټول نه او نهٔ د بعضے نه۔

﴿وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا ﴾ یعنی اقرار کونکے دے د پردی حق نه هیڅ شے نهٔ کموی۔ چه په دهٔ زیات وی او لیکونکی ته کم ذکر کړی۔ بعض وائی : دا حکم کاتب ته دے چه دا به کمے نهٔ کوی۔ لیکن اول قول غوره دے ځکه چه کاتب د کمی او زیاتی دواړو نه منع شویدے۔ نو دلته تخصیص د کمی دلالت کوی چه دا حکم اقرار کونکی ته دے۔ (فتح البیان)۔

﴿ فَإِنْ كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ ﴾ دے کښې باب الحِجر ته اشاره ده چه حِجر معنیٰ ده، په بعض خلقو پابندی لګول۔ نو په شریعت کښې په بعض کسانو پابندی لګولے شی چه دوی به اخستل خرڅول نهٔ کوی، ځکه چه نقصان کښې واقع کیږی۔ لکه ماشومانو باندے پابندی ده چه دوی به غټ کاروبار نهٔ کوی ځکه چه ناپوهه دی، ښهٔ شے خرڅوی او بد شے اخلی۔ او غلامانو باندے پابندی لګی چه د مالك د اجازے نه به بغیر کاروبار نهٔ کوی، او په بعض زنانو باندے او په بعض مفلسانو پابندی لګولے شی چه خلقو ته او ځان ته نقصان ورنکړی ځکه چه نور قرضونه پرے وانهٔ وړی۔

دلته ئے صورت داسے دے چه یو سړے دے په هغه باندے قرض اُوریدلے دے، یا معامله یا یو څهٔ شی کښې راګیر شوے دے، خو بے وسه دے، او بیان نهٔ شی کولے، یا ناجوړه دے، هغه ځائے ته نهٔ شی حاضریدلے، یا ژبه ئے بدله ده مثلاً کاتب ته په اُردو یا عربئ کښې بیان نشی کولے نو بل سړے دے راپاڅوی د هغه په ځائے دے اقرار اُوکړی ځکه چه هغه د بیان کولو نه محجور (بند کړے شوے) دے۔

﴿سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ﴾ سفیه بے وقوفه ته وائی چه خپل مال کښې سَم نظر نشی کولے، قیمتی مال په معمولی شی ورکوی۔ یا ضعیف او کمزورے دے د

وړوکوالي يا ډير بوډا والي د وجه نه۔ يا طاقت د بيان نشي لرلے، رعب پرے راځي، يا ژبه ئے بدله ده، يا ګونګے دے، يا په خبره سم نهٔ پوهيږي، يا سَم تعبير نشي کولے، يا غائب دے چه د کاتب په خوا کښې حاضريدل ئے مشکل وي۔ نو د هغه وارث (وروړ، پلار، نيکه) دے راپاځي، هغه دے بيان کړي چه زمونږ پدے فلانکي باندے د فلاني دومره روپئ دي۔ ولي دوست ته هم وائي۔ هغه هم ددهٔ د طرف نه اقرار کولے شي۔

﴿وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ﴾ وَلِيُّهُ کښې ضمير (اَلَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقّ) ته راجع دے۔ او ابن جريرؒ وئيلي دي چه حق ته راجع دے، ليکن قول ئے ضعيف دے۔ د ولي نه مراد هغه شخص دے چه اختيار د کار لري چه هغه د ماشوم او سفيه د طرف نه وَصِي دے، او د چاړا او ګونګا د طرف نه ترجمان دے او د طاقت نهٔ لرونکي دپاره وکيل دے۔

دا خو د کتابت حکم شو اُوس د ګواهانو حکم بيانوي:

﴿وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ﴾ دا باب الشهادة شو۔ په اسلام کښې ګواهئ له ډير اعتبار ورکړے شويدے ځکه چه پدے سره په معاملاتو کښې شکونه او جګړے نهٔ پيدا کيږي۔ ځوك پکښې انکار نشي کولے۔ او معامله باندے که ډيره موده هم تيره شي، نو هيڅ خلل پکښې نهٔ واقع کيږي، ځکه چه ډير خلق ورته حاضر شوي وي۔ بيا پکښې ليکل هم موجود وي۔ نو ډير اعتماد پيدا کوي۔

نو د قرض معاملے دپاره يو ليکل ضروري دي او دويم ګواهان مقررول۔

بيا شهادت کله په سترګو ليدلو او موقعے ته حاضريدو سره وي او کله شهادت په استفاضه او شهرت سره وي، چه يو شے مشهور وي، خلق پرے ګواهي ورکوي۔ او کله شهادة عَلَى الشَّهَادَة وي يعنی د بل چا په ګواهي باندے ګواهي ورکول وي۔ دے ټولو احکامو ته دا آيت اشاره ورکوي۔

بيا شريعت په عامو معاملاتو کښې دوه ګواهان مقرر کړي۔ ليکن په بعض ځايونو کښې څلور ګواهان مقررول ئے ضروري کړي لکه په باب د زنا کښې۔ او کله درے ګواهان لکه په باب د فاقه کښې چه يو سړے غريب شو، نو د هغه دپاره سوال کول هله جائز دي چه درے کسان د هغه د خپلوانو نه ګواهي ورکړي چه آؤ، دا سړے غريب دے۔ لکه دا په حديث د قبيصه بن المخارقؓ کښې په صحيح بخاري کښې راغلي دي۔

او په بعض اوقاتو کښې شريعت د يو قسم سره يو ګواه هم معتبر کړے۔ لکه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائي: [قَضٰى بِيَمِيْنٍ وَشَاهِدٍ] رسول الله ﷺ په يو قسم او يو ګواه باندے فيصله کړے۔ (صحيح مسلم)۔

په بعض اَوقاتو کښې د کافر گواهي هم منظوره ده، لکه په سورة المائده کښې دي : ﴿ اَوْ آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ ﴾ کله چه انسان په سفر کښې وي او مرگ پرېے راځي او چا ته وصيت اُوکړي او کافر پرېے گواه کړي۔ په بعض اوقاتو کښې د يو زنانه گواهي هم معتبره ده لکه په باب د رضاعت، حيض او ولادت کښې ځکه چه هلته سړي حاضر نهٔ وي۔

شيخ الاسلام ابن القيمؒ په الطرق الحکمية کښې ذکر کړي چه کله د ماشومانو گواهي هم شريعت معتبره کړيده چه مثلاً يو ځائے کښې يو سړے بل سړے اُووهي يا ئے قتل کړي۔او هلته د ماشومانو نه سِوئ بل څوك نهٔ وي، نو د ماشوم گواهي پکښې منظوره ده۔

دارنگه فرمائي چه يواځے صرف د زنانو گواهي هم شريعت معتبره کړيده په غير د قصاص او حدودو کښې يعني په نکاح او طلاق او هر هغه ځائے کښې چه هلته غالباً سړي نشي خبريدلے۔بيا ئے د سلفو اقوال راوړيدي۔ (الطرق الحکمية ۱۱۰) ۔ او دلته چه دوه کسان د معاملاتو په باره کښې ضروري خودلے شويدي۔ دا قانون په هر ځائے کښې نهٔ دے۔

﴿ وَاسْتَشْهِدُوْا ﴾ استشهاد طلب د گواهئ ته وائي۔ شهيد هغه گواه ته وائي چه گواهي د هغه عادت وي او د گواهئ احکام او ځايونه پيژني او لائق د گواهئ وي۔

بيا په قرض معامله کښې گواهان مقررول په نيز د بعضو علماؤ واجب دي او بعض وائي مستحب دي، ليکن راجح دا معلوميږي چه مستحب شي۔ دليل دا دے چه په حديث د خزيمه بن ثابت کښې راځي چه رسول الله ﷺ د هغه يوه گواهي د دوه کسانو گواهي گرځولے وه۔ (رواه النسائي) ولحديث الاسرائيلي وقد مر (بخاري)

ځکه چه امرونه راغلي دي۔ لکه روستو په صورت د بيع کښې په گواه مقرر کولو حکم شويدے (وَاَشْهِدُوْا اِذَا تَبَايَعْتُمْ)۔

﴿مِنْ رِجَالِكُمْ ﴾ (رجال) ذکر کولو کښې اشاره ده چه ماشومان لائق د گواهئ نهٔ دي مگر که سخت ضرورت راشي لکه مخکښې ذکر شو۔ او د رجال نسبت ئے (کُمْ) ضمير مخاطب ته اُوکړو، پدے سره ئے کافران اُوويستل ځکه چه د کافرانو گواهي په عامو اوقاتو کښې صحيح نهٔ ده ځکه چه د الله د توحيد گواهي نهٔ ورکوي، نو مونږ به ئے په دنياوي کارونو کښې څنگه گواه کړو۔او د زنانو گواهي هم په عامو معاملاتو کښې صحيح ده، ليکن په عقوبات او حدودو کښې صحيح نهٔ ده۔ او رجال لفظ غلامانو ته هم شامل دے، لهذا غوره دا ده چه د غلام گواهي هم معتبره ده۔ ځکه چه هغه هم زمونږ د مسلمانانو سړو نه دے۔

او د هغوی روايت قبول دے، نو گواهي به ئے هم مقبوله وي۔

او دا قول د امام احمد بن حنبلؒ، قاضي شريحؒ، اسحاقؒ او ابوثورؒ دے۔
او كوم علماء چه ورله اعتبار نۀ وركوى (لكه مالكؒ، ابوحنيفهؒ، او شافعيؒ وغيره) نو هغوى عقلى قياسى خبره كوى چه صحيح نۀ ده. وائى چه په دۀ كښې د غلامئ په وجه نقصان راغلے دے۔او پدے آيت كښې خطاب هغه كسانو سره دے چه هغوى معامله كولے شى او غلامان خو د څۀ مالكان نۀ دى چه معامله اُوكړى۔
ليكن جواب دا دے چه د الفاظو عموم له اعتبار وى، دارنګه غلام هم د مالك په اجازت سره معامله كولے شى۔ (فتح البيان٢/١٥٠)۔
﴿فَإِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَأَتَانِ﴾ دا بل حكم دے چه كه د دوه سړو د ګواه مقررولو اراده ئے نۀ وى كړى نو يو سړے او دوه ښځے هم كافى دى۔
﴿مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ﴾ دا بل حكم دے پدے كښې تزكية الشهود ده۔ يعنى د هر چا ګواهى منظوره نۀ ده، يو دروغجن او پوډرى ګواهى نشى كولے۔ څكه قاضى به تپوس كوى چه دا سړے چه ګواهى كوى دا څنګه سړے دے؟ نو خلق به د هغه تصفيه او تزكيه اُوكړى، نو بيا به هغه ګواهى اُوكړى۔ او كه هغوى ئے بدى بيان كړه نو بيا به نور ګواهان طلب كړے شى۔ نو مِمَّنْ تَرْضَوْنَ قيد څكه لګوى چه د هر چا ګواهى له اعتبار نشته بلكه متقى له اعتبار دے۔
(تَرْضَوْنَ) دپاره مفعول پټ دے۔ (اَىْ تَرْضَوْنَ دِيْنَهُمْ وَعَدَالَتَهُمْ) چه تاسو خوښوئ د هغوى ديندارى او عدالت۔ يعنى په كلى كښې په ديندارئ مشهور دى، او په ظاهرى فسق او ګناه چا نۀ دى ليدلى۔ يعنى شروط الشهادة به پكښې موجود وى۔ چه مسلمان، عاقل بالغ به وى، ګناه كبيره باندے به نۀ وى ليدلے شوے، او تهمت به پرے نۀ وى۔
فائده : مَنْ تَرْضَوْنَ عام دے، ورور د ورور دپاره ګواهى وركولے شى، پلار د څوى دپاره او برعكس۔ دارنګه ښځه د خاوند دپاره او خاوند د ښځے دپاره۔ څكه چه متقى انسان د ورور او د پلار او د ښځے دپاره دروغ نۀ وائى۔ آؤ، كه په دوى تهمت وو، نو بيا به ئے ګواهى صحيح نۀ وى۔
ددے نه ثابته شوه چه د دوه ښځو ګواهى د يو سړى د ګواهى برابره ده۔ او دارنګه د ښځو ګواهى يواځے صحيح نۀ ده، مګر كه سړے ورسره وى، بيا صحيح ده، مګر د ضرورت په وخت يواځے د زنانو ګواهى هم صحيح ده لكه مخكښې ذكر شو۔
﴿أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرٰى﴾ د اَنْ تَضِلَّ دپاره لام اجليه پټ دے يعنى لِأَنْ تَضِلَّ۔ او دا د امْرَأَتَانِ دپاره علت دے۔ يعنى دوه ښځے د يو سړى په ځائے څكه قائمے شوے چه د زنانه نه هيره ډيره كيږى، نو كه يوه زنانه ګواهى هيره كړى، نو بله به ورته خبره رايادة كړى چه ما او تا

گواهي په فلاني ځائے کښې کړے وه۔

د زنانو نه خبره زر هیریږي او د سړو په نسبت د هغوی په ذهن کښې کمزورتیا وي، لیکن دا مطلب نهٔ دے چه هره زنانه د هر سړي نه په ذهن کښې کمزورے ده، بلکه مطلب دا دے چه مجموعه سړو له الله تعالیٰ قوي ذهن ورکړے په نسبت د مجموعه ښځو، او کیدے شي چه ډیرے ښځے د ډیرو سړو نه قوي ذهن والا وي۔ لکه امهات المؤمنین او باقي صحابیات په نسبت د روستو سړو۔

تَضِلَّ : د ضلال نه دے په معنیٰ د نسیان (هیرولو) سره دے۔ او هیره د گواهي دا ده چه یو جزء ترینه هیر شي، او بل جزء ورته یاد وي، نو انسان حیران پاتے شي او چه ټول شهادت ترے نه هیر شي نو په هغے کښې ضَلَّ فِيْهَا نشي وئیلے کیدے۔ (ابوعبیدؒ- قرطبیؒ، وفتح البیان)۔

﴿ وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُوْا ﴾ دا بل حکم دے پدے کښې د گواهانو دپاره ادب دے۔

او دا یوه بله فریضه ده چه ددے نه زمونږ عام مسلمانان نهٔ دي خبر، ډیر خلق گواهي نهٔ ورکوي او نهٔ گواه جوړیږي، ددے دپاره چه فلانے به رانه خفه شي او ما ته به لانجه جوړه شي نو گواهي پټوي هم، او ځان گواه کوي هم نهٔ۔ حال دا چه دا د شریعت خلاف ده، که پدے کښې دومره ډیره وه چه تهٔ خلقو وژلے، هم گواهي به ورکوے۔

ځکه چه د ایمان والو په صفت کښې الله فرمائي :

﴿وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهَادٰتِهِمْ قَآئِمُوْنَ﴾ ...... (معارج:۳۳)

(دا هغه خلق دي چه په خپلو گواهیانو باندے کلك ولاړ وي)

په دے خبره به تهٔ هله پوهه شے چه معاملات ډیے چا سره راشي، ښهٔ به ستا حق وي او ښهٔ به خلقو ته معلوم وي، خو نهٔ به ئے بیانوي ځکه چه د هغهٔ سړي نه به یریږي، پشي شا به تاته وائي چه بالکل ستا حق دے، لیکن دومره ده چه اُوس مونږ خبره نشو کولے چه وے کړو نو ددے سړي دشمنان کیږو، نو ایمان ئے کمزورے وي، گواهي نهٔ شي ورکولے۔

﴿ إِذَا مَا دُعُوْا ﴾ پدے کښې دوه حالتونه دي (۱) رابللے کیږي ابتداءً یعني چه څوك ئے گواه جوړوي، نو انکار به نهٔ کوي چه زهٔ وزگار نهٔ یم۔ یعني تَحَمُّل (برداشت) د شهادت به کوي۔

(۲) یا رابللے کیږي اداءً۔ یعني کله چه د گواهئ د ادا کولو وخت راغلو، نو دا به نهٔ روستو کیږي او گواهي ورکول به واجب وي۔

﴿ وَلَا تَسْـَٔمُوْا أَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا أَوْ كَبِيْرًا إِلٰى أَجَلِهِ ﴾

پدے کښې بل حکم دے چه د لږ او ډیر مال د عذر په وجه، د کتابت نه ځان مهٔ ستړے کوئ، بلکه وارهٔ

او غټ تول لیکئ ځکه چه پدے سره جګړے ختمیږی، او د مالونو حفاظت کیږی۔ ځکه چه په دے لړو کښ هم لانجه راځی، دے حکمونو باندے چه څوك عمل کوی، بیا ئے الله تعالیٰ لانجے نهٔ واقع کوی، او چه نهٔ وی غالباً لانجه راځی۔ کله انسان د بار بار لیکلو نه تنګ شی، نو بیا په ډیرو ځایونو کښ لیکل نهٔ کوی، نو د لږ راحت غم کوی او په ډیر مصیبت واوړی۔

تَسْأَمُوْا : د سَآمَةٌ نه دے، په معنیٰ د ستړی کیدو او تنګ کیدو سره دے۔ اَیْ لَاتَمَلُّوْا عَنِ الْکِتَابَةِ۔ ځان مهٔ ستړے کوئ د لیکلو نه۔

﴿ ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ﴾ دے کښ د لیکلو درے فائدے ذکر کوی۔ ګواهان چه ګواهی ورکوی، دے خط کښ به ګوری چه وے کتل، نو خبره به ورته سمه رایاده شی چه آؤ همدغه شان وه، نو ګواهی به پرے هم ښهٔ مضبوطه شی۔ نو انکار ته به حاجت نهٔ راځی۔

اَقْسَطُ په معنیٰ د اَعْدَل سره دے یعنی دا ډیر انصاف والا دے د الله په نیز، پدے سره ظلم او اختلاف ختمیږی۔

﴿ وَاَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ ﴾ یعنی ګواهی لره زیات مضبوطونکے دے۔ او ښهٔ برابرونکے دے۔

﴿وَاَدْنٰی اَلَّا تَرْتَابُوْا ﴾ یعنی شك لره لرے کونکے مناسب کار دے۔ولے خط هم شته او ګواهان هم شته۔

اُوس استثناء ذکر کوی :

﴿ اِلَّا اَنْ تَکُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِیْرُوْنَهَا بَیْنَکُمْ فَلَیْسَ عَلَیْکُمْ جُنَاحٌ اَلَّا تَکْتُبُوْهَا ﴾

دا استثناء منقطع ده په معنیٰ د لٰکِنْ او دا استثناء ځکه ذکر کوی چه د الله تعالیٰ په احکامو کښ آسانی ده، که دا امر اُوکړی چه څهٔ شے خرڅوے نو ضرور به ئے لیکے، نو بیا به نقصان واقع شی ځکه دوکاندار چه په ماشومانو څهٔ خرڅوی، هغه به هم لیکی، نو بیا به تول ورځ لیکلو ته ناست وی۔نو الله اجازه ورکوی چه لاس په لاس یو شے ورکوے، نو په نهٔ لیکلو کښ ئے اجازت دے۔

(تَکُوْنَ) کښ ضمیر معاملے او تجارت ته راجع دے۔

(تُدِیْرُوْنَهَا) دا د حَاضِرَةً تفسیر دے۔ یعنی حاضر تجارت دے ته وائی چه تاسو ئے په لاسونو کښ اَړوئ راړوئ۔ یعنی په نقدو معامله کښ لیکلو ته ضرورت نشته۔ او وجه ئے مخکښ ذکر شوه۔

یا د حَاضِرَةً نه مراد دا دے چه په مبیعه یا په ثمن کښ نیته نهٔ وی، او اخستونکے ئے فی الحال قبض کوی۔ او د تُدِیْرُوْنَهَا معنیٰ دا ده چه تاسو همیشه داسے بیعے کوئ۔

نو په حَاضِرَةً قید سره د قرض سودا کولو او د سلم نه احتراز اُوشو۔ او په تُدِیْرُوْنَهَا سره د هغه بیع نه احتراز اُوشو چه غیر منقول وی یعنی د زمکو او کورونو جائیدادونو بیع کښ لیکل ضروری دی اګرکه نقده سودا وی۔

د ليکلو اوله فائده دا ده چه دا د الله د رضا د حاصلولو سبب دے۔ او دويمه فائده د دنيوى مصلحت دپاره ده۔ او دريمه فائده راجع ده دے ته چه د نفسونو نه ضرر دفع شى ځکه چه شك د نفس د خفګان او پريشانئ سبب دے۔ او نور څوك به دوى ته د دروغو نسبت نۀ کوى، نو د بل چا نه هم ضرر دفع شو۔

﴿وَأَشْهِدُوٓا إِذَا تَبَايَعْتُمْ﴾

دا بل حکم دے چه په نقدو سودا کولو کښ که کتابت نشئ کولے، ګرانه وى، نو ګواه به ضرور مقررولئ۔ ځکه چه پدے کښ ډير احتياط دے، او د اختلاف نه بچاؤ دے۔

د ضحاك نه نقل دى : [هِىَ عَزِيْمَةٌ مِنَ اللهِ وَلَوْ عَلٰى بَاقَةِ بَقْلٍ]۔ دا د الله د طرف نه ضرورى حکم دے، اګرکه د ساګو يوه ګيډئ وى، هم ګواه پرے مقررول ضرورى دى۔ (قاسمیؒ)

پدے امر کښ اختلاف دے چه آيا دا په روستو (فَإِنْ أَمِنَ) سره منسوخ دے او که محکم دے ؟ نو د جمهورو په نيز دا حکم د استحباب دپاره دے۔ ليکن غوره دا ده چه په وخت د اعتماد او اعتبار کښ امر د استحباب دپاره دے او په وخت د ګمان او اختلاف پيدا کيدو کښ امر د وجوب دپاره دے۔ او اهل ظاهر وائى چه امر په هر حالت کښ د وجوب دپاره دے۔

ليکن ظاهر اول قول دے د وجه د هغه دوه حديثونو نه چه مونږ مخکښ ذکر کړل چه يو حديث د اسرائيلى دے او بل د خزيمه بن ثابت.

(إِذَا تَبَايَعْتُمْ) اذا ظرفيه دے۔ او د تَبَايَعْتُمْ نه مراد هره بيعه ده، که نقد وى او که په نسيته سره وى۔

بعض وائى : معنىٰ داسے ده : إِذَا تَبَايَعْتُمْ هٰذَا التَّبَايُعَ اَىِ التِّجَارَةَ الْحَاضِرَةَ۔

(کله چه تاسو دا قسم بيعه کوئ چه هغه تجارت حاضره وى) نو په هغے کښ په ګواهانو باندے اکتفاء کول جائز دى۔ (فتح وقاسمیؒ)

﴿وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ﴾ اُوس د کاتب او ګواه په باره کښ ادب ذکر کوى۔

لَا يُضَارَّ د مجهول صيغه ده يعنى ضرر به نۀ شى ورکولے۔

دا بل حکم دے چه څوك ستا دپاره ګواه جوړ شى نو داسے به نشى کولے چه بيا تا د غوږ نه نيولے وى، او هره ورځ ئے راکاږے، يا د هغه ضرورى وخت دے، د مانځه يا د عبادت يا د نور څۀ، او تۀ ورته وائے چه اُوس راشه او خپل کار پريده، يا په هغوى باندے د طرفدارئ کوشش کوى۔ داسے به نۀ کوى۔ د ليکونکى او دګواه د ظروفو لحاظ به ساتلے شى۔

نو الله تعالىٰ دواړو طرفونو ته ئے اُوئيل چه ورانے به نۀ کوئ او دا د قرآن کريم کمال دے۔

په لَايُضَارَّ کښ معلومه صيغه هم صحيح ده، چه کاتب او ګواه به خلقو ته تکليف نۀ ورکوى

چه د خلقو خبره نهٔ منی، یا په ګواهئ او لیکلو کښې په زیادت او نقصان سره تحریف اُوکړی۔ دا احتمال مخکښې تیر شو۔

﴿وَإِنْ تَفْعَلُوا﴾ ددے مفعول پټ دے یعنی اِنْ تَفْعَلُوا الْإِضْرَارَ۔

(که تاسو ضرر ورکول اُوکړئ) ۔ نو فاسقان به شئ۔ یا تول اوامر او نواهیو ته اشاره ده چه که د هغے مخالفت اُوکړئ نو فسق کښې به واقع شئ۔

﴿ فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ ﴾ اَیْ فُسُوْقٌ عِصْيَانٌ مُلْصَقٌ بِكُمْ۔ (دا نافرمانی او ګناه ده چه تاسو پورے پیوسته ده)۔ فسوق معنیٰ وتل دی د هغه شریعت نه چه الله سبحانه تاسو له مقرر کړیدے۔ (بِكُمْ) کښې باء د الصاق ده، یعنی دا ګناه به په تاسو پورے پیوسته کیدونکی وی۔ او د بدنامئ سبب دے چه د توبے نه بغیر نهٔ لرے کیږی۔

﴿ وَاتَّقُوا اللهَ ﴾ په تقویٰ باندے ئے حکم اُوکړو دے دپاره چه مخکښې فسق کښې اخته نشی۔

﴿ وَيُعَلِّمُكُمُ اللهُ ﴾ ددے دپاره مفعول پټ دے اَیْ یُعَلِّمُکُمُ اللهُ دِیْنَکُمْ ۔ الله تاسو ته د هغه دین تعلیم درکوی چه ستاسو پکښې فائدے دی)۔ او چا دا د (وَاتَّقُوا اللهَ) سره متعلق کړیدے، نو بیا پدے کښې ترغیب دے چه د الله نه یره او د هغه په حکمونو عمل کول د عِلم د حاصلیدو سبب دے۔قرطبیؒ لیکی : [وَعْدٌ مِنَ اللهِ بِاَنَّ مَنِ اتَّقَى اللهَ عَلَّمَهُ] (دا د الله وعده ده چه څوك د الله نه اُویریدو الله به علم ورکړی)۔ یعنی داسے نور او رنړا به ورکړی چه د هغے په ذریعه به بنهٔ او بد، حق او باطل پیژنی لکه د﴿ اِنْ تَتَّقُوا اللهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا ﴾ (انفال/۲۹) په شان۔

او اشاره ده چه مخکښی احکام شرعی علوم دی چه الله ئے انسانانو ته ورکوی۔

﴿ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴾ یعنی الله تعالیٰ په مصلحتونو د بندګانو عالِم دے څکه ورته داسے ښکلے احکام ذکر کوی۔

وَإِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَّقْبُوْضَةٌ
او که چرته وئ تاسو په سفر باندے او تاسو نهٔ موندلو کاتب لره نو ګانړهٔ دے وی اخستے شوے
فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِى اؤْتُمِنَ
نو که اعتماد اُوکړی بعضے ستاسو په بعضو باندے نو اداء دے کړی هغه کس چه اعتماد پرے کړے شوے دے
أَمَانَتَهٗ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَّكْتُمْهَا
امانت خپل اویره دے اُوکړی د الله نه چه رب ددهٔ دے او مهٔ پټوئ ګواهی لره او څوك چه پټه کړی ګواهی

﴿فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿۲۸۳﴾﴾

نو یقیناً گناهګار دے زړهٔ د هغه او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ پو هه دے۔

تفسیر: مخکښ په حالت د حضور کښ احکام وو چه په هغے کښ د کاتب او ګواه حاضرول آسان وو، اُوس د سفر حالت کښ بیع بیانوی په رهان (ګانړے) کیخودو سره او په امانت سره۔ یعنی که تاسو په سفر کښ وئ او په نیتے سره معامله کوئ، او کاتب وغیره نهٔ ملاویږی، نو د اعتماد دپاره به د حق والا ګانړه واخلی چه ددهٔ د قرض وثیقه او اعتماد به وی۔ او که د یو انسان په بل باندے ډیر اعتماد وی او هغه امانت ګر ګڼړی نو بیا بغیر د ګانړے اخستو نه هم معامله کولے شی۔

﴿وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا﴾ عَلٰی سَفَرٍ قید احترازی نهٔ دے، په حضر کښ هم چه کله کاتب نهٔ وی، ګانړهٔ ورکول جائز دی، لیکن غالباً په سفر کښ کاتب نهٔ ملاویږی، نو خلق بیع شراء کښ ګانړهٔ ایږدی۔ یعنی یو شے ډیرے د چا نه واخستو او پیسے درسره نشته چه هغه ورله ورکړے او ګواه او لیکونکے هم نشته، نو بیا د هغه شی په بدله کښ ورسره یو بل شے د امانت په طور کیده چه کله تا پیسے ادا کړے نو هغه شے به درته واپس کړی۔ او رسول الله ﷺ په حضر کښ (په مدینه کښ) یو یهودی سره خپله زغره په ګانړهٔ کښ ایخودے وه، او دیرش صاعه وریشے ئے ترے اخستے وے او تردے چه وفات شو او زغره ئے راخلاصه نکړه، بیا ابوبکر صدیق رضی الله عنه راخلاصه کړه۔ (سنن النسائی)

نو دا په خبر واحد سره په کتاب الله باندے زیادت دے، او دا بالکل جائز دے ځکه چه دواړه شرعه ده۔ قرآن د سفر حکم ذکر کړے، او نبی ﷺ ورسره د حضر حکم هم ملګرے کړیدے۔

پدے کښ امام مجاهدؒ وئیلی دی چه د رَهن د جواز دپاره سفر او د کاتب نهٔ موجودیدل شرط دی، لیکن دا خبره ئے بے دلیله ده۔

﴿فَرِهَانٌ﴾ رِهَان مصدر دے په معنیٰ د مفعول یعنی مَرْهُوْن۔ ګانړهٔ شوے شے۔ یا جمع د رهن ده او په معنیٰ د مفعول ده۔ یعنی مَرْهُوْنَاتٌ۔ لکه د بغل او بِغَال په شان۔ او کله رهن جمع د رِهَان وی۔ لکه د فِرَاش او فُرُش په شان۔ (قرطبیؒ)

رهان په شریعت کښ دے ته وائی چه قرض اخستونکے خپل څهٔ شے د قرض ورکونکی په لاس کښ ورکړی، دے دپاره چه هغه پرے د خپل قرض اعتماد اُوکړی، که هغه قرض ادا نکړی، نو مرتهن به د هغه شی نه یا د هغے د منافعو نه خپل حق حاصلوی۔

ددے صورت داسے دے چه تا یو شے په یو سړی خرڅ کړو، هغه سره فی الحال پیسے نهٔ وی نو تهٔ

تـرے پـه بـدلـه کـښې بـل شے نیسے ځکه چه ستا باور او اعتماد نهٔ وی چه هسے نه مال هم اُونهٔ تختوی او پیسے هم۔

﴿مَقْبُوضَةٌ﴾ ددے نه معلومه شوه چه په رهن کښې شرط دا دے چه دا به هله صحیح وی چه په قبضه د مرتهن (گانړه اخستونکی) کښې راشي۔ او دا قبض صرف د اعتماد دپاره دے۔ فائدے به ددے شي نه نهٔ اخلي، البته که یو داسے شے ئے ورسره په گانړهٔ کښې کیخودو چه په هغے باندے مُرتهن خرچه کوله لکه اَس، خر، قچر، اُوښه، چیلۍ وغیره (نهٔ گاړے، موټر، ځکه چه دا څه خوراك نهٔ کوی او کله ئے چه څوك نـهٔ استعمالوی نو څهٔ تیل وغیره نهٔ غواړی نو دا د اَس وغیره په حکم کښې نهٔ دی) نو د خرچے په بدله کښې په هغے سورلی کولے شي۔یا د پیو والا حیوان وی، نو د هغے د پیو نه فائده اخستے شي۔ لکه دا خبره امام بخاري په خپل صحیح کښې تفصیلًا ذکر کړیده۔

او ددے نه سِویٰ څیز کښې د گانړې نه فائده اخستل صحیح نهٔ دی، دا په سود کښې داخلیږی۔ لکهٔ خلق د کورونو پیشکي اخلي او په هغے باندے ځان له کاروبار کوی او ورسره د کور والا نه کرایه هم اخلي نو دا هم سود دے۔

(فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ) دا خبر د مبتداء دے اَیْ فَرِهَـانٌ مَقْبُوْضَةٌ تَكْفِيْ مِنْ ذٰلِكَ ـ یعنی قبض شوے گانړهٔ ددے په بدله کښې کافي کیږی۔

بیا کـه دا گـانړهٔ د مرتهن (گانړهٔ اخستونکی) په لاس کښې هلاکه شي، نو په دهٔ باندے تاوان نهٔ راځي ځکه چه دا امین دے، او په امانت کښې ضمان نهٔ وی، کله چه د مرتهن پکښې څهٔ نقصان نهٔ وی۔او همدا غوره قول دے۔ (قرطبیؒ)۔

فائده : د رهن په ځائے حکومتی سټامپ پیپر لیکل هم کافي کیږی لکه د تونس والا خلق د زمکو او کورونو د گانړے په بدله کښې دا کار کوی۔ (ابن عاشورؒ)۔

﴿فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا﴾ دا بل صورت دے چه که خرڅونکے په اخستونکی اعتماد اُوکړی، او هغه امانتگر اُوگنړی ورته اُووائی چه څهٔ دا شے مے دریاندے درخرڅ کړو، ځما په تا پوره اعتماد دے، تهٔ زما پیسے نهٔ خورے، مـاله گانړه مهٔ راکوه، نو الله تعالیٰ دے اخستونکی ته وائی چه تهٔ هغه امانتگر اُوگنړلے نو تهٔ هم د هغه د گمان مطابق هغهٔ ته امانت ادا کړه۔ او د رب نه یره اُوکړه۔

نو ﴿فَلْيُؤَدِّ الَّذِى اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهٗ﴾ کښې د اَلَّذِی اؤْتُمِنَ نه مراد قرض اخستونکے دے۔ځکه چه دا د مال مالك امانتگر گنړلے دے۔ د (اَمَانَتَه) نه مراد د هغه قرض دے، لیکن تعبیر ئے په امانت سره اُوکړو، اشاره ده چه هغه تهٔ امانتگر گنړلے ئے، او تا نه ئے گانړه نهٔ ده غوختلے، نو د هغه امانت ادا کول پکار دی، او دا دلیل دے چه امانت او قرض ادا کول واجب دی۔

﴿ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ ﴾ (د خپل ربّ نه دې يره اُوكړي) ځكه چه كه دۀ پكښې خيانت اُوكړو نو رب به ترې تپوس كوي. بار بار په تقوىٰ امر كوي ځكه چه دا په عمل باندې باعث دے.

﴿وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ﴾ د گواهي د پټولو يو صورت دا دے چه يو سړى، تۀ گواه كړے ئے، او هغه نه هير شويدى او د هغه گواه نشته، نو تۀ به ځان نۀ غلے كوے، بلكه د هغه دپاره به گواهي وركوے. دارنگه يو صورت دا دے چه گواهي نيمه بيان كړى، او نيمه پټه كړى. يا د يرے د وجه نه گواهي نۀ وركوى. دا خبره مونږ ته ورۀ ښكارى ليكن د الله په نيز ډيره لويه خبره ده ځكه پكښې ډير تاكيد ذكر كوى.

﴿وَمَنْ يَّكْتُمْهَا فَاِنَّهٗٓ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ﴾ (كه چا دا گواهي پټه كړه نو يقيناً چه ددۀ زړۀ گناهگار دے) زړۀ ئے ذكر كړو ځكه چه د هرے گناه اول اثر په زړۀ كيږى، بيا د هغے نه نور اندامونه اثر اخلى. لكه په حديث د صحيحينو كښې دي:

[اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ]

زړۀ داسے ټكړه ده چه كله دا صحيح شى، نو ټول بدن به صحيح وى. او كله چه دا خرابه شى، نو ټول بدن به خرابيږى).

او دا كتمان د زړۀ نه واقع كيږى، پدے وجه ئے نسبت د گناه زړۀ ته اُوكړو، او د كوم اندام نه چه كوم كار كيږى هغے ته نسبت كول ډير بليغ او تاكيد والا وى. گويا كښې داسے اُووئيلے شو چه گناه ددۀ بيخ ته ننوتے ده، او ددۀ په بدن كښې ئے ډير شريف مكان رانيولے دے.

او دا دليل دے چه يو شخص به د زړۀ په عمل سره رانيولے شى، او د زړۀ عمل د اندامونو د عمل نه ډير قوى وى، لكه كفر او ايمان ځكه چه زړۀ مركز دے او اندامونه ئے شاخونه دى، نو زړۀ ته نسبت د گناه كښې اشاره ده چه دا د ډيرو لويو گناهونو نه دى. (فتح البيان، قاسمیؒ).

﴿ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴾ پدے جمله كښې يره وركول دى، چه الله ته ستاسو عملونه معلوم دى چه څوك گواهي پټوى، او څوك ئے ښكاره كوى نو هغه به جزاء او سزا دركوى.

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِنْ
خاص د الله په اختيار كښې دى هغه څه چه په آسمانونو كښې دى او هغه څه چه په زمكه كښې دى او كه
تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ
تاسو ښكاره كوئ هغه خبرے چه ستاسو په زړونو كښې دى يا پټوئ هغے لره حساب به كوى تاسو سره

بِهِ اللّٰهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ
په هغې باندې الله تعالیٰ، نو بخنه کوی هغه چا ته چه خوښه ئې شي او عذاب ورکوی هغه چا ته
يَّشَآءُ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٨٤﴾
چه خوښه ئې شي او الله په هر شي باندې قدرت لرونکے دے۔

تفسیر : مضمون : په راتلونکې درې آیتونو کښې د ټول سورت خلاصه او د مخکنو مضامینو نچوړ راویاسي او د سورتونو د موضوعاتو طریقه هم دا وی چه په اوله کښې کوم مضامین راوړی، نو په آخر د سورت کښې هم هغه شان مضمون راوړی، نو دے سورت کښې خلور مضامین وو، نو په (لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ) کښې د الله د توحید بیان دے۔ په آمَنَ الرَّسُوْلُ کښې د رسول ﷺ د رسالت متعلق خبرے هم دی چه یهودو پرے اعتراضونه کول۔ او ورسره په دے سورت کښې د انفاق او د جهاد مسئلے وے، نو دا په (لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا) کښې بیانوی چه دا ټول داسے احکام دی چه د انسان د طاقت مناسب دی۔

او سورت د مؤمنانو په دُعا ختموی چه صحابه کرامؓ دا دُعا کړے وه چه اے الله ! مونږه باندې دین راولیږه خو چه ګران نۀ وی خکه چه بیا به ئې مونږ برداشت کولے نۀ شو، او ستا د غضب حقدار به شو، نو دا دُعا الله قبوله کړه، بیرته ئې قرآن کښې نقل هم کړه۔

دا د الله تعالیٰ ښکلے احسان دے چه مؤمنانو دُعا اُوکړه او الله قبوله کړه، او قرآن کریم کښې ئې اُولیکله چه بالکل قبوله شوه۔

او پدې دعا کښې اشاره ده چه اُمت ته به زۀ آسان احکام ورکوم، او کوم احکام چه پدې سورت کښې نازل شوی هغه ټول آسان دی، لکه توحید، مونځ، زکاة، قبلے ته متوجه کیدل، او معمولی شان ابتلاء ات راوستل، حلال او حرام منل، قصاص نافذ کول، روژے نیول او حج او عمره کول، رشوتونو نه ځان ساتل، نکاح، طلاق، خلع، عدت، رضاعت، بیوع وغیره احکامو کښې د الله امر منل دومره ګران کار نۀ دے۔

نو پدے دُعا کښې امت ته تسلی ورکول دی۔

او دا آیتونه مونږ ته دا خبره بیانوی چه دا مسئلے او دا قوانین د الله تعالیٰ نبی منلی او صحابه کرامؓ منلی دی، ددے اُمت مؤمنان ئې منی، او دوی ایمان هم راوړی او عملونه هم کوی او ورسره ورسره د خپل تقصیر چه کله واقع شی د هغې بخنه غواړی چه اے الله ! مونږ ته دا کوتاهی

معاف کړه۔ نو هر مؤمن له دغه شان پکار ده۔

﴿ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ﴾ جلالين ليکي : خَلْقًا وَمِلْكًا وَعَبِيْدًا)۔

يعني آسمانونو او زمکو کښې چه څۀ دي چه هغه اعيان (ذوات) دي او که اعراض، نو دا ټول د الله مخلوق دي، او د الله مملوك دي، هغه ئے مالك دے، د بل چا واك پکښې نۀ چليږي او د هغه غلامان دي۔ عاجز دي۔ او الله پکښې تصرف کونکے دے۔ هغه بل چا (بابا، پير، ولي) له ددے د تصرف حق نۀ دے ورکړے، نو معلومه شوه چه تصرف کونکے صرف الله دے نو پدے کښې په شرك في التصرف باندے رد دے۔ او هرکله چه په دنياوي کارونو کښې تصرف کونکے الله دے، نو توجه به هغه ته کيږي، عبادت به د هغه کيږي، قانون به د هغه منلے کيږي، دين به د هغۀ چليږي، هغۀ چه کوم احکام راليږي هغۀ به منلے کيږي، بل معبود او اِله او محبوب به نۀ وي۔

﴿وَإِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوْهُ ﴾ پدے کښې د الله تعالىٰ د عِلم بيان دے، او پدے اعمالو باندے حساب ذکر کوي چه څوك دا مني او څوك ئے نۀ مني، د هغه سره به حساب کيږي داسے نۀ ده چه يو غلام ډے وي او د هغه سره ډے حساب نۀ وي نو څکه عمل پکار دے۔

﴿ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ﴾

فوائد الآية : ١- د الله د عِلم بيان پکښې اُوشو چه په پټ او ښکاره هر څۀ باندے پو هه دے۔

٢- بندګان ئے مهمل نۀ دي پريخي بلکه دوي سره به حساب کيږي۔ دا احکام نازلول د هغه مهمل نۀ دي۔ ٣- بيا بيان د مغفرت د هغه دے چه که چا نه پدے احکامو کښې کومه کوتاهي اُوشوه نو الله به ورته بخنه کوي۔

٤- او که څوك احکام ماتوي نو الله عذاب هم ورکوي۔

يحاسبكم : ددے آيت نه معلوميږي چه په هره پټه او ښکاره خبره انسان سره حساب کيږي، ليکن حساب عام دے، کله په طريقه د عَرْض سره وي يعني نيکانو ته به الله تعالىٰ دغه اعمال پيش کړي چه تاسو دا دا اعمال کړي ليکن درته معاف مے کړل۔ ديته حساب يسير (آسان حساب) وائي۔ او کله حساب په مناقشے سره وي يعني په حساب کښې بحث کول او سخت حساب کول چه انسان ته اُووائي چه دا کار ډے ولے کړيدے؟۔ نو دا حساب سبب د عذاب دے۔ او کله پدے کښې هم معافي کوي۔

په حديث د مسلم کښې د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه کله په رسول الله ﷺ باندے دا آيت (لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوَاتِ الخ) نازل شو، نو د رسول الله ﷺ په صحابه ؓ دا خبره ډيره ګرانه شوه نو رسول الله ﷺ ته راغلل او په ګوندو کيناستل، وے وئيل: اے د الله رسوله ! مونږ باندے داسے اعمال

مقرر شوی وو چه مونږ د هغې طاقت لرلو چه هغه مونځ، روژه، جهاد، او زکوٰة دی۔
لیکن اُوس په تا باندے الله تعالیٰ دا آیت نازل کړے چه ددے طاقت مونږ نشو لرلے۔ (یعنی چه الله به تاسو سره په هره خبره حساب کوی که په زړهٔ کښې ئے پټه ساتئ او که په ښکاره کوئ) نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل :
آیا تاسو غواړئ چه داسے خبره اُوکړئ لکه څنګه چه ستاسو نه مخکښې د دوه کتابونو والو کړے وه چه سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا (مونږ خبره واوریدهٔ او مخالفت ئے کوو) بلکه داسے اُووایئ چه مونږ خبره واوریدهٔ او تابعداری کوو، اے الله ! مونږ ته بخښنه اُوکړه او تا ته زمونږ در ګرځیدل دی۔
نو کله چه صحابه کرامؓ هغه خبره اُوکړه او ژبے ئے پرے تابع شوے، نو الله تعالیٰ ددے نه روستو آیت (لَا يُكَلِّفُ اللهُ) نازل کړل نو دغه مخکنے حکم ئے پرے منسوخ کړو۔ (مسلم کتاب الایمان ۱۲۵)
نو ددے روایت نه ښکاره معلومه شوه چه دا آیت په روستنی آیت سره منسوخ دے۔ ځکه چه پدے آیت کښې دی چه په هر پټ او ښکاره حساب دے، نو په غیر اختیاری وسوسو به هم حساب وی، چه د بے حیایئ او د الله او د آخرت وغیره په باره کښې راځی۔ او روستو آیت کښې ئے اُوفرمایل چه الله په هغه کارونو حساب کوی چه د انسان په وسع او طاقت کښې وی۔ او کومے وسوسے چه غیر اختیاری زړهٔ ته راځی نو هغه معاف دی۔
او د منسوخ دا معنیٰ نهٔ ده چه ګنے دا آیت مُهمل دے، بلکه مطلب دا دے چه په اوله کښې په بندګانو باندے ګرانه خبره کیخودے شوے وه د امتحان دپاره چه دوی ورته غاړه ایږدی او که نهٔ؟، اُووئیل شو چه په هره خبره که اختیاری وی او که غیر اختیاری وی، حساب دے لیکن هرکله چه د دوی ژبے هغې ته تابع شوے او سَمِعْنَا او اَطَعْنَا ئے اُووئیل، نو الله ورته اُوفرمایل چه کومه خبره ستاسو د وَس نهٔ بهر ده، هغه درته معاف شوه، نو دیته تخفیف وائی او نسخ ورته نهٔ وائی، او د متقدمینو په اصطلاح کښې دے تخفیف ته هم نسخ وائی پدے وجه ئے په نسخ سره تعبیر کړیدے۔
او ټول حکم نهٔ دے منسوخ شوے بلکه یوه حصه منسوخ شوه چه د زړهٔ وسوسه چه غیر اختیاری وی په هغې باندے رانیول نشته، او نورے خبرے باقی دی چه که تهٔ اختیاری خبرے پټوے او که ښکاره کوے په هغې به درسره الله تعالیٰ حساب کوی۔
(۲) او ابن جریرؒ، قرطبیؒ، ابن عطیهؒ او ابن کثیرؒ وغیره داسے فرمایلی دی چه :
یوه محاسبه ده او یو عذاب دے، حساب په هر شی باندے کوی خو چه کوم شے ستا په اختیار کښې نهٔ دے، نو د هغې عذاب نهٔ درکوی، حساب به درسره اُوکړی او جنت ته به دې بوځی، داسے به اُووائی چه ستا په زړهٔ کښې وسوسه راتله او تا بده ګڼړله او خفه کیدلے، ځهٔ معاف مے کړے، نو

بخنـه به پرے اُوکړی۔ ځکه چه الله دا نهٔ دی وئیلی (يُعَذِّبْكُمُ اللهُ) چه زهٔ پرے عذاب ورکوم، بلکه حساب ئے ذکر کړے۔ حساب جدا شے دے او عذاب جدا دے۔ هر حساب سره عذاب لازم نهٔ دے، بلکه کله حساب په عرض سره وی لکه مخکښ تیر شو۔ یعنی په هر اختیاری او غیر اختیاری خبره حساب دے لیکن په غیر اختیاری خبره هغه حساب دے چه هغے ته عرض (پیش کول) او آسان حساب وائی۔ او دا د ایمان والو سره د الله احسان وی۔ ﴿فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتَابَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا﴾ ۔ او په اختیاری خبره گران حساب دے۔ خو کله معاف کول کوی او کله عذاب ورکوی۔

(۳) دریم دا چه د مَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ نه هغه خبرے او عقیدے او کارونه مراد دی چه په زړهٔ کښ د هغے کلکه اراده شوی وی، یعنی عزم درجے ته رسیدلی وی، نو بیا په هغے کښ رانیول شته لکه دا د (فِيْ اَنْفُسِكُمْ) لفظ نه معلومیږی چه دننه زړهٔ ته داخلے شوی وی، او زړهٔ په هغے باندے قصد کړے وی، نو که دا غلطه خبره وی، په هغے باندے هم رانیول شته، او هرچه غیر اختیاری وسوسے دی چه عزم درجے ته نهٔ وی رسیدلی، نو په هغے رانیول نشته۔ او هغه په مَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ کښ نهٔ دی داخل۔

نو روستو آیت (لَايُكَلِّفُ) دا بیان اُوکړو چه په غیر اختیاری وسوسو رانیول نشته ځکه چه دا د انسان په وسع کښ نهٔ دی، او که اختیاری وی نو په هغے کښ قصد او عزم وی۔لهذا روستو آیت د مَافِيْ اَنْفُسِكُمْ تشریح ده۔

لکه حدیث کښ هم ددے تشریح داسے راغلے ده : [إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ لِيْ عَنْ اُمَّتِيْ مَا حَدَّثَتْ بِهٖ اَنْفُسُهَا مَا لَمْ تَتَكَلَّمْ اَوْ تَعْمَلْ بِهٖ] (متفق علیه و السنن الاربعة) ۔ الله زما دپاره زما د امت نه د هغه خبرو تجاوز کړے یعنی معاف کړی دی چه هغوی ته د هغوی زړونه وسوسے اچوی ترڅو پورے چه په هغے ئے خبرے نهٔ وی کړی، یا ئے پرے عمل نهٔ وی کړے) یعنی په خله یا عمل ئے راښکاره کړی نهٔ وی۔ بلکه غیر اختیاری وی۔ نو بناء پدے دا آیت مُحکم دے۔

په بل تعبیر سره داسے وئیلے شی چه دلته ئے (تُخْفُوْا اَوْ تُبْدُوْا) لفظ وئیلے دے۔ ابداء او اخفاء په اختیاری امورو کښ استعمالیږی (اَبْدٰى فُلَانٌ شَيْئًا)فلانی دا شے راښکاره کړو په خپله خوښه، په خپله اراده۔ او اخفاء هم دے ته وائی چه قصداً یو سړے په زړهٔ کښ یو شے پټ کړی۔ او هر چه وسوسے دی نو هغه د انسان زړهٔ ته غیر اختیاری راځی۔ د انسان واك پکښ نهٔ وی، یا د خولے نه غیر اختیاری خبره اُوځی نو پدے انسان گناهگار نهٔ دے۔

نو دے آیت کښ دا معنیٰ نهٔ وه پرته چه الله تاسو په وسوسو باندے هم راګیروی لیکن د

صحابه کرامو د دا خیال راغلو چه گنے دے کښې وسوسے هم داخلې دی، نو نبي ﷺ ورته اُوفرمایل چه تاسو به په آیتونو کښې چون وچرا نهٔ کوئ، تسلیم شئ۔ نو الله ورته (لَا يُكَلِّفُ) کښې اُوفرمایل چه وسوسه پکښې نهٔ ده داخله۔ لهذا دا د مخکني آيت تشريح شوه، نو دا تفسير هم د حديث خلاف نهٔ دے۔

(٤) دے کښې بل جواب چا دا هم کړے چه حساب متعلق دے د موالاة مع الكفار سره یعنی که څوك په زړهٔ کښې د کافرانو سره مینه پټه ساتی، يا ئے ښکاره کوی نو الله به ورسره حساب کوی۔

(٥) بل مطلب دا هم بيان شوے چه د حساب نه مراد: بنده ته کله يو غم يا هَمّ يا مصيبت اُورسی نو ددے په وجه الله تعالیٰ ورله گناه معاف کړی لکه دا خبره په صحیح حدیث کښې راغلے ده۔ لیکن اولنی اقوال ډیر قوی دی۔

﴿فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ﴾ نو دا دليل دے چه هر حساب مستلزم عذاب لره نهٔ دے۔ بلکه کله حساب اُوکړی او معافی اُوکړی او کله د حساب نه روستو عذاب ورکوی۔

او الله چه مغفرت کوی نو هم اهل پیژنی او چا ته چه عذاب ورکوی د هغے هم اهل گوری چه دهٔ په زړه ورتیا او بے باکئ سره گناه کړیده۔

لهذا د آيت نه ثابته شوه چه زړهٔ کښې به قصداً د گناه فکر نهٔ کوے او په خوله به هم داسے نهٔ وائی (چه سرے زنا اُوکړی، د فلانی وژل پکار دی، په فلانی ځائے کښې شراب سکل پکار دی)۔ ددے خبرو تمنا گانے کول د الله د حساب ذريعه ده۔ شیطان د انسان فکر اکثر پدے غلطو کارونو کښې مشغوله کوی۔

﴿وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ﴾ نو مؤمنانو ته بخنه کول د هغه احسان او فضل دے او کافرانو ته عذاب ورکول د هغه عدل دے۔ د ابن عباسؓ نه نقل دی چه الله قدرت لرونکے دے کله لویه گناه معاف کوی، او په وړه گناه عذاب ورکوی۔ ځکه چه الله تعالیٰ د هر چا په حال عالِم دے نو په مغفرت او عذاب قادر دے۔ (فتح البيان)۔

فائده: امام رازیؒ فرمائی: په (لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ) کښې دا خبره ثابته شوه چه الله کامل ملك او بادشاهئ والا دے۔ او په (وَاِنْ تُبْدُوْا) کښې ثابته شوه چه الله کامل علم او احاطے والا دے۔ او په (وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ) کښې ثابته شوه چه الله کامل قدرت والا دے چه په ټولو ممکنانو غالب او د دوی په پیدا کولو او ختمولو قاهر دے۔ او چا ته چه دا درے صفات حاصل شی نو د هغه نه پورته کمال والا نهٔ وی، او کوم ذات چه پدے درے صفاتو متصف وی، نو په هر عاقل باندے دا لازم دی چه د هغه تابعدار بنده جوړ شی، د هغه حکمونو ته عاجزی او خضوع اُوکړی او د هغه

د غضب نه ځان بچ کړي۔ (قاسمي)۔

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُوْنَ
ایمان راوړو رسول (ﷺ) په هغه وحی چه نازله شوي ده هغه ته د طرفه د رب د هغه نه او ایمان والو (هم)
كُلٌّ آمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ
هر يو ایمان راوړو په الله او په ملائکو د هغه او په کتابونو د هغه او په رسولانو د هغه، فرق نۀ کوو مونږ
بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهِ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ
په مینځ د یو تن کښې د رسولانو د هغه نه۔ او وائي دوي چه واوريدل مونږ او تابعداري کوو مونږ، بخنه غواړو ستا نه
رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸۵﴾
اے ربه زمونږه! او خاص تا طرف ته درکرځیدل دي۔

تفسیر : دا روستودوه آیتونه ډیر غوره دي۔ حدیث کښې راځي : چه رسول الله ﷺ ته یو ملائك راغلو چه هيڅ کله مخکښې نۀ وو نازل شوے وے۔ جبریل ﷺ اُوفرمايل : دا ملائك دے چه مخکښې هیچا ته نۀ دے راغلے، نو هغه رسول الله ﷺ ته زیرے ورکړو په دوه رڼړا ګانو چه یو سورة فاتحه ده او بل خواتيم (آخري آیتونه) د بقرے دي، تۀ به یو حرف ددے نه نۀ لولے مګر تا ته به درکولے شي۔ [مسلم ۸۰٦، نسائي ۲/۱۲۸]۔

او په یو حدیث کښې دي چه رسول الله به دا دوه آیتونه د شپے د اُودهٔ کیدو په وخت لوستل۔ او په یو روایت کښې دي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: چه څوك دا دوه آیتونه په شپه کښې اُووائي، نو دا به ورله کافي شي۔ (بخاري رقم : ۵۰۰۸)۔

علي كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهٗ فرمائي: زما په یو تن دا ګمان نۀ دے چه هغه عاقل وي او اسلام ورته رسیدلے وي، او د آیة الکرسي او د سورة البقرے آخري آیتونو لوستلو نه بغیر اُودهٔ کیږي، ځکه چه دا د هغه خزانے نه راوتلي دي کوم چه د عرش نه لاندے دي۔

(فضائل القرآن لابن الضریس صححه النووي- ابن کثیر)۔

یعني ددے آیتونو دومره خیر دے چه عقلمند سړے دا چرے نۀ پریدي۔

په حدیث کښې دي : ما ته د سورة البقرے آخري آیتونه راکړے شویدي، د هغه خزانے نه چه د عرش لاندے ده چه دا زما نه مخکښې هيڅ نبي ته نۀ دي ورکړے شوي۔

(مسند احمد ٥/١٥١)۔

عنوان الآية : امام زجاج رحمه الله فرمائی: [هٰذِهِ الآيَةُ تَصْدِيْقٌ لِجَمِيْعِ مَا فِيْ هٰذِهِ السُّوْرَةِ فَتَكُوْنُ تَاكِيْدًا وَفَذْلَكَةً] (قاسمیؒ، فتح البيان، ابن عاشورؒ) دے سورت کښې چه کوم مضامين مخکښې تير شويدی (توحيد، مونځ، زکاة، روژه، حج، طلاق، حيض، ايلاء، جهاد، د انبياء عليهم السلام واقعات، سود، او قرض) نو دا آيت د هغے تصديق او تعظيم بيانوی او پدے کښې فَذْلَكه او خلاصه راوستل دی، چه دا مخکښې تيرے شوے خبرے رسول الله ﷺ هم منی او مؤمنان ئے هم منی، هغوی تر قيامته پورے ددے منلو ته تيار دی۔

او ايمان والا پرے عمل هم کوی، خارج کښې موجود شوی احکام دی، هسے فرضی احکام نهٔ دی، او وائی چه مونږ نه کوم تقصير واقع شو د الله نه بخنه غواړو۔

دا مهٔ وايه چه دا احکام هسے بيان شواو چا پرے عمل نهٔ دے کړے۔بلکه ددے احکامو اهل شته۔ او مؤمن به ديته وائی چه دا ټول احکام به منی او عمل به پرے کوی، که توحيد دے، رسالت دے، که عبادت دے، کوم چه دے سورت کښې تير شول۔نو پدے کښې د تير شوو مضامينو تاکيد شو۔

ګويا کښې دا د سوال جواب دے چه پدے سورت به څوك عمل کوی او چا کړے دے؟ نو جواب اُوشو چه رسول الله ﷺ او مؤمنان شته چه هغوی ئے منی او عمل پرے کوی۔

﴿ آمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهٖ ﴾اَلرَّسُوْل کښې الف لام عهدی دی، مراد ترے محمد رسول الله ﷺ دے۔ د (بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِ) نه مراد ټول هغه احکام دی چه په قرآن او سنت کښې او خصوصاً پدے سورت کښې ذکر دی۔

او دا دليل دے چه رسول الله ﷺ هم په ايمان او د دين په احکامو باندے داسے مکلف دے لکه څنګه چه اُمت پرے مکلف دے۔

او په رسول الله ﷺ هم دا فرض وو چه هغه دا يقين اُوکړی چه دا قرآن د الله د طرف نه نازل شويدے او دا سحر، کهانت او د شيطانانو القاء نهٔ ده۔

﴿وَالْمُؤْمِنُوْنَ﴾ دا مبتداء ده او (كُلٌّ آمَنَ) ئے خبر دے، او عائد د مبتدا تنوين دے په كُلٌّ کښې، دا هم کله د ضمير په ځائے قائمقام کيدے شي۔ مفسر ابوالسعودؒ دا قول غوره کړيدے۔

(۲) دويم دا چه دا په (الرسول) باندے عطف دے، نو كُلٌّ کښې به تنوين رسول او مؤمنانو دواړو ته راجع وی، او همدا قول غوره دے ځکه چه پدے مقام کښې شمارل د مُؤمَنٌ به مقصود دے، او پدے کښې رسول او د هغه تابعدار دواړه شريك دی چه پدے څيزونو به ايمان لری۔ اګرکه د دواړو د ايمان په حقيقت کښې به ډير تفاوت او فرق وی۔ (قاسمیؒ)۔

﴿كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ﴾ دا تفصیل دے ذ مخکښ اجمال چه په (آمَنَ) کښ دے۔ په الله ایمان دا چه هغه په ذات او صفاتو کښ یکتا او تنها یواځے دے، شریکان ئے نشته، هغه زمونږ خالق او رب دے، او یواځے معبود، حقدار او لائق د بندګئ دے۔ او دا اوله مرتبه د ایمان ده۔

﴿وَمَلَائِكَتِهِ﴾ او په ملائکو ایمان دا دے چه د هغوی په وجود او د هغوی په هغه صفاتو باندے تصدیق او یقین اُوکړے شی کوم چه قرآن او حدیث کښ ذکر دی، او دوی واسطه ده په مابین د الله او د بندګانو کښ چه وحی راوړی او الله په کارونو مقرر کړیدی، د هغه په حکم سره د بندګانو خدمتونه کوی۔ او دا دویمه مرتبه د ایمان ده۔

﴿وَكُتُبِهِ﴾ د الله په ټولو نازل شوو کتابونو ایمان دا دے چه د هغے اجمالی یا تفصیلی تصدیق اُوکړے شی چه دا حق کتابونه وو، او د الله د طرف نه نازل شوی وو، او ددے په منلو کښ هدایت وو، او په نۀ منلو کښ ئے هلاکت وو۔دا دریمه مرتبه د ایمان ده ځکه چه دا کتابونه د ملائکو په ذریعه رسولانو ته رارسیدلی دی۔

﴿وَرُسُلِهِ﴾ ایمان په رسولانو دا دے چه دوی د الله حق رسولان وو، او دوی د الله عباد او بندګان او انسانان وو، د الله شریکان نۀ دی، ملائك نۀ دی۔ دا څلورمه مرتبه د ایمان ده ځکه چه ددے کتابونو په ذریعه دوی رسولان ګرځولے شویدی، چه اُمتونو ته به د الله کتابونه بیانوی۔

(رُسُلِهِ) لفظ ئے راوړو، دپاره د رد په یهودو چه هغوی ټول رسولان نۀ منی۔

﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ﴾ دا جمله حالیه ده او (يَقُولُونَ) لفظ پکښ پټ دے۔ یعنی دوی پداسے حال کښ ایمان راوړی چه وائی مونږ د هیڅ یو تن د رسولانو په مینځ کښ جدائی نۀ کوو یعنی په ایمان راوړلو کښ، داسے نۀ کوو چه بعضِ اُومنو او بعض نۀ، یا شك اُوکړو چه دوی په حق وو او که نۀ، او حق ئے راوړے وو او که نۀ۔ ځکه دوی الله تعالیٰ هدایت کونکی رالیږلی وو، بنده ګانو باندے ئے حجت قائمولو، دا د الله تعالیٰ ډیر اُوچت خلق وو۔ او دلته د تفرقے نه مراد دا دے چه په ټولو رسولانو به یو شان ایمان راوړے شی او ټول به د الله رسولان ګڼړلے شی اګرکه د دوی خپل مینځ کښ په مرتبو کښ تفاوت او فرق شته لکه چه ددے تفصیل مخکښ د دریمے سیپارے په ابتداء کښ ذکر شویدے۔

﴿وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ یعنی دا رسول او مؤمنان الله ته داسے خبره هم کوی۔ چه مونږ واوریدۀ ستا خبره، او ستا د حکم تابعداری کوو۔ د (سَمِعْنَا او أَطَعْنَا) مفعولونه پټ دی۔ (اَیْ سَمِعْنَا قَوْلَكَ وَفَهِمْنَاهُ وَاَطَعْنَا اَمْرَكَ) ۔ مونږ ستا خبره واوریدۀ او پرے پوهه شو او ستا د حکم تابعداری کوو او په هغے باندے مضبوط اُوسیږو۔

دلتـه د سمـع نـه مـراد د حـكـم قبـلـول دي او په هغې رضا كيدل دي او نفس آوريدل مراد نهٔ دي، يـعـنـي مـونـږ تـه چـه ستـا د ملائكو او د رسولانو په ذريعه كوم حكم رارسيدلے دے نو هغه حق او صـحيـح دے، او مـونـږ پـرے رضـا يو، او مونږ د هغې قبلولو او په هغې باندے يقين او عمل كولو ته تيار يـو. اَطَـعْـنَـا ئے ورسره راوړو ځكه چه نفس يقين كول او آوريدل بغير د عمل كول نه كافي نهٔ دي، بلكه عمل كول هم ضروري دي او پدے سره ايمان پوره كيږي.

سَمِعْنَـا او اَطَعْنَا ئے ماضي صيغے راوړے، دے دپاره چه دلالت اُوكړي چه دوي پدے خبره كښې ډير مضبوط دي.

﴿غُفْرَانَكَ رَبَّنَا﴾ هـر كله چه په عمل كولو كښې د بندګانو نه تقصير او كوتاهي ضرور كيږي، نو د هغې بخنه هم غواړي او الله پدے ډير رضا كيږي چه د بنده نه تقصير اُوشي، او بيرته الله ته توبه اُوبـاسـي او د هغه نه بخنه اُوغواړي. [لَلّٰهُ اَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ] . الله د بـنـده په توبه ډير زيات خوشحاليږي. (بخاري ومسلم).

غُـفْـرَانَكَ مـنـصـوب دے، ددے نـه مـخـكښې د سيبويهؒ او زجاجؒ په نيز (اِغْفِرُ) (اُوبخه) پټ دے. يعني مونږ ته بخنه اُوكړه ستا خاص بخنه. يا تقدير داسے دے :

[نَسْأَلُكَ غُفْرَانَكَ ذُنُوْبَنَا]. مونږ غواړو ستا نه بخنه ستا ز مونږ ګناهونو لره).

او سمـع او اطاعـت ئے په مغفرت مقدم كړل ځكه چه د دعا وسيله چه په حاجت مخكښې شي نو دا قبول والي ته ډيره نزدے وي. (قاسميؒ).

﴿وَاِلَيْكَ الْـمَصِيْرُ﴾ مـصـيـر مـصـدر مـيـمـي دے پـه معنىٰ د صيرورة (ورګرځيدلو) سره. الله ته د ګـرځـيـدلـو دوه مـعـنـے دي (۱) يو دا چه ددے نه مراد الله ته په قيامت كښې ورګرځيدل دي، نو پدے كښې په بعث بعد الموت باندے اقرار دے، نو په دے كښې ايمان په قيامت ذكر شو.

او دا ګرځيدل په ظاهر كښې ورځے ته دي، ليكن په هغه ورځ به صرف د الله تعالىٰ قدرت ښكاره كيږي نو ځكه دا ګرځيدل په حقيقت كښې الله ته شو.

(۲) دويـم د ګـرځـيـدو نه مراد په ايمان او عمل سره ګرځيدل دي، يعني ګويا كښې دوي د ايمان نه مـخـكـښې د الله تعالىٰ نه تختيدونكي وو، بيا الله ته ور اُوګرځيدل او ددے مثال داسے لكه ﴿فَفِرُّوْا اِلَى اللهِ﴾ (الـذاريات : ٥٠) او الله تـه ګـرځيـدل د هـغـه امـر او حكم ته ورګرځيدل دي. او (اِلَيْكَ) جار مـجـرور ئے د حـصـر او اختصاص دپاره مقدم كړو. يعني د دوي دا يقين دے چه ګرځيدل صرف او صرف الله ته دي نهٔ بل چا تـه. (ابن عاشورؒ).

(وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ) ئے ذكر كړو دا د مخكښې دپاره تذييل دے، چه ز مونږ حاجت بخنے ته ځكه شته

چه تا ته کړځیدل دی او هلته به حساب کتاب وی نو مونږ ته بخنه اُوکړه۔ (قاسمی)۔
نو پدے کښې تول ایمانیات راجمع شو۔

لَايُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ
تکلیف نهٔ ورکوی الله هیڅ نفس ته مګر په اندازه د وس د هغه، ددے نفس دپاره بدله د هغه عمل ده چه دهٔ کړے دے،
وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَاتُؤَاخِذْنَا إِنْ نَّسِيْنَا
او په دے نفس باندے سزا د هغه بد عمل ده چه دهٔ کړیدے اے ربه زمونږه! مهٔ رانیسه مونږ که چرته هیر کړو مونږ (حکم ستا)
أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَاتَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ
یا خطا شو مونږه۔ اے ربه زمونږه! او مهٔ بار کوه په مونږ باندے دروند بوج لکه څنګه چه بار کړی وو تا
عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا
په هغه کسانو باندے چه زمونږ نه مخکښې وو اے ربه زمونږه او مهٔ اُوچتوے په مونږ باندے هغه څه
لَاطَاقَةَ لَنَا بِهٖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا
چه نشته طاقت زمونږ په هغې باندے او معافی اُوکړه زمونږ نه او بخنه اُوکړه مونږ ته او رحم اُوکړه په مونږ باندے
أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۸٦﴾
تهٔ مددګار (دوست) زمونږه ئے نو مدد اُوکړه زمونږ په مقابله د قوم کافرانو کښې۔

تفسیر: ربط : هرکله چه ایمان والا د الله تعالیٰ تولو احکامو منلو ته تیار شو، او سَمِعْنَا او اَطَعْنَا ئے اُووئیل، نو الله تعالیٰ ته د دوی د زړهٔ اخلاص او محبت قبول شو، نو آسانی ئے رالیږله۔ او دا آیت ئے نازل کړو۔

دے آیت کښې دا خبره ده چه اے بندګانو! دا احکام ستاسو د وَس مطابق دی۔ ددے په عملی کولو کښې خپل وسع او طاقت خرچ کړئ۔ او پدے کښې د ایمان او د تسلیم او د طاعت ثمره او فائده رابنکاره کوی، الله خبر ورکوی چه الله په بندګانو باندے پدے دین کښې داسے تکلیف نهٔ دے مقرر کړے چه هغے کښې مشقت وی۔ بلکه دا د هر چا د وسع مطابق دین دے۔ دا وجه ده چه د شریعت احکامو ته احکام تکلیفیه وئیل هم مناسب نهٔ دی۔ بلکه دا د فطرت مطابق احکام دی

چه انسان لـه بـغيـر ددي احكامو نه ژوند تيرول گران دي. او پدي آيت كښې د مخكښې نه زيري وركول دي چه ستاسو راتلونكي دعا(رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا الخ) مـا قبـولـه كـړه. او روستو دعا ذكر كوي چه ايمان والو دا دعا د الله تعالىٰ نه طلب كړيده او الله قبوله كړيده.

مـونږ چه دا دعا ذكر كوو نو پدي كښې دوه فائدي دي، يو تعبد غرض دي چه مونږ پدي سره د الله سبحانه د عبادت كوو، صحابه كرامو دا دعا لوستلي وه، عبادت ئي هم غرض وو، او اُمت ته ئي آسانـي هـم غـرض وه. چه اي الله ! گران احـكـام مهٔ نازلوه. او مونږه ئي صرف د تعبد دپاره لولو ځكه چه اُوس نوي احكام نهٔ نازليږي.

دويـم دا چـه پـدي احـكـامـو كـښې د هـر انسان دپاره تخفيف پيدا كيدي شي او پدي نازل شوي احـكـامـو كـښې هـم مـونږ ته گنجائش دي، كه د يو انسان پري وَس نهٔ وي نو الله پري هغه نهٔ دي مـكـلـف كـړي، لـكـه جهاد شو چه د زمونږه سترگي، لاسونه، خپي نشته نو اي الله ! په مونږ جهاد مهٔ ايږده. نو الله فرمائي چه تهٔ مكلف نهٔ ئي. مال نشتـه په مونږ زكاة مهٔ ايږده، نو الله فرمائي چه تـا بـانـدي نشتـه. اي الله ! زما د حج وَس نهٔ كيږي، نو الله فرمائي چه په تا فرض نهٔ دي. نو زمونږ دپـاره هـم پـكـښې دا فـائـده شتـه اگـركـه دا احـكـام نازل شويدي، ليكن دا ټول احكام خو په ټولو انسـانـانـو په يو ځل نهٔ فرض كيږي، بلكه په هغه چا فرض كيږي چه د هغه وَس رسيږي.نو د الله شريعت څومره آسان دي ؟!!.

﴿ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾

فائده : دا قـول يـا د الله تـعـالىٰ دي چـه پدي كښې خبر وركوي چه الله تعالىٰ ايمان والو ته غير اختيـاري خبـري چـه د وَس نه بهر وي، معاف كړيدي، دوي غُفْرَانَكَ اُووئيل نو الله ورته اُوفرمايل چه الله به دربانـدي تخفيف راولي.

○ دويـم دا چـه دا ويـنـا د رسـول الله ﷺ او د ايـمـان والـو ده چـه دوي د الله تعالىٰ سمع او طاعت كوي، او دغه شان د خپل رب صفت كوي چه هغه گران احكام نهٔ دي راليږي بلكه د وَس مطابق احـكـام دي. او د مـخـكـښې سره ئي ربط پدي طريقه دي، چه دوي كله اُووئيل : سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا نو گـويـا كـښې دوي اُووئيـل چـه مـونږ بـه څـنگه خبره نهٔ قبلوو او طاعت به نهٔ كوو ؟ حال دا چه الله تـعـالىٰ مـونږ پـه هـغـه شي مكلف كړي يو چه زمونږ په طاقت او وَس كښې دي، هركله چه الله تعالىٰ په خپل رحمت سره مونږ نه د معمولي او آسان شي مطالبه كوي نو مونږ باندي د بندگئ په حكم سره واجب دي چه د هغه قبلونكي او تابعدار جوړ شو. (قاسمیؒ، ابن عاشورؒ).

نـو د شـريـعـت ټـول احـكـام آسان دي، دا وجـه ده چـه رسـول الله ﷺ اُمت ته داسي چرته نهٔ دي

وئیلی چه تاسو زر کرته دا فلانے ذکر اُوکړئ ځکه چه اُمت ته ئے خبره نهٔ ده ګرانه کړے۔

﴿ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ﴾ یعنی که دے عملونو باندے چا راتګ اُوکړو اجر به ورکړی او چا چه خلاف اُوکړو سزا به ورکړی۔

نکته : کسب : د یو شی خاصلولو ته وائی، که په هره طریقه سره وی، او اکتساب په هغے کښ مبالغه او کوشش کولو ته وائی، نو پدے کښ په بندګانو باندے د الله تعالیٰ مهربانئ ته اشاره ده چه نیك کار که په هره طریقه سره اُوکړی، نو ثواب او فائده به ورکوی، او د بد کار سزا او عذاب هله ورکوی چه په مبالغه او کوشش او مضبوط عزم سره اُوشی۔

زمخشری وئیلی دی چه په شر کښ نفس امر کونکے وی، او نفس اماره ئے تقاضا کوی، نو ددے په کولو کښ کوشش زیات وی، نو ځکه ددے دپاره اکتساب لفظ ذکر شو، او په نیك کار کولو کښ نفس سُست وی او د هغے کول نهٔ غواړی، نو ددے وجه نه ددے دپاره داسے لفظ (ګسب) ذکر شو چه هغے کښ تصرف او ډیر کوشش نهٔ وی۔ (قاسمیؒ)

او ابن عطیهٔ ددے برعکس نکته ذکرکړیده چه د نیکیانو په کولو کښ په اصل کښ تکلیف نشته ځکه چه د دین کارونه آسان دی، نو د هغے سره ګسَبَتْ ذکر شو او د سیئاتو په کسب کښ په اصل کښ تکلیف دے ځکه چه اکثرئے د خلقونه په پټه کوی، او مشقت پکښ برداشت کوی او په آخرت کښ ئے هم تکلیف دے، ددے وجه نه د هغے سره اکتساب ذکر شو۔

(لَهَا) دا ئے مخکښ راوړو د تخصیص دپاره۔ او پدے کښ په شرکی شفاعت باندے رد دے چه هر نفس ته به د هغه د کسب فائده رسی، نهٔ د بل چا۔ او په (عَلَيْهَا) کښ هم تقدیم د حصر او تخصیص دپاره دے، نو دا د (وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ اُخْرٰی) سره موافق دے، چه د یو نفس ګناه به صرف په هغه باندے راځی، نهٔ په بل چا۔

بیا د مؤمنانو دعا : ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا ﴾ دا د مؤمنانو د وینا حکایت دے چه هغه کسانو چه سَمِعْنَا او اَطَعْنَا ئے اُووئیله، نو هغوی داسے دعا هم اُوکړه، یعنی هرکله چه دوی د الله نه رضا شو، او الله د دوی حاجت قبول کړو، نو دوی د جزاء طلب کولو ته او د الله مناجات ته متوجه شو۔○ یا دا چه هرکله چه الله تعالیٰ د مؤمنانو نه تکلیفونه لرے کړل کوم چه د دوی په طاقت کښ نهٔ وو، نو دوی ته ئے په دعا کولو سره د مناجات تلقین اُوکړو چه هغه د تکلیف د ختمیدو آثار دی۔ چه ما نه داسے دعا غواړئ۔

دلته (قُوْلُوْا) (اُووایئ) لفظ پټ دے، لکه څنګه چه په سورة الفاتحه کښ (قُوْلُوْا) پټ وو۔

او ددے دعا مطلب به دا وی چه اے الله ! مونږ پدے کارونو باندے همیشه اُوساتے۔

(ابن عاشور)۔

علامه صديق حسنؒ فرمائي : پدے آيت کښ الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته د دعا د طريقے تعليم ورکوی، او دا د الله تعالیٰ انتهائی کرم او احسان دے چه دوی ته د طلب تعليم ورکوی، دے دپاره چه مطلوب ورله ورکړی۔ (فتح البيان)۔

﴿ اِنْ نَّسِيْنَا ﴾: يعنی که مونږ ستا امر او نهی هير کړو۔

﴿ اَوْ اَخْطَاْنَا﴾ يعنی د صواب او حق نه خلاف کار اُوکړو په کوتاهئ وغيره سره۔

نسيان ديته وائی چه د الله حکم ترے بالکل هير شی او هغهٔ د کولو يو عمل پريدی، يا د نهٔ کولو عمل اُوکړی۔ او خطاء ديته وائی چه اراده د يو کار وی او اُوشی بل کار۔ (امام راغبؒ)

لکه روژه کښ په اوداسه کښ خولے ته اُوبه اچوی او په خطائی ترے تيرے شی۔ کافر وژنی ليکن په خطاء ترے مسلمان اُولګی وغيره۔

اُوس دلته دا **سوال** دے چه نسيان او خطاء خو دے امت ته معاف دی لکه نبی ﷺ فرمائی :[اِنَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِیَ الْخَطَاُ وَالنِّسْيَانُ] (ابن ماجه، دارقطنی، ابن حبان، حاکم وغيره) زما د امت نه خطاء او نسيان پورته کړے شويدی) يعنی دا ورته معاف شويدی۔ نو مؤمنانو څهٔ له دا دُعا کوی دا خو تحصيل د حاصل ښکاره کيږی ؟۔

جواب ١: خطاء او نسيان چه معاف شوی دی نو په دے آيت معاف شوی دی۔ ګويا کښ مؤمنانو ته دا معلومه نهٔ وه چه الله به په خطاء او نسيان رانيول کوی او که نهٔ، نو چه دا دعائے اُوکړه نو الله دعا قبوله کړه او امت ته ئے اُوفرمايل چه قَدْ فَعَلْتُ (ما ستاسو دعا قبوله کړه لکه په حديث د مسلم کښ راغلی دی) او خطاء او نسيان مے درته معاف کړل، او بيا نبی ﷺ د دغے دعا د قبليدو تشريح په دغه حديث سره اُوکړه۔

او دا د صحابه کرامو زمونږ سره لوئی احسان دے چه هغوی دا دعا اُوکړه نو الله مونږ ته هم خطاء او نسيان معاف کړل۔

دويم جواب دا دے چه د خطاء او نسيان د مغفرت دعا څکه کوی چه پدے کښ د دعا ادب دے څکه چه داسے وينا خو مناسب نهٔ ده چه اے الله ! مونږ به قصداً ورانے کوو او تهٔ به مونږ معاف کوے۔ دا د عا خو د عاقل او د مؤمن سړی د شان سره لائقه نهٔ ده، سخته بے ادبی ده، بلکه اے الله ! مونږ قصداً ستا خلاف نهٔ کوو، خو که چرته په نسيان او خطاء سره رانه اُوشی، هغه به راته معاف کوے، دا مناسبه ده، کله کله په خطاء او نسيان کښ تقصير وی، سړے کُسَالیٰ، سُست وی نو خطائی ترے واقع شی۔ نو څکه ئے خطاء او نسيان ذکر کړل او ددے د بخنے سوال ئے اُوکړو۔

(۳) علامه جمال الدین القاسمیؒ وائی چه غوره جواب چه ما موندلے دے هغه جواب د پیر محمد صاحبؒ دے په (المدحة الکبری) کښ چه ددے معافی طلب کونکے، رسول الله ﷺ او انصار او مهاجرین او د دوی په شان مؤمنان وو نو دوی به نسیان هم د گناه نه شمارلو او خطاء به ئے د خطیئے او گناه نه شمارله لکه ددے قول د الله تعالیٰ په شان ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَا آتَوْا وَقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾۔ (المؤمنون/٦٠)

(٤) بعض وائی : دلته نسیان په معنیٰ د ترك (پریخودو) سره دے یعنی که مونږ پریدو ستا حکم او خطاء په معنیٰ د خطیئة یعنی گناه سره ده۔ یعنی اُوکړو گناه، نو مونږ معاف کړه۔ نو که دا معنیٰ شی، بیا هیڅ اشکال نشته۔ (قاسمی۳/٦٤٣)۔

لیکن د مؤمن شان دا نهٔ دے چه دا قسم دعا اُوکړی۔

(٥) بعض علماؤ دا جواب هم کړے چه دا نسیان او خطاء که د مخکښ نه هم معاف شوی وی، لیکن انسان له دا جائز دی چه یو شے ورته حاصل وی خو د هغے د حصول دعا اُوکړی، دے دپاره چه پدے دعا سره هغه شے ددهٔ سره همیشه پاتے شی۔ (فتح البیان)۔

(٦) بعض وائی : شرعاً اگرکه په نسیان او خطاء رانیول نشته لیکن عقلًا منع نهٔ ده چه پدے رانیول اُوکړے شی نو ځکه د مغفرت سوال کوی۔

(۷) بعض وائی دلته مقصد د هغه اسبابو نه مغفرت طلب کول دی چه هغه نسیان او خطاء ته رسی چه هغه تفریط اوبے باکی ده، نهٔ نفس خطاء او نسیان۔ لیکن اولنی جوابونه غوره دی۔

بیا خطاء او نسیان په حقوق الله کښ معاف دی او په حقوق العباد کښ نهٔ دی معاف لکه مثلًا یو انسان خطاءً قتل اُوکړی، نو دا معاف نهٔ دے، دیت او کفاره به ورکوی، لیکن الله ئے نهٔ راگیروی، گناهگار نهٔ دے۔

﴿رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا ﴾ یعنی گران احکام، اِصْر هغه گرانو احکامو ته وائی چه د هغے په برداشت کولو کښ سخت مشقت وی۔ (حرالیؒ)

په اصل کښ اِصر په معنیٰ د قید سره دے، او مناسبت ئے دا دے چه په گران حکم سره هم انسان په خپل ځائے بند شی، د حکم د عملی کولو دپاره نشی راپورته کیدے۔

د ابن عباسؓ نه نقل دی : [اِصْرًا اَیْ عَهْدًا لَا نَفِیْ بِهٖ وَنُعَذَّبُ بِتَرْکِهٖ وَنَقْضِهٖ] (ابن عاشورؒ ٦٠٢/٢)۔

(یعنی داسے حکم راباندے مهٔ اچوه چه مونږ د هغے وفاداری نشو کولے، او د هغے په پریخودو او ماتولو سره په عذاب کښ اخته شو)۔

﴿كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ﴾

ددے نه مراد يهوديان دي چه الله په دوی باندے گران احکام مقرر کړی وو، لکه :

○ په هغوی باندے په زکوٰة کښں څلورمه حصه مال ورکول وو۔ ○ د هغوی نه د چا جامے ته به چه پليتي اُورسيده، نو هغه به ئے پريکوله۔ لکه په حديث د ابو داود کښں راغلي دی۔

○ په عمل به ئے اجر کم او ددے امت په معمولی عمل ډير اجر دے۔

○ مونځ ئے بغير د گيرجے نه نهٔ کيدو، ددے امت مونځ په هر ځائے کښں کيږی۔

○ د تيمم آسانی د هغوی دپاره نهٔ وه۔

○ په اوداسه سره ئے مخ او لاسونه د قيامت په ورځ نهٔ سپينيدل او ددے امت به دا خصوصيت وی چه د قيامت په ورځ به ئے مخونه او لاسونه او خپے سپينی وی، د اوداسه آثار به پکښں ښکاره وی او گانړهٔ به ورا غوستل شی۔

دارنګه د بقرے د صفاتو په باره کښں او په ميدان تِيه کښں د ناشکرئ په وجه په بنی اسرائيلو باندے چه کوم گران احکام مقرر شوی وو۔ (ابن عاشور)۔

دلته تفسير قاسمیؒ د تورات وغيره نه نقل کړی (اُوسنی توراتونو کښں هم شته) چه په هغوی باندے ډيرے پابنديانے وے۔

○ په هغوی باندے د خالی په ورځ کاروبار کول بالکل حرام وو۔

○ چا چه به مور يا پلار ته کنځل اُوکړل نو هغه به قتل کولے شو۔

○ که يو سړی به د خپل غلام يا وينځے غاښں مات کړو نو د هغے په بدله کښں به هغه آزاديدو۔

○ چا چه خپل پلار يا مور اُووهل نو هغه به پرے قتلولے شی۔

○ کله چه به يو غوائی يو سړے يا ښځه اُووهله او هغه به مړ شو نو غوائی به رجم کيدو او د هغے غوښه به نهٔ خوړلے کيده او مالك به ئے بری وو۔

○ او که غوائی به ډغرے وهونکے وو، او په مالك باندے به گواه پيش شو او هغه به راگير نکړو او سړے يا ښځه به ئے قتل کړل نو غوائی به هم رجم کيدو او مالك به ئے هم قتل کيدو۔ (سفر الخروج۔ اصحاح ۲۱)۔

○ شپږ کاله به تهٔ زمکه اُوکرے او د هغے غلهٔ به راجمع کړے، او په اُوم کال به زمکے له راحت ورکړے او پرے به ئے ږدے، دے دپاره چه ستا د قبيلے فقيران ئے اُوخوری، او د هغے نه چه زياتی پاتے شی نو هغه به صحرائی حيوانات اُوخوری، دغه شان کار به تهٔ د خپلو انگورو او زيتونو سره کوے۔

○ شپږ ورځے به خپل کار کوے او په اُومه ورځ به راحت کوے دے دپاره چه ستا غوائی او خر په راحت کښں شی او د وينځے ځوی او مسافر ساه واخلی۔ (سفر الخروج اصحاح ۲۳)

○ چا چه مړ انسان له ګوتې وروړې نو اُووه ورځو پورې به پلیت وي.
○ کله چه به یو انسان په یوه خیمه کښې مړ شو نو هر څوک چه خیمې ته داخل شو یا هر څوک چه په خیمه کښې وي، هغه به اُووه ورځو پورې نجس وي.
○ هر لوخې چه کولاو وي او په هغې باندې د کپړې بندش نۀ وي، نو هغه به پلیت وي.
○چا چه په صحراء کښې په یو وژلے شوي انسان باندې توره راخکله یا ئې په مړي یا په هډوکي د انسان یا په قبر ئې ګوتې اُووهلې، نو هغه به اُووه ورځو پورې نجس وي.
○ د قاتل دپاره فدیه ورکول نشته بلکه هغه به وژلے شي. (سفر العدد اصحاح۳۵).
○ د غوا او ګډې بیزې نه چه کوم نر بچې پیدا شي، هغه به د خپل رب په نوم ورکولے شي (سفر التثنیه اصحاح ۱۵).
○ کله چه یو تن نجس شي له ګوتې ویسي مثلًا د صحرائي نجس حیوان جثې له، یا د پلیت مړ حیوان جثې له، نو دا پلیت او ګناهګار دې او که ددې ګناه اقرار ئې اُوکړو نو د خپلې ګناه د ختمولو دپاره به د ګډو بیزو نه چیلۍ یا ګډه د خپل رب په نوم ذبح کړي. (اصحاح۵).
○ د تیکرو په لوښي کښې که مارغه واقع شو نو څه چه په هغې کښې وي هغه پلیت دي او دغه لوخې به ماتوۍ. (اصحاح ۱۱).
○ که د ښځې نر بچې پیدا شو نو دا به یوه هفته پلیته وي، او که جینۍ ئې پیدا شوه نو دوه هفتې به پلیته وي.
○ کله چه د ښځې د نفاس نه پاکي راغله نو ډکه بتوه به راوړي د خپل ځان په کفاره کښې به ئې ورکړي. (سفر التثنیه اصحاح ۱۲).
○ څوك چه حائضې ښځې له ګوتې ویسي نو هغه به ماښامه پورې پلیت وي.
○ او حائضې زنانه که په حالت د حیض کښې په څۀ باندې ډډۀ اُووهله، هغه به نجس وي او په کوم شي چه کیناسته هغه به نجس وي، او څوك چه د هغې بسترې سره اُولګیدو نو هغه به جامې وینځي، او په ګرمو اُوبو به لامبي او ماښامه پورې به نجس وي. (اصحاح۱۵).
○ که د یو سړي مخالف او سرکشه ځوي وي چه د پلار یا د مور خبره نۀ آوري، او د هغوي ادب نۀ اخلي، نو مور او پلار به ئې نیسي او د خپل ښار شیوخو ته به ئې بوځي او هغوي ته به اُووائي چه زمونږ دا ځوي ضدي او سرکشه دې، زمونږ خبره نۀ مني، اسراف کونکې نشائي دې، نو د ښار ټول سړي به ئې په کانړو رجم کړي تر دې چه مړ شي. (سفر التثنیه اصحاح۲۱).
○ په غوائي او خر باندې په یوځائې کرونده مۀ کوه.

○ په يوځائے هغه جامه مهٔ اغونده چه هغه د وړئ او د کتان نه جوړه شوی وی۔ (اصحاح۲۲)
دغه شان نور ډير آصار او بوجونه علامه جمال الدين قاسمیؒ په تفسير محاسن التاويل
(۱/۶٤٥) کښې د تورات نه نقل کړی هغے ته رجوع اُوکړه۔ چه دا بوجونه الله تعالیٰ په خپل فضل،
کرم او احسان سره زمونږ نه لرے کړيدی۔

الله تعالیٰ خپل احسان ذکر کوی فرمائی : ﴿ وَيَضَعُ عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ ﴾ (اعراف/۱۵۷)
دا پيغمبر (رسول الله ﷺ) ددے امت نه گران بوجونه ايږدی۔

﴿رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ ﴾ددے او د مخکښې فرق دا دے چه دلته دوه قسمه کارونه دی،
يو هغه دی چه سړے ئے برداشت کولے، پورته کولے شی، خو لږ بوج شی، اصر هغے ته وائی چه
بوج دے خو وَس ئے پرے رسيږی لکه بنی اسرائيلو باندے چه کوم احکام مقرر وو، د وَس نه بهر
نهٔ وو، خو لږ گران وو۔ ځکه ئے هلته (لَا تَحۡمِلۡ) راوړو چه هغه د مجرّد صيغه ده او دلته ئے (لَا
تُحَمِّلۡنَا) د مزيد صيغه راوړه (يعنی په زوره په چا باندے بوج اچول) ځکه تحميل ديته وائی چه
يو سړے دوه دړئ وړے شی، او تهٔ پرے لس دړے واچوے چه ترے پريوځی۔ اولاندے ترے راگير
شی چه بيا پورته کيدے هم نشی۔

او ديته تکليف د ما لا يُطَاق وائی، داسے احکام په مخکنو امتونو هم نهٔ وو ځکه ئے د هغوی
سره تشبيه ورنکړه۔ نو يا الله ! داسے احکام مهٔ راليږه چه د پخوانو امتونو په شان وی او داسے هم
مهٔ راليږه چه مونږه راځملوی او د هغے د برداشت نه عاجز کيږو بلکه آسان احکام راوليږه۔

په ﴿ مَا لَاطَاقَةَ لَنَا ﴾ کښې وسوسه هم داخل ده چه د سړی د هغے د رد کولو وَس نهٔ رسيږی او زړهٔ
کښې تيريږی۔ دارنگه عشق او هغه گناه چه توبه او کفاره ئے نهٔ وی هم په کښې داخليږی۔

نو الله تعالیٰ دا دُعا قبوله کړه۔ په حديث د مسلم کښې راځی چه صحابه کرامؓ دا دعا اُوکړه نو
الله سبحانه جواب ورکړو (قَدۡ فَعَلۡتُ، قَدۡ فَعَلۡتُ)

او بل روايت کښې دی (نَعَمۡ، نَعَمۡ) درے ځل الله تعالیٰ ددے جواب اُوکړو چه ما اُوکړو، ما اُوکړو،
ما اُوکړو)۔دے امت ته خطاء او نسيان معاف۔

او دے امت باندے گران احکام الله نهٔ دی ايخودی۔ ډير ښکلے او آسان احکام، تول د هغهٔ د
محبت او د مينے دين دے، آسان دين دے۔ مونځونو، روژو، عبادات او معاملات او معاشراتو
تولو کښې آسانی ده۔

﴿وَاعۡفُ عَنَّا وَاغۡفِرۡ لَنَا وَارۡحَمۡنَا ﴾(۱) عفو ديته وائی چه کومه گناه مونږ نه شوی وی، زمونږ او
ستا په مابين کښې هغه معاف کړه، او مغفرت دا دے چه هغه د خلقو نه پټه کړه، او رحم دا اُوکړه

چه په راتلونکی وخت کښې بیا رانه دا ګناهونه نهٔ کیږي۔
ابن کثیرؒ او امام راغبؒ لیکلي دي چه انسان د ګناهونو په باره کښې درې څیزونو ته محتاج دے اول عفو ته چه هغه د ګناه عقوبت او سزا ساقطول دي۔
دویم مغفرت یعنی په بنده باندې پرده اچول چه خلقو کښې شرمنده نهٔ شي۔
دریم په آینده کښې د ګناهونو نه ساتل او په هغه باندې رحم کول او د نیکۍ توفیق ورکول او هر روستنۍ شے د مخکنۍ نه ډیر کمال والا دے۔
(۲) دویم فرق: عفو د صغیره ګناهونو سره لګی او مغفرت د کبیره ګناهونو سره، او رحم د شبهاتو سره لګی۔ یعنی د واړهٔ او لوئی ګناهونو او شبهاتو نه مو بچ کړه۔
(۳) بعض وائی: خسف، مسخ او قذف سره لګی۔ یعنی مونږ په زمکه مهٔ داخلوه او شکلونه مو مهٔ بدلوه، او د کانړو د باران نه مو اُوساته۔
فائده: پدې درې جملو کښې ئے (رَبَّنَا) اُونهٔ وئیلو ځکه چه مخکښې درې څیزونه تیر شویدي، هغه فروع دي او دا درې څیزونه د هغې اصول دي۔ ځکه چه عفو د نهٔ رانیولو دپاره اصل دے، او مغفرت د مشقت لرې کولو دپاره اصل دے، او رحم د دنیاوی او اُخروی سزاګانو او تکلیفونو لرې کولو دپاره اصل دے۔ نو هرکله چه د مخکنۍ درې څیزونو استجابت او قبول والے اُوشو نو دا درې واړه به هم په طریق اولیٰ سره قبول وی۔ (ابن عاشور۲/۲۰۲)۔
﴿ أَنتَ مَوْلَانَا ﴾ دا ئے د مخکښې نه جدا کړو ځکه چه دا د مخکښې دپاره د علت په شان دے یعنی دا تیرے شوے دعاګانې او امیدونه مونږ تا نه ځکه کوو چه تهٔ زمونږ مولیٰ او مالك ئے، او د مولیٰ شان دا دے چه هغه به د خپلو مملوکینو او غلامانو سره نرمی کوی۔
او دارنګه دا د روستو دعا دپاره مقدمه او وسیله ده۔ (ابن عاشورؒ)
د مولیٰ ډیرے معنے دی، دلته ئے د مالك او دوست او ناصر (مددګار) او مَرْجَع معنیٰ ده۔
﴿ فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴾ فاء ئے راوړه ځکه دا په مَولیٰ باندې تفریع ده ځکه چه شان د مولیٰ دا دے چه د خپلو غلامانو سره به مدد کوی۔
دارنګه په فاء راوړو کښې ددې په طلب د قبولو کښې تاکید دے۔ ځکه چه دا ئے مرتب کړو په یو ثابت صفت باندې چه هغه الله تعالیٰ د مؤمنانو مولا کیدل دی۔ یعنی هرکله چه الله د مؤمنانو مولیٰ او دوست شو او دوست خو د خپلو دوستانو سره مدد کوی۔
او دا دعا ئے په اهتمام سره ذکر کړه ځکه چه دا د دنیا او د آخرت خیرونو لره راجمع کونکے ده، ځکه چه کلهٔ دوی سره د دشمن په مقابله کښې مدد اُوشو، نو د دوی ژوند به مزیدار شي، او دین

به ئې غالبه شي او د فتنو نه به بچ پاتې شي، او خلق به په دين کښې ډله ډله داخليږي نو دذې نه بل کوم ښۀ حالت کيدې شي ؟! (ابن عاشور).

او پدې کښې اشاره ده چه پدې سورت کښې کوم مضامين او احکام بيان شو، نو مؤمنان به ئې په ځان هم نافذ کوي، او په بل باندې به ئې هم نافذ کوي، او څوك چه رکاوټ واقع کيږي، نو د هغوی سره به جهاد کولې شي نو مؤمنانو له پکار دي چه ددې سورت د مخالفينو کافرانو سره د الله په لاره کښې جهاد اُوکړي په ژبه او توره سره، او د دوی په مقابله کښې د الله تعالیٰ نه مدد طلب کړي. (فتح البيان).

او اشاره ده چه جهاد به د مؤمنانو يو اَهم مقصد او مطلب وي.

فائده : د معاذ بن جبل ﷺ نه نقل دي چه هغه به پدې مقام کښې (آمِيْن) وئيلو يعنی اې الله! دا دعا زمونږ قبوله کړه) او الله هم دا دعا قبوله کړيده لکه مخکښې حديث تير شو (قَدْ فَعَلْتُ). الله فرمائي چه ما دا کارونه اُوکړل. نو الله به ضرور د ايمان والو سره مدد کوي کله چه مؤمنانو کښې صحيح ايمان وي. ليکن کله چه د کافرانو په مقابله کښې د ايمان والو سره مدد نۀ کيږي، نو ضرور به زمونږ په اعمالو کښې نقصان وي او ددې سورت احکام به مو پوره طريقې سره ځان کښې نۀ وي راوستي. وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ وَبِاللّٰهِ التَّوْفِيْقُ.

امتيازات ددې سورت

(يعنی دا سورت د مخکښې سورت نه په کومو خصوصياتو جدا دې).

١ – داسورت جامع دې، د اسلام شپږ اصول ئې جمع کړيدي لکه ايمانيات، عبادات، اخلاق، معاملات، معاشرات او خلافت او نظام.

٢ – پدې کښې د يهوديانو ډير قبائح ذکر شو چه په هغې کښې د هغوی اصلاح او امت ته تحذير (يره ورکول) غرض وو.

٣ – د ديني خلافت مسئله ئې بيان کړه چه اهل خلقو ته الله تعالیٰ خلافت ورکوي، او د نا اهلو او بدو صفاتو والا نه ئې اخلي. لکه يهوديان شو.

٤ – قصه د بقرې د يهوديانو د معبود د سپك ښکاره کولو دپاره ذکر شوه.

٥ – پنځه واقعات وو چه په هغې کښې بعث بعد الموت شوې وو. څلور د بني اسرائيلو او يو د ابراهيم علیه السلام سره. ٦ – پدې کښې سردار آيت دې (آية الکرسي).

٧ – واقعه د طالوت صرف په همدې سورت کښې ذکر ده.

٨ – د ابراهيم علیه السلام امامت او بيا د هغه د بيت الله جوړولو واقعه.

۹- مسئله د قبلې بدلیدو په کښې ذکر ده۔
۱۰- او نور انفرادي، سیاسي او اجتماعي او منزلي احکام پکښې ذکر دي۔
۱۱- او آخره کښې د مؤمنانو مستجابه دعا ده۔ او د عرش د لاندې خزانو نه دوه آیتونه پکښې ذکر دي۔ داسې نور واقعات او احکام پکښې ذکر دي چه نورو سورتونو کښې نۀ دي بیان شوي۔

الحمد لله د سورة البقرې تفسیر د هغه په فضل او کرم سره پوره شو۔ الله تعالیٰ ته لاس په دعا یم چه الله سبحانه زمونږ ګناهونه او خطایانې معافه کړي او د کوم مقصد چه مونږ اراده کړیده هغه سر ته په خیر سره اُورسوي، او د خپلو بندګانو ترمینځ ئې مقبول او منظور اُوګرځوي او ددې فائده عامه کړي۔ او ددې په وجه د خلقو د زړونو شوق او محبت د خپل کتاب سره پیدا کړي۔ آمین یارب العالمین۔

صباح یوم الاربعاء ۲۰/شوال المکرم سنة (۱٤۳۱ هجریة
(۲۹/ستمبر ۲۰۱۰ء)
(تصحیح پوره شوه په لیلة السبت صفر المظفر (۳) (۱٤۳۲)هـ بحمد الله وحسن توفیقه
مسجد حمزه بشاور۔ ابو محمد امین الله البشاوري)۔

تفسیر حکمة القرآن

دویم جلد ختم شو



فهرست تفسير حكمة القرآن جلد (۲)